توضیحات

د مشکوٰۃ شریف پښتو شرح

مشکوٰۃ شریف

تالیف

حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم
استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری ټاؤن کراچی

پښتو ترجمه

مولانا محمد فیض الهادي "حقاني"
سابق مدرس مدرسه تعلیم القرآن والحدیث
چارسده روډ پشاور

مکتبة الاصلاح
محله جنګي پشاور
0314-9797200
0345-1977797

www Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

توضیحات

پښتو شرح

مشکوٰۃ شریف

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیحات مشکوة شریف
پښتو شرح

(جلد اووم)

الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم
علامه استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری ټاؤن کراچی

پښتو ترجمه:
مولوي فیض الهادی حقاني

د توضیحات پښتو شرح مشکوة خصوصیات:

- په اول جلد کې د اصول حدیث یوه مفیده مقدمه
- په متن باندې اعراب
- په تیبل کې تحت السطور بامفهومه ترجمه
- هر حدیث ته مناسب عنوان ورکول
- د مشکوة المصابیح د آحادیثو تخریج د صحاح سته وغیره کتابونو نه کول
- د مشکوة المصابیح د مشکلو لغاتو حل کول
- په شرحه کې هر یو ځای ته مناسب عنوان ورکول
- د ائمه اربعو د مذاهبو بیان
- د مذاهبو دلائل بیانول
- د احنافو د مذهب د ترجیح وجوهات بیانول
- په شرح کې د مرقاة او د اشعة اللمعات د عباراتو حوالې ورکول
- د کتاب د هرې صفحې په سر د کتاب او باب خودنه
- د هر کتاب په اول کې د ضروري مباحثو بیان
- بین القوسین په اضافي قیوداتو سره مزید وضاحت کول
- د مشکلو ابحاثو د سوال او جواب په ذریعه حل کول
- د جدید او قدیم بعضې مسائلو استنباط
- په آحادیثو کې د تعارض په صورت کې بهترین مطابقت راوستل
- په اتم جلد کې د مشکوة المصابیح د حدیثو د راویانو مفصل حالات

مکتبة الاصلاح
محله جنگی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

د چهاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دي

درخواست

د الله تعالیٰ په فضل وکرم سره د کمپوزنګ نظرثاني او تصحيح نه علاوه د چهاپ کولو او جلد سازئ په ټولو مرحلو کښې د ډير احتياط نه کار اخستلې شوې دې خو بيا هم انسان کمزورې دې۔
که ددې احتياط باوجود هم څه غلطي په نظر درشي نو اطلاع راکړئ ان شاء الله په راتلونکي چهاپ کښې به ئې تصحيح اوکړو۔

د کتاب نوم: توضیحات مشکوة شریف

مؤلف: الشيخ حضرت مولانا فضل محمد يوسف زئ صاحب دامت برکاتهم
علامه استاذ حديث جامعة علوم اسلامية بنوري ټاون کراچی

ترجمه: مولوي فيض الهادي حقاني

کمپوزنګ: مولوي فيض الهادي حقاني

ناشر: مکتبة الاصلاح
محله جنګی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

د ملاويدو پتې:

پاکستان	افغانستان
شبقدر	جلال آباد
اکوړه خټک	کابل
صوابی	خوست
شيوه اډه	ګرديز
مردان	غزنی
مينګوره	قندهار
تيمرګره	کوندوز
باجوړ	کنړ
ټل هنګو	مزار شريف
دوآبه	لغمان
ډيره اسماعيل خان	
بلوچستان	
چمن	

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
باب البیان والشعر	۲۴	د ټنګ ټکور اورید و شرعي حکم	۲۶
د ټنګ ټکور په حرمت باندې دلائل	۲۷	دغناء په جواز باندې د اهل باطلو باطل استدلال	۲۹
د یو ریاکار پیر قصه	۳۱	د سعدی بابا عجیبه قصه	۳۲
ځیني بیان د جادو اثر لري	۳۲	ځیني شعرونه د حکمت نه ډک وي	۳۴
خله وازه وازه کولو سره خبري کول تباهي ده	۳۴	حقیقت باندې بنا یو شعر	۳۵
امیه بن ابی صلت شاعر	۳۵	آیا نبی کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کوم شعر ویلی دی	۳۶
د حضرت حسان قدر و مرتبه	۳۷	د جهاد په میدان کي کافرانو ته ردې بدې ویل جائز دي	۳۸
جهاد د میدان یوه عظیمه ترانه	۴۰	شعر او شاعري اصل مشغله جوړول پکار نه دي	۴۱
جهادي شعرونه ویل جهاد باللسان دی	۴۲	لږې خبرې کول او حیاء د ایمان نښه ده	۴۳
په وازه خله سره د ترتر کونکو بدې	۴۳	د ظالمانو په ستاینه کولو سره پیسه ګټل جائز نه دي	۴۵
د بی عمله نصیحت کونکو حشر	۴۶	دتیرې ژبې په اړه ویرونه	۴۶
مختصر تقریر بنه وي	۴۷	ځیني علوم او فنون د جهالت په معنې دي	۴۸
دحضرت حسان فضیلت	۴۹	دنظم ویلو حیقیت او حیثیت	۵۰
دشعرونو ښه والی یا بدوالی د هغې د مضمون سره اړه لري	۵۱	په شعرونو کي مستغرق وسیدل بد عمل دی	۵۲
باب حفظ اللسان والغیبة والشتم	۵۴	دژبې او شرمګاه په ساتنه باندې د جنت زیری	۵۵
ژبه په قابو کي ساتل ډیر ضروري دي	۵۶	یو مسلمان ته کنځل کول حرام دي	۵۷
یو مسلمان ته د کفر یا فسق نسبت مه کوه	۵۷	یو مسلمان سړي ته د خدا دښمن مه وایه	۵۸
د کنځلو ټوله ګناه په ابتداء کونکي باندې وي	۵۹	ښه خلک چا باندې لعنت نه لیږي	۵۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
چاته د اخروي هلاکت نسبت مه کوه	٦٠	دوه مخې پالیسې خپلونکی سړی بدترین انسان دی	٦١
رېښتیا ویلو او دروغو نه د ځان ساتلو تاکید	٦٢	د اصلاح لپاره دروغ ویل، د دروغو په زمره کې نه راځي	٦۴
په ستاینه کولو کې د ډیر دروغ ویونکې بدې	٦۴	په خله باندې د چا ستاینه کول ډیر مذموم دي	٦۵
د غیبت تعریف او تفصیل	٦٦	په خلکو کې سپکې وینا کونکی بدترین سړی دی	٦٧
د ګناه په کولو سره د هغې خپرونه ډیرغټ قباحت دی	٦٨	درې قسمه قربانې کونکو په جنت کې درجي	٧٠
جنت او دوزخ ته وړونکې شیان	٧١	ژبه یا د جنت کنجي ده یا د جهنم کنجي ده	٧١
د دروغو په قصو او لطیفو باندې خلکو لره د خندونکې لپاره یره	٧٢	ټوقې کولو او د ژبې د خطا نه ځان وساتی	٧٣
یو چپ ډیر مصبتونه لیري کوي	٧٣	د اُخروې نجات لپاره درې عملونه	٧۴
د بدن ټول اندامونه هره ورځ ژبې ته عاجزانه عریضه کوي	٧۴	د بیکاره خبرو پریخودل د اسلام په خائسته اخلاقو کې دي	٧۵
په یقین او جزم سره د چا د آخرت فیصله کول مناسب ندي	٧٦	د ژبې د فتنې نه ځان وساته	٧٧
دروغ ویونکې د خلې نه بدبویي خیژي	٧٧	د اعتماد په جامه کې دهوکه بدترین خیانت دی	٧٧
د ایمان سره منافی عملونه	٧٨	د لعن طعن او بد دعاء نه ځان ساتل پکار دي	٨٠
بی ځایه لعنت په لعنت کونکې باندې راستنیږي	٨٠	د انسانانو نه علاوه په نورو شیانو باندې هم لعنت کول منع دی	٨١
د مشرانو مخې ته خپل مینځې عیبونه بنکاره کول مناسب ندي	٨١	د چا په بدنې جوړخت کې عیب راویستل هم غیبت دی	٨٢
فحاشې د بدرنګې او حیا د خائست سبب دی	٨٣	توبه کونکې لره ملامته کول سخته ګناه ده	٨۴

Maktaba Tul Ishaat.com

صفحه	مضمون	صفحه	مضمون
۸۵	د چا نقل کول حرام دي	۸۴	د چا په مصیبت باندې د خوشحالۍ اظهار کول په کار نه دي
۸۶	د فاسق په ستاینه کولو سره په عرش کې زلزله راځي	۸۵	د الله فراخه رحمت محدود کول په کار نه دي
۸۸	مسلمان د روغژن نه شي کیدی	۸۷	خیانت او دروغ په هیڅ مسلمان کې نه شي کیدلی
۸۹	د بد ملګرې نه ځانلو الی غوره دی	۸۸	شیطان په مسلمانانو کې د دروغو حدیثونه خپروي
۹۰	حضرت ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو څو نصیحتونه	۹۰	چپتیا خپلول د شپیته کاله د عبادت نه غوره ده
۹۳	د ژبې هلاکول او د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویره	۹۲	چپتیا او د خائسته اخلاقو فضیلت
۹۴	د ښه خلکو نښانې	۹۳	شپږ خصلتونه د جنت ضامن دي
۹۶	غیبت د زنا نه بدتره ګناه ده	۹۵	غیبت کولو سره د روژې ثواب ختمیږي
۹۸	باب الوعد	۹۷	د غیبت کفاره
۱۰۱	د وعدې پوره کولو اوچت مثال	۹۸	جانشین لره د خپل مخکنې مشر وعده پوره کول پکار دي
۱۰۲	د ماشوم سره کړې وعده هم پوره کول ضروري دي	۱۰۲	په وعدې پوره کولو کې شرعې عذر راتلل
۱۰۴	باب المزاح	۱۰۳	سړی تر کومې پورې د وعدې پابند وي؟
۱۰۵	د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مذاق به په رښتیاؤ باندې بناؤ	۱۰۴	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوش طبعې
۱۰۹	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه کرامو سره بې تکلفي	۱۰۵	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو او خوش طبعې یو څو واقعات

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
دنبي عليه السلام، ابوبكر صديق رضي الله عنه او د عائشې رضي الله عنها ترمينځ دمذاق يو واقعه	۱۱۰	داسې مذاق مه کوه چې په هغې سره چا ته درد ورسيږي	۱۱۲
باب المفاخرة والعصبية	۱۱۲	کورنی شرافت ښايسته په عمل دين سره دی	۱۱۳
د ټولو نه ډير عزتمند څوک دی؟	۱۱۵	کورنی شرافت دنظر نه نشي غورزول کيدلی	۱۱۵
د خير البرية مصداق	۱۱٦	د نبي عليه السلام په شان کې د شرعې حدودو خيال ساتل ضروري دي	۱۱۷
پلار نيکه او کورنۍ باندې فخر کول هيڅ شی نه دی	۱۱۸	په نبي اکرم صلى الله عليه وسلم باندې د سردار اطلاق څنګه دی؟	۱۱۹
اصل غوره والی تقوی ده	۱۲۱	پلار نيکه باندې د فخر کونکې لپاره سزا	۱۲۱
خپله پيژنده خپله کړه	۱۲۲	دقومي تعصب کونکې مثال	۱۲۳
عصبيت څه ته وايې؟	۱۲۳	د خپل قوم نه ظلم ليرې کول جائز دي	۱۲۴
د عصبيت بدي	۱۲۴	د يو څه مينه انسان ړوند کوڼ جوړ کړي	۱۲۵
د عصبيت معنی	۱۲۵	په خپل حسب نسب باندې تکبر مه کوه	۱۲٦
باب البر والصلة	۱۲۸	اولاد باندې دمور حقوق	۱۲۸
د مور پلار خدمت نه کونکي په حق کې بد دعاء	۱۳۰	د مشرک مور پلار سره هم ښه خوي کول په کار دی	۱۳۰
د صله رحمۍ اهميت	۱۳۱	د مور پلار نافرماني کول حرام دی	۱۳۲
پلار د دوستانو سره ښه خوي کوه	۱۳۴	صله رحمۍ پاللو باندې مال ډيريږي	۱۳۴
دصله رحمۍ روغې ساتلو اهميت	۱۳۵	د مور پلار د خدمت کولو فضيلت	۱۳۹
د الله تعالى د مور پلار د رضا سره تړلي ده	۱۴۰	د مور پلار حکم د ښځې په مينه باندې مقدم دی	۱۴۱
صله ساتونکې او ماتونکې حکم	۱۴۲	باغي او صله ماتونکې لپاره به دنيا او آخرت کې عذاب وي	۱۴۳
درې قسمه خلک به جنت ته نه داخليږي	۱۴۴	صله جوړولو باندې مال او عمر کې برکت راځي	۱۴۴

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
صله جوړولو باندې ګناه معاف کیږي	۱۴۵	مورپلار د وفات نه وروسته د هغوی سره د احسان صورتونه	۱۴۶
د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې رضاعي مور سره نیک خوي	۱۴۷	د حدیث الغار قصه	۱۴۸
جنت د مور په قدمونو کې دی	۱۵۲	که مورپلار د ښځې د طلاقو غوښتنه وکړي نو ځوی څه وکړي؟	۱۵۳
د اولاد لپاره مورپلار جنت دی یا دوزخ	۱۵۳	نافرمانه ځوې د مورپلار تابعدار څنګه جوړیدلی شي؟	۱۵۴
اولاد لپاره د مورپلار حیثیت	۱۵۵	مورپلار ته د رحمت په نظر سره کتلو باندې د قبول شوي حج ثواب ترلاسه کیږي	۱۵۵
د مورپلار د نافرمانۍ سزا نغده وي	۱۵۶	باب الرحمة والشفقة على الخلق	۱۵۸
کوم سړي چې په خلکو رحم نکوي هغه د الله تعالی د رحمت مستحق ندی	۱۵۸	ماشومانو سره د مینې کولو فضیلت	۱۵۸
جینکو د روزنې خاص فضیلت	۱۵۹	دکونډې او مسکین د خدمت فضیلت	۱۶۰
یتیم د روزنې فضیلت	۱۶۱	د دنیا ټول مسلمانان د یو جسم په شان دي	۱۶۱
دنیا د مسلمانانو مثلل د قلعې د دیوال په شان دی	۱۶۳	جائز سفارش کول د ثواب کار دی	۱۶۴
د ظالم لاس د ظلم نه ایسار کړه دا د هغه سره مرسته ده	۱۶۵	ټول مسلمانان خپل مینځ کې ورونه ورونه دي	۱۶۵
هیڅ مسلمان سپک مه ګڼه	۱۶۷	جنتي او دوزخي خلکو قسمونه	۱۶۸
څه چې د ځان لپاره خوښ کړي هغه د خپل ورور لپاره هم خوښ کړه	۱۷۰	خپل ګاونډي تنګول لوییې جرم دی	۱۷۱
د دریم سړي په شتون کې دې دوه کسان خپل مینځ کې په غوږ کې خبرې نه کوي	۱۷۲	دین د ښیګړي نوم دی	۱۷۲
د هر مسلمان د ښیګړي سره متعلق د جریر بن عبد الله قصه	۱۷۴	د بدبخته سړي زړه د نرمۍ نه خالي وي	۱۷۴
ته د زمکې والا باندې رحم وکړه آسمان والا به په تا باندې رحم وکړي	۱۷۵	په کشرانو باندې شفقت نه کونکی د دې امت فرد نه دی	۱۷۵

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
خپل عزت کول غواړي نو د خپلو مشرانو عزت کوه	۱۷۶	عالِم دین، حافظ قرآن او د عادل باچا عزت د الله تعالی عزت دی	۱۷۶
د یتیم په معامله کې غوره او بدتر کور	۱۷۷	د یتیم په سر باندې د شفقت لاس راخکونکې فضیلت	۱۷۷
لور، خور د پالنې فضیلت	۱۷۸	د ماشومانو ښه روزنه دصدقه کولو نه غوره ده	۱۷۹
ماشومانو ته ادب ښودل د هغوې لپاره غوره ډالۍ ده	۱۷۹	ماشومانو ته ادب ښودل د هغوې لپاره غوره ډالۍ ده	۱۸۰
د څه په ورکولو کې ځوې لره په لور باندې ترجیح ورکول جائز نه دي	۱۸۱	خپلې مخې ته پردې غیبت مه اوره بلکې منع یې کړه	۱۸۱
مسلمان د عزت ساتنه کولو باندې د دوزخ اور حرامیږي	۱۸۱	د مسلمان عزت بچ کول غټ ثواب دی	۱۸۲
د مسلمان مرسته کولو یا د نه کولو ثمره	۱۸۲	په چا کې کوم عیب ووینې نو پټ یې کړه	۱۸۳
یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د شیشې په منزله دی	۱۸۳	مؤمن د منافق د شر نه ساتل غټ ثواب دی	۱۸۴
ښه ګاونډې او ښه دوست څوک دی	۱۸۵	د مخلوق ژبه د خدای نغاره وګڼه	۱۸۶
دمیني دعوی محنت غواړي	۱۸۷	د ګاونډي خیال ساتل د ایمان برخه ده	۱۸۸
ګاونډیانو تنګونکې ښځې عبادت نه قبلیږي	۱۸۹	د غوره او بدتر سړي معیار	۱۹۰
دنیا ښه بد ټولو ته ورکول کیږي خو دین فقط ښه ته ورکول کیږي	۱۹۱	خپل مینځې مینه د ایمان نښه ده	۱۹۱
د خوشحالولو په غرض د چا د خدمت کولو ناشنا فضیلت	۱۹۲	د مجبور سره د مرستې کولو ناشنا فضیلت	۱۹۲
ټول مخلوق د الله تعالی کورنۍ دی	۱۹۳	په قیامت کې به د ټولو نه مخکې مقدمه د دوه ګاونډیانو وړاندې کیږي	۱۹۳
د قساوت قلبي علاج	۱۹۴	د کونډې لور د پالنې ثواب	۱۹۴

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
باب الحب في الله ومن الله	۱۹۶	په دنيا کې د اتحاد او اختلاف بنياد د اولې ورځې نه ايخودل شويدی	۱۹۶
کوم سړی چې الله يې خوښ کړي هغه هر چا ته مقبول شي	۱۹۷	د الله د رضا لپاره خپل مينځ کې د مينه کونکو مقام	۱۹۹
د الله د رضا لپاره د مينې کولو فضيلت	۲۰۰	کوم سړی چې د چا سره مينه ساتي قيامت کې به د هغوی سره وي	۲۰۱
د ښه او بد هم مجلسۍ مثال	۲۰۳	دالله د رضا لپاره د تعلق ساتلو فضيلت	۲۰۴
دين اسلام و د قرآن له وجې نه خپل مينځ کې د مينې فضيلت	۲۰۵	د انسانانو خپل مينځې کلکه خپلولې اسلام دی	۲۰۶
د مسلمان ورور د عيادت فضيلت	۲۰۷	دکوم سړي سره دې مينه وي نو هغه خبر کړه	۲۰۷
فقط د ديندار سره تعلق وساته	۲۰۹	د چا سره تعلق جوړوي نو د هغه نوم او نسب معلوم کړه	۲۱۰
د الله تعالی د رضا لپاره د مينې او دښمنۍ فضيلت	۲۱۱	دچا په کتلو سره چې خدای رایاد شي هغه بهتر خلک دي	۲۱۲
د خدای لپاره خپل مينځ کې د مينې فضيلت	۲۱۲	د ذکر د مجلسونو پابندي کوه	۲۱۳
د خدای لپاره د محبت غټ فضيلت	۲۱۴	باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع عورات الناس	۲۱۵
درې ورځو نه ډير خبري بندول حرام دي	۲۱۵	بغض او کرکه او ليري والی او دښمنې پيدا کونکې کارونه منع دي	۲۱۷
خپل مينځې دښمنۍ قباحت	۲۱۸	په درې ځايونو کې د اصلاح راوستلو لپاره دروغ جائز دي	۲۱۹
دتعلق پريخودلو د ګناه نه د وتلو طريقه	۲۲۲	د تعلق پريخودلو په حالت کې مړ کيدونکی به دوزخ ته ځي	۲۲۲
ټول کال د تعلق پريخودل د قتل د ګناه برابره ده	۲۲۲	درې ورځو نه وروسته د تعلق پريخودنه پريږده	۲۲۳
د صلح راوستلو فضيلت	۲۲۳	بغض او حسد ايمان خروي	۲۲۴
کينه نيکی خوري	۲۲۵	کوم مسلمان ته د ضرر رسولو نقصان	۲۲۵

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د مسلمان ته د پیغور کولو او عیب ټولو منع والی	۲۲۶	د مسلمان عزت او ناموس ته نقصان رسول غټ جرم دی	۲۲۷
د چا په عزت اخستلو او غیبت باندې سخت وعید	۲۲۹	مړی خوړلو په غرض سره د چا سپکوالی یا بې ځایه ستاینه غټ جرم دی	۲۲۹
ښه ګمان ساتل عبادت دی	۲۳۱	د حضرت صفیه رضي الله عنها په اړه د حضرت زینب رضي الله عنها یوه جمله	۲۳۱
د الله تعالی په نوم قسم غټ شی دی	۲۳۲	غریبي او ولږه غټ آزمیښت دی	۲۳۳
د مسلمان عذر کول قبلول پکار دي	۲۳۴	باب الحذر والتأني في الامور	۲۳۵
مؤمن د ویښو مغزو والا وي	۲۳۵	د صبر او زغم فضیلت	۲۳۶
د ټکرو په خوړولو سره په مزاج کې قلاروالی راځي	۲۳۸	په سوچ سره کار کوه	۲۳۸
د آخرت په اعمالو کې وروستوالی مه کوه	۲۳۹	میانه روې ښه شی دی	۲۳۹
د راز خبره د امانت درجه لري	۲۴۰	د چا نه چې مشوره واخستلی شي نو هغه امین دی	۲۴۱
په هر حال کې د درې خبرو ظاهرول ضروري دي	۲۴۲	د عقل په اړه باندې یو موضوع حدیث	۲۴۲
د قیامت په ورځ به د عقل په مطابق جزاء ورکولی کیږي	۲۴۴	د تدبیر فضیلت	۲۴۴
په خرچ کې میانه روې د ژوندې نیمه سرمایه ده	۲۴۵	باب الرفق والحیاء وحسن الخلق	۲۴۷
د حیاء تعریفونه	۲۴۷	د حیاء درې قسمونه	۲۴۷
د شفقت او نرمۍ فضیلت	۲۴۸	د نرمۍ نه محرومه سړی د هرې ښیګړې نه محرومه دی	۲۴۹
د حیاء فضیلت	۲۴۹	کله چې په تا کې حیاء نشته نو څه چې غواړې، وکړه	۲۵۰
د ګناه پیژندویه څه ده	۲۵۱	د خوش اخلاقۍ فضیلت	۲۵۲
د نرمۍ نه محروم د هر خیر نه محرومه دی	۲۵۲	حیاء د ایمان جزء دی	۲۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
خوش اخلاقي د خدای غوره ډالۍ ده	۲۵۳	د بد اخلاقۍ بدي	۲۵۳
د خوش اخلاقۍ فضیلت	۲۵۵	خلکو سره په ښایسته اخلاقو سره مخ کیږه	۲۵۶
نرم مزاج او د نرم ښویه سړي فضیلت	۲۵۶	مؤمن ساده او منافق مکار وي	۲۵۷
دمؤمن شان	۲۵۸	د خلکو په تکلیفونو باندې صبر کول د اجر سبب دی	۲۵۸
نورو د خاطر نه د حق لاندې کولو فضیلت	۲۵۹	د اسلام بنیاد شرم او حیاء باندې دی	۲۶۰
ایمان او حیاء لازم او ملزوم دي	۲۶۱	د خوش اخلاقۍ اهمیت	۲۶۱
د نبي کریم ﷺ د بعثت مقصد د اخلاقو تکمیل دی	۲۶۲	شیشه کې د کتلو دعاء	۲۶۲
اوږد عمر او ښه اخلاق بهترین شیان دي	۲۶۳	کامل مؤمن هغه دی چې د چا اخلاق ښه وي	۲۶۴
درې غټې اهمې خبرې	۲۶۴	په اصولې توګه باندې په نرمۍ کې فائده او په سختۍ کې نقصان دی	۲۶۶
باب الغضب والکبر	۲۶۷	غصې کولو نه د ځان ساتلو تاکید	۲۶۸
غصه قابو کونکی اصل پهلوان دی	۲۶۹	د جنتي او دوزخي خلکو نښې	۲۷۰
تکبر کونکی سړی به جنت ته نه داخلیږي	۲۷۱	دتکبر حقیقت او ماهیت	۲۷۱
درې غټ بدبخته خلک	۲۷۲	لویي او کبریائي فقط د الله تعالی د شان سره ښایي	۲۷۳
خودپسندۍ تباهي ده	۲۷۴	دقیامت په ورځ به متکبرین د میږانو په شان ذلیله وي	۲۷۵
دغصې یخولو طریقه	۲۷۶	دغصې یخولو یو نفسیاتي علاج	۲۷۷
د بدترین سړي نښې	۲۷۷	غصه تیرول ډېر افضل عمل دی	۲۷۹
غصه ایمان خرابوي	۲۸۰	د تکبر بدي او د عاجزۍ فضیلت	۲۸۱
د قدرت لرلو په وخت کې معاف کولو فضیلت	۲۸۱	د قهر قابو کولو فضیلت	۲۸۲

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د ړې شیان د خلاصي سبب او درې شیان د هلاکت سبب	۲۸۲	باب الظلم	۲۸۴
د قیامت په ورځ باندې به ظلم د تورتم په صورت کې وي	۲۸۴	الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوي بیا یې نیسي	۲۸۵
د ثمود ظالم قوم په علاقه باندې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تیریدل	۲۸۵	د قیامت په ورځ باندې به د ظالم نه د ظلم بدله څنګه اخستلی کیږي؟	۲۸۷
د قیامت د بونو نه غټ فقیر	۲۸۸	په آخرت کې به د هر ظالم نه حساب اخستلی کیږي	۲۸۹
اِمَّعَهٔ مه جوړیږه، دبدی بدله بدې نده	۲۹۰	د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم باندې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خط	۲۹۲
د لفظ ظلم مفهوم او مطلب	۲۹۲	بدترین سړی هغه دی چې هغه د نورو په دنیا باندې خپل آخرت تباه کړي	۲۹۴
د قیامت په ورځ به درې قِسمه دیوانې کیسونه وي	۲۹۴	د مظلوم د بددعاء نه ځان وساته	۲۹۵
د ظالم مرسته کونکی د اسلام نه خارجیږي	۲۹۶	ظالم د ظلم سپره والی عام وي	۲۹۷
باب الامر بالمعروف	۲۹۸	امر بالمعروف او نهی عن المنکر تعریف	۳۰۰
د امر بالمعروف حکم	۳۰۲	چا چې بدې ولیدله نو هغه دې ختمه کړي	۳۰۳
امربالمعروف اونهي عن المنکرپریخودل اجتماعي عذاب ته بلنه ورکول دي	۳۰۶	د بی عمله واعظ انجام	۳۰۸
امربالمعروف اونهی عن المنکر کوی ګني اجتماعي عذاب ته تیار شی	۳۰۹	دګناه نه کرکه نه کول په هغې کې د ګډون په شان ده	۳۱۰
همت مه بایله اوس د ګناهونو د ختمولو وخت دی	۳۱۱	د قدرت لرلو باوجود د منکر نه نه ایسارول د عذاب سبب دی	۳۱۲
د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وخت ترکومه پورې دی؟	۳۱۳	د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامع او اوږده خطبه	۳۱۵

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د قدرت لرلو سره هم د منکر نه بندول اجتماعي عذاب ته دعوت ورکول دي	۳۲۰	نهي عن المنکر پرېښودلو باندې بني اسرائيلو نه خنزيران جوړ شول	۳۲۱
د بې عمله نصيحت کونکې او بې عمله عالم لپاره وعيد	۳۲۳	يهودو خيانت وکړو نو خنزيران ترينه جوړ شو	۳۲۴
دين د وجې نه د ظلم برداشت کولو فضيلت	۳۲۴	الله تعالى د عبادت سره د دين ملاتړ کول هم ضروري دي	۳۲۶
د يو کمزورې سړي په رېښتيا وينا باندې بخښنه کيدل	۳۲۸	امر بالمعروف او نهي عن المنکر به د قيامت په ورځ د انسان په شکل کې راشي	۳۲۹
کتاب الرقاق	۳۳۱	د قدر وړ دوه نعمتونه	۳۳۱
د دنيا او د آخرت مثال	۳۳۲	دنيا يو بې حيثيت شی دی	۳۳۳
دنيا د مؤمن لپاره محبس دی	۳۳۴	کافر ته په ښه کار باندې څنګه بدله ورکولی کيږي؟	۳۳۵
جنت او دوزخ په کومو کومو شيانو کې پټ دي؟	۳۳۶	د مال و زر لالچ کونکی غلام مه جوړيږه	۳۳۷
مالداري په خپل ذات کې بد شی ندی	۳۴۰	غريبي او ولږه نه بلکې ډير مالونه د خطرې سبب دی	۳۴۵
د کفاف په اندازه مال ښه دی	۳۴۶	د انسان مال په درې قسمه دی	۳۴۷
د انسان سره به قبر ته فقط د ده عمل ځي	۳۴۸	خپل مال د آخرت ذخيره جوړه کړه	۳۴۸
مالداري په زړه ده، په مال نده	۳۴۹	عبادت لپاره فارغيدل د پريشانۍ حل دی	۳۵۱
تقوی سره برابر هيڅ عبادت نشته	۳۵۲	د تقوی تعريف	۳۵۲
د پنځه مصيبتونو نه مخکې پنځه نعمتونه	۳۵۳	په نيک کار کولو کې مه ناوخته کوه	۳۵۴
د دنيا بدې، د ذکر الله فضيلت	۳۵۵	دنيا پسې دومره مه کيږه چې د عبادت نه غافله شي	۳۵۶
دنيا کاميابه، آخرت کامیابه	۳۵۶	د مال او د عزت مينه دين ته ضرر رسونکې ده	۳۵۷
بې ضرورته په تعميراتو کې پيسه خرچ کول منع دي	۳۵۸	د ژوند د ضرورياتو د خپلو لو حد	۳۶۱

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د الله او د مخلوق په نزد باندې د محبوب جوړېدو طريقه	۳۶۱	په عيش او آرام کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مثال	۳۶۲
ارزښتناک انسان	۳۶۲	د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د دنيا نه بې رغبتي	۳۶۴
د دنيا اصل دولت	۳۶۴	د لږ نه لږ خوراک کولو فائدي	۳۶۵
د ډير خوراک کولو نقصان	۳۶۶	د مال ډيروالی د دې امت فتنه ده	۳۶۶
د قيامت په ورځ باندې چې د کوم نعمت د تپولو نه مخکې پوښتنه کيږي	۳۶۸	د قيامت په ورځ باندې به د پنځه شيانو پوښتنه خامخا کيږي	۳۶۸
د انسان غوره والی فقط په تقوی دی	۳۶۹	دنيا په بې رغبتۍ سره په زړه کې معرفت او حکمت پيدا کيږي	۳۶۹
د کاميابۍ راز	۳۶۹	د دنيا ډيروالی د قبوليت نښه نه ده	۳۷۱
د زاهدانو شان څه بل شان وي	۳۷۲	د دنيا مال د مال خاوند د ضرر نه نشي بچ کولې	۳۷۴
مال د جنت او دوزخ لپاره غټه پرده ده	۳۷۶	د بې برکته مال نښه	۳۷۷
مال او دولت جمع کول بې عقلي ده	۳۷۸	شراب د ټولو بديو مجموعه ده	۳۷۸
د لقمان حکيم نصيحت	۳۸۳	د قيامت په ورځ به نيک اعمال شفاعت کوي	۳۸۴
دنيا اړخ ته مائله کوونکو شيانو نه ځان وساتئ	۳۸۵	غوره نصيحتونه	۳۸۵
حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نصيحتونه	۳۸۶	په اسلام باندې د شرح صدر نښه	۳۸۷
لږې خبر کونکی، د دنيا پريخودنکی پير جوړ کړه	۳۸۸	بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	۳۹۰
د الله تعالی په نزد باندې د غربت فضيلت	۳۹۱	د ضعيف د وجې نه الله تعالی په نورو باندې خوري	۳۹۲
جنت د مسکينانو مسکن دی	۳۹۲	په دوزخ کې به ښځې ډيرې وي	۳۹۳
فقيران او مسکينان به جنت ته اول ځي	۳۹۴	د غريب او مالدار تول	۳۹۴
د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عملي ژوند	۳۹۶	نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرض هم اخستی دی	۳۹۷

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د دنيا ډيرول د کافرو عادت دی	۳۹۸	د اصحاب صفه د طالبانو غريبي	۳۹۹
دنياداري په لحاظ سره د ځان نه کم باندې نظر ساته	۴۰۰	د معاشرې کمزورې طبقه د برکت سبب دی	۴۰۲
نبی کريم ﷺ به فقيران مهاجرين د فتح ذريعه جوړوله	۴۰۳	ديو کافر او فاجر په خوشحالۍ پسې مه پسخيږه	۴۰
الله تعالی خپل خوښ بنده ګان د دنيا نه لرې ساتي	۴۰۴	د عشق مصطفی ﷺ تقاضا	۴۰۵
د الله په لاره کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ټولو نه ډير تنګ کړی شويدی	۴۰۶	نبی اکرم ﷺ په خېټه پسې دوه کاڼي وتړل	۴۰۷
صابر او شاکر څوک دی؟	۴۰۷	فقر او ولږه باندې صبر کول غټ ثواب دی	۴۰۸
د فقيرانو مهاجرينو فضيلت	۴۱۰	ابوذر غفاری رضي الله عنه د نبی کريم ﷺ اووه نصيحتونه	۴۱۱
د نبي کريم ﷺ خوښ درې شيان	۴۱۱	تن آسانې د الله والاؤ د شان منافې ده	۴۱۲
که مال ډير وي نو عبادت به هم ډير کول غواړي	۴۱۳	د فقر او ولږې د ټولو فضيلت	۴۱۳
غريب عيالداره الله تعالی ته خوښ دی	۴۱۳	د حضرت عمر رضي الله عنه کمال تقوی	۴۱۳
د اسلام په ابتداء کې د فقر يوه نقشه	۴۱۴	**بَابُ الأمل والحرص**	۴۱۵
انسان د ارزوګانو او دهغه د مرګ عملي نقشه	۴۱۵	د بوډا انسان زلمي حرص	۴۱۷
د شپيتو کالو بوډا که توبه ونه کړي نو څه به وي؟	۴۱۸	د انسان خېټه د قبر خاورې ډکولی شي	۴۱۹
دنيا کې فقط مسافر نه بلکې روان مسافر جوړ شه	۴۱۹	کور د اخيرولو نه مرګ ژر راتلی شي	۴۲۰
د انسان ارمان لېرې او مرګ نيژدې دی	۴۲۲	د انسان ناکامه کوښښ	۴۲۲

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د دې امت د خلکو عمرونه	۴۲۳	یقین او زهد خپل کړه، بخل او ارزو نه ځان وساته	۴۲۴
د حقیقي زهد پیژندنه څه ده؟	۴۲۵	بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ	۴۲۷
الله تعالی ګمنام مالداره خوښ ساتي	۴۲۷	د ښه عمل والا سړی د شهید د درجې نه څنګه مخکې شو؟	۴۲۸
صدقه کولو باندې مال کله هم نه کمیږي	۴۳۱	د نیکۍ توفیق د ښایسته خاتمې نښه ده	۴۳۴
عقلمند او د بې عقله پیژندنه	۴۳۴	اهل تقوی لپاره مال او دولت بد څیز ندی	۴۳۵
مال او دولت د مؤمن ډهال دی	۴۳۶	شپیته کاله عمر غټ عمر دی	۴۳۷
عمر د فراخیتا سره د شهادت ارمان کول د اوچتوالي سبب دی	۴۳۸	د قیامت په ورځ به ډیر عبادت ګذار هم د نورو اعمالو ارمان کوي	۴۳۹
بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ	۴۴۰	د کامل صبر کونکو صفات	۴۴۱
د مؤمن عجیبه شان	۴۴۳	طاقتور مسلمان د ضعیف مسلمان نه غوره دی	۴۴۴
په کامل توکل سره د رزق لاري برسیرته کیږي	۴۴۵	د معاش په حصول کې جائز طریقې خپلې کړه	۴۴۷
اصل زهد څه دی؟	۴۴۸	الله تعالی ونه غواړي نو ټوله دنیا نفع او نقصان نشي رسولی	۴۴۹
رضا بالقضاء د خوش بختۍ نښه ده	۴۵۰	الله تعالی باندې د کامل اعتماد اثر	۴۵۱
د رزق لپاره مجربه مراقبه	۴۵۴	دیني طالب علم د وجې نه الله تعالی رزق ورکوي	۴۵۵
څوک چې مال پسې زغلي، هغه وژل کیږي	۴۵۶	ټوله معاشره که تابعداره شوه نو هر مصیبت به لیرې شي	۴۵۶
د اعتماد او توکل یو حیرانونکې واقعه	۴۵۷	رزق د انسان په لټون کې وي	۴۵۹
د یو نبي بې مثاله صبر	۴۵۹	بَابُ الرِّيَاءِ والسمعة	۴۶۱
د ریاکارۍ قسمونه	۴۶۱	الله تعالی د زړونو اخلاص ته ګوري	۴۶۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
ریاکارۍ یو قِسم شرک دی	۴۶۴	اورولو او ښودنې په عمل باندې سخت وعید	۴۶۵
ریاکارۍ دې خپل ثواب دهغه چا نه واخلي د چا لپاره چې یې عمل کړیدی	۴۶۶	ریاکار به په قیامت کې ذلیله وي	۴۶٦
آخرت مقدم ساته کامیاب به یې	۴۶۷	نیکۍ په حالت باندې خوشحالیدل، ریا نه ده	۴۶۷
د دینداره ریاکار لپاره سخت وعید	۴۶۸	خوږې ژبې او د سختو زړونو خلک	۴۶۹
دمیانه روۍ فضیلت	۴۷۰	د شهرت ډک ژوند د خطرو نه ډک دی	۴۷۱
د ریاکارۍ بدۍ	۴۷۲	د اولیاء الله عظیم شان	۴۷۳
د مخلص مسلمان ظاهر او باطن یو شان وي	۴۷۵	د ریاکارو خلکو نښه	۴۷۶
ریاکارۍ د دجال د فتنې نه ډیره خطرناک ده	۴۷۷	ښه عمل خپله په خلکو باندې ظاهریږي	۴۷۹
دوه مخې پالیسۍ اسلام لپاره ډیره خطرناکه ده	۴۸۰	بَابُ الْبكاء وَالْخَوْف	۴۸۲
آخرت ځان ته حاضرول د ژړلو سبب دی	۴۸۲	د دنیا د کارونو انجام فقط د الله تعالی په علم کې وي	۴۸۳
په دوزخ کې د عمرو بن لحی او د یوې ښځې حالت	۴۸۴	یاجوج ماجوج او دسکندری دیوال تفصیل	۴۸٦
قیامت ته نژدې وخت کې یو څو عذابونه	۴۸۸	د الله عذاب عام وي	۴۸۹
اصل اعتبار د خاتمې وي	۴۹۰	دجنت غوختونکی او د شپې خوب؟	۴۹۰
دحکمت نه ډک یو نصیحت	۴۹۱	سره دنیک کیدلو نه د الله تعالی نه ویریدل په کار دي	۴۹۲
مرګ او قبر هر وخت یاد ساته	۴۹۳	د آخرت فکر نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بوډا کړو	۴۹٦
هیڅ ګناه سپکه مه ګڼه	۴۹٦	حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د حضرت ابوموسی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل مینځې خبرې	۴۹۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته د نهو خبرو حکم	۴۹۹	د الله تعالی د ویرې نه د ژړا فضیلت	۵۰۰
بَابُ تغیر النَّاس	۵۰۱	قحط الرجال په زمانه کې به په سلو کې یو کس د کار په لاس راځي	۵۰۱
مسلمان به د یهودو او نصاراؤ تقلید وکړي	۵۰۲	ښه خلک به مړه شي، خزلې به پاتې شي	۵۰۳
یو پیشنګوئي	۵۰۳	کله چې شریان خلک حکمرانان شو نو قیامت به راځي	۵۰۴
د عیش او د راحت ژوند نه د قناعت ژوند ښه دی	۵۰۵	په آخره زمانه کې په دین باندې قائم پاتې کیدل داورسره د لوبې کولو مترادف به وي	۵۰۷
کله چې حالات خراب وي نو د ژوند نه مرګ ښه دی	۵۰۷	دجهاد پریخودل او د دنیا مینه د ذلت سبب دی	۵۰۸
دمعاشرې دیو ځو معتدې ګناهونو وبال	۵۱۰	بَابٌ فِي الْإِنْذَار والتحذير	۵۱۱
په اصل کې خلک ښه ؤ شیطان برباد کړل	۵۱۱	دصفا په غر باندې قریشو ته دعوت	۵۱۳
دامت محمدیه فضیلت	۵۱۷	په مستقبل کې دامت محمّدیه تاریخي حالت	۵۱۸
خپله نه بدلیږي، قرآن بدلوي	۵۱۹	د خلافتونو په باره کې پیشنګوئي	۵۲۰
کتاب الفِتَن	۵۲۲	نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر قیامته پورې د راتلونکو فتنو پیشنګوئي کړیده	۵۲۳
د انسانانو په زړونو باندې د فتنو د راتګ اثرات	۵۲۴	په زړونو کې د امانت راتلل او بیا وتل	۵۲۶
دفتنو په زمانه کې په ګوټ کې ناسته اختیار کړه	۵۲۸	د فتنو د راتګ نه مخکې نیک اعمال وکړه	۵۳۱
په فتنو کې هیچرې مه ننوځې، لیرې وسیږه	۵۳۲	خپل مینځې جنګ جګړو په وخت کې څه کول پکار دي؟	۵۳۳
د فتنو پیشنګوئي	۵۳۶	د یو ځو هلاکونو د وجې نه به دا امت هلاک شي	۵۳۷
د فتنو د سختوالي انتهاء	۵۳۸	دفتنوډک ماحول کې د عبادت ثواب ډیر دی	۵۳۹
هر راتلونکی دور د مخکنې دور نه بدتروي	۵۳۹	د قائد فتنې په باره کې پیشنګوئي	۵۴۰

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د خلافت راشده د مدت په باره کې پیشنګوئي	۵۴۱	د راتلونکو واقعاتو په باره کې پیشنګوئي	۵۴۲
خلافت راشده نه وروسته د سختو فتنو پیشنګوئي	۵۴۵	د فتنو ډک ماحول کې د خلاصون لار	۵۴۸
یو تفصیلي وړاندوینه	۵۴۹	مشاجرات صحابه په بحث کې مه پرېوځه	۵۵۱
کله چې چارې او ړنده فتنه وي	۵۵۲	د څو غټو فتنو بیان	۵۵۳
دفتنه احلاس مصداق	۵۵۴	د مروان بن حکم خبره	۵۵٦
بغداد کې د تاتاریانو فتنه	۵۵۷	د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت واقعه، جنګ جمل او صفین	۵٦۱
د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت	۵٦۲	د جنګ جمل واقعه	۵٦۳
د جنګ صفین واقعه	۵٦۴	د خپل مینځي جنګونو سپېره والې	۵٦٦
باب الملاحم	۵٦۷	د سختو جنګونو بیان .	۵٦۷
د قیامت نښو ته تفصیلي کتنه	۵٦۷	د قیامت دولس نښې	۵۷۱
د قیامت نه مخکې به د ترکانو سره جنګ کیږي	۵۷۴	د عیسی د نزول په وخت کې به یو یو یهودي وژلی کیږي	۵۷۷
د یو قحطاني سړي په باره کې پیشنګوئي	۵۷۸	د کسری سپینه ماڼۍ به فتح شي	۵۷۹
په جهاد سره به دوه سپر طاقتونه ختم شي	۵۷۹	که جهاد وي نو فتحه پسې به فتحه وي	۵۸۰
د قیامت شپږ نښې	۵۸۱	د دجال قتل، د ملحمة الکبری واقع کېدل	۵۸۲
په جهاد کې په کافرانو باندې د فدائي حملو ثبوت	۵۸۵	میدان جهاد کې د تکبیر نعره غټه وسله ده	۵۸۹
د قیامت د نښو ترتیب	۵۹۱	د مدینې منورې محاصره	۵۹۳
د ظهور مهدي نه مخکې یو عظیم جنګ	۵۹۳	د حبشې یو سړی به په کعبه ګوزار کړي	۵۹۴
حبش او ترکان مه تنګوئ	۵۹۵	د بغداد په باره کې پیشنګوئي	۵۹٦
د بصرې په باره کې پیشنګوئي	۵۹۸	د بصرې د یو کلي د یو جومات فضیلت	۵۹۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذات د فتنو لپاره بندیز ؤ	۶۰۱	بَابُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ	۶۰۴
د قیامت یو څو نښې	۶۰۴	نالائقه ته منصب ورکول د قیامت نښه ده	۶۰۵
د عربو په زمکه کښې چې کله شینکی وي نو قیامت به نژدې وي	۶۰۶	د حضرت مهدی یو څو صفتونه	۶۰۶
فرات د سیند نه به خطرناکې خزانې راوځي	۶۰۷	په آخره زمانه کښې به هر سړی پریشانه شي	۶۰۹
د قیامت نه مخکښې به د یو غټ اور ظهور کیږي	۶۱۰	قیامت ته نژدې زمانه به بې برکته شي	۶۱۱
کله چې پنځلس جرمونه کیږي نو زلزلې به راځي	۶۱۳	د عدل او انصاف بیرغ وچتونکې مهدی ظهور به خامخا کیږي	۶۱۵
د حضرت مهدی ظهور او د ابدالو راتګ	۶۱۶	د عدل او انصاف او برکتونو والا مهدي به راځي	۶۱۹
د منصور قوماندان ظهور به خامخا کیږي	۶۱۹	د دویمې صدۍ نه وروسته د قیامت نښې	۶۲۱
حضرت مهدی لپاره تور بیرغونه	۶۲۱	امام مهدی به د حضرت امام حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اولاد کښې وي	۶۲۲
په یو زر (۱۰۰۰) مخلوق کښې د ملخانو مکمل ختمیدل د قیامت نښه ده	۶۲۳	بَابُ الْعَلَامَاتِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ وَذِكْرِ الدَّجَّالِ	۶۲۴
د قیامت نه مخکښې د لسو علاماتو ښکاریدل	۶۲۵	د قیامت اولنۍ نښه	۶۲۷
د درې نښو د ښکاره کیدلو نه وروسته به نه ایمان معتبر وي، نه نیک عمل	۶۲۸	لمر د عرش د لاندې د سجدې کولو مطلب	۶۲۹
د ټولو نه غټه فتنه د دجال ده	۶۳۰	په یوه سترګه به دجال کاڼی وي	۶۳۰
دروغژن دجال به کاڼی وی	۶۳۱	د دجال جادوې کارونه او د یاجوج ماجوج خروج	۶۳۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د دجال استدراج	٦٤٢	د دجال تابعدار به د ايران يهوديان وي	٦٣٦
دجال مدينې منورې ته نشي داخليدلی	٦٣٦	حضرت تميم داری رضي الله عنه د سترګو ليدلی حال د دجال بيانوي	٦٣٨
د دجال نور وضاحت	٦٥٤	د دجال نور وضاحت	٦٥٦
په خراسان کې د دجال ظهور	٦٥٧	د دجال نه ليرې او سيږه	٦٥٨
دجال به په دنيا کې څومره زمانه وي	٦٥٨	د خروج دجال نښې او د دجال جادو	٦٥٩
د ايمان خاوندان دې د دجال نه نه ويريږي	٦٦٢	د دجال د سپرلۍ ناشنا خر	٦٦٣
باب قصه ابن الصياد	٦٦٥	نبي اکرم صلى الله عليه وسلم او د ابن صياد ترمينځ خبري	٦٦٦
ابن صياد به د يوې غصې په نتيجه کې دجال جوړ شي	٦٧١	ابن صياد به د دجال جوړيدل نه ناخوښه کول	٦٧٢
د ابن صياد په دجال کيدلو باندې ابن جابر رضي الله عنه قسم خوري	٦٧٤	د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په نزد باندې ابن صياد دجال ؤ	٦٧٤
په واقعه حره کې ابن صياد ورک شو	٦٧٤	د دجال ټول صفتونه په ابن صياد کې ؤ	٦٧٥
نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره به هميشه خطره وه چې چيرته ابن صياد دجال نه يې	٦٧٦	بَابُ نُزُولِ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ	٦٧٨
په خدای قسم عيسى عليه السلام به خامخا راکوزيږي	٦٧٩	د حضرت عيسى عليه السلام د زمانې برکتونه	٦٨١
جهاد به جاري وي	٦٨٢	عيسى عليه السلام به د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خوا کې دفن کيږي	٦٨٢
بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ وَأَنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُه	٦٨٤	قيامت بيخي نژدې دی	٦٨٤
يو پيرۍ ختميدو باندې هم د قيامت اطلاق کيږي	٦٨٥	په دنيا کې د امت محمديه د پاتې کيدو زمانه	٦٨٧
دنيا بيخي بوډۍ کيخودلو سره تار تار شويده	٦٨٨	بَابُ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ النَّاسِ	٦٨٩

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په خلکو کې چې ترڅو د الله نوم وي نو قیامت به نه راځي	۶۸۹	د قیامت په باره کې پیشنګوئي	۶۹۰
د قیامت سره متعلق یو تفصیلي حدیث	۶۹۱	بَابُ النفخ فِي الصُّور	۶۹۵
د شپیلۍ د پوک وهلو بیان	۶۹۵	د ملا هډوکی کله هم نه ختمیږي	۶۹۶
قیامت کې به د زمکې او آسمان دبدلون په وخت کې خلک چیرته وي؟	۶۹۹	اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د شپیلۍ حقیقت څه دی؟	۷۰۱
بَابُ الْحَشْر	۷۰۳	د جنتیانو اولنی خوراک	۷۰۴
میدان محشر کې د راغونډیدلو منظر	۷۰۵	میدان محشر کې به خلک لوڅ لغړ وي	۷۰۶
محشر کې به نر ښځې ټول بربنډ وي	۷۰۸	دوزخیان به پر مخې محشر ته راځي	۷۰۸
دحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د پلار حشر	۷۰۹	میدان محشر کې بهیدونکې خوله	۷۱۰
میدان محشر کې به لمر ډیر نژدې وي	۷۱۰	په جنت کې به د امت امحمدیه خلک د ټولو نه ډیر وي	۷۱۱
د ریاکار عبادت قبول نه دی	۷۱۳	د قیامت په ورځ به زمکه خپله د هر سړي په عمل باندې ګواه جوړه شي	۷۱۴
بَابُ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ وَالْمِيزَان	۷۱۷	آسان حساب او سخت حساب	۷۱۷
د هر انسان په جنت او دوزخ کې د ناستې ځاې وي	۷۲۰	د اعتدال لار خپلولو په وجه به امت محمدیه په قوم نوح باندې ګواه جوړیږي	۷۲۱
د قیامت په ورځ به د خپل بدن اندامونه ګواهي ورکوي	۷۲۲	داندامونو د ګواهۍ یوه بله واقعه	۷۲۴
د امت محمدیه به بې حسابه خلک بغیر د حساب کتاب نه جنت ته ځي	۷۲۷	د قیامت په ورځ به د الله تعالی مخې ته درې کتنې کیږي	۷۲۸
حدیث بطاقة او د الله د نوم برکت	۷۲۸	د قیامت درې سختې مرحلې	۷۳۰
لوي ورکوتي، مالک او غلام ترمینځ به هم حساب وي	۷۳۱	د آسان حساب او سخت حساب مطلب	۷۳۲
د قیامت ورځ به د مؤمن لپاره مختصر وي	۷۳۳	د اعمالو د وزن بحث	۷۳۴

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
بَابُ الْحَوْضِ والشفاعة	۷۳۶	د حوض کوثر احوال	۷۳۷
خرابې عقیدې مرتدان به د حوض کوثر نه لرې ساتلی کیږي	۷۴۰	د شفاعت کبری تفصیلي بیان	۷۴۱
د شفاعت د ټولو نه ډیر مستحق سړی څوک دی	۷۵۰	د شفاعت تفصیل	۷۵۰
صله رحمي او امانت به خپل حق په پل صراط باندې اخلي	۷۵۲	الله تعالی به د امت په باره کې نبي کریم ﷺ لره راضي کړي	۷۵۳
د قیامت او شفاعت په اړه اوږد حدیث	۷۵۴	پل صراط او د شفاعت نور تفصیل	۷۶۲
جنت ته د ټولو نه آخر کې تلونکی سړی	۷۶۶	کله چې د خدای رحمت جوش ووهي	۷۷۲
د دوزخ نه راوتلي یو سړي قصه	۷۷۴	د مؤمن نه به په پل صراط باندې یو بله پوښتنه کیږي	۷۷۵
د هر سړي لپاره په جنت او دوزخ کې یوه یوه چوکۍ ټاکلی شویده	۷۷۶	کله چې مرګ ته خپله مرګ راشي	۷۷۶
حوض کوثر ته به د ټولو نه مخکې غریب مهاجرین راځي	۷۷۷	حوض کوثر ته د راتلونکو شمار نشته	۷۷۸
میدان محشر کې به نبي کریم ﷺ کوم ځای وي	۷۷۹	نبي اکرم ﷺ په مقام محمود کې	۷۷۹
شفاعت به د کبیره ګناهونو والاؤ لپاره وي	۷۸۱	رحمت عالم د رحمت شان	۷۸۱
د عام شفاعت ذکر	۷۸۲	څلور لاکهه به بغیر د حساب نه جنت ته ننوځي	۷۸۳
د الله تعالی رحمت بهانه لټوي	۷۸۴	د حوض کوثر فراخوالی	۷۸۶
د دوزخ د راوتلو نه وروسته بنایسته منظر	۷۸۹	د قیامت په ورځ به کوم خلک شفاعت کوی	۷۹۰
یاداشت	۷۹۱		

۳۰ ربیع الاول ۱۴۱۸ھ

باب البیان والشعر

د تقریر او شعر بیان

قال الله تعالی: ﴿وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ﴾ (سورة ص: ۲۰)

شعر په لغت کې بیان وضاحت او د مقصود اظهار ته وایي. په بنایه کې يې لیکلي دي چې خپل مقصود په ډیر فصاحت او بلاغت سره او د زړه په ځورتیا او پاکوالي سره د پیش کولو نوم ته بیان ویلی کیږي. فلان ابین فلان یعنی فلانکی سړی د فلانکي سړي نه د خپل مافی الضمیر اظهار په غوره طریقې سره کوي. او بنه بیان کوي.

الشعر: په لغت کې فهم او ذکاوت او هوښیارتیا او عقل مندی ته شعر ویل کیږي. ګویا دا د شعور نه جوړ شوی دی. چې هغه د علم او فهم په معنی کې دی. او د شعراؤ په اصطلاح کې د شعر پیژندنه (تعریف) داسې دي: **الشعر هو کلام مقفیٰ موزون عن قصدٍ**. یعنی د قصد او ارادې سره مقفی او موزون کلام پیش کولو نوم شعر دی. په دې تعریف کې د قصد او ارادې لفظ قید احترازي دی، د دینه هغه موزون کلام ووتلو چې د هغې د وزن اراده نه ده کړې شوي. لکه په قرآن او حدیث کې موزون کلام وي. دا اګرچې موزون دی خو د دې د وزن قصد او اراده نه ده کړې شوي. او نه وزن مقصود دی. دغه شان د قرآن او حدیث دا موزون کلام د شعر د قافیو د اصولو د لاندې هم نوي. نه دا د شعر د قافیو مطابق دی. دغه شان په حدیث کې موزون دعاوې شته دی، هغه د شعر د تعریف نه خارج دي. ځکه چې د دې وزن قصد او ارادې د لاندې ندی. دغه شان د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کلام:

انا النبی لا کذب   انا ابن عبد المطلب (او)

هل انت الا اصبع دمیت   وفي سبیل الله ما لقیت

د شعر نه خارج دي ځکه چې د دې د وزن اراده نه ده کړې شوي او نه دا د شعر د اصولو او قواعدو مطابق دی.

د معجزاتو څیړنه: نبی ته چې الله تعالی کله معجزه ورکوي نو د هغې په ذریعه سره په معاشره باندې غالبه کوم څیز لره ماتوي مثلاً حضرت موسی علیه السلام په زمانه کې سحر او جادو په معاشره باندې دومره خپور شوی وُ چې د عدالت او معاشرې نظام چلولو د پاره به هم د جادو نه استفاده کیدله. ویلی کیږي چې د فرعون سره د جادو یو حوض وُ په هغې کې به مدعې او مدعی علیه دواړه واچولی شول نو څوک چې به په حق باندې وُ نو هغه به د اوبو سره ته راغلو او بل به ډوب شو، دغه شان د هغوې سره به د جادو څه بطخې وي، هغه به د ښار په غاړو باندې وسیدلې، که کوم دښمن یا غل به ښار ته ننوتلو نو د جادو دې بطخو به په زوره زوره آوازونه کول، دې عامې جادو د ماتولو د پاره الله تعالی حضرت موسی علیه السلام ته دید بیضاء

Maktaba Tul Ishaat.com

او د عصا معجزه ورکړه. او هغه یې فرعون ته رالیږلی ؤ. نو دې معجزې د معاشرې د جادو بیخ مات کړو او حق غالبه شو او باطل ورک شو. حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کې معاشره باندې علاج معالجه او طب یونانې خپور شوی ؤ، الله تعالی حضرت عیسی علیه السلام ته د احیاء موتی او مړو ژوندې کولو او مورزادې ړندو د صحیح کولو او د ابرص (برګې) ناروغان صحیح کولو معجزه ورکړه. چې په هغې سره د دغه خلکو د طبّ زور ماتیدلو سره صفر شو. او خلکو اقرار وکړو چې د حضرت عیسی علیه السلام سره د خدا د اړخ نه معجزه ده. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په عرب معاشره باندې ادب او فصاحت او بلاغت ډیر مشهور ؤ. الله تعالی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته د فصاحت او بلاغت اعلی امتیاز قرآن عظیم ورکړو چې هغې د ټولو عربو فصاحت او بلاغت په زمکه کې خخ کړو. او هغوې ته د مقابلې اعلان وکړو که دا کلام د الله تعالی د اړخ نه نوې نو تاسو هم دغه شان کلام جوړ کړی ؟ دغه خلک د مرګ وژلو او جنګ کولو ته تیار شول. خو د ژبې په څوکو باندې د دې کلام مقابله یې ونکړی شوه، اګرکه د قرآن کلام شعر نه ؤ، لیکن دې د عربو د شعر او شاعری غرور دخاورو سره یو ځای کړو. او هغوې د اجتماعي ناکامۍ اقرار وکړو. هغوې ته بیا بیا وویلی شول:

مـا تحـدا کـم بـه خـیر الانـام رکـب مـما تــرکـبـوا الکلام

خو هغوې جواب ورنکړی شو. الله تعالی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د شعر او شاعرې نه لیرې وساتلو. دې لپاره چې څوک دا شک ونکړي چې د شاعرۍ په زور باندې هغه په دې نوي طریقه باندې دا کلام جوړ کړی دی. نو ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شعر په جوړولو باندې نه پوهیدلو. بلکه ځینې وخت کې به د ویلو په وخت کې خبره مخکې وروسته شوه او د اصولو او قواعدو مطابق یې شعر نشو ویلی. خو بیا هم که کله به یې بغیر د قصد او ارادې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د چا شعر ولوستلو نو هغې ته شاعرې نشي ویلی کیدلی. خلاصه دا ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په کوم کلام سره د عربو د فصحاؤ مقابله وکړه نو هغه د الله تعالی کلام دی. او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم غټه معجزه ده، چې هغې ته قرآن وایې.

شاعران او شاعري: د شریعت په رڼا کې د شعر حکم دا دی چې دا یو کلام دی. که ښه کلام دی نو ښه دی. که بد دی نو بد دی. هو کلام حسنه حسن قبیحه قبیح. صحابه کرامو رضي الله عنهم په مختلفو وختونو کې شعرونه ویلي دي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ښه شعرونو داد ورکړی دی. بلکه د حضرت حسّان رضي الله عنه د شعرونو د پاره یې اهتمام کړیدی. لهذا د ښه شعرونو انکار نشي کیدلی. هو خو بد اشعار بد دي، دغه شان شعرونه د ژود عادت جوړول هم ښه خبره نده. په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې مشهور شاعران دري ؤ: (۱) حضرت حسّان بن ثابت رضي الله عنه (۲) حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه (۳) حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه. په دوې کې حضرت حسّان رضي الله عنه ډیر کلام په قومیت او په حسب نسب په حواله سره کړی دی. یعنې د کافرانو حسب نسب یې ښکاره کړیدی. حضرت کعب بن

مالک رضي الله عنه کافران د دین او عقیدې او اعمالو او کردار په اعتبار سره تنګ کړي دي. په کافرو کې چې په دا ډول ځوک مسلمان شو نو ویل به یې چې د کفر په حالت کې خو به د حضرت حسان رضي الله عنه خبرې په مونږ باندې د غشي په شان لګیدلې، خو د اسلام په حالت کې معلومه شوه چې د کعب بن مالک رضي الله عنه خبرې ډیرې سختې وې. حضرت کعب رضي الله عنه په نبی کریم صلی الله علیه وسلم لره په کافرو باندې داسې غوره والی ورکولو:

یبیت یجافي جنبه عن فراشه　　اذا استثقلت بالمشرکین المضاجع

فمن کان او من قد یکون کاحمد　　نظام الحق او نکال الملحد

حضرت حسان رضي الله عنه به په دې انداز سره کلام کولو:

اتهجوه ولست له بکفؤ　　فشرکما لخیرکما الفداء

د آدم علیه السلام د پیدائښت نه تر ننه درې غټ شاعران راغلي دي: (۱) **الملک الضلیل امرأ القیس قائدهم وصاحب لوائهم الی النار یوم القیامة** (۲) طرفة بن العبد کم عمری زلمی چې د شل کاله په عمر کې ووژلی شو. (۳) لبید بن ربیعه عامری. د حضرت لبید عمر یو سل شل کاله ؤ. ۶۰ کاله یې په کفر کې تیر کړل او ۶۰ کاله یې په اسلام کې تیر کړل. دهغه نه چا پوښتنه وکړه چې دهغه نه وروسته څوک غټ شاعر تیر شویدی، نو وې فرمایل: صاحب الجدری یعنې هغه امرأ القیس په مخ باندې د تنکو داغونه ؤ، بیا پوښتنه وشوه چې دهغه نه وروسته بیا څوک غټ شاعر تیر شویدی. نو وې ویل: کم عمری هلک یعنې طرفه بن العبد، بیا پوښتنه وشوه چې دهغه نه وروسته په دریم کې نمبر کې غټ شاعر څوک دی: نو وې ویل صاحب العصاء یعنې خپله زه په دریم نمبر باندې غټ شاعریم.

د اسلام قبلولو نه وروسته به یې شعرونه نه ویل. فرمایل به یې چې سورة بقرة کافي ده. وس د کوم شعر څه ارتیا نشته. کله چې به څوک د هغه دناروغۍ پوښتنې لپاره ورتلل نو دا شعر به یې ویله:

ولقد سئمت عن الحیاة وطولها　　وسؤال هذا الناس کیف لبید

بیا به یې فرمایل:

الحمد الله ذلم یأتني اجلي　　حتی اکتسیت من الاسلام سربالا

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د لبید د یو شعر ستاینه په حدیث نمبر: ۴ کې کړیده.

ربیع الثاني ۱۴۱۸هـ

د ټنګ ټکور اوریدو شرعي حکم

نوټ: الحمد لله چې زه د توضیحات دا برخه په تاریخ ۱۵ د رمضان ۱۴۲۶هـ باندې په مسجد نبوي کې روضه رسول صلی الله علیه وسلم ته مخامخا د قبله اړخ نه روضه نبی ته متوجې کیدو کې لیکم:

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الله تعالی: ﴿وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ﴾ (سورة نمل: ۲۲۴)

وقال تعالی: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ (سورة المائده: ۶)

وقال تعالی: ﴿وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِی الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ﴾ (بنی اسرائیل: ۶۴)

په دې آيتونو کې د ټنګ ټکور او ګانو باجو حرمت په واضحه توګه باندې ذکر کړی شويدی. دې مسئلې ته مسئلة الغناء ويلی کيږي. د ګڼو احاديثو او مذکوره آيتونو د وجه نه دې مسئلې نهايت اهميت اختيار کړی دی. او د علماؤ او فقهاؤ په نزد باندې دا يوه معركة الاراء مسئله جوړه شويده. علماؤ د دې په اړه باندې مستقل کتابونه ليکلي دي. او په ټولو غټو وړو کتابونو کې يې دې ته اهم مقام ورکړی دی. **كف الرعاع فی مسئلة الغناء**، د ابن حجر هيتمی مشهور تصنيف دی. چې په هغې کې دا مسئله په نهايت تفصيل سره بيان کړی شوي ده. مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفيع رحمه الله په خپل عربي تفسير احكام القرآن کې ټنګ ټکور او ګانې او اوريدل باندې ښه پوره کلام کړی دی. دغه شان په عوارف المعارف او نورو کتابونو کې علماؤ دا مسئله ښه واضحه کړيده. ځينو ناپوهه خلکو د ځينې روايتونو نه د ټنګ ټکور د جائز کولو کوښښ کړيدی، نو ځکه د علماؤ په نزد باندې د ټنګ ټکور مسئله د بحث ځاې جوړ شو. او نن سبا خو دا ناروغې عامه شويده، نو د عامو خلکو په ذهن کې دا خبره کيناستله يا کښنولی شوه چې ټنګ ټکور او ګانې بجانې خو يوه تفريح ده، د دې د حراميدلو سره هيڅ تعلق نشته.

د ټنګ ټکور په حرمت باندې دلائل

د دې بحث په ابتداء کې چې د قرآن کريم کوم آيتونه ليکلی شوي دي، په هغې سره مفسرينو حرمت غنا باندې استدلال کړيدی. او د قرآن د آيتونو مطلب بيانولو کې مفسرينو ته بنيادې او معيارې حيثيت ترلاسه دی. په دې آيتونو کې د سورة لقمان په آيت کې: **لَهْوَ الْحَدِيْثِ**، لفظ راغلی دی. دا لفظ اګرکه په بيکاره کلام او قيصو د پاره ويلی کيږي، خو فتاوی حماديه او عوارف المعارف کې ليکلي دي چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دواړو په قسم خوړلو سره وفرمايل چې د **لهوالحديث** نه ټنګ ټکور او باجې مراد دي. دغه شان سورة نجم په آخر کې ﴿وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ﴾ د آيت تفسير په ﴿وَاَنْتُمْ مُغَنُّوْنَ﴾ سره کړی شوی دی. د دې آيتونو نه علاوه بيشميره احاديثو کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ټنګ ټکور د حرمت په اړه باندې واضح ارشاد فرمايلی دی. مثلًا: مشکوة شريف ص:۴۰۹ باندې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث د کتلو قابل دی: بيا ص:۴۱۰ باندې د حضرت

ابو امامه رضی الله عنه حدیث وکوری. بیا ص: ۴۱۱ باندې د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه حدیث وکوری، په دغه صفحه باندې د حضرت جابر رضی الله عنه روایت وکوری، بیا د دې سره د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما روایت وکوری، په یو حدیث کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ما تاسو د دوه فاسقه او دوه بیوقوفه آوازونو نه منع کړي وی، یو په مړي باندې د ژړا د آواز نه او دویم د غناء د آواز نه.

یو حدیث کې دي چې ابلیس اولنی هغه څوک دی چې هغه ګانا (لوبه) وویله او ویرېې وکړو. په یو حدیث کې دي چې ګانا اوریدل حرام دي. او د دینه خوند اخستل کفر (د نعمت ناشکرې) ده. او د دې لپاره راغونډیدل ګناه او فتنه ده. په یو حدیث کې دي چې کله یو سړی ګانا وایي او د هغه آواز وچت شي نو الله تعالی د هغه اړخ ته دوه شیطانان راولیږي. یو شیطان یې په یوه اوږه باندې او بل شیطان یې په بله اوږه باندې کیني. او مسلسل یې په خپلو خپو باندې په وهلو وهلو سره هغه کس ته شاباسی ورکوي، تر دې چې هغه کس ګانا ختمه کړي. په یو حدیث کې دي چې : **الغناء حرام فی الادیان کلها** .یعنې په ټولو دینونو کې ګانې بجانې حرام دي. قاعده دا ده چې کله په نصوص اختلاف وي نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم اقوالو ته رجوع کولی شي. صحابه کرام رضی الله عنهم هم غناء او سرودونه حرام ګرځوي. حضرت عثمان رضی الله عنه فرمایې: **ما تغنیت ولا تمنیت ولا مسست ذکری بیمینی منذ بایعت رسول الله** صلی الله علیه وسلم.

یعنې ما نه لوبه ویلي ده، نه مې د دې ارمان کړیدی او د کوم وخت نه چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی دی نو په خپل ښي لاس سره مې خپل ذکر نه دی مسح کړی. حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمایل: **الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء البقل.**

تابعین او تبع تابعین هم غناء لره حرام ګرځوي. فضیل بن عیاض رحمه الله فرمایې: **الغناء رقیة الزنا..** علامه ضحاک رحمه الله فرمایي: **الغنا مفسدة للقلب سخطة للرب** ، څینو تابعینو ته منسوب ده : **ایاکم والغناء فانه یزید الشهوة ویهدم المروة.** امام مالک رحمه الله فرمایي: که چا وینزه واخستله او هغه ډمه وختله نو دا په دې سودا کې عیب (نقص) دی، دا سړی سودا فسخ کولی شي. امام ابو حنیفه رحمه الله هم د غناء د حرمت قائل دی. وې فرمایل: زه یو ځل په دې مصیبت سره مې امتحان وشوې ما صبر وکړو، خو کله چې زه مقتدی جوړ شوم او بیا مې امتحان وشو، نو د مجلس نه لاړم. واضحه دې وي چې ابتلاء د حرامو د وجه نه وي، لهذا په دې کلام کې د غناء حرمت ته اشاره ده. امام شافعي رحمه الله فرمایي چې کوم سړی ډیر لوبې (ګانې) وایي، هغه احمق، بیوقوف، او مردود الشهادة دی. بهر حال دا ټول دلائل د غناء په حرمت باندې موجود دي. لهذا د دې په حرمت کې د هیڅا اختلاف نشي کیدلی. هو خو خواهش پرستې بیله خبره ده. (مرقات ۸/۵۵۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

دغناء په جواز باندې د اهل باطلو باطل استدلال

د غناء حرمت اتفاقي مسئله ده ، په دې کې د اختلاف څه ځاې نشته ، او نه د دې اختلاف څه شرعي حیثیت شته دی ، څه خلکو ته په څه نصوصو کې شک پیدا شویدی یا د باطني فساد په وجه باندې هغوې سره دپوهې نه د نصوصو غلط مطلب بیان کړیدی. دا زه ځکه دلته ذکر کوم چې کوم خواهش پرست سړی عام خلکو ته دهوکه ورنکړی شي. ګنې دلته نه څه دلیل شته او نه څه استدلال.

باطل پرست د سورة مائدة ﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَآ أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ﴾ نه استدلال کوي : وګوره چې واې وریدلنو په ژړا شول. نو د غناء په اوریدلو سره هم ژړیږي. اهل سماع د دې آیت نهم د ډنګ ټکور د اوریدو د پاره د اباحت استدلال کړیدی. د غناء د اثبات لپاره د دې آیت نه استدلال کول تحریف فی القرآن دی. چې هغه حرام دی . دلته د ګانې اوریدلو خبره نه ده بلکه د حق اوریدلو خبره ده. باقې د ډنګ اوریدل (سماع) خبره وروسته راروانه ده .

په دغه توګه باندې اهل باطل دا آیت ﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ ﴾ (زمر: ۲۳) نه هم استدلال کوي. دا هم د قرآن تحریف دی. او دا د هغه خلکو ښکاره ګمراهي ده . دلته یې د ګانا اوریدلو اثرندی ویلی، دلته خو د قرآن اوریدلو اثر ویلی شوی دی. البته سماع والا د دینه استدلال کوي. د هغې بحث راروان دی. اهل باطل د دې آیت نه هم په غناء باندې استدلال کوي: ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللهِ﴾ د هغوې دا استدلال هم غلط دی. ځکه چې د زینت نه باجي او طبلې مراد ندي. نه کوم مفسر په دغه توګه تفسیر کړیدی. نه په حدیث کې شته دی . اهل باطل په یو حدیث سره هم د غناء نه استدلال کوي. چې د نبی کریم ﷺ په شتون کې د حضرت عائشه رضي الله عنها په کور کې دوه ماشومانو جینکو لوبه (ګانا) ویله. صدیق اکبر رضي الله عنه منع کړي. نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: دعهما یا ابابکر فانها ایام عید. د دینه هم استدلال غلط دي. ځکه دلته د ساده شعرونو ویلو خبره ده. وړې ماشومانې دي. په دې باندې د طبلې او د باجو والا ګانې قیاس کول او د بالغو ښځو د ډانس (نڅا) لپاره استدلال حماقت دی.

دا بیوقوفتیا هغه وخت مخې ته راغله کله چې په ۱۹۷۴ء کې شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق رحمه الله د اکوړه خټک وسیدونکې د بهټو په دور حکومت کې د پاکستان په قومي اسمبلۍ کې د رقص او سرود په خلاف باندې تحریک التوا وړاندې کړو او ګانا بجانا یې حرام وګرځوله. نو کوثر نیازی او د هغه وخت وزیر قانون پیرزاده په ډیر زور سره د دې مخالفت وکړو او د ګانو بجانو په جواز باندې یې مذکوره روایتونه وړاندې کړل. او د رقص او سرود یې ښه کلک ملاتړ وکړو. په دې باندې د جامعه حقانیه اکوړه خټک باني شیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمه الله وویل: ګوره وروه! د ګانو بجانو او د طبلو او باجو دا اثر دی چې نن د یو ښځه د بل په غیږه کې ناسته ده. په دې جملو باندې عبدالحفیظ پیرزاده سخت احتجاج

وکړو او یو غوبل یې جوړ کړو چې دا غیر پارلیماني الفاظ دي. دا به بیرته اخستل وي. مولانا شاه احمد نوراني وویل: چې مولانا د چا نوم ندی اخستلی. بلکې په اخبار کې د چهاب کیدونکو بیانونو خبره یې کړیده. خو پیر زاده هغه شان په ضد ولاړ ؤچې دا الفاظ دي بیرته واخلي. مولانا خپل الفاظ بیرته واخستل. د دینه وروسته وزیر قانون پیرزاده وویل: د سندھ جهومر نڅا، د پنجاب بهنګړا نڅا، د سرحد خټک نڅا، او د بلوچستان لیوا نڅا، د پاکستان ثقافتي ورثه ده. د پیرزاده نه وروسته حکومتي ممبر کرنل حبیب وویل چې دا خلک بیا بیا د ډمانو ذکر کوي او حال دا دی چې ټول آداب د ډمانو د کوټکو نه ترلاسه کیږي. دا خلک دې لاړ شي او د ډمانو د کوټکو نه اداب زده کړي، زه خپله تر شلو کالو د میوزک ډانس سره پاتې شوی یم، کوم سړی چې په میوزک نه پوهیږي، هغه پاک سړی نشي جوړیدلی. د دې په جواب کې اپوزیشن ممبر قومی اسمبلۍ محمود علی قصوری وویل چې مونږ ته دې وویلی شي چې قائد ایوان جناب ذوالفقار علی بهټو ترڅو مره زمانې دمیوزک سره تړاؤ پاتې شوی دی چې په هغې سره دا پاک سړی جوړ شویدی. خلاصه دا چې کوم خلک ټنګ ټکور د قرآن نه ثابتوي، دا دهغوی زیاتې بدبختې ده چې په قرآن وحدیث کې د تحریف مجرمان هم شول. ګنې د دې د ثابت کولو څه ضرورت دی. هغوی به بغیر د جواز نه دې ته جائز وایي او نڅا (رقص) کوي. د میوزک او سماع د پاره یو د ځان نه جوړه شوي قصه هم بیانیدلې دی. وایي چې یو ځل جبریل امین د نبی کریم ﷺ خواته راغلی او وې فرمایل چې یارسول الله ﷺ ستا د جنت فقیران به د مالدارانو نه پنځه سوه کاله مخکې جنت ته ځي، په دې باندې نبی کریم ﷺ ډیر خوشحاله شو، او وې فرمایل: کوم ګانو والا شته؟ یو بدوي وویل: زه ګاني وایم. هغه دا شعر وویله:

قد لسعت حیة الهوی کبدی ... فلا طبیب له ولا راقی

الا الحبیب الذی شغفت به ... فعنده رقیتی وتریاقی

په دې شعر سره نبی اکرم ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنهم په وجد کې راغلل. څادر د نبی کریم ﷺ د اوږو نه خکته پریوتلو. نبی کریم ﷺ هغه څادر وشلولو او څلور سوه ټوټې یې کړو او صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې یې وویشلو. دا قصه راباندې دومره مکروه لګي چې د دې د لیکلو نه هم ماته شرم راځي. او په خاصه توګه باندې دا وخت د مسجد نبوی مخې ته دا سطور لیکم، قبه شریف راته مخې ته ده.

کف الرعاع عن مسئلة الغناء کې ابن حجر هیتمی رحمه الله او عوارف المعارف کې دهغې مؤلف دا قصه لیکلې ده او بیا یې په دې باندې رد کړیدی. د دې قصې نه غناء ثابتول بیکاره دی. البته د سماع والا خلک دا قصه ډیره نیغه نیغه کوي. او خوشحالیږي. وس راشی. او د سماع په اړه باندې څه وګوری. دلته د سماع نه مراد سماع موتی نده، بلکې ژوندې، په نشه، او دجوش نه ډک قلندرانو د محفل سماع مراد ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دا په قدیمه زمانه کې ډیر ؤ، او نن هم د دې شتون د اهل بدعت په نزد باندې شته دی. چې په هغې باندې د قوالۍ اطلاق ډیر مشهور او معروف دی.د قدیمې زمانې د سماع په محفل کې د علماؤ اختلاف راغلی دی. جمهور علماء او فقهاء او صلحاء د امت مطلقًا د سماع نه انکار کوي. او دا ناشنا ګڼي. البته د اهل تصوف یو مختصر طبقه د یو څو شرطونو سره د سماع قائل دي. هغه شرطونه دا دي:

(۱) کله چې فقط د وجد او جوش پیدا کولو والا اشعار وي.(۲) کله چې د بې ږیرو هلکانو سره اختلاط نوي. او نه په هغوې باندې اشعار ویلی کیږي(۳) په دې محفل کې د ښځې ذات بیخې شتون نوي (۴) هیڅ قِسم طبله یا باجه ورسره نوي(۵) د آخرت یادولو او د حبیب د تذکرې لپاره وي، په دې کې قبیح اشعار نوي (۶) اوریدونکې ریاکار نوي،نه دنیاوې غرضونه وي، نه نیت خراب وي(۷) په اجرت (مزدرۍ) باندې دسماع محفل نوي جوړ کړی شوی، نه لوستونکی اجرت اخلي.مفتي محمد شفیع رَحِمَهُ اللّٰهُ په احکام القرآن کې لیکلي دي که یو سړی په یوا ځوالۍ کې د وحشت لیرې کولو لپاره اشعار وایي نو دا جائز ده خو په دې شرط سره چې دهغه سره طبلې او باجې نه وي.سوچ کونکې لپاره سوچ پکار دی چې د کر شوؤ شرطونو په یو محفل کې وجود تقریبًا ناممکن دی، نو سماع ته څنګه جائز ویلی کیدلی شي؟ نن سبا خو الله د ذکر سره په تېي وي کې میوزک شریک کړیدی. په هره قوالۍ کې د ډهول په ډنګ سره محفل ګرمولی شي. چیرته هغه نیکه سماع او چیرته دا خرافات؟ هو ! په جلسو کې چې نن سبا کوم نظمونه ویلی کیږي، شائد په دې کې بعض مجلسونه په دې شرطونو باندې پورا وي. او هغه جائز وي،سید الطائفه شیخ جنید بغدادی رَحِمَهُ اللّٰهُ قول دی ، وې فرمایل:دسماع ناقص ته اجازت نشته او کامل ته یې ضرورت نشته. دا خبره هم نظر کې ساتل پکار دي چې یو نفس اماره په وجد کې راځي او خوشحالیږي،او کله روح په وجد کې راځي، خلک د روح او نفس په وجد کې فرق نشي کولی.خوند خو ورکوي، نفس اماره باندې چې شهوانیت غالب دی. او سړی دا سوچ کوي چې روحانیت دی.

حکایت: حکیم الامت حضرت تهانوی رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل ملفوظات کې یوه قیصه لیکلي ده چې یو ځل په هندوستان کې یو محفل کې سماع د پاره دوه انګریزان راغلل، کیناستل.او په هغوې باندې ډیر غټ وجد راغلو.خلکو وویل : واه! واه! دسماع به څه وایې، په انګریز باندې یې هم اثر وکړو. کله چې حضرت تهانوی رَحِمَهُ اللّٰهُ ته معلومه شوه نو وې فرمایل: چې دهغوې نفس باندې وجد راغلی ؤ ، روح ته نه ؤ. دا شهوانیت ؤ ، نه دا چې روحانیت، بیا یې وفرمایل چې ګوری د مار مخې ته چې کله بین غږولی کیږي نو هغه څومره په خوشحالۍ سره ټوپونه وهي، دا دهغه روحانیت نه بلکې نفسانیت دی.

د یو ریاکار پیر قصه : د سماع په محفل کې د ریاکارۍ او د ټهګ پیرانو هم څه کمی نوي. دمحفل سماع سره اړونده د علماؤ نه مې یوه قصه اوریدلي ده چې یو ریا کار پیر صاحب محفل سماع جوړ کړو. او په مصنوعي وجد کې یې ټوپونه وهل. د پیر صاحب په پګړۍ کې څلور انې بندي وي. چې ناڅاپه پګړۍ

ایله شوه، او څلور اني وغورزیدلې. اوس که پیر صاحب په سنجیدګۍ سره هغه لټوي نو د خلکو اعتراض راځي، چې وجد کې نه دی، دروغجن دی. او که څلور انې په زمکه باندې غورزیدلې پریږدي نو دهغې د ضائع کیدلو خطره ده. نو هغه ریاکار سر څنډلو سره خپل مرید ته وایې:

آنچه بر سر داشتم بگذاشتم

یعنې په پګړۍ کې چې کومې څلور انې وې نو هغه غورزیدلې، غورزیدلې دي، غورزیدلې، د هغې په جواب کې د هغه ټهګ مرید هم نیم شعر ویله، سریې څنډلو او جواب یې ورکولو:

غم مخور صوفی که من برداشتم

یعنې غم مه کوه صوفي ما راخستې دي، راخستې دي، نو ټول شعر داسې شو:

آنچه بر سر داشتم بگذاشتم

غم مخور صوفی که من برداشتم

د دغه ډول ټهګانو خلکو به څه سماع وي او دهغې به څه محفل وي؟ او په دې کې به د څه وجد راتلل وي؟ ټوله دهوکه ده.

د سعدی بابا عجیبه قصه : سماع (تنګ ټکور اوریدنه) د اوریدلو په اړه باندې سعدی بابا رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل کتاب ګلستان کې خپله یوه قصه لیکلې ده. فرمایې چې ما به د سماع په محفلونو کې ګډون کولو. زما استاد ابوالفرج ابن الجوزی رَحِمَهُ اللّٰهُ به زه بیا بیا منع کولم. خو زه به نه منع کیدلم. یو ځل د شپې په وخت کې زه په یو محفل کې شریک شوم، نو ټوله شپه د یو بد رنګ آواز والا سړې محفل کې شعرونه اورول، خلک پریشانه ؤ. زه هم پریشانه وم. مونږ د سحر راتلو ارمان کولو. دې لپاره چې د مصیبت نه خلاص شو. د سحر په راتلو باندې ما خپل پټکی د هغه په سر باندې کیخودلو او هغه مې مچې کړو. او راغلم. زما ملګرو زه په دې باندې ملامته کولم چې دومره غټ سړی یې او دا کار دې وکړو چې خپل پټکی دې یو ډم ته پر سر کړو. ما ورته وویل: چپ شئ، دغه سړي ماته ډیره غټه فائده راکړه، زه د خپل استاذ په منع کولو باندې د سماع نه منع نشوم لیکن د دې ډم شکل او صورت او د ده قبیح آواز زه د همیشه لپاره د سماع نه کرکجن کړم. دا زما مشر استاذ شو، نو ځکه مې ورته پټکی په سر کړو.

الفصل الاول

ځینې بیان د جادو اثر لري

﴿۱﴾ عَنْ ابْن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا
ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایې چې د ختیځ علاقې نه دوه کسان راغلل او خپل مینځ کې یې خبرې کولې خلکو

Maktaba Tul Ishaat.com

فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :
دهغه په فصیحه او بلیغه وینا باندې ډېر حیرانتیا او تعجب اظهار و کړ و رسول کریم ﷺ و فرمایل :
« إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا » (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]
بیشکه ځینې بیان سحر (اثر لري) دی.

توضیح: لسحرا: یعني ځینې بیان د زړونو مائله کولو کې د جادو اثر لري. (مرقات : ۸/۵۳۶) رجلان: دا د هغه وخت قصه ده چې کله د ختیځ علاقې نه بنو تمیم یو وفد د نبی کریم ﷺ دربار ته راغلی، په دې وفد کې دوه کسان فصیح او بلیغ راغلي ؤ. د یو نوم زبرقان ؤ. او د دویم نوم عمرو بن هتم ؤ. د نبی اکرم ﷺ په مجلس کې د صحابه کرامو نه ډکه غونډه کې زبرقان په ډېر فصاحت او بلاغت سره خپل مفاخر او مأثر په ډېر اثرناک انداز سره وړاندې کړل. او بیا یې وویل چې یارسول الله ! دا عمرو بن هتم هم زما بیان کړی شوي صفتونه ښه پیژني چې زه څنګه سړی یم او زما څه کارنامې دي. د دېنه وروسته عمرو بن هتم پاڅیدلو او هغه د زبرقان ټولې بیان کړی شوي دروغ ثابت کړي او وې ویل چې په دې سړي کې هیڅ ښه صفت نشته. د عمرو د بیان انداز هم نهایت اثرناک او برابر ؤ. چې په هغې سره خلک د زبرقان په اړه باندې په شک کې شول. د دېنه وروسته زبرقان بیا پاڅیدلو او په ډېر زړه راخکدونکې انداز کې یې وویل چې د دې سړې زړه پوهیږي چې زه څنګه یم خو کینې دا په دغه شان ویلو باندې مجبوره کړو. د صحابؤ غونډې چې به کله د دې دواړو بیان واوریدلو نو دواړو ته به یې شاباشی ورکړو او حیران به شول او تعجب به یې کولو. په دې باندې نبی کریم ﷺ و فرمایل: (مرقات: ۸/۵۳۶) ان من البیان لسحرا ، یعني بیان د زړونو په مائله کولو کې د جادو په شان اثر لري. ځینې محدثینو د نبی کریم ﷺ دا کلام د بیان په بدۍ باندې حمل کړی دی. ګویا چې نبی کریم ﷺ داسې ویل غوختل چې په تکلف کولو سره خلکو لره خپل ځان ته مائله کول او په خله برسیرته کولو سره ناشنا کلام وړاندې کول او د خلې په زور سره فصاحت او بلاغت په پنجه کې خلکو لره راګیرول، د مالوچو غر جوړول او د خبرې باتینګړ راویستل، حقیر لره عظیم ښودل او عظیم لره حقیر ښودل، دا ښه کار ندی. بلکې دا خالص د جادو په شان مهارت دې. او دا د نفرت وړ دی. خو ځینې نورو محدثینو د نبی کریم ﷺ دا کلام د تقریر او بیان په مدح باندې حمل کړی دی چې په ښه انداز او ښه طریقې سره ما فی الضمیر د نورو مخې ته ایږدل او خلکو لره متاثر کول، په طریقه باندې خبره کول، ناشنا اثر لري. چې دا ښه او د صفت کولو وړ ده. (مرقات : ۸/۵۳۶،۵۳۷)

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۲۳۷ رقم الحديث ۵۷۶۷ وأبوداؤد في السنن ۵/۲۷۷ رقم الحديث ۵۰۱۱.

ځينې شعرونه د حکمت نه ډک وي

﴿۲﴾وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]
حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه فرمايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ځينې شعر حکمت وي.

توضيح: حکمة: يعنې ځينې اشعار د حکمت نه ډک وي. په دې کې د حق خبره وي. او هغه په ربښتيا او عقل باندې بنا وي. ځينې شارحينو دلته د حکمت معنې په نفع سره اخستلې ده. يعنې ځينې اشعار داسې فائده ورکونکې وي چې هغه انسان لره د جهالت او بيوقوفتيا نه ساتي. او د غلطو افعالو نه يې منع کوي. دا عموماً د شاعرانو هغه شعرونه وي چې په هغې کې وعظونه، مثالونه، او د هوښيارتيا خبرې وي. حقيقت دا دی چې شعر هم د کلام برخه ده. په دې کې چې کومه ښه ده، هغه ښه ده او کومه چې بده ده، هغه بده ده. که وکتلی شي نو ښه شعر په کوزه کې د سمندر په مثال وي. په زړه او مازغو باندې د هغې اثر د اوږدو اوږدو خطبو نه ډير اثر لري. بهرحال حکمة د فائدې په معنی باندې اخستل بعيد دي. لهذا پاس ليکلی شوی مضمون او مفهوم د دې حديث واضح مضمون دی. (مرقات: ۸/۵۳۷)

خله وازه وازه کولو سره خبرې کول تباهي ده.

﴿۳﴾ وَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: « هَلَكَ
او ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په هلاکت کې وغورځيده په کلام
الْمُتَنَطِّعُونَ » قَالَهَا ثَلَاثًا (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2]
کې مبالغه کونکې، نبی صلى الله عليه وسلم دا الفاظ يې درې ځل وفرمايل.

توضيح: المتنطعون: تنطع د باب تفعيل نه دی. خله وازه وازه کولو باندې د مبالغې سره کلام کونکې ته متنطع وايي. يعنې د چا په کلام کې چې تصنع او بناوټ هم وي او بې ځايه چاپلوسي هم وي، د خوشامد کولو په غرض سره بې ځايه عبارت راوستل هم وي، د الفاظو ښودنه هم وي، او د کلکو جملو مستې هم وي. دا ښه کار ندی. نو ځکه نبی کريم صلى الله عليه وسلم د دې بدي بيان کړه. ظاهره ده دروغ يو ځاې کولو سره خلاف حقيقت خبره کول او د باطل حق ثابتول څه کمال ندی. (مرقات: ۸/۵۳۸)

يادونه: تر دې ځايه په مدينه منوره کې مې په تسلسل سره ليکلی دی. والحمد لله حمدا کثيرا او الحمد الله دې ځاې نه چې څه ليکلی کيږي، دا د مدينې منورې نه په بيرته راتلو باندې يا په مکه کې

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۳۷ رقم الحديث ۶۱۴۵، وأبوداود في السنن ۵/۲۷۶ رقم الحديث ۵۰۱۰.

([2]) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۵۵ رقم الحديث ۲۶۷۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ رمضان ۱۴۲۶ھ کې لیکلې کیږي.

حقیقت باندې بنا یو شعر

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا
او ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ټولو نه رښتوني خبره کومه چې یو
الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
شاعر کړیده هغه د لبید دا کلام دی چې: خبردار! د الله نه غیره هر څیز فنا کیدونکی دی

توضیح: اصدق کلمة: یعنې د ټولو ژبو او کلماتو نه ډیره رښتونې خبره که کوم شاعر ویلې ده نو هغه د لبید دا کلمه ده، کومه چې هغه ویلې ده چې خبردار! د الله جل جلاله د ذات نه علاوه ټول فاني او ختمیدونکې دي. دا معیاري او رښتونې کلمه ده. په دې کلمه کې د قرآن د دې آیت مفهوم ته اشاره ده: ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ او دې آیت ته هم اشاره ده: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۝﴾ د لبید شاعر په اړه باندې په ابتداء کې لیکلی شوي دي. ټول شعر په دې توګه ده:

الا كل شيء مـا خـلا الله بـاطـل   وكل نعيـم لا محـالـة زائـل

امیه بن ابی صلت شاعر

﴿۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: رَدِفْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا							
او حضرت عمرو ابن شرید د خپل پلار نه نقل کوي چې هغوی وویل: یوه ورځ زه نبی کریم صلی الله علیه وسلم							
فَقَالَ:	«هَلْ	مَعَكَ	مِنْ	شِعْرِ			
پسې شاته (د هغه په سورلۍ) باندې ناست وم چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل: آیا تا ته د							
أُمَيَّةَ	بْنِ	أَبِي	الصَّلْتِ	شَيْءٌ؟»	قُلْتُ:	نَعَمْ.	قَالَ: «هِيهِ»
امیه بن ابی صلت څه اشعار یاد دي. ما عرض وکړو چې هو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ښه.							
فَأَنْشَدْتُهُ	بَيْتًا.	فَقَالَ:	«هِيهِ»				
واوروه. ما نبی صلی الله علیه وسلم ته یو شعر واورولو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نور واوروه، ما بل شعر							
ثُمَّ	أَنْشَدْتُهُ	بَيْتًا	فَقَالَ:	«هِيهِ»			
واورولو. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل بل واوروه. (د غه شان د نورو د اوریدو غوختنه یې کوله او ما							

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۳۷ رقم الحديث ۶۱۴۷ ومسلم في ۴/۱۷۶۷ رقم الحديث (۲۲۵۶-۲).

ثُمَّ أَنْشَدْتُه مِائَةَ بَيْت (رَوَاهُ مُسلم)[1]
به اورول) تر دې چې ما سل شعرونه واورول.

توضیح: امیه بن ابي الصلت: د جاهلیت په زمانه کې چې کومو خلکو د بت پرستۍ مخالفت کړی ؤ او د توحید اجمالي اعلان یې کړی ؤ. هغه خلک به د حنفاء او موحدینو په نوم سره یادیدل. په هغوې کې یو امیه بن ابی الصلت ؤ. دا ډیر غښتلی شاعر او حقیقت خوښونکی سړی ؤ. په خپلو شعرونو کې به یې دالله وحدانیت په ډیر ښه او مدلل انداز سره بیانول. دهغه په زړه کې دا خیال کیناستلی ؤ چې شاید نبی آخرالزمان هغه جوړ شي. کله چې الله تعالی نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبی آخرالزمان راولیږلو نو امیه خو مسلمان نشو خو د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخالفت یې هم ونکړو، فقط تماشبین ؤ. لیکن کله چې د جنګ بدر واقعه پیښه شوه او د کافرو غټ غټ مشران جهنم ته ورسیدل، نو امیه بن ابی الصلت دهغوې په خواخوږۍ کې شعرونه وویل، او اسلام او د لشکر اسلام بد یې وکړه، نو دغه شان هغه په کفر باندې مړ شو. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه په اړه باندې وفرمایل چې د امیه ژبه مسلمانه شوه خو دهغه زړه کفر وکړو. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امیه بن ابی الصلت په حقیقت باندې بنا شعرونه ستاینه وکړه. ددینه امت ته دا تعلیم ترلاسه شو که غیر مسلم سړی یو ښه کار وکړي یا پند او نصیحت باندې مشتمل شعرونه ووایي یا د مسلمانانو په حمایت کې څه خبره وکړي نو دهغه ښه کار ستاینه کول جائز دي. او په نصیحت باندې بنا شعرونو اوریدل او اورول جائز دي. (مرقات: ۸/۵۴۰)

آیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم شعر ویلی دی

﴿۶﴾وَعَن جُنْدُبٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ			
او حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام په یو جنګ (جنګ احد) کې ګډون کړی ؤ چې (په جنګ کې) د نبی عَلَيْهِ السَّلَام			
وَقَدْ	دَمِيَتْ	أُصْبُعُهُ	فَقَالَ:
ګوته (ټپي شوه او دې وجنه) په وینو ککړه شوه، نبی عَلَيْهِ السَّلَام (د استعاري یا حقیقت کې ګوتې لتسلی ورکولو لپاره هغې لره مخاطب			
هَلْ أَنْتِ إِلَّا أُصْبُعٌ دَمِيتِ		وَفِي سَبِيلِ اللهِ مَا لَقِيتِ	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]
کولو باندې دا شعر وویله: یعنې ته څه شی یې، فقط یوه ګوته یې، اینې شوي، او ویاپه تا چې څه شویدي. د خدای په لاره کې شویدي.			

توضیح: بعض المشاهد: د مشاهد اطلاق په غزواتو او جنګونو باندې کیږي. دلته د بعض مشاهد

---

(۱) اخرجه مسلم في صحیحه ۴/۱۷۶۷ رقم الحدیث (۲۲۵۵-۱) وابن ماجه في السنن ۱۲۳۶ رقم الحدیث ۳۷۵۸.

(۲) اخرجه البخاري في صحیحه ۶/۱۹ رقم الحدیث ۲۸۰۲ ومسلم في ۱۴۲۱ رقم الحدیث (۱۷۹۶-۱۱۲) وأحمد في المسند ۴/۲۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

نه جنګ احد مراد دی. (مرقات : ۸/۵۴۱)

هـل الت الا اصبعٌ دميتِ وفي سبيل اللهِ مـا لقيتِ

یعنې ته یو داسې، په اینو باندې ککړه ګوته یې چې هغې ته د الله په لاره جهاد کې درد رسیدلی دی.

دلته دا سوال پیدا کیږي چې د نبی کریم ﷺ په اړه باندې د الله تعالی فرمان دی چې : ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ﴾ د دینه وروسته نبی ﷺ دا شعر څنګه وویله؟

د دې جواب دا دی چې په دې کلام کې قصدًا د وزن اراده نده کړی شوې او د شعر لپاره ضروري ده چې په دې کې د وزن قصد وکړی شي، لهذا دا یو کلام دی ، شعر ندی. دا جواب هغه وخت کې دی کله چې دا ومنلی شي چې دا د نبی کریم ﷺ خپل کلام دی.

دویم جواب دا دی چې ځینې علماؤ ویلي دي چې ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ﴾ کې د شاعرۍ د فن نفی ده. یو نیم شعر ویلو او جوړولو باندې سړی شاعر نه جوړیږي. (مرقات ۸/۵۴۲)

د دې سوال دریم جواب دا دی چې دا شعر د عبدالله بن رواحه دی یا د ولید بن ولید دی. نبی کریم ﷺ کله کله د یو شاعر شعر د مثال او متثال لپاره ویلی دی. په دې سره سړی شاعر نه جوړیږي. د شاعرۍ لپاره غټې قاعدې او ضابطې دي . د لطف خبره دا ده چې د بل شاعر شعر ویلو کې به هم کله کله د نبی کریم ﷺ نه وزن ماتیدلو. نبی ﷺ د عبرت او مثال په توګه باندې د طرفه بن العبد شعر وویله:

ستبدي لك الايـام ما كنت جاهـلا ويـأتيك من لـم تـزود بـالاخبـار

په دې کې دویمه مصرعه مخکې وروسته شوه او وزن یې مات شو . اصل شعر داسې دی:

ويأتيك بالاخبار من لم تزود. هم دا وجه ده چې صدیق اکبر رضي الله عنه نبی ﷺ ته د شعر ښودنه وکړه او اقرار یې وکړو چې واقعې ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ﴾ د الله تعالی ریښتونې کلام دی. الله تعالی نبی ﷺ ته د شعر فن نه دی ښودلی .

۲ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

د حضرت حسان قدر او مرتبه

﴿۷﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ:

او براء رضي الله عنه فرمایي چې رسول کریم ﷺ د قریظه په ورځ باندې حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ته وفرمایل چې

«اهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيْلَ مَعَكَ»

ته د مشرکانو بدي بیان کړه، حضرت جبرائیل علیه السلام ستاسره دی. (یعنې د مضمونونو په القاء او الهام په لړ کې به ستا مرسته کوی)

وَكَانَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ: «أَجِبْ عَنِّي
او رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته به يې فرمايل چې ته زما د اړخ نه کافرو ته جواب ورکړه (بيا به يې فرمايل)
اللّٰهمّ أيِّده بروح القُدس» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
اې الله د جبرائيل په ذريعه باندې د حسان مرسته وکړه او (د هغه په ژبه او بيان کې) طاقت او قوت ورکړه.

توضيح: يوم قريظه: د دېنه جنګ قريظه مراد دی. په مدينه منوره کې د يهودو درې غټې قبيلې آبادې وې. (۱) بنو قينيقاع (۲) بنو نضير (۳) بنو قريظه. د مکې مکرمې نه چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هجرت وکړو. نو بنو قينيقاع نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدينې نه وويستلو. او د بنو نضير او د بنو قريظه سره معاهده وشوه چې هغه د ميثاق مدينه په نوم سره مشهوره ده. بنو نضير ډير ژر بغاوت وکړو. نو ځکه هغوې د مدينې نه خيبر اړخ ته جلاوطن کړې شول. د دېنه وروسته چې کله د مکې خلکو په جنګ خندق کې د مدينې محاصره وکړه نو بنو قريظه د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کړې وعده ماتولو باندې بغاوت وکړو. د جنګ خندق نه چې کله نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فارغه شو او غسل يې کولو. نو جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې د الله تعالیٰ حکم دی چې په بنو قريظه باندې دې بريد وکړې شي. نو مسلمانانو د بنو قريظه د علاقو تقريبًا يوه مياشت محاصره وکړه او په آخر کې يې د هغوې ځوانان ووژل او ښځې او ماشومان يې غلام کړل.

اهج المشركين: د جنګ احزاب دويم نوم جنګ خندق دی. پنځمه هجري کې د مکې مشرکانو د مکې د اطرافو نه قبيلې راغونډې کړې. او ۱۲ زره لښکر جرار سره د مدينې منورې د لرشان مسلمانانو محاصره کولو باندې يې بريد وکړو. تقريبًا يوه مياشت دا محاصره وه. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلمان فارسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مشوره باندې خندقونه وکنستل او په دې نيک کار يې خپله هم برخه واخستله. حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه موقعه باندې وفرمايل چې د مشرکينو هجو وکړه ځکه چې د بنو قريظه د بغاوت اصل جرړه د مکې مشرکان وُ. روح القدس: يعنې پاک روح، د دېنه مراد جبرائيل امين دی. هغه ته روح ځکه ويلی کيږي چې هغه به انبياء کرام عليهم السلام ته د روح اچولو څيز راوړلو چې هغې ته وحې ويلی کيږي. القدس د پاک په معنی سره دی. يعنې جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَامُ د هر قسم عيب نه پاک دی. د جبرائيل امين د تائيد مطلب دا دی چې د مضامينو په القاء کې به د حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرسته کوي. (مرقات: ۸/۵۴۴)

د جهاد په ميدان کې کافرانو ته ردې بدې ويل جائز دي

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (خپلو شاعرانو ته) فرمايلي وُ

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۰۴ رقم الحديث ۳۲۱۲ ومسلم في ۴/۱۹۳۳ رقم الحديث (۲۴۸۵-۱۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

«اهْجُوا قُرَيْشًا فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهِمْ مِنْ رَشْقِ النَّبْلِ» . (رَوَاهُ مُسلم)[1]
چې قريش د كافرو هجو كوئ (ځكه چې دا هجو) په هغوئ باندې د غشو دلګيدلو نه ډير سخت دى.

توضيح: اهجو: يعنې تاسو خلك په خپلو شعرونو كې د مشركين مكه بدې كوئ. رشقِ: غشي ويشتلو ته وايي. نبل: غشي ته وايي. يعنې كافر مادي شيانو ته ترجيح وركوي، روحاني نقصان باندې نه پوهيږي، لهذا د هغوئ په بدئ بيانولو باندې هغوئ ته سخت تكليف رسيږي، او هغه خپل نقصان ګڼي، ګويا هغوئ په غشي ويشتلي كيږي. (مرقات: ٨/٥٤٣)

د دې حديث نه معلومه شوه چې د جهاد په ميدان كې كافرانو ته رَدي بدې ويل او كنځل كول هم جائز دي. دا د جهاد برخه ده او د معمول خبره ده.

﴿٩﴾وَعَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ:
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايې چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دا وينا كول اوريدلې ده
«إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ
چې كله ته د الله تعالى او د هغه د رسول د اړخ نه (د كافرو او مشركانو په هجو سره) مقابله كوې،
مَا نَافَحْتَ عَنِ اللهِ وَرَسُوله». سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم
جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام به هميشه ستا مرسته كوي، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايې چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه (دا هم) اوريدلي دي
يَقُولُ: «هَجَاهُمْ حَسَّانُ
چې حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د كافرو هجو وكړه او په دې هجو سره يې مسلمانانو ته شفا وركړه او خپله يې هم شفا ترلاسه كړه، يعنې هغه
فَشَفَى وَ . اشْتَفَى» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2]
د كافرو د هجو جواب وركولو باندې مسلمانانو ته د تسلّي او تشفي اسباب وررسول، او خپله يې هم سكون او اطمينان ترلاسه كړو.

توضيح: نافحت: منافحه مقابلې او دفاع ته ويل كيږي. يعنې كله چې تر څو چې ته د الله تعالى او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفاع كوې او د مشركانو د غلطو الزاماتو او تهمتونو او اعتراضونو جواب وركوې جبرائيل امين به مسلسل ستا مرسته كې وي، او ستا په زړه باندې به د مضامينو القاء كوي، **شفى**: يعنې د مسلمانانو زړونه يې يخ كړل، او د هغوئ د زړه سوزيدنه او قهر او غصه ته يې شفا وركړه، **واشتفى**: يعنې خپل زړه يې هم د غه شان يخ كړو، او شفايې ترلاسه كړه، (مرقات: ٨/٥٤٤)

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ٤/١٩٣٥ رقم الحديث (٢٤٩٠-١٥٧)

[2] اخرجه مسلم في صحيحه ٤/١٩٣٥ رقم الحديث (٢٤٩٠-١٥٧)

جهاد د میدان یوه عظیمه ترانه

﴿۱۰﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ
او حضرت براء رضي الله عنه فرمايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم به د خندق په ورځ په وجود مبارک سره خاوره گوزاروله،
حَتَّى اغْبَرَّ بَطْنُهُ يَقُولُ:
تردې چې د نبی علیه السلام خیټه مبارکه باندې دوړې ولگیدې، او (په دې موقع به يې د عبدالله بن رواحه د ارجزيه کلام) لوستلو
وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا
په الله قسم که د الله هدایت نه وی نازل شوی نو مونږ سمه لاره نشوه موندلی، نه به مونږ صدقه ورکولی شوه، او نه مونږ لمونځ کولی شو،
فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا
نو ای الله! په مونږ باندې وقار او اطمینان نازل کړه او کله چې د دین د دښمنانو سره زمونږ جنگ شي نو مونږ ثابت قدم وساته،
إِنَّ الْأُولَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا
يشکه دې کافرو په مونږ باندې تيرى (زياتى) کړيدى. او کله چې هغوى زمونږ په فتنه کې د اچولو يعنې کفر ته سير ته د بوتللو اراده کوي
يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ: «أَبَيْنَا أَبَيْنَا». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱)
نو مونږ انکار کوو. نبی علیه السلام دا شعرونه په اوچت آواز سره ویل، خصوصاً په أَبَيْنَا أَبَيْنَا باندې به يې اواز وچتيدلو.

توضيح: يوم الخندق: د يوم خندق نه مراد جنگ احزاب دی، ديته جنگ خندق ځکه وايي چې په دې کې مسلمانانو د مدينې د دفاع لپاره د دښه گيرچاپيره خندقونه کنستلي وُ. ۵ھ کې جنگ احزاب په موقع باندې دولس زره کافرو د مدينې منورې محاصره کړې وه، نبی کريم صلی الله علیه وسلم د سخت تنگسيا په حالت کې د خندقونو کنستلو حکم ورکړی وُ. سخته يخنې وه، وخت هم ډير کم وُ. د خوړلو د پاره هم څه نه وُ. صحابه کرام شپه ورځ د کنستلو په کار کې مشغوله وُ. څينو د ولږې د وجې نه خيټه پسې کاڼي تړلي وُ، نبی کريم صلی الله علیه وسلم خپله هم په کار کې مشغوله وُ او نبی صلی الله علیه وسلم مذکوره شعرونه ويل.

ان الالی: دا د قصر سره دی. اولآء کې يو لغت دی. کافرو ته اشاره ده. يعنې دې کافرو مونږ باندې سرکشې کولو سره تيرى کړيدى. او زمونږ نه د فتنې يعنې د شرک غوختنه کوي. خو مونږ د هغوی د دې غوختنې نه په مکمله توگه باندې انکار کوو. د أَبَيْنَا الفاظ به نبی کريم صلی الله علیه وسلم په وچت آواز سره بيا بيا ويل، صحابه کرامو رضي الله عنهم به هم دا لفظ په وچت آواز سره ورپسې ويلو. جهاد د ميدان دا يوه عظيمه ترانه ده. چې هغه د حقيقتونو او صحيح عقيدې په ښودنه او جرأت او مړانه باندې بنا دی. (مرقات: ۸/۵۴۶)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۷/۳۹۹ رقم الحديث ۴۱۰۴ ومسلم في ۳/۱۴۳۰ رقم الحديث (۱۸۰۳-۱۲۵).

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: جَعَلَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ الْخَنْدَقَ	
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله (د غزوه احزاب په موقعه باندې) مهاجرینو او انصارو خندق کنستل	
وَيَنْقُلُونَ التراب وهم يَقُولُونَ:	
او خاورې یې راوړل او غورزول یې شروع کړل نو (په دې دوران کې) دا رجز به یې ویلو. مونږ هغه خلک	
نَحن الذينَ بَايعُوا محمّداً عَلَى الجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا	
مونږ هغه خلک یو چې هغوي د خپل ژوند تر آخري سلګۍ پورې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاس باندې د جهاد	
يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُجِيبُهُمْ:	
کولو بیعت کړیدی. او نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغوي د رجز په جواب کې دا (دعاء) فرمایله چې	
اللهمَّ لا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ والمهاجرة (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]	
ای الله ژوند خو بس د آخرت ژوند دی، ته انصار او مهاجرین وبښه. (بخاری و مسلم)	

د دې حدیث نه معلومیږي چې د جنګې میدان او جهادي میدان په جهادي نظمونو سره تود ساتل هم د جهاد برخه ده، او د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسنون طریقه هم ده .

شعر او شاعري اصل مشغله جوړول پکار ندي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِأَنْ يمتلىءَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا	
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: یاد ساتئ د چا خیټه د قی	
يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يمتلئ شعرًا» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]	
نه ډکول چې د هغې خیټه خرابه کړي، د دېنه بهتره ده چې خیټه د (مذموم) شعرونو نه ډکه کړی شي.	

توضیح: یریه: وری یری وریًا وعد یعد وعدًا په شان دی. دا هغه ناروغی ته ویل کیږي چې په هغې سره خیټه فاسده او برباده شي، دا د قیح صفت دی. د قیح نه وینه او زوې مراد دي. مطلب دا دی چې د یو سړي خیټه د بدهضمی او وینو زوؤ نه ډکه شي او خیټه بیخي خرابه کړي، دا د دېنه بهتره ده چې هغه خیټه د ګنده او پلید او غلیظ شعرونو نه ډکه شي. په دې حدیث کې د مذموم شعرونو بدې بیان شویده . او په دې کې اشاره ده چې هغه پلید شعرونه به د دغه سړي په خیټه باندې داسې احاطه وکړي چې په زړه کې به د الله

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۶ رقم الحديث ۲۸۳۵، ومسلم في ۳/۱۴۳۲ رقم الحديث (۱۸۰۵-۱۳۰).

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۴۸ رقم الحديث ۶۱۵۵، ومسلم في ۴/۷۶۹ رقم الحديث (۲۲۵۷-۷)

او تلاوت د قرآن او علوم شرعيه د پاره هيڅ ځاې پاتې نشي، ظاهره ده دا صورت حال په پليد شعرونو بلکې د ... شعرونو د وجې نه هم جائز ندى. (مرقات: ۸/۵۴۸)

الفصل الثاني

جهادي شعرونه ويل جهاد باللسان دى

﴿۱۳﴾عَنْ كعبِ بنِ مالكٍ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قد أَنزلَ
حضرت کعب ابن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې هغه نبى کريم صلى الله عليه وسلم ته عرض وکړو چې الله تعالى د
فِي الشعرِ مَا أَنْزَلَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
شعر او شاعرى په حق کې چې کوم حکم ورکړى دى هغه په دې آيت سره ښکاره دى. نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
«إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ وَالَّذِي
حقيقت دا دى چې مؤمن په خپله تورا سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم. قسم دى په هغه ذات باندې د
نَفْسِي بِيَدِهِ لَكَأَنَّمَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ
چا په قبضه کې زما ساه ده تاسو کافرو ته په شعرونو سره داسې ټپونه (زخم) ورکوئ لکه څنګه چې يې د
نَضْحَ النَّبْلِ» رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي «الِاسْتِيعَابِ» لِابْنِ عَبْدِ الْبَرِّ أَنَّهُ
غشو په ذريعه سره ورکوئ. (شرح السنة) او ابن عبد البرّ په کتاب الاستيعاب کې داسې دي چې
قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا تَرَى فِي الشِّعْرِ؟
حضرت کعب رضي الله عنه عرض وکړو چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم د شعر او شاعرۍ په اړه باندې ته څه حکم ورکوې (يا څه ښه
فَقَالَ: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِد بِسَيْفِهِ. وَ لِسَانه»[1]
شى دى او که بد؟) نبى عليه السلام وفرمايل: مؤمن په خپله تورا سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم جهاد کوي.

توضيح: ما انزل: د قرآن آيت ﴿وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُنَ﴾ ته اشاره ده. حضرت کعب رضي الله عنه د دېنه ووريدلو چې هسې نه په ګمراهانو خلکو کې دا شامل نشي. نو ځکه يې پوښتنه وکړه. نبى کريم صلى الله عليه وسلم جواب ورکړو چې هغه په دې کې داخل ندى. ځکه چې د ګمراهۍ په کندو باندې سر کافران دي. مسلمانان ندي. دين بلکه د دين حق د دفاع لپاره شعرونه ويل خو د مسلمانانو لپاره د جهاد باللسان په حکم کې دى. ځکه چې په دې سره کافر سوزي. ځکه چې د ژبې ټپ (زخم) د تورې د

(۱) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۲/۳۷۸ رقم الحديث ۳۴۰۹ واحمد في المسند ۳/۴۵۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ټپ نه سخت وي. (مرقات: ۸/۵۴۷)

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

نضح النبل: نضح او به شيندلو ته وايي. او نبل غشي ته وايي. مطلب دا دی چې د کافرو په بدي بيانولو کې ستاسو شعرونه په هغوي باندې داسې سخت لګي ګويا چې په هغوي باندې غشې ورولی کيږي.

يجاهد بسيفه ولسانه: په تورا سره جهاد کول خو معلوم او مشهور دي. او د ژبې د جهاد نه مراد جهادي نظمونه دي. شعرونه او ترانې دي. چې په هغې سره جهاد ته فائده رسيږي. د غه شان دا جهاد باللسان هغه وعظ او تقرير ته هم شامل دی چې په هغې کې د جهاد ترغيب يا د جهاد په موضوع باندې څه تصنيف او تاليف وي. چې په هغې سره د جهاد فائده وي. ټول په جهاد باللسان کې داخل دي.

لږې خبرې کول او حياء د ايمان نښه ده

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَلْحَيَاءُ وَالْعِيُّ
او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل شرم او حياء او ژبه په
شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]
خپل واک کې ساتل د ايمان دوه ښاخونه دي. او فحش ګويي او بې فائدې کول د نفاق دوه ښاخونه دي.

توضيح: العي: عين باندې زبر دی او ياء باندې شدّ دی. په اصل کې د ستړيدو کيدو او عاجز کيدلو په معنې دی. دلته په حديث کې لږې خبرې کول او په خبرو کې په مکمله توګه باندې احتياط کول مراد دي. ګويا داسړی ستړی شو او د خبرو نه عاجزه شو. وس دا په ډير سوچ او فکر نه وروسته په احتياط سره خبرې کوي. او د ګناه د خبرو نه بيخي چپتيا کوي. مسلمان لره خو د هغه ايمان حيا ته اړ کړي، نو هغه د بی حيايې د ټولو اړخونو نه ځان ساتي. او دغه شان ايمان هغه د ډيرو خبرو نه ايساروي. دې لپاره چې د ژبې نه غلطه خبره ونوزي. نو ځکه حياء او قلت کلام د ايمان دوه ښاخونه وګرځولی شول.

البذاء: يعنې بی حيايې او بدګويې او فحش وينا، والبيان: يعنې ډيرې خبرې، بی احتياطې، دروغ او بهتان تړل، بی ځايه د ژبې زږورتيا او د حد نه ډير په تکلف سره فصاحت او بلاغت دا ټول د نفاق ښاخونه دي. (مرقات: ۸/۵۴۸)

په آوازه خله سره د ټرټر کونکو بدې

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ
او حضرت ابو ثعلبه خشني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د قيامت په ورځ

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۹ رقم الحديث ۲۰۲۷، واحمد في المسند ۵/۲۶۹.

وَأَقْرَبَكُمْ	مِنِّي	يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	أَحَاسِنُكُمْ	أَخْلَاقًا وَإِنَّ

به مـ... بر كران او محبوب او نزدې هغه خلک وي څوک چې په تاسو کې ډير د خائسته اخلاقو والاوي

أَبْغَضَكُمْ	إِلَيَّ	وَأَبْعَدَكُمْ	مني	مساويكم

او زما په نزد په تاسو کې د ټولو نه بد او زما نه ليرې به هغه خلک وي څوک چې په تاسو کې د بد اخلاقو والا دي.

أَخْلَاقًا	الثرثارون	المتشدقون

او د بد اخلاقو نه مراد هغه خلک دي څوک د ډيرې (د ځان نه جوړې شوي) خبري کوي، بغير د احتياط نه

المتفيقهون» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان» [1] (وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ

يې بق بق خيژي، او متفيقهين. دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړيدی او ترمذي هم د

عَنْ	جَابِرٍ وَفِي	رِوَايَتِهِ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په دغه توګه باندې نقل کړيدی. دغه شان د ترمذي په يو روايت کې داسې دي چې

قَالُوا: يَا رَسُول الله قد علمنَا الثرثارونَ والمتشدقون

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثرثارون او متشدقون معنې خو مونږ ته معلوم دي،

فَمَا المتفيقهون ؟ قَالَ « المتكبرون ») [2]

د متفيقهون نه څه مراد دي. يعنې متفيقه چا ته وايي؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تکبر کونکي.

توضيح: **الثرثارون**: نهايه کې ليکلي دي چې **الثرثارون هم الذين يكثرون الكلام تكلفا خروجا عن الحق من الثرثرة وهى كثرة الكلام وترديده**. ګويا چې ثرثارون د ترتارون په وزن باندې دی. او ثرثره د ترتره په وزن باندې دی. فضول بکواس کول مراد دي. **المتشدقون**: په وازه خله باندې بې احتياطۍ سره دروغ ويلو سره ټوقې کول او فحش شعرونه ويل.

التفيقهون: په وازه خله سره خبرې اترې کول او د خپلې لويې او غټوالي بيانولو په غرض سره فصيح او بليغ کلکې کلکې جملې په چا ورتېل، دې لپاره چې خلک د هغه نه په رعب کې راشي. دا ټول کار د تکبر کونکو خلکو دی. لهذا په حديث کې د دې لفظ تفسير خپله نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايلو: **قال المتكبرون**: يعنې متفيقهون نه متکبرين مراد دي. (مرقات: ۸/۵۴۸)

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۲/۱۹۳ والبيهقي في شعب الايمان ۴/۲۵۰ رقم الحديث ۴۹۶۹.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۵ رقم الحديث ۲۰۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

د ظالمانو په ستاينه کولو سره پيسه ګټل جائز ندي

﴿۱۶﴾وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى

او حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: قيامت به تر

يَخْرُجَ قَوْمٌ يَأْكُلُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ كَمَا

هغه وخته نه قائميږي تر څو چې يو داسې ډله پيدا نشي چې هغوې به د خپلو ژبو په ذريعه سره داسې خوراک کوي

تَأْكُلُ الْبَقَرَةُ بألسنتها» (رَوَاهُ أَحْمد)[1]

لکه څنګه چې غواګانې په خپلو ژبو سره خوراک کوي.

توضيح: بألسنتهم: دا د لسان جمع ده. ژبه ترينه مراد ده. مطلب يې دا دی چې دا خلک به ژبه د خوراک څکاک ذريعه جوړه کړي، هغه داسې چې د فاسقانو فاجرانو به بې ځايه ستاينه شروع کړي. د هغوې په ستاينه کې به شعرونه او قصيدې وايي او د ژبې په اړولو اړولو سره به د هغوې تعريف کوي. او په هغې باندې به پيسه ګټي، يا د کوم بې ګناه بدې به بيانوي او وربانديې ګټلې پيسه به خوري. دا خلک به د حلال او حرام په مينځ کې د فرق نه کولو د وجې نه د هغه ځناور او غوا په شان وي چې هغه د خپلې ژبې په ذريعه سره هر ډول لوند او وچ او پاک او خرابه ګياه راغونډه کړي، او بيا يې بغير د څه بيلولو نه خوري. د دينه غلط قسم شاعران او خطيبان مراد دي. چې هغوې د حق او باطل او حلال او حرام فرق نکوي. د ورسره حديث تشريح هم دغه ډول ده. (مرقات ۸/۵۵۱)

﴿۱۷﴾وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ

او د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: د الله تعالی په نزد باندې

يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ

هغه سړی ناخوښه دی چې هغه په کلام او بيان کې د حد نه ډير د فصاحت او بلاغت اظهار کوي. په

الَّذِي يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهِ كَمَا يَتَخَلَّلُ الْبَاقِرَةُ

هم دې توګه هغه خپله ژبه داسې په راغونډولو راغونډولو سره خبرې کوي لکه څنګه چې غوا خپله ګياه په ژر ژر په خپله

بِلِسَانِهَا» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ)[2]

ژبه سره راغونډولو باندې خوري. دا روايت ترمذي او ابوداؤد نقل کړی دی. د غه شان ترمذي ويلي حديث غريب دی.

---

(1) أخرجه أحمد في المسند ۱/۱۸۴

(2) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۷۴ رقم الحديث ۵۰۰۵ والترمذي في ۵/۱۲۹ رقم الحديث ۲۸۵۳ وأحمد في المسند ۲/۱۸۷.

توضیح: البلیغ: بلاغت او فصاحت کې په تکلف سره بې ځایه مبالغه کولو والا مراد دی چې هغه د خلې په ډیرې وازولو او د ژبې په اړولو راړولو سره حق او باطل کې د تمیز کولو نه بغیر خبرې کوي او د حد شرعط نه تجاوز کوي. په عشرې حدودو کې خبرې کولو کې هیڅ قباحت نشته دی. **یتخلل: ای یلف الکلام بلسانه کما تلف البقرة بلسانها العلف**: یعنې ژبه په تاوهلو راتاوهلو سره خبرې کونکی لکه څنګه چې غوا خپله ګیاه راتاوهي. الباقرم: د دې مفرد بقرة دی. د غواګانو ډله ترینه مراد ده. (مرقات: ۸/۵۵۱)

د بې عمله نصیحت کونکو حشر

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې: رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د معراج په شپه باندې زما تیر دل په څه داسې
بِقَوْمٍ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ النَّارِ فَقُلْتُ:
خلکو باندې وشول چې د هغوې ژبې د اور په بیتګانو باندې غوڅیدلې ما (دې کتلو باندې) پوښتنه وکړه
يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَؤُلَاءِ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ الَّذِينَ يَقُولُونَ
چې جبرائیل دا کوم خلک دي. جبرائیل وویل چې دا ستا د امت واعظ او خطیب دي، چې دوې به هغه خبرې کولې
مَا لَا يَفْعَلُونَ " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ)[1]
چې په هغې باندې به یې خپله عمل نکولو. ترمذې دا روایت نقل کړیدی او ویلې یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: تقرض: دا د قرض نه دی چې د غوڅولو په معنی باندې دی، مطلب دا دی چې کوم خطیبان په ژبه باندې یو څه وایي او عمل بل څه کوي او د حدود شرعیه ساتنه نه کوي. د معراج په شپه باندې هغه خلک نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وښودلی شول، چې د هغوې شونډې د سزا په توګه باندې په بیتیګانو سره غوڅیدلی شوي. ځکه چې د هغوې باطن د ظاهر نه خلاف دی. لکه چا ویلي دي:

واعظان که جلوه بر محراب ومنبر می کنند — چون بخلوت می روند ان کار دیگری می کنند

د تیرې ژبې په اړه وېرونه

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چې د دې مقصد لپاره
تَعَلَّمَ صَرْفَ الْكَلَامِ لِيَسْبِيَ بِهِ قُلُوبَ الرِّجَالِ أَوِ النَّاسِ
د خبرو تاوهلو راتاوهلو طریقه زده کړي چې هغه د دې په ذریعه باندې د سړو په زړونو باندې یا د خلکو په زړونو

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۳/۱۸۰

Maktaba Tul Ishaat.com

لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عدلا»﴾(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
باندې واک ترلاسه کړي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ باندې به نه د هغه نفل لمونځ قبول کړي او نه فرض لمونځ.

توضيح: صرف الكلام: خبرې اړول راړول مراد دي. يعنې د خبرو په اړولو راړولو ، کړلو راکړولو او تيره ژبې خوزولو ښه طريقه زده کړي. ليسبي: ضرب يضرب نه دى ، قيد کولو ته وايي. مراد دا دى چې د خلکو زړونه د ژبې په زور او په مبالغه کولو سره ځان ته مائله کوي. د حقيقت په پټولو سره د ضرورت نه ډير فصاحت او بلاغت مظاهره کوي دې لپاره چې خلک هغه ته متوجې شي او دا سړى خپل مطلب وويستلى شي. (مرقات: ۸/۵۵۲)

صرفا: د دېنه نفل عبادت مراد دى. عدلا: د دېنه فرض عبادت مراد دى. ځينې علماؤ د صرف نه توبه کول مراد کړيدي. او د عدل نه فديه ورکول مراد کړي دي. مطلب دا دى چې د داسې سړي عبادت به نه قبليږي. په دې حديث کې د خلې په زور سره خبره کول، مبالغه کول، او تيزه ژبه چلولو سخته بدې بيان کړې شويده.

مختصر تقرير ښه وي

﴿۲۰﴾	وَعَن	عمروبن	العاصِ	أَنَّهُ	قَالَ	يَوْمًا	وَقَامَ رَجُلٌ
او حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې يو ورځ ده په هغه وخت کې وفرمايل کله چې يو سړى ودريدلو							
فَأَكْثَرَ		الْقَوْلَ.		فَقَالَ			عَمْرٌو:
او خپل فصاحت او بلاغت ښکاره کولو په خاطرې اوږد تقرير وکړو. نو حضرت عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل							
لَوْ	قَصَدَ	فِي	قَوْلِهِ	لَكَانَ	خَيْرًا	لَهُ	
که تا په خپل تقرير کې د اعتدال او ميانه روى نه کار اخستلى وى نو بيشکه هغه به د اوريدونکو په حق کې غوره وه.							
سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَقَدْ رَأَيْتُ أَوْ أُمِرْتُ							
ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې زه پوهه شوى يم يا يې دا وفرمايل چې ما ته حکم کړې							
أَنْ أَتَجَوَّزَ فِي الْقَوْلِ فَإِنَّ الْجَوَازَ هُوَ خير» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]							
شويدى چې زه په تقرير او خبرو کولو کې اختصار نه کار واخلم، حقيقت دا دى چې لنډ تقرير غوره دى.							

توضيح: فقال عمرو : يعنې رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دغه واعظ په تقرير باندې تبصره کولو کې وفرمايل که دې سړې خپل تقرير لنډ کړې وى نو ښه به وه ځکه تقرير په اعتدال کيدلو سره د زياتې کمې نه محفوظ وي او په اوريدونکو باندې د هغې بوج نه راځي. بلکې ښه اثر کيږي. په

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۷۴ رقم الحديث ۵۰۰۶.

(۲) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۷۶ رقم الحديث ۵۰۰۸.

دې روايت کې فقال عمرو د اعاده بعد عهد په توګه باندې مکرر راوړلی شوی دی. ځکه چې کلام اوږد شو، ځکه اعاده او مکرر کيدل ضروري شوي وُ. (مرقات: ۸/۵۵۳)

اوامرت: د راوي شک شويدی چې نبی کريم ﷺ کوم يو لفظ استعمال کړی وُ. اَلۡجَوَّزَ: دا داختصار په معنې کې دی، مطلب دا چې ماته حکم شويدی چې زه په کلام کې د اختصار نه کار واخلم ځکه چې په دې کې خير دی. ملا علي قاري د جامع صغير په حواله سره يو حديث نقل کړيدی: چې دهغې الفاظ دا دي: ﴿لقد امرت ان اتجوز في القول فان الجواز في القول هو خير﴾ (مرقات ۸/۵۵۳)

ځينې علوم او فنون د جهالت په معنې دي

﴿۲۱﴾ وَعَنْ صَخْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ
او حضرت صخر بن عبد الله بن بريده د خپل پلار نه او هغه د صخر د نيکه حضرت بريده رضي الله عنه نه نقل کوي چې
قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا وَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا
هغه وفرمايل چې ما د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلي دي چې ځينې بيان جادو (په شان) وي. ځينې علم جهالت وي،
وَ إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حُكْمًا وَإِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عِيَالًا» . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)[1]
ځينې شعرونه فائده مند يعنې حکمت او هوښيارتيا نه ډک وي. او ځينې قول او کلام په ځان باندې وبال وي.

توضيح: ان من العلم جهلا: د دې جملې يو مطلب دا دی چې فرض کړه يو سړی بې فائدې علم ترلاسه کړو. مثلاً هغه علم نجوم او علم رمل او جفر زده کړو يا د منطق او فلسفې اوږده بحثونه يې زده کړل، يا د جديد پوهنې وسوسې او فضوليات کې اخته شو، چې په هغې کې نه د دوی خپله فائده شته او نه د امت څه فائده شته دی. بلکې د دې فضولياتو په زده کولو باندې هغه سړی د قرآن او حديث او شرعي علمونو د زده کولو نه محرومه شو، نو څه چې يې ترلاسه کړل، هغه دغې ته علم وايي حالانکې دغه جهالت دی، ځکه چې هغه خدای او د هغه د رسول ﷺ نه ليرې کول کوي، بابا سعدی څه ښه فرمايلي دي:

سعدی بشوئے لوح دل از نقش غير حق علمے کہ رہ حق نہ نمايد جہالت است

ترجمه: ای سعدی د خپل زړه تخته د الله د نوم نه غيره د هر څه ومينځه. ځکه چې کوم علم د حق اړخ ته لاربنود نه نکوي، هغه جهالت دی. د دې جملې دويم مطلب دا دی چې د علم ترلاسه کونکی چې کله په خپل علم باندې عمل نکوي، نو هغه علم د ده لپاره جهالت دی، ځکه چې د علم نه اصل مقصود عمل دی، کله چې هغه په خپل علم باندې خپله عمل نکوي، نو ګويا هغه جاهل دی.

---

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۷۸ رقم الحديث ۵۰۱۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

من القول عيالا: عيال دعين په زير سره دی. بوج او وبال په معنی دی. مطلب دا دی چې ځينې خبره داسې وي چې اوريدونکی هغه نه خوښوي، او نه د هغې اوريدل غواړي. يا هغه خبره بې موقع وي. نو دغه شان خبره کول د ويونکې لپاره بوج او په ځان باندې وبال ثابت شي، يا هغه خبره د ويونکې او اوريدونکې دواړو د پوهې نه ليري وي، نو د دواړو لپاره ګرانه وي. يا وخت لږ دی او خبره اوږده ده، دا هم د بوج سبب دی. د دې حديث په اوله جمله باندې مخکې کلام شويدی. (مرقات : ۸/۵۵۴)

الفصل الثالث

د حضرت حسان فضيلت

﴿۲۲﴾عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم به په مسجد نبوی کې د حضرت حسان رضي الله عنه لپاره
مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
منبر کيخودلو چې هغه به په هغې باندې ودريدلو او د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د اړخ نه به يې د فخر اظهار کولو،
أو ينافح. وَيَقُولُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
يا دا الفاظ دي چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د اړخ نه به (د کافرو د دين په خلاف شعرونو او هجو) مقابله به يې کوله.
«إِنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ
او نبی صلی الله عليه وسلم به فرمايل چې الله تعالی د حضرت جبرائيل عليه السلام په ذريعه سره د حضرت حسان مرسته کوي. ترڅو چې
مَا نَافَحَ أَوْ فَاخَرَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ) [1]
هغه د نبی الله صلی الله عليه وسلم د اړخ نه مقابله کوي يا دا الفاظ دي چې ترڅو هغه د نبی صلی الله عليه وسلم د اړخ نه د فخر اظهار کوي.

توضيح: يضع لحسان: يعنې نبی کريم صلی الله عليه وسلم به د حضرت حسان رضي الله عنه لپاره منبر برابرولو. او حضرت حسان رضي الله عنه به په هغې باندې ودريدلو او د نبی صلی الله عليه وسلم په ستاينه کې به يې شعرونه لوستل او د کافرو د بدو جواب به ورکولو. دا د حضرت حسان رضي الله عنه لپاره غټ اعزاز ؤ. هم دا وجه ده چې دا په شاعر رسول صلی الله عليه وسلم په عظيم لقب باندې يادېږي. د قريشو په کافرو باندې ده د هغه وخت د رواج مطابق د حسب او نسب وچتوالې او کموالې په اعتبار سره تکونه ورکړي ؤ، چې هغه د کفار قريش لپاره ډيره ګرانه وه. حضرت حسان رضي الله عنه انصاری دی. د غسانی باچاهانو په ستاينه کې يې ډير وخت مصرف شويدی. د ايمان

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۸۰ رقم الحديث ۵۰۱۵ والترمذي في ۵/۱۲۶ رقم الحديث ۲۸۴۶، واحمد في المسند ۶/۷۲.

راوړلو نه وروسته په سفراو حضر کې د نبی کریم ﷺ سره ؤ. او په نبی ﷺ باندې قربان ؤ. په صحابه کرام رضي الله عنهم کې څلور غټ شاعران ؤ، یو حضرت حسان رضي الله عنه، دویم حضرت لبید دی. دریم حضرت عبدالله بن رواحه او څلورم حضرت کعب بن مالک دی. حضرت کعب به د کافرو مذهبي حیثیت په نښه کولو. او حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه به د هغوی خانداني حیثیت نښه جوړوله. (مرقات: ۸/۵۵۵)

د نظم ویلو حیثیت او حیثیت

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ لِلنَّبِيِّ حَادٍ يُقَالُ لَهُ: أَنْجَشَةُ
او حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې نبی کریم ﷺ یو نظم ویونکی ؤ. چې د هغه نوم انجشه ؤ. د
وَكَانَ حَسَنَ الصَّوْتِ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرِ الْقَوَارِيرَ»
هغه ډیر خائسته آواز ؤ. نبی کریم ﷺ هغه ته وفرمایل چې انجشه! او ښان په قلار قلار شړه او شیشي مه ماتوه.
قَالَ قَتَادَةُ: يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
حضرت قتاده رضي الله عنه فرمایي چې د شیشو نه د نبی کریم ﷺ مراد ښځې وي. (بخاری و مسلم)

توضیح: حاد: دا د اسم فاعل صیغه ده. د باب نصر ینصر نه حدواً و حداءً نظم ویلو (حدی خواني کول) ته وايي. د سفر په دوران کې چې کله اوښان د مزل په کولو ستړي کیدلو له وجې نه سبست شي. نو په وچت آواز سره ورته لوبه ویلی کیږي. چې په هغې سره اوښان په تازه کیدلو سره تیز مزل شروع کړي. هم دې ګانې او شعرونو ته حدی وايي. د دې ابتداء په عجیبه طریقې سره شویده. هغه داسې چې د بنو مضریو سړی ؤ. هغه د قافلې د سفر په دوران کې خپل غلام ووهلو. او د هغه لاس په غابښونو سره وچیچلو. نو غلام په چیغه چیغه ژړل او ویل یې: وایداه وایده وایده او کله به یې ویل: دی دی دی یعني یدی یدی یدی. په ژړا سره به یو خوند پیدا کیدلو. چې د هغې په وجه باندې ستړې ستومانه اوښان په منډه باندې شول. په دې باندې آقا خپل غلام ته وویل چې هم د غه شان یې وایه او د په دغه توګه د حدی بنیاد کیخودل شو. او بیا په دې کې پرمختګ وشو. وس د دې شرعي حیثیت دا دی که په دې کې باجې، شپیلئ او طبل او ډهول نوي، نو فقط شعرونه ویل جائز دي. چې د هغې فائده هم ده ګنې جائز ندي.
علامه اقبال د قومي او مذهبي تحریکونو د راپیدا رولو لپاره د حدی نوم اخستلو سره داسې اشاره کړیده:

حدی کو تیز تر کردے چوں محمل گراں می بینی

یعني کله چې بوج ډیر شي نو حدي نوره هم تیزه کړه چې بوج سپک محسوس شي.
قیصه: حدی ویلو سره اوښان بیخي مست شي. ملا علی قاری په مرقات کې یوه قیصه لیکلي چې د یو باند چې یو سړی میلمه شو. هغه وکتل چې یو تور پوستی غلام په زنځیرونو کې تړلی شویدی. هغه غلام میلمه ته وویل

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۹۴ رقم الحديث ۶۲۱۱ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۲ والدارمي في ۲/۳۸۲ رقم الحديث ۲۷۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې د خدای لپاره زما آقا ته زما د خلاصون سفارش وکړه. ځکه چې هغه د ميلمه خبره نه رد کوي. ميلمه سفارش وکړو. نو د غلام آقا (مالک) وويل چې دې غلام يو غټ جرم کړيدی. هغه داسې چې زما لس اوښان ؤ. دې ظالم په يو سفر کې داسې حدی وويله چې د څو شپو سفر يې په يوه شپه کې پوره کړو. کله چې اوښان منزل مقصود ته ورسيدل. نو د تيزې منډې له وجې نه ټول مړه شول. فقط يو اوښ پاتې شو. خو ستا په سفارش باندې زه دا غلام پرېږدم. ميلمه چې کله دا قصه واوريدله نو وې ويل چې دې غلام ته ووايه چې دا دې مونږ ته هم خپله حدي واوروي. هغه غلام ته حکم وکړو. کله چې غلام خپل ځانګړې انداز باندې حدی شروع کړه. نو هلته موجود ټول اوښان صحراء (دشتې) ته په وتختيدل. او ميلمه هم ليونی شو او دشتې په لورې روان شو.

انجشة: همزه باندې فتحه ده. نون ساکن دی. او جيم او شين باندې فتحه ده . د دې سړې کنيت ابو ماريه ؤ، د نبی کريم ﷺ غلام ؤ. چې هغه حبشي تور پوستی غلام ؤ ﴿زه د ده نه قربان شم دا د نبی کريم ﷺ غلام ؤ﴾

رويدك انجشة: يعنې ای انجشه لږه نرمې کوه. څه مهلت ورکړه، ډيره تندې مکوه. لاتكسر القوارير:

قوارير د **قارورة** جمع ده دشيشې بوتل ته وايې. دا دقرار نه دی. ځکه چې په دې کې اوبه وغيره ايساريدلو سره قرار نيسي. د دينه مراد ښځې دي. ځکه چې ښځې هم صنف نازک دی. د هغوې کمزوری او نازک بدن او نرمه جوسه هم د شيشې په شان کمزوری دی. نو ځکه په شيشې سره د هغې تشبيه ورکړی شويده. شيشې مه ماتوه. ددې دوه مطلبه دي. اول مطلب يې دا دی چې په حدی ويلو سره اوښان په خوند او مستۍ کې په راتلو سره تيزه منډه وهي. چې د هغې په وجه باندې دوې ساه ساه کيږي. ښځې کمزوری مخلوق دی، راپرې به وځي او مړې به شي. نو ځکه په قلار قلار حدی وايه. دويم مطلب يې دا دی چې په قافله کې ښځې هم دي. ستا په آواز او شعرونو سره به د هغوې جذبات راوپاريږي. په هغوې کې به يو غوبل جوړ شي. جذبات به يې د بی قابو کيدلو سره په فتنه کې پريوځي. نو ځکه په قلار قلار حدی وايه. (مرقات: ۸/۵۵۶)

ملا علی قاری رَحِمَهُ اللهُ اول مطلب لره ترجيح ورکړيده. او دويم ته يې غير مناسب ويلي دي.

دشعرونو ښه والی يا بدوالی د هغې د مضمون سره اړه لري

﴿۲۴﴾وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايې چې د رسول کريم ﷺ مخې ته د شعر ذکر وکړی شو. (دا ويو ښتل شو
الشِّعْرُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ كَلَامٌ فَحَسَنُهُ
چې شعر او شاعرې کول څه ښه کار دی او که بد؟) نو رسول کريم ﷺ وفرمايل چې شعر هم يو کلام دی. نو ښه

حَسَنٌ وَقَبِيحُهُ قَبِيحٌ» (رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ)[۱] وروى الشَّافِعِي عَن عُرْوَة مُرْسلا)[۲]
شعر ښه کلام دی او بد شعر بد کلام دی. (دارقطني) امام شافعي دا روايت د حضرت عروة نه مرسلا نقل کړیدی.

په شعرونو کې مستغرق اوسيدل بد عمل دی

﴿۲۵﴾ وَعَن نَافِعٍ قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ
او حضرت نافع رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زه د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په لاره کې وم. يو ځای کې
فَسَمِعَ مِزْمَارًا فَوَضَعَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شپيلۍ آواز واوريدلو، نو سمدستي خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ورکړې.
وَنَاءَ عَنِ الطَّرِيقِ إِلَى الْجَانِبِ الْآخَرِ ثُمَّ قَالَ لِي بَعْدَ أَنْ بَعُدَ:
د غه شان د لارې نه په اړخ کيدلو باندې په بل اړخ روان شو. بيا د دغه لارې نه لېرې کيدلو
يَا نَافِعُ هَلْ تَسمعُ شَيْئًا؟
وروسته يې زما نه پوښتنه وکړه چې نافع! آيا ته هم څه اورې. يعنې دشپيلۍ آواز راځي. هغه وس
قلتُ: لَا فرفعَ أُصبعيهِ عَن أُذُنَيْهِ
هم شته او که بند شويدی؟ ما وويل : نا ، هغه خپلې دواړه ګوتې د غوږونو نه لرې کړې، او بيا يې
قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ صَوْتَ يَرَاعٍ
بيان کړل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وم چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګينګړو آواز واوريدلو، او بيا
فَصَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ. قَالَ نَافِعٌ:
نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم دغه وکړل کوم چې دا وخت ما وکړل. حضرت نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې دغه
فَكُنْتُ إِذْ ذَاكَ صَغِيرًا﴾. (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد)[۳]
وخت زه يو کم عمری هلک وم. (احمد، ابوداود)

توضيح: مزمارًا: شپيلۍ ته مزمار وايي. چې هغه د بانس او لرګي نه جوړولی شي. صحيح او راجحه هم دا

(۱) اخرجه الدارقطني في السنن ۴/۱۵۵ رقم الحديث۲ من باب الخبر الواحد يوجب العمل.

(۲) اخرجه مرقات ۹/۵۰ رقم الحديث ۴۸۰۸.

(۳) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۲۲ رقم الحديث ۴۹۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چې د شپيلۍ اوريدل حرام دي. په روايتونو کې دېته قضيب او يراع هم ويلى شويده. چې دا د بانس په معنې ده.

ولم: يعنې د نزدې لارې نه اوريدلو باندې په ليرې لاره روان شو. او په غوږونو کې يې ګوتې ورکړې دې لپاره چې د شپلۍ آواز وانوري. (مرقات: ۸/۵۵۸)

الصغير: دا جمله د سوال مقدر جواب دی. سوال دا دی چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه چې د شپيلۍ د آواز نه دومره ځان ساتنه کوي. چې په غوږونو کې يې ګوتې ورکړې. او د لارې نه اوريدلو باندې ليرې روان شو. نو نافع رضي الله عنه شپيلۍ اواز ولې اوريدلو. آيا دهغه د لپاره جائز ؤ؟ د دې جواب نافع رضي الله عنه په دې جمله کې خپله ورکړو چې زه هغه وخت نابالغ ماشوم ؤم. نو ځکه مکلف نه ؤم. وس سوال دا پيدا کيږي چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم مخې ته حضرت ابن عمر رضي الله عنه د شپيلۍ آواز ولې واوريدلو؟ نو د دې جواب هم دغه دی چې شايد حضرت ابن عمر رضي الله عنه به هم دغه وخت نابالغ ؤ. او په غوږونو کې ګوتې ورکول احتياط او تقوی په بنياد باندې ده. ګنې بغير د قصد نه غوږونو ته آواز راتلل د نيو کې ورندي. ځکه چې دا د انسان د اختيار نه بيرون ده. او شپيلۍ غږونکی دا سړی کيدی شي يهودي ؤ.

بهرحال له دې حديث نه په واضحه توګه باندې ثابتيږي چې د لهو لعب آلات او طبل او ډهول او باجو سره موسيقې اوريدل حرام دي. علامه قاضی خان په خپله فتاوی قاضی خان کې ليکلي دي:

﴿اما استماع صوت الملاهي كالضرب بالقضيب ونحو ذالك حرام ومعصية لقوله عليه السلام استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها من الكفر﴾ (المرقات: ۸/۵۵۸)

د ټنګ ټکور په حرمت باندې د دې باب په ابتداء کې پوره بحث ليکل شويدی.

۳ ربیع الثاني ۱٤۱۸ھ

باب حفظ اللسان والغيبة والشتم
د ژبې ساتنه او د غيبت بيان

د غیبت پیژندګلو یه په راتلونکې اولسم(۱۷)حدیث کې خپله راځي چې "ذكرك اخاك بما يكره"يعني په غائبانه توګه باندې د یو مسلمان ورور داسې تذکره کول چې که د هغه مخې ته دا تذکره وکړی شي نو هغه به داناخوښه کړي.دغیبت لپاره شرط دا دی چې عیب په هغه سړې کې وي. که عیب ورېکې ن وي او څوک يې وايي نو دا بهتان دی. د غيبت لپاره د مغتاب غائب کيدل هم شرط دی.مخامخ عیب بیانول په کنځلو او بدزبانۍ کې راځي.(مرقات : ۸/۵۵۹)

غیبت په حقوق العباد کې دي. لهذا ترڅو پورې چې مغتاب يې معاف نکړي، په توبه کولو سره نه معاف کیږي. حضرت تهانوی رحمه الله لیکلي دي چې غیبت هغه وخت په حقوق العباد کې راځي کله چې مغتاب سړي ته د هغې خبر وشي. که خبر ونشي نو دا په حقوق الله کې داخل دی. والله اعلم.
حضرت تهانوی رحمه الله دا هم لیکلي دي که یو سړی غیبت کول هم غواړي نو هغه لپاره پکار دي چې د خپل مور پلار غیبت وکړي، دې لپاره چې د غیبت کونکې نیکۍ د هغه مور پلار ته ورکړی شي ، بل چا ته ورنکړی شي. د حضرت حسن بصری رحمه الله یو سړې غیبت وکړو. نو ده یو پلیټ کې هغه ته ډالۍ ولیږله چې تا په ما باندې احسان وکړو چې خپلې نیکۍ دې ماته راکړي. یو سړې حضرت حسن بصری رحمه الله ته وویل چې ما ستا غیبت کړی دی. ته هغه زما لپاره حلال کړه. ده وفرمایل چې کوم څیز الله تعالی حرام کړی دی. زه هغه څنګه حلال کولی شم. دغیبت نه د ځان ساتلو طریقه دا ده چې په یو مجلس کې د چا تذکره ونکړی شي.

والشتم: کنځل کولو ته شتم وايې. یو سبّ او سباب دی ، هغه بد ګوئې په معنیٰ دی. که هغه په کنځلو سره وي او که په بله طریقه باندې. د غیبت نسبت په شتم کې عموم دی. دا مړې ، ژوندې ، حاضر ، غائب، ټردې او لیرې ټولو ته شامل کیدلی شي. چا سره فحش ګفتګو کول، هغه ته بد ویل، دهغه سره بد زبتیا کول. او غیر اخلاقي او بیکاره الفاظ سره هغه یادول، دا ټول شم او کنځلو کې داخل دي. لدې وجې نه دا د غیبت نه وروسته ذکر کړی شویدي.په دې باب کې به داسې احادیث بیانیږي،چې په هغې کې به د ژبې د ساتنې یادونه وي. غیر اخلاقي او بیکاره الفاظو نه د ژبې ساتلو ترغیب به وي. شرعي ، عرفي او اخلاقي توګه باندې بدکلامې د الفاظو نه د ژبې ساتلو روزنه به وي. خصوصًا خبرې وړل راوړل، کنځلې او دغیبت نه د ځان ساتنې روزنه ورکړی شویده. ځکه چې غیبت او خبرې وړل راوړل داسې شیان دي چې هغه په معاشره کې کینه، حسد ، بغض او دښمنې او منافقت پیدا کوي.نو ځکه شریعت د امن او محبت په غرض په دې غیر اخلاقي شیانو بندیز لګولی دی. د قرآن په سورتونو کې سورة حجرات په خاص

Maktaba Tul Ishaat.com

طور د معاشرې د دې بدو ماتونه کوي. د غيبت په اړه د الله تعالى حکم دى: ﴿وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ﴾ دا اعلان هم دى: ﴿لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ وَلَا نِسَاءٌ مِّنْ نِّسَاءٍ﴾ بهرحال په هر مسلمان سړي او ښځه باندې لازم دي چې هغه د الله تعالى د حکم مخې ته خپله غاړه کېږدي. او د رسول الله ﷺ سنت خپل کړي او د غيبت نه خپل ځان وساتي.

الفصل الاول

دژبې او شرمګاه په ساتنه باندې د جنت زيرى

﴿۱﴾عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ يَضْمَنْ لِي
حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل: کوم سړى چې ما ته د دې ضمانت
مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ
راکړي چې هغه به د خپل هغه شي ساتنه کوي چې هغه د دوه جامو ترمينځ دى، يعنې ژبه او غابنونه او کوم
رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الجَنَّةَ» (رَوَاهُ البُخَارِيّ)[1]
چې د هغه د خپو په مينځ کې دى يعنې شرمګاه نو زه د هغه د جنت ضمانت اخلم. (روايت کړې دې بخاري و مسلم)

توضيح: مابين لحييه: تثنيه ده، د دې مفرد لحى دى. دواړو جامو ته وايي. چې په هغې کې غابنونه لاندې باندې لګيدلي وي. د دې دواړو جامو ترمينځ ژبه وى. په دې حديث کې ژبې ته اشاره ده. د حديث مطلب دا دى چې نبي کريم ﷺ فرمايې چې کوم سړى ما ته د خپلې ژبې د ساتنې دا ضمانت راکړي چې هغه سړى به خپله ژبه سره کنځل نکوي، چغلې به نکوى، غيبت به نکوى، دروغ به نه وايي او يا په تول له خله باندې به حرام نه خوري، نو زه هغه سړې ته د جنت ضمانت ورکوم.

و مابين رجليه: دوه خپو ترمينځ شي نه مراد شرمګاه ده. د شرمګاه ضمانت دا دى چې دا به په څه بدکارۍ او بدکردارۍ نه استعمالوي. د حديث خلاصه دا راووتله چې کوم سړى دخيتې قوت او د شهوت قوت چې هغه د خلې او شرمګاه په ذريعه سره ترلاسه کيږي، د دې دواړو قوتونو د ساتنې ضمانت ورکړي، نو هغه ته به جنت ورکړى شي. (مرقات: ۸/۵۶۰)

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۰۸ رقم الحديث ۶۴۷۴.

ژبه په قابو کې ساتل ډیر ضروري دي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: حقیقت دا دی چې کله بنده د

بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ لَا يُلْقِي لَهَا

خپلې ژبې نه يوه داسې خبره راوباسي چې په هغې د الله تعالی خوشحالیدل وي، نو اګرکه هغه بنده د دغه خبرې

بَالًا يَرْفَعُ اللهُ بِهَا دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ

په اهمیت باندې نه پوهیږي لیکن الله تعالی د هغې په وجه د هغه درجې وچتوي. د غه شان کله چې بنده د خلې

لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ

نه يوه داسې خبره راوباسي چې هغه د الله تعالی د ناخوښۍ ذریعه جوړه شي نو اګرکه هغه بنده د دې اهمیت نه

لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا

پيژني (یعنې هغه دا خبره معمولي وګڼي او د هغې د ژبې نه په راویستلو کې هیڅ باک نه ګڼي) لیکن (حقیقت کې

يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ»

هغه خبره د نتیجې په اعتبار سره دومره د هیبت نه ډکه وي چې) هغه بنده د دې په وجه باندې دوزخ ته ګوزار

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: «يَهْوِي

ګوزار کړی شي. (بخاری) او د بخاری او مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي چې هغه د دې په وجه باندې دوزخ

بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ»)[1]

کې دومره ليرې ګوزار کړی شي چې هغه د مشرق او مغرب مینځنی فاصلې نه هم ډيره وي.

توضیح: لا يلقي لها بالا: يعنې دغه سړی چې په ژبه سره کومه خبره کړيده، هغه سره د دې پرواه نه وي او نه هغه دا څه اهمه ګڼي او نه په زړه او مازغو کې د هغې څه پرواه ساتي، لیکن د هغې تر لرې پورې اثرات پریوځي. او د دې خبرې د وجې نه انسان د کوم ځای نه کوم ځای ته ورسیږي.

د حدیث مطلب دا دی چې کومه ښه یا بده خبره سپکه ګڼل پکار ندي، که هغه خبره د معمول د خبرو په شان ولې نه وي. بهرحال د ژبې ساتنه کول د مسلمان ذمه واري ده. هسې نه چې د یو اړخ نه نیکې کوي او د بل اړخ نه هغه ضائع کوي. او د دې متل مصداق جوړ شي: نیکې وکړه او کوهي (څاه) ته یې ګوزار کړه، د

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۰۸ رقم الحديث ۶۴۷۷ ومسلم في ۴/۲۲۹۰ رقم الحديث (۲۹۸۸-۵۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

دې حديث نه مونږ ته دا تعليم راکړى شويدى چې ژبه په قابو کې ساتل ډير ضرورې دي.(مرقات : ۸/۵۶۹)

يو مسلمان ته کنځل کول حرام دي

﴿۳﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سِبَابُ الْمُسْلِمِ
او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يو مسلمان ته بدې ويل
فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
فسق دى او د يو مسلمان وژل کفر دى.

توضيح: وقتاله کفر: يعنې د مسلمان سره جنګ کول يا د هغه وژل کفر دى. وس سوال دا دى چې د اهل السنت والجماعت په نزد د ګناه کبيره په کولو باندې سړى نه کافر کيږي، دلته هغه کافر څنګه ورېلى شو؟ په دې سره خو د خوارجو او معتزله مسلک ثابتيږي.د دې جواب دا دى چې د دې حديث مطلب او تاويل دا دى چې کوم سړى د مسلمان وژل او جنګ کول حلال او جائز ګڼي،دا کفر دى. ځکه چې هغه حراموته حلال وويل. چې دا کفر دى. د حديث دويم مطلب دا دى چې دغه سړې دومره غټه ګناه وکړه ګويا هغه د کفر حد ته راغلى. د دې سړې د ايمان کمال ختم شو نو د کمال ايمان نفي ده ، خالص کافر شوى نه دى. دغه شان د سختۍ، غصې، رټنې او زورنې باندې دا کلام حمل کيدلى شي.(مرقات : ۸/۵۶۲)

يو مسلمان ته د کفر يا فسق نسبت مکوه

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرُ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم سړي چې خپل مسلمان ورور ته کافر وويله،
فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
نو په دې دواړو کې يو ته کفر راستون شو ،يعنې يا خو ويونکى خپله کافر شو يا هغه سړى چا ته چې ده کافر ويلي دي.

توضيح: فقد باء بها احدهما: يعنې يو مسلمان بل مسلمان ورور ته وويله چې ته کافر يې. دا کلمه به په کوم يو باندې صادقيږي، او په دې دواړو کې به يو سړى خامخا د دې کفرې کلمې سره راستنيږي. وس هم دوه صورتونه دي: يو صورت دا دى چې چا ته کافر ويلي شويدي که هغه واقعې کافر وي نو دا کلمه به په هغه باندې ولګيږي، دويم صورت دا دى که هغه کافر نه وي نو دا کلمه به په ويونکې باندې راستنيږي، وس به هغه خپله کافر کيږي. د

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۱۱۰ رقم الحديث ۴۸ ومسلم في ۱/۸۱ رقم الحديث (۶۴-۱۱۶).

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۱۴ رقم الحديث ۶۱۰۴ ومسلم في ۱/۷۹ رقم الحديث (۶۰-۱۱۱)

دې حدیث ظاهر ته په کتلو سره علماء د دې حدیث پوهه په ډیر مشکل حدیثونو کې شمار کیږي، د دې وجه دا ده چې ګناه کبیره په کولو سره یو سړی د اهل السنت والجماعت په نزد باندې نه کافر کیږي، حالانکې هغه ته دلته کافر ویلی شویدی. دویم صورت دا دی چې که هغه کافر شوی ندی نو دا کلمه به په ویونکې باندې راستنیږي، اوس به هغه خپله کافر شی.د دې حدیث ظاهر ته په کتلوسره علماء دا حدیث په مشکل احادیثو کې شماري. د دې وجه دا ده چې د ګناه کبیره په کولو سره د اهل سنت په نزد باندې یو سړی نه کافر کیږي. حالانکې ده ته کافر ویلی شوي دي-؟ علماؤ د دې څو توجیهات بیان کړیدي.

اوله توجیه: دا ده چې کافر ویونکی سړی دا عقیده لري چې مسلمان ته کافر ویل جائز او حلال دي. نو ظاهره ده چې کوم سړی اسلام لره کفر بلي هغه خپله کافر کیږي. **دویمه توجیه**: دا ده چې کوم سړې ته کافر ویلی شویدي، دا اګرچې غټه ګناه وه لیکن هغه خپله اقرار وکړو چې هو! تا ما ته چې کافر ویلي دي، دا صحیح دي. زه کافریم نو د دې اقرار د وجې نه هغه کافر کیږي.دغه شان د کفر دا کلمه هغه باندې راستنه شوه او دا کافر شو. **دریمه توجیه**: دا ده چې د دې حدیث مطلب او مقصد دا دی چې هیڅ مسلمان دې بل مسلمان ته کافر نه وایې. دا منع دي. که څوک دغه شان وایي نو بیا به کتلی شي که مخامخ سړی کافر ؤ نوصحیح ده ، خبره ختمه شوه. لیکن که مخامخ سړی کافر نه وي نو د دې ویونکې سړې ګناه دومره غټه ده چې ګوا کې دا کافر شو، دا په تشدید اوتهدی او غصه او رټنه باندې محمول دی.(مرقات : ۸/۵۶۳)

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالْفُسُوقِ وَلَا
او حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمایې چې رسول کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل: یو سړی دې چا ته فاسق نه وایي او نه دې په هغه
يَرْمِيهِ بِالْكُفْرِ إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ»(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ) [1]
باندې د کفر تهمت لګوي ځکه که هغه سړی د فسق او کفر حامل نه وي نو د هغه ویلی شوې هغه ته بیرته راستنیږي.

یو مسلمان سړې ته د خدا دښمن مه وایه

﴿۶﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ						
او حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: څوک چې څوک په کافر ویلو سره راوبلي						
أَوْ	قَالَ	عَدُوَّ	اللهِ	وَلَيْسَ	كَذَلِكَ	إِلَّا
یا چا ته د خدای دښمن ووایي او هغه واقعةً دغه شان نوي نو د هغه ویلی شوې خپله هغه باندې راګرځي. یعنې						

[1] اخرجه مرقاة المفاتيح ۹/۵۶ رقم الحديث ۴۸۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاَرَ عليهِ" (مُتَّفق عَلَيْهِ)(۱)
ويونکی خپله کافريا د خدای دښمن جوړ شي.

د کنځلو ټوله ګناه په ابتداء کونکي باندې وي

﴿۷﴾وَعَن أنس وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْتَبَّانِ
او حضرت انس او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: که دوه کسان خپل
مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ
مينځ کې کنځلي وکړي نو د دې ټولو کنځلو ګناه به په هغه سړي باندې وي چا چې مخکې والی کړی دی.
مَالَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ» (رَوَاهُ مُسلم)(۲)
ترڅو چې مظلوم د حد نه وانوړي. (مسلم)

توضيح: مالم يعت به المظلوم: اعتداء: تجاوز او د حد نه اوختلو ته وايي. د حديث مطلب دا دی چې په کنځلو کولو کې چا مخکې والی وکړو، ټوله ګناه د هغه په ذمه ده. مخکې والی کونکی ظالم دی. لهذا مظلوم که فقط جواب ورکوي، نو د جواب ورکولو تر حده پورې په هغه باندې هيڅ ګناه نشته دی. هو! که مظلوم بيرته راګرځيدلو باندې دوه قدمه د مخکې تللو کوښښ کوي او په کنځلو کولو کې د حد نه واوړيدلو. نو وس دا مظلوم خپله ظالم شولو، او مخکې والی کونکی مظلوم شو، خو بيا هم د کنځلو په کولو کې مخکې والې باندې هغه هم په دې جرم کې شريک دی. (مرقات: ۸/۵۶۴)

ښه خلک چا باندې لعنت نه ليږي

﴿۸﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَنْبَغِي
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د صديق لپاره دا جائز (مناسب) ندي
لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّاناً» (رَوَاهُ مُسلم)(۳)
چې هغه په چا باندې ډير لعنت کونکی وي.

توضيح: الصديق: د کوم سړي په قول او فعل کې چې تضاد نوي او د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قول لره بغير د دليل او حجت نه ومني. هغه صديق بللی کيږي. د نبی نه وروسته د صديق درجه وي. په دې حديث کې ويلی شويدي چې د صديق د شان سره دا نه ښايي چې هغه په خلکو باندې لعنت وليږي.

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۷۹ رقم الحديث (۶۱-۱۱۲) واحمد في المسند ۵/۱۶۶.

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۰۰ رقم الحديث ۴/۲۰۰۰ رقم الحديث (۲۵۸۷-۶۸) وابوداود في السنن ۴/۲۰۳ رقم الحديث ۴۸۹۴.

(۳) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۰۵ رقم الحديث (۲۵۹۷-۷۴) والترمذي في السنن ۴/۳۲۵ رقم الحديث ۲۰۱۹.

ځکه چې د لعنت يو مطلب دی چې داسړی دعاء کوي چې يا الله دا سړی د خپل رحمت نه ليرې کړه. دغه شان دعا کول ډير نامناسب او غټ بخل دی چې د الله د فراخه رحمت نه د يو سړې د ويستلو کوښښ کوي. حالانکې ده لپاره پکارۇ چې د الله تعالی رحمت ته د راوستلو دعا يې کړې وی.
د لعنت دويم مطلب دا دی چې لعنت ليږونکی خبر ورکوي چې فلانکی سړی د الله تعالی د رحمت نه خارج شوی دی. دا هم غټ جرم دی ځکه چې دا ټولې د غيبو خبرې کوي. ده ته څه معلومه ده چې فلانکی سړی د الله تعالی د رحمت نه وتلی دی. هو! که کوم سړی په کفر باندې مړې شویدی نو هغه باندې لعنت ليږل جائز دی، خو فرض او ضرورې هغه هم نه ده.

د لعنت دوه قسمونه: لعاناً: د لعنت دوه قسمونه دي. يو قسم د کافرو سره خاص دی، هغه دا چې سړی د الله تعالی دَ رحمت نه بيخې ووځي او دَ رحمت نه ليرې شي او د رحمت نه بيخې نااميده شي. د دې مفهوم د لعنت تعلق فقط د کافرو سره دی. دغه شان لعنت په يو مسلمان باندې ليږل حرام دی.
د لعنت دويم مفهوم دا دی چې يو سړی مثلاً د الله تعالی د رحمت نه ليرې شي، د هغه د قُرب نه ليرې شي، او د هغه بد دعاء د هغه مسلمان لپاره کيدلی شي، ځوک چې کوم نامناسب کار کوي.
د صحابه کرامو يا د اولياؤ يا د علماؤ په کلام کې که د لعنت ذکر راغلی دی نو د هغې نه د لعنت هم دغه قِسم مراد دی، علماؤ ليکلي دي چې د مرګ نه وروسته چا باندې لعنت ليږل د هغه په کفر باندې متفرع ده. که هغه په يقيني توګه باندې په کفر مړ وي نو لعنت ليږل ممکن او جائز دي، اګرچې فرض او ضرورې ندي. خو که د هغه مرګ په يقيني توګه باندې په کفر نوي شوی، نو په هغه باندې د مرګ نه وروسته لعنت نشي ليږل کيدلی. په يزيد باندې د لعنت ليږلو مسئله هم دغه شان ده. چې د هغه مرګ په کفر باندې يقيني ندی، د جمهورو مسلک هم دا دی. تفصيل به د مشکوة په آخر کې راشي.
لعاناً: د مبالغې صيغه يې استعمال کړې شوې ده. په دې کې دې اړخ ته اشاره ده چې ډير لعنت ويونکی مه کيږه او مه لږ، د ډير لعنت نه ځان ساتل ډيره ګرانه ده. (مرقات: ۸/۵۶۵)

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ
او حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې دا اوريدلي دي چې کوم خلک ډير
اللَّعَّانِينَ لَا يَكُونُونَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ) [1]
لعنت کوي هغه به نه د قيامت په ورځ باندې ګواهان جوړ کړې شي او نه به شفاعت کولی شي. (مسلم)

چاته دا خروي هلاکت نسبت مکوه

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا قَالَ الرَّجُلُ: هَلَكَ
او حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که کوم سړی دا ووايي چې خلک

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۰۶ رقم الحديث (۲۵۹۸-۸۵) واحمد في المسند ۶/۴۴۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
هلاک شول یعنې جهنم د اور مستحق شول نو دغه شان ویونکی د ټولو نه ډیر هلاکیدونکی دی. (مسلم)

توضيح: هلك الناس: یعنې کوم سړی چې وویل چې ټول خلک هلاک شول. نو په حقیقت کې هغه د ټولو نه ډیر هلاکیدونکی دی. ځکه چې دا سړی د نورو خلکو په عیب لټولو کې مشغوله دی. او خپلو ښیګړو ته ګوري. دغه شان دا په ځان خوښی کې اخته دی، او نورو ته د سپکې په نظر سره کتلو باندې داسې وایې. لهذا دا ټولو نه ډیر هلاک شویدی. ځکه چې ده ته د نورو خواخوګې مقصود نده، هو! که دهغوې د هدایت فکر ورسره وي، او دهغوې خیرخواهې مقصود وي. او دهغوې په بد حالت باندې افسوس کول مقصود وي، او د یو درد اظهار دی، نو په دې صورت کې دغه شان ویل به منع نوي.

دوه مخې پالیسې خپلونکی سړی بدترین انسان دی

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ باندې به د ټولو نه بدتر سړی
ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ
هغه وي څوک (چې د فتنه خپرولو په خاطر) دوه خلي لري. یعنې د منافقت خاصیت او صفت لري. چې هغه یو ډلې
بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]
ته راشي نو یو څه وایي او بلې ډلې ته راشي نو بل څه وایې.

توضيح: ذو الوجهين: دوه خلي لرونکې سړی هغه وي چې هغه د حق او باطل اصولو لره د نظر نه تیروي. او د خلکو په خیالونو او خوښو باندې روان وي. د هر چا د مزاج مطابق خبرې جوړوي. ځکه چې هغه د راختونکې لمر عبادت کونکې دي. او د دې شعر مصداق دی:

معشوق من بشیوه هر کس موافق اند　　با ما شراب خورد و بزاهد نماز کرد

ګویا د دې منافق دوه خلي لرونکې څه عقیده او نظریه نوي. بلکې که د هغه نه څوک وپوښتي چې: **ما مذهبک؟** یعنې ستا دین او مذهب کوم یو دی. نو هغه جواب ورکوي: **في اى بلد؟** یعنې د کوم ښار د مذهب پوښتنه کوي. زه خو د یهودیانو سره یهودې او د عیسایانو سره عیسایي او د قادیانیانو سره قادیانې او د بریلیانو سره بریلی او د دیوبندیانو سره دیوبندې، د سنیانو سره سني او د شیعګو سره شیعه جوړیږم. ته د کوم ځای په اړه باندې پوښتنه

([1]) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۲۴ رقم الحديث (۲۶۲۳-۱۳۹) وأبوداود في السنن ۵/۲۶۰.

([2]) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۷۴ رقم الحديث ۶۰۵۸ ومسلم في ۴/۲۰۱۱ رقم الحديث (۲۵۲۶-۲۰۰)

کوي؟ نن سبا د دغه شان خلکو ډير زور دی. او په دغه بې عزتۍ باندې هغوې فخر کوي. نبي کريم صلی الله علیه وسلم دغه شان خلک بدترين مخلوق ګرځولی دی او هغوې شريان او فساديان بللی شويدي.(مرقات: ۸/۵۶۶)

﴿۱۲﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ»
او حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي چې چغلي کونکی به جنت ته ننداخليږي يعنې هغه
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ: «نَمَّامٌ»[1]
به نجات موندونکې خلکو سره په اول کې جنت ته نه داخليږي. (او د مسلم په يو بل روايت کې د قتات په ځای د نمام لفظ دی)

توضيح: **قتات**: د فساد پيدا کولو په غرض سره د يو سړي خبره بل ته وړونکي او د هغه ځای خبره دلته راوړونکې سړي ته قتات او نمام يعني چغل خور ويلی کيږي. که دا سړی چغلي کول حلال ګڼي نو دا کافر شو نو جنت ته به کله هم نه ځي او که چغلي د ګناه په ګڼلو سره کوي نو بيا د سزا تيرولو نه وروسته به جنت ته ځي، د حديث مطلب به داوي چې بغير د سزا نه به جنت ته نه ځي. يو چا څه ښه ويلي دي:

وهم نقلوا عن الذي لم اقل به   وما آفة الاخبار الا رواتها

ريښتيا ويلو او دروغو نه د ځان ساتلو تاکيد

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ
او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ريښتيا ويل په خپل ځان باندې لازم کړی
بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ
ځکه (هميشه او پابندۍ سره) ريښتيا ويل نيکۍ کولو اړخ ته بوځي (يعني د ريښتيا ويلو خاصيت دا دی چې
وَ إِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا
د نيکۍ کولو توفيق وي (او نيک کار کول (نيکي کونکې د) جنت اعلی درجو ته رسوي. او (ياد ساتۍ) کوم
يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ
سړی چې هميشه ريښتيا وايي او هميشه د ريښتيا ويلو کوښښ کوي، نو هغه د الله تعالی په نزد باندې
صِدِّيقًا وَ إِيَّاكُمْ وَ الْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي
صديق ليکلی کيږي. دغه شان تاسو خپل ځان د دروغو ويلو نه وساتۍ، ځکه چې دروغ ويل فسق او

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۷۲ رقم الحديث ۶۰۵۶ ومسلم في ۱/۱۰۱ رقم الحديث (۱۰۵-۱۶۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ

فجور ارخ ته بوتلل كوي. (يعني د دروغو خاصيت دا دى چې بدو او بد عملو د كولو رغبت وي) او فسق

يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَ يَتَحَرَّى الْكَذِبَ

او فجور (فاسق او فاجر لره) د دوزخ اور ته ټيله كوي. او (ياد ساتئ) كوم سړى چې ډير دروغ وايي

حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا».

او (د ډير نا ډير) دروغ ويلو كوښښ كوي نو هغه د الله تعالى په نزد باندې دروغژن ليكلى كيږي.

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةِ مُسلم قَالَ : « إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَإِنَّ الْبِرَّ

(بخارى او مسلم) او د مسلم په يو روايت كې دا الفاظ دي چې حقيقت دا دى چې ريښتيا ويل نيكي

يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ . وَإِنَّ الْكَذِبَ فُجُورٌ وَإِنَّ الْفُجُورَ يهدي إِلَى النَّار»

ده او نيكي جنت ارخ ته بوتلل كوي او دروغ ويل فسق او فجور دي او فسق او فجور دوزخ ارخ ته ټيله كول كوي.

(متفق عليه وفى رواية مسلم قال اِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ

(بخارى ومسلم) او د مسلم په يو روايت كې دا الفاظ دي چې حقيقت دا دى چې ريښتيا ويل نيكي ده

وَاِنَّ الْبِرَّ يَهْدِیْ اِلَى الْحَقِّ وَاِنَّ الْكِذْبَ فُجُوْرٌ وَاِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِیْ اِلَى النَّارِ «[1]

او نيكي حق ارخ ته بوتلل كوى او دروغ ويل فجور دي او فجور دوزخ ارخ ته ټيله كول كوى

توضيح: يتحرىٰ: يعنې د ريښتيا ويلو خيال لري. په خبرو كې احتياط كوي، دروغو نه ځان ساتي، نو د الله تعالى په نزد باندې ريښتونې ګڼلى كيږي، عليين او د فرښتو په دفترونو كې د هغه نوم صديق ليكلى كيږي. او كه په هره خبره كې د ريښتيا ويلو په ځاې باندې دروغ وايي او په ناسته ولاړه او په ګرځيدلو كې د دروغ ويلو خيال پخوي نو د داسې سړي نوم د الله تعالى په نزد او د فرشتو په دفترونو كې كذاب ليكلى كيږي. د انسان د جسم اعتبار او د هغه اعتماد زړه او د ژبې د وجې نه قائم وي. ژبه كه بې اعتباره شي نو د انسان ټول جسم او د هغه ټوله ژوند خلكو په نظرونو كې سپك شي، دنيا هم لاړو او آخرت هم لاړو. چا ويلي دي: الانسان باصغريه: يعنې انسان خو د دوه كوچنې اندامونو زړه او ژبې د وجې نه انسان دى.

يو شاعر وايي:

لسان الفتى نصف ونصف فؤاده فلم يبق الا صورة اللحم والدم

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۰۷ رقم الحديث ۶۰۹۴، ومسلم في ۴/۲۰۱۳ رقم الحديث (۲۶۰۷-۱۰۵)

د اصلاح لپاره دروغ ویل، د دروغو په زمره کې نه راځي

﴿۱۴﴾وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي
او حضرت ام کلثوم رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله و فرمايل: هغه سړی دروغژن ندی چې هغه د خلکو
يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خيرا
په مینځ کې روغه جوړه کوي، د ښیګړې خبره کوي او (دیوبل نه) ښې خبرې رسوي، (اګرکه هغه د يې روغې جوړې په
وينمي خيرا» (مُتَّفق عَلَيْهِ)(۱)
کولو کې او د ې خبرې په کولو او رسولو کې د دروغو نه کار واخلي)

توضيح: ليس الكذاب: مثلاً د دوه مسلمانانو خپل مينځ کې اختلاف دی، يا بُعد دی. او يو دريمګړی سړی د دې فتنه او فساد او بغض او بُعد ليرې لپاره په حقيقت کې دروغ وايي، مثلًا يو ته وايي چې وروره هغه سړی خو ستا ډير خيرخواه دی، هغه ستا ستاينه کوي، ستا سره مينه لري. او ستا په اړه باندې د هغه ډيرې ښې ارادې دي. دغه شان خبرې په تګ سره هغه بل ته هم کوي، په دې کې دا که اګر که دروغ وايي، خو دا خو اصلاح بين الناس او اخلاص باندې بنا ده. لهٰذا د دروغو د وعيد نه خارج دی. دغه شان ښځه خاوند په مينځ کې کينه (نفرت) ختمولو لپاره دغه شان خبرې کول د دروغو د وعيد نه خارج دي. دغه شان د چا ځان ساتلو لپاره دروغ ويل جائز بلکې ځينې وخت کې فرض شي. مثلًا يو سړی د چا مرګ لپاره اسلحه په لاس هغه پسې منډې وهي، نو چا ورته وويل چې وروره هغه په دې لاره باندې ندی تللی بلکې په فلانکۍ لاره باندې تللی دی، دغه شان غلط بيان کول جائز بلکې ضروري دي. (مرقات: ۸/۵۶۸)

په ستاينه کولو کې د ډير دروغ ويونکي بدې

﴿۱۵﴾وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ
او حضرت مقداد بن اسود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: کله چې تاسو
الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ» (رواه مسلم)(۲)
ستاينه کونکي ووينئ نو د هغه په خوله کې خاوره واچوئ.

توضيح: المداحين: دا د مداح جمع ده. او ستاينه کونکي ته ويلی کيږي. دلته بې ځايه او رياکارۍ، مکر کول، دهوکه کول، او دنيا دارۍ په غرض سره په دروغه ستاينه کونکي خلک مراد دي. په دې حديث کې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۹۹ رقم الحديث ۲۶۹۲ ومسلم في ۴/۲۰۱۱ رقم الحديث (۲۶۰۵-۱۰۱)

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۹۷ رقم الحديث (۳۰۰۲-۶۹) وابوداود في السنن ۵/۱۵۴ رقم الحديث ۴۸۰۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چې د دغه شان خلکو په خله کې خاوره واچوی. وس د خاورې اچولو نه څه مراد دي. نو ځينې شارحين وايي چې دا کلام په حقيقت باندې بنا دی. چې په حقيقت کې خته را واخله او د دغه ستاينه کونکې په خله کې يې واچوه. ځينو ويلي دي چې په دې کلام کې مجاز دی. مطلب دا دی چې دې ستاينه کونکې ته څه نا څه ورکړه، ځکه چې نه ورکولو په صورت کې به هغه ستاسو بد وايي. يا مطلب دا دی چې ده ته څه مه ورکوه، خاورې ورکړه، دې لپاره چې بيا ستاسو بې ځايه ستاينه نه کوي. (مرقات: ۸/۵۶۹)

په خله باندې د چا ستاينه کول ډير مذموم دي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: أُثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ
او حضرت ابوبکره رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) د نبی کريم صلی الله عليه وسلم مخې ته يو کس د يو سړي (په ډيره مبالغې سره)
عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:
ستاينه شروع کړه (او هغه سړی هم موجود ؤ، د چا چې ستاينه کيدله) نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم و فرمايل
«وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ» ثَلَاثًا"
چې افسوس دی په تا باندې، تا د خپل ورور څټ غوځ کړو. نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا الفاظ درې ځل وويل. (او بيا يې و فرمايل
مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ
چې) که په تاسو کې څوک د چا ستاينه کول ډير ضروري وګڼي نو هغه لپاره پکار دي چې (مثلاً)
فَلْيَقُلْ: أَحْسِبُ فُلَانًا
داسې دې وايي چې زه د فلانکي سړي په اړه دا ګمان لرم (چې هغه نيک سړی دی) او حال دا دی چې د هغه سړي د حقيقي حال
وَاللهُ حَسِيبُهُ إِنْ كَانَ
نه الله تعالی ښه خبر دی. او هغه د دوی د اعمالو حساب اخستونکی دی. د غه شان که ستاينه کونکی
يُرَى أَنَّهُ كَذَلِكَ
دا ګمان لري چې هغه د کوم سړي ستاينه وکړه هغه په حقيقت کې دغه شان دی نو په دې صورت کې
وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدًا "(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
هم هغه د خدای د اړخ نه په چا باندې په کلکه او يقين سره دې حکم نه لګوي. (بخاری او مسلم)

توضيح: قطعت عنق اخيك: يعنې په خله باندې په ستاينه کولو سره تا د هغه سړي څټ غوځ کړو. ځکه

(١) اخرجه البخاري في صحيحه ١٠/٥٥٢ رقم الحديث ٦١٦٢،ومسلم في ٤/٢٢٩٦ رقم الحديث (٣٠٠٠-٦٥)

چې ستا په دې ستاینې سره به دا سړی په عُجب او تکبر کې اخته شي. چې هغه د ده د آخرت د پاره تباه کونکی دی.

د ستاینې قسمونه: دیو سړې دستاینې درې صورتونه کیدی شي: اول صورت دا چې په خله باندې د چا ستاینه وشي دا ناجائز دی او ددې حدیث اول مصداق دا صورت دی د ستاینې دویم صورت دا چې ستاینه په خله باندې نه وي بلکې پس پشت وي خو په دې انداز باندې وي چې د ستاینه کونکې دا یقین وي چې دا ستاینه به هغه سړې ته ورسیږي، داصورت هم د اول صورت په شان ناجائز دی. د ستاینې دریم صورت دا دی چې پس پشت یو سړې د بل سړې ستاینه وکړه او دا مقصد یې بیخې ندی چې دا ستاینه به هغه سړې ته ورسیږي، د چا چې یې ستاینه کړیده، او هغه به په دې ستاینې سره خوشحاله شي. د دې یې مطلق اراده نوي، د ستاینې دا صورت جائز دی. لیکن د دې لپاره شرط دا دی چې د چا ستاینه کیږي، هغه سړی د دې ستاینې مستحق وي. بې ځایه ستاینه نه وي.

د غیبت تعریف او تفصیل

٤ ربيع الثاني ١٤١٨هـ

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې (یوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ته وفرمایل: آیا تاسو

«أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟» قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ.

پوهیږئ چې غیبت څه ته وایي؟ صحابو عرض وکړو چې الله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږي.

قَالَ: ذِكْرُكَ أَخَاكَ

نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: غیبت دا دی چې ته د یو مسلمان ورور ذکر په داسې توګه وکړې که هغه

بِمَا يَكْرَهُ " قِيلَ

(دا واوري نو) ناخوښه به کړي. ځینې صحابو (دې اوریدو سره) عرض وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم دا وفرمایی

أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي

کهٔ زما په دغه ورور کې هغه عیب موجود وي، کوم چې ما بیان کړیدی نو آیا بیا به هم غیبت وي. یعنې ما پشت پناه د یو چا په اړه داذکر وکړو

أَخِي مَا أَقُولُ؟

چې په هغه کې فلانکی بدي ده. او حال دا دی چې په هغه کې واقعهٔ دغه بدي وي. او ما چې څه ویلي دي، هغه بیخي رښتیا دي.

قَالَ: «إِنْ كَانَ

چې هغه په حقیقت کې په هغه کې وي، غیبت به بللی کیږي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تا چې دهغه د کومې

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ

بدي ذکر کړېدی، که هغه واقعي په هغه کې موجود وي. نو تا دهغه غیبت وکړو. او که په هغه کې دغه بدی موجود نه وی.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ

کومه چې تا ذکر کړېده. نو تا په هغه باندې بهتان ولګولو. یعني هم دا خو غیبت دی چې ته د یو چا عیب د هغه په غیر حاضری کې ربنتیا بیان کړي.

فَقَدْ بَهَتَّهُ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ

او که ته د هغه عیب یا نو لو کې رښتیا نه یې چې تا هغه ته کوم عیب نسبت کړېدی، دغه په هغه کې موجود نوي. نو دا افتراء او بهتان دی.

وَفِي رِوَايَةٍ: «إِذَا قُلْتَ

چې دا خپله یوه لویه ګناه ده. (مسلم) او د مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې (نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل) که تا

لِأَخِيكَ مَا فِيهِ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ

د خپل یو (مسلمان) ورور هغه بدې بیان کړه کومه چې واقعي په هغه کې موجود ده، نو تا د هغه غیبت وکړو.

وَإِذَا قُلْتَ مَا لَيْسَ فِيهِ فقد بَهته»[1]

او که تا هغه ته د داسې بدې نسبت وکړو کومه چې په هغه کې نشته نو تا په هغه باندې بهتان ولګولو.

توضیح: ذكرك اخاك: دا د غیبت پیژندنه ده. کومه چې خپله په حدیث کې ذکر شویده. دا ناجائز او حرام ده. البته د درې قِسمه خلکو غیبت کول جائز دی. په دې کې اول فاسق مجاهر دی. د هغه غیبت په دې نیت سره کول جائز دي چې خلک د هغه د شرارت او خباثت نه محفوظ شي. دویم د ظالم حاکم غیبت جائز دی. په قرآن کې دي: (لَا يُحِبُّ اللهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ ظُلِمَ) دریم هغه بدعتې دی چې د هغه بدعت متعدی کیږي او د غیبت کونکې په غیبت سره فائده هم کیږي او هغه د اصلاح په نیت سره غیبت کوي یا د ځان ساتنې په اراده سره یې کوي. که دا فائدې او شرطونه نوي نو د بدعتې غیبت د غیبت کولو لپاره جائز نه دي.

په خلکو کې سپکې وینا کونکی بدترین سړی دی

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې (یوه ورځ) یو سړی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې د حاضرېدلو اجازت وغوښتلو

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۰۱ رقم الحديث (۲۵۸۹-۷۰) وأبوداود في السنن ۵/۱۹۱ رقم الحديث ۴۸۷۴.

فَقَالَ: «ائْذَنُوا لَهُ فَبِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ» فَلَمَّا جَلَسَ
نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دا راپرېږدئ، هغه د خپل قوم بد سړی دی. کله چې هغه سړی راغلی، کیناستلو.
تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ.
نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه سره په خپاره تندي باندې ملاقات وکړو، او په خندا يې د هغه سره خبرې وکړې. کله
فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ عَائِشَةُ: يَا رَسُولَ اللهِ قُلْتَ لَهُ: كَذَا وَكَذَا
چې هغه لاړو نو عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تا خو د هغه سړي په باره داسې ويلي وو (يعني دا فرمايلي وو
ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ.
چې دغه سړی د خپل قوم بد سړی دی) خو تا د هغه سره په خپاره تندي سره ملاقات وکړو. او په خندا خندا دې
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا؟
ورسره خبرې وکړې. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: تا زه بدې خبرې کونکی کله موندلی يم؟ (ياد ساته) د قيامت په ورځ
إِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ
باندې د خدای په نزد د درجې په اعتبار سره به بدتر سړی هغه وي چا لره چې خلک د هغه د بدۍ د وجې نه
شَرِّهِ» وَفِي رِوَايَةٍ: «اتِّقَاءَ فُحْشِهِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
پرېږدي. او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې د هغه د بدو خبرو ديرې د وجې نه (خلک د هغه نه ځان ساتي)

توضيح: بئس: د دې حديث نه معلومه شوه چې د فاسق مجاهر شرارت او خباثت نه د ځان ساتنې په غرض سره د شرارت يادونه جائز ده. دغه شان د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د دغه شان سړي د شرارت نه د ځان ساتنې لپاره د هغه په خله باندې د بدې خبرې په ځاې ښه خبره وکړی شي. هو! روحاني اعتبار سره هغه سړی خو مره غورزيدلی وي چې خلک د هغه مخې ته د هغه د اصلاح خبره هم نشي کولی. دا سړی عيينه بن حصن فزارئ وو. وروسته هغه مرتد شوی وو. بيا د مرتدانو په جنګ کې د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عسکرو هغه ونيولو، بيا دا سړی مسلمان شو، او بيا مړ شو. (مرقات: ۸/۵۷۳)

د ګناه په کولو سره د هغې خبرونه ډېر غټ قباحت دی

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زما ټول امت په عافيت کې دی سوا

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۵۲ رقم الحديث ۶۰۳۲ ومسلم في ۴/۲۰۰۲ رقم الحديث (۵۹۱-۷۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا		الْمُجَاهِرُونَ		وَإِنَّ		مِنَ		الْمُجَانَةِ

دهغه خلكو نه چې هغوي خپله ګناه او عيبونه ښكاره كوي بيشكه دا ډيره د بې پروايي خبره ده چې يو سړی د شپې

أَنْ	يَعْمَلَ	الرَّجُلُ	عَمَلًا	بِاللَّيْلِ	ثُمَّ	يُصْبِحَ	وَقَدْ	سَتَرَهُ	اللهُ.

يو بد كار وكړي. او د سحر په كيدلو باندې چې كله الله تعالى (چې دهغه دا بد كاريې) پټ كړې ؤ نو هغه خلكو

فَيَقُولَ:	يَا	فُلَانُ	عَمِلْتُ	الْبَارِحَةَ	كَذَا	وَكَذَا	وَقَدْ	بَاتَ

ته دا وايي اى فلانكيه ما نن شپه دا سې دا سې (يعنې فلانكى بد كار) وكړو. حالانكې دهغه پروردګار خو د شپې

يَسْتُرُهُ	رَبُّهُ	وَيُصْبِحُ	يَكْشِفُ	سِتْرَ	اللهِ	عَنْهُ	"	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ

دهغه په ګناه باندې پرده اچولې وه. او هغه د سحر كيدلو سره د الله تعالى پرده وشلوله. (روايت كړې دې بخاری ومسلم)

وَذُكِرَ فِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ: «مَن كَانَ يُؤمن بِاللهِ» فِي «بَابِ الضِّيَافَةِ»[1]

او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت: من كان يؤمن بالله، باب الضيافة كې نقل شوى دى.

توضيح: معافى: د باب مفاعله نه د اسم مفعول صيغه ده. د عافيت او سلامتۍ په معنې دى. ملاعلي قاري فرمايي: **كل امتي لايؤاخذون ولايعاقبون عقاباشديدا الا المجاهرون.**

ترجمه: يعنې زما د امت ټولو خلكو ته به په ګناه باندې دومره سخت عذاب او عقاب نوي څومره چې مجاهرين او په ښكاره باندې ګناه كونكو ته به وي. علامه طيبي رحمه الله د دې حديث مطلب په داسې توګه بيان كړيدى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايې چې زما د امت ټول خلك د غيبت نه محفوظ او په امن كې دي، دهغوې غيبت جائز ندى خو كوم خلك چې په ښكاره باندې ګناه كوي، دهغوې غيبت جائز دى، ځكه چې د فاسق مجاهر غيبت، غيبت نه دى. ملاعلي قاري په دې مطلب باندې رد كړيدى او ليكلي يې دي چې دا حديث د غيبت سره خاص كول د سياق سباق منافي دي. لهذا دې لره د عام ګناهونو لپاره عام كول پكار دي چې د عام ګناهونو دومره سخته ګناه نه ده، څومره چې په ښكاره باندې د ګناه په كولو باندې مواخذه ده. والله اعلم.

وان من المجانة: يعنې دا ليوتتوب او بې شرمې او بې حيائې ده چې سړی پټه ګناه د شپې په وخت كې كوي، او د ورځې نغاره ډنګوي چې ما فلانكې ګناه كړيده. حالانكې الله تعالى په هغه باندې ستر او پرده راوستلې وه. د دې نه مخكې ليكلي شويدي چې د درې قسمه خلكو غيبت كول جائز دي. يو ظالم باچا، دويم متعدى مفسد بدعتي، دريم؛ فاسق مجاهر، په دې حديث كې د دغه فاسق مجاهر بيان كړى شويدى. (مرقات: ۸/۵۷۵)

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۸۶ رقم الحديث ۶۰۶۹ ومسلم في ۴/۲۲۹۱ رقم الحديث (۲۹۹۰-۵۲)

الفصل الثاني

درې قسمه قرباني کونکو په جنت کې درجې

﴿۲۰﴾عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «من تَرَكَ الْكَذِبَ وَهُوَ
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چې دروغ ویل پرېږدي او هغه (دروغ)
بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي ربض الْجَنَّة وَمن ترك المراء
ناحق او ناروا وي نو هغه لپاره د جنت په غاړه باندې ماڼۍ جوړ کړې شي. او کوم سړی چې بحث او جګړې پرېږدي
وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ
سره د دې چې هغه په حقه وي، د هغه لپاره د جنت په مېنځ کې ماڼۍ جوړه کړې شي او د کوم سړي چې اخلاق ښه وي
بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ:
نو د هغه لپاره د جنت په وچت ځای باندې ماڼۍ جوړه شي. دا روایت ترمذي نقل کړیدی او ویلې یې دي
هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ(وَكَذَا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي الْمَصَابِيحِ قَالَ غَرِيبٌ) [۱]
چې دا حدیث حسن دی. د غه شان روایت شرح السنة او مصابیح کې نقل شویدی او ویلې یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: الکذب: په دې حدیث کې درې قِسمه خلکو ته د جنت مختلفې درجې او ځایونه ورکولو زیری اوروړلی شویدی. اول قِسم د هغه خلکو دی چې هغوې دروغ ویل پرېږدي، وهو باطل: یعنې هغه دروغ په حقیقت کې جرم وي. داسې دروغ نوي چې هغه فی الجمله جائز وي. لکه اصلاح بین الناس، یا میدان جهاد وغیره کې د دې اجازت وي. هم ددې احتراز لپاره دا قید لګولی شویدی. دویم قِسم هغه خلک دي چې هغوې د تواضع او شرافت نفس د توکې په بنیاد باندې شرفساد او جګړې او اختلاف نه وروسته کیږي. سره د دې نه چې هغه په حقه باندې وي. خو هغه خپل حق پرېخودلو باندې د شر دفع کولو په غرض باندې د جګړې نه لاس نیولی شي. او دریم قِسم د هغه خلکو دی چې هغه خپل اخلاق نهایت خائسته او ښه ساتي. د اول قِسم خلکو انعام ربض الجنة دی. یعنې د جنت په دننه برخه کې ادنی غاړه باندې به د هغوې لپاره ماڼۍ جوړولی شي. دویم قِسم خلکو لپاره انعام وسط الجنة دی. چې هغه د دې نه اعلی او افضل دی. ځکه چې د جنت په غاړه کې ندی بلکې د جنت په مېنځ مرکزي مقام کې به د هغوې ماڼۍ جوړولی شي. دریم قِسم خلکو انعام اعلی الجنة دی. یعنې د جنت په بالاخانو کې به په وچته باندې د هغوې ماڼۍ جوړولی شي. دا خلک به د ټولو نه اعلی وي ځکه چې د دوې کارنامه لویه ده. ځکه

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۱۵ رقم الحديث ۱۹۹۳وابن ماجه في ۱/۱۹ رقم الحديث ۵۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دروغ پرېخودل او د جګړې نه لاس نيول ټول د ښه اخلاقو نتيجې دي. (مرقات : ۸/۵۷۷)

جنت او دوزخ ته وړونکې شيان

﴿۲۱﴾ وعن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتُدْرُونَ مَا أَكْثَرُ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: آيا تاسو پوهېږئ چې په عامه توګه

مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ؟ تَقْوَى الله وَحُسْنُ الْخُلُقِ. أَتُدْرُونَ

باندې کوم شی جنت ته داخلول کوي؟ هغه تقوی يعنې د الله تعالی نه يره او د خائسته اخلاق دي. او پوهېږئ

مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ؟ الْأَجْوَفَانِ: الْفَمُ وَالْفَرْجُ " (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ)[1]

چې خلکو لره په عامه توګه باندې کوم شی جهنم ته داخلوي؟ هغه دوه خالي شيان دي. يعنې خله او شرمګاه.

توضيح: **اَلْاَجْوَفَانِ**: دا د جوف تثنيه ده. د جوف نه مراد خالي شی دی. د انسان په بدن کې خله او شرمګاه دوه خالي شيان دي. او دا شيان د ټولو خرابو جرړه ده. د يو تعلق د شهوة البطن سره دی او د دويم تعلق د شهوة الفرج سره دی. د دوزخ په ټولو اسبابو باندې که نظر وزغلولی شي نو په لاره کې به هم دا دوه شيان مخې ته راځي. (مرقات: ۸/۵۷۸)

ژبه يا د جنت کنجي ده يا د جهنم کنجي ده

﴿۲۲﴾ وَعَن بلالِ بن الحارثِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ

او حضرت بلال ابن حارث رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: انسان څه خبره د خير د خپلې

بِالْكَلِمَةِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا

ژبې نه راوباسي، په داسې حال کې چې هغه د دې د قدر او مرتبې نه خبر نوي. ليکن الله تعالی د دې خير د کلمې په وجه

يَكْتُبُ الله لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ.

باندې د هغه په حق کې د هغه ورځې لپاره خپله رضا ثابته کړي، چې هغه د الله تعالی سره ملاقات وکړي.

وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الشَّرِّ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا

دغه شان يو انسان د شر کلمه د خپلې خلې نه راوباسي. هغه د دې په قدر او مرتبه باندې نه پوهېږي،

يَكْتُبُ الله بِهَا عَلَيْهِ سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ »

خو الله تعالی د دې شر د کلمې په وجې باندې خپله خفګان ثابت کړي. چې هغه د الله تعالی سره

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۱۹ رقم الحديث ۲۰۰۴، وابن ماجه في ۲/۱۴۱۸ رقم الحديث ۴۲۴۶.

(رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَرَوَى مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه نَحوه)[1]
ملاقات وکړي. (شرح السنة) او امام مالک، ترمذی او ابن ماجه هم دغه شان روايت نقل کړيدی.

توضيح: بالكلمة من الخير: يعني انسان د ژبې نه د الله تعالى د رضا او خوشحالۍ څه خبره وباسي، هغه ته خپله د دغه خبرې څه اهميت معلوم نه وي. ليکن د الله تعالى د اړخ نه دغه سړي ته د دې کلمې په وجه باندې په دنيا کې داسې رضا ترلاسه شي چې دا خوشحالي په عالم برزخ او قبر کې ورسره وي. يا د قبر نه پاڅيدلو باندې ميدان محشر کې ورسره وي. يا د پل صراط نه په تيريدلو سره په جنت کې ورسره وي. دغه شان د شر کلمه ده. دا هم د الله تعالى غضب ته بلنه وروي. او يا هغه غضب دغه شان قبر او برزخ او محشر او دوزخ کې ورسره وي. علماؤ دا هم ليکلي دي چې د کلمة الخير نه مراد د ظالم باچا مخې ته د حق کلمه وچتول مراد دي. او د کلمة الشر نه مراد د ظالم باچا مخې ته د هغه ستاينه او تائيد او توثيق مراد دی. خو بيان هم د حديث مفهوم عام دی. دې لره هم دغه شان عام ساتل په کار دي، خاص کول پکار نه دي. (مرقات: ۸/۵۷۹)

د دروغو په قصو او لطيفو باندې خلکو لره د خندونکې لپاره يره

﴿۲۳﴾ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جده قَالَ:
بهز بن حكيم د خپل پلار (حكيم بن معاويه) نه او هغه د بهز د نيکه حضرت معاويه ابن عبده رضي الله عنه نه روايت کوي
قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ
چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: افسوس په هغه سړي باندې چې هغه خبره وکړي نو دروغ وايي،
لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد والدارمي)[2]
دې لپاره چې خلک وخندوي، افسوس په دغه سړي، افسوس په دغه سړي. (احمد، ترمذی، ابوداود، دارمی)

توضيح: ويل: يعني د داسې سړي لپاره هلاکت دی يا په دوزخ کې د ټولو نه خکته طبقه ده. د دې حديث مصداق هغه خلک دي چې هغوی د دروغو قصې، او قبيحه لطيفې بيانولو سره خلک خندوي. يا داسې لطيفې او قيصې اوروي، چې په هغې سره العياذ بالله د شريعت د کوم حکم سپکاوی کيږي. اکثر کتلی شويدي چې ځينې ټوقې کونکې خلک د خلکو د خندولو لپاره د خپلې ژبې نه د کفر کلمه هم راوباسي. که په قصو او لطيفو کې اخلاق وي او په هغې کې د خوش طبعې اسباب وي او د کوم مکروه

([1]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۸۴ رقم الحديث ۲۳۱۹ وابن ماجه في ۲/۱۳۱۲ رقم الحديث ۳۹۶۹.

([2]) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۶۵ رقم الحديث ۴۹۹۰، والترمذي في ۴/۴۸۳ رقم الحديث ۲۳۱۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

یا حرام په هغې کې څه دخل نوي، نو د داسې لطیفو اوریدل او ورول جائز دي.

توقي کولو او د ژبې د خطا نه ځان وساتی

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقُولُ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: حقیقت دا دی چې بنده کله یوه

الْكَلِمَةَ لَا يَقُولُهَا إِلَّا لِيُضْحِكَ بِهِ النَّاسَ

خبره وکړي او فقط د دې لپاره يې وايي چې د هغې په ذريعه سره خلک وخندوي نو هغه د دې خبرې د وجې نه

يَهْوِي بِهَا أَبْعَدَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

(دوزخ کې) غورځيږي. او د ومره په لیرې والي سره غورځيږي چې هغه د زمکې او آسمان د مينځنۍ فاصلې

وَإِنَّهُ لَيَزِلُّ عَنْ لِسَانِهِ أَشَدَّ مِمَّا يَزِلُّ عَنْ قَدَمِهِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ)[1]

نه هم ډيره وي. او دا هم حقیقت دی چې بنده په خپلو قدمونو باندې د خويدلو نه ډير په خپله ژبه خويږي.

يو چپ ډير مصبتونه ليري کوي

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «مَن

او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې

صَمَتَ نَجَا» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شعب الْإِيمَان)[2]

چپ شو هغه خلاصی بیاموندلو. (احمد، ترمذی، دارمی، بیهقي فی شعب الایمان)

توضیح: من صَمَتَ نَجَا: د ژبې د استعمال سره مصبتونه تړلي دي. نو انسان چې په کوم دنیاوي یا اخروې مصیبتونو کې اخته کیږي، د هغه ټولو مصیبتونو تعلق بالواسطه یا بغیر د واسطې نه د انسان د ژبې سره وي. نو ځکه کوم سړی چې د ژبې د خويدلو نه بچ شو، هغه کامیاب شو، او چپ پاتې کیدل د دې جرړه ده. امام غزالي رحمه الله فرمايي چې انسان په ژبه باندې کوم کلام کوي، دهغې څلور قِسمه دي. (۱) هغه کلام خالص نقصان نقصان وي. (۲) هغه کلام خالص نیکې وي. (۳) هغه کلام کې نفع او نقصان دواړه وي. (۴) هغه کلام کې نه نفع وي او نه نقصان وي. فرمايي چې اول قِسم کلام بی فائدې دی. د دېنه سکوت غوره دی. دویم قِسم کلام ښه او غوره دی. لهذا د سکوت نه کلام ښه دی. دریم قِسم کلام نه ځان ساتل غوره دي. ځکه چې فائدې سره نقصان لګیدلی دی.

([1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۱۳ رقم الحديث ۴۸۳۲.

([2]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۹ رقم الحديث ۲۵۰۱ والدارمي في ۲/۳۸۷ رقم الحديث ۲۷۱۳ والبيهقي ۴/۲۵۴ رقم الحديث ۴۹۸۳

څلورم قِسم هم د فضولیاتو نه دی، که ګناه هم نه وي بیا هم ژبه محفوظ ساتل پکار دي. (مرقات: ۸/۵۸۲)

د اخروي نجات لپاره درې عملونه

﴿۲۶﴾وَعَن عُقْبَةَ بن عامرٍ قَالَ: لَقِيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ:
او حضرت عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات وکړو او عرض مې وکړو
مَا النَّجَاةُ؟ فَقَالَ: «أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ
چې (ما ته وو ایه چې په دنیا او آخرت کې) د نجات ذریعه څه ده؟ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خپله ژبه په قابو کې ساتل،
وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ» (رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ)[1]
ستا کور ستا لپاره کفایت وکړي. او په خپلو ګناهونو باندې ژاړه. (روایت کړې دې مسند احمد او ترمذی)

توضیح: مالنجاة: یعنې د اخروي نجات ذریعې او اسباب څه دي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم درې خبرې د اُخروي نجات لپاره کافي وګرځولي. (۱) ژبه په قابو کې وساته. په څه قِسمه غیبت، پوچ بد او دهوکه او دروغو کې ژبه مه استعمالوه. (۲) ستا کور ستا لپاره فراخه وي یعنې ټوله ورځ او ټوله شپه په خپل کور کې د الله تعالی ذکر او فکر او عبادت کې وسیږه. د بیرون د جلسو او جلوسونو او عامو خلکو د ناستې پاستې نه خپل ځان جدا وساته، ځکه چې په دغه موقعو کې انسان په قِسما قِسم فتنو کې اخته کیږي. (۳) په خپلو ګناهونو باندې بشیمانه کیدلو باندې ښه ډیر ژاړه او پوره توبه وکړه، که ژړا نه درزي نو د ژړغوني حالت جوړ کړه. (مرقات: ۸/۵۸۳)

۲ ربیع الثاني ۱٤۱۸ھ

د بدن ټول اندامونه هره ورځ ژبې ته عاجزانه عریضه کوي

﴿۲۷﴾وَعَن أَبِي سعيدٍ رَفَعَهُ قَالَ: " إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ
او حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه مرفوعًا نقل کوي چې نبی علیه السلام وفرمایل: کله چې ابن آدم
فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُولُ: اتَّقِ اللهَ فِينَا
سحر کړي نو د بدن ټول اندامونه ژبې ته عاجزي کوي او ورته وايي چې زمونږ په حق کې د الله تعالی نه وویریږه.
فَإِنَّا نَحْنُ بِكَ فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا "(رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[2]
ځکه چې زمونږ تعلق ستا سره دی، که ته نیغه وې نو مونږ به هم نیغ یو او که ته کږه شوې نو مونږ به هم کاږه یو.

توضیح: ان استقمت: یعنې ټول اندامونه د ژبې مخې ته عاجزي او تواضع کوي چې که ته صحیح وې نو

([1]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۳ رقم الحديث ۲۴۰۶، واحمد في المسند ۵/۲۵۹.

([2]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۳ رقم الحديث ۲۴۰۷، واحمد في المسند ۳/۹۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ به هم صحیح یو او که ته کوږ وي نو مونږ به هم کاږه یو، زمونږ دارومدار په تا باندې دی.

سوال: دلته یو سوال پیدا کیږي، هغه دا چې په صحیح حدیث کې دزړه په اړه راځي : أَلَا إِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّه. یعنې د زړه د وجې نه د انسان ټول بدن سمیږي او ورانیږي. حالانکې په موجوده حدیث کې د ژبه په اړه دي چې د دې په ذریعه سره بدن سمیږي او ورانیږي. دا تعارض دی.

جواب: د دې سوال جواب دا دی چې ژبه د زړه ترجمان (ژباړه کونکې) ده. نو زړه ته نسبت حقیقت دی. او ژبې ته نسبت مجازًا دی. په شرح عقائد کې دا شعر ذکر شوی دی:

ان الکلام لفی الفؤاد وانما جعل اللسان علی الفؤاد دلیلا

(مرقات: ۸/۵۸۴ الکاشف : ۹/۱۳۲)

علماؤ لیکلي دي: الانسان باصغریه، یعنې انسان د دوه وړو شیانو د وجې نه انسان دی. یو زړه. دویم ژبه. یو هوښیار شاعر وایي:

آدمیت لم و شحم و پوست نیست آدمیت جز رضائے دوست نیست

د بیکاره خبرو پریښودل د اسلام په خائسته اخلاقو کې دي

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت علی بن الحسین رضی الله عنه یعنې امام زین العابدین فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»[1] رَوَاهُ مَالك وَأحمد وَرَوَاهُ ابْن مَاجه
د انسان د اسلام ښوالی دا دی چې دا هغه څه پرېږدي چې بې فائدې وي (مالک واحمد) دغه شان دا روایت ابن ماجه
عَن أَبِي هُرَيْرَة [2] وَ التِّرْمِذِيّ وَ الْبَيْهَقِيّ فِي « شعب الْإِيمَان » عَنْهُمَا) [3]
د ابوهریره رضی الله عنه او ترمذی او شعب الایمان کې بیهقی د دواړو یعنې ابوهریره رضی الله عنه او علی بن الحسین رضی الله عنه نقل کړی دی.

توضیح: ترکه مالا یعنیه: لا یعنې بې فائده کلام ته وایي. مطلب دا دی چې د کامل ایمان نښه او علامت دا دی چې سړی بې فائدې خبرو نه احتراز او اجتناب وکړي. چې په هغې کې نه دنیاوې فائده وي او نه اُخروي فائده وي. امام غزالي رحمه الله فرمایي چې بې فائدې او لایعنې خبرې هغه دي چې د هغې په نه کولو سره په سړي باندې گناه نه لازمیږي. او په کولو کې یې د لغزش خطره وي مثلاً یو سړی د پخوانی

(1) اخرجه مالک في الموطا ۲/۹۰۳ رقم الحدیث ۳ من کتاب حسن الخلق، واحمد في المسند ۱/۲۱۱.

(2) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۱۵ رقم الحدیث ۳۹۷۶.

(3) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۸۳ رقم الحدیث ۲۳۱۷، و ۲۳۱۸. والبیهقي في شعب الایمان ۴/۲۵۵ رقم الحدیث ۴۹۸۷، ۴۹۸۶

زمانې د خپلو مختلفو سفرونو قصې بیانوي. که هغه دا قصې وانه وروي نو څه ضروري نده لیکن که وارږي نو په دې کې د خویدلو او خطا خطره ده. دا فضول او لایعنې خبره ده. که لغزش هم نوي بیا هم د هغه په نیستي وخت ضائع کیږي. امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې دا حدیث د اسلام په څلور برخو کې څلورمه برخه او ربع د اسلام ده. (مرقات: ۸/۵۸۶)

په یقین او جزم سره د چا د آخرت فیصله کول مناسب ندي

﴿۲۹﴾	وَعَنْ	أَنَسٍ	قَالَ:	تُوُفِّيَ	رَجُلٌ	مِنَ الصَّحَابَةِ.

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې په صحابو کې یو سړی وفات شو. نو یو بل سړي (د مړ سړي مړي مخاطب کولو باندي)

فَقَالَ رَجُلٌ: أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

وویل چې (د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحبت د وجې نه) تاته دې د جنت زیری وي. رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

«أَوَ لَا تَدْرِي فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ

(دې خبرې او ریدلو سره سغه سړي ته) وفرمایل چې ته څنګه دا خبره کوې؟ او د حقیقت حال تا ته معلوم ندی.

فِيمَا لَا يَعْنِيهِ أَوْ بَخِلَ

کیدلی شي چې دې سړي به یو داسې معاملې د خپلې خلې نه الفاظ راویستلي وي چې هغه د ده لپاره ضرر

بِمَا لَا ينقصهُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1]

رسونکي وي. یا په کوم داسې شي کې یې بخل کړی وي چې په هغې کې کموالی رانشي.

توضیح: یعنې د چا په اړه باندې په کلک یقین سره دا فیصله کول پکار ندي چې دا سړی جنتي دی، څکه چې دا د غیبو علم دی، چې دا الله تعالی ته حواله دی. تاته د دې سړي د ظاهري او باطنې ټولو کارونو علم نشته، اګر چې دا سړی په ښکاره باندې د پاک ژوند مالک دی، بلکې صحابي دی، لیکن تاته د ده د ټولو معاملاتو علم نشته. ډیره ممکنه ده چې ده څه بې فائدې خبره کړې وي. یا په داسې شي کې یې بخل کړی وي چې په هغې کې بخل کول پکار نوي، مثلاً صدقه کولو کې یې سستي کړې وي یا لایعنې خبره یې کړې وي. د دې حدیث خلاصه مطلب دا دی چې په یقین سره داسې فیصله کول د یو بنده لپاره مناسب ندي. چې د هغې د مستقبل هغه ته علم نوي. د بخل کولو مطلب دا دی چې سلام کول، صدقه ورکول، او د علم په خپرولو کې بخل کوي، چې په هغې سره د کوم شي د کمیدلو خطره نشته دی. (مرقات: ۸/۵۸۸)

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۳ رقم الحديث ۲۳۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ژبې د فتنې نه ځان وساته

﴿۳۰﴾ وَعَن سُفْيَان بن عبد الله الثَّقَفِيِّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله
او حضرت سفیان بن عبدالله بن ثقفی رضی الله عنه فرمایي چې (یوه ورځ) ما عرض وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې
مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟ قَالَ:
زما په اړه باندې د کومو شیانو یره کوي، په هغې کې د ټولو نه ډیر خوفناک شی کوم یو دی؟ حضرت سفیان فرمایي چې
فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ
نبی کریم صلی الله علیه وسلم دې (اوریدلو باندې) خپله ژبه مبارکه ونیوله او وې فرمایل چې: دا شی (یعنې
وَقَالَ: «هَذَا» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَصَححهُ)(۱)
ستا په اړه د ټولو نه ډیر یره د دې ژبې ده چې د ګناه اکثر خبرې د دې نه راوځي. لهذا ته د ژبې د فتنې نه ځان وساته)

دروغ ویونکې د خلې نه بدبویې خیژي

﴿۳۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ
او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې یو بنده دروغ وایي نو
الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)(۲)
دهغه پیدا کړی شوی شی یعنې دروغو د بدبویې د وجې نه (ساتونکې) فرښتې یو میل لیرې لاړې شي.

توضیح: میلاً: یعنې محافظ فرښتې د میل په لیرې والې سره د دې سړې د خوا نه وتختي. کوم سړی چې دروغ وایي ځکه چې د دې دروغو د وجې نه د هغه د خلې نه بدترینه بدبویې خیژي، چې د هغې نه فرښتې تیختنه کوي.

د اعتماد په جامه کې دهوکه بدترین خیانت دی

﴿۳۲﴾ وَعَن سُفْيَان بن أَسِدٍ الحضرمِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت سفیان بن اسد حضرمی رضی الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي
«كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ
چې ډیر غټ خیانت دی چې ته خپل (مسلمان) ورور ته څه خبره وکړې او هغه تا په دغه خبره کې رښتونې وګڼي

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۴ رقم الحديث ۲۴۱۰ وابن ماجه في ۲/۱۳۱۴ رقم الحديث ۳۹۷۲.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۰۷ رقم الحديث ۱۹۷۲.

وَأَنْتَ بِهِ كَاذِبٌ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱)
او حال دا دی چې تا په حقیقت کې هغه ته دروغ ويلي دي.

توضيح: مصدق: يعني هغه ملګرې د دې دهوکه ورکونکې شکل او صورت ته ګوري، د دې معصوم انداز ته ګوري، د ده شرافت او ظاهري پاکوالي ته په کتلو باندې پورا اعتماد کوي چې دا خو انسان نه بلکې فرشته ده. د تصوف (پیری) او چغه او پټکې په دې جامه کې دا سړی د هغه لپاره شرمخ ثابت شي او په بده توګه باندې هغه ته دهوکه ورکړي. او دروغ ويلو سره خپل مطلب سر کړي. دا د ټولو نه غټ خيانت دی چې د ګډ په شکل کې شرمخ ثابت شو.

حکايت: ځينې کتابونو کې ليکلي دي چې ځينو مرغانو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د يو ښکاري شکايت وکړو چې دا مونږ ښکار کوي. حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه عدالت ته راوغوختلو، او دهغه نه يې پوښتنه وکړه چې مرغان ستا نه د ښکار کولو شکايت کوي. هغه سړي وويل چې ای د الله نبی! الله تعالى دا مرغان د انسانانو دښکار لپاره پيدا کړيدي، نو زه يې هم ښکار کوم. په دې کې د شکايت څه خبره ده. حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ مرغانو ته وفرمايل چې د دې سړې خبره بيخي صحيح ده. تاسو ولې شکايت کوئ؟ مرغانو جواب ورکړو چې ای د الله نبی! مونږ دا شکايت نه کوؤ بلکې دا د پير په شکل کې په چغه اوقبه کې عابد او زاهد په شکل کې راشي، او وسله د چغې د لاندې پټوي، مونږ دا خيال کوؤ چې دا عبادت لپاره ځي، په دې کې دا وسله په نخه کولو سره مونږ وولي، ته ده ته حکم وکړه چې دا د ښکارې په شکل کې دې راځي، دې لپاره چې مونږ د ځان ساتنې انتظام وکړی شو.

﴿۲۳﴾ وَعَن عمارقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا
او حضرت عمار رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم سړی چې په دنيا کې دوه مخی وي.
كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ» (رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ)(۲)
د قيامت په ورځ به د هغه (په خله کې) د اور دوه ژبې وي.

دايمان سره منافي عملونه

﴿۲۴﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَانِ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (کامل) مؤمن خو نه طعن کونکی وي او نه

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۵۴ رقم الحديث ۴۹۷۱.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۹۱ رقم الحديث ۴۸۷۳، والدارمي في ۲/۴۰۵ رقم الحديث ۲۷۶۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا بِاللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيءِ»(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» .

فحش خبري کونکی وي. نه زبان درازي کونکی. او د بيهقي په روايت کې نه فحش ويونکی زبان دراز الفاظ دي (يعني په دې

وَفِي أُخْرَى لَهُ «وَلَا الْفَاحِشِ الْبَذِيءِ»

روايت کې بذی د فاحش صفت ګرځولی شويدی. چې د دې مطلب دا دی چې هغه سړی کامل مؤمن نشي کيد

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب)[1]

چې هغه د حد نه ډير فحش ويونکی وي ، دغه شان ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی)

توضيح: **المؤمن**: د دينه کامل مؤمن مراد دی. يا د اسلوب حکيم په توګه باندې دا کلام دی چې ددې بدو صفتونو والا خو مؤمن نشي کيدلی. يا دا کلام د سختيا ، رټنې او زورنې دی. يا د دې حلال ګڼونکی مراد دی.

طعانًا: يعنې په خلکو باندې سخت طعن کونکی نوي.دا د مبالغې صيغه ده. کثير الطعن کيدل مراد دی. لعانًا:دا هم دمبالغې صيغه ده. کثير اللعن سړی مراد دی. ولا الفاحش: يعنې فحش وينا کونکی يا د فحاشۍ کار کونکی مؤمن نشي کيدلی. ولا البذی:با باندې فتحه ده. ذال باندې کسره ده. او يا باندې شد دی. فحش وينا کونکې بداخلاق سړې ته ويل کيږي. د فاحش نه وروسته دا بيا راوړلی شو لهذا د تکرار نه د ساتلو لپاره شارحينو بذی په فعلې فحاشۍ کونکې باندې حمل کړی دی.
ملاعلي قاری البذی د الفاحش لپاره عطف تفسير ګرځولی دی. د روايت آخرې برخه د دې تائيد کوي. ځکه چې په دې کې عطف تفسير شته دی. بهرحال دا کارونه د ايمان سره منافې دي. لهٰذا هر مسلمان باندې لازم دي چې د دې نه ځان وساتي.(مرقات: ۸/۵۹۱)

﴿۳۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هغه سړی (کامل) مؤمن نشې کيدلی

لعانًا». وَفِي رِوَايَة: «لاينبغي

چې هغه ډير لعنت کونکی او د لعنت کولو عادتې وي. په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې: مناسب ندي ديو

لِلْمُؤْمِنِ أَن يكون لعانًا»(رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[2]

مؤمن لپاره چې هغه ډير لعنت کونکی وي.

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٤/٣٠٨ رقم الحديث ١٩٧٧،واحمدفي المسند ١/٤٠٥ والبيهقي في شعب الايمان ٤/٢٩٣ رقم الحديث ٥١٤٩

(٢) أخرجه الترمذي في السنن ٤/٣٢٥رقم الحديث ٢٠١٩، واحمدفي المسند٢/٣٦٦.

د لعن طعن او بد دعاء نه ځان ساتل پکار دي

﴿۳۶﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَلَاعَنُوا
او حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خپل مينځ کې نه يو بل لپاره د خداى د
بِلَعْنَةِ اللهِ وَلَا بِغَضَبِ اللهِ وَلَا بِجَهَنَّمَ» . وَفِي رِوَايَةٍ «وَلَا بِالنَّارِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد)[1]
لعنت بد دعاء مکوی، او مه جهنم ته د تللو بد دعاء کوی. په يو روايت کې دا دي چې اور ته د تللو بد دعاء مکوی.

بې ځایه لعنت په لعنت کونکي باندې راستنيږي

﴿۳۷﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ الْعَبْدَ
او حضرت ابو درداء رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې کله يو بنده
إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ
په يو شي يعني يو انسان يا غير انسان باندې لعنت کوي نو هغه لعنت آسمان اړخ ته ځي او د آسمان دروازې
دُونَهَا ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الْأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا
په دې لعنت بندې کړی شي بيا هغه لعنت زمکې اړخ ته راکوزشي نو د زمکې دروازې په هغه باندې بندې کړی
ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالًا فَإِذَا
شي. بيا هغه لعنت ښي او کيڼ (گس) اړخ ته تلل غواړي (خو د دې خوا نه هم ورته رټنه ورکړی شي) نو کله
لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي
چې هغه يو اړخ ته هم لاره بيا نه مومي نو هغه شي ته متوجې شي، په چا باندې چې لعنت کړی شوی دی، تر
لُعِنَ فَإِنْ كَانَتْ لِذَلِكَ أَهْلًا وَإِلَّا رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا » (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]
دې که هغه شی د دې لعنت مستحق وي نو هغه باندې واقع شي، گنې خپل ويونکي باندې راستنيږي.

توضيح: صعدت اللعنة: يعنی د الله تعالى د نظام د لاندې دا لعنت غواړي چې اخوا ديخوا تللو باندې ضائع شي يا چيرته ليرې چا باندې پريوځي، هم د دې مقصد د لاندې دا پاس خيژي، کله چې هلته لاره بيا نه مومي نو زمکې ته په راتگ باندې ښي او کيڼ اړخ ته د وتلو کوښښ کوي، چيرته د ننوتلو کوښښ کوي، کله چې هلته لاره ونه مومي، نو ښي او کيڼ اړخ ته د وتلو کوښښ کوي، کله چې هلته هم څه سوری په لاس

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۱۱ رقم الحديث ۴۹۰۶ والترمذي في ۴/۳۰۸ رقم الحديث ۱۹۷۶، واحمد في المسند ۵/۱۵.

(۲) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۱۱ رقم الحديث ۴۹۰۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

ورنشي نو ستنيدلو باندې په هغه سړي ونخلي چا باندې چې لعنت ليږلی شوی وُ که هغه د دې مستحق وي نو لعنت هم هلته ونخلي ګنې د هغه ځاې نه بيرته راتګ باندې په هغه سړي غورزيږي چا چې بی ځايه او بی موقع لعنت ليږلی وُ. (مرقات: ۸/۵۹۲)

د انسانانو نه علاوه په نورو شيانو باندې هم لعنت کول منع دی

﴿۳۸﴾وَعَن ابنِ عبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا نَازَعَتْهُ الرِّيحُ	او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې (د يوې ورځې واقعه ده چې) د يو سړي څادر په هوا (باد) کې
رِدَاءَهُ فَلَعَنَهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَلْعَنْهَا	والوتلو، نو هغه په باد باندې لعنت وويله، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: باد باندې لعنت مه وايه، ځکه
فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ وَأَنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ	چې هغه خو د حکم تابع ده. او حقيقت دا دی چې څوک په يو داسې شي باندې لعنت وکړي چې هغه د دغه لعنت
رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد)[1]	قابل نوي، نو هغه لعنت په ده باندې راګرځي.

توضيح: فانها مامورة: يعنې باد خو په خپل حکم سره نه چليږي. بلکې د الله تعالی په حکم سره چليږي. انسان لپاره پکار دي چې هغه دا ټول نظام د نظر لاندې وساتي، نه دا چې د زړه تنګيدلو باندې هغه په ظاهري سبب باندې غصه شي، باد خو يو ظاهري سبب دی. اصل حکم خو د الله تعالی د اړخ نه دی. هسې نه چې د الله تعالی په شان کې بی ادبي او ګستاخي وشي. د دې حديث نه دا معلومه شوه چې د انسانانو نه علاوه په نورو شيانو باندې لعنت ليږل هم منع دي. هو! په اجمال سره لعنت ليږلی شي. لکه چې وويلی شي، چې غلو دې د الله تعالی لعنت وي، په شراييانو دې د الله تعالی لعنت وي. قاتلان حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې دې د الله تعالی لعنت وي. (مرقات: ۸/۵۹۳)

د مشرانو مخې ته خپل مينځې عيبونه ښکاره کول مناسب ندي

﴿۳۹﴾وَعَنِ ابنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُبَلِّغُنِي	او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زما په صحابوُ کې يو
أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ	تَن هم ما ته د چا په اړه باندې (داسې) خبره دې نه رارسوي چې په هغې سره د هغه بدې ښکاره کيږي. يعنې زما خواته به

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۲ رقم الحديث ۴۹۰۸ والترمذي في ۴/۳۰۹ رقم الحديث ۱۹۷۸.

شَيْئًا	فَإِنِّي	أُحِبُّ

راتګ سره دې د چا په اړه باندې دا نه وايي چې فلانکي سړي دا بد کار کړیدی با دا بده خبره یې کړیده. او یا هغه په دې بد

أَنْ	أَخْرُجَ	إِلَيْكُمْ	وَأَنَا	سَلِيمُ	الصَّدْرِ»	(رَوَاهُ	أَبُو دَاوُد)[1]

عادت کې اخته دی. ځکه چې دا خوښوم چې کله زه (د کور نه) را وځم او ستاسو خواته راشم نو زما سینه پاکه وي

توضیح: سلیم الصدر مطلب دا دی چې د چا په اړه باندې که چا ته څه عیب معلوم هم وي، بیا هم د هغه تذکره کول پکار ندي. او هسې د اندازې نه عیب لګول خو ډیره بده خبره ده. د انسان په طبیعت کې دا ده: **من یسمع یخل**: یعني انسان چې څه واوري نو هغه ته خامخا څه نا څه خیال راځي. د حدیث مطلب دا شو چې نبی کریم ﷺ خپل صحابه د دې نه منع کړل چې د هغه مخې ته څوک د کوم صحابي په اړه باندې هیڅ هم ونه وايي. ځکه چې په دې سره په زړه کې څه نا څه خیری راځي. او نبی کریم ﷺ وفرمایل چې زه غواړم چې د دې دنیا نه داسې واغستلی شم چې زما زړه د خپل هر یو صحابي لپاره پاک او راضي وي. د دې حدیث نه د صحابو رضي الله عنهم اجمعین د لویې شان اندازه کیږي. او په دې سره امت ته دا ښودنه هم وکړی شوه چې حاکم او مقتدار او د غټو خلکو په مجلس کې د کوم مسلمان چغلي یا غیبت یا بد وینا کول پکار ندي. چې په هغې سره د مشر په زړه کې خیری پیدا کیدلی شي. (مرقات: ۸/۵۹۴)

د چا په بدنې جوړښت کې عیب راویستل هم غیبت دی

﴿۴۰﴾وَعَنْ	عَائِشَةَ قَالَتْ:	قُلْتُ	لِلنَّبِيِّ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:	حَسْبُكَ	صَفِيَّةَ كَذَا

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې ما نبی کریم ﷺ ته وویله چې صفیه کړ نه ستا لپاره دومره کافي ده

وَكَذَا	تَعْنِي	قَصِيرَةً

چې هغه داسې داسې ده. د دې خبرې نه د حضرت عائشه رضي الله عنها مراد د حضرت صفیه رضي الله عنها د قد لنډوالي ذکر کول ؤ.

فَقَالَ:	«لَقَدْ	قُلْتِ	كَلِمَةً

نبی ﷺ زما خبره اوریدلو باندې په ناخوښۍ سره وفرمایل چې تا د خپلې خلې نه یوه داسې

لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرُ لَمَزَجَتْهُ »	(رَوَاهُ	أَحْمد	وَ التِّرْمِذِيّ	وَ	أَبُو دَاوُد)[2]

خبره راویستلې ده که دا په دریاب کې ګډه کړی شي نو بیشکه دا خبره به په هغې باندې غالبه راشي.

---

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۸۳ رقم الحديث ۴۸۶۰ والترمذي ۵/۶۶۷ رقم الحديث ۳۸۹۷، واحمد في المسند ۱/۳۹۶

(2) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۹۲ رقم الحديث ۴۸۷۵، والترمذي في ۴/۵۷۰ رقم الحديث ۲۵۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: من صفية كذا وكذا: يعنې د صفيه د معيوب كيدلو لپاره دا كافي ده چې دهغې قد وركوټى دى. حضرت صفيه رضي الله عنها د خيبر په مال غنيمت كې راغلې وه. نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت صفيه رضي الله عنها آزاده كړه او بيا يې د هغې سره نكاح وكړه. چې هغه ام المؤمنين جوړه شوه. د خيبر د غټ سردار حيى بن اخطب لور وه. او د هارون عليه السلام په اولاد كې وه. حضرت صفيه رضي الله عنها خوراک په پخولو كې ډيره ماهره وه. چې دهغې په وجه باندې نورو ازواج مطهرات سره دا يره وه چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم توجو ټوله هغې اړخ ته وانوړي. په بنو كې دا يو طبعي امر دى. كه بشريت دى نو دا شيان دنظر نه نشي ايستلى كيدلى. حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د يو واقعې امر تذكره د حضرت صفيه رضي الله عنها په اړه باندې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم مخې ته وكړه چې د صفيه رضي الله عنها قد وركوټى دى. دا خبره د غيبت په زمره كې راتلله. ځكه كه هم دا خبره د صفيه رضي الله عنها مخې ته شوې وى، نو هغې به دا ناخوښه كړې وه. او غيبت هم د دې شي نوم دى. نو ځكه نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې تا يوه داسې ترخه كلمه وويله كه دا په سمندر كې واچولى شي نو هغه به په دې سره تريخ شي.

مزج بها البحر: يعنې كه دا كلمه په سمندر كې وركډه كړى شي، او سمند د خوړو اوبو وي، **لمزجته:** يعنې دا خبره به سمندر هم بدل كړي. او هغه به د دې د بد اثراتو د وجې نه تريخ او بدبودار شي. ځينو شارحينو ليكلي دي چې حضرت عائشه رضي الله عنها د كذا وكذا الفاظو سره خپل وليشت اړخ ته اشاره وكړه چې هغه دومره لنډه ده لكه دا وليشت چې دى. (مرقات: ۸/۵۹۴)

فحاشي د بدرنګۍ او حيا د خائست سبب دى

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې په كوم شي كې بدګويي او سخت كلامي
إِلَّا شَانَهُ وَمَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلا زَانَهُ» (رَوَاهُ التِّرمِذِيّ) [1]
وي هغه دې لره بدبودار جوړوي، او په كوم شي كې چې حياء او نرمي وي هغه دې ته ډول او خائست وركوي.

توضيح: الفحش: فحش نه فحاشي او بدې خبرې كول او د بې شرمۍ معنې اخستلى كيدلى شي. او دا شيان په انسان كې عيب پيدا كوي، د دې په مقابله كې نرمي او د حياء خصلتونه دي، چې هغه د انسان د پاره د خائست سبب دى. ځينو شارحينو فحش نه د مزاج سختې مراد كړيده. او د حياء نه يې نرمي مراد كړيده. (مرقات: ۸/۵۹۴)

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۰۷ رقم الحديث ۱۹۷۴، وابن ماجه في ۲/۱۴۰۰ رقم الحديث ۴۱۸۵.

توبه کونکي له ملامته کول سخته ګناه ده

﴿۴۲﴾وَعَنْ خالدِبن معدان عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت خالد بن معدان د حضرت معاذ رضی الله عنه نه نقل کوي چې هغه وفرمايل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي

«مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ

چې کوم سړی خپل (مسلمان) ورور ته د کومې ګناه پيغور کوي. (يعنې که د کوم مسلمان نه کومه ګناه وشي،

لَمْ يَمُتْ حَتّٰى يَعْمَلَهُ»

او څوک هغه ته شرم او غيرت ورکوي، او رټنه او ملامته وربانديې کوي، نو هغه پيغور کونکی به د مرګ

يَعْنِي مِنْ ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

مخکې خپله هم په دغه ګناه کې (په څنا څه توګه بانديې خامخا) اخته شي. د نبی کريم صلی الله علیه وسلم مراد د دې ګناه نه

وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ لِأَنَّ خَالِدًا لَمْ يُدْرِكْ مَعَاذ بن جبل)[1]

هغه ګناه وه چې د کومې نه هغه توبه کړې وه. غريب دی او د دې سند متصل ندی ځکه چې خالد د حضرت معاذ زمانه نده موندلې.

توضيح: حتّٰى يعمله: يعنې يو انسان په انساني تقاضا بانديې يوه ګناه وکړه. او بيا په پوره اخلاص سره د هغه ګناه نه توبه وکړه، خو يو سړی د توبه کولو نه وروسته هم هغه پسې لګيدلی دی او د هغه پخوانۍ ګناه پيغور هغه ته ورکوي، چې په هغې کې د ذليله کولو نه سوا هيڅ فائده نشته. نو داسې سړی به تر هغه وخته پورې نه مړ کيږي تر څو چې خپله په دغه ګناه کې نه وي اخته شوی. مطلب دا چې د توبې نه وروسته په مخکنۍ ګناه بانديې د چا ملامته کول جائز نه دي، که داسې څوک وکړي نو سزا به يې مومي. هو! که دغه ګناهګار توبه ونه کړه او اوس هم په خپله مخکنۍ ګناه کې اخته دی، نو هغه ته پيغور کول او رټنه کول جائز دي. ځکه چې بيا بيا جرم کولو د هغه ناموس تار تار کړيدی. (مرقات: ۸/۵۹۶)

د چا په مصيبت بانديې د خوشحالۍ اظهار کول پکار نه دي

﴿۴۳﴾وَعَنْ وَاثِلَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسلم: «لَا تظهر الشماتة

او حضرت واثله رضی الله عنه فرمايي چې نبی علیه السلام وفرمايل: د خپل مسلمان ورور په تکليف بانديې

لأخيك فَيَرْحَمَهُ الله

دو مره خوشحالي مه ښکاره کوه الله تعالی په هغه بانديې رحمت نازل کړي، او تا لره په دغه تکليف او

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۱ رقم الحديث ۲۵۰۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَبْتَلِيكَ » (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ)[1]

مصیبت کې اخته کړي. ترمذي دا روایت نقل کړیدی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

د چا نقل کول حرام دي

﴿۴۴﴾وَعَن عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أُحِبُّ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبي علیه السلام وفرمایل: زه دا خبره هیڅکله هم نه خوښوم چې زه

أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِي

د چا نقل وکړم، اګر که زما لپاره په هغې کې فلانکی فلانکی شی ولې نه وي. یعنې که څوک ما ته

كَذَا وَ كَذَا » (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ)[2]

بی حسابه مال او دولت او څومره ډیرې روپۍ هم راکړي نو بیا به هم د چا نقل کول خوښ نکړم.

توضيح: حکيت: دا د حکايت نه دی. حکايت نقل کولو ته وايي. مثلاً: د کوم ګوډ نقل کولو باندې ګوډ مزل کول، د کوم کوڼ نقل دې وکړو. لنډه دا چې د چا دناستې پاستې تګ راتګ او خبرو کولو او کتلو نقل کول یې منع ګرځولي دي. لهذا نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمایل که ما ته د نقل کولو په بدله کې ټوله دنيا راکړی شي نو بیا به هم د چا نقل ونکړم. (مرقات: ۸/۵۹۷)

د الله فراخه رحمت محدود کول پکار ندي

﴿۴۵﴾وَعَن جُنْدُبٍ قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَأَنَاخَ رَاحِلَتَهُ

او حضرت جندب رضي الله عنه فرمايي چې (یوه ورځ) یو باندچي سړی (پخپله اوښ باندې سپور مدینې ته) راغلو. او

ثُمَّ عَقَلَهَا ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ

(مسجد نبوی صلى الله عليه وسلم ته نږدې رارسیدلو باندې) هغه خپل اوښ کینولو او د هغې خپې تړلو باندې جومات ته ننوتلو.

فَصَلَّى خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ أَتَى رَاحِلَتَهُ

بیا هغه نبي کريم صلى الله عليه وسلم پسې لمونځ وکړو او د سلام ګرځولو نه وروسته د خپل اوښ خوا ته راغلو. (او هغه لره یې

فَأَطْلَقَهَا ثُمَّ رَكِبَ ثُمَّ نَادَى: اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي

پرانستلو سره) په هغې باندې سپور شو، او بیا هغه په وچت آواز سره داسې وویل چې ای الله ما باندې او په

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۱ رقم الحديث ۲۵۰۶

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷ رقم الحديث ۲۵۰۳، وأحمد في المسند ۶/۱۲۸ .

وَمُحَمَّدًا	وَلَا	تُشْرِكْ	فِي	رَحْمَتِنَا أَحَدًا.

محمّد ﷺ باندې خپل رحمت نازل کړه. او زمونږ په رحمت کې بل څوک مه شریکوه.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

رسول کریم ﷺ (هغه لره په دغه شان دعا غوختلو باندې وليدلو نو صحابوٴ رضي الله عنهم ته یې) وفرمايل

«أَتَقُولُونَ هُوَ أَضَلُّ أَمْ بَعِيرُهُ ؟ أَلَمْ تَسْمَعُوا

چې آيا تاسو پوهیږئ چې دا بانده چې ډیر جاهل دی او که د ده اوښ؟ آيا تاسو وانه وریدل هغه څه چې

إِلَى مَا قَالَ؟» قَالُوا: بَلَى (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ:

ده وویل؟ صحابوٴ عرض وکړو: هو! مونږ واوریدل(ابوداؤد) او د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت

«كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا» فِي «بَابِ الِاعْتِصَامِ» فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ[1]

كفى بالمرء كذبًا باب الاعتصام کې نقل شویدی.

توضیح: اتقولون: دا لفظ د اتظنون په معنې باندې دی. یعنې ستاسو څه خيال دی او تاسو څه ویلی شئ چې دا سړی ډیر جاهل دی او که د ده اوښ ډیر جاهل دی؟ آیا تاسو وانه وریدل هغه چې وس وس کو مه دعا وکړه. واوری هغه د الله تعالی څومره فراخه رحمت محدود کړو بلکې دنورو مسلمانانو په حق کې یې بددعاء (خیري) وکړې چې په بل چا باندې رحم مکوه. فقط مونږ دواړو باندې رحم وکړه. ځینې شارحینو لیکلي چې دا هم هغه بانده چې دی چا چې د جومات په انګړ (صحن) کې واړه بول (تشي متیازې) کړي وي. **فلما سلم**: د دې مطلب دا دی چې کله هغه بیرته تګ کې نبی کریم ﷺ باندې سلام وکړو او لاړو. او دا مطلب هم کیدلی شي چې د لمونځ سلام یې کله وګرځول، او سپرلی ته راغلو نو دا دعا یې وغوختله. (مرقات: ۸/۵۹۸)

الفصل الثالث

د فاسق په ستاینه کولو سره په عرش کې زلزله راځي

﴿۴۶﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ

حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې کله د فاسق مدح او ستاینه کیږي

غَضِبَ الرَّبُّ تَعَالَى

(یعني یو سړی د هغه په حق کې د تعظیم او عزت الفاظ استعمالوي) نو الله تعالی (مدح او ستاینه کونکي باندې) غصه

([1]) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۹۸ رقم الحديث ۴۸۵۸، واحمد في المسند ۲/۳۱۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإيمان»)[1]
کيږي او د ده د مدح او ستاينې له وجې نه عرش وخوزيږي.

توضيح: اذا مدح الفاسق: يعنې کله چې د فاسق فاجر ستاينه شروع شي، نو د الله د غصې له وجې نه عرش وخوزيږي، د عرش دغه شان رپيدل يا خو په حيقيقت باندې بنا ده. چې واقعة په عرش کې زلزله راځي. دا کلام د دې خبرې نه کنايه ده چې د فاسق ستاينه کول دومره لويه ګناه ده چې دهغې تصور هم نشي کيدلی. د دېنه خو يو داسې نازک صورتحال پيدا کيږي، چې ګويا په عرش باندې زلزله راځي، دفاسق ستاينه دومره لويې جرم ځکه دی چې په دې کې د هغه فسمجو او فجور او په هغه باندې ظلم تيرې تائيد او مرسته ده. او يو حرام ګويا حلالولی شي، چې په هغې کې د کفر خطره ده. (مرقات: ۸/۵۹۹)

خيانت او دروغ په هيڅ مسلمان کې نشي کيدلی

﴿۴۷﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ
او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: مسلمان د دروغو او
كُلِّهَا إِلَّا الخيانةَ وَالْكَذِب» [2] (رَوَاهُ أَحمد وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاص)[3]
خيانت نه سوا هر قسم خصلت پيدا کولی شي. (روايت کړې دې مسند احمد او بيهقی په شعب الايمان کې)

توضيح: والكذب: يعنې مسلمان کمزوری، بخيل، شرابې کبابې، او هر قِسم ګناهونو کې اخته کيدلی شي ليکن دوه بد خصلتونه داسې دي چې هغه د هيڅ يو مسلمان د ايمان سره نشي جمع کيدلی. يو د خيانت خصلت دی او دوريم دروغ دي. مطلب دا دی چې د ايمان د روښانه ډيوې سره د دروغو او خيانت توره تياره يو ځای نشي وسيدلی. د کامل مؤمن په رګونو کې ايمان ډک پروت وي. هغه طبعي او پيدائشي توګه باندې د دې خصلتونو نه ليرې وي. د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې فرمان مطلب دا دی چې د دې دوه بدو خصلتونو نه مسلمان لره په خاصه توګه باندې ځان ساتل پکار دي. د دې حديث نه وروسته راتلونکې د حضرت صفوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت کې دا مضمون په ډيره واضحه توګه باندې بيان کړی شويدی. په دې کې فقط د دروغو ذکر دی. (مرقات : ۸/۴۰۰)

---

(1) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۳۰ رقم الحديث ۴۸۸۶.

(2) اخرجه احمد في المسند ۵/۲۵۲.

(3) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۰۷ رقم الحديث ۴۸۰۹.

مسلمان دروغژن نشي کیدلی

﴿۴۸﴾وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سَلِيمٍ أَنَّهُ قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت صفوان بن سلیم رحمه الله فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړی شوه چې
أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا؟ قَالَ: «نعم». فَقِيلَ:
آیا مؤمن بزدله(بې زړه) کیدلی شي.نبی ﷺ وفرمایل: کیدلی شي. بیا د نبی ﷺ نه پوښتنه وشوه
أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا؟ قَالَ: «نَعَمْ».
چې آیا مومن بخیل کیدلی شي؟ نبی ﷺ وفرمایل: کیدلی شي. بیا کله چې د نبی کریم ﷺ نه
فَقِيلَ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا؟ قَالَ: «لَا»
پوښتنه وکړی شوه چې آیا مؤمن دروغژن کیدلی شي؟ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: نا. دا
(رَوَاهُ مَالِكٌ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان» مُرْسلا)[1]
روایت امام مالک او بیهقی په شعب الایمان کې په طریقې د ارسال سره نقل کړیدی.

توضیح: حضرت صفوان بن سلیم زهری رحمه الله د وچت شان والا تابعي دی. څلویښت کاله یې په ناسته ژوند تیر کړو. په زمکه یې اړخ نهٔ لګولی، تر دې چې مرګ ورته هم په ناسته ناسته راغلی. د ډیرو سجدو د وجې نه یې په تندي کې کنده جوړه شوې وه. کله یې هم د باچاهانو ډالۍ قبوله نکړه. د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه ډیر روایتونه کوي. تابعي دی. لهٰذا داذکر شوی حدیث مرسل دی.(مرقات: ۸/۴۰۱)

شیطان په مسلمانانو کې د دروغو حدیثونه خپروي

﴿۴۹﴾ وَعَنِ ابْنِ مسعودٍ قَالَ: "إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَتَمَثَّلُ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ
او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې کله کله داسې هم کیږي چې شیطان د انسان شکل خپلولو باندې د
فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُونَ
انسانانو یوې ډلې ته راشي او هغوی ته د دروغو خبرورسوي، بیا کله چې د دې ډلې خلک اخوا دیخوا
فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ: سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ
خپاره شي نو په دوی کې یو کَس وايي چې ما د یو سړي نه اوریدلي دي. چې د هغه شکل خوزه پیژنم

(١) اخرجه مالک في الموطا ٩٩٠/٢ رقم الحديث ١٩ من كتاب الكلام،واحمد في المسند٢٨٨/٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا	أَدْرِي	مَا	اسْمُهُ	يُحَدِّثُ	"(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]

(که هغه وینم نو پیژندلی یې شم چې دا هم هغه سړی دی) خو د هغه نوم نه پیژنم. هغه به دا خبره بیانوله.

توضیح: بالحدیث من الکذب: د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د دې کلام نه مقصود دا ؤ چې د حدیث په اوریدلو او اورولو کې د ډیر احتیاط ضرورت دی. ترڅو پورې چې د مکمل تحقیق او اطمینان نوي چې دا واقعي حدیث دی. تر هغه وخته پورې د حدیث په حواله سره د غه کلام مخکې نقل کول پکار نه دي. ځکه چې کله کله خپله ابلیس یا د ابلیس په نوم سړی راځي او په غونډه کې د دروغو حدیث پریږدي او لاړ شي. د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چې د وعظ او نصیحت کونکې پیژند نه ضروري ده. دې لپاره چې خلکو ته معلومه شي چې څوک راغلی دی، عالِم راغلی دی یا جاهل دی. انسان دی یا شیطان دی، یا د دې شعر مصداق دی: کسی نمی داند که بھیا کون ہے پاؤ ہے سیر ہے یا پون ہے

ځینې بناغلي خپلو بیانونو لپاره یو څوک راوغواړي، په هغوی باندې ګهنټه ګهنټه بیان وکړي، او دهغه نوم نه اخلي چې عالِم دی او که غیر عالِم دی. هغه یوه ګهنټه سمې کړي خبر وکړي او لاړ شي. دا بناغلي خوشحاله شي چې مونږ نوم اخستلو باندې ځان ښودنه نکوؤ. دهغوی دا طریقه غلطه ده. او په دې کې د فتنې راتلو خطره ده. د ذکر شوې حدیث نه دوې لره عبرت اخستل پکار دي.

د بد ملګرې نه ځانلوالی غوره دی

﴿۵۰﴾وَعَنْ	عِمْرَانَ	بْنِ	حِطَّانَ	قَالَ:	أَتَيْتُ	أَبَا ذَرٍّ

او حضرت عمران بن حطان فرمايي چې (يوه ورځ) زه د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه په خدمت کې حاضر شوم. نو

فَوَجَدْتُهُ	فِي	الْمَسْجِدِ	مُحْتَبِيًا	بِكِسَاءٍ	أَسْوَدَ	وَحْدَهُ.	فَقُلْتُ:	يَا أَبَا ذَرٍّ

هغه مې په جومات کې وموندلو. هغه وخت ده یوه تور کمبل د ځان تاؤ کړي ناست ؤ، ما عرض وکړو چې ابوذر!

مَا هٰذِهِ	الْوَحْدَةُ؟	فَقَالَ:	سَمِعْتُ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ يَقُولُ:

دا يوائې والی دې ولې خپل کړی دی؟ حضرت ابوذر رضی الله عنه جواب راکړو چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي

«الْوَحْدَةُ	خَيْرٌ	مِنْ	جَلِيسِ	السُّوءِ	وَالْجَلِيسُ	الصَّالِحُ	خَيْرٌ	مِنَ الْوَحْدَةِ

دي: د بدو ملګرو سره د ناستې نه ځان لره ناسته غوره ده او د ځان له ناستې نه نیکان ملګرو سره ناسته غوره

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۶۸ رقم الحديث (۴۶-۷۳) واحمد في المسند ۳/۸۹۸ .

وَ إِمْلَاءُ الْخَيْرِ خيرٌ من السكوتِ و السكوتُ خيرٌ من إِملاءِ الشَّرِّ» (۱)

... دغه شان د چپ کيناستلو نه د نيکۍ ښودل غوره دي. او د بدۍ ښودلو نه چپ کيناستل غوره دي.

چپتيا خپلول د شپيته کاله د عبادت نه غوره ده

﴿۵۱﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَقَامُ الرَّجُلِ

او حضرت عمران بن حصين نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: په چپ کيناستلو باندې

بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سنة» (۲)

چې انسان ته کومه درجه ترلاسه کيږي هغه د شپيته کاله د عبادت نه افضل ده.

توضيح: ستين سنة: يعنې په چپتيا سره ځانله ناسته او د الله تعالی د ذکر مراقبه د هغه شپيته کاله د عبادت نه غوره ده چې په هغې کې ډول ډول ډيرې خبرې کيږي. او د ژبې بې احتياطي کيږي. ځينې صوفياء کرامو دا مراقبه او مکاشفه او الله دنيا کې سوچ او فکر او تدبر لپاره چپ ناسته مراد اخستې ده. چې په دې مراقبه کې زړه او مازغو کې انقلاب راشي. لهذا دا د شپيته کاله د عبادت نه افضل دی. بهرحال د حديث دا مطلب هم کيدلی شي، او که مراقبه هم نوي، بيا هم د چپ ناستې نه د ذکر او فکر چپتيا مراد ده. فقط ګنګ چپ پاتې کيدل مراد ندي. (مرقات: ۸/۴۰۲)

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه ته د نبي صلی الله علیه وسلم يو څو نصيحتونه

﴿۵۲﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم،

فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ

دهغې نه وروسته (خپله ابوذر غفاري رضي الله عنه يا د ابوذر نه نقل کونکي راوي) اوږد حديث بيان کړو (چې هغه دلته نقل

إِلَى أَنْ قَالَ : قُلْتُ :

کړی شوی ندی بلکې د هغې دا آخرې جملې نقل کړی شويدي) بيا ابوذر رضي الله عنه بيان وکړو چې ما عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ أَوْصِنِي قَالَ:

يارسول الله صلی الله علیه وسلم! ماته څه نصيحت وکړه. نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: زه تاته تقوی الله يعنې د

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۵۶ رقم الحديث ۴۹۹۳

(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۵۴ رقم الحديث ۴۹۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

«أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ
الله نه د ویریدلو نصیحت کوم. ځکه چې تقوی ستا ټول (دیني او دنیاوي) کارونو او عملونو ته ډیر
أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ» قُلْتُ: زِدْنِي قَالَ:
زیات خائست بخونکی دی. ما عرض وکړو چې ما لپاره څه نور (نصیحت) وکړه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
«عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ
د قرآن تلاوت او د الله ذکر خپل ځان لپاره ضروري وګڼه. ځکه چې د قرآن تلاوت او د الله ذکر به ستا
فَإِنَّهُ ذِكْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ وَنُورٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ» قُلْتُ:
لپاره په آسمانونو کې د ذکر کولو سبب وګرځي. او په زمکه باندې به د رڼا سبب شي. ما عرض وکړو
زِدْنِي. قَالَ: «عَلَيْكَ بِطُولِ
چې زما لپاره څه نور (نصیحت) وکړه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اوږده چپتیا په ځان باندې لازم کړه.
الصَّمْتِ فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ وَعَوْنٌ لَكَ عَلَى أَمْرِ دِينِكَ» قُلْتُ:
ځکه چې چپتیا شیطان لرې زغلوي. او په دیني کارونو کې ستا مرسته کونکې وي ما عرض وکړو: ما ته
زِدْنِي. قَالَ: «إِيَّاكَ والضحك فَإِنَّهُ يُمِيتُ الْقَلْبَ
څه نور (نصیحت) وکړه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د ډیرې خندا نه ځان وساته. ځکه چې ډیره خندا زړه وژني
وَيَذْهَبُ بِنُورِ الْوَجْهِ» قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ:
او د مخ خائست ختموي. ما عرض وکړو چې ما لپاره څه نور (نصیحت) وکړه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا ". قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: «لَا تَخَفْ فِي اللهِ لومة لائم»
د خدای دین او د خدای پیغام ښکاره کولو او د هغې په ملاتړ او تقویت کې د ملامتګر د ملامتیا نه مه ویریږه.
قلت: زِدْنِي. لِيَحْجُزْكَ
ما عرض وکړو چې زما لپاره څه نور (نصیحت) وکړه. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: پکار ده چې هغه شیان
عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَفْسِكَ "[1]
چې تا د خلکو د عیبونو (ښکاره کولو) نه ایسار کړي کوم چې ته د خپل نفس په اړه باندې پیژنې.

---

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۴۲ رقم الحديث ۴۹۴۲.

د چپتیا او د خائسته اخلاقو فضیلت

﴿۵۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى

او حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابوذر! آیا ونه ښایم زه تاته هغه

خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ

دوه خصلتونه کوم چي (د مکلف انسان) په شا باندي یعني د هغه د ژبي د پاسه ډیري سپکي دي. لیکن د

وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ؟» قَالَ: قُلْتُ:

عملونو په تله کي ډیري درندي دي. حضرت ابوذر رضی الله عنه بیان وکړو چي ما (دي او ریدلو سره) عرض وکړو

بَلَى. قَالَ: «طُولُ الصَّمْتِ

چي هو! خامخا وایی. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په معرفت الهی او د قدرت په نظام کي فکر او سوچ کولو لپاره اوږده چپتیا

وَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا

او خائسته اخلاق. قسم دی په هغه پاک ذات باندي چي د هغه د قدرت په قبضه کي زما ځان دی، د

عَمِلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا»[1]

مخلوق لپاره د دي دوه خصلتونو نه غوره کاربل نشته دی.

﴿۵۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِي بَكْرٍ

او حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چي (یوه ورځ) نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خوا باندي

وَهُوَ يَلْعَنُ بَعْضَ رَقِيقِهِ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ

تیریدلو نو (وېکتل چي) هغه په خپل کوم غلام باندي لعنت کولو. نبی صلی الله علیه وسلم هغه ته متوجي شو

فَقَالَ: «لَعَّانِينَ وَصِدِّيقِينَ؟ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ»

او وي فرمایل چي آیا تاسو لعنت کونکی او صدیقین هم لیدلی دی؟ نا! په رب کعبه قسم! دا دواړه خبري په یو سړي کي

فَأَعْتَقَ أَبُو بَكْرٍ يَوْمَئِذٍ بَعْضَ رَقِيقِهِ

هیچري هم نشي جمع کیدلی. نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه په دغه ورځ خپل ځیني غلامان آزاد کړل. او

---

(1) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۴/۲۴۲ رقم الحدیث ۴۹۴۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ:

بيا (د معذرت كولو لپاره) د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړو چې زه به

لَا أَعُودُ. رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْخَمْسَةَ فِي «شعب الإِيمَان»[1]

آينده داسې كار نكوم. حضرت عمران بن حطاب د روايت نه تر دې

د ژبې هلاكول او د حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويره

﴿۵۵﴾ وَعَنْ أَسْلَمَ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ دَخَلَ يَوْمًا على أَبِي بكر الصِّدِّيق رَضِي الله عَنْهُما

او حضرت اسلم فرمايي چې يوه ورځ حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په

وَهُوَ يَجْبِذُ لِسَانَهُ.

خدمت كې حاضر شو نو (وې كتل چې) حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپله ژبه راكاږي.

فَقَالَ عُمَرُ: مَهْ غَفَرَ اللهُ لَكَ.

حضرت عمر (دې كتلو باندې) وويل چې ودرېږه! داسې مكوه. الله تعالى دې تا ته ببښنه وكړي.

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّ هَذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ (رَوَاهُ مَالِكٌ)[2]

حضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې (دا ژبه د دې سزا مستحقه ده چې) دې ځه د هلاكت ځايونو كې غورزولى يم.

شپږ خصلتونه د جنت ضامن دي

﴿۵۶﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:"

او حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تاسو خلك د خپل ځان په اړه

اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ

باندې ما ته د شپږ شيانو ضمانت راكړې يعني په شپږ شيانو باندې د عمل كولو وعده وكړئ نو زه (نجات

أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ: اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ

موندلى شوي او صالحينو سره) ستاسو جنت ته د تللو ضمانت وكړم: ۱: كله خبره كوى، رېښتيا وايي.

---

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۲۹۴ رقم الحديث ۵۱۵۴

(۲) اخرجه مالک في الموطأ ۲/۹۸۸ رقم الحديث ۱۲.

وَأَوْفُوا	إِذَا	وَعَدْتُمْ	وأدوا	إِذَا	ائْتُمِنْتُمْ

۲: وعده کوئ نو پوره کوئ. ۳: تاسو سره امانت کیخوږدلی شي نو امانت ادا کوئ. ۴: د خپلو شرمګاهونو

واحفظوا	فروجكم	وغضوا

ساتنه وکړئ، یعنې د حرام کارۍ نه ځان وساتئ. ۵: خپل نظرونه محفوظ وساتئ یعنې هغه شي ته نظر پوره ته کولو نه ځان وساتئ

أبصاركم	وَ	كفوا	أَيْدِيَكُمْ[1]

چې هغې ته کتل جائز ندي. ۶: په خپلو لاسونو باندې قابو ساتئ یعنې خپل لاسونه د ناحق وهلو او د مکروه او حرام نیولو او د ظلم نه

د ښه خلکو نښانې

﴿۵۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ وَأَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبد الرحمن بن غنم رضي الله عنه او اسماء بنت یزید راویان دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«خِيَارُ	عِبَادِ	اللهِ	الَّذِينَ	إِذَا	رُؤُوا	ذُكِرَ	اللهُ.	وَشِرَارُ

د الله تعالی غوره بندیګان هغه خلک دي چې هغوئ ته په کتلو سره الله رایاد یږي، او د الله بدترینه

عِبَادِ	اللهِ	الْمَشَّاؤُونَ	بِالنَّمِيمَةِ	وَالْمُفَرِّقُونَ

بندیګان هغه دي چې هغوئ په خلکو کې ګرځي چغلي کوي چې هغه د دوستانو په مینځ کې جدایي پیدا کړي،

بَيْنَ	الْأَحِبَّةِ	الْبَاغُونَ	الْبُرَآءَ

او د پاکدامنو خلکو په لمن باندې فساد او د خرابۍ او زناکارۍ ځاځکي وشیندي. یعنې د خدای کوم نیک بندیګان فتنه او فساد، ګناه

الْعَنَتَ »[2]	رَوَاهُمَا أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[3]

او معصیت او د هر عیب نه پاک وي، په هغوئ باندې فتنه فساد او د ګناه لکه د زناکارۍ او داسې نور بهتان ور باندې لګوي.

توضيح: رُؤُوا: یعنې د الله والا هغه خلک وي چې د هغوئ په کتلو سره الله رایادیږي. د چا چې خائسته پر قیدونکي، نوراني او معصوم مخونه وي. چې په هغې باندې د عبادت نښي هر چا ته په نظر راځي. چا څه ښه ویلي دي:

مرد حقانی کی پیشانی کا نور کب چھپا رہتا ہے پیش ذی شعور

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱/۲۵۷ والبيهقي في شعب الايمان ۴/۳۲۰ رقم الحديث ۵۲۵۶.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۴/۲۲۷ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۴۹۴ رقم الحديث ۱۱۱۰۸

(۳) أخرجه أحمد في المسند ۴/۲۲۷ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۴۹۴ رقم الحديث ۱۱۱۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

الباغون: د باغی جمع ده. طلب کونکي ته وايي. د دې اول مفعول البراء دی. او العنت د دې دويم مفعول دی. البراء: د با فتحه سره د بریٔ د معنې مصدر دی. او که په با باندې ضمه وي نو دا د بریٔ جمع ده. يعنې بی ګناه، بری الذمه، او پاک دامن او پاک سړې ته ويلی کيږي. العنت: فساد او فتنه او مصيبت او مشقت په معنې دی. يعنې بی ګناه خلکو باندې بهتان تړل، هغوی لره په فساد، ازميښتونو او مشقتونو کې اخته کول، او هغوی لره تنګول د بدترين خلکو نښاني ده. (مرقات: ۸/۴۰۸)

غيبت کولو سره د روژې ثواب ختميږي

﴿۵۸﴾ وَعَن ابنِ عبَّاسٍ أَنَّ رَجُلَيْنِ صَلَّيَا
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمايي چې (يو ورځ) دوه کسانو چې هغه روژه دار وُ (نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ
صَلَاةَ الظُّهرِ أَوِ العَصرِ وَكَانَا صَائِمَيْنِ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ قَالَ:
پسې د غرمې يا د مازيګر) لمونځ وکړو. نو (دې دواړو ته يې) وفرمايل چې تاسو دواړه بيا
«أَعِيدَا وُضُوءَكُمَا وَصَلَاتَكُمَا وامضِيا فِي صومكما
اودس وکړئ، خپل دا لمونځ بيا راوګرځوئ، او خپله دا روژه پوره کړئ او د دې په بدله کې احتياطًا په
واقضيا يَوْمًا آخَرَ» قَالَا: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟
دويمه ورځ روژه ونيسئ. دې دواړو (دې اوريدلو سره) عرض وکړو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ! دا سې ولې؟ يعنې دا اودس
قَالَ: «اغتبتم فلانا»[1]
او لمونځ او د روژې بيرته راګرځولو حکم په څه سبب سره دی؟ نبی عَلَيهِ السَّلَام وفرمايل: ځکه چې تاسو د فلانکي سړي غيبت وکړو.

توضيح: اعيدا وضوئکما: د تثنيه لپاره د جمع صيغه په عربې کې استعماليږي. دلته هم دا سې شويدي. دوه کسانو لپاره د جمع صيغې راوړلی شوه. او په يو روايت کې اعيدا تثنيه هم ده. دا کلام په زجر او توبيخ او په سخت ممانعت باندې محمول دی. ځکه چې په علماؤ کې چا هم دا فتوی نده ورکړي، چې په غيبت سره اودس ماتيږي. هو! په غيبت سره د روژې ثواب کميږي. او دغه شان د اودس ثواب باندې اثر کيږي. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ دغه نقصان پوراکولو لپاره حکم ورکړو چې د سر نه اودسونه وکړی. دغه شان په دې حکم سره نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د غيبت سختوالی او قباحت بيانول وغوختل. اګرچې سفيان ثوری رحمه الله فرمايي چې په غيبت سره روژه ماتيږي. خو ملا علی قاری رحمه الله مرقات کې ليکي چې دا

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۰۳ رقم الحديث ۶۷۲۹.

حکم د خواصو لپاره دی او دا تقوی او فتوی د خواصو لپاره ده. دا د عوامو په احکامو کې نده. ملاعلی قاري رحمه الله دا هم لیکي که روژه نفلي وه نو په دې سره مقصود فقط ثواب دی، کله چې ثواب ختم شو نو روژه هم لاړه او د سرې په غاړه کې ګناه پاتې شوه. (مرقات: ۸/۴۰۹)

غیبت د زنا نه بدتره ګناه ده

﴿۵۹﴾ وَعَنْ أَبِي سعيدٍ وجابرٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت ابوسعید رضی الله عنه او حضرت جابر رضی الله عنه دواړه بیان کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«الْغِيبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ الْغِيبَةُ
غیبت کول، د زنا کولو نه سخته بدي ده. صحابؤ (دې اوریدلو باندې) عرض وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! غیبت د
أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا؟ قَالَ: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِي فَيَتُوبُ
زنا نه سخته بدي څنګه ده؟ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل (په دې توګه چې) کله سړی زنا کوي نو توبه کوي،
فَيَتُوبُ اللهُ عَلَيْهِ» وَفِي رِوَايَةٍ: «فَيَتُوبُ فَيَغْفِرُ اللهُ لَهُ
او الله تعالی د هغه توبه قبلوي، او په یو روایت کې دا الفاظ دي چې کله هغه توبه کوي، نو الله تعالی هغه ته بښنه کوي،
وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يغفِرَها لَهُ صَاحبه»[1]
لیکن غیبت کونکو ته الله تعالی بښنه نکوي، ترڅو پورې چې هغه کس دا معاف نکړي، د چا چې ده
وَفِي رِوَايَةِ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «صَاحِبُ الزِّنَا يَتُوبُ
غیبت کړیدی. او د حضرت انس رضی الله عنه په روایت کې دا الفاظ دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زنا
وَصَاحِبُ الْغِيبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ» رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)[2]
کونکې توبه کوي، او د غیبت کونکي لپاره توبه نشته دی. (بیهقی فی شعب الایمان)

توضیح: لایغفرله: ظالم باچا، متعدی بدعتي او د فاسق مجاهر غیبت ځکه جائز دی، دې لپاره چې خلک د هغه د ظلم او فتنې او فساد نه خبر وساتلی شي خو د دې لپاره شرط دا دی چې د غیبت کونکي نیت خالص وي، د غه شان هغه دومره بااثره وي چې د هغه په غیبت کولو سره عامو مسلمانانو ته فائده رسیږي، که داسې نه وي نو فضول غیبت فضول دی. زجاجة المصابیح یعنې مشکوة حنفی کې یې

(۱) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۵/۳۰۶ رقم الحدیث ۶۷۴۱

(۲) اخرجه البیهقي في شعب الیمان ۵/۳۰۶ رقم الحدیث ۶۷۴۲

Maktaba Tul Ishaat.com

ليکلي دي چې غيبت هغه وخت په حقوق العباد کې داخل شي چې مُغتاب سړي ته د دې خبر وشي. که اطلاع ونشوه نو غيبت په حقوق الله کې دی. د دې فائده او ثمره به دا راوځي چې تر څو پورې غيبت حقوق الله کې وي، نو فقط استغفار او توبې سره معاف کيږي، خو کله چې په حقوق العباد کې شامل شي نو اوس د مغتاب سړي معاف کول ضروري شول، خپله په توبې سره نه معاف کيږي. هم دا معنی د لايغفر له ده. د دې باب په ابتداء کې د غيبت سره متعلق په ټولو بحثونو باندې کلام وکړی شو. يو نظر دې هغه وکتلی شي. **ليس له توبة:** د دې جملې دوه مطلبه دي: اول مطلب دا چې سړی غيبت معمولې شی گڼي نو د غيبت توبه نشته. دويم مطلب دا چې د توبې قبوليت او د هغې د صحت مدار د مغتاب سړي په معاف کولو باندې موقوف دی لهذا دا ويل صحيح دي چې د غيبت لپاره توبه نشته. يعني مستقل توبه نده چې هغه د غيبت کونکي په اختيار کې وي او کله چې توبه نشته نو مغفرت هم نشته. (مرقات: ۸/۴۱۰)

د غيبت کفاره

﴿۶۰﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيبَةِ				
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د غيبت کفاره دا ده چې تاسو				
أَنْ	تَسْتَغْفِرَ	لِمَنِ	اغْتَبْتَهُ	تَقُولُ:
د هغه سړي د مغفرت او بخښنې دعا وغواړې، د چا چې تا غيبت کړی دی. او داسې دعا وغواړه چې				
اللَّهُمَّ	اغْفِرْ	لَنَا	وَلَهُ	«رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي»
ای الله مونږ ته او د غه سړي (چې د چا ما غيبت کړی دی) بښنه وکړي. دا روايت بيهقي (پخپل کتاب)				
الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ" وَقَالَ: فِي هَذَا الْإِسْنَادِ ضعف»[1]				
دعوات کبير کې نقل کړيدی او ويلې يې دي چې د دې په سند کې ضعف دی.				

توضيح: كفارة الغيبة: په دې حديث کې د غيبت کونکي سړي د غيبت کفاره ويلی شوې ده. چې هغه د مغتاب لپاره مستقل استغفار دې جاري وساتي. په دې کې د غيبت کونکي څومره سپکاوی دی چې د چا نه هغه نفرت کوي، او د هغه په غيبت کې اخته ؤ، بلکې د هغه بد ويل او غيبت کولو کې ده ته خوند محسوسيدلو، اوس دا مجبور ولی شي چې د مُغتاب لپاره بښنه وغواړه او د هغوی لپاره دعاگانې وغواړه. په دې حديث باندې د هر عقل مند سترگې کهلاويدل پکار دي. چې هغه نن داسې فعل ولې کوي. او داسې کلام ولې خپلوي، چې د هغې معذرت او معافي غوختلو لپاره په پوزه راخکل وي او ذلت زغمل کيږي. (مرقات: ۸/۴۱۰)

---

(۱) اخرجه البيهقي في الدعوات الكبير.

۷ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

باب الوعد

دوعده کولو بیان

قَالَ اللهُ تعالیٰ ﴿وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلًا﴾ (بني اسرائیل : ۳۴)

وعد، یعد عدة ضرب یضرب نه دی. د عده کولو په معنې دی. یعنې چا ته دا ویل چې زه به ستا خواته فلانکې وخت له راځم، ستا فلانکی کار به کوم یا تا ته به فلانکی شی درکوم، دا وعده ده. د وعدې لفظ چې کله مطلق شي نو دا د خیر وعدو لپاره استعمالیږي.او د وعید لفظ د شر لپاره استعمالیږي. او که لفظ دو عده د خیر یا شر سره مقیّد کړی شي نو په دې کې د خیر او شر دواړو معنې راتلی شي. لکه : وعدته خیرا وعدته شرًا. په قرآن عظیم کې الله تعالی بیابیا د وعدو د پوره والې حکم کړی دی.لکه: ﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ﴾ (مائده) دویم په دې توګه دی: ﴿وَاِبْرٰهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰی﴾ دریم آیت دی: ﴿وَكَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِیًّا﴾(انبیاء)

د وعدې پوره کول د انساني معیار او انساني اخلاقو او آدابو لپاره بنیادي کاڼی دی. وعده خلافې کونکی سړی چې څنګه د شریعت د نظرونو او رحمتونو نه پریوځي، دغه شان هغه د معاشرې د خلکو د نظرونو نه هم پریوځي.او د هغه نه څه معیار پاتې کیږي او نه څه اعتبار پاتې کیږي. د شرعې عذر نه بغیر د وعدې خلاف کول مکروه تحریمې دي. امام ابوحنیفه، امام شافعي، او امام احمد بن حنبل او جمهور فقهاء په نزد اګرچې د وعدې پوره کول د مستحب په مرتبه کې دي، لیکن د ځینو نورو فقهاؤ په نزد باندې د وعدې پوره واجب دي. د قران او حدیث تاکیدونو او وعیدونو ته په کتلو سره هم دا راجحه معلومیږي چې وعده پوره کول واجب دي. ځکه چې وعده خلافې کول د منافقانو خاص نښه ده. دغه شان د عمر بن عبدالعزیز په نزد باندې هم د وعدې پوره کول واجب دي. وس دوعدې لپاره قانون دا جوړ شو که یو سړی وعده وکړي او پوره کو ښښ کوي چې دا پوره کړي خو د مجبورۍ له وجې نه یې هغه پوره نکړی شوه، نو هغه سړی به د قرآن او حدیث په وعید کې نه راځي. د احادیثو دا وعیدونه هغه سړې ته متوجې دي، چې هغه د عدو په کولو سره د وعده خلافې نیت لري. او هغه نه پوره کوي. او دوستانو ته وایې چې زه دا تیرباسم، نو دا د مسلمان کار ندی.

الفصل الاول

جانشین لره د خپل مخکنې مشر وعده پوره کول پکار دي

﴿۱﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَمَّا مَاتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَاءَ
حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله د دې دنیا نه تشریف یوړو او (خلیفه اول)

Maktaba Tul Ishaat.com

أَبُو بَكْرٍ مَالٌ مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ. فَقَالَ أَبُو بكر:

حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته د علاء بن الحضرمي د خوا نه څه مال راغلی. نو حضرت ابوبكر رضي الله عنه وفرمايل

من كَانَ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ أَوْ كَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ

چې د چا په نبی كريم صلی الله علیه وسلم باندې قرض وي يا چا سره نبی كريم صلی الله علیه وسلم د څه (وركولو) وعده كړې وي

فَلْيَأْتِنَا. قَالَ جَابِرٌ: فَقُلْتُ:

نو هغه ته پكار دي چې زما خواته راشي. حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي: چې (دې اوريدلو سره) ما وويل چې

وَعَدَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْطِيَنِي هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا. فَبَسَطَ

نبی صلی الله علیه وسلم دومره او دومره او دومره د راكولو وعده كړې وه. (دې ويلو سره) حضرت جابر رضي الله عنه

يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. قَالَ جَابِرٌ: فَحَثَا لِي

خپل دواړه لاسونه دري ځل برسيره كړل. حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې ابوبكر صديق رضي الله عنه يو ځل خپل دواړه (لاسونه)

حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُمِائَةٍ

ډک ماته (نغد مال) راكړل. ما هغه وشميرلې، نو هغه په تعداد كې پنځه سوه درهمه وي. بيا هغه

وَقَالَ: خُذْ مِثْلَيْهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

وفرمايل چې هم دغه شان دوه ځل نور واخله.

توضيح: قبله عدة: قاف باندې زير دی او لام باندې فتحه ده. عده په معنی دی. يعني نبی كريم صلی الله علیه وسلم د هغه سره څه وعده كړې وي، يا د كوم سړي په نبی كريم صلی الله علیه وسلم باندې قرض وي، هغه دې زما خواته راشي، زه به يې ادا كړم، له دې حديث نه معلومه شوه چې كوم سړی د چا خليفه يا جانشين جوړ شي، نو هغه لره پكار دي چې هغه د خپل مشر وعدې او قرضونه پوره كړي، دا مستحب دي. كه هغه جانشين وارث وي يا وارث نه وي، صديق اكبر رضي الله عنه وارث نه ؤ. خو د نبی كريم صلی الله علیه وسلم جانشين ؤ. خو ده د نبی كريم صلی الله علیه وسلم د وعدو پوره كولو ذمه وارې واخستله.

هكذا: د لپو ډكولو ته اشاره ده. **فحثى: حثية:** هم دې لپو ډكولو ته وايي. يعني ابوبكر رضي الله عنه دواړه لاسونه ډكولو سره درهم راكړل. كله چې ما وشمارل نو په هغې كې پنځه سوه درهمې وي. حضرت ابوبكر رضي الله عنه وفرمايل چې د دې دوه مثله نور هم واخله. دې لپاره چې درې لپې پوره شي. او د نبی كريم صلی الله علیه وسلم وعده پوره شي. گويا

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۶۸ رقم الحديث ۳۱۶۴، ومسلم في ۴/۱۸۸ رقم الحديث (۲۳۱۴-۶۰)

حضرت جابر رضي الله عنه ته پنځلس سوه (١۵٠٠) درهم ورکړی شوي. او هم د دې وعده وه. (مرقات: ٨/۶١٣)

الفصل الثاني

﴿٢﴾عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابو جحیفه رضي الله عنه فرمايي چې ما رسول کریم صلی الله علیه وسلم په دې حال کې وکتلو چې د نبي صلی الله علیه وسلم
أَبْيَضَ قَدْ شَابَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ
رنګ (سوروالي ته مائل) سپین ؤ. او په نبي صلی الله علیه وسلم باندې بوډا والي ښکاره شوی ؤ. او حضرت حسن بن علي رضي الله عنه
يُشْبِهُهُ وَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ قَلُوصًا
د نبي علیه السلام سره ډېر مشابه ؤ. نبي علیه السلام زمونږ دلې ته د دیارلس ځواني اوښې راکولو وعده کړې وه.
فَذَهَبْنَا نَقْبِضُهَا فَأَتَانَا مَوْتُهُ
مونږ دغه اوښې اغستلو لپاره لاړو. نو په دغه وخت کې مونږ ته د نبي علیه السلام د وفات خبر راورسیدلو.
فَلَمْ يُعْطُونَا شَيْئًا. فَلَمَّا قَامَ أَبُو بَكْرٍ
او مونږ ته هیڅ هم رانکړی شول. بیا کله چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه (خلیفه اول وټاکلی شو او خطبه کولو لپاره) ودریدلو
قَالَ: مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ
نو وې فرمایل چې کوم سړي سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم د څه ورکولو وعده کړې وي، هغه له پکار دي چې
فَلْيَجِئْ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ
هغه زمونږ خواته راشي. زه د هغه مخې ته ودریدلم او هغه ته مې د دې په اړه ووېل، نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه
فَأَمَرَ لَنَا بِهَا (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[1]
مونږ ته د دیارلس اوښو راکولو حکم وکړو. (ترمذي)

توضیح: ابیض شاب: یعنې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم رنګ د سوروالي سره سپین ؤ. د شاب مطلب دا دی چې نبي صلی الله علیه وسلم ډېر عمر والا ؤ، دا مطلب ندی چې د نبي صلی الله علیه وسلم په ایښتانو باندې سپین والی غالب ؤ. ځکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سر او ږیره مبارکه کې د شل ایښتانو نه ډېر سپین نه ؤ. د نبي صلی الله علیه وسلم د روښانه مخ په اړه باندې د نبي صلی الله علیه وسلم تره ابو طالب په یوه اوږده قصیده کې دا شعر هم ویلی دی:

وابیض یستسقی الغمام بوجهه ثمال الیتمٰی عصمة للارامل

بهر حال د دې حدیث او د مخکنې حدیث نه دا خبره ثابته شوه چې د مړي وارث یا د هغې خلیفه او

(١) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۴ رقم الحديث ٣۵۴۴ ومسلم في ۴/١٨٢٢ رقم الحديث (٢٣٤٣-١٠٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

وصي لپاره مستحب دي، چې مړي وعده پوره کړي، او دهغه په ذمه چې کوم قرض دی، هغه ادا کړي، ځکه چې وعده هم قرض او دین کې شامل ده. (مرقات: ۸/۶۱۳)

دوعدې پوره کولو اوچت مثال

﴿۳﴾ وَعَن عبدِ اللهِ بن أبي الحَسماءِ قَالَ: بَايَعتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَبلَ أَن يُبعَثَ
او حضرت عبد الله بن ابو حسماء رضي الله عنه فرمايي چې د نبی کريم صلی الله علیه وسلم د نبی کيدلو نه مخکې (يو ځل)
وَبَقِيَت لَهُ بَقِيَّةٌ فَوَعَدتُهُ
ما د نبی صلی الله علیه وسلم نه (څه شی) واخستلو او د هغې د څه برخې پیسې ورکول په ما باندې پاتې شوه، او ما وعده وکړه
أَن آتِيَهُ بِهَا فِي مَكَانِهِ
چې زه به پاتې قیمت په دې ځای (کوم ځای کې چې نبی صلی الله علیه وسلم ناست و، یا کوم ځای کې چې ما هغه شی اخستلی و)
فَنَسِيتُ فَذَكَرتُ بَعدَ ثَلَاثٍ
ستا په خدمت کې به حاضر شم. لیکن زما نه هغه وعده هیره شوه. او بیا په دریمه ورځ هغه خبره را یاده شوه. (چې
فَإِذَا هُوَ فِي مَكَانِهِ
ما د نبی صلی الله علیه وسلم سره وعده کړې وه. نو هله ما هغه پاتې قیمت واخستلو او د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کې
فَقَالَ: «لَقَد شَقَقتَ
حاضر شوم نو ومې کتل چې) نبی صلی الله علیه وسلم هم هغه ځای کې ناست دی او (ماته په کتلو سره یې) وفرمایل
عَلَيَّ أَنَا هٰهُنَا مُنذُ ثَلَاثٍ أَنتَظِرُكَ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
چې تا زه په ډیر زحمت کې اخته کړم. زه د درې ورځو نه په دې ځای کې (ناست) ستا انتظار کوم. (ابوداود)

توضیح: **بايعت**: دهغه سره مې اخستل خرڅولو بيع مراد ده. اصطلاحي بيعت مراد ندی. د صحابي د کلام مطلب دادی چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره دهغه څه معامله وشوه او هغه سړي باندې د نبي علیه الصلاة والسلام څه روپۍ ورکول پاتې و. هغه نبی کريم صلی الله علیه وسلم ته وويل چې ته هم دلته کينه، زه پيسې راوړم. د هغه سړي وينا ده چې زه لاړم او درې ورځو پورې زما نه خبره هيره وه. په دريمه ورځ رايادة شوه. نو زه هغه ځای ته راغلم، چې ومې کتل نبی کريم صلی الله علیه وسلم هغه ځای کې ناست دی. نبی کريم صلی الله علیه وسلم د وعده پوره کولو لپاره ناست و. د دې لپاره نه چې خپلو پيسو ته ناست و. ياده دې وي چې دا واقعه د نبوت ورکړل کيدو نه مخکښې ده. قبل ان يبعث: مطلب هم دا دی.

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۶۸ رقم الحديث ۴۹۹۶.

په وعدې پوره کولو کې شرعي عذر راتلل

﴿۴﴾وَعَنْ زيد بن أَرقم عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې
«إِذَا وَعَدَ الرَّجُلُ أَخَاهُ وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَفِيَ لَهُ
کله یو سړی د خپل ورور سره څه وعده وکړي او د هغې وعده د پوره کولو کلکه اراده لري خو (د څه عذر په وجه باندې) دغه
فَلَمْ يَفِ وَلَمْ يَجِئْ لِلْمِيعَادِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ)[1]
وعده پوره نکړی شي، او د وعدې په وخت باندې پوره راتګ ونکړي نو ګناه به نوي. (روه ابوداؤ والترمذيْ)

توضیح: فلا اثم علیه: د دې حدیث نه علماؤ دا مسئله راویستلي ده که شرعي یا عرفي عذر پیښ شي نو د دېنه وروسته وعده پوره کول واجب نه دي. دغه شان د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چې وعده پوره کول د مکارم اخلاقو نه دي. څه واجب شرعي نه ده او وعده خلافي کول مکروه تحریمي ده .لیکن د اکثر علماؤ په نزد باندې وعده پوره کول واجب شرعي ده. بغیر د عذر نه وعده خلافي کول حرام دي. د احادیثو په رڼا کې هم دغه راجح معلومیږي هو! که د وعدې سره سړی انشاءالله ووایي نو بیا آزاد دی، د وعدې پابند ندی. (مرقات: ۸/۶۱۵)

الفصل الثالث

د ماشوم سره کړې وعده هم پوره کول ضروري دي

﴿۵﴾وَعَنْ عبدِ الله بن عامرٍ قَالَ:
او حضرت عبد الله بن عامر فرمایي چې یوه ورځ زما مور زه خپلې خواته راوغوختلم او وې ویل چې: دلته
دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا
راشه زه به تا ته (یو داسې څه) درکړم. دغه وخت رسول کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ په کور کې ناست ؤ، (کله
فَقَالَتْ: هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ. فَقَالَ لَهَا رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيهِ؟»
چې زما مور ما ته وویل نو) نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته دې ته د څه شي ورکولو اراده لرې؟
قَالَتْ: أَرَدْتُ أَنْ أُعْطِيَهُ تَمْرًا. فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
هغه وویل چې ما دېته یو کهجورې دانه ورکول غوختل. رسول کریم صلی الله علیه وسلم (دې اوریدلو سره) وفرمایل

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۶۸ رقم الحديث ۴۹۹۵ والترمذي في السنن ۵/۲۱ رقم الحديث ۲۶۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

«أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِيهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كَذِبَةٌ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)(١)
چې یاد ساتې کهٔ تا دې تهٔ څهٔ نهٔ وی ورکړي نو ستا په عمل نامه کې به یو دروغ لیکلی شوی وی. (ابوداؤد، بیهقی)

توضیح: کذبة: یعنې دې ماشوم ته د څه ورکولو په وعده باندې راغوختلو نه وروسته که دې څه نه وی ورکړي نو د یو دروغ ګناه به لیکلی شوی وی. دا واقعه د عبدالله بن عامر د ماشوموالي ده. د مور پلار وغیره اکثر دا عادت وي چې د ماشوم سره مینه کولو یا د هغه د نیولو په غرض سره هغه راوغواړي او ورته وایې راشه بچیه څه درکړم، ماشوم چې کله راشي نو راغوختونکی هیڅ نه ورکوي، او دا عمل لږ ګڼلو باندې یې د نظر نه ګوزار کړي. حالانکې په دې موجوده حدیث کې دغه وعده ګرځولی شویده. او هغه ته د وعدې مطابق څه ورکول پکار دي. ګنې دا به دروغ جوړ شي. او د دروغو ګناه به د دغه سړي په عمل نامه کې ولیکلی شي. (مرقات: ۸/۶۱۶)

سړی ترکومې پورې د وعدې پابند وي؟

﴿٦﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ
حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل که یو سړی د چا سره د (چیرته
وَعَدَ رَجُلًا فَلَمْ يَأْتِ أَحَدُهُمَا إِلَى وَقْتِ الصَّلَاةِ
د ملاقات) وعده وکړي او په دې دواړو کې یو ګس د لمونځ تروخته پورې هلته راونه رسیږي او هغه سړی
وَذَهَبَ الَّذِي جَاءَ لِيُصَلِّيَ فَلَا إِثْمَ عليهِ» (رَوَاهُ رَزِينٌ)(٢)
د لمونځ کولو لپاره لاړ شي، څوک چې هلته راغلی ؤ، نو هغه ګناهګار ندی. (روایت کړې دې رزین)

توضیح: اذا وعد: مثلاً دوه کسانو کوم ځای ته د رسیدلو او د ملاقات وعده د یو بل سره وکړه. یو سړی ورسیدلو. دویم ندی رسیدلی، نو دا سړې حقیقي عذر پیښیدو پورې دې انتظار وکړي مثلاً د لمونځ وخت شو، یا د قضاء حاجت تقاضا ده یا د خوراک څکاک یا د علاج ضرورت پیښ شو، نو وس دا سړی د نور انتظار کولو پابند ندی. شرعي عذر یا عرفي عذر پیښیدلو نه وروسته د عدې پوره کول واجب نه پاتې کیږي. د جمهور فقهاؤ په نزد باندې وعده پوره کول مستحب دي او وعده خلافي کول سخت مکروه دي. خو د ځینو نورو علماؤ قول دی چې د وعدې پوره کول واجب دي. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله هم دا فتوی ده. قرآن او حدیث نه هم دا راجحه معلومیږي. (مرقات ۸/۶۱۷).

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۶۵ رقم الحديث ۴۹۹۱ واحمد في المسند ۳/۴۴۷.

(٢) اخرجه رواه رزين.

باب المزاح

د خوش طبعۍ بيان

مزاح خوش طبعی ته ویلی کیږي، د ټوقو او خندا په معنی دی. د مزاح په میم باندې کسره او ضمه دواړه جائز دي. مزاح او ټوقه تر هغه وخته پورې خوش طبعي ده ترڅو پورې چې د چا زړه ماتول او تکلیف رسول نه وي . کله چې د تکلیف رسولو نوبت راشي نو بیا مزاح خوش طبعي نه ده بلکې بد طبعي ده، چې دا ناجائز ده. هغه مزاح چې هغه د حد نه وانه وړي؛ بلکې په حدودو کې دننه وي، او کله کله وي، په دې کې د اخلاقو خبري وي. نو دا یوائې مباح نه ده بلکې د ښه مزاج، خوشحالۍ او طبیعت د سلامتۍ نښه ده. د نبی اکرم ﷺ د مزاح مقصد به هم د مخاطب زړه ساتنه، وخت خوشحاله تیرول او مینه محبت او الفت او خوشحالۍ جذبې راپیدا رول او مضبوطول ؤ. ځکه چې انسان د انس نه جوړ دی. شاعر ویلی دي:

وماسمي الإنسان إلا لأنسه ولا القلب إلا أنه يتقلب

که په ټوقه کولو کې د خلکو سپکاوی مقصود وي. او د شریعت سپکاوی او د مکروه کارونو کول وي او په دې کې فتنه او فساد او جګړو بنیاد وي او په دې د زړه کلکوالی او باطنې بدبختۍ اسباب وي نو داسې ټوقه ناجائز ده. هم دا وجه ده چې په یو حدیث کې د مزاح نه منع کړی شویده . ارشاد دی: **لاتمار اخاك ولاتمازحه**: یعنې د خپل ورور سره جګړه مکوه او مه ورپورې ټوقې کوه. (مرقات: ۸/۶۱۷)

الفصل الاول

د نبی کریم ﷺ خوش طبعي

﴿۱﴾ عَن أَنس قَالَ: إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتَّى
حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ به زمونږ سره ګډون او خوش طبعي کوله. تردې
يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: «يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟»
چې زما ورکوټي ورور ته (د ټوقې په انداز) وفرمایل: ابو عمیر! نغیر چیرته لاړو؟ (حضرت انس رضی الله عنه فرمایي)
كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
زما د دې د ورکوټي ورور سره یو نغیرؤ، چې د هغې سره به یې لوبې کولې او هغه مړ شوی ؤ. (بخاری ومسلم)

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۸۲ رقم الحديث ۶۲۰۳ ومسلم في ۳/۱۶۹۲ رقم الحديث (۲۱۵۰-۳۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: یاأباعمیر: داورکوټی ماشوم نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابوعمر کنیت سره یاد کړو. د دې ماشوم نوم کبشه ؤ، د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ میرنی ورور ؤ، ده یوه وړه مرغۍ ساتلې وه. چې دهغې نوم نغیر ؤ. دا د چڼچڼې په شان وړه مرغه وه. دیته په هندې کې لال وایي. د دې سرا و مکوخه سره وي. ځینو علماؤ دېته بلبله ویلي ده. کله چې دا مارغه مړ شونو نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ماشوم د زړه ساتنې لپاره دټوقې په توګه وفرمایل: ابوعمیر نغیر مارغه څه وکړل؟ په دې جملې سره د دې ماشوم تسلې او خوش طبعې مقصود وه. علماؤ د دې حدیث نه د ډیرو مسائلو استنباط کړی دی. یو خو دا خبره معلومه شوه چې ورکوټی ماشوم د کنیت سره یادولی شي. دویم دا ثابته شوه چې ټوقه کول جائز دي. دریم دا معلومه شوه چې معمولې تکلیف رسیدلو باندې هم تعزیت کول جائز دي. څلورم دا چې په مدینه منوره کې ښکار کول او ساتل جائز دي. پنځم دا مسئله معلومه شوه چې په عامه توګه باندې په پنجرو کې د مارغانو ساتل او پالنا او دهغې سره لوبې کول جائز دي. په دې شرط سره چې دهغې ښه ساتنه وشي. (مرقات: ۸/۶۱۸)

الفصل الثالث

د نبی اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مذاق به په ریښتیاؤ باندې بناؤ

﴿۲﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا.
حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې (یوه ورځ) صحابؤ عرض وکړو یا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته زمونږ سره
قَالَ: « إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا » (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[1]
خوش طبعې کوې. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (هو لیکن په دې خوش طبع کې هم) زه ریښتیا خبره کوم

توضیح: تداعبنا: دا د مداعبه نه جوړ دی. مطلب دا دی چې صحابؤ پوښتنه وکړه چې یارسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم زمونږ سره د خوش طبعې په توګه باندې مذاق کوې؟ نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب وفرمایلو چې هو! زه هم مزاح کوم لیکن زما مزاح همیشه ریښتیا وي. زه دا سې احتیاط او حدبندۍ سره مزاح کوم چې هغه بل څوک نشې کولی. صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دا سوال د تعجب په توګه باندې ځکه وکړو چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډیرې خندا او مذاق نه صحابه کرام منع کړي ؤ. دغه شان په راتلونکې حدیث کې دتمازحه الفاظ هم دي. چې دخپل ورور سره مذاق مکوه. د دې شیانو ته په کتلو باندې صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې یارسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ته زمونږ سره مذاق کوې؟ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مزاح اباحت اړخ ته اشاره وکړه. (مرقات: ۸/۶۲۰)

د نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو او خوش طبعې یو څو واقعات

﴿۳﴾وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې (یوه ورځ) یو سړي د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د سپرلۍ یو څاروی وغوختلو.

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۱۴ رقم الحديث ۱۹۹۰، وأحمد في المسند ۲/۳۴۰.

فَقَالَ: «إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ؟» فَقَالَ:

نو نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې زه به تا ته د سپرلۍ لپاره د اوښې بچی درکړم، هغه سړي (په حیرانتیا سره) وویل:

مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلُ إِلَّا

یارسول الله! زه به د اوښې په بچې باندې څه کوم. رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اوښ خو د

النُّوقُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد)[1]

اوښې نه پیدا کیږي. (روایت کړي دي ترمذی، ابوداؤد)

توضیح: النوق: د ناقة جمع ده. اوښې ته ویل کیږي. هغه سړي دا وپوهیدلو چې ولد ناقة کوچنی بچی به وي. چې د سپرلۍ قابل به نوي. نو زه به د دې سره څه کوم. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مزاح په توګه باندې ولدالناقة وویله، او دا حقیقت هم دی ځکه چې اوښ څومره هم غټ شي، آخر خو ولدالناقة دی. ددې نه خو خارج کیدلی نشي. کله چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وکتل چې دا سړی پریشانه کیږي، نو هله یې ورته مطلب واضحه کړو چې: **وهل تلد الخ، استحمل**: سین او ت طلب لپاره دي، یعنې هغه سپرلۍ وغوختله.

د دې حدیث نه دا خبره هم معلومه شو چې سړی کله یو خبره واوري نو د اوریدلو نه وروسته په هغې باندې غور او فکر کوي ضروري دي. دې لپاره چې سړی د هغې په مطلب او ویخ ته ورسیږي، په جلد بازۍ کې سمدستې سوال او جواب کول پکار ندي. که دې سړي څه صبر کړی وی او سوچ یې کړی وی نو اصل حقیقت به یې موندلی وی او نه به پریشانه کیدلو. (مرقات: ۸/۶۲۰)

﴿۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: «يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيُّ)[2]

او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته وفرمایل: ای د دوه غوږونو والا. (ابوداؤد، ترمذی)

توضیح: ذاالاذنین: په دې جمله کې مزاح دی. چیرته چې مینه محبت او الفا و بی تکلفي وي نو هلته داسې وي، تول خلک د دوه غوږونو والا وي. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې سړي ته د مذاقې په توګه باندې د دوه غوږونو والا وفرمایل. لکه مونږ په خپله ژبه کې د مزاح په توګه باندې چا ته ووایو: ای غوږو. د دې مزاح په ضمن کې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه سړي ستاینه وکړه چې دا سړی د ډیرې پوهې والا او په خبره پوهیدونکی دی. (مرقات: ۸/۶۲۰)

﴿۵﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِامْرَأَةٍ عَجُوزٍ:

او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې (یوه ورځ) کله یوې بوډۍ ښځې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

(1) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۷۰ رقم الحديث ۴۹۹۸، والترمذي في ۴/۳۲۴ رقم الحديث ۱۹۹۱.

(2) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۷۲ رقم الحديث ۵۰۰۲ والترمذي في ۴/۳۱۵ رقم الحديث ۱۹۹۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

«إِنَّهُ	لَا تَدْخُلُ	الْجَنَّةَ

ته دا درخواست وكړو چې جنت ته د تللو زما لپاره دعا وكړه. نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې جنت ته به هيڅ يوه

عَجُوزٌ» فَقَالَتْ: وَمَا لَهُنَّ؟ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ.

بوډۍ ښځه نه ځي. په دې باندې هغې وويل چې د بوډيګانو څه قصور دی، هغې ښځه په قرآن پوهيدله،

فَقَالَ لَهَا: «أَمَا تَقْرَئِينَ الْقُرْآنَ؟ إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً

نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تا په قرآن كې دا نه دي ويلي يعنې مونږ به د جنت ښځې پيدا كړو لكه

فجعلناهُنَّ أَبْكَارًا (رَوَاهُ رَزِينٌ. وَفِي

چې پيدا كولى شي، نو مونږ به هغه پيغلې جوړې كړو (په دې اعتبار سره دا خوش طبعي په رېښتياؤ باندې بنا وه او د

شَرْحِ السُّنَّةِ» بِلَفْظِ «الْمَصَابِيحِ ») [1]

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا فرمايل صحيح شول چې دا بوډۍ ښځه به جنت ته نه ځي، ځكه چې په حقيقت كې به ځوك د خپل بوډا والي

توضيح: عجوز: بوډۍ ښځې ته عجوز وايي، دې ښځې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د دعاء درخواست كړې وُ چې الله تعالى ما جنت ته داخل كړي. په جواب كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بوډۍ ښځه به جنت ته نه داخليږي، دې اوريدلو سره هغه په ژړا شوه او بيرته لاړه او وې ويل چې د بوډيګانو څه قصور دی. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وروسته سړې وليږلو او وې فرمايل چې هغې ته ووايه چې جنت ته پيغلې كيدو نه وروسته ښځې ځي، بوډيګاني به نه ځي، بيا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دليل په توګه د قرآن كريم آيت ولوستلو. (مرقات: ۸/۶۲۱)

﴿۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسمه زَاهِر بن حرام

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د ښار نه بيرون وسيدونكى يو سړى چې د هغه نوم زاهر بن حرام وُ.

وَكَانَ يهدي النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره يې د ډالۍ په توګه باندې بيرون د ښار نه څه راوړي وُ (يعني داسې شيان چې هغه

مِنَ الْبَادِيَةِ فَيُجَهِّزُهُ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ښار نه بيرون په ځنګل كې پيدا كيدل لكه ساګ، سبزي، لرګي او ګلان وُ ميوه او داسې نور) او كله چې هغه د

إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ زَاهِرًا

مدينې نه بيرون وتلو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه رخصتولو او د هغه په اړه به يې فرمايل چې زاهر زمونږ د بيرون

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۳/۱۸۳ رقم الحديث ۳۶۰۶.

بَادِيَتُنَا وَ نَحْنُ حَاضِرُوهُ »

ګماشتې دې (چې هغه زمونږ لپاره د بیرون شیان راوړي) او مونږ د هغه د ښار ګماشتي یو (چې مونږ هغه ته

وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّهُ

ښار شیان ورکوؤ) دغه شان نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د زاهر سره د ډیرې مینې تعلق ساتلو. هسې خو هغه یو

وَكَانَ دَمِيمًا فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ

بدصورت سړی ؤ. یو ورځ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بازار ته لاړو نو (ویکتل چې) هغه خپله سودا خرخوي. نبی عَلَيْهِ السَّلَام د شاه

فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لَا يُبْصِره

نه د هغه سترګې داسې بندې کړې چې هغه نبی عَلَيْهِ السَّلَام نه لیدلو (یعني نبی عَلَيْهِ السَّلَام د هغه په ناخبرۍ کې د هغه شا ته کیناستلو او

فَقَالَ: أَرْسِلْنِي مَنْ هَذَا؟

خپل لاسونه یې د هغه په ترخونو کې داسې ورد ننه کړل چې د هغه دواړه سترګې یې پټې کړې دې لپاره چې هغه نبی عَلَيْهِ السَّلَام

فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم

ونه پیژني) زاهر وویل چې ما پریږده، دا سړی څوک دی. بیا هغه کونبنس کولو سره د سترګو په کوټونو کې نبی عَلَيْهِ السَّلَام ولیدلو.

فَجعل لَا يَألوا مَا أَلْزَقَ ظَهْرَهُ بِصَدْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او نبی عَلَيْهِ السَّلَام یې وپیژندلو. بیا خو هغه د نبی عَلَيْهِ السَّلَام د پیژندلو نه وروسته هم خپله شاه د نبی عَلَيْهِ السَّلَام د سینې سره د مړنو

حِينَ عَرَفَهُ وَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پوره کونبنس کولو (دې لپاره چې د ډیرنا ډیر برکت ترلاسه کړي. دلته نبی عَلَيْهِ السَّلَام دا آواز شروع کړو چې څوک دی چې

يَقُولُ: «مَنْ يَشْتَرِي الْعَبْدَ؟» فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِذًا وَاللهِ تَجِدُنِي كَاسِدًا

هغه دې غلام اخستونکی وي؟ هغه عرض وکړو: یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! په خدای قسم ته به ما بیکاره و مومې. (یعنې

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَكِنْ عِنْدَ اللهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ» (رَوَاهُ فِي «شرح السنة»)[1]

بیخي ارزان او بیکاره مال) نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل: لیکن ته د خدای په نزد باندې بیکاره نه یې. (شرح السنة)

توضیح: من اهل البادية: یعنې یو د صحرا وسیدونکې، د باندې وسیدونکی سړی ؤ. چې د هغه نوم زهرا ؤ. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه په اړه فرمایلي ؤ چې دا سړی زمونږ د دښتو سړی دی او مونږ د ده د

(۱) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۱۸۱ رقم الحديث ۳۶۰۴، واحمد في المسند ۳/۱۶۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

ښار خلک یو. یعنې دا د دښتي نه د هغه ځاې مناسب ډالۍ راوړي او موږ ته یې راکوي او موږ د ښار مناسب ډالۍ هغه ته ورکوو. بیا نبی کریم ﷺ د مزاح په توګه باندې هغه ته غلام ووینډ ځکه چې ټول خلک په حقیقت کې د الله تعالی غلامان دي.

من یشتری العبد: یعنې دا غلام څوک اخلي؟ د کوم شي تذکره د استفهام په توګه باندې کول چې دا څرګنده اخلي. دا واقعې د اخستلو او خرڅولو لپاره نه وي. دلته د مذاقې په توګه باندې داسې وشه ... علامه لیکلي دي چې نبی ﷺ که کوم آزاد سړی خرڅول وغواړي نو خرڅولی یې شي. (مرقات: ۸/۶۲۳)

لکاسد: یعنې که په بازار کې زما نرخ شروع شو نو زه به بې قیمته او بیکاره ثابت شم. ویل کیږي چې دا صحابې خائسته نوؤ، نو ځکه هغه داسې وفرمایل. د دې په جواب کې نبی اکرم ﷺ وفرمایل چې د بازار خبره پریږده. د الله په نزد باندې ستا غټ قیمت دی. بهرحال کوم شی چې په بازار کې خرڅ نشي، هغې ته کاسد ویلی کیږي.

ځینو علماؤ د **من یشتری العبد** ترجمه او مفهوم د ویلی دی چې د دې غلام مقابل غلام که د چا سره وي نو هغه دې راولي. دا معنې ډیره بعیده ده. ځینې تفصیلې روایتونو کې ده چې نبی کریم ﷺ د شا اړخ نه په راتګ سره د هغه په دواړو سترګو باندې لاسونه کیخودل، ده ویل: څوک یې ما پریږده، کله چې یې د نبی کریم ﷺ لاسونو سره لاس ولګیدل او معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ دی نو نبی ﷺ پسې ورجخت شو، نو هله نبی کریم ﷺ وفرمایل: د ده اخستونکی څوک دی؟ راقم عاجز فضل محمد وایي چې دا ډیر خوش قسمت سړی ؤ. (مرقات: ۸/۶۲۴)

د نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو سره بې تکلفي

﴿۷﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ
او حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه فرمایي چې د غزوه تبوک په دوران کې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ په خدمت
وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أُدُمٍ فَسَلَّمْتُ فَرَدَّ
کې حاضر شوم، دغه وخت نبی کریم ﷺ د څرمنې په خیمه کې ناست ؤ. ما ورته سلام وکړو. نبی ﷺ د سلام
عَلَيَّ وَقَالَ: «ادْخُلْ» فَقُلْتُ: أَكُلِّي يَا رَسُولَ اللهِ؟
جواب راکړو. او وې فرمایل چې دننه راشه. ما د (مزاح په توګه باندې) عرض وکړو یا رسول الله ﷺ! زه
قَالَ: «كُلُّكَ» فَدَخَلْتُ
ټول په ټوله دننه راشم؟ یعنې ټول جسم سره دننه راولم؟ نبی ﷺ وفرمایل: هو ټول بدن دننه راوله، نو زه خیمې ته

قَالَ	عُثْمَانُ	بن	أَبِي	عَاتِكَةَ:	إِنَّمَا

نوتلم. حضرت عثمان بن ابو عاتکه (چې هغه د دې حدیث راوي دی) فرمايي چې حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه

قَالَ	أَدْخُلُ	كُلِّي	مِنْ	صِغَرِ	الْقُبَّةِ	(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد) [1]

دا خبره چې زه ټول په ټوله دننه راشم، په دې مناسبت سره ویلې وه چې خیمه وړه وه. (ابوداود)

توضیح: اکلی: عزوه تبوک په موقع باندې د مزاح دا واقعه پیښه شوه. نبی صلی الله علیه وسلم په یوه خیمه کې ناست ؤ. خیمه وړه وه. دننه ځای کم ؤ. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ته دننه د راتلو وفرمایل. نو صحابی جواب ورکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! ټول دننه راشم یا د بدن څه برخه بیرون پریږدم. ځکه چې ځای کم دی. په دې لفظ کې د مزاح عنصر دی. په دې باندې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ټول دننه راشه، کومه برخه بیرون پریخودلو باندې دننه مه راځه. (مرقات: ۸/۶۲۵)

د دې حدیث نه معلومه شوه چې څنګه به نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صحابو مخې ته کله کله د خوش طبعي خبره کوه، دغه شان صحابو به هم نبی صلی الله علیه وسلم مخې ته کله کله مذاق کولو. سبحان الله د جنتیانو مجلس ؤ. بهرحال مذاق سره متعلق دا یو څو حدیثونه ؤ. مکمل تفصیل په انوار الرشید کې دی. چې په هغې کې یوه مستقل رساله د باب المزاح په نوم سره لیکلی شویده. دغه شان لطائف علمیه په مقدمه کې حضرت مولانا قاري طیب صاحب رحمه الله په مذاق باندې ښائسته او جامع کلام کړی دی.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او د حضرت عائشې رضي الله عنها ترمینځ د مذاق یوه واقعه

﴿۸﴾ وَعَنِ النعمانِ بن بشيرٍ قَالَ: اسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه فرمايي چې (یوه ورځ) حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نبی علیه السلام (په خدمت کې حاضریدلو لپاره

فَسَمِعَ	صَوْتَ	عَائِشَةَ	عَالِيًا		فَلَمَّا

په دروازه کې ولاړ د نبی علیه السلام نه یې کورته د راتلو اجازت وغوښتلو. دغو وخت کې هغه د حضرت عائشه رضي الله عنها آواز واوریدلو

دَخَلَ	تَنَاوَلَهَا	لِيَلْطِمَهَا

چې هغې په زور زور سره خبرې کولې. کله چې هغه کورته داخل شو. نو هغه د حضرت عائشه رضي الله عنها لاس ونیولو، او د څپیړې وهلو اراده یې

وَقَالَ: لَا أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وکړه. او وې ویل چې (خبردار چې بیا) زه تا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په وچت آواز سره خبرې کولو باندې ونه وینم.

---

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۷۲ رقم الحديث ۵۰۰۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۴۱ رقم الحديث ۴۰۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَجَعَلَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ	وَسلم	يحجزه
دلته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وهلو نه) منع کول شروع کړل. او بیا						

وَأَبُو	بَكْرٍ	مُغْضَبًا.	فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د غصې په حالت کې د کور نه ووتلو. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ							

حِينَ	خَرَجَ	أَبُو	بَكْرٍ:	«كَيْفَ	رَأَيْتِنِي	أَنْقَذْتُكِ
د تللو نه وروسته (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته) وفرمایل چې تا ولیدل ما ته د دې سړي یعنې ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د						

مِنَ	الرَّجُلِ؟»	قَالَتْ:
لاس نه څنګه بچ کړې؟ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې (د دينه وروسته) حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (زمانه د خفګان په		

فَمَكَثَ	أَبُو	بَكْرٍ	أَيَّامًا
وجه یا د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د شرمیدلو په وجه باندې) څو ورځې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر نشو.			

ثُمَّ.	اسْتَأْذَنَ	فَوَجَدَهُمَا	قَدِ
بیا (یو ورځ) هغه دروازې باندې حاضر یدلو سره (د ننه د راتللو) اجازت وغوختلو. چې دواړه (نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) د			

اصْطَلَحَا	فَقَالَ	لَهُمَا:	أَدْخِلَانِي
صلح په حالت کې دي. هغه دواړه مخاطب کولو سره وفرمایل چې تاسو دواړه ما په خپله صلح کې شریک کړئ لکه څنګه			

فِي	سِلْمِكُمَا	كَمَا	أَدْخَلْتُمَانِي	فِي.	حَرْبِكُمَا	فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
چې تاسو دواړو زه په خپل جنګ کې شریک کړی وم. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې او ریدلو سره) وفرمایل: بیشکه مونږ										

« قَدْ فَعَلْنَا قَدْ فَعَلْنَا » (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
داسې وکړل، بیشکه مونږ داسې وکړل، یعنې تاسو مونږ په خپله صلح کې شریک کړي. (ګویا نبی عَلَيْهِ السَّلَام د تاکید لپاره دا جمله دوه ځل وویله)

توضیح: **انقذتک من الرجل**: طبعي توګه باندې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په آواز کې وچتوالی ؤ. د دغه طبعي انداز باندې د دې آواز د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام مخکې وچت شو. لیکن ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ برداشت نه کړه او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندې یې وار کول غوختل. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې په منیځ کې راغلو. او حضرت عائشه یې د صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه بچ کړه. نو نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مزاح په توګه باندې وفرمایل: کیف رأیتنی الخ. پښتو کې یې مطلب دا دی چې دې سړي نه مې څنګه خلاصه کړې. په دې کې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اړخ نه مذاق ؤ. د دینه وروسته یو موقع باندې صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

([1]) أخرجه أبوداود في السنن ٥/٢٧١ رقم الحديث ٤٩٩٩.

وفرمايل چې څنګه تاسو دواړو زه په خپل جنګ کې داخل کړی وم، اوس ما هم په خپله صلح کې داخل کړی. په دې جمله کې د صديق رضي الله عنه د اړخ نه مزاح ؤ.

ليلطمها: ضرب ونصر دواړو بابونو نه دا د مضارع صيغه ده. مخ باندې څپېړې وهلو ته ويل کيږي.

ترفعين: اواز وچتلو په معنی باندې دی.

مغضبًا: د اسم مفعول صيغه ده. د غضبان په معنی دی.

من الرجل: ظاهر او واضحه دا وه چې «من ابيك» نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلی وی. خود مزاح په توګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم د رجل لفظ وفرمايلو. (مرقات: ۸/۶۲۶، الکاشف: ۹/۱۵۶)

داسې مذاق مه کوه چې په هغې سره چاته درد ورسيږي

﴿۹﴾وَعَنِ	ابْنِ	عَبَّاسٍ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه د نبی عليه السلام نه روايت کوي چې نبی عليه السلام وفرمايل: ته د خپل (مسلمان) ورور سره جګړه

«لَا تُمَارِ	أَخَاكَ	وَلَا	تُمَازِحْهُ

مه کوه او د هغه سره (داسې) ټوقه مه کوه (چې په هغې سره ورته تکليف ورسيږي) او مه داسې وعده کوه چې هغه پوره

وَلَا تَعِدْهُ	مَوْعِدًا	فَتُخْلِفَهُ»

نکړې شې. (شيخ عبدالحق دلا تعده موعداً فتخلفه: دا ترجمه کړيده چې ته وعده مکوه لکه څنګه چې وعده کيدلی شي دې لپاره چې ته وعده

(رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ:	هٰذَا	حَدِيثٌ	غَرِيبٌ)[1]

خلافی ونکړې يعني کوم وعده وکړې نو هغه پوره کوه، يا د سره نو وعده مکوه، دې لپاره چې د وعده خلافی په وبال کې دراتلو در سره خطره نوي

توضيح: ولا تمازحه: يعني داسې مذاق کول په کار نه دي چې په هغې سره کوم انسان ته درد او تکليف ورسيږي. د ټوقو مطلب فراختيا او خوش طبعي ده، زړه تنګستيا او بد اخلاقي نه ده. په کومو ټوقو سره چې چا ته تکليف وي او هغه د شرم سره مخ کيږي او د هغه شرمول وي، نو د داسې مزاح اجازت شريعت نه ورکوي، په شرعي حدودو کې د ننه او سيدلو سره د ټوقو اجازت شريعت جائز ګرځولی دی.

نوټ: په دې باب کې فصل ثالث نشته دی.

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۶۶ رقم الحديث ۱۹۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

۸ ربیع الثاني ۱۴۱۸ھ

باب المفاخرة والعصبية

مفاخرت او د عصبية بيان

قال الله تعالی: ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰكُمْ﴾ ﴿سورة الحجرات: ۱۳﴾

«مفاخرة» د باب مفاعلة نه ده. د دوه کسانو خپل مينځ کې په يو بانديې فخر کول او ناز او نخرو کې د برابروالي دعوۍ اظهار ته مفاخره وايي .لږ په واضح الفاظو کې داسې ځان پوهه کړی چې خپل حسب او نسب او خپل خاندان او قبيله يا خپل قوم او جماعت يا خپل علم او اخلاق يا خپله مالدارۍ او قوت بانديې فخر کونکی کيدل، په هغې بانديې ځان لويې ګڼل او د ځان ته په وچته کتل، دا مفاخره ده . په ناحقه معامله کې او د غه شان په تکبر او په ځان ښودنه کې دا تفاخر او مفاخره حرام ده . ليکن د حق ساتنه او د هغې ملاتړ او په خپل دينې غيرت او ملي شتمنو بانديې فخر کول او هغې بانديې کلک ودريدل وعين ايمان او اسلام دی.

العصبية: د عصبيت معامله هم د مفاخرې پشان ده . نو خپل مسلک او نظريې بې ځايه ملاتړ لپاره د خپل قوم او جماعت د شان او سرلوړی لپاره د هغوې دباطل موقف ملاتړ او ساتنې لپاره په ړندو ودريدلو ته تعصب او عصبيت ويلی کيږي. دا شرعًا بد کار دی . ليکن که دا عصبيت او تعصب او د حق د ملاتړ لپاره وي او په دې کې ظلم او زياتی نوي، بلکې اعتدال وي نو دا تعصب مستحسن دی.

ابن خلدون چې کله هم د کوم باچا د ديندارۍ ذکر په خپل کتاب کې کړيدی نو هغه ليکلي دي چې هغه به څنګه ديندار ه نوي. چې هغه د خپل دين په اړه بانديې په تعصب سره ولاړ ؤ، ګويا دا حق د مضبوط ملاتړ نوم دی. چې دا جائز او مطلوب دی. البته دا خبره ياد ساتل پکار دي چې فخر او افتخار او عصبيت او تعصب الفاظ په عامه توګه بانديې دمذموم مقاصدو لپاره استعماليږي. خو په دې کې د خير اړخونه هم وي. لکه څنګه چې پاس په تفصيل کې دا خبره راغله. د دې اصول د لاندې مخکنو نيکانو خلکو کې ځينو د خپل مفاخر يادونې کړيدي.(مرقات: ۸/۶۲۸)

الفصل الاول

کور نی شرافت ښايسته په عمل دين سره دی

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النَّاسِ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يو ورځ) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړی شوه چې کوم
أَكْرَمُ؟ فَقَالَ: «أَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللهِ
سړی ډير عزتمند دی. نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې د الله په نزد په خلکو د ډير عزت والا هغه سړی دی څوک چې د
أَتْقَاهُمْ». قَالُوا: لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ.
ډېرلو نه ډير پرهيزګاره او متقي وي. صحابؤ عرض وکړو چې ستا نه زمونږ د سوال مطلب دا ندی.

قَالَ:	«فَأَكْرَمُ	النَّاسِ	يُوسُفُ	نَبِيُّ	اللهِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل: په انسانو کې د ټولو نه ډیر عزت والا او بزرګ حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَام دی. چې هغه د خدای نبي،

ابْنُ	نَبِيِّ	اللهِ	ابْنِ	خَلِيلِ	اللهِ».

د خدای د نبي ځوی، د خدای د نبي لمسی، او د خدای دوست (حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام) د لمسي ځوی دی.

قَالُوا:	لَيْسَ	عَنْ	هٰذَا	نَسْأَلُكَ.

صحابوٴ عرض وکړو چې ستا نه زمونږ د سوال مطلب دا ندی. نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: نو

قَالَ:	«فَعَمَّنْ	مَعَادِنِ	الْعَرَبِ	تَسْأَلُونِي؟»

آیا تاسو د عربو د کورنۍ شرافت او ذات او نسب د وچتو خصوصیاتو په اعتبار سره پوښتنه کوئ؟

قَالُوا:	نَعَمْ.	قَالَ:	فَخِيَارُكُمْ

صحابوٴ عرض وکړو: هو! زمونږ د سوال مطلب هم دا دی. نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسو کې چې کوم خلک

فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا " (مُتَّفَق عَلَيْهِ)[1]

د جاهلیت په زمانه کې د ټولو نه غوره ؤ، هم هغوی په اسلام کې د ټولو نه غوره دي، چې هغوی پوهه دي.

توضیح: خیارهم: یعنې د جاهلیت په زمانه کې چې په کومو خلکو کې وچت صفات او ځانګړې خصوصیات موجود وي مثلًا خواخوږي، انصاف خوښي، حق وینا کول، زړورتیا او د سخاوت صفتونه وي، نو اسلام دغه صفتونه نه ماتوي. دغه شان خانداني شرافت او مالداري وي نو اسلام دغه صفتونه نه ماتوي، بلکې اسلام خو هغه نور هم زیاتوي. ځکه چې د دې په اصولو کې یو اصل دا دی چې «اَلْإِسْلَامُ يَزِيْدُ الشَّرِيْفَ شَرَفًا» نو کوم خلک چې د ښه صفتونو والا ؤ، خو کفر او شرک په هغوی باندې بدرنګه پرده اچولې وه، نو وس اسلام هغه پلیته پرده لیرې کړه او د دې سړې سړیتوب صفا کیدلو باندې راښکاره شو. نو دا سړی به په هغه مخکنې شرافت باندې هم هغه شان برقرار پاتې وي. البته ده لپاره شرط دا دی چې دغه سړی د دین او علم دین پوهه ترلاسه کړي، که هغه علم دین ترلاسه نکړو، فقط اسلام یې قبول کړو، او بل د کمزورو صفتونو والا علم ترلاسه کړو، نو هغه به د علم او فقاهت او د دین د پوهې له وجې نه د ټولو نه مخکې لاړ شي. نو د علم دین دا خصوصیت دی چې د سړې خانداني کمزوری صفت پټ کړي، مثلًا نائې په نائې سره نه یادول کیږي، بلکې هغه عالم دین بللی کیږي، او په عزت او عظمت کې مخکې لاړ شي. (مرقات: ۸/۶۲۹،۶۳۰)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۳۶۲ رقم الحديث ۴۶۸۹، ومسلم في ۴/۱۸۴۶ رقم الحديث (۲۳۷۸-۱۶۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

د ټولو نه ډير عزتمند څوک دی؟

﴿۱﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كريم ابن كريم ابن كريم
ابْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]
ابن كريم (كه كيدلى شي) نو هغه حضرت يوسف عليه السلام بن يعقوب عليه السلام بن اسحاق عليه السلام بن ابراهيم عليه السلام دى)

توضيح: الكريم: د حضرت ابراهيم عليه السلام دوه ځامن ډير روښانه ؤ. يو حضرت اسماعيل عليه السلام ؤ، دهغه په اولاد كې يو نبى دريتيم خاتم النبيين حضرت محمد صلى الله عليه وسلم راغلى دى. دويم ځوې حضرت اسحاق عليه السلام دحضرت يعقوب عليه السلام ځوې ؤ او د حضرت يعقوب عليه السلام ځوې حضرت يوسف عليه السلام ؤ. د حضرت يوسف عليه السلام نه د بنى اسرائيلو د ټولو انبياؤ د نسب سلسله شروع شويده. حضرت يوسف عليه السلام د بنى اسرائيلو د ټولو انبياؤ لپاره مركز ؤ. بيا الله تعالى ورته ښايست وركړى ؤ او ډير لويې كمال يې وركړى ؤ. د خبرو كولو طريقه او د خوبونو تعبير، علم او انصاف او هوښيارتيا يې وركړې وه. دغه شان الله تعالى ده لره ډير اعلى پاک بازې، او د نفس عفت او معصوميت وركړى ؤ. ځكه نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د بره نه تر لاندې پورې عزتمند او د لويې شان والا حضرت يوسف عليه السلام ؤ.

كورنى شرافت دنظر نه نشي غورزول كيدلى

﴿۲﴾وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: فِي يَوْمِ حُنَيْنٍ كَانَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذًا بِعِنَانِ بَغْلَتِهِ
او حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي چې دغزوه حنين په ورځ باندې د نبى صلى الله عليه وسلم قچر يعنې
يَعْنِي بَغْلَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا غَشِيَهُ الْمُشْرِكُونَ
د نبى عليه السلام د قچر واګې ابوسفيان بن حارث نيولې ؤ. نو كله چې مشركانو نبى عليه السلام د څلور اړخ نه راګير كړو،
نَزَلَ فَجَعَلَ يَقُولُ: «أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ
نو نبى عليه السلام د قچر نه لاندې راكوز شو، او دا رجزويل يې شروع كړل: زه نبى يم، په دې كې هيڅ دروغ نشته، او
أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ» قَالَ: فَمَا رُئِيَ مِنَ النَّاسِ
زه د عبد المطلب لمسى يم. د راوي بيان دى چې په دغه ورځ باندې د نبى نو نبى عليه السلام نو نبى نه ډير

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۱۷ رقم الحديث ۳۳۸۲، والترمذي في السنن ۵/۲۷۳ رقم الحديث ۳۱۱۶.

يَوْمَئِذٍ أَشَدُّ مِنْهُ (مُتَّفقٌ عَلَيْهِ)[1]

مړنی او زړوه ور بل څوک ندی لیدل شوی.

توضیح: انا ابن عبدالمطلب: مکې دفتحې نه څو وروسته د غزوه حنین واقعه پیښه شوه. دجنګ په ابتداء کې مسلمانانو ته عارضې شکست وشو. لیکن نبی کریم ﷺ په استقامت سره د کافرو په مقابله کې میدان کې ولاړ وُ. نبی کریم ﷺ یو قدم شاته ندی تللی. بلکې د جنګ په دوران کې د کافرو په نبی کریم ﷺ باندې د څلور اړخه بریدونو په کیدلو کې به هم مخکې تللو. حضرت عباس او حضرت ابوسفیان بن حارث رضي الله عنهما د نبی ﷺ سره وُ. نبی ﷺ د خپل سپین قچر نه راکوز شو او په ډیر استقلال سره یې د عظمت دا جملې وویله: انا النبی لاکذب انا ابن عبدالمطلب. یعنې زه د عبدالمطلب په شان د ښتو صفتونو والا سردار ځوی یم. د دې خاندانې شرافت او عظمت تقاضا دا ده چې زه د جنګ په میدان کې یو قدم شاته نشم. او زه د الله تعالی ریښتونې نبی یم، او د نبوت د عظمت تقاضا دا ده چې زه د جهاد په میدان کې شاته د تللو په ځای باندې مخکې لاړ شم. نبی کریم ﷺ په درې رجزیه کلماتو کې د کافرو په مقابله کې خپل خاندانې شرافت، وچت همت او مړانه او زړورتیا او ریښتونې نبوت ته اشاره وکړه چې دا په حقیقت باندې بناء وُ. په دې کې د دینې غیرت او جوش اظهار وُ. په کافرو باندې رعب خپرول مقصود وُ. او د دین اسلام د شان اظهار وُ چې هغه دغه وخت ضروري وُ. د دې په مقابله کې د نبوت یو دروغژن دعوی کونکی مسیلمه کذاب ته ګوری چې د یمامې په جنګ کې هغه کله حدیقة الموت کې په خپله قلعه کې د مسلمانانو په ګیر راغلی نو خپلو ملګرو ته یې وویل چې وروڼو! دلته نبوت وغیره هیڅ نشته، خپل عزت خپله د ساتلو کوښښ وکړی. لعنة الله علی المفتری الکذاب. (مرقات: ۸/۶۳۱)

د خیر البریة مصداق

﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې (یو ورځ) د نبی کریم ﷺ په خدمت کې یو سړی د حاضریدلو سره

فَقَالَ: يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

نبی ﷺ دا سې مخاطب کړو: اے هغه سړیه! چې هغه د ټول مخلوق نه غوره دی. نبی ﷺ وفرمایل:

«ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ» (رَوَاهُ مُسلم)[2]

هغه سړی چې په ټول مخلوق کې غوره دی، حضرت ابراهیم علیه السلام دی.

توضیح: خیر البریة: یعنې په کائنات کې د ټولو نه افضل هم ته یې. دلته دا اشکال دی چې نبی

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۶۴ رقم الحديث ۳۰۴۲، ومسلم في ۳/۱۴۰۰ رقم الحديث (۱۷۷۶-۷۸).
(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۹۳ رقم الحديث ۲۳۶۹-۱۵۰) وأحمد في المسند ۳/۱۷۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ علی الاطلاق خیر البریة او سید الاولین والآخرین دی، بیا دلته دخپل ذات نه نفي او د حضرت ابراهیم علیه السلام لپاره د دې د ثابتولو څه مطلب دی؟ د دې سوال جواب دا دی چې حضرت ابراهیم علیه السلام د نبی کریم ﷺ په عزتمندو نیکونو کې دی، نو نبی کریم ﷺ تواضعًا وفرمایل چې په اصل کې خیر البریة خو زما عزتمند نیکهٔ ، زه څیرته یم. د په عامو خبرو کې هم داسې کیږي.دویم جواب دا دی چې ممکنه ده چې دا د نبوت د ابتداء واقعه وي، او د نبی ﷺ مشرۍ او عام قیادت د وحې په ذریعه سره هغه وخت واضح شوی نوي، او وروسته د وحې په ذریعه باندې دا مرتبه ورکړی شوي وي؛ نو اول نبی کریم ﷺ انکار وکړو، بیا وروسته یې اقرار وکړو. (مرقات: ۸/۶۳۳)

د نبی ﷺ په شان کې د شرعي حدودو خیال ساتل ضروري دي

﴿۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تُطْرُونِي

او حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو خلک زما په ستاینه او

كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ

تعریف کې تجاوز مکوی لکه څنګه چې نصاراؤ د ابن مریم (یعنې حضرت عیسی علیه السلام) په ستاینه کې

فَقُولُوا: عبدُ الله ورسولُه" (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

تجاوز کړیدی. زه خو دخدای بنده یم، لهذا تاسو (ماته) د خدای بنده او د هغه رسول وایی.

توضیح: لاتطروني: د باب افعال نه اطراء بې ځایه مدح او ستاینې کې مبالغه او غلو او تجاوز کولو ته وایي.س په اصل کې لاتطریون دی. د حدیث مطلب دا.دی چې نبی کریم ﷺ فرمایي چې زما په مدح او ستاینه او شان بیانولو کې د داسې تجاوز او غلطې طریقې نه کار مه اخلی. څنګه چې نصاراؤ د حضرت عیسیٰ په اره اختیار کړی وُ. چې الله تعالی دې غوره بنده لره بندګې او د عبودیت په مقام باندې یې ودرولی دی او هغه ته یې د عبدالله په ځای باندې ابن الله وویله، یا ثالث ثلاثه یې وویله. تاسو داسې مکوی. هو! دومره وینا د مدح او ستاینې لپاره کافي ده چې ماته د الله تعالی بنده او رسول ووایی. د الله تعالی په بندګۍ کې غټ اعزاز دی. کما قیل: (مرقات: ۸/۶۳۴)

لاتدعنی الا بیاعبدها فانه افضل اسمائیا

دغه شان دا ویل چې زه د الله تعالی بنده یم. دا د ستاینې آخرې حد دی. ځکه چې رسول په هغه مقام باندې ولاړ وي چې د هغې نه وروسته د الله تعالی شان شروع کیږي. نو ځکه د عبدیت او نبوت په اعزاز سره زما

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۷۸ رقم الحديث ۳۴۴۵،والدارمي في ۲/۴۱۲ ... ث ۲۷۸۴.

ستاینه کافي ده. د الوهیت په مقام سره زما ستاینه مکوی. څنګه چې نصاراوُ کړی وُ، علامه بوصیری څه ښه فرمایلي دي:

فان فضل رسول الله لیس له حد فیعرب عنه ناطق بفم

بهر حال د شرعي حدودو نه په وتلو سره د نبی کریم ﷺ ستاینه او ثناء د نبي کریم ﷺ ستاینه نده بلکه نبي کریم ﷺ ناراضه کول دي. دستاینې او ستایلو په میدان کې بریلیان حضرات خطرناک حد پورې تجاوز کوي. او نبی کریم ﷺ د الوهیت او معبودیت مقام ته رسوي. دهغوی دا وینا چې نبی کریم ﷺ نور الله دی. د دې په تیتو الفاظو کې کې هم دا مطلب راوځي چې نبی ﷺ ابن الله دی. نصاراوُ هم دغه شان تاوُ راتاوُ الفاظو کې حضرت عیسی علیه السلام ته ابن الله ویلي وُ. بریلیانو نبی کریم ﷺ ته المدد یارسول الله ویلو سره راوبللو. دا د الوهیت او معبودیت مقام دی. بحث کې جاري حدیث د بریلیانو د تردید لپار دی. که په دې سره هم د خلکو سترګې برسیرته نشي نو بیان د مړ کیدلو نه وروسته د سترګو په پټیدلو باندې به سترګې برسیرته شي. شیعه روافضو لره هم خیال کول پکار دي، هغوی خپل دولس امامانو ته هم دغه شان د الوهیت اومعبودیت مرتبه ورکوي. د دې حدیث اعلان دی چې «بریلیان او روافض دې هوښیار شي» (مرقات: ۸/۶۳۶)

﴿۶﴾وَعَن عیاضِ بن حمارِ المجاشعيِ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّی الله عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ اللهَ	
او حضرت عیاض بن حمار مجاشعی نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالی	
أَوْحَی إِلَيَّ: أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّی لَا یَفْخَرَ أَحَدٌ	
د وحي په ذریعه سره ماته حکم راکړی دی چې عاجزي او انکسارې اختیار کړی. تردې چې یو کس په بل	
عَلَی أَحَدٍ وَلَا یبغيَ أَحدٌ علی أَحد" (رَوَاهُ مُسلِم)[1]	
باندې فخر ونکړي. او نه څوک په چا باندې ظلم او زیاتی وکړي.	

الفصل الثاني

پلار نیکه او کورنۍ باندې فخر کول هیڅ شی ندی

﴿۷﴾عَنْ أَبِي هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی الله عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:	
حضرت ابو هریره رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوي چې نبی ﷺ وفرمایل: خلک د	

(۱) اخرجه مسلم في صحیحه ۴/۲۱۹۸ رقم الحدیث (۲۸۶۵-۶۴) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۹۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

«لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمُ الَّذِينَ مَاتُوا

خپل (هغه) پلار نيکه باندې فخر کوي چې هغه مړ شوي دي. او د چا حقيقت چې د دې نه علاوه نور هيڅ هم ندي چې هغه د

إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي

دوزخ سکاره جوړ شوي دي. ګنې هغوې د خداى په نزد باندې چينجي (د ګندګۍ چينجي) نه هم ډير ذليله او

يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ

خوار به وي. کوم چينجي چې د د ګندګۍ بويې د خپلې پوزې نه ليرې کوي بيشکه الله تعالى تاسو د جاهليت

وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ إِنَّمَا هُوَ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ

د بوئې او پلار نيکه باندې د فخر کولو د عادت نه ليرې کړي يې. (ياد ساتئ) انسان (وس) يا مؤمن متقي دى

أَوْ فَاجِرٌ شَقِيٌّ النَّاسُ كُلُّهُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُد)[1]

يا فاجر بدکاره، ټول انسانان د آدم عليه السلام اولاد دى، او آدم عليه السلام د خټې نه پيدا کړى شويدى. (ترمذى او ابوداؤد)

توضيح: **الجعل**: جعل حشرات الارض کې يو چينجي ته ويل کيږي. چې هغې ته ګبريلا ويلى کيږي. پښتو کې ورته ګونګټ ويل کيږي. ګونګټ د خولې په ذريعه سره د انسان او د حيوان د ګندګۍ نه بهترينې ګولۍ جوړوي. او بيا د خولې په ذريعه سره هغه ټيله کولو باندې مخکې بوزي. که د سورې په برابر ګولۍ وي نو هغه دننه وړي، ګنې د افسوس سره يې بيرون پريږدي. دغه شان انسان د مال مينه او د منصب ګندګې وچتوي ليکن قبر ته په داخليدلو سره دا ټوله لويې او تکبر ټول په ټوله پاتې کيږي او انسان د خپل عمل سره قبر ته لاړ شي. (مرقات: ۸/۶۳۶)

الفحم: فحم: سکرو ته ويل کيږي. دجهنم خشاک مراد دي. **يدهده**: ټيله (دهيکه) ورکولو ته وايې، **الخراء**: ګندګۍ او چينجي ته وايې. (مرقات: ۸/۶۳۶)

عبية الجاهلية: عين باندې ضمه ده او يا باندې فتحه او کسره دواړه دي. يا باندې شد دى، فخر او تکبر ته وايې.

په نبى اکرم صلى الله عليه وسلم باندې د سردار اطلاق څنګه دى؟

﴿۸﴾ وَعَنْ مطرف بن عبد الله الشِّخِّيرِ قَالَ: أَبِي:

او حضرت مطرف بن عبد الله ابن شخير فرمايې چې (زما پلار حضرت عبد الله صحابى بيان وکړو چې) د

---

(۱) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۹۹ رقم الحديث ۵۱۱۶، والترمذي في ۵/۱۹۰ رقم الحديث ۳۹۵۵.

انْطَلَقْتُ فِي وَفْدِ بَنِي عَامِرٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بنو عامر کوم وفد چې د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شوی ؤ، په هغې کې زه هم شریک وم. نو (کله چې

فَقُلْنَا: أَنْتَ سَيِّدُنَا. فَقَالَ:

مونږ د نبی علیه السلام په خدمت کې حاضر شو نو) مونږ عرض وکړو چې ته زمونږ سردار یې. نبی علیه السلام وفرمایل:

«السَّيِّدُ اللهُ» فَقُلْنَا وَأَفْضَلُنَا فَضْلًا

سردار خو الله دی. مونږ عرض وکړو: ته د نیکۍ او ښیګړې په اعتبار سره په مونږ ټولو کې ښه یې. او د بخښنلو په اعتبار

وَأَعْظَمُنَا طَوْلًا. فَقَالَ: «قُولُوا

سره په مونږ ټولو کې غوره یې. نبی علیه السلام وفرمایل: هو! دغه شان څه و وایې بلکې د دې نه هم د کمې درجې الفاظ

قَوْلَكُمْ أَوْ بَعْضَ

استعمال کړی. (یعنې زما په ستاینه او مدح کې د مبالغه کولو نه کار مه اخلې او هغه صفتونه زما طرف ته مه منسوب کوی چې

قَوْلِكُمْ وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ

هغه فقط د الله تعالی د ذات سره مخصوص دي. تاسو چې په آخر کې کومه خبره کړیده، ډیر نا ډیر تر دغه حده پورې زما ستاینه

الشَّيْطَانُ » (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ)[1]

کولی شی، بلکې زما کړنه د ښه هم د کمې درجې وستایی نو ښه به وي) او (ګورئ) شیطان دې تاسو خپل وکیلان جوړ نکړي.

توضیح: انت سیدنا: سید د لفظ اطلاق په بیلا بیلو احادیثو کې په مخلوق باندې شویدی. چې هغه د جائز کیدلو دلیل دی. نبی کریم ﷺ خپل ځان په سید سره یاد کړیدی. البته دلته د انکار وجه دا وه چې دې خلکو د خطاب سره کوم انداز خپل کړی ؤ هغه داسې ؤ ګویا نبی کریم ﷺ یې د دنیا په سردارانو کې یو سردار ګرځولی ؤ. حالانکې د نبی کریم ﷺ خصوصیت نبوت او رسالت ؤ، د دنیا د سردارانو په شان سردارې نوه. ځکه نبی کریم ﷺ وفرمایل چې سردار یعنې مشکل کشا، حاجت روا فقط یو د الله تعالی ذات دی. (مرقات: ۸/۶۳۹)

ولایستجرینکم: دا د جری نه دی، او جرې دلته د وکیل په معنی دی. چې هغه د خپل مؤکل قائمقام او جارې مجرای وي. مطلب دا دی چې د حد نه تجاوز مکوی، هسې نه په دې بې ځایه تجاوزاتو کې شیطان تاسو خپل وکیلان جوړ نکړي. یا دا لفظ د جرأت نه جوړ شویدی. یعنې شیطان تاسو

(۱) أخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۵۴ رقم الحدیث ۴۸۰۶، واحمد في المسند ۴/۲۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

زما په بې ځایه ستاینه باندې جرئ او زرور نکړي چې تاسو بې ځایه ستاینه شروع کړې. دا معنې ډیر واضحه او مناسب ده. (مرقات: ۸/۶۴۰)

اصل غوره والی تقوی ده

﴿۹﴾ وَعَنِ الْحسن عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْحَسَبُ
او حضرت حسن د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: حسب
اَلْمَالُ وَالْكَرَمُ التَّقْوٰى» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وابنُ مَاجه)[1]
د مالدارۍ او کرم د پرهیزګارۍ نوم دی. (روایت کړې دې ترمذي او ابن ماجه)

توضیح الحسب المال: یعني د عامو خلکو سره خو د حسب نسب مالک او د وچت شان والا او عزتمند او لویې او غوره سړی هغه دی چا سره چې مال وي، خلک د هغه عزت کوي. او خلک هغه له خوش قسمته او کامیاب ګرځوي او د خدای محبوب یې ګڼي. چا څه ښه ویلي دي:

رأيت الناس قد مالوا الى من عنده مال ومن لا عنده مال فعنه الناس قد مالوا

دا د خلکو معامله ده لیکن د الله په نزد باندې عزتمند او لویې هغه سړی دی چې هغه متقي او پرهیزګاره وي، د الله په نزد د غټ او د ورکوټې کیدلو مدار په تقوی باندې دی. ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (مرقات: ۸/۶۴۰،۶۴۱)

پلار نیکه باندې د فخر کونکې لپاره سزا

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بن كعب قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ تَعَزّٰى
او حضرت ابی بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې کوم
بِعَزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَعِضُّوهُ بِهَنِ أَبِيهِ
سړی د جاهلیت د زمانې د نسبت سره د خپل پلار نیکه نسبت کوي نو د هغه د پلار شرمګاه غوڅه کړئ.
وَلَا تُكَنُّوا» (رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ»)[2]
او په دې کې د اشارې کنایې نه کار مه اخلئ.

توضیح بعزاء: عزا نسبت ته ویل کیږي. مطلب دا دی چې کوم سړی د جاهلیت رسمونه، عادتونه او

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۶۳ رقم الحديث ۳۲۷۱ و ... رقم الحديث ۴۲۱۹.

(۲) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۱۲۰ رقم الحديث ۳۵۲۱ و ... ۵/۱۳۶.

بدعتونه خپلوي او هغه ژوندۍ کوي نو هغه ته په ښکاره توګه باندې د مور پلار کنځل واوروي چې دا د
اسلام طريقه نده بلکې د جاهليت طريقه ده. او په جاهليت کې به ستا پلار دا پليت کارونه کول. هغه د
اعلی درجې فاسق او فاجر ؤ، د هغه يادونه په کومه خله باندې کوي؟ د دې جملې دويم مطلب دا دی
چې مثلاً يو سړی د جاهليت د زمانې په شان فحش ويناوې کوي. او قبيح کنځلې کوي، نو تاسو هغه ته
سپيري کنځلې وکړی چې شرم وکړه چې ته د جاهليت په شان کنځل کوي. ستا پلار خو فاسق او فاجر
بدکار او بدکردار او زناکار سړی ؤ. دغه شان به هغه بدګو سړی تاسو ته د کنځلو کولو نه منع
شي. فاعضوه: په غاښونو باندې نيولو سره غوڅولو ته وايې. هن: شرمګاه ته وايې. مطلب دا دی چې
دغه سړي ته ووايې چې په غاښونو باندې خپل پلار ذکر غوڅ کړه. (مرقات: ۸/۶۴۱،۶۴۲)

خپله پيژنده خپله کړه

﴿۱۱﴾وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عُقْبَةَ عَنْ أَبِي عُقْبَةَ وَكَانَ مَوْلًى مِنْ
او حضرت عبد الرحمن ابن ابو عقبه د حضرت ابو عقبه رضي الله عنه نه نقل کوي چې هغه د (يو انصاري)
أَهْلِ فَارِسَ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د فارس وسيدونکې غلام ؤ. هغه بيان وکړو چې د نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره په ملګرتيا کې زه هم
أُحُدًا فَضَرَبْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ
په غزوه احد کې شريک وم. نو (د جنګ په دوران کې) ما د مشرکانو نه يو سړي باندې (توري يا د نيزې
فَقُلْتُ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْفَارِسِيُّ
وار کولو سره) ووژلو او ومې ويل چې يو وار زما د اړخ نه هم وخوره. زه يو فارسي غلام يعني د فارس وسيدونکی يم
فَالْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ:
(چې هغه زړه ور او ډير ژونکی دی) نبي عليه السلام (زما دا جمله واوريدله نو) زما اړخ ته متوجې شو او وې فرمايل
"هَلَّا قُلْتَ : خُذْهَا مِنِّي وَ أَنَا الْغُلَامُ الْأَنْصَارِيُّ ؟ " (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱)
چې تا داسې ولې ونه ويل چې واخله زما د اړخ نه يو وار وخوره، زه يو انصاري غلام يم. (ابوداؤد)

توضيح: الغلام الفارسي: دا سړی خپله تابعي دی. د هغه پلار ابو عقبه صحابي ؤ. دا سړی په مولی
الموالات کې، مولی العتاقة نه ؤ. د يو انصاري دسيوري لاندې ؤ. ځکه انصاري نسبت ورسره
ولګيدلو. کنې دا په انصارو کې نه ؤ. بلکې د اسلامې رواياتو په مطابق باندې د انصار اړخ ته

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۴۲ رقم الحديث ۵۱۲۳ وابن ماجه في ۲/۹۲۱ رقم الحديث ۲۷۸۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

نسبت ښه ؤ. نو ځکه نبی کریم ﷺ خبرداری وکړو چې د فارس اړخ ته فارسي نسبت پرېږده، د انصارو اړخ ته انصاری نسبت خپل کړه. (مرقات: ۸/۶۴۲)

دقومی تعصب کونکي مثال

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل:
«مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي
کوم سړی چې د خپل قوم په ناحقه باندې ملاتړ او مرسته کوي. هغه د هغه اوښ په شان دی چې هغه
رَدَى فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
کوهې (څاه) ته غورزېږي او بیا د هغه لکۍ ونیسي او هغه راکاږي. (روایت کړې دې ابوداود)

توضیح: كالبعير: دا یوه تشبیه ده. د دې وضاحت دا سې دی چې مثلاً یو قوم په تعصب باندې راغلی چې هغه تباه شوی. وس د هغې مثال د مړ شوي یو اوښ پشان دی، چې هغه په کوم پلیت کوهې کې غورزیدلی وي. دکوهې نه دهغې راویستل ډیر ګران وي. خو یو سړی هغه د لکۍ نه په نیولو باندې د راایستلو کوښښ کوي. وس دا یوه ناممکنه او بی فائدې کوښښ دی بلکې بیوقوفتیا ده ځکه چې د لکۍ په شان کمزورې برخې نه دومره دروند اوښ څنګه بیرون راایستل کیدلی شي. بیخي هم دغه شان هغه سړی دی چې هغه د تعصب په بنیاد باندې د یو متعصب قوم ملاتړ کوي. او دهغې هر ناجائز کار ته جائز وایي. په دې تعصب سره هغه دا تباه شوی قوم نشي بچ کولی. او کوم کوښښ چې کوي هغه بیخې بې فائدې دی او کوښښ یې بی ځایه دی.

ردى: داد غورزیدلو په معنی دی.

ينزع: راخکلو او خلاصولو ته وایي.

بذنبه: لکۍ ته وایي. د دې جمع اذناب ده. (مرقات: ۸/۶۴۳)

عصبيت څه ته وايي؟

﴿۱۳﴾ وَعَن واثلةَ بن الأسقَعِ قَالَ: قُلتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا العَصَبِيَّةُ؟
حضرت واثله بن اسقع فرمایي چې ما عرض وکړو یارسول الله ﷺ! عصبیت (یعني جاهلیت)

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۴۱ رقم الحديث ۵۱۱۸.

قَالَ: «أَنْ تُعِينَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]

څه شی دی؟ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ته په ظلم باندې د خپل قوم او جماعت ملاتړ وکړې.

د خپل قوم نه ظلم لیرې کول جائز دي

﴿۱۴﴾وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سراقه بن مالک ابن جعشم فرمایي چې (یوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ مخې ته خطبه لوستلو
فَقَالَ: «خَيْرُكُمُ الْمُدَافِعُ عَنْ عَشِيرَتِهِ
کې وفرمایل: په تاسو کې بهترین سړی هغه دی چې هغه د خپل قوم جماعت نه د ظلم لیرې والی وکړي
مَا لَمْ يَأْثَمْ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]
ترڅو چې د دغه لیرې والي په وجه باندې خپله د ظلم د ګناه کونکی نشي. (روایت کړې دي ابوداود)

توضیح: مالم یأثم: د حدیث مطلب دا دی چې یو سړی مثلاً د خپل قوم او خپلوانو نه څه ظلم لیرې کوي نو دا ډیر ښه عمل دی. ځکه چې په دیکې د مظلوم مرسته هم ده او د خپلوانو صله رحمي پالل هم دي. خود دې ملاتړ او مرستې لپاره شرط دا دی چې دا سړی خپله ظالم جوړ نه شي. مثلا: په ژبه باندې که ظلم لیرې کیدلی شي نو هلته لاس وچتول او وهل به ظلم وي. چې دا ګناه ده. او که په وهلو سره ظلم لیرې کیدلی شي نو د مظلوم په ملاتړ کې به د ظالم وژل خپله ظلم وي. خلاصه دا چې په شرعي حدودو کې پاتې کیدلو سره ظلم دې لیرې کړي، که د شرعي حد نه تجاوز وکړي نو خپله ظالم جوړیدلو باندې به ګناهګار شي. (مرقات: ۸/۶۴۴)

د عصبیت بدي

﴿۱۵﴾وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ مِنَّا
او د حضرت جبیر ابن مطعم نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هغه سړی زمونږ نه ندی
مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ
چې هغه خلکو ته د عصبیت دعوت ورکوي یعنې خلکو له په څه ناحقه معامله باندې د ملاتړ کولو
وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَصَبِيَّةً
لپاره تیار کړي. نه هغه سړی زمونږ نه دی چې هغه د عصبیت د وجې نه جنګ وکړي. د دغه شان هغه سړی هم

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۴۱ رقم الحديث ۵۱۱۹ وابن ماجه في ۲/۱۳۰۲ رقم الحديث ۳۹۴۹.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۴۱ رقم الحديث ۵۱۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَيْسَ مِنَّا من مَاتَ على عصبية» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
زمونږ نه ندی چې هغه د عصبيت د حالت په مړ شي. (ابو داؤد)

توضيح: ليس منا: د دې جملې مطلب دا دی چې په دې معامله کې دا سړی زمونږ د مسلمانانو په طريقه باندې ندی، اګرکه په باقې دين باندې دی. دويم مطلب دا دی چې که دې لره حلال ګڼي نو دا سړی مسلمان نشي پاتې کيدلی. دريم مطلب دا دی چې دا د اسلوب حکيم په توګه باندې دی ځکه چې مسلمان دغه شان وعيد اوريدلو باندې سمدستې بدی لره پريږدي. څلورم مطلب دا دی چې دا تشديدًا تغليظًا تهديدًا او توبيخًا ويلې شوي دي.

د يو څه مينه انسان ړوند کوڼ جوړ کړي

﴿۱٦﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د
«حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]
يو څه سره ستا مينه کول تا لره ړوند او کوڼ جوړوي.

توضيح: يعنی: مطلب دا دی چې د يو څه په مينه کې چې انسان راګير شي نو د مينې دا جذبه انسان ړوند جوړ کړي. هغه ته د خپل نصب العين د ملاتړ نه علاوه هيڅ په نظر نه راځي. دهغه سره نه د حق او باطل معيار پاتې کيدلی شي او نه دحق تله (ترازو) پاتې کيدلی شي.بس هغه خپل خواهش ته د رسيدلو نه سوا د هيڅ څه اوريدلو ته تيار ندی. او نه د اوريدلو لپاره تيار دی. شاعر ريښتيا ويلي دي:

فعين الرضا عن كل عيب كليلة   ولكن عين السخط تبدی المساويا

(مرقات: ۸/۶۴۴)

الفصل الثالث

د عصبيت معنى

﴿۱۷﴾ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ كَثِيرٍ الشَّامِيِّ مِنْ أَهْلِ فِلَسْطِينَ عَنِ امْرَأَةٍ مِنْهُمْ
او حضرت عباده ابن کثير چې دهغه اړيکې د شام سره وي، په خپلو خلکو کې د يوې ښځې چې د هغې نوم

([1]) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۴۳ رقم الحديث ۵۱۲۱.

([2]) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۴۱ رقم الحديث ۵۱۳۰، وأحمد في المسند ۵/۱۹۴.

يُقَالُ لَهَا فَسِيلَةُ أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فسيلهٔ، نقل کوي چې هغه ښځې به بیان کولو چې ما د خپل پلار نه اوریدلي دي چې ما رسول الله ﷺ ته
فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ
عرض کولو کې پوښتنه وکړه: یا رسول الله ﷺ! آیا عصبیت د بته وایي چې کوم سړی خپل
يُحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهُ؟ قَالَ: «لَا وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ
قوم او جماعت سره مینه ولري؟ نبی ﷺ وفرمایل: نا! بلکې عصبیت دیته وایي چې څوک د
أَنْ يَنْصُرَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ) [1]
ظلم په معامله کې د خپل قوم او جماعت ملاتړ او مرسته وکړي. (روایت کړې دې احمد، ابن ماجه)

توضیح: ینصر: مثلاً د خپل خاندان یو سړی د دې وجې نه ملاتړ او مرسته کوي چې دا د هغه خاندان دی. که هغه په ظلم باندې ولې نوي. فاسق او فاجر او جابر ولې نوي. د دې سره یې څه کار نوي. هغې ته ګوري هم نه چې دلته حق کوم اړخ ته دی او باطل کوم اړخ ته دی. د ټولو نه په ړندیدلو سره د خاندان خبره کوي. دا عصبیت دی، د جاهلیت خلکو به هم دغه شان ویله.

انصر اخاك ظالما او مظلوما (مرقات: ۸/۶۴۸)

دا فقط تعصب دی چې حرام دی. د جاهلیت خلکو به هم داسې ویل: ان لم تنصر اخاك ظالما فلا تنصره مظلوما.

په خپل حسب نسب باندې تکبر مکوه

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنْسَابُكُمْ هَذِهِ لَيْسَتْ
او حضرت عقبه ابن عامر فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نسب څه داسې شی ندی چې د
بِمَسَبَّةٍ عَلَى أَحَدٍ كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ طَفُّ الصَّاعِ
هغې په وجه تاسو چا ته بد ووایی او پېغور ورکړی. تاسو ټول د آدم علیه السلام اولاد یی. څنګه چې یو صاع (اوړی)
بِالصَّاعِ لَمْ تملؤوه لَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَى أَحَدٍ فَضْلٌ
د بل صاع برابروي کوم چې تاسو ډک کړی نوي. چا ته په چا باندې څه فضیلت او ترجیح نشته دی.

---

(1) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۰۲ رقم الحديث ۳۹۴۹، واحمد في المسند ۴/۱۰۷ رقم الحديث ۴۹۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا	بِدِينٍ	وَتَقْوَى	كَفَى	بِالرَّجُلِ	أَنْ	يَكُونَ	بَذِيًّا

علاوه د دين او تقوی نه، سړي د بدی لپاره دومره کافي ده چې هغه ژبه ور، فحش وينا کونکی او بيکاره

فَاحِشًا	بَخِيلًا»	(رَوَاهُ	أَحْمَدُ	وَالْبَيْهَقِيُّ	فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)[1]	

خبري کونکی، بخيل وي. دا روايت احمد او بيهقی په شعب الايمان کې نقل کړيدی.

توضيح: طف الصاع: صاع پيمانې ته وايي چې په هغې سره غله تلل کيږي. ب: ملابست لپاره ده. طف لفظ لغت کې د کمې او نقص لپاره استعماليږي. د دې نه تطفيف دی. او د دې نه ويل للمطففين دی. دلته طف نه مراد هغه پيمانه مراد ده چې هغه د کيدلو ته نزدې وي، خو ډکه نکړی شي. بلکې ناقصه پاتې شي. فخر او ځان لويې ګڼلو کې د انسانانو موازنه وکړی شوه او وويلی شو چې يو انسان ته په بل انسان باندې داسې فضيلت نشته دی چې د ده پيمانه ډکه شوي وي او د هغه بل ناقصه پاتې شوي وي. بلکې په نقص او نقصان کې دواړه برابر دي. نه دا پوره ده او نه هغه پوره ده . ټول د يو پلار حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولاد دی. او ټول د ختې نه پيدا دي. هو! تقوی او پرهيزګارې او نيک عمل يو داسې شی دی چې په هغې سره يو سړی فضيلت کې د بل نه مخکې کيدلی شي. د ختې ګوډاګی خو د ختې دی.

ما للعلوم وللتراب وانما يسعٰى ليعلم انه لا يعلم

کفی بالرجل: ای کفی الرجل مسبةً وعاراً ولقصاناً دا تميز محذوف دی. مطلب دا شو چې بس د يو سړې د بدې او شرم لپاره دا کافي ده چې هغه بذی وي، **فاحشا** د بذی ترجمه ده. هغه بخيل د مې نه کوچ ايستونکی سړی مراد دی. چې هغه په واجب حقونو کې د بخل په وجه نقصان کوي. (مرقات: ۸/۶۴۶)

([1]) أخرجه احمد في المسند ۴/۱۴۵ والبيهقي في شعب الايمان ۴/۲۹۲ رقم الحديث ۵۱۴۶.

۱۱ ربیع الثاني ۱٤۱۸ھ

باب البر والصلة

د نیکۍ او صله رحمۍ بیان

قال الله تعالی ﴿وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖ اَنْ يُّوْصَلَ﴾ (بقرة: ۲۷)

البر: نیکي او الصلة: صله رحمې ته ویل کیږي. د لفظ بر عام اطلاق اگر که په عام نیکۍ باندې کیږي. لیکن په حقیقت کې دا لفظ د مور پلار سره د نیکۍ ښوېې کول، نیکې او احسان او اطاعت لپاره استعمالیږي د مور پلار سره نیک ښویې کول شرعې حکم دی. حدیث کې راغلي دي: اَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ. لهذا په هر صورت کې د مور پلار حقوقو ته د اولاد په حقوقو باندې وړتیا ترلاسه ده. اگر که په ظاهره باندې هغه په ظلم باندې ولاړ وي. نو که کوم پلار خپل ځوې لره ووژني نو په دنیا کې شریعت د هغې مواخذه نکوي، په آخرت کې به کتلی شي. هم دا وجه ده چې د ځوې په وژلو کې د پلار نه په دنیا کې قصاص نشي اخستل کیدلی. ځکه چې پلار د دې ځوې د حیات او ژوند ذریعه ده. لهذا ځوې د خپل پلار د مرگ ذریعه نشي جوړیدلی خو امام مالک رحمه الله فرمایي که کوم پلار ځوې په ذبح کولو سره ووژلو نو په دنیا کې به مواخذه کیږي چې په داسې بې دردۍ باندې یې ولي ووژلو؟ بهرحال دا دنیا معامله ده، د قیامت معامله به بله وي (مرقات ۸/٦٤۷) فقهاؤ لیکلي دي که یو هلک د ملګرو سره ناست وي او د هغه پلار راشي. خلکو د ځوې نه پوښتنه وکړه چې دا څوک دی. نو هلک جواب ورکړو چې دا زمونږ خپلوان دی. نو په داسې ویلو سره هغه ځوې به عاق شي. ځکه چې هغه د پلار په نوم باندې شرم او پیغور محسوس کړو او دا یې ونه ویله چې دا زما پلار دی. لفظ بر: په مقابله کې د عقوق لفظ راځي. چې هغه د حسن سلوک سره منافي بدسلوکې، درد ورکول او نافرمانۍ باندې ویلی کیږي.

الصلة: د صله لغوې معنی یو ځای کول او پیوند لګول دي. خو د دې اصطلاحې مفهوم دا دی چې خپل خپلوان سره نیکې کول، د هغوې سره ښه ښویې کول، د هغوې د حقوقو خیال ساتل، هغوې ته ډالۍ ورکول. د هغوې هر ډول مرسته کول، د هغوې په تکلیف باندې صبر کول، او هغوې ته هر ډول راحت او فائده رسول صله رحمې ده. د غه شان د عامو مسلمانانو سره جوړ پیدا کول او خبرې نه قطع کول هم د صله په لفظ کې شامل دي. (مرقات: ۸/٦٤۷)

الفصل الاول

اولاد باندې د مور حقوق

﴿۱﴾	عَنْ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ	قَالَ:	قَالَ	رَجُلٌ:	يَا	رَسُوْلَ	اللّٰهِ	مَنْ

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې یو سړي عرض وکړو: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زما د ښه رفاقت (یعني زما دارغ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: «أُمُّكَ»

نه د ښه ښوېي او نیکي او خدمت کولو لپاره) د ټولو نه ډیر مستحق څوک دی؟ نبی عَلَیْهِ السَّلَامُ وفرمایل: ستا مور. هغه

قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمُّكَ» قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟

عرض وکړو چې بیا څوک؟ نبی عَلَیْهِ السَّلَامُ وفرمایل: ستا مور. هغه عرض وکړو چې بیا څوک؟

قَالَ «أُمُّكَ» .قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أَبُوكَ».

نبی عَلَیْهِ السَّلَامُ وفرمایل: ستا مور. هغه عرض وکړو چې بیا څوک؟ نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ستا پلار.

وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «أُمَّكَ ثُمَّ أُمَّكَ

یو روایت کې داسې دي چې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د هغه سړي په جواب کې) وفرمایل: ستا مور، بیا ستا مور،

ثُمَّ أُمَّكَ ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ أدناك أدناك» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

بیا ستا مور، بیا ستا پلار، بیا ستا هغه خپلوان چې هغه نژدې خپلولي لري. (بخاري او مسلم)

توضیح: امك: پوښتنه کونکې د پوښتنې مقصد دا ؤ چې په مور پلار کې د چا حق ډیر دی. یا په ټولو انسانانو کې د ټولو نه ډیر حق د چا دی؟ د سائل د دې سوال په جواب کې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مور حق د ټولو نه ډیر وویله. د هغه سړې اراده وه چې د پلار د حقوقو تعین وشي. ځکه یې بیا بیا پوښتنه وکړه. نبی اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په څلورمه مرتبه کې د پلار حق ذکر کړو. د حدیث مطلب دا دی چې د ټولو نه ډیر حق د مور دی. بیا د پلار دی. او بیا د پاتې خپل خپلوانو درجه په درجه حق دی. ګویا د مور حق د پلار په مقابله کې درې چنده ډیر دی. ځکه چې د ماشوم په پیدائښ کې او د هغه په پالنه کې د پلار نه ډیر د مور کردار دی. نهه میاشتو پورې په خیټه کې ساتلی ګرځول او ساتل، بیا د هغه زیګول، د هغې نه وروسته هغه ته شیدې (پی) ورکول او پورا ساتنه ترینه کول، دا درې غټې مرحلې دي. چې هغه مور تیروي. نو ځکه د هغې حق د پلار د حق نه درې چنده ډیر دی. د الله تعالی فرمان دی: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ (بنی اسرائیل: ۲۳)

د مور پلار په خدمت سره سړې ته په دنیا کې دوه فائدې ترلاسه کیږي. یو په عمر کې برکت راځي، دویم عزت او عظمت او په مال کې ډیروالی کیږي. د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دی که د مور پلار حقوقو ادا کولو کې که د مور پلار خلاف راشي چې پلار د خپل حقوقو غوښتنه کوي او وایي چې د مور حق مه ادا کوه، زما ادا کوه، نو په اولاد باندې لازم دي چې په عزت او تعظیم کې پلار مقدم وساتي او په خدمت او اطاعت کې د مور حق مقدم وساتي. یعنې د مور حق د خدمت په حواله سره مقدم دی. او د پلار حق ادب او د احترام او تعظیم او تکریم په حواله سره مقدم دی.

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۰۱ رقم الحديث ۱۹۷۱، ومسلم في ۴/۱۹۷۴ رقم الحديث (۲۵۴۸-۱)

د مور پلار خدمت نه کونکي په حق کې بد دعاء

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رَغِمَ أَنْفُهُ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: په خاورو دې د هغه سړي پوزه ککړه

رَغِمَ أَنْفُهُ رَغِمَ أَنْفُهُ»

شي، په خاورو دې د هغه سړي پوزه ککړه شي په خاورو دې د هغه سړي پوزه ککړه شي (یعني درې ځلې ګویا

قِيلَ: مَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟

دا بد دعاء و فرمایله چې هغه سړي دې ذلیل او خوار شي) پوښتنه وشوه چې یا رسول الله! هغه سړی څوک دی؟

قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ

نبي علیه السلام و فرمایل: هغه سړی چې هغه خپل مور پلار یا په دواړو کې یو تن د بوډا والي په حالت کې بیامومي او بیا

أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا ثُمَّ

جنت ته داخل نشي یعني د کوم سړي مور پلار یا دواړو کې یو د بوډاوالي په حالت کې وي او هغه سړی

لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ » (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]

د هغوي په خدمت کولو سره هغوي راضي نکړي نو هغه انتهایي بد قسمته دی (روایت کړې دې مسلم)

توضیح: رغم: راء باندې فتحه ده. او غین باندې کسره ده. دا د رغام نه دی چې خاورو ته ویل کیږي. مطلب دادی چې د داسې سړي پوزه دې په خاورو کې ککړه شي یعني دا دې ذلیل او خوار شي. یا دا جمله اخباریه ده یعني داسې سړی ذلیل او خوار شو.

لم یدخل الجنة : یعني د مور پلار په خدمت کولو سره د هغوي په دعاګانو باندې جنت ته داخل نشو، نو دا سړی دې ذلیل او خوار شي. (مرقات: ۸/۶۴۹)

د مشرک مور پلار سره هم ښه ښویې کول پکار دي

﴿۳﴾وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ

او حضرت اسماء بنت ابو بکر رضی الله عنهما فرمایي چې زما مور د شرک په حالت کې (د مکې نه مدینې ته) راغله. کله چې د

مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ

قریشو سره د صلح زمانه وه. (یعني مدینې ته د راتګ زما د مور دا واقعه د هغه زمانې ده چې د صلح حدیبیه په صورت کې د

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۷۸ رقم الحديث (۲۵۵۱-۹) وابوداود وابوداود في السنن ۲/۳۰۷ رقم الحديث ۱۶۶۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقُلْتُ:	يَا	رَسُولَ	اللهِ	إِنَّ

نبي عليه السلام او قريش مكه ترمينځ د جنګ بندئ لوظنامه شوي وه او زما مور هغه وخته مسلمانه نه وه) نوما عرض وكړو

أُمِّي	قَدِمَتْ	عَلَيَّ	وَهِيَ	رَاغِبَةٌ

يارسول الله صلى الله عليه وسلم! زما مور زما خواته راغلي ده او هغه د اسلام نه بيزاره ده. آيا زه د هغې سره

أَفَأَصِلُهَا؟	قَالَ:	«نعم صِلِيهَا»	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱)

حسن سلوک وکړم؟ نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو! د هغې سره ښه ښويې کوه.

توضيح: وهي راغبة: د دې جملې مطلب بيانولو کې د علماؤ مختلف اقوال دي. ځينو ويلي دي چې مطلب دا دی چې هغه د اسلام قبلولو کې رغبت لري او د مکې نه مدينې ته زما خوا له راغلي ده. تروسه مشركه ده. آيا زه د هغې خدمت کولی شم او هغې حقوق ادا کولی شم؟ د دې قول په مقابله

کې په تفصيلي روايتونو کې دويم قول دا دی چې: **راغبة عن الاسلام** يعني د اسلام نوم اوريدل نه غواړي. د هغې په قبلولو کې څه مينه نه لري، خپل کفر باندې قائمه ده، زه د دغه شان کافرې ښځې خدمت کولی شم؟ نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د خدمت اجازت ورکړو ځکه چې د دې تعلق د انسانيت سره دی. ايمان او کفر سره ندی. تفصيلي روايتونو نه معلوميږي چې حضرت اسماء رضي الله عنها مور د اسلام نه کرکه کوله، مينه يې ورسره نه درلودله، دا قوم راجح دی ځکه چې د خدمت کولو اجازت پوښتنه کول د دې خبرې دليل دی چې هغه د اسلام نه کرکه کوي. د حضرت اسماء رضي الله عنها مور جدا ده او د حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها مور جدا ده. د حضرت عائشه رضي الله عنها مور ام رومان رضي الله عنها مسلمانه وه. (مرقات: ۸/۶۴۹،۶۵۰)

د صله رحمۍ اهميت

﴿۲﴾وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "

او حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې

إِنَّ آلَ فُلَانٍ لَيْسُوا لِي بِأَوْلِيَاءَ إِنَّمَا وَلِيِّيَ اللهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنْ لَهُمْ

ابو فلان اولاد زما دوستان ندي، زما دوست يا خو خدای دی يا نيک بخت مؤمنان البته د دغه خلکو

رَحِمٌ	أَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا	(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲)

سره زما خپلولي ده چې هغه زه د لمدو شيانو سره لامده کوم. (بخاری او مسلم)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۸۱ رقم الحديث ۳۱۸۳، ومسلم في ۲/۶۹۶ رقم الحديث (۶۹۶-۲) واحمد في المسند ۶/۳۴۴

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۹ رقم الحديث ۵۹۹۰ ومسلم في ۱/۱۹۷ رقم الحديث (۲۱۵-۳۶۶).

توضیح: ابوفلان: په دې کنیت کې تصریح نشته دی چې دا سړی څوک دی. ګویا په کنیت کې کنایه ده. د دې په اړه علماؤ لیکلي دي چې نبی کریم ﷺ د دې نوم تصریح نده کړې ځکه چې د نوم په اخستلو کې د فتنې پیدا کیدلو خطره وه. ځینو علماؤ لیکلي دي چې نبی کریم ﷺ نوم اخستلی ؤ خو راوي ته نوم یاد نه ؤ. بیا علماؤ ددې تعین په اړه باندې لیکلي دي چې شاید د ابولهب اولاد مراد وي یا د ابوسفیان اولاد مراد وي یا حکم بن العاص اولاد مراد وي. (مرقات: ۸/۶۵۰)

لیسوا بأولیاء: یعني زما دوستان نه دي. ماته د نورو نه ډیر خوښ ندي، زما بیخي خوښ نه دي. دوي سره مالې مرسته کول څه دیني یا روحاني تعلق په بنیاد باندې نده بلکې **سأبلها: بل یبل بلا وبللا**: لمدولو په معنی دی، یعني زه دا خپلولي په لمدو شیانو سره لمدوم. د حدیث مطلب دا دی چې زه د دې خلکو سره کوم مالي مرسته کوم، دا دهغوې د محبوب کیدلو په بنیاد باندې نده بلکې دهغوې سره د خپلولۍ او قرابت په بنیاد بادې مرسته کوم. ګنې زما دوستان خو صالحه مؤمنان ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضي الله عنهم په شان او د هغوې په شان خلک دي. (مرقات: ۸/۶۵۱)

د مور پلار نافرماني کول حرام دي

﴿۵﴾وَعَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ
او حضرت مغیره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ و فرمایل: الله تعالی په تاسو باندې دا
حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَمَنَعَ
کار حرام کړیدی چې د مور پلار نافرماني کولو سره هغوې زړه ودردولی شي. جینکۍ ژوندې په
وَهَاتِ وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ
قبر کې خخې کړی شي او بخل او سوالګرې اختیار کړی شي، دغه شان قیل او قال، د پوښتنو
وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
ډیروالی او د مال ضائع کول یې ستاسو لپاره مکروه ګرځولي دي (بخاری او مسلم)

توضیح: عقوق الامهات: عقوق نافرمانی ته ویل کیږي. او دامهات نه مراد مور پلار دی. لیکن د امهات ذکر ځکه وکړی شو چې د دوې حقوق ډیر دي. د حقوقو ډیروالي ته اشاره مقصود ده. منع وهات: د دې نه مراد بخل او کنجوسي ده. مطلب دا چې د نورو د حقوقو نه خو بیخي انکار وکړي او د نورو نه د داسې

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۰۵ رقم الحديث ۵۹۷۵، ومسلم في ۳/۱۳۴ رقم الحديث (۵۹۳-۱۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

حتوتو غوښتنه وکړي چې دهغې ادا کول په هغوی باندې واجب ندي. خلاصه دا چې دا جائز حق نه ورکوي او ناجائزه حقه غوختلو پسې ګرځي.

وقیل وقال: یعنې داسې بحث او مباحثها و داسې خبرو کې اخته دی چې په هغې کې نه د دین فائده شته دی او نه د دنیا هیڅ فائده شته دی. بې فائدې او فضول تېر ترکوي. د کار نه ډیر لیرې پوښتنې او جوابونه یې شروع کړیدي. بې فائدې په دلیلونو او حجت او تکرار کې خپل قیمتې وخت ضائع کوي. مثلا د منطق په اوږدو بحثونو کې بې مقصده اینختې دی. او ددې شعر مصداق جوړیږي. (مرقات: ۸/۶۵۲)

ولم نستفد من بحثنا طول عمرنا　　　سوا ان جمعنا قیل وقالوا

یعنې ټول ژوندې مونږ په دې خپل اوږدو بحثونو کې د قیل او قال نه سوا هیڅ هم ترلاسه نکړل.
وکثرة سؤال: یعنې په کثرت سره سوال کول منع دي. د دې جملې یو مطلب دا دی چې د خلکو په احوالو کې او د هغوی مالونه او معاملاتو کې بې ځایه مداخله کوي. په هغوی کې جاسوسې او تجسس کوي. او ډیر زیاتې پوښتنې کوي. دا منع دي. چې په هغې سره د کرکې او دښمنۍ او د غیبت دروازه برسیرته کیږي. دویم مطلب یې دا دی چې د خپل علم او کمال لویې ثابتولو لپاره په نورو باندې دقیق او ژور اعتراضونه کوي. او د امتحان په توګه باندې دهغوی نه سخت امتحانې پوښتنې کوي. او بې فائدې مباحثه او مناظره او علمې پوښتنې کولو سره په خلکو باندې خپل عِلم رعب کینوي. دریم مطلب دا دی چې د دینه د صحابوٴ جماعت مراد دی چې هغوی د نبی کریم ﷺ نه د ډیرو پوښتنو په اړه منع کړی شوي وُ. (مرقات: ۸/۶۵۲)

اضاعة المال: یعنې په مال کې فضول خرچې وکړي یا بدانتظامې وکړي. چیرته چې شریعت حکم کړیدی هلته یې خرچ نکړي او چیرته چې یې منع کړیده هلته یې خرچ کوي، خپلوان د ولګې نه مړه کیږي او دا خپله عالیشان کورونه جوړوي او عیش کوي او په هر قِسم ډول سنګار کې پیسه ضائع کوي، دا ټول منع دي او د مال د ضائع کولو صورتونه دي. (مرقات: ۸/۶۵۳)

﴿۶﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنَ الْكَبَائِرِ				
او حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل مور پلار ته				
شَتْمُ	الرَّجُلِ	وَالِدَيْهِ».	قَالُوا: يَا	رَسُولَ اللهِ
کنځل کول په غټو ګناهونو کې ده. صحابوٴ (دې اوریدلو باندې) عرض وکړو چې یارسول الله ﷺ!				
وَهَلْ	يَشْتُمُ	الرَّجُلُ	وَالِدَيْهِ؟ قَالَ:	«نَعَمْ
آیا څوک خپل مورپلار ته هم کنځل کوي؟ نبی علیه السلام وفرمایل: هو! (ولې نه) کله کله خو یو جاهل انسان خپل مور پلار ته				

يَسُبُّ	أَبَا الرَّجُلِ	فَيَسُبُّ
کنځل وکړي او دا خو اکثر کيږي چې خلک خپل مور پلار ته خو په حقيقت کې کنځل نکوي. خو هغوي ته د کنځلو کولو سبب جوړيږي،		
أَبَاهُ	وَيسبُّ	أمه
(او هغه داسې چې) يو سړی د چا پلار ته کنځل وکړي نو هغه د ده پلار ته کنځل کوي، او که څوک		
فيسب	أمه »	(مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
د چا مور ته کنځل وکړي نو هغه د ده مور ته کنځل کوي. (بخاری)		

پلار د دوستانو سره ښه خوي کوه

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ أَبَرِّ										
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د ټولو نه په وچتو نيکو کې										
الْبِرِّ	صِلَةَ	الرَّجُلِ	أَهْلَ	وُدِّ	أَبِيهِ	بَعْدَ	أَنْ	يولي	»	(رَوَاهُ مُسلم)[2]
يو نيکي دا ده چې څوک د خپل پلار د مرګ نه وروسته يا د هغه په نه شتون کې د هغه د دوستانو سره ښه نبويې کوي. (مسلم)										

توضيح: بعد ان يولى : يعنې پلار وفات شو يا د کور نه غائب وُ . په دې صورت کې د پلار د دوستانو سره ښه خوي کول د پلار د صلې حق دی. او د دې تقاضا ده. په حديث کې د پلار ذکر دی، علماؤ ليکلي دي چې د مور د ملګرو سره ښه ښويې کول او احسان کول هم د غه حکم لري. د مور د صله هم دغه تقاضا ده چې دهغې د وفات نه وروسته دهغې د ملګرو خيال وساتلی شي. (مرقات : ۸/۶۵۴)

صله رحمي پاللو باندې مال ډيريږي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحَبَّ						
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې کوم سړی غواړي چې دهغه په						
أَنْ	يُبْسَطَ	لَهُ	فِي	رِزْقِهِ	وَيُنْسَأَ	لَه
رزق کې دې فراختيا او وسعت او دهغه په مرګ کې دې وروسته والی راشي يعنې دهغه عمر دې فراخه شي						

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۴۰۳ رقم الحديث ۵۹۷۳،ومسلم في ۱/۹۲ رقم الحديث (۹۰-۱۴۶)

([2]) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۷۹ رقم الحديث (۲۵۵-۱۳) وأبوداود في السنن ۵/۳۵۳ رقم الحديث ۵۱۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيْ أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ » (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
نو هغه له ره پکار دي چې هغه د خپلو خپلوانو سره حسن سلوک او احسان کوي. (بخاري او مسلم)

توضیح: فی اثره: یعنې د هغه په مرګ کې دې تاخیر وکړی شي ، اثر د قدم نشانونو ته ویل کیږي. سړی چې ترڅو پورې ژوندی وي د هغه د خپو قدمونه په زمکه باندې پریوځي. کله چې دا مړ شي ، دا نشانونه ختم شي. **اثره ای حیاته**. (مرقات : ۸/۶۵۵)

پوښتنه : اوس پوښتنه دا ده چې د رزق او دغه شان د انسان د عمر تعلق د تقدیر الهی سره دی، نو صله رحمې تقدیر څنګه بدلولی شي؟ **جواب**: دا چې یو تقدیر مبرم دی. دویم تقدیر معلق دی. په دې دویم قسم کې خو تعلق وي که دې سړې صله رحمې قائمه وساتله او دا یې جوړه کړه نو د ده عمر به نوې کاله وي، ګنې اویا کاله به وي. دغه شان صله پاللو باندې الله تعالی د انسان په مال کې ډیر والی کوي مثلا زړه نه غواړي خو د صله او خپلولۍ دوجې نه ورونو ،ترونو او تره ځامنو سره احسان کوي. ددې وجې نه د دې سړې مال ډیریږي. تجربه ګواه ده چې دغه شان کیږي، څوک دې په آزمیښت کولو سره وګوري ما ډیر آزمیښت کړیدی، او هم دغه شان مې موندلي ده. (مرقات : ۸/۶۵۵)

دصله رحمۍ روغې ساتلو اهمیت

﴿۹﴾وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی مخلوقات پیدا کړل.
فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَأَخَذَتْ بِحَقْوَيِ الرَّحْمَنِ فَقَالَ: مَهْ؟
کله چې د دېنه فارغه شو نو رحم یعنې خپلولۍ ودریدله او د پروردګار ملا (شاه) یې ونیوله. پروردګار
قَالَتْ: هَذَا مقام العائذ بك من القطيعة.
وفرمایل: وایه څه غواړې؟ رحم عرض وکړو چې دا د غوځیدلو ډیرې نه ستا د پناه طلبګار د ودریدلو ځای دی.
قَالَ: أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ
پروردګار وفرمایل: آیا ته په دې باندې راضي نه یې چې کوم سړی تا قائم او برقرار وساتي هغه به زه هم قائم او برقرار وساتم،
وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ؟ قَالَتْ:
او کوم سړی چې تا غوځ کړي، زه به هم (د خپل احسان او انعام د تعلق نه) هغه غوځ کړم؟ رحم عرض وکړو چې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۵ رقم الحديث ۵۹۸۶،ومسلم في ۴/۱۹۸۲ رقم الحديث (۲۵۵۷-۲۱)

بَلَى يَا رَبِّ قَالَ : فَذَاكِ ". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

پروردګاره! بیشکه زه په دې باندې راضي یم، پروردګار وفرمايل: نو ښه دا وعده ستا لپاره ثابته او برقراره ده.

توضیح: حقوی رحمان: حقوی مَلا (شاه) ته وايي. په خاصه توګه نرۍ ملا ته ویل کیږي. انسانانو د پوهولو لپاره دا لفظ ویلی شویدی، ګنې الله تعالی د جسم او تجسم نه مبراه او منزّه دی، او د انساني تصور نه ماوراء الوراء دی.

اے برتر از قیاس وگمان ووہم — زہرچہ گفتہ اند وشنیدم وخواندیم
دفتر تمام گشت وبپایان رسید عمر — ماہم چنیں در اول وصف تو ماندیم

(مرقات: ۸/۶۵۵)

دا کلام د متشابهاتو نه دی. سلف صالحین دد دې ترجمه په کما یلیق بشانه سره کوي او هم دا راجح ده. د کوم تاویل ضرورت نشته دی. د حدیث مطلب دا دی چې خپلولۍ چې کله الله تعالی خوښه کړه نو دا ودریدله او الله تعالی یې د مَلا نه ونیولو، مَهْ: یعنې داسې مکوه، وایه، څه وايي، غواړه څه غواړې؟

من القطیعة: یعنې د صلې د ماتولو نه د بچ کیدلو لپاره دا مقام د پناګاه په توګه دی. د دې د یرې نه چې څوک هم پناه غواړي نو دې مقام ته په راتلو سره به پناه ترلاسه کوي.

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الرَّحِمُ شِجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل رحم (لفظ) د رحمن (د لفظ) نه وتلی دی.

فَقَالَ اللهُ: مَنْ وَصَلَكِ

نو الله تعالی رحم (یعنې خپلولۍ ته) وفرمايل چې کوم سړی تا روغ ساتي یعنې ستا د حق ساتي زه به هم هغه (د خپل رحم سره)

وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ

یو ځای ساتم او کوم سړی چې تا ماتوي یعنې ستا د حق لحاظ نکوي زه به هم هغه ماتوم، یعنې داسې سړی به د خپل

قَطَعْتُهُ " (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[2]

رحمت نه محروم ساتم. (بخاری)

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۷ رقم الحديث ۵۹۸۷ ومسلم في ۴/۱۹۸۰ رقم الحديث (۲۵۵۴-۱۶)

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۷ رقم الحديث ۵۹۸۸، والترمذي في ۴/۲۸۵ رقم الحديث ۱۹۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: **شجنة**: دغرفة په شان په فاكلمه باندې درې واړه حركتونه جائز دي. جيم ساكن دى، نون باندې فتحه ده. شجنة: دا د ښاخ او تار په معنې راځي، مطلب دا دى چې رحم د رحمان ښاخ دى، د دينه هم مشتق دى. او د دې تار هم دى. د دې حديث نه معلوميږي چې د نوم د ګډون اثر هم كيږي، او د دې اعتبار هم دى. دلته رحمان او رحم ماده مشتركه ده. (مرقات: ۸/۶۵۸)

﴿۱۱﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل رحم يعني خپلولي د عرش سره زوړنده ده او
تَقُولُ: مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَنِي
وايي چې كوم سړى ما يو ځاى كوي، الله تعالى په هغه سړى يو ځاى كوي او څوك چې ما ماتوي
قَطَعَهُ اللهُ" (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
الله تعالى به هغه ماتوي. (بخارى او مسلم)

توضيح: **معلقة بالعرش**: يعنې د عرش د ستنې سره خپلولې زوړنده ده، دې خپلولې د عرش ستنه نيولې ده او دا اعلان كوي چې چا زه يو ځاى كړم رحمان به هغه يو ځاى كړي او چا چې زه ماته كړم رحمان به هغه مات كړي. (مرقات: ۸/۶۵۸)

﴿۱۲﴾وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ
او حضرت جبير ابن مطعم رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: رحم ماتونكى به
الْجَنَّةَ قَاطِعٌ» (مُتَّفِقٌ عَلَيْهِ)[2]
جنت ته نه داخليږي. (بخارى ومسلم)

توضيح: **قاطع**: كوم سړى چې صله رحمې ماتول جائز ګڼي. دې سړې حرامو ته حلال وويله، ځكه كافر شو. لهذا جنت ته به نه ځي. بلكې هميشه به په دوزخ كې وي. يا د دخول نه مراد خول اَوّل دى. چې په ابتداء كې به جنت ته ځي، سزا خوړلو نه وروسته به ځي. (مرقات: ۸/۶۵۹)

﴿۱۳﴾وَعَنِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَيْسَ الوَاصِلُ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل (كامل) صله رحمې كونكى

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۷ رقم الحديث ۵۹۸۹،ومسلم في ۴/۱۹۸۱ رقم الحديث (۲۵۵۵-۱۷)

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۱۵ رقم الحديث ۵۹۸۴،ومسلم في ۴/۱۹۸۱ رقم الحديث (۲۵۵۶-۱۸)

بالمکافیء وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ
هغه سړی ندی چې هغه بدله ورکړي، بلکې کامل صله رحمي والا هغه دی چې کله د هغه خپلولي
رَحِمُهُ وَصَلَهَا» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]
ماته کړی شي نو هغه د غه خپلولي جوړه وساتي. (بخاری)

﴿۱۳﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي قَرَابَةً
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو سړی عرض وکړو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما څه خپلوان داسې دي
أصلهم ويقطعوني وأحسن إِلَيْهِم
چې زه خو د هغوی سره نیک ښویې کوم، لیکن هغوی زما سره نیک ښویې نکوي، زه د هغوی سره احسان کوم،
ويسيؤون إِلَيَّ وأحلم عَلَيْهِم
او هغوی زما سره بدي کوي. زه د هغوی سره د صبر او برداشت او د معافی ښویې خپلوم، او هغوی زما سره په
وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ. فَقَالَ:
جہالت سره مخ کیږي. یعنې ماته رد بدُ وایي. او ما باندې د غصې اظهار کوي. (دې خبرو اوریدلو باندې) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل
«لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ
که ته د غه شان یې څنګه چې تا بیان کړه نو ګویا ته په هغوی باندې توده (ګرمه) ایره شیندې او ستا سره همیشه
وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ
همیشه د الله تعالی د اړخ نه مدد او نصرت دی. چې هغه د وی د تکلیف درکولو او د هغوی د شر نه ستا ساتونکې ده.
مَا دُمْتَ عَلَى ذٰلِكَ» (رَوَاهُ مُسْلِم)[2]
ترڅو چې ته په دې خپل صفت باندې ولاړ یې. (مسلم)

توضيح: تسفهم الملّ: الملّ: تودې ایرې ته وایي. او تسف د باب افعال نه دی، خله کې ایره اچول او شیندل مراد دی. یعنې که واقعي د غه شان وي نو بیا ستا دا احسان د هغوی په خله کې توده ایره ده، کومه چې ته وراچوي، څکه چې هغه خلک نه ستا د احسان بدله درکوي، نه تذکره کوي او نه دا شکر ادا کوي، بلکې بیرته تنکول کوي، ګویا تا د غه خلک داسې ذلیله کړیدي چې د هغوی په خله کې دې ایره واچوله. (مرقات: ۸/۶۶۰)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۲۳ رقم الحديث ۵۹۹۱، وابوداود في السنن ۲/۳۲۳ رقم الحديث ۱۶۹۷.

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۲ رقم الحديث (۲۵۵۸-۲۲) واحمد في المسند ۲/۳۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثاني

﴿۱۵﴾عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ				
حضرت ثوبان رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دعاء نه بغیر تقدیر الهی هیڅ شی نشي بدلولی				
وَلَا	يَزِيدُ فِي	الْعُمُرِ	إِلَّا	الْبِرُّ
او عمر لره فراخه کونکی هیڅ شی نشي بدلولی او د عمر فراخه کونکی هیڅ نشته دی د مور پلار او خپلوانو سره د				
وَإِنَّ	الرَّجُلَ	لَيُحْرَمُ		الرِّزْقَ
ښه ښویې کولو نه علاوه او (یاد ساتی) انسان چې په کوم سبب سره د رزق نه محرومولی شي هغه				
بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ)[1]				
فقط ګناه ده کومه چې هغه کوي. (ابن ماجه)				

توضیح: القدر: د دېنه هم هغه تقدیر معلق مراد دی. چې د هغې اټل فیصله نده بلکې مشروطه ده. د دېنه قضا مبرم مراد نده ځکه چې د هغې مخکې وروسته کیدل ناممکنه دي. لیحرم الرزق بالذنب

پوښتنه: ډیر کافر مالداره په عیش عشرت کې وي. هغوې ګناه خو څه په کفر او شرک کې پراته وی. نو د دې حدیث د خارج د واقع حقائقو سره تعارض دی. نو د دې جواب څه دی؟

جواب: د دې جواب دا دی چې د رزق نه د محرومه کیدلو د کومې سزا ذکر چې په دې حدیث کې شویدی، دا د مسلمان په حق کې ده. چې هغه ذ دوې لپاره امتحان دی. د کافرو په اړه دا حدیث ندی.

دویم جامع جواب: دا دی چې یو رزق دی او بل د رزق ثمره او نتیجه ده. اصل مقصود رزق ندی بلکې د هغې ثمره او نتیجه مقصود وي. د رزق ثمره اطمینان او راحت او خوشحالي وي. کافر اګر چې په ظاهره باندې ښه مالداره وي لیکن هغوې ته د مال نتیجه کوم چې اطمینان او سکون او راحت او خوشحالي ده، هغه نه تر لاسه کیږي، بلکې خپله هم دغه مال د هغوې لپاره وبال جان وي. او هغه په ژوند کې د دغې مال د وجې نه په سخت عذاب کې اخته وي. نو په حقیقت کې هغه د معصیت د وجې نه د رزق د اصل فائدې نه محرومه شول، دا جواب کافرو، شریانو او فاسقانو فاجرانو ټولو ته شامل دی. (مرقات: ۸/۶۶۱)

د مور پلار د خدمت کولو فضیلت

﴿۱۶﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " دَخَلْتُ الْجَنَّةَ
او حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه جنت ته لاړم نو ما هلته د

([1]) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۳۴ رقم الحديث ۴۰۲۲، وأحمد في المسند ۵/۲۷۷.

سَمِعْتُ فِيهَا قِرَاءَةً فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا:

قرآن د اورېدلو آواز واورېدلو ما (د فرشتو نه) پوښتنه وکړه چې دا څوک دی. نو فرشتو ووېل چې

حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ كَذَلِكُمُ الْبِرُّ

دا حارثه بن نعمان دی. هم دا هغه فضيلت او ثواب دی چې هغه د مور پلار سره په نيکۍ کولو باندې ترلاسه کيږي.

كَذَلِكُمُ الْبِرُّ «وَكَانَ أَبَرَّ

هم دا هغه فضيليت او ثواب دی چې د مور پلار سره په نيکۍ کولو باندې ترلاسه کيږي، هم دا هغه فضيلت او ثواب دی

النَّاسِ بِأُمِّهِ» (رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

چې د مور پلار سره په نيکۍ کولو باندې ترلاسه کيږي. او حارثه بن نعمان د خپل مور سره ډير ښه ښوېې کونکی ؤ.

«وَالْبَيْهَقِيُّ فِي» شعب الْإِيمَانِ وَفِي رِوَايَةٍ:

دا روايت بغوي په شرح السنة کې او بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړيدی. او د بيهقي په يو روايت کې داسې دي چې

قَالَ: « نِمْتُ فرأيتني فِي الْجَنَّةِ » بدل « دخلت الْجَنَّةَ »)[1]

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (زه جنت ته لاړم په ځای باندې) وفرمايل: چې زه اوده شوی وم، نو په دې حالت کې گورم چې زه جنت کې يم.

د الله تعالى د مور پلار د رضا سره تړلي ده

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رِضَى الرَّبِّ

او حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د الله رضامندي او خوشحالي

فِي رضى الْوَالِدِ وَسُخْطُ الرَّبِّ فِي سُخْطِ الْوَالِدِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[2]

د مور پلار په رضامندۍ او خوشحالۍ کې ده. او د پروردگار خفگان د مور پلار په خفگان کې دی. (ترمذی)

توضیح: سخط الرب: په کشرانو باندې د مشرانو غصې لپاره د سخط لفظ استعماليږي. په دې حديث کې عجيبه فصاحت او د مور پلار د مقام عجيبه وچتوالې او عظمت ته اشاره ده. هغه داسې چې د مور پلار د خفگان سره د الله تعالى خفگان تړلی شوی دی. دا يې و نه ويله چې د مور پلار په خفگان سره الله تعالى خفه کيږي. بلکې دا يې وفرمايل چې مور پلار خفه شي نو الله تعالى خفه دی: يعنې که د کوم ځوی نه د هغه مور او پلار ناراضه او خفه وي نو الله تعالى به هم ناراضه او خفه وي.

([1]) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۷ رقم الحديث ۳۴۱۸، واحمد في المسند ۶/۱۵۱ رقم الحديث ۶/۱۵۱.

([2]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۷۴ رقم الحديث ۱۸۹۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته د پلار ذکر دی خو مور هم مراد ده، د دواړو حکم یو شان دی. او که د پلار نه مَنْ لَهُ الْوَلَدُ مراد واخستلی شي نو بیا په دې لفظ کې پلار او مور دواړه به مقصود شي.

د مور پلار حکم د ښځې په مینه باندې مقدم دی

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ:
او حضرت ابو درداء رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړی دهغه په خدمت کې حاضر شو او عرض یې وکړو
إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ لِي أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا؟
چې زه د یوې ښځې خاوند یم او زما مور غواړي چې زه خپلې ښځې ته طلاق ورکړم.
فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ
حضرت ابو درداء هغه ته وویل چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې پلار د جنت د غوره
الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَحَافِظْ عَلَى الْبَابِ أَوْ ضَيِّعْ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه) [1]
دروازو نه دی، نو تا ته اختیار دی چې د دغه دروازې ساتنه وکړې او که غواړې ضائع یې کړه. (رواه الترمذی وابن ماجة)

توضیح: بطلاقها: که په ښځه کې شرعي قباحت هم وي او د مور پلار حکم هم وي چې طلاق ورکړه نو په ځوې باندې واجب دي چې طلاق ورکړي. خو که په ښځه کې شرعي قباحت نوي او د مور پلار حکم وي چې طلاق ورکړه نو بیا به طلاق ورکول مستحب وي، واجب به نوي، راتلونکی حدیث نمبر ۳۰ هم دا مسئله را روانه ده. (مرقات: ۸/۶۶۷،۶۶۹)

الوالد: حضرت ابو درداء رضي الله عنه چې هغه سړی ته کوم جواب ورکړو په هغې کې د والد نه مراد مَنْ لَهُ الْوَلَدُ مراد اخستلی دی. چې په هغې کې مور او پلار دواړه شریک دي. حضرت ابو درداء رضي الله عنه هم دا فیصله وکړه چې جنت د مور پلار په قدمونو کې دی. او دا د جنت مرکزې دروازې دي. که د هغوی حکم ومنلی شي نو دروازه به بر سیره ته شي، ګنې دروازه به بنده وي. (مرقات: ۸/۶۶۹)

﴿۱۹﴾ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:
او حضرت بهز ابن حکیم د خپل پلار نه او هغه د بهز د نیکه (حضرت معاویه ابن صده) نه نقل کوي
قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَبَرُّ؟
هغه وائی. چې ما عرض وکړو یارسول الله صلی الله علیه وسلم! زه د چا سره نیکي او (ښه بنویې) وکړم.

([1]) اخرجه اخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۷۵ رقم الحديث ۱۹۰۰، وابن ماجه في ۲/۱۲۹۸ .

قَالَ: «أُمَّكَ»	قُلْتُ:	ثُمَّ	مَنْ؟	قَالَ:	

نبی اکرم ﷺ وفرمایل: د خپلې مور سره. ما عرض وکړو چې بیا د چا سره؟ نبی اکرم ﷺ وفرمایل:

«أُمَّكَ» قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمَّكَ»

د خپلې مور سره. ما عرض وکړو چې بیا د چا سره؟ نبی اکرم ﷺ وفرمایل: د خپلې مور سره. ما عرض وکړو

قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أَبَاكَ ثُمَّ

چې بیا د چا سره. نبی اکرم ﷺ وفرمایل: د خپل پلار سره او بیا د هغه سره چې هغه (د مور پلار نه وروسته)

الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ » (رَوَاهُ التِّرمِذِيّ وَ أَبُو دَاوُد)[1]

تا ته نژدې خپلوان وي او بیا د هغه چا سره چې د هغوی نه وروسته ډیر نژدې خپلوان وي. (ترمذی، ابوداؤد)

صله ساتونکي او ماتونکي حکم

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم يَقُول: "

او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي

قَالَ الله تبارك: أَنَا الله وَأَنَا الرَّحْمَنُ خَلَقْتُ الرَّحِمَ

الله جل شانه ارشاد فرمایي چې زه الله یم، زه رحمن یم، ما رحم یعنې خپلولي پیدا کړیدي. او ما د دې د

وَشَقَقْتُ لَهَا مِنِ اسْمِي فَمَنْ وَصَلَهَا

نوم لفظ د خپل نوم یعنې د رحمن لفظ ایستلی دی. لهذا کوم سړی چې رحم یو ځای کوي نو زه به هم هغه (د خپل رحمت سره)

وَصَلْتُهُ وَ مَنْ قطعهَا بتته "(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]

یو ځای کړم، او کوم سړی چې رحم ماتوي یعنې د خپلولۍ حقوق نه ادا کوي، زه به هم هغه (د خپل خاص رحمت نه) جدا کړم.

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَبْدُالله بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۵۱ رقم الحديث ۵۱۳۹،والترمذي في السنن ۴/۲۷۳ رقم الحديث ۱۸۹۷.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۲/۳۲۲ رقم الحديث ۱۶۹۴،والترمذي في ۴/۲۷۸ رقم الحديث ۱۹۰۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

«لَا تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ الرَّحِمِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَان»)[۱]

چې په هغه قوم باندې رحمت نه نازلیږي چې په هغې کې خپلولۍ ماتونکی وي. (بیهقی)

توضیح: لاتنزل الرحمة: یعنې خپلولۍ ماتولو او صله ماتولو باندې د الله تعالی د اړخ نه آسماني رحمت بند شي. ممکنه ده چې د دې رحمت نه مراد عام رحمت مراد وي یا خاص رحمت مراد وي. او ظاهره ده چې کله چې د رحمت راتلل بند شي، نو د عذاب راتلل به شروع شي. لهذا په داسې قوم باندې اجتماعي عذاب راتللی شي په کوم کې چې خپلولۍ ماتونکی شتون لري. او ټول قوم د صله ماتولو په جرم باندې چپ وي. او هغه نه منع کوي. بلکې د هغه حمایت هم کوي. شارحینو لیکلي دي چې د قوم نه مراد فقط هغه خلک دي چې هغوې د صله ماتونکې سره ملاتړ کوي او هغه نه منع کوي، ټول قوم مراد ندی، نن سبا چې په کومو سرحدې علاقو کې په دې کلونو کې تباه کونکې زلزلې راغلي دي، د خپلولۍ ماتولو ګناه دلته ډیره عامه وه. (مرقات: ۸/۶۶۶)

باغی او صله ماتونکې لپاره به دنیا او آخرت کې عذاب وي

﴿۲۲﴾وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ ذَنْبٍ أَحْرَى
او حضرت ابوبکرة رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅ ګناه د دې خبرې نه ډیره لائقه نده
أَنْ يُعَجِّلَ اللهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ
چې الله تعالی د دې کونکې ته په دنیا کې هم سزا ورکړي او په آخرت کې د ورکولو لپاره (هغه ته
فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْبَغْيِ
سزا) جمع کړې شوې کیږدي. هو! دوه ګناهونه د دې نه ډیر لائق دي. یو خو د امام وخت په خلاف بغاوت کول
وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد)[۲]
او دویم خپلولۍ ماتول. (ترمذی او ابوداؤد)

توضیح: یدخر له: یعنې د آخرت عذاب به هم وي. دهغې ذخیره به هم جمع وي او د دنیا عذاب به هم د وړاندیز په توګه باندې وي. دا دوچنده عذاب به د دوه قسمه بدبختانو لپاره وي. یو قسم هغه خلک دي چې هغه د امام برحق او د اسلامي خلافت مشر په خلاف بغاوت وکړي. او دویم قسم هغه خلک دي چې هغوې د صله ماتولو جرم وکړي. دا دواړه دومره پلیت ګناهونه دي چې په دې سره ټوله معاشره تباه کیدلو

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۲۲۳ رقم الحديث ۷۹۶۲.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۰۸ رقم الحديث ۴۹۰۲، والترمذي في ۴/۵۷۳ رقم الحديث ۲۵۱۱.

سره د اسلام جرړي خوزيږي. نو ځکه په خاصه توګه باندې د دې ذکر وکړی شو. (مرقات: ۸/۶۶۶)

درې قسمه خلک به جنت ته نه داخليږي

﴿۲۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ			
او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: جنت ته خو به نه هغه سړی داخليږي			
مَنَّانٌ	وَلَا	عَاقٌّ	وَلَا
چې څوک د چا سره ښيګړه کولو باندې په هغه احسان ضباطي. نه هغه سړی چې هغه د مور پلار			
مُدْمِنُ	خَمْرٍ»	(رَوَاهُ النَّسَائِيُّ	والدارمي)[1]
نافرمانې وکړي او نه هغه سړی چې هغه شراب څکي. (او بغير د توبې نه مړ شي) (نسائي او دارمي)			

توضيح: منّان: منان هغه سړې ته ويل کيږي چې څوک د چا سره احسان کولو باندې بياورباندې ضباطنه کوي. او هغه مسلسل تنګوي. **ولا عاق:** عاق هغه سړې ته ويل کيږي څوک چې د خپل مورپلار نافرمانه وي، او بغير د څه وجې نه يې تنګوي يا د خپلو خپلوانو سره د غه شان معامله کوي.

مدمن خمر: دا هغه سړې ته ويل کيږي چې هغه مسلسل شراب څکنه کوي، که دغه خلکو دا حرام شيان حلال ګڼلي وي نو کافر شول، نو جنت ته به نه ځي. يا د دخول جنت نه دخول اوّلی مراد دی. نو د سزا خوړولو نه وروسته به جنت ته ننوځي. يا دا حکم تشديدًا تغليظًا دی. (مرقات: ۸/۶۶۷)

صله جوړولو باندې مال او عمر کې برکت راځي

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ						
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: تاسو د خپلو نسبونو نه دومره زده کړی						
مَا	تَصِلُونَ	بِهِ	أَرْحَامَكُمْ	فَإِنَّ	صِلَةَ	
چې په هغې سره تاسو د خپلو خپلوانو سره نيک ښويې کول زده کړی، ځکه چې د خپلوانو سره نيک ښويې کول، په						
الرَّحِمِ	مَحَبَّةٌ	فِي	الْأَهْلِ	مَثْرَاةٌ	فِي	الْمَالِ
خپلوانو کې خپل مينځې مينې او محبت سبب، په مال کې ډيروالي او برکت ذريعه او د عمر د						
مَنْسَأَةٌ	فِي	الْأَثَرِ»	(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ: هَذَا	حَدِيثٌ	غَرِيبٌ)[2]
فراخوالي سبب جوړيږي. ترمذی دا روايت نقل کړيدی او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دی.						

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۸/۳۱۸ رقم الحديث ۵۶۷۲، والدارمي في ۲/۱۵۳ رقم الحديث ۲۰۹۴.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۰۹ رقم الحديث ۱۹۷۹، وأحمد في المسند ۲/۳۷۴

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: محبة: د صله په جوړولو کې خپل مینځې مینه ډیریږي. دا خو مجربه او کتلی شوی عمل دی. مثراة: دا د ثروة نه دی. د مال ډیروالې ته یې وایې. مطلب دا دی چې کوم سړی په خپله صله کې احسان کوي او صله جوړوي، هغوي خوشحاله ساتي، په دې سره مال کې ډیروالی کیږي. **منسأة في الاثر**: منسأة نسا او نسیان نه دی. چې دا د تاخیر (وروستوالې) په معنی دی. او د الاثر نه مراد نیتجه او د مرګ وخت دی. مطلب دا دی چې په صله جوړولو سره عمر اوږدیږي. مخکې تفصیل ذکر شوی دی. (مرقات: ۸/۶۶۸)

صله جوړولو باندې ګناه معاف کیږي

﴿۲۵﴾ وَعَن ابن عمر أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او وې ویل چې
يَا رَسُولَ الله إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا
یارسول الله صلی الله علیه وسلم! زما نه یو لویه ګناه وشوه. زما د توبې لپاره څه شی دی؟ یعنې کوم داسې عمل راته وښایه
فَهَلْ لِي مِنْ تَوْبَةٍ؟
چې د هغې په خپلولو سره زه د خدای رحمت خپل ځان ته متوجې کړی شم. او خپله هغه ګناه معاف کړی شم!
قَالَ: «هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟» قَالَ: لَا. قَالَ:
نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا ستا مور شته دی. هغه وویل چې نا. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو
«وَهَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ؟» قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: «فبرها» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1]
آیا ستا خاله (د مور خور) شته دی؟ هغه وویل چې هو! نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ته د هغې سره نیک ښویې کوه

توضیح: **ذنبا عظیما**: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د هغه سړې نه پوښتنه وکړه چې آیا ستا مور شته دی؟ هغه وویل: نا. پوښتنه یې وکړه: ترور دې شته دی؟ هغه وویل: هو! ترور شته دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ته د هغې سره نیک ښویې کوه. ستا ګناه به معاف شي. د دې حدیث نه معلومه شوه چې صله جوړولو او د صلې خدمت کولو سره کبره ګناه هم معاف کیږي. ځکه چې د صله والا هم د ده لپاره د مغفرت دعاء غواړي. او دا سړی خپله هم د مغفرت په غرض سره د هغې خدمت کوي. نو کبیره ګناه معاف کیږي. یا ممکنه ده چې د ډیرې د وجې نه دغه سړې دا ګناه کبیره ګڼلې وي او په حقیقت کې هغه کبیره نه وه. نو په صله سره صغیره ګناه معاف شوه یا کیدلی شي دا حدیث د هغه سړې د معاملې سره خاص وي او د ټولو مسلمانانو لپاره عام نه وي. لهذا د هغه سړې لویه ګناه د صله د خدمت د وجې نه معاف شوه. دا د هغه خصوصیت ؤ، د هر سړې کبیره ګناه به نه معاف کیږي. فبرها: دا د امر صیغه ده. یعنې د هغې سره نیک ښویې کوه، احسان او انعام کوه. (مرقات: ۸/۶۶۸)

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۷۶ رقم الحديث ۱۹۰۴، واحمد في المسند ۲/۱۴

مور پلار د وفات نه وروسته د هغوی سره د احسان صورتونه

﴿۲۶﴾وَعَنْ أَبِي أُسَيدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو اسید ساعدی رضی الله عنه فرمایي چې (یوه ورځ) مونږ خلک د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ناست وو

إِذْ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ

چې ناڅاپه یو سړی د نبی علیه السلام په خدمت کې حاضر شو چې هغه (د انصارو په قبیلو کې یوه قبیله) بنو سلمه سره تعلق لرلو

فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ بَقِيَ مِن بِرِّ أَبَوَيَّ شَيْءٌ

هغه سړي عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! آیا زما د مور پلار سره د نیکۍ څه برخه وس هم پاتې ده.

أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا؟

چې هغه زه د هغوی د وفات نه وروسته پوره کړم؟ یعنې ما بعد مور پلار سره د هغوی په ژوند کې نیکۍ کوله وس هغوی مړه شوي دي.

قَالَ: «نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا

نو آیا د هغوی د وفات نه وروسته هم د هغوی په حق کې د نیک ښوېې کولو څه صورت شته دی؟ نبی علیه السلام وفرمایل: هو!

وَالِاسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا

د هغوی لپاره دعا کوه، د هغوی لپاره استغفار کوه، د هغوی د مرګ نه وروسته د هغوی وصیت پورا کوه، د هغوی د

وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلَّا بِهِمَا

خپلوانو سره نیک ښوېې کوه، د چا سره چې نیک ښوېې کول فقط د هغوی (مور پلار) په سبب دي.

وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ)[1]

او د مور پلار د دوستانو عزت کوه. (ابو داؤد وابن ماجة)

توضیح: **بینا:** یعنې په د غه وخت کې کله چې مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په مجلس کې ناست وو چې ناڅاپه یو سړی راغلی او هغه پوښتنه وکړه چې مور پلار د مرګ نه وروسته د هغوی سره د نیکۍ څه صورت کیدلی شي چې هغه زه اختیار کړم؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **الصلوٰة علیهما:** یعنې د هغوی لپاره دعاء کول چې په هغې کې په هغوی باندې د جنازې لمونځ کول داخل دي. دا یو صورت دی.

وانفاذ عهدهما: یعنې که هغوی د چا سره کومه وعده کړې وي او د پورا کولو نه مخکې مړه شوي وي، هغه وعده

---

(۱) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۵۲ رقم الحديث ۵۱۴۲، وابن ماجه في ۲/۱۲۰۸ رقم الحديث ۳۱۱۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوره کول. دهغوی سره د احسان دویم صورت دا دی. وصلة الرحم: یعني د هغه خپلولی خیال ساتل چې هغه فقط د مور پلار په وجه باندې قائمیدلی شي، دې لپاره چې هغوی خوشحاله شي. مور پلار د خپلولی نه غیره دهغوی سره نور څه تعلق نه وي. دا د احسان کولو دریم صورت دی. واکرام صديقهما: یعني د مور پلار د دوستانو او دهغوی د تعلق والاؤ اکرام او احترام کول، دا د احسان څلورم صورت دی. د دې څلورو واړو صورتونو په ذریعه سړی د خپل مړه شوي مور پلار سره د نیک ښوېې معامله کولی شي. (مرقات: ۸/۶۶۹)

د نبی اکرم ﷺ د خپلې رضاعي مور سره نیک ښوېې

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لَحْمًا بِالْجِعْرَانَةِ									
او حضرت ابو طفيل رضي الله عنه فرمايي چې په جعرانه کې ما وليدل چې رسول الله ﷺ غوښه تقسيموي									
إِذْ	أَقْبَلَتِ	امْرَأَةٌ	حَتَّى	دَنَتْ	إِلَى	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې ناڅاپه يوه ښځه راغله. کله چې هغه د نبی کريم ﷺ خواته راورسيدله نو									
فَبَسَطَ	لَهَا	رِدَاءَهُ	فَجَلَسَتْ	عَلَيْهِ.	فَقُلْتُ:				
نبی اکرم ﷺ د هغې لپاره خپل څادر خپور کړو. او هغه په هغې باندې کیناستله ما پوښتنه									
مَنْ	هِيَ؟	فَقَالُوا:	هِيَ	أُمُّهُ					
وکړه چې دا ښځه څوک ده؟ هغوی وويل چې دا د نبی کريم ﷺ هغه مور ده چا چې									
الَّتِي	أَرْضَعَتْهُ	(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱)							
نبی کريم ﷺ ته شيدې (پی) څکولې وُ. (ابوداؤد)									

توضیح فجلست علیه: د جنګ حنین او اوطاس نه وروسته نبی کریم ﷺ د غنیمتونو د تقسیم لپاره جعرانه کې قیام کولو. په دغه موقعه باندې د نبی کریم ﷺ رضاعي مور حضرت حلیمه سعدیه راغله. نبی کریم ﷺ خپل څادر هغې ته خپور کړو. چې په هغې باندې کیناستله. خلکو پوښتنه وکړه چې دا ښځه څوک ده؟ د چا چې نبی کریم ﷺ احترام کوي. جواب ورکړی شو چې دا د نبی کریم ﷺ رضاعي مور ده. چې د هغې نوم حلیمه وُ او سعد قبیلې سره یې د هغې تعلق وُ. (مرقات: ۸/۶۷۰)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۵۳ رقم الحديث ۵۱۴۴.

الفصل الثالث

دحديث الغار قصه

﴿۲۸﴾عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نفر

حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیان وکړو چې (یوځل) درې کسان

يماشون أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ فَمَالُوا إِلَى غَارٍ

چیرته شریک روان ؤ. چې (په لاره کې) سخت باران شو. هغوی یې راګیر کړل. (د دې باران د بچ کیدلو لپاره) د

فِي الْجَبَلِ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ

غر په یو غاره کې ننوتل. په دې کې د غر یو غټ کاڼی راوغورزیدلو باندې د دغه غار خله یې بنده کړه.

فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ:

او په هغه درې واړو باندې بیرون ته د راوتلو لاره بنده شوه. هغه درواړو خپل مینځ کې وویل چې وس

انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً

تاسو په خپل هغه اعمالو ته نظر وکړئ چې هغه تاسو (د کومې دنیاوي ارزو او د ځان ښودنې د جذبې نه بغیر)

فَادْعُوا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ

فقط د الله تعالی د رضا او خوشحالۍ لپاره کړې وي. او د دغه اعمالو په وسیله سره د خدای نه دعاء وغواړئ.

يُفَرِّجُهَا. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: اللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ

شاید الله تعالی ستاسو د خلاصون لاره برسیرته کړي! نو په هغوی کې یو کس وویل: ای الله (ته ښه پوهیږې)

لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ

زما مور پلار ډیر بوډاګان ؤ او زما یو څو واړه بچیان هم ؤ، او ما به بیزې څرولې. دې لپاره چې (دهغې د شیدو

كُنْتُ أَرْعَى عَلَيْهِمْ فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ

په ذریعه) د هغوی ټولو انتظام وکړی شم. نو کله چې به ماښام د کور خلکو ته بیرته راتلم او د بیزو نه به مې پی لوشلې نو د

بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيهِمَا قَبْلَ وَلَدِي

خپل مور پلار نه به مې شروع کوله. او هغوی ته به مې د خپل اولاد نه مخکې پی ورکولې. یو ورځ داسې اتفاق وشو چې

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِنَّهُ قَدْ نَأَى بِي الشَّجَرُ فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى أَمْسَيْتُ

(ثر ځاې) بوتلو زه تر لیرې پورې بوتلم. یعنې د بیزو ثر ځر کې ډیر لیرې ووتلم. تر دې چې ماښام شو. او زه

فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا

کور ته بیرته رانغلی شوم. (کله چې د شپې ناوخته کور ته راورسیدلم نو) مور پلار مې اوده ؤ، بیا ما د خپل

فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُؤُوسِهِمَا

عادت مطابق پی ولوشلې. او د شیدو نه ډک لوخي سره د مور پلار خواته ورسیدلم، او د هغوې سر ته ودریدلم.

أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ

ځکه چې ما دا نه خوښوله چې هغوې راویښ کړم. او نه ما ته دا خوښه وه چې د هغوې نه مخکې خپلو بچیانو

قَبْلَهُمَا وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ

باندې شیدې وڅکوم. او حال دا ؤ چې هغه بچیان زما په خپو کې د ولږې د لاسه په ژړا پراته ؤ. او هغوې

عِنْدَ قَدَمَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذَلِكَ دَأْبِي

ټول په خپل حال قائم ؤ تر دې چې سحر شو، (یعنې په دې حالت کې ټوله شپه ما د شیدو لوخی نیولی د هغوې سر ته ولاړ ؤم.

وَدَأْبُهُمْ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ

هغه دواړه اوده ؤ. او زما بچیان د ولږې د سختۍ نه بیقراره په ژړا ؤ او چیغې یې وهلې) نو ای خدایا که ته پوهیږې

أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ

چې ما دا کار فقط ستا د رضا او خوشحالۍ لپاره کړی دی نو (زه د دې خپل وسیله کولو باندې تا ته عاجزي کوم چې)

فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا

ته زمونږ لپاره دا کاڼی دومره لیرې کړه چې د دې فراختیا په ذریعه سره مونږ آسمان ووینو. نو الله تعالی دا کاڼی دومره

السَّمَاءَ فَفَرَجَ اللهُ لَهُمْ حَتَّى يَرَوْنَا السَّمَاءَ قَالَ الثَّانِي: اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي بِنْتُ عَمٍّ

وخوزولو چې هغوې ته آسمان په نظر راغلو. دویم سړي دغه شان وویل چې ای الله! زما د تره یوه لور وه، هغه

أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا

مې دومره خوښه وه لکه څومره چې د یو سړي یوه ښځه خوښه وي. ما چې کله هغې نه د خپل ځان ما ته د سپارلو خواهش

نَفْسَهَا فَأَبَتْ حَقِّي آتِيهَا

ښکاره کړو نو هغې په دې ویلو سره زما د خواهش نه انکار وکړو چې تر څو پورې زه سل دیناره هغې

بِمِائَةِ دِينَارٍ فَلَقِيتُهَا بِهَا

ته وړاندې نه کړم، زما جنسي خواهش به نه پوره کیږي بیا هغه دیناره مې د ځان سره اخستي د هغې خواته ورسیدلم،

فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا. قَالَتْ: يَا عَبْدَ اللهِ

کله چې زه (جنسي فعل لپاره) د هغې د دواړو خپو ترمینځ کیناستلم نو هغې وویل چې د خدای بنده د

اتَّقِ اللهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ

الله نه ویره وکړه او زما د مهر امانت د ماتولو نه منع شه (یعني هغې ما ته د خدای یره را یادولو باندې عاجزي وکړه چې زما عزت مه اخله

فَقُمْتُ عَنْهَا. اللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ

زه د هغې د خوا نه پاڅیدلم، نو ای خدایا! که ته پوهیږې چې زما دا عمل (یعني د قابو تر لاسه کیدلو باوجود د هغې

ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ أَنِّي فَعَلْتُ

پریخودلو سره ترې لیرې کیدل او خپل نفس قابو کول) فقط ستا د رضا او خوشحالۍ لپاره وي، نو زه د

ذَلِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا

دې خپل عمل په ذریعه سره تا ته فریاد کوم چې دې کاڼي په لیرې کولو سره زمونږ لپاره لاره بر سیرته کړه.

فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً وَقَالَ الْآخَرُ: اللّٰهُمَّ إِنِّي

نو الله تعالی دا کاڼی لږ شان نو وخوځولو. بیا دریم سړي داسې ویل شروع کړل، ای الله! ما خپل

كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرْقِ أَرُزٍّ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ

یو مزدور په یو فرق وریجو باندې په مزدورۍ ونیولو، کله چې هغه خپل پورا کړو نو مطالبه یې وکړه چې

قَالَ: أَعْطِنِي حَقِّي. فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ

راوړه زما مزدوري را کړه. ما د هغه مزدوري هغه ته وړاندې کړه. خو هغه په بې احتیاجۍ سره هغه پریخودله او

وَرَغِبَ عَنْهُ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَقِّي جَمَعْتُ مِنْهُ

لاړو. بیا ما هغه وریجې په خپل زراعت کې ولګولې. او کرلي مې. تر دې چې د دې وریجو په ذریعه سره ما

Maktaba Tul Ishaat.com

بَقَرًا وَرَاعِيَهَا فَجَاءَنِي فَقَالَ:

غویان او د هغه غویانو لپاره شپونکیان راجمع کړل. بیا د یو ډیر وخت نه وروسته هغه مزدور زما خواته

اتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِي

راغلو او وې ویل چې د خدای نه ووېرېږه، ما باندې ظلم مکوه او زما حق (کوم چې ستا سره پریخودلی ؤ)

وَأَعْطِنِي حَقِّي. فَقُلْتُ: اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْبَقَرِ

ماته بیرته راکړه. ما وویل چې (بیشکه هغه ټول ستا حق په ما باندې واجب دی) دغه غویانو او

وَرَاعِيهَا فَقَالَ: اتَّقِ اللهَ

شپونکیانو خواته لاړ شه (او هغه په خپله قبضه کې واخله، هغه ټول ستا حق دی) هغه وویل د خدای نه

وَلَا تَهْزَأْ بِي. فَقُلْتُ: إِنِّي لَا أَهْزَأُ

ووېرېږه او زما سره ټوقې مکوه. ما وویل چې (زما خبره دروغ مه ګڼه) زه له تا سره ټوقې نکوم. لاړ شه، دغه

بِكَ فَخُذْ ذَلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيهَا فَأَخَذَ فَانْطَلَقَ بِهَا.

غویان او دهغې شپونکیان واخله. د هغې نه وروسته هغه دا ټول په خپله قبضه کې واخستل، او لاړو. نو ای

فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ

خدایا! که ته پوهېږې چې ما دا کار ستا د رضا او خوشحالۍ د طلب لپاره ؤ نو زه (د دې خپل عمل په واسطه

وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ

کولو سره تا ته فریاد کوم چې) ته دا کاڼی څومره چې پاتې شویدی دا هم ورغړوه. نو الله د (دغه

فَفَرَّجَ اللهُ عَنْهُمْ " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

سړې دعاء هم قبوله کړه او) غار د خلې پاتې برخه هم بر سیرته کړه. (بخاري، مسلم)

توضیح: دا یو اوږد حدیث دی چې په هغې کې د درې کسانو اوږده قصه ذکر شویده. چې هغوی په یو غار کې ناست ؤ. چې کاڼی راورغړیدلو او د غار خله بنده شوه. درواړو کې هر یو تن خپل قبول شوی عمل د الله تعالی مخې ته د وسیلې په توګه باندې وړاندې او مقصود ترلاسه شو. د دېنه معلومه شوه چې نیک اعمال د ضرر لیرې کولو لپاره بهترینه وسیله ده. عام مفسرین او صلف صالحینو د اعمالو وسیله بغیر د څه خلاف نه

(۱) اخرجه مسلم فی صحيحه ۴/۲۰۹۹ رقم الحديث (۲۷۴۳-۱۰۰) واحمد فی المسند ۲/۱۱۶.

قبوله کړیده. ارعی علیهم: یعنې د هغوی د خدمت او نفقه او خرچې په غرض سره مې بیزې څرولې. یتضاغون: باب تفاعل دی، په زوره زوره ژړیدلو ته وایي. دې ماشومانو د ولږې د وجې نه ژړل. پلار هغوی ته پې ځکه ورنکړل چې هغه اول مور پلار باندې څکل غوختل. تر سحره پورې هغه تابعدار ځوې ولاړ ؤ. دا څه لږه مینه نده. نه معمولې محنت دی. دویم سړی په عین ځوانۍ کې د ښایسته جینۍ په جماع باندې قابو موندلو نه وروسته د خدای د یرې د وجې نه پریخودله، سل دیناره یې هم پریخودل، دا څه وړه قربانې نده. زمکنې حقیقتونه ډیر لویې دي. اګرچې دا قصه اسانه ده. البقر وراعیها: دا یو مزدو سړی ؤ، خفه کیدلو باندې یې مزدورې پریخودله، خو مزدورې ورکونکی سړی ډیر دیندار ؤ، هغه د ده د مزدورې مال ضائع نکړو، بلکې ورلره یې ډیر کړو، او څو غواګانې او نور مالونه یې هغه ته وسپارل، د دینه معلومه شوه چې د فضولي تصرف جائز دی او هم دا د امام ابو حنیفه رحمه الله مسلک دی، بهرحال د دې درې کسانو دا نو موړي نیک عملونه وسیله جوړه شوه او درې واړه کسان د مصیبت نه خلاص شول. (مرقات: ۸/۶۷۴)

جنت د مور په قدمونو کې دی

﴿۲۹﴾ وَعَن معاوية بن جاهِمَةُ أَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د حضرت معاویه ابن جاهمه رضي الله عنه نه روایت دی چې (یوه ورځ) حضرت جاهمه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې
فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَدْتُ أَنْ أَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ
حاضر شو او عرض یې وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! زه جهاد کول غواړم، او په دې وخت کې په دې اړه باندې
أَسْتَشِيرُكَ. فَقَالَ: «هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟» قَالَ: نَعَمْ.
ستا سره مشوره کولو لپاره راغلی یم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا ستا مور (ژوندۍ) ده؟ هغه وویل: هو!
قَالَ: «فَالْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإِيمَان») [1]
نبی علیه السلام وفرمایل: بیا ته د هغې خدمت ضروري وګڼه ځکه چې د مور په قدمونو کې جنت دی. (احمد، نسائی، بیهقی)

توضیح: عند رجلها: یعنې جنت د مور د قدمونو خوا کې دی. مطلب دا دی چې د هغې خدمت کوه، هغه خدمت ته محتاجه ده. بل څوک د خدمت کولو والا نشته دی. د هغې خدمت اوس په تا فرض عین شویدی. د غه صحابی ته د دې مخصوص حالاتو او د دې مجبوریانو او ضرورتونو ته په کتلو سره نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مور د خدمت لپاره وښاکلو. او جهاد ته تللو ثواب یې هغه ته په دې خدمت سره ترلاسه کیدلو ته اشاره وکړه.

---

(۱) اخرجه النسائي في السنن ۵/۱۱ رقم الحديث ۳۱۰۴ واحمد في المسند ۳/۴۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې حدیث مطلب دا ندی چې د چا مور ژوندۍ وي نو هغه جهاد لپاره نشي وتلی، لکه ځینې نباغلي دا پیش کوي، دا ستدلال غلط دی چې صحابه کرام رضي الله عنهم د زړګونو په شمیره کې جهاد لپاره وتلي دي. نو آیا د هغه ټولو میاندي مړي شوي وي. نو ځکه تلل جائز شول؟ د خدای نه یره وکړه او د جهاد انکار مکوه. (مرقات: ۸/۶۷۶)

که مور پلار د ښځې د طلاق غوختنه وکړي نو ځوی څه وکړي؟

﴿۲۰﴾ وَعَنِ	ابْنِ	عُمَرَ	قَالَ:	كَانَتْ	تَحْتِي	امْرَأَةٌ	أُحِبُّهَا
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې زما په نکاح کې یوه ښځه وه، د چا سره چې ما ډیره مینه کوله،							
وَكَانَ	عُمَرُ	يَكْرَهُهَا.	فَقَالَ	لِي:			
لیکن (زما عزتمند پلار) حضرت عمر رضي الله عنه هغه نه خوښیدله، نو هغه (یو ورځ) ما ته وویل چې ته دې							
طَلِّقْهَا	فَأَبَيْتُ.	فَأَتَى	عُمَرُ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
ښځې ته طلاق ورکړه. ما انکار وکړو. بیا کله چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو							
فَذَكَرَ	ذَلِكَ	لَهُ	فَقَالَ	لِي	رَسُولُ	اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:
او نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یې د دې خبرې ذکر وکړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ما ته وفرمایل چې							
«طَلِّقْهَا» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُد)[1]							
دغه ښځې ته طلاق ورکړه. (ترمذی، ابوداؤد)							

توضیح: طلقها: نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې کله حکم ورکړو نو د دې حکم په وجه باندې وس طلاق ورکول واجب ؤ. هسې عامه مسئله داسې ده که مور پلار په ناحقه باندې ځوی ته د طلاق حکم ورکړي، په اینګور کې کوم شرعي عرفي عیب نه وي نو ځوی باندې لازم ندي چې هغه ښځې ته طلاق ورکړي، که د مور پلار د حکم منل یې وکړل نو دا مباح ده. او که شرعي قباحت په اینګور کې شتون لرلو او د مور پلار حکم هم وشي نو طلاق ورکول واجب کیږي. (مرقات: ۸/۶۷۷)

د اولاد لپاره مور پلار جنت دی یا دوزخ

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا؟	
او حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمايي چې یو سړي عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! اولاد باندې د مور پلار	

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۵ رقم الحدیث ۵۱۳۸، والترمذی في ۳/۲۹۴ رقم الحدیث ۱۱۸۹.

قَالَ: «هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ» (رَوَاهُ ابنُ مَاجه)[1]
څه حق دے؟ نبی عَلَیۡهِ السَّلَامُ وفرمایل: ستا مور پلار ستا لپاره جنت هم دی او دوزخ هم. (ابن ماجه)

توضیح: که اولاد د مور پلار اطاعت وکړو، تابعدری او د خوشحالۍ یې ورلره پوره خیال وساتلو او هر قسم خدمت یې وکړو نو دا مور پلار د اولاد لپاره جنت دی. دهغوی په خوشحالۍ کې به هغه ته جنت په لاس ورشي. ګنې په بل صورت کې هم دا مور پلار د اولاد لپاره دوزخ او د جهنم اور به ثابت شي. او اولاد به یې جهنم ته ورسیږي.

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری

نافرمانه ځوی د مور پلار تابعدار څنګه جوړیدلی شي؟

﴿۳۲﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَمُوتُ وَالِدَاهُ
او حضرت انس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کله چې د یو بنده مور پلار مړه شي
أَوْ أَحَدُهُمَا وَإِنَّهُ لَهُمَا لَعَاقٌّ فَلَا يَزَالُ
یا په دې دواړو کې یو ګس مړ شي او هغه ځوی د دوی نافرمانې کوله، او بیا (دهغوی د مرګ نه وروسته)
يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا حَتَّى يَكْتُبَهُ اللهُ بَارًّا»[2]
هغه د دوی لپاره دعاء او استغفار کوله نو الله تعالی هغه په نیکانو کې لیکي.

توضیح: بارًا: یعنې دا نافرمان ځوی به تابعدار ولیکلی شي. په دې حدیث کې د نافرمانه ځوی د فرمانبردار کیدلو ترتیب ویلی شوی دی. هغه داسې چې مثلاً کوم سړي مور پلار دهغه نه خفه تللي وي. وس د مرګ نه وروسته هغه لپاره پکار دي چې هغه د خپل مور لپاره په کثرت سره ښښنه وغواړي، دهغوی لپاره دعا وغواړي. دغه شان دغه سړی به د نافرمانو د زمرې نه ووځي، دا خبره ځای ده چې «رحم حق بہانہ می جوید» ګنې د مور پلار د وفات نه وروسته د ژوندي نافرمانه ځوی د معافۍ تصور څوک کولی شي. سبحان الله الله تعالی څومره مهربانه دی. ځینو علماؤ ویلي دي چې که کوم نافرمانه ځوی د خپل پلار په قبر باندې اووه جمعې مسلسل د جمعې په ورځ حاضر وکړي او دهغه لپاره استغفار او دعاء وغواړي نو الله تعالیٰ به دا ځوی د مور پلار په تابعدار اولاد کې شامل کړي.

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۰۸ رقم الحديث ۳۶۶۲.

(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۲۰۲ رقم الحديث ۷۹۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

اولاد لپاره د مور پلار حیثیت

﴿۳۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَصْبَحَ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: كوم سړي چې په دې حالت كې سبا كړو چې

مُطِيعًا لله فِي وَالِدَيْهِ

هغه د مور پلار په حق كې تابعداري كونكى وُ (يعني هغه د مور پلار حقوقو ادا كولو سره د الله تعالى د

أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ

حكم اطاعت كړې دى) نو هغه په داسې حالت كې سبا كړيدى چې د هغه لپاره د جنت دروازې برسيرته وي

وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا. وَمَنْ

او كه د هغه په مور پلار كې يو گس (ژوندى) وي نو يوه دروازه برسيرته كيږي او كوم سړي چې په دې

أَمْسَى عَاصِيًا لله فِي وَالِدَيْهِ

حالت كې سبا كړو چې هغه د مور پلار په حق كې د الله تعالى نافرماني كونكى دى نو هغه په داسې حال

أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا

كې سبا كوي چې د هغه لپاره د دوزخ دروازې برسيرته شي او كه په مور پلار كې يو گس (ژوندى) وي

فَوَاحِدًا» قَالَ رَجُلٌ: وَإِنْ

نو يوه دروازه برسيرته كيږي. (دې ارشاد اوريدلو باندې) يو سړي عرض وكړو: اگر كه مور پلار په

ظَلَمَاهُ؟ قَالَ: «وَإِنْ ظَلَمَاهُ

هغه باندې ظلم وكړي؟ نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: اگر كه مور پلار په هغه باندې ظلم ولې ونكړي،

وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ» (۱)

اگر كه مور پلار په هغه باندې ظلم ولې ونكړي، اگر كه مور پلار په هغه باندې ظلم ولې ونكړي.

مور پلار ته د رحمت په نظر سره كتلو باندې د قبول شوي حج ثواب تر لاسه كيږي

﴿۳۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مامن وَلَدٍ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: مور پلار سره نيكي كونكى كوم هلك چې

---

(۱) أخرجه البيهقي في الايمان ۶/۲۰۶ رقم الحديث ۷۹۱۶.

بَارٍّ	يَنْظُرُ	إِلَى	وَالِدَيْهِ	نَظْرَةَ	رَحْمَةٍ	إِلَّا	كَتَبَ	اللهُ

هم مور پلار ته د مینې او عزت په نظر سره ګوري نو الله تعالی د هر نظر په بدله کې یو قبول شوي (نفلي)

لَهُ بِكُلِّ نَظْرَةٍ حَجَّةً مَبْرُورَةً». قَالُوا: وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مرة؟

حج (ثواب) لیکي. صحابؤ عرض وکړو: اګر که هغه په ټوله ورځ کې سل ځل وګوري. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: هو! الله ډیر لوی

قَالَ: «نعم الله أكبر وأطيب»[1]

او ډیر پاک دی. یعنې ستا په ګمان کې چې دا کوم خبره ده که هغه وغواړي نو د ده په نه هم غټ اجر ورکولی شي.

توضیح: مأة مرة: دا حدیث نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلکو تعجب لیرې کولو لپاره وویله، خلکو ته تعجب وشو چې د شفقت په یو نظر سره که د یو حج ثواب ترلاسه کیږي نو که یو سړی سل ځل د شفقت په نظر سره مور پلار ته وګوري نو سل قبول شوي حجونو ثواب ورته ورکولی کیږي. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د الله تعالی رحمت ډیر فراخه دی. هلته هیڅ تنګي نشته دی. علماؤ لیکلي دي چې د شفقت په دې نظر سره د قبول شوي حج اصل ثواب ورته ورکولی کیږي. اضافي ثواب خو به هغه سړي ته ورکولی کیږي چې هغه محنت کولو باندې حج ته لاړ شي. خرچه هم وکړي او وخت هم ورکړي او محنت هم تیر کړي. (مرقات: ۸/۶۷۸)

د مور پلار د نافرمانۍ سزا نغده وي

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ

او حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (د شرک نه علاوه) ټول

الذنوبِ يغفرُ الله مِنْهَا مَا شاءَ إِلَّا عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ

ګناهونه داسې دي چې الله تعالی په دې کې څومره اندازه وغواړي، ببښنه کوي، خو د مور پلار د نافرمانۍ ګناه نه ببښي. بلکې

فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الحياةِ قبلَ المماتِ»[2]

الله تعالی د مور پلار د نافرمانۍ کونکي ته د مرګ نه مخکې د هغه په ژوندې کې ژر سزا ورکوي.

توضیح: یعجل: د حدیث مطلب دا دی چې کوم سړی د مور پلار د نافرمانۍ ګناه کوي نو الله تعالی په دې دنیا کې هغه سړي ته سزا ورکوي. د دې حدیث مطلب دا هم کیدلی شي چې د مور پلار په ژوند باندې الله تعالی هغه سړی په عذاب کې اخته کوي. او مور پلار ورته ګوري. دواړه احتمالونه شته دی. هو! د آخرت سزا به په خپل ځای وي. ګویا په دې حدیث کې اعلان دی چې مور پلار ته کوم سړي تکلیف ورکړو، د هغه

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۸۶ رقم الحديث ۷۸۵۶.

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۹۷ رقم الحديث ۷۸۹۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

سرې سزا نغده وي. هغه به دنیا کې سزا ځکي. یوه قصه لیکلې شوې مې لیدلې ده چې یو هلک خپل بوډا پلار د سمندر غاړې ته کله د غورزولو لپاره بوتللو او هغه یې غورزول غوختل نو پلار یې وخندل، ځوې ترینه د خندلو وجه وپوښتله. نو پلار وویل چې ماته په دې باندې خندا راغله چې ما هم خپل پلار هم د دې ځاې نه سمندر ته غورزولی ؤ، خو تا زه یو څو قدمه مخکې راوستلی یم، خندا په دې راغله چې ستا سره به څه کیږي، ما چې څه وکړل او زما سره چې څه وشو نو هغه خوما وکتل. (مرقات: ۸/۶۷۹)

﴿۳۶﴾وَعَن سعيدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم: «حقُّ كبيرِ الإِخوَةِ
او حضرت سعید ابن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایې چې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: په کشرورور باندې د مشرورور هغه حق
على صَغِيرِهِمْ حَقُّ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ» (رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الأَحاديثَ الخمسةَ فِي «شعب الْإِيمَان»)[1]
دی کوم چې د پلار په خپل ځوې باندې وي. (دا پنځه واړه احادیث بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدي)

توضیح: د عامو خلکو خیال وي وروربهر حال ورور وي. که مشر وي او که کشر. په دې حدیث کې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلې دي چې د مشرورور احترام او اکرام هم هغه شان دی څنګه چې د پلار وي. که پلار مړ شي نو مشر ورور دې کشرانو لپاره شفقت او رحمت او خواخوږی کې د پلار په شان شي او په کشرانو باندې لازم دی چې هغوې خپل مشرورور د پلار په شان تصور کړي. (مرقات: ۸/۶۸۰)

دا اصول تر هغه وخته پورې قائم وي کله چې خلک دینداره هم وي او کلیا ماحول کې وي. که خلک د ښار ماحول ته راشي او عصري تعلیم ترلاسه کړي نو دا اصول زره زره شي. انګریزې تعلیم څه ورکړل یې ورنکړل البته نوې نسل یې د مشرانو نافرمان او خود سره جوړ کړو.

اٹھا کر پھینک دو باہر گلی میں　　نئی تھذیب کے انڈے ہیں گندے
تمامی دیکھ لو سارے جہاں میں　　نظر آنے لگے ہیں داڑھی منڈے

✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۲۱۰ رقم الحديث ۷۹۲۹.

باب الشفقة و الرحمة على الخلق ۱۲ ربيع الثاني ۱٤۱۸هـ

په مخلوق خدا باندې د رحمت او شفقت بيان

قال الله تعالى ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ﴾ (الحجرات: ۱۰)

په دې باب کې يتيمانانو، کونډو، مظلومانو، په مصيبت کې راګير غمزپلي خلکو، بوډاګانو او کشرانو باندې شفقت او د مينې محبت احاديث راغلي دي. او هغه حديثونه به بيان شي چې په هغې کې د خلکو د حقونو ادا کول او دهغوې ادب او احترام کولو باندې زور ورکړی شويدی. د ماشومانو جينکو د روزنې فضيلت هم بيان کړی شويدی. دغه شان په دې حديثونو کې د ټولې دنيا د مظلومانو او بې ځوکه مسلمانانو د مرستې حکم ورکړی شويدی.

د ټولې دنيا مسلمانانو ته خپل مينځ کې ورونه ويلی شويدي او يوه ليکلي معاهده کړی شويده چې مسلمانان خپل مينځ کې د يو بدن په شان دي. د دې هر فرد د بل لپاره ملاتړې او مرسته کونکی کيدل پکار دي. ګنې هغه به د مسلمان بللو مستحق نوي. د الله تعالى ټول رحمتونه دي. په دې کې يو رحمت په کائنات کې خپل کار ښايي چې د هغې په وجه باندې انسان او حيوان خپل مينځ کې د رحمت معامله کوي.

الفصل الاول

کوم سړی چې په خلکو باندې رحم نه کوي هغه د الله تعالى د رحمت مستحق نه دی

﴿۱﴾ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَرْحَمُ اللهُ
حضرت جرير ابن عبد الله رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى په هغه سړي رحم نکوي
مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ». (مُتَّفق عَلَيْهِ).[1]
يعني هغه د خپل خاص او کامل رحمت مستحق نه ګرځوي) څوک چې په خلکو باندې رحم نکوي. (بخاري او مسلم)

ماشومانو سره د مينې کولو فضيلت

﴿۲﴾ وَ عَنْ عائشة قَالَتْ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې (يوه ورځ) د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې يو باندچي حاضر شو
فَقَالَ: أَتُقَبِّلُونَ الصِّبْيَانَ؟
(او کله صحابو وليدل چې هغوې ماشومانو مچي کوي او مينه ورسره کوي) نو وې ويل چې آيا تاسو خلک ماشومان مچي

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۳۵۸ رقم الحديث ۷۳۷٦، ومسلم في ٤/۱۸۰۹ رقم الحديث (۲۳۱۹-٦٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمَا نُقَبِّلُهُمْ. فَقَالَ النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «أَوَ أَملكُ
کوی؟ مونږ خو ماشومان نه مچي کوو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (دې خبرې اوریدلو باندې) وفرمایل آیا زه په دې خبره باندې
لَكَ أَنْ نَزَعَ اللهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ » (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
قادر کیدلی شم چې الله تعالی ستا د زړه نه رحم او شفقت ایستلی دی. هغه ایسار کړه. (بخاری او مسلم)

د جینکو د روزنې خاص فضیلت

﴿۳﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ وَمَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا
حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې (یوه ورځ) زما خواته یوه ښځه راغله. د هغې سره د هغې دوه ماشومانې هم وې.
تَسْأَلُنِي فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ
هغې زما نه سوال وکړو (یعني څه یې وغوختل) لیکن هغوی ته زما د خوا نه د یوې کهجورې نه علاوه هیڅ
فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا
هم ترلاسه نشول، نو ما هغوی ته هم هغه یوه کهجوره ورکړه. هغې کهجوره نیمه نیمه په خپلو لوڼو کې
وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ.
وویشله. او خپله یې د هغې نه هیڅ هم ونه خوړل. او بیا هغه پاڅیدله او بیرون لاړه. په دې کې
فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کورته راغلی. ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته (د دغه ښځې) دا واقعه بیان کړه.
فَقَالَ: «مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ
نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی چې د جینکو نه څه یعني یوه یا دوه یا ډیرو باندې په ازمیښت کې واچولی شي
فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ
او هغه د دې جینکو سره احسان او ښه ښوونه وکړي نو هغه ماشومانې او هغوی سره کړی شوي نیکي
سِتْرًا مِنَ النَّارِ» (مُتَّفقٌ عَلَيْهِ)[2]
به د دوزخ د اور نه پرده جوړه شي. (بخاری او مسلم)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۲۶ رقم الحديث ۵۹۹۸، ومسلم في ۴/۱۸۰۸ رقم الحديث ۲۳۱۷/۶۴

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۲۶ رقم الحديث ۵۹۹۵، ومسلم في ۴/۲۰۲۷ رقم الحديث ۲۶۲۹-۱۴۷

توضیح: من ابتلی : جینکو سره متعلق د دې فضیلت وجه دا ده چې جینکۍ په غتېدلو سره دبل د کور خدمت کوي، د مور پلار په کار نه راځي. ګویا مور پلار پنځلس شل کاله چې د وپاللي نو د نورو د فائدې لپاره یې وپاللي. دا فقط خواخوږي او شفقت دی. څه دنیاوي غرضونه او مقصدونه نه وي. نو ځکه د جینکو په پالنه باندې دا ثواب ترلاسه کیږي. پاتې شو هلکان نو دهغوې په لویې کولو باندې خو دنیاوي غرضونه په نظر کې وي. چې هغوې په غټېدلو سره به د پلار کارونه ساتي. د هغوې په پاللو باندې دا ثواب نه ترلاسه کیږي. په کومو علاقو کې چې د جینکو په خرڅولو باندې پیسې اخستل کیږي شاید هلته دا ثواب ورنکړی شي بلکې د پاسه عذاب وي، د شریعت د اصول بنود نه هم په دې تو ګه ده.

په دې حدیث کې د جینکو پیدائش امتحان او آزمیښت ګرځولی شویدی. لهٰذا دا ثواب د جینکو سره خاص دی. او فقط د هغوې په پالنه باندې دا ثواب ورکولی کیږي. دلته دې واقعې ته دې وکتلی شي او د مور شفقت او رحمت ته دې وکتلی شي چې خپله یې هیڅ ونه خوړل خو ماشومانو باندې یې وخوړل. دا د الله تعالی د رحمت وزر ده. د الله تعالی په سل رحمتونو کې فقط یو رحمت په دنیا کې خپل اثر ښایې. پاتې رحمتونه ښکاروالی به په قیامت کې کیږي. (مرقات: ۸/۶۸۲)

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَالَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: کوم سړی چې دوه جینکو ساتنه
جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا
او روزنه وکړي تر دې چې هغه بلوغ ته ورسیږي نو دغه سړی به د قیامت په ورځ داسې راشي چې زه او هغه
وَ هُوَ هٰكَذَا » وضمّ أصابعه (رَوَاهُ مُسلم) [1]
په داسې توګه یو بل ته نژدې یو ، دې ویلو سره نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې دواړه ګوتې یو ځای کړې (مسلم)

د کونډې او مسکین د خدمت فضیلت

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «السَّاعِي
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: کونډه ښځه او د مسکین خبر اخستونکی دهغه
عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَ الْمِسْكِينِ
سړي په شان دی څوک چې د خدای د لاره کې کوښښ وکړي یعنې کوم سړی چې د کونډې ښځې او مسکین ساتنه او خبر اخستل کوي

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۲۷ رقم الحديث (۲۶۳۱-۱۴۹) والترمذي في السنن ۴/۲۸۱ رقم الحديث ۱۹۱۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

كَالسَّاعِي	فِي	سَبِيلِ	اللهِ	»

او دهغوی ضرورتونه پوراکولو سره دهغوی سره ښه ښوي کوي نو دی ثواب دهغه ثواب برابردی کوم چې دخدا په لاره کې جهاد او

وَ	أَحْسَبُهُ	قَالَ	:	«•	كَالْقَائِمِ

حج کونکی ته ورکولی کيږي. او زما ګمان دی چې هغه دا هم بيان کړل چې د کونډې ښځې او مسکين خبر اخستونکی د هغه سړي په

لَا	يَفْتُرُ	وَ	كَالصَّائِمِ

شان دی چې هغه په لمونځ او عبادت کې شپه په ويخه تيروي او د خپلې شپې په ويخه تيرولو کې نه څه سستيا کوي او نه څه کمی او

لَا	يفطر	» .	(مُتَّفق	عَلَيْهِ	) .	(۱)

نقصان برداشت کولی شي. او د هغه سړي په شان دی چې هغه (د ورځې کلهم) روژه نه ماتوي (چې هغه ته صائم الدهر ويلی کيږي.

يتيم د روزنې فضيلت

﴿۶﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ

او حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه او د يتيم روزنه کونکی

لَهُ وَلِغَيْرِهِ فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا» وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى

چې هغه يتيم که د هغه وي او د بل چا وي، جنت کې به داسې يو، دې وينا سره نبی عليه السلام د شهادت

وَ فَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ) (۲)

ګوته او مينځنۍ ګوتې په ذريعه سره اشاره وکړه. او د دواړو په مينځ کې يې لږ شان فراخوالی وساتلو. (بخاری)

د دنيا ټول مسلمانان د يو جسم په شان دي

﴿۷﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَرَى الْمُؤْمِنِينَ

او حضرت نعمان ابن بشير رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل (اى مخاطبه) ته به مؤمنانو لره خپل

فِي تراحُمِهم و توادِّهم و تعاطُفِهم

مينځ کې د يو بل سره د رحم معامله کولو، د يو بل سره د مينې او تعلق ساتلو او د يو بل سره د مهربانۍ او مرستې ښوولو کې داسې

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۳۷ رقم الحديث ۶۰۰۷، ومسلم في ۴/۲۲۸۶ رقم الحديث (۲۹۸۲-۴۱)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۳۶ رقم الحديث ۶۰۰۵ ومسلم في ۴/۲۲۷۸ رقم الحديث (۲۹۸۳-۴۲)

كمثلِ الجسدِ إذا اشْتَكَى عضوا تَدَاعَىٰ لَهُ
وموميلکه څنګه چې د بدن حال دی چې کله د بدن کوم اندام خوګیږي نو د بدن نور اندامونه د دې یو اندام له
سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَ الْحُمّٰى » . (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) . [1]
وچې نه هغه نور اندامونه رابلي. او د بیداري او تبې په سترپیا او درد کې ټول جسم شریک وي. (بخاري او مسلم)

توضیح: كمثل الجسد: مسلمانانو لپاره د اسلام د اړخ نه عالمې سطح باندې یو دستاویزې شرعې لوظنامه ده چې رنګ او نسل او هیواد او وطن اوژبه او خاندان رابطو نه بالاتر کیدلو سره مسلمان د بل مسلمان لپاره خواخوږي او رحمت جوړ شي. کوم مسلمان چې د بل مسلمان لپاره داسې جذبه نه لري هغه مسلمان خو څه بلکې د انسان بللو مستحق ندی. بابا سعدی فرمایلي دي: (مرقات: ۸/۶۸۵)

بنی آدم اعضائے یک دیگر اند — کہ در آفرینش زیک جوہر اند

چوں عضوبدرد آورد روزگار — دیگر عضوہا رانماند قرار

یو حدیث کې راغلي دي چې: **من لم يهتم بأمور المسلمين فليس منا**. یوحدیث کې دي: المسلمون يد على من سواهم. د مسلمانانو خپل مینځې دې خواخوږۍ لپاره فقط اسلام او مسلمان کیدل شرط دی. د ذات قبیلو نه اخوا د مسلمان لپاره ضروري دي چې هغه د قلعې د دیوال په شان او د زنځیر د مسلسل کړو په شان متفق او متحد وي. که هغه نږدې وي او که لیرې وي، په مشرق کې وي او که په مغرب کې. اقبال ویلي دي:

درویش خدا مست نہ شرقی ہے نہ غربی — گھر اسکا نہ دلی نہ صفاہاں نہ سمرقند

د مسلمانانو دا اتفاق او اتحاد ماتونکې هر یو شی الحاد او زندقیت دی. دا اتفاق او اتحاد، د فکر یو والې او د عمل په کردار باندې قائم دی.

ہے زندہ فقط وحدت افکار سے ملت — وحدت ہو فنا جس سے وہ الہام بھی الحاد

وحدت کی حفاظت نہیں بے قوت وبازو — آتی نہیں کچھ کام یہاں عقل خداداد

قرآن او حدیث . سلام ټول مسلمانان خپل مینځ کې ورونه ګرځوي. او دهغوې خپل مینځې هر یو کلام او سلام او والې ته د قدر په نظر سره ګوري. قرآن مسلمانان د عقیدې په یوه اتفاقي نقطه باندې راغونډوي. او بیا یې د یو بل لپاره ورونه او غمخوار جوړوي. لیکن نن سبا د ټولې دنیا مسلمانان د نظریې او افکارو د انتشار ښکار دي. هغوې علاقو، قومیتونو، بیل بیل حکومتونو، او بلاکونو کې تقسیم شوي دي. د دې

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۳۸ رقم الحديث ۶۰۱۱ ومسلم في ۴/۱۹۹۹ رقم الحديث (۲۵۸۶-۶۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

بنيادي وجه هم دا ده چې د اتحاد د نقطې تعارفې نښان «المسلمون» كمزوري كړې شويدى. دا وخت زه بيت الله ته مخامخ رمضان ۱۴۲۶هـ په ۳۰ تاريخ دا كرخي ليكم. آخر روژه ده. لاكهونو انسان راغونډ شويدي. خو په سوچ او فكر كې ټول خپاره دي. دچا نظرونه په امريكه باندې لګيدلي دي. نو دچا ستركې چين اړخ ته وچتي شويدي. څوک هندوان خوشحالوي. نوڅوک كموسنتانو اړخ ته ټيټ شويدى. ناست په مكه يا مدينه كې دى، خو نه يې مكه وليدله او نه يې مدينه وكتله. حالانكې مسلمان د يو جسم په شان د يو بل خواخوږي وي. او دهغوې نظرونه په خپل مركز باندې وي.

درويش خدا مست نه شرقى ہے نه غربى — گھر اسكا نه دلّى نه صفاہاں نه سمرقند

﴿۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (يو خداى، يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام او د يو دين منلو

« الْمُؤْمِنُوْنَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنِ اشْتَكَى

په وجه باندې) ټول مسلمانان د يو سړي (د اندامونو او جسم) په شان دي. كه د هغه ستركه خوږيږي نو د

عَيْنُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ وَإِنِ اشْتَكَى رَأْسُهُ

هغه ټول جسم ناآرامه او بيقراره شي او كه د هغه سر خوږيږي نو ټول بدن يې درد محسوسوي (دغه شان يو

اشْتَكَى كُلُّه» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[۱]

مسلمان ټولو مسلمانانو لره محسوس كول پكار دي)

دنيا د مسلمانانو مثال د قلعې د ديوال په شان دى

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

«الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ

مسلمان، د مسلمان لپاره د يو كور په شان دى (يعنې ټول مسلمانان د مضبوطتيا او طاقت تر لاسه كولو په اعتبار سره

يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا» ثُمَّ شَبَّكَ

دهغه كور په شان دي) چې د هغې يو برخه د بله برخه مضبوطه ساتي. دې ويلو سره نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۱] أخرجه مسلم في صحيحه ۲۰۰۰/۴ رقم الحديث (۶۷/۲۵۸۶) وأحمد في المسند ۲۷۶/۴.

بَین أَصَابِعه (مُتَّفق عَلَیْهِ)[1]

د یولاس ګوتي د بل لاس په ګوتو کې داخل کړې. (بخاري او مسلم)

جائز سفارش کول د ثواب کار دی

﴿۱۰﴾ وَ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ

او حضرت ابوموسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې کله به نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته

السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ قَالَ: «اشْفَعُوا

کوم سائل یا حاجتمند راتلونو (صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) به فرمایل چې (زما لپاره) دې سړي ته سفارش وکړه دې

فَلْتُؤْجَرُوا وَيَقْضِي اللهُ عَلَى لِسَانِ رَسُوله

لپاره چې تاته د سفارش ثواب درکړی شي. او الله تعالی د خپل نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خله باندې

مَا شَاءَ» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

کوم حکم چې وغواړي، جاري کوي.

توضیح: اشفعوا: کله چې د یو حاجت مند د چا ته څه حاجت وي او د هغه رسیدل هغه ته نه کیږي. هغه مقام د دغه حاجت رسوَل ضروري هم دي او د ثواب کار هم دی. د بحث لاندې حدیث مطلب دا هم دا دی، دغه شان د دې حدیث مصداق هغه صورت هم دی چې مثلاً یو سړی د یو کار اهل هم دی او لائق او مستحق هم دی. هغه ته مناسب مقام ته رسیدلو کې تکلیف دی. چاد هغه سفارش وکړو او هغه یې هغه مقام ته ورسولو. دا هم ممدح او د ثواب کار دی. د دې په برعکس یو نالائق په یو اهم مقام کینولو لپاره سفارش کول د قیامت په نښو کې ده. **اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة.** دغه شان د الله تعالی کوم ایسارولو لپاره سفارش کول منع او حرام دي. دغه شان د شریانو او فساد ګرو لپاره سفارش کول جائز ندي. بهرحال جائز سفارش د ثواب کار دی. که هغه سفارش قبول شي او که قبول نشي، سفارش کونکې ته به ثواب ورکولی کیږي. نن سبا خو اکثر سفارشونه ناجائز شروع شویدي. نو څکه لفظ سفارش د لفظ رشوت په شان د بدۍ سره مشهور شویدی. (مرقات: ۸/۶۸۶،۶۸۷)

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۴۹ رقم الحديث ۶۰۲۶، ومسلم في صحيحه ۴/۱۹۹۹ رقم الحديث (۲۵۸۵-۶۵)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۴۴۸ رقم الحديث ۱۳/۷۴۷۶ رقم الحديث ۷۴۷۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ظالم لاس د ظلم نه ایسار کړه دا د هغه سره مرسته ده

﴿۱۱﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْصُرْ أَخَاكَ

او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د خپل مسلمان ورور مرسته وکړه

ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا». فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ

که هغه ظالم وي او که مظلوم. يو صحابي رضي الله عنه (دا ارشاد اوریدلو سره) عرض وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم!

أَنْصُرُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ أَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟

کوم مسلمان چې مظلوم دی نو ما له مرسته کول پکار دي. خو زه د هغه مسلمان څنګه مرسته کولی شم کوم چې ظلم کوي؟

قَالَ: «تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فَذَاكَ نَصْرُكَ إِيَّاهُ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ). [1]

نبی علیه السلام وفرمایل: ته هغه د ظلم نه ایسار کړه، او هغه د ظلم نه ایسارول د هغه په حق کې ستا مرسته ده. (بخاری او مسلم)

توضیح: انصر اخاك ظالما او مظلوما: دا جمله به جاهلیت کې خلکو استعمالوله. او زیاتې به یې دا ویل که تا د ظالم مرسته ونکړه نو د مظلوم مرسته به څنګه وکړې شي؟ دا د هغه معاشري جاهلیت او ظلمؤ. کله چې د دې تعلیم عام شو او نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا جمله ارشاد وفرمایله نو د صحابه کرامو فرشته صفت طبیعتونو دا د اسلامي اخلاقو منافي وګڼلو، نو ځکه یې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې د مظلوم مرسته کولو باندې خو پوهه شو، دا د ظالم مرسته څنګه کیدلی شي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تول په شریکه سره د ظالم لاس د ظلم نه ایسار کړی، هغه به د ظلم نه منع شي. دا د هغه سره د همیش لپاره مرسته ده چې د آخرت د عذاب نه به بچ شي. (مرقات: ۸/۶۸۸)

ټول مسلمانان خپل مینځ کې ورونه ورنه دي

﴿۱۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْلِمُ

او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر مسلمان د بل

أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ

مسلمان دیني ورور دی هیڅ مسلمان په بل مسلمان باندې ظلم ونکړي او هغه په هلاکت کې اخته نکړي

وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي

او نه هیڅ مسلمان بل مسلمان د هغه د دښمن په لاسونو کې پریږدي. بلکې د هغه د دښمن په مقابله کې د هغه مرسته او معاونت وکړي.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحیحه ۱۲/۳۲۳ رقم الحدیث ۶۹۲۵، ومسلم في ۴/۱۹۹۸ رقم الحدیث (۲۵۸۴-۶۲)

حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ
او څوک چې د کوم مسلمان ورور د حاجت پورا کولو سعې او کوښښ کوي نو الله تعالی د هغه حاجت پورا کوي.
وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ
څوک چې د کوم مسلمان ورور کوم غم لیرې کړي نو الله تعالی هغه د قیامت په ورځ باندې په غمونو کې
كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا
د یو غټ غم نه به خلاصی ورکړي. او څوک چې د کوم مسلمان ورور بدن یا د هغه عیب پټوي نو د
سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
قیامت په ورځ به الله تعالی د هغه عیبونه پټ کړي. (بخاری او مسلم)

توضیح: المسلم اخوالمسلم: په دېکې هیڅ شک نشته چې مسلمان د مسلمان ورور دی. او دا د هغوې په مینځ کې یو عالمې لیکلی شوې شرعې لوظنامه ده. خو د دې لپاره شرط دا دی چې اول خپله مسلمان خو مسلمان جوړ شي. دلته مصیبت او مشکل دا دی چې خپله خو مسلمانان نه جوړیږو او معاشره د مسلمانانو غواړو. په حدیث کې نبی کریم ﷺ مسلمان د مسلمان ورور بللی دی او جوړ کړی یې دی. کوم کافر بدې عقیدې والا ته یې د مسلمان ورور نه دی ویلی. نن سبا بې دینه خلک هم دا وایې چې څوک هر څنګه ولې نه وي. خپل مینځ کې ورونه کیدل پکار دي. په دې باندې چې کله عمل ونشي نو شور کوي چې مسلمان د مسلمان دښمن دی. زما وروره یو سړی قادیانې دی، آغاخانی دی، رافضې دی، ملحد او بې دینه دی، هغه د یو مؤمن ورور څنګه جوړیدلی شي؟ (مرقات: ۸/۶۸۸) اول دا مؤمن او مسلمان جوړ کړه، بیا به هغوې خپله ورونه ورونه شي. په دنیا کې د اهل حق مدرسې واخلې. پدېکې ټول طالبان خپله ورونه ورونه دي. ځکه چې دین راغلی دی. نو یو شول. د بې دینه د دیندار سره تړل هم داسې دي لکه یو سړی د کاڼې سره د لرګې د یو ځاې کولو کوښښ کوي. لایظلمه ولا یسلمه: یعنې مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې نه خپله ظلم کوي او نه د ظلم لپاره هغه کافرانو ته سپاري. دا حدیث یو لیکلې لوظنامه ده خو نن سبا وګوره چې د مسلمانانو حکمرانان ربښتونې مسلمانان ونیسي او امریکه او کافرانو ته یې سپاري. او ډالر اخلي. او بیا وایې چې زمونږ سره مینه لری، زمونږ اطاعت وکړی. نو داسې به څنګه وشي. (مرقات: ۸/۶۸۸،۶۸۹)

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۹۸ رقم الحديث ۲۴۴۲، ومسلم في ۴/۱۹۹۶ رقم الحديث (۲۵۸۰-۸۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

ستر مسلماً: د مثال په توګه باندې يو حيادرا عزتمند او نيک سړی دی. په هغې کې هيڅ عيب نشته دی يا د بدقسمتۍ نه دهغه نه څه ګناه وشي نو دهغې د پټولو ترغيب دی. ځکه چې د هغې په مشهورولو سره به هغه سړی تباه شي. او په پټولو سره به دهغه اصلاح وشي او هغه ته به نوی ژوند ترلاسه شي. د حديث حکم د داسې خلکو لپاره دی. ليکن شريان او فسادګر او عادي مجرمانو متعقدي جرمونو پټولو جائز ندي. بلکې د هغې مخ نيوی پکار دی او د ختمولو فکر کول پکار دي. اول دې هغه ته خبرداری ورکړی شي. که په هغې سره منع نشو، نو دو خت حکمران ته دې خبر ورکړي، خو نن سبا مسلمان حکمرانان چيرته دي؟ (مرقات: ۸/۶۹۰)

هيڅ مسلمان سپک مه ګڼه

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « اَلْمُسْلِمُ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هر يو مسلمان د بل مسلمان
أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ
ديني ورور دی. (لهذا) مسلمان دې په مسلمان باندې ظلم نکوي. دهغه مرسته او ملاتړ دې نه پرېږدي. او هغه دې ذليله او
وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هٰهُنَا». وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ
سپک نه ګڼي. بيا نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې سينې ته دري ځل اشاره کولو سره وفرمايل چې پرهيزګاري دې ځای کې
"بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ
ده. دغه شان يې وفرمايل چې د مسلمان لپاره دومره بدي کافي ده چې هغه خپل مسلمان ورور ذليله او سپک
كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ : دَمُهُ وَ مَالُهُ وَ عِرْضُهُ " (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]
وګڼي. او مسلمان باندې د مسلمان ټول شيان حرام دي. لکه دهغه مال او د هغه عزت او ناموس. (مسلم)

توضيح: **التقوٰی**: يعني تقوی يو پټ امر دی. چې دهغې تعلق د زړه سره دی. نو ځکه د کوم کمزورې حالت او کمزور او محتاج او فقير مسلمان سپک ګڼل پکار ندي. ځکه چې کيدلی شي چې دهغه باطن ستا نه په لاکهونو درجې ښه او روښانه وي. او تا د دهغې عِلم نوي. دا جمله په حقيقت کې د دې نه مخکې جملې لپاره تاکيد دی. چې په هغې کې ويلی شويدي چې هيڅ مسلمان سپک مه ګڼه. (مرقات: ۸/۶۹۰)

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۶ رقم الحديث (۲۵۶۴-۳۲) وابوداود في السنن ۵/۱۹۶ رقم الحديث ۴۸۸۲.

جنتي او دوزخي خلکو قسمونه

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ:

او حضرت عیاض بن حمار رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د جنتي خلکو درې قسمونه دي:

ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ

يو خو هغه حاکم چې هغه عدل او انصاف کوي. او د خلکو سره احسان کونکی وي. او چا ته چې د نيکيو او

مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ وَ رَجُلٌ رَحِيمٌ

ښيګړو توفيق ورکړی شوي. دويم هغه سړی کوم چې (په کشرانو او مشرانو باندې) مهربان او خپلوانو او

رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَ مُسْلِمٍ

مسلمانانو لپاره رقيق القلب يعنې د نرم زړه والا وي. او دريم هغه سړی چې هغه (حرام شيانو نه) ځان

وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ.

ساتونکې (د غير الله مخې ته د سوال لاس نه خپرولو نه) ځان ساتي. او د اهل او عيال په اړه په خدای توکل

وَ أَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ : الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ

کونکی وي. او د دوزخي خلکو پنځه قسمونه دي: يو خو د کمزورې عقل والا چې د هغه د عقل کمزورې

لَهُ الَّذِينَ هُمْ فِيكُمْ تَبَعٌ

هغه د بدو کارونو نه منع نکړي. دا هغه خلک دي چې هغه ستاسو تابع او خادمان دي. هغوی سره نه د

لَا يَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا

ښځې خواهش وي او نه د مال پرواه (يعنې نه خو يې هغوی سره د ښځې پرواه وي چې د هغې په ذريعه سره هغه خپل جنسي خواهش

وَ الْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى

په جائز توګه سره پورا کړی شي او نه هغوی ته د هغه مال و زر طلب وي دويم هغه سړی چې هغه خائن او بد ديانت وي چې د هغه

لَهُ طَمَعٌ وَ إِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ

طمع څه پټه شی هم د هغه د لاس نه تللو ته نه پرېږدي، دې لپاره چې هغه په دې کې بد دیانتي وکړی شي. که هغه هر څو مره ورکوټی

وَ رَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَ هُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَ مَالِكَ

او کم شی ولې نوي. او دريم هغه سړی چې هغه سحر او ماښام تاسو لره ستا په اهل کې دهوکه درکولو په سوچ کې

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ ذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ وَ الشِّنْظِيرُ الْفَحَّاشُ " . (رَوَاهُ مُسْلِم) . [۱]

اخته وي. دغه شان نبی کریم ﷺ د بخیل او دروغژن او بداخلاقه فحش گو ذکر وکړو. (مسلم)

توضیح: ذو سلطان: یعنې د حکومت او سلطنت هغه مشر چې هغه عدل او انصاف کوي او د ولس سره ښه او د احسان معامله کوي. او د الله تعالی د اړخ نه هغه ته د صحیح فیصله کولو توفیق ورکړی شوی وي. د هغه په هره فیصله کې د الله تعالی توفیق او مرسته او نصرت او اعانت شامل وي. او د انجام په اعتبار سره د هغې فیصله مثلاً د چا ټاکنه فائده منده ثابته شي، دغه شان سلطان مقسط، متصدق او موفق به په اهل جنت کې وي. (مرقات: ۸/۶۹۳)

لکل ذی قربٰی: یعنې د خپلوانو لپاره نرم زړه والا وي. (مرقات: ۸/۶۹۳)

ومسلمٍ: دا لفظ مجرور دی یعنې د هر مسلمان لپاره هم رحم دل او نرم زړه والا وي. **وعفیف متعفف**: یعنې دریم قِسم هغه سړی دی چې هغه عفیف وي یعنې حرام او حلال فرق ساتلو سره د خپل ځان د حرامو نه ساتي.

متعفف: یعنې سوال کولو او خیرات غوختلو نه ځان ساتي. عیالدار وي خو په مکمله توګه باندې خپل رب باندې بهروسه کوي، او دارې قِسمه خلک جنتیان دي. (مرقات: ۸/۶۹۳)

پاس بیان شوؤ درې قِسمه خلکو په مقابله کې پنځه قِسمه خلک داسي دي چې هغه دوزخیان دي. دهغوې تفصیل دا دی: الضعیف: یعنې د کمزورې عقل والا سړی دی دهغه کمزوری عقل هغه د بیکاره کارونو نه نشي منع کولی. خپله معتوه دی، دنورو تابع وي، او په هغې کې بې قاعدګې کوي، بی لارېتوب کوي، خپله هیڅ رایه نه لري. بس د اقتدار خاوند پسې مخکې وروسته ګرځي. چمچه توب کولو کې وخت تیروي. د نفسانی خواهشاتو تابع وي. خود غرضی د وجې نه هر څه ترلاسه کولو لپاره تیار شي. **لازبرله**: زبر عقل او کمال او صبر ته وایې.

لایبغون اهلا: یعنې هغه معتوه او بی عقله د خپلې حلال ښځې سره د تعلق ساتلو ییخې سوچ نکوي بلکې هغه ناجائز او حرام ذریعو سره د خپل جنسې خواهشات پوره کولو په سوچ کې اخته وي. **ولا مالا**: یعنې هغه سره دا فکر هم نوي چې د حلال مال ګټلو څه اهمیت دی. او دهغې څه قدر او قیمت دی. بس دا عاجز فقط خوراک څکاک پیژني، نور د حلالو څه فکر ورسره نوي، ډیر خوشحاله وي. نو داسې معتوه او کم عقل، خواهش پرست او چاپلوسې کونکی سړی دوزخې دی. اسلام غواړي چې دهغه منونکې خودداروي، د نفس د عزت مالک وي. او په خپلو خپو باندې په خپل اعتماد سره ولاړ وي. او هوښیار بیدار او ویخو مازغو والا وي.

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۷ رقم الحديث (۲۸۶۵-۶۳) واحمد في المسند ۴/۲۶۱.

والخائن: طمع يې مصدر دی. خو د مطموع په معنې کې مفعول دی. مطلب دا دی چې داسې خائن چې د... په نظر کې د ړوکې نه ړوکی شی هم وي چې دا هغه ترلاسه کړي، کله چې ده ته هغه مطلوب ترلاسه شي نو ... ستې په هغې کې خيانت کوي. ګويا د خيانت په شعبه کې دتباه حال والا سړی دی. حسن بصری رحمه الله وفرمايل: **الطمع فساد الدين والورع صلاحه.** **دَقّ:** ډير لږ قليل شی ته ويل کيږي.

عن اهلك اى بسبب اهلك: باد سبب لپاره ده. (مرقات: ۸/۶۹۶)

وذكر: صحابی ته د نبی کريم ﷺ د مبارکې ژبې الفاظ ياد نه ؤ، نو ځکه يې وذکر وفرمايل چې نبی کريم ﷺ بخل او دروغ هم ذکر کړل. **والشنظير: على وزن الخنزير:** بدبنويه، بداخلاقه او بدي فاحشي ويناوي کونکي ته ويل کيږي. ګويا فحاش د دې تفسير دی. (مرقات: ۸/۶۹۶)

البخل او الكذب: اکثر نسخو کې او د شک لپاره دی. دغه شان پنځه شيان به پوره شي. **الضعيف، الخائن، الخادع، البخيل، الشنظير.**

څه چې د ځان لپاره خوښ کړي هغه د خپل ورور لپاره هم خوښ کړه

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم په هغه خدای باندې چې د هغه په فراخه قدرت
نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ أَحَدٌ حَتَّى يُحِبَّ
کې زما ځان دی هيڅ بنده تر هغه وخته پورې کامل مؤمن نشي جوړيدلی ترڅو چې هغه د خپل مسلمان
لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
ورور لپاره هغه څه ونه غواړي کوم چې د ځان لپاره خوښوي. (بخاری او مسلم)

توضيح: **مايحب لنفسه: اى مثل ما يحب لنفسه :** دا مطلب ندی چې خپل خوښ شی بل چا ته ورکړي، بلکې مطلب دا دی چې د خپل خوښ شي په شان د خپل ورور لپاره هم خوښ کړي، په دې کې خواخوږي ده. يعنې خپله عالِم دی نو دغه شان عِلم د نورو لپاره خوښ کړي. خپله د ښه کاري يا ګهړی والا دی نو دغه شان ګاړی او ګهړی د خپل مسلمان ورور لپاره هم خوښه کړي. او د زړه نه ارزو وکړي چې د هغوی سره هم داسې دې راشي. (مرقات: ۸/۶۹۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل ګاونډي تنګول لوی جرم دی

﴿۱٦﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قسم په خداى دى د هغه سړى ايمان (كامل)
وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ»
ندى! قسم په خداى دى د هغه سړي ايمان (كامل) ندى! (كله چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بيا بيا دا الفاظ ارشاد وفرمايل او د
قِيلَ: مَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:
هغه سړي وضاحت يې ونكړو نو) صحابو پوښتنه وكړه چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! هغه سړى څوك دى؟
«الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).[1]
نبي عليه السلام وفرمايل: هغه سړى دى چې د هغه ګاونډي د هغه د بدو او هغه د شر نه محفوظ او په امن كې نه وي.
﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړى (خلاصى موندونكو او سابقينو سره)
«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ». (رَوَاهُ مُسْلِم).[2]
جنت ته نشي داخيدلى د چا ګاونډيان چې د هغه د بدو او شر نه محفوظ او په امن كې نه وي. (مسلم)
﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت ابن عمر رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې
قَالَ: «مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ
نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حضرت جبرائيل عليه السلام به هميشه لپاره ماته د ګاونډي د حق د لحاظ ساتلو حكم اكولو،
حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ
تردې چې زما دا خيال شو چې حضرت جبرائيل عليه السلام (د حكم الهى په مطابق په ذريعه د وحي سره)

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۴۳ رقم الحديث ۶۰۱۶.

[2] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۶۸ رقم الحديث (۴۶-۷۳) واحمد في المسند ۲/۱۳۷۳.

سَيُوَرِّثُهُ » (مُتَّفق عَلَيْهِ)(۱)

ډیر ژر به ګاونډیان د یو بل وارثان وګرځوي. (بخاري او مسلم)

د دریم سړي په شتون کې دې دوه کسان خپل منځ کې په غوږ کې خبرې نکوي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که تاسو درې کسان

فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ

یو ځای یاست نو دوه کسان دې داسې غوږې (یو بل ته پټې خبرې) نکوي چې هغه دریم سړی یې وانوري،

حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ

ترڅو چې هغه ډیرو کسانو سره یو ځای شي. او دا (منع والی) د دې وجې نه دی چې د دې دواړو دا کار (یعني خپل منځي

أَجْلِ أَن يحزنهُ» . (مُتَّفق عَلَيْهِ). (۲)

غوږې) دغه (دریم سړی) غمژن کوي

توضیح: مثلاً د سفر په دوران کې یا په کوم ځانله ځای کې درې کسان په سفر کې بوخت دي یا مقیم دي نو دا جائز ندي چې دوه کسان بیل بیل او ږدي مشورې شروع کړي. ځکه چې په دې سره به هغه سړی ویریږي چې دا دواړه زما په خلاف باندې څه منصوبه جوړوي. هو! کله چې په آبادۍ کې د خلکو سره یو ځای شي یا دې یو اځې مشوره کوي ځکه چې په دې کې هغوی ته به څه پریشانی نه وی. (مرقات: ۸/۶۹۹)

دین د نیکړې نوم دی

﴿۲۰﴾ وَعَن تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ»

او حضرت تمیم داري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دین نصیحت دی.

ثَلَاثًا. قُلْنَا: لِمَنْ؟

نبی علیه السلام دا خبره درې ځله وفرمایله (یعني صحابه کرام رضي الله عنهم) پوښتنه وکړه چې دا نصیحت او نیکړه د چا لپاره ده.

قَالَ: «لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ

او د چا په حق کې کول دي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د خدای لپاره، خدای د کتاب لپاره،

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۴۱ رقم الحديث ۶۰۱۴،۶۰۱۵ ومسلم في ۴/۲۰۲۵ رقم الحديث (۲۶۲۴-۱۴۰)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۸۲ رقم الحديث ۶۲۹۰ ومسلم في ۴/۱۷۱۸ رقم الحديث (۲۱۸۴-۳۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَ عَامَّتِهِمْ » . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ) [۱]	
مسلمانانو د امامانو (یعني د اسلامي حکومت د مشرانو او علماؤ) لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره. (مسلم)	

توضیح: لِلّٰهِ: الله تعالی لپاره خیرخواهي دا ده چې دهغه دین قبول کړی شي. دهغه په ذات او صفاتو کې څوک شریک نکړی شي. د هغه د یووالي اقرار په هغه توګه باندې وشي څنګه چې د قرآن اعلان دی. د هغې په اوامرو او نواهیو باندې پورا عمل وکړی شي. او په دې دنیا ما بعد الدنیا باندې هغه علی الاطلاق باچا ومنلی شي. او دهغه د نعمتونو شکریه ادا کړی شي. ولکتابه: د کتاب نه مراد قرآن کریم دی. دهغې په حق کې خیر خواهي دا ده چې هغه د الله تعالی د اړخه رالیږلی شوی آخرې کتاب ومنلی شي. هرقِسم بدلون او تحریف نه محفوظ ومنلی شي. د هغې په حکمونو او تعلیمونو باندې مکمل عمل وکړی شي. او هغه د ټولو انسانانو لپاره لاربنود کتاب ومنلی شي. او د هرې زمانې لپاره د هغې تعلیمات مؤثر او کافي شافي ومنلی شي. (مرقات: ۸/۷۰۱)

ولرسوله: د رسول نه مراد محمّد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې خیرخواهي دا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالی ریښتونی او آخرې پیغمبر ومنلی شي. د نبی صلی الله علیه وسلم سره مینه وساتلی شي. او د نبی صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړی شي. د نبی صلی الله علیه وسلم راوړلی شوې شریعت باندې عمل وکړی شي. د نبی صلی الله علیه وسلم پیغام د دنیا د ټولو پیغامونو نه وچت او اعلیٰ پیغام تصور کړی شي. نبی صلی الله علیه وسلم لره د خپل ځان او د خپلوانو نه ډیر محبوب ومنلی شي او د نبی صلی الله علیه وسلم اهل بیت او صحابه رضي الله عنهم سره عقیدت او مینه وساتلی شي. د نبی صلی الله علیه وسلم په اړه دا عقیده وساتلی شي چې کوم امانت او رسالت الله تعالی نبی صلی الله علیه وسلم ته سپارلی ؤ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم په احسن طریقې سره هغه امانت انسانانو ته ورسولو، نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالی غوره پیغمبر ؤ. او د نورو پیغمبرانو په شان د دې فاني دنیا نه دارِبقاء ته تللی دی. (مرقات: ۸/۷۰۱،۷۰۲)

ولائمة المسلمین: مسلمانانو د امامانو او حکمرانانو په حق کې دا خیرخواهي ده چې په ټولو جائز کارونو کې دهغوی اطاعت وکړی شي. هرقِسم بغاوت او سرکشۍ نه ځان وساتلی شي. د هغوی دینې حالت ښه کولو لپاره هرممکن کوښښ وکړی شي. او هغوی په ښه دعاګانو سره یاد کړی شي. (مرقات: ۸/۷۰۲)

وعامتهم: یعنې د عام مسلمانانو لپاره دین ښېګړه او نصیحت دی. عام مسلمانانو په حق کې خیرخواهي دا ده چې سړی د هغوی دینې او دنیوي ښېګړې غوختونکی وي. هغوی ته د دین تعلیمات ورسوي. او د

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۷۴ رقم الحديث (۵۵-۵۹) والترمذي في السنن ۵/۲۸۶ رقم الحديث ۱۹۲۶.

بنيګړي دعوت عام کړي. او هغوی ته د تکليف ورکولو نه ځان وساتي. او هغوی لره د هر نقصان نه ساتلو کوښښ وکړي. د هغوی سره ښه بنويې وکړي. او د فائده ورکولو په کوښښ کې وي. (مرقات: ۸/۷۰۲)

د هر مسلمان د ښيګړې سره متعلق د جرير بن عبدالله قصه

﴿۲۱﴾ عَنْ جرير بن عبد الله قَالَ : بَايَعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى
او حضرت جرير ابن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په دې خبره باندې بيعت وکړو چې
إِقَامِ الصَّلَاةِ وَ إِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَ النُّصْحِ لكل مُسلم. (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]
پابندې سره به لمونځ کوم. زکوة به ادا کوم. او د هر مسلمان په حق کې به خير خواهي کوم. (متفق عليه)

توضيح: عن جرير بن عبد الله : حضرت جرير بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه څو مياشتې مخکې اسلام راوړی ؤ. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته د هر مسلمان سره د ښيګړې تاکيد کړی ؤ. هغه په دې خبره باندې بيعت وکړو او په دې باندې يې دومره عمل وکړو چې دنيا حيرانه پاتې شوه. د هغه يوه قصه ده چې هغه د يو سړې نه درې سوه درهمو په بدله کې يو اس واخستلو. او بيا يې هغه سړې ته وويل چې ستا اس د درې سوه درهمو نه ډير قيمت دی. آيا ته به دا په څلور سوه درهمه باندې خرڅ کړې. هغه سړې ورته وويل چې ستا خوښه. بيا حضرت جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې ستا اس د څلور سوه درهمو نه ډير قيمت ده. آيا ته به دا په ما باندې په پنځه سوه درهمه باندې خرڅ کړې؟ هغه وويل: ستا خوښه ده. د غه شان جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اس قيمت ډيرولو ډيرولو تردې چې نهه سوه درهمه په بدله کې واخستلو. چا ورته وويل: دا تا څه وکړل؟ خپله دې پيسې ډيرې کړې؟ هغه وفرمايل چې ما د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره بيعت کړی دی چې د هر مسلمان ښيګړه به کوم. دا سړی د اس په قيمت باندې نه پوهيدلو. ما د هغه سره ښيګړه وکړه. حضرت جرير بن عبد الله بَجَلي ډير ښائسته ؤ. د دې امت د يوسف په لقب سره به يادولی شو. (مرقات: ۸/۷۰۳)

الفصل الثاني

د بدبخته سړي زړه د نرمۍ نه خالي وي

﴿۲۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: ابو القاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې صادق او مصدوق دی، ما ترينه دا اوريدلي دي
«لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا
چې رحمت يعنې د خدای په مخلوق باندې د رحم او شفقت جذبه د هيچا د زړه نه نه ايستلی کيږي.

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۱۲ رقم الحديث ۲۷۱۵، ومسلم في ۲/۵۷ رقم الحديث (۵۶-۹۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

مَن شقي» (رَوَاهُ أَحمد وَالتِرمِذِيّ)(۱)

خو د بدبخته زړه د دې جذبې نه خالي کړی شي. (احمد وترمذی)

ته د زمکې والا باندې رحم وکړه آسمان والا به په تا باندې رحم وکړي

﴿۲۳﴾وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلرَّاحِمُونَ

او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د خدای په مخلوق باندې رحم

يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰنُ ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ

او شفقت کونکو باندې د رحمن رحمت نازليږي. لهٰذا تاسو د زمکې والا باندې رحم او شفقت کوئ

يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ ". (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَ التِرْمِذِيُّ) (۲)

دې لپاره چې تاسو باندې هغه رحم وکړي څوک چې په آسمان کې دی. (ابوداؤد او ترمذی)

په کشرانو باندې شفقت نه کونکی د دې امت فرد نه دی

﴿۲۴﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : لَيْسَ مِنَّا

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړی زمونږ په تابعدارې

مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ

کونکو کې نه دی چې هغه زمونږ په کشرانو باندې شفقت نکوي، زمونږ د مشرانو (که هغه ځوان وي

كَبِيرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ

او که بوډا) د عزت خيال نه ساتي. د نيکۍ او ښېګړې حکم ونکړي او د بدۍ نه منع ونه کړي. دا

رَوَاهُ التِرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (۳)

روايت ترمذی نقل کړيدی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۲۳ رقم الحديث ۴۹۴۲، والترمذي في السنن ۴/۲۸۵ رقم الحديث ۱۹۲۳.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۳۱ رقم الحديث ۴۹۴۱، والترمذي في السنن ۴/۲۸۵ رقم ۱۹۲۴.

(۳) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۸۴ رقم الحديث ۱۹۲۱.

که خپل عزت کول غواړي نو د خپلو مشرانو عزت کوه

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: کوم زلمی چې هم د کوم بوډا عزت
مِنْ أَجْلِ سِنِّهِ إِلَّا قَيَّضَ اللهُ لَهُ عِنْدَ سنه
او تعظيم د هغه د بوډا والي په وجه باندې کوي نو الله تعالى به د هغه د بوډا والي په وخت کې يو
من يُكرمهُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1]
داسې څوک تيا کې چې هغه د ده تعظيم او خدمت وکړي. (ترمذی)

عالم دين، حافظ قرآن او د عادل باچا عزت د الله تعالى عزت دی

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللهِ إِكْرَامَ
او حضرت ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: د مسلمان عزت او تعظيم کول،
ذِي الشَّيبةِ المسلمِ وَحَامِلُ الْقُرْآنِ غَيْرَ الْغَالِي فِيهِ
حامل قرآن يعنې حافظ او مفسر او قرآن لوستونکې عزت کول، په داسې حال کې چې هغه په قرآن کې زياتې کونکی
وَلَا الْجَافِي عَنْهُ وَإِكْرَامُ السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)[2]
او د قرآن نه او ختونکی نه وي، او عادل باچا تعظيم کول، دا ټول د خدای په تعظيم کې دي. (ابوداؤد او بيهقي)

توضيح: ذی الشيبة: د دې نه مراد بوډا سړی دی. چې دهغه ږیره سپینه وي او پرهیزګاره وی.

حامل القرآن: د دېنه مراد عالم باعمل دی. او د دېنه حافظ قرآن هم مراد دی. دواړه حامل قرآن دي. غير الغالي: يعنې د قرآن په الفاظو او معاني کې د شرعې حد نه تجاوز نکوي. دغه شان نه په هغې کې شک کوي. نه خيانت کوي، نه د کومې وسوسې خکار کيږي. او نه د بدعتيانو په شان باطل تاويلونه کوي، ولاالجافى عنه: اى غير المتباعد عنه: يعنې د قرآن حکمونه، او دهغې د تعليماتو نه مخ اړولو او ليرې تختيدونکی نه وي، او نه قرآن هيرونکی وي. (مرقات: ۸/۷۰۶)

شرح السنة کې د حضرت طاؤس رحمه الله نه روايت نقل شويدی: په هغې کې د تعظيم کولو والا پنځم سړی هم شامل کړی شويدی چې پلار دی.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۷ رقم الحديث ۲۰۲۲.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۷۴ رقم الحديث ۳۸۴۳، والبيهقي في شعب الايمان ۷/۴۶۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

د یتیم په معامله کې غوره او بدتر کور

﴿۲۷﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: د مسلمانانو په کورونو

بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيت

کې غوره کور هغه دی چې په هغې کې کوم یتیم وي. او د هغې سره ښه ښوېې کېدلی شي. او د مسلمانانو په

فِي المسلمينَ بيتٌ فِيهِ يَتِيم يساء إِلَيْهِ » (رَوَاهُ ابْن مَاجه) [1]

کورونو کې بدترین کور هغه دی چې په هغې کې یتیم وي او د هغې سره بد ښوېې کېدلی شي. (ابن ماجه)

توضیح: یعنې غوره کور هغه دی چې په هغې کې د یتیم سره ښه ښوېې کېدلی شي. او بدترین کور هغه دی چې په هغې کې د یتیم سره بد ښوېې کېدلی شي.

د یتیم په سر باندې د شفقت لاس راښکونکې فضیلت

﴿۲۸﴾وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ

او حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: کوم سړی (د بل څه جذبې او غرض په خاطر نه

مَسَحَ رَأْسَ يَتِيمٍ

بلکې) فقط د خدای د رضا او خوشحالۍ تر لاسه کولو لپاره د کوم یتیم ماشوم (جینۍ یا هلک) په سر باندې

لَمْ يمسحه إِلا الله كَانَ لَهُ

(مینې او محبت او شفقت سره) لاس راکاږي نو د هغه لپاره د یتیم په سر باندې ویختان د هغې په بدله کې چې د ده لاس

بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَمُرُّ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ وَمَنْ أَحْسَنَ إِلَى

ورباندې لګېدلی وي، نېکۍ لیکلی کیږي. دغه شان کوم سړی چې د یتیم هلک یا یتیمې جینۍ سره

يَتِيمَةٍ أَوْ يَتِيمٍ عِنْدَهُ

چې هغه د ده په پالنه کې وي، ښه ښوېې وکړي، (او هغه یتیم که د ده خپلوان وي یا پردی) نو هغه سړی او زه به په

كُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ» وقرن

کې داسې یو. او دې وینا سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلې دواړه ګوتې یو ځای کړې یعنې د جنت شهادت ګوته او

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۱۳ رقم الحديث ۳۶۷۹.

فِي أُصْبُعَيْهِ . (رَوَاهُ أَحْمَدُ
منځه کوته بې یو ځای کولو باندې وښودله چې څنګه زما دا دواړه ګوتې دیو بل سره نژدې دي، دغه شان زه او هغه سړی به په جنت
وَ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ).[1]
کې داسې نژدې یو. دا روایت احمد او ترمذی نقل کړیدی. او ترمذی ویلي دي چې دا حدیث غریب دی.

دلور، خور د پالنې فضیلت

﴿۲۹﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ آوَى
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې په خپل خوراک
يَتِيمًا إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ الْجَنَّةَ
څښاک کې یو یتیم شریک کړي نو الله تعالی (د خپل وعدې مطابق) هغه سړی بې شک او شبه د جنت مستحق ګرځوي
أَلْبَتَّةَ إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ. وَمَنْ عَالَ ثَلَاثَ
خو مګر دا چې هغه سړی یو داسې ګناه وکړي چې هغه د ښنلو قابل نه وي. او کوم سړی چې درې
بَنَاتٍ أَوْ مِثْلَهُنَّ مِنَ الْأَخَوَاتِ
لونه یا د هغوی په شان درې خویندو پالنه وکړي او بیا د هغوی تربیت وکړي او د هغوی سره د مینې
فَأَدَّبَهُنَّ وَرَحِمَهُنَّ حَتَّى يُغْنِيَهُنَّ اللهُ
او شفقت ښویې وکړي تر دې چې الله تعالی هغوی لره بې پرواه جوړې کړي (یعنې هغه غټې شي او واده شي)
أَوْجَبَ اللهُ لَهُ الْجَنَّةَ». فَقَالَ رَجُلٌ:
نو الله تعالی هغه د جنت مستحق ګرځوي. دې او ریدلو سره یو صحابي عرض وکړو چې آیا د دوه لونو یا
يَا رَسُولَ اللهِ وَاثْنَتَيْنِ؟ قَالَ: «وَاثْنَتَيْنِ»
دوه خویندو په پالنه به هم دا اجرور کولی کیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو! په دوه باندې هم دا اجرور کولی کیږي.
حَتَّى قَالُوا: أَوْ وَاحِدَةً؟
(راوي فرمایي چې) کصحابؤ دیوې لور یا یوې خور پهاره باندې هم پوښتنه کړې وی نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هم دا جواب

([1]) أخرجه الترمذ في السنن ۴/۲۸۲ رقم الحديث ۱۹۱۷، وأحمد في المسند ۵/۲۶۵

Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَالَ:	وَاحِدَةً	«وَمَنْ	أُذْهَبَ	الله	بِكَرِيمَتَيْهِ

ورکولو چې هو په يو باندې هم اجر ورکولی کيږي. يا نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې الله تعالی د چا دوه خوښ

وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قِيلَ: يَا رَسُولَ الله وَمَا كَرِيمَتَاهُ؟

شيان واخلي هغه هم د جنت مستحق گرځوي، پوښتنه وکړی سوه چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه خوښ شيانو

قَالَ: «عَيْنَاهُ» (رَوَاهُ فِي «شرح السنة»).[1]

نه څه مراد دي؟ نو نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې د هغه دواړه سترګي دي. (روايت کړې دې شرح السنة)

د ماشومانو ښه روزنه د صدقه کولو نه غوره ده

﴿۳۰﴾وَعَنْ جَابِرِبْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَأَنْ

او حضرت جابر بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: په خدای قسم د انسان

يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

خپل ځوې ته د يو ادب يوه خبره ښودل د يو اوړي (صاع) غلې د خيرات کولو نه غوره ده. ترمذی دا

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَنَاصِحٌ الرَّاوِي لَيْسَ عِنْدَ

روايت نقل کړيدی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی او د دې راوي ناصح د محدثينو په نزد باندې

أَصحابِ الحَدِيث بِالْقَوِيِّ)[2]

(حفظ او ضبط په اعتبار سره) قوي يعنې د اعتماد وړ ندی.

ماشومانو ته ادب ښودل د هغوې لپاره غوره ډالۍ ده

﴿۳۱﴾وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ

او حضرت ايوب بن موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د خپل پلار حضرت موسی) نه او هغه د ايوب د نيکه (حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه

أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نُحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ»

نقل کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: هيڅ پلار خپل ځوې ته د نيک ادب او صحيح روزنې نه غوره

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۰ رقم الحديث ۱۹۱۷، والبغوي في شرح السنة ۱۳/۴۴ رقم الحديث ۳۴۵۷.

(۲) أخرجه الترمذي في ۵/۲۹۷ رقم الحديث ۱۹۵۱، وأحمد في المسند ۵/۹۶.

(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا عِنْدِي حَدِيث مُرْسل)[1]

شی نه دی ورکړی. ترمذی ویلي دي چې زما په نزد باندې دا حدیث مرسل دی. (ترمذی، بیهقی)

توضیح: نحل: عطیه، ډالۍ او تحفې ته نحل ویل شویدي. هر سړی غواړي چې هغه دخوشحالی په موقع باندې خپلو بچو ته ډالۍ ورکړي. نو خلک قسما قسم ډالۍ راوړي خو په دې حدیث کې دا وویلی شول چې کشرانو ماشومانو لپاره غوره ډالۍ هغه ته ادب ښودل دي. وجه دا ده چې ادب یو داسې ښایست دی چې هغه په هره زمانه او هر عمر کې خپل ښایست او سنګار او خپل حسن ښایې. (مرقات: ۸/۷۱۲)

د ماشومانو په پالنه کې مشغوله د کونډې ښځې فضیلت

﴿۲۲﴾وَعَن عَوف بن مَالك الْأَشْجَعِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا

او حضرت عوف بن مالک اشجعی رَضِيَاللّٰهُعَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّىاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل: زه او هغه

وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ

ښځه چې دهغې انګې (د خپل اولاد په پالنه کې په محنت او مشقت او د زینت او ښایست پرېخودلو په وجه باندې) تورشوې وي.

كَهَاتَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». وَأَوْمَأَ يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ

د قیامت په ورځ به داسې یو. د دې حدیث راوي یزید بن زریع دا الفاظ بیانولو نه وروسته منځینۍ ګوتې او

إِلَى الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةِ «امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا

شهادت ګوتې ارخ ته اشاره کولو سره وفرمایل هغه ښځه ده چې هغه د خپل خاوند د مرکیدلو یا د طلاق ورکولو په وجه باندې کونډه

ذَاتُ مَنْصِبٍ وجمالٍ حبَست نفسها

یا مطلقه شوې وي او هغه حسین او جمیل او د مال او عزت خاونده کیدلو سره هم فقط د خپل یتیمانانو بچو د

على يتاماها حَتَّى

پالنې او ښیګړې په خاطر (دویمې نکاح کولو نه) خپل ځان وساتي تردې چې هغه ماشومان جدا شي (غټ او

بانوا أو ماتوا » (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]

بالغ کیدلو په وجه باندې خپلې مور ته محتاج نه وي) یا مرګ د هغوي په مینځ کې بیلتون راولي (ابوداؤد)

---

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۹۸ رقم الحديث ۱۹۵۲ واحمد في المسند ۴/۷۸ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۳۹۹ رقم ۸۶۵۳.

(2) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۵۶ رقم الحديث ۵۱۴۹ واحمد في المسند ۶/۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ځه په ورکولو کې ځوي لره په لور باندې ترجیح ورکول جائز ندي

﴿۳۳﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د کوم سړي کو مه لور یا خور وي او هغه خو نه دا

يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ

ژوندۍ په قبر کې خخه کړي، نه هغه د ذلت او سپکاوي سره وساتي او نه د ځه په ورکولو کې خپل ولد یعنې ځوي

عَلَيْهَا - يَعْنِي الذُّكُورَ أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ » (رَوَاهُ أَبُودَاوُد)[1]

ته په هغې باندې ترجیح ورکړي نو الله تعالی به هغه (سابقین او نیکانو سره) جنت ته داخل کړي. (ابوداؤد)

خپلې مخې ته پردي غیبت مه اوره بلکې منع يې کړه

﴿۳۴﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « مَنِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د کوم سړي مخې

اغْتِيبَ عِنْدَهُ أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ على نصرِه

ته د هغه د مسلمان ورور غیبت وکړی شي او دا د هغې په مرسته کولو باندې قادر وي چې غیبت کونکی منع کړي

فنصرَه نصرَه الله فِي الدُّنيَا وَالْآخِرَةِ. فَإِنْ لَمْ يَنْصُرْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ

نو هغه يې مرسته وکړه نو الله تعالی به دنیا او آخرت کې د هغه مرسته کوي. او که هغه مرسته کونکی قادر

عَلَى نَصْرِهِ أَدْرَكَهُ اللهُ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» (رَوَاهُ فِي «شرح السّنة»)[2]

کیدلو باوجود هم مرسته ونکړي نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کې د هغه مواخده کوي. (شرح السنة)

د مسلمان د عزت ساتنه کولو باندې د دوزخ اور حرامیږي

﴿۳۵﴾وَعَنْ أَسمَاءَ بنتِ يزيد قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ ذَبَّ عَنْ

او حضرت اسماء بنت یزید فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څوک چې د خپل مسلمان ورور

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۵۴ رقم الحديث ۵۱۴۶،وأحمد في المسند۱/۲۲۳ .

(۲) أخرجه البغوي في الشرح السنة ۱۳/۱۰۷ رقم الحديث ۳۵۳۰.

لَحمِ أَخِيهِ بِالْمَغِيبَةِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي «شعب الإِيمَان»)[1]

غوښه د هغه په نشتوالي کې د خوړلو نه منع کړي نو په الله تعالى باندې دا حق دی چې هغه بدا د دوزخ د اور نه ازاد وي. (بیهقی)

د مسلمان عزت بچ کول غټ ثواب دی

﴿۳۶﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ

او حضرت ابو درداء رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوریدلي دي چې کوم مسلمان

مُسْلِمٍ يَرُدُّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ

ځوک د خپل مسلمان ورور د بې عزته کولو يعني د هغه د غيبت کولو نه منع کړي او د هغې ساتنه وکړي

إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يَرُدَّ عَنْهُ نَارَ جَهَنَّمَ

نو الله تعالى باندې حق دی چې هغه ده لره د قيامت په ورځ باندې د اور نه وساتي يا د ده نه د دوزخ اور

يَوْمَ الْقِيَامَةِ». ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نصرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (رَوَاهُ فِي «شرح السنة»)[2]

ليري وساتي. بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوستلو (وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نصرُ الْمُؤْمِنِينَ) (شرح السنة)

د مسلمان مرسته کولو يا د نه کولو ثمره

﴿۳۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا مِنِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ

او حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ځوک چې د خپل مسلمان ورور

يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ

په هغه ځای کې مرسته ونکړي او غيبت کونکي د هغه د غيبت نه منع نکړي چيرته چې د هغه بې عزتي کيږي

وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ إِلَّا خَذَلَهُ اللهُ تَعَالَى

او د هغه عزت او ناموس ته نقصان رسيږي نو الله تعالى به هم د ده په هغه ځای کې مرسته نکوي چيرته

فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ وَمَا مِنِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَنْصُرُ مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ

چې دا د خدای مرسته خوښوي او کوم مسلمان سړی چې د خپل مسلمان ورور په هغه موقع باندې

---

(1) اخرجه احمد في المسند ۶/۴۶۱ والبيهقي في الشعب الايمان.

(2) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۱۰۶ رقم الحديث ۳۲۲۸، والترمذي في ۴/۳۲۷ رقم الحديث ۱۹۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

يُنْتَقَصُ	فِيهِ	عرضه	وينتهك	فِيهِ	حُرْمَتِهِ

مرسته و کړي چیرته چې د هغه بې عزتي کیږي او د هغه عزت او ناموس ته نقصان رسولی کیږي

إِلَّا نَصَرَهُ اللهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نصرته » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد) [1]

نو الله تعالی به هم د ده په هغه ځای کې مرسته کوي چیرته چې دا د خدای مرسته خوښوي. (ابوداؤد)

په چا کې کوم عیب ووینې نو پټ یې کړه

﴿۳۸﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ رَأَى

او حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمایل: څوک چې په کوم مسلمان کې

عَوْرَةً	فَسَتَرَهَا	كَانَ	كَمَنْ

کوم عیب ووینې یا د هغه بدي وپیژني او بیا هغه پټه کړي نو د ده درجه به د هغه سړي د درجې برابر وي

أَحْيَا مؤودة » . (رَوَاهُ أَحْمد وَ التِّرْمِذِيّ وَ صَححهُ) . [2]

څوک چې ژوندۍ خخه کړې شوې جینۍ بچ کړي. احمد او ترمذي دا روایت نقل کړیدی. او دا یې صحیح ګرځولی دی.

توضیح: **مؤودة**: یعنې ژوندۍ په قبر کې خخه کړې شوې جینۍ یې ژوندۍ کړه. د دې تشبیه وجه په دې توګه ده مثلاً یو عزتمند سړی دی. بد قسمتۍ نه د هغه نه څه ګناه وشوه، وس د شرم له وجې نه هغه دا ارمان کوي چې کاش زما دا عیب ښکاره نشي او کاش زه مړ شم دې لپاره چې د دې شرمیدلو نه بچ شم. په دې صورت کې که څوک د هغه عیب پټوي ګویا ده هغه سړی ژوندی کړو. ځکه چې د هغه عیب ښکاره کیدل د هغه لپاره د مرګ برابر وُ. نو په دې پرده راوستلو کې ثواب دی. خو یاده دې وي چې یو سړی د کومې ګناه عادتي دی، بیا بیا ګناه کوي او د هغه دا جرم متعدی کیږي هم نو د هغې ښکاره کول ضروري دي، پټول یې جائز نه دي. (مرقات: ۸/۷۲۰)

یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د شیشې په منزله دی

﴿۳۹﴾ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمایل: په تاسو کې یو سړی د خپل مسلمان

---

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۹۷ رقم الحديث ۴۸۸۴ واحمد في المسند ۴/۳۰ .

(2) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۲۰۰ رقم الحديث ۴۸۹۱، والترمذي في ۴/۲۸۷ رقم الحديث ۱۹۳۰.

أَخِيهِ فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذًى فَلْيُمِطْ عَنْهُ» (رواه الترمذي ضَعَّفَهُ)
ورور لپاره شیشه ده. لهذا که ته په هغه کې څه بدي ووینې نو د هغه نه هغه بدي لیرې کړه. ترمذي دا ضعیف ګرځولی دی.
و في رواية له و لابي داود اَلْمُؤْمِنُ
او د ترمذي یو بل د غه شان ابو داؤد په روایت کې دا سې دي چې (نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل) یو مسلمان
مِرآةُ الْمُؤْمِنِ وَ الْمُؤْمِنُ أَخُوا الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَنْهُ
د بل مسلمان آئینه ده او یو مسلمان د بل مسلمان وروردی. چې دا د هغه نه هغه شی لیرې کوي چې په هغې کې
ضَيْعَتَهُ وَ يَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ.[1]
د هغه لپاره نقصان او هلاکت وي. او د هغه په نشتوالي کې هم (د هغه حقوق او مفاداتو) ساتنه کوي.

توضیح: مرآة: مؤمن خو د بل مؤمن ورور دی. نو دواړه په نفع او نقصان کې شریک دي. که په یو کې څه عیب او نقصان وي او دویم هغه ووینې نو سمدستې دې هغه خبر کړي، دې لپاره چې هغه د دې عیب نه خپل ځان پاک کړي. ځکه چې یو مؤمن د بل مؤمن لپاره شیشې په شان دی. په شیشه کې چې سړی کله ګوري نو هر غټ ورکوټی عیب ورته په نظر راځي ، نو مسلمان ورور لره هم د بل مسلمان لپاره حساس کیدل پکار دي، او د نقصان او تاوان او هلاکت نه هغه ساتل پکار دي. قاعده دا ده چې سړی کله په شیشه کې خپل ځان ګوري نو که هغه ته په مخ باندې څه داغ په نظر راځي نو سمدستې د هغې د ختمولو کوښښ کوي، نو دغه شان کله چې یو مؤمن ورور بل مؤمن ورور ته د هغه عیب ووایه نو هغه لره سمدستې د دغه عیب د ختمولو کوښښ پکار دی. (مرقات: ۸/۷۲۰)

ضیعته: دضاع نه دی، ضائع کیدلو او نقصان او تاوان ته ویلې کیږي، یعنې د دهغې تباهۍ او هلاکت ایساروي، ځکه چې دواړه خپل مینځ کې ورونه دي. لهٰذا دیو نقصان د بل نقصان دی. (مرقات: ۸/۷۲۰)

ویحوطه: یعنې شاه تر شاه د هغه خیرخواهي کوي. د هغه د فائدو خیال ساتي. او د هغې د نقصانونو د لیرې کولو کوښښ کوي.

مؤمن د منافق د شر نه ساتل غټ ثواب دی

﴿۴۰﴾ وَعَن مَعَاذ بن أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا
او حضرت معاذ بن انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کوم سړی چې د یو مسلمان

[1] اخرجه ۴۹۸۵ أبوداود في السنن ۵/۲۱۷ رقم الحديث ۴۹۱۸، والترمذي في ۴/۲۸۷ رقم الحديث ۱۹۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ	مُنَافِقٍ	بَعَثَ	اللهُ	مَلَكًا	يَحْمِي	لَحْمَهُ

(عزت او ناموس) د منافق د شر نه وساتي، الله تعالى به د هغه لپاره يو فرشته راوليږي چې هغه به دا د

يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	مِنْ	نَارِ	جَهَنَّمَ	وَمَنْ	رَمَى	مُسْلِمًا	بِشَيْءٍ

قيامت په ورځ باندې د دوزخ د اور نه ساتي. او څوک چې په يو مسلمان باندې د يو داسې څه تهمت ولګوي

يُرِيدُ	بِهِ	شَيْنَهُ	حَبَسَهُ	اللهُ	عَلَى	جِسْرِ

چې د هغې په ذريعه سره د هغه مقصد د هغه مسلمان ذات عيبجن کول وي نو الله تعالى به هغه د دوزخ

جَهَنَّمَ	حَتَّى	يَخْرُجَ	مِمَّا	قَالَ»	(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]

په پُل باندې قيدي کړي، تردې چې هغه د دې تهمت لګونکې د وبال نه ووځي. (ابوداؤد)

توضيح: منافق: دلته د منافق نه غيبت کونکي مسلمان مراد دى ځکه چې منافق په خله ډير خوږ وي. خو شاه تر شاه دښمن وي دغه شان منافق په ژبه سره د دوستۍ مظاهره کوي خو په زړه کې دښمنې ساتي. د غيبت کونکې مسلمان معامله به هم د غه منافق په شان وي په دې حديث کې دا د منافق په لفظ سره ياد کړى شوى.

رمى مسلما: په چا باندې يې څه عيب ولګولو او دروغژن بهتان يې ورباندې ولګولو، ګويا هغه د عيب غشى وويشتلو. (مرقات: ۸/۷۲۱)

شَيْنَهُ: عيب او سپکاوى او تحقير مراد دى چې په دې تهمت لګولو باندې هغه د مسلمان تحقير او توهين کوى. **جسر جهنم:** يعنې پل صراط باندې به الله تعالى هغه ايسار کړى.

حتى يخرج: يعنې تر څو چې د دې ګناه نه پاک شوى نه وي، پل صراط باندې به ولاړ وي. د پاکيدلو صورت يې دا دى چې د حق خاوند راضي کړي يا سزا خوړولو سره پاک شي يا د کوم اړخ نه د هغه شفاعت وشي، نو هله به د دې ګناه نه بيرون راوځي، او جنت به ځي. (مرقات: ۸/۷۲۱،۷۲۲)

ښه ګاونډي او ښه دوست څوک دى

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د خداى په نزد (د ثواب او

«خَيْرُ	الْأَصْحَابِ	عِنْدَ	اللهِ	خَيْرُهُمْ	لِصَاحِبِهِ

فضيلت په اعتبار سره) په دوستانو کې بهترين دوست هغه دى چې هغه د خپلو دوستانو لپاره بهترين خيرخواه وي،

---

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۹۶ رقم الحديث ۴۸۸۳، واحمد في المسند ۳/۴۴۱ .

وَخَيْرُ	الْجِيرَانِ	عِنْدَ	اللهِ	خَيْرُهُمْ	لِجَارِهِ»

... د خدای په نزد په ګاونډیانو کې غوره ګاونډي هغه دی چې هغه د خپلو ګاونډیانو غوره خیرخواه

(رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ)[1]

وي. (ترمذی، دارمی) ترمذی ویلي دي چې دا حدیث حسن غریب دی.

د مخلوق ژبه د خدای نغاره وګڼه

﴿۴۲﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې يو سړي نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته عرض وکړو چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم!

كَيْفَ	لِي	أَنْ	أَعْلَمَ	إِذَا

زه خپله نیکو کاري یا بدکاري څنګه معلومولی شم؟ یعني که زه یو داسې کار وکړم چې د هغې شرعًا ښه والی او بدوالی نه

أَحْسَنْتُ	أَوْ إِذَا	أَسَأْتُ؟

معلومیږي نو داسې کومه ذریعه ده چې په هغې سره دا معلومه کړم چې هغه کار کولو باندې زه نیکو کار جوړ

فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:	" إِذَا	سَمِعْتَ جِيرَانَكَ

شوی یم یا بدکار؟ نبی کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل: کله چې ته (د خپل کوم کار په اړه) د خپلو ګاونډیانو نه دا واوري

يَقُولُونَ:	قَدْ	أَحْسَنْتَ	فَقَدْ	أَحْسَنْتَ.	وَإِذَا سَمِعْتَهُمْ

چې تا ښه کار وکړو نو ستا کار ښه دی. او کله چې ته د ګاونډیانو نه دا واوري چې تا بدکار وکړو نو ستا هغه کار بد

يَقُولُونَ	: قَدْ	أَسَأْتَ	فقد أَسَأْتَ " .	(رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه) [2]	

دی. یعنې ستا نیکو کار یا بدکار کیدل ستا د ګاونډیانو د ګواهۍ په ذریعه سره معلومیږي. (ابن ماجه)

توضیح: جیرانك: یعني کله چې ته واوري چې ستا ګاونډیان تا ته ښه سړی وایې نو پوهه شه چې ته ښه سړی یې او که ګاونډیان وایې چې بد سړی دی. نو پوهه شه چې ته بد سړی یې. دلته جیران نه دوه څلور کسان مراد ندي بلکې عام ګاونډیان مراد دي. شیخ عبدالحق لیکلي دي چې د ګاونډیانو نه مراد هغه ګاونډیان دي، دچا تعلق چې د اهل حق سره وی. او هغوی د انصاف والا او د پوهې خلک وي. نه د هغه سړي نژدې دوستان وي او نه بیخې د هغه دښمنان وي. د حضرت وینا هم د دې حدیث

([1]) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۹۳ رقم الحديث ۱۹۴۴، والدارمي في ۲/۲۸۴ رقم الحديث ۲۴۳۷.

([2]) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۱ رقم الحديث ۴۲۲۲، واحمد في المسند ۱/۴۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجماني کوي. وې فرمايل: اَلْسِنَةُ الْخَلْقِ اَقْلَامُ الْحَقِّ. د اردو (هندی) متل دی: زبان خلق نقاره خدا (يعنې د مخلوق ژبه د خدای نغاره ده) يو شاعر وايي: [اشعة اللمعات]

برا کہے جسے عالم اسے برا سمجھو — زبان خلق کو نقارہ خدا سمجھو

﴿۴۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَنْزِلُوا النَّاسَ
او د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هر يو سړی د هغه په
مَنَازِلَهُمْ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱)
مرتبه باندې وساته. (ابو داؤد)

توضيح: منازلهم: په دې حديث سره د مرتبو د فرق تعليم ورکولی کيږي چې د خادم درجه يوه او د مخدوم مقام بل وي. په فاضل او غير فاضل کې فرق وي. يو سړی په آس باندې سپور د خپل خادم سره راځي نو د اس يو مقام دی او د خادم بل مقام دی. او په اس سپور مالک بل مقام دی. په يو روايت کې دي: **اکرموا کريم قوم.** اوس مثلا يو سړي په ژوند کې پُرتکلّف خوراک ندی کړی. مثلا هغه چپاتی نده ليدلي، هغه ته چپاتی وړاندې کړې، نو هغه به څه کوي. د هغه مخې ته خو د وربشو ډوډی کيږده، دې لپاره چې هغه خيټه مړه کړي. او يو سړې ټول ژوند نرم خوراکونه کړي دي، هغه ته که د وربشو ډوډی کيږدي نو هغه به دا وايي چې دا خو د سيمټو ډوډی ده. بهر حال په تعظيم او تکريم کې يو شان والی او برابر والی قائمول او د مرتبو فرق ختمول عرفي او شرعي قاعدو په خلاف ده. په جمهوريت دې د الله تعالی لعنت وي، دې د وکړه او مکړه مقام ختم کړو. *اگر تو فرق مراتب نہ کنی زندیقی.*

الفصل الثالث

دميني دعوی محنت غواړي

﴿۴۴﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي قُرَادٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ يَوْمًا
حضرت عبد الرحمن بن ابی قراد رضي الله عنه نه روايت دی چې (يو ورځ) رسول الله صلی الله عليه وسلم اودس وکړو نو
فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَتَمَسَّحُونَ بِوَضُوئِهِ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
صحابو د نبی عليه السلام د اودس اوبه په خپل بدن باندې مږل شروع کړې، نبی عليه السلام (دې کتلو باندې) وفرمايل: تاسو
«مَا يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَذَا؟» قَالُوا: حُبُّ اللهِ وَرَسُولِهِ
چې دا څه کوی د دې سبب څه دی؟ هغوی عرض وکړو: الله او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم محبت يې سبب دی.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۷۳ رقم الحديث ۴۸۴۲.

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يحب الله وَرَسُوله
نبی کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چې دا خوښوي چې الله او هغه د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ سره مینه ولري
أو يحبه الله وَرَسُولُهُ فَلْيُصَدِّقْ حَدِيثَهُ
یا کوم سړی چې دا خوښوي چې الله او د هغه رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د هغه سره مینه ولري نو هغه له پکار دي چې کله وینا کوي
إِذَا حَدَّثَ وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا أُؤْتُمِنَ
نو ریښتیا وایې کله چې د هغه سره امانت کیخودلی شي نو هغه امانت دې ادا کړي او د ګاونډیانو سره دې
وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ»[1]
د ښه ګاونډ ګیري ثبوت ورکړي.

توضیح: حُبُّ اللهِ ورسوله: صحابه کرامو د نبی کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د اودس پاتې شوي اوبه خپلو لاسونو او مخونو باندې مږلې. نبی کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د وجې پوښتنه وکړه نو هغوی وفرمایل چې الله او د هغه د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ سره یې مینه ده. نو ځکه داسې کوي. نبی کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ په جواب کې وفرمایل، د هغې خلاصه دا ده چې کوم کار و نه په نفس باندې ډیر ګران نه تیریږي او په هغې کې څه خاص مشقت نه وي. د عشق او محبت په میدان کې د هغې څه حیثیت نه وي بلکې د دې دعوې د ثبوت لپاره ضروري دي چې الله تعالی او د هغه رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ چې د کومو اوامرو او نواهیو حکم کړیدی. په هغې باندې په مکمله توګه باندې پابند وي. او د حقوق الله او حقوق العباد پورا خیال وساتي. او په دې لاره کې د هر مشقت لپاره تیار شي. پیو ځکونکی مجنون دې نه جوړیږي بلکې وینه ورکونکی مجنون دې جوړ شي او د دې شعر مصداق دې جوړ شي:

هر که عاشق شد اگرچه نازنین عالم است ‌ ‌ ‌ نازکی کے کار آید باری باید کشید

(مرقات: ۸/۷۲۴)

خدای دې وکړي چې د بریلیانو سترګي برسیرته شي.

د ګاونډي خیال ساتل د ایمان برخه ده

﴿۴۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمایي چې ما د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې هغه سړی
«لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِي يَشْبَعُ
کامل مؤمن نه شي جوړیدلی چې هغه په مړه خیټه باندې خوراک وکړي، په داسې حال کې چې د هغه

[1] اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲/۲۰۱ رقم الحديث ۱۵۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ جَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جنبه » (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي « شعب الْإِيمَان ») (۱)
ګاونډي د هغه په څنګ کې وږی وي. دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړيدي.

د ګاونډيانو تنګونکې ښځې عبادت نه قبليږي

﴿۲۶﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه په مجلس نبوی کې) چا عرض وکړو چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!
إِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا
د فلانکۍ ښځې د ډير لمونځونو او روژو و ډيرې صدقې او خيراتونه کولو باندې ډير شهرت دی.
غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا. قَالَ:
خو د خپلې ژبې په وجه باندې خپلو ګاونډيانو ته تکليف ورکوي، نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې اوريدلو باندې) وفرمايل
« هِيَ فِي النَّارِ » . قَالَ: يَا رَسُولَ الله فَإِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ
چې هغه به دوزخ ته ځي. هغه سړي عرض وکړو: يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د فلانکۍ ښځې په اړه باندې ويلی کيږي
قِلَّةَ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا وَإِنَّهَا
چې هغه ډيرې لږې روژې نيسي ډيره لږه صدقه او خيرات کوي او ډير کم لمونځ کوي. او حقيقت دا دی چې د هغې
تَصَدَّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنَ الْأَقِطِ وَلَا تُؤذِي جِيرَانَهَا.
صدقه او خيرات د اقط د ټوټکړو نه ډيريږي خو هغه په خپله ژبه سره خپلو ګاونډيانو ته تکليف نه ورکوي.
قَالَ: «هِيَ فِي الْجَنَّةِ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان») (۲)
نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دغه ښځه به جنت ځي. (احمد، بيهقی)

توضيح: بلسانها: يعني په ژبه سره ګاونډيانو ته تکليف رسوي. ګنې په عبادت کې ډيره مخکې ده. نفلې لمونځونه کوي او روژې نيسي. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دغه شان ښځه به جهنم ته ځي. د دغه شان ښځې عبادت نه قبليږي. ملا علي قاري ليکلي دي چې په نفلي عبادت کې په مشغولتيا سره د حرامو کول د سړي لپاره تباه کونکې ده. ځکه چې په مستحب کې اخته کيدل او په حرامو کې د اخته کيدلو نه ځان نه ساتل تلبيس ابليس دی. (مرقات: ۸/۷۲۵)

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۱ رقم الحديث ۵۶۶، واحمد في المسند ۱/۵۵.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۲/۴۴۰ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۷۹ رقم الحديث ۵۹۴۶.

هي في النار: يعنې دې ښځې يو مستحب خپل کړيدی چې د هغې پريخودل مباح او ګاونډيانو ته په تکليف ورکولو کې اخته شوه چې هغه حرام عمل ؤ نو ځکه دوزخ ته لاړه. ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چې هم دغه شان هغه اعمال هم دي چې په هغې کې خلک واقع کيږي. مثلًا بيت الله ته ننوتلو په وخت کې خلک رش جوړولو باندې تکليف رسوي. رکن يماني او حجر اسود باندې رش جوړولو سره تکليف رسونه کوي، دغه شان ظالمانو او د حرام خورو هغه مال دی چې په هغې سره دوې جوماتونه او مدرسې جوړوي او خلکو باندې خيرات خوري. (مرقات: ۸/۷۲۵)

بالاثوار: دا دثور جمع ده. د پنير ټوټو ته وايې. د دېنه وروسته د اقط ذکر د تاکيد په توګه باندې شويدی. ځکه چې دواړه يو شی دی، يا د تجريد په توګه باندې ذکر شويدی. (مرقات: ۸/۷۲۵)

د غوره او بدتر سړي معيار

﴿۴۷﴾وَعَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ فَقَالَ:

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله صلى الله عليه وسلم د ناستو صحابؤ مخې ته وفرمايل:

«أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟».

آيا زه دا ووايم چې په تاسو کې د ټولو نه نيک سړی څوک دی او بستاد ټولو نه غوره سړی د بدترين سړي نه جدا کولو سره وښايم؟

قَالَ: فَسَكَتُوا فَقَالَ ذٰلِكَ

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې صحابه (دې اوريدلو سره) چپ پاتې شول. کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنَا

مذکوره خبره درې ځل وفرمايله نو يو صحابي عرض وکړو چې هو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! مونږ ته ووايه

بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا. فَقَالَ: «خَيْرُكُمْ

او زمونږ نيکان سړي د بدانو سړو نه بيل او ممتاز کړه. نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په تاسو کې د ټولو نه غوره

مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَشَرُّكُمْ

سړی هغه دی چې خلک د هغه نه د نيکۍ توقع وکړي او د هغه د شر نه محفوظ او په امن کې وي. او په تاسو کې

مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»

بدترين سړی هغه دی چې خلک د هغه نه د نيکۍ توقع ونکړي او د هغه د شر نه محفوظ او په امن کې

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَ	التِّرْمِذِيُّ:	هٰذَا	حَدِيثٌ	حسن صَحِيحٌ[1]

نه وي. (ترمذي، بيهقي) او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

دنیا بنه بد ټولو ته ور کول کیږي خو دین فقط بنه ته ور کول کیږي

﴿۴۸﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى

او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: الله تعالی ستاسو په

قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ

مينځ کې ستاسو اخلاق هم په دې توګه باندې تقسيم کړيدي څنګه چې يې رزق په تاسو کې تقسيم کړيدی.

إِنَّ اللّٰهَ يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ

او حقيقت دا دی چې الله تعالی دنيا خو هغه سړي ته هم ورکوي څوک چې هغه دوست ساتي او هغه سړي ته يې هم ورکوي

وَمَنْ لَا يُحِبُّ وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا مَنْ أَحَبَّ

څوک چې هغه دوست نه ساتي. ليکن دين يعنې بنه اخلاق فقط هغه سړي ته ورکوي څوک چې هغه دوست ساتي.

فَمَنْ أَعْطَاهُ اللّٰهُ الدِّينَ فَقَدْ أَحَبَّهُ وَالَّذِي نَفْسِي

لهذا د الله تعالی چا لره دين ورکول د دې خبرې نښه ده چې دا هغه دوست ساتلی دی. په هغه ذات مې قسم دی

بِيَدِهِ لَا يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتّٰى

د اچا د قدرت په لاس کې چې زما ځان دی هيڅ بنده تر هغه وخته پورې کامل مسلمان نشي کيدلی تر څو

يُسْلِمَ قَلْبُهُ وَ لِسَانُهُ وَلَا يُؤْمِنُ حَتّٰى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ »[2]

پورې چې د هغه زړه او ژبه مسلمانه نشي او د هغه ګاونډي د هغه د شر نه محفوظ او په امن کې نه وي.

خپل مینځې مینه د ایمان نښه ده

﴿۴۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې نبی کريم صلی الله علیه وسلم و فرمايل: مسلمان د ميني او الفت مقام او مخزن دی. او په هغه

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۵۷ رقم الحديث ۲۲۶۳، وأحمد في المسند ۲/۳۶۸.

(2) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۳۹۵ رقم الحديث ۵۵۲۴ وأحمد في المسند ۱/۳۸۷.

وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ»

سړي كې ښېګړه نشته څوک چې مينه نکوي، او نه هغه سره مينه كيږي، يعني كوم چې داسې نه وي چې نه خو هغه د مسلمانانو سره

(رَوَاهُمَا أَحْمد وَ الْبَيْهَقِيّ فِي « شعب الْإِيمَان ») [1]

مينه او الفت وكړي او نه مسلمانان هغه سره مينه وكړي نو هغه د هيڅ كار ندي. دا روايتونه احمد او شعب الايمان كې بيهقي نقل كړيدي.

د خوشحالولو په غرض د چا د خدمت كولو ناشنا فضيلت

﴿۵۰﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَضَى لِأَحَدٍ مِنْ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كوم سړى چې پوره كړي زما په

أُمَّتِي حَاجَةً يُرِيدُ أَنْ يَسُرَّهُ بِهَا

امت كې د چا (ديني او دنياوي) حاجت او ضرورت، او په دې سره د هغه مقصد د هغه خوشحالول وي

فَقَدْ سَرَّنِي وَمَنْ سَرَّنِي فَقَدْ سَرَّ اللهَ وَمَنْ سَرَّ الله

نو هغه زه خوشحاله كړم، او چا چې زه خوشحاله كړم، هغه الله خوشحاله كړو، او چا چې الله خوشحاله كړو.

أَدخلهُ الله الْجنَّة» [2]

هغه به الله جنت ته داخل كړي.

د مجبور سره د مرستې كولو ناشنا فضيلت

﴿۵۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَغَاثَ مَلْهُوفًا

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كوم سړى چې د مظلوم فرياد پورا كوي

كَتَبَ الله لَهُ ثَلَاثًا وَسَبْعِينَ مَغْفِرَةً وَاحِدَةٌ

نو الله تعالى هغه ته درې اويا بخښښونه ليكي. او په دې كې يو بخښش خو هغه دى چې هغه د ده ټول

فِيهَا صَلَاحُ أَمْرِهِ كُلِّهِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ لَهُ

(دنياوي او اخروي) كارونو د اصلاح ضامن جوړيږي. او پاتې دوه اويا بخښښونه به د قيامت په ورځ

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۲۷۰ رقم الحديث ۸۱۱۹، واحمد في المسند ۲/۴۰۰.

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۱۱ رقم الحديث ۷۶۳۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

دَرَجَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1]
باندې د هغه د درجو د وچتوالي سبب جوړېږي.

ټول مخلوق د الله تعالى کورنۍ دی

﴿۵۲﴾وَعنهُ وَعَن عبد الله قَالَا: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْخَلْقُ
او حضرت انس او حضرت عبد الله رضي الله عنهما دواړه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مخلوق د
عِيَالُ الله فَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَى الله مَنْ أَحْسَنَ
الله تعالى کورنۍ ده، لهذا د خداى په نزد په مخلوق کې غوره سړى هغه دى چې هغه د خداى د کورنۍ سره
إِلَى عِيَالِهِ»[2] (رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)[3]
احسان او ښه ښويې کوي. دا درې واړه روايتونه بيهقى په شعب الايمان کې ذکر کړيدي.

توضيح: عيال الله: د عيال معنى د يو سړي هغه متعلقين دي چې د هغوى خوراک څکاک، جامې او کور ذمه په هغه باندې وي. په دې اعتبار سره نسبت غير الله ته مجازي دى.

اصلي رازق خو الله تعالى دى. چې د هغه په ذمه باندې د مخلوق رزق دى. په دې اعتبار سره ټول مخلوق د الله تعالى عيال او کورنۍ ده. وس کوم سړي چې د خداى د مخلوق سره ښه کوي نو ګويا هغه د الله تعالى عيال او کورنۍ سره احسان او ښېګړه کوي. په دې سره الله تعالى ډېره خوشحالېږي. لکه څنګه چې يو انسان د هغه سړي نه ډېر خوشحالېږي چې هغه د ده اهل او عيال سره احسان کوي. (مرقات: ۸/۷۳۰)

په قيامت کې به د ټولو نه مخکې مقدمه د دوه ګاونډيانو وړاندې کيږي

﴿۵۳﴾وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ خَصْمَيْنِ
او حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ باندې
يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ» (رَوَاهُ أَحْمد)[1]
د ټولو نه اول دوه جګړه کونکي به دوه ګاونډيان وي. (احمد)

توضيح: جاران: يعنې په قيامت کې چې به د کومو خلکو مقدمه د ټولو نه اول وړاندې کولى شي

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۲۰ رقم الحديث ۷۶۷۰

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۲۰ رقم الحديث ۷۶۷۰

(۳) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۴۲ رقم الحديث ۷۴۴۷،۷۴۴۸

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۴/۱۵۱.

هغه به د دوه ګاونډیانو وي.

سوال: په یو حدیث کې راغي چې د قیامت په ورځ چې به د ټولو نه مخکې کوم قضیه شروع کیږي هغه به د لمونځ قضیه وي. په بل حدیث کې دي چې د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکې قاتل او مقتول قضیه وړاندې کیږي خو په ذکر شوې حدیث کې د دوه ګاونډیانو د قضیې خبره ده. په ظاهره باندې دا تعارض دی، د دې جواب څه دی؟

جواب: د دې سوال جواب دا دی چې په حقوق الله کې د ټولو نه اول به د لمونځ مسئله راوچته کړی شي. او په حقوق العباد کې به د ټولو نه اول د وینې او د قتل مسئله راوچته کړی شي. چې په هغې کې یو خالص ظالم او بل خالص مظلوم دی. لیکن که څه خلک داسې وي چې په حقوق العباد کې څه نا څه ظلم یې په یو بل باندې کړی وي. هر یو څه ظالم او څه مظلوم دی، په داسې خلکو کې به د ټولو نه اول د دوه ګاونډیانو معامله اوچته کړی شي. نو د ګاونډیانو معامله خو د حقوق العباد نه ده لیکن د حقوق العباد داسې صورت دی چې هغه د قاتل او مقتول نه مختلف دی، هلته یو ظالمؤ، دویم مکمل مظلومؤ. دبحث په حدیث کې دواړه د یو بل لپاره څه ناڅه ظالمان دي. د داسې خلکو قضیه به د ټولو نه مخکې راوچته کړی شي.

دویم جواب دا هم کیدلی شي چې اول او دویم دا اضافي امور دي نو په اضافي نسبت سره هر یو ته اول ویلی کیدلی شي. هیڅ تضاد نشته دی. (مرقات: ۸/۷۳۱)

د قساوت قلبي علاج

﴿۵۴﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ			
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې (یو ورځ) نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یو سړي د خپلې سنګدلۍ			
قَلْبِهِ فَقَالَ:	«امْسَحْ	رَأْسَ	الْيَتِيمِ
(د زړه د کلکوالي) شکایت وکړو (او د هغې د علاج پوښتنه یې وکړه) نو نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل چې د یتیم په سر باندې			
وَأَطْعِمِ	الْمِسْكِينَ»	(رَوَاهُ أَحْمَدُ)[1]	
لاس راکاږه او مسکین ته خوراک ورکوه. (احمد)			

د کونډې لور د پالنې ثواب

﴿۵۵﴾وَعَنْ سراقة بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَلَا أَدُلُّكُمْ
او حضرت سراقه بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: آیا زه تاته د

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۲۶۳

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَى أَفْضَلِ الصَّدَقَةِ؟ ابْنَتُكَ مَرْدُودَةً

بهترینې صدقې په اړه باندې و وايم؟ او هغه صدقه خپلې هغه لور سره ښه ښويې کول دي چې هغه تا ته ير ته را اليږلې شوې ده او د چا

إِلَيْكَ لَيْسَ لَهَا كَاسِبٌ

سره چې ستا نه علاوه بل ګټونکی نشته دی. يعنې که ستا لور ته د هغې خاوند طلاق ورکړی وي، او

غَيْرُكَ » . (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ)[1]

نه خو د هغې سره داسې څه ذريعه شته دی ستا د هغې سره ښه ښويې کول يوه بهترينه صدقه ده.

توضيح: د دې حديث په ترجمه کې د دې ټوله تشريح شته دی. هغه دې وکتلی شي. د دې مطلب دا دی چې د چا لور واده شوه خو د خاوند سره يې ژوند سم رانغلی نو ځکه هغې ته طلاق ورکړی شو. او هغه د خپل مورپلار کور ته راغله، پلار هغه بی آسرا لور وساتله او د هغې پالنه يې وکړه، په هغې باندې يې خرچه وکړه. او په هغې يې خوراک څکاک وکړو. د الله تعالی په نزد باندې په بهترينه صدقه کې به شمار شي. او په دې باندې به پلار ته بهترين اجر ورکولی کيږي.

مردودة: دا حال دی: **اى مطلقة راجعة اليك**. (مرقات:۸/۷۳۲)

---

(1) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۰۹ رقم الحديث ۳۶۶۷، واحمد في المسند ۴/۱۷۵

۱۳ ربیع الثاني ۱٤۱۸ھ

باب الحب في الله و من الله

د الله لپاره د محبت بیان

قال الله تعالی: ﴿وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا﴾ (الدهر: ۸)

د الله تعالی لپاره د مینې کولو بیان مطلب دا دی چې د کوم سړي د مینې او محبت چې کوم تړون هم جوړ کړی شي هغه فقط د الله تعالی د رضا لپاره وي. په دې کې څه دنیوي غرض نه وي، نه څه لالچ وي بلکې دا مینه فقط په دې بنیاد باندې وي چې دا سړی الله تعالی نیک بنده دی. د ده سره د مینې په وجه باندې الله تعالی راضی او خوشحالیږي. او انسان ته د هغه رضا ترلاسه کیږي. دلته په عنوان کې لفظ: من سببیه او «ر» اجلیه ده. ای لاجل رضاء الله ولوجهه الکریم.

انسان چې د الله تعالی کوم عبادت کوي، نو د دې عبادت فائده او د دېنه اصل مقصود تر هغه وخته پورې نشي ترلاسه کیدلی تر څو چې د الله تعالی او د هغه د رسولانو سره یې مینه نه وي. د عبادت د قبولیت لپاره ضروري ده چې الله تعالی او د هغه د رسول مینه هم د عبادت برخه جوړه شي. که مینه نه وي نو فقط د بیګار عبادت نه به څه ترلاسه شي. ربوبیت عامه او د خالق کیدلو په اعتبار سره د الله تعالی د ټولو انسانانو سره یو تعلق دی او بیا د ربوبیت خاصه په اعتبار سره د الله تعالی د مسلمانانو سره یو خاص تعلق دی چې هغې ته په الرحمن او الرّحیم کې اشاره کړی شویده. د دې حقیقت له مخې هر مسلمان لپاره پکار دي چې د هغه ټول احساسات او جذبې او حرکات او سکناتو مثبت او منفي هر اړخ د الله تعالی د رضا بنودونکی وي. او په هغې کې چې کوم تغیر راشي هغه د الله تعالی د رضا په خاطر وي، خپل یې څه غوختنه نه وي. هغه د الله تعالی لپاره وي. د غه شان د انسان چې کله مثبت او منفي احساسات د الله تعالی لپاره شي نو دا به کامل الایمان جوړ شي چې که څه ورکړي نو د الله تعالی لپاره، نه ورکوي نو د الله تعالی لپاره، که د چا سره مینه ولري نو د الله تعالی لپاره، د دښمنې ولري نو د الله تعالی لپاره. کله چې د کامل ایمان والا شي نو بیا دې دا سې مستانه نعره ووهي:

فليتك تحلو والحياة مريرة　　　وليتك ترضى والانام غضاب

(مرقات: ۸/۷۳۲)

الفصل الاول

په دنیا کې د اتحاد او اختلاف بنیاد د اولې ورځې نه ایخودل شویدی

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: روحونه د نو نو تستو تلو نه مخکې د یو لښکر په شان یو

Maktaba Tul Ishaat.com

مُجَنَّدَةٌ	فَمَا	تَعَارَفَ
ځای ته راغونډ ؤ، او یا هغوی پیل پیل کولو سره په بیو یو بدن کې داخل کړی شول. نو بدنونو ته ئو تلو نه مخکې کوم روحونه چې د		
مِنْهَا	ائْتَلَفَ وَمَا	تَنَاكَرَ
یو بل سره په صفاتو کې مناسبت او ګډون ساتلو دوې نه خپل مینځ کې مینه کونکې او پیژندویه ؤ. هغوی بدنونو ته ئو تلو نه پس په دنیا		
مِنْهَا اخْتَلَفَ » . (رَوَاهُ الْبُخَارِيِّ) . [1]		
کې هم یو بل سره مینه او الفت لري. او کوم روحونه چې دیو بل سره ناشنا او مینه لري. هغوی په دې دنیا کې هم خپل مینځ کې اختلاف لري.		

توضیح: تر قیامته چې څومره انسانان پیدا کیږي د هغوی روحونه مخکې پیدا شویدي، دا ټول روحونه الله تعالی د اولې ورځې نه په عالم ارواح کې یو ځای کړي ؤ. او د ټولو نه یې د خپل ربوبیت اقرار واخستلو، ټولو اقرار وکړو. په دې غونډه کې چې د کومو روحونو خپل مینځ کې تعلق جوړ شو، مینه یې پیدا شوه، الفت راغلی. نو دنیا ته په راتلو او خپلو خپلو بدنونو کې داخلیدلو نه وروسته د الله تعالی په الهام دا روحونه خپل مینځ کې مینه ساتي، او د هغوی په مینځ کې مینه وي. نو د روح سره بدنونه هم متفق او یو ځای کیږي. او خپل مینځ کې تعلق جوړ شي. لیکن که د عالم ارواح په ورځ باندې د کومو روحونو خپل مینځ کې د الفت په ځای عدم الفت ؤ. د مینې په ځای دښمنې وه، نو دنیا ته په راتګ سره هم د غه شان معامله وي. په نورو الفاظو کې په دې حدیث دا سې هم پوهیدلی شي چې په دنیا کې کوم نیکان خلک نور نیکان خوښوي. او بې دینه نه خوښوي، دغه شان فاسقان نور فاسقان او فاجران خوښوي او دینداره نه خوښوي. دا خوښه او ناخوښه عالم ارواح او د اولې ورځې د ازل خوښې او ناخوښې ښودونکې ده. څه چې هلته وشول هغه دلته وشول. (مرقات: ۸/۷۳۲)

کند هم جنس با هم جنس پرواز کبوتر با کبوتر باز با باز

کوم سړی چې الله یې خوښ کړي هغه هر چاته مقبول شي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ				
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې الله تعالی دیو بنده سره او محبت				
إِذَا	أَحَبَّ	عَبْدًا	دَعَا	جِبْرِيلَ
ساتي یعنې هغه چې کله په خپلو بندیګانو دیو بنده اعمال د خپلې خوشحالۍ او مینې د ظاهرولو اراده وکړي نو جبرائیل علیه السلام				

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۶۹ رقم الحديث ۳۳۳۶، ومسلم في ۴/۲۰۳۱ رقم الحديث (۲۶۳۸-۱۵۹).

فَقَالَ: إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ:

تہ پہ راغوختلو سره وايي چې زه د فلانكي بنده سره مينه لرم، ته هم د هغه سره مينه وكړه. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام

فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ:

دې اوريدلو باندې د هغه بنده سره مينه ساتي. او بيا هغه د الله تعالى په حكم باندې په آسمان كې دا اعلان كوي

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ

چې الله تعالى د فلانكي بنده سره مينه ساتي، لهذا تاسو ټول هم د هغه سره مينه وساتئ. نو د آسمان والا هم د هغه سره مينه شروع كړي.

ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ.

او بيا د دې بنده لپاره په ځمكه كې هم قبوليت كېښودلى كېږي، يعنې د ځمكې والا په زړه كې د هغه مينه واچولى شي. او ټول انسانان او

وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ:

پېريان د هغه سره مينه كوي. او كله چې الله تعالى د يو بنده نه كركه كوي. نو جبرائيل ته په راغوختلو سره فرمايي

إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ.

چې زه د فلانكي سړي نه كركه كوم. ته هم د هغه نه كركه وكړه. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دې اوريدلو

فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللهَ

باندې د هغه بنده نه كركه كوي. او بيا هغه د الله تعالى په حكم باندې په آسمان كې دا اعلان كوي چې الله تعالى

يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ. قَالَ:

د فلانكي بنده نه كركه كوي، لهذا تاسو ټول هم د هغه نه كركه وكړئ. نو د آسمان والا هم د هغه نه كركه

فَيُبْغِضُونَهُ. ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ

شروع كړي. تردې چې د دې بنده لپاره په ځمكه كې هم كركه او دښمني كېښودلى شي چې د هغې په وجه

الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ" (رَوَاهُ مُسلم)[1]

باندې ټول انسانان او پيريان د هغه نه كركه كوي. (مسلم)

توضيح: اذا احب عبدًا: الله تعالى چې كوم بنده خوښ كړي نو فرښتې هم هغه خوښوي، په اسمان كې د هغه سړي د خوښۍ اعلان وشي. بيا دا مقبوليت ځمكې ته راشي، او د ځمكې والا هغه خوښوي

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۰۳ رقم الحديث ۳۲۰۹، ومسلم في ۴/۲۰۳۰ رقم الحديث (۲۶۳۷-۱۵۷)،

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان هغه سړی هر چا ته مقبول شي. د دې په برعکس باندې که الله تعالی پاس اسمانونو کې کوم سړی مبغوض وګرځوي نو په فرښتو کې اعلان وشي ، نو فرښتې هغه مبغوض ګڼي، بیا دا مبغوضیت زمکې ته راشي، او خلک هغه مبغوض ګڼي، دلته په دې خبره پوهیدل پکار دي چې په زمکه کې د دې مقبولیت او مبغوضیت معیار هغه خلک دي چې هغه دینداره او متقي او پرهیزګاره دي. ګڼې د فاسقانو او فاجرانو په نزد باندې خو هر هغه سړی ښه او دوست او محبوب وي چې هغه د انتهایې درجې فاسق او فاجر او ذلیل او کمینه وي. لهذا د قبولیت په دې تاکنه کې دارومدار ښه او دینداره خلکو باندې دی. د هغوې رایه او د هغوې میلان معیار او معتبر دی. (مرقات: ۸/۷۳۵)

د الله د رضا لپاره په خپل مینځ کې د مینه کوونکو مقام

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ يَقُولُ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی په د قیامت په ورځ باندې د ټولو
يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ
خلکو مخې ته د خپل ځینو بنده ګانو عظمت او لويې ښکاره کولو لپاره وفرمایي: چیرته دي هغه خلک چې هغوې زما د لويې د
بِجَلَالِي؟ الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ
ښکاروالي او زما د تعظیم په خاطر باندې خپل مینځ کې مینه او تعلق ساتلو، چیرته دي هغه خلک چې هغوې زما د رضا او خوشحالۍ
فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ
په خاطر او د ثواب تر لاسه کولو په غرض سره خپل مینځ کې مینه او تعلق ساتلو. نن به زه هغه خلکو ته په خپلو سیوري کې پناه ورکوم،
إِلَّا ظِلِّي" . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]
او نن ورځې زما د سیوري نه علاوه بل سیورې نشته دی. (مسلم)

توضیح: في ظلي: یعنې نن به زه هغوې په خپل خاص سیوري کې ساتم. د دې سیورې نه مراد میدان محشر کې د عرش سیوری دی. لکه څنګه چې په ځینو روایتونو کې تصریح هم ده. یا د سیورې نه مراد د الله تعالی رحمت او حفاظت دی. لکه: السلطان ظل الله في الارض. لهذا په سیورې سره د قیامت رحمتونو ، نعمتونو او راحتونو اړخ ته اشاره ده. په عربی کې د ظل لفظ د نعمتونو لپاره استعمالیږي. (مرقات: ۸/۷۳۷)

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۸ رقم الحديث (۲۵۶۶-۳۷) والترمذي في السنن ۴/۵۱۶ رقم الحديث ۲۳۹۰.

د الله د رضا لپاره د مینې کولو فضیلت

﴿۴﴾وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه د نبی علیه السلام نه نقل کوي چې یو سړی د خپل مسلمان ورور د ملاقات لپاره روان شو.

لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ

چې هغه په بله کومه آبادۍ کې وسیدلو. الله تعالی د هغه په لاره کې د هغه په انتظار باندې یوه فرښته کینوله، کله

مَلَكًا قَالَ: أَيْنَ تُرِيدُ؟

چې هغه سړی دغه ځای ته ورسیدلو نو فرښتې هغه ایسار کړو او پوښتنه یې ترینه وکړه: چیرته دې د تګ اراده ده؟

قَالَ: أُرِيدُ أَخًا لِي فِي هَذِهِ الْقَرْيَةِ. قَالَ:

هغه سړي وویل چې زه د یو مسلمان ورور ملاقات لپاره ځم. چې هغه په دې آبادۍ کې وسیږي. فرښتې پوښتنه وکړه

هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا؟ قَالَ:

چې آیا ستا په هغه باندې د نعمت څه حق شته دی؟ چې د هغې تر لاسه کولو لپاره ته د هغه خوا ته ځې. هغه سړي وویل

لَا غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللهِ. قَالَ: فَإِنِّي

چې نا. زه فقط د الله تعالی د رضا تر لاسه کولو لپاره د هغه سره مینه او تعلق ساتم. فرښتې وویل نو بیا واوره! زه الله

رَسُولُ اللهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللهَ قَدْ أَحَبَّكَ

تاته رالیږلی یم دې لپاره چې زه تاته زیری درکړم چې الله تعالی ستا سره مینه کوي. لکه څنګه چې ته فقط د

كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]

الله تعالی د رضا په خاطر د هغه سړي سره مینه او تعلق ساتې. (مسلم)

توضیح: دا په مخکنو امتونو کې د یو چا واقعه نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیان کړه. د هغه خلکو سره به د انسانانو په شکل کې فرښتو ملاقات کولو. وس دا سلسله بنده شویده. د حدیث خلاصه دا ده چې یو سړی د کوم الله والا د ملاقات لپاره روان شو. نو په لاره کې ورسره فرښته مخ شوه. فرښتې پوښتنه وکړه چې چیرته روان یې.؟ هغه وویل په دې ښار کې زما یو دیني ورور دی، د هغه زیارت لپاره ځم. څه دنیاوي غرضونه او مقصدونه مې نشته. فقط د الله تعالی رضا تر لاسه کولو لپاره روان یم. فرښتې وویل چې زه الله تعالی تاته رالیږلی یم چې زه تاته دا زیری واوروم چې الله تعالی ستا سره مینه کوي لکه څنګه چې ته د الله بنده سره مینه ساتې. (مرقات: ۸/۷۳۸)

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۸ رقم الحديث (۲۵۶۷-۳۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

تربها: یعني د څه احسان غرض دی. چې دهغې پورا والې لپاره روان یې. یعني آیا هغه ستا غلام دی، یا ځوې دی، یا داسې خپلوان دی چې هغه ته خوراک څکاک ورکول ستا ذمه واري ده. او ته د هغې د پورا والې لپاره روان یې؟ ځینو نسخو کې دي: **هل له علیك من نعمة تربها** یعني دهغه په تا باندې څه احسان دی، چې دهغې شکریه ادا کولو لپاره ته ځې. علامه طیبي فرمایلي دي چې مطلب دا دی چې آیا په دغه سړي باندې ستا څه احسان دی چې دهغې بدله اخستلو لپاره ته روان یې. دې لپاره چې ستا په احسان باندې دهغه سړې بدله ډیره ترلاسه شي. دا مطلب ډیر بنایسته دی. (مرقات: ۸/۷۳۹، الکاشف: ۹/۲۳۲)

ارصدالله: تاکلو او په کمین کې ناستې ته رصد وایي. **مدرجته:** فراخې لارې ته مدرجة وایي. **تربها:** رب یرب پالنې او ډیرولو ته وایي. دلته ډیرول مراد دي. (مرقات: ۸/۷۳۸)

کوم سړی چې د چا سره مینه ساتي قیامت کې به دهغوې سره وي

﴿۵﴾	وَعَنِ	ابْنِ	مَسْعُودٍ	قَالَ:	جَاءَ	رَجُلٌ	إِلَى	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ورځ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو سړی حاضر شو										
فَقَالَ:	يَا	رَسُولَ	اللهِ	كَيْفَ	تَقُولُ	فِي	رَجُلٍ			
اوعرض یې وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دهغه سړي په اړه باندې ته څه فرمایې چې هغه د یوې ډلې یعني علماء، نیکان										
أَحَبَّ	قَوْمًا	وَلَمْ	يَلْحَقْ	بِهِمْ؟						
او د دین د مشرانو سره مینه او محبت ساتي. خو دهغوې سره ناسته د هغه ونشوه یا دا دهغوې علم او عمل ته										
فَقَالَ:	«المرءُ	معَ	من	أحب»	.	(مُتَّفق عَلَيْهِ) [1]				
رسیدلی نه وي؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دا سړی دهغه سره څوک چې دا محبوب ساتي. (بخاری او مسلم)										

توضیح: المرأ مع من احب: یعني کوم سړي چې علماؤ، نیکانو او مشرانو سره مینه او محبت لري او په خپلو اعمالو سره د شریعت په رڼا کې د هغوې تابعداري او موافقت کوي، نو دا سړی په هغوې سره په قیامت کې پاڅیږي. او دهغوې سره به وي. ورسره کیدلو مطلب دا دی چې په جنت کې به د هغوې سره ملاقات وي یو ځای به وي، خو ددې معیت باوجود به هم دخپلو خپلو درجو موافق په جنت کې دنعمتونو خوندونه محسوسوي. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به دیوې پیالې او یوې نوړې والا وي. خو عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به د خپلې درجې په موافق د نعمتونو ادراک کوي. ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کې لیکلي دي چې دا حدیث

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۵۷ رقم الحديث ۶۱۶۹ ومسلم في ۴/۲۰۳۴ رقم الحديث (۲۶۴۰-۱۶۵)

عام دی لهذا کوم سړی چې دیندارو لره خوښوي هغه به دهغوی سره وي او څوک چې بدکاران خوښوي قیامت په ورځ به دا دهغوی سره پاڅیږي. (مرقات: ۸/۷۴۰)

کند هم جنس باهم جنس پرواز　　کبوتر با کبوتر باز با باز

راتلونکې ۱۵ نمبر حدیث نه د ملاعلی قاری د دې تشریح تائید کیږي. او ورسره روایت نمبر ۶ تشریح او توضیح هم د مخکنې حدیث توضیح په شان ده. بهرحال د چا سره د مینې ساتلو اول شرط دا دی چې د هغه اطاعت وي، مخالفت نه وي، گنې د دې شعر مصداق به جوړ شي:

تعصی الرسول وانت تظهر حبه　　هٰذا لعمری فی الفعال بدیع

لوکان حبك صادقا لاطعته　　ان المحب لمن یحب مطیع

﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ﴾ (النساء: ۶۹)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَتَى
او حضرت انس رضي الله عنه روایت دی چې یوه ورځ یو سړي پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! قیامت به کله راځي نو نبی علیه السلام
السَّاعَةُ؟ قَالَ: «وَيْلَكَ
وفرمایل: په تا باندې افسوس دی! آیا تا د قیامت لپاره څه تیاری کړېدی؟ په ظاهره خو دا معلومیږي گویا چې نبی علیه السلام
وَمَا أَعْدَدْتَ لَهَا؟»
باندې د هغه دا پوښتنه بنه ونه لگیدله. او د نبی علیه السلام گمان شو چې دې سړي به اعتقاد لرلو باندې د ویرې لموجې نه دا پوښتنه
قَالَ: مَا أَعْدَدْتُ
ده کړې بلکې د قیامت راتگ یې ډیر لیرې خبره گڼلو باندې بې پرواهۍ په توگه باندې دا پوښتنه کوي. نو نبی علیه السلام هغه ته جواب
لَهَا إِلَّا أَنِّي
هم په دغه انداز باندې ورکړو چې دا ته څه پوښتنه کوي؟ قیامت به کله راځي. ته خپل عقیده او عمل صحیح ساته او بنه کار کوه. کله
أُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ.
چې د قیامت ورځ راتگ وي. رابه شي. خو کله چې هغه سړي عرض وکړو چې ما خو تیاری نه دی کړی، البته زما سره یو دولت ضرور شته
قَالَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ»
دی او هغه دا چې زه خدا او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه لرم. نو نبی علیه السلام پوهشو چې د دې سړي دا مذکوره پوښتنه یو

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ أَنَسٌ: فَمَا رَأَيْتُ الْمُسْلِمِينَ فَرِحُوا

مخلص او کامل مؤمن د عقیدې ښودونکې او د ویرې لموجې دی. د څښې پرواهی په وجه ندی. نو نبی عَلَیۡهِ‌السَّلَامُ وفرمایل: ته په دنیا

بِشَيْءٍ بَعْدَ الْإِسْلَامِ

او آخرت کې د هم هغه سره یې. چا سره چې مینه لري. حضرت انس رَضِيَ‌اللهُ‌عَنهُ فرمایي چې ما مسلمانان د اسلام نه وروسته په بل څه باندې

فَرَحَهُمْ بِهَا. (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

داسې خوشحاله نهٔ لیدلي لکه څومره چې هغوی د نبی عَلَیۡهِ‌السَّلَامُ په دې وینا باندې خوشحاله شو. (مسلم)

صحابه ځکه خوشحاله شو چې د هغوی مینه د نبی کریم صَلَّى‌اللهُ‌عَلَيۡهِ‌وَسَلَّمَ سره وه. په دې سره هغوی ته د نبی صَلَّى‌اللهُ‌عَلَيۡهِ‌وَسَلَّمَ د ملګرتیا زیری ترلاسه شو.

د ښه او بد هم مجلسي مثال

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ

او حضرت ابو موسی رَضِيَ‌اللهُ‌عَنهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى‌اللهُ‌عَلَيۡهِ‌وَسَلَّمَ وفرمایل: نیک او بد هم مجلسي

كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا

مثال د مُشک ساتونکې او بټۍ بلوونکې په شان دی. مُشک ساتونکی خو به یا تا ته مشک مفت درکړي یا به یې ته د هغه نه واخلې.

أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تبتاعَ مِنْهُ

او یا که په هیڅ صورت باندې د هغه مشک ستا لاس ته رانغلل نو کم از کم د هغې خوشبو خو به تا ته خامخا

وإِمَّا أَن تجدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً

ترلاسه شي. دغه شان د نیک او صالح هم مجلسي نه څه فیض یا څه خاص نعمت که ترلاسه هم نشي نو هم دا

وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يَحْرِقَ

ولې کم دي چې څه ساعت و نه د هغه په مجلس کې سکون او اطمینان سره ناسته نصیب شي او بټۍ بلوونکی یا

ثِيَابَكَ وإِمَّا أَنْ تجدَ مِنْهُ رِيحًا خبيثةً» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

خو به ستا جامې وسیزي یا به تا ته د هغه نه مازغه خرابونکې بدبویي یعنې لوګی ترلاسه شي. (بخاری او مسلم)

توضیح: الکیر: د دوه مشکو نه آهنګر یوه مشکیزه جوړوي، چې هغه په کوئله کې د اور تیزولو لپاره استعمالیږي. په دې کې په دواړو لاسونو سره باد (هوا) د کول کیږي، او بیا په اور کې پرېخودل

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۵۳ رقم الحديث ۶۱۶۷، ومسلم في ۴/۲۰۳۲ رقم الحديث(۲۶۳۹-۱۶۱).

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۶۶۰ رقم الحديث ۵۵۳۴ ومسلم في ۴/۲۰۲۶ رقم الحديث (۲۱۲۸-۱۴۶)

کیږي. په دې سره د وسپنې د پټی نه سپرغۍ پورته کیږي. او بدبو هم راځي، د نن زمانه کې په دې ز ۰ کې پرمختګ راغلی دی، بهر حال هر مسلمان لره پکار دي چې هغه کم ازکم وګوري چې دهغوې د هرې ورځې اړیکي چا او د څه قسمه خلکو سره دي. (مرقات: ۸/۷۴۲)

یار بد بدتر بود از مار بد

الفصل الثاني

د الله تعالی د رضا لپاره د تعلق ساتلو فضیلت

﴿۸﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قَالَ							
حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې الله تعالی							
الله	تَعَالَى:	وَجَبَتْ	مَحَبَّتِي				
فرمايي چې د هغه خلکو سره مینه کول زما یو فیصله شوی امر دی چې هغوې فقط زما د رضا او خوشحالۍ په خاطر په باندې							
لِلْمُتَحَابِّينَ	فِيَّ	وَالْمُتَجَالِسِينَ					
خپل مینځ کې مینه ساتي. فقط زما د رضا په خاطر او زما د حمد او ثناء کولو لپاره د یو بل سره کیني. فقط							
فِيَّ	وَالْمُتَزَاوِرِينَ	فِيَّ	وَالْمُتَبَاذِلِينَ				
زما د رضا او خوشحالۍ په خاطر باندې د یو بل سره ملاقات کوي. او فقط زما د رضا او خوشحالۍ په خاطر							
فِيَّ"	(رواه	مالك	وفي	رواية	الترمذي	قال	يقول
باندې خپل مال خرچه کوي. (مالک) د ترمذی په روایت کې داسې دي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:							
اللهُ	تعالى	:اَلْمُتَحَابُّوْنَ	فِيْ	جَلَالِيْ	لَهُمْ	مَنَابِرُ	مِنْ نُوْرٍ
الله تعالی فرمايي چې کوم خلک زما د عظمت او جلال په وجه باندې مینه ساتي. د هغوې لپاره							
يَغْبِطُهُمُ	النَّبِيُّوْنَ	وَ الشُّهَدَاءُ[1]					
(آخرت کې) د نور منبرونه به وي. چې د هغې به انبیاء او شهداء به (هم) ارمان کوي.							

توضیح: المتزاورین: خپل مینځ کې ملاقات کولو په معنی دی.

والمتباذلین: دا د بذل نه دی. خرچ کولو په معنی دی.

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۱۵ رقم الحديث ۲۳۹۰، ومالك في الموطا ۲/۹۵۳ رقم الحديث ۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

یغبطهم: غبطه: د ترلاسه کولو ارمان ته وایي.

سوال: دلته یو غټ سوال دی او هغه دا چې د انبیاء کرامو درجه به د قیامت په ورځ ډیره وچته وي، د شهیدانو درجې به هم ډیر غټې وي. د دې ښاغلو د یو عام سړي د درجې ترلاسه کولو ارمان په پوهه کې نه راځي. دویمه خبره دا هم ده چې په دې سره د دې سړې په انبیاؤ او شهداؤ باندې افضل کیدلو وهم هم پیدا کیدلی شي چې هغه شرعًا جائز نه دی؟

جواب: د دې سوال یو جواب دا دی چې دا کلام په فرض باندې مبنی دی یعنې فرض کړه که انبیاء او شهداؤ په یو څه باندې غبطه کولی نو د دې دوه کسانو په درجه باندې به یې کولی لیکن هغوی به غبطه نه کوي. دویم واضح جواب دا دی چې د یو مفضول سره یو ښه څیز وي او فاضل د هغې تمنا وکړه نو په دې سره د مفضول درجه د فاضل نه نه وچتیږي. ډیر وختونه د مفضول ښه شیان د فاضل خوښیږي او هغه غواړي چې دا شی زما سره وی نو څومره به ښه وه. د دې دا مطلب ندی چې د هغوی سره د غه شان نعمت موجود نه دی بلکې مطلب دا دی چې دا ښه شی هم د هغوی په کمالاتو کې شامل وی نو څومره به ښه وه، په دې سره د افضل غیر افضل مسئله نه پیدا کیږي. (مرقات: ۸/۷۴۴)

دین اسلام او د قرآن له وجې نه خپل مینځ کې د مینې فضیلت

﴿۹﴾وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللهِ
او حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د خدای په بندیګانو کې څومره خلک (یعنې اولیاء الله)
لَأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الأنبياءُ والشهداءُ يومَ
داسې دي چې هغوی اګرچې انبیاء او شهداء نه دي لیکن د قیامت په ورځ د الله په نزد د هغوی مرتبې او
القيامةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللهِ». قَالُوا:
درجې کتلو باندې به انبیاء او شهداء په هغوی غبطه کوي. صحابه کرام رضي الله عنهم عرض وکړو چې
يَا رَسُولَ اللهِ تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ؟ قَالَ: «هُمْ
یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! مونږ ته ووایه هغه کوم خلک دي؟ نبی صلى الله عليه وسلم وفرمایل: هغه خلک دي
قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ
چې هغوی د خدای روح یعنې د قرآن په وجه باندې خپل مینځ کې مینه ساتي. حال دا دی چې د هغوی په مینځ کې نه څه
بَيْنَهُمْ وَلَا أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا فَوَاللهِ
خپلولي وي (چې د هغې تقاضا هغوی خپل مینځ کې په مینه محبت باندې مجبور کړي) او نه د مال دولت د لین دین معامله وي.

إِنَّ	وُجُوهَهُمْ	لَنُورٌ	وَإِنَّهُمْ	لَعَلَى	نُورٍ

پس قسم دی په الله (د قیامت په ورځ به) د هغوي مخونه نوراني وي یا هغوي به مجسم نور وي. نور باندې ځاې نیونکې او غالبه

لَا	يَخَافُونَ	إِذَا	خَافَ النَّاسُ

به وي. دغه خلک به هغه وخت هم ویریدونکې نه وي چې نور خلک به په ویره کې اخته کې وي.

وَلَا	يَحْزَنُونَ	إِذَا	حَزِنَ	النَّاسُ»	وَقَرَأَ الْآيَةَ:

او شغوې به هغه وخت هم غمژن نه وي چې نور خلک به غمژن وي. بیا نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت تلاوت کړو: (چې ترجمه

(أَلَا	إِنَّ	أَوْلِيَاءَ	الله	لَا	خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا	هُمْ يحزنونَ)

یې ده) خبردار وسئ چې د خدا تعالی په دوستانو به نه ویره خپریږي او نه به هغوي غمژن وي. دا روایت

(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد ورواه فی شرح السنة [1] عن ابی مالك بلفظ المصابيح

ابو داؤد نقل کړیدی او بغوي په شرح السنة کې دا روایت بالفاظ مصابیح ابو مالک نه روایت کړیدی.

مع زوائد وكذا في شعب الايمان) [2]

لیکن پدې کې د څه الفاظو اضافه ده او دغه شان د الفاظو په ډیروالي سره دا روایت بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدی.

توضیح: روح الله : د دنیا خلک د مال دولت او دنیاوې مفاداتو د لاندې د یو بل سره مینه کوي. او حال دا دی چې دا یو ناپائیداره شی دی؛ په دنیا کې پاتې کیږي، محبت لپاره اصل شی خو قرآن او اسلام دی. چې هغه همیشه دی. او د هغې مینه همیشه ده. ځکه په دې حدیث کې فرمایلی شویدي: په قیامت کې به د غبطې قابل خلک هغه وي چې هغوي دینې تړون په بنیاد باندې خپل مینځ کې مینه ساتي. د روح الله نه شارحینو نه قرآن کریم مراد اخستلی دی. ځکه چې قرآن هم مړه بدنونو لپاره حیات او روح دی. او د دې په وجه باندې خپل مینځ کې مینه، مضبوطه دینې خپلولي ده. چې هغه به په قیامت کې خامخا پکار راځي. (مرقات : ۸/۷۴۵)

د انسانانو خپل مینځې کلکه خپلولي اسلام دی

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي ذَرٍّ: «يَا أَبَا ذَرٍّ أَيُّ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمایل چې ابوذر!

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۳/۷۹۹ رقم الحديث ۳۵۲۷ واحمد في المسند ۵/۳۴۳.

(۲) اخرجه البغوي في الشرح السنة ۱۳/۵۳ رقم الحديث ۳۴۶۸، والبيهقي في شعب الايمان ۶/۴۸۶ رقم الحديث ۸۹۹۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

عُرَى الْإِيمَانِ أَوْثَقُ؟» قَالَ: اللهُ

(پوهیږي) د ایمان کومه رسۍ او ښاخ کلک دی؟ حضرت ابوذر رضي الله عنه جواب ورکړو چې الله او دهغه

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «الْمُوَالَاةُ فِي اللهِ وَالْحُبُّ

رسول صلی الله علیه وسلم ډیر پوهیدونکي دي. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د خدای د رضا لپاره خپل مینځ کې مینه

فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»)[1]

ساتل او د خدای د رضا لپاره د چا سره دوستي کول او د خدای د رضا لپاره د چا نه بغض او کرکه کول (بیهقی)

د مسلمان ورور د عیادت فضیلت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا عَادَ الْمُسْلِمُ

او حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې یو مسلمان د خپل کوم مسلمان ورور ناروغی

أَخَاهُ أَوْ زَارَهُ قَالَ اللهُ تَعَالَى:

پوښتنې لپاره یا د هغه سره د ملاقات په خاطر د هغه ځای ته ځي نو الله تعالی (بلاواسطه یا د فرښتو په ژبه) فرمایي چې

طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ

(دنیا او آخرت کې) ستا ژوند خوشحاله شو ستا ګرځیدل مبارک شو (چې ته په تګ سره تردې ځایه

وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ

راغلي) په هر قدم باندې تا ته ثواب درکړی شو او تا ته په جنت کې یو غټ او وچت شان والا مرتبې

مَنْزِلًا (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ)[2]

ځای ترلاسه شو. دا روایت ترمذی نقل کړیدی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

د کوم سړي سره دې مینه وي نو هغه خبر کړه

﴿۱۲﴾ وَعَنِ الْمِقْدَامِ بن معديكرب عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت مقدام ابن معدیکرب رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

---

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۷۰ رقم الحديث ۹۵۱۴.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۰ رقم الحديث ۲۰۰۸، وابن ماجه في ۱/۴۶۴ واحمد في المسند۲/۳۴۴.

« إِذَا أَحبّ الرجل أَخَاهُ
يو سړی چې کله د خپل مسلمان ورور سره دوستي يا مينه ولري نو هغه له دې پکار دي چې هغه دغه مسلمان
فليخبره أنه أحبه» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ)[1]
ته ووايي چې هغه دا دوست او محبوب ساتي. (ابوداؤد او ترمذی)

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه ورځ) د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخه باندې يو سړی تير شو، او د
وَعِنْدَهُ نَاسٌ. فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ عِنْدَهُ:
نبی عَلَيْهِ السَّلَام سره ډير خلک ناست ؤ. په دې کسانو کې يو سړي وويل چې دا سړی چې داوس په مخه تير شو.
إِنِّي لأحب هَذَا فِي الله. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
زه د ده سره فقط د الله د رضا لپاره مينه کوم. نبی عَلَيْهِ السَّلَام (دې او ريدلو سره) وفرمايل: آيا تا هغه ته ويلي دي
« أَعْلَمْتَهُ ؟ » قَالَ : لَا . قَالَ : « قُمْ إِلَيْهِ فَأَعْلِمْهُ » .
چې ته د هغه سره مينه کوې؟ هغه سړي وويل نا. نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: نو پاڅه او هغه خواته ورشه او ورته ووايه.
فَقَامَ إِلَيْهِ فَأَعْلَمَهُ
نو هغه سړی (مجلس نبوی نه) پاڅيدلو او هغه خواته ورغلو، ورته يې وويل چې زه ستا سره مينه لرم. هغه سړي (جواب کې د
فَقَالَ : أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ.
دعاء په توګه) وويل چې هغه ذات (يعني الله تعالی) دې ستا سره مينه وکړي د چا د رضا په خاطر چې ته زما سره مينه کوې.
قَالَ : ثُمَّ رَجَعَ فَسَأَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې هغه سړی بيا راستون شو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه وکړه چې هغه سړي په جواب
فَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
کې څه وويل؟ هغه نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته د هغه جواب وويله، کوم چې هغه ورکړی ؤ. نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: چې
«أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكَ
ته (آخرت کې) به د هغه سړي سره يې د چا سره چې ته مينه کوې. او ته (مينه ساتلو بلکې هر عمل کې) په هغه

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۵/۳۴۳ رقم الحديث ۵۱۲۴، والترمذي في ۴/۵۱۷ رقم الحديث ۲۳۹۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا احْتَسَبْتَ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الإِيمَانِ» . وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ:				
څه به اجر او ثواب ترلاسه کوي کوم چې د الله تعالی لپاره نیت کوي. (بیهقی) او د ترمذی په روایت کې				
«الْمَرْءُ	مَعَ	مَن	أَحبَّ	
دا الفاظ دي چې سړی به د هغه چا سره وي د چا سره چې مینه کوي. او هغه ته به په هغه څه باندې				
وَلَه	مَا	اكْتسب»[1]		
اجر ورکولی کیږي کوم چې هغه د ثواب په نیت باندې اختیاروي.				

فقط د دیندار سره تعلق وساته

﴿۱۴﴾ وَعَن	أبي	سعيد	أَنَّهُ	سَمِعَ	النَّبِيَّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او د حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دی چې هغه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي: د مسلمان نه									
«لَا	تُصَاحِبْ	إِلَّا	مُؤْمِنًا						
علاوه بل څوک (کافر او مشرک) خپل ملګری او دوست مه جوړوه. (یا دا مراد دی چې نیکوکار مسلمان نه علاوه کوم									
وَلَا	يَأْكُلْ	طَعَامَكَ	إِلَّا						
فاسق او بدکار سره دوستي مه کوه. د دې ارشاد قرينه هغه جمله ده کومه چې یې مخکې وفرمایله چې)									
تَقِيٌّ»	(رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَأَبُو دَاوُدَ	والدارمي)[2]					
ستا خوراک دې د پرهیزګار نیکوکار نه علاوه څوک و نه خوري.									

توضیح: لاتصاحب: یعنې د بدو خلکو د لاریتوب، دوستۍ او ملګرتیا نه ځان وساته. ځکه چې دا ستا لپاره دلستوني ماران دي. ستا د بدن په ځای به ستا روح او ایمان له ټک ورکړي. تا به په شرک او بدعاتو کې اخته کړي. او تا ته به بداخلاقي او بدکرداري وښايي. نو ځکه د مؤمنانو سره دوستي او تعلق وساته.

الاتقی: یعنې ستا حلاله مړی ده. نو ځکه مناسب دي چې دا نیک او متقی سړی وخوري. مطلب دا دی چې د فاسق فاجر دې په تا باندې داسې احسان نه وي، چې سبا ته مجبورا په هغه باندې وخوري، بلکې ستا معامله دې د نیکانو خلکو سره وي. هو! د مجبورۍ صورت جدا دی.

---

(۱) أخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۳۴ رقم الحديث ۵۱۲۵، والترمذي في ۴/۵۱۴ رقم الحديث ۲۳۸۶.

(۲) أخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۶۷ رقم الحديث ۴۸۳۲ والترمذي في ۴/۵۱۹ رقم الحديث ۲۳۹۵.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَرْءُ عَلَى دِينِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: انسان د خپل دوست په دين باندې

خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ

وي (يعنې کوم سړی چې د چا سره د زړه دوستي کوي نو په عامه توګه باندې د هغوې عقيدې او نظريې او د هغې عادتونه او نښويونه

مَنْ يُخَالِلُ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»

قبلوي) لهذا دا ضروري ده چې کله په تاسو کې يو سړی څوک دوست جوړوي نو ودې ګوري چې څوک دوست

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

جوړوي. (احمد، ترمذي، ابوداؤد او بيهقی) او ترمذی ويلي دي چې دا حديث غريب دی. او نووي

وَقَالَ النَّوَوِيُّ: إِسْنَادُهُ صَحِيحٌ)[1]

ويلي دي چې د دې روايت اسناد صحيح دی.

توضيح: من يخالل: د دې دوستی نه مراد د زړه مينه ده. چې د زړه دوستې او د زړه مينه فاسق، فاجر او بدکردار سړی سره پکار ندي. هو! ظاهري تعلق او مدارات جائز دي.

بادوستاں تلطف بادشمناں مدارا

دا حديث ځينو علماؤ يعنې سراج الدين قزويني موضوع ګرځولی دی. نو ځکه صاحب مشکوة د ترمذی او نووی د حوالو ذکر وکړو. چې هغوې دا حديث حسن او صحيح ګرځولی دی. لهذا ديته موضوع ويل صحيح نه دي. (مرقات: ۸/۷۵۱)

د چا سره تعلق جوړوي نو د هغه نوم او نسب معلوم کړه

﴿۱۶﴾ وَعَن يزيد بن نعامة قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ

او حضرت يزيد بن نعامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: کله چې يو سړی د بل سړي سره ورورولي

فَلْيَسْأَلْهُ عَنِ اسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ

جوړوي نو هغه له پکار دي چې هغه د ده نه د هغه او د هغه د پلار نوم معلوم کړي او پوښتنه وکړي چې هغه

وَ مِمَّنْ هُوَ، فَإِنَّهُ أَوْصَلُ لِلْمَوَدَّةِ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[2]

د کومې قبيلې سره تعلق ساتي. ځکه چې دا معلومول دوستې او تعلق ډېر مضبوطولو ذريعه به وي. (ترمذی)

---

(۱) أخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۶۸ رقم الحديث ۴۸۳۳ والترمذي في السنن ۴/۵۰۹ وأحمد في المسند ۲/۳۰۳.

(۲) اخرجه الترمذي في لاسنن ۴/۵۱۷ رقم الحديث ۲۳۹۲

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثالث

د الله تعالی د رضا لپاره د مینې او دښمنۍ فضیلت

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابو ذر رضي الله عنه فرمايي چې (يو ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم (د خپل حجرې مبارکې نه) راووتلو (مسجد نبوی کې)
قَالَ: «أَتَدْرُونَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى؟»
زمونږ خواته راغلو او وې فرمايل چې آيا تاسو پوهيږۍ چې د الله تعالی په نزد باندې ډير خوښ عمل کوم يو دی؟
قَالَ قَائِلٌ: الصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ. وَقَالَ قَائِلٌ: الْجِهَادُ. قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
کوم يو نکې ووېل چې لمونځ يا زکوة او يو بل و يونکې ووېل چې جهاد! نبی صلی الله علیه وسلم (دې اوريدلو باندې) وفرمايل
«إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ تَعَالَى الْحُبُّ فِي اللهِ
چې د الله تعالی په نزد باندې ډير خوښ عمل د خدای د رضا په خاطر باندې د چا سره مينه کول او د خدای د
وَالْبُغْضُ فِي اللهِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرَوَى
رضا په خاطر د چا سره بغض او کرکه ساتل دي. (احمد) او ابو داؤد په خپل روايت کې د حديث فقط
أَبُو دَاوُد الْفَصْلَ الْأَخِيرَ[1]
آخرې برخه يعنې إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ الخ نقل کړيدی.

توضيح: الجهاد: دلته پوښتنه دا ده چې حب فی الله او بغض فی الله يې د لمونځ، زکوة روژې او جهاد نه ولې افضل وګرځولو، او دا اعمال خو فرض دي؟

د دې يو جواب دا دی چې د زړه په اعمالو کې حب فی الله افضل عمل او بدنې اعمالو کې لمونځ، روژه او زکوة او جهاد افضل دي. بيل بيل حيثيتونه يې دي. دويم جواب دا دی چې د نورو ټولو فرائضو د پورا کيدلو نه وروسته الحب فی الله او البغض فی الله افضل عمل دی. مطلقًا ندی يعنې لمونځ، روژه او زکوة او جهاد د تکميل نه وروسته حب فی الله افضل عمل دی. ځينو روايتونو کې د دې تاويل تصريح هم موجود ده. لکه طبرانی د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړيدي. احب الاعمال الی الله بعد الفرائض ادخال السرور في قلب المؤمن. (مرقات: ۸/۷۵۳)

([1]) أخرجه احمد في المسند ۵/۱۴۶ وأخرج أبوداود في الفصل الأخير في السنن ۵/۶ رقم الحديث ۴۵۹۹.

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَحَبَّ عَبْدٌ عَبْدًا لِلهِ
او حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: کوم بنده چې د بل بنده سره فقط د الله تعالى د رضا
إِلَّا أَكْرَمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ» (رَوَاهُ أَحْمد)[1]
په خاطر باندې مينه او دوستي وساتله نو هغه په حقيقت کې د خپل پروردګار تعظيم او تکريم وکړو. (احمد)

د چا په کتلو سره چې خداى رایاد شي هغه بهتر خلک دي

﴿۱۹﴾وَعَنْ أَسمَاء بنت يزِيد أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَلا
او حضرت اسماء بنت يزيد رضي الله عنها نه روايت دى چې هې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي چې آيا
أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟» قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ:
زه تاسو ته دا ووايم چې په تاسو کې بهترين خلک څوک دي. صحابؤ عرض وکړو چې هو! ضرور ووايې.
«خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا ذُكِرَ اللهُ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه)[2]
نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: په تاسو کې غوره خلک هغه دي چې د هغوې په کتلو سره خداى رایاد شي. (ابن ماجه)

د خداى لپاره خپل مينځ کې د مينې فضيلت

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ أَنَّ عَبْدَيْنِ تَحَابَّا
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که دوه بنديګان فقط د
فِي اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَاحِدٌ فِي الْمَشْرِقِ وَآخَرُ فِي الْمَغْرِبِ
خدا د رضا لپاره خپل مينځ کې مينه وساتي که په هغوې کې يو په مشرق کې وي او بل په مغرب کې
لَجَمَعَ اللهُ بَيْنَهُمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ.
نو يقيناً الله تعالى به هغوې د قيامت په ورځ باندې يو ځاى کړي (دې لپاره چې هغوې د يو بل شفاعت وکړي يا
يَقُولُ: هَذَا الَّذِي
جنت کې د يو بل سره ووسيږي) د غه شان الله تعالى به په دې دواړو کې هر يو ته وفرمايي چې دا هغه بنده دى

[1] اخرجه احمد في المسند ۵/۲۵۹
[2] اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۹ رقم الحديث ۴۱۱۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

كُنْتَ تُحِبُّهُ فِيَّ[1]

چې زما په خاطر تا د ده سره مينه كوله

د ذكر د مجلسونو پابندي كوه

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ أَنَّهُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مِلَاكِ

او د حضرت ابو رزين رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل چې زه تا ته د دې امر يعنې

هَذَا الْأَمْرِ الَّذِي تُصِيبُ بِهِ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ؟

د دې جړه و نه ښايم. چې د هغې په ذريعه سره ته دنيا او آخرت ښيګړه ترلاسه كړې شې؟ (نو واوره) دا شيان ته خپل

عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ أَهْلِ الذِّكْرِ

ځان باندې لازم كړه. د اهل ذكر په مجلسونو كې كېنه (دې لپاره چې تا ته هم د الله د ذكر توفيق او سعادت ترلاسه كيږي)

وَإِذَا خَلَوْتَ فَحَرِّكْ لِسَانَكَ مَا اسْتَطَعْتَ

كله چې يواځې پاتې شې نو څومره چې ممكنه وي، د الله ذكر سره خپلې ژبې ته حركت وركوه. يعنې د خلكو سره په ناسته كې هم د

بِذِكْرِ اللهِ وَأَحِبَّ فِي اللهِ

الله ذكر كوه. او په ځانله والي كې هم د الله په ياد كې مشغول وسېږه. (كه څوك دوست ونيسې نو) فقط د الله تعالى د رضا او خوشحالۍ

وَأَبْغِضْ فِي اللهِ

لپاره يې دوست جوړ كړه او (څوك چې دښمن جوړ كړې نو) فقط د الله رضا او خوشحالۍ لپاره د هغه سره بغض وساته.

يَا أَبَا رَزِينٍ هَلْ شَعَرْتَ

يعنې د چا سره ستا دوستي او دښمني معيار د الله رضا معيار وي. او اى ابو رزين آيا تا ته معلومه ده؟

أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ زَائِرًا أَخَاهُ

چې كله يو سړى د خپل مسلمان ورور زيارت او ملاقات په اراده باندې د كور نه ووځي او د هغه مسلمان

شَيَّعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ كُلُّهُمْ

ځاى ته لاړ شي) نو اويا زره فرښتې هغې پسې شاته شاته ځي او هغه (ټولې فرښتې) د هغه لپاره د

يُصَلُّونَ عَلَيْهِ وَيَقُولُونَ: رَبَّنَا إِنَّهُ

استغفار دعاء غواړي. او وايي چې اى زمونږ پروردګار! دې سړي فقط ستا د رضا په خاطر (د يو مسلمان

(1) أخرجه البيهقي في شعب الإيمان ۶/۴۹۲ رقم الحديث ۹۰۲۲.

وَصَلَ	فِيكَ	فَصِلْهُ؟	فَإِنِ

وروړ سره) ملاقات وکړو نو دا دخپل رحمت او مغفرت سره یو ځای کړه نو (ای ابورزین) که تا لره په دې ذکر

اسْتَطَعْتَ أَنْ تُعْمِلَ جَسَدَكَ فِي ذَلِكَ فافعل"[1]

شوؤ شیانو کې خپل ځان لګول (یعني په دې باندې عمل کول) ممکن وي نو دا شیان خامخا خپل کړه.

د خدای لپاره د محبت غښې فضیلت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې (یوه ورځ) زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وم. چې

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَعُمُدًا مِنْ يَاقُوتٍ عَلَيْهَا غُرَفٌ مِنْ زَبَرْجَدٍ

نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په جنت کې د یاقوتو ستنې دي. چې په هغې باندې د زمردو بالاخانې جوړې شوې دي. د

لَهَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ تُضِيءُ كَمَا

هغې دروازې برسیرته دي. او هغه بالاخانې او د هغې دروازې هم دغه شان روښانه او پرقیږې لکه

يُضِيءُ الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ» فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

ځنګه چې روښانه ستورې پرقیږي. صحابؤ (دې اوریدلو سره) عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم!

مَنْ يَسْكُنُهَا؟ قَالَ: «الْمُتَحَابُّونَ فِي اللهِ

په دې کې به کوم خلک وسیږي؟ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د خدای د رضا په خاطر خپل مینځ کې مینه ساتي.

وَالْمُتَجَالِسُونَ فِي اللهِ وَالْمُتَلَاقُونَ

د خدای د رضا په خاطر باندې د یو بل سره مجلس او ملګرتیا کوي. او د خدای د رضا په خاطر باندې

فِي اللهِ» (رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»)[2]

خپل مینځ کې ملاقات کوي. (دا درې واړه روایتونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړیدي)

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۴۹۵ رقم الحديث ۹۰۲۴.

[2] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۴۸۷ رقم الحديث ۹۰۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

باب ما ینهی عنه من التهاجر و التقاطع و اتباع عورات الناس ۱٤ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

د یو ځو منع کړې شوؤ شیانو بیان

یعنې دا یو څو منع کړې شوي شیان دي چې په هغې کې د ملاقات پریخودل، خپل مینځ کې بیلتون، خبرې نکول، د تعلق ختمول او عیب لټول شامل دي. تهاجر، هجرت او هجران د پریخودلو په معنی دی. هاجره او هجیره پریخودلو په معنی راځي. او تقاطع قطع تعلق او غوڅولو او خبرې نکول په معنی باندې راځي. د تقاطع لفظ ګویا د تهاجر ترجمه یا د هغې بیان او وضاحت دی. د دوه مسلمانانو د یو بل نه د درې ورځو نه ډیر سلام کلام بندول او د تعلق ختمولو نوم تهاجر دی، په نورو الفاظو کې داسې پوهه شی چې اسلامې وروروليٰ غوڅولو نوم تهاجر او تقاطع ده. عنوان کې مِنْ روارلو سره تبعیض اړخ ته اشاره کړې شویده. ځکه چې په ځینو حالاتو کې تر یو حده پورې تهاجر او د تقاطع اجازت وي لکه وس به په لاندې حدیث کې د دې ذکر راروان دی. العورات: دا دعورة جمع ده. لغت کې عورت هغه شي ته ویلی کیږي چې دهغې په ښکاره کولو باندې سړی عار او شرم محسوسوي، او د زړه نه غواړي چې هغه شی دې پټ وي، دلته د عورات نه مراد پټ عیبونه دي. یعنې د خلکو پټو عیبونو پسې لګیدل ښه خبره نده. بلکې منع ده. (مرقات : ۸/۷۵۸)

الفصل الاول

درې ورځو نه ډیر خبرې بندول حرام دي

﴿۱﴾عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ					
حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا د یو سړې لپاره حلال ندي چې					
أَنْ	يَهْجُرَ	أَخَاهُ	فَوْقَ	ثَلَاثِ	لَيَالٍ
هغه: درې ورځو نه ډیر د خپل مسلمان ورور سره ملاقات کول پریږدي. او صورت دا وي چې (چیرته هغوي یو بل					
يَلْتَقِيَانِ	فَيُعرض	هَذَا	ويعرض	هذا	وخيره
مخې ته راشي نو) دا خپل مخ هغه اړخ ته کړي او هغه خپل مخ بل اړخ ته کړي، او په دواړو کې غوره سړی هغه دی څوک چې					
يَلْتَقِيَانِ فَيُعرض هَذَا ويعرض هذا وخيرهما الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ» (مُتَّفق عَلَيْهِ) [۱]					
(خفګان لیرې کولو لپاره او د اړیکو په ځای کولو په خاطر) په سلام کې مخکې والی وکړي. (بخاری او مسلم)					

توضیح: فوق ثلاث: یعنې د درې ورځو نه ډیر د تعلق پریخودل د هیچا لپاره جائز ندي. په دې حدیث کې د

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۹۲ رقم الحديث ۶۰۷۷ ومسلم في ۴/۱۹۸۴ رقم الحديث (۲۵۶۰-۲۵).

درې ورځو د تيد نه معلومه شوه چې انسانې طبع او غصه او قهر مخې ته په پدلو سره تر درې ورځو پورې د يو سړي لپاره تعلق پريخودل او خبرې بندولو اجازت شته دی. غيرت او جذبې په وجه باندې انسان تر درې ورځو پورې د خپلې غصې د جذباتو دوجې نه معذوره دی. د دې لپاره د مزاج تُندي او د بې صبرۍ ماده تر ورځو پورې په جوش کې وي. لهٰذا تر درې ورځو پورې معذوره وګڼلې شو. د درې ورځو نه زیر د تعلق پريخودل د مزاج مغلوبيت ندی بلکې شرارت دی. نو ځکه حرام دی. درې ورځو پورې معذور ګڼلو وجه په پوهه کې راځي. ځکه چې انسان مدنی الطبع دی. د عام ناستې ولاړې د وجې نه کله کنځلې اورې، کله غيبت او چغلي اورې. د هرې ورځې د دې خپل مينځې معاملاتو د وجې نه نزاع او جګړو صورتونه پيدا کيدلی شي. نو ځکه تر درې ورځو پورې د تعلق پريخودلو اجازت شته دی. ډير نشته دی. علامه سيوطی رحمه الله په دې خبره باندې د علماؤ اتفاق نقل کړيدی چې که يوسړی سره دا ويره وي که د فلانکې سړې سره ملاقات کوم يا د عامو خلکو سره تعلق ساتم نو په دې سره ماته دينی او دنياوي نقصان د رسيدلو خطره ده. او زما قيمتې وخت هم ضائع کيدلی شي. نو دداسې سړې لپاره جائز دي چې هغه د خلکو نه ځان غاړې کړې. او د ګدون نه دې ځان وساتي، ليکن هغه دې په دې ځان غاړې کولو کې د خلکو غيبت دې نکوي، د هغوې بدې دې نه کوي، او دهغوې سره دې کينه او حسد نه ساتي. دغه شان دينی غيرت دوجې او په دغه بنياد باندې د دين د فائدې لپاره د درې ورځو نه ډير د تعلق پريخودلو ګنجائش نشته دی. ځکه چې دا ترک موالات د دين لپاره هم فائده مند دي. د چا سره چې تعلق پريخودل شويدی. د حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه، هلال بن اميه او حضرت مراره رضی الله عنه سره د مدينې خلکو او د خدای پيغمبر پنځوس ورځو پورې مکمل تعلق پريخودلی وُ. نبی کريم صلی الله علیه وسلم د حضرت زينب رضی الله عنها نه تقريبًا دوه نيمې مياشتې ترک تعلق کړی وُ. حضرت عمر رضی الله عنه د خپل ځوې حضرت بلال رضی الله عنه سره تهول ژوند تعلق ختم کړی وُ. حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها د حضرت عبد الله بن زبير سره تر يو وخته پورې تعلق ختم کړی وُ. نو دا جائز دي. دغه شان د بدعتيانو او اهل هواء سره د هغوې د بدعاتو په وجه باندې تعلق ختمول ضروري دي، د نورو بدعقيده خلکو هم دا حکم دی. د تهاجر او خبرو بندولو صورت کې چې چا په سلام کې مخکې والی وکړو هغه د بل نه افضل او اعلى جوړيږي. که د تعلق پريخودلو په وخت کې يو په بل سلام وکړو او بل جواب ورنکړو نو وس د تقاطع د ګناه نه سلام کونکی خارج شو. دويم به په دېکې اخته وي. د دې ټول بحث خلاصه دا ده چې د قبيح د کولو نه وروسته ادب او زجر او توبيخ او تنبيه او د اصلاح په غرض سره درې ورځو نه ډير وُ نو جائز ده. او فقط د بغض، عناد او کنيې او حسد په بنياد باندې حرام دی. په دې بيان سره به په ټولو احاديثو کې تطبيق راشي. (مرقات: ۸/۷۵۸،۷۵۹)

بغض او کرکه او ليري والى او دښمني پيدا کونکي کارونه منع دي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: بدګماني کولو نه ځان وساتئ ځکه چې د

فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ

بدګماني خبرو د ټولو نه بدتر دروغ دي. (د ځان نه غيره متعلقه کارونو او بې ضرورته د نورو دا حوالو په)

وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا

لټون کې مه وسيږئ. د چا جاسوسي مکوئ. د چا سودا مه خرابوئ. خپل مينځ کې حسد مکوئ، د يو بل

وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا».

سره بغض مه ساتئ. د يو بل غيبت مکوئ، او ټول مسلمانان د خدا بنديګان او د يو بل ورونه وو سيږئ.

وَفِي رِوَايَةٍ: «وَلَا تنافسوا». (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

او په يو روايت کې دا الفاظ هم دي چې خپل مينځ کې حرص مکوئ. (روايت کړې دي بخاري او مسلم)

توضيح: اياكم والظن: يعني د بدګمانئ نه ځان وساتئ. د غه شان د بدګمان او فرض کړئ شوؤ په بنياد باندې د خبرو کولو نه ځان وساتئ. ځکه چې د غه شان فرضي خبرې يا اوريدلى شوي خبرې بدترين دروغ دي. او «كفى بالمرء كذبا ان يحدث بكل ما سمع» والا حديث دا منع کړيدي.

ولاتحسسوا: د چا د حالاتو په معلومولو کې مه لګيږئ. او د نورو خبرونه مه لټوئ. **ولاتجسسوا:** او د چا جاسوسي مکوئ. تحسس او تجسس په فرق کې دوه قولونه دي: اول قول دا دى چې دا دواړه مترادف دي. معنې يې يو ده. دويم قول دا دى چې تجسس هغه معلوماتو او پټې کتنې ته وايي چې هغه د نورو په مرسته او تعاون سره وي او تحسس هغه دى چې هغه د چا په مرسته او واسطه سره نه وي. بلکې په خپل مرسته باندې د خپل حواسو په بنياد باندې وي خو په پټه طريقې سره. لکه د غوږ په کيخودلو سره خبرې اوريدلو کو ښښ وکړي يا په پټه توګه باندې په سترګو سره معلومه کړي. (مرقات: ۸/۷۶۰)

ولاتناجشوا: تناجش: دا لفظ په اصل کې د ښکار راپارول او تختولو لپاره استعماليږي. بيا د دې اطلاق په هغه مصنوعې اختستونکې باندې وشو چې هغه په ګاهک باندې د سودا قيمت ډيرولو لپاره مصنوعې قيمت لګوي. د دې جملې لفظي ترجمه دا ده چې د چا سودا مه ورانوه. (مرقات: ۷۶۱، ۸/۷۶۰)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۸۴ رقم الحديث ۶۰۶۶، ومسلم في ۴/۱۹۸۵ رقم الحديث (۲۵۶۳-۲۸)، وأبوداود في الســـ
.۵/۲۱۳

ولاتحاسدوا: يعني حسد مکوه. د حسد تعريف دا دی چې د نورو د نعمت د ختميدلو ارزو وکړي. که هغه ته به لاس ورشي او که ورنشي خو د نورو نه چې ختم شي. (مرقات: ۸/۷۶۱)

ولاتباغضوا: د يو بل سره بغض مه ساتئ. يعنې دينې او دنياوي اعتبار سره داسې اسباب مه پيدا کوئ چې د هغې نه بغض او حسد پيدا کيږي. (مرقات: ۸/۷۶۱)

ولاتدابروا: يعنې د يو بل شاه تر شه بدې او غيبت مکوئ. دا يو مطلب دی. دويم مطلب ملا علي قاري دا بيان کړيدی چې کله دوه مسلمان يو ځاې کيږيّ نو د قطع تعلق د وجې نه يو بل ته شاه مه ښايي لکه څنګه چې عام عادت دی چې دوه خفه ملګري ديو بل نه مخ اړولو باندې اعراض کوي، دا مطلب ډير واضح دی. (مرقات: ۸/۷۶۱)

وكونوا عباد الله: يعنې ټول په ټوله مسلمانان ورونړه جوړ شئ. دا جمله د خلاصې او نتيجې په توګه باندې ده. ځکه چې پاس ذکر شوې مکروه کارونه چې کله نه وي نو خپله به مسلمانان ورونړه جوړ شي. ځکه چې د ټولو رب يو دی. نبي يو دی. کتاب يو دی. قبله يو ده. مکمل اتحاد دی. (مرقات: ۸/۷۶۱)

ولاتنافسوا: يعنې حرص او لالچ کولو سره دنيوې ښائسته شيانو کې دلچسپې اخستلو باندې د يو بل نه مه مخکې کيږئ. يو روايت کې دا جمله شته دی. وس واضحه دا ده چې دا جمله ولاتحاسدوا نه ورسته وي. (مرقات: ۸/۷۶۱)

خپل مينځې دښمنۍ قباحت

﴿۳﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايل: دوشنبې او پنجشنبې په ورځ باندې

فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا

د جنت دروازې برسيرته کيږي. او بيا د هر هغه بنده ښښنه کيږي چې هغه د خداى سره څوک نه شريکوي، البته

إِلَّا رجلا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ:

هغه سړې د ښښنې نه محرومه وي چې هغه خپل مينځ ياد کوم مسلمان ورور سره دښمنې لري. نو فرښتو ته وويلی شي دې ۲

انْظُرُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يصطلحا" . (رَوَاهُ مُسلم) (۱)

دواړو ته چې خپل مينځ کې دښمنې لري، مهلت ورکړئ تر دې چې خپل مينځ کې جوړ جاړې وکړي. (مسلم)

توضیح: **الشحناء**: خپل مینځ کې بدترین قِسمه دښمنی ته شحناء ویل کیږي. دا د انسان لپاره دومره لویه تباهي ده چې د شرک نه علاوه غټ غټ ګناهونه معاف کیدلی شي خو دا ګناه نشي معاف کیدلی. دوشنبې او پنجشنبې په ورځ باندې د جنت دروازې برسیرته کیږي. او د الله تعالیٰ رحمت عام شي لیکن دا دوه کسان چې خپل مینځ کې دښمني لري، د دوی دا ګناه نشي معاف کیدلی. او د الله تعالیٰ د اړخ نه فرښتو ته حکم وشي چې ترڅو دې دواړو خپل مینځ کې صلح او معافي نه وي شوي، هغوی ته به د دوشنبې او پنجشنبې د ورځې ګناه هم معاف نه کړم. (مرقات: ۸/۷۶۲،۷۶۳)

انظروا: باب افعال نه د امر صیغه ده. د انتظار او مهلت په معنی باندې دی. (مرقات: ۸/۷۶۳) ورسره حدیث کې د **اترکوا** الفاظ راغلي دي. **یصطلحا** دصلح کولو په معنې دی. ورسره روایت کې **یفیئا** دی چې هغه د رجوع په معنی دی. یعنې د دې مؤخر کولو سره پریږده. ترڅو چې صلح ونکړي. زه به یې معاف نکړم.

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هره اونۍ (هفته) کې دوه ځل
مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ مُؤْمِنٍ إِلَّا
دوشنبې او پنجشنبې د پروردګار په دربار کې عملونه پیش کولی شي. نو د هر مؤمن بنده مغفرت کیږي.
عبدا بينه بين أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ: اتْرُكُوا
علاوه د هغه بنده چې هغه خپل یا بل مسلمان سره دښمني لري. دهغوی په اړه وویلی شي چې دې دواړو ته
هَذَيْنِ حَتَّى يَفِيئَا (رَوَاهُ مُسلم)[1]
مهلت ورکړی، چې هغوی راوګرځي او د دښمنۍ نه منع شي. (مسلم)

په درې ځایونو کې د اصلاح راوستلو لپاره دروغ جائز دي

﴿۵﴾ وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ام کلثوم بنت عقبه بن ابی معیط وایي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلی دي:
يَقُولُ: « لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ
هغه سړی دروغژن ندی چې هغه (د خپلو خبرو په ذریعه) د خلکو مینځ کې اصلاح کوي یعنې خپل مینځې

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۷ رقم الحديث (۲۵۶۵-۳۶) وأبوداود في السنن ۲/۸۱۴ رقم الحديث ۲۴۳۶.

بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

دښمنۍ لرونکو په مینځ کې جوړجاړی وکړي (خپل مینځ کې دښمنۍ لرونکي هر یو ته) د ښیګړې خبره وکړي (چې

وَزَادَ مُسْلِمٌ قَالَتْ: وَلَمْ أَسْمَعْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه دې یو روایت کې دا الفاظ زیاتې نقل شویدي چې حضرت ام کلثوم وفرمایل: ما هغه عزتمند ذات یعني نبی کریم ﷺ

يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا

نه دا سې یوه خبره نده اوریدلي چې د هغې نه دا ثابتیږي چې نبی ﷺ د هغې خبرې اجازت ورکړی

يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ

وي چې خلک هغې ته دروغ وایي (یعني نبی ﷺ هیڅکله هم په هیڅ معامله کې د دروغو ویلو اجازت

إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: الْحَرْبُ

ندی ورکړی) د درې خبرو نه علاوه (چې په هغې کې د دروغ ویلو اجازت ورکړیدی) یو خو په جهاد کې د

وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ

جنګ په حالت کې. دویم د خلکو په مینځ کې د صلح کولو کې او دریم هغه وخت کله چې خاوند خپلې

(وَ ذكر حَدِيث جَابر : « إِن الشَّيْطَان وَ حَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا »(١)

ښځې سره خبري کوي او ښځه د خپل خاوند سره خبري کوي. او د حضرت جابر رضي الله عنه دا روایت:

قد أيس» فِي «بَاب الوسوسة»)(٢)

ان الشيطان قد ايس الخ باب الوسوسه کې نقل شویدی.

توضیح: الحرب: د دېنه عام جنګ مراد ندی. بلکې مقدس جنګ جهاد مراد دی. د جهاد احکام نازک او ځانګړې دي. یو شی په نورو میدانونو کې حرام وي لیکن د جهاد په میدان کې جائز او حلال شي. شاعر وایي:

تفرد بالاحکام في اهله الهوٰی   فأنت جمیل الخلف مستحسن الکذب

د حدیث مطلب دا دی چې د ضرورت کیدلو په وخت کې د جهاد په میدان کې د خلاف واقع خبرو استعمالولو اجازت دی. د کومو خبرو تعلق چې د مسلمانانو طاقت او د لښکر د وچتوالي ښودني سره وي مثلاً دا ویل چې زمونږ د طاقت به څه وایې مونږ دښمن تباه کړو، هغه مونږ د زمکې د مخ نه ورک کړو. وس د هغوې طاقت ختم شویدی. زمونږ نور تازه فوځ رارسیدلی دی. دښمن د تیختې لپاره تیار ولاړ دی. یا

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۹۹ رقم الحديث ۲۶۹۲، ومسلم في صحيحه ۴/۲۰۱۱ رقم الحديث (۲۶۰۵-۱۰۱)

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۶۶ رقم الحديث (۲۸۱۲-۶۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

مخامخ دښمن ته د حیلې او دهوکې په توګه باندې وایې چې ګورې ستاسو شاته څومره لویې لښکر راروان دی. کله چې هغه شاته ګوري نو مجاهد خپل کار کوي. دا ټول چلونه په میدان جهاد کې استعمالول جائز دي. الحرب خدعة: هم د دې نوم دی. (مرقات: ۸/۷۶۶)

وحدیث الرجل: مثلاً: خاوند خپلې ښځې ته وایې چې ستا به څه وایې ستا په شان حسن په ټوله دنیا کې نشته دی. ستا د ښه ښویونو به څه وایې، ستا مثال په دنیا کې نشته دی. ته بې مثاله یې. او ستا هنر او ک... او حسن او جمال بې جوابه دی. او زما کمالات خو د شمارلو نه بیرون دي، زما د کارونو به څه وایې. زما په شان طاقت خو د دنیا په هیڅ یو فرد بشر کې نشته دی. او زما د ښه ښویونو مقابل په دنیا کې هیڅوک نشته دی. (مرقات: ۸/۷۶۶)

حکایت: حیوة الحیوان کې یې یوه قیصه لیکلې ده چې یو مارغه د خپل ژوند ملګرې مرغۍ قابو کولو کوښښ کولو. هغه یو خوا بل خوا تختیدله. نو مارغه ورته وویل: ته زما نه تختې. حالانکې په ما کې دومره طاقت دی چې زه د حضرت سلیمان علیه السلام ماڼۍ وچتولو باندې سمندر ته ګوزارولی شم. د دې بې ادبۍ شکایت مارغانو د حضرت سلیمان علیه السلام په دربار کې وکړو. مارغه په شاهي حکم سره حاضر کړی شو. حضرت سلیمان علیه السلام په غصه کې وفرمایل: ای مارغه! ته یوه چړهاکۍ یې! د چړهاکۍ هومره ستا وزن دی. ته زما ماڼۍ په وچتولو سره سمندر ته څنګه ګوزارولی شې؟ مارغه وویل: چې جناب! تاته ښه معلومه ده چې محبوب او معشوق لاس ته راوړلو لپاره داسې دروغ ویل کیږي. دا هم دغه شان یوه حیله وه دې لپاره چې معشوقه لاس ته راشي.

والاصلاح: د خلکو په مینځ کې د اصلاح په غرض سره خلاف واقعه خبره کول جائز دي. مثلاً وایې ورور... هغه سړی ستا ډیره ستاینه کوي، ستا ډیر صفت کونکی او خوښمند دی. (مرقات: ۸/۷۶۶)

الفصل الثاني

﴿٦﴾عَن أَسمَاء بنت يزِيد قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ
حضرت اسماء بنت یزید فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: دروغ ویل جائز ندي، د درې
إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: كَذِبُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ
ځایونو نه علاوه: یو خو د خاوند خپلې ښځې ته دروغ ویل چې په هغې سره هغه خوشحاله شي. دویم کافرو ته د
وَ الْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ " . (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَ التِّرْمِذِيُّ) [1]
جنګ په حالت کې او دریم د دې مقصد لپاره دروغ ویل دي چې د خلکو په مینځ کې جوړه راشي. (احمد او ترمذی)

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۹۲ رقم الحديث ۱۹۳۹، وأحمد في المسند ۶/۴۶۱.

د تعلق پرېخودلو د ګناه نه دوتلو طریقه

﴿۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَحِلُّ

او حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هیڅ مسلمان لپاره

لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ

مناسب نه دي چې هغه د کوم مسلمان سره د درې ورځو نه زیر ملاقات کول پرېږدي. کله چې هغه د دې مسلمان

فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ

سره چیرته مخ شي کوم چې د ده نه خفه دی او هغه ته درې ځل سلام وکړي او هغه یو ځل هم جواب ورنکړي

فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

نو هغه (جواب نه ورکونکی) د دې ګناه وبال اخستلو باندې به د هغه ځای نه ستنیږي. (ابوداؤد)

د تعلق پرېخودلو په حالت کې مړ کیدونکی به دوزخ ته ځي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ

او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د یو مسلمان لپاره حلال نه دي

أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ

چې هغه د خپل مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زیر د ملاقات کول پرېږدي. لهذا کوم سړی چې د درې ورځو نه (که هغه

فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ». (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَ أَبُو دَاوُد) [2]

ساعت هم) زیر ملاقات کول پرېږدي او بیا هغه (په دغه حال کې توبه کولو نه بغیر) مړ شي نو اور ته به ځي.

ټول کال د تعلق پرېخودل د قتل د ګناه برابره ده

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي خِرَاشٍ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوخراش اسلمی رضي الله عنه فرمایي چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې کوم سړی (په

يَقُولُ: «مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ

خفګان سره) د خپل مسلمان ورور سره یو کال پورې ملاقات کول پرېخودل، هغه ګویا د هغه وژنه وکړه.

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۵ رقم الحديث ۴۹۱۳.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۵ رقم الحديث ۴۹۱۵، وأحمد في ۴/۲۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

كسفك دَمه » (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]

يعني تر اوږد وخته پورې ملاقت پرېخودلو ګناه او ناحق وژنه کولو ګناه نژدې نژدې دي. (ابوداؤد)

السلمي: دا د کاتبينو غلطي ده. علامه میرک ويلي دي چې دا لفظ اسلمي دی.

درې ورځو نه وروسته د تعلق پرېخودنه پرېږده

﴿۱۰﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحِلُّ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَهْجُرَ مُؤْمِنًا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَإِنْ مَرَّتْ بِهِ ثَلَاثٌ فَلْيَلْقَهُ فليسلم عَلَيْهِ فَإِنْ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَدِ اشْتَرَكَا فِي الْأَجْرِ وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ وَ خَرَجَ الْمُسْلِمُ من الْهِجْرَة » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2]

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د هيڅ مؤمن لپاره حلال ندي چې هغه دیو مؤمن سره د درې ورځو نه ډېر ملاقات کول پرېږدي. لهذا کله چې (خفګان باندې) درې ورځې تيرې شي نو پکار ده چې د هغه سره ملاقات وکړي. او هغه ته سلام وکړي. که هغه د سلام جواب ورکړي نو بيا هغه دواړه به په ثواب کې شريک وي او که هغه د سلام جواب ورنکړو نو په دې صورت کې به هغه (د سلام جواب نه ورکونکی) د ګناه سره ستنیږي او د سلام کونکی به د ترک ملاقات د ګناه نه بري شي. (ابوداؤد)

د صلح راوستلو فضيلت

﴿۱۱﴾وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ من درجةِ الصِّيَامِ والصدقةِ وَالصَّلَاةِ؟» قُلْنَا: بَلَى. قَالَ: «إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: آيا زه تاسو ته يو داسې عمل ونه وايم چې د هغې د ثواب درجه د روژې نه، صدقې او د لمونځ د ثواب نه ډيره ده؟ ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ (دې اوريدلو سره) عرض وکړو (ضرور ووايه) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: (خپل مينځ کې د ښمنې لرونکې) دوه کسانو مينځ کې صلح کول دي. او د دوه کسانو په مينځ کې فساد او نفاق پيدا کول يو داسې خصلت دی چې هغه بيخ

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۵ رقم الحديث ۴۹۱۵، وأحمد في المسند ۴/۲۲۰.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۴ رقم الحديث ۴۹۱۲، ومالک في الموطا ۲/۹۰۶ رقم الحديث ۱۳ من كتاب حسن الخلق.

ذَاتِ	الْبَيْنِ	هِيَ الْحَالِقَةُ»

ويستونكى دى (يعنې د دې خصلت د وجې نه مسلمانانو په معاملاتو او دين کې نقصان او خلل پيدا کيږي)

«رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ»[1]

دا روايت ابو داؤد او ترمذى نقل کړيدى او (ترمذى) ويلې دي چې دا حديث غريب دى.

توضيح: بافضل: يعنې لمونځ، روژه ، صدقه او مجموعه عبادتونو نه اصلاح ذات البين افضل عمل دى. ځينو علماؤ د لمونځ، روژې او صدقې نه نفلې عبادت مراد اخستلى دى چې د دې نفلې عبادتونو نه اصلاح ذات البين افضل دى. ليکن ملا على قارى رحمه الله فرمايې چې راجحه دا ده چې د دې اعمالو نه فرض اعمال مراد دي. او دا خبره ظاهره ده چې مثلاً دوه کسان خپل مينځ کې سخت مخالفت دي ،يو بل ووژلو. چې د هغې نه غټې غټې فتنې پيدا شوې او د نورو فتنو د پيدا کيدلو امکان دى. نو په داسې صورت کې د دې مخالفينو په مينځ کې صلح کول د فرائضو نه ډيره اهمه ده. ځکه که فرض ساقط شى نو د هغې تدارک او قضا ممکنه ده ليکن وينه چې کله تويه شوه او سرى مړ شو نو د هغې هيڅ علاج نشته دى. (مرقات: ۸/۷۷۰)

وفساد ذات البين: دا مبتداء ده او هى الحالقة د دې خبر دى. حالقه د ويستلو په معنى باندې راځي. خو د ويختانو خرول مراد ندي. ايمان خرول مراد دي ځکه چې په ورسره حديث کې تصريح شته دى. (مرقات: ۸/۷۷۰)

بغض او حسد ايمان خروي

﴿۱۲﴾وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ					
او حضرت زبير رضي الله عنه فرمايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: ستاسو نه مخکې امتونو ناروغى په تاسو					
الْأُمَمِ	قَبْلَكُمْ	الْحَسَدُ	وَالْبَغْضَاءُ	هِيَ	الْحَالِقَةُ
کې ننوتلې دي. او هغه ناروغې کينه او بغض دى. چې دا خرونکې ده. د دېنه زما مراد د ويختانو خرول ندي، بلکې دين					
لَا	أَقُولُ	تَحْلِقُ	الشَّعْرَ	وَلَكِنْ	
خرول دي (يعنې کينه او بغض دومره بد خصلت دى چې د دې په وجه باندې د انسان دين او اخلاق تباه او					
تحلق	الدِّينَ»	«رَوَاهُ	أَحْمد	وَالتِّرْمِذِيُّ»[2]	
برباد شي بلکې دا خصلت دين او دنيا دواړو لپاره غټ نقصان ورکونکى دى) (احمد او ترمذى)					

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۱۸ رقم الحديث ۴۹۱۹، والترمذي في ۴/۵۷۲ رقم الحديث ۲۵۹۰.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۳ رقم الحديث ۲۵۱۰، واحمد في المسند ۱/۱۶۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

کینه نیکۍ خوري

﴿۱۳﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د کینې
فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[۱]
نه خپل ځان محفوظ وساتئ. ځکه چې کینه نیکۍ خوري لکه څنګه چې لرګو لره اور خوري. (ابوداؤد)

توضیح: یأکل الحسنات: یعنې کینه نیکۍ داسې خوري څنګه چې اور لرګي خوري. د دې حدیث نه معتزلو بې ځایه استدلال کړیدی چې په بدو اعمالو سره نیک اعمال ضائع کیږي. او د معصیت په کولو سره ټول اعمال بلکې ایمان بیخې ختمیږي.

د دې یو جواب دا دی چې کینه د نیکو حسن او د هغې کمال ختموي، اصل اعمال نه ختموي. دویم جواب دا دی چې کینه او شرارت په وجه باندې قیامت په ورځ د حسد کونکې ټول اعمال به خپل محسود (د چا سره چې حسد شویدی) ته ورکړی شي. ګویا حسد د هغه اعمال وخوړل. دا مطلب ندی چې په دنیا کې به د اعمال نامې نه د هغه عملونه ختم کړی شي. که داسې وشول نو بیا په قیامت کې د حساب کتاب څه مطلب شو، فیصله خو په دنیا کې وشوه.

دریم جواب دا دی چې حاسد (حسد کونکی) کله حسد کوي نو هغه ته خپله د نیک عملونه توفیق نه وي، بلکې د نیک اعمالو د کولو نه محرومه وي. ګویا حسد د هغه استعداد خراب کړو. د غه شان ګویا حسد د هغه ټول ښه اعمال وخوړل. (مرقات: ۸/۷۷۲،۷۷۳)

﴿۱۴﴾وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ
او حضرت ابو هریره د رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ته خپل ځان د وه کسانو
فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[۲]
په مینځ کې د بدۍ راوستلو نه وساته، ځکه چې دا خصلت خرونکی یعنې دین لره تباه کونکی دی. (ترمذی)

کوم مسلمان ته د ضرر رسولو نقصان

﴿۱۵﴾وَعَنْ أَبِي صرمة أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ
او حضرت ابو صرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چا (مسلمان ته بغیر د څه شرعي وجې نه)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۲۰۸ رقم الحديث ۴۹۰۳.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۲ رقم الحديث ۲۵۰۸.

ضَارَّ	ضَارَّ	الله	بِهِ

ځه ضرر او نقصان ورسوي نو الله تعالی به هغه ته نقصان ورسوي، یعنې هغه ته به د بدو اعمالو سزا ورکړي.

وَمَنْ	شَاقَّ	شَاقَّ	الله

او کوم سړی (کوم مسلمان لره) په مشقت او تکلیف کې واچوي نو الله تعالی به هغه په مشقت او تکلیف

عَلَيْهِ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ)[1]

کې اخته کړي (ابن ماجه، ترمذی) او ترمذی ویلي دي چې دا حدیث غریب دی.

﴿۱۶﴾وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَلْعُونٌ مَنْ

او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی لعنتي دی چې

ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ(رواه الترمذی

هغه کوم مسلمان ته ضرر ورسوي، یا د هغه سره مکر او دهوکه وکړي. دا روایت ترمذی نقل کړیدی

وقال هٰذا حديث غريب)[2]

او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

یو مسلمان ته د پیغور کولو او عیب لټولو منع والی

﴿۱۷﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: صَعِدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ فَنَادَى

او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې (یو ورځ) رسول کریم صلی الله علیه وسلم منبر باندې ودریدلو او خلکو ته یې

بِصَوْتٍ	رَفِيعٍ	فَقَالَ:	«يَا	مَعْشَرَ	مَنْ	أَسْلَمَ	بِلِسَانِهِ

په وچت آواز سره یې دې توګه باندې مخاطب کړل: ای هغه خلکو! چې هغوی په ژبه سره اسلام خوراوړی دی او د هغوی زړونو ته

وَلَمْ	يُفْضِ	الْإِيمَانُ	إِلَى	قَلْبِهِ	لَا	تُؤْذُوا	الْمُسْلِمِينَ

ایمان نه دی رسیدلی (تاسو خبرولی شي چې) تاسو (هغه) مسلمانانو ته تکلیف مه ورکوی (چې هغه کامل مسلمانان دي

وَلَا	تُعَيِّرُوهُمْ	وَلَا	تَتَّبِعُوا	عَوْرَاتِهِمْ	فَإِنَّهُ	مَنْ

په دې توګه چې هغوی په ژبه هم اسلام قبول کړیدی او د هغوی زړونه هم د ایمان په رڼا سره روښانه دي) هغوی ته پیغور مه ورکوی

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۲/۲۹ رقم الحديث ۳۶۳۵، والترمذي في السنن ۲/۲۹۳ رقم الحديث ۱۹۴۰.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۹۳ رقم الحديث ۱۹۲۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَّبِعْ	عَوْرَةَ	أَخِيهِ	الْمُسْلِمِ	يَتَّبِعِ	اللهُ	عَوْرَتَهُ

او مه د هغوي عيبونه لټوئ. ياد ساتئ! څوک چې د خپل مسلمان ورور عيب لټوي، الله تعالى به د هغه عيب ولټوي،

وَمَنْ	يَتَّبِعِ	اللهُ	عَوْرَتَهُ	يَفْضَحْهُ

او د چا عيب چې الله ولټوي، د هغه رسوا کيدل يقيني دي، اګرکه هغه (د خلکو د نظرونو نه پناه په

وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1]

خپل کور کې) ولې نه وي پټ شوی. (ترمذی)

توضیح: یامعشر المسلمین: د نبي صلی الله علیه وسلم د خطاب لاندې منافقان هم راغلل او هغه مسلمانان هم راغلل چې هغوې د ايمان سره فسق او فجور کې اخته وي. علامه طيبي دا خطاب فقط د منافقانو سره خاص کړيدی. خو د حديث ظاهرې مفهوم او سياق سباق نه تخصيص نه بلکې عموم معلوميږي.

ولاتعیروهم: يعنې هغوئ ته پيغور مه کوئ. مطلب دا دی چې يو سړې ګناه وکړه، بيا يې توبه وکړه، او نيک جوړ شو، وس يو پيغور کونکی هغه ته پيغور کوي او پخوانی عيب ورياد ولو باندې هغه ذليله کوي، دا ناجائز ده. هو! که هغه سړی عادي مجرم دی، او فی الحال هم په هغه پخوانې ګناه کې پليت پروت دې او ګناه هم متعدی ده. نو بيا د اصلاح په غرض سره خبرداری او زجر او توبيخ او پيغور ورکول جائز دي.

یتبع الله: يعنې کوم سړی چې د خپل مسلمان ورور په عيب لټولو کې اخته وي، نو الله تعالى هم د هغه عيبونه ښکاره کولو باندې شروع شي. او د هغه نه درګزر نه کوي. بلکې د عامو خلکو مخې ته د هغه يو يو عيب برسيرته کولو باندې به هغه رسوا کړي، اګرکه هغه سړی د پټيدلو په غرض سره د خپلې کجاوې په مينځ کې هم پټ شي. (مرقات: ۸/۷۷۵،۷۷۶)

د مسلمان عزت او ناموس ته نقصان رسول غټ جرم دی

﴿۱۸﴾وَعَن	سعيد	بْنِ زَيْدٍ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

«إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الِاسْتِطَالَةُ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

دټولو نه وچت سود دا دی چې د کوم مسلمان عزت او ناموس خرابولو لپاره ژبه اوږده کړی شي.

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۹۳ رقم الحديث ۴۸۸۰ والترمذي في السنن ۴/۳۳۱ رقم الحديث ۲۰۳۲.

وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]

(روايت کړی دی ابوداؤد، بیهقی)

توضيح: اربى الربوا: ربوا: په لغت کې ډیروالي او تجاوز په معنی استعمالیږي، د ملاعلی قاری د قول مطابق دلته ربوا ناجائز زیاتی او ناجائز ډیروالي په معنی کې استعمال شویدی. مطلب دا شو چې هر ناجائز تجاوز ګناه ده. لیکن د کوم عزت او ناموس کې ژبه اوږدول او تجاوز کول د ټولو نه بده او لویه ګناه ده. ځکه چې د هوښیارانو په نزد باندې د مال د حفاظت نه د عزت حفاظت ډیر اهم وي. دحضرت حسان رضي الله عنه قول په دیوان حماسه کې داسې دی:

أَصُونُ عِرْضِيْ بِمَالِ لَا أُدَنِّسُهُ لَا بَارَكَ اللهُ بَعْدَ الْعِرْضِ فِي الْمَالِ

علامه طیبی رحمه الله فرمایي چې په دې حدیث کې د مبالغې په توګه باندې عزت او ناموس د مال سره داخل کړی شویدی. بیا د ربا دوه قسمونه بیان کړی شویدي. اول قسم خو هغه مشهوره شرعي ربا ده. هغه دا چې د مدیون سره د مال په معامله کې د عوض نه بغیر ډیر مال واخستلی شي. دویم غیر مشهور ربا ده، هغه دا ده چې د کوم مسلمان په عزت او ناموس کې ژبه اوږده او تجاوز وکړی شي.
په دې حدیث کې د ربا دې دواړو قسمونو کې بدترینه قسم ربا هغه ته ویلی شویده چې هغه د ژبورتیا د وجې وي.
(مرقات: ۸/۷۷۷ والکاشف: ۹/۲۵۴)

اوس د دې حدیث مطلب دا شو چې د کوم شرعي مصلحت نه بغیر په ناروا طریقې سره د مسلمان په اړه باندې د خپلې ژبې نه بد الفاظ راایستل، دهغه غیبت کول، دهغه سره د تکبر معامله کول، او خپله لویه وربان‌دې کولو لپاره دهغه سپکاوی کول، دهغه عزت او ناموس د خپو لاندې کول، دا داسې ګناه ده چې د مال د سُود نه په بدوالي او قباحت کې ډیره ده. بغیر حق: په حدیث کې د ناحقه ژبورتیا قید لګول شویدی. د دینه په حقه سره د ژبورتیا د اجازت ګنجائش راوځي. مثلاً: مالدار مقروض د قرض په ادا کولو کې ټال مټول کوي. په هغه باندې ژبورتیا جائز ده. یاګواهانو باندې جرح ده. یا رایان حدیث باندې اصحاب الجرح والتعدیل د سخت تنقید معامله ده، یا په یو داسې بدعتي سړي باندې د تنقید معامله ده چې دهغه د بدعت شرارت متعدي وي، یا څوک کوم فسادي او فتنه خپرونکي په فتنه او فساد باندې خبرداری کوي نو دغه شان ژبورتیا ممنوع نه ده. (مرقات: ۸/۷۷۷)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۹۳ رقم الحديث ۴۸۷۶ واحمدفي المسند ۱/۱۹۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د چا په عزت اخستلو او غیبت باندې سخت وعید

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " لما عرجَ بِي رَبِّي

او حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې الله تعالی زه (د معراج په شپه) پاس بوتلم (نو

مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ

په عالم بالا کې) زما تیریدل په څه داسې خلکو وشول چې د هغوی نوکان د پیتلو ؤ او هغوی په دې نوکانو سره

يَخْمِشُونَ وجوهَهم وصدورهم فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟

خپل مخونه راشلول، (د هغوی دا حالت کتلو باندې) ما پوښتنه وکړه چې جبرائیل علیه السلام دا خلک څوک دي؟

قَالَ: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ

هغه جواب راکړو چې دا هغه خلک دي چې هغوی د خلکو غوښه خوړلو او د هغوی عزت او ناموس

فِي أَعْرَاضِهِمْ " (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱)

پسې به لګیدلي ؤ. (ابوداؤد)

مړی خوړلو په غرض سره د چا سپکوالی یا بې ځایه ستاینه غټ جرم دی

﴿۲۰﴾ وَعَنِ الْمُسْتَوْرِد عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ

او حضرت مستورد رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم

أَكَلَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أُكْلَةً

سړی چې د کوم مسلمان غیبت (بدې کولو یا په هغه باندې د زنا وغیره تهمت لګولو په ذریعه د هغه عزت اخستنه کولو سره)

فَإِنَّ اللهَ يُطْعِمُه مثلَها مِنْ جهنَّمَ وَمَنْ

یو مړی وخوري نو الله تعالی به هغه باندې د دې مړې په شان د دوزخ اور وخوري. او کوم سړی چې د یو

كُسا ثَوْبًا بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَإِنَّ اللهَ يَكْسُوهُ مِثْلَهُ

مسلمان په سپکاوي او بې عزتۍ کې جامه واغوندي نو الله تعالی به هغه ته د دغه جامې په شان د دوزخ

مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ قَامَ بِرَجُلٍ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ فَإِنَّ اللهَ يَقُومُ لَهُ مَقَامَ

د اور جامه واغوندي. او کوم سړی چې د چا ته د اوروني یا ښودني لپاره ودریږي نو الله تعالی به هغه ته

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۹۴ رقم الحديث ۴۸۷۸ وأحمد في المسند ۳/۲۲۴.

سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1]
د قیامت په ورځ باندې د اورنې او ښودنې لپاره خپله او دریږي. (ابوداؤد)

توضیح: اکل برجل مسلم: په دې حدیث کې یو څو جملې دي. چې د هغې پوهول او رباندې پوهیدل ضروري دي. اوله جمله **مَنْ أَكَلَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ** ده. د دې مطلب دا دی چې مثلاً یو سړې د بل سړې سره نه جوړیږي. په مینځ کې یو دریم سړی په تګه سره هغوې کې یو ته د بل بدې بیان کړي. د هغه غیبت کوي. او د دې عیب لټولو او غیبت کولو په وجه باندې د هغه نه خوراک ترلاسه کولو سره خوري. او هغه یې هم ښه وخوري. ځکه چې د هغه د مخالف ښه بدې بیانیږي. نو د دې خوړلو په بدله کې الله تعالی دې بدې بیانونکې باندې د جهنم خوراک کوي. **بِرَجُلٍ** کې حرف با د سببیت لپاره دی. (مرقات: ۸/۷۷۸)

وَمَنْ كُسِيَ ثَوْبًا بِرَجُلٍ: د کُسِیَ صیغه که معلومه وویلې شي نو د دې ترجمه او مطلب به دا وي چې د یو مسلمان سپکاوی او اهانت په بدله کې سپکاوې کونکې ته جامه واغوندي. نو الله تعالی دې سپکاوې کونکې ته به د جهنم جامې واغوندي. او که دا صیغه د مجهول ده نو ترجمه به داسې وي، کوم سړې ته چې د یو مسلمان ورور د سپکاوې او تحقیر په بدله کې جامه واغوستلی شي نو هغه ته به الله تعالی په دوزخ کې جامه واغوندي. دا ترجمه او مطلب ډیر واضح دی. برجل کې حرف با سببیت لپاره ده. (مرقات: ۸/۷۷۸)

ومن قام برجل: په دې کې حرف با د سببیت لپاره هم کیدلی شي. او د تعدیت لپاره زائد هم کیدلی شي. که د سببیت لپاره ده نو مطلب به دا وي چې یو سړی خپله د ځان ښودنې په ځای باندې ودریدلو، خپلې ستاینې یې شروع کړي. تقوی او صلاح یې ښودله. او خپله خله یې د طوطې په شان چروله. دې لپاره چې کوم مالداره سړی هغه ته وګوري. او د هغه معتقد جوړ شي. او ده ته د هغه مالداره نه مال دولت ترلاسه شي. الله تعالی به داسې سړی د قیامت په ورځ باندې د رسوایې په ځای ودروي. عربي عبارت ونه به داسې وي: **من قام مقام السمعة والریاء لاجل رجل صاحب مال**. او که بازائده وي، فقط د تعدیت لپاره وي نو مطلب به دا وي: چې دا سړی دومره غټ بزرګ دی. فلانکی دی، فلانکی دی. د ده سره د اصلاح تعلق جوړ کړي. د ده مریدان جوړ شي. د غه شان د هغه ستاینه کولو باندې د هغه ترشا خپله دنیا جوړوي. لکه څنګه چې نن سبا کیږي چې: (مرقات: ۸/۷۷۹)

پیراں نمی پرند مریداں می پرانند

د دې حدیث دا مطلب شیخ مظهر رحمه الله بیان کړیدی. چې هغه ملا علی قاري رحمه الله نقل کړیدی. عربي عبارت به داسې وي: **ومن اقام رجلا مقام السمعة**. بهرحال د دې جملې څو مطلبه بیانیدلی شي. خلاصه دا ده چې یو سړی یا خپله ستاینه خپله کوي دې لپاره چې د دنیادارو نه مال ترلاسه کړي، د ده حالت هم تباه دی. یا د

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۹۵ رقم الحدیث ۴۸۸۱، واحمد في المسند ۴/۲۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم بزرګ د وجې نه خپل دکان پرڅوي، د ده حال هم تباه دی. یا بل څوک خپله ستاینه کې اخته کړي، د ده حال هم تباه دی. یا د کوم عالم، محدث یا پیر فقیر جامه اغوستلو باندې غټ بزرګ جوړ شي، او مال راغونډوي. دا ټول د دنیا غوښتونکې، ځان ښودونکې دي. مطلب یې فقط دنیا ده، رنګونه یې بیل بیل دي. چا څه ښه ویلې دي:

وما الرزق الا طائر اعجب الورىٰ   فمدت له من کل فن حبائل

د دنیا مال او متاع یو ښایسته مارغه دی، چې هغې ټول جیران کړیدي. نو دهغې د نیولو لپاره هر قسمه جالونه خپاره کړی شوي دي.

ښه ګمان ساتل عبادت دی

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښه ګمان ساتل من جمله په بهترینو
الْعِبَادَةِ» (رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد)[1]
عبادتونو کې دی. (احمد او ابوداؤد)

توضیح: حسن الظن: د دې حدیث یو مطلب خو دا دی چې د الله تعالی په اړه باندې ښه ګمان ساتل په ښه عبادتونو کې غوره عبادت دی. ښه ګمان دا دی چې په عبادت کولو کې د مغفرت ګمان وي. د الله تعالی د رحمت ښه یقین وي. دا مطلب ندی چې عبادت پریخودلو باندې د الله تعالی په اړه باندې په دې ګمان چیغې وهې چې الله تعالی غفور الرحیم دی، معاف به مې کړي. دا د شیطان دهوکه ده. بهرحال د حدیث دا مطلب یو احتمال دی. په ظاهر د حدیث کې دا سې تفصیل نشته دی.

دویم مطلب دا دی چې د الله تعالی د بندیګانو په اړه باندې ښه ګمان کول، او د بدګمانۍ نه ځان ساتل دا بهترین عبادت دی. شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله او علامه طیبی رحمه الله بیان کړیدي.

علامه طیبی فرمایي: **یعنی اعتقاد الخیر والصلاح فی حق المسلمین عبادة.**

د حدیث دا مطلب ډیر واضح بلکې متعین معلومیږي. (مرقات: ۸/۷۷۹ الکاشف: ۹/۲۵۷ اشعة اللمعات)

د حضرت صفیه رضي الله عنها په اړه د حضرت زینب رضي الله عنها یوه جمله

﴿۲۲﴾ وَعَنْ	عَائِشَةَ	قَالَتْ:	اعْتَلَّ	بَعِيرٌ	لِصَفِيَّةَ
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې (یو ځل) د صفیه رضي الله عنها اوښ ناروغه شو. هغه وخت د					
وَعِنْدَ		زَيْنَبَ		فَضْلُ	ظَهْرٍ
حضرت زینب رضي الله عنها سره د ضرورت نه ډیره سپرلی وه. (یعنې د هغې سره یو اوښ د ضرورت نه ډیرؤ)					

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۵/۲۶۶ رقم الحديث ۴۹۹۳ وأحمد في المسند ۲/۴۰۷.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْنَبَ: «أَعْطِيهَا بَعِيرًا».

لهذا رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت زینب رضی الله عنها ته وفرمایل: چې ته هغه ځپل اوښ (چې هغه ستا د ضرورت نه زیاتي دی)

فَقَالَتْ: أَنَا أُعْطِي تِلْكَ الْيَهُودِيَّةَ؟

صفیه ته ورکړه. زینب رضی الله عنها جواب ورکړو چې ښه زه به ځپل دي یهودۍ ته ورکوم (یعني هغې صفیه رضی الله عنها ته

فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

داوښ ورکولو نه انکار ونکړو بلکې دهغې په اړه باندې یې نازیبا الفاظ هم د ژبې نه راوویستل) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې نه

فَهَجَرَهَا ذَا الْحُجَّةِ وَالْمُحَرَّمَ

سخت خفه شو تر دې چې نبی صلی الله علیه وسلم ذی الحجه، محرم (پوره میاشتې) او څه ورځې د صفر میاشتې پورې د هغې

وَبَعْضَ صَفَرٍ (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ:

سره ملاویدل او د هغې خواته تلل یې پریخودل. (ابوداؤد) او د معاذ بن انس رضی الله عنه په روایت کې

«مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا» فِي «بَابِ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ»)[1]

مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا الخ باب الشفقة والرحمة کې نقل شویدی.

توضیح: حضرت صفیه رضی الله عنها په جنګ خیبر کې د مسلمانانو لاس ته راغله. نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوې آزاد کړل، او دهغې سره یې نکاح وکړه. دخوراک پخلي کې ماهره وه. د دې وجې نه نور ازواج مطهرات داړخ نه به کله کله څه اوریدل کیدل. حضرت صفیه رضی الله عنها دحیی بن اخطب یهودي لور او د ابوالحقیق یهودې بی بی وه. او حضرت هارون علیه السلام په اولاد کې وه. نو ځکه هغې ته د یهودۍ پیغور ورکړی شو. او نبی صلی الله علیه وسلم خفه شو. یو ځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت صفیه رضی الله عنها ته وفرمایل: ته د دې پیغور جواب دا ورکړه چې زه د یو نبی لور یم، او د بل نبی بی بی یم. په تاسو کې څوک زما مقابله کولی شي. فصل ظهر: یعني زیاتې سپرلی وه، چې هغه فارغه وه. (مرقات: ۸/۷۸۰)

الفصل الثالث

د الله تعالی په نوم قسم غټ شی دی

﴿۲۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " رأى عِيسَى بن مَرْيَمَ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (یو ځل) حضرت عیسی بن مریم علیه السلام

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۸ رقم الحديث ۴۶۰۲ وأحمد في المسند ۲۶۱/۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

رَجُلًا	يَسْرِقُ	فَقَالَ	لَهُ	عِيسَى:	سَرَقْتَ؟ قَالَ:
یو کس په غلا کولو باندې ولیدلو. حضرت عیسی بن مریم علیه السلام هغه ته وویل چې تا غلا کړیده؟ هغه سړي وویل چې					
كَلَّا	وَالَّذِي	لَا	إِلَهَ	إِلَّا	هُوَ.
هیڅکله نه. په هغه پاک ذات قسم چې د هغه نه سوا څوک د عبادت لائق نشته دی (ما غلا نده کړي) حضرت عیسی علیه السلام					
فَقَالَ عِيسَى:	آمَنْتُ	بِاللهِ	وَكَذَّبْتُ	نَفْسِي	"(رَوَاهُ مُسلم)[1]
(هغه نه داسې قسم واوریدلو نو) وې ویل: ما په خدای باندې ایمان راوړی او خپل نفس مې دروغژن وګرځولو. (مسلم)					

توضیح: کذبت نفسی: حضرت عیسی علیه السلام چې کله د غل د خلې نه د الله تعالی ستاینه او بیا د هغه عظیم او کریم باچا د نوم قسم واوریدلو نو د خپلې لیدنې نه په شاه شو او د الله تعالی د نوم عزت یې وکړو. د دېنه معلومه شوه چې که یو سړی د دروغو قسم هم وخوري نو اوریدونکې ته پکار دي چې د الله تعالی د نوم عزت کولو باندې د هغه په قسم اعتبار وکړي. (مرقات: ۸/۷۸۱)

غریبي او ولږه غټ آزمیښت دی

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفرا				
او حضرت انس رضی الله عنه فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فقر او غریبي نژدې ده چې د کفر حد ته				
وكَادَ	الحسدُ	أَن	يغلب	الْقدر»[2]
ورسیږي او حسد نژدې دی چې تقدیر باندې غالب راشي.				

توضیح: ان یکون کفرًا: یعنې نژدې دی چې غریبي او ولږه سړی د کفر حد ته ورسوي. دا غټ آزمیښت دی، ځکه چې د فقر او ولږې د وجې نه دا حتمال شته چې بې صبرې او د خدای ناشکرې وشي. غلا وشي. حرام خوري وشي. الله تعالی باندې بهروسه کمه شي. او الله تعالی باندې اعتراض وشي. نو په دې توګه دا فقر او ولږه سړی کفر ته رسوي.

او که صبر او شکر وي، د الله تعالی په قضاء باندې رضا وي. یقین او توکل فقط د الله تعالی په ذات باندې وي، قناعت وي، نو په دې اعتبار سره د فقر او ولږې غټ فضیلت راغلی دی. الدنیا سجن المؤمن وجنة الكافر. (مرقات: ۸/۷۸۱)

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱۸۳۸ رقم الحديث (۲۳۶۸-۱۴۹) واحمد في المسند ۲/۳۱۴.

(۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۲۶۷ رقم الحديث ۶۶۱۲.

دمسلمان عذر کول قبلول پکار دي

[illegible]﴾ وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چې د خپل
اعْتَذَرَ إِلَى أَخِيهِ فَلَمْ يَعْذِرْهُ
مسلمان ورور نه (خپل څه قصور باندې) عذر وکړي او هغه مسلمان سړی دا معذور ونه ګرځوي (یعني د ده عذر د منلو
أَوْ لَمْ يَقْبَلْ عُذْرَهُ كَانَ عَلَيْهِ
ور ونه ګرځوي او ووایي چې تا ته هیڅ عذر نشته دی بلکې د عذر کولو په نوم باندې دروغ وایې) یا د هغه عذر قبول نکړي (یعني
مِثْلُ خَطِيئَةِ صَاحِبِ الْمَكْسِ»
داسې ووایې چې ته عذر خو لرې خو زه ستا عذر نه قبلوم) نو هغه به هم د هغه درجې ګناهګار وي لکه څنګه چې صاحب مکس
(رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي « شُعَبِ الْإِيمَانِ » وَ قَالَ : الْمَكَّاسُ : الْعَشَّارُ) [1]
ګناهګار وي (دا دواړه حدیثونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړیدي او ویلي یې دي چې مکاس عشر اخستونکي ته وایي)

توضیح: صاحب مکس: محصول او چنګې ته مکس وايي. د دې وصولونکې ته **مکّاس**، **صاحب مکس** او پټواري او عشار وايي. دا سړی هم هیڅ عذر نه قبلوي. نو ځکه د عذر نه قبلونکي سړي د ګناه تشبیه د صاحب مکس سره ورکړی شویده.

په یو حدیث شریف کې دي چې د مسلمان عذر نه قبلونکی سړی حوض کوثر ته هم نه شي تللی. لهذا د دې حدیث تعلیم دا دی چې د مسلمان ورور عذر قبلول په کار دي. (مرقات: ۸/۷۸۳)

والعذر عند کرام الناس مقبول ومن دق باب کریم فتح

✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿✿

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۳۲۱ رقم الحديث ۸۳۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الحذر والتأني في الامور

په معاملاتو کې بیدار مغزي او د سنجیدګۍ بیان

الحذر: حذر: حاء او ذال باندې زبر دی او راء ساکنه ده. ویخ او بیدا مغز وسیدلو په معنی دی. چې د غفلت او ناراستۍ او حماقت ضد دی. تأنی: تأخر او توقف او په ښه توګه باندې سوچ کولو په معنی دی. چې هغې ته وقار او سنجیدګۍ هم وایې. چې دا د جلدبازۍ ضد دی.(مرقات ۸/۷۸۴)

د دې ټول عنوان دا مطلب دی چې انسان لره پکار دي چې هغه د زمانې د شر او فساد او د خلکو د چیټنو نه خپل ځان وساتي. او هر وخت په خپلو معاملاتو کې ویخ، او بیدار مغزوسي. دې لپاره چې نه هغه ته څوک دهوکه ورکړی شي او نه هغه چا ته دهوکه ورکړي. لکه یو صحابی رضي الله عنه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په اره باندې یو کافر باچا ته د هغه د سوال په جواب کې ویلي ؤ چې «اَمِیْرُنَا لَایَخْدَعُ وَلَایُخْدَعُ» زمونږ امیر نه چا ته دهوکه ورکوي او نه څوک ورکولی شي.

دغه شان د یو مسلمان لپاره هم پکار دي چې هغه عُجب، ځان خوښي او جلدبازي نه ځان وساتي سنجیدګي او وقار خپل کړي. او په خپل هر یو کار کې ښه په غور او سوچ کولو سره قدم پورته کړي. لندا دا چې په هر معامله کې د اعتدال لاره خپله کوي. که هغه دنیوي معامله وي او که اخروي معامله وي: چا څه ښه ویلي دي:

اسائش دو گیتی تفسیر ایں دو حرف است　　بادوستاں تلطف بادشمناں مدارا

یعنې د دنیا او آخرت راحت په دې کې دی چې ددوستانو سره نرمي وکړه او ددښمنانو سره اخته وسیږه. چا څه ویلي دي: *انسان کو چاہیے کہ نہ بولے کسی سے سخت　　اس واسطے زبان میں کوئی استخواں نہیں*

الفصل الاول

مؤمن دوېخو مغزو والاوي

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ
حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: مؤمن د یو سوري نه دوه ځل
مَرَّتَيْنِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]
نه چیچل کیږي.(بخاری او مسلم)

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۲۹، ومسلم في ۴/۲۲۹۵ رقم الحديث (۲۹۹۸-۶۳)، وابوداؤد في السنن ۵/۱۸۵ رقم ۴۸۶۲.

توضیح: لایلدغ: یعنې مؤمن د یو سوري نه دوه ځل نه چیچل کیږي. ددې ارشاد پس منظر په دې ته دی چې د جنګ بدر په قیدیانو کې یو شاعر هم نیولی مدینې ته راوستلی شوی ؤ. چې دهغه نوم ابوعزه جمحی ؤ. هغه دنبی ﷺ نه معافي غوښتلو او مفته د آزادیدلو درخواست وکړو. نبی ﷺ هغه په دې شرط باندې معاف کړو چې بیا لپاره به نه مسلمانانو سره د جنګ لپاره راځي او نه به په اشعارو سره بدې بیانوي. هغه کلکه وعده. خوږ ابوسفیان په راوپارولو باندې دا بیا راوپاریدیلو. او د خپلو اشعارو په ذریعه باندې عرب یې د مسلمانانو په خلاف باندې جنګ ته آمادول کول شروع کړل. او خپله د کافرو سره جنګ احد ته راغلو. هلته بیا ونیولی شو. کله چې د نبی ﷺ مخې ته راوستلی شو، نو هغه بیا د معافي درخواست وکړو. په دې باندې نبی ﷺ وفرمایل چې وس داسې نشي کیدلی. ته به بیا د مکې خلکو خواته په تګ سره بریتان تاووهي. او وایې به چې ما محمد ﷺ ته دوه ځله دوهوکه ورکړه. مسلمان دیو ځای نه او یو سوري نه دوه ځل نه چیچلی کیږي. دې وینا سره نبی ﷺ د هغه د وژني حکم ورکړو. نو هغه بدبخته جهنم ته ورسیدلو. د دې حدیث نه مسلمانانو ته خارجه او داخلي پالیسي لپاره هم داسې جنګ او صلح لپاره بیشمار د حکمت نه ډک اصول ترلاسه کیږي. کاش دوې سوچ کولی او دا یې خپل کړی وی. (مرقات ۸/۷۸۴)

د صبر او زغم فضیلت

﴿۲﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ:"
او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم ﷺ قبیله عبدالقیس سردار اشج ته وفرمایل
إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ:
چې په تا کې کوم ښه والي دي هغه الله تعالی ډیر خوښوي. (که هغه په هر سړي کې وي) خو صبر او
الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ[۱]
زغم او دویم توقف او قلاروالی. (مسلم)

توضیح: لِاَشج: عبدالقیس د هغوې د مشر نیکه نوم ؤ. چې دهغه په نوم سره قبیله مشهوره شوه یا د دې وفد د مشر قومندان عبدالقیس ؤ. دا وفد د راجح قول مطابق یو ځل په ۵ھ کې مدینې منورې ته راغلي وه. او دویم ځل په ۹ھ کې راغلي وه. ۴۰ کسانو باندې مشتمله وه. اشج عبدالقیس نوم منذر بن حیان ؤ. توضیحات جلد اول صفحه ۱۸۰(اردو) باندې ټول تفصیلات موجود دي. البته هلته د منذر منقذ لیکلی شویدی. چې هغه د کاتب غلطي ده یا دمؤلف غلطي ده. یا په تاریخ کې

(۱) اخرجه مسلم فی صحیحه ۱/۴۹رقم الحدیث (۱۷-۲۵) والترمذي في السنن ۴/۳۲۲ رقم الحدیث ۲۰۱۱.

تضاد دی. بهرحال مدینې ته په رارسیدلو سره د وفد خلکو په منډه منډه نبی ﷺ ته سلام وکړو. خو اشج اول سامان په ځای کړو، بیا یې جامې بدل کړې، بیا یې سلام کولو لپاره راغلو. نو نبی ﷺ د هغه ستاینه وکړه چې په تا کې دوه خصلتونه دي چې هغه الله تعالی ته ډیر خوښ دي. هغه پوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ دا دوه خصلتونه پیداشي دي او که مصنوع دي. نبی ﷺ وفرمایل: تخلیقي دي. په دې باندې اشج وویل چې د الله تعالیٰ شکر دی چې هغه زما په تخلیق کې دوه داسې خصلتونه ایخودلي دي چې هغه ته خوښ دي. او شکر دی چې تخلیقي دي، د ځان نه جوړ شوي نه دي. د زائله کیدلو یره به نه وي. د منذر په مخ باندې د زخم نښان ؤ. نو ځکه نبی ﷺ هغه ته د اشج لقب ورکړو. (مرقات ۸/۷۸۵)

الاناة: د نواة په وزن باندې دی. تاخیر په معنی دی. ځینو د دې ترجمه وقار او سنجیدګې سره کړیده. ځینو ویلي دي چې د مستقبل په اړه باندې ښه نظر ساتونکې ته الاناة وایې. ځینو ویلي دي چې طاعاتو باندې ثابت قدم وسیدلو ته اناة ویل کیږي. د ډېنه مخکې د حلم لفظ دی. د هغې معنې دا ده چې د ظالم نه بدله اخستلو کې سړی د صبر نه کار واخلي. چې هغې ته بردبارې وایې. نو بردبارې او سنجیدګې دوه بیل بیل صفات دي. (مرقات ۸/۷۸۵)

الفصل الثاني

﴿۲﴾عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْأَنَاةُ
حضرت سهل بن ساعدی رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په یو کار کې قلاروالی او صبر
مِنَ اللهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ»
د الله تعالی دا ړخه دی. (یعني دا ښه والی په خدایې ورکړه باندې یو چا ته تر لاسه کیږي) او جلد بازی د شیطان خصلت دی.
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي
دا روایت ترمذی نقل کړیدی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی. دغه شان ځینو محدثینو د
عَبْدِ الْمُهَيْمِنِ بْنِ عَبَّاسٍ الرَّاوِي من قبل حفظه[۱]
عبد المهیمن بن عباس په یادداشت باندې کلام کړیدی.

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۲ رقم الحديث ۲۰۱۲.

د ټکرو په خوړلو سره په مزاج کې قلاروالی راځي

﴿۴﴾عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا حَلِيمَ
او حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅ څوک کامل صبر والانه وي
إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ
ترڅو چې هغه ته لغزش ونشي او هیڅ سړی کامل حکیم ندی ترڅو چې د هغه تجربه نه وي. دا روایت احمد او ترمذی نقل
وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]
کړیدی، او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: ذوعثرة: عثر: لغزش او ټکره خوړلو په معنی دی.؟ یعنې حلم او صبر او لحاظ او مروت ملغلره په هغه سړي کې پیدا کیږي چا چې د هوکه خوړلي وي. لغزشونه ترینه شوي وي. په خپلو معاملاتو کې ځای په ځای نقصانونه کړي وي. او د هغه مشرانو هغه معاف کړي وي. د داسې سړي په مزاج کې د خپلو کشرانو لپاره بلکې د ټولې معاشرې لپاره حلم او صبر جذبه پیدا کیږي. او هغه د هرې لوړې ژورې عواقب پیژني. نو ځکه په هغه کې د برداشت ماده پیدا شي. دا په حدیث کې د حلیم په نوم سره یاد کړی شوی دی. (مرقات ۸/۷۸۵)

آسائش دو گیتی تفسیر ایں دو حرف است — بادوستاں تلطف بادشمناں مدارا

حیکم: هوښیار ته هم وايي. چې هغه د معاملاتو په عواقب باندې نظر ساتي. او د ډېر طبیب هم مراد اخستلی شي. لهذا دا چې هغه د تجرباتو سره مخ شوی وي. هم هغه اصل حکیم دی. لکه چې ویلی شوي دي: سل المجرب ولاتسأل الحکیم.

په سوچ سره کار کوه

﴿۵﴾وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو چې حضرت ما ته (څه داسې)
أَوْصِنِي. فَقَالَ: «خُذِ الْأَمْرَ
وصیت وکړه (چې په هغې عمل وکړم) نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ته چې کله هم څه کار لره (د کولو اراده) وکړې
بِالتَّدْبِيرِ فَإِنْ رَأَيْتَ فِي عَاقِبَتِهِ خَيْرًا فَأَمْضِهِ
نو تدبر اختیار کړه او کدیا تا ته د هغه کار په انجام کې (دیني او دنیاوي) خیر او ښیګړه په نظر راشي نو هغه وکړه او که تا ته

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۳۲ رقم الحديث ۲۰۲۳، واحمد في المسند ۳/۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ إِنْ خِفْتَ غَيًّا فَأَمْسِكْ ». رَوَاهُ فِي « شَرْحِ السّنة » [۱]
د هغې په انجام کې (څه دیني یا دنیاوي) ګمراهي او اخروي ویره محسوس شي نو هغه پرېږده. (شرح السنة)

د آخرت په اعمالو کې وروستوالی مه کوه

﴿٦﴾ وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ
او حضرت مصعب بن سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل پلار نه نقل کوي چې د هغه په اړه باندې (د حدیث راوي)
قَالَ الْأَعْمَشُ: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت اعمش فرمایي چې ښه پوهېږم چې دا حدیث حضرت سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړیدی
قَالَ: «التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي
(او هغه داسې دی چې) نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: توقف او تاخیر په هر عمل کې ښه دی، خو د
عَمَلِ الْآخِرَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [۲]
آخرت په عمل کې نه. (ابوداؤد)

توضیح: اَلتُّؤَدَةُ: ملاعلی قاری لیکي چې په دې لفظ کې په تا باندې ضمه ده. او همزه باندې فتحه ده. تاخیر او توقف ته وایې. لکه څنګه چې اناة دی. دغه شان تؤدة دی. مطلب دا دی چې په هر کار کې توقف او تاخیر غوره دی لیکن د آخرت په کارونو کې تاخیر ښه ندی. ځکه چې دهر راتلونکې وخت لپاره د هغې مناسب کارونه وي. لهذا د دې نیک کار نه به ایسار شي نو ژر کوه. قرآن کې دي چې ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾ نیکی کې جلدې وکړه. (مرقات ۸/۷۸۸)

میانه روې ښه شی دی

﴿٧﴾ وَعَن عبد الله بن جرجس أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «السَّمْتُ الْحَسَنُ
او د حضرت عبدالله بن جرجس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: نیکه لار نیول، کار کې
وَالتُّؤَدَةُ وَالِاقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ
قلاروالی، او سوچ او فکر لپاره تاخیر کول او میانه روې هغه ښه ښویونه دي چې هغه د نبوت په

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۱۷۵ رقم الحديث ۳۶۰۰.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۷۵ رقم الحديث ۲۸۱۰.

أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
څلورویشتو اجزاؤ کې یو جزء دی. (ترمذی)

توضیح: الاقتصاد: په خرچ کولو کې میانه روۍ ته اقتصاد وایي. خو دلته په هر شي کې اقتصاد او میانه روۍ مراد ده. یعنې اعمال او افعال او اقوال، عبادتونه، اخلاق، خرچ او اخراجات لنډا دا چې په ټولو حالتونو کې میانه روۍ خپلولو ښه خصلت دی، دې لپاره چې سړی د ظلم او اسراف او تجاوز او بغاوت نه محفوظ وی. زیاتی او کمی په هیڅ څه کې هم ښه نه دی. (مرقات ۸/۷۸۸)

جزء من اربع: دا هم ممکنه ده چې ذکر شوي درې واړه شیان په شریکه سره د نبوت په څلورویشتو اجزاؤ کې د یو جزء درجه لري. او دا هم ممکنه ده چې هر هر شی څلورویشتو اجزاؤ کې یو جزء وي.
د دې جملې مطلب دا دی چې دا شیان د انبیاء کرامو علیهم السلام مبارک عادتونه ؤ، او دا دهغوې په فضیلتونو کې داخل ؤ. تاسو ته هم په کار دي چې تاسو د دې انبیاء کرامو دا شیانو او فضیلتونو کې تابعداري او اقتداء وکړی. د دې حدیث دا مطلب نه دی چې په کوم سړي کې دا خصلتونه راغلل، هغه به نبي جوړ شي، ځکه چې نبوت متجزی نه وي. (مرقات ۸/۷۸۹)

او پاتې د څلورویشتو شمیره چې بیان کړی شویده، دا د تکثیر لپاره ده، د تحدیدی لپاره نده. په بل روایت کې د پنځویشت شمیره ذکر ده. یا داسې پوهه شی چې د شمیرې (عدد) بیان کول د شارع په علم او حکمت باندې موقوف ده. مونږ نه په دې کې دخله کولی شو او څه رایه قائمولی شو. سمت حسن: نه مراد ښه اخلاق، ښې طریقې او ښه عادتونه دي. (مرقات ۸/۷۸۸)

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: ، نیک سیرت، او نیکه لار نیول
وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ وَالِاقْتِصَادَ جُزْءٌ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
او میانه روۍ هغه ښویونه دي چې هغه د نبوت په پنځویشت جزونو کې یو جزء دی.

د راز خبره د امانت درجه لري

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۲ رقم الحديث ۲۰۱۰، ومالک في الموطا ۲/۹۵۴ رقم الحديث ۱۷ من كتاب الشعر.

(2) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۳۶ رقم الحديث ۴۷۷۶، وأحمد في المسند ۱/۲۹۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

«إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ
کله چې یو سړی داسې خبره وکړي (چې دهغې هغه پټوالی غواړي) او بیا هغه اخوا دیخوا وګوري نو د
فَهِيَ أَمَانَةٌ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد(۱)
هغه هغه خبره امانت دی. (ترمذی او ابوداؤد)

د چانه چې مشوره واخستلی شي نو هغه امین دی

﴿۱۰﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لأَبِي الهيثمِ بن التَّيِّهان:
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې (یو ورځ) نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (یو صحابی) حضرت ابو الهیثم بن تیهان نه
«هَلْ لَكَ خَادِمٌ؟» فَقَالَ: لَا. قَالَ: فَإِذَا
پوښتنه وکړه چې ستا سره څه خادم شته دی؟ هغه عرض وکړو چې نا. نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: کله چې مونږ ته د
أَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا " فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَأْسَيْنِ
کومې خوا نه غلام راشي نو زمونږ خواته راشه. نو (څه زمانه وروسته) کله چې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دوه غلامان راغلل
فَأَتَاهُ أَبُو الْهَيْثَمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اخْتَرْ
نو ابو الهیثم د نبی عَلَيْهِ السَّلَام خدمت کې حاضر شو. نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته و فرمایل چې دا دوه غلامان دي. په دوې کې یو
مِنْهُمَا» . فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ اخْتَرْ لِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
تن د ځان لپاره خوښ کړه. ابو الهیثم عرض وکړو چې یا نبی الله! ته زما لپاره کوم غلام خوښ کړه. نبی عَلَيْهِ السَّلَام و فرمایل:
«إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ.
د چانه چې مشوره واخستلی شي نو هغه امین دی. (یعني مشوره ورکونکي لپاره پکار دي چې د مشوره غوختونکي د
خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي
ښیګړي او ښه والي په هر صورت کې لحاظ وکړي) دا غلام بوځه. ځکه چې ما دا په لمونځ کولو باندې لیدلی دی.
وَ اسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (۱)
او د ده سره ښه ښویې کوه او په ښیګړه خپلولو کې همیشه زما په وصیت باندې عمل کوه. (ترمذی)

په هر حال کې د درې خبرو ظاهرول ضروري دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " المجالِسُ بِالأَمَانَةِ					
او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مجلسونه د امانت سره تړلي دي. البته درې مجلسونه					
إِلَّا	ثَلاثَةَ	مَجَالِسَ	:	سَفْكُ	
يعنې درې شيان داسې دي چې د هغې په اړه باندې چېرته څه خبره وشي نو نورو ته د هغې رسول ضروري دي. او هغه درې وارې دادي:					
دَمٍ	حَرَامٍ	أَوْ	فَرْجٌ	حَرَامٌ	
(۱) کومه وينه چې ناحقه تويول حرام دي، هغه په بهانه يعنې د چا د ناحقه وژلو مشوره او ارادې خبره					
واقتطاعُ	مَالٍ	بِغَيْرِ	حَقٍّ	".	رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ
(۲) حرام کاري يعنې زنا کولو مشوره او د ارادې خبره (۳) د چا مال په ناحقه سره د قبضه کولو مشوره او د ارادې خبره (ابو داؤد)					
وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي سَعِيدٍ: «إِنَّ أَعْظَمَ الأَمَانَةِ» فِي «بَابِ المباشرةِ» فِي «الفَصْلِ الأَوَّلِ»[1]					
او د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه دا روايت: ان اعظم الامانة: باب المباشرة په اول فصل کې ذکر شوی دی.					

توضيح: المجالس بالامانة: يعنې د مجلسونو دارومدار په امانت او ديانت باندې دی. دا هغه وخت ده چې د مجلس خبره د مجلس تر حده محدود وي. او که محدوده نه وي نو د مجلس خبره بيرون راويستلی کيدی شي. او که په مجلس کې د راز خبره وي ليکن هغه د درې قسمه خبرو سره متعلق وي، نو په راز کې ساتل جائز ندي. بلکې ظاهر کول ضروري دي. اوله خبره دا ده چې په مجلس کې د چا په اړه د ناجائز وژنې خبره شوي وي. نو هغه راز ښکاره کول ضروري دي. دويمه خبره دا ده چې په کوم مجلس کې د کومې زناکارۍ منصوبه جوړيږي نو هغه راز ښکاره کول ضروري دي. دريمه خبره دا ده چې په کوم مجلس کې د چا مال په ناجائز باندې د هضمولو خبره کيږي. د هغې ښکاره کول جائز بلکې ضروري دي. (مرقات ۸/۷۹۲)

الفصل الثالث

دعقل په اړه باندې يو موضوع حديث

﴿۱۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَمَّا خَلَقَ اللهُ العَقْلَ
حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې الله تعالى عقل

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۸۹ رقم الحديث ۴۸۶۹، والترمذي في ۴/۳۰۱ رقم الحديث ۱۹۵۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ لَهٗ: قُمْ فَقَامَ ثُمَّ قَالَ لَهٗ: أدبر ثُمَّ

پيدا کړونو هغې ته يې وفرمايل چې ودريږه. هغه ودريدلو. بيا هغه وفرمايل چې شاه راواړوه. هغې شاه راواړوله. بيا يې

قَالَ لَهٗ: أَقْبِلْ فَأَقْبَلَ ثُمَّ قَالَ لَهٗ: اقْعُدْ فَقَعَدَ ثُمَّ

وفرمايل چې زما اړخ ته مخ کړه. هغې د خدای اړخ ته مخ واړولو. بيا يې وفرمايل: کينه! هغه کيناستو. او بيا

قَالَ: مَا خَلَقْتُ خَلْقًا هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ وَلَا أَفْضَلُ مِنْكَ

يې هغه ته وفرمايل چې ما هيڅ داسې مخلوق ندی پيدا کړی چې هغه ستا نه غوره وي. په فضل او کمال

وَلَا أَحْسَنُ مِنْكَ بِكَ آخُذُ وَبِكَ

کې ستا نه ډېر وي. او په ښه والي کې ستا نه ښه وي. زه به ستا په سبب د بنديګانو سره مواخذه کوم. زه ستا

أُعْطِي وَبِكَ أُعْرَفُ وَبِكَ أُعَاتِبُ

په سبب (بنديګانو ته ثواب او درجې) ورکوم. زه ستا په وجه باندې پيژندلی کيږم. زه ستا په وجه باندې

وَبِكَ الثَّوَابُ وَعَلَيْكَ العقابُ".

غضبناک کيږم. زه ستا په وجه ندې ثواب ورکوم. او ستا په وجه باندې عذاب ورکوم. ځينو علماؤ د دې

وَقد تكلم فِيهِ بعض الْعلمَاء[1]

حديث په صحيح کيدلو کې کلام کړيدی او ويلي يې دي چې دا حديث موضوعي دي.

توضيح: **وقد تكلم**: د صاحب مشکوة د طرز کلام نه معلوميږي چې د بحث لاندې حديث ضعيف دی. موضوعي ندی. علامه محمّد يعقوب فيروز آبادي په خپل کتاب المختصر کې د دې حديث ته ضعيف ويلي دي ليکن علامه سخاوی په مقاصد حسنه کې ليکلي دي چې دا حديث بالاتفاق موضوعي او دروغ دي. شيخ الاسلام ابن تيميه د دې حديث په اړه ليکلي دي چې **هو كذب موضوع عند اهل المعرفة بالحديث**.

ابو جعفر عقيلي، ابو حاتم، دارقطني او ابن جوزی دا حديث موضوع او کذب ګرځولی دی. صاحب مشکوة په ټول کتاب کې دا يو حديث موضوعي دی. **لكل جواد كبوة ولكل سيف نبوة**. هر کره اس کله ټکره خوري او هره کره تورا کله اوړي. دلته کره اس ټکره وخوړه. او کره توره په خپل وار کې واوړيدله. (مرقات ۸/۷۹۴)

([1]) اخرجه البيهقي في الشعب ۴/۱۵۴ رقم الحديث ۴۶۳۳.

د قیامت په ورځ به د عقل په مطابق جزاء ورکولی کیږي

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَكُونُ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: یو سړی چې هغه په لمونځ
مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَ الصَّوْمِ وَ الزَّكَاةِ وَ الْحَجِّ وَ الْعُمْرَةِ » . حَتَّى
کونکو کې وي، روژه نیونکو کې وي، زکوة ورکونکو کې وي، حج او عمره کونکو کې وي، تردې چې د غه شان
ذَكَرَ سِهَامَ الْخَيْرِ كُلَّهَا: «وَمَا يُجْزَى
نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نیکۍ او ښیګړو په اړه باندې ټول غټ غټ شیان ذکر کړل. او وې فرمایل: لیکن
يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا بِقَدْرِ عَقْلِهِ»[1]
هغه به د قیامت په ورځ باندې د خپل عقل په مطابق جزاء مومي.

توضیح: بقدر عقله: د عقل نه مراد هغه اعلی جوهر دی چې د هغې په ذریعه سره انسان د اسبابو او شیانو د حقیقت ادراک کوي . او د کوم په وجه باندې چې انسان د انسانیت په کړۍ (دائره) کې وي. ګویا دا د انسان لپاره د ګاڼې د بریک په شان دی. کۀ دا فیل شي نو انساني بدن بې قابو کیږي. وس په هر سړي کې چې د عقل جوهر څومره کامل او مکمل وي، هغومره به د هغه کار اعلی او ارفع وي، هم د دې وجې نه په دې حدیث کې فرمایلی شویدي چې په کوم سړي کې څومره عقل وي، هغه ته به د هغې مطابق جزاء ورکولی کیږي. ځکه چې د الله تعالی د اړخ نه به د قیامت په ورځ د انعام او اکرام معیار د عبادت په مقدار باندې نوي بلکې د عبادت په عبادت د حسن او کمال د وجې نه به وي. او دا خبره واضحه ده چې په عبادتونو او طاعتونو کې حسن او کمال مدار په دې عقل باندې دی. ځکه یې و فرمایل چې د قیامت په ورځ باندې جزا او سزا به د عقل په بنیاد باندې وي. شیخ عبدالحق په اشعة اللمعات کې لیکلي دي چې د صاحب عقل عالِم یو رکعت لمونځ د نورو خلکو د زر رکعتونو نه افضل به وګرځي. (مرقات ۸/۷۹۴)

د تدبیر فضیلت

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ لَا عَقْلَ
او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: ابوذر (پوهه شه) عقل د تدبیر
كَالتَّدْبِيرِ وَلَا ورع كالكفِ ولا
سره برابر ندی . ورع یعنې پرهیزګارې د ځان ساتنې او احتیاط برابر نده، او حسب او فضیلت د

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۴/۱۵۵ رقم الحديث ۴۶۳۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

حسب کحسن الْخلق »[1]
خوش اخلاقۍ برابر نه دی.

توضیح: کالتدبیر: په عواقبو باندې سوچ فکر نوم تدبیر دی. لهٰذا اعلیٰ او اولیٰ عقل خو تدبیر دی. ځکه یې وفرمایل چې د غوره تدبیر په شان هیڅ عقل نشته دی، تدبیر بهترین عقل دی.

ولاورع کالکف: یعنې د پرهیز په شان هیڅ تقوی نشته.تقوی خو د محرماتو نه د ځان ساتلو او ظاهرًا او باطنًا خپله معامله د خپل رب سره دپاکې ساتلو نوم دی. نو کوم سړی چې هر ساعت خپل ځان د هر ناجائز نه ساتي. د دېنه وچته تقوی کومه کیدلی شي. یو سړی عبادت کوي خو ورسره وسره ترینه ګناه کیږي، دا دتقوی مقام ته چیرته رسیدلی شي.لیکن کوم سړی چې د عبادتونو سره د ګناهونو نه پرهیز کوي، اصل متقي خو هغه دی. د دې مثال داسې دی چې یو سړی دوائې خوري خو د هغې نه وروسته پرهیز نه کوي، نو هغه ته دوائې فائده نشي ورکولی. (مرقات ۸/۷۹۵)

شارحینو د **کالکف** مطلب دا بیان کړیدی چې کوم سړی خلکو ته د تکلیف ورکولو نه ځان ساتي، دهغې په شان هیڅ تقوی نشته دی. دا اعلی تقوی ده.

ولاحسب: دحسب نسب مطلب دا دی چې سړی د اعلی خاندان سره اړیکي لري. او داعلی خاندان خلک د اعلی اخلاقو مالکان وي. ځکه چې هغوې عزتمند وی. نتیجه دا راووتله چې د ښه اخلاقو مالک کیدل د دې خبرې دلیل دی چې دا سړی د اعلی خاندان سره متعلق دی. ځکه یې وفرمایل چې د ښه اخلاقو په شان هیڅ حسب نسب نشي کیدلی.

په خرچ کې میانه روې دژوندې نیمه سرمایه ده

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په خرچو کې میانه روې خپلول
نِصْفُ الْمَعِيشَةِ وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ» رَوَى الْبَيْهَقِيُّ
نیم معیشت دی. د انسانانو سره دوستي نیم عقل دی. او په ښه والي سره پوښتنه کول نیم علم دی.
الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ "[2]
دا څلور واړه روایتونه بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدي.

---

(1) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۰ رقم الحدیث ۴۲۱۸ ،والبیهقي في شعب الایمان ۵/۲۷ رقم الحدیث ۵۶۲۷ .

(2) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۵/۲۵۴ رقم الحدیث ۶۵۶۸ .

توضيح: نصف المعيشة: يعنې په خرچ کې ميانه روي خپلول نيم معيشت او نيم ګزران دی. د انسان دمعاشي ژوند ګزران په دوه شيانو باندې دی. يو دهغه ګټه وټه ده، دويم د هغه خرچ دی. په دې دواړو کې توازن برقرار ساتل د خوشحالۍ نښه او د معيشت مضبوطوالی دی. لکه څنګه چې د آمدن توازن خرابيدل د خوشحالۍ سره منافي او دمعيشت د نه مضبوطوالي سبب دی، دغه شان که د خرچو توازن خراب شي نو خوشحالي به هم ځي او د معيشت ټوله ډهانچه به برباده شي. لهٰذا په مصرفونو کې اعتدال او په خرچ کولو کې ميانه روي خپلول د معيشت نيمه برخه ده. لکه څنګه چې د دې حديث نه معلومه شوه. (مرقات ۸/۷۹۵)

والتودد يعنې د ښه خلکو سره تعلق ساتل ، دهغوې سره دوستي کول، دا د عقل نيمه برخه ده. چې هغه د ژوند د ښايسته کولو ضامن دی. عقلمندي دا ده چې انسان په جائز طريقې سره محنت کولو باندې خپله وګټي. او د خلکو سره د مينې جذبې هم برقرار وساتي. (مرقات ۸/۷۹۵)

وحسن السوال: يعنې ښه پوښتنه نيم علم دی. ځکه چې نيم علم د پوښتنه کونکې په پوښتنه کې راغلی او نيم علم د جواب ورکونکې په جواب کې راغلی. لهذا په طريقې سره پوښتنه کول د علم د ډيريدلو ذريعه ده. چې هغه نيم علم دی. د ښه پوښتنې به ښه جواب راځي. نو د پوښتنه کونکې نيم علم به په جواب سره پوره شي. او د مسؤل(پوښتنه کړی شوی) نيم علم به د پوښتنه کونکې په پوښتنه سره پوره شي. نو ښه پوښتنه د سائل او مسؤل دواړو لپاره نيم علم دی. (مرقات ۸/۷۹۶)

باب الرفق والحياء وحسن الخلق
۱۸ ربيع الثاني ۱٤۱۸هـ

د نرمۍ او د ښه اخلاقو بيان

رفق: نرمۍ ته وايي. چې د عُنف او د سختۍ ضد دى. عاجزي خپلول او خپلو ملګرو ښځې مهربانه او نرم ښو کيدل. **الحياء**: توضيحات جلد اول کتاب الايمان په ابتدايي حديثونو کې د الحياء شعبة من الايمان دلاندې د حياء لغوي او اصطلاحي تعريفونه په تفصيل سره ليکلى شويدي. دلته هم څه ليکلى کيږي. دې لپاره چې لوستونکو ته تکليف نه وي.

د حياء تعريفونه: د حياء اول تعريف په دې توګه دى: **الحياء هو خلق يمنع الشخص عن ارتكاب القبيح لاجل الايمان**. د حياء دويم تعريف دا دى: **الحياء هو تغير وانكسار يعترى المرء من خوف ما يلام و يعاقب عليه** . د حياء دريم تعريف علماؤ دا کړى دى چې د الله تعالى د عظيم نعمتونو تصور کولو سره خپلو کميو باندې نظر کولو باندې زړه او مازغو کې د قصور چې کوم کيفيت پيدا کيږي ، هغه حياء ده. د حياء څلورم تعريف دا دى: **هو ان لا يراك مولاك حيث ينهاك**.اول تعريف د حياء ايماني دى. او دويم تعريف د حياء انساني دى. دريم تعريف بيا د حياء ايمانې دى. او څلورم تعريف حياء انسانې او حياء ايمانې دواړو ته شامل دى.دحياء انساني تعلق د انسان سره وي. که مسلمان وي او که کافر او د حياء ايمانې تعلق د ايمان او اسلام سره دى. لهذا دا د مسلمانانو سره خاص دى. بهرحال دلته په عنوان کې چې د کومې حياء ذکر دى، ددېنه حياء شرعي ايمانې مراد ده.

سوال: دلته دا اعتراض راځي که حياء په يو کافر کې وموندلى شي نو آيا هغه به هم مسلمان بللى کيږي، ځکه چې په حديث کې حياء د ايمان ښنبه ګرځولى شويده؟

جواب: د دې جواب دا دى چې د حياء معامله د باب فتح يفتح په توګه ده چې چيرته باب د فتح وي ، د حرف حلقي کيدل به ضروري وي. ليکن دا ضروري نده چې په کوم باب کې حرف حلقي راشي ، هغه به باب د فتح يفتح وي. لکه سمع يسمع کې حرف حلقى دى ليکن فتح يفتح ندى. دغه شان د مسلمان معامله ده چې چيرته مسلمان دى هلته حياء لازمه ده. ليکن دا ضروري نده چې چيرته حياء وي هلته دې مسلمان کيدل لازم وي.

دحياء درې قسمونه : د حياء درې قسمونه دي: (۱) حياء جنابت : لکه حضرت آدم عليه السلام د غنم دانه خوړلو نه وروسته يو اړخ ته منډې وهلې. الله تعالى وفرمايل: چيرته منډې وهې؟ **قال حياء منك يالله.**
(۲) حياء حشمت او عظمت لکه حضرت على رضي الله عنه د حضرت مقداد په ذريعه نبى کريم صلى الله عليه وسلم

نه د مذي د مسئلې پوښتنه وکړه او خپله یې پوښتنه ونه کړه (۳) حیاء اجلال: لکه **تسربل اسرافیل بجناحیه حیاء من الله لاجلاله**. بهرحال حیاء د هغه کیفیت د راخپریدلو نوم دی چې د قبیح د کولو دانجام د ویرې نه اندامونه راغونډ شي او سړی د قبیح کولو نه په شاه شي لیکن که د جائز حق غوختلو کې یو سړی حیاء کوي او د شرم له وجې نه ښه خبره یا خپل پریږدي نو دا حیاء نه ده بلکې بې غیرتي ده.

وحسن الخلق: حسن خلق دا دی چې په یو وخت کې سړی د خالق او مخلوق حقوق ادا کړي. چې په هغې سره هغه خالق هم راضي کړي او مخلوق هم راضي وساتي. بالفاظ دیگر احکام شرعیه ادا کول د یو مسلمان لپاره د ټولو نه اعلی اخلاق دي. د دې باب حدیث نمبر ۲۸ د لاندې حسن خلق نور تعریفونه لیکلی شوي دي، هغه دې هم وکتلی شي.

الفصل الاول

د شفقت او نرمۍ فضیلت

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى رَفِيقٌ
حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی نرم او مهربانه دی
يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ
او نرمۍ او مهربانۍ خوښوي. ځکه هغه په نرمۍ او مهربانۍ باندې هغه څه ورکوي چې هغه په سختۍ باندې نه ورکوي.
وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ».
او نرمۍ او مهربانۍ باندې چې کوم څه ورکوي هغه د نرمۍ او مهربانۍ نه علاوه په بل څه باندې نه ورکوي.
رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: قَالَ لِعَائِشَةَ:
(مسلم) او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ دي چې نبی صلی الله علیه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها ته وفرمایل:
«عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ
نرمۍ او مهربانۍ په لازمي توګه باندې خپله کړه او سختۍ او تریخوالي او بې حیائۍ نه خپل ځان وساته.
إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَه»[۱]
ځکه چې په کوم څه کې نرمۍ وي، هغه ښایسته کوي، او د کوم شي نه چې وویستلی شي نو هغه عیبجن شي.

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۲۰۰۱ رقم الحديث (۲۵۹۳-۷۷) والرواية الثانية في ۴/۲۰۰۴ رقم الحديث (۲۵۹۴-۷۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: په دې حديث کې ولې شويدي چې الله تعالى نرمي خوښوي، ګويا په دې کې د خداى مخلوق ته تعليم ورکړى شويدى چې تاسو په خپل مينځ کې نرمي او مهرباني سره مخ کيږئ. په دې سره به ستاسو دنيا او آخرت دواړه جوړيږي. ځکه چې د ټولو برکتونو تعلق د نرمۍ او مهربانۍ سره دى، سختي او تريخوالى هيڅ شى هم ندى. بلکې په کوم شي کې چې نرمي او مهرباني وي په هغې کې به ښايست کيږي، سختي او تريخوالى هر شى بدرنګه او عيبجن پريږدي. نرمي سره ناممکنه ممکن جوړيږي، او سختۍ سره ممکن ناممکن جوړيږي. چا څه ښه ويلي دي:

آسائش دو گیتی تفسیر ایں دو حرف است — بادوستاں تلطف بادشمناں مدارا

د نرمۍ نه محرومه سړى د هرې ښيګړې نه محرومه دى

﴿۲﴾ وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ
او حضرت جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم
يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]
سړى چې نرمۍ او مهربانۍ نه محرومه کړى شي هغه ګويا د نيکۍ نه محرومه کړى شي. (مسلم)

د حياء فضيلت

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې (يوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو انصارى صحابى
مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
په خوا باندې تير شو چې هغه خپل ورور ته د حياء په اړه باندې نصيحت کولو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
«دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [2]
هغه ته وفرمايل چې ده ته څه مه وايه ځکه چې حياء د ايمان يو ښاخ دى. (روايت کړې دي بخارى او مسلم)

توضيح: يعظ اخاه: وعظ د هغه بيان او نصيحت نوم دى چې په هغې کې زړه نرمونکې خبرې وي. چې په هغې سره د خداى ويره راويخيږي او د آخرت ياد تازه کيږي. ليکن دلته په حديث کې د وعظ نه يرول، زورول او عتاب او سزا ورکول مراد دي. دې صحابي خپل ملګرى په حياء سره يرولو چې حياء کوي نو هيڅ به ترلاسه نکړي، د علم نه به هم محرومه يې او او د رزق نه به هم محرومه شي، نه

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲۰۰۳/۴ رقم الحديث (۲۵۹۲-۷۴) وابوداود في السنن ۵/۱۷۵ رقم الحديث ۴۸۰۹

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱/۷۴ رقم الحديث ۲۴، ومسلم في ۱/۶۳ رقم الحديث (۳۶-۵۹)

به د دنیا شي او نه به د آخرت شي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا رتهونکی د دې نه منع کړو او وې فرمایل چې: داسې مه کوه ځکه چې حیاء خو د ایمان په جزونو کې یو اهم جزء دی. په دې سره سرلوړی ترلاسه کېږي، ناکامې نه ترلاسه کیږي. د دېنه حدیث نه معلومه شوه چې اسلام شرم او حیاء او عزت او عظمت درس ورکوي. نو د دې په منونکو دا شی په ښکاره توګه باندې موجود دی. او سکولونه، کالجونه بی حیایې، بداخلاقې، رذالت او قباحت درس ورکوي. نو د دې په ترلاسه کونکو کې دا شیان ښکاره دي. د کالج یو هلک ته په ۱۹۷۴ء کې ما وویل چې څه شرم او حیاء خو وکړه، نو هغه وویل چې شرم او حیاء ما د کالج د میز د لاندې خخه کړیده. (مرقات ۸/۷۹۹)

چلتے چلتے ایک صاحب یہ نصیحت کر گئے گوشت گر ملتا نہیں تو دا کھایا کیجئے

کالجوں نے آپ کو خچر بنا ڈالا تو آپ ملک کے اصطبل میں ہنہنایا کیجئے

﴿۴﴾وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْحَيَاءُ لَا يَأْتِي
او حضرت عمران بن حصین فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: حیاء د نیکۍ او ښیګړې نه
إِلَّا بِخَيْرٍ » وَفِي رِوَايَةٍ : « اَلْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ (۱)
سوا هیڅ خبره نه پیدا کوي. یو بل روایت کې دا دي چې د حیاء ټول صورت نه غوره دي. (بخاری او مسلم)

توضیح: الا بخیر: پوښتنه دا ده چې ځینې وخت کې د حیاء د وجې نه حق خبره کول پاتې شي. امر معروف د کولو نه سړی ایسار شي. نو څنګه یې وفرمایل چې حیاء خیر راوړي؟ د دې جواب دا دی چې هغه د سره نه حیاء نه ده چې هغه د حق خبرې کولو لپاره مانع شي. بلکې هغه بی غیرتې ده. په حدیث کې د حیاء فضیلت بیان شویدی. د بی غیرتې نه دی. اصل حیاء خو هغه ده چې سړی د هغه کارونو نه بچ شي چې هغه شریعت بد ګرځولي دي. شریعت چې کوم کارونه خوښ کړیدي هغه خو ټول خیر دی. نو په دې حدیث کې الا بخیر نه شرعې کارونه مراد دي. (مرقات ۸/۸۰۰)

کله چې په تا کې حیاء نشته نو څه چې غواړې، وکړه

﴿۵﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ
او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خلکو چې په انبیاؤ باندې
مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى: إِذَا لَمْ تَسْتَحِي فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (۲)
نازل شوؤ کلامونو کې کومه خبره موندلې ده هغه دا ده چې کله ته بی شرمه شې نو څه چې دې زړه وغواړي، وکړه. (بخاری)

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۵۲۱ رقم الحديث ۶۱۱۷ ومسلم في صحيحه ۱/۶۴ رقم الحديث (۳۷-۶۰).

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۲۳ رقم الحديث ۶۱۲۰ ،وأبوداود في السنن ۵/۱۴۸ رقم الحديث ۴۷۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: ان مما ادرك الناس: مطلب دا دی چې په مخکنې انبياء كرامو عليهم السلام باندې نازليدنکې کلامونو نه چې کومه خبره خلکو ته د وراثت په توګه پاتې شويده او کومه خبره چې ثابته غير منسوخ راروانه ده. هغه داده چې کله په تا کې حياء پاتې نشي او ته بې شرمه شوې نو بيا چې څه غواړې، وکړه. (مرقات ۸/۸۰۱)

بے حیاء باش وہرچہ خواہی کن

توضيح: دا د امر صيغه ده ليکن په دې سره حکم ورکول يا د کوم شي طلب کول مراد نه دي. دا امر انشاء په معنی د خبر دی. يعنې انسان لره قابو کونکی او د بدو حرکتونو نه منع کونکی شی حياء ده. کله چې حياء او شرم په پاس په طاق کې کيخودله او بې حيايې پې خپل بنويې جوړ کړو نو څه چې غواړي نو کوي به يې.
دا د امر صيغه ده خو د تهديد او توبيخ په توګه باندې دی. يعنې څه چې غواړې، وکړه ليکن يو د ساته يوه ورځ به حساب راشي، د هغې لپاره تيار وسيږه. (مرقات ۸/۸۰۱)

د ګناه پيژندو يه څه ده

﴿٦﴾وَعَنِ النَّوَاسِ بن سمْعَان قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ					
او حضرت نواس بن سمعان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د نيکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړه					
فَقَالَ:	«الْبِرُّ	حُسْنُ	الْخُلُقِ		
(چې نيکي څه ده او ګناه څه ده؟) نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې نيکي د خوش اخلاقۍ نوم دی (يعنې					
وَالْإِثْمُ	مَا	حَاكَ	فِي	صَدْرِكَ	وَكَرِهْتَ
د نيکۍ ښائسته صورت خوش خلقي ده) او ګناه (هغه) کار دی چې هغه ستا په زړه کې شک پيدا کړي او ته					
أَنْ	يطلع	عَلَيْهِ	النَّاس».	رَوَاهُ مُسلم[1]	
هغه کار خو ښ نکړې چې خلک ستا د دې کار نه خبر شي. (مسلم)					

توضيح: ما حاك: يعنې د ګناه نښه داده چې د دغه کار د کولو په وخت کې د سړي په زړه کې شک او تردد پيدا شي چې شايد دا د ګناه کار دی. په زړه کې غوټه وي او تردد وي چې څه زه کوم دا ښه ندي. نو پوهه شه چې دا کار د ګناه دی. دويمه نښه يې دا ده چې د دغه کار عامو خلکو ته ښکاره کول نشي کيدلی. بلکې د دې د پټولو کوښښ کيږي. ليکن دا خبره د هغه خلکو ده چې د هغوی زړونه د شيشې په شان پاک وي. هغوی ته دا تردد او غوټه پيدا کيږي. ګنې د بې دينه خلکو په

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۰ رقم الحديث (۲۵۵۳-۱۴) والترمذي في ۴/۵۱۵ رقم الحديث ۲۳۸۹.

زړونو کې د ګناه د وجې نه هیڅ څه غوټه او تردد نه پیدا کیږي بلکې هغوی په ډاګه باندې ګناه کوي. (مرقات ۸/۸۰۴)

د خوش اخلاقۍ فضیلت

﴿۷﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِن مِنْ
او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: په تاسو کې هغه
أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
سړی ما ته ډیر خوښ دی چې هغه د ښه اخلاقو خاوند وي. (بخاری)
﴿۸﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ
او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: په تاسو کې بهترين
أحسنكم أَخْلَاقًا». مُتَّفق عَلَيْهِ[2]
سړی هغه دی چې د هغه اخلاق ښه وي. (بخاری او مسلم)

الفصل الثاني

د نرمۍ نه محروم د هر خیر نه محرومه دی

﴿۹﴾عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل: کوم سړي ته چې په نرمۍ کې برخه
مِنَ الرِّفْقِ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ
ورکړی شوه هغه ته ګویا د دنیا او آخرت په ښیګړو کې برخه ورکړی شوه. او کوم سړی چې په نرمۍ کې د خپلې برخې نه
حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَ الْآخِرَةِ». رَوَاهُ فِي «شرح السّنة»[3]
محرومه شو هغه ګویا د دنیا او کې د آخرت په ښیګړو خپلې برخې نه محرومه شو. (شرح السنة)

---

(١) اخرجه البخاري في صحيحه ٧/١٠٢ رقم الحديث ٣٧٥٩ والترمذي في ۴/٣٢٥ رقم الحديث ٢٠١٨.

(٢) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۶ رقم الحديث ٣۵۵٩ ومسلم في ۴/١٨١٠ رقم الحديث (٢٣٢١-۶٨)

(٣) اخرجه شرح السنة.

Maktaba Tul Ishaat.com

حیاء د ایمان جزء دی

﴿۱۰﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْحَيَاءُ
او حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: حیا (یعنې د بد کارونو نه پرده ساتل)
مِنَ الْإِيمَانِ وَالْإِيمَانُ فِي الْجَنَّةِ. وَالْبَذَاءُ
د ایمان جزء دی. او ایمان (یعنې مؤمن) به جنت ته ځي او بې حیایي (چې د هغې د وجې نه فحش خبرو
مِنَ الْجَفَاءِ وَالْجَفَاءُ فِي النَّارِ». رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ⁽¹⁾
او بدو خبرو کول ضروري دي) د بدۍ جزء دی. او بدي به دوزخ اور ته ځي. (احمد او ترمذی)

توضیح: البذاء: بې حیایي او فحش خبري کولو ته البذاء وايي. الجفاء: بدي، بد او لوچک بنویي او جهالت ته جفاء وايي. مطلب دا دی چې جت کیدل، سخت جاهل کیدل، بدګو، بد اخلاق او فحش وینا کونکی سړی به جهنم کې وي. اوس که دا سړی اعتقادي منافق دی نو همیشه به جهنم ته ځي او که عملي منافق دی نو د سزا څکلو نه وروسته به خلاص شي. (مرقات ۸/۸۰۴)

خوش اخلاقي د خدای غوره ډالۍ ده

﴿۱۱﴾وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا
او د قبیله مزینه یو سړي بیان دی چې صحابو عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! کوم شیان چې
خَيْرُ مَا أُعْطِيَ الْإِنْسَانُ؟ قَالَ: «الْخُلُقُ الْحَسَنُ»
انسان ته ورکړی شوي دي په هغې کې غوره کوم شی دی؟ نو نبي صلی الله علیه وسلم و فرمایل: خوش اخلاقي.
رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»⁽¹⁾ وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ⁽²⁾
دا روایت بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدی. او په شرح السنة کې دا روایت د اسامه بن شریک نه منقول دی.

د بد اخلاقۍ بدي

﴿۱۲﴾وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ
او حارثه بن وهب فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: جنت ته خو به نه سخت کلام ننوځي

(¹) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۱ رقم الحديث ۲۰۰۹، وأحمد في المسند ۲/۵۰۱.

(²) أخرجه أحمد في المسند ۴/۲۷۸ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۲۳۵ رقم الحديث ۷۹۹۲.

(³) أخرجه أحمد في المسند ۴/۲۷۸

وَلَا الْجَعْظَرِيُّ» قَالَ: وَالْجَوَّاظُ: الْغَلِيظُ الْفَظُّ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي «سُنَنِهِ».	
او نه بداخلاقه. او راوي وايي چې د جواظ معنى ده سخت كلام او بداخلاق. دا روايت ابوداؤد په خپل سنن كې	
وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ وَصَاحِبُ» جَامِعِ الْأُصُولِ «فِيهِ	
او بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړيدى. دغه شان صاحب د جامع الاصول په جامع الاصول كې	
عَنْ حَارِثَةَ. وَكَذَا فِي» شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْهُ وَلَفْظُهُ قَالَ:	
د حارثه نه دا روايت نقل كړيدى. او دغه شان دا روايت په شرح السنة كې حضرت حارثه نه په دې الفاظو نقل شويدى	
«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ الْجَعْظَرِيُّ»	
چې په جنت كې به جواظ جعظرى نه داخليږي (گويا په دې الفاظو كې جعظري د جواظ په صفت سره ګرځولى شويدى)	
يُقَالُ: الْجَعْظَرِيُّ: الْفَظُّ الْغَلِيظُ	
او ويلى شويدي چې د جعظرى معنى ده بداخلاق او سخت كلام (يعنې د دې روايت مطابق جواظ او جعظرى	
وَفِي نُسَخِ «الْمَصَابِيحِ» عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ وَهْبٍ	
يو معنى ده) او مصابيح په (ځينو) نسخو كې دا روايت د حضرت عكرمه ابن وهب نه نقل شويدى.	
وَلَفْظُهُ قَالَ:" وَالْجَوَّاظُ: الَّذِي جَمَعَ	
په هغې كې دا سې بيان شويدى چې راوي ويلي دي چې جواظ هغه سړي ته وايي چې هغه مال دولت	
وَمَنَعَ. وَالْجَعْظَرِيُّ: الغليظ الْفَظُّ[1]	
جمع كړي خو سائل ته څه ورنكړي او جعظرى هغه سړي ته وايي چې هغه سخت كلام او بداخلاقه وي.	

توضيح: الجواظ ولاالجعظرى: دا دوه الفاظ دي او د دواړو تشريح د دې حديث په ضمن كې كوم راوي كړيده. د ځينو روايتونو نه معلوميږي چې دا دوه الفاظ هم معنى. مترادف الفاظ دي. يعنې بداخلاق بدزبان او بې ځايه خبرې كونكى دى. ملاعلي قاري فرمايې چې جواظ او جعظرى هغه سړى دى چې هغه بداخلاقه او سخت زړى وي. نو د سخت زړه تعلق د باطن حالاتو نه دى. چې د هغې لپاره د الجواظ لفظ راوړى شو، چې د هغې ترجمه الغليظ سره كړى شويده. او د بداخلاقو تعلق د ظاهرې حالاتو سره دى. دا سړى ظاهرې او باطنې دواړو حالتونو په اعتبار سره تباه دى. ملاعلي قاري وريسې ليكي چې ډيره مناسبه داده چې الجعظرى تفسير او تشريح په غليظ القلب سره وكړى شي.

(1) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۵۱ رقم الحديث ۴۸۰۱ والبغوي في شرح السنة ۱۳/۱۶۹ رقم الحديث ۳۵۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ فاللائق ان يفسر الجعظري بغليظ القلب. د دې عبارت نه معلومه شوه چې دالجواظ تفسير هم دغه دی کوم چې يو راوي په الغليظ لفظ سره کړيده. يعنې بد اخلاق، بدزبانه، بهرحال الجواظ نه بد اخلاق او الجعظري نه سخت زړی مراد اخستل شويدی. که داسې سړی اعتقادي منافق دی نو هميشه به په دوزخ کې وي او که عملي منافق دی نو بيا سزا نه وروسته به جنت ته ځي. (مرقات ۸/۸۰۶)

د خوش اخلاقۍ فضيلت

﴿۱۳﴾وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَثْقَلَ شَيْءٍ يُوضَعُ
او حضرت ابو درداء رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د
فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ
قيامت په ورځ د مؤمن د اعمالو په تله کې کېخوديدونکې شيانو کې ډېر وزني شی ښايسته اخلاق دي.
وَإِنَّ اللهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ».
او الله تعالی فحش خبري کونکو او بې ځايه خبرې کونکو خلکو نه سخته کرکه او دښمني لري. دا روايت
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حسن صَحِيحٌ.
ترمذي نقل کړيدی. او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی. دغه شان ابو داؤد هم ددې روايت
وروى أَبُو دَاوُد الفصلَ الأول[1]
برخه يعنې خلق حسن پورې نقل کړيده.
﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوريدلي دي چې مؤمن (يعنې
«إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ
کامل مؤمن چې هغه عالم باعمل وي) د خوش اخلاقۍ په وجه هغه درجه لري کومه چې (عبادت او
قَائِمِ اللَّيْلِ وصائم النَّهَارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]
ذکر الهی لپاره) شب بيداري کونکي او هميشه د ورځې روژه نيونکي ته ورکړی کيږي. (ابو داؤد)

---

[1] أخرجه أبوداود والفصل الأول في السنن ۵/۱۴۹ رقم الحديث ۴۷۹۹،والترمذي في السنن بأكمله ۴/۳۱۸ رقم الحديث ۲۰۰۲.

[2] أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۴۹ رقم الحديث ۴۷۹۸،ومالك في الموطأ ۲/۹۰۴ رقم الحديث ۶ من كتاب الخلق،

خلکو سره په ښایسته اخلاقو سره مخ کیږه

﴿۱۴﴾وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اتَّقِ اللهَ حَيْثُمَا

او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته وفرمايل: د الله نه يره کوه، ته چې هر چيرته

كُنْتَ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا

يې. که ستا نه څه بدې وشي نو دهغې نه وروسته نيک کار خامخا کوه دې لپاره چې هغه نيکي دغه بدې ختمه کړي.

وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ». رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ والدارمي[1]

او دخلکو سره په ښايسته اخلاقو معامله کوه. (احمد، ترمذی، دارمی)

توضيح: اتق الله حيث ما كنت: په دې جمله کې په حقيقت کې د تقوٰی تعريف دی. يعنې ظاهرًا او باطنًا خپله معامله د خپل رب سره پاکه وساتلې شي. دا تقوی ده. په دويمه جمله کې دي چې که ګناه وشي نو دهغې نه سمدستې وروسته نيک عمل کوه، دې لپاره چې هغه نيکې دا بدې ختمه کړي ځکه چې دا قانون دی: ان الحسنات يذهبن السيئات. ياده دې وي په دې سره په حقوق الله کې کمی معاف کيږي. ليکن د حقوق العباد کمی نه معاف کيږي. دغه شان دا اصغائرو خبره ده، د کبائرو لپاره توبه ده. په دريمه جمله کې دي چې د خلکو سره په ښه اخلاقو مخ کيږه. (مرقات ۸/۸۱۰)

نرم مزاج او د نرم ښويه سړي فضيلت

﴿۱۶﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ

او حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ايا زه و وايم چې

بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ وَبِمَنْ

هغه کوم سړی دی چې هغه به په اور باندې حرام وي او په چا باندې چې اور حرام وي؟ (نو واوری)

تَحْرُمُ النَّارُ عَلَيْهِ ؟ عَلَى كُلِّ هَيِّنٍ لَيِّنٍ قَرِيبٍ سَهْلٍ ».

د دوزخ اور به په هر هغه سړي باندې حرام وي چې هغه نرم مزاج، نرم طبيعت والا وي. خلکو ته نژدې او نرم ښويه

رَوَاهُ أَحْمَدُ وَ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[2]

وي. دا روايت احمد او ترمذي نقل کړيدی. او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی.

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۱۲ رقم الحديث ۱۹۷۸. والدارمي في ۲/۴۱۵ رقم الحديث ۲۷۹۱.

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۴ رقم الحديث ۲۴۸۸. وأحمد في المسند ۱/۴۱۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: علی کل هین: د او رپه انسان باندې حرامیدل او د انسان په اور باندې حرامیدل. په دې جمله کې ډیر تاکید او مبالغه ده. د دواړو جملو مال او مفهوم یو دی چې داسې سړی د هر مصیبت نه آزاد دی. نبی ﷺ د پوښتنې د جواب انتظار ونکړو بلکې خپله یې جواب ورکړو. . د هین او لین دواړو یوه معنی ده. یعنې نرم مزاج او نرم ښویه سړی د دوزخ په اور باندې حرام دی. **قریب:** یعنې خوش اخلاقه دی. ځکه خلکو ته نژدې دی. ځان غاړې ته کونکی ندی. (مرقات ۸/۸۱۲) **سهل:** آسان او نرم اخلاقو والا دی. د دې درواړو الفاظو وختونه، حالتونه او د واقع کیدلو ځایونه بیل بیل کیدلی. یعنې په چا باندې بوج نه جوړیږي. بی تکلفه دي، دا د هین مصداق کیدلی شي. او دنرم طبیعت مالک دی. دا دعامو اخلاقو په اعتبار سره کیدلی شي. چې هغه د لین مصداق کیدلی شي. او د سهل تعلق دممکن الحصول سره کیدلی شي. چې د نرم اخلاقو والا دی. ځکه د خلکو نه نه پټیږي بلکې عام ملاقات کول لري. داواړه واړه فرقونه جوړیدلی شي. اگرکه شارحینو د دې ذکر ندی کړی. (مرقات ۸/۸۱۲)

مؤمن ساده او منافق مکار وي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُؤْمِنُ غِرٌّ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه نبی کریم ﷺ نه روایت کوي چې نبی ﷺ وفرمایل: نیک عمله مؤمن
كَرِيمٌ وَالْفَاجِرُ خَبٌّ لَئِيمٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ [1]
ډیر ساده او عزتمندوي ،او بدکار منافق ډیر مکار او بخیل او کمینه وي.(احمد ،ترمذی، ابوداؤد)

توضیح: غر کریم: یعنې مؤمن سیدها ساده وي، د ډیر شراف د وجې نه دهوکه خوري. ډیر ازمایلی شوی، تجربه کار او عیار، دعار، شطار، مکارنه وي، فرزدق شاعر یې نقشه داسې پیش کړیده:

واستمطروا من قریش کل منخدع ان الکریم اذا خادعته انخدعا

حضرت عمر رضي الله عنه چې به کله خپل غلام په لمونځ کولو باندې لیدلو نو آزادولو به یې. چا وویل چې دا ته دهوکه درکوي. کیدلی شي ، دا دهوکه درکوي. حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: **من خادعنا بالله ننخدع** یعنې کوم سړی چې د الله تعالی په نوم باندې مونږ ته دهوکه راکوي ، مونږ د هغه نه دهوکه خورو.

یاده دې وي چې د بحث په حدیث کې غر کریم نه کوم بیوقوفه سړی مراد ندی بلکې داسې سړی مراد دی چې هغه دنیا په معاملاتو کې ځان ننویستل نه غواړي. دا دهغه د مزاج شرافت دی. په هرڅه پوهه شي خو لاس وهنه نکوي. پاتې شو د دین معامله نو په هغې کې نهایت بیدارمغزه وي. لکه څنګه چې په حدیث شریف کې دي:

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۴۴ رقم الحديث ۴۷۹۰،والترمذي في ۴/۳۰۳ رقم الحديث ۱۹۶۴.

اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنورالايمان. او څنګه چې په حديث کې دي: المؤمن لايلدغ من جحر واحد مرتين. او څنګه چې د روم د باچا مخې ته يو صحابي د حضرت عمر رضی الله په اړه فرمايلي و: أَمِيْرُنَا لَا يَخْدَعُ وَلَا يُخْدَعُ. يعنې زمونږ امير نه چا ته دهوکه ورکوي او نه د چا نه دهوکه خوري. خب: د فاجر نه مراد منافق او بدکاره سړی دی. خب: خاء باندې فتحه ده او باء باندې شد دی. مکار، عيار او شطار او هوکه مار سړي ته وايي. د حديث خلاصه دا راووتله چې مؤمن ساده وي خو د جهالت د وجې نه بلکې د شرافت د وجې نه. او منافق تيزطراروي، خو د عقل د وجې نه بلکې د خباثت او شرارت د وجې نه (وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا) (البقرة: ۱۳۸)

دمؤمن شان

﴿۱۸﴾ وَعَنْ مَكْحُولٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُونَ هَيِّنُونَ لَيِّنُونَ						
او حضرت مکحول فرمايي چې رسو الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: ايمان لرونکي خلک صبرناک، نرم بنويه						
كَالْجَمَلِ	الْآنِفِ	إِنْ	قِيدَ	انْقَادَ		
او تابعدار وي. دهغه اوښ په شان چې دهغه په پوزه کې پيزوان پروت وي که هغه راخکلى شي نو راخکل کيږي						
وَإِنْ	أُنِيخَ	عَلَى	صخرةٍ	استَناخَ».	رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ	مُرْسلا [۱]
او که کينولی شي نو په کاڼي باندې کيني. دا حديث ترمذي په طريقې د ارسال نقل کړيدی.						

توضيح: يعنې د مؤمن چې کوم شان دی چې هغه تابعدار، صاحب انکسار، عاجز او نرم بنويه وي، لکه څنګه چې د يو اوښ په پوزه کې پيزوان پروت وي. او هغه د مالک په لاس کې وي، که هغه راخکل غواړي يا هغه په کاڼي باندې کينوي، هر حالت د قبلولو لپاره تيار دی. ان قيد: د راخکلو په معنی دی. (مرقات ۸/۸۱۴)
انيخ: د کينولو په معنی دی. (مرقات ۸/۸۱۴) استناخ د کيناستلو په معنی دی. (مرقات ۸/۸۱۴)

د خلکو په تکليفونو باندې صبر کول د اجر سبب دی

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْلِمُ الَّذِي					
او حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: کوم مسلمان چې					
يُخَالِطُ	النَّاسَ	وَيَصْبِرُ	عَلَى	أَذَاهُمْ	أَفْضَلُ
د خلکو سره ربط او ګډون وساتي او د هغوي په تکليفونو باندې صبر وکړي هغه د اجر او ثواب په اعتبار سره					

---

(۱) أخرجه ابونعيم في الحلية ۵/۱۸۰

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنَ الَّذِي لَا يُخَالِطُهُمْ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وابنُ مَاجه[1]
د هغه چا نه افضل دی چې هغه د خلکو سره ربط او ګډون نه ساتي او د هغوی په تکلیفونو باندې صبر و نکړي.

توضیح: یخالط: یعني کوم سړی چې د خلکو سره تعلق ساتي، د هغوی ساتنه کوي. لاربنود نه کوي او په نیکۍ حکم او د بدۍ نه منع کول کوي. او په هغې کې د خلکو د اړخ نه ورته تکلیف رسیږي. هغه برداشت کوي. د هغه ګوټ کې ناست سړي نه غوره دی چې هغه په یواځیوالي کې عبادت کوي او د خلکو نه بیل وسیږي د هغوی په هیڅ معامله کې زړه خوښي نه کوي. په دواړو کې فرق دا دی چې اولنی سړی خالق او مخلوق دواړه راضي کوي چې کامل اخلاق دي. نو ځکه دا افضل دی، او دویم سړی فقط د خالق د رضا کوښښ کوي، مخلوق نظر انداز کوي. نو دا نقص دی، نو ځکه مفضول دی. لیکن دا یاد ساتی چې دا دوه نظریې او دوه بیلې رویې په خپله خپله زمانه کې، بیل بیل ځایونو کې، بیل بیل حالاتو کې او د خاص قومونو سره دهغوی د فائدو په مناسبت سره به چلیږي. د ځینو عوامو د خصوصي حالاتو په پیش نظر باندې به اوله نظریه کامیابه وي، او د ځینو سره به دویمه نظریه کامیابه وي. د دواړو مدار به په دین او دنیا فائدو باندې وي. یو الله والا په خپله زمانه کې وویله چې زما مقام د احمد بن حنبل نه ډیر ؤ لیکن هغه د مرتبې په لحاظ سره زما نه مخکې شو. ځکه چې هغه واده شوی دی، د ماشومانو پلار دی. او زما واده ندی شوی، مجرد یم، او په مجرد او غیر مجرد کې فرق وي.

د نورو د خاطر نه د حق لاندې کولو فضیلت

﴿۲۰﴾ وَعَن سهلِ بن معاذٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت سهل بن معاذ د خپل پلار (حضرت معاذ رضي الله عنه) نه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنفِذَه
کوم سړی چې خپله غصه تیره کړي، سره ددېنه چې هغه په دغه غصه باندې د عمل کولو قدرت لري. نو
دعاهُ الله على رؤوسِ الخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ
الله تعالی به د قیامت په ورځ باندې هغه سړی د خلکو مخې ته راولي او هغه ته به دا اختیار ورکړي چې کومه
فِي أَيِّ الحُورِ شَاءَ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ أَبُو دَاوُدَ وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[2]
حوره وغواړي خوښه کړه. دا روایت ترمذي او ابو داؤد نقل کړی دی او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دی.

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۲ رقم الحديث ۲۵۰۷، وابن ماجه في ۲/۱۳۳۸ رقم الحديث ۴۰۳۲.

([2]) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۳۷ رقم الحديث ۴۷۷۷، والترمذي في السنن ۴/۳۲۶ رقم الحديث ۲۰۲۱.

وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د ابو داؤد په یو روایت کې چې هغه یې د سوید بن وهب نه او هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو صحابي د ځوي نه نقل
عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «مَلأَ الله قلبه أمناً وإيماناً»
کړیدی، دا الفاظ دي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې وفرمایل چې الله تعالی به د هغه سړي زړه د امن او امان نه ډک کړي
وَذَكَرَ حَدِيثُ سُوَيْدٍ: «مَنْ تَرَكَ لِبْسَ ثَوْبٍ جما ل» فِي «كتاب اللبَاس» [1]
(ځوک چې خیله غصه وځکي) او حضرت سوید دا روایت: من ترک لمس ثوب جمال په کتاب اللباس کې نقل شویدی.

الفصل الثالث

د اسلام بنیاد شرم او حیاء باندې دی

﴿۲۱﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا
او حضرت زید بن طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هر دین او هر مذهب کې یو اخلاق دي.
وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ». رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسلا [2] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ [3]
او د اسلام هغه اخلاق حیاء ده. دا روایت مالک په طریق د ارسال سره نقل کړیدی. دغه شان ابن ماجه
وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» عَنْ أنس وَابْن عَبَّاس [4]
او شعب الایمان کې بیهقی دا روایت د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړیدی.

توضیح: خلقًا: یعني د هر آسماني دین یو غالب مزاج وي. او د هغې یو بنیادي مقصد وي. د هغې یو خاص رجحان وي. او د هغې یو ښکاره صفت وي چې هغه په نورو صفتونو باندې غالب وي. په اسلام کې هغه صفت او طبیعت او هغه میلان او رجحان حیاء ده. اګرکه په نورو مذهبونو کې هم د حیاء حکم دی لیکن د اسلام غالب مزاج حیاء ده. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل بعثت مقصد د ښه اخلاقو پوره والی وګرځولو. چې په هغې کې حیاء سرفهرست ده. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: **انما بعثت لاتمم مكارم الاخلاق.** یو حدیث کې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد وفرمایلو: **استحيوا من الله حق الحياء.** (مرقات ۸/۸۱۷)

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۱ رقم الحديث ۲۴۸۱.

(۲) أخرجه مالک في الموطا ۲/۹۰۵ رقم الحديث ۹ من كتاب حسن الخلق.

(۳) أخرجه ابن ماجه في ۲/۱۳۹۹ رقم الحديث ۴۱۸۱، وعن ابن عباس رقم الحديث ۴۱۸۲

(۴) أخرجه ابن ماجه في ۲/۱۳۹۹ رقم الحديث ۴۱۸۱، والبيهقي في الشعب ۶/۱۳۶ رقم الحديث ۷۷۱۶

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا چې حیاء د انساني کارې لپاره د بریک او ټائر راډ په منزله دی. که بریک خراب شو نو دا معلومه نده چې کاړی به کوم کوم ځای سره وجنګیږي، او تباه او برباد به شي. نن سبا په دنیا کې د ټولو نه فحاش او بی حیاء قوم یهود او نصاری دي. چې هغوی فحشې د مذهب په توګه باندې استعمالوي او نورو قومونو ته یې ورکوي. (مرقات ۸/۸۱۷)

ایمان او حیاء لازم او ملزوم دي

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيمَانَ قُرَنَاءُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: حیا او ایمان د یو بل سره

جَمِيعًا فَإِذَا رفع أحدهما رفع الآخر»[1]

یو ځای کړی شوي دي لهذا کله چې څوک په دې کې د یو نه محروم کړی شي نو هغه د بل نه هم محرومه ساتلی

وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «فَإِذَا سُلِبَ أَحَدُهُمَا

کیږي. او په یو بل روایت کې کوم چې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دی، دا سې دی چې په

تَبِعَهُ الْآخَرُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[2]

دې دواړو کې کله یو لیرې کړی شي نو دویم هم ځي. (بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدی)

د خوش اخلاقۍ اهمیت

﴿۲۳﴾ وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: كَانَ آخِرُ مَا وَصَّانِي بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته د کومو خبرو نصیحت او وصیت وکړو په

حِينَ وَضَعْتُ رِجْلِي

هغې کې د ټولو نه آخري وصیت کوم چې ما ته نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت وفرمایلو چې ما د سپریدلو لپاره خپله خپه د اس په

فِي الْغَرْزِ أَنْ قَالَ: «يَا مُعَاذُ أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ». رَوَاهُ مَالِكٌ[3]

رکاب کې ایخودلې وه چې معاذ! د خلکو د پوهنې او روزنې لپاره خوش اخلاقي خپله کړه. (مالک)

توضیح: رجلي: حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یمن والي ټاکلی ؤ. د هغه د رخصتولو په وخت کې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عادت نه خلاف د هغه سره داسې معامله وکړه چې د هغې مثال نشته. خپله

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۴۰ رقم الحديث ۷۷۲۷

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۴۰ رقم الحديث ۷۷۲۷

(۳) أخرجه مالک في الموطا ۲/۹۰۲ رقم الحديث ۱ من كتاب حسن الخلق.

نبی صلی الله علیه وسلم پیدل روان ؤ او هغه یې په اس باندې سپور کړو. او په تلو تلو کې هغه ته هغه نصیحتونه وکړل چې د هغې مثال نشته. لا ترو سه معاذ رضی الله عنه پورا په اس باندې سپور ندی، خپه یې په رکاب باندې کیخودله. او نبی صلی الله علیه وسلم یو ناشنا نصیحت ورته وکړ چې ای معاذ! د خلکو سره د پوهنې اوروزنې لپاره خپل اخلاق ښه ساته. دلته د خلکو نه مراد هغه خلک دی چې هغوې نصیحت قبلونکې وي. یا د هغې امید کیدلی شي. لیکن کوم خلک چې نصیحت ردّ کړي او دعوت حق مسترد کړي، دهغوې سره د تورې په ذریعه به خبره وي. وس به یې تورا پوهوي. او دهغوې روزنه به وس د جهاد په میدان کې کیږي. نو جهاد چې څنګه د مسلمانانو لپاره رحمت دی. دغه شان د کافرو لپاره هم رحمت دی. ځکه چې په دې سره کافرو ته هدایت ترلاسه کیږي. او مسلمانانو ته ثواب او نیکه معاشره ترلاسه کیږي. او دنیا ته امن ترلاسه شي. څنګه چې د اخلاقو په ځای باندې تورا استعمالول مناسب ندي . دغه شان دتورې په ځای اخلاق استعمالول مناسب ندي. کوم شاعر هم دغه خبره کړیده: (مرقات ۸/۸۱۹)

فوضع الندیٰ في موضع السیف بالعلی   قبیح کوضع السیف في موضع الندیٰ

یعنې د تورې د استعمال په وخت کې احسان هم دغه شان بد دی لکه د احسان په ځای کې تورا استعمالول بد دي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت مقصد د اخلاقو تکمیل دی

﴿۲۴﴾ وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت مالک نه منقول دي چې هغه ته دا حدیث را رسیدلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

«بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ»

زه د ښه اخلاقو د تکمیل لپاره دراليږلی شوی یم. یعنې په دې دنیا کې زما د بعثت یو عظیم مقصد دی چې انساني اخلاق او صفتونه

رَوَاهُ الْمُوَطَّأُ (1) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (2)

بیان کړم او هغه د کمال درجې ته ورسوم (موطا امام مالک) او احمد دا روایت د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه نقل کړیدی.

شیشه کې د کتلو دعاء

﴿۲۵﴾ وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

او حضرت جعفر بن محمد د خپل پلار حضرت امام باقر نه روایت کوي چې هغه بیان کړل: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې

نَظَرَ فِي الْمِرْآةِ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي حَسَّنَ خُلُقِي

به کله شیشه کتله نو فرمایل به یې چې ټول صفتونه خاص الله لره دي هغه الله چې هغه ماته بهترین تخلیق

(1) اخرجه مالک في الموطا ۲/۹۰۴ رقم الحدیث ۲ من کتاب حسن الخلق.

(2) اخرجه احمد في المسند ۲/۳۸۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَخَلْقِي	وَزَانَ	مِنِّي	مَا

راکړی دی، زما اخلاق او کردار یې ښه جوړ کړی. او په ما کې یې هغه شیان کیخودل چې هغه زما په غیر کې

شَانَ مِنْ غَيْرِي» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» مُرْسَلاً [۱]

د عیب او نقصان سبب دی. دا روایت بیهقی په شعب الایمان کې په طریقې د ارسال سره نقل کړیدی.

توضیح: حسن خلق: انسان الله تعالی پیدا کړو او هغه یې اشرف المخلوقات جوړ کړو. او هغه یې په احسن تقویم کې کیخودلو سره ښایسته جوړ کړو. د دې تقاضا دا ده چې انسان کله په خپل تخلیق باندې نظر وکړي نو د خپل رب او پیدا کونکي شکریه ادا کړي. آئینه کې د کتلو په وخت کې پیغمبر اسلام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت ته د دعاء تعلیم ورکړی دی. په دې کې هم دا حقیقت ښکاره کړی شویدی، دې لپاره چې انسان د آئینه کتلو په وخت کې نه خو په تکبر کې اخته شي او نه د تخلیق وروستنی حالت هیر کړي. د دې حدیث سره په راتلونکي حدیث کې هم د یو دعاء ذکر دی. نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ امت ته تعلیم ورکړی دی چې دا سې دعاء غواړی. د دې مطلب دا ندی چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خپل ځان لپاره دعاء غواړي بلکې دامت د تعلیم لپاره یې الفاظ استعمال کړیدي. د راتلونکي حدیث تشریح او توضیح هم داسې ده کومه چې پاس لیکلی شویده. (مرقات ۸/۸۲۰)

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «اَللّٰهُمَّ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به (دا دعاء) فرمایله چې ای الله! تا زما
حَسَّنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي» . رَوَاهُ أَحْمد [۲]
بدني تخلیق ښه کړیدی لهذا زما اخلاق هم ښه جوړ کړه. (احمد)

اوږد عمر او ښه اخلاق بهترین شیان دي

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې آیا زه تاسو ته و وایم چې
بِخِيَارِكُمْ؟» قَالُوا: بَلَى. قَالَ:
په تاسو کې غوره خلک څوک دي؟ صحابؤ عرض وکړو چې هو! ضرور و وایه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

---

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۱۴/۱۱۱ رقم الحديث ۴۴۵۹.

(۲) اخرجه احمد في المسند ۶/۶۸.

«خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا وَأَحْسَنُكُمْ أَخْلَاقًا» رَوَاهُ أَحْمد(۱)
غوره خلک هغه دي چې هغوې د اوږد عمر والا وي. او د ښه اخلاق چې ډير ښايسته دي. (احمد)

توضيح: د اوږد عمر فضيلت د هغه خلکو لپاره دی چې د هغوې اعمال ښه وي. څومره چې عمر اوږد وي، ښه اعمال به ډير وي. دا د فائدې خبره ده. ليکن د کومو خلکو چې اعمال بد وي. د هغوې عمرونه که اوږده شي نو په دې کې د فائدې په ځاې نقصان دی. بهرحال ښه اخلاق د ښه اعمالو يوه برخه ده.

کامل مؤمن هغه دی چې د ښه اخلاق ښه وي

﴿۲۸﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په ايمان کې کامل ترين
أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا». رَوَاهُ أَبُودَاوُد والدارمي(۲)
خلک هغه دي د ښه چې اخلاق ښه دي. (ابوداؤد، دارمي)

توضيح: حسن الخلق: دا خبره په ذهن کې ساتل په کار دي چې په حديثونو کې د ښه اخلاقو څومره فضيلتونه راغلي دي، د هغې برعکس د بد اخلاقو هغومره بدي به وي. اګر که د بدۍ ذکر نه وي. ځکه: وبضدها تتبين الاشياء. (مرقات ۸/۸۲۲)

دلته يو څه الفاظ راغلي دي چې هغه د بيلا بيلو اکابرو د طرف نه د حسن خلق تعريف او تعارف دی:

(۱) قال الحسن البصرى رحمه الله: حسن الخلق بسط الوجه وبذل الندىٰ وكف الاذىٰ

(۲) وقال الواسطى رحمه الله: هو ان لايخاصم ولايخاصم من شدة معرفته بالله

(۳) وقال رحمه الله ايضًا: هو ارضاء الخلق في السراء والضراء

(۴) وقال سهل رحمه الله: ادنى حسن الخلق الاحتمال وترك المكافاة والرحمة للظالم والاستغفار له

درې غټې اهمې خبرې

﴿۲۹﴾وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا شَتَمَ أَبَا بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) نبی عليه السلام صحابو سره ناست وو چې يو سړي حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته رد بد

(۱) اخرجه احمد في المسند ۲/۳۶۸.

(۲) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۶۰ رقم الحديث ۴۶۸۲، والدارمي في ۲/۴۱۵ رقم الحديث ۲۷۹۲، واحمد في المسند ۲/۲۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَعَجَّبُ	وَيَتَبَسَّمُ	فَلَمَّا

ويل شروع كړل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (د غه سختي خبري اوريدلو باندي) حيرت كولو او مسكا يې كوله. تردې چې كله هغه

أَكْثَرَ	رَدَّ	عَلَيْهِ	بَعْضَ	قَوْلِهِ

سړي په ردو بدو ويلو كې د حد نه واوړيدلو نو ابوبكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم د هغه د ځينو خبرو جواب وركړو (يعني هغه هم دغه سړي ته

فَغَضِبَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	وَقَامَ

په جواب كي ردبد وويله) په دې باندې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خفه شو، او د هغه ځاى نه پاڅيدلو. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې شاته

فَلَحِقَهُ	أَبُو	بَكْرٍ	وَقَالَ:	يَا	رَسُولَ	الله

ابوبكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم راغلى. او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت كي حاضريدلو باندې يې عرض وكړو يارسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

كَانَ	يَشْتُمُنِي	وَأَنْتَ	جَالِسٌ	فَلَمَّا	رَدَدْتُ	عَلَيْهِ

كله هغه سړي ما ته ردبد ويله نو ته هلته ناست وې. ليكن كله چې ما د هغه د خبرو جواب وركړو (او د هغه

بَعْضَ	قَوْلِهِ	غَضِبْتَ	وَقُمْتَ.

په الفاظو كي مې په بل انداز باندې هغه ته رد بد وويله، نو ته خفه شوې او د هغه ځاى نه پاڅيدلې.

قَالَ:	«كَانَ	مَعَكَ	مَلَكٌ

نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: اصل خبره دا ده چې ترڅو پورې ته چپ وې نو) ستا سره فرشته وه چې (ستا د اړخ نه يې)

يَرُدُّ	عَلَيْهِ	فَلَمَّا	رَدَدْتَ	عَلَيْهِ

هغې ته جواب وركولو. خو كله چې تا خپله جواب وركړو (او دغه شان د نفس د خواهش عمل پكې راننوتلو)

وَقَعَ	الشَّيْطَانُ».	ثُمَّ	قَالَ: "	يَا	أَبَا	بَكْرٍ	ثَلَاثٌ	كُلُّهُنَّ حَقٌّ:

نو شيطان مينځ ته راودانګل. بيا يې وفرمايل: ابوبكر! درې خبرې دي هغه ټولې حق دي. يو خو دا چې

مَا	مِنْ	عبدٍ	ظلم	بمظلمة	فِي	غضي	عَنْهَا	لله	عَزَّ	وَجَلَّ

كله بنده د چا د ظلم ښكار شي او فقط د الله لپاره د هغه ظالم نه چشم پوشي كوي، نو الله تعالى په دې بناء

إِلَّا	أَعَزَّ	الله	بِهَا	نَصْرَهُ	وَمَا	فَتَحَ رَجُلٌ

باندې په دنيا او آخرت كې هغه سړى قوي او مضبوط جوړوي. دويم دا چې كوم بنده چې هم د خپلې

بَابَ	عَطِيَّةٍ	يُرِيدُ	بِهَا صِلَةً

عطاء او ښښنې دروازه برسيرته كړي دې لپاره چې د هغې په ذريعه سره خپلو خپلوانو او مسكينانو سره

إِلَّا زَادَ اللهُ بِهَا كَثْرَةً

حسن او نیک ښویې وکړي نو الله تعالی د هغه د ورکړې او ښښنې په وجه باندې د هغه مال دولت کې

وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ يُرِيدُ بِهَا

ډیروالی کوي. او دریم دا چې کوم سړی د سوال او فقیرۍ دروازه برسیرته کړي دې لپاره چې دهغې په

كَثْرَةً إِلَّا زَادَ اللهُ بِهَا قِلَّةً ". رَوَاهُ أَحْمد [1]

ذریعه سره دولت راټول کړي، نو الله تعالی د دې سوالګرۍ په ذریعه د هغه مال او دولت نور هم کموي.

په اصولي توګه باندې په نرمۍ کې فائده او په سختۍ کې نقصان دی

﴿۲۰﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يُرِيدُ اللهُ بِأَهْلِ بَيْتٍ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی چې د کوم کور خلکو لپاره

رِفْقًا إِلَّا نَفَعَهُمْ وَلَا يَحْرِمُهُمْ

نرمي او مهرباني خوښوي، دهغې په ذریعه هغوی ته فائده رسوي. او کوم کور خلکو لره چې د نرمۍ او

إِيَّاهُ إِلَّا ضَرَّهُمْ ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي « شُعَبِ الْإِيمَانِ "[2]

مهربانۍ نه محرومه ساتي دهغې په ذریعه هغوی ته نقصان رسوي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۴۳۶.

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۳۳۷ رقم الحديث ۸۴۱۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۹ ربیع الثاني ۱۴۱۸هـ

باب الغضب والکبر
غصه او دتکبر بیان

قال الله تعالى: ﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ (ال عمران: ۱۳۴)

غضب د هغه شیطاني تیختي او راپارولو نوم دی چې دهغې په وجه باندې انسان ظاهري او باطني اعتبار سره خپل طبعي مزاج او د اعتدال د حدودو نه ووځي. چې د هغې په نتیجه کې دا انسان داسې بې مقصده او بد کارونو کړل وکړي چې هغه نه په شریعت کې جائز دي او نه په عرف کې هغه خوښول کیږي. بیا هم دا جنوني کیفیت انسان د مغضوب علیه نه دانتقام اړخ ته متوجې کوي. او دا په هغه باندې برید کونکی شي. غضب د دې جنوني کیفیت اثر دهغه سړي په مخ باندې هم ښکاره شي نو دهغه مخ سُور شي. او د مرۍ رګونه یې وپړسیږي. ځینو وختونو کې دا جنوني کیفیت دومره ډیر شي چې سړی مړ شي . د غضب مقابل حلم (صبر) دی.چې هغه برداشت، سنجیدګې او د وقار نوم دی. چې دهغې تفصیل مخکې تیر شویدی.په دې خبره ښه پوهیدل پکار دي چې غضب په خپل ذات کې څه بد خصلت ندی. چې دیته اصلًا قبیح وویلی شي. بلکې غضب خو دانساني کمال یو برخه ده . خو د غضب د استعمال د وجې نه په دې کې بدي راشي. مثلًا یو سړی حق پریخودلو سره د باطل په ملاتړ کې غضب استعمال کړي. احکام شرعیه د خپو لاندې کړي. په عصبیت او ظلم او زیاتي کې غضب استعمالوي. نو دا یو بد خصلت او د شریعت ذ مخې مذموم حرکت دی. لیکن که هم دا غضب یو سړی د حق په ملاتړ کې استعمال کړي نو دا غضب نهایت محمود او خوښ شوی صفت دی. هم دا وجه ده چې شریعت انساني غضب لره ختمول غواړي. بلکې دې لره د اعتدال په لاره باندې راوستلو سره د دې اصلاح کوي. او دا قوت غضبیه د شریعت تابع جوړول غواړي.الله تعالی نباتات او جمادات د قوت غضبیه نه محروم ساتلي دي. د دېنه علاوه هر انسان او حیوان کې د غضب یوه ماده یې ایخودلي ده. ځومره حیوانات چې دي په هغې کې د غضب قوت شته دی. او هغې د استعمال لپاره دهغوې سره مناسب آلات او وسله هم شته دی.نو د خپل دفاع لپاره مارغانو سره پنجي او مکوخي شته دی. درندګانو سره د برچي په شان نوکان او جامه شته دی. غوا او میخي سره خکرونه شته دی. د چا سره چې خکرونه نشته نو د هغوې سره خپي دي چې هغه د دفاع کار کوي. لکه خر، اس ، قچر، فیل(هاتهی) او اوښ سره جامه ده. چې په هغې سره هغوې د مضبوط نه مضبوط شی میده کوي.د مار سره په ظاهره باندې که هیڅ هم نشته نو الله تعالی د دفاع لپاره هغې ته داسې زهر ورکړي دي چې په هغې سره هغه شیر هم وژني او انسان په زورولو سره وژني. لړم او د شهدو مچی ته الله تعالی د ټک ورکولو لپاره انډوسی ورکړی دی. تردې چې مچ ته یې د احساس داسې آله ورکړیده چې هغه

په سيکنډونو کې د انسان د مضبوطې څرمنې نه وينه روانوي. لهذا دا چې الله تعالى کله انسان ته د ... قوت ورکړيدى نو د دفاع لپاره يې آلات هم ورکړيدي. انسان ته يې عقل ورکړيدى. چې دهغې په ذريعه سره هغه د خپلې دفاع لپاره ناشناناشنا حيلې جوړوي. او هغه په کار راولي. لکه تيرې غوڅونکې آلې، ګولۍ او راکټ او ميزائل دي. خلاصه دا چې شريعت د قوت غضبيه اصلاح کوي. هغه نه ختموي. والكبر: په اصل کې د کبر معنى لويې ده. يعنې خپل ځان داسې غټ ګڼل چې په هغې سره په زړه او په مازغو کې ځان خوښې، چې دهغې په نيتجه کې سړى نورو ته سپک او ذليل وګڼې او د حق په ردولو ته تيار شي. په انسان کې خو ذاتي او حقيقې لويې نشته دى. نو ځکه هغه ته کبر او شيخې کولو نه منع شويده. د انسان حقيقت خو دا دى چې :

ما للتراب وللعلوم وانما يسعٰى ليعلم انه لا يعلم

الله تعالى خو د ذاتي لويې مالک دى. هغه المستجمع لجميع الصفات الكمال دى. نو ځکه کبريائې او لويې دهغه سره خاص ده. هغه الجبار المتكبر دى. هغه اعلان کړيدى: **الكبرياء ردائى والعظمة ازارى فمن نازعنى فيهما قذفته النار.**

د دې وجې نه انسان لره د لويې په ميدان کې د قدم کيخودلو نه منع کړې شويدى. او هغه ته د تواضع او عاجزۍ تعليم ورکړې شويدى. که په کوم انسان کې عطائي فضيلتونه وي. په هغې باندې هغه شکر خو کولى شي ليکن د لويې دعوىٰ نشي کولى. خلک که هغه لويې ګڼې نو دا د الله تعالى د اړخ نه دهغه قبوليت دى. لکه په يو دعاء کې دي: ﴿**اَللّٰهم اجعلنى فى عينى صغيرًا وفى اعين الناس كبيرا**﴾ بهرحال استکبار او ذلت او صغار دواړه منع دي. په تواضع کې درميانوالى او اعتدال دى. د نبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ښودنو کې دغصې د يخولو علاج هم شته دى چې په غصه کې اخته سړى دې غسل وکړي يا اودس دې وکړي يا دې يخې اوبه استعمال کړي. يا دې اعوذبالله ووايي، که ولاړ وي نو کيدينې، که ناست وي نو پرې دې وځي، يا دې په عکس دې وکړي، ځکه چې د حالت په دبدلولو سره غصه ختميږي. (مرقات ۸/۸۲۵)

الفصل الاول

غصې کولو نه دځان ساتلو تاکيد

﴿۱﴾ عَن أبِي هريرةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم: أوصنِي.
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې يو سړى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې ما ته څه نصيحت وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ: «لَا تَغْضَبْ». فَرَدَّ ذَلِكَ مِرَارًا قَالَ: «لَا تَغْضَبْ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

نبی عَلَیْہِ السَّلَامُ وفرمایل: غصه مکوه، هغه سړي دا خبره څو ځل وکړه او نبي عَلَیْہِ السَّلَامُ ورته هر ځل دا وفرمایل چې غصه مکوه.

توضیح: لاتغضب: هغه سړي ته نبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ بیا بیا وفرمایل چې غصه مکوه. د دې نه معلومه شوه چې په دغه سړي کې د صبر کمزوري وه. او د غضب ماده ورپکې ډیره وه. دې سړي بیا بیا درخواست کولو چې ای د الله رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ما ته څه وصیت او نصیحت وکړه. خو نبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ بیابیا تاکید وکړو چې غصه مکوه. ځکه چې په حقیقت کې غضب د عقل د مغلوبیت نوم دی. او کله چې عقل مغلوبه شي نو دا یوه بدي ده. بلکې د ټولو بدیو جرړه ده. کله چې عقل مغلوبه شي نو بیا څه پاتې شول؟ ګویا د هغه سړي لپاره غټ نصیحت دا وُ چې غصه مه کوه ته چې کله غصه نکوي نو دین او دنیا فائدي به ومومي. (مرقات ۸/۸۲۵)

غصه قابو کونکی اصل پهلوان دی

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ

او حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمایي چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وفرمایل: طاقتور او پهلوان هغه سړی ندی چې هغه خلک

إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]

راځملوي بلکې طاقتور او پهلوان هغه سړی دی چې هغه د غصې په وخت کې خپله ځان قابو کړي. (بخاري او مسلم)

توضیح: یملك نفسه: یعنې دا څه کمال ندی چې څوک په ګُشتۍ کې راګوزار کړي. یا د لاس زور کې غلبه ترلاسه کړي شي او د پهلوانۍ تمغه ورکړی شي. لیکن د غصی او غضب په وخت کې هغه سړی مغلوب الحال کیدلو باندې د قابو نه بیرون ووځي او اول بنه پوره بی ځایه وګرېګي او جنګ شروع کړي. د پهلوانۍ په زور کولو کې خو هغه مضبوط وُ خو د غصې د لاسه یې ماتې وخوړله.
په ګلستان سعدي کې سعدي بابا رحمه الله یوه قصه لیکلي ده چې یو پهلوان د غصې نه مغلوبه کیدلو باندې اول بنه بی ځایه وغریدلو. سترګې یې سرې شوي، د مرۍ رګونه یې وپړسیدل. او مخ یې سور شوی وُ. بابا سعدی پوښتنه وکړه چې دا سړی څوک دی. او په ده باندې څه شویدي. خلکو ورته وویل چې دا پهلوان دی، چا په غصه کړیدی. نو ځکه یې دا حالت جوړ شویدی. باباسعدی وفرمایل: عجیبه پهلوان دی چې د طاقت ازمایلو کې خو ثابت قدم وي لیکن د ژبې د لږې شان خبرې مخې ته پر مخې رالویدلی دی.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۱۹ رقم الحديث ۶۱۱۶، والترمذي في السنن ۴/۳۲۱ رقم ۲۰۲۰، ومالک في الموطأ ۲/۹۰۵ رقم ۱۱

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۱۸ رقم الحديث ۶۱۱۴، ومسلم في ۴/۲۰۱۴ رقم الحديث (۲۶۰۹-۱۰۷)

په دې حدیث کې نبی ﷺ د ظاهري قوت په ځاې باندې باطني قوت اصل ګرځولی دی. او دنیوي قوت په ځاې باندې د دین قوت اصل ګرځولی دی. الشدید نه مراد پهلوان دی. بالصرعة: صرعه کشتئ او غیر نیولو ته وایې. (مرقات ۸/۸۲۶)

د جنتي او دوزخي خلکو نښې

﴿۳﴾ وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ
او حضرت حارثه بن وهب رضی الله عنه فرمایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا زه جنتیان درته ووایم. یعنې ایا زه دا ووایم چې کوم
بِأَهْلِ الْجَنَّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ
خلک جنتیان دي؟ (نو واورئ) هر هغه ضعیف سړی (جنتي دی) چې هغه لره خلک ضعیف او سپک ګڼي (او دهغې وجې نه هغه
مُتَضَعَّفٍ لَوْ أَقْسَمَ
سره د جبر او تکبر معامله وکړي، حالانکې) په حقیقت کې هغه د الله په نزد باندې د ومره وچته مرتبه لري) که
عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ. أَلَا
هغه د الله په توکل باندې په یو کومه خبره قسم وکړي نو الله تعالی به هغه قسم رښتیا کړي. او آیا زه تا سو ته هغه
أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ؟ كُلُّ عُتُلٍّ
خلک ووایم چې هغ دوزخیان دي؟ (نو واورئ) هر هغه سړی چې هغه په دروغو او لغو خبرو باندې سخته وینا
جَوَّاظٍ . مُسْتَكْبِرٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ:
کونکی جګړالو وي، مال جمع کونکی بخیل وي او تکبر کونکی وي (بخاري او مسلم) او د مسلم په یو
«كل جواظ زنيم متكبر» [1]
روایت کې دا الفاظ دي چې هر هغه سړی چې هغه مال جمع کونکی، حرموني او تکبر کونکی وي.

توضیح: ضعیف خو کمزورې ته وایې. لیکن متضعف هغه ته وایې چې هغه خپله کمزوری نه وي لیکن خلک هغه سپک او کمزوری ګڼي. مطلب دا چې دا کمزوری او ګمنام وي. نه غرور والا وي، نه تکبر والا وي. دا جنتي سړی دی. (مرقات ۸/۸۲۷)

لَوْ أَقْسَمَ: یعنې که هغه په کومه خبره باندې قسم وخوري چې دا کار به داسې کیږي نو الله تعالی د هغه عزت ساتي. لکه څنګه چې حضرت انس رضی الله عنه قسم خوړلی ؤ چې د هغې د ترور غاښونه به نه شي

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۶۶۳ رقم الحديث ۴۹۱۸، ومسلم في ۴/۲۱۹۰ رقم الحديث (۲۸۵۳-۴۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

ماتیدلی، بیا هم هغه شان وشوه.

عتل: ډیر سرکشه او جګړالو ته ویل کیږي. جواظ: د دې یوه تشریح دا هم ده چې: ای جمع و منع. متکبر او سخت متکبر مراد دی. مخکې یې تشریح شویده. (مرقات ۸/۸۲۷)

زنیم: بدنام او ولدزنا ته زنیم وایي. په شر باندې مشهور ته هم وایې. دقرآن آیت دی: ﴿عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ﴾ (القلم: ۱۳)

تکبر کونکی سړی به جنت ته نه داخلیږي

﴿۴﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ النَّارَ
او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی به (دهمیشه لپاره) دوزخ
أَحدٌ فِي قلبه مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ. وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ
ته نه ځي چې دهغه په زړه کې د ګدن د داني هومره هم ایمان وي. او هغه سړی به جنت ته نه ځي چې دهغه
مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبرٍ». رَوَاهُ مُسلم[1]
په زړه کې د ګدن د داني هومره هم تکبر وي. (مسلم)

توضیح: لایدخل: د دې حدیث مطلب دا دی که د چا په زړه کې د یو ذري برابر ایمان وي، هغه به د دوزخ نه راوویستلی شي. د کافر په شان به همیشه دننه نوي. دغه شان د کوم سړي په زړه کې چې یوه ذره تکبر وي هغه سړی به جنت ته نه ځي. د دې جملې مطلب دا دی چې کبراو تکبر نه دلته کفر او شرک مراد دی. لکه په راتلونکې حدیث نمبر۵ کې راروان دي. کوم سړی چې حق لره ردوي. هغه مسلمان چیرته پاتې کیدلی شي. د ذې جدیث دویم مطلب دا دی چې دلته د کبر نه کفر مراد ندی بلکې ځان خوښي، لویې او غرور مراد دی. نو د دې حاصل دا راووتلو چې دا سړی ګناهګار دی. په دخول اولي سره به جنت ته نه ځي. البته د سزا خوړلو نه وروسته به جنت ته ځي. (مرقات ۸/۸۲۸)

دتکبر حقیقت او ماهیت

﴿۵﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ
او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسو الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی به جنت ته نه داخلیږي،
مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنَ كِبْرٍ». فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ
د چا په زړه کې چې د ذرې برابر هم تکبر وي. (دې اوریدلو سره) یو سړي عرض وکړو چې یو سړی

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۹۳ رقم الحديث (۹۱-۱۲۸) وأبوداود في السنن ۴/۳۵۱ رقم الحديث ۴۰۹۱.

يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا

دا خوښوي چې د هغه جامه دې ښايسته وي، او د هغه پيزار دې ښايسته وي (او هغه د خپلې دې خوښې

وَنَعْلُهُ حَسَنًا. قَالَ:

له وجې نه ښه جامه اغوندي او ښه پيزار استعمالوي نو آيا دې ته تکبر ويلی کيږي؟) نبي ﷺ وفرمايل:

«إِنَّ اللهَ تَعَالَى جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. الْكِبْرُ

الله تعالی جميل يعني ښه او ښايسته دی او جمال يعني ښه والی او ښايست خوښوي. او تکبر دا دی

بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

چې د حق خبره په مستۍ سره و منلی شي او خلک سپک او ذليله وګڼلی شي.

توضيح: ثوبه حسنًا: د پوښتنه کونکي مطلب دا ؤ چې ښې جامې او ښه پيزار او ښه استوګنه هر مسلمان خوښوي نو آيا دا هم د تکبر په کړه کې راځي؟ نبي ﷺ په جواب کې وفرمايل چې نا! دا خو زينت او جمال دی. او جمال الله تعالی خوښوي. تکبر دا دی چې سړی د حق خبره رد کړي. او خلک سپک او ذليله ګڼلو باندې ليري وزغلوي. يعنې اصل تکبر د هغه خودپسندۍ او غرور نوم دی چې هغه انسان د حق نه واوړوي او د سمې لارې نه يې خطا کړي. (مرقات ۸/۸۲۹)

جميل: باطنې ښه والي او ښه صفتونو باندې د جمال لفظ ويلی کيږي. ګويا د جمال تعلق د باطنې ښه والي سره دی. ځکه د دې اطلاق په الله تعالی باندې کيږي. الله جميل ويلی شي ليکن د حسن تعلق د ظاهرې بدني اندامونو د تناسب سره دی. ځکه د دې اطلاق په الله تعالی باندې نه کيږي او الله حسين ويل جائز ندي. (مرقات ۸/۸۲۹)

درې غټ بدبخته خلک

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلَاثَةٌ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان دي چې د هغوی سره

لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ». وَفِي رِوَايَةٍ:

به د قيامت په ورځ باندې الله تعالی خبرې نکوي. او نه به د هغوی ستاينه کوي. او په يو روايت کې دا

وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ

الفاظ هم دي چې او نه به د هغوی اړخ ته (د رحمت او عنايت په نظر سره) وګوري او د هغوی لپاره به

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۹۳ رقم الحديث (۹۱-۱۴۷) وابوداود في السنن ۴/۳۵۱ رقم الحديث ۴۰۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

عَذَابٌ أَلِيمٌ: شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ". رَوَاهُ مُسلم [1]
دردناک عذاب وي. یو خو بوډا زناکار، دویم دروغژن باچا، او دریم تکبر کونکی غریب. (مسلم)

توضیح: ثلاثة: یعنې درې قسمه خلک داسې دي چې د قیامت په ورځ به الله تعالی نه دهغوي سره خبري وکړي او نه به د هغوي اړخ ته د رحمت په نظر سره وګوري بلکې د هغوي لپاره به دردناک عذاب وي. دوي به پسخیږي چې الله تعالی هغوي ته وګوري او دهغوي سره خبري وکړي. لیکن هغوي به د رحمت د دې میدان نه لیري وساتلی شي. شیخ زان: په دې درې واړو کې یو قسم خلک هغه دي. چې خپله به بوډاګان شوي وي خو بیا به هم په زنا کې اخته وي. دبوډا زنا کار ګناه ځکه ډیره ده چې په ځوانۍ کې دشهوت جنون او مستي وي، جوش او جذبه او نارینه قوت مجبورول کوي. نو اګرکه په ځوانۍ کې هم زنا کول ګناه ده خو څه مجبوري هم ده. لیکن په بوډاوالي کې شهواني قوت کمزوری کیږي. په بوډا کې شهواني قوت هم غالب پاتې نوي. قبر هم نژدې دی. په داسې حالت کې زنا کول فقط خباثت نفسي دی، نه دا چې غلبه جنسي ده. وملک کذاب: دروغ ویل د هر سړي لپاره ګناه ده لیکن د باچا لپاره د نورو نه ډیره ګناه ځکه ده چې د باچا د وجې نه به ولس په دروغ باندې اخته شي. دویمه خبره دا ده چې د باچا څه مجبوري نشته دی. هغه خپلواکه وي. هغه ته څه اړتیا نه وي نو سره د خپلواک کیدلو او غیر مجبور کیدلو بې ضرورته دروغ ویل د دروغو د عام ګناه نه لویې خباثت دی. وعائل مستکبر: عائل د اهل و عیال والا فقیرته وایي. وس یو سړی فقیر هم دی. عیال دار هم دی. ددې مجبوری، او احتیاج باوجود هغه زکوة صدقات اخستلو نه انکار کوي. خپل ځان او خپل اهل او عیال هلاکت کې غورزوي. او دا هر څه د داسې تکبر په بنیاد باندې کوي چې هلته د تکبر څه ځای نشته دی. نو ځکه دا ګناه د دغه شان نورو ګناهونو نه لویه ده. د سوال کولو او زکوة اخستلو نه خپل ځان ساتل یو ښه عمل دی. لیکن دغه شان د احتیاج باوجود لره د تکبر او غرور د وجې نه پټول نوره ګناه ده. نو ځکه د ده ګناه ډیره ده. فقر او فاقه د الله تعالی د اړخ نه ده. او زکوة د هم دغه فقیرانو حق دی، بیا په دې کې تکبر کول ډیر بد دي. (مرقات ۸۳۱، ۸۳۰/۸)

لویې او کبریائي فقط د الله تعالی د شان سره ښایي

﴿۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: الْكِبْرِيَاءُ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی فرمایي چې ذاتي لويي
رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا
زما څادر دی او صفاتي عظمت زما تهبند دی. نو کوم سړی چې په دې کې زما سره مقابله کوي نو زه به هغه

(1) أخرجه مسلم في ۱/۱۰۲ رقم الحديث (۱۰۷-۱۷۲) وأبوداود في السنن ۳/۷۴۹ رقم الحديث ۳۴۷۵.

أَدْخَلْتُهُ النَّارَ "وَفِي رِوَايَةٍ: «قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ» . رَوَاهُ مُسلم "'
او ورته دننه کړم او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې زه به هغه اور ته گوزار کړم. (روايت کړی دی مسلم)

توضيح: الكبرياء ردائي: يعني دا زما ذاتي حق دی. نو کوم سړی چې په دې کې زما سره مقابله کوي چې زما په ذاتې وچتوالې او صفاتي عظمتونو کې دخله کوي. نو زه به دا سې سړی دوزخ کې واچوم. په دې حديث کې يو لفظ د الكبرياء دی. دويم العظمة دی. ځينو علماؤ دې لره مترادف الفاظ گرځولو باندې په يوه معنى حمل کړيدی. ليکن ځينو نورو علماؤ لکه ملا علي قاري او علامه طيبي فرمايي چې الكبرياء هغه لويې ته وايې چې د هغې تعلق د ذات سره وي او مخلوق هغه کما حقه نه پيژني او عظمت هغه لويې ته وايې چې هغه د الله تعالى دصفت سره متعلق وي او مخلوق هغه پيژني. نو دا الله تعالى لويې د دې کائنات په وجو سره ټول مخلوق پيژني. د دې فرق په وجه باندې د کبريا نسبت څادر اړخ ته شوید یا و د عظمت نسبت تهبند (لنگ) ته شويدی. او څادر په نسبت سره ازار ته اعلى او ارفع وي. رداء او ازار الفاظ د متشابهاتو نه دي. د دې ترجمه به په ما يليق بشانه سره وي.

نازعني: يعني کوم سړی چې زما ذاتي يا اضافي لويې کې د شريکيدلو کوښښ کوي او په زوره اخستنه کوي، نو زه هغه دوزخ کې اچوم. (مرقات ۸/۸۳۱)

دا حديث د متشابهاتو د قسم نه دی. د سلف صالحينو په نزد دالفاظو به هغه ترجمه وي کومه چې ده ليکن ما يليق بشانه لګولو سره حقيقت به الله تعالى ته سپارل وي. خو متاخرينو د څه تاويلاتو نه کار اخستلی دی. ليکن د سلفو په نزد دې ضرورت نشته دی.

الفصل الثاني

خودپسندې تباهي ده

﴿۸﴾عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَزَالُ الرَّجُلُ
حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: يو سړی هميشه خپل
يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ
ځان راکاږي تر دې چې د هغه نوم په سرکشانو :ې يعني ظالم او متکبر خلکو په فهرست کې وليکلی شي.

(') أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۲۳ رقم الحديث (۲۶۲۰-۱۳۶) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۹۷ رقم الحديث ۴۱۷۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيُصِيبَهُ	مَا	أَصَابَهُمْ	» .	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيّ[1]
او يا کوم شی چې دنيا او آخرت د مصيبت او بلا نه سرکشانو ته رسيږي، هغه دغه سړي ته هم رسيږي. (ترمذی)					

توضيح: يذهب بنفسه: مطلب دا دی چې دا سړی مسلسل د ځان خوښي کې اخته وي. غرور او تکبر چې دا چيرته بوتلل غواړي، بوځي يې. نو دغه شان هغه په ځان خوښۍ او لويې کې د حد نه تير شي نو دالله تعالی په نزد باندې هغه متکبرينو او سرکشو خلکو په لسته کې وليکلی شي. بيا الله تعالی هغه دوزخ کې واچوي. معلومه شوه چې ځان خوښي او غرور او تکبر غټه تباهي ده. (مرقات ۸/۸۳۲)

دقيامت په ورځ به متکبرين د ميږانو په شان ذليله وي

﴿۹﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ							
حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه او هغه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې							
قَالَ: " يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ							
نبی ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به تکبر کونکو لره د ميږانو په شان د سړو په صورت کې يو ځای ته							
يَغْشَاهُمُ	الذُّلُّ	مِنْ	كُلِّ	مَكَانٍ			
راغونډ کړی شي او د هر اړخ نه به ذلت او خواري هغوی په پوره توګه سره راګير کړي. بيا به هغوی د جهنم يو							
يُسَاقُونَ	إِلَى	سِجْنٍ	فِي	جَهَنَّمَ	يُسَمَّى:	بُولَسُ	تَعْلُوهُمْ
محبس (قيد خانه) اړخ ته چې د هغې نوم بولس دی، وشړلی شي. هلته به د اورونو اور په هغوی باندې							
نَارُ	الْأَنْيَارِ	يُسْقَوْنَ	مِنْ	عُصَارَةِ	أَهْلِ	النَّارِ	
راخپور شي. او د دوزخيانو زيبخنه يعنې دوزخيانو د بدن نه بهيدونکې ويني زوې به هغوی باندې							
طِينَةَ	الْخَبَالِ".	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ[2]				
څکولی کيږي. چې د هغې نوم طينت الخبال دی. (ترمذی)							

توضيح: الذر: کوچنې ميږي ته الذر وايي. کوم خلک چې په دنيا کې تکبر کوي. هغوی په حقيقت کې خپل ځان لويې ګڼي. لهذا دغه شان خلک به د قيامت په ورځ باندې ذليل او خوار کولو سره دومره واړه کړی شي څنګه چې په زمکه باندې ګرځيدونکې واړه سره شان ميږان وي. دا جزا او سزا د هغه فعل سره بيخي مناسب ده. يوه قصه مونږ اوريدلي ده چې په هندوستان کې يو ډير ښايسته

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۱۸ رقم الحديث ۲۰۰۰

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۵ رقم الحديث ۲/۱۷۹ ،وأحمد في المسند۲/۱۷۹.

ځوان وُ. چا هغه ولیدلو نو حیران شو چې دا څو مره ښایسته دی. نو ده د هغه نه پوښتنه وکړه چې ستا شکل او صورت ته کتلو سره ماته تعجب کیږي. دې زلمي د تکبر په توګه باندې وویله که تاته تعجب کیږي نو په دې کې د تعجب څه خبره ده زما شکل ته په کتلو سره الله تعالی ته هم تعجب کیږي. دا وینا وه چې الله تعالی هغه د میږي برابر کړو او ذلیل یې پریخودلو. (دالله تعالی پناه) دا خبره د یاد ساتلو ده چې په میدان حشر کې مختلف حالات دي. د عذاب او سزا دا صورت به هم کله رائي او کله جسمونه به غټ شي، په دې کې هیڅ تعارض نشته دی.

بولس: با باندې ضمه او فتحه دواړه دي. په دوزخ کې دننه د یو خاص محبس او کوټګۍ نوم دی. د دې لفظي لغوي مفهوم ناامیدي او حیرانتیا ده. د شیطان نوم ابلیس هم د دې مادې نه مشتق دی.

نارالانیار: یعني د اورونو اور، دا د مبالغې په توګه باندې د دې اور شدّت ته اشاره ده.

عصارة: د دوزخیانو د بدنونو زبیخنه یعني بهیدونکې وینه او زوري کچه وینه به ورباندې څکولی کیږي، چې د هغې نوم طینة الخبال دی، چې هغه ډیر سخت تریخ خوندی دی. (مرقات ۸/۸۳۵)

دغصې یخولو طریقه

﴿۱۰﴾وَعَنْ عَطِيَّةَ بن عُرْوَةَ السعديِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْغَضَبَ
او حضرت عطیه ابن عروه سعدی رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: غصه د شیطان
مِنَ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ
اثر دی (یعني ناحق غصه کول د شیطان راپارول او د هغې په دهوکه کې د راتلو نتیجه وي) او شیطان د
خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَإِنَّمَا يُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ
اور نه پیدا کړی شوی دی او اور په اوبو سره وژلی کیږي. نو ځکه کله چې په تاسو کې یو چا ته غصه
أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
راشي نو هغه لپاره پکار دي چې اودس وکړي. (ابوداؤد)

توضیح: یخې اوبه استعمالولو سره غصه یخه شي. ځکه چې غضب د وینې د ګرمیدلو اثر دی. لهٰذا د اوبو څکلو یا سر باندې د اوبو اچولو یا نور استعمال هم دا خاصیت دی. لیکن د اسلام په نظر کې د یخوالي ترلاسه کولو غوره صورت دا دی چې دا سړی دې اودس وکړي او بیا دې دوه رکعته نفل وکړي. د غصې په علاج کې د ټولو نه ښایسته طریقه خو اعوذ بالله ویل دي. که په دې سره ونشوه نو

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۴۱ رقم الحدیث ۴۷۸۴، وأحمد في المسند ۴/۲۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا اودس كول دي. كه په دې سره ونشوه نو بيا لمونځ كول دي. يو علاج دا هم دى چې حالت دې بدل كړي لكه څنګه چې په راتلونكې حديث كې دي. (مرقات ۸/۸۳۶)

دغصې يخولو يو نفسياتي علاج

﴿۱۱﴾وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَ
او د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كله چې په تاسو كې يو چا ته
هُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ
غصه راشي او دغه وخت هغه ولاړ وي نو (سمدستي) دې كيني او كه غصه تلله نو خير دى ګني بيا
وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيّ[1]
دې په اړخ باندې څملي. (احمد وترمذى)

دبدترين سړي نښي

﴿۱۲﴾وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت اسماء بنت عميس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي.
«بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ وَنَسِيَ الْكَبِيرَ
بد بنده دى، هغه بنده چا چې خپل ځان د نورو نه غوره وګڼلو. او تكبريې وكړو او خداى د لويې شان والا
الْمُتَعَالِ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى
هغه هير كړو، بد بنده دى هغه بنده چا چې په خلكو باندې جبر او ظلم وكړو. او په ظلم او فساد خپرولو كې د حد نه تيرشو.
وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الْأَعْلَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ
او خداى جبار وقهار يې هير كړو. د چا قدرت او عزت چې د هر چا نه وچت دى. بد بنده دى هغه بنده چا چې د دين
سَهَى وَلَهَى وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى
كار و نه هير كړل او په دنياداري كې مشغوله شو. او هغه په مقبرو او خاورو ته تلونكې بدن زړيدل هير كړل.
بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَى وَطَغَى وَنَسِيَ الْمُبْتَدَأَ وَالْمُنْتَهَى
بد بنده دى هغه بنده چا چې فتنه او فساد خپور كړو. او د حد نه يې تجاوز وكړو. او خپله ابتداء او انتهاء يې

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۴۱ رقم الحديث ۴۷۸۲، واحمد في المسند ۵/۱۵۲.

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ

هیره کړه. بد بنده دی هغه بنده چې هغه د دین په ذریعه سره د دنیا ترلاسه کوي. بد بنده دی هغه بنده چې هغه

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ بِالشُّبُهَاتِ بِئْسَ

دین لره د شبهاتو په ذریعه سره دهوکه ورکوي. بد بنده دی هغه بنده چا چې د مخلوق نه طمع او امید وساتلو.

الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ

او حرص او طمع هغه لره د نیا دارو دروازو ته په راخکلو راخکلو بوځي. او چیرته چې غواړي بوځي يې، او بد

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ

بنده دی هغه بنده چا لره چې دنیا ارخ ته د هغه مینه او خواهش، دنیا ترلاسه کولو حرص، او د مال او جاه ډیروالي هوس

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» .

ذلیله او خوار کړي. او د هغه د دین بې عزتي کوي. ترمذي او بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړیدی

وَقَالَا: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ أَيْضًا: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ [1]

او ویلي یې دي چې سند یې قوي ندی. دغه شان ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دی

توضیح: تخیل: یعنې چا چې عجب، تکبر او غرور خپل کړو. او لویې باچا یې هیر کړو هغه په بدترینه خلکو کې دي.

تجبرواعتدی: یعنې چا چې په مظلومانو باندې ظلم وکړو. او د خپل قدر او قیمت نه واوختلو. او دالله تعالی د حکم خیال یې ونه کړو. دا بدترینه سړی دی.

سهی: یعنې د حقوق واجبه او طاعتونو نه غافل ؤ.

ولهی: او په لهو لعب کې اخته ؤ. مطلب دا چې دین یې هیر کړو او د دنیا په لهو لعب کې اخته شو. (مرقات ۸/۸۳۸)

البلی: قبر او د قبرستان خالي والی او دبدن ماتیدل راماتیدل او دهغې زره زره کیدل یې هیر کړل. (مرقات ۸/۸۳۸)

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۵ رقم الحديث ۲۴۴۸، والبيهقي في شعب الايمان ۶/۲۷۸ رقم الحديث ۸۱۸۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

یختل الدنیا: یعنې د دین په ذریعه سره دنیا ګټي. او دین د دنیا د ګټلو وسیله او ذریعه جوړه کړي. یا دا مطلب دی چې صلحاء او زاهدانو او نیکانو خلکو جامه اغوستلو باندې په دغه دیندار ه شکل سره خلکو ته دهوکه ورکولو باندې مال ګټي. او یا یې په خوراک سره الوزي. ختل د دغه قسم دهوکې نوم دی. (مرقات ۸/۸۳۹)

یختل الدین بالشبهات: دلته ختل د فساد په معنی دی. یعنې په دین اسلام کې شکوک او شبهات پیدا کولو باندې په دې کې فساد پیدا کوي. او په دغه توګه باندې مال ګټي. عبد طمع: ملاعلی قاري فرمایي که د عبد اضافت د طمع اړخ ته وکړی شي نو د دې جملې ترجمه به آسانه شي. یعنې د لالچ او طمع بنده دی. یَقُودُهُ: د اضافت په صورت کې به د یقوده جمله د طمع صفت شي او مطلب به دا شي چې دا داسې طمع او لالچ دی چې چېرته دا لالچې سړی بوتلل غواړي، هلته به یې بوځي.

هوی: د نفس خواهش ته وايي. د اضافت په صورت کې د عبد اضافت هوی اړخ ته دی. او د یضله هوی صفت دی ای **عَبْدُ طَمَعٍ وَعَبْدُ هَوًى**. په دواړو جملو کې مبالغه ده چې دا بنده د سختې طمع او سخت خواهش نفس د وجې نه ګویا خپله مجموعه طمع او مجموعه هوی جوړه شوه. مطلب دا دی چې طمع او لالچ دا سړی دنیادارو ته راکاږي. او د هغوی په دروازو کې یې ګرځوي. **عبد رغب یذله:** رغب: حرص او لالچ ته وايي. یعنې د مرغوباتو غلام دی چې هغې دا ذلیل او خوار جوړ کړیدی. (مرقات ۸/۸۴۰)

الفصل الثالث

غصه تیرول ډیر افضل عمل دی

﴿۱۳﴾عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَجَرَّعَ عَبْدٌ
حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بنده د هیڅ څه هم داسې تریخ ګوټ نه څکي
أَفْضَلَ عِنْدَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ يَكْظِمُهَا ابتغاء وَجه الله تَعَالَى» . رَوَاهُ أَحْمد[1]
چې هغه د خدای په نزد باندې د غصې د ګوټ څکلو نه غوره وي چې هغه یې فقط د الله تعالی د رضا لپاره څکي. (احمد)

توضیح: **جرعة:** د اوبو ګوټ ته جرعة وايي. **غیظ:** قهر او غضب ته وايي. د قرآن آیت دی: ﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾ سینه چې کله تر خلې پورې د غصې نه ډکه وي. او سړی صبر وکړي نو دیته کظم وايي. علماؤ یوه قصه بیان کړیده چې د یو غلام نه څه کار خراب شو. نو مالک یې ډیر په قهر شو. غلام دا آیت ولوستلو: ﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ﴾ مالک جواب ورکړو: کظمت. غلام وویل: ﴿وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾ نو مالک وویل: قد عفوتك

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۱ رقم الحدیث ۴۱۸۹، واحمد في المسند ۲/۱۲۸.

غلام ولوستل: ﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ مالک جواب ورکړو: ما ته آزاد کړې. د صحابؤ د دور واقعه ده.
ويل کيږي چې شيخ عبدالقادر لپاره يو چا د چين نه د ډالۍ په توګه باندې يو ډيره ښايسته آئينه راوړې وه. شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله وينزې هغه پاکوله. چې ناڅاپه آئينه ګوزار شوه او ماته شوه. وينزه ويريدله او راغله او د فارسي يو مصرعه يې وويله:

از قضا آئينه چيني شکست

يعني د تقدير الهي د وجې نه د چين نه راوړلې شوې شيشه ماته شوه.
شيخ سمدستي دويمه مصرعه جوړه کړه او جواب يې ورکړو:

خوب شد اسباب خود بيني شکست

يعني ډير ښه وشول چې د ځان کتې او ځان خوښۍ اسباب مات شول.
د دې حديث نه وروسته د ورسره حديث تشريح هم د غه شان ده.

﴿۱۴﴾	وَعَنِ	ابْنِ	عَبَّاسٍ	فِي	قَوْلِهِ	تَعَالَى:	(ادْفَعْ بِالَّتِي	هِيَ أَحسن)
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه د الله تعالى د دې ارشاد ﴿ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ ته بدې د نيکۍ په ذريعه سره								
قَالَ:	الصَّبْرُ	عِنْدَ	الْغَضَبِ	وَالْعَفْوُ	عِنْدَ	الْإِسَاءَةِ		
ليري کوه. په تفسير کې فرمايي: چې د قهر په وخت کې صبر کول او د بدۍ په وخت کې عفو او درګزر								
فَإِذَا	فَعَلُوا	عَصَمَهُمُ	اللهُ					
کول، د الله تعالى د دې ارشاد مراد دی. لهذا کله چې خلک صبر او عفو کوي نو الله تعالى هغوی د نفس								
وَخَضَعَ	لَهُمْ	عَدُوُّهُمْ	كَأَنَّهُ					
او د مخلوقات د آفتونو نه محفوظ ساتي. او د هغوی دښمنان داسې ذليله شي لکه چې هغه (دښمن								
وَلِيٌّ	حَمِيمٌ	قَرِيبٌ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ	تَعْلِيقًا[1]			
نه وي بلکې) ډير نژدې دوست وي. دا روايت بخاري په طريقې د تعليق سره نقل کړيدی.								

غصه ايمان خرابوي

﴿۱۵﴾	وَعَنْ	بَهْزِ	بْنِ	حَكِيمٍ	عَنْ	أَبِيهِ	عَنْ	جَدِّهِ	قَالَ:
او حضرت بهز بن حکيم د خپل پلار نه او هغه د بهز د نيکه نه (حضرت معاويه ابن حيدة القشيری) نه									

---

(۱) أخرجه البخاري تعليق من حديث طويل ۸/۵۵۵ سورة السجدة.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصبرُ الْعَسَلَ»[1]

روایت کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: غصه ایمان داسې خرابوي لکه ایلوا چې شهد خرابوي.

توضیح: الصبر: صبر د یو شیره نوم دی. چې هغې ته ایلوا ویل کیږي. سخت تریخ دی. د دې په څو قطرو سره شهد خرابیږي. دلته د ایمان د فساد نه مراد د کمال ایمان فساد دی. او دا خطره هم ده چې پوره ایمان لاړ شي. کله کله سړی د پنځه منټه بې صبرۍ او قهر دوجې نه د قتل په شان لویې جرم کولو سره د محبس ذلتونه برداشت کوي. او د آخرت عذاب بیل دی. (مرقات ۸/۸۴۳)

د تکبر بدي او د عاجزۍ فضیلت

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عمر قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ:

او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې (یوه ورځ) هغه په منبر باندې ودریدلو (خطبه یې ویلو کې یې)

يَا أَيُّهَا النَّاسُ تَوَاضَعُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وفرمایل: خلکو! تواضع او عاجزي خپله کړئ ځکه ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې

يَقُولُ: «مَنْ تَوَاضَعَ لِلهِ رَفَعَهُ اللهُ

کوم سړی د الله تعالی د رضا لپاره عاجزي او تواضع خپله کړي نو الله تعالی د هغه مرتبه وچتوي. پس

فَهُوَ فِي نَفْسِهِ صَغِيرٌ وَفِي أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيمٌ وَمَنْ

هغه سړی په خپل نظر کې خو حقیر وي لیکن د خلکو د په نظر کې وچت وي. او کوم سړی چې د خلکو سره

تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِي أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيرٌ وَفِي نَفْسِهِ

غرور او تکبر کوي نو الله تعالی د هغه مرتبه راکوزار کړي. نو هغه د خلکو په نظر کې سپک وي لیکن هغه په خپل نظر

كَبِيرٌ حَتَّى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيرٍ»[2]

کې خپل ځان وچت مرتبې والا ګڼي. تر دې چې هغه د خلکو په نزد باندې د سپي یا خنزیر نه هم بدتر شي.

د قدرت لرلو په وخت کې معاف کولو فضیلت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ مُوسَى بْنُ عِمْرَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: چې حضرت موسی بن عمران عَلَيْهِ السَّلَامُ

---

(1) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۳۱۱ رقم الحديث ۸۲۹۴.

(2) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۲۷۶ رقم الحديث ۸۱۴۰.

يَا	رَبِّ	مَنْ	أَعَزُّ	عِبَادِكَ	عِنْدَكَ؟	قَالَ:
ـ ض وکړو چې ای زما ربه! ستا په بندیګانو کې کوم بنده تا ډیر عزتمند دی؟ رب وفرمایل: هغه بنده						
مَنْ	إِذَا	قَدَرَ	غَفَرَ "(١)			
چې هغه د قادر کیدلو نه وروسته هم عفو او درګزر وکړي.						

د قهر قابو کولو فضیلت

﴿۱۸﴾ وَعَنْ	أَنَسٍ	أَنَّ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ: «مَنْ	خَزَنَ لِسَانَهُ
او د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې خپله ژبه بنده ساتي										
سَتَرَ	اللهُ	عَوْرَتَهُ	وَمَنْ	كَفَّ	غَضَبَهُ					
نو الله تعالی د هغه عیبونه پټوي. او کوم سړی چې خپله غصه قابو وساتي (او د انتقام اخستلو نه ځان ایسار کړي)										
كَفَّ	اللهُ	عَنْهُ	عَذَابَهُ	يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	وَمَنِ				
نو الله تعالی به د قیامت په ورځ باندې هغه د خپل عذاب نه وساتي. او کوم سړی چې د الله تعالی نه معافی										
اعْتَذَرَ	إِلَى	اللهِ	قَبِلَ	اللهُ	عذره»(٢)					
غوختونکې وي نو الله تعالی د هغه معافي قبلوي.										

درې شیان د خلاصي سبب او درې شیان د هلاکت سبب

﴿۱۹﴾ وَعَنْ	أَبِي	هُرَيْرَةَ	أَنَّ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ: " ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درې شیان خلاصی ورکونکې دي										
وَثَلَاثٌ	مُهْلِكَاتٌ	فَأَمَّا	الْمُنْجِيَاتُ:	فَتَقْوَى	اللهِ	فِي	السِّرِّ			
او درې شیان په آخرت کې هلاکونکې دي. کوم شیان چې خلاصی ورکونکې دي، په هغې کې یو خو په پټه										
والعلانيةِ	والقولُ	بالحقِّ	فِي	الرضى	وَالسُّخْطِ	وَالْقَصْدُ				
او ښکاره باندې د خدای نه یریدل دي. دویم شی په خوشحالۍ او خفګان کې حق خبره کول دي. دریم										
فِي	الْغِنَى	وَالْفَقْرِ.	وَأَمَّا	الْمُهْلِكَاتُ:						
شی په مالدارۍ او فقیرۍ دواړو حالتونو کې اعتدال خپلول دي. او کوم درې شیان چې هلاکونکې دي.										

---

(١) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٣١٩ رقم الحديث ٨٣٢٧

(٢) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٣١٥ رقم الحديث ٨٣١١

Maktaba Tul Ishaat.com

فَهَوًى	مُتَّبَعٌ	وَشُحٌّ مُطَاعٌ
په هغې کې يو خود نفس خواهش دی چې د هغې تابعداري وکړی شي. دويم شی حرص او بخل دی. انسان چې		
دَ إِعْجَابُ	الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ	وَ هِيَ
د چا غلام جوړ شي. او دريم شی د سړي په خپل ځان باندې غرور کول دي. او دا دريم شی په دې ټولو		
أَشَدُّهُنَّ « رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْخَمْسَةَ فِي شعب الْإِيمَان »[1]		
کې بدترين خصلت دی. ذکر شوي پنځه واړه روايتونه بيهقی په شعب الايمان کې نقل کړيدي.		

توضيح: تقوی الله: يعنې ظاهرًا او باطنًا خپله معامله د رب سره پاکه ساتل تقوی ده.

القول بالحق: يعنې حالات که هرڅنګه وي، واقعات که څنګه هم وي، څوک خوشحاليږي يا څوک خفه کيږي، په ژبه باندې حق خبره کول او حق باندې کلک وسيدل د خلاصی سبب دی.

والقصد: يعنې که سړی مالداره وي او که غريب وي. که هرڅه وي خو هغه د خپل لاس نه اعتدال نه پريږدي. په هر حالت کې د افراط او تفريط نه پاک وسيږي. او اسراف او تبذير او اقتار او کنجوسۍ نه ليري وسيږي. دا د باعث نجات خبره ده. (مرقات ۸/۸۴۵)

هوی متبع: يعنې هر وخت د خپل خواهش پوره کولو پسې لګيدلی وي. او د هغې تابعداري کوي. بس خواهش هغه خپل معبود جوړ کړی دی. کوم اړخ ته چې کومه اشاره وکړی کيږي. هغې باندې عمل لپاره تيار وي.

وشح مطاع: يعنې د بخل او کنجوسۍ غلام جوړ شويدی. چې په هغې کې ډيره ممکنه ده چې کوم وخت داسې سړی د زکوة او واجبې حق نه انکار وکړي او هلاک شي. (مرقات ۸/۸۴۵)

اعجاب المرء: يعنې ځان خوښي، کبر او ځان ته په کتلو حيرانيدل او د ځان ستاينه کول، دا داسې ناروغی ده چې دا په انسان کې ننوتلو نه وروسته د وتلو نوم نه اخلي. تردې چې تباه يې کړي. ځکه دې ته د ټولو نه سخت وويلی شول. (مرقات ۸/۸۴۵)

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۵۲ رقم الحديث ۷۲۵۲.

۲۰ ربيع الثاني ۱٤۱۸هـ

باب الظلم

د ظلم بيان

قال الله تعالى: ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴾

الظلم: هو وضع شئ في غير موضعه: يعنې كوم شى د هغې د اصل مقام په ځاې په بل مقام كې كيخودلو نوم ظلم دى. د ظلم د دې تعريف دا مفهوم هر هغه شي ته شامل دى چې په هغې كې تعدى او تجاوز وي، خو د شريعت په رڼا كې د ظلم په تعريف كې دا خيال به ساتل وي چې شرعي اصطلاحي ظلم هغه دى چې په هغې كې د امور شرعيه نه تجاوز كړى شوى وي. په عرف عام كې ظلم د خلكو هغه حقوقو كې تجاوز او زياتې ته ويل كيږي چې دهغې اړيكې د خلكو د مال او ځان او عزت او ناموس سره وي. يعنې د خلكو په مال او ځان او عزت او ناموس كې تجاوز او زياتى كولو نوم ظلم دى. مفسرينو ليكلي دي چې د مخكنو قومونو د واقعاتو نه داسې معلوميږي چې الله تعالى كافر قومونو باندې هغه وخت لاس كيخودلو كله چې دا قومونه د شرك او كفر نه وروسته په ظلم شروع شول. د الله تعالى اعلان دى چې خلكو! ما په خپل ځان باندې ظلم حرام كړيدى او تاسو هم په يو بل باندې ظلم مكوى. په تاسو باندې هم ظلم كول حرام گرځوم. (مرقات ۸/۸۴۶)

الفصل الاول

دقيامت په ورځ باندې به ظلم د تورتم په صورت كې وي

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[۱]
حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ظلم به د قيامت په ورځ د تورتمونو سبب وي. (بخارى ومسلم)

توضيح: الظلم ظلمات: يعنې د ظلم په سزا كې به داسې تورتمونو كې اخته شي چې هغې به دا د ځلورو اړو اړخ نه راګير كړى وي. او د دې ظالم سره به هيڅ رڼا نه وي. د ظلم دا تورتمونه يو ندى بلكې په بيلا بيل شكلونو كې به وي. او دا ظالم به په هغې كې سرګردانه ګرځي. او د مسلمانانو سره به رڼا وي چې د هغې په مرستې سره به هغوي په اسانۍ سره يو خوا او بل خوا تللى شي. د دې حديث نه معلوميږي چې د ظلم د جرم كولو په ضمن كې نور ګناهونه هم كيږي. نو ځكه په قيامت كې يو نه بلكې څو تورتمونه جوړيږي. (مرقات ۸/۸۴۶)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۱۰۰ رقم الحديث ۲۴۴۷، ومسلم في ۴/۱۹۹۶ رقم الحديث (۲۵۷۹-۵۷).

Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوي بیا یې نیسي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِن اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ
او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: بیشکه الله تعالی ظالم ته مهلت
حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يفلته » ثُمَّ قَرَأَ
ورکوي، تردې چې کله هغه ونیسي نو پرېږدي به يې نه. د دېنه وروسته نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت ولوستلو
(وَ كَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَ هِيَ ظَالِمَةٌ) الْآيَةَ. مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
﴿وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ الخ﴾ او د دې آيت آخر الفاظ دا دي ﴿إِنَّ أَخْذَهٗٓ أَلِيْمٌ شَدِيْدٌ﴾ (بخاری و مسلم)

د ثمود ظالم قوم په علاقه باندې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تیریدل

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا مَرَّ بِالْحِجْرِ
او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله په مقام حجر باندې تېر شو
قَالَ : « لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ
نو (صحابؤ ته يې) وفرمايل چې تاسو د دې خلکو کورونو (کنډرو) ته مه ننوځئ چا چې (کفر غوره کولو او خپل ارخ ته د الله
ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ
تعالى رالیږلی شوي پیغمبران دروغژن ګڼلو باندې) خپله په خپل ځان ظلم کړی دی. مګر دا چې تاسو ژړېدونکي
أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ» ثُمَّ
یاست. هسې نه په تاسو باندې هم هغه عذاب نازل شي. کوم چې په هغوی باندې نازل شوی ؤ. د دېنه وروسته
قَنَّعَ رَأْسَهُ وَ أَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى اجتاز الْوَادِي . مُتَّفق عَلَيْهِ[2]
نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په څادر باندې خپل سر پټ کړو او په تیز تیز مزل کولو سره د هغه علاقې نه ووتلو. (بخاری و مسلم)

توضیح: الحجر: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په ۹ هـ کې د جهاد په نیت سره د رومیانو مقابلې لپاره د تبوک ارخ ته تللی ؤ. د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره د صحابؤ د دیرش زره پاک لښکر جرار ؤ. په لاره کې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ تیریدل د قوم ثمود په هغه علاقو باندې وشو چیرته چې په قوم ثمود باندې یو دردناک عذاب راغلی ؤ.

([1])اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۳۵۴ رقم الحديث ۴۶۸۶،ومسلم في ۴/۱۹۹۷ رقم الحديث (۲۵۸۳-۶۱)

([2])اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۱۲۵ رقم الحديث ۴۴۱۹،ومسلم في ۴/۲۲۸۶ رقم الحديث (۲۹۸۰-۳۹).

الحجر: دهغه ځای نوم دی. چیرته چې په قوم ثمود باندې عذاب نازل شوی ؤ، دا یو تاریخي کلی دی. چې هغې ته د وادی القری ویلی کیږي. حجر د مدینې نه څه د ځلور سوه میله باندې د مدینې اړخ ته پروت دی. په دې علاقو کې هغه کانی هم دی چې د هغې نه صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ اوښه راوتلي وه. هغه ځای ته فج الناقة ویل کیږي. او ټولې علاقې ته مدائن صالح هم ویلی کیږي. د د غزوه تبوک په موقع باندې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاره باندې تللی ؤ. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قوم ثمود په علاقو کې د اوبو څکلو نه منع کړې وه. بلکې د هر استعمال نه یې منع کړې وه. نو چا چې په دغه اوبو باندې اوړه اغږلي ؤ، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه اوړو د استعمال نه هغوی منع کړې ؤ، بلکې حکم یې ورکړو چې اوښانو باندې یې وخوره. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ ته وفرمایل چې په دې علاقه کې د عذاب اثرات وس هم دي. نو ځکه په ژړا ژړ د دې علاقو نه تیر شی. (مرقات ۸/۸۴۷)

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله هم په سر باندې څادر راخپور کړو، او په ژړا سره تیر شو. د دېنه معلومه شوه چې چیرته د الله عذاب راځي، دهغې اثرات تر صدو پورې پاتې وي. د ثمودیانو هلاکت څو زره کاله پخوانی ؤ. خو اثرات یې وس هم ؤ. نن سبا په پاکستان کې په اتم اکتوبر ۲۰۰۵ء کې یو تباه کونکې زلزله راغله. دغه هم د عذاب الهی نه څوک نشي ایستلی. دا هم عذاب الهی دی. چې دهغې اثرات په علاقو او انسانانو باندې بلکې په هغه دبدنونو باندې هم دی، چې په هغوې باندې په دې زلزله کې زخم (ټپ) لګیدلی دی. وس دهغې لپاره اجتماعي توبې او استغفار ضرورت دی. دې عذاب ته په کتلو سره زمونږ مسلمانانو لپاره پکار دي چې سحر او ماښام، هفته وار (هره اونۍ) اجتماعي دعاء سره اجتماعي توبه او استغفار وکړي او ګناهونو او این جی اوز او دهغوی د مرستې نه ځان وساتي. څو ورځې وروسته په یو سفر باندې به زه سعودي عرب ته ځم. د ۳۰ ورځو آزاده ویزه ده. که الله تعالی وغوښتله نو زه به د تبوک سفر کوم. او د مدائن صالح معاینه به کوم.

الحمد لله زه په دغه سفر باندې لاړم. مدائن صالح کې په مقام العلاء کې شپه تیره کړه. او سحر مدائن صالح. وادي ثمود او الحجر علاقو ته تلل وشو. او ما د الله تبارک وتعالی قدرتونه وکتل او د الله تعالی د عظمتونو مشاهده مې وکړه. په تباه شوؤ علاقو کې د عذاب اثرات په مخونو باندې مې محسوس کړل او بیا په غسل کولو سره دا اثرات ختم شول. هغه کانی مې ولیدلو چې دهغې نه د صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ اوښه راوتلي وه. او بیا مې هغه ځای وکتلو چیرته چې دغه اوښه دې ظالمانو وژلي وه. د قوم ثمود سنګ تراش کورونه او مانۍ مې وکتلې. او د قرآن عظیم د صداقت غټ غټ نښانونه مې ولیدل. په بیرته راتګ باندې د دې سفر سره متعلق ما یو کتابچه ولیکله، چې په هغې کې ما د دغه علاقو ناشنا حالات، او ناشنا واقعات ولیکل. د دې کتاب نوم دی: قوم ثمود څنګه تباه شو؟

Maktaba Tul Ishaat.com

د قیامت په ورځ باندې به د ظالم نه د ظلم بدله څنګه اخستلی کیږي؟

﴿۴﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: څوک چې د کوم مسلمان تې

لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ

ساتي او هغه حق که (غيبت او بدې کولو او روحانې او جسماني تکليف وغيره په صورت کې) د بې عزته کولو وي يا د بل کوم شي

أَوْ شَيْءٍ مِنْهُ الْيَوْمَ

سره متعلق وي. نو هغه لپاره پکار دي چې هغه د غه حق نن (يعني په دې دنيا کې) ورباندې معاف کړي. د دينه

قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ

مخکې چې هغه ورځ راشي (يعني د قيامت ورځ چې په هغې کې) هغه خو به نه درهم لري، نه دينار (چې هغه د غه د

وَلَا دِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ

بدلې په توګه باندې ورکړی شي) که (هغه خپل حق معاف کړو نو ښه ده ګنې بيا) د ظالم د اعمال نامه

عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلِمَتِهِ

کې چې څه نيکۍ وي نو د هغې نه به د هغې د ظلم برابر يا واجب حق په اندازه نيکۍ اخستلی کيږي. او

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ

(مظلوم يا حقدار ته به ورکړی شي) او که هغه هيڅ هم نيکۍ نه لري نو په دې صورت کې به د غه مظلوم

أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ(۱)

يا حقدار د ګناهونو نه (د هغې د حق په اندازه) ګناه راوړل شي او په ظالم باندې به بار کړی شي. (بخاري)

توضیح: مظلمة: که د کوم ظالم په ذمه باندې د کوم مظلوم څه حق پاتې وي چې هغه د ه په مظلوم باندې په صورت د ظلم کې کړی وي. (مرقات ۸/۸۵۰)

من عرضه: يعني د دغه حق تعلق که د مظلوم د عزت او عظمت سره وي، يا د کومې بلې وجې سره وي چې هغه ته يې کنځل کړي وي يا د قول او فعل په ذريعه سره هغې ته يې تکليف رسولی وي. (مرقات ۸/۸۵۰)

اوشئ: يعني د چا مال يې په زور اخستلی وي يا يې غلا کړی وي يا يې لاندې کړی وي.

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۱۰۱ رقم الحديث ۲۴۴۹، واحمد في المسند ۲/۲۰۶.

فليتحلله:نو د هغه نه دې معافي غوختلو باندې د قيامت نه مخکې دې هر قسم حق معاف کړي. که مالي معامله ده نو معاوضه (بدله) دې ادا کړي ګنې د قيامت په ورځ به نه دينار وي او نه درهم. هلته به دا مظلوم د دې ظالم نيکۍ وصولوي. که نيکۍ ختمې شوې لکه څنګه چې وروسته حديث کې بيان شويدي. (مرقات ۸/۸۵۰)

د قيامت د ټولو نه غټ فقير

﴿۵﴾وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَتَدْرُونَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې (يوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تاسو پوهيږئ

مَا الْمُفْلِسُ؟» قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ

مفلس څوک دی؟ ځينو صحابؤ جواب وکړو چې په مونږ کې مفلس هغه سړی دی چې د هغه سره نه خو درهم وي

لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ. فَقَالَ: «إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي

او نه دينار وي او نه سامان او اسباب. نو نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زما په امت مرحومه کې مفلس سړی په حقيقت کې هغه دی

مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ

چې هغه د قيامت په ورځ باندې په ميدان حشر کې (دنيا نه) لمونځ، روژه او زکوة به راوړي، خو حال به دا

وَيَأْتِي وَقَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا. وَأَكَلَ مَالَ هَذَا. وَسَفَكَ دَمَ هَذَا

وي چې هغه به چا ته کنځل کړي وي، په چا باندې به يې تهمت لګولی وي، څوک به يې په ناحقه باندې

وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ

وهلی وي. نو د هغه د نيکيو نه (اول) يو مظلوم او صاحب حق ته (د هغه د حق په اندازه باندې) نيکۍ ورکړې کيږي.

فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يَقْضِيَ مَا عَلَيْهِ

تردې چې د هغه د دې ګناهونو د فيصله کيدلو نه مخکې که د هغه ټولې نيکۍ ختمې شوې نو دې

أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ

حقدارو او مظلومانو ګناهونه (چې هغه دوی په دنيا کې کړي وي) د هغوی نه به اخستلو سره په

ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِم[1]

دغه سړي باندې به بار کړی شي. او بيا به هغه دوزخ ته ګوزار کړی شي.

---

[1]أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۹۹۷ رقم الحديث (۲۵۸۱-۵۹) والترمذي في ۴/۵۲۹ رقم الحديث ۲۴۱۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: المفلس: د دنيا په عرف کې خو د مفلس هم هغه پیژندنه ده کوم چې صحابه کرام د نبی کریم ﷺ د پوښتنې په جواب کې وویله. لیکن د شارع په نظر کې اصل او حقیقي مفلس هغه دی کوم چې میدان حشر کې په آخرت کې مفلس وي. ځکه چې د هغه د کټي امکان ختم شي. نو ځکه نبی ﷺ د هغې بیان وکړو.

فطرحت علیه: یعني کله چې په خلکو باندې د ظلمونو په مقابله کې د ظالم نیکۍ ختمي شي نو بیا د خلکو بدۍ ګناه به په ظالم باندې واچولی شي.

طرحت: د الفاظو نه معلومه شوه چې د قیامت په ورځ باندې به اعمال متجسد وي. او د اچولو قابل به وي. د دې خو یو صورت دا هم کیدلی شي چې دا اعمال به د قیامت په ورځ باندې کاغذونو او رجسټرونو په شکل کې وي.

دویم صورت دا هم ممکن دی چې الله تعالی هر عمل لره د قیامت په ورځ باندې یو جسم ورکړي. نو بیا تلل یا چا باندې اچول به ممکن شي. دریم صورت دا هم کیدلی شي چې دهغه ځای تله (میزان) به د دنیا د کوړي د تللو په شان نه وي. په دې سره به اعراض هم تلل کیدلی شي. هسې د اعراضو د تللو اعتراض به په یو زمانه کې کیدلو. نن سبا خو په جدیدی ټیکنالوجې سره اعراض په آسانۍ سره تللی کیږي. د هوایې جهاز وچتیدل او کیناستل عرض دی. تللی کیږي. د موسم حرارت او باد (هوا) تللی کیږي. د کتلو او اوریدلو طاقت تللی کیږي. وس خو دا اعتراض چې اعراض او کیفیات څنګه تللی کیږي. مهمل شان پاتي شویدی.

ثم طرح في النار: معلومه شوه، حقوق العباد د بنده د معاف کولو نه بغیر نه معاف کیږي. دوزخ به ته تلل وي. هو! که الله تعالی مظلوم ته په بدله کې عطایا ورکړي او هغه راضي کړي. نو بیا ممکنه ده. بهرحال دوزخ ته به دا سړی د نورو د ګناهونو د وجې نه بلکې په حقیقت کې دا ظلمونه او حقوق د ده خپل کړي جرمونه دي. چې د هغې په وجه باندې دوزخ ته لاړو. لهذا دا حدیث د قرآن آیت ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ سره متصادم او متعارض نه دی.

په آخرت کې به د هر ظالم نه حساب اخستلی کیږي

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقُ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به حقدارو ته
حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ
دهغوی حقوق ورکولی کیږي، تر دې چې د بې خکرو بیزې قصاص به د خکرورې بیزې نه اخستلی کیږي. (مسلم)

وَذَكَرَ حَدِيثَ جَابِرٍ: «اتَّقُوا الظُّلمَ». فِي «بَابِ الإِنفَاقِ»[1]

او د حضرت جابر رضي الله عنه روايت «اتقوا الظلم» په باب الانفاق کې ذکر شويدی.

توضيح: الجلحاء: يعني بغير د خکرو والا مظلومه بيزې لپاره به د خکروري ظالمې بيزې نه قصاص او بدله اخستلی کيږي. مطلب دا دی چې کوم ځناور په بل ځناور باندې په دنيا کې ظلم او زياتی او تجاوز او تيری کړی وي. د هغه ظالم نه به بدله اخستلی کيږي. يعنې د الله تعالى د عدل او انصاف به دومره ظهور وشي چې د انسانانو نه علاوه به په ځناورو کې هم د عدل ظهور وشي. حالانکې ځناور غير مکلّف دي.

اوس پوښتنه دا ده چې ځناور خو غير مکلّف دي. د هغوې نه د قصاص او بدلې اخستلو څه مطلب دی؟ د دې جواب دا دی چې الله تعالى ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾ دی ﴿لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ﴾ (الانبياء: ۲۳) په صفت عالي باندې متصف دی. هغه که هر چيرته بدله واخلي يا د چا نه هم بدله واخلي، هغه مختار على الاطلاق دی. د ځناورو په معامله کې که انسان په حيوان باندې ظلم کړی وي. د هغه نه به هم قصاص اخستلی کيږي. او بيا د ځناورو په اړه به وفرمايې: ﴿كُونُوا تُرَابًا﴾ ټول خاوري شی. نو ټول به خاوري شي. په دغه وخت کې به کافر ووايې: ﴿يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴾ ای کاش زه هم خاوری شوی وی.

دويم جواب دا دی چې په حديث کې د خکروي بيزې نه مراد ظالم انسان مراد دی. او د بې خکرو بيزې نه مظلوم انسان مراد دی. او دغه شان محاوره هم جاري ده. نو په دې حديث کې دا واضحه شويده چې د قيامت په ورځ باندې به د ذرې ذرې حساب وي. د ظالم نه به د مظلوم پوره پوره حساب اخستلی کيږي. فرض کړه که غير مکلف ځناور هم ظالم جوړ شو، د هغه نه به هم بدله اخستلی کيږي. نو ای انسان ته د حساب نه چيرته بچ کيدلی شې؟

جلحاء: دا هغه ځناور دی چې د دې د خکرو نه د پيدائښ نه نه وي.

القرنا: دا هغه ځناور وي چې د هغې غټ غټ خکرونه وي. (مرقات ۸/۸۵۲)

الفصل الثاني

امّعة مه جوړيږه، د بدی بدله بدې نه ده

﴿۷﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَكُونُوا إِمَّعَةً تَقُولُونَ:

حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ته امعه مه جوړيږه يعنې دا مه وايه که

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۹۷ رقم الحديث (۲۵۸۲/۶۰) والترمذي في السنن ۴/۵۳۰ رقم الحديث ۲۴۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

ظَلَمُوا	وَإِنْ	أَحْسَنَّا	النَّاسُ	أَحْسَنَ	إِنْ
خلک زمونږ سره ښيګړه کوي نو مونږ به هم د هغوی سره ښيګړه کوؤ. او که خلک زمونږ سره ظلم کوي					
النَّاسُ	أَحْسَنَ	إِنْ	أَنْفُسَكُمْ	وَطِّنُوا	وَلَكِنْ ظَلَمْنَا
نو مونږ به هم د هغوی سره ظلم کوؤ. بلکې تاسو خپل ځان په دې امر باندې قائم وساتئ. که خلک ښيګړه کوي					
أَنْ تُحْسِنُوا وإِن أساؤوا فَلَا تظلموا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ. وَيصح وَقفه على ابْن مَسْعُود[1]					
نو تاسو هم ښيګړه کوئ. او که خلک بدې کوي نو تاسو ظلم مکوئ. دا روايت ترمذی نقل کړيدی.					

توضيح: امّعة: امعه هغه سړې ته وايې چې هغه خپله هيڅ رايه نه لري. بلکې د سوچ او پوهې نه بغير په دې وينا سره ګرځي : **انا مع فلان.** د بلني نه بغير خوارو ته د نورو په تابعداری کې ځي. **انا مع فلان:** خپل هيڅ څه مقام نلري. دنورو په وينا باندې دنورو د رايې تابع کيدلو باندې وخت تيروي. د امعه څه تفصيل توضيحات څلورم جلد **باب الامارة** کې تير شويدی. دلته په حديث کې د امعه نه هغه سړی مراد دی چې هغه وايې چې زما سره خلکو څنګه ښويې وساتلو . زه به د هغوې سره هم هغه ښويې کوم. که خلک زما سره ښه کوي نو به هم ښه وسيږم. که خلک بد شول نو زه به هم بدې کوم. ګويا دا شعريې په لاس کې نيولی ولاړ دی:

فمن شآء تقويمي فاني مقوم ومن شآء تعويجي فان معوج

نبی ﷺ وفرمايل چې دغه شان امعه مه جوړيږه. بلکې که خلک احسان وکړي نو ته احسان وکړه او که خلک د بدی معامله وکړي نو ته ښيګړې او د احسان معامله وکړه او «**تخلقوا باخلاق الله**» نمونه جوړ شه.

فلاتظلموا: د دې جملې ترجمه دا ده چې د خلکو په بدی باندې تاسو ظلم مکوئ. بيا د دې جملې يو مطلب دا دی چې د بدې کونکو سره په اعتدال کې او سيدلو سره بدله واخلئ. خو ظلم او زياتی مه کوئ. دا د ادنی مؤمن درجه ښودلی شويده. دويم مطلب دا دی چې د بدې کونکو سره فقط د بدې کولو سوچ مکوه بلکې د معاف کولو خيال هم وساته. دا دويمې درجې د متوسط مؤمن درجه ويلی شويده.

دريم مطلب دادی چې د بدې کونکې سره ښه وکړه. دا د اعلی مؤمن درجه ښودلی شوې ده. نو **فلاتظلموا** په جمله کې ګويا د درې قِسمه مسلمانانو درې درجې ذکر شوې دي. ادنی، متوسط او د اعلی درجې مؤمن. (مرقات ۸/۸۵۲)

---

(۱)اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۰ رقم الحديث ۲۰۰۷.

د حضرت معاویه رضي الله عنه په نوم باندې د حضرت عائشې رضي الله عنها خط

﴿۸﴾وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنِ
او د حضرت امير معاويه رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها ته خط وليکلو چې ته
اكْتُبِي إِلَيَّ كِتَابًا تُوصِينِي فِيهِ وَلَا تُكْثِرِي. فَكَتَبَتْ:
ماته يو نصيحت ليکلی را وليږه. او هغه نصيحت چې اوږد نه وي. نو حضرت عائشه رضي الله عنها دا کلمات ليکلي را وليږل په
سَلَامٌ عَلَيْكَ أَمَّا بَعْدُ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنِ الْتَمَسَ رِضَى اللهِ
تا باندې دې سلامتي وي! وروسته د دينه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي چې کوم سړی د الله تعالی رضامندي
بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ
او خوشحالي په نظر کې ساتي او د خلکو د خفګان او ناراضګۍ نه بې پرواه وي، نو الله تعالی د خلکو د مينې د اړخ
وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَى النَّاسِ بِسَخَطِ اللهِ
نه هغه لپاره کافي کيږي. او کوم سړی چې د خلکو رضامندي په نظر کې ساتي او د الله تعالی خفګان او ناراضګۍ.
وَكَلَهُ اللهُ إِلَى النَّاسِ» وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
نه بې پرواه وي، نو الله تعالی هغه خلکو ته سپاري. او سلامتيا دې وي په تا باندې. (ترمذی)

توضيح: ولا تکثري: يعني اوږد مضمون او اوږده الفاظ نه وي. بلکې مختصر او جامع نصيحت وليکه.

سخط الناس: يعني د خلکو ناراضګي او خفګان يې قبول کړو ليکن الله تعالی يې راضي وساتلو.

مؤنة الناس: يعني د خلکو محنت او مشقت او ضرورتونو لپاره به الله تعالی کافي شي. (مرقات ۸/۸۵۵)

وکله الی الناس: يعني کوم سړی چې خدای پريخودلو باندې د خلکو د راضي کولو کوښښ کوي، الله تعالی به هغه سړی خلکو ته وسپاري. يعنې به خلک د هغه مونږ وباسي. (مرقات ۸/۸۵۵)

الفصل الثالث

د لفظ ظلم مفهوم او مطلب

﴿۹﴾عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ)
حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې کله دا آيت ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ نازل شو نو په

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۷ رقم الحديث ۲۴۱۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ:
دې سره د رسول الله ﷺ صحابو ته غټ بوج محسوس شو. نو هغوی عرض وکړو چې یا رسول الله!
أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
په مونږ کې داسې کوم سړی دی چې هغه په خپل نفس باندې ظلم نه وي کړی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا
"لَيْسَ ذَاكَ إِنَّمَا هُوَ الشِّرْكُ
خبره نده (یعني د ظلم نه مراد هغه ندی کوم چې تاسو ګڼې یعني مطلق ګناه) بلکې د ظلم نه شرک مراد دی.
أَلَمْ تَسْمَعُوا قَوْلَ لُقْمَانَ لِابْنِهِ: (يَا بُنَيَّ
آیا تاسو د لقمان هغه نصیحت ندی اوریدلی کوم چې هغه خپل (مؤمن) ځوي ته کړی وُ. (او هغه دا چې) ای زما ځویه!
لَا تُشْرِكْ بِاللهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ)؟ فِي رِوَايَةٍ:
د خدای سره څوک مه شریکوه ځکه شرک یقیناً ډیر غټ ظلم دی. او په یو روایت کې دا الفاظ راغلي دي چې
«لَيْسَ هُوَ كَمَا تَظُنُّونَ إِنَّمَا هُوَ
(نبي ﷺ وفرمایل) ظلم نه مراد هغه ندی، د کوم چې تاسو ګمان کړیدی. بلکې د دینه مراد هغه دی
كَمَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
کوم چې لقمان خپل ځوي ته کړی وُ. (بخاري ومسلم)

توضیح: ﴿وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾(انعام: ۸۲) **شق ذلك:** یعني دا آیت چې کله نازل شو نو د دې مطلب په صحابه کرامو باندې ډیر ګران شو. ځکه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم دا خیال وکړو چې د ظلم د لفظ نه ګناه مراد ده. او دا خبره ظاهره ده چې د انبیاء کرامو نه علاوه د ګناه نه څوک پاکیدلی شي؟ نو ځکه هغوی پوښتنه وکړه چې: **اینا لم یظلم:** دا د هغوی د پریشانۍ ډیر غټ اظهار وُ. نبي کریم ﷺ د هغوی په جواب کې وفرمایل چې د ظلم نه مراد د کامل درجې ظلم دی. چې هغه شرک دی. ځکه چې د سورت لقمان په یو آیت کې دي: ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾(لقمان: ۱۳) دلته د دې ظلم نه عام ګناه مراد نه ده بلکې یو خاص قسم ګناه مراد ده چې شرک دی. مطلب دا چې کومو خلکو ایمان د کفر سره ګډ کړی نه دی، یعني داسې منافق نه وُ چې د هغه په ژبه باندې خو دې ایمان وي او په زړه کې یې شرک پروت وي.

([1])أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۲۹۴ رقم الحديث ۴۶۲۹،وأخرجه مسلم في ۱/۱۱۴ رقم الحديث(۱۲۴-۹۷)

بدترين سړی هغه دی چې هغه د نورو په دنيا باندې خپل آخرت تباه کړي

﴿۱۰﴾وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً
او د حضرت ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ باندې
عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]
د مرتبې په اعتبار سره بدترين سړی به هغه وي چې هغه د دنيا په وجه باندې آخرت تباه کړي. (ابن ماجه)

توضيح: بدنيا غيره: مطلب دا دی چې که يو سړی د خپلې دنياوې فائدې او مقصد لپاره خپل آخرت تباه کړي نو دا هم سخت جرم دی. ليکن دا جرم هغه وخت نور هم سخت شي چې کله د بل لپاره دنيا گټل وي. مثلاً: يو سړی د ځان د فائدې لپاره نه بلکې د نورو د فائدې لپاره په چا باندې ظلم شروع کړي. او په هغې کې استعماليږي. لکه څنګه چې په دولتي او غير دولتي (سرکارې او غير سرکارې) ادارو کې ډير خلک د نورو د خوشحالولو لپاره په عامو خلکو باندې ظلم کوي. دا د غير لپاره دنيا جوړولو باندې خپل آخرت بربادول دي. لکه څنګه چې نن سبا پرويز مشرف امريکه خوشحالولو لپاره خپل مسلمانان د ظلم نښانه جوړوي.

د قيامت په ورځ به درې قسمه ديوانې کيسونه وي

﴿۱۱﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الدَّوَاوِينُ ثَلَاثَةٌ:
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: دفتر يعنې اعمال نامې به درې قسمه وي.
دِيوَانٌ لَا يَغْفِرُهُ اللهُ: الْإِشْرَاكُ بِاللهِ.
يو خو هغه اعمالنامه ده چې هغه الله تعالى نه بښي. او دا هغه اعمالنامه ده چې په هغې کې د الله تعالى سره شريک جوړ
يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ (إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ)وَدِيوَانٌ
کړی شوی وي. نو الله تعالى فرمايي چې خدای شرک نه بښي. دويمه اعمال نامه هغه ده چې هغه به
لَا يَتْرُكُهُ اللهُ: ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيمَا بَيْنَهُمْ
الله تعالى هم داسې نه پريږدي. او دا هغه اعمال نامه ده چې په هغې کې د بندګانو خپل مينځې ظلمونه ليکلی شويدي.
حَتَّى يَقْتَصَّ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ وَدِيوَانٌ لَا يَعْبَأُ اللهُ بِهِ
نو هغوې به د يو بل نه بدله واخلي. او دريمه اعمال نامه هغه ده چې د هغې به الله تعالى ته پرواه نه وي.

[1] اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۱۲ رقم الحديث ۳۹۶۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ظُلْمُ	الْعِبَادِ	فِيمَا	بَيْنَهُم	وبينَ	الله
او هغه اعمال نامه هغه ده چې په هغې کې بنده ګانو د الله تعالی سره ظلم کړي وي. يعنې د هغوی د طرف نه په حقوق الله					
فَذَاكَ	إِلَى	الله	فَذَاكَ	إِلَى	الله:
کې تقصير او کمې کيدل ليکلی شوی وي. نو دا اعمال نامه به د الله تعالی په خوښې پورې موقوف وي.					
إِنْ	شَاءَ		عَذَّبَهُ		وَإِن
که وغواړي نو هغه به بنده ته د هغه د عمل مطابق سزا ورکړي او که وغواړي د هغه سره درګزر او د معافی					
شَاءَ	تَجَاوز	عَنهُ "[1]			
معامله وکړي. او هغه ته سزا ورنکړي.					

توضيح: دواوين: دا د ديوان جمع ده. ديوان دفتر ته وايي. مطلب دا دی چې د قيامت په ورځ به د خلکو فيصلې په درې قسمه دفترونه به وي. دا ديوانې کيسونه به درې بيل بيل پړاونو کې چليږي. دا دفترونه او پړاونه او مرحلې په په حقيقت کې د خلکو اعمال نامې وي. نو د بيلا بيلو خلکو به بيلا بيلې اعمال نامې وي. چې د هغې به په جدا جدا ځايونو کې فيصلې وي. اولنی دفتر د شرک دی. چې هلته به ټول د شرک ريکارډ جمع وي. دا به الله تعالی نه معاف کوي. دا خلک به دوزخ ته ځي. دويم د حقوق العباد دفتر دی. چيرته چې به په يو بل باندې د ظلمونو ريکارډ او اعمال نامې وي. دا خلک به تر هغه وخته الله تعالی نه معاف کوي ترڅو چې د دې خلکو پورا پورا بدله يو بل ته ورنکړی شي. هو! که په دوې کې مظلوم د قيامت په ورځ باندې الله تعالی د خپل اړخ نه راضي کړي او هغه ته د خپل اړخ نه انعام ورکړي او هغه ظالم معاف کړي نو داسې کيدلی شي.

دريم دفتر د حقوق الله دی. چيرته چې د انسانانو د عملونو هغه اعمال نامې وي چې د هغې تعلق به د حقوق الله سره وي. چې دې انسانانو په حقوق الله کې کمی کړی دی: د دې حکم او عام فصله به داسې وي که الله تعالی يې معاف کول وغواړي نو معاف به يې کړي او که سزا ورکول وغواړي نو سزا به ورکړي. (مرقات ۸/۸۵۷) ﴿إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (النساء: ۱۱۴)

مظلوم د بددعاء نه ځان وساته

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِيَّاكَ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُومِ
او حضرت علی رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: خپل ځان د مظلوم د بددعاء نه وساته

---

[1] اخرجه احمد في المسند، ۶/۲۴۰، والبيهقي في شعب الايمان ۶/۵۲ رقم الحديث ۷۴۷۳.

فَإِنَّمَا	يَسْأَلُ	اللهَ	تَعَالَى	حَقَّهُ

(يعني په چا باندې ظلم مکو دچې هغه ستا په حق کې بددعاء وکړي) ځکه چې هغه د الله تعالى نه فقط خپل حق غواړي.

وَإِنَّ	اللهَ	لَا	يَمْنَعُ	ذَا	حق	حَقه»[1]

او الله تعالى د حق خاوند لره د هغه د حق نه ليري نه ساتي (يعني هر حقدار ته د هغه حق خامخا ورکوي)

توضيح: حقه: يعني مظلوم چې کله د الله تعالى مخې ته د ظالم د ظلم فرياد وکړي نو په حقيقت کې دا د الله تعالى نه خپل حق غواړي او الله تعالى د کوم حقدار حق نه ايساروي. ځکه د مظلوم بددعاء سمدستي لګي. او د الله تعالى د اړخ نه د هغې استقبال کيږي. چا ويلي دي:

بترس از آه مظلوماں کہ ھنگام دعا کردن — اجابت از در حق بھر استقبال می آید

يعني د مظلومانو د آه و فرياد نه ځان وساته ځکه چې د هغوې د بددعاء د قبوليت لپاره د آسمان نه استقبال راځي. (مرقات ۸/۸۵۸)

د ظالم مرسته کونکی د اسلام نه خارجيږي

﴿۱۳﴾وَعَن أَوْسِ بن شَرحبيل أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ

او حضرت اوس بن شرحبيل رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه د رسول الله نه دا اوريدلي دي: کوم سړی چې د کوم

مَشَى	مَعَ	ظَالِمٍ	لِيُقَوِّيَهُ	وَهُوَ	يَعْلَمُ

ظالم تقويت او ملاتړ لپاره د هغه سره لاړشي يعني د هغه موافقت او ملاتړ وکړي او هغه په دې پوهيږي چې (د کوم سړی مرسته

أَنَّهُ	ظَالِمٌ	فَقَدْ	خَرَجَ	مِنَ	الْإِسْلَامِ »[2]

او تائيد کوي) هغه يو ظالم انسان دی نو هغه سړی د اسلام نه خارج دی. يعني هغه د کمال ايمان نه محرومه کيږي.

توضيح: **من مشى مع ظالم**: يعني کوم سړي چې د کوم ظالم په ظلم کې د هغه داسې تائيد او مرسته وکړه چې ظالم په خپل ظلم کې مضبوط شو او دا تائيد کونکی پوهيږي چې دا سړی ظالم دی. په دې صورت کې دا تائيد کونکی د اسلام نه خارجيږي. اوس پوښتنه دا ده چې د ګناه کبيره په کولو سره د اهل السنة په نزد باندې څوک د اسلام نه نه خارجيږي. نو دلته **فقد خرج من الاسلام**. څه مطلب دی؟ د دې جواب دا دی چې که د ظالم په مرسته او تائيد کونکې د ظالم دا ظلم حلال ګڼي نو حرام لره حلال ګڼونکی کافر کيږي. لهذا دا سړی د اسلام نه خارج شو. لکه نن سبا چې مسلمانان حکمرانان د

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۳۴۳ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۴۹ رقم الحديث ۷۴۶۴.

(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۲۲ رقم الحديث ۷۶۷۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

امریکه ظلم کې د هغه مرسته کول لازم ګڼي.

دویم جواب دا دی چې: دا حکم تشدیدًا تغلیظًا تهدیدًا او زجرًا او توبیخًا دی. دریم جواب دا دی چې د اسلام نه مراد کامل اسلام دی. نو دا سړی به د کمال اسلام نه ووځي هسې به په اسلام کې څوو ي. (مرقات ۸/۸۵۸)

ظالم د ظلم سیره والی عام وي

﴿۱۲﴾	وَعَنْ	أَبِي	هُرَيْرَةَ	أَنَّهُ	سَمِعَ	رَجُلًا	يَقُولُ:	إِنَّ الظَّالِمَ
او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه د یو سړي نه واوریدل چې ظالم په حقیت کې خپل ځان ته								
لَا	يَضُرُّ	إِلَّا	نَفْسَهُ	فَقَالَ	أَبُو	هُرَيْرَةَ:	بَلَى	وَاللهِ
نقصان رسوي. نو ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دې اوریدلو باندې) وویل: بیشکه (ظالم د خپل ظلم په عمل سره خپل ځان								
حَتَّى	الْحُبَارَى	لَتَمُوتُ	فِي	وَكْرِهَا				
ته نقصان رسوي. خو د هغې سپیره والی نورو باندې هم اثر کوي) تردې چې حباری په خپله ژاله کې د ظلم د								
هُزْلًا	لِظُلْمِ	الظَّالِمِ.	رَوَى	الْبَيْهَقِيُّ	الْأَحَادِيثَ	الْأَرْبَعَةَ	فِي	«شُعَبِ الْإِيمَانِ»[۱]
ظلم په وجه باندې خواریدلو سره مړه شي. څلور واړه روایتونه بیهقی په شعب الایمان کې نقل کړیدي.								

توضیح: حبارٰی: د یو مارغه نوم دی. چې هغې ته په پښتو کې ملاچرګک (اردو کې ورته سرخاب) وایي. دا مارغه د اوبو په لټون کې ډیر ماهر دی. او په سوونو میله لیرې تګ سره اوبه ترلاسه کوي. خو د ظالم د ظلم اثر دومره سپیره دی چې د وچکالۍ د وجې نه ملا چرګک هم په خپله ژاله کې د تَندې نه مړ شي. حالانکې دا مارغه د اوبو په ترلاسه کولو کې بې مثاله ده. حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا کلام د یو سړي په جواب کې وفرمایلو. هغه سړي ویل چې د ظالم د ظلم اثر د هغه تر نفس پورې خاص وي، بل چا ته نقصان نه ورکوي. حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې ولې نقصان نه رسوي؟ وګوره د حباری په شان مارغه د تَندې د وجې نه مړه کیږي. ځکه چې د ظالم د ظلم په وجه باندې باران بند شي. نو ن اوبه ختمې شي. حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاید کوم حدیث اوریدلی وي. چې د هغې مضمون یې بیان کړو. (مرقات ۸/۸۵۹)

---

(۱) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۶/۵۴ رقم الحدیث ۷۶۷۹.

۱۵ جمادی الاول ۱٤۱۸ھ

باب الامر بالمعروف

دامر بالمعروف بیان

نوټ: دامر بالمعروف د بحث مقام د دې لیکلی شوي تاریخ نه مخکې ؤ. خو د اهتمام په وجه باندې دا بحث وروسته ولیکلی شو. اوس د ششماهي امتحان نه وروسته دا لوستلی کیږي. ورسره ورسره لیکل هم جاري دي.

قال الله تعالى: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ (ال عمران: ۱۱۰)

﴿الْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ﴾ دلته په دې عنوان باندې د شارحینو د اړخ نه د ټولو نه اول اعتراض دا راځي چې په قرآن او حدیث کې تقریبًا په هرځاې کې د امر بالمعروف سره د نهی عن المنکر لفظ یو ځاې کړی شویدی. دلته عنوان ترې لو باندې صاحب مشکوة دا لفظ ولې پریخودلی دی؟

جواب: د دې یو جواب دا دی چې معروف ما عرفه الشرع په معنی دی. چې هغه منکر ته هم شامل دی. علامه ابن اثیر په نهایه کې لیکلي دي چې **طاعات الله** او **تقرب الی الله** او **احسان الی الناس** او هر هغه شی چې هغې اړخ ته شرع رابلل کړیدي، یا یې منع کړیده، ټولو ته د معروف لفظ شامل دی.

دویم جواب: دا دی چې احد الضدین دلته ذکر کړی شویدی. او دویم مقابل نهی منکر د سامع د فهم په بنیاد باندې پریخودل شویدی. او دغه شان په فصیح کلام کې کیږي. لکه د الله تعالی ارشاد دی ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ﴾ (نحل: ۸۱) دلته والبرد یې د سامع په فهم باندې پریخی دی. (مرقات ۸/۸٦۰)

دریم جواب: دا دی چې کیدی شي د ځینو ناسخینو او لیکونکو نه په لیکلو کې دا لفظ پاتې شوی وي. او بیا دغه شان رواج شوی وي. دا جواب ډیر واضحه دی. بهر حال دا لفظ د آشنا او پیژندګلو په معنې دی. نو کوم ته چې شریعت معروف ویلي دي. شرعًا هغه معروف دی. او کوم چې شریعت منکر ګرځولی دی، شرعًا هغه منکر دی. وس دا خبره په ذهن کې کینوې چې د امر بالمعروف د لاندې د ادنی نه ادنی نیکې نه واخله تر اعلی نه اعلی نیکې داخله ده. دغه شان د المنکر د لاندې د غټ نه غټه او د وړې نه وړه ګناه داخل ده. په دې کې د تخصیص څه ځاې نشته دی. په امر او نهې کې یو اړخ د شریعت ایجابی اړخ دی. او دویم سلبی اړخ دی. اول ته مامورات او اوامر وایې. او دویم ته نواهې او منهیات وایې. یو اړخ نرم دی، دویم ګرم (تود) دی. څنګه چې په بجلۍ کې یو ګرم تار وي. او یو یخ تار وي. دواړو یو ځاې کولو باندې برق (بجلۍ) رڼا کیږي. دواړو د یو ځاې کولو نه بغیر نه رڼا نه راځي. نه ګرم تار یوازې فائده مند دی. نه یخ فائده مند دی. دواړو کې تلازم دی. امر او د نهې هم دا حیثیت دی. دا د یو بل نه جدا کیدلی نشي. څنګه چې یې ځینې خلک کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس نتیجه دا راووتله چې امر معروف سنن او مستحباتو ته هم شامل دی، او فرائض او واجباتو ته هم شامل دی. او منکر مکروهاتو ته هم شامل دی او حرام قطعی ته شامل دی. دمثال په توګه معروف واخلې چې د لارې نه تکلیف ورکونکی شی لیري کول او د مسلمان ورور سره په ورونې تندي مخ کیدل، دامر معروف یو ادنیٰ درجه ده . او د کلمه شهادت اقرار کول او کافرو ته د توحید دعوت ورکول دامرمعروف یو اعلی درجه ده. یا د مثال په توګه باندې منکر واخلې لکه په ګڅ لاس باندې خوراک کول، ښي لاس باندې پوزه پاکول، ولاړه باندې په چپ لاس او به څکل. څنګه چې د منکر ادنی درجه ده او د دې نه منع کول نهی عن المنکر دی. دغه شان کفر او شرک او بدعت او زندقیت هم د منکر اعلی درجه ده او د دېنه منع کول هم نهی عن المنکر دی. ګویا په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کې یو ابتدایې او ادنی درجه ده. او یو انتهایې او اعلی درجه ده. وس کوم سړی چې معروف یا منکر په کومه درجه کې محنت او کار کوي ، هغه به د هغې مطابق ثواب ترلاسه کوي. که څوک د مکروهاتو نه منع کوي، نو دهغې مناسب ثواب به ورته ورکولی کیږي. او که د کفر نه منع کول کوي نو دهغې مطابق ثواب به ورکول کیږي. دغه شان معامله د معروف هم ده. او د دواړو درجې به جدا جدا وي. ظاهره ده چې څومره غټ کار یې وکړو هغومره غټ مقام به ورکول کیږي. داسې خو به نه وي چې کار خو یې وکړو ورکوټی او د غټ ثواب ورکړل کیدلو د امید په انتظار کې دی، داسې نه کیږي.لا یقاس الملوک بالحدادین. دغه شان کوم سړې چې معروف کار وکړو او دهغې دعوت یې ورکړو لیکن منکر کې هیڅ ونه ویل بلکې هغه یې مکمل توګه باندې پریخودلو نو ده ته به د منکر نه د منع کولو ثواب نه ورکول کیږي. ځکه چې هغه په دې کې کار ونه کړو. نو ثواب به د کوم ځای نه ورکړل کیږي او ولې به ورکړل کیږي؟ څه چې یې وکړل د هغې ثواب به ورکړل کیږي.دغه شان په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کې تلازم دی. وس که یو سړی داعقیده راټینګه کړي چې فقط د معروف حکم به کوم، منکر به خپله ختم شي. او دا سړی په خپلو بیاناتو او مکتوباتو کې خپرونه کوي چې معروف کوی او منکر کې هیڅ ونه ویل. داسې عقیده ساتل غلط دي. ځکه چې دا نوې فلسفه او پیداوار دی. او نوی شریعت دی. ددې لپاره العیاذ باللہ نوی نبی او نوي قوانینو او قواعدو ضرورت دی. ځکه چې د قرآن او حدیث په پخوانې قوانینو کې خو دا دواړه یو ځای ساتلی شویدي. چې په هغې کې تلازم ته اشاره ده. وس که د یو سړې په حکمت عملې سره په یو ځای کې په امر بالمعروف باندې منکر ختم شو . نو دا حکمت عملې د شریعت کوم حکم موقوف یا منسوخ کولی نشي. دغه شان د نهی عن المنکر ضرورت ختمولو لپاره دا فرضې مثال بیانول چې د معروف مثال د رڼا په شان دی، او منکر تورتم دی. کله چې رڼا راشي ، تورتم به خپله ختم شي. دا مفروضه غلطه ده. او ددې جواب دا دی چې قرآن او حدیث متواتر حکمونه په دې مثالونو سره مه ماتوه ﴿فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ﴾ (نحل : ۷۴)

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر تعریف: اوس راځی او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر شرعي اصطلاحي تعریف باندې پوهه شی. دې لپاره چې دا معلومه شي چې لفظ امر او لفظ نهی شرعي مفهوم څه دی. د اصول فقه په ټولو کتابونو مثلا اصول الشاشي، نور الانوار او حسامي وغیره کې د اصول فقه علماؤ امر او د نهی تعریفونه داسې لیکلي دي:

(۱) الامر هو قول القائل لغیره علی سبیل الاستعلاء افعل (اصول الشاشی ونور الانوار)

(۲) الامر امرته اذا کلفته ان یفعل شیئًا . (مفردات القرآن)

(۳) الامر طلب الفعل وموجبه عند المجمهور الالزام والنهی قول القائل لغیره علی سبیل الاستعلاء لاتفعل (حسامی)

د دې ټولو تعریفونو خلاصه دا رووتله چې امر د حُکم په معنی دی. چې په هغې کې غیر ته حکم ورکولی کیږي چې دا کار وکړه او دا به کول وي. په دې کې په رضایې توګه باندې د کار کولو اپیل او درخواست او التماس نه وي بلکې د دوه ټکو په الفاظو کې حکم وي چې دا کار وکړه. که دوه نه کړو نو سزا لپاره تیار شه. او د دې ټولو تعریفونو نه معلومه شوه چې نن سبا تبلیغي حضرات د امر مفهوم د التماس او اپیل او درخواست په مفهوم باندې اخستلی دی. کوي او التماس او ثواب ګڼي. د امر. **فیاعجبا لهم.**

د امر صیغه تقریبًا په ۲۵ معنو کې استعمالیږي. لیکن شریعت چې په خپله شرعي اصطلاح کې کوم مفهوم ورکړی دی هغه هم هغه مفهوم دی کوم چې پاس د اصولو په کتابونو کې لیکلی شویدی. چې په هغې کې د حُکم (آرډر) مفهوم پروت دی. او د امر دا مفهوم خو د قوت نافذه او طاقت تقاضا کوي.

نو د دې وجې نه دنزول قرآن په وخت کې دیارلس کالو پورې الله تعالی مکي دور کې **تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنکر** الفاظ او دا اصطلاح په قرآن کې بیخې ذکر نه کړه. کله چې مسلمانانو او پیغمبر اسلام د مکې نه مدینې ته هجرت وکړو او د اسمان نه د جهاد حکم راغلی. د دینه وروسته الله تعالی په قرآن مجید کې تأمرون بالمعروف او تنهون عن المنکر اصطلاح بیان کړه. تاته به په هیڅ مکي صورت کې دا اصطلاح او دا الفاظ ترلاسه نه شي. دا ټول په مدني سورتونو کې دي. ګویا اسلامې حدود، سزاګاني، تعزیزات او جهاد، اوامر او نواهي دا ټول د یو عنوان امر بالمعروف او نهی عن المنکر بیلا بیل نومونه دي. مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع رحمه الله معارف القرآن جلد ۱۵۰۱۱ باندې لیکي چې اګرکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر په تیرو شوؤ امتونو کې ؤ. چې د هغې تفصیل په قرآن او حدیث کې شته، خو اول خو په هغوې کې د جهاد حکم په

Maktaba Tul Ishaat.com

غټه پیمانه باندې نه ؤ، ځکه د هغوې امر په ژبه او زړه سره کیدلی شو . په امت محمدیه کې د دې دریمه درجه د لاس قوت سره امر معروف هم دی، چې په هغې کې د جهاد ټول قسمونه هم داخل دي. (معارف القرآن: ج۱۱\۱۵۰)

د حضرت مفتي شفیع رحمه الله د دې تشریح نه معلومه شوه چې د امر او نهی په مفهوم کې چې کومه اعلی او وچته درجه ده، هغه جهاد دی. نو د جهاد د حکم راتلو نه وروسته اسلام د امر او نهی اصطلاح خپله کړه. د تفسیرونو نه څو عبارتونه نقل کوم چې معلومه شي چې امر او نهی او جهاد کې څه نسبت دی.

(۱) علامه جصاص رحمه الله په احکام القرآن کې لیکلي دي: **فان الجهاد ضَرْبٌ من الامر بالمعروف والنهی عن المنکر** یعني جهاد مقدس دامر بالمعروف او نهی عن المنکر یو اعلی قسم دی. (ج۳\۱۱۹)

(۲) علامه قرطبی تفسیر قرطبی کې لیکي: **فجعل الله الامر بالمعروف والنهی عن المنکر فرقاً بین المؤمنین والمنافقین فدل علی ان اخص اوصاف المؤمنین الامر بالمعروف والنهی عن المنکر ورأسها الدعاء الی الاسلام والقتال علیه.** (قرطبی: ج۴\۴۷)

(۳) علامه ابن کثیر رحمه الله د کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ لاندې لیکلي: **قال ابو هریرة رضی الله عنه کنتم خیر امة اخرجت للناس تأتون بهم فی السلاسل فی اعناقهم حتی یدخلوا فی الاسلام وقال ابو هریرة رضی الله عنه نحن خیر الناس للناس نسوقهم بالسلاسل الی الاسلام.** (ترمذی: ج۱۱\۳۹)

(۴) علامه روح المعانی د کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ لاندې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه تفسیر په دې توګه نقل کړیدی: **وعن ابن عباس ان المعنی تأمرونهم ان یشهدوا ان لااله الا الله وتقاتلونهم علیها ولا اله الا الله هو اعظم المعروف وتنهون عن المنکر والمنکر هو التکذیب وهو الکر المنکر.** (روح المعانی ج۴\۲۸)

(۵) تفسیر کبیر کې علامه فخر الدین رازی رحمه الله یو پوښتنه کړیده چې امر بالمعروف او نهی او عن المنکر خو په نورو امتونو کې هم ؤ، بیا دا امت خیر الامم ولې وګرځولی شو؟

جواب: **قال القفال رحمه الله تفضیلهم علی الامم انما حصل لاجل انهم یأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر بأکد الوجوه وهو القتال لأن الامر بالمعروف قد یکون بالقلب وباللسان وبالید واقواها ما یکون بالقتال لانه القاء النفس في خطر القتل واعرف المعروف الدین الحق والایمان بالتوحید والنبوة وانکر المنکر الکفر بالله فکان الجهاد في الدین محملا لاعظم المضار لغرض ایصال الشخص الی اعظم المنافع**

فوجب ان يکون الجهاد اعظم العبادات ولما کان الجهاد في شرعنا اقوٰی منه من سائر الشرائع لاجرم صار ذلن موجبًا لفضل هٰذه الامة من سائر الامم. (تفسير الکبير: ج۸/ ۱۹۱، ۱۹۲)

(۶) شاه عبدالقادر رحمه الله د ايت: کُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ لاندې د امر بالمعروف تفسير داسې کړی دی: دا امت د هر امت نه غوره دی. په دې دوه صفتونو کې امر معروف يعنې جهاد او ايمان يعنې د توحيد تقيد (تأکيد) د غومره په بل دين کې نشته دی. (موضح القرآن: ۱۰۳)

شاه عبدالقادر د آيت وَلْتَكُنْ اُمَّةٌ دلاندې امر معروف سره متعلق په دې توګه ليکي: معلومه شوه مسلمانانو کې فرض دي چې يو جماعت قائم وي جهاد کولو لپاره او د دين تقيد ساتلو لپاره، تر دې چې د دين خلاف څوک ونکړي.

پاس ليکلی شوؤ ټولو عبارتونو خلاصه دا راووتله چې د امر په شرعي اصطلاحي مفهوم کې دعوت سره د جهاد مفهوم پروت دی. چې هغه د امر اصل او بنيادي مفهوم دی. او د دې جهاد د وجې نه دا امت خير الامم جوړ شويدی. لهذا د امر د امفهوم نه جهاد خارج کيدلی نشي. بلکې د جهاد نه بغير د امر مفهوم مکمل کيدلی نشي. د تبليغي جماعت خلک خو يا خپله دهوکه کې پراته دي يا نورو ته دهوکه ورکوي.

دامر بالمعروف حکم: دامر بالمعروف حکم د فرض کفايه په درجه کې دی که د مسلمانانو يو جماعت دا کار کوي نو د پاتې مسلمانانو ذمه به ساقط شي. هو که يو سړي ته د کوم خاص منکر علم وي او نورو ته نه وي، او هغه سړی د دې منکر په ختمولو باندې هم قادر وي نو ده ته د غه وخت امر بالمعروف کول د هغه لپاره به فرض عين شي د غه شان امر بالمعروف هغه وخت هم فرض عين کيږي کله چې څوک يو سړی د بدۍ نه منع کړي، هغه سړی د منع کيدلو نه مکمل انکار وکړي. وس نيغ په نيغه باندې د دې منکر نهې په سړي باندې به فرض شي. د امر بالمعروف په باب کې په هر سړي باندې دوه شيان لازم او واجب دي. اول شی د امر معروف او نهی منکر کول واجب دي. او دويم شی خپله په هغې باندې عمل واجب دي. که کوم سړی خپله عمل نه کوي نو دا ډير غټ جرم دی. ليکن د دې مطلب دا ندی چې دا سړی د امر او نهې فريضه پريږدي. که يو نيک کار يې ونکړی شو، دويم خو دې وکړي.

البته د داسې سړي په دعوت او وعظ کې په اثر نه وي. خو کول يې لازم دي. د عارفينو کلام دی: انظروا الی ما قال ولاتنظروا الی من قال: باباسعدی دا نظريه غلطه ګرځولي ده چې د عمل نه کولو والا دې ييخې وعظ نه کوي: وې ويل چې:

باطل است آنچه مدعی گويد   خفته را خفته کے کند بيدار

يعنې د مدعي دا وينا غلطه ده چې يو اوده بل اوده لره نشي رابيدارولی. وګوره په ديوال باندې ليکلی شوې عبارت نه خلک نصيحت اخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې بحث نه وروسته په دې پوهيدل ضروري دي چې امر او نهې كونكې سړې لپاره ضروري دي چې هغه امر او نهې پيژني. او د هغه سره د دې علم وي. ګنې هغه به معروف لره منكر او منكر لره معروف جوړ كړي. او نقصان به وكړي. هم دا وجه ده چې ﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ﴾ كې مِنْ د تبعيض لپاره دى. ځكه چې هر سړى د دې اهل نه دى. هو! علماؤ ليكلي دي چې كومه طبقه د كومو اوامرو او نواهيو سره مناسبت لري ، هغوې لره په هغه شعبه كې په امر او نهې باندې دې مامور كړى شي. دحاكمانو لپاره د حدودا تو او تعزيراتو شعبه سا تل پكار دي. هغوې دې هغه نافذ كړي. او علماؤ په ذمه دې د شريعت دقيق مسئلي دي، هغوې د دې دعوت وركړي. او عامو نيكيو حكم وركول او د بدو نه منع كول د عوامو ذمه ده. يعنې واضح غټ غټ احكامات دې عوام بيان كړي. په تفصيل كې دې نه ځي. ځينو علماؤ دا ذمه دارى په دې ترتيب سره تقسيم كړيدي چې دحاكمانو د لپاره امر بالسنان دى. يعنې د نيزې په ځوكه باندې دعوت وركولو باندې دمنكراتو نه خلك منع كړي. او د علماؤ لپاره امر باللسان دى. او د عوامو لپاره د زړه نه د بد منلو درجه ده. د دې نه وروسته په دې خبره ځان پوهه كړى، كه د آمر او داعې مخې ته فرض حكم راغلى نو دهغې دعوت فرض دى او كه واجب دى نو دعوت هم واجب دى. او كه حكم استحبابي دى نو دعوت هم مستحب دى او د سنت دعوت هم سنت دى. هو! كه د فتنې ويره وي نو بيا امر معروف پريخودلى كيدى شي. امام غزالى په احياء العلوم كې د امر بالمعروف او نهى عن المنكر چې كوم بحث كړيدى هغه د سركارى محكمې امر بالمعروف او نهى عن المنكر بحث دى. په نورو الفاظو كې ورته حسبه ويلى شويده. نن سبا په ۲۰۰۵ء كې صوبه سرحد كې چې كوم حسبه ايكټ مجلس عمل تيار كړيدى هغه هم د دې امر بالمعروف او نهى عن المنكر شعبه ده. بهر حال كه څوك يې مني او كه نه يې مني، زمونږ كار ويل ؤ.

مسافر راستہ دیکھے نہ دیکھے چراغ رہ گزر جلتا رہیگا

کوئی اس خیر کو مانے نہ مانے خطیبوں کا خطاب ہوتا رہیگا

نور تفصيل د دې باب په حديث نمبر ۱ كې وګورى.

۱۷ جمادى الاول ۱٤۱۸ھ الفصل الاول

چا چې بدې وليدله نو هغه دې ختمه كړي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي سعيدٍ الخدريِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعيد خدرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: په

« مَنْ رَأَى مِنكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ

تاسو كې چې كوم سړى كوم خلاف شرع كار ووينې نو هغه لپاره پكار دي چې هغه شى په خپلو لاسونو سره بدل كړي او كه

فَإِنْ	لَمْ	يَسْتَطِعْ	فَبِلِسَانِهِ
هغه په خپلو لاسونو سره دهغه کار کولو طاقت نه لري نو د ژبې په ذريعه سره دې د غه کار وکړي او که			
فَإِنْ	لَمْ	يَسْتَطِعْ	فبقلبه
د ژبې په ذريعه سره هم دغه کار کولو طاقت نلري نو بيا دې د زړه په ذريعه سره هغه کار انجام کړي. او			
وَ ذَٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ » . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1]			
دا (آخرې درجه) د ايمان د ټولو نه کمزورې درجه ده .			

توضيح: من رأى منكم: اول شی خو د بدۍ په خپلو سترګو باندې کتل دي. ترڅو چې څوک کوم منکر ونه ګوري، تر هغه وخته پورې هغه ته د بدۍ ختمول متوجې ندي. او کله چې هغه بدې د کتلو نو د قدرت لرلو په صورت کې په لاس سره دهغې ازاله او ختمول فرض دي. په دې شرط سره چې د کومې غټې فتنې خطره نوي.

مِنْكُمْ: په لفظ سره اشاره وکړی شوه چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر ذمه دارې په هغه ښاغلو باندې ده چې هغوې معروف او منکر پيژني. او هغه خلک متفق عليها او مختلف فيها مسائل کې فرق کولی شي. هغوې ناسخ او منسوخ پيژني. او مکي او مدني نصوصو کې فرق کولی شي. **وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ:** کې په مِن بعضيه سره هم ديته اشاره شويده. بهرحال په قوت سره نافيذونکې احکاماتو تعلق د حکمرانانو سره دی او دقيق مسائلو باندې مشتمل او امر او نواهي تعلق د علماؤ سره دی. او عام فهم مسائلو ذمه دارې په عامو خلکو باندې ده . مثلًا : داسې سرسرې مسائل چې عوام هغه پيژني، د مثال په توګه باندې دا ويل چې شراب حرام دي او لمونځ کول فرض دي. روژه فرض ده، سود خوړل حرام دي. د دينه ډيرې فلسفې بيانول او دوه دوه ګهنټې بيان د عوامو لپاره جائز ندي. لکه څنګه چې جاهلان تبليغيان کوي. (مرقات ۸/۸۶۰)

فليغيره بيده: يعنې لاس اچولو سره بدې منع کړي. او دهغې په خلاف باندې مسلح کوښښ وکړي. دا د ټولو نه اعلی درجه ده. په دې کې قوت او مټ د استعمالولو ترغيب ورکړی شويدی. چې هغه په حقيقت کې د جهاد کولو او دهغې نه علاوه د منکراتو نه دفاع شامل ده.

بيده: د مټ زور ته اشاره ده . ځينې حضرات وايي چې د دې حديث مطلب دا دی چې د منکر او بدۍ خاتمه وشي، دا دهغه ښاغلو د غلط سوچ نتيجه ده. ځکه چې دلته د يده لفظ شته دی. که په لاس سره منع کولو او د يد لفظ ذکر نه وی نو بيا د هغوې خبره او ريدلی کيدی شوه خو کله چې په لاس سره د منع کولو تصريح شته دی نو ددينه وروسته دويمه معنی اخستل د حديث نه اعراض يا په هغې باندې د اعتراض مترادف دی چې په هغې کې د تحريف خطره ده

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۶۹ رقم الحديث (۴۹-۷۸) وأبوداود في السنن ۴/۵۱۱ رقم الحديث ۴۳۴۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چې پیغمبر اسلام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د منکر د ختمولو لپاره درې درجې ویلي دي. چې په هغې کې اوله درجه د ازاله بالید ده. اوس ازاله بالید دخپلو کمزوریو په پردو کې پټول او په هغې کې تاویلونه کول او دهغې لپاره مثالونه بیانول او په قصو سره دهغې فائدې کمول، دا د دین کار نه دی، نه د دین خدمت دی ﴿فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ﴾ (نحل: ۷۴) تبلیغی جماعت لپاره په کار دي چې د دین تابع شي. دین دې د ځان نه تابع کوي. (مرقات ۸/۸۶۱)

فبلسانه: په ژبه باندې د منکر د ازالې مطلب دا دی چې حق صفا بیان کړی شي. په واضح الفاظو باندې د حق اعلان دې وکړی شي. او بیا دې دا حق نورو ته ورسوي. په دې کې په ژبه سره تهدید او تغلیظ هم وي، د موقع او محل په مناسبت سره ګرمي هم وي. او نرمې هم وي، ترغیب هم وي او ترهیب هم وي. دا فریضه نن سبا علماء کرام د تدریس په ذریعه سره پوره کوي. په جوماتونو کې تقریر او جریدو او رسالو کې د تحریر په ذریعه سره پوره کوي. د تبلیغي جماعت ملګرې د چلو او ګشتونو په ذریعه سره پوره کوي، خو یاد ساتل پکار دي ، امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم لازم دی. فتاوی عالمګیریه کې لیکلي دي چې سړی دې اول په ژبه باندې په نرمۍ سره پوهه کړي که ونه یې نه منله نو بیا دې سختې وکړي او که قدرت او طاقت وي نو بیا د لاس په وروړلو سره دې منع کړي. مثلاً شراب دې منع کړي. او د ډهول باجي آلات دې مات کړي.

زجاجة المصابیح کې لیکلي دي چې که د امر کونکې آمر رایه غالبه وي چې خلک به دهغه ومني او د منکر نه به منع شي نو دغه وخت نهی عن المنکر واجب ده. او که دا ګما وي چې خلک به یې ونه مني، کنځل به وکړي، وهل به وکړي، نو دغه وخت نهی عن المنکر پریخودل افضل دي. دغه شان که د غټې فتنې راپورته کیدلو خطره وی نو دغه وخت هم نهی عن المنکر پریخودل جائز دی. او که داعې او امر کونکی سړی ټول مشقتونه برداشت کولی شي نو بیا نهی عن المنکر کول افضل دي او سړی مجاهد دی. علامه زندیسی رحمه الله لیکلي دي چې امر بالید دحاکمانو کار دی. امر باللسان د علماؤ کار دی. او امر بالقلب د عوام الناس کار دی.

فبقلبه: د دې مطلب دا دی چې په زړه کې د دغه منکر نه کرکه کوي د هغې په کونکې باندې غصه وي او په زړه کې پخه اراده وي چې کله موقع ترلاسه شي نو زه به په لاس سره دا منکر ختموم دا د ادنی درجې ایمان دی. که دا جذبه په زړه کې نه وي. نو بیا په زړه کې هم هیڅ نشته. (مرقات ۸/۸۶۱)

اضعف الایمان: یعنې د ایمان د اثراتو دا کمزورې ثمره ده. او د ایمان په حواله سره دا سړی د آخرې درجې مسلمان دی. د دېنه وروسته به هغه سړی مسلمان نه وي. ځکه چې کوم سړی بدی او ښیګړه کې فرق نه مني هغه د خپل شریعت او قرآن او حدیث د اوامرو او نواهیو نه انکار کوي. او دا کفر دی . ځکه چې د حرام نه نهی واجب ده. د مکروهاتو نه نهې مستحب ده. دا سړی په ایمان کې

کمزوري ځکه وګرځولی شو چې ده د قوت اول دوه درجو ته اهمیت ورنکړو . فتاوی عالمګیري کې امر بالمعروف لپاره پنځه شرطونه دي: (۱) د داعې عالم کیدل (۲) د الله رضا او اعلاء کلمة الله مقصود کیدل (۳) چا ته چې دعوت ورکوي په هغه باندې شفقت او نرمي کول (۴) هر مشقت باندې صبر کول (۵) داعې چې څه وایې په هغې باندې خپله عمل کول. (مرقات ۸/۸۶۱)

امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېخودل اجتماعې عذاب ته بلنه ورکول دي

﴿۲﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " مثلُ المدهنِ

او حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د خدای په تا کلې شوؤ

فِي حُدُودِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ

حدودو کې غفلت او سستي کونکې او په دې حدودو کې راغورزیدونکې یعنې د ګناه کونکې مثال د هغه

قَوْمٍ استهموا سفينة فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا

خلکو په شان دی چې هغوې ځنې اچولو باندې په کشتۍ کې ناست وي. نو په دوې کې ځینې خلک د کشتۍ په لاندې

وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا

برخه کې کیناستل او ځینې خلک پاس برخه کې کیناستل. بیا کوم خلک چې د کشتۍ په لاندې برخه کې وي

يَمُرُّ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا

هغوې چې کله د اوبو اخستلو لپاره پاسنې برخې ته راشي نو په دې برخه کې ناست خلک د دې په راتګ سره

فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ

تکلیف محسوسوي نو د لاندې برخې په خلکو کې یو کَس داسې وکړې چې په تبرګې سره د کشتۍ تخته

السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا: مَالك؟

ماتول شروع کړې. نو پاس خلک هغه ته راشي او هغه ته ووایې چې دا په تا څه شویدي؟ په دې باندې هغه

قَالَ: تَأَذَّيْتُمْ بِي

سړی جواب ورکړي چې کله زه پاس ځم او ستاسو ترمینځ تریږم نو تاسو تکلیف او ناخوښي محسوسوۍ او زه

وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ. فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ

د اوبو په ترلاسه کولو باندې مجبوره یم. په داسې حالت کې خو دې یا دا خلک د ده لاس ونیسي، دې لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْجَوْهُ	وَنَجَوْا	أَنْفُسَهُمْ	وَإِنْ	تَرَكُوهُ	أَهْلَكُوهُ

چې ده لره هم او خپل ځان لره هم وساتي يا ده لره په خپل حال باندې پرېږدي او بيا ده لره هم په هلاکت کې

وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ "(رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1]

واچوي او خپله هم هلاک شي. (بخاری)

توضیح: **المداهن**: کوم سړی چې منکر ته ګوري مثلاً زنا کیږي، شراب څکل کیږي. غلاوي کیږي. ډاکي کیږي. خیانتونه کیږي. ګډاګانې او سرودونو مجلسونه کیږي. او دا سړی د هغې په ایسارولو باندې هم قدرت لري خو د چا د لحاظ د وجې نه یا د څه طمع او لالچ د وجې نه څه نکوي بلکې هر څه په خوشحالۍ برداشت کوي. دا مداهنت دی چې حرام دی او دا سړی مداهن دی او هم د ده لپاره وعید دی. دمداهنت په مقابله کې مدارات دي. دا دهغه نرمۍ نوم دی چې یو سړی د خپلو حقوقو نه لاس په سر شي. د شر او ضرر نه د ځان ساتلو لپاره د شرافت نفس د لاندې د خلکو دردونه برداشت کوي. او نرم ښویې ساتي . دې ته ویلی شویدي چې: دارهم مادمت فی دراهم یعنې ترڅو پورې چې دهغه په کور او ګاونډ کې یې ، دهغه سره تعلق ساته او د دې په اړه ویلی شویدي چې:

آسائش دو گیتی تفسیر ایں دو حرف است — بادوستاں تلطف بادشمناں مدارا

په اسلام کې مدارات جائز دي او مداهنت حرام دی. حضرت اشرف علی تهانوي رحمه الله په ملفوظاتو کې لیکلي دي چې مسلمان لره د ریښمو په شان کیدل پکار دي چې ریښم ډیر نرم دي. خو که څوک یې ماتول غواړي نو نه ماتیږي. یعنې حق بات وایه خو لهجه د ریښمو په نرمه ساته او حق مه پرېږده . د ریښمو په شان په هغې باندې مضبوط وسیږه. خلاصه دا چې په مداهنت کې شخصي او ذاتي فائدو خیال ساتلی کیږي. او په مدارات کې شریعت او دهغې د قواعدو خیال ساتلی کیږي چې په دې کې د دین عمومي فائده ده .(مرقات ۸/۸۶۳،۸۶۴)

استهموا سفینة: یعنې کور او سیټ نیولو لپاره څښې کول. په دې خبره پوهیدل ضروري دي په سمندري کشتۍ کې د ناستې لپاره بیلابیلې برخې وي او په تولو کې راحت او آرام په اعتبار سره فرق وي. د تولو نه پاس برخه عرشه بللی کیږي. چې هغه د ټولو نه ډیره ښایسته وي. مخکنۍ زمانه کې په کشتۍ کې د ناستې په اعتبار سره څه فرق نهٔ. د ټولو درجو ټکټ په یو قیمت باندې ؤ. نو ځکه په هغه زمانه کې د ښه او بیکاره ځاې د تقسیم لپاره د خفګان ختمولو لپاره به څښې اچول کیدلو . د ې لپاره چې څه ګیله نه وي. نن سبا د ټکټ او قیمت اعتبار دی. که ټکټ یې ګران اخستلی دی. نو ښه ځای به ورکړې کیږي چې هغې ته فرسټ کلاس وایې ګنې سیکنډ او تهرډ کلاس کې به ناسته وي. او دیکې به خوري. په دې حدیث کې د څښې چې کوم ذکر دی دا دهغه پس منظر په رڼا کې دی. (مرقات ۸/۸۶۴)

في اسفلها: پخوانۍ زمانه کې به د کشتۍ دا قانون ؤ چې او به به پاس په عرشه کې ترلاسه کیدلې، لهذا لاندې

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۹۲ رقم الحديث ۲۶۸۶ والترمذي في السنن ۴/۴۰۸ رقم الحديث ۲۱۷۳.

ناست خلک به پاس ختلو باندې او به تر لاسه کولو سره لاندې راتلل. ډیر وختونه به د دې تیریدونکو د وجه نه د هغه ځاي خلکو تکلیف محسوسولو. نو هغوي به دوي ته ويل چې په مونږ مه تيريږئ، مونږ مه تنګوئ. خپله د خپلو اوبو بندوبست وکړئ. په دې حدیث کې دې چې فرض کړه که داسې صورت پیدا شي نو او لاندې برخې خلکو په تبرګي سره د کشتۍ لاندینۍ برخه ماتول شروع کړه، دې لپاره چې د سمندر نه اوبه تر لاسه کړي. وس که پاسنو دې منکر منع کولو کوښښ وکړو نو ټول به بچ شي. خو که هغوي منع نکړل نو په سوري سره به اوبه دننه راتلو باندې ټوله کشتۍ د اوبو نه ډکه شي او بیا به ډوبه شي. دا مثال دی د امر معروف او نهی منکر، که د منکر نه په معاشره کې انکار وي نو معاشره به بچ شي خو که د منکر نه انکار ختم شو نو د اجتماعي عذاب په راتګ سره به ټوله معاشره تباه شي. لهذا مسلمانانو او د هغوي په حکمرانانو باندې فرض دي چې هغوي د الله تعالی د حدودو لحاظ وساتي. ګني ټول به تباه شي. (مرقات ۸/۸۶۴)

د بې عمله واعظ انجام

﴿۲﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُجَاءُ بِالرَّجُلِ	
او حضرت اسامه بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ به	
يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ	
یو سړی راوستلی شي چې هغه به اور کې واچولی شي او ورته په رسیدلو سره به سمدست د هغه کولمي بیرون راوځي،	
فِي النَّارِ فَيَطْحَنُ فِيهَا كَطَحْنِ الْحِمَارِ بِرَحَاهُ	
او هغه به کولمي داسې میده کوي څنګه چې خر د خپلې میچنې په ذریعه سره اوړه میده کوي. نو (د دې	
فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ: أَيْ فُلَانُ مَا شَأْنُكَ؟	
سړي حالت کتلو باندې به) دوزخیان هغه ته راغونډ شي او ورته به وایي چې ای فلانکې سړیه! دا ستا څه حال دی؟	
أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ؟ قَالَ:	
تا خو به مونږ ته د نیک کار تلقین او نصیحت کولو، او د بدو کارونو نه به دې منع کولو. هغه سړی به جواب	
كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ	
ورکړي چې بیشکه ما به تاسو ته د نیک کار تلقین کولو، خو خپله به مې هغه نیکي نکوله او تاسو	
وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]	
به مې د بد کار نه منع کولی. خو خپله به د هغه بد کار نه نه منع کیدلم.	

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۳۱ رقم الحديث ۳۲۶۷. ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۹۰ رقم الحديث (۲۹۸۹-۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: فتندلق: اندلاق: چاودلو او ژرژر بیرون راوتلو په معنی دی. یعني دا بې عمله واعظ چې کله د دوزخ په اور کې غوپه کړی شي نو په اور کې به د ده کولمې سمدستي چاودلو سره بیرون راوځي.

اقتاب: دا جمع ده. د دې مفرد قتب دی. قاف باندې کسره او تا باندې فتحه ده. کولمو ته وایي. لیکن د لغت امام ابو عبیده ویلي دي چې اقتاب خیټه کې دننه د کولمو سره هر څه ته وایي. او د کولمو لپاره د اقصاب لفظ ویلی کیږي. په دې فرق سره د حدیث مفهوم ډیر فراخه شو او مطلب واضحه شو.

فیطحن: دا د مضارع معلوم صیغه ده. د اوړو اغړلو په معنی دی. یعني دا سړی به د کولمو نه ګیر چاپیره ګرځي او هغه به میده کوي.

کطحن الحمار: دلته طحن مصدر دی چې مضاف الی الفاعل دی. او مفعول محذوف دی او برحاه کې با استعانت لپاره ده. اصل عبارت داسې دی: **کطحن الحمار الدقیق باستعانة الرحی.** (طیبی) (مرقات ۸/۸۶۶ الکاشف: ۸/۳۱۳)

علامه طیبی فرمایي چې دلته تشبیه المرکب بالمرکب ده. چې تمثیل ورته وایي. چې په هغې کې د یو هیئت سره بل هیئت ته تشبیه ورکړی شوېده. دلته اړتې باندې تړلی شوی خر یا میچنه پسې تړلی شوی خر او د هغې نه ګیر چاپیره تاویدل او د میچنې ګرځیدل او اوړو میده کیدل دا یو کیفیت او هیئت دی. او امر معروف کولو سره د بد عمل واعظ دوزخ ته تګ او د خیټې نه د تولو شیانو راوتل او د دغه سړي په هغې باندې ګرځیدل او د کولمو وغیره میده کیدل دا دویم کیفیت دی. د دې دواړو لره د یو بل سره تشبیه ورکړی شوېده. بهرحال دې سړي ته دا سزا د عمل نه کولو په وجه باندې به ورکولی کیږي. د دې وجې نه نه چې هغه دا دعوت ولې ورکړی دی. (الکاشف: ۹/۳۱۳)

الفصل الثاني

امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی ګنې اجتماعي عذاب ته تیار شئ

﴿۴﴾عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي
حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قسم دی په هغه پاک ذات
نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ
باندې چې د چا په لاس کې زما ځان دی تاسو یقیناً د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه کوئ یا ډیر ژر به
عَذَابًا مِنْ عِنْدِهِ ثُمَّ لَتَدْعُنَّهُ وَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]
الله تعالی تاسو باندې خپل عذاب نازل کړي. بیا به تاسو د الله تعالی نه دعا هم غواړئ، نو ستاسو دعا به نه قبلیږي.

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۰۶ رقم الحديث ۲۱۶۹، وابن ماجه ۲/۱۳۲۷ رقم الحديث ۴۰۰۴، احمد في المسند ۵/۳۸۸.

توضيح: عذابًا: د دې حديث يو مطلب دا دی چې تاسو امر معروف او نهی منکر کوی، ګنې الله تعالی به په تاسو باندې خپل عذاب راوليږي. بيا به تاسو د دغه عذاب د ليرې کولو لپاره دعاګانې غواړی، ليکن دعا به نه قبليږي. د دې حديث دويم مطلب خپله بزار او طبرانې يو حديث نه واضح کيږي. هغه مطلب داسې دی چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په دوه خبرو کې د يوې خبرې کيدل ضروري دي يا تاسو يقينًا امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی، يا د دې دواړو کارونو د پريخودلو باندې به يقينًا الله تعالی په تاسو باندې ناکاره خلک مسلط کړي، بيا ستاسو نيکان خلک به (د ناکاره خلکو د هلاکت لپاره) دعا کوي خو د هغوې دعاء به نه قبليږي. (طبرانی اوسط) (مرقات ۸/۸۶۶)

د ګناه نه کرکه نه کول په هغې کې د ګډون په شان ده

﴿۵﴾ وَعَنِ الْعرس بن عَمِيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا
او حضرت عرس بن عميره د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې په
عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا
زمکه باندې ګناهونه وشي نو کوم سړی چې دغه ګناهونه بد وګڼي دا د هغه سړي په شان دی کوم چې هلته نوي
وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا
او کوم سړی چې هلته نوي خو هغه د دې ګناهونو په واقع کيدلو باندې خبروي او هغه دغه ګناهونه بد ونه ګڼي
كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
نو دا د هغه سړي په شان دی کوم چې هلته موجود وي.

توضيح: کَمَن شهدها: ظاهره ده کوم سړی چې د کومې په اړه باندې واوري او د هغه په خله کې او به راځي چې کاش زه هم هلته وی او خوند به مې اخستلی وی او تفريح به مې شوی وی او مزې به مې کړی وی نو دغه سړی د ګناه سره موافقت وکړو، کرکه يې ونه کړه. دا سړی اګر که په زرګونو ميله د دې ګناه نه ليرې وي، دا به په دې ګناه کې شريک ګڼلی کيږي. خو يو سړی مثلًا د ګناه په مجلس او د هغې په علاقه کې دی، ګناه په سترګو ويني خو په زړه سره د هغې نه کرکه کوي او هغه بد ګڼي، دا سړی داسې دی لکه ګويا هغه نه ګناه کړې ده او نه يې هغه ليدلې ده. د دې وجه دا ده چې انسان د ايمان آخرې درجه په زړه سره د بد ګڼلو ده. چا چې بد ومنلو هغه کامياب شو، چا چې بد ونه منلو، ناکامه شو. د نژدې والې او ليرې والې (قرب وبُعد) اعتبار په کې نشته دی.

---

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۵۱۵۰ رقم الحديث ۴۳۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

همت مه بایله اوس د ګناهونو د ختمولو وخت دی

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنكم تقرؤون هذهِ الآيَةَ:
او د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه روایت دی چې (یوه ورځ) هغه وفرمایل: خلکو! تاسو دا آیت لولی:
(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ
یعنې ای مؤمنانو! تاسو خپل نفسونو لازم ونیسیء کوم سړی چې بې لارې شو هغه تاسو ته ضرر نشي دررسولی
إِذَا اهْتَدَيْتُمْ) فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حال دا وي چې تاسو په هدایت یاست پس ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي چې کله
«إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا مُنْكَرًا فَلَمْ يُغَيِّرُوهُ
خلک یو خلاف شرع کار ویني او د هغې د اصلاح او ماتوني کوښښ ونکړي او خلک د هغې نه لیري ونه ساتي
يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ
نو نژدې ده چې الله تعالى هغوې په خپل عذاب کې اخته کړي دا روایت ابن ماجه او ترمذي نقل کړیدی
وَصَحَّحَهُ. وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُد: «إِذَا رَأَوُا
او دا یې صحیح ګرځولی دی. د غه شان د ابوداؤد په روایت کې داسې دي چې کله خلک څوک په
الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ».
ظلم کولو باندې وویني او د هغه لاس ونه نیسي نو نژدې ده چې الله تعالی دا ټول په خپل عذاب کې راګیر کړي.
وَفِي أُخْرَى لَهُ: «مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي
او د ابوداؤد په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې په کوم قوم کې ګناه او د معاصي کول شروع شي او د
ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُونَ
هغه قوم خلک د هغې د اصلاح او ماتوني قدرت لري خو د دې سره هم هغوې د هغې اصلاح او ماتونه ونکړي
إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ» . وَفِي أُخْرَى لَهُ:
نو نژدې ده چې الله تعالی دا ټول په عذاب کې اخته کړي. او د ابوداؤد په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې په کوم قوم کې
«مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ
ګناه او معاصي شروع شي او په دغه قوم کې د هغه خلکو شمیره ډیره وي چې هغوې ګناه او معاصي نکوي (خو سره د

بِالْمَعَاصِي	هُمْ	أَكْثَرُ	مِمَّنْ	يعمله	» . [1]

دې نه هغوې خپل مینځ کې دغه ګناهګار خلک د ګناه کولو نه نه منع کوي نو الله تعالی به دا ټول خلک په عذاب کې راګیر کړي)

توضیح: هٰذه الآية: د دې آيت د ظاهري الفاظو نه دا معلوميږي چې که خلک بې لارې شي نو ته خپل ځان وساته. د خپل نفس فکر وکړه. بې لارې خلک تا ته ضرر او نقصان نشي دررسولی. خو په دې شرط سره چې ته په هدايت باندې يې. شايد د ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څه خلکو پوښتنه کړې وي چې وس د امر او نهي وخت ندی لهذا مونږ دې لره پريخودلو باندې د خپل ځان په فکر کې کينو. دې لپاره چې خپله د ګمراهۍ نه ځان وساتو. په دې باندې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عامو خلکو ته عمومي بيان کولو باندې پوهه کړل. کيدی شي ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جمعې په خطبه کې يا په بله کومه عامه غونډه کې دا خبره کړې وي. د دهٔ اعلان مطلب او مقصد دا دی چې وس هغه وخت ندی راغلی چې تاسو د دې ارشاد په مطابق باندې د امر او نهي عمل پريږدی. وس خو به تاسو مخکې ځی. او په دنيا باندې غالبه کيدل دي. د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارشاد مطابق که تاسو وس امر او نهي پريږدی نو نږدې ده چې په تاسو باندې عمومي او اجتماعي عذاب راشي. ځکه چې د لاس د قدرت لرلو باجود او د افرادو د ډيروالي باوجود امر او نهي پريخودل د ذلت سبب دی.

ان يعمهم الله: يعنې نږدې ده چې الله تعالی عمومي او اجتماعي عذاب نازل کړي. د دې عمومي عذاب يو صورت دا کيدی شي چې کافر قومونه راشي او په مسلمانانو باندې قابض شي. او هغوې په قسما قسم ذلتونو کې اخته کړي. نو نن سبا د مسلمانانو سره په هرځای کې هم دا کيږي. دا مخکې ليکل شوي دي چې د امر او نهي په مصداقاتو کې اولنی مصداق جهاد دی. د عذاب دويم صورت دا دی چې کله نهي عن المنکر بنده شي نو هم دا منکر او معصيت به دومره عام شي ټول خلک به راګير کړي. د ګناه داسې عام کيدل خپله يو عذاب دی مثلاً وژنه عامه شي. زنا عامه شي. رشوت او خيانت عام شي دروغ او د وعدې خلاف کول عام شي. نو د عزتمند سړي لپاره به ژوند کول ګران شي. هم دا عذاب دی. **هُمْ أَكْثَرُ**: يعنې د ګناه نه کونکي د ګناه کونکو نه ډير شي. يعنې خير غالب وي، مغلوب به نوي. د ښه خلکو په لاس کې قدرت او اختيار وي. او بيا هم نهي عن المنکر نکوي. نو ټول به عام عذاب راحصار کړي. (مرقات ۸/۸۶۹)

د قدرت لرلو باوجود د منکر نه، نه ايسارول د عذاب سبب دی

﴿۷﴾ وَعَنْ جَرِيرِ بنِ عبدِ الله قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ رَجُلٍ

او حضرت جرير بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې د کوم

يَكُونُ	فِي	قَوْمٍ يَعْمَلُ	فِيهِمْ	بِالْمَعَاصِي	يَقْدِرُونَ	عَلَى	أَنْ

قوم يو سړی يو ګناه او معصيت کوي او د دغه قوم خلک په دې باندې قدرت لري چې (د لاس يا د ژبې په ذريعه سره)

---

[1] أخرجه ابوداود في السنن ۴/۵۰۹ رقم الحديث ۴۳۳۸، والترمذي في السنن ۴/۴۰۶ رقم الحديث ۲۱۶۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

يُغَيِّرُوا عَلَيْهِ وَلَا يُغَيِّرُونَ

د دغه ګناه اصلاح يا بيخ کندي وکړي او په هغه سړي غالب شي ليکن د هغې باوجود هم د هغې اصلاح و نکړي

إِلَّا أَصَابَهُمُ اللهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ قبل أَن يموتوا» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه [1]

نو الله تعالى په هغه خلکو باندې د خپل اړخ نه عذاب نازلوي، مخکې د دېنه چې هغوی مړه شي.

٢٣ جمادى الاول ١٤١٨هـ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وخت تر کومه پورې دی؟

﴿٨﴾وَعَنْ أَبِي ثعلبة فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: (عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضل إِذَا اهْتَدَيْتُمْ)

او د حضرت ابو ثعلبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله تعالى د ارشاد (عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضل إِذَا اهْتَدَيْتُمْ)

فَقَالَ: أَمَا وَاللهِ لَقَدْ سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په تفسير کې نقل شويدی چې هغه وويل: پوهه شئ: په خدای قسم! ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دې آيت په اړه پوښتنه وکړه (چې آيا زه د دې آيت په مطابق باندې د امر بالمعروف او نهې عن المنکر د فريضې نه منع شم؟)

فَقَالَ: " بَلِ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ

نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې (هيڅکله نه) ته د دې فريضې ادا کولو نه مه منع کيږه) بلکې د نيکۍ حکم ورکوه

وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ حَتَّى إِذَا رأيت شُحّاً مُطَاعاً وَهَوًى

تر دې چې ته کله بخل ووينې چې خلک د هغې تابعداري کوي. ته چې کله د نفس خواهشات ووينې

مُتَّبَعاً ودُنيا مُؤْثَرَةً

چې خلک د هغې غلامان شويدي. ته چې کله دنيا ووينې چې کله خلک دې ته په آخرت باندې ترجيح ورکوي

وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ

او کله چې ته ووينې چې هر يو عقل مند او د يو مسلک منونکی خپل عقل او خپل مسلک د ټول نه ښه او

بِرَأْيِهِ وَرَأَيْتَ أَمْرًا لَا بُدَّ لَكَ مِنْهُ فَعَلَيْكَ . نَفْسَكَ

خوښ وګڼي او چې ته کله يو داسې شی ووينې چې د هغې نه غيره ستا بله څه چاره نوي نو ته خپل ځان لازم کړه

وَدَعْ أَمْرَ الْعَوَامِ فَإِنَّ وَرَاءَكُمْ

(يعني خپل ځان د ګناهونو نه وساته) او د عوامو د معاملاتو سره هيڅ اړيکې مه ساته. ځکه چې ستا مخې ته

(١)أخرجه أبوداود في السنن ٤/٥١٠ رقم الحديث ٤٣٣٩،وابن ماجه في السنن ٢/١٣٢٨ رقم الحديث ٤٠٠٩.

أَيَّامَ	الصَّبْرِ	فَمَنْ
ورځې راتلونکې دي چې په هغې کې به صبر کول ضروري وي لهٰذا کوم سړی چې په دغه ورځو کې		
صَبَرَ فِيهِنَّ قَبَضَ عَلَى الْجَمْرِ		
صبر وکړو د هغه حالت به دا وي چې ګویا هغه په لاس کې سپرغۍ راخستلې ده او په دغه ورځو کې		
لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ أَجْرُ خَمْسِينَ رَجُلًا		
چې کوم سړی په دین او شریعت باندې عمل کوي هغه ته به د هغه پنځوس کسانو د عمل برابر ثواب ورکولی کیږي		
يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِهِ قَالُوا يَارَسُوْلَ اللهِ		
څوک چې د دې سړي په شان عمل وکړي. صحابو (دې اوریدلو سره) عرض وکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم!		
أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ؟ قَالَ:		
آیا دې پنځوس کسانو د عمل اعتبار به وي څوک چې د هغې د زمانې سره تعلق ساتي. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل:		
«أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]		
نا! بلکې ستاسو د پنځوس کسانو اجر او ثواب. (ترمذی، ابن ماجه)		

توضیح: لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ: د دې آیت په متعلق باندې پوښتنه د ابوثعلبه رضی الله عنه هم شوې وه. د پوښتنه کونکې مقصد دا ؤ چې کیدلی شي د امر او نهې زمانه ختمه شوې وي. وس د دې ټولو په پریخودلو باندې په کور کې چُپ کیناستل پکار دي. حضرت ابوثعلبه رضی الله عنه په هغه تو که جواب ورکړو څنګه چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه جواب ورکړی ؤ، چې ما د دې آیت په اړه باندې د ابوبکرصدیق رضی الله عنه خپله پوښتنه کړې وه. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې وس خو د امر او نهې وخت دی. هو! چې کله پنځه کارونه شروع شي. نو بیا ته خپل ځان وساته. او عام خلک پریږده. هغه پنځه کارونه دا دي:
(۱) ته چې کله وویني چې خلک د بخل او کنجوسۍ اتباع شروع کړي. (۲) کله چې نفساني خواهشات ووینې چې خلک د هغې غلامان جوړ شي. (۳) کله چې ته ووینې خلک د دنیا غلامان جوړیدلو باندې هغې ته په دین باندې ترجیح ورکړي. (۴) ته چې کله ووینې چې هر عقل مند په خپله رایه باندې غرور کوي او کتاب الله او سنت رسول صلی الله علیه وسلم د نظر نه وغورزوي. (۵) او کله چې تا وکتل چې وس په ګناه کې د اخته کیدلو ویره پیدا شوه. ګناه په سر باندې داسې ګرځیږي چې د ډېنه ځان ساتل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړان دي. نو وس د عامو خلکو معامله هغوي ته پرېږده. ځکه چې اوس د امر او نهې د دعوت وخت نه دی. د ځان ساتنې لپاره چې چیرته کېدلی شي، وتخته. ځکه چې وس تولې ختې دي، د خوېدلو وېره ده. (مرقات ۸/۸۷۱)

چوں گل بسیار شد پیلاں بلغزند

د نبي کریم ﷺ جامع او اوږده خطبه

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (یوه ورځ) د مازیګر نه وروسته رسول الله ﷺ

خَطِيبًا بَعْدَ الْعَصْرِ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا

زمونږ مخې ته ودرېدلو او خطبه یې وکړه. په دې خطبه کې نبي ﷺ داسې کومه ضروري خبره پرې نه خودله

يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا ذَكَرَهُ حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ

چې هغه تر قیامته پورې پېښېدلی شي. نبي کریم ﷺ دا خبرې ذکر کړې. او یاد ساتونکو هغه یادې وساتلې

وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ وَكَانَ فِيمَا قَالَ:

او هېرونکې هغه هېرې کړې. دغه وخت چې نبي کریم ﷺ څه وفرمایل په هغې کې دا هم وُ چې:

إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَنَاظِرٌ

دنیا ډېره خوږه او شنه ده. او یقینًا الله تعالی تاسو په دې دنیا کې خلیفه جوړ کړي یاست. لهذا هغه ګوري

كَيْفَ تَعْمَلُونَ أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ

چې تاسو څنګه عمل کوئ. پس خبردار! تاسو د دنیا نه ځان ساتئ او د ښځو د فتنو نه ځان ساتئ. نبي ﷺ

وَذَكَرَ: «إِنَّ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ

دا هم وفرمایل چې د قیامت په ورځ باندې به د هر وعده ماتونکي لپاره یو نښه ودرولی شي چې هغه په دنیا

بِقَدْرِ غَدْرَتِهِ فِي الدُّنْيَا وَلَا غَدْرَ أَكْبَرُ مِنْ غَدْرِ أَمِيرِ الْعَامَّةِ

کې د ده د وعده ماتولو په برابر وي. او هیڅ وعده ماتول د امیر عامه د وعده ماتولو نه ډېره نده نو د هغه

يُغْرَزُ لِوَاؤُهُ عِنْدَ اسْتِهِ». قَالَ:

دغه نښان به د هغه مقعد سره نژدې ودرولی شي. (دې لپاره چې د هغه ډېره رسوایي وشي) نبي ﷺ دا هم وفرمایل:

« وَلَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ
چې په تاسو کې دې هيڅوک هم څه ويره او هيبت د حق خبرې کولو نه منع نه کړي او حال دا چې هغه د

إِذَا عَلِمَهُ » وَ فِي رِوَايَةٍ :
حق خبرې نه خبروي. او په يو روايت کې په دې ځاې (ولا يمنعن احدا منكم هيبة الناس ان يقول حق) په

«إِنْ رَأَى مُنْكَرًا أَنْ يُغَيِّرَهُ» فَبَكَى أَبُو سَعِيدٍ
ځاې دا دي چې کله په تاسو څوک خلاف شرع کار ووينې. نو هغه منع کړې حضرت ابو سعيد خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ژړا شو

وَقَالَ: قَدْ رَأَيْنَاهُ فَمَنَعَتْنَا هَيْبَةُ النَّاسِ
او وې فرمايل چې مونږ خلاف شرع کار وليدلو او د خلکو د ويرې نه مونږ د هغې په اره هيڅ و نه ويلی شو. (د

أَنْ نَتَكَلَّمَ فِيهِ. ثُمَّ قَالَ:
دېنه وروسته ابو سعيد خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان وکړ چې) نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا هم وفرمايل چې پوه شئ! د

(أَلَا إِنَّ بَنِي آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى فَمِنْهُمْ
آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ اولاد په بيلا بيلو ډلو او په متضاد قسمونو او مرتبو کې پيدا کړی شويدي. نو په دوې کې

مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَى مُؤْمِنًا
ځينې هغه دي چې هغه مؤمنان پيدا کولی شي چې هغه د ايمان په حالت کې ژوندي وي او په ايمان باندې

وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَى كَافِرًا
د هغوې خاتمه کيږي. او په دوې کې ځينې هغه دي چې هغه کافر پيدا کولی شي. هغه د کفر په حالت کې ژوندي

وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا
وي او په کفر باندې د هغوې خاتمه کيږي. او په دوې کې ځينې هغه دي چې هغوې مؤمنان پيدا کولی شي

وَيَحْيَى مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ
هغوې د ايمان په حالت کې ژوندي وي خو په کفر باندې د هغوې خاتمه کيږي. او په دوې کې ځينې هغه دي

مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَى كَافِرًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا)
چې هغه کافر پيدا کولی شي هغوې د کفر په حالت کې ژوند تيروي ليکن د هغوې خاتمه په ايمان باندې کيږي

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ: وَذَكَرَ الْغَضَبَ (فَمِنْهُمْ

حضرت ابو سعید رضی الله عنه فرمایي چې (په دغه وخت کې) نبی صلی الله علیه وسلم د غضب او غصې قسمونه هم ذکر کړل

مَنْ يَكُونُ سَرِيعَ الْغَضَبِ سَرِيعَ الْفَيْءِ فَإِحْدَاهُمَا

نو نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل: ځینې کسان ډیر ژر غصه کیږي خو دهغوی غضب او غصه ژر ختمیږي. نو په

بِالْأُخْرَى وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ بَطِيءَ الْغَضَبِ بَطِيءَ الْفَيْءِ

دې دواړو کې هریو د بل لپاره بدل جوړ شي. او ځینې کسان داسې وي چې هغوی ته غصه په قلاره ورځي

فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى وَخِيَارُكُمْ مَنْ يَكُونُ بَطِيءَ الْغَضَبِ سَرِيعَ الْفَيْءِ

او په قلاره ترینه ځي او په تاسو کې غوره سړی هغه دی چې هغه ته غصه په قلاره ورځي او ژر ترینه ځي

وَشِرَارُكُمْ مَنْ يَكُونُ سَرِيعَ الْغَضَبِ بَطِيءَ الْفَيْءِ».

او بد سړی په تاسو کې هغه دی چې هغه غصه ژر ورځي او په قلاره ترینه وځي. (د دېنه وروسته) نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

قَالَ: «اتَّقُوا الْغَضَبَ فَإِنَّهُ جَمْرَةٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ

تاسو ته غصې نه ځان وساتئ ځکه چې دغه غصه د بنی آدم په زړه باندې یوه بلیدونکې سپرغۍ ده.

أَلَا تَرَوْنَ إِلَى انْتِفَاخِ أَوْدَاجِهِ؟ وَحُمْرَةِ عَيْنَيْهِ؟

آیا تاسو نه ګورئ چې د هغه د مرۍ رګونه وپړسیږي او سترګې یې سرې شي. لهذا کله چې یو سړی دا

فَمَنْ أَحَسَّ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ فَلْيَضْطَجِعْ

محسوس کړي چې وس غصه ورځي نو هغه لپاره پکار دي چې هغه سمدستي په اړخ باندې څملي او د

وَلْيَتَلَبَّدْ بِالْأَرْضِ) قَالَ: وَذَكَرَ الدَّيْنَ

زمکې سره یو ځای شي. او ابو سعید رضی الله عنه و فرمایل: چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قرض ذکر هم وکړو

فَقَالَ: «مِنْكُمْ مَنْ يَكُونُ حَسَنَ الْقَضَاءِ

نو نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل چې په تاسو کې ځینې کسان داسې وي چې هغوی (د قرض په) ادا کولو کې خو ښه وي لیکن

وَإِذَا كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ سَيِّءَ الْقَضَاءِ

د خپل قرض په وصولولو کې سختي کوي او ځینې کسان داسې وي چې هغوی د قرض په ادا کولو کې خو بد

وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى

ثابت شي خو دیو چا نه د خپل قرض په وصولولو کې ښه ثابت شي. نو په دې کې هریو د بل خصلت بدل شي

وَخِيَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَحْسَنَ الْقَضَاءِ وَإِنْ كَانَ لَهُ

لهذا په تاسو کې غوره خلک هغه دي چې هغه د چا په قرض ادا کولو کې هم ښه وي او د چا نه د خپل قرض

أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ وَشِرَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَسَاءَ الْقَضَاءَ

په وصولولو کې هم ښه وي. او په تاسو کې بدترینه خلک هغه دي چې هغه د چا په قرض ادا کولو کې هم بد وي

وَإِنْ كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ)

او د چا نه خپل قرض وصولولو کې هم بد وي. نبی کریم ﷺ په خپله خطبه کې دا نصیحتونه وکړل تر دې چې

حَتَّى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ عَلَى رُؤُوسِ النَّخْلِ وَأَطْرَافِ الْحِيطَانِ فَقَالَ: (أَمَا

د لمر رڼا فقط د کهجورو په سرونو او د دیوالونو په غاړو باندې پاتې شوه نو نبی ﷺ وفرمایل: یاد ساتئ!

إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ

د دې دنیا چې کوم وخت تیر شویدی د هغې په نسبت سره د دې دنیا فقط دومره وخت پاتې دی لکه څومره چې د نن ورځې

مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]

د برخې په نسبت سره دا آخري وخت (یعني څنګه چې د نن ورځې نږدې ټوله برخه تیره شویده وس ډیر لږ وخت پاتې دی.

توضیح: خطیبًا: د نبی ﷺ په اوږدو خطبو کې دا یوه خطبه ده چې په دې کې نبی ﷺ د دنیا بې ثباتي او فنا کیدل بیان کړیده. او د انسانانو بیلابیل طبیعتونه او معاملات او نفسیات او دهغوې ابتداء او انتهاء بیان کړیده.

فلم یدع شیئًا: یعني تر قیامته پورې راتلونکې د دین سره متعلق اهم اهم کارونه یې بیان کړل. په هغې کې یې یو شی هم پرې نه خودلو. حلوة: یعني دنیا یو خوږ، خوندور، خایسته او خوږ شی دی.

خَضِرةٌ: ای ناعمة طرية: یعني تازه او شین او ګلزار او شینکی دی. عربو به شینکې ډیر خوښولو. دنیا یې شینکی، وګرځولو ځکه چې شینکې ډیر ژر ختمیدونکی دی. نو دنیا هم دغه شان ده.

مستخلفکم: مطلب دا دی چې الله تعالی په عارضي توګه باندې تاسو د دنیا د شیانو مالکان جوړ

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۱۹ رقم الحديث ۲۱۹۱ وابن ماجه في السنن ۱۳۲۵ رقم الحديث ۴۰۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي یا ست. اصل مالک الله تعالی دی.

غدر امیر العامة: د دې جملې یو مطلب دا دی چې یو ظالم، غاصب، متغلب حاکم راشي او د چا په جائز حکومت باندې قبضه وکړي. نه شوری او مشوره وي. نه د چا خوښه وي بلکې په زوره باندې په اقتدار قابض شي. د داسې خائن په ډُبر کې به د قیامت په ورځ بیرغ ودرولی شي. ځکه چې هغه عوامو د عام امیر المؤمنین په خلافت باندې قبضه وکړه. او د خیانت دویم مطلب دا دی چې یو باغي سړی د بغاوت بیرغ پورته کولو باندې او عوام الناس د اتفاقې امیر په خلاف بغاوت وکړي. (مرقات ۸/۸۷۴)

خلقوا: په دې کې د انسان پیدائښ او انجام د هدایت او ضلالت په اعتبار سره په څلور طبقو کې تقسیم کړی شویدی. (۱) کامیاب انسان (۲) ناکام انسان (۳) په ابتداء کې کامیاب او په انتهاء کې ناکام (۴) په ابتداء کې ناکام او په انتهاء کې کامیاب.

وذکر الغضب: په دې کې د انسان د غصې (قهر) بیلابیل حالات بیان کړی شویدي. د انسان د توازن او ورانیدلو نښه یې ښودلې ده: (۱) یو هغه سړی د چې هغه ډیر ژر غصه کیږي او ډیر ژر راضي کیږي. دا په تول کې برابر دي. فاحداهما بالاخری. هم دغه مطلب دی. (۲) دغه شان یو سړی ډیر وروسته غصه کیږي خو د غصې نه وروسته تر ډیر وخته پورې یې غصه پاتې وي. دا هم په تول کې برابر دی. (۳) یو سړی داسې چې ډیر په قلاره غصه کیږي خو ډیر ژر راضي کیږي. دا د تولو نه د ښه صفت والا سړی دی. (۴) یو سړی داسې دی چې ډیر ژر غصه کیږي او بیا د راضې کیدلو نوم نه اخلي. دا سړی د بدترین صفت والا دی. د دېنه وروسته نبی کریم ﷺ د قرض او دَین قانون بیان کړو او په هغې کې یې هم د خلکو څلور طبقې (ډلې) جوړې کړې: (۱) یو سړی داسې دی چې هغه قرضداری دی نو په ښایسته طریقه باندې قرض ادا کوي. خو د قرض په راخستلو کې د بل سره سختې کوي. د افحش مطلب هم دا دی چې سختې کوي. او غلیظه رویه خپلوي. دا هم سربر دی (۲) یو هغه سړی دی چې د قرض په ورکولو کې خو ښه ندی خو په بیرته اخستلو کې ډیر نرم او ښه دی. دا هم سر بر دی (۳) یو هغه سړی دی چې د قرض په ادا کولو کې هم ښه دی او په بیرته اخستلو کې هم ډیر نرم او ښه دی. دا د بهترین خصلت سړی دی (۴) یو هغه سړی دی چې د قرض په ورکولو کې ډیر بیکاره دی او که د هغه په چا باندې قرض وي نو په غوختلو کې هم ډیر ناکاره دی. دا بدترین سړی دی. وس لمر د ډوبیدلو وخت شوی دی. نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې د دنیا عمر ختم شویدی. بس دومره پاتې دی لکه څنګه چې د ټولې ورځې یو ذره وخت وس پاتې دی. (مرقات ۸/۸۷۷)

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو البختری رضي الله عنه نبی کریم ﷺ په صحابو کې د یو سړي نه روایت کوي چې

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لن يهلك النَّاس
هغه بیان کړل چې رسول الله ﷺ و فرمایل: خلک به تر هغه وخته پورې بیخې هلاک او برباد نشي
حَتَّى يعذروا فِي أنفسهم». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
ترڅو چې د هغوی نه ډیر ګناهونه او بدی راڅکاره شي.

توضیح: یعذروا: دا اعذار د باب افعال نه دی. او د سلب مأخذ لپاره دی. چې د هغې مطلب به دا وي چې دې خلکو دومره ګناهونه وکړل چې وس د هغوی د اړخ نه عذر معذرت هم ختم شو. وس دا خلک خپل ځانونه دعذر خاوندان نه ګڼي. نو دا الله تعالی څپیړه ورته ورسیږي. د دې جملې دویم مطلب دا دی چې وس دا خلک به د خپلو ګناهونو خپله هم معذرت نکوي. بلکې د ګناه اقرار هم کوي. او په ښکاره باندې ګناه هم کوي. نو هلاک شي. د دې جملې دریم مطلب دا دی چې عذر او عذار په نظر کې ساتلو باندې باطل تاویلونه کوي. او ګناه ته قانوني شکل ورکوي. دا علمي غلطي ده. چې په دې سره سړی دبې لارې کیدلو سره هلاک کیږي. په دغه توګه باندې ګناهونه ډیریږي. او په دې کې قومونه غرق شي. (مرقات ۸/۸۷۹)

د قدرت لرلو سره هم د منکر نه بندول اجتماعی عذاب ته دعوت ورکول دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيِّ الْكِنْدِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَوْلًى لَنَا أَنَّهُ
او حضرت عدی بن عدی کندی فرمایي چې په مونږ کې زمونږ یو آزاد کړی شوی غلام بیان کړل چې هغه
سَمِعَ جَدِّي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
زما نیکه حضرت عمیر کندی نه اوریدلي دي چې هغه به ویل چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي
يَقُولُ: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ
چې فرمایل یې: الله تعالی د یو قوم د ځینو کسانو د بد عملونو د وجې نه د هغې اکثر خلک په عذاب کې نه اخته کوي
حَتَّى يَرَوُا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانِيهِمْ وَهُمْ
هو! کله د هغه قوم خلک دا ووینې چې د هغوی په مینځ کې د ځینو خلکو د وجې نه خلاف شرع کارونه کیږي
قَادِرُونَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوهُ فَلَا يُنْكِرُوا
او هغوی د دې خلاف شرع کارونو اصلاح او ماتونه ونکړي په دې شرط سره چې هغوی د دې اصلاح قدرت

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۲/۵۱۵ رقم الحديث ۴۳۴۷، وأحمد في المسند ۴/۲۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَذَّبَ اللهُ العَامَّةَ والخَاصَّةَ» . رَوَاهُ فِي «شرح السّنة»[1]

لري نو په دې حالت کې د قوم اکثر اخلک پکې اخته شي نو بیا الله تعالی عام او خاص ټول په عذاب کې اخته کوي

نهی عن المنکر پرېښودلو باندې بنی اسرائیلو نه خنزیران جوړ شول

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَمَّا وَقَعَتْ

او حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: بنی اسرائیل چې

بَنُو إِسْرَائِيلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوا فَجَالَسُوهُمْ

کله په ګناهونو کې اخته شول نو د هغوی علماؤ هغوی منع کړل او کله چې هغوی منع نشول نو د هغوی هغه علماء

فِي مَجَالِسِهِمْ وَآكَلُوهُمْ وَشَارَبُوهُمْ

هم د هغوی سره د هغوی په مجلسونو کې کیناستل. او د هغوی سره یې په لوښي اوبه وڅکلي. نو الله تعالی

فَضَرَبَ اللهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ فَلَعَنَهُمْ

هغوی ټول خپل مینځ کې ګډ وډ کړل او د هغوی زړونه یې د یو بل سره یو ځای کړل بیا الله تعالی په هغوی باندې

عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا

حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ او حضرت عیسی بن مریم عَلَيْهِ السَّلَامُ د ژبې په ذریعه لعنت وکړو او دا لعنت یې ځکه وکړو

يَعْتَدُونَ) قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ

چې دغه خلکو ګناهونه کول او د حد نه تیر شوي ؤ. حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دغه وخت

مُتَّكِئًا فَقَالَ: «لَا وَالَّذِي نَفْسِي

یې تکیه وهلې وه. نیغ کیناستلو. نو وې فرمایل په هغه پاک ذات باندې قسم چې د هغه په قبضه کې زما ځان دی

بِيَدِهِ حَتَّى تَأْطِرُوهُمْ

تاسو به تر هغه وخته پورې د الله د عذاب نه خلاصی بیا نه مومئ تر څو چې ظالمان د هغوی د ظلم نه او فاسقان

أَطْرًا) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَفِي رِوَايَتِهِ

د هغوی د ګناهونو نه منع نکړئ. (ترمذي، ابوداؤد) او د ابو داؤد په یو روایت کې داسې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

---

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۳۴۶ رقم الحد ۴۰؛ مالک في الموطا ۲/۹۹۱ رقم الحديث ۲۳.

قَالَ: (كَلَّا وَاللّٰه

وفرمایل: (ستاسو داګمان دی چې د چپتیا او مداهنت باوجود به هم تاسو د عذاب الهی نه خلاصی بیامومی)

لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ

داسې هیڅکله نده بلکې په خدای قسم چې ستاسو لپاره ضروري ده چې خلکو د نیکۍ لارې خپلولو حکم وکړی

عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ ولنأطرنه

او هغوی د بدۍ د لارې نه منع کړی. د ظالم لاس ونیسی هغوی د حق اړخ ته مائله کړی او هغوی لره به

على الحق أطرا ولنقصرنه عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللّٰه بِقُلُوبِ

د حق او انصاف په لاره باندې قائم کړی. که تاسو داسې نکوی نو بیا به الله تعالی ستاسو زړونه هم د یو بل

بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ). [1]

سره ګډوډ کړي او بیا به په تاسو باندې لعنت وکړي لکه څنګه چې په بنی اسرائیلو باندې (د هغوی د ګناهونو د وجې نه) لعنت کړی ؤ.

توضیح: فضرب الله: یعنې کله چې علماؤ بنی اسرائیل منع کړل. خو هغه خلک د ګناهونو نه منع نشول. نو علماء هم د هغوی سره په ګناهونو کې شریک شول. چې په هغې سره په هغوی باندې اجتماعې عذاب راغلی. او د هغوی نوم نښان ورک شو.

فضرب الله قلوب بعضهم: مطلب هم دا دی چې ټول په شریکه باندې په ګناه کې اخته شول. نو الله تعالی اول د هغوی زړونه تور کړل. او په هغې کې د یو بل سره خلط ملط شول. بیا د هغوی زړونه په اجتماعې توګه باندې سخت کړی شول. چې په هغې سره هغوی د الله تعالی نه لیرې شول. هغوی اوس د دې قابل پاتې نه شول. چې حق قبول کړی شي. نو څکه په مسخ کیدلو سره څه خو خنزیران شول. او څه شادوګان شول. د دې نه وروسته نبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نیغ کیناستلو او غونډې ته یې نور ارشادات وفرمایل: چې په هغې کې دا ارشاد هم ؤ چې په خدای قسم! تاسو به د ظالم لاس نیولو سره د منکر نه ایساروی. ګنې ستاسو زړونه به هم د هغوی په شان شي.

تأطروهم اطرًا: دا لفظ ضرب او نصر دواړو نه راځي. د دې مصدرې اطرًا دی. ایسارولو او منع کولو په معنې دی. یعنې په تاسو باندې لازم ده چې ګناه ګاران او ظلم کونکې او فساد کونکو لاس نیولو باندې هغوی د منکر نه منع کړی. که هغوی منع نشول نو تاسو د هغوی نه جدا شی. او ځان ترینه بیل کړی. د هغوی سره مه کینی. مه د هغوی سره خوراک کوی. مه د هغوی نه خوری. مه ورباندې څکی

([1]) اخرجه أبوداود في السنن ۴/۵۱۹ رقم الحدیث ۴۳۳۷ والترمذي في السنن ۵/۲۳۵ رقم الحدیث ۳۰۴۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

او مه ترينه څكې. يو روايت كې دي : ولتأطرنه على الحق اطرًا: د دې تشريح ورسره هم يو ځاى شويده: اى لتقصرنه على الحق قصرا. ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: اى لتمنعن الظالم باللسان عند العجز عن اخذ اليد باليد على الحق اى على اجباره على الحق والكاره على الباطل اطرًا اى منعا ظاهرا ليس فيه لومة لائم. (مرقات ۸/۸۸۱)

د بې عمله نصيحت كونكي او بې عمله عالم لپاره وعيد

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي رِجَالًا
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ما د معراج په شپه څه خلک وليدل
تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ قُلْتُ: مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟
چې د هغوي شونډې د اور په پيتيګانو باندې غوڅولې شوې. ما پوښتنه وكړه چې جبرائيلﷺ دا خلک څوک دي؟
قَالَ: هٰؤُلَاءِ خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ
هغه وفرمايل چې دا ستا دامت هغه علماء او واعظان او مشائخ دي چې خلكو ته به يې خو د نيكۍ حكم كولو خو
وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ. «رَوَاهُ فِي» شرح السنة «وَ الْبَيْهَقِيّ فِي» شعب الإيمان."
خپله يې خپل ځان هير كړى ؤ. دا روايت بغوي په شرح السنة كې او بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړيدى او د
وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: «خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ الَّذِينَ
بيهقي په يو روايت كې دا الفاظ دي چې حضرت جبرائيلﷺ جواب وركړو: دا خلک ستا د امت هغه واعظين او خطيبان دي
يقولونَ مَا لَا يفعلونَ و يقرؤونَ كتابَ الله وَلَا يعملونَ». "(۱)
چې دوې به هغه خبره كوله چې هغه به يې خپله نه كوله. دوې به كتاب الله لوستلو خو په هغې باندې به يې عمل نه كولو.

توضيح: تقرض: د غوڅولو په معنى باندې راځي. **شفاههم**: د دېنه شونډې مراد دي. دا د بې عمله عالم او واعظ (نصيحت كونكى) لپاره سخت وعيد دى. يو بل حديث كې دي: ويل للجاهل منه وللعالم سبع مرات. يو بل حديث كې دي: اشد الناس عذابًا يوم القيمة عالم لم ينفعه الله بعلمه. يو شاعر ويلي دي: (مرقات ۸/۸۸۲)

فساد كبير عالم متهتك ... واكبر منه جاهل متنسك

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۵۳۵ رقم الحديث ۴۱۵۹ والبيهقي في شعب الايمان ۲/۲۸۳ رقم الحديث ۱۷۷۳.

یهودو خیانت وکړو نو خنزیران ترینه جوړ شو

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت عمار بن یاسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: (د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام

«أُنْزِلَتِ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا
په قوم باندې) د آسمان نه ډوډۍ او د غوښې دسترخوان را ولیږلی شو. او هغوی ته حکم وکړو شو چې نه خو دې خیانت کوي

وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا
او نه دې د راتلونکې ورځ لپاره څه ذخیره کوي خو خیانت هم وکړو او ذخیره یې هم وکړه او د راتلونکې ورځې

لِغَدٍ فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
لپاره یې کیخودله. نو هغوی د شادوګانو او خنزیرانو په شکل کې بدل کړی شول.

توضیح: دخیانت صورت دا ؤ چې د اعلی په ځای یې ادنی د اجازت نه بغیر واخستلو. یا یې نور شیان واخستل. قردة وخنازير: داسې معلومیږي چې دبوډاګانو شکلونه مسخ کیدلو باندې په شادوګانو بدل شو او د زلمو شکلونه په خنزیرانو بدل شو. (مرقات ۸/۸۸۳)

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

دین دوجې نه د ظلم برداشت کولو فضیلت

﴿۱۵﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهُ تُصِيبُ أُمَّتِي فِي
حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زما امت ته به په آخره

آخِرِ الزَّمَانِ مِنْ سُلْطَانِهِمْ شَدَائِدُ
زمانه کې د حکمرانانو نه (دیني یا دنیاوي) سختۍ او تکلیفونه برداشت کول وي. او په دغه وخت کې د تکلیفونو نه

لَا يَنْجُو مِنْهُ إِلَّا رَجُلٌ عَرَفَ دِينَ اللهِ فَجَاهَدَ عَلَيْهِ
نجات موندونکی به یو سړی خو هغه وي چې هغه د خدای په دین باندې پوهیږي. نو هغه سړی به د خدای د دین

بِلِسَانِهِ وَيَدِهِ وَقَلْبِهِ فَذَلِكَ الَّذِي
د سرلوړۍ لپاره په خپله ژبه او لاس او خپل زړه په ذریعه سره جهاد کوي. نو دا به هغه سړی وي چې

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۴۲ رقم الحديث ۳۰۶۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

سَبَقَتْ لَهُ السَّوَابِقُ وَرَجُلٌ

هغه کمال، ایمان، ثواب او دنیا او آخرت نیک بختو ته د ټولو نه مخکې ورسیږي. او یو سړی به هغه وي چې

عَرَفَ دِينَ اللهِ فَصَدَّقَ بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ

هغه د خدای په دین خو پوهیږي خو د اولني سړي نه یوه درجه کم دی. نو د غه سړی به د دین تصدیق کوي او دا به

دِينَ اللهِ فَسَكَتَ عَلَيْهِ

ښه ګڼي او یو سړی به هغه وي چې هغه د خدای په دین (به څه لږ ډیر) پوهیږي نو هغه به سکوت خپل کړي. نو د غه سړي

فَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ الْخَيْرَ أَحَبَّهُ عَلَيْهِ

حالت به دا وي چې کله هغه څوک په نیک کار کولو باندې ووینې نو هغه لره به دوست ساتي او څوک په

وَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ بِبَاطِلٍ

غلط کولو کار به ووینې، نو د هغې نه به نفرت وکړي او د غه سړی به هم په پټه توګه باندې د نیکۍ او ښیګړې د

أَبْغَضَهُ عَلَيْهِ فَذَلِكَ يَنْجُو على إبطانه كُله » . (۱)

کارونو سره مینه او د ګناه او بدۍ سره نه د کرکې ساتلو په وجه باندې نجات بیا مومي.

توضیح: سلطانهم: یعنې د وخت ظالم باچا د اړخ نه به اهل حق او اهل خیر او ایمان ته سخت دینې او دنیاوي تکلیفونه ورسیږي. لکه یزید او حجاج بن یوسف نه مسلمانانو ته تکلیف ورسیدلو. هلاکو خان او چنګیز خان د اړخ نه ورسیدل او تر ننه پورې د عربو او عجمو ظالمو حکمرانانو د اړخ نه حق او اهل حق په خلاف طاقت استعمالیږي. نن د حکومت وخت ټول فوځي طاقتونه حق او د نظام حق او علماء حق او مدرسي او جوماتونو په خلاف استعمالیږي. عبد الرحمان بابا صحیح ویلي دي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو — اوراوکور او پېښور دریواړه یو دي

عرف دین الله: یعنې خپله هم کامل ، عارف او عالم دی. او نور هم کمال دین ته راولي. اول خپله د دین اصول، او جزئیات او د هغې قاعدې او فروع پیژني. بیا د هغې په رڼا کې نورو لره په سمه لاره راولي. او روانوي. ګویا کامل عالم، عارف الله ، عامل به وي. نو بیا به هله د وخت د دې فتنو نه وساتلی شي. هغه هم ځکه چې هغه جهاد بالید ، جهاد باللسان او جهاد بالقلب به کوي. په درې واړه طریقو سره به د دین حق خدمت کوي. (مرقات ۸/۸۸۴)

(۱) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۶/۹۵ رقم الحدیث ۷۵۸۷.

سبقت له السوابق: یعنې دیني او دنیاوي نیک بختو ته به د ټولو نه مخکې ورسیږي. د دینه وروسته به د دویمې درجې سړی وي. چې هغه به په دین باندې پوهیږي او د هغې تصدیق به کوي، او په ژبه باندې به امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي. خو په لاس سره به یې د نهی عن المنکر طاقت نوي. نو ځکه هغه به د دویمې درجې مسلمان وي. او په دویم نمبر باندې به کامیاب وي. دریم هغه سړی دی چې هغه به دین باندې لږ ډیر پوهیږي یعنې ډیر عالم به نوي. هغه چې کله نیکۍ ویني نو هغه به په زړه سره خوښوي. او کله چې بدۍ ویني نو هغه به د زړه نه بده ګڼي او په ژبه سره به یې د بندولو طاقت نلري. دا سړی به هم د خپل زړه د جذبې د وجې نه به کامیاب وي.

علی ابطانه: یعنې د په زړه کې د دې پټې جذبې د وجې نه به کامیاب شي. دا حدیث ګویا د هغه حدیث په شان دی کوم چې د دې باب اول حدیث دی: چې په هغې کې **مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ الخ** درې درجې بیان کړی شویدي. (مرقات ۸/۸۸۵)

الله تعالی د عبادت سره د دین ملاتړ کول هم ضروري دي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوْحَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

او حضرت جابر رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی حضرت جبرائیل علیه السلام ته حکم وکړو

أَنِ اقْلِبْ مَدِينَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا

چې فلانکی ښار چې د هغې حالات داسې دي، د هغې د وسیدونکو سره یې وربانديې واړوه. حضرت جبرائیل علیه السلام

قَالَ: يَا رَبِّ إِنَّ فِيهِمْ عَبْدَكَ فُلَانًا لَمْ يَعْصِكَ

وویل چې زما پروردګاره! په دې ښار کې ستا هغه فلانکی بنده هم دی. چې هغه د یوې دقیقې لپاره هم ستا نافرماني

طَرْفَةَ عَيْنٍ". قَالَ: "فَقَالَ: اقْلِبْهَا

نده کړې. نبي صلی الله علیه وسلم فرمایل چې (کله چې جبرائیل علیه السلام دا وویل نو) الله تعالی وفرمایل چې ته دا ښار

عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ فَإِنَّ وَجهه

اول په دې سړي باندې واړوه او بیا یې د هغې ټول وسیدونکو باندې واړوه ځکه چې زما رضا او د دین په

لم يتمعر في سَاعَة قط ". [1]

مینه کې د دې سړي د مخ رنګ (ښار د خلکو ګناه په کتلو باندې) د یو ساعت لپاره هم ندی بدل شوی.

[1] اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۶/۹۷ رقم الحدیث ۷۵۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: **اَن اقلب:** دا صیغه د باب ضرب ده. د امر صیغه ده. همزه وصلیه ده. دنسکورولو په معنی باندې دی. یعنې الله تعالی حضرت جبرائیل عَلَیۡهِ السَّلَامُ ته حکم وکړو چې فلانکی ښار د هغې د وسیدونکو سره په هغوې باندې نسکور کړه. دا قصه مخکنو قومونو کې د یو قوم ده. چې هغه په فسق او فجور باندې پلیته وه. چې په هغې سره په دوې باندې د هلاکت فیصله وشوه.

طرفة عین: یعنې دې عابد او زاهد بنده یو ساعت هم ستا نافرمانې نده کړې. دښار په اړولو سره به دا هم مړ شي. او حال دا دی چې دا بیګناه دی. د دینه معلومه شوه چې کله د نیکانو خلکو په الله تعالی نافرمانه خلک د عذاب نه ساتي. فاسقانو او فاجرانو لپاره پکار دي چې هغوې د ښه خلکو عزت وکړي. او هوې د خپلې بقاء ذریعه وګڼي.

اقلبها علیه وعلیهم: په دې جمله کې ډیره مبالغه ده. چې اول په دې عابد باندې ښار واړوه. د دینه وروسته په فاسقانو فاجرانو باندې ښار واړوه. **لم یتمعر:** یعنې د ګناهونو په دې بی ادبه طوفان کې د دې سړي په مخ باندې د غم او غصې نه د الله تعالی د رضا لپاره کله هم تندی تریو نکړو. **تمعر** د باب تفعل نه دی. د مخ هغه بدلون ته ویل کیږي چې کله څوک یو مکروه کار ووینی. **ساعة:** معلومه شوه که یو سړی یو ځل هم نهی منکر وکړي نو بچ کیدلی شي. خو د دې سړې د ایمان تاؤ لکه چې ختم شوی ؤ. او اوس په هغې کې د بدی نه د کرکې څه نوم هم نه ؤ. د دین جذبه او ملاتړ کې د ده د غیرت رګ کله هم نه دی راپاریدلی. نو ځکه دا سړی د الله تعالی د عذاب د نورو په نسبت سره ډیر مستحق شو.

د دې حدیث نه معلومه شوه چې الله تعالی د خپل ذات د عبادت سره د انسان د خپل دین ملاتړ هم غواړي. الله تعالی دا نه غواړي چې یو انسان دې فقط د یو تاجر په شان ذهن وساتي چې د الله تعالی نه دې فقط د اخستلو په فکر کې وي. او د ورکولو دې هیڅ فکر نوي. حالانکې د الله تعالی ارشاد دی: اِنۡ تَنۡصُرُوا اللّٰهَ یَنۡصُرۡکُمۡ. (سورة محمد: ۷) یعنې که تاسو د الله تعالی مرسته کوی نو هله به الله تعالی ستاسو مرسته کوي.

اول تاسو د الله تعالی د دین ملاتړو او خدمت وکړی. د دینه وروسته د الله تعالی نه انعام وغواړی. په دې حدیث کې دا مذکور سړی یوائې د الله تعالی نه د اخستلو په فکر کې یوائې د ځان نه تاجر جوړ کړی ؤ. او د الله تعالی د دین د ورکیدلو نه دهغه سره څه درد ؤ. نه غم ؤ. نه فکر ؤ. د ګوتې غوڅیدلو نه بغیر د شهید مرتبې امیدوار ناست ؤ. دا پی څکونکی مجنون ؤ. وینه ورکونکی مجنون نه ؤ. د لیلی حصول د ده مقصود نه ؤ بلکې فقط بی څکل د ده مقصود ؤ.

بهرحال الله تعالی د خپل دین ملاتړ غواړي. د عبادت سره ملاتړ لوی شی دی. نن سبا د دې ډیر کمی دی. خلک د مصیبت راتلو نه بغیر او میدان ته د کوزیدلو نه بغیر جنت ته تلل غواړي.

وکل یدعی وصلاً بلیلی · ولیلی لاتقر لهم بذاك

قصه: د مثال په توګه چا دا قصه بیان کړیده چې یو سړی ؤ. د هغه درې ځامن ؤ. دوه ډیر نیکان ؤ. یو آزاد خیال ؤ. یوه ورځې د دوې پلار چا د ګریوان نه ونیولو او وې وهلو. د ده په ځامنو کې یو عابد ځوې یې په خوا تیر شو. او وې کتل چې څوک د هغه پلار وهي. د اشراق وخت ؤ. غلی جومات ته لاړو. اولمونځ یې شروع کړو. لږ وخت وروسته یې بل ځوې راغلو. او پلار یې په هغه حالت کې ولیدلو نو وې ویل چې دا سړی ښه نکوي. چې زما پلار وهي. دومره وینا کولو سره هغه هم جومات ته لاړو. او لمونځ یې شروع کړو. څه ساعت وروسته آزاد خیال ځوې راغلو. هغه وکتل چې یو سړې د هغه د پلار د ګریوان نه نیولی دی او وهي یې. نو دغه ځوې سمدستې په هغه سړې برید وکړو او خپل پلار یې ترینه خلاص کړو. کور ته راتګ باندې پلار فیصله وکړه چې زما فقط دا یو ځوې دی چې هغه زه د دښمن نه خلاص کړم. پاتې دواړه زما ځامن نه دي. او زما د مال نه محرومه دي. بیخې هم دا نقشه ده چې کوم خلک امر بالمعروف او نهي عن المنکر نکوي او په عبادت کې اخته دي. دا ګوري چې فاسقانو فاجرانو د نبی ﷺ په ګریوان کې لاس اچولی دی. او د نبی ﷺ سنت او طریقې ختموي، بلکې دین ختموي. او دوې چې ناست تماشا کونکي دي. د دوې نه به نبی ﷺ څومره خفه وي. دا ظاره ده چې د دوې په نسبت باندې کوم خلک چې نهی عن المنکر کوي، نبی کریم ﷺ به د هغوې نه څومره خوشحاله وي. دا هم ظاره ده.

د یو کمزورې سړې په رښتیاوینا باندې بخښنه کیدل

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَسْأَلُ
او حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله عزوجل به د
الْعَبْدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: مَا لَكَ إِذَا رَأَيْتَ الْمُنْكَرَ
قیامت په ورځ باندې د بنده نه پوښتنه کولو کې وفرمایې چې په تا څه شوي ؤ چې کله تا یو خلاف شرع کار به ولیدلو (نو
فَلَمْ تُنْكِرْهُ؟" قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
د ژبې او لاس) د هغې د ختمولو فریضه دې ادا نکړه. رسول الله ﷺ فرمایې چې (الله تعالی به د دې
"فَيُلَقَّى حُجَّتَهُ فَيَقُولُ:
بنده د معاف کولو اراده وکړي نو د سوال کولو سره به) هغه ته تاویلونه او دلیلونه وښودلی شي. نو هغه به عرض وکړي

Maktaba Tul Ishaat.com

يَا رَبِّ خِفْتُ النَّاسَ وَرَجَوْتُكَ « رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي» شُعَبِ الْإِيمَانِ "[۱]
چې زما پروردګاره! زه د خلکو د ظلم او زياتي نه ويريدلم او ستا د عفو او درګزر او مغفرت او بخښني مې اميد لرلو.

توضیح: فيلقى حجته: لقى يلقى تلقية: د باب تفعيل نه د مجهول صيغه ده. د ګوزارولو په معنی دی. لکه وَمَا يُلَقّٰهَا اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا. يعنې دغه سړي ته حجت او دليل او د بچ کيدلو تاويلونه ورکړی شي. مطلب دا دی چې کله الله تعالی دا معاف کول وغواړي نو هغه ته د جواب ورکولو او تاويل کولو او دليل وړاندې کولو طريقه به وښايي نو هغه به و وايي:

ای زما ربه! ستا د بنديګانو نه به ويريدلم. او ستا په فراخه رحمت او مغفرت باندې به مې نظر ساتلو. الله تعالی به هغه معاف کړي چې واقعې د خلکو نه ويريدل يو طبعي مجبوري ده. بيا دغه سړي په پاکو ټکو کې پاک جواب ورکړو چې د هغې د حقيقت سره ژور تعلق ؤ نو د الله رحمت په جوش کې راغلو. ځکه:

رحمت حق بهانه می جوید، بهانه می جوید

لعل رحمة ربي حين يقسمها تأتي على حسب العصيان في القسم

امر بالمعروف او نهی عن المنکر به د قيامت په ورځ د انسان په شکل کې راشي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي
او حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په هغه پاک ذات باندې قسم
نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْمَعْرُوفَ وَالْمُنْكَرَ
چې د هغه په قبضه کې د محمد (صلى الله عليه وسلم) ځان دی. د قيامت په ورځ به مشروع عمل او غير مشروع عمل
خَلِيقَتَانِ تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
(د انسانانو په شکل او صورت کې) پيدا کړی شي. او دا به (هغه) خلکو مخې ته ودريږي (چا چې دا اعمال په دنيا
فَأَمَّا الْمَعْرُوفُ فَيُبَشِّرُ أَصْحَابَهُ وَيُوعِدُهُمُ الْخَيْرَ
کې خپل کړي وي) نو مشروع عمل په خپلو خلکو ته زيری وا وروي او د انجام د ښيګړې وعده به ورکړي
وَأَمَّا الْمُنْكَرُ فَيَقُولُ: إِلَيْكُمْ إِلَيْكُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُ
او غير مشروع عمل به خپلو خلکو ته و وايي چې زما نه ليرې شئ. خو هغه خلک به د ده نه د بيليدلو طاقت

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۳۲ رقم الحديث ۴۰۱۷ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۹۱ رقم الحديث ۷۵۷۵.

إِلَّا لُزُومًا . «رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي» شعب الإيمان "(۱)
نلري بلکې د ده سره اينختلي وي. (احمد، بيهقی فی شعب الايمان)

توضيح: خليقتان ای مخلوقتان: يعنې امر بالمعروف او نهی عن المنکر دواړه په قبر کې او د قيامت په ورځ به د انسانانو په شکل کې راشي. دا هم ممکنه ده چې دانسان ټول نيک او بد اعمال مراد وي. ملاعلي قاري رحمه الله دواړو ته اشاره کړيده.

فتنصبان: يعنې د خلکو مخې ته به ظاهره کړی شي. معروف به د ښايسته او ښه سړي په شکل کې به وي. او منکر به د بدشکله سړي په شکل کې وي. معروف به د ښه انجام زيرې ورکوي او د ښه عواقبو وعده به کوي. او بد عمل به اليکم اليکم يعني زما د خوانه ليرې شي، او وتختئ، آوازونه به کوي. خو خلک به د دغه بد عمل سره ونخلي. او ليري کيدلی به نشي. لهذا د دې بد عمل بدعواقب به دې خلکو سره مخ کيږي. او د ښه عمل والا به جنت الفردوس ته په خوشحالۍ خوشحالۍ ځي. او د خوند او مزې ژوند به کوي. (مرقات ۸/۸۸۷)

الله تعالی دې فقير بنده محمد بن نور محمد د ايمان او يقين د دولت سره د دنيا نه د شهادت د مرګ سره واخلي. او جنت الفردوس دې ورته نصيب کړي. آمين يارب العٰلمين.

الحمد الله نن د خالي په ورځ ۲۸ ذوالقعدة ۱۴۲۶ھ بمطابق ۳۱ دسمبر ۲۰۰۵ باندې زه د دې ليکنې نه فارغه شوم. دا وخت زه په کراچۍ کې يم. خو بيا هم د دې جلد ډ . . . خه ما په حرمين شريفين کې ليکلي ده.

اللّٰهم تقبله منی اللّٰهم تقبله منی اللّٰهم تقبله منی اللّٰهم لك الحمد كما ينبغی لجلال وجهك وعظيم سلطانك

وصلى الله تعالى على نبيه الكريم وعلى آله وصحبه اجمعين

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۴/۳۹۱ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۵۱۷ رقم الحديث ۱۱۱۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

٥ ربيع الثاني ١٤١٨هـ

كتاب الرقاق
د رقاق بيان

قال الله تبارك وتعالى: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ (الحشر: ١٨)
﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ (التحريم: ٦)

رقاق جمع ده، د دې مفرد رقيق دی لکه صغار چې جمع دی، د دې مفرد صغير دی او کبار جمع ده، چې دهغې مفرد کبير دی. رقائق هم جمع ده. د دې مفرد رقيقه ده. د دواړو مطلب يو دی. يعنې زړه نرمونکې خبرې، دلته د رقاق نه مراد هغه خبرې دي چې د هغې په اوريدلو باندې د انسان زړه نرميږي. او زړه د دنيا نه بې ميني کيدلو باندې آخرت اړخ ته راګرځي. (مرقات ٨/٨٩٣)
د رقاق په نوم باندې د احاديثو په کتابونو کې اوږده بابونه ترلاسه کيږي. په دې بابونو کې محدثين هغه حديثونه بيانوي چې د هغې نه زړه متأثره کيږي. او د موم په شان نرميږي. صاحب مشکوة هم د عامو محدثينو اتباع کولو باندې کتاب الرقاق ذکر کړی دی. او په دې کې د فضل الفقراء نه واخله تر کتاب الفتن پورې اته بابونه ايخودلي دي. د رقاق د عنوان لاندې خو خالص د رقاق سره متعلق ۷۴ حديثونه ذکر کړيدي. او بيا د اته بابونو د بيلابيل عنواناتو لاندې او حکمت او نصيحت باندې بنا حديثونو يوه لويه ذخيره راغونډه کړيده. که يو انسان په سينه کې د کاڼې په ځای باندې د غوښې زړه لري نو هغه به د دې حديثونو په اوريدلو باندې اوبه اوبه شي. او که داسې ونشوه نو بيا په هغه باندې د کوم شي اثر به محال وي. يو شاعر وايي:

لاينفع الوعظ قلبا قاسيا ابدا   وهل يلين بقول الواعظ الحجر

الْفَصْلُ الأَوَّل
د قدر وړ دوه نعمتونه

﴿١﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دوه نعمتونه چې د هغې په اړه باندې

كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَ الْفَرَاغُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

ډيرو خلکو دهوکه خوړلي ده (او هغه دوه نعمتونه) روغتيا او فراغت دی.

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ١١/٢٢٩ رقم الحديث ٦٤١٢، والترمذي في السنن ٤/٤٧٧ رقم الحديث ٢٣٠٤.

توضیح: مغبونٌ: دا غبن یغبن د باب نصر ینصر نه دی د نقصان او خسارې په معنی دی. په خاصه توګه باندې د تجارتي معاملاتو په خسارو باندې ویلی کیږي. دا صیغه د باب سمع نه هم راځي. چې د غلطۍ او دهوکه خوړلو په معنی باندې راځي. دلته دواړه معنې صحیح دي. د دې حدیث مطلب دا دی چې ډیر خلک داسې دي چې هغوی بدني روغتیا او د وخت د فراغت قدر نه کوي. او د دې دواړو نعمتونو په اړه باندې دهوکه، غلطي او تاوان کې پراته دي. بدن د روغتیا په وخت کې د بدن نه د بدن کار نه اخلي چې دا په عبادت کې اخته کړي. او د مصیبتونو او مشغلو نه په فارغه وخت کې کار نکوي چې کمال ترلاسه کړي.او فرصت غنیمت نه ګڼي چې دا په کار راولي.بیا کله چې بدني اعتبار سره ناروغه شیاو د وختونو په اعتبار سره د نیا په مشغلو کې راګیر شي نو بیا هغوی ته د بدن روغتیا او د وختونو د فرصت قدر ورشي.لکه هوښیارانو ویلي دي: اَلنِّعْمَةُ اِذَافُقِدَتْ عُرِفَتْ. خو وس په تیر شوي وخت باندې د افسوس ورغوي مړلو نه غیره هیڅ په لاس نه راځی.ځکه چې په مناسب موقع باندې هغه نه عبادت وکړو او نه یې آخرت جوړ کړو او نه یې د دنیا کار وکړو. وس د پښیمانتیا نه به ورته څه ترلاسه شي.

الن قد ندمت ولم ینفع الندم: یو حدیث کې نبی کریم ﷺ داسې ارشاد فرمایلی دی چې د جنت والا به په هیڅ شي باندې افسوس او پښیمانتیا نکوي ، خو په هغه وختونو به افسوس کوي چې هغه په دنیا کې د الله تعالی د یادولو نه بغیر تیر شوي وي. (مرقات ۹/۵)

د دنیا او آخرت مثال

﴿۲﴾ وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «وَاللهِ
او حضرت مستورد بن شداد رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا اوریدلي دي چې په خدای قسم!
مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يجعلُ أحدُكم إصبعَه فِي اليمِّ
د آخرت په مقابله کې د دنیا مثال داسې دی لکه په تاسو کې یو سړی خپله ګوته په سمندر کې ډوبه کړي
فَلْينظر بِمَ يرجع » . رَوَاهُ مُسلم[1]
او بیا وګوري چې هغه ګوتې بیرته د ځان سره څه راوړل.

توضیح: والله: دلته قسم د مبالغې په توګه باندې راغلی دی. نور یې هیڅ مقصد ندی. ما الدنیا: کې لفظ (ما) د نفی په معنی دی. (مرقات ۹/۶)

([1])اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۳ رقم الحديث (۲۸۵۸-۵۵) والترمذي في السنن ۴/۴۸۶ رقم الحديث ۲۳۲۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الأٰخرة: په دې کې د فی لفظ مقابلې او بدلیت په معنی دی. (مرقات ۹/۶)

اليم: سین او سمندر ته وایې. د حدیث مطلب دا دی لکه یو سړی د خپل کوچنۍ (وړه) گوته په سمند کې ډوبه کړي، او بیا وگوري چې د سمندر د ډیرو اوبو په مقابله کې د هغه په گوته پسې څومره اوبه نختي دي. دغه شان د دینا کمتر او سپک نعمتونه دي چې دا ختمیدونکې بلکې ډیر ژر ختمیدونکې دي. د آخرت د همیشه او د ډیر مقدار نعمتونو په مقابله کې د دې حیثیت څه دی؟ دا مثال هم د بنودني لپاره دی. گنې د عارضې او فاني دنیا حقیقت د همیشگرۍ آخرت په مقابله کې هیڅ هم ندی. لهذا انسان لپاره پکار دي چې هغه د دنیا په فانی نعمتونو باندې د آخرت دائمي نعمتونه قربان نه کړي. بلکې هر وخت دې دا سوچ کوي چې دنیا د آخرت فصل (پټی) دی دلته د فصل کرل دي. او هلته په آخرت کې یې میوه خوړل دي. (مرقات ۹/۶)

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے   یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

يرجع: د دې ضمير اصبع اړخ ته راگرځي. او دې اړخ ته مذکر او مؤنث دواړو ضمائر راگروځولی کیدلی شي. په یوه نسخه کې ترجع د مؤنث سره دی. هغه نسخه ډیره بهتره ده. (مرقات ۹/۶)

دنیا یو بې حیثیته شی دی

﴿۲﴾وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِجَدْيٍ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بیزي یو داسې مړ بچي په خوا باندې تیر شو.
أَسَكَّ مَيِّتٍ. قَالَ: «أَيُّكُمْ
چې د هغې غوږونه ډیر واړه ؤ یا غوږ کړی شوي ؤ. یا د هغې غوږونه نه ؤ. نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې په تاسو کې
يُحِبُّ أَنَّ هَذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ؟» فَقَالُوا: مَا نحبُّ أَنه
څوک داسې شته دی چې هغه دا په یو درهم باندې اخستل خوښ کړي؟ صحابؤ وویل چې مونږ خو دا
لنا بشيءٍ قال: «فَوَاللهِ لَلدُّنْيَا
د هیڅ شي په بدل کې اخستل نه خوښوؤ. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په خدای قسم! دا دنیا د خدای په نزد باندې
أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هَذَا عَلَيْكُمْ ». رَوَاهُ مُسلم[1]
د دېنه څه ډیره بې وقعته او کمه ده. لکه څنگه چې ستاسو په نظر کې دا مړ بچی ذلیل او سپک دی.

(۱)اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۲ رقم الحديث (۲۹۵۷-۲) والترمذي في السنن ۴/۴۸۵ رقم الحديث ۲۳۲۱

توضیح: جدی: د بیزي ورکوټي بچې ته جدی ویل کیږي.

اسك: کاف باندې شد دی. د بیزي هغه بچې ته ویل کیږي چې دهغې غوږونه بیخې غوڅ کړی شوي وي. یا بیخې نه وي. یا واړه واړه وي. دا دهغې کمزورۍ، ذلت او سپکاوي اړخ ته اشاره ده. او په خاصه توګه باندې کله چې هغه بچې مړ وي، مردار هم وي. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې مثال سره د نیا سپکوالې، او بې ثباتی. او بې حیثیته او بې حقیقته کیدلو اړخ ته انسانان متوجي کړي دي چې د ژوند مقصود آخرت دی. هغه هیرول پکار ندي او د دنیا د میني نه ځان ساتل پکار دي. ځکه چې په یو حدیث کې دي: **حب الدنيا رأس كل خطيئة** او یو قول دی چې: **ترك الدنيا رأس كل عبادة**. د دې وجه دا ده چې د دنیا په مینه کې راګیر سړی هر کار د خود غرضۍ او حرص په بنیاد باندې کوي. اهل الله او اهل معرفت ویلي دي: چې د کوم سړي په زړه کې د دنیا مینه کیناستله، نو د ټولي دنیا اولیاء الله او نیکان خلک هغه په سمه لاره باندې نشي راوستلی. او کوم سړي چې دنیا د زړه نه وویستله نو د ټولې دنیا فساد کونکې هغه بې لارې کولی نشي. (مرقات ۹/۷)

دنیا د مؤمن لپاره محبس دی

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دنیا د مؤمن لپاره قید خانه ده.
وَجَنَّةُ الْكَافِرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
او د کافر لپاره جنت دی. (مسلم)

توضیح: سجن المؤمن: د دې حدیث دوه مفهومه بیان کړی شویدي. اول مفهوم دا دی چې دنیا د مؤمن لپاره محبس (قید خانه) په شان دی. مطلب دا دی چې د مؤمن لپاره الله تعالی په آخرت کې کوم عظیم نعمتونه او غټ ثواب او اجر عظیم تیار کړی دی، دهغې په مقابله کې د مؤمن لپاره دنیا د محبس په توګه دی. اګرکه هغه په دنیا کې د آرام ژوند تیروي. دغه شان د کافر لپاره چې په آخرت کې کوم قسم قسم عذابونه تیار کړی شویدي، دهغې په مقابله کې د دنیا ژوند داسې دی لکه چې هغه په جنت کې وسیږي. اګرکه هغه ته دلته تکلیف هم وي. او په مصیبت کې پروت وي. د دې حقیقت د مخې یو ځل یو غریب یهودي حضرت حسن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وویل چې ستا د نیکه بابا دا وینا چې دنیا د مؤمن لپاره محبس او د کافر لپاره جنت دی. زما او ستا په حالت باندې څنګه صادق کیدلی شي. ځکه چې ته په اس باندې سپرلي کوي.

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۲ رقم الحديث (۲۹۵۶-۱) والترمذي في السنن ۴/۴۸۶ رقم الحديث ۲۳۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

د آرام ژوند تیروي او زه د مصیبتونو او دردونو او تکلیفونو او ناروغونه ډک ژوند تیروم؟ د هغه په جواب کې حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکر شوي حدیث هم دا مفهوم بیان کړو چې د آخرت د مصیبتونو په مقابله کې ته دلته په جنت کې یې. د دې حدیث دویم مفهوم دا دی چې دنیا د مؤمن لپاره محبس دی ځکه چې هر هر ساعت مؤمن په دې دنیا کې په احتیاط سره تیروي، قدم قدم باندې د هغه لپاره پابندۍ دي، او هغه انتهایي د پابندۍ ژوند تیروي، ګویا دا دنیا د هغې لپاره محبس دی. او هغه په دې کې قیدي په حیثیت سره ژوند تیروي. د دې په خلاف باندې کافر په دې دنیا کې د هیڅ پابندۍ قائل ندی، او نه پابند دی. دنیا د هر جائز او ناجائز خوند نه مزې اخلي. او دا چیغه وهي چې:

بابر بعیش کوش کہ عالم دوبارہ نیست

ملا علی قاری رحمه الله لیکلي دي چې دا دویم مفهوم ډیر واضح او د حدیث مطابق دی. د دې تائید د مشهور بزرګ حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله د قول نه هم کیږي. ده وفرمایل: **من ترك الدنیا لذات الدنیا وشهواتها فهو فی سجن فاما الذی لایترك لذاتها وتمتعاتها فای سجن علیه.** (مرقات ۹/۷)

نقل کړی شوي دي چې کله داؤد طائی رحمه الله وفات شو نو یو غیبې آواز وشو چې: **أُطْلِقَ دَاوُدُ مِنَ السِّجْنِ** چې داؤد طائی د محبس نه آزاد کړی شو. چا څه ښه ویلي دي: (مرقات ۹/۸)

کون کہتا ہے کہ مؤمن مر گیا — قید سے چھوٹا وہ اپنے گھر گیا

کافر ته په ښه کار باندې څنګه بدله ورکولی کیږي؟

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً							
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی د مؤمن د نیکۍ اجر نه ضائع کوي							
يُعْطَى	بِهَا	فِي	الدُّنْيَا	وَيُجْزَى	بِهَا	فِي	الْآخِرَةِ
ځکه چې د هغه د نیکۍ په وجه باندې هغه ته په دنیا کې ښیګړې ورکولی کیږي. او په آخرت کې به هم هغه ته اجر							
وَأَمَّا	الْكَافِرُ	فَيُطْعَمُ	بِحَسَنَاتِ	مَا	عَمِلَ	بِهَا	لِلّٰهِ	فِي	الدُّنْيَا
او ثواب ورکولی کیږي. او کافر چې د خدای د رضا لپاره کوم ښه کار ونه کوي، هغه ته په دې دنیا کې خوراک څکاک							
حَتَّى	إِذَا	أَفْضَى	إِلَى	الْآخِرَةِ	لَمْ	يَكُنْ	لَهُ
ورکولی کیږي. تر دې چې کله هغه آخرت ته ورسیږي نو د هغه په اعمال نامه کې به داسې کومه نیکې نوي							

[illegible] رواه مسلم

چې [illegible] ورکړی شي.

توضیح: (لایظلم) یعنې الله تعالی [illegible] مسلمان [illegible] ثواب [illegible] [illegible] [illegible] آخرت کې [illegible]

ثواب ورکولی کیږي. (لایظلم) (لاینقص) په معنی [illegible] مطلب [illegible] چې [illegible]

[illegible] ورکوي. څو د آخرت د اجر او ثواب [illegible] توحید [illegible]

ضروري دي. نو کله چې یو مؤمن نیک کار کوي نو د صحیح عقیدې په وجه به [illegible]

ورکولی کیږي، او په آخرت کې هم ورته ثواب ورکولی کیږي. په دنیا کې [illegible] چې [illegible]

ځان کې برکت اچوي. [illegible] ظاهري مصیبتونو او بلاؤ نه محفوظ ساتي، او [illegible] کې [illegible]

و سکون ژوند ورکوي. او د آخرت بدله داسې ورکوي چې کله د مرګ نه وروسته مؤمن [illegible] شي، نو هغه ته

په دې نیکۍ بندې الله تعالی به په خپل فضل او کرم سره جنت او د جنت ټول نعمتونه ورکوي.

د دې په عکس کله یو کافر نیک کار کوي مثلاً د مخلوق په خدمت کې اخته وي، په [illegible] او [illegible] کې مرسته کوي. د خلکو ترمینځه صلح کوښښ کوي، عدل او انصاف قائمولو کوښښ کوي، نو د کافر سره

ایمان او عقیده نه وي نو ځکه هغه د آخرت د بدلې نه محروم وي. هو! د هغه په نیک کار باندې الله تعالی هغه

ته په دنیا کې بدله ورکوي. مثلاً بدني روغتیا ورکوي، فراخه رزق ورکوي، حکومت ورکوي، او د دنیا

عارضي نعمتونو نه هغه ته د خوند اخستلو موقع ورکوي. او کله چې مړ شي نو په آخرت کې هغه ته د سزا او

عذاب نه سوا هیڅ نه ورکولی کیږي. پاتې شو هغه مؤمن چې هغه په دنیا کې ګناه کړې، نو کله کله الله

تعالی هغه ته په بدله په دنیا کې د سزا په توګه باندې ورکوي، او د آخرت لپاره هغه پاکوي. (مرقات ۹/۹)

جنت او دوزخ په کومو کومو شیانو کې پټ دي؟

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دوزخ اور په شهوتونو باندې

وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ: «حُفَّتْ» . بَدَلَ «حُجِبَتْ»

خواهشات او خوندونو باندې پټ کړی شویدی. او جنت سختۍ او مشقتونو کې پټ کړی شویدی.

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۶۲ رقم الحديث (۲۸۰۸-۵۶) واحمد في المسند ۳/۱۲۳.

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۲۰ رقم الحديث ۶۴۸۷، ومسلم في صحيحه ۲/۲۱۷۴ رقم الحديث ۱/۲۸۲۲

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: حجبت: دا د حجاب نه دی. د پردي په معنی دی. په یوه نسخه کې د حفت لفظ دی. هغه د پټولو په معنې دی. مطلب دا دی چې څنګه جنت او دوزخ په حقیت کې ډیر غټ فرق دی، دغه شان هغې ته د رسیدلو په اسبابو کې هم ډیر فرق دی. ځکه چې د هر وی مخې ته پردي پرتي دي. دې پردو نه به اوریدل غواړي، نو دوزخ چې په کومو پردو کې پټ کړی شویدی. هغه د انسان خواهشات دي، چې هغې ته په نورو الفاظو کې آزاد ژوند ویلی شي. کله چې انسان د حرامو او حلالو فرق ختم کړي، او د نفس او خواهشاتو مطابق آزاد ژوند تیروي، زنا او شراب و کباب کې اخته وي، نه عبادت له راځي، او نه د کومې ګناه نه ځان ساتي، نو ګویا هغه د دوزخ په مَنډو او ښایسته پردو کې سفر کوي. څنګه چې دا پردي ختمې شي، مخامخ دوزخ او د هغې اور دی. په دې کې انسان راګیر شي. ګویا په دې پردو کې د دوزخ اور پټ کړی شویدی. دغه شان د جنت معامله ده چې هغه په امور تکلیفه شرعیه کې پټ کړی شویدی. قدم قدم باندې شرعي پابندۍ دي. حرام او حلال او جائز او ناجائز پابندۍ دي. عبادتونه او اوامر شرعیه مشقتونه برداشت کول دي. او نواهي او خواهشاتو نه ځان ساتل دي. نفس باندې دا شیان ګران دي. د واوري په هواګانو کې په کړنګو یخو اوبو باندې سحر و ختې د لمونځ لپاره اودس کول څومره ګران دي. د مشقتونو د دې پردو نه شاته جنت دی. څنګه چې دا پردي ختمې شي، مخامخ به جنت رابنکاره شي. خلاصه دا چې ظاهر بین، ظاهر پرست او بې عقله او تندي خوښونې خلک په ظاهر رنګ رونق باندې دهوکه شي، او حقیت خوښونکي خلک او عقلمند خلک په سنجیدګۍ سره په مستقبل باندې ژور نظر ساتي. او حقیقت راګیر کړي.

فسوف ترى اذا انكشف الغبار ... افرس تحت رجلك ام حمار

د مال وزر لالچ کونکی غلام مه جوړیږه

﴿۷﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّيْنَارِ					
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: هلاک دې شي هغه سړی چې هغه د دینار غلام وي					
وَعَبْدُ	الدِّرْهَمِ	وَعَبْدُ	الْخَمِيصَةِ	إِنْ	أُعْطِيَ
د درهم غلام وي او د څادر غلام وي. چې کله هغه ته (مال او دولت او د فخر جامه) ترلاسه شي نو خوشحاله او					
رَضِيَ	وَإِنْ	لَمْ	يُعْطَ	سَخِطَ	
راضي او که ورنکړی شي نو خفه وي. د دغه شان سړي د دې بد خصلت وجې نه ګویا نبي عَلَيْهِ السَّلَام یا یا بد دعاء وکړه چې هلاک					
تَعِسَ	وَانْتَكَسَ	وَإِذَا			
دې شي. دغه شان سړی او ذلیل او سرټیټی دې شي. او (ګوری) کله چې د دغه سړي په خپه کې ازغی لاړ شي نو هغه دې					

شِيكَ	فَلَا	انْتُقِشَ.

خوک را ونه باسي. (د دینه وروسته یې د دین د طالبانو د زاهدانو هم ذکر وکړو چې هغه د کامیابۍ تر لاسه کولو او د دین د سرلوړۍ

طُوبَى	لِعَبْدٍ	أَخَذَ

لپاره محنت او مشقت او جهاد په ذريعه سره د الله تعالى په لاره کې مشغولوي، نو نبي عَلَيْهِالسَّلَام و فرمايل) سعادت او خوش بختي ده

بِعِنَانِ	فَرَسِهِ	فِي	سَبِيلِ	الله	أَشْعَثَ	رَأْسُهُ

د د هغه بنده لپاره چې هغه د خدای په لاره کې د جهاد لپاره د خپل اس واګې نيولې وي. د هغه د سر ويختان بېرا و

مُغْبَرَّةٌ	قَدَمَاهُ	إِنْ	كَانَ	فِي	الْحِرَاسَةِ	كَانَ	فِي	الْحِرَاسَةِ

قدمونو باندې دوړې وي، که دا ته د لښکر (د مخکنۍ صفونو) ساتنه باندې مامور کړی شي، نو په پوره توګه باندې ساتنه کوي

وَإِنْ	كَانَ	فِي	السَّاقَةِ	كَانَ	فِي	السَّاقَةِ

او که دا په لښکر کې شاته وساتلی شي نو په نوبه لښکر کې شاته وي. او که هغه د خلکو په مجلسونو کې ګډون کول غواړي

وَإِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يشفع». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ «١»

نو هغه ته د ګډون اجازت نه ورکولی کېږي او که هغه د چا سفارش کوي نو د هغه سفارش نشي قبليدلی.

توضیح: **تعِس**: عين باندې کسره ده. ناکام او نامراد په معنی دی. مراد بد دعاء ده. يعني د درهم او دينار غلام دې هلاک شي. درهم او دينار انسان هغه لالچي غلام دی څوک چې په ناجائز طريقه باندې مال راغونډوي. او په ناجائز لارو کې يې خرچه کوي. او د هغې شرعي حقوق نه ادا کوي. (مرقات ۹/۱۱)

الخميصة: ګل شوی تُور څادر او جامې ته خميصه وايي. که هغه د ريښمو وي او که د وړيو وي. رياکار، متکبر، او عيش پرست خلک دا استعمالوي. علامه حريري وايي:

لبست الخميصة ابغي الخبيصة — وانشبت شصّ في كل شيصة

ان اعطي: دا جمله د دې سړي د حريص کيدلو، خود غرض، او مطلب پرست کيدلو وضاحت او ښکاره کونکې دی.

وانتکس: انتکاس د سرټيټې په معنی دی. ذليل کيدل مراد دي. په دې جمله کې نبي کريم صَلَّىاللّٰهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د لالچ کونکې سړي لپاره مکرره بد دعاء کړيده.

واذا شيك: **شوکة**: ازغي (غنه) ته ويل کيږي. مطلب دا دی چې کله د ده په خپه کې ازغی لاړ شي نو خدای دې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۸۱/۶ رقم الحديث ۲۸۸۷، وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۸۶ رقم الحديث ۴۱۳۵

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړي چې د ته پکې پاتې شي.

فلاانتقش: انتقاش په خپه کې ننوتلي ازغي د لټولو په معنې دی. دا صيغه معروف او مجهول دواړه ويلی شويده. د معروف مطلب دا دی چې داسې سړی دې د دې ازغي په راويستلو باندې خپله قادره نشي. او د مجهول مطلب دا دی چې د دې سړي د خپې نه دې دا ازغی راونه ويستلی شي. هيڅوک دې د ده مرسته ونکړي. مراد دا دی چې د داسې نامراده دې په هيڅ صورت کې مسلمان مرسته ونکړي. د دې نامراده سړي په مقابله کې نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو کامياب او بامراد سړي تذکره هم کړيده.

طوبى: يعنې سعادت او خوش بختي دې نصيب شي، يا د جنت د طوبىٰ ونه دې د دې سړي په نصيب شي.

لعبد: يعنې کوم سړی چې خالص د الله تعالی بنده وي. د راهم او دنانيرو بنده نه وي.

بعنان: عنان واګو ته وايي.

في سبيل الله: اى طريق الجهاد: يعنې مبارک دې وي په هغه سړي چې هغه هر وخت د جهاد لپاره تيار وي. د اس واګې په لاس کې کلک نيولي د خپل امير د حکم په انتظار کې وي چې کله ورته حکم ورکولی کيږي. او دا مجاهد په دښمن باندې وردانګي.

اشعث: پير. د دوړو ډکو ويختانو والا ته اشعث وايي.

مغبرة قدماه: يعنې د چا خپي چې په خاورو باندې ککړي وي. مطلب دا چې په پورا محنت او مشقت سره د الله په لاره کې جهاد کوي. د عيش او آرامونو او نښان نه غواړي. ګمنامه ژوند تيروي. د امير د اطاعت پابند وي. چيرته چې حکم وي. هلته په منډه ځي. ګويا هغه د الله په لاره کې د ځان نه ناخبره سرمست درويش دی. رنګ، نسل، علاقه او د وطن پابند نه دی. لکه يو چا څه ويلي دي:

درويش خدا مست نه شرقی ہے نه غربی — گھر اس کا نه دلی نه صفاہاں نه سمرقند

في الحراسة: حراسة څوکيدارۍ ته وايي. دلته د مجاهدينو د لښکر څوکيدارۍ مراد ده. او هغه هم د مقدمة الجيش چې هغه د ټولو نه ډيره نازکه او حساسه څوکيداري ده. ځکه چې په دې کې د دښمن خطره ډيره وي.

الساقة: د لښکر آخري برخې ته ساقه وايي. په دې دواړو ځايونو کې ډير مشقت وي. د لښکر اوله برخه په جنګ کې اول ننوځي. او وروستي برخه د ټولو نه وروسته د جنګ نه راوځي. دا مرد مجاهد په دواړو حالتونو کې د امير اطاعت کوي. او مشق برداشت کوي.

دلته یو فني پوښتنه ده. هغه دا چې په شرط او جزاء کې مغایرت ضروري دی. دلته شرط او جزاء دواړه یو شی دی. د دې جواب دا دی چې شرط او جزا کله دواړه یو شی وي نو د جزاء نه کامله جزاء مراد اخستل کیږي. عبارت به په دې توګه وي: ان کان في الحراسة کان کاملاً في الحراسة. دغه شان په شرط او جزاء کې به تغایر راشي. د دې حدیث مطلب دا هم کیدی شي چې دا ګمنام مخلص مجاهد دی د نوم او ځان ښودنې شوقین نه دی دا یو ځای کې په څوکیدارۍ ودروه، نو د مجاهدینو څوکیدارۍ کوي. او که د لښکر په پیخې آخره کې د کمزورو، ښځو او ماشومانو خواته د ساتنې لپاره ورتاکي نو هلته هم وسیږي. ګمنام مسکین فقط د اجر او ثواب طلبګار دی. دا مطلب د حدیث د آخري برخې سره ډیر مناسب دی خو یو شارح هم دا مطلب نه دی لیکلی. (مرقات ۱۴، ۹/۱۳)

لم یؤذن له: یعنې ګمنام مسکین دی، نه ده ته رخصت ورکولی کیږي، نه د ده سفارش کار کوي، نه د ده خبره څوک اوري. بس ټول ثواب به راغونډ وي، او چپ وسیږي. (مرقات ۹/۱۴)

۶ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ — مالداري په خپل ذات کې بد شی نه دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ مِمَّا
او د حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د خپل وفات نه وروسته
أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا».
ستاسو په اړه ما سره د څه ویره ده، په هغو کې یو شی د دنیا تازه والی او زینت دی. کوم چې به تاسو ته ترلاسه کیږي.
فَقَالَ رجلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أَوَ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟
دې او رېدلو باندې یو سړي وویل چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! آیا ښیګړه به د خپل ځان سره بدي هم راوړي؟
فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنَزَّلُ عَلَيْهِ قَالَ:
نبي علیه السلام چپ ؤ، تردې چې مونږ دا ګمان وکړو چې په نبي علیه السلام باندې وحې نازلیږي. حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه فرمایي
فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ وَقَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟».
چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپل مخ مبارک نه خوله وچه کړه او بیا یې وفرمایل چې هغه سړی چیرته دی چا چې پوښتنه کړې وه؟
وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ فَقَالَ: «إِنَّهُ
ګویا نبي صلی الله علیه وسلم د پوښتنه کونکي د پوښتنې صفت وکړو. او د دېنه وروسته یې وفرمایل: حقیقت دا دی چې
لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ
چې ښیګړه د ځان سره بدي نه راوړي (نبي صلی الله علیه وسلم د دې مثال دا سې بیان کړو چې) د پسرلي موسم چې هغه شینکی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ أَكَلَتْ

راتو کوي او د ځاروي خیټه په مړولو باندې وژني یا یې مرګ ته نیژدې کوي، ځکه چې دې خوړونکي ځاروي دا

حَتّٰى امتدت خاصرتاها استقبلت الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ

شینکې دومره وخوړولو چې د دې دواړه تشي راوپړسیدل. نو هغه لمر ته مخامخ کیناستلو. او نرې خاشنه

وَبَالَتْ ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ. وَإِنَّ هٰذَا الْمَالَ

او متیازې کولو باندې شرخاې ته لاړو او شینکی خوړل یې شروع کړل، او حقیقت دا دی چې د دنیا دا مال او

خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ

زر، تازګي، او نرمه او زړه راخکونکي ده. لهذا کوم سړي چې د نیا مال او زر د حق سره ترلاسه کړي او هغه

فِي حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ وَمَنْ أَخَذَهُ

د دې په حق کې خرچه کړي نو دغه مال او زر به د ده په حق کې ډیر ښه مرسته کونکی ثابت شي. او کوم سړی

بِغَيْرِ حَقِّهِ كَانَ كَالَّذِي

چې دا مال او زر په د حق نه بغیر یعني په ناجائزه توګه باندې ترلاسه کړي نو دا د هغه سړي په شان دی چې

يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَيَكُونُ

هغه خوراک کوي او مړیږي نه او دغه مال او زر به د قیامت په ورځ باندې د هغه په حق کې (د هغه د

شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

اسراف او د هغه د حرص او طمع) ګواه وي.

توضیح: اويأتي الخير بالشر: د هغه سړي د پوښتنې مقصد دا دی چې په قرآن کریم الله تعالی مال د الخیر په نوم سره یاد کړی دی. سورة عادیات کې دي: وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ. کله چې د دنیا مال خیر دی نو دا د ویرې او شر او ضرر سبب څنګه جوړیدلی شي؟

فسکت: د وحي د نزول په انتظار کې نبی ﷺ چپ شو. دې لپاره چې د الله تعالی دا رخ نه د دې پوښتنې په اړه باندې جواب راشي.

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۳/۳۲۷ رقم الحديث ۱۴۶۵ ومسلم في صحيحه ۲/۷۲۸ رقم الحديث (۱۰۵۲-۱۲۳).

الرحضاء: د تبې د وجې نه چې په مخ باندې كومه خوله راځي هغې ته رحضاء وايې. شاعر ساحر ابوطيب متنبي وايي:

لم تحك نائلك السحاب ... وانما حمت به فصبيبها الرحضاء

په حديث كې چې د كومې خولې ذكر راغلې ديدا دوحې د سختوالې د وجې نه به راتلله. (قال) يعنې د حديث راوې ابوسعيد خدرى رضي الله عنه فرمايې (وكأنه حمده) يعنې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د هغه سړې پوښتنه خوښه كړه، ځكه چې دا پوښتنه علمي وه چې دامت لپاره فائده منده وه. (انه) دا ضمير شان دى.

لايأتي الخير بالشر: يعنې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ښيګړه بدې نه راوړي. يعنې بنفسه مال اګركه ډير وي. دا دخپل ذات په اعتبار سره بدې نه راوړي، په دې كې كه بدې راځي نو هغه د عارض او خارج د وجې نه راځي. چې سړى د اعتدال د حد نه په وتلو سره بخل او حرص او لالچ او اسراف كې اخته شي. بيا مال نقصان كوي. د دې مثال داسې دى چې د پسرلې موسم بهترين شينكى او ګياه راټوكوي، چې هغه في نفسه خير خير دى. خو كه ښايسته ګياه يو ځاروى د حد اعتدال نه ډير وخوري نو د دې عارض د وجې نه هلاكت راځي چې په هغې سره به دا هلاك شي. نو دا هلاكت او ضرر عارضى خارجې دى. او د دې په اراده سره په پسرلي كې چې كله په زمكه كې په قِسما قِسم ګياه پيدا شي او ځاروي د هغې خوړلو ته مخه كړي او ګياه په ښايسته ګڼلو باندې د حد اعتدال نه ډير وخوري نو د بدهضمۍ د وجې نه د هغې خېټه خرابه شي بلكې كولمې يې وپړسيږي، او ځناور په حقيقت كې مړ شي. يا كه واقعې مړ نشي نو مرګ ته نژدې شي. نو څنګه چې دلته د پسرلي د موسم څه قصور نشته بلكې د حد اعتدال نه د ډير خوړونكې ځناور قصور دى، دغه شان معامله د دنيا د مال او انسان ده كه انسان مال دغه شان جمع كوي، چې د هغه حق نوي او د حلال او حرام فرق نكوي، يا د مال د ډيروالې د وجې نه په انتهايي عيش وعشرت او عياشۍ او غفلت كې ژوند تيرول شروع كړي، نو په دغه توګه هغه اخلاق رذيله كې ګرفتاريدلو په وجه باندې به هلاك شي. دلته قصور د مال ندى. بلكې د هغه د غلط استعمال دى. (مرقات ۹/۱۵)

مايقتل حبط: احبط د هلاكت په معنى دى. خو هغه هلاكت چې هغه د څه شي په خوړلو باندې په خېټه كې د بدهضمۍ د وجه نه پيدا شي او خوړونكى سمدستې مړ شي.

اويلم: المريلم: نژدې كيدلو په معنى دى. يعنې هلاكت ته نژدې شي.

الاآكلة: علامه طيبي رحمه الله فرمايي: آكلة منصوب دى، او دا د يقتل لپاره مفعول به دى او استثناء مفرغ ده. عبارت داسې دى چې: ان ممايلبت الربيع مايقتل آكلة الا آكل الخضر. ملا على قارى رحمه الله داسې عبارت راوباسي: ان

Maktaba Tul Ishaat.com

ممايُنبت الربيع مايقتل اويلم كل آكلة الا آكلة الخضر. دا عبارت په مستثنی متصل باندې هم حمل کولی شي. علامه طيبي رحمه الله دا هم ليکلي دي چې دا استثناء منقطع ده. چې د لکن په معنی دی،.نوی کلام دی، دا ډير آسان دی.

اكلت: اى الماشية الآكلة اكل: يعنې خوړونکی سبزه خور څناور شينکی وخوړلو. (مرقات ۹/۱۵)

امتدت: دا امتداد نه دی: يعنې د ډيري ګياه په خوړلو باندې يې دواړه تشي وپړسيدل.

خاصر: تشو ته وايې. **عين الشمس**: د څاروي خيټه چې کله د ډير خوراک د وجې نه وپړسيږي. نو هغه لمر ته مخامخ ودريږي يا کيني. دې لپاره چې د لمر د تپ د وجې نه په خيټه کې دننه هرڅه هضم شي.

ثلطت: خاشنه او پاخانه چې کله نرمه او نری شي ، دستونه کيدلو سره بيرون راوځي. نو ديته ثلط وايي.

ثم عات: يعنې کله چې خيټه خالي شي، نو بيا د ګياه خوړلو لپاره د څريدلو لپاره څاروی ځي. علامه ازهری رحمه الله په حواله سره علامه طيبی رحمه الله فرمايي چې په دې حديث کې نبی ﷺ دوه مثالونه بيان کړيدي. اول مثال د هغه لالچ کونکې سړې دی، چې هغه په ناجائز او حرام طريقې سره مال راغوندوي، او د هغې حقوق نه ادا کوي. دا د زهرجني ګياه پشان دی. د دې په اړه يې وفرمايل چې : **ما يقتل حبطاً**: دا مال دغه سړی هلاکوي. دويم مثال دهغه درميانه سړې دی چې هغه په **الا آكلة الخضر** سره نبی کريم ﷺ بيان کړو دا مال د زهرجني ګياه په شان نه دی. بلکې د ژبې د موسم د هغې ګياه په شان دی چې هغه د خوراک قابله ده. اګر که د حرص او لالچ په وجه باندې دغه سړې د مال په جمع کولو کې د حد اعتدال نه تجاوز کړيدی. او اسراف يې کړيدی. ليکن ډير ژر دا سړی خبردار شو او توبه يې وکړه او د حرص نه منع شو. څنګه چې د دې څناور مثال دی، چا چې ګياه ډيره وخوړله. خو ژر يې خپل علاج هم وکړو نو بچ شو.

علامه طيبي رحمه الله د دې حديث د مثال په اړه باندې يوه بله تشريح هم کوي چې د دې حديث نه څلور مثالونه راوتلی شي. اول مثال خو د هغه کافر دی چې هغه د دنيا زهرجني ګياه خوړلو سره هلاک شي. دويم مثال دهغه ظالم مسلمان دی چې هغه په ګناهونو کې اخته کيدلو سره هلاکت ته نژدې شي. دريم مثال دهغه درميانه مسلمان دی چې هغه کله ګناه او کله نيکې کوي. **مايقتل حبطاً** کې اول مثال اړخ ته اشاره ده. **اويلم**: کې دويم مثال اړخ ته اشاره ده. او **آكلة الخضر** کې دريم مثال اړخ ته اشاره ده او څلورم مثال اګر که په دې حديث کې ذکر ندی خو په بل حديث کې دي چې چا دنيا پريخودله او عقبی يې غوره کړه چې هغه ته سابق بالخيرات ويلی کيږي، په قرآن کې الله تعالی هغه ذکر کړيدی. امام غزالی رحمه الله دنيا او په دې کې د وسيدونکو خلکو مثال د يو سمندرې کشتۍ سره ورکړی دی. چې هغه په

سمندر کې سفر کوي. او څه لږ وخت وروسته د یو ټاپو سره ودرېږي. د کشتۍ مالک په هغې کې سپاره شوو خلکو ته وایي چې دې وچ ټاپو ته کوز شئ، او قضائ حاجت او داسې نور ضرورتونو نه فارغه کولو باندې ژر راشئ، دې لپاره چې مخکې سفر جارې وي. امام غزالي رحمه الله فرمایې چې په ټاپو کې کوزیدونکې انسانان په درې قسمونو کې تقسیم شي. یوه طبقه خو د کشتۍ د مالک د اعلان په مطابق باندې خپل قضائ حاجت او د ضرورت تر حده ایسار یدلو پورې بیرته ژر ژر کشتۍ اړخ ته راغلل. او چیرته غوا ړي په خالي کشتۍ کې په هغه ځاې کې کیناستلو. دویمې طبقې د ټاپو نه ښایسته ښایسته کاڼي او شیان راغونډ کړل، په دې کې هم ناوخته شو او په اوږو باندې هم بار راوړل ګران شو او ناوخته راتګ باندې چې یې وکتل نو په کشتۍ کې خالي ځاې نشته دی. او غاړو ته په وسپنو او کونډو باندې کیناستل او خپل بار یې په خپل سر کیخودلو او په ډیر تکلیف کې ؤ خو کیناستل. او دریمه طبقه د هغه خلکو جوړه شوه چې هغوې د ټاپو په نظر ښایسته راتلونکې شیان وکتل او په هغې کې اخته شو او وې ویل چې مونږ به هم دلته یو. په کشتۍ کې د کیناستلو او د مخکې سفر کولو مونږ ته ضرورت نشته دی. دې وینا سره د هغوې نه کشتۍ لاړه. او دا خلک څه وخته پورې په دې جزیره کې خوشحاله ؤ. خو کله چې د ژوند د ضرورت اسباب ختم شو، نو دا خلک په دې جزیره کې په نهایت درد او سختي سره مړه شول. په دې حدیث کې اول مثال د زاهد مؤمن دی. دویم مثال د میانه رو ګناهګار مسلمان دی. او دریم مثال د کافر دی. بهرحال د حدیث چې څومره برخه تیره شویده، د هغې مطلب او خلاصه دا راوولته چې مال خیر دی او خیر شر نه راوړي. خو کله کله د غه مال په غلطه طریقه باندې ترلاسه کیدلی شي. او د دې د حقوق لحاظ نشي کیدلی. چې هغه انسان هلاکوي. څنګه چې زهرجنه ګیاه څاروی تباه کوي. نو مال صالح پکار دی. زهرجن کیدل پکار ندی. د غه شان کله کله مال صالح وي خو د حد اعتدال نه ډیر استعمالولو باندې نقصان کوي، څنګه چې ښایسته ګیاه ده خو دا څناور د حد نه ډیره وخوړله نو په دې سره بدهضمې پیدا شوه. او دستونه یې شروع شول. نو دینا چې کله ډیره شي نو دا هم انسان په دستونو کې اخته کوي. یو ولي الله ویلي دي چې د دنیا مثال د زهرجن مار په شان دی. که د مار په دم پوهیږې نو مار به دې په قابو کې وي. او که نه وي نو ټک به درله درکوي. او د دې مار دم دا دی چې د دنیا مال په جائز طریقه باندې ترلاسه کړی شي او په جائز طریقه باندې استعمال کړی شي. وان هٰذا المال: په دې جمله کې نبی کریم ﷺ د دنیا په مینه کې د خلکو بیلابیل حالتونه بیان کړیدي. چې دا دنیا د ښایست او زینت په اعتبار سره شنه، تازه، زړه راخکونکې او خوږه ده. طبعًا هر سړی دا خوښوي. نو چا چې دا په صحیح او جائز طریقه باندې ترلاسه کړه او په جائز طریقه باندې یې استعمال کړه نو دا د یو صالح انسان د مقصدونو لپاره یو ښه معاون او مرست کونکې دی. او چا چې دا دنیا او مال په ناجائز طریقه باندې ترلاسه کړو او په ناجائز کارونو کې یې خرچ کړو نو دا د هغه لپاره د خپل ځان ګناه د. چې د هغې په وجه باندې به انسان په یو لاعلاجه ناروغۍ کې اخته شي. هغه به د دنیا غلام

Maktaba Tul Ishaat.com

کيدلو باندې د دې څو کيدار شي. او د هغه مثال به د جوع البقر د ناروغې والا مريض په شان شي. چې هغه خوراک کوي خو ولږه يې نه ختميږي يا د استقاء د مريض په شان به شي چې هغه اوبه څکي خو تنده يې نه ختميږي. هم دا بس نده بلکې د قيامت په ورځ باندې به دا مال د هغه په خلاف باندې و درېږي او دا به ګواهي ورکوي چې دا سړی ډير حريص، لالچي او حرام خور او غل ؤ. (مرقات ۹/۱۷)

خلاصه دا چې د دنيا مال حجاب اکبر دی. دا د دوزخ د او ر نه هم پرده جوړيدلی شي او د جنت لپاره هم پرده جوړيدلی شي.

يار ناپائيدار دوست مدار | دوستی رانه شايد اين غدار

جګه جی لګانے کی دنيا نہيں ہے | يہ عبرت کی جا ہے تماشا نہيں ہے

غريبي او ولږه نه بلکې ډير مالونه د خطرې سبب دی

﴿۶﴾وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «فَوَاللهِ					
او حضرت عمرو بن عوف رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په خدای قسم! ما سره ستاسو د					
لَا الْفَقْرُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا					
غريبي هيڅ ويره نشته دی بلکې د دينه ويريږم چې دنيا به په تاسو باندې فراخه کړی شي لکه څنګه چې					
بُسِطَتْ	عَلَى	مَنْ	كَانَ	قَبْلَكُمْ	فَتَنَافَسُوهَا كَمَا
په هغه خلکو باندې فراخه کړی شوي وه چې ستاسو نه مخکې ؤ. نو تاسو به د دنيا اړخ ته رغبت وکړی لکه					
تَنَافَسُوهَا		وتهلككم			كَمَا
څنګه چې ستاسو نه مخکې خلکو د هغه ته رغبت کړی ؤ. او بيا به دا دنيا تاسو داسې تباه کړي لکه څنګه چې					
أهلكتهم» . مُتَّفق عَلَيْهِ[۱]					
يې هغوی تباه کړي ؤ. (بخاری ومسلم)					

توضيح: فتنافسوها: ای فتتنافسوا فيها: خوښ شي ته د زړه ميلان ته تنافس وايي. مراد رغبت دی چې د دنيا ترلاسه کولو لپاره د يو بل نه مخکې کيدلو سره به منډه اخلی. او د دې په جمع کولو کې به اخته شی. په دې کې به حرص کول شروع کړی. بيا د ډيروالي د وجې نه به په تکبر او تجبر او بغاوت کې پريوځی. نو هغوي به تاسو هلاک کړي. دا دنيا هم هلاکت دی او د آخرت هم هلاکت دی. د ريښمو د چينجي په شان چې

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۷/۳۱۹ رقم الحديث ۴۰۱۵ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۳ رقم الحديث ۶/۲۹۶۱.

هغه د خپل بدن نه د ریښمو تار را ایستلو باندې په خپل بدن باندې تاوهي. او په آخر کې په هغې کې په لاندې کېدلو سره مړ شي. یا د څپیاکو د چینجي (ګونګټ) په شان چې د ګندګۍ غونډارۍ جوړلو باندې خپلې سورې ته د ننویستلو کوښښ کوي خو د سورې د تنګوالې د وجې نه هغه پرېخودلو باندې خپله د ننه لاړ شي. انسان هم هر څه پرېخودلو باندې قبر ته یواځې داخلیږي. (مرقات ۹/۱۸،۱۹)

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

بهرحال د مال په ډیروالې کې دا هلاکت هم دی چې مال کله سړی ګیر کړي نو هغه بزدله کېدلو باندې د جهاد نه ویرېږي. نو دښمن په راتلو سره هغه هلاک کړي.

د کفاف په اندازه مال ښه دی

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ
او حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دعاء وکړه: ای الله ته آل د محمد صلی الله علیه وسلم ته
قُوتًا» وَفِي رِوَايَةٍ «كَفَافًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
قوت لایموت رزق ورکړه او په یو روایت کې د کفاف (چې د انسان لپاره کافي کېږي) لفظ دی.

توضیح: آل محمد: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل ذات لپاره دا معیار ټاکلی شوی ؤ چې د ځان سره به یې څه جمع نه ساتل. د خپل اهل بیت لپاره یې دا معیار ؤ چې د کافي کېدلو په اندازه او د قوت لایموت تر اندازې پورې د ساتلو اجازت به یې کولو او د عام امت لپاره یې دا معیار ؤ چې د حلال رزق ګټلو او په صحیح طریقه باندې د استعمالولو اجازت به یې ورکولو. د علماؤ یوه ډله دې اړخ ته تللي ده چې د حلال مال فراخي د فقر او ولږې نه غوره دی. خویوه ډله دې اړخ ته تللي ده چې فقر او ولږه د مال د فراختیا نه غوره ده. بهر حال د هر سړي احوال بیل بیل وي. **لایقاس الملوك بالحدادین:** باچاهان په آهنګرو باندې نشي قیاس کېدلی. کفاف او قوت لایموت د بل سره نږدې نږدې یو مفهوم لري. (مرقات ۸/۱۹،۲۰)

علامه طیبی رحمه الله لیکي چې د کفاف حکم او مفهوم د خلکو د احوالو د اختلاف سره بیلیږي. ځینې خلک په ټوله اونۍ (هفته) کې یو ځل ډوډۍ خوري. د هغوی لپاره هغه کفاف دی. ځینې خلک یې په ورځ کې دوه ځل خوري. د هغوی لپاره هغه کفاف دی. ځینې خلک عیالداره وي نو د هغوی لپاره دومره کفاف دی چې د هغوی د بچیانو لپاره کافي شي. ځینې خلک د لږ عیال وي نو د هغوی لپاره لږه غذا کفاف دی. خلاصه دا چې د کفاف ټاکلې اندازه نشته بلکې د کافي کېدلو په اندازه باندې کفاف دی. دې لپاره چې په طاعاتو کې قوت وي او بې ځایه مشغولتیا هم نوي. (الکاشف: ۹/۳۳۶)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۸۱ رقم الحديث ۶۴۶۰ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۸۱ رقم الحديث (۱۰۵۵-۱۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَدْ أَفْلَحَ

او حضرت عبدالله ابن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: هغه سړی کامیابی او نجات

مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا

ته ورسیدلو چا چې اسلام قبول کړو، هغه ته د کفاف په اندازه رزق ورکړی شو او الله تعالی په هغه څه باندې چې

وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

ته ورکړی شویدی، قناعت یې ورکړو.

د انسان مال په درې قسمه دی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَقُولُ الْعَبْدُ: مَالِي مَالِي.

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: بنده وایي چې زما مال زما مال

وَإِنْ مَالَه مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ:

او حقیقت دا دی چې هغه ته د دې مال او دولت نه کوم برخه تر لاسه کیږي هغه فی الجمله درې شیان دي:

مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى

یو خو هغه شی کوم چې ده وخوړلو او ختم یې کړو. دریم شی هغه کوم چې ده واغوستل او زوړ یې کړو یعنې ویستلو باندې

أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى.

یې ګوزار کړیا و دریم شی هغه دی کوم چې ده د خدای په لاره کې ورکړو او (آخرت لپاره یې) ذخیره کړي. د دې دریو او

وَمَا سِوَى ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ

شیانو نه غیر چې هر څه دي (لکه زمکه. جائیداد. څاروي او داسې نور) نو دا سې دي چې هغه دا د خلکو لپاره

وتاركهُ للنَّاس". رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

پریخودلو باندې (د دې دنیا نه) تلونکی دی.

توضیح: وان ماله: ما موصوله بمعنی الذی دی او د له حرف د حصل سره متعلق دی. او من ماله هم د دې سره متعلق دی. او ثلاث خبر دی. فابلی: یعنې جامه مال دی، کوم چې یې واغوستلو او زړه یې کړه.

([1])أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۷۳۰ رقم الحديث (۱۰۵۴-۱۲۵) والترمذي في السنن ۴/۴۹۷ رقم الحديث ۲۳۴۸.

([2])أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۳رقم الحديث (۲۹۵۹-۴) والترمذي في السنن ۴/۴۹۴ رقم الحديث ۲۳۴۲.

فاقتنٰی:ای جعله قنیة وذخیرة للعقبٰی: یعنې خیرات او صدقه کولو باندې د آخرت لپاره ذخیره وساتله. فهو: یعنې دغه بنده تلونکی دی. او مال د خلکو لپاره د میراث په توګه باندې پرېخودونکی دی. یعنې د انسان اصل مال کوم چې د هغه په کار راغلو په درې قِسمه دی(۱) کوم چې هغه وخوړلو ، دا د ده مال دی.(۲) کوم چې یې واغوستلو دا د ده مال دی(۳) کوم چې یې د الله نوم باندې ورکړو ،دا د ده مال دی. چې د هغې اجر به په آخرت کې ورکولی کیږي. د دینه علاوه وبال دی، نه دا چې د ده مال دی. (مرقات ۸/۲۱)

دانسان سره به قبر ته فقط د ده عمل ځي

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ:
او حضرت انس رضي الله عنه فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مړې سره (تر قبرپورې) درې شیان ځي
فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ
په هغې کې دوه شیان خو بیرته راځي او یو شی د هغه سره پاتې کیږي. نو د هغه متعلقین(لکه اولاد. عزیزان او خپلوان
وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ
او داسې نور) او د هغه مالونه(لکه نوکر چاکر ، کټ، ګاړی) او د هغه اعمال د هغه سره پاتې کیږي. په دې
وَيَبْقَى عمله". مُتَّفق عَلَيْهِ [۱]
دریواړو کې متعلقین او مال خو (هغه یوائې پرېخودلو باندې) بیرته راشي او د هغه اعمال د هغه سره پاتې کیږي

خپل مال د آخرت ذخیره جوړه کړه

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّكُمْ
او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمایې چې(یوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په تاسو هغه سړی
مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ؟» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ
څوک دی چې هغه د مال نه ډیر د خپل وارث مال خوښوي؟ صحابؤ عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! په
مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِ وَارِثِهِ. قَالَ:
مونږ کې یو سړی داسې نشته چې هغه د خپل مال نه ډیر د وارث مال خوښوي. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ
په حقیقت کې د ده مال هغه دی کوم چې ده (صدقه او داسې نور د ثواب به صورت کې) مخکې ولیږلو او د ده د

([۱])أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۶۲ رقم الحديث ۶۵۱۴،وأخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۳ رقم الحديث ۲۹۶۰، ۵/۲۹۶۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَالَ وَارِثِهِمَا أَخر» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[۱]
وارث مال هغه دی کوم چې هغه د ده د خپل ځان نه وروسته پرېخودلو .

توضیح: مال وارثه: يعنې په تاسو کې څوک داسې دی چې هغه ته د خپل مال نه ډېر د خپل وراث مال خوښ وي. صحابؤ وفرمايل چې داسې سړی هیڅوک نشته چې هغه ته د خپل مال نه ډېر د خپل وارث مال خوښ وي. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بيا لږ سوچ وکړه چې کوم مال د مړې نه پاتې شي، هغه د ده د وارثانو دی. او کوم مال چې يې د خپل مرگ نه مخکې د الله په لاره کې خرچه کړي، هغه په حقيقت کې د ده خپل مال دی. حالانکې دا سړی د هغه مال د خرچ کولو په ځای باندې وروسته خپل وارث ته پرېږدي. نو په حقيقت کې دا سړی د خپل مال نه ډېر د وارث د مال خيال ساتي. چې دا سراسر د عقل، مشاهدې او تجربې نه خلاف ده. (مرقات ۸/۲۲)

﴿۱۵﴾ وَعَنْ مُطَرِّف عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت مطرف د خپل پلار (عبدالله بن شخیر) نه نقل کوي چې هغه وفرمايل چې زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر
وَهُوَ يَقْرَأُ: (أَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ)
شوم نو دغه وخت نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ لوستلو (چې ددې معنی دا ده: ای خلکو! تاسو خپل مينځ کې په خپلې مالدارۍ
قَالَ: " يَقُولُ ابْنُ آدَمَ:
او مشرۍ باندې فخر او ناز کولو په سبب باندې د آخرت نه بې پرواه شوي وی) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې ابن آدم وائي
مَالِي مَالِي". قَالَ: «وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ
زما مال زما مال وايي. بيا نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ای ابن آدم! تا ته چې ستا د مال نه څه تر لاسه کيږي او ته څومره فائده اخلې،
إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ
هغه دومره ده چې ته کوم شيان وخوري او هغه ختم کړې يا واغوندې او هغه زاړه کړې يا د خدای په لاره کې
أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ؟؟» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[۲]
خرچه کړې او د آخرت لپاره يې ذخيره جوړه کړې.

مالداري په زړه ده، په مال نه ده

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الْغِنَى
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: اصل مالداري او دولت مندي

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۶۰ رقم الحديث ۶۴۴۲، وأحمد في المسند ۱/۳۸۲.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۳ رقم الحديث (۲۹۵۸-۳) وأحمد في المسند ۴/۲۴ .

عَنْ	كَثْرَةِ	الْعَرَضِ	وَلٰكِنَّ	الْغِنٰى

دانده چې چې دځان سره ډیر مال او متاع وي بلکې حقیقي مالداري چې د کوم شي نوم دی هغه نفس یعني

غِنَى النَّفس» مُتَّفق عَلَيْهِ[1]

د زړه مالدارۍ او غني کیدل دي.

الْفَصْل الثَّانِي

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم: «من أَخذ عَنِّي هَؤُلَاءِ الْكَلِمَات

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی دی چې هغه زمانه پنځه

فَيَعْمَلُ	بِهِنَّ	أَوْ	يُعَلِّمُ	مَنْ	يَعْمَلُ	بِهِنَّ؟»

خبرې زده کړي او بیا په هغې باندې عمل وکړي یا یې هغه چا ته وښایي چې هغه په دې باندې د عمل کونکی وي

قُلْتُ:	أَنَا	يَا	رَسُولَ	الله	فَأَخذ	بيَدي

ما عرض وکړو چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! هغه سړی زه یم. نبي صلی الله علیه وسلم (زما لاس ونیولو (دې او ریدلو باندې) زما لاس ونیولو

فَعَدَّ	خَمْسًا	فَقَالَ:	«اتَّقِ	الْمَحَارِمَ

او پنځه خبرې یې راته وشمیرلې او (هغه یې په دې توګه) بیان کړې (۱) ته د هغه شیانو نه ځان وساته کوم چې شریعت حرام کړیدي

تَكُنْ	أَعْبَدَ	النَّاسِ	وَارْضَ

که ته د دې نه ځان ساتې نو ته به په بندیګانو کې د ټولو نه ډیر عبادت ګزار بنده یې (۲) ته په هغه څه باندې راضي

بِمَا	قَسَمَ	الله	لَكَ

او شکر ایستونکی شه کوم څه چې الله تعالی ستا په قسمت کې لیکلي دي. که ته د الله په تقدیر باندې راضي

تَكُنْ	أَغْنَى	النَّاسِ	وَ	أَحْسِنْ	إِلَى	جَارِكَ

او مطمئن شوې نو ستا شمیر به په مالداره خلکو کې کیږي. (۳) ته د خپلو ګاونډیانو سره ښه خوی کوه

تَكُنْ	مُؤْمِنًا	وَأَحِبَّ	لِلنَّاسِ	مَا	تُحِبُّ	لِنَفْسِكَ

که ته دغه شان کوې نو ته به کامل مؤمن ګڼلی کیږي (۴) ته چې کوم شی د خپل ځان لپاره خوښوې هغه د

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۷۱ رقم الحديث ۶۴۴۶ ومسلم في صحيحه ۷۲۶ رقم الحديث (۱۰۵۱-۱۲۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

تَكُنْ	مُسْلِمًا	وَلَا	تُكْثِرِ	الضَّحِكَ	فَإِنَّ	كَثْرَةَ

نورو ته لو خلکو لپاره خوښوه. که ته دغه شان کوي نو ته به کامل مسلمان ګڼلی کیږي(۵) او ته ډیري

الضَّحِكَ تُمِيتُ الْقَلْبَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

خندا کولو نه ځان وساته ځکه چې ډیر خندل زړه لره مړ (او د خدای د یاد ولو نه ناخبره) کوي.(احمد.ترمذی)

د عبادت لپاره فارغیدل د پریشانۍ حل دی

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ يَقُولُ: ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ای ابن آدم! زما د عبادت لپاره ته خپل زړه

أَمْلَأْ	صَدْرَكَ	غِنًى	وَأَسُدَّ	فَقْرَكَ

ښه فارغه او مطمئن کړه، زه به ستا سینه د استغناء نه ډکه کړم. او ستا لپاره به د فقر او غریبی لاره بنده کړم

وَإِنْ	لَا	تَفْعَلْ	مَلَأْتُ	يَدَكَ	شُغْلًا	وَلَمْ	

او که ته داسې ونکړي نو بیا به زه ستا لاس په قسما قسم فکرونو او مشغلو نه ډک کړم او ستا فقر او احتیاج

أَسُدَّ فقرك". رَوَاهُ أَحْمد وَابْن مَاجَه[۱]

به لرې نه کړم.(مسند احمد او ابن ماجه)

توضیح: تفرغ لعبادتي: د دې حدیث مطلب دا دی چې الله تعالی انسان ته لاربنود نه کوي چې ای انسانه! ته زما د عبادت لپاره فارغه شه زه به ستا ضرورتونه پورا کړم. او د فقر او ولږې لارې به دربانديې بندې کړم. او ستا زړه به د استغناء نه ډک کړم، بس ته د آخرت په فکر کې شه. زه به ستا دنیا جوړه کړم.

وان لا تفعل: یعنې که ته داسې ونه کړې نو زه به ستا لاسونه په دنیاوي مشغلو او مادي فکرونو او د زمانې مشکلاتو نه ډک کړم. بیا به ستړی ستړی ګرځې، دهیکي به خورې، نه به څه په لاس راځي او نه به زړه مستغني وي. خلاصه دا چې : **کونوا ابناء الآخرة ولاتکونوا ابناء الدنیا**. یعنې د آخرت بندیګان جوړ شۍ، د دنیا بنده ګان مه جوړیږۍ.

ابن آدم: دا منادی ده ، دلته حرف ندا محذوف ده. اصل عبارت: یا ابن آدم دی.(مرقات ۸/۲۷)

---

(۱) اخرجه الترمذي ۴/۴۷۸ رقم الحديث ۲۳۰۵ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۰ رقم الحديث ۴۲۱۷.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۴ رقم الحديث ۲۴۶۶ وابن ماجه في ۲/۱۳۷۶ رقم الحديث ۴۱۰۷.

تقوی سره برابر هیڅ عبادت نشته

﴿۱۹﴾وَعَنْ جَابِرٍقَالَ: ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته د يو داسې سړي ذکر وکړی شو چې هغه
بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ وَذُكِرَ آخَرُ
په عبادت او طاعت کې ډير مشغول وي او په دې کې ډير کوښښ او پابندي کوي. او د يو بل سړي په اړه ذکر
بِرِعَةٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
وکړی شو چې هغه پرهيزګارۍ خپله کړي. نو نبی کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چې (د پرهيزګارۍ نه بغير)
«لَا تَعْدِلُ بِالرِّعَةِ» . يَعْنِي الْوَرَعَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [1]
د عبادت او طاعت ډيروالی او په دې کې د سعي او پابندۍ کول د پرهيزګارۍ سره برابر مه ګرځوی

توضيح: بعبادة: يعنې د نبی کريم صلی الله علیه وسلم مخې ته د يو سړي تذکره چا وکړه چې هغه ډير زيات عبادت کوي خو د ګناهونو نه په ځان ساتلو کې څه لږ کمزوري دی.

برعة: دا لفظ د عدة په وزن باندې دی. را باندې کسره ده. او عين باندې زبر دی. دا د ورع په معنې دی. ورع تقوی ته وايي. او تقوی دګناهونو نه ځان ساتلو ته وايي. يعنې د يو بل تذکره د نبی کريم صلی الله علیه وسلم مخې ته په دې توګه وشوه چې هغه د ګناهونو نه د ځان ساتلو ډير کوښښ کوي اګر که ډير عبادت نکوي.

لاتعدل: نبی کريم صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو چې د عبادت ډيروالی د تقوی او د ګناهونو نه د ځان ساتلو سره مه برابروی. دا د نهي معروف صيغه ده او د مجهول هم کيدلی شي. د غه وخت به په تاء باندې ضمه وي او دال باندې به فتحه وي او صيغه به د نفي وي. مطلب دا چې په شريعت کې هيڅ خصلت د تقوی مقابله نشي کولی. د تقوی خصلت د ټولو نه اعلی دی. (مرقات ۸/۲۷)

دتقوی تعريف: ورع او تقوی يو شی دی. د دې دواړو يو څو تعريفونه دي. وګورئ:

علامه مير سيد سيد شريف جرجاني په خپل کتاب التعريفات کې تقوی او د ورع تعريف داسې کړی دی:

(۱) التقوى فى اللغة بمعنى الاتقاء وعند اهل الحقيقة هو الاحتراز بطاعة الله عن عقوبته

(۲) وقيل محافظ آداب الشريعة. (۳) وقيل مجانبة كل مايبعدك عن الله.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵۷۷/۲ رقم الحديث ۲۵۱۹

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴)وقيل ترك حظوظ النفس ومباينة النهى (۵) وقيل ان لا ترى فى نفسك شيئاً سوى الله

(۶)وقيل ان لا ترى فى نفسك خيرا من احد (۷) وقيل الاقتداء بالنبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قولاً وفعلاً

(۸) ولاورع هو الاجتناب الشبهات خوفاً من الوقوع فى المحرمات

(۹) وقيل هو ملازمة الاعمال الجميلة (تعريفات: ص: ۵۷، ۲۲۴)

(۱۰) وقال الراغب الاصفهانیؒ الورع فى عرف الشرع عبارة عن ترك التسرع الى تناول اعراض الدنيا وذلك ثلاثة اضرب(الف) واجب وهو الاحجام عن المحارم وذلك للناس كافة (ب) وندب وهو الوقوف عن الشبهات وذلك للاوساط من الناس (ج) وفضيلة وهو الكف عن كثير من المباحات والاقتصار على اقل الضرورات وذلك للنبيين والصديقين والشهداء والصالحين.

ذكر شوي تعريفونه ما په عربۍ کې نقل کړل. پوهيدونکو لپاره ذخيره ده. وس دوه تعريفونو باندې پښتو کې پوهه شي: حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوه ورځ د يو سړي نه پوښتنه وکړه چې د تقوی مفهوم څه دی. نو هغه سړي ووېل چې د تقوی مفهوم داسې دی چې مثلاً يو سړی د غنو (ازغو) په بوټو کې روان دی. خو هغه خپل بدن او خپلې جامې د جاځو او د غنو نه ساتلو سره روغ ووځي. دا د تقوی تصور دی. د ځينو احاديثو نه د تقوی مفهوم داسې راوځي چې سړی ظاهرًا او باطنًا خپله معامله د خپل رب سره پاکه وساتي.

د پنځه مصيبتونو نه مخکې پنځه نعمتونه

﴿۲۰﴾وَعَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ:
او حضرت عمرو بن ميمون اودی رحمه الله (تابعی) فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس ته نصيحت کولو کې وفرمايل:
" اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ
پنځه شيان د پنځه شيانو نه مخکې غنيمت وګڼه! (۱) بوډاوالي نه مخکې ځواني (۲) ناروغتيا نه مخکې روغيتا
وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَفَرَاغَكَ قَبْلَ
(۳) د فقر او غريبۍ نه مخکې مالداري او خوشحالي (۴) مشغلو او فکرونو کې اخته کيدلو نه مخکې د وخت
شُغْلِكَ وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسلا[1]
فراغت او اطمينان لره (۵) د مرګ نه مخکې ژوند لره.

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۲۴ رقم الحديث ۴۰۲۱.

په نیک کار کولو کې مه ناوخته کوه

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«مَا يَنْتَظِرُ أَحَدُكُمْ إِلَّا غِنًى مُطْغِيًا

په تاسو کې یو سړی مالدارۍ انتظار کوي چې هغه ګناهګارونکې او امر او نهې د حدودو نه تجاوز کونکې ده.

أَوْ فَقْرًا مُنْسِيًا أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا

یا د فقر او غریبۍ انتظار کوي چې هغه د حق اطاعت هیرونکی دی. یا د ناروغۍ انتظار کوي. چې هغه تباه کونکې ده.

أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا

یا د سخت بوډوالي انتظار کوي. چې هغه بې عقله او بدحواس جوړونکې ده. یا د مرګ انتظار کوي چې هغه ناڅاپه کار

أَوِ الدَّجَّالَ فَالدَّجَّالُ شَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ

کوي یا د دجال انتظار کوي. نو هغه بدخصلته دجال تر وسه ندی راښکاره شوی. د هغه انتظار کیدلی شي.

أَوِ السَّاعَةَ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ [1]

او هغه به په آخره زمانه کې راښکاره کیږي چې هغه په حوادثو او مصیبتونو کې د ټولو نه ډیر سخت دی.

توضیح: ما ینتظر احدکم: دا کلام د زجر او توبیخ او رټنې په انداز کې دی. په دې سره عبادت کې سستې کونکو لره بیداروله شي. مطلب دا دی چې ای سستې کونکو مسلمانانو! تاسو به د خپل رب عبادت کله کوی؟ د څه شي تاسو ته انتظار دی. که د بدن د روغتیا په زمانه کې او لږ مصروفیت په زمانه کې تاسو عبادت ونکړی نو د مشغلو ډیروالي او د بدن د کمزورۍ والي په وخت کې به تاسو څنګه عبادت وکړی شی؟ شاید تاسو ته نور څه انتظار نشته . یعنې ګمراه کونکې مالدارۍ انتظار دی یا عبادت هیرونکې فقر او غریبۍ انتظار دی یا د جسم بربادونکې ناروغۍ انتظار دی. یا لیونی جوړونکې بوډاوالي انتظار دی. یا ناڅاپه څکونکې مرګ انتظار دی. یا د دجال د راوتلو انتظار دی. چې هغه بدترین غیبې مصیبت دیږ چې د هغې انتظار کیدلی شي. یا د قیامت انتظار دی. حالانکې قیامت دروند مصیبت او تریخ حقیقت دی. خلاصه دا چې وس درسره وخت شته ، عبادت وکړی ، سستی مکوی. کله چې دا مصیبتونه راښکاره شي، بیا د عبادت دا ښایسته موقع به په لاس نه راځي. بیا به شرمیږی، څو فائده به نه وي. (مرقات ۸/۲۹)

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۷۸ رقم الحديث ۲۳۰۶

Maktaba Tul Ishaat.com

اب پچھتائے کیا ہوت جب چڑیا چگ گئیں کھیت

د دنیا بدي، د ذکر الله فضیلت

۲ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

﴿۲۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يادساتئ دنيا ملعونه ده.
مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالَاهُ
او څه چې په دنيا کې دننه دي هغه هم ملعون دي. البته د الله یادونه د خدای خوښ شی دی. او هغه څه چې د الله د یادونې
وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ[1]
ذريعې وي او عالم او متعلم (ترمذی او ابن ماجه).

توضيح: ملعونة: د دنيا کوم شيان چې د الله تعالى په نزد باندې معلون دي، دهغې نه مراد حرام او ناخوښه شيان دي. مطلب دا چې دهغه ناجائز کارونو نه ځان وساتئ چې هغه د الله تعالى په نزد باندې د لعنت او کرکې وړ دي.

الا ذکر الله: يعنې کوم شيان چې د الله تعالى په نزد باندې خوښ او مقبول دي، هغه خپل کړئ، لکه د الله تعالى ذکر، او تعليم او تعلم، او طاعاتونه او عباداتونه دي. د هغې په خپلولو باندې به تاسو د الله تعالى په دربار کې مقبول شئ. ځکه چې دا شيان د الله تعالى په نزد باندې خوښ او مقبول دي.

وما والاه: دا لفظ د موالات نه دی. د دې يو معنى محبوب او د خوښ کړې شوي ده. مطلب به دا وي چې د الله تعالى ذکر، الله تعالى خوښ او مقبول دی. د الله د ياد نه غيره کوم چې ښه عملونه دي. (مرقات ۸/۳۰)

﴿۲۳﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ
او حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دې دنيا کې د الله په نزد باندې
عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شربة» رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[2]
د ماشي د وزر هومره قدر لرلی نو الله تعالى به د دېنه کافر ته يو ګوټ هم نه وی ځکولی. (احمد، ترمذی، ابن ماجه)

توضيح: جناح بعوضة: يعنې د دنيا وقعت او قدر او قيمت د الله تعالى په نزد باندې د ماشي د وزر په برابر هم ندی. دا يو بې وقعته او بې حقيقته شی دی. نو ځکه که کافر ته هم دنيا ترلاسه شي نو

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۵ رقم الحديث ۲۳۲۲ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۷ رقم الحديث ۴۱۱۲

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۵۸ رقم الحديث ۲۳۲۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۷ رقم الحديث ۴۱۱۰.

هیڅ خبره نده. که د الله تعالی په نزد باندې د دنیا څه لږ قدر او قیمت وی نو په دنیا کې به یې کافر ته یو ګوټ نه وی ورکړی شوی. لهذا د دې بې حقیقته عارضې ځکي نه کافر دې هم فائده واخلي. ددې حدیث د اوریدلو نه وروسته هر مسلمان لپاره دا عقیده ساتل پکار دي چې د دنیا ډیروالی د انسان د مقبولیت نښه نده. بلکې دا ذمه دارۍ او د مسئولیت نښه ده. الله تعالی دنیا کافر او مسلمان دواړو ته ورکوي. خو دین او علم فقط مسلمان ته ورکوي. (مرقات ۸/۳۲)

دنیا پسې دومره مه کیږه چې د عبادت نه غافله شې

﴿۲۴﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ
او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: جائیداد (په داسې توګه) مه غوره کوئ
فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإِيمَان»[1]
چې هغه د دنیا اړخ ته د رغبت سبب وګرځي. (ترمذی، بیهقی فی شعب الایمان)

توضیح: الضیعة: جائیداد جوړولو ته وایې. مثلا زمکې اخستل. صنعت او تجارت او کاروبار، جائیداد جوړول، دا ضیعة ده. د حدیث مطلب دا دی چې داسې جائیداد مه جوړوئ، په دې سره به د قناعت په ځای باندې حرص او لالچ او د دنیا په مینه کې راګیر شئ. بیا به داسې مقام ته ورسیږئ چې بیرته به نشئ راستنیدلی او دنیا به پاتې شي. آخرت او د آخرت عملونه به پاتې شي. تجربه ګواه ده چې هم داسې کیږي. د دې حدیث مطلب دا نه دی چې د دنیا جائز کاروبار مه کوئ. د حلالې ګټې کولو نه اسلام منع کول نه کوي، بلکې د هغه کاروبار نه ویره ورکړی شوې ده چې په هغې سره سړی د عبادت او طاعت نه غافله شي او بیا د مالي حقوقو ادا کول هم پاتې شي، ظاهره ده دا تباهي ده. حدیث کې دي: کونوا ابناء الآخرة ولاتکونوا من ابناء الدنیا. دا واضح اعلان دی. (مرقات ۸/۳۳)

دنیا کامیابه، آخرت کامیابه

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ
او حضرت ابو موسی رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې خپله دنیا خوښه
أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ
(داسې خوښه ساتل چې د خدای په مینه باندې غالبه راشي) نو هغه خپل آخرت ته نقصان رسوي. او کوم سړی چې خپل آخرت

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۸ رقم الحديث ۲۳۲۸ وأحمد في المسند ۱/۳۷۷ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۳۰۴ رقم: ۱۰۳۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَضَرَّ	بِدُنْيَاهُ	فَآثِرُوا	مَا	يَبْقَى
خو ښوي هغه خپلې دنیا ته نقصان ته رسوي. نو تاسو لپاره پکار دي چې کوم شی فنا کیدونکی دی، یعنې دنیا				
عَلَى مَا يَفْنَى ». رَوَاهُ أَحْمد وَالْبَيْهَقِيّ فِي «شعب الْإِيمَان»[1]				
دې باندې هغه څه ترجیح ورکړی چې هغه پاتې کیدونکی دی. یعنې آخرت				

توضیح: احب: د کوم سره چې مینه کیږي. د هغې تذکره په کثرت سره کیږي. او د کوم شي تذکره چې په کثرت سره شروع شي، انسان په هغې کې کوښښ کونکی او مشغول شي. د دویم اړخ نه غفلت وشي. اوس په زړه باندې که دا کیفیت د دنیا راغلی نو آخرت یې لاړو، او که د آخرت راغلی نو دنیا لاړه. ځکه چې دنیا او آخرت دواړه بني دي. یوه بنه راضي شي نو بله به ناراضه وي، هو! څوک چې الله یې وساتې نو ساتي یې. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په آخره کې ترغیب ورکړو چې دنیا ناپائیداره ده. د دې مینه بیکاره ده. آخرت باقې دی او پائیداره دی، لهذا دا غوره کړی.

یار ناپائیدار دوست مدار　　　دوستی را نشاید این غدار

﴿۲٦﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لُعِنَ عَبْدُ الدِّينَارِ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم سړی چې د دینار
وَلُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[2]
او درهم غلام شي نو هغه ملعون دی. یا دا معنی ده چې کوم سړی د دینار او درهم غلام شي نو هغه دې هلاک شي.

د مال او د عزت مینه دین ته ضرر رسونکې ده

﴿۲۷﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت کعب بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل پلار نه نقل کوي چې هغه وفرمایل چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
« مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ
دوه وږي شرمخان چې هغه د ګډو په رمه کې پریخودلی شي، دومره نقصان نه رسوي څومره چې د انسان حرص،

[1] أخرجه أحمد في المسند ۴/۴۱۲ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۲۸۸ رقم الحديث ۱۰۳۳۷

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۹۷ رقم الحديث ۲۳۷۵.

عَلَى الْمَالِ و الشرف لدينه» رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ والدارمي[1]
چې هغه د مال او عزت لپاره وي، د هغه دين ته نقصان رسوي.

توضيح: عن ابيه: د دې سند په بيان کې څه سهو او غلطي شويده. ځکه چې د ذکر شوي سند تقاضا دا ده چې کعب رضي الله عنه خپل پلار نه بيان کوي او حال دا دی چې د حضرت کعب رضي الله عنه پلار نه ؤ مسلمان شوی. نو په دې سره د حديث بيانولو مقصد څه شو؟ ځکه علماء وايي چې اصل سند چې هغه په ترمذي کې هم دی، په دې عن ابن کعب بن مالک عن ابيه يعني د حضرت کعب ځوې د خپل پلار حضرت کعب رضي الله عنه نقل کوي، دغه شان علماؤ دا هم ليکلي دي چې په ځينو روايتونو کې د عن ابيه: لفظ نشته دی. دا د چا نه سهو شويده. اصل روايت د حضرت کعب رضي الله عنه روايت دی. (مرقات ۸/۳۴)

جائعان: شرمخ هسې هم يو جذباتي او سخت بريدکونکی بې رحمه درنده دی. خو چې سخت وږی هم وی، نو په بريدکولو کې هغه بيخي ليونی شي. د دوه شرمخانو تذکره شايد د دې لپاره وي چې د فساد په جوړولو کې دا کامل او مکمل وي. ځکه چې د دوه جوړا يو ځاې کيدلو باندې په کلکې مسابقې سره د بيزو رمه شلوي. په دې حديث کې يو اړخ ته د دې فساد او نقصان صورت پيش کړی شويدی. او بل اړخ ته د يو مسلمان سړي د مال او عزت سره د مينې د وجې نه د هغه دين او ايمان ته نقصان بيان شوی دی. او ويلی شويدي چې د دوه شرمخانو نقصان د بيزو د دې نقصان نه کم دی. کوم نقصان چې د سړي دين ته مال او د عزت د وجې نه رسيږي. دا دی وهيئت تشبيه د بل هيئت سره ده. چې هغه ته په علم معاني او علم بيان کې د تمثيل نوم ورکولی کيږي.

بې ضرورته په تعميراتو کې پيسه خرچ کول منع دي

﴿۲۸﴾ وَعَن خباب عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَنْفَقَ مُؤْمِنٌ مِنْ نَفَقَةٍ
او حضرت خباب رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم و فرمايل: مسلمان چې هر څه خرچ
إِلَّا أُجِرَ فِيهَا إِلَّا نَفَقَتَهُ فِي هَذَا التُّرَابِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[2]
کوي هغه ته د هغې ثواب ورکولی کيږي، سوا د دينه چې هغه څه په دې خټه کې کوي. (ترمذی، ابن ماجه)
﴿۲۹﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي سَبِيلِ الله
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: ټول مصرفونه د الله په لاره کې (د خرچ کولو برابر)

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۰۸ رقم الحديث ۲۳۷۶ واحمد في المسند ۳/۴۶۰ .

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۲ رقم الحديث ۲۴۸۳ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۹۳ واحمد في المسند ۵/۱۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ(۱)

دي البته په تعمير (آبادی) باندې خرچ کول نیکي او ثواب نلري.

﴿۲۰﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا وَنَحْنُ مَعَهُ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ورځ بیرون راووتلو. مونږ د صحابؤ یو ډله هم ورسره وُ.

فَرَأَى قُبَّةً مُشْرِفَةً فَقَالَ: «مَا هَذِهِ؟» قَالَ أَصْحَابُهُ: هَذِهِ لِفُلَانٍ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاره کې یو اوچته قبه ولیدله. نو وې فرمایل چې دا قبه د چا ده؟ صحابؤ عرض وکړو چې دا قبه

رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَسَكَتَ

فلانکي سړي جوړه کړیده. چې یو انصاري دی. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې اوریدلو سره) چپ شو او (هیڅ یې ونه فرمایل خو) دا

وَحَمَلَهَا فِي نَفْسِهِ حَتَّى إِذَا جَاءَ صَاحِبُهَا

خبره یې (ناخوښې او غصې په توګه باندې) خپل زړه کې وساتله. تردې چې کله چې د دې قبې مالک د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فِي النَّاسِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ

خدمت کې حاضر شو او هغه د خلکو په شتون کې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته سلام وکړو نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه نه مخ واړولو.

صَنَعَ ذَلِكَ مِرَارًا حَتَّى عرفَ الرجلُ الغضبَ فِيهِ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې څو ځل وکړل. آخر د غه سړې د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ باندې د غصې اثرات محسوس کړل

والإعراضَ فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى أَصْحَابِهِ

او د نبی عَلَيْهِ السَّلَام مخ اړونه یې معلومه کړه. نو هغه صحابي نورو صحابؤ ته د دې کار شکایت وکړو چې په

وَقَالَ: وَاللهِ. إِنِّي لَأُنْكِرُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

خدا قسم! زه داسې وینم لکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما سره ناشنا وي (یعنې د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په مخ مبارک باندې چې د

قَالُوا: خَرَجَ فَرَأَى قُبَّتَكَ.

غصې کوم اثرات وینم هغه ما مخکې نه ؤ کتلي او ماته ئې سبب هم معلوم ندی ولې دومره سخت خفه دی؟) صحابؤ هغه ته و فرمایل

فَرَجَعَ الرَّجُلُ إِلَى قُبَّتِهِ

چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام د غلته (ستا ارخ) ته د رغلی ؤ، او ستا قبه یې وکتله (نو خفه شو) هغه سړې (دې اوریدلو سره سمدستې) خپلې قبې

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۱ رقم الحديث ۲۴۸۲.

فَهَدَمَهَا	حَتّٰى	سَوَّاهَا	بِالْأَرْضِ.
ارخ ته لاړو او هغه یې ورانه کړه. تردې چې د زمکې سره یې برابره کړه. (د دې واقعې نه وروسته) یوه			
فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمْ يَرَهَا قَالَ: «مَا فَعَلَتِ الْقُبَّةُ؟»			
ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ارخ ته لاړو. او قبه یې هلته ونه لیدله. نو پوښتنه یې وکړه چې هغه قبه باندې څه وشو؟			
قَالُوا:	شَكَا	إِلَيْنَا	صَاحِبُهَا إِعْرَاضَكَ
صحابو عرض وکړو چې د قبې والا د خپل ځان په اړه باندې ستا د بې التفاتۍ او خفګان مونږ ته شکایت کړې وُ.			
فَأَخْبَرْنَاهُ			فَهَدَمَهَا. فَقَالَ:
نو مونږ هغه د صورت حال نه خبر کړې وُ. نو هغه سړي دا قبه ورانه کړه. نو هله نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل			

«أَمَا	إِنَّ	كُلَّ	بِنَاءٍ	وَبَالٌ	عَلَى	صَاحِبِهِ
چې یاد ساتئ: دا عمارت (آبادي) د خپل جوړونکي لپاره په آخرت کې وبال یعنې د عذاب سبب به جوړیږي.						

إِلَّا مَا لَا إِلَّا مَا لَا» يَعْنِي مَا لَا بُدَّ مِنْهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
الا مالا الا مالا. یعنې د هغه څه نه غیره چې هغې نه خلاصی نوي.
﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ: عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابو هاشم بن عتبه فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وصیت کولو کې وفرمایل: د دنیا

«إِنَّمَا	يَكْفِيكَ	مِنْ	جَمْعِ	الْمَالِ	خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ
په ټولو مالونو کې چې څه ستا لپاره کافي دي هغه د دینه غیره هیڅ ندي چې ستا سره یو خادم وي او یوه سپرلي وي.					
فِي سَبِيلِ اللهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ. وَفِي بَعْضِ					
چې هغه د خدای په لاره کې وي. دا روایت احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه نقل کړیدی. او د					
نسخ «المصابيح»	عَنْ	أَبِي هَاشِمِ	بنِ	عتبد	بِالدَّالِ
مصابیح ځینو نسخو کې د حدیث په سند کې عن ابی هاشم ابن عتبد نقل شویدی. یعنې عتبه کې د تا په ځای.					

([1]) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۴۰۳ رقم الحديث ۵۲۳۷ واحمد في المسند ۳/۲۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

بدل التَّاء وَهُوَ تَصْحِيف[1]

باندې دال دی. او دا غلط چې دا د کوم راوي د سهو نتيجه ده.

دژوند د ضروریاتو د خپلو لو حد

﴿۲۲﴾وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ لِابْنِ

او د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: ابن آدم د دې شیانو نه علاوه

آدَمَ حَقٌّ فِي سِوَى هَذِهِ الْخِصَالِ: بَيْتٌ يَسْكُنُهُ وَثَوْبٌ يُوَارِي بِهِ

په نورو شیانو باندې خپل حق نلري. یو خو کور چې په هغې کې استوګنه خپله کړي. دویم جامه چې په هغې

عَوْرَتَهُ وجلف الْخبز وَالْمَاء". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

سره خپل ستر پټ کړي. دریم د ترکارۍ نه بغیر وچه ډوډۍ او څلورم اوبه.

توضیح: جلف الخبز: یعنې د ترکارۍ نه بغیر ډوډۍ، یا هغه ډوډۍ چې مخکښې وي، کلکه او وچه شوې وي. دا دواړه مطلبونه به هغه وخت اخستل کیږي کله چې په جلف کې په جیم باندې کسره وي. خو که جیم باندې زبر وي نو دغه وخت به دا د جلفة جمع وي. چې دا د ډوډۍ وچې ټکړې ته وایې. (مرقات ۸/۳۹)

د الله او د مخلوق په نزد د محبوب جوړیدو طریقه

﴿۲۳﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو سړی حاضر شو او عرض یې وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا أَنَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللهُ وَأَحَبَّنِي النَّاسُ.

ماته یو داسې عمل وښایه چې زه کله هغه خپل کړم نو الله تعالی هم زما سره مینه وکړي او خلک هم زما سره مینه

قَالَ: «ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبُّكَ اللهُ

وکړي؟ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: د دنیا نه زهد خپل کړه. که ته داسې وکړې نو ګویا ته د هغه څه کرکه کونکی یې

وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ النَّاسِ

د کوم نه چې الله کرکه کوي او الله تعالی به ستا سره مینه ولري. او هغه څه ته رغبت مکوه کوم چې د خلکو سره

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۸ رقم الحديث ۲۳۲۷ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۳۲ رقم الحديث ۴۱۰۳.

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۲ رقم الحديث ۲۳۴۱. وأحمد في المسند ۱/۶۲.

يُحِبَّكَ النَّاسُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

دی (یعنې مال دولت) خلک به ستا سره مینه وکړي.

په عیش او آرام کې د نبی کریم ﷺ مثال

﴿۲۴﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ عَلَى حَصِيرٍ فَقَامَ

او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله بوری باندې اوده ؤ او د خوب نه راپاڅیدلو نو

وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَسَدِهِ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ:

د نبی ﷺ په بدن مبارک باندې د بوری نښانو نه جوړ ؤ. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَبْسُطَ لَكَ وَنَعْمَلَ.

چې یارسول الله ﷺ! که موږ ته اجازت وکړې نو موږ به ستا لپاره نرمه بستره خپره او د ښه جامو انتظام به وکړو.

فَقَالَ: «مَا لِي وَلِلدُّنْيَا؟ وَمَا أَنَا وَالدُّنْيَا

نبی ﷺ وفرمایل: زما د دې دنیا سره او د دې دنیا زما سره څه کار؟ زما او د دنیا مثال خو داسې دی

إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ

لکه یو سپور سړی دیو بوټي د سیورې په لټون کې راشي او هلته په خپله سیوری باندې ولاړ وي. او بیا هغه

رَاحَ وَتَرَكَهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[2]

بوټی هلته پریږدي او خپل منزل ارخ ته روان شي.

ارزښتناک انسان

﴿۲۵﴾ وَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « أَغْبَطُ

او حضرت ابو امامه رضي الله عنه نبی کریم ﷺ نه نقل کوي چې نبی ﷺ وفرمایل: زما په نزد

أَوْلِيَائِي عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ ذُو حَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ

زما په ملګرو کې د ټولو نه ارزښتناک مؤمن هغه دی لږې مشغولا والا دی، د لمونځ سره ډیر تړاو لري. او

---

(1) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۷۷۳ رقم الحدیث ۴۱۰۲.

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۰۸ رقم الحدیث ۲۳۷۷ وابن ماجه في ۲/۱۳۷۶ رقم الحدیث ۴۱۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَحْسَنَ	عِبَادَةَ	رَبِّهِ	وَأَطَاعَهُ	فِي السِّرِّ	وَكَانَ	غَامِضًا	فِي النَّاسِ

د خپل رب ټول عبادتونه په ښه طريقه سره کوي. په پټه توګه باندې په عبادت الهي کې مشغول وي. په خلکو کې ګمنام دی

لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا

چې د هغه اړخ ته په ګوتو سره اشاره نشي کيدلی. د غه شان د هغه رزق د کافي کيدلو په اندازه دی. او په هم دې

فَصَبَرَ عَلَى ذَلِكَ» ثُمَّ نَقَدَ بِيَدِهِ

باندې صبر کونکی او قناعت کونکی دی. دې ويلو سره نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل لاس د ګوتو نه ټق ووېستلو

فَقَالَ: «عُجِّلَتْ مَنِيَّتُهُ قَلَّتْ بَوَاكِيهِ

او وې فرمايل چې مرګ بس (ټق وېستلو سره) خپل کار ژر پورا کوي. او د ده په مرګ باندې ژړيدونکې ښځې هم لږې وي.

قَلَّ تُرَاثُهُ». رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]

او د ده ميراث هم ډير لږ (يعنې د نشتوالې برابر) وي.

توضيح: اغبط: دا د غبطې نه دی چې د ارزښت وړ کولو په معنې دی. يعنې زما مسلمان دوستان او محبوبينو کې د ټولو نه ډير د ارزښت وړ سړی هغه مسلمان دی. **ای احق احباء وانصاری بان يغبط به**. (طيبی)

خفيف الحاذ: حاذ شاه (ملا) ته وايي. يعنې قليل المال لږ بوج والا وي. نه ډير مال وي نه ډير عيال وي نه غټ جنجال وي. ذوحظ: يعنې په لمونځونو کې د هغه ښه پورا برخه وي.

غامضًا: يعنې ګمنام (ورک نومی) وي. په خلکو کې غير مشهور وي.

لايشار اليه: يعنې په ګوتو او لاسونو سره هغه اړخ ته اشاره نشي کيدی يعنې مشار اليه بالبنان نه وي دا د غامضًا تفصيل او تفسير دی.

کفافًا: يعنې د خوراک څکاک سامان دومره وي چې په هغې سره ځان وساتل شي. د کافي کيدلو په اندازه وي.

نقد بيده: عام رواج دی چې د يو کار په تندی کيدلو اړخ ته خلک اشاره کوي نو دوه ګوتې د يو بل سره يو ځاې کولو باندې ټق وباسي، چې د هغې نه آواز پيدا کيږي، د ښي لاس موټه ګوته او مينځنۍ (وسطی) ګوتې بندونه د يو بل سره جوختولو باندې چې کله جدا کړي نو د هغې نه يو آواز پيدا کيږي.

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۶ وابن ماجه ۲/۱۳۷۸ رقم الحديث ۲۳۴۷ وأحمد في المسند ۵/۲۵۲.

د ډېنه په نقد بیده سره تعبیر کړی شوی دی. چې د هغې نه مراد په تُندی سره پاڅیدل مراد دي. ګویا دا سړی په دنیا کې بې تعلق پاتې کیدلو باندې د الله تعالی په عبادت کې مشغول ؤ. دنیا د کارونو نه پاک صفا راوتلو باندې د ګمنامې په حالت کې ډېر ژر د خپل رب سره یو ځای شو. دنیا د کارونو نه آزاد ؤ، نو ځکه یې نه ورباندې څوک ژړیدونکی ؤ، نه مال ؤ، نه د میراث جګړې وې، نه تقسیم ؤ، نه حساب کتاب ؤ. (مرقات ۸/۴۴)

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنیا نه بې رغبتي

﴿۳۶﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زما رب زما مخې ته دا امر ښکاره کړو

لِيَجْعَلَ لِي بطحاء مَكَّةَ ذَهَبًا فقلت: لَا يارب

چې هغه زما لپاره د مکې د ګیټکو نه سره زر جوړ کړي. لیکن ما عرض وکړو چې زما ربه زما دغه څیز ته یېڅ څه

وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا فَإِذَا جُعْتُ

خواهش نشته دی. زه خو بس دا غواړم چې یوه ورځ په مړه خیټه وخورم او یوه ورځ وږی یم چې زه کله وږی یم

تَضَرَّعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ وَإِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُكَ

نو ستا په دربار کې فریاد وکړم. خپله عاجزي بیان کړم. او تا یاد کړم. او کله چې زه موړ شم نو ستا حمد او

وَشَكَرْتُكَ ". رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ[1]

ستاینه وکړم او ستا شکر ادا کړم. (احمد، ترمذی)

د دنیا اصل دولت

﴿۳۷﴾وَعَن عبيدِ اللهِ بنِ مِحْصَنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ: «مَنْ

او حضرت عبید الله بن محصن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسو کې چې کوم

أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ

سړی په داسې حال کې صبا کړي چې هغه د خپل ځان د اړخ نه بې خوفه وي. د هغه بدن روغ رمت وي او د

عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا

هغه سره د یوې په اندازه باندې د کافي کیدلو په اندازه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوراک سامان وي. نو ګویا د هغه لپاره

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۲ رقم الحديث ۲۳۴۷ ...

حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ [1]
خو د دنيا (نعمتونه) جمع کړې شوې دي.(روايت کړې دې ترمذي، او هغه وائی دا حديث غريب دې)

توضيح: في سربه: کې په سين باندې کسره ده. د دينه مراد د هغه سړې ذات او ځان دی يعنې د خپل ځان په اړه باندې بې ويرې وي. نه د دښمن ويره وي. نه څه بدنې ويره وي. بلکې فارغ البال وي. د کسرې په صورت کې د دې لفظ اطلاق په جماعت باندې هم کيدلی شي. مطلب به دا وي چې د سړی د خپل بال بچ سره په امن سره وسيږي. ځينو شارحينو په سين باندې د زبر قول کړيدی. چې هغه د کور په معنې دی. په خاصه توګه هغه کور کې هغه په زمکه کې دننه په سرنګ کې وي. لکه د لومبړې و منګک کور زمکه کې دننه وي. حيزت: دا د حازيحوز نه د مجهول صيغه ده. جمع کيدلو او جمع کولو په معنی دی. ګويا ټوله دنيا د ده نه ګير چاپيره راغونډه کړی شويده.

حذافير: دا د حذفور جمع ده. لکه عصافير د عصفور جمع ده. او جماهير د جمهور جمع ده. اطراف او اړخونه مراد دي. ای بتمامها وبجميع اطرافها. (مرقات ۸/۴۷)

د لږ نه لږ خوراک کولو فائدې

﴿۲۸﴾وَعَن مقدامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت مقدام بن معديکرب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې
«مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ
چې انسان (که خپله خيټه د حد نه ډيره ډکه کړي نو هغه) د خيټې نه بدترين هيڅ لوخی ډک نکړو، ابن آدم لپاره
أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ فَثُلُثٌ
پس يو څو نوړی کافې دي. چې هغه د ده د ملا هډوکی نيغ او ولاړ وساتي. نو ده لپاره پکار دي چې خيټه
لِطَعَامٍ وَثُلُثٌ لِشَرَابٍ وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه [2]
درې برخې کړي، يوه برخه د خوراک لپاره وي او يوه برخه د اوبو لپاره وي او يوه برخه د ساه اخستلو لپاره وي

توضيح: اکلات: يعنې د انسان لپاره په خوراک کې يو نو نوړی کافې کړي. چې په هغې سره د ده ملا نيغ وي. امام غزالی رحمه الله د لږ خوراک او د ولږې لس فائدې ليکلي دي. مختصراً بې وګوره ۱: زړه پاک او طبيعت بيداره وي. ۲: زړه نرم وي. ۳: په انسان کې عاجزي راځی تکبر ... شي.

([1])اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۶ رقم الحديث ۲۳۴۶ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۸ رقم الحديث : ۴۱۴۱

([2])اخرجه الترمذي في السنن ۲/۵۰۹ رقم الحديث ۲۳۸۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۱۱۱ رقم الحديث ۳۳۴۹.

۴: خدای د ویري او عذاب توجه یې وي. ۵: د ټولو ګناهونو خواهشات مړه شي. ۶: د ډیر خوب نه ځان خلاص شي. ۷: عبادت باندې همیشوالی ترلاسه کیږي. ۸: د مرضونونه نجات او بدني روغتیا ترلاسه کیږي ۹: د ډیرو جمع کولو د مشقتونو نه انسان محفوظ وي. ۱۰: خدای د مخلوق لپاره قرباني او د خواخوګۍ جذبه پیدا کیږي.

د ډیر خوراک کولو نقصان

﴿۳۹﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَتَجَشَّأُ فَقَالَ:					
او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو کس نه ډرقی کول واوریدل نو وې فرمایل					
«أَقْصِرْ	مِنْ	جُشَائِكَ	فَإِنَّ	أَطْوَلَ النَّاسِ	جُوعًا
چې خپل ډرقی ایسا کړه ځکه چې د قیامت په ورځ باندې به د ټولو نه ډیر وږی هغه سړی وي چې هغه په دنیا					
يَوْمَ		الْقِيَامَةِ			أَطْوَلُهُمْ
په دوې کې د ټولو نه د ډکې خیټې والا وي. یعنې کوم سړی چې په دې دنیا کې د ټولو نه ډیر خوراک کوي					
شِبَعًا فِي الدُّنْيَا». رَوَاهُ فِي «شرح السّنة» . وروى التِّرْمِذِيّ نحوه [1]					
هغه به د قیامت په ورځ باندې د ټولو نه ډیر وږی وي. چې د هغې د وجې نه به هغه په ډیره پریشانۍ کې وي					
﴿۴۰﴾وَعَن كَعْب بن عِيَاضٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ لِكُلِّ					
او حضرت کعب بن عیاض رضي الله عنه روایت چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي چې د هر					
أُمَّةٍ	فِتْنَةً		وَ		فِتْنَةُ
امت لپاره دیو ناپو ازمیښت ؤ، نو زما د امت لپاره فتنه او ازمیښت چې دی نو هغه مال دولت دی. یعنې الله تعالی زما د امت خلکو					
أُمَّتِي	الْمَالُ	» .	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ . [2]	
ته مال دولت ورکولو باندې ازمایي اې هغوی په نیغه لاره او د اعتدال په حد باندې قائم وسیږي او که نه					

د مال ډیروالی د دې امت فتنه ده

﴿۴۱﴾وَعَنْ	أَنَسٍ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ قَالَ:	" يُجَاءُ
او حضرت انس رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ باندې به								

---

(1) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۲/۲۵۰ رقم الحديث ۴۰۴۹ والترمذي في ۴/۵۶۰ رقم الحديث ۲۴۷۸.

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۲ رقم الحديث ۲۳۳۶، واحمد في المسند ۴/۱۶۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

بِابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ

ابن آدم داسې پیش کړی شي ګویا هغه دیزي بچی دی. بیا به هغه الله تعالی ته مخامخ ودرولی شي. او الله تعالی به هغه ته

فَيَقُولُ لَهُ: أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ

وفرمايي چې ما تاته (ژوندون، علم، پوهه، روغتیا، او امن او عافیت په شان نعمت) درکړی ؤ (مال او دولت، خادمان

فَمَا صَنَعْتَ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ

او جاه او عزت په شان شیانو مالک مې) جوړی کړی وي او نو تا څه کار وکړو؟ ابن آدم به ووايي زما پروردګار!

جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ

زه د مال دولت په جمع کولو او دهغې په ډیرولو کې اخته وم. او هغه مې په دنیا کې دهغې نه ډیر پریخود لو څو مره چې هغه ؤ.

مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ.

او وس ته ما دنیا ته بیا ولیږه دې لپاره چې زه هغه ټول مال دولت سره ستا په دربار کې حاضر شم. الله تعالی

فَيَقُولُ لَهُ: أَرِنِي مَا قَدَّمْتَ.

به هغه ته وفرمايي که ته هغه مخکې رالیږلی وي نو ماته وښایه (هغه به د الله تعالی په دې ارشاد ډیر شرمنده او خجالت شي څنګه چه

فَيَقُولُ: رَبِّ جَمَعْتُهُ

د مجرمانو عادت دی چې کله هغوی په خپل جرم کې ونیولی شي) هغه به ووائی چې زه خو بس د مال دولت په جمع کولو او ډیرولو کې

وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَر

هغه به ووايي چې زه خو بس د مال دولت په جمع کولو او ډیرولو کې اخته ؤم. او هغه مې په دنیا کې دهغې نه ډیر

ماكان فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ

پریخی دی څو مره چې مخکې ؤ. او وس ته ما دنیا ته بیا ولیږه، دې لپاره چې زه هغه ټول مال دولت سره ستا

كُلِّهِ. فَإِذَا عَبْدٌ لَمْ يُقَدِّمْ خَيْرًا فَيُمْضَى بِهِ

په دربار کې حاضر شم. په دې تو ګه به دا ښکاره شي چې هغه هیڅ ښیګړه هم مخکې نده لیږلي. نو د هغه به

إِلَى النَّارِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَه[1]

دوزخ ته د لیږلو حکم ورکړی شي.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۴ رقم الحديث ۲۴۲۷ والدارقطني ۱/۵۱ رقم الحديث ۲ من باب النية

توضیح: بذج: د ګډې وركوټي بچي ته بذج وايي. دلته په ذلت او سپكوالي كې تشبيه ده. اعطيتك: يعني تا ته مې ژوند دركړو. بدني نعمتونه مې دركړل. وخولتك: اى جعلتك ذا خول: يعني تا ته مې جاه و جلال او مال او خادمان دركړي ؤ تردې چې د ځينو انسانانو مې ته مالك جوړ كړي. انعمت: يعنې د دينه ډير دا چې د آسمان نه مې ستا د هدايت لپاره كتاب را وليږلو او د شان والا رسول باندې مې تا ته عزت دركړو. نو تا دهغې څه حق ادا كړو؟ دا ناشكره انسان جواب وركوي چې ما مال جمع كړو او هغه مې بنه ډير كړو. او وروسته مې پريخودلو. ته ما ته اجازت راكړه چې زه دنيا ته لاړ شم او ټول تا ته حاضر كړم. كله چې فرښتې وويني چې هغه مالي حقونه ندي ادا كړي. نو هغوې به دا دوزخ ته ګوزار كړي. (مرقات ۹/۵۱)

د قيامت په ورځ باندې چې د کوم نعمت د ټولو نه مخکې پوښتنه کيږي

﴿۴۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د قيامت په ورځ باندې د بنده چې
مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ: أَلَمْ نُصِحَّ جِسْمَكَ؟ وَنُرْوِكَ مِنَ الْمَاءِ
د نعمتونو په اړه باندې پوښتنه كيږي هغه به دا وي چې آيا مونږ ستا بدن ته روغتيا نه وه وركړې؟ او ته مونږ به
الْبَارِدِ؟". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
يخو اوبو باندې نه وي موړ كړى؟

د قيامت په ورځ باندې به د پنځه شيانو پوښتنه خامخا کيږي

﴿۴۳﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَزُولُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د
يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ:
قيامت په ورځ باندې به د انسان خپې نه خوزيږي ترڅو پورې چې د هغه نه د پنځه خبرو پوښتنه ونكړى شي. نو
عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ
د هغه نه به پوښتنه وكړى شي چې هغه خپل عمر په كوم كار كې تير كړو؟ هغه خپله ځواني په څه كې زړه كړه؟
وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ وَمَاذَا عَمِلَ
هغه مال مال څنګه ګټلى ؤ؟ هغه مال چيرته مصرف كړو؟ او دا چې هغه كوم علم ترلاسه كړى ؤ، د هغې

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۲۱۸ رقم الحديث ۳۳۵۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيمَا عَلِمَ؟". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[۱]

په مطابق یې عمل کړی وُ او که نه (ترمذي روایت کړې دې)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

دانسان غوره والی فقط په تقوی دی

﴿۴۴﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: «إِنَّكَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا

حضرت ابو ذر رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: نه خو ته د سُور رنګ والا نه

أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تفضله بتقوى». رَوَاهُ أَحْمد[۲]

غوره یې او نه ته د تور رنګ والا نه غوره یې مګر دا چې ته د هغوې نه د تقوی په اعتبار سره افضل یې.

دنیا په بې رغبتۍ سره په زړه کې معرفت او حکمت پیدا کیږي

﴿۴۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا زَهِدَ عَبْدٌ

او حضرت ابو ذر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کوم بنده چې په دنیا کې زهد

فِي الدُّنْيَا إِلَّا أَنْبَتَ اللهُ الْحِكْمَةَ فِي قَلْبِهِ

یعنې بې رغبتي خپله کړه الله تعالی د هغه په زړه کې د حکمت یعنې معرفت او یقین دولت پیدا کړو. د هغه

وَأَنْطَقَ لِسَانَهُ وَبَصَّرَهُ عَيْبَ الدُّنْيَا وَدَاءَهَا وَدَوَاءَهَا

ژبه یې د دې (حکمت) سره ګویا کړه او هغه ته یې د دنیا عیبونه، د هغې ناروغي او د دې ناروغۍ علاج هم وښودلو.

وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِمًا إِلَى دَارِ السَّلَامِ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»[۳]

او الله تعالی هغه د دې دنیا نه په سلامتۍ سره دار السلام ته ورسولو.

د کامیابۍ راز

﴿۴۶﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ

او د حضرت ابو ذر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: هغه سړی کامیاب شو د چا

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۹ رقم الحديث ۲۴۱۶.

(۲) اخرجه احمد في المسند ۵/۱۵۸

(۳) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۴۶ رقم الحديث ۱۰۳۲.

أَخْلَصَ الله قلبَه للإيمان وجعلَ قلبَه سليماً ولسانَه

زړه چې الله تعالىٰ د ايمان لپاره خالص او مخلص کړو. د هغه زړه يې روغ او سالم وساتلو. د هغه ژبه يې

صَادِقًا وَنَفْسَهُ مُطْمَئِنَّةً وَخَلِيقَتَهُ مُسْتَقِيمَةً

رښتيا ويونکې جوړه کړه. د هغه نفس يې مطمئن کړو. د هغه خلقت او طبيعت يې مستقيم او نيغ وساتلو.

وَجَعَلَ أُذُنَهُ مُسْتَمِعَةً وَعَيْنَهُ نَاظِرَةً فَأَمَّا الْأُذُنُ فَقَمْعٌ وَأَمَّا الْعَيْنُ فَمُقِرَّةٌ

د هغه غوږونه يې اوريدونکې جوړ کړل. نو غوږونه خو پيپه ده، او سترګه هغه شي لره ساتونکې او ثابتلرونکې ده.

لِمَا يُوعَى الْقَلْبُ وَقَدْ أَفْلَحَ مَنْ

کوم چې زړه محفوظ کوي. او په دې کې هيڅ شک نشته چې هغه سړی کامياب شو، د چا زړه چې خدای يا

جَعَلَ قَلْبَهُ وَاعِيًا» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإيمان»[1]

هغه سړې خپل زړه (د حق خبرې او برحق شيانو) ساتونکی جوړ کړو.

توضيح: قد افلح: يعنې د کوم سړي په زړه او مازغو کې چې الله تعالى خالص ايمان کينولو او د هغه زړه يې د بغض او حسد، دنيا د مينې، رذيلو اخلاقو او شيطانې وسوسو نه پاک کړو. او په قول او اقرار کې هغه ته رښتونې ژبه ورکړه او د خدای تابعدارۍ او ذکر الٰهی کې يې هغه مطمئن کړو او د هغه طبيعت او مزاج يې د افراط او تفريط نه پاک او حق باندې وسيدونکی جوړ کړو. د هغه غوږونه يې د حق اوريدلو او سترګې يې د حق ليدلو والا جوړې کړې.

فقمع: قاف باندې زبر او زير دواړه لوستلی شي. او ميم ساکن دی. که قاف باندې زبر وويلی شي او ميم باندې زير وويلی شي نو بيا هم صحيح ده. قمع د پيپ (قيف) په معنی دی. او قيف هغه آلې ته وايي چې د هغې په ذريعه سره تنګ لوخې مثلا بوتل وغيره کې تيل او داسې نور څه اچولی کيږي. د دې آلې سره پائپ وي. پاس خله يې برسيرته وي. دا پائپ د تنګ خلې په لوخې کې کيخودل شي او بيا په هغې کې تيل او داسې نور څه وراړوي. مطلب دا چې غوږونه يې د حق قبلولو لپاره پيپه جوړه کړيده. د دې په ذريعه سره غوږونو ته حق رسيدلو باندې په هغې کې پيوسته شي. او زړه او مازغه هغه قبلوي. (مرقات ۸/۵۵)

فمقرة: يعنې سترګې هغه شی هم هغه شان او ثابت او قائم ساتي. مطلب دا چې سترګو يو شی وليدلو او دهغې نقش او صورت يې زړه ته ورسولو. او زړه هغه صورت محفوظ کړو. ګويا اوريدلي حقيقتونه

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۱/۱۳۲ رقم الحديث ۱۰۸ واحمد في المسند ۵/۱۴۷ .

Maktaba Tul Ishaat.com

غوږونو زړه ته ورسول. او په نظر راتلونکې شیان سترګو زړه ته ورسول. زړه باچا دی. او حواس ظاهره د دې لپاره جاسوسان او خادمان دي.هر خادم چې په کوم کار باندې ټاکل شوېدی، هغه هم هغه پوره کوي.

والقلب واعيًا: دا جمله د هغه مخکنو جملو لپاره د نتیجې په توګه ده. کوم چې د زړه جاسوسانو کوم خبرونه ورکړي دي، زړه هغه برقرار وساتل. خلاصه دا ده چې هغه سړی کامیاب دی د چا زړه چې الله تعالی د حق او صداقت ساتونکی جوړ کړو. (مرقات ۸/۵۵،۵۶)

د دنیا ډیروالی د قبولیت نښه نده

﴿۴۷﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتَ
او حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ته ووینې
اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ
چې الله تعالی یو بنده د هغه په ګناهونو او معصیتونو کې اخته کولو سره هم هغه خوښ شیان ورته ورکوي نو
فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ» ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
پوهه شه چې دا استدراج دی. د دینه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم (د استشهاد په توګه باندې) دا آیت تلاوت کړو (ترجمه
(فَلَمَّا نسوا ماذكروا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ
یې دا ده) کله چې کافرو دا نصیحت هېر کړو کوم چې هغوې ته شوې وُ نو مونږ په هغوې باندې د هر څه دروزاې
حَتَّى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ
رابرسېر ته کړې تر دې چې کله هغوې په دې شیانو باندې خوشحاله شو کوم چې هغوې ته ورکړې شوې وُ
بَغْتَةً فَإِذَا هم مبلسون) رَوَاهُ أَحْمَد[1]
نو مونږ هغوې (په خپل عذاب کې) ونیول او هغوې ډیر حیران او پریشان پاتې شول.

توضیح: استدراج: په لغت کې استدراج درجه په درجه او مرحله وار د چا وړل او رسولو ته وایي. لکه یو چا لره د زینې د یوې پوړۍ نه بلې پوړۍ ته وخیژولی شي. په نورو الفاظو کې هغې ته مهلت ورکولو سره تعبیر کیږي.

د دې حدیث مطلب دا دی چې په دې دنیا کې الله تعالی کله یو کافر یا فاسق فاجر ته د هغه د مقصود مطابق د دنیا جاه او جلال ورکړي، دا د دې سړي د مقبولیت عند الله نښه نده بلکې دا استدراج او مهلت دی. کله چې د هغه د ګناهونو پیمانه ډکه شي او هغه په پوره سرکشۍ راتګ وکړي نو کله الله تعالی په دنیا

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۵/۱۴۵.

کې په هغه باندې ناڅاپه لاس کيږدي. او کله په آخرت کې د هغه سخته نيوکه کيږي. لهذا په ګناهونو کې ککړ سړي لره خيال کول پکار دي چې آيا هغه په راحت کې دی او که په مصيبت کې دی.

دز اهدانو شان څه بل شان وي

﴿۲۸﴾	وَعَنْ	أَبِي	أُمَامَةَ	أَنَّ	رَجُلًا	مِنْ	أَهْلِ	الصُّفَّةِ	تُوُفِّيَ وَتَرَكَ
فرمايي چې په اصحاب صفه کې يو ګس وفات شو، او د يو دينار په									حضرت ابو امامه رضي الله عنه او
دِينَارًا	فَقَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:	«كَيَّةٌ»	
صورت کې يې خپل ميراث پريخودلو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې دا يو دينار يو داغ دی.									
قَالَ:	ثُمَّ	تُوُفِّيَ	آخَرُ	فَتَرَكَ					
حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمايي چې بيا (څه ورځې وروسته) په صفه والاؤ کې يو بل ګس وفات شو او هغه									
دِينَارَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَيَّتَانِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالبيهقيُّ فِي «شعب الإيمان» [1]									
په خپل ميراث کې دوه ديناره پريخودل. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا دوه دينار دوه داغه دي.									

توضيح: کية: اور کې وسپنه تو دولو باندې بدن ته داغ ورکولو ته کية وايي. دلته يو دينار يو داغ او دوه ديناره دوه دغه ګرځولی شويدي. اوس سوال دا دی چې کله يو سړی د مال حق ادا کولو نه وروسته مري او يو يا دوه يا ډير ديناره په کور کې پريږدي. نو دا عمل خو شرعًا جائز دی. بيا دلته د دې اصحاب صفه په اړه باندې د دومره سخت وعيد څه مطلب دی؟ د دې جواب دا دی چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم د عام امت لپاره او د خپلو صحابؤ لپاره د دنيا راغونډولو او د عبادت کولو بيل بيل معيار ساتلی ؤ. دغه شان نبی کريم صلى الله عليه وسلم د خپل اهل بيت لپاره هم بيل معيار ساتلی ؤ. او د خپل ځان لپاره يې هم په عملي ميدان کې بيل معيار ساتلی ؤ. لهذا يو عمل داسې وي چې هغه د عام امت لپاره جائز وي. خو د صحابؤ شان وچت وي. هغه عمل د هغوی د شان سره نه ښايي. دلته د اصحاب صفه دې دوه کسانو ته په دې تناظر سره وعيد واورولی شو چې دا د دنيا پريخودنکي، او زاهدان، درويش دي خپل ځان نه وروسته مال پريږدي، دا ښه ندي. خلک هغوی زاهدان ګڼي، په هغوی باندې خرچه کوي، او دوی خپل ځان پسې وروسته دينار پريږدي. دا د هغوی د اوچت شان سره منافي ده. ملاعلي قاري رحمه الله د دې حديث مطلب داسې بيان کړيدی چې کله دا دواړه اصحاب صفه فقيران او مسکينان ؤ نو خلکو به زکوة او صدقاتو په مالونو سره د هغوی مرسته کوله. نو د هغوی سره خو دوه ديناره ؤ. نو په هغوی باندې زکوة نه کيدلو، کله چې دوی د زکوة مستحق نه ؤ او بيا هم زکوة او صدقاتو ته د سوال لاس نه

---

[1] اخرجه احمد في المسند ۵/۲۵۸ والبيهقي في شعب الايمان ۳۶۴ ۵/ رقم الحديث ۶۹۶۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوربدولنو دا ناجائز ؤ.نو ځکه سخت وعید وارولی شو.په دې حدیث سره عامو مسلمانانو ته دا تعلیم ورکول کیږي چې کوم سړی د زکوة مستحق نه وي نو هغه دې د صدقاتو او زکوة نه ځان وساتي.یا دا چې کوم سړی په ظاهر توګه باندې زهد او تقوی خپلوي او په پټه توګه باندې مال راغونډوي، دا ډیر بد دی.(مرقات۸/۵۹)

﴿۲۹﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى خَالِهِ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عتبة

او حضرت معاویه بن ابی سفیان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه د خپل ماما هاشم بن عتبه ته د هغه د ناروغۍ

يعودهُ فَبَكَى أَبُو هَاشِمٍ فَقَالَ:

پوښتنې ته لاړو. نو حضرت ابوهاشم (هغه ته په کتلو سره) په ژړا شو. حضرت معاویه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پوښتنه وکړه چې

مَا يُبْكِيكَ يَا خَالِ؟ أَوَجَعٌ يُشْئِزُكَ أَمْ حِرْصٌ عَلَى الدُّنْيَا؟ قَالَ:

ماما جانه ولې ژاړې؟ آیا ناروغي ته په تکلیف کې اخته کړې یې یا د دنیا حرص او ارزو؟ هغه وفرمایل:

كلا ولكنَّ رَسُول الله عهد إلينا عَهْدًا لَمْ آخُذْ بِهِ.

داسې هیڅکله هم نه ده بلکې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته یو وصیت کړی ؤ او زه په هغې باندې د عمل کولو

قَالَ: وَمَا ذَلِكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ

نه قاصر پاتې یم معاویه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پوښتنه وکړه هغه وصیت څه ؤ؟ هغه وفرمایل: ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي ؤ

«إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ

چې تاسو لپاره د دنیا د مال بس په دومره اندازه باندې جمع کول کافي دي چې ستا سره یو خادم وي او د

فِي سَبِيلِ الله». وَإِنِّي أُرَانِي

خدای په لاره کې د جنګیدلو لپاره یوه سپرلي وي. او زما خیال دی چې ما (د دې دواړو شیانو نه څه ډیر)

قَدْ جَمَعْتُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

مال او اسباب د خپل ځان سره ساتلي دي.(احمد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه)

توضیح: **يشئزك: ای يقلقك:** یعنې آیا تا بدنې دردپریشانه کوي یا د دنیا پریخودو په وجه ژاړې اشئاز د باب افعال نه دی قلق او اضطراب په معنې دی. په اصل کې د کانړو تنګې دره باندې د تیریدلو تکلیف ته وایي.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۸ رقم الحديث ۲۳۲۷ والنسائي في السنن ۸/۲۱۸ رقم الحديث ۵۳۷۲.

﴿۵۰﴾ وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ: قُلْتُ: لِأَبِي الدَّرْدَاءِ: مَالَكَ						
او حضرت ام درداء رضي الله عنها فرمايي چې ما (خپل خاوند) حضرت ابو درداء رضي الله عنه ته وويل: په تا څه شويدي چې						
لَا	تَطْلُبُ	كَمَا	يَطْلُبُ	فُلَانٌ؟		
ته (نبي صلى الله عليه وسلم نه يا د صحابو نه) مال او اسباب او منصب نه غواړې. څنګه چې يې فلانکی فلانکی سړی غواړي.؟						
فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ						
حضرت ابو درداء رضي الله عنه (دې اوريدلو سره) وفرمايل چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې ستاسو						
أَمَامَكُمْ	عَقَبَةً	كَؤُودًا	لَا	يَجُوزُهَا	الْمُثْقِلُونَ».	
مخې ته يو سخت مزل کونکې غونډۍ ده، په دې کې هغه خلک نشي تيريدلی څوک چې د درونډ بار والا وي.						
فَأُحِبُّ	أَنْ	أَتَخَفَّفَ	لِتِلْكَ	الْعَقَبَةِ. [1]		
نو زه دا غواړم چې سپک يم دې لپاره چې په دې غونډۍ باندې (په آسانتيا او سهولت سره) تير شم.						

توضيح: عقبة: د غره وچتې څوکې ته غونډۍ وايي. دلته په دې سخته غونډۍ باندې د مرګ سختي او د قبر احوال او د ميدان محشر مصيبتونه مراد دي.

كئودًا: كاف باندې فتحه ده. همزه باندې ضمه ده. واو ساكن دی. دا د باب فتح نه مصدر دی. چې د سختې او مشقت په معنی دی. دا د عقبة لپاره صفت دی. يعنې سخت مزل غونډۍ.

المثقلون: د باب افعال نه ده يعنې د درونډ بار وچتونکې خلک، دلته د دنيا مينه او د مال مينې درونډ بار وچتونکې خلک مراد دي. څکه ويلی شويدي **فاز المخففون وهلك المثقلون.**

د دنيا مال د مال خاوند د ضرر نه نشي بچ کولی

﴿۵۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ مِنْ أَحَدٍ يَمْشِي عَلَى الْمَاءِ						
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا څوک په اوبو باندې داسې تللی						
إِلَّا	ابْتَلَّتْ	قَدَمَاهُ؟»	قَالُوا:	لَا	يَا	رَسُولَ اللهِ
شي چې د هغه خپې لمدې نشي. صحابو وفرمايل چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې خو ممکنه نده.						

---

[1] اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۰۹ رقم الحديث ۱۰۴۰۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ: «كَذٰلِكَ صَاحِبُ الدُّنْيَا لَا يسلمُ منَ الذُّنُوب» . رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيّ فِي «شعب الْإِيمَان»[1]
نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: همدا حال د دنیا دار دی چې هغه د ګناهونو نه روغ او سلامت نشي پاتې کیدلی.

توضیح: علی الماء: یعنې سمندر کې یا په هر قِسم اوبو کې تیریدونکی سړی د اوبو د لوند والي نه نشي بچ کیدلی. دغه شان په دنیا کې اخته کیدونکی سړی د ګناهونو نه محفوظ نشي پاتې کیدلی.
په عربی کې یو شاعر د دې مفهوم داسې بیان کړیدی:

القاه في اليم مكتوفا فقال له ایاك ایاك ان تبتل بالمآء

په فارسی کې شاعر داسې ویلي دي:

درمیان قعر دریا تخته بندم کرده بازمی گویی که دامن ترمکن هوشیار باش

د سمندر په منیځ کې یې د تختي سره تړلی او بیا وایي: چې خبردار! لمن دې لمده نه شي.

﴿۵۲﴾وَعَن جُبَير بن نفير رَضِيَ الله عَنهُ مُرسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت جبیر ابن نفیر (تابعی) بطریق ارسال روایت کوي چې نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل:
«مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ وَلَكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ
ما باندې دا وحې نده نازله شوې چې زه مال دولت جمع کړم او تاجر جوړ شم بلکې په ما باندې دا وحې نازله شویده
أَنْ (سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ.
چې ته د خپل رب ثناء او صفت سره د هغه پاکې بیان کړه او په سجده کونکو کې شه. دغه شان د خپل
واعبد ربك حَتَّى يَأْتِيكَ الْيَقِين) رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّة» وَأَبُو نُعَيم فِي «الْحِلْيَة» عَن أَبِي مُسلم[2]
رب په عبادت کې مشغول وسیږه تر دې چې ستا (د دنیاوې ژوند) آخرې وخت راشي. (شرح السنة)
﴿۵۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ طَلَبَ
او حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څوک چې د چا مخې ته د لاسونو .
الدُّنْيَا حَلَالًا اسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَ سَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ
خپرولو د ذلت نه وساتل شي، د خپل اهل د ژوند ضرورتونه پورا کولو او د خپلو ګاونډیانو سره د احسان کولو

(1) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۲۳ رقم الحديث ۱۰۴۵۷.

(2) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۳۷ رقم الحديث ۴۰۳۶.

وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ لَقِيَ اللهَ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ

په خاطر جائز وسیلي او ذریعو باندې دنیا ترلاسه کړي، هغه به د قیامت په ورځ باندې د الله تعالی سره په داسې

وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ. وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلاَلاً

حال کې مخ کیږي چې د هغه مخ به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان وي. او کوم سړی چې په مال دولت کې په

مُكَاثِرًا مفاخرا مرائيا لَقِيَ اللهَ

مال ډیرولو باندې فخر کولو او د ځان ښودنې لپاره جائز وسیلو او ذریعو سره (هم) دنیا (مال اسباب) ترلاسه کړي

وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي «الْحِلْيَةِ»[1]

نو هغه به د الله تعالی سره په داسې حال کې مخ کیږي چې الله تعالی به په هغه باندې غصه وي. (بیهقی)

مال د جنت او دوزخ لپاره غټه پرده ده

﴿۵۴﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ هٰذَا الْخَيْرَ

او حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا خیر (یعنې د مال او دولت انبار)

خَزَائِنُ لِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ فَطُوبَى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ

خزانې دي او د دې خزانو لپاره کنجیانې دي. پس زیرې دې وي هغه بنده لپاره چې خدای هغه د خیر د دروازو د

مِفْتَاحًا لِلْخَيْرِ مِغْلاَقًا لِلشَّرِّ وَوَيْلٌ

برسیرته کولو او د بدۍ د دروازو د بندولو لپاره سبب او ذریعه جوړه کړي وي. او (دین او دنیا) هلاکت او تباهي ده

لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ مِغْلاَقًا لِلْخَيْرِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]

د هغه بنده لپاره چا لره چې خدای د بدۍ د دروازو د برسیرته کولو او د خیر دروازو د بندولو سبب او ذریعه جوړه کړیده

توضیح: هذا الخیر: د خیر نه مراد د مال خزانې او انبارونه مراد دي. کوم چې انسان راغونډ وي. او الله تعالی پیدا کړیدي. علامه طیبي لیکي چې مال باندې د خیر اطلاق په هغه صورت کې کیږي کله چې هغه ډیر او کثیر وي. **خزائن:** دا د خزانة جمع ده. خزانه جمع کړی شوي مال ته وایي. او دا لفظ د ان لپاره خبر دی. او هذا الخیر د دې لپاره اسم دی. **لتلك الخزائن:** اسم اشاره او مشار الیه یو ځای کیدلو باندې خبر مقدم دی او **مفاتیح** د دې

(1) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۹۸ رقم الحديث ۱۰۳۷۵ وابونعيم في الحلية ۸/۲۱۵ .

(2) اخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۸۷ رقم الحديث ۲۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره مبتداء مؤخر ده. دحدیث مطلب دا دی چې دا ډیر مالونه د خزانو په صورت کې دي. کوم چې الله تعالی پیدا کړیدي. او د الله تعالی د اړخ نه دهغه بندیګان په دې باندې تاکلی شوې ذمه واران دي. چې هغه ګویا د دې خزانو په برسیرته کولو او بندولو کې د کنجیانو په شان دي. بس هغه بنده د مبارکۍ مستحق دی چا لره چې الله تعالی په هره ښیګړه کې یعنې مال خرچ کولو لپاره کنجې جوړه کړیده. چې هغه د دې خزانې مال په نیکۍ او ښیګړه کې خرچ کوي. او هغه لره الله تعالی د شراو فساد د بندولو چابې جوړه کړیده چې دا مال په غلطه طریقه باندې نه خرچ کوي. او دبخل او کنجوسۍ نه کار نه اخلي. او دهغه بنده لپاره دې هلاکت وي چا لره چې الله تعالی د شر خیرولو لپاره چابې جوړه کړیده. او د ښیګړې بندولو لپاره یې چابې جوړه کړیده. یعنې دا مالونه د خیر په لاره کې نه خرچ کوي. او د شر په لارو کې په خلاص زړه سره خرچ کوي. د دې حدیث نه معلومه شوه چې دانسان ګټلی شوی مال د جنت او دوزخ ترمینځ یو غټه پرده ده. دا مال د دوزخ د اور لپاره هم پرده کیدلی شي چې د دې په ذریعه سره ثواب وګټلی شي او هم دا مال د جنت لپاره هم پرده جوړیدلی شي چې د دې په ذریعه سره ګناه وګټلی شي او دوزخ ته لاړ شي. (مرقات ۹/۶۲)

د بې برکته مال نښه

﴿۵۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ
او حضرت علی رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې د یو بنده په مال دولت کې برکت نه وي
فِي مَالِهِ جَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ» . [1]
نو هغه دا مال په اوبو او خټو کې یو کوي یعنې خپل دولت د ضرورت نه ډیر عمارتونو او دهغې په زینت او ښایست کې خرچ کوي.
﴿۵۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اتَّقُوا الْحَرَامَ فِي الْبُنْيَانِ
او حضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل (خلکو) تاسو په آبادو کې د حرام مال مصرف
فَإِنَّهُ أَسَاسُ الْخَرَابِ» . رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» . [2]
کولو نه ځان وساتئ. ځکه چې په آبادو کې حرام مال لګول (دین یا دهغه آبادې) د خرابۍ بنیاد او جړړه ده.

توضیح: الحرام فی البنیان: د دې جملې یو مطلب دا دی چې په آبادو کې د حرام مال مصرف کولو نه ځان وساتئ. دا معنی بعیده ده. دویمه معنی دا ده چې په آبادو کې دومره د حد نه تجاوز مکوئ چې هغه آبادې د حرامو په زمره کې راشي. دا مطلب ډیر واضح دی. اساس الخراب: دا جمله په ماسبق باندې متفرع ده چې د آبادو انجام خو خرابې ده. نو دا بې ځایه تکلیف ولې کوئ. (مرقات ۹/۶۴)

---

(۱) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۷/۳۹۴ رقم الحدیث ۱۰۷۱۹.

(۲) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۷/۳۹۴ رقم الحدیث ۱۰۷۲۲.

مال او دولت جمع كول بې عقلي ده

﴿۵۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَلدُّنْيَا

او حضرت عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: : دنيا د هغه

دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ وَمَالُ مَنْ

سړي كور دى د چا لپاره چې په (آخرت كې) كور نشته دى. او مال د هغه سړي دى، چا لپاره چې (آخرت كې)

لَا مَالَ لَهُ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[۱]

مال نه وي. دغه شان مال دولت هغه سړى جمع كوي، د چا چې عقل نوي. (احمد او بيهقي روايت كړې دې)

شراب د ټولو بديو مجموعه ده

﴿۵۸﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ:

او حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په يوه خطبه كې واوريدل (يادساتئ)

«اَلْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ وَ النِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ وَ حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ »

د شراب څكل د ګناهونو جمع كول دي. او ښځې د شيطان جال دى. او د دنيا مينه د هرې ګناه سر دى.

قَالَ : وَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ : « أَخِّرُوا النِّسَاءَ حَيْثُ

حذيفه رضي الله عنه فرمايېچې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا هم اوريدلي دي چې ښځې وروسته كړئ،

أَخَّرَهُنَّ اللهُ». (۲) وروى البيهقي مِنْهُ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا: «حب الدُّنْيَا رأس كل خَطِيئَة» (۳)

څنګه چې الله تعالى دوې وروسته كړيدي (روايت كړې دې رزين او بيهقي په شعب الايمان كې)

توضيح: جماع الاثم: جيم باندې كسره ده د جمع كولو په معنى دى مطلب دا چې شراب څكل د ټولو ګناهونو مجموعه ده. څكه چې كله عقل لاړشي نو انسان هره ګناه كولى شي. عقل بريك دى. كله چې دا فيل (خراب) شي نو ګاړى يا انساني بدن د هر ديوال سره ټكره كوي. (مرقات ۹/۶۵)

﴿۵۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وسلم: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا

او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د اخپل امت په اړه باندې چې د كومو

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۶/۷۱ والبيهقي في شعب الايمان ۷/۳۷۵ رقم الحديث ۱۰۶۳۸.

(۲) اخرجه رواه رزين وروي عبدالرزاق في المصنف عن ابن مسعودلوله اخروهن حيث اخرهن الله ۳/۱۴۹ رقم الحديث ۵۱۱۵.

(۳) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۸۸ رقم الحديث ۱۰۵۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي الْهَوَى

شیأنو نه ډیر ویریږم، په هغې کې خویو د نفس خواهش دی. دویم (د عمل وروستوالي او د نیکو نه د غفلت په ذریعه سره) د

وَطُولُ الْأَمَلِ فَأَمَّا الْهَوَى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ

اوږد عمر ارمان کول دي. نو د نفس خواهش د حق قبلولو او په هغې باندې د عمل کولو نه منع کول کوي. او

وَأَما طول الأمل فيُنسي الْآخِرَةَ وَهَذِهِ الدُّنْيَا مُرْتَحِلَةٌ ذَاهِبَةٌ

ترکومې پورې چې د اوږد عمر د ارمان اړیکه ده نو هغه آخرت هیروي. او (یاد ساتئ) دا دنیا سفر کونکې

وَهَذِهِ الْآخِرَةُ مُرْتَحِلَةٌ قَادِمَةٌ وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ

تلونکې ده. او آخرت سفر کونکی راتلونکی دی. دغه شان د دې دواړو (یعنې دنیا او آخرت) لپاره ځامن

فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تَكُونُوا بَنِي الدُّنْيَا فَافْعَلُوا فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ

دي. لهذا که ستاسو نه کیدلی شي نو نو د دنیا ځامن مه جوړیږئ. نو داسې خامخا وکړئ ځکه چې تاسو نن په دنیا

فِي دَارِ الْعَمَلِ وَلَا حِسَابَ وَأَنْتُمْ غَدًا

کې موجود یاست چې دا دار العمل دی چیرته چې د عمل حساب نه اخستلی کیږي او کله چې تاسو د آخرت کور

فِي دَارِ الْآخِرَةِ وَلَا عَمَلَ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَان»[1]

ته لاړ شئ نو هلته به د عمل کولو هیڅ موقع نه درکولی کیږي.

﴿۶۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ارْتَحَلَتِ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً

او حضرت علي رضي الله عنه (موقوفًا) روایت دی چې هغه وفرمایل: دا دنیا د دې ځای نه مخ اړونکې سفر

وَارْتَحَلَتِ الْآخِرَةُ مُقْبِلَةً وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا

باندې تلونکې ده. او آخرت د هغه ځای نه سفر راکونکی زمونږ په اړخ باندې راروان دی. او په دې دواړو کې د هر یو

بَنُونَ فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ

ځامن دي. نو تاسو د آخرت ځامن جوړ شئ او د دنیا ځامن مه جوړیږئ. یاد ساتئ! نن ورځ د عمل کولو ده.

---

(1) اخرجه البیهقي في شعب الایمان ۷/۳۷۰ رقم الحديث ۱۰۶۱۶

وَلَا حِسَابَ وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

د حساب ورځ نده. او سبا (قیامت) ورځ د حساب ورځ به وي، د عمل کولو نه.

﴿۶۱﴾ وَعَنْ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمًا

او د حضرت عمرو رضي الله عنه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه و فرمایله: او په دې

فَقَالَ فِي خُطْبَتِهِ: «أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهُ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ

خطبه کې یې و فرمایل: (خلکو!) یاد ساتئ! دنیا یو ناپائیدار شکه ده. د دې نه نیکان هم خوري او بدان هم.

أَلَا وَإِنَّ الآخرة أَجَلٌ صَادِقٌ وَيَقْضِي فِيهَا مَلِكٌ قَادِرٌ

خبردار اوسئ! آخرت یو واقعي نیټه ده چې هغه ربښتیني یعنې محقق او ثابته ده. او په (آخرت) کې هر قسم قدرت لرونکی باچا

أَلَا وَإِنَّ الْخَيْرَ كُلَّهُ بِحَذَافِيرِهِ فِي الْجَنَّةِ

(یعنې الله تعالی) به فیصله کوي. خبردار وسئ! ټولې ښیګړې او ښه والی د خپلو اقسامو سره په جنت کې دي.

أَلَا وَإِنَّ الشَّرَّ كُلَّهُ بِحَذَافِيرِهِ فِي النَّارِ أَلَا فَاعْمَلُوا وَأَنْتُمْ

خبردار وسئ! او بدی د خپلو ټولو اقسامو سره په دوزخ کې دي. نو تاسو (نیک) عمل کوئ په داسې حال کې چې په تاسو

مِنَ اللهِ عَلَى حَذَرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مَعْرُوضُونَ عَلَى أَعْمَالِكُمْ

باندې د خدای د حساب او عذاب ویره خپره وي. او دا خبره یاد ساتئ چې تاسو به د خپلو اعمالو سره پیش کیږئ نو

فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ

کوم سړی چې لږه نیکي هم کوي هغه (آخرت یا دنیا کې) به د هغې جزا بیامومي. او کوم سړی چې د ذرې

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شرا يره». لِلشَّافِعِيِّ[2]

برابر هم بدې کوي هغه به د هغې سزا بیامومي.

﴿۶۲﴾ وَعَنْ شَدَّادٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم يَقُولُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ

او حضرت شداد رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي، خلکو! دا دنیا یو

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۵ في باب رقم ۴ باب في الأمل وطوله.

(2) لم اقف عليه في مسند الامام الشافعي.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهَا الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ وَإِنَّ الْآخِرَةَ وَعْدٌ

ناپائیداره څکه ده چې په دې کې نیک او بد دواړه خوراک کوي. او بیشکه آخرت یو ریښتینې او یقیني توګه باندې پوره کیدونکې

صَادِقٌ يَحْكُمُ فِيهَا مَلِكٌ عَادِلٌ قَادِرٌ يُحِقُّ فِيهَا الْحَقَّ

وعده ده. په دې (آخرت) کې هر قسم قدرت لرونکی او عدل او انصاف کونکی باچا حق به ثابت وساتي او باطل

وَيُبْطِلُ الْبَاطِلَ كُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا

به ختم کړي. تاسو د آخرت څامن جوړ شئ او د نیا په څامنو کې ځانونه مه شمارئ. څکه چې د هرې

فَإِنَّ كل أم يتبعها ولدها»[1]

مور څوی د هغې (د مور) تابع وي.

﴿۶۲﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا طَلَعَتِ

او حضرت ابو درداء رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کله چې هم لمر راخیژي د هغې

الشَّمْسُ إِلَّا وَبِجَنْبَتَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ

دواړو اړخ ته دوه فرښتي وي. چې هغوی اعلان کوي، چې هغه د انس او جن نه غیره ټول مخلوق ته اوروي چې خلکو!

هَلُمُّوا إِلَى رَبِّكُمْ مَا قَلَّ وَكَفَى خَيْرٌ

خپل رب اړخ ته راشئ. او په دې خبره پوهه شئ چې کوم مال لږ وي او کفایت وکړي، دا د هغه مال نه ډیر بهتر

مِمَّا كَثُرَ وَ أَلْهَى «رَوَاهُمَا أَبُو نُعَيْمٍ فِي» الْحِلْيَةِ "[2]

دی چې هغه ډیر وي او د خدای د عبادت نه منع او د اطمینان او د سکون د ژوند نه محرومه وساتي.

﴿۶۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَبْلُغُ بِهِ

او حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت نقل شويدی چې هغه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولو، په دې مرفوع حديث کې

قَالَ: " إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: مَا قَدَّمَ؟

ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: کله چې يو سړی مړ شي نو فرښتي دا وايي چې دې سړي د آخرت لپاره څه پريښي دي

---

[1] اخرجه ابونعيم في الحلية ۱/۲۶۴.

[2] اخرجه احمد في المسند ۵/۱۹۷ وابونعيم في الحلية ۱/۲۲۶

وَقَالَ بَنُو آدَمَ: مَا خَلَّفَ؟». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي» شعب الْإِيمَان "[۱]

او خلک دا پوښتنه کوي چې ده (په خپل ميراث کې) څه پريخي دي.

﴿۶۵﴾ وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ الله عَنْهُ: أَنَّ لُقْمَانَ قَالَ لِابْنِهِ: «يَا بُنَيَّ

او حضرت امام مالک رحمه الله نه روايت دی چې لقمان خپل ځوي ته وفرمايل: زما ځويه! د کومې خبرې

إِنَّ النَّاسَ قَدْ تَطَاوَلَ عَلَيْهِمْ مَا يُوعَدُونَ وَهُمْ إِلَى الْآخِرَة

چې د خلکو سره وعده کړې شوې وه. د هغې نيټه په هغوې باندې اوږده شوه او حال دا دی چې خلک د آخرت اړخ ته

سِرَاعًا يذهبون وَإِنَّكَ قد استدبرت الدُّنْيَا مُنْذُ كُنْتَ وَاسْتَقْبَلْتَ الْآخِرَة

تيز روان دي. او زما ځويه! کله چې ته پيدا شوې د هغه وخت نه ستا شا د دنيا اړخ ته او ستا مخ د آخرت په اړخ دی.

وَإِنَّ دَارًا تسير إليها أقربُ إِلَيك من دار

او په دې کې هيڅ شک نشته چې کوم کور او مقام اړخ ته ته روان يې، هغه ستا لپاره د دې کور او مقام په

تخرج مِنْهَا». رَوَاهُ رزين[۲]

نسبت ډير نزدې دی کوم چې ته پرېږدې.

﴿۶۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ الله عَنْهُمَا قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړې شوه

أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «كُلُّ مَخْمُومُ الْقلب صَدُوق اللِّسَان».

چې کوم سړی غوره دی؟ نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هغه سړی چې د مخموم زړه او رېښتيني ژبې والا وي. (دې

قَالُوا: صدوق اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ فَمَا مَخْمُومُ الْقَلْبِ؟

اوريدلو سره) صحابو وفرمايل: چې د ژبې رېښتين والی خو مونږ پيژنو. خو د مخموم زړه نه څه مراد دی؟

قَالَ: «هُوَ النَّقِيُّ التَّقِيُّ لَا إِثْمَ عَلَيْهِ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: مخموم زړه والا هغه سړی دی چې د هغه زړه پاک صاف وي، پرهيزګاروي، په هغې کې څه ګناه نه وي.

---

(۱) اخرجه رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۲۸ رقم الحديث ۱۰۴۷۵.

(۲) اخرجه رواه رزين.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا بَغْيَ وَلَا غِلَّ وَلَا حَسَدَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]

هغه څه ظلم نه وي کړی او په هغې کې څه کرکه، او کینه او حسد ماده نه وي.

توضیح: مخموم القلب: د مخموم لفظ په اصل کې د خم نه مشتق دی. چې د هغې معنی د پاکولو ده. د دېنه هغه پاک او صاف زړه مراد دی چې په هغې کې د غیرالله څه وسوسه او شائبه نوی. او د غیرالله د دوړو نه بیخې پاک صاف وي. چې هغه غلط خیالونه، او پلید اخلاق او رذیلو صفاتو نه محفوظ وي دېته قلب سلیم هم ویلی شویدی. په حدیث کې ددې تشریح خپله شته دی. **بغي:** سرکشي او تجاوز ته ویلی شویده. او د زړه کرکه او کینې ته غل ویلی شویدی او حسد خو حسد دی. (مرقات ۹/۷۳)

﴿۶۷﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَرْبَعٌ

او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څلور شیان داسې دي

إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا: حِفْظُ أَمَانَةٍ

چې هغه په تا کې وي نو د دنیا د شتون او نه شتون دې تا سره هیڅ غم نوي. یو خو د امانت حفاظت کول.

وَصِدْقُ حَدِيثٍ وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ». رَوَاهُ أَحمد وَالْبَيْهَقِيُّ فِي» شعب الْإِيمَان "[2]

دویم ریښتیا خبره کول، دریم د اخلاقو ښه کیدل، او څلورم په خوراک کې احتیاط او پرهیزګاري خپلول.

د لقمان حکیم نصیحت

﴿۶۸﴾ وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّهُ قِيلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيمِ:

او حضرت امام مالک رحمه الله فرمایي چې ما ته دا روایت رارسیدلی دی چې کله چې لقمان حکیم نه پوښتنه وکړی

مَا بَلَغَ بِكَ مَا تری؟ يَعْنِي الْفَضْلَ قَالَ: صِدْقُ الْحَدِيثِ

شوه چې په کومه مرتبه باندې مونږ تا وینو، دېته ته کوم شي راورسولي؟ نو لقمان حکیم وفرمایل: ریښتیا ویلو،

وَ أَدَاءُ الْأَمَانَةِ وَ تَرْكُ مَا لَا يَعْنِينِي . رَوَاهُ فِي « الْمُوَطَّأِ »[3]

امانت ادا کولو، او کوم شیان چې زما لپاره بې فائدې او غیر ضرورې ؤ ، د هغې په پریښودلو سره

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۹ رقم الحديث ۴۲۱۵.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۷۷ ورواه البيهقي في شعب الايمان ۴/۳۲۱ رقم الحديث ۵۲۵۸.

(۳) أخرجه مالك في الموطأ ۲/۹۹۰ رقم الحديث ۱۷ من كتاب الأحكام.

توضیح: لقمان الحکیم: د حکمت او هوښیارتیا کې په دنیا کې چا د شهرت دی او غټو دانشورانو او مدبرانو چې دچا د حکمتونو نه فائدي اخستلي دي. هغه ښاغلی د حضرت لقمان حکیم په نوم سره مشهور دی. چې دا د حضرت ایوب علیه السلام وراره یا د ترور ځوي ؤ. د علماء کرامو په دې کې اختلاف دی چې آیا هغه پیغمبر یا نبی ؤ او که نبی نه ؤ؟ هو خو په دې خبره د ټولو اتفاق دی چې یو کامل ولي ؤ. حیوة الحیوان کې یې لیکلي دي چې د الله تعالی د اړخ نه ورته اختیار ورکړی شو چې نبوت اختیار کړه یا حکمت او ولایت اختیار کړه. نو هغه ولایت اختیار کړو او وې ویل چې د نبوت ذمه واري ډیري دي. نقل شویدي چې چې هغه د یو زر(۱۰۰۰) انبیاء کرامو نه فیض ترلاسه کړی دی. الله تعالی په قرآن مجید کې د حضرت لقمان نوم اخستلو باندې تذکره کړیده. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چې لقمان نه نبي ؤ او نه کوم باچا ؤ. بلکې یو تور پوستی غلام ؤ، بیزې به یې څرولې. الله تعالی هغه مقبول جوړ کړی او هغه ته یې حکمت او هوښیارتیا او عقل ورکړی ؤ.

د قیامت په ورځ به نیک اعمال شفاعت کوي

﴿۶۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَجِيءُ الْأَعْمَالُ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (د قیامت په ورځ) اعمال به راشي.
فتجيء الصَّلَاة فتقول: يارب أَنَا الصَّلَاةُ. فَيَقُولُ: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ. فَتَجِيءُ الصَّدَقَةُ
لمونځ به پیش شي او وبه وایي چې ای ربه! زه لمونځ یم. الله تعالی به وفرمایي: بې شکه ته ښیګړه یې. بیا صدقه یعنې
فتقول: يارب أَنَا الصَّدَقَةُ. فَيَقُولُ: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ
زکوة به پیش شي او وبه وایي چې ای ربه! زه صدقه یم. الله تعالی به وفرمایي: بې شکه ته ښیګړه یې. او
ثُمَّ يَجِيءُ الصِّيَامُ فَيَقُولُ: يارب أَنَا الصِّيَامُ. فَيَقُولُ: إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ.
بیا به روژه پیش شي او وبه وایي چې ای ربه! زه روژه یم. الله تعالی به وفرمایي: بې شکه ته ښیګړه یې.
ثُمَّ تَجِيءُ الْأَعْمَالُ عَلَى ذَلِكَ. يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ. ثُمَّ يَجِيءُ الْإِسْلَامُ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ
دغه شان نور اعمال به پیش شي. او الله تعالی به فرمایي چې ته خیر باندې یې. بیا به اسلام پیش شي او وبه وایي ای ربه!
أَنْتَ السَّلَامُ وَأَنَا الْإِسْلَامُ. فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ بِكَ الْيَوْمَ
ستا نوم سلام دی او زه اسلام یم. نو الله تعالی به وفرمایي بیشکه ته ښیګړه باندې یې. نن ورځ به ستا په وجه
آخُذُ وَبِكَ أُعْطِي. قَالَ اللهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ: (وَمَنْ
باندې نیوکه کوم. او ستا په وسیله سره به ورکړه کوم. نو الله تعالی په خپل کتاب کې وفرمایل (ترجمه) یعنې کوم سړی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ من الخاسرين) «(۱)
چې د اسلام نه غيره بل دين غوره كړي د هغه نه به هغه دين هيڅكله هم قبول نشي او په آخرت كې به د تاوانيانو نه وي.

دنيا ارخ ته مائله كونكو شيانو نه ځان وساتئ

﴿۴۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تَمَاثِيلُ طَيْرٍ
او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې زمونږ لپاره يو پرده وه. په هغې باندې د مرغانو تصويران جوړ ؤ.
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَائِشَةُ حَوِّلِيهِ فَإِنِّي إِذَا رَأَيْتُه ذكرت الدُّنْيَا «(۲)
نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: عائشه (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا)! دا پرده بدله كړه ځكه چې زه كله دېته كورم نو دنيا راياده شي.

غوره نصيحتونه

﴿۴۱﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: جَاءَ رَجل إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
او حضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو سړى د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې حاضر شو						
فَقَالَ:	عِظْنِي	وَأَوْجِزْ.	فَقَالَ:	«إِذَا	قُمْتَ	فِي صَلَاتِكَ
او وې ويل چې ماته څه نصيحت وكړه. چې لنډ او جامع وي. نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كله چې ته لمونځ ته ودريږې						
فَصَلِّ	صَلَاةَ	مُوَدِّعٍ	وَلَا	تَكَلَّمْ	بِكَلَامٍ	
نو د هغه سړي په شان لمونځ كوه چې هغه رخصتيدونكى او پريخودونكى وي. د غه شان د خپلې ژبې نه داسې خبره مه راوباسه						

تَعْتَذِرُ	مِنْهُ	غَدًا	وَأَجْمِعِ	الْإِيَاسَ
چې د هغې په وجه باندې سبا په تا باندې عذر كول وي. او د هغه څه نه د نااميدى كولو پخه اراده وكړه كوم				
مِمَّا فِي أَيْدِي النَّاسِ» (۳)				
چې د خلكو په لاسونو كې دي.				

(۱) أخرجه مالك في الموطا ۲/۹۹۰ رقم حديث ۱۷ من كتاب الكلام وأحمد في المسند ۲/۳۶۲.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۶/۲۴۱

(۳) أخرجه ابن ماجه في ۱۳۹۶ رقم الحديث ۴۱۷۱ وأحمد في المسند ۵/۴۱۲.

توضيح: اوجز: يعني لنډ نصيحت راته وكړه. نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل كله چې لمونځ كوې نو داسې په اخلاص سره يې وكړه چې ګويا دا ستا آخري لمونځ دى. دويم نصيحت دا چې د ژبې نه داسې بې خونده خبره مه راوباسه چې سبا د قيامت په ورځ باندې د الله تعالى مخې ته يا سبا د خپلو دوستانو مخې ته عذر كول وي. اول يې وتله او بيا خبره وكړه. دريم نصيحت دا دى چې د خلكو د اړخ نه بيخي نااميده شه چې هغوې به تا ته څه روپۍ پيسې دركړي، دې لپاره چې ته په حرص او لالچ كې رانشې. (مرقات ۹/۷۳)

حضرت معاذ رضي الله عنه ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم نصيحتونه

﴿۴۲﴾وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت دى چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه لره (قاضي يا عامل جوړولو باندې)
إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوصِيهِ
يمن ته ليږلو نو نبي صلى الله عليه وسلم (د رخصتولو لپاره څه لرې ليرې) دهغه سره لاړو. او په دې دوران كې يې ورته تلقين او نصيحتونه
وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ
كول. د غه وخت كې خو حضرت معاذ رضي الله عنه خپله سپرلۍ باندې ؤ. او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه د سپرلۍ سره سره
فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: يَا مُعَاذُ إِنَّكَ عَسَى
(پيدل) روان ؤ. كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د نصيحتونو او هدايا تو نه فارغه شو نو وې فرمايل: معاذ! شايد چې
أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هَذَا وَلَعَلَّكَ
زما د عمر د دې كال نه وروسته ته زما سره ملاقات ونكړې شې. او ممكنه ده چې ته (كله د يمن نه بيرته راځې
أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هَذَا وَقَبْرِي" فَبَكَى مُعَاذٌ
نو زما سره د ملاقات په ځاې) زما په دې جومات او قبر باندې تير شې؟ معاذ رضي الله عنه (دې اوريدلو سره)
جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ الْتَفَتَ
د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيلتون په غم كې په زور زور سره وژړل. او رسول الله صلى الله عليه وسلم د معاذ رضي الله عنه مخ اړولو باندې
فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ: «إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِيَ الْمُتَّقُونَ
د مدينې په اړخ خپل مخ كړو او بيا يې وفرمايل: ما ته ډير نژدې هغه خلك دي. كوم چې پرهيزګاره دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا» رَوَى الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ أَحْمد[1]

که هغه هرڅوک وي او چیرته هم وي. (مسند احمد)

توضيح: جشعًا: جیم او شین دواړو باندې فتحه ده .جزع فزع سره ژړا کولو ته وایي. حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدینې نه یمن اړخ ته عامل لیږلو نو په ډیر اهتمام سره یې هغه ته اهم نصیحتونه وکړل. د نصیحتونو نه فارغیدلو باندې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل وفات اړخ ته اشاره وکړه. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخ واړولو دې لپاره چې هغه ته عملي روزنه ورکړي چې په دنیا کې بیلتون لازمي دی. دغه شان نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ژړا حالت ونه کتلی شو ، بیا مدینې اړخ ته یې خپل نوراني مخ کولو باندې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډاډګیرنه ورکړه چې دا بیلتون عارضي دی. چې دا د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په نسل کې جریان لري.

وقد فارق الناس الأحبة قبلنا   واعیٰ دواء الموت کل طبیب

او بیا نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ټول امت ته زیری ورکړو چې څوک نیک او پرهیزګاره وي هغه ماته نژدې دی. که هغه هر څوک وي، او چیرته هم وي، ظاهرې او بدنې اعتبار سره هغه اګر که لیري وي، خو د زړه په اعتبار سره به نژدې وي.

حبیب غاب عن عینی وجسمی   وعن قلبی حبیب لا یغیب

او که یو سړی پرهیزګاره او مؤمن نشو نو هغه به زما نه لیري وي، که هغه مې په ګاونډ کې ولې نه وسیږي. هم ددې حدیث مفهوم فارسی شاعر په کمال سره بیان کړیدی.

گر با منے در یمنے نزد منے   گر بے منے نزد منے در یمنے

یعنې که زما په طریقه باندې وسیږې ن که په یمن کې یې ، زما سره به یې . او که زما په طریقه باندې نه وې ن که ته زما سره یې. په لیرې یمن کې به ګڼلی کیږې.

اسلام باندې د شرح صدر نښه

﴿۸۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (فَمَنْ يُرِدِ اللهُ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت ولوستلو (ترجمه) الله تعالی چې چا

أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ) فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ النُّورَ

ته هدایت کوي نو د هغه سینه د اسلام لپاره فراخه کوي. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کله (د هدایت)

(1) أخرجه احمد في المسند ۵/۲۳۵.

إِذَا دَخَلَ الصَّدْرَ انْفَسَحَ». فَقِيلَ: يَا رَسُولَ الله هَلْ لِتِلْكَ
رڼا سيني ته ننوځي. نو سينه فراخه شي. صحابؤ عرض وکړو يارسول الله ﷺ! آيا د دې حالت او کيفيت څه
مِنْ عِلْمٍ يُعْرَفُ بِهِ؟ قَالَ: «نَعَمْ التَّجَافِي مِنْ دَارِ الْغُرُورِ
نښه شته دی چې په هغې سره دا وپيژندلی شي؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل: د دې نښه شته دی. دار الغرور (دنيا) نه ليرې
وَالْإِنَابَةُ إِلَى دَارِ الْخُلُودِ وَالِاسْتِعْدَادُ
کيدل د آخرت اړخ ته چې هغه هميشه پاتې کيدونکی جهان دی. رجوع کول او پورا توګه باندې متوجې کيدل
لِلْمَوْتِ قبل نُزُوله»[1]
او د مرګ نه مخکې د د مرګ تياری کول.

لږې خبر کونکی، د دنيا پريخودنکی پير جوړ کړه

﴿۴۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي خَلَّادٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
حضرت ابو هريره رضي الله عنه او حضرت ابو خلاد رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:
«إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطِي زُهْدًا فِي الدُّنْيَا وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ
کله چې تاسو يو بنده ووينئ چې هغه (دنيا نه) بې رغبتئ او (بيکاره خبرو نه ځان ساتنه او) لږې خبرې ورکړی شوي
فَاقْتَرِبُوا مِنْهُ فَإِنَّهُ يلقى الْحِكْمَةَ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»[2]
وي نو د هغه نزديکت او صحبت ترلاسه کړه. ځکه چې هغه ته حکمت او هوښيارتيا ورکړی شويده.

توضيح: فاقتربوا منه: يعنې کوم سړې ته چې الله تعالی زهد او قناعت او دنيا پريخودلو صفت ورکړی وي او لږې خبرې کول يې د هغه عادت جوړ کړی وي. نو د داسې سړې نه فائده ترلاسه کولو لپاره د هغه مجلس اختيار کړه. هغه زهد او دنيا پريخودلو صفت به نورو ته نقل کړي او د لږو خبرو کولو صفت به نورو خلکو ته نقل کړي.

صوفياء کرامو په نزد باندې زهد، دنيا پريخودل، او لږ خبرې کول د وچتو مرتبو ترلاسه کولو لپاره ډير اهم شيان دي. د هغوی په نزد دا مقوله مشهوره ده: کم خوردن کم خفتن کم گفتن.

([1]) أخرجه رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۳۵۲ رقم الحديث ۱۰۵۵۲

([2]) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۳ رقم الحديث ۴۱۰۱ والبيهقي في شعب الايمان ۴/۲۵۴ رقم الحديث ۴۹۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

خو نن سبا د دې په عکس (سرچپه) معامله روانه ده. ښه پیر هغه وي چې هغه ډیر مالداره، جاګیرداره وي، او د هغه د سترګو په اشاره باندې ټول مریدان مالداره جوړېږي. د غه شان هغه مسلسل خبري کوي. او کله چې اوده شي نو بیا اوده وي. علماؤ لیکلي دي چې: **من لمن یکن سکوته نافعًا لم یکن نطقه نافعًا**. د چا چپتیا چې فائده منده نه وي، د هغه خبرې کول هم فائده مند ندي.

بهرحال د دې حدیث نه د دې شرطونو سره د پیری مریدی ثبوت ترلاسه کیږي. که صحیح مصلح پیر ترلاسه شي نو هغه کبریت احمر دی. حضرت لاهوری رحمه الله لیکلي دي چې د صوفیاؤ د بوټانو نه هغه ملغلري ترلاسه کیږي چې هغه د باچاهانو په تاجونو کې نشي موندل کیدلی.

نہیں ملتے یہ جوہر بادشاہوں کے خزینوں میں

په آخر کې دا خبره به ذهن کې کینوی چې د تصوف طریقه خو د دین طریقه ده. او د دین د ښودنې په میدان کې د علم شتون ضروري دی.

امام بخاری رحمه الله پخپل کتاب بخاری کې دا سې باب تړي: **العلم قبل القول والعمل**. یعنې قول او فعل او وینا او عمل کولو نه مخکې د علم کیدل ضروري دي. لهذا تصوف لپاره د کافي کیدلو په اندازه باندې د علم کیدل ضروري دي. د تصوف په لاره کې امي (غیر عالم) ډیر مخکې ځي خو انجام یې د نقصان سبب جوړ شي. الا ماشاءالله.

باباسعدی رحمه الله عالم او غیر عالم پیر په اړه باندې فرمایي:

صاحب دلے بہ مدرسہ آمد ز خانقاہ — بشکست عہدِ صحبتِ اہلِ طریق را

گفتم میانِ عالم وعابد چہ فرق بود — کہ تو کردی اختیار ازاں این فریق را

گفت او گلیم خویش بیرون می برد ز موج — واین جہد می کند کہ بگیرد غریق را

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

۱۲ ربيع الثاني ۱٤۱۸هـ بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د معاشي ژوند او د فقيرانو د فضيلت بيان

فقرآء د فقير جمع ده. د فقير معنی د مفلس، محتاج او د غريب ده. فقير او مسکين دوه بيل بيل الفاظ دي. خو په دېکې بحث دی چې د دې الفاظو مفهوم هم بيل بيل دی يا يو دی؟ د ځينو علماؤ خيال دی چې دا دواړه مترادف دي. د دواړو معنی يو ده. د ځينو نورو علماؤ خيال دی چې د دواړو معنې بيلې بيلې دي. يعنې فقير هغه ته وايي چې د هغه سره څه مال وی خو د نصاب نه کم وي او مسکين هغه وي چې د هغه سره هيڅ هم نوي. ځينو علماؤ د دې عَکس ليکلی دی چې مسکين هغه وي چې د هغه سره څه مال وي،. بلکه ښځنکه چې په قرآن کريم کې دي(أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِينَ) (الكهف: ۷۹)نو دلته د مسکينان د کشتۍ مالکان وګرځولی شو. او فقير هغه وي چې د هغه سره هيڅ هم نوي. ځينو علماؤ د فقير او مسکين لپاره يو قانون بيان کړيدی هغه دا چې چيرته فقير او مسکين يو ځاې ذکر وي نو د دواړې معنی بيله بيله ده. او چيرته چې دواړه بيل بيل ذکر شي نو د ترادف په توګه باندې د دواړو يو مفهوم به اخستل کيږي. ضابطه دا ده: الفقير والمسكين اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا. د فقيرانو د فضيلت مطلب دا دی چې هغوې ته په فقر او ولږه باندې کوم اجر او ثواب ورکولی کيږي هغه څومره لوېې دی. او په قيامت کې به فقيرانو ته څومره غټې درجې ورکولی کيږي.

اوس په دې کې بحث دی چې آيا فقر او فاقه افضله ده او که غِنا او مالدارې افضله ده. د ځينو علماؤ په نزد باندې غنا او مالدارې افضله ده. ځکه چې په دې کې عبادت په آرام سره کيږي. او د دېنه غيره صدقات او داسې نورو ذريعو سره غټې درجې ګټل کيدلی شي. خو د عام علماؤ او د صوفياو په نزد باندې فقر او فاقه د غِنا نه مطلقًا افضله ده. فريق اول د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې روايت او واقعې نه استدلال کړيدی چې په هغې کې فقيرانو صحابوٴ د نبی کريم صلی الله علیه وسلم مخې ته د مالدارو د درجو ذکر وکړو چې هغوې عبادت هم کوي او مالداره دي، خرچ هم کوي. په دې باندې نبی کريم صلی الله علیه وسلم فقيرانو ته د څو تسبيحاتو وظيفه وښودله چې په دې سره به تاسو د غنيانو نه مخکې شئ. کله چې مالدارو ته معلومه شوه نو هغوې هم دا وظيفه ويل شروع کړل. فقيرانو نبی صلی الله علیه وسلم ته شکايت وکړو نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې: ذلک فضل الله يؤتيه من يشآء. دا د دې خبرې دليل دی چې د مالدارو مقام وچت دی. خو جمهور فرمايي چې د فقر او ولږې ژوند ټولو انبياؤ اختيار کړی دی. او د الله تعالی نه يې دا غوختلی دی. معلومه شوه چې دا افضل دی. نبی صلی الله علیه وسلم وفرمايل: **الفقر فخري**.

په دې موضوع باندې باباسعدی رحمه الله په ګلستان کې يو اوږد بحث کړيدی. او د يو عالم سره يې

Maktaba Tul Ishaat.com

اوږده مناظره کړېده. باباسعدی خپله د غِنا د افضل کیدلو قائل ؤ. او د هغه مقابل عالم د فقر او ولږې قائل ؤ. د دواړو بحث ډیرشو. نو دواړه د ښار قاضي ته لاړل. هغه داسې فیصله واوروله چې د غِنا او فقر بیل بیل ځایونه دي. په څه موقعو کې فقر افضل دی او په څه موقعو کې غِنا افضله ده. ځې بحث مکوی. او مه یو بل ذلیله کوی. وس دا خبره چې نبی کریم ﷺ فقر او ولږه څنګه وه نو علماء لیکي چې د نبی ﷺ فقر شاهانه ؤ. عاجزانه نه ؤ. دغه فقر اختیاري ؤ. اضطراري نه ؤ.دلته په دې خبره‌هم پوهیدل پکار دي چې نبی کریم ﷺ د خپل ځان لپاره او د خپل اهل بیت لپاره عزیمت باندې بناء یو امتیازې د فقیرۍ ژوندې خپل کړی ؤ. او عام امت ته یې دا اختیار ورکړی ؤ چې هغوې د فراختیا ژوندې په جائزحدودو کې دننه خپلولی شي. الحمد لله لاضیق ولا حرج ففی الامر سعة.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

د الله تعالی په نزد باندې د غربت فضیلت

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رُبَّ			
حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ و فرمایل: ډیر خلک داسې دي چې هغوې (په ظاهره خو)			
أَشْعَثَ	مَدْفُوعٍ	بِالْأَبْوَابِ	
بیر ایختان او په خړ پړه نظر راځي. چې هغوې د دروازو نه ټیله (دیکه) کولی شي. خو (هغوې د خدای په نزد باندې داسې			
لَوْ أَقْسَمَ	عَلَى	اللهِ	لَأَبَرَّهُ». رَوَاهُ مُسلم[1]
وچت مقام لري چې) که هغوې د الله تعالی په بهروسه باندې قسم وکړي نو الله تعالی به هغه قسم یقینًا پورا کوي			

توضیح: مدفوع: اشعث: بیر ایختانو ته وایي. او اغبر: په خاورو ککړ بدن ته وایي. او **مدفوع بالابواب** مطلب دا دی چې هغه سړی داسې ګمنام او لاچاره فقیر وي که د چا د کور په دروازه کې ودریږي نو هغه دهغه ځای نه زغلولی شي او دهغه هیڅ قدر او قیمت نشي کیدلی. نه په عام محفلونو او مجلسونو کې دهغه د پوښتنې کولو ثوک وي. خلاصه دا چې د دنیا د خلکو په نزد باندې هغه د ټولو نه سپک او د ټولو نه ډیر غریب وي. خو د الله تعالی په نزد باندې هغه دومره معزز وي چې که په الله تعالی باندې اعتماد کولو سره هغه دا قسم وکړي چې د الله تعالی په ذات قسم! الله تعالی به دا کار کوي نو الله تعالی به دهغه د قسم لحاظ کولو باندې د هغه قسم رښتیا ښکاره کړي. دا د دغه سړي غټ شان دی. معلومه شوه چې فقر او ولږه او غریبي د الله تعالی په نزد باندې ډیره عزتمنده ده. (مرقات ۹/۸۳)

---

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۲۰۲۴/۲ رقم الحديث (۲۶۲۲-۱۳۸)

د ضعیف دوجي نه الله تعالی په نورو باندې خوري

﴿۲﴾وَعَن	مُصعب	بن	سعدٍ	قَالَ:	رَأَى	سَعْدٌ
حضرت مصعب بن سعد (تابعی) فرمايي چې (زما پلار) حضرت سعد رضي الله عنه خپل ځان په اړه باندې دا ګمان						
أَنَّ	لَهُ	فَضْلًا	عَلَى	مَنْ	دُونَهُ	فَقَالَ
وکړو چې دا دهغه سړي نه افضل دی کوم چې د ده کمزوری دی. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاته (د دین د دشمنانو						
رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ:	«هَلْ تُنْصَرُونَ
په مقابله کې) مرسته او مدد او رزق د کومو خلکو په وجې باندې درکولی کېږي؟ هم د دوې په وجې باندې						
وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ؟». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]						
چې کمزوري او ضعیفه او غریب او لاچاره دي.						

توضیح: رأى سعد رضي الله عنه: حضرت سعد رضي الله عنه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ماما ؤ. د شان والا صحابي ؤ. د عراق فاتح ؤ. او د ډېر ښایسته ښویونو مالک ؤ. مثلًا اعلیٰ درجې مړنی ؤ. فیاض ؤ، د اعلیٰ شرافت خاوند ؤ. د هغه په ذهن کې دا خبره راغله چې کوم خلک زما په شان د ښونه او خصوصیتونه نه لري. دهغوې په مقابله کې د خدمت په حوالې سره د اسلام او د مسلمانانو ډېر خدمت کوم. لهذا اسلام لپاره زما شتون ډېر فائده مند دی. ګویا نور ګمنام شان غریب مسلمانان زما په وجې باندې پاتې دي. شاید حضرت سعد رضي الله عنه په ژبه سره به ددې اظهار کړی وي. ددې په جواب کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دا خیال مکوه چې د دغه فقیرانو مسکینانو او درویشانو په وجه باندې ته خوري څکي او د ښمن باندې غالب کېږي. لهذا دا سپک مه ګڼه: (مرقات ۹/۸۴) ګویا:

اس دور میں کچھ خاک نشینوں کی بدولت
باقی اسلام کی عظمت کی نشان ہے

جنت د مسکینانو مسکن دی

﴿۳﴾وَعَنْ	أُسَامَةَ	بْنِ	زَيْدٍ	قَالَ:	قَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زه (د معراج په شپه یا په خوب									
«قُمْتُ			عَلَى			بَابِ			الْجَنَّةِ
کې یا په حالت د کشف کې) د جنت په دروازه ودریدلم (ما وکتل چې) کوم خلک جنت ته داخل شو په هغوي									

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۸۸ رقم الحديث ۲۸۹۶، واحمد في المسند ۱۷۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينَ وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ
ډېره شمیره د غریبانانو ده. او مالداران د قیامت په میدان کې ایسار کړې شویدي. البته اصحاب نار یعني د کافرانو
قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا
دوزخ ته د بوتللو حکم ورکړې شویدی. او کله چې زه د دوزخ دروازې باندې ودریدلم نو ومې کتل چې کوم
عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
خلک دوزخ ته ګوزار کړې شو په هغوې کې ډېره شمیره د ښځو ده.

توضیح: قمت: یعنې ماچې کله چې د جنت په دروازه کې ودریدلو باندې د ننه وکتل نو اکثرنو تو نکې غریبانان، لاچاره او مسکینان ؤ. شاید دا حالت نبی کریم ﷺ د معراج په شپه باندې کتلی ؤ. یا یې په کشف کې کتلی ؤ یا یې په خوب کې لیدلی ؤ. په دې کې نبی ﷺ دا هم ولیدل چې کافرانو دوزخ اړخ ته روان کړې شو او مالدار مسلمانان د حساب کتاب ورکولو لپاره ودرولی شوي ؤ. او دوزخ ته چې کله نبی ﷺ وکتل نو اکثر پکې ښځې وې ځکه چې ښځې د خاوندانو ناشکرې کوي.. او خپل مینځ کې لعن طعن کوی. غیبت او چغلې کې وخت تیروي. شاید په ابتداء کې په دوزخ کې ډیري وي. سزا خوړلو نه وروسته به جنت کې بیا ډیري وي. یا ځومره چې وي دا شمیره هم ډیره وه. راتلونکې حدیث نمبر ۴ کې هم دا مضمون بیان کړیدیش دی. **الجد:** مال ته جد وویلی شو. او **اصحاب الجد:** مالدار خلک دي. (مرقات ۹/۸۴)

په دوزخ کې به ښځې ډیري وي

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما جنت ته په ورښکاره کیدلو سره وکتل نو په
فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ. وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ
هغې کې ډېره شمیره د غریبانانو او لاچاره خلکو په نظر راتلله او دوزخ ته مې په ورښکاره کیدلو سره وکتل
فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
نو په هغې کې اکثر ښځې په نظر راتللې.

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۸۸ رقم الحديث ۲۸۹۶ واحمد في المسند ۱/۱۷۳.
(2) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۵ رقم الحديث ۶۵۴۶ ومسلم في صحيحه ۲۰۹۱ رقم الحديث (۲۷۳۷-۹۴)

فقیران او مسکینان به جنت ته اول ځي

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ فُقَرَاءَ

او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: فقيران مهاجرين به

الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا». [1]

د قيامت په ورځ د مالدارو نه څلويښت کاله مخکې جنت ته ننوځي.

توضيح: خريفًا: خريف د مني (خزان) موسم ته وايي. په کال کې خو د مني موسم يو ځل راځي لهذا د دې نه کال هم مراد اخستلی شي. دلته کال مراد دی. مطلب دا دی چې په مهاجرينو کې کوم فقيران دي هغوي به د مالدارانو نه څلويښت کاله مخکې جنت ته ځي.

سوال: دلته دا اعتراض دی چې په دې حديث کې او په راتلونکې فصل ثانی کې حديث نمبر ۱۳ کې واضح تعارض دی. ځکه چې هلته پنځه سوه کاله مخکې د تللو ذکر دی؟

جواب: د دې سوال اول جواب دا دی چې په حديث کې تعيين او تحديد بيانول مقصود ندي. بلکې تکثير بيانول دي. نو په څلويښت کاله سره هم ډيروالی بيانول مقصود دی او په پنځه سوه کاله سره هم ډيروالی بيانول مطلب دی. يعنې ډيره زمانه مخکې به ځي.

دويم جواب: دا دی چې دلته کوم حديث د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه منقول دی، د دېنه هغه فقيران مراد دي چې هغه د مهاجرينو نه علاوه وي. د هغوي لپاره څلويښت کالو ذکر دی. او د فصل ثانی اولنی حديث کوم چې ابو هريره رضي الله عنه منقول دی، هلته فقيرانو نه مهاجرين فقيران مراد دي. چې هغه به پنځه سوه کاله مخکې جنت ته ځي.

دريم جواب: دا دی چې خپله په دې فقيرانو کې فرق دی. څلويښت کالو والا فقيران هغه دي چې هغوي مجبورًا فقيران دی، دنيا پريخودونکې زاهدان ندي بلکې جبرې فقيران دي. او پنځه سوه کاله مخکې تلونکې هغه فقيران دي چې هغوي دنيا پريخودونکې، زاهدان او متوکلين دي. ګويا اول قسم د دنيا سره د رغبت لرلو سره فقيران دي. او دويم قسم بې رغبته فقيران دي. بهرحال مالداره به وروسته ځکه ځي چې په دوې باندې به د تکې تکې حساب ورکول وي. او فقير او درويش به نيغ تيريږي. (مرقات ۹/۹۶)

درویش خدا مست نہ شرقی ہے نہ غربی — گھر اس کا نہ دلی نہ صفاہان نہ سمرقند

د غريب او مالدار تول

﴿۶﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخه باندې يو سړی تيرشونو

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۸۵ رقم الحديث (۲۹۷۹-۳۷) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۸۱ رقم الحديث ۴۱۲۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٍ: «مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا؟»
نبی ﷺ خپلې خواته ناستیو سړي نه پوښتنه وکړه چې دا کوم سړی تیر شو، د ده په اړه باندې ستا څه خیال دی. یعنې دا

فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِ النَّاسِ: هَذَا وَاللّٰهِ
څه ښه سړی دی یا بد؟ هغه سړي جواب ورکړو چې دا سړی ډیر عزتمند او ډیر شریفو خلکو کې دی. په خدای

حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ يُنْكَحَ
قسم چې د دې سړي حیثیت دا دی که کومې ښځې ته د نکاح پیغام ور ولیږي، نو د ده نکاح کیږي. او که د

وَإِنْ شَفَعَ أَنْ يُشَفَّعَ. قَالَ: فَسَكَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چا سفارش وکړي نو د ده سفارش به ومنلی شي. راوي حضرت سهل رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ

ثُمَّ مر رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
(د جواب اورېدو سره) چپ شو، په دیکې بل سړی په مخه تیر شو نو نبی ﷺ (هغه ته په کتلو سره) خپلې خواته

«مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا؟» فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ
ناست سړي نه پوښتنه وکړه چې ښه د دې سړي په اړه ستا څه خیال دی؟ هغه جواب ورکړو چې یارسول الله ﷺ!

هَذَا رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ هَذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ
دا سړی خو په لاچاره غریبانانو مسلمانانو کې دی. د دې حیثیت دا دی که دا چا ته د نکاح پیغام ولیږي نو د

أَنْ لَا يُنْكَحَ. وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَا يُشَفَّعَ. وَإِنْ قَالَ
ده سره څوک نکاح ونکړي. که د چا سفارش وکړي نو د دې سفارش دې قبول نوي او که څه خبره وکړي

أَنْ لَا يُسْمَعَ لِقَوْلِهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذَا خَيْرٌ
نو د ده هغه خبرې اورېدلو ته څوک تیار نوي. نبی کریم ﷺ و فرمایل: دا سړی د هغه سړي په

مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
شان خلکو باندې ډکې زمکې نه غوره دی.

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۷۳ رقم الحديث ۶۴۴۷ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۹ رقم الحديث ۴۱۲۰.

۱۳ ربیع الثاني ۱٤۱۸ هـ

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم عملي ژوند

﴿۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ من خبز الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې داسې کله هم ندي شوي چې د محمد صلی الله علیه وسلم اهل بیت دوه ورزي پرله پسې

حَتّٰى قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". مُتَّفق عَلَيْهِ [1]

د وربشو دوډۍ باندې خیټه ډکه کړې وي (چیرته دا چې د غنمو دوډۍ نه) تردې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دنیا نه لاړو.

توضیح: آل محمد: یعنې د غنمو خبره پریده، د وربشو په دوډۍ باندې هم دوه ورځې پرله پسې د نبی صلی الله علیه وسلم د کورد خلکو خیټه نده ډکه شوي. که یوه ورځ خوراک ؤ نو به بله ورځ ندی ترلاسه شوی. وس دلته پوښتنه دا ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام رضي الله عنهم خو په آخرې عمر کې په ډیرو فتوحاتو سره په حال آسوده شوي ؤ، بیا دا ولږې خنګه وي؟ د دې جواب دا دی چې د نبي علیه الصلاة والسلام فقر اختیاري ؤ. په آخرې وخت کې هم نبي علیه الصلاة والسلام د دنیا نه فائده نده اخیستې او ولږې یې تیرې کړې، اګرکه سهولت شوی ؤ. دلته دا خبره یاد ساتې چې دا معیار نبی صلی الله علیه وسلم د خپل ځان لپاره او خپل اهل وعیال لپاره جوړ کړی ؤ، د عام امت لپاره دا معیار نه ؤ. (مرقات ۹/۸۹)

﴿۸﴾ وَعَنْ سعيد الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ:

او حضرت سعید مقبری رحمه الله (تابعی) د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي چې (یوه ورځ)

أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ

حضرت ابو هریره رضي الله عنه څه کسانو په مخه باندې تیر شو. او د هغوی مخې ته وریته کړې شوې بیزه پرته وه.

فَدَعَوْهُ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ وَقَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغوی حضرت ابو هریره رضي الله عنه هم او غوختلو خو هغه انکار وکړو او وې فرمایل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې دنیا نه لاړو،

وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ

او کله یې هم د وربشو په دوډۍ باندې خیټه نوه مړه کړې. لهذا ځنګه کیدلی شي چې زه د وریته شوې بیزې په شان

الشَّعِيرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [2]

مزید ار خوراک باندې خپله خیټه ډکه کړم. او حال دا چې نبی صلی الله علیه وسلم ته په مړه خیټه د وربشو دوډۍ هم نه وه.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۵٤۹ رقم الحديث ۵٤۱٦ ومسلم في صحيحه ٤/۲۲۸۱ رقم الحديث (۲۹۷۰-۲۲)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۵٤۹ رقم الحديث ۵٤۱٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: مُصْلِيَةٌ: دا لفظ د مَزْمِيَةٌ مجهلیةٌ په وزن باندې دی. وریته شوې ييزې ته وايي. (مرقات ۹/۹۰)

نبی کریم ﷺ قرض هم اخستی دی

﴿۹﴾ وَ	عَنْ	أَنَسٍ	أَنَّهُ	مَشَى	إِلَى النَّبِيِّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَ	سَلَّمَ	بِخُبْزِ شَعِيرٍ

او د حضرت انس رضي الله عنه روايت دی چې هغه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې د وربشو ډوډۍ او داسې وازګه

وَ	إِهَالَةٍ	سَنِخَةٍ	وَ لَقَدْ

راوړه چې هغه د ډیرو ورځو د ساتلو په وجه باندې بدبويه شوې وه. دغه شان (حضرت انس رضي الله عنه دا هم)

رَهَنَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	دِرْعًا	لَهُ	بِالْمَدِينَةِ	عِنْدَ	يَهُودِيٍّ

بيان کړل چې نبی کریم ﷺ (يو ځل) خپله زغره مدينه کې د يو يهودي سره ګروه کړلو باندې د خپل اهل بيت لپاره

وَأَخَذَ	مِنْهُ	شَعِيرًا	لِأَهْلِهِ	وَلَقَدْ	سَمِعْتُهُ

وربشې واخستلې. حضرت انس رضي الله عنه روايت کونکې دا بيان هم دی چې ما د حضرت انس رضي الله عنه

يَقُولُ:	«مَا أَمْسَى	عِنْدَ	آلِ	مُحَمَّدٍ	صَاعُ	بُرٍّ

دا هم اوريدلي دي چې د محمد ﷺ د اهل بيت يو ماښام هم داسې نه ؤ چې په هغې کې د هغوی

وَلَا صَاعُ	حَبٍّ	وَ	إِنَّ	عِنْدَهُ	لَتِسْعَ	نِسْوَةٍ » .	رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

سره يو صاع غنم يا څه غله وي. او حال دا چې د نبی ﷺ نهه بيبياني وي. (روايت کړې دې بخاری)

توضيح: اهالة سنخة: اهالة: وازګې ته وايي. که هغه کلکه وي او که مائع وي. دغه شان د ګډې دلم غوښنه او تيل هم مراد اخستل کيدلی شي. ملا علي قاري ليکلي دي: کلّ دهن يؤتدم به يعنی هر هغه تيل چې هغه د ترکاري په توګه باندې استعماليدلی شي.

سنخة: مطلب دا دی چې په هغې کې بدلون راغلی وي. تر ډير وخته پورې اګدلو په وجه باندې دهغې بويې کې بدلون راغلی وي. ګويا لږ شان بدبويې محسوسيدله. دغه قِسم وازګي وغيره عام د اطرافو خلک خوري. دا خوسا شوي غوښنه نوي، فقط ډير وخته پورې اګدلو سره يو قِسم بدبويې پيدا شي.

رهن درعًا: نبی کریم ﷺ دا معامله د يهودي سره وکړه. نو شايد په مسلمانانو کې به څوک نه ترلاسه شوی. بيا د بيان جواز لپاره يې يهودي اختيار کړو. صاع: دلته يوه پوښتنه پيدا کيږي چې

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۴/۳۰۲ رقم الحديث ۲۰۶۹ وابن ماجه في السنن ۱۳۸۹ رقم الحديث ۴۱۴۸.

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو به خپلو بیبیانو ته د ټول کال خرچه د اول نه ورکوله. لکه څنګه چې په نورو احادیثو کې ذکر ده. دلته یې څنګه و فرمایل چې یو صاع غنم یا غله به نوه؟ د دې جواب دا دی چې دا حالت په ابتداء د اسلام کې وُ. که په مکه کې وُ یا مدینه کې وُ. بیا کله چې فراختیا راغله نو بیا به نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټول کال خرچه ورکوله. څه ازواجو قبوله کړه او څه ولړه اختیار کړه. دا جواب هم کیدلی شي چې دلته د آل لفظ مقحم او زائد وي. مطلب دا چې دا معامله د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله وه چې د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به هیڅ نه وُ، بهرحال دا فقر اختیاري وُ. (مرقات ۹/۹۰)

د دنیا دېرول د کافرو عادت دی

﴿۱۰﴾ وَ عَن عمر قَالَ : دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (یوه ورځ) زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم نو ومې کتل
فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ لَيْسَ بَيْنَهُ
چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کهجورو د پټو په اندېري باندې پروت دی. د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بدن مبارک او اندېري
وَ بَيْنَهُ فِرَاشٌ قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ
ترمینځ څه بستره نوه. چې دهغې په وجه باندې اندېري د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اړخ مبارک باندې خاپونه جوړ کړي وُ.
مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ.
دغه شان نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د سر د لاندې کوم بالخت ایخی وُ. هغه څرمني وُ او په هغې کې به د کهجورو پاڼې ډکې کړې وې.
قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ: ادْعُ اللهَ فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ
ما وویل چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د الله تعالی نه دعا وغواړه چې هغه ستا امت ته مالي فراختیا او وسعت ورکړي؟
فَإِنَّ فَارِسَ وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللهَ.
فارس او د روم خلکو ته ډېره فراختیا ورکړې شویده. او حال دا دی چې هغوی د الله تعالی بندګي نکوي.
فَقَالَ: «أَوَ فِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ؟
نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ و فرمایل: ابن خطاب! دا ته څه وایې، آیا ته وس هم په دغه ځای یې (د کوم ځای نه چې ته په شروع کې راغلی وې)
أُولَئِكَ قَومٌ عجلت لَهُم طيبتاتهم فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا »
دا هغه خلک دي چې هغوی ته ټول نعمتونه او ښیګړې بس د هغوی په دنیاوي ژوند کې ورکړې شویدي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفِي رِوَايَةٍ: «أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمُ الدُّنْيَا
او په یو روایت کې دا الفاظ دي چې آیا ته په دې باندې راضي او مطمئن نه یې چې هغوی ته دنیا ورکړی شي
وَلَنَا الْآخِرَةُ؟» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۱)
او مونږ ته آخرت راکړی شي.

توضیح: رمال حصیر: رمال کې په را باندې کسره او ضمه دواړه جائز دي. دا جمع ده . د دې مفرد رمیل دی. چې د مرمول په معنیٰ دی. او مرمول منسوج په معنې دی او منسوج ترجمه ودل شوي ده . یعنې ودل شوی پړی. بیا رمال مضاف دی حصیر ته . او حصیر انډیري (پوزکې) ته وایې. ایرمال من حصیر . انډیری چې کله وودلی شي نو په هغې کې کله کله رسۍ استعمالیږي. کله فقط ډکې یو ځاې کولی شي. د ډکو نه ودل شوی انډیری څه نرم او ښه وي، خو د رسو نه ودل شوی انډیری سخت وي. ځکه چې دا ودل شوي رسې موړه موړه وي. چې هغه په بدن کې نخلي. او په بدن باندې نښې جوړوي. دلته د دغه شان انډیري نقشه پیش کړی شویده چې د ودل شوؤ پړو انډیری ؤ او په هغې باندې څه بستر نه ؤ. چې د هغې په وجه باندې په بدن نښې جوړې شوي وي. (مرقات ۹/۹۱)

حشوها: یعنې په بالخت کې چې څه ډک کړی شوي ؤ هغه څه مالوچ یا نرم شی نه ؤ بلکې په بالخت کې دننه د کهجورو پاڼې ډکې کړی شوي وي. لیف: د کهجورو پاڼو ته وایې. (مرقات ۹/۹۲) **انت یا ابن الخطاب**: یعنې دا پوښتنه خو د یو کمې مرتبې والا سړې لپاره هم کول پکار نه ؤ، د خطاب ځویه (رضی الله عنه) ستا شان خو اوچت دی. دا پوښتنه کول پکار نه ؤ. کروړونو درود او کروړونو سلام دې په داسې عظیم پیغمبر باندې!

سلام اس پر کہ جس نے بادشاہی میں فقیری کی

داصحاب صفه د طالبانو غریبي

{۱۱} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایې چې ما په اصحاب صفه کې اویا (۷۰) کسان ولیدل چې په هغوی کې یو سړی
مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ
داسې نه ؤ چې د هغه څه سره څه څادر وي یا خو به تهبند ؤ یا به کمبل وه. چې هغه به یې خپلو څټونو کې اچوله
فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا
په دې تهبند او کمبلو کې خو ځینې داسې وي چې هغه به فقط د پونډو ترنیمې پورې راتللي او ځینې داسې وي

مَا	يَبْلُغُ	الْكَعْبَيْنِ	فَيَجْمَعُهُ	بِيَدِهِ

چې هغه به تر دواړو ګیټو پورې رسیدلې. نو کله چې به یو سړی سجدې ته تللو نو هغه به د دې ویرې نه چې هسې

كَرَاهِيَةَ أَن ترى عَوْرَته". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (۱)

نه د هغه ستر (عورت) بر سیرته شي خپل د غه تهبند یا کمبل به یې په لاس سره نیولې وه.

دنیاداری په لحاظ سره د ځان نه کم باندې نظر ساته

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: په تاسو کې چې یو څوک داسې سړی وویني

إِلَى	مَنْ	فُضِّلَ	عَلَيْهِ	فِي	الْمَالِ وَالْخَلْقِ

چې هغه د ده نه ډیر مالدار او د ده نه ډیر ښایسته شکل او صورت والا وي نو هغه لپاره پکار دي چې هغه سړي ته

فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ

وګوري چې هغه د ده نه کمې درجې وي. (بخاری او مسلم) او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ دي چې

قَالَ: «انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ

نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل: ته هغه سړې ته ګوره چې هغه ستا نه په مرتبه کې ډیر کم وي. او هغه سړي ارخ ته

وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى من هُوَ فوقكم فَهُوَ أَجْدَرُ

مه ګوره چې هغه ستا نه په مرتبه کې لوې وي. پس داسې کول به ستا لپاره ډیر مناسب وي، دې لپاره چې

أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ (۲)

ته د خدای د هغه نعمت چې تا ته یې درکړیدی، سپک و نه ګڼې.

توضیح: اسفل منه: یعني یو سړی د متوسط طبقې سره تعلق لري. د هغه نه د ډیر مال والا هم شته دی او د کم مال والا هم شته. د ده لپاره پکار دي چې کله د خپل ځان نه د غټ شان و شوکت والا وګوري نو په حرص او لالچ کې د هغه ستر ګې دې ورته ټیغي کیدلو باندې واه واه ونکړي. بلکې د دنیا په اعتبار سره چې د هغه نه کوم خلک کم دي. هغوي ته دې وګوري او د خدای شکر دې ادا کړي، هو! خو د دین په حواله سره دې د ځان نه غټو ته وګوري ا ... ته د رسیدلو کوښښ دې وکړي. که داسې نکوي نو خطره ده چې د الله تعالی

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۵۳۶ رقم الحديث ۲۲۲

(۲) ...

Maktaba Tul Ishaat.com

د نعمت ناقدرۍ ونشي. ازرأ: د دې تحقیر او سپکاوي او ناقدرۍ په معنی دی.(مرقات ۹/۹۵)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: جنت ته به غریبانان د مالدارو نه

الْأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِمِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

پنځه سوه کاله مخکې ننوځي. چې هغه د نیمې ورځ برابر ده.

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا دعاء وکړه: ای الله! ما مسکین ژوندی

وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ»

وساتې، د مسکینۍ په حالت کې ماته مرګ راکړې، او د مسکینانو په زمره (ډله) کې زما حشر وکړې.

فَقَالَتْ عَائِشَةُ: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا و فرمایل چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ته داسې دعاء ولې کوې؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ و فرمایل:

«إِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا يَا عَائِشَةُ

ځکه چې مسکینان به د مالدارو نه څلویښت کاله مخکې جنت ته ننوځي. ګوره عائشې! هیڅ مسکین د

لَا تَرُدِّي الْمِسْكِينَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ يَا عَائِشَةُ

خپلې دروازې نه نا امیده مه لیږه اګر که هغه ته د ورکولو لپاره دیو کهجورې ټکړا ولې نه وي. عائشه! (خپل زړه کې)

أَحِبِّي الْمَسَاكِينَ وَقَرِّبِيهِمْ

د مسکینانو سره مینه ساته او هغوي خپل (مجلسونو او محفلونو کې) نزدې کینوه. که ته داسې کوې نو

فَإِنَّ اللهَ يُقَرِّبُكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[2]

د قیامت به ورځ الله تعالی تا ځان ته رانژدې کړي. (روایت کړې دې ترمذی او بیهقی په شعب الایمان)

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۹ رقم الحديث ۲۳۵۴ وابن ماجه ۲/۱۳۸۰ رقم الحديث ۲۱۲۲

و روى ابنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ إِلَى قَوْلِهِ : « زمرة الْمَسَاكِين »[1]

كنې) او په ابن ماجه كښې دا يت د ابو سعيد رضى الله عنه نه زمرة المساكين پورې نقل كړې دې

د معاشرې كمزورې طبقه د بركت سبب دى

﴿١٥﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ابْغُونِي

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل كوي چې نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تاسو خلك

فِي ضُعَفَائِكُمْ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ

ما په خپلو كمزورو خلكو كې ولټوى ځكه چې تاسو ته رزق دركيدل يا يې دا وفرمايل چې تاسو ته د خپل

أَوْ تُنْصَرُونَ - بِضُعَفَائِكُمْ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

دښمن په مقابله كې مرسته دركيدل د دې خلكو په وجه باندې ده. چې هغه په تاسو كې كمزورې دي.

توضيح: ابغوني: يعني نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايې چې تاسو ما د خپلې معاشرې په كمزور او لاچاره خلكو كې ولټوى ، ما به دهغوې سره ومومى، د دې جملې دوه مفهومه كيدلى شي. يو دا چې ما په مالدارانو او طاقتورو خلكو كې مه لټوى بلكې زه د غريبانانو او كمزورو سره يم. لهذا تاسو د مالدارو د مجلسونو او ګڼون نه ځان وساتى. دويم مفهوم دا دى چې كه زما رضا او زما خوشحاليدل غواړى نو غريب، نادار او كمزورو خلكو مرسته وكړى او دهغوې خوشحالې ترلاسه كړى. (مرقات ۹/۹۹)

اوتنصرون: دلته د او لفظ د تنويع لپاره دى. په ځينو روايتونو كې واؤ دى. چې هغه د دې تائيد دى. خو بيا هم ممكنه ده چې دلته او د شك لپاره وي او د راوي شك وي چې نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كوم ارشاد فرمايلى ؤ.

بضعفائكم: يعني الله تعالى د دې لاچارو او كمزورو خلكو په وجه باندې ميدان جنګ كې ستاسو مرسته كوي. او د دې كمزورو په وجه باندې تاسو ته روزې دركوي. ځكه چې دا په ظاهره باندې خو ساده خلك دي. خو په دوې كې دننه غټ د الله والا خلك وي. چې د هغوې په وجه باندې الله تعالى په عام انسانانو باندې رحمت او شفقت كوي. په راتلونكې حديث كې هم دا مضمون بيان كړى شويدى. (مرقات ۹/۹۹)

---

(۱)اخرجه ابن ماجه في ۲/۱۳۸۱ رقم الحديث ۴۱۲۶.

(۲)اخرجه أبوداود في السنن ۳/۷۳ رقم الحديث ۲۵۹۲ والترمذي في السنن ۴/۱۷۹ رقم الحديث ۱۷۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي کريم ﷺ به فقيران مهاجرين د فتح ذريعه جوړوله

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بن أسيد عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ كَانَ
او حضرت اميه بن خالد بن عبد الله بن اسيد رضي الله عنه نبی کريم ﷺ نه نقل کوي چې نبی ﷺ
يَسْتَفْتِحُ بِصَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ. رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السنة»[1]
به د فتح تر لاسه کولو لپاره درخواست کولو نو د فقراء مهاجرينو په ذريعه سره به يې دعاء غوختله. (شرح السنة)

توضيح: صعاليك: دا د صعلوک جمع ده. څنګه چې عصافير د عصفور جمع ده. د دينه فقير او مسکين او کمزوری او لاچاره خلک مراد دي. ملاعلی قاري فرمايي چې نبی کريم ﷺ به کله د کافرانو سره د جنګ به موقع باندې د الله تعالی نه د نصرت او غلبې دعاء کوله نو دا فقيران او مهاجرين په واسطه کول او د دې دعاګاني به يې په دښمن باندې د غلبې ذريعه جوړوله. ابن مالک رحمه الله فرمايي چې نبی کريم ﷺ به داسې دعا کوله: اَللّٰهم انصرنا على الاعداء بعبادك الفقرآء المهاجرين. د دې حديث نه ضعيفو مهاجرينو غټې فضيلت ثابتيږي. (مرقات ۹/۱۰۰)

د يو کافر او فاجر په خوشحالۍ پسې مه پسخيږه

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ
او حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل: يو کافر په دنياوي مالونو سره ډک ليدلو باندې
فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا هُوَ لَاقٍ بَعْدَ
ورته مه پسخيږه ځکه چې ته نه پوهيږې، د چا لپاره چې مرګ او فنا نشته دی چې د مرګ نه وروسته ده ته څه
مَوْتِهِ إِنَّ لَهُ عِنْدَ اللهِ قَاتِلًا لَا يَمُوتُ».
پيښيدونکي دي او د فاجر لپاره د خدای په نزد يو داسې قاتل دی چې هغه د په مرګ نه فنا کيږي او د دې قاتل
يَعْنِي النَّارَ. رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السنة»[2]
نه د نبی ﷺ مراد اور دی.

توضيح: قاتلاً: يعنې وژونکی او قتلونکی داسې عذاب به وي چې هغه عذاب به نه خپله مړ کيږي او نه به فنا کيږي. د دې نه دوزخ مراد دی. د حديث تعليم دا دی چې د آخرت نه غافله فاسق، فاجر مالداره آسوده حالت او شان و

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۶۴ رقم الحديث ۴۰۶۲.

(۲) أخرجه البغوي في شرح السنة ۴/۲۹۴ رقم الحديث ۴۱۰۳.

شوکت ته مه ګوره او مه هغې ته پسخیږه ځکه چې د هغه لپاره راتلونکي حالات ډیر سخت دي. (مرقات ۹/۱۰۱)

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ
او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: دا دنیا د مؤمن لپاره محبس
وَ سَنَتُهُ وَ إِذَا فَارَقَ الدُّنْيَا فَارَقَ السِّجْنَ وَ السَّنَةَ». رَوَاهُ فِي «شرح السنة»[1]
او وچکالي ده. کله چې هغه مؤمن د دنیا نه رخصتشي نو محبس (قيد خانه) او وچکالی (قحط) نه خلاصی بیامومي.

توضيح: يعنې د دنيا سختهلاره په پو کلو پو کلو سره تګ کول د مؤمن لپاره د محبس په منزله باندې دی. خو کله چې د نیا نه مؤمن لاړ شي نو د محبس نه خلاصید لو باندې آرام او راحت ته ورسيږي. چا څه ښه ويلي دي:

کون کہتا ہے کہ مؤمن مر گیا — قید سے چھوٹا وہ اپنے گھر گیا

الله تعالی خپل خوښ بنده ګان د دنیا نه لیرې ساتي

﴿۱۹﴾ وَعَن قَتَادَةَ بن النُّعْمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا أَحَبَّ اللهُ عبدا
او حضرت قتادة ابن نعمان رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کله چې الله تعالی یو بنده دوست
حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ». رَوَاهُ أَحْمَد وَالتِّرْمِذِيّ[2]
ساتي نو هغه د دنیا نه ساتي. څنګه چې په تاسو کې څوک خپل مریض د اوبو نه ساتي.
﴿۲۰﴾ وَعَن مَحْمُود بن لبيد أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اثْنَتَانِ
او د حضرت محمود بن لبید رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: دوه شیان داسې دي
يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ: يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتْنَةِ
چې هغه ابن آدم نه خوښوي. انسان خو یو مرګ نه خوښوي او حال دا دی چې د مؤمن لپاره مرګ د فتنې نه
وَ يَكْرَهُ قِلَّةَ الْمَالِ وَ قلة المَال أقل لِلْحِسَابِ " . رَوَاهُ أَحْمد[3]
بهتر دی. دویم د مال او دولت کموالی، او حال دا دی چې د مال کموالی د حساب د کموالي سبب دی.

([1]) أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۹۷.

([2]) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۳۲ رقم الحديث ۲۰۳۶. وأحمد في المسند ۵/۴۲۷.

([3]) أخرجه أحمد في المسند ۵/۴۲۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵ ربیع الثاني ۱۴۱۸هـ

د عشق مصطفی صلی الله علیه وسلم تقاضا

﴿۲۱﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:
او حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه فرمايي چې يو سړی د نبی کريم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر يد لو سره وويل:
"إِنِّي أُحِبُّكَ. قَالَ: «انْظُرْ مَا تَقُولُ». فَقَالَ: وَاللهِ
چې زه ستا سره مينه لرم! نبی کريم صلی الله علیه وسلم دا وفرمايل: وګوره څه وايې؟ هغه بيا وويل چې په خدا قسم
إِنِّي لَأُحِبُّكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. قَالَ: «إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا
زه ستا سره مينه لرم. او درې ځل يې دا جمله ادا کړه. نبی کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که ريښتونې يې نو بيا د
لَلْفَقْرُ أَسْرعُ إِلَى مَنْ يحبُّني
فقر لپاره زغره جوړه کړه. ځکه چې کوم سړی زما سره مينه لري نو هغه ته فقر او مفلسې د اوبو د بهيدلو نه
من السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]
ژر وررسيږي. چې هغه خپلې انتها ته ځي. (روايت کړې دې ترمذی او وائی چه دا حديث حسن دې)

توضيح: تجفافا: د تجفاف په تا باندې کسره ده او جيم ساکن دی او فا باندې فتحه ده. دښمن سره د جنګ په دوران کې اس ته وسله اغوستل کيږي چې په هغې سره اس د دښمن د وار نه محفوظ وي. څنګه چې زغره د انسان بدن محفوظ ساتي. دغه شان يوه زغره وي چې هغه د اس بدن د دښمن د زخم (ټپ) نه ساتي، دې آلې ته اردو کې پاکهر (پښتو کې زغره) وايې. دلته د تجفاف نه په مصيبتونو باندې صبر کول او مصيبتونه برداشت کول مراد دي. چې د عشق مصطفی تقاضا دا ده چې د دين مصطفی د پرمختګ او ساتنې لپاره هر قسم قربانۍ باندې صبر کول پکار دي. په دې کې فقر او ولږه هم شامله ده او د دښمن سره مقابله هم شامله ده. يعنې د مينې دعوی کولو سره د مصيبتونو برداشت کولو ته ملا وتړه. ځکه چې د نبی صلی الله علیه وسلم سره د مينې ريښتونې دعوی کولو باندې هغه سړې ارخ ته مصيبتونه داسې په منډه راځي لکه ځکته زمکې ته چې تيز سيلاب راځي. د دې حديث په رڼا کې چې کله مونږ بريليانو حضراتو ته ګورو نو د هغوی د کتنې ژوند وايي چې هغوی د عشق مصطفی په دعوی کې دروغژن دي ځکه چې د ريښتونې عاشق چيغه خو داوي: (مرقات ۹/۱۰۴)

سکھایا ہے ہمیں اے دوست طیبہ کے والی نے — کہ بوجہلوں سے ٹکرا کر اُبھرنا عین ایماں ہے

جہاں باطل مقابل ہو وہاں نوک سناں سے بھی — برائے دین اسلام رقص کرنا عین ایماں ہے

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴۹۸/۴ رقم الحديث ۲۳۵۰

دالله په لاره کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټولو نه ډير تنګ کړی شويدی

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللهِ

او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل: ځداى په لاره کې چې زه څومره په ويره او خطرو

وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ وَلَقَدْ أُوذِيتُ

کې اخته کړی شوم، دغه شان بل څوک په ويره او خطره کې ندی اخته کړی شوی. او د خدای په لاره کې څومره

فِي اللهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ

تکليفونه ماته رارسولی شويدي. دغه شان تکليفونه بل چاته ندي وررسولی شوي. بيشکه ما باندې پرله پسې

ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ

ديرش شپې او ديرش ورځې داسې تيرې شويدي چې په هغې کې زما او د بلال (رضى الله عنه) لپاره د خوراک

يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ

څکاک داسې څه سامان نه ؤ چې هغه کوم د زړه والا خوړلی وی. د هغه معمولي څيز نه غيره چې هغه به بلال په

يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ: وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ:

خپل بغل (ترخ) کې پټ ساتلی ؤ. ترمذي دا روايت نقل کړيدی او وېلي يې دي چې په دې حديث کې

حِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ

نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم صورت حال بيان کړيدی، ددې تعلق د هغه وخت سره دی کله چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې نه

وَمَعَهُ بِلَالٌ إِنَّمَا كَانَ مَعَ بِلَالٍ

په وتلو باندې مجبوره شو. او دغه وخت د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. دغه شان د

مِنَ الطَّعَامِ مَا يَحْمِلُ تحت إبطه.(۱)

حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره د خوراک په شيانو کې فقط دومره ؤ چې هغه به ده په خپل بغل کې کلک نيولي ؤ.

توضيح: هاربًا من مكة: دا مکې نه د مدينې اړخ ته د هجرت واقعه نده، نه د طائف د سفر واقعه ده. بلکه کومه واقعه ده چې په هغې کې حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورسره ؤ. (مرقات ۹/۱۰۶)

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۶ رقم الحديث ۲۴۷۲ وابن ماجه في السنن ۱/۵۴ رقم الحديث ۱۵۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خېټه پسې دوه کاڼي وتړل

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ: شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ فَرَفَعْنَا
او حضرت ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د ولږې شکايت وکړو او په خېټه
عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَطْنِهِ
خېټه پسې تړلی کاڼي مو ورته وښودلو. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله خېټه رابرسيرته کړه نو په هغې
عَنْ حجرين. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: حَدِيث غَرِيب[1]
پسې دوه کاڼي تړلي ؤ. (روايت کړې دي ترمذی)
﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ جُوعٌ فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې کله فقيران صحابه د ولږې سختی پريشانه کړل نو نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
تَمْرَةً تَمْرَةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
هغوي ته يوه يوه کهجوره ورکړه.

صابر او شاکر څوک دی؟

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَصْلَتَانِ
او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دوه خصلتونه
مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللهُ شاكراً:
داسې دي چې هغه په کوم سړي کې وموندل شي. هغه الله تعالی صابر او شاکر کرځوي. يو دا چې کله دا سړې په
مَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَاقْتَدَى بِهِ
ديني معامله کې يو داسې سړی ويني چې هغه د ده نه غوره وي نو د هغه اقتداء وکړي. او دويم دا چې کله د
وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ فَحَمِدَ اللهَ
خپلې دنيا په معامله کې هغه سړی ويني چې هغه د ده نه کم وي نو د الله تعالی حمد او ثناء وکړي او د هغه شکر

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۰۶ رقم الحديث ۲۳۷۱.

([2]) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۷ رقم الحديث ۲۴۷۴ وأخرجه ابن ماجه ۲/۱۳۹۲ رقم الحديث ۴۱۵۷.

عَلَى مَا فَضَّلَهُ اللهُ عَلَيْهِ كَتَبَهُ اللهُ شَاكِرًا صَابِرًا.

ادا كړي چې هغه ده لره په دې سړي باندې فضيلت او غوره والى وركړى دى. نو الله تعالى دا سړى صابر او شاكر

وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ

گرځوي. او كوم سړى چې داسې، شو چې هغه كله يو داسې سړى ووينې چې هغه د ده د دين په اعتبار سره د ده نه

دُونَهُ وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى

كم وي (نو د ده ځان په عجب او تكبر كې اخته شي) او كله چې يو داسې سړى ووينې چې هغه د ده د دنيا

مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَأَسِفَ

(يعني جاه او مال) په اعتبار سره د ده نه ښه وي نو (نو د ده په ځان په پسخيدلو، او حسد او حرص او

عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ لَمْ يَكْتُبْهُ اللهُ

خواهش كې اخته شي) په هغه څه باندې غم او خفگان وكړي د كوم نه چې دا محرومه دى نو داسې

شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي سَعِيدٍ: «أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ

سړى نه الله تعالى شاكر گرځوي او نه صابر. (روايت كړې دي ترمذى او «أبشروا يا معشر صعاليك

الْمُهَاجِرِينَ» فِي بَابٍ بَعْدَ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ[1]

المهاجرين» په هغه باب كې نقل شوې دي چه د فضائل قرآن نه پس دى

۱۷ ربيع الثاني ۱۴۱۸هـ

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

فقر او ولږه باندې صبر كول غټ ثواب دى

﴿۲۶﴾ عَنْ أَبِي عبد الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو وَسَأَلَهُ رَجُلٌ

حضرت ابو عبد الرحمن حبلى فرمايي چې ما د حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص نه اوريدلي دي. چې يو سړي

قَالَ: أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ؟

د هغه نه پوښتنه وكړه او وې ويل چې مونږ په هغه فقيرانو مهاجرينو كې نه يو د چا په اړه چې د ابشارت وركړى

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۴ رقم الحديث ۲۵۱۲ وابن ماجه في السنن ۱۳۸۷ رقم الحديث ۴۱۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ لَهُ عَبْدُ
شویدی چې هغوي به د مالدارو نه مخکې جنت ته ځي؟ حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه سړي نه پوښتنه

أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ.
وکړه چې آیا ته د ښځې والا یې چې د هغې خواته تاته سکون او قرار در رسیږي؟ هغه وویل: هو! بیا

قَالَ: أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ؟ قَالَ: نَعَمْ.
حضرت عبد الله رضی الله عنه پوښتنه وکړه: آیا ستا کور شته چې په ته هغې کې استوګنه وکړې؟ هغه وویل: هو! کور هم

قَالَ: فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ. قَالَ: فَإِنَّ لِي خَادِمًا.
شته دی. حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایل: بیا ته په مالدارو کې یې. هغه سړي وویل: زما سره یو خادم هم دی.

قَالَ: فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ. قَالَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ:
حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایل: بیا خو ته باچاهانو کې یې. حضرت ابو عبد الرحمن (راوی) دا هم بیان کړل چې

وَجَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَنَا عِنْدَهُ.
حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خواته درې کسان راغلل. دغه وخت زه هم د هغه سره حاضر وم. دغه درې واړو وویل:

فَقَالُوا: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّا وَاللهِ مَا نَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ لَا نَفَقَةَ وَلَا دَابَّةَ وَلَا مَتَاعَ.
ابو محمد! په خدای قسم مونږ د هیڅ هم وس نلرو. نه د څه خرڅ کولو او نه د څه ځارويو او نه د نور څه سامان.

فَقَالَ لَهُمْ: مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ
حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایل چې تاسو څه غواړئ؟ که ستاسو (دا) خواهش وي چې زه ستاسو سره مرسته

رَجَعْتُمْ إِلَيْنَا فَأَعْطَيْنَاكُمْ
وکړم او تاسو ته د خپل اړخ نه څه درکړم نو تاسو بل کوم وخت راشئ. زه به تاسو ته هغه څه درکړم د کوم چې

مَا يَسَّرَ اللهُ لَكُمْ وَإِنْ شِئْتُمْ ذَكَرْنَا أَمْرَكُمْ لِلسُّلْطَانِ
خدای تاسو لپاره انتظام وکړي. او که تاسو غواړئ نو زه به ستاسو حالت باچا (امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) ته بیان کړم

وَإِنْ شِئْتُمْ صَبَرْتُمْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ
او که تاسو غواړئ نو صبر وکړئ. ځکه چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي فقیران مهاجرین به د قیامت په ورځ

يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا» . قَالُوا: فَإِنَّا نَصْبِرُ

بنت تہ د مالدارانو نه څلويښت کاله مخکښې ځي. دې درې واړو وويل چې بيشکه مونږ صبر او د استقامت لاره

لَا نَسْأَلُ شَيْئًا". رَوَاهُ مُسْلِم[1]

خپلوؤ. او س هيڅ هم نه غواړو.

د فقيرانو مهاجرينو فضيلت

﴿۲۷﴾ وَ عَن عبد الله بن عَمرو قَالَ : بَيْنَمَا أَنَا قَاعِدٌ فِي الْمَسْجِدِ وَ حَلْقَةٌ مِنْ فُقَرَاءِ

او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې مونږ په مسجد (نبوي صلى الله عليه وسلم) کې ناست وُ. او د فقيرانو

الْمُهَاجِرِينَ قُعُودٌ إِذْ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ إِلَيْهِمْ

مهاجرينو ډله راغونده شوې وه. چې ناڅاپه نبی کريم صلى الله عليه وسلم راغلو او فقيرانو ارخ ته يې مخ کړو او کيناستلو.

فَقُمْتُ إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِيُبْشِرْ فُقَرَاءُ

زه هم د خپل ځای نه پاڅيدلم او فقيرانو سره نژدې ناسته باندې هغه ته متوجې شوم. نو نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: فقيرانو

الْمُهَاجِرِينَ بِمَا يَسُرُّ وُجُوهَهُمْ فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ

مهاجرينو ته هغه زيری وررسول ضروري دي چې هغه دوی خوشحاله کړي. نو فقيران مهاجرين به د مالدارو نه جنت ته

بِأَرْبَعِينَ عَامًا» قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَلْوَانَهُمْ أَسْفَرَتْ.

څلويښت کاله مخکې ځي. حضرت عبد الله رضي الله عنه فرمايي چې په خدا قسم ما وکتل چې د فقيران رنګ روښانه

قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو: حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ

او تازه شو. بيا حضرت عبد الله رضي الله عنه وفرمايل چې زما په زړه کې آرمان پيدا شو چې کاش! زه هم د دوی په

مَعَهُمْ أَوْ مِنْهُمْ. رَوَاهُ الدَّارِمِيّ[2]

شان وی يا دا چې په دوی کې وی.

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۲۲۸۵ رقم الحديث (۲۹۷۹-۳۷)

(2) اخرجه الدارمي في السنن ۲/۴۳۷ رقم الحديث ۲۸۴۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوذر غفاري رضي الله عنه ته د نبي کريم صلی الله علیه وسلم اووه نصيحتونه

﴿۲۸﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: أَمَرَنِي خَلِيلِي بِسَبْعٍ:
او حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې زما دوست (نبي کريم صلی الله علیه وسلم) ماته د اووه خبرو حکم کړی دی.
أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ
نو يو حکم خو يې دا ته کړی دی چې زه د فقيرانو او مسکينانو سره مينه وساتم. او د هغوی سره نزديکت ولرم.
وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى
دويم حکم دا دی چې زه هغه سړي ته وګورم چې هغه زما نه په کمه درجه دی. او هغه سړي ته ونګورم چې هغه (مال او منصب
مَنْ هُوَ فَوْقِي وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ
کې) زما نه وچت دی. دريم حکم دا دی چې زه د خپلوانو سره خپلولي وپالم. اګر که کوم (خپلوان) خپلولي ختموي
وَإِنْ أَدْبَرَتْ وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا] وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ
څلورم حکم دا دی چې زه د چا نه څه شی و نه غواړم. پنځم حکم دا دی چې زه حقه خبره وکړم اګر که هغه تر خه
وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللهِ
خه کونکې معلوميږي. شپږم حکم دا دی چې زه د خدای د دين په معامله کې او امر بالمعروف او نهي عن المنکر
لَوْمَةَ لَائِمٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ
په لړ کې د ملامت کونکي د ملامتيا نه و نه يريږم. او اوم حکم دا دی چې زه په کثرت سره لاحول ولا قوة الا بالله
فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ. رَوَاهُ أَحْمد (۱)
وظيفه وکړم (بيا يې وفرمايل) دا اووه واړه خبرې او عادتونه په هغه خزانه کې دي چې هغه د عرش د لاندې ده.

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم خوښ دړې شيان

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ مِنَ الدُّنْيَا
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د دنيا په شيانو کې درې شيان د نبي علیه السلام په نظر کې خوښ ؤ يو خوراک (چې د هغې په
ثَلَاثَةٌ الطَّعَامُ وَالنِّسَاءُ
ذريعه سره بدن ديني خدمتونو باندې قدرت او طاقت) تر لاسه کيدلی شي. او دويم ښځې (چې د هغې په ذريعه سره نفس د بدو خيالاتو نه

(۱) أخرجه أحمد في مسنده ۵/۱۵۹.

وَ الطِّيبُ فَأَصَابَ اثْنَيْنِ

محفوظ وساتلی شي) او دریم خوشبویي (چې دهغې په ذریعه سره ماغزو ته خوشحالي او تقویت ترلاسه شي ځکه چې د حکماؤ د قول

وَلَمْ يُصِبْ وَاحِدًا

مطابق د عقل او فراست جمع کونکی ماغزه دي) نو په دې درې شیانو کې دوه شیان خو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته تر لاسه شول، او یو شی

أَصَابَ النِّسَاءَ وَالطِّيبَ

تر لاسه نشو. یعنې یو خو ښځې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ډېرې ورکړې شوي او دویم خوشبویي

وَ لَمْ يُصِبِ الطَّعَامَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ(۱)

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ډېره ورکړې ورکړی شوه لیکن دریم خوراک، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته (ډېر) ورنکړی شو.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُبِّبَ إِلَيَّ الطِّيبُ وَالنِّسَاءُ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: خوشبویي او ښځې زما لپاره خوښې

وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ. وَزَادَ ابْنُ الْجَوْزِيِّ بَعْدَ قَوْلِهِ: «حُبِّبَ إِلَيَّ» مِنَ الدُّنْيَا"(۲)

جوړې کړې شویدي او زما د زړه سکون او خوشحالي په لمونځ کې کیخودل شویده. (احمد، نسائی)

تن آسانې د الله والاؤ د شان منافي ده

﴿۲۱﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ بِهِ إِلَى الْيَمَنِ

او حضرت معاذ ابن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې کله هغه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (قاضي جوړولو باندې) یمن ته ولیږلو نو هغه

قَالَ : « إِيَّاكَ وَ التَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللهِ

ته یې دا نصیحت وکړو چې «خپل ځان د راحت غوښتوني او تن آسانی نه وساته ځکه چې د الله تعالی خاص

لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ(۳)

بندیګان د خاص ارام او سکون ژوند نه تیروي»

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۶/۷۲

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۷/۶۱ رقم الحديث ۳۹۳۹، وأحمد في المسند ۳/۱۲۸.

(۳) أخرجه أحمد في المسند ۵/۲۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

که مال ډیر وي نو عبادت به هم ډیر کول غواړي

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ رَضِيَ مِنَ اللهِ
او حضرت علی کرم الله وجهه فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم سړی چې په لږ رزق
بِالْيَسِيرِ مِنَ الرِّزْقِ رَضِيَ اللهُ مِنْهُ بِالْقَلِيلِ مِن الْعَمَلِ»[۱]
باندې د الله تعالی نه راضي کيږي. نو الله تعالی د هغه نه په لږ عمل باندې راضي کيږي.

د فقر او ولږې د پټولو فضيلت

﴿۲۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ جَاعَ أَوِ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم سړی چې وږی وي يا (د څه شي)
احْتَاجَ فَكَتَمَهُ النَّاسَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَرْزُقَهُ
محتاج وي او خپله دغه ولږه او محتاجي د خلکو نه پټه وساته نو د الله تعالیٰ دا يقيني وعده ده چې دغه
رِزْقَ سَنَةٍ مِنْ حلالٍ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإِيمَان»[۲].
سړي ته به الله تعالی به دغه سړي ته د يو کال رزق ورورسوي.

غريب عيالداره الله تعالی ته خوښ دی

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ عَبْدَهُ
او حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالی هغه مسلمان خوښوي
الْمُؤْمِنَ الْفَقِيرَ الْمُتَعَفِّفَ أَبَا الْعِيَالِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[۳]
غريب نه سوال کونکی او عيالداره وي. (ابن ماجه)

د حضرت عمر رضی الله عنه کمال تقوی

﴿۲۵﴾ وَعَنْ زيدِ بنِ أَسلَمَ قَالَ: اسْتَسْقَى يَوْمًا عُمَرُ
او حضرت زيد بن اسلم (تابعی) فرمايي چې يوه ورځ امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څکلو لپاره اوبه
فَجِيءَ بِمَاءٍ قَدْ شِيبَ بعسلٍ فَقَالَ:
وغوختلې نو هغه ته چې کومې اوبه پيش کړی شوي، په هغې کې شهد يو ځای کړی شوي ؤ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل:

---

(۱) أخرجه رواه البيهقي في شعب الايمان ۲/۱۳۹ رقم الحديث ۴۵۸۵.
(۲) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۱۵ رقم الحديث ۱۰۰۵۴.
(۳) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۸۰ رقم الحديث ۴۱۲۱.

إِنَّه لطَيِّبٌ لكني أَسْمَعُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ
یقیناً دا او به پاکې، حلالې او ډیرې خوږې دي خو زه دا نه څکم. ځکه چې زه د الله تعالی په اړه اورم او پوهیږم

نَعَى عَلَى قَوْمٍ شَهَوَاتِهِمْ فَقَالَ (أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا
چې هغه یو قوم د نفس د خواهش په اتباع باندې مجرم وګرځول او وې فرمایل چې تاسو په دې دنیاوي

وَ اسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا) فَأَخَافُ أَنْ
ژوندې کې خپل خوندونه او نعمتونه ترلاسه کړل او د هغې نه مو پورا پورا فائده ترلاسه کړه. لهذا زه ویریږم چې

تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا
هسې نه زمونږ نیکۍ هم دغه شان وي، چې د هغې اجر او ثواب ژر مونږ ته راکړې شي. نو حضرت عمر رضي الله عنه

فَلَمْ يشربه. رَوَاهُ رزين[1]
د شهدو سره یو ځای شوې او به ونه څکلې.

د اسلام په ابتداء کې د فقر یوه نقشه

﴿۳۶﴾ وَ عَنِ ابنِ عمَرَ قَالَ : مَا شبعنا
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ د خپل فقر او غریبۍ د وجې نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په

من تمر حَتَّى فتحنا
کهجورو باندې کله هم خیټه نده ډکه کړې، تردې چې مونږ خیبر فتح کړو، بیا مونږ ته په مړه خیټه باندې

خَيْبَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
کهجورې ترلاسه شوې.

---

[1] أخرجه رواه رزين.

[2] أخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۴۲۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

بَاب الأمل والحرص

امید او د حرص بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾(الحجر: ۳)

الأمل: اوږدو اوږدو امیدونو تړلو او د اوږدو امیدونو قطار جوړول او دهغې لپاره منصوبې جوړو... نوم امل دی. د امل تعلق د دنیاوي ژوند سره دی. دلته د امل نه مراد دنیاوي کارونه، خوشحاله ژوند او مخصوص دنیاوي عیش او عشرت او د مستقبل پرمختګ او کامیابۍ اوږده امیدونه مراد دي. چې انسان دې خیالي منصوبو د فراختیا په خوښۍ کې داسې غافله شي چې مرګ یاد او د آخرت د ژوند تیارۍ نه بیخي جدا پاتې شي او د دې مصرعې مصداق جوړ شي:

تمنا مختصر سی ہے مگر تمہید طولانی

د دې حقیقت واضحه کولو لپاره الله تعالیٰ ارشاد وفرمایل: ﴿ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾(الحجرات:۳) یعنې دا کافر او غافل ته پرېږده چې دوې خوراک وکړي. فائده واخلي. اوږده امیدونه وتړي. بیا به ډیر ژر پوهه شي. هو که یو سړی د دین په زده کړه او ښودنه او دهغې پرمختګ او کامیابۍ لپاره اوږده امیدونه او ارزوګانې کوي نو دا جائز بلکې د ستاینې وړ ده.

الحرص: د اوږدو ارادو د ترلاسه کولو او د هغې لالچ ته حرص وايي. د حرص تعلق د نیکۍ او بدۍ دواړو سره کیدلی شي. په نیکړه کې حرص کول، د ښه اردو آرزو کول دا بد ندي. ارشاد باري تعالیٰ دي: (مرقات۹/۱۱۹) ﴿إِنْ تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَاهُمْ﴾﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ خو نفساني خواهشات پورا کول، د دنیا د هر څه ډیروالي حرص کول، د جائز حدودو نه تیریدلو باندې په ناجائزه طریقو سره مقصدونه ترلاسه کول، دا حرص او لالچ او مذموم او بد شی دی. شریعت هم دا حرص مکروه ګرځولی دی. نو د دې باب احادیث د دې حرص په بدې بیانولو کې راغلي دي. قاموس کې لیکلي دي چې بدترین حرص هغه دی چې سړی خپله برخه ترلاسه کړي او بیا د بل د برخې طمع او لالچ کې اخته وي. خلاصه دا چې نیک کارونه لکه علم او عمل حصول او د دین سرلوړې کې حرص کول، او دهغې د پرمختګ لپاره ارزو کول ښه شی دی. د دینه علاوه کارونو کې حرص بد شی دی.

اَلْفَصْلُ الأول

انسان د ارزوګانو او دهغه د مرګ عملي نقشه

﴿۱﴾	عَن	عبد	الله	قَالَ:	خَطَّ	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (یوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ د پوهې لپاره څلور خطونه مربع

خَطًّا مُرَبَّعًا وَخَطَّ خَطًّا فِي الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ

جوړ کړل. بیا یې د دې مربع په مینځ کې یو بله کرخه وویستله چې هغه د مربع نه بیرون وتلي وه. د دینه وروسته

وَ خَطَّ خُطُطًا صِغَارًا إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الْوَسَطِ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه مینځنې خط هغه برخې اړخ ته چې (د مربع) خطونو مینځ کې وه، واړه واړه خطونه راخکل.

فقال : « هَذَا الْإِنْسَانُ

او بیا یې وفرمایل چې ښه پوهه شی! د مینځنې خط دا برخه چې د مربع د خطونو مینځ کې ده، ګوا کې انسان دی. او دا

وَ هَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ وَ هَذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهِ

خط د انسان مرګ دی.، او د مینځې خط دا برخه کومه چې د مربع نه بیرون وتلي ده، د دې انسان ارزو او امیدونه

وَهَذِهِ الْخُطُوطُ الصِّغَارُ الْأَعْرَاضُ فَإِنْ

دي او د مینځنې خط په دننه برخه باندې چې کوم دا واړه واړه خطونه دي، دا عوارض دي. نو که هغه د یوې

أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَسَهُ هَذَا

حادثې او عارضې نه بچ شي نو دویمه حادثه او عارضه هغه راګیروي. که د دې حادثې او عارضې نه هم بچ شي

وَإِنْ أَخطأه هَذَا نهسه هَذَا» . رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]

نو بیا دریمه حادثه او عارضه یې راګیروي.

توضيح: خط النبي: انسان او د هغه مرګ او هغه د آرزوګانو نقشه خپله نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل لاس مبارک سره خاورو باندې جوړه کړه. او انسان یې ښه بوهه کړو. د حدیث شارحینو د دې حدیث په مطابق باندې دا نقشه داسې جوړه کړیده. ملا علی قاری رحمه الله دننه واړه خطونه اوه اوه جوړ کړي دي او وې فرمایل چې د انسان غټې اندامونه اوه دي. لهذا دا نقشه راجحه ده. نقشه دا ده:

مـرګ

عـوارض

مـرګ　　انسـان　　مـرګ

عـوارض　　امـل(امید)

مـرګ

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۵ رقم الحديث ۶۴۱۷. والترمذي في السنن ۴/۵۴۸ رقم الحديث ۲۴۵۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې حدیث حاصل او مطلب دا دی چې انسان په قسما قسم ارزوګانو کې اخته وي او هر وخت په دې فکر کې لګیا وي چې فلانکې آرزو پوره شي، فلانکۍ پوره شي، خو خپله دا انسان د مرګ په مربع خط کې راګیر پروت دی. د څلور اړخ نه دا عاجز د مرګ په ګیره کې دی. د دې باوجود د تعجب خبره دا ده چې د ده ځیني امیدونه او آرزوګاني داسې دي چې هغه د مرګ د مربع خط نه بیرون دي. وس که دا انسان خپل مربع ارزوګاني پوره کول غواړي نو اول خو د ده د بدن سره ډیر حوادثات او عوارضات پیوسته شویدي. نو دا انسان د ولږې، غریبۍ او مصیبتونو په چپو کې کې دننه دننه غوپې وهي. هره یوه حادثه داسې ده چې د مرګ نه کمه نده. او هغه مسلسل په ده باندې حملې کوي. که دا انسان د دې عوارضاتو نه په بچ کیدلو سره کامیاب هم وو ځي او خپلې ارزو اړخ ته په منډه سره ورځي نو بیا هم خپله ارزو نشي ترلاسه کولی ځکه چې د هغه د ارزو او د هغه ترمینځ د مرګ یو داسې دیوال ولاړ دی چې هغه دا مخکې نه پریږدي او مرګ نژدې راتلو سره هغه لاندې کړي. (مرقات ۹/۱۲۰)

خط اقرب: نه مراد مرګ دی. د راتلونکي حدیث نمبر ۲ مضمون او توضیح هم په دې توګه ده.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطُوطًا فَقَالَ: «هَذَا
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څو خطونه راخکل. بيا يې وفرمايل چې د مينځني خط دا برخه
الْأَمَلُ وَهَذَا أَجَلُهُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ
د انسان ارمان دی او دا خط د هغه مرګ دی. نو انسان په دې حالت کې وسيږي چې ناڅاپه د مرګ خط هغه
الْأَقْرَبُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
راګير کړي، چې هغه ده ته ډير نژدې دی.

د بوډا انسان زلمي حرص

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَانِ
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: انسان خپله خو بوډا کيږي خو په هغه کې دوه شيان
الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
ځوان او قوي کيږي. يو خو د مال حرص او دويم د اوږد عمر ارمان.

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۶ رقم الحديث ۶۴۱۸ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۴ رقم الحديث ۴۲۳۱.

[2] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۹ رقم الحديث ۶۴۲۱ ومسلم في صحيحه ۲/۷۲۴ رقم الحديث (۱۰۴۷-۱۱۵).

توضیح: **یهرم:** هرم بوډا والې ته وایې. او یشب: ځوان کیدلو ته وایې. د حدیث مطلب دا دی چې انسان څومره بوډا کیږي، هغومره په هغه کې دوه شیان ځوانان کیږي. اول د مال حرص، دویم د اوږد عمر حرص یعنې د عقل تقاضا خو دا وه چې د بوډا والې دو چې نه د نیا په شیانو باندې د انسان نیوکه کمزوري شي خو کیږي دا چې بدنې ټول قوتونه کمزورې کیدلو باوجود په انساني طبیعیت کې دوه خصلتونه ځوانان کیږي. یو مالې رص، دویم د عمر حرص. په دې کې د دې بوډا انسان نیوکه د کمزورې کیدلو په ځای باندې نوره مضبوطه شي. ګویا انسان بوډا حرص یې زلمی. یو شاعر په خپله ژبه کې په خپل خوند باندې ویلي دي:

د عمر ونه مې زنده شوه — د حرص ونه مې لا اوس سپرې ګلونه

یعنې ژما د ژوند ونه خو بوډۍ شوه خو د حرص ونه د سپرلي په مستۍ کې خپلو ګلانو بنایست بنایي.

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيرِ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د بوډا زړه
شَابًّا فِي اثْنَيْنِ: فِي حُبِّ الدُّنْيَا وَطُولِ الأَمَلِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]
همیشه په دوه خبرو باندې زلمی وي. یو د دنیا مینه کې او بل د امیدونو اوږدوالی. (بخاری و مسلم)

د شپیتو کالو بوډا که توبه ونه کړي نو څه به وي؟

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْذَرَ اللهُ إِلَى امْرِئٍ أَخَّرَ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی د هغه سړي د عذر لپاره
أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [2]
هیڅ موقع نده پریخي چې هغه یې دومره وروسته کړو چې د هغه عمر یې د شپیته کالو عمر ته ورسولو.

توضیح: اعذر الله: یعنې الله تعالی چې کله یو چا ته د شپیته کالو عمر ورکړو او د غه سړي په دې اوږد عمر کې هم توبه ونکړه نو وس د الله تعالی په نزد باندې د دغه سړي هیڅ عذر پاتې ندی. د ټولو عذرونو او بهانې ختمي شوي. وس د سزا نه غیره هغه ته څه ورکړیدی شي. ځکه چې دومره اوږد عمر ورکولو نه وروسته هم هغه د ګناهونو نه منع نشو. سر او ږیرې سپین ایختانو یې د خطرې ټلي ووهله. خو هغه په هوش کې رانغلو. نو وس د الله تعالی په نزد باندې د هغه هیڅ عذر پاتې ندی. ځکه چې ځوان خو د بنه کیدلو لپاره د بوډا والې انتظار کولی شي خو یو بوډا چې د هغه په سر باندې مرګ تاویږي، هغه آخر د څه انتظار کوي. (مرقات ۹/۱۲۳)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۹ رقم الحديث ۶۴۲۰ ومسلم في صحيحه ۲/۷۲۴ رقم الحديث (۱۰۴۶-۱۱۴).

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۳۸ رقم الحديث ۶۴۱۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

اعذرالله: کې همزه د سلب مأخذ لپاره ده. یعنې الله تعالی دهغه تول عذرونه او بهانې ختمې کړیدي. دا حدیث د دې آیت تفسیر جوړیدلی شي. ﴿اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ﴾ (فاطر: ۴۰)

د انسان خیټه د قبر خاورې ډکولی شي

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل:
«لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا
که د انسان سره د مال و دولت نه ډکې دوه کندې وي نو بیا به هغه د دریمې کندې د ډکولو په لټون کې وي.
وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ
او د انسان خیټه د خاورو نه غیره هیڅ شی نشي ډکولی. او کوم سړی چې د حرص نه توبه کوي، او
وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
الله تعالی د هغه توبه قبلوي. (بخاری و مسلم)

توضیح: الاالتراب: یعنې د انسان په طبیعت او دهغه په ضمیر کې د دنیا حرص او لالچ داسې پیوسته دی چې که هغه ته دوه غرونو مینځ کې دوه کندې مال کړی شي نو دا انسان د دریمې په لټون کې سرگردانه گرځي. په دنیا کې د هغه د مړیدلو هیڅ صورت نشته دی. تر ننه پورې نه کوم مالدار څه حد متعین کړیدی چې دغه حد ته په رسیدلو سره انسان ته کفایت او قناعت ترلاسه کیږي. لهذا د انبیاء کرام علیهم السلام د تعلیماتو په رڼا کې دا خبره سل فیصده صحیح ده چې د انسان خیټه فقط خاورې ډکولی شي. په دې حدیث کې ډیر مال د آسوده ژوند ذریعه نه بللی شوي بلکې لږه دنیا او قناعت یې د ژوند آسودگۍ بللې ده. لهذا د قناعت د تورې نه او د سخاوت د تیره اړخ باندې د بخل دیوال گوزارول پکار دي. (مرقات ۹/۱۲۴)

دنیا کې فقط مسافر نه بلکې روان مسافر جوړ شه

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ جَسَدِي فَقَالَ:
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زما د بدن یوه برخه ونیوله او وې و فرمایل:
«كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ وَعُدَّ نَفْسَكَ
ته په دنیا کې داسې وسیږه گویا ته مسافر یې یا په لاره تلونکی یې او ته خپل ځان شمیره په هغه خلکو کې وکړه

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۵۳ رقم الحديث ۶۴۳۶. ومسلم في صحيحه ۲/۷۲۵ رقم الحديث (۱۰۴۹-۱۱۸)

فِي أَهلِ الْقُبُورِ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]
چې هغه په خپلو قبرونو کې په آرام اوده دي.

توضیح: غریب: عربي ژبه کې غریب ناشنا او مسافر ته وايې. غریب داسې مسافر وي چې دهغه ټوله توجو خپل سفر ته وي. یعنې په دنیا کې داسې گمنام وسیږه چې ستا د خپل کار سره مطلب وي او فقط په آخرت باندې نظر ساته . او دهغې تیاری کوه. او عابر سبیل: دا «او» لفظ د بل په معنی دی. چې د پر مختګ لپاره دی . یعنې مسافر په دوه قِسمه دي.یو هغه مسافر دی چې هغه یو ځاې ته په راتلو سره د سفرژوند تیروي. او هغه ځاې کې قیام خپل کړي. دویم هغه مسافر دی چې هغه لاروی او تلونکی مسافر دی. هغه یو ځاې کې هم قیام نکوي. بلکې منصزل مقصود ته هر وخت روان دی. په دې حدیث کې دې دیم قِسم ارخ ته توجو راړولی شویده چې د آخرت تیاری او خپل مقصو: کې مشغوله کیدلو باندې فقط مسافر نه بلکې تلونکی مسافر جوړ شه. او دنیاوې اړیکې ماتولو باندې خپل مقصود پسې ولګیږه. لکه چا ویلي دي چې:

اپنے من ڈوب کر پاجا سراغ زندگی　　　　تو اگر میرا نہیں بنتا نہ بن اپنا تو بن

عد نفسك في اهل لقبور: یعنې خپل ځان په مړو کې شمیر کړه. او خلکو ته ووایه چې بس ما مړی وګڼی، لهذا زمانه د دنیا کارونه او دخلکو په جګړو کې د ننوتلو امید مه لری. بهرحال ښکه چې په حقیقې مرګ سر د نیا کارونه نیمګړې په نیمګړې پاتې شي، دغه شان هر مسلمان لپاره پکار دي چې د دنیا هیڅ شي سره دهغه تعلق پاتې نشي. او خپله په مکمله توګه باندې د آخرت اړخ ته متوجې شي. او خپل نفس اماره داسې ووژني چې د دنیا هیڅ شي سره د هغه تعلق پاتې نوي. هم دا مضمون په یو حدیث کې داسې بیان کړی شویدی : **موتو قبل ان تموتوا**: یعنې مرګ راتلو نه مخکې خپل ځان مړ وګڼه.په دې حدیث کې د **وعدّ نفسك** نه تر آخره پورې چې کوم الفاظ دي ، دا په بخارې کې نشته دی، فقط د حدیث ابتدایې کلمات دي. لذا د دې رواه البخاری اړخ ته منسوب کول صحیح ندي. بلکې رواه الترمذی ویل صحیح ؤ. (مرقات ۹/۱۲۶)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

کور داخیړولو نه مرګ ژر راتلی شي

﴿۸﴾ عَن عبد الله بن عَمرٍو قَالَ: مَرَّ بِنَا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَأُمِّي نُطَيِّنُ شَيْئًا
حضرت عبد اللہ بن عمرو رضی اللہ عنہ فرمایې چې ما او زما مور په خټه باندې باندې یو څه اخیړول چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(۱) اخرجه البخاري في صحیحه ۱۱/۲۳۳ رقم الحدیث ۶۴۱۶ والترمذي في السنن ۴/۴۹۰ رقم الحدیث ۲۳۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا عَبْدَ اللهِ؟» قُلْتُ شَيْءٌ
تیریدل زمونږ په ارخ باندې وشول. نبی ﷺ وفرمایل: عبد الله دا څه دي؟ ما وویل: چې دا شی (یعنې
نُصْلِحُهُ. قَالَ: «الْأَمْرُ أَسْرَعُ مِنْ ذَلِكَ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]
دیوالونه یا چهت) جوړوؤ. نبی ﷺ وفرمایل: امر یعنې اجل (نیتېه) د دینه هم ژر راتلونکې دہ.

توضیح: حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه شاید ضرورت ګڼلو. باندې د کور اخیړ وکړو چې کور یا دیوال راګوزار نشي. نبی ﷺ شاید دا ضرورت نه ډیر وګڼل. نو ځکه یې هغه ته اختار ورکړو چې اخیړ په کولو سره کور خو به مضبوط شي خو د دې کور د راګوزاریدلو او د خرابیدلو نه مخکې مرګ راتللی شي. لهذا د خپل آخرت اصلاح مخکې کول پکار دي. د کور په جوړولو کې وخت ولې خرابوي. یو شاعر په خپل خوند ویلي دي:

آخر دې تګ د بل وطن دی — دلته کې څه ته جوړوي دنګ محلونه

یعنې کله چې ته ژر د بلې دنیا سفر کوي نو په دې دنیا کې وچتې ماڼۍ ولې جوړوي.

ماڼۍ څه ته جوړوي آخر به لاړ شي — دومره بس دی چې په تا څڅیږي نه

یعنې د ماڼو په جوړولو کې وخت ولې خرابوي، کور دومره کافي دی چې د اوبو د څڅیدلو نه دې وساتي. ځینو عارفینو ویلي دي چې دصحابه کرامو کورنه کچه ؤ. ایمان مضبوط ؤ. او زمونږ ایمانونه کچه دي او کورنه مضبوط دي.

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ
او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د تش او دس ماتې نه وروسته
يُهَرِيقُ الْمَاءَ فَيَتَيَمَّمُ بِالتُّرَابِ فَأَقُولُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الْمَاءَ مِنْكَ قَرِيبٌ
(او د اودس کولو نه مخکې) په خاورو باندې تیمم کولو. ما به وویل چې یا رسول الله! اوبه خو تا ته ډیرې نژدې دي؟
يَقُولُ: «مَا يُدْرِينِي لَعَلِّي لَا أَبْلُغُهُ» . رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ» وَابْنُ الْجَوْزِيِّ فِي كِتَابِ «الْوَفَاءِ»[2]
نبی ﷺ به فرمایل چې ما ته څه معلومه ده چې زه به دې اوبو ته ورسیږم او که نه؟

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۴۰۱ رقم الحديث ۵۲۳۶ والترمذي في السنن ۴/۴۹۱ رقم الحديث ۲۳۳۵.

(2) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۳۲ رقم الحديث ۴۰۳۱، واحمد في المسند ۱/۲۸۸.

دا انسان ارمان لرې او مرګ نژدې دی

﴿۱۰﴾ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «هَذَا ابْنُ آدَمَ وَهَذَا أَجَلُهُ»

او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دا خو ابن آدم دی او دا د هغه مرګ دی.

وَوَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ قَفَاهُ ثُمَّ بَسَطَ فَقَالَ:

دې ویلو سره نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس شاه ابرخ ته وساتلو، د دېنه وروسته یې خپل لاس راخپور کړو او وې فرمایل

«وَثَمَّ أَمَله». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

چې دې ځای کې د انسان آرزو ده.

توضیح: وهذا اجله: یعنې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس خپل څټ سره بیخې پیوسته کیخودلو او وې فرمایل چې د انسان مرګ دومره نژدې دی. بیا نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس د څټ نه لیرې کړو او وې فرمایل چې دغه د انسان امید دی. یعنې مرګ بیخې رانیژدې شوی دی. او آرمان ډیر لیرې تللی دی. (مرقات ۹/۱۲۸)

دا انسان ناکامه کوشش

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَرَزَ عُودًا بَيْنَ يَدَيْهِ

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې مخې ته یو لرګی نال کړو

وَآخَرَ إِلَى جَنْبِهِ وَآخَرَ أَبْعَدَ مِنْهُ.

او بیا یې بل لرګی د اولنې لرګي سره نژدې نال کړو او بیا یې د دېنه وروسته یو دریم لرګی په کافي فاصله باندې نصب کړو.

فَقَالَ: «أَتَدْرُونَ مَا هَذَا؟» قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ

او بیا یې وفرمایل: پوهیږئ دا څه دي؟ یعنې د دې لرګو نه څه مراد دي؟ صحابو وفرمایل چې الله او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَعْلَمُ. قَالَ: «هَذَا الْإِنْسَانُ وَهَذَا الْأَجَلُ» أُرَاهُ

بنه پوهیږي. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دا (اولنی لرګی ګویا) انسان دی او دا (دویم) لرګی د دې انسان مرګ دی.

قَالَ: «وَهَذَا الْأَمَلُ

حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زما ګمان دی چې د دېنه وروسته نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمایل او دا (دریم) لرګی د ده ارزو

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۱ رقم الحديث ۲۳۳۴ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۴ رقم الحديث ۴۲۳۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَتَعَاطَى الْأَمَلَ فَلَحِقَهُ

ده. انسان د خپل امید او ارمان د پورا په لټون کې اخته وي چې د هغه مرګ د هغه ارمان پورا کیدلو نه

الْأَجَلُ دُونَ الْأَمَلِ». رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ»[1]

مخکې راتګ سره هغه لاندې کړي. (شرح السنة)

د دې امت د خلکو عمرونه

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُمْرُ أُمَّتِي

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې هغه وفرمایل: زما د امت عمر

مِنْ سِتِّينَ سَنَةً إِلَى سَبْعِينَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

د شپیته کالو نه تر اویا کالو پورې دی. (روایت کړې دې ترمذی، او ترمذی وائی چه دا حدیث غریب دې)

توضيح: الى سبعينَ: یعنې شپیته کالو نه تر اویا کالو پورې د دې امت د خلکو عمرونه دي. دا حکم اکثری دی. ګنې څه خلک خو شپیته کالو ته نه رسیږي. او څه د اویا کالو نه هم اوړیږي. خو هغوې ډیر کم وي. د دې امت د خلکو طبعي عمر ۶۳ کاله دی. او د دې نه اخوا اضافي عمر دی. خلاصه دا چې د انسان د عمر خو پنځلس کاله د بلوغ نه مخکې ضائع شي، پاتې پنځلسو کې څه د زده کولو او ویلو تیاری کوي. نیم عمر خو دلته لاړو. پاتې دیرش کاله عمر که ورکړی شو نو هغه څهو کي، چې د هغې لپاره دا انسان د زمکې او آسمان یو ځاې کولو کوي او د وهلوزراوهلو سره حلال او حرام فرق کولو نه بغیر ګټي. او د خپل آخرت دائمې ژوند خرابوي. هائی افسوس! (مرقات ۹/۱۳۰)

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

﴿۱۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زما د امت د اکثرو خلکو عمر

السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوزُ ذَلِكَ».

شپیته او اویا کالو په مینځ کې به وي. او زما په امت کې د داسې خلکو شمیره ډیره کمه د چې هغه د دې نه واوړیږي.

---

[1] أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۸۶ رقم الحديث ۴۰۹۳ وابن ماجه ۲/۱۴۱۴ رقم الحديث ۴۲۳۲.

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۹ رقم الحديث ۲۳۳۱.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَذُكِرَ حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بنِ الشِّخِيرِ فِي «بَابِ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ»[1]
(روایت کړې دې ترمذی او ابن ماجه) او ذکر کړې دې عبد الله بن شخیر په «بَابِ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ» کې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

یقین او زهد خپل کړه، بخل او ارزو نه ځان وساته

﴿۱۲﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل:
«أَوَّلُ صَلَاحِ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْيَقِينُ وَالزُّهْدُ وَأَوَّلُ فَسَادِهَا الْبُخْلُ
د دې امت اوله نیکي یقین کول او زهد خپلول دي. او د دې امت اول فساد بخل او دنیا کې د پاتې
وَالْأَمَلُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإِيمَان»[2]
کیدلو ارمان کول دي. (روایت کړې دې بیهقی په شعب الایمان کې)

توضیح: الیقین: یقین نه مراد په دې خبره باندې کامله عقیده ده چې رازق د الله تعالیٰ ذات دی. هغه الله جل جلاله رزق ورکوي. او هغه الله جل جلاله ضامن او کفیل دی. دا یقین چې کله راشي نو بیا بخل او رحرص او لالچ به نه وي. او دا یره به نوي چې که نن یې خرچ کړم نو سبا به څه خورم.؟ دا د بې یقینې حالت دی. شیخ عبد الوهاب متقي په خپل کتاب الحبل المتین فی تحصیل الیقین کې لیکلي دي چې یقین د هغه اعتقاد جازم (پوخ) نوم دی چې هغه په دلائلو سره دومره مضبوط شي چې د سړي لپاره د حق خبره کول آسانه شي. دا د حکماؤ اصطلاح ده. خو د صوفیاؤ په نزد باندې یقین د هغه کیفیت نوم دی چې هغه د شریعت د کارونو کولو باندې سړی راوپاروي او د شریعت د منع کړی شوې شیانو نه سړی وساتي. دا یقین په بنیادې توګه باندې په څلور شیانو باندې مشتمل دی!

(۱) د الله تعالی په توحید باندې یقین ساتل چې الله تعالی وحده لاشریک دی. او هغه یک یواځې د دې عالم مدبر او واکمن دی.

(۲) توکل یعنې دا عقیده ساتل چې رازق د الله تعالی ذات او هغه د رزق ضامن دی.

(۳) د جزاء او سزا داسې عقیده وي چې د هر ښه او بد بدله به په قیامت کې ورکولی کیږي.

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۱۷ رقم الحديث ۲۵۵۰ وابن ماجه ۲/۱۴۱۵ رقم الحديث ۴۲۳۶.

([2]) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۴۳۸ رقم الحديث ۱۰۸۴۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) دا عقیده چې الله تعالی هر وخت د خپلو بنده ګانو د ټولو حالاتو نه هر وخت خبر دی.

د حقیقي زهد پیژندنه څه ده؟

﴿۱۵﴾ وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ: لَيْسَ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا بِلُبْسِ
او حضرت سفیان ثوری رحمه الله نه منقول دي چې هغه وفرمایل: په دنیا کې زهد د دې نوم ندی چې غټې او
الْغَلِيظِ وَالْخَشِنِ وَأَكْلِ الْجَشِبِ إِنَّمَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا
وړې او سختې جامې واغوستلی شي. او وچه کلکه او بی خونده ډوډۍ وخوړلی شي. بلکې د دنیا نه زهد اختیارول
قِصَرُ الْأَمَلِ. رَوَاهُ فِي «شرح السنة»[۱]
په حقیقت کې آرزوګانو او امیدونو کې د کمې نوم دی.

توضیح: الغلیظ: د وړې پیړې جامې مراد دي. لکه خمتا او داسې نور.

الخشن: زګه او سخته جامه مراد ده.

الجشب: وچه کلکه ډوډۍ، وچه او بی خونده خوراک ته جشب وایې.

قصر الامل: قصر بمعني د لنډوالي او مختصر ارمان مراد دي. یعنې اصل زهد دا ندی چې زګه جامه وي، بې خونده خوراک وي، بلکې اصل زهد د ارزوګانو مختصر کولو نوم دی. چې د دنیا نه داسې بی رغبتې وي چې د دې په جوړولو کې بیخې دزړه خوښتیا نوي. نه او ړدې منصوبې وي. او نه یې څه رغبت وي. بلکې د دنیا نه بیزاره او د اخرت اړخ ته راغب وي.

د دې حدیث خلاصه دا راووتله چې کوم سالک او زاهد جسماني توګه باندې خو دنیا نه ځان ساتي خو په زړه کې د دنیا سره مینه ساتي او دهغه زړه د دنیا د مینې نه ډک دی نو دا هلاکونکې ناروغې ده. او تباه کونکی صورت حال دی. د دې په عکس باندې که جسماني توګه باندې یو سړی د دنیا مباح خوندونو نه فائده اخلي خو دهغه زړه د دنیا د مینې نه بیخې خالي دی. بلکې د اخرت اړخ ته متوجې دی. دا غوره صورت حال دی. ګویا چې د دنیا مال یې په لاس کې دی او د آخرت ایمان یې په زړه کې دی.

د دې مثال داسې دی چې یوه کشتۍ په اوبو کې روان ده. په هغې کې خلک سپاره دي. که د سمند اوبه د کشتۍ نه بیرون دي نو دا کشتۍ لپاره ډیره ضروري ده. ځکه چې د اوبو نه بغیر کشتۍ نشې ګرځیدلی. خو که دغه اوبه په کشتۍ کې دکې شي نو کشتۍ به هم غرقه شي او خلک به هم ډوب

---

[۱] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۸۶.

شي. بيخي دغه شان د دنيا مال دی. چې هغه د ظاهري بدن لپاره ضروري دی. خو که د دنيا دغه مال د انسان په زړه کې ننوتلو باندې په هغې قبضه وکړي نو په دې سره به ايمان برباد شي. او بيا به د اسړی هلاک شي. هم دا مضمون او دا راتلونکی د امام مالک رحمه الله روايت او د اثر دی.

لنډه دا چې د دې دواړو روايتونو مطلب په دې مثال سره هم ښه پوه کې راتلی شي چې د انسان بدن د سپرلی په شان دی. که سپرلی باندې خوراک څکاک وکړي او ښه چاق او تازه يې وساتي نو هغه به ستا د سپرلی کولو لپاره ښه په کار راشي خو که دا دې کمزوری کړو نو هغه به هلاک شي او د سپرلی قابل به نه وي. دغه شان که بدن دې ډير کمزوری کړو نو دا بدن به بيا د عبادت په کار رانه شي. (مرقات ۹/۱۳۳).

﴿۱٦﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ الْحُسَيْنِ قَالَ: سَمِعْتُ مَالِكًا وَسُئِلَ
او حضرت زيد بن حصين فرمايي چې ما د حضرت امام مالک رحمه الله نه دا اوريدلي دي کله چې د هغه نه پوښتنه
أَيُّ شَيْءٍ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا؟ قَالَ: طِيبُ الْكَسْبِ وَقِصَرُ الْأَمَلِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإيمان»[1]
وشوه چې د دنيا نه زهد اختيارول د څه شي نوم دی؟ هغه وفرمايل: حلاله ګټه او د ارزوګانو کموالي نوم زهد دی.

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۴۰۶۲ رقم الحديث ۱۰۷۷۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ ۲۳ ربیع الثاني ۱٤۱۸هـ

عبادت لپاره د مال او عمر خوښ ساتلو بیان

المال ما یمیل الیه القلب کما قال الشاعر:

رئیت الناس قد مالوا الی من عنده مال ومن لا عنده مال فعنه الناس قد مالوا

رئیت الناس قد قذهبوا الی من عنده ذهب ومن لا عنده ذهب فعنه الناس قد ذهبوا

په دې باب کې به هغه احادیث بیانیږي چې دهغې نه به معلومیږي چې د الله تعالی عبادت او طاعت په خاطر او د دین د خدمت په غرض سره او د آخرت د ښیګړي او کامیابۍ کارونو د کولو لپاره مال دولت طلب کول او د هغې غوختنه جائز ده.

کما قیل المال هو الحجاب الاکبر اما للنار واما للجنة ونعم المال الصالح للرجل الصالح

ولولا هذه الدنانیر لتمندل بنا هؤلاء الملوك.

اسلام خو د انساني ژوند لپاره کامل او مکمل د ژوند قانون دی او د زیاتې کمۍ نه پاک د الله تعالی قانون دی. ځکه په دې کې چې چیرته د مال د خرابوالي بدې بیان کړی شویده. هلته د ښیګړي والا مال ستاینه هم شویده. لهذا مطلقًا مال ته بد نشي ویل کیدلی. او نه مطلقًا دیته ښه ویل کیدلی شي.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

الله تعالی ګمنام مالداره خوښ ساتي

﴿۱﴾ عَنْ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ
حضرت سعد رضی الله عنه فرمایي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقینًا الله تعالی هغه بنده خوښوي چې هغه متقي او غنی
الْخَفِيَّ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ: «لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَيْنِ» فِي «بَابِ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ»[1]
ګوټ کې ناست وي. (روایت کړی دی مسلم، او ذکر کړی شوې په حدیث د ابن عمر رضی الله عنه «لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَيْنِ»

توضیح: التقی: صاحب تقوی سړي ته تقی ویلی شویدي. دلته د تقي نه مراد هغه سړی دی چې هغه په خپل مال کې بې ځایه اسراف نه کوي. الغنی صاحب مال ته وایې. د دېنه مراد حقوق الله او حقوق العباد ادا کولو والا شکر ګذار سړی دی.

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۷ رقم الحديث (۲۹۶۵-۱۱) واحمد في المسند ۱/۱۷۷.

الخفي: ورک نومی، په کوټ کې ناست سړي ته الخفی ویلی شویدي. د دینه مراد هغه مالداره سړی دی چې هغه د ډېر مالداره کیدلو باوجود هم عاجز، مسکین او ګمنام وسيږي. مال د ډېروالې د وجې نه تکبر کوي او نه په نور باندې سرکشې او تجاوز کوي. بلکې د چپتیاژوند تیروي او په چپه سره خپل دا حلال مال د ښیګړو په لارو کې خرچ کوي. دا سړی ځکه الله تعالی ته خوښ دی چې په ده کې ډېر ښه ښویونه جمع شویدي. او حال دا دی چې مالداره خلک د تکبر سره سره ظلم هم شروع کړي. او د فساد تړولې اډې چلوي. (مرقات ۹/۱۳۴)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۲﴾ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟
حضرت ابوبکره رضي الله عنه روايت دی چې يو سړي پوښتنه وکړه چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم! کوم سړی غوره دی؟
قَالَ: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ». قَالَ:
نبی صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړی چې د هغه عمر ډېروي او اعمال يې ښه وي. بيا هغه سړي پوښتنه وکړه
فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ؟ قَالَ: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ والدارمي[1]
او کوم سړی بد دی؟ نبی صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د چا عمر چې ډېروي او اعمال يې بد وي.

د ښه عمل والا سړی د شهيد د درجې نه څنګه مخکې شو؟

﴿۳﴾ وَعَنْ عبيد بن خَالِد أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ
او حضرت عبيد ابن خالد رضي الله عنه فرمايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم د دوه کسانو ترمينځ ورولې جوړه کړې وه.
فَقُتِلَ أَحَدُهُمَا ثُمَّ مَاتَ الْآخَرُ بَعْدَهُ بِجُمُعَةٍ أَوْ نَحْوِهَا
په دوی کې يو سړی د خدای په لاره کې ووژلی شو. او د هغه د شهادت نه يوه اونی (هفته) يا يوې اونې ته نژدې دا سړی هم وفات
فَصَلَّوْا عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا قُلْتُمْ؟»
شو. صحابؤ د هغه سړي د جنازې لمونځ وکړو. نبی کريم صلى الله عليه وسلم حاضرينو نه پوښتنه وکړه چې تاسو د مړي کومه جنازه
قَالُوا : دَعَوْنَا الله
وکړه، په هغې کې تاسو څه ولوستل او څه مو وويله؟ صحابؤ عرض وکړو چې مونږ د الله تعالی نه دا دعاء وکړه

(1) أخرجه الدارمي في السنن ۲/۳۹۸ رقم الحديث ۲۷۴۲، و الترمذي في السنن ۴/۴۸۹ رقم الحديث ۲۳۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْ	يَغْفِرَ	لَهُ	وَيَرْحَمَهُ	وَيُلْحِقَهُ	بِصَاحِبِهِ.
چې د ده ګناهونه وبخښه.په ده باندې رحمت راولیږه. او دا دهغه (شهید شوي) ملګري خواته ورسوه.					
فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِهِ					
نبی ﷺ (دې اوریدلو باندې) وفرمایل: نو بیا ده هغه لمونځونه چیرته لاړل چې هغه ده د خپل ملګري نه وروسته کړي ؤ					
وَ عَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ ؟ » أَوْ قَالَ :					
او هغې د اعمالو ثواب چیرته لاړو چې هغه ده د خپل ملګري د اعمالو نه وروسته کړي ؤ، یا یې دا وفرمایل چې					
« صِيَامُهُ بَعْدَ صِيَامِهِ					
د ده د هغه روژو ثواب چیرته لاړو چې هغه ده د خپل ملګري د روژو نه وروسته نیولي وي. بیشکه په					
لِمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ					
جنت کې د دنه او د الله ته په نزدیکت کې د دې دوه کسانو ترمینځ چې کومه فاصله ده. هغه د دې فاصلې					
مِمَّا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]					
نه هم ډیره ده کومه چې د زمکې او آسمان ترمینځ ده .					

توضیح: آخی: نبی کریم ﷺ په خپل مبارک دور کې په خپلو صحابؤ کې دوه کسانو وروڼه وروڼه کړل.(مرقات ۹/۱۳۶)

فقتل احدهما: یعني په دوې کې یو د الله په لاره کې شهید شو او بل یوه اونۍ (هفته) وروسته پخپل طبعي مرګ باندې مړ شو.(مرقات ۹/۱۳۶) **ماقلتم**: نبی کریم ﷺ د جنازې لمونځ کولو نه وروسته د صحابؤ نه پوښتنه وکړه چې تاسو د جنازې په لمونځ کې د دې مړي لپاره څه دعاء وغوختله. یا تاسو د دې دواړو دوستانو په اړه باندې څه وایی؟ صحابؤ جواب ورکړو چې دا دواړه په دنیا کې یوځای ؤ، مونږ دا دعاء وغوختله چې الله تعالی دا مړی د ده د ملګري سره په یوه درجه کې وساتي. دې لپاره چې په آخرت کې هم یوځای وي. هغه اګرکه شهید شو خو الله تعالی دې دا مړی هم د هغه درجې ته ورسوي. زمونږ دعاء هم دا ده .او زمونږ خپل مینځې خبرې هم دا وي.په دې باندې نبی کریم ﷺ وفرمایل چې نا ! بلکې د دې دواړو ترمینځ په مرتبه کې ډیر فرق دی. ځکه چې د یوې اونۍ لمونځونه او روژې د دې مړي د دې شهید نه ډیر دي.(مرقات ۹/۱۳۶)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۳۵ رقم الحديث ۲۵۲۴ والنسائي ۴/۷۴ رقم الحديث ۱۹۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

څنګه چې ټول صحابه مجاهدين وُ. د شهادت دې جذبې دا د شهيد مرتبې ته ورسولو، او د يوې اوني عبادت يې ورباندې ډير وُ. څکه مخکې شو. دريم جواب دا دى چې دا څه خصوصي معامله ده او الله تعالى کله کله په مفضول عمل باندې ثواب ورکوي. لکه د ذِکرُ الله په احاديثو کې ذکر دى.

صدقه کولو باندې مال کله هم نه کميږي

﴿۴﴾ وَعَن أَبِي كبشةَ الأنماريِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د حضرت ابو کبشه انماری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دى چې هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا درې خبرې اوريدلي دي
يَقُولُ: «ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ
چې د هغې حقانيت او صداقت باندې زه قسم خوړلى شم او زه تاسو ته يوه خبره کوم، تاسو هغه ياد ساتئ.
فَأَمَّا الَّذِي أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ فَإِنَّهُ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ
نو هغه درې خبرې چې د هغې په حقانيت او صداقت باندې زه قسم خوړلى شم، دا دي چې د بنده مال د خداى په لاره کې په
مِنْ صَدَقَةٍ وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلِمَةً
خرچ کولو سره نه کميږي. په کوم بنده باندې چې ظلم وشي او د هغه مال ناحقه واخستلى شي. او هغه بنده په دغه
صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ الله بِهَا عِزًّا وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ
ظلم او زياتې باندې صبر وکړي نو الله تعالى د هغه عزت ډيروي. او کوم سړي چې په نفس باندې د سوال کولو دروازه
إِلَّا فَتَحَ الله عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ
برسيرته کړه، الله تعالى به د هغه لپاره د فقر او مفلسۍ دروازه برسيرته کړي. او پاتې شوه د هغه حديث خبره کوم چې
وَأَمَّا الَّذِي أُحَدِّثُكُمْ فَاحْفَظُوهُ» فَقَالَ:
ما تاسو د اورولو لپاره ويلې وُ. نو وس زه هغه بيانوم. دا ياد ولرئ، د دېنه وروسته يې وفرمايل: په دې کې هيڅ شک
"إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نفرٍ: عبدٌ رزقه الله مَالًا
نشته چې دا دنيا بس د څلور کسانو لپاره ده. يو خو هغه بنده چې هغه ته الله تعالى مال دولت هم ورکړيدى
وعلماً فهوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ
او د علم د دولت يې ورکړيدى نو هغه بنده د خپل مال دولت په اړه باندې د الله تعالى نه يريږي. د دې په ذريعه

وَيَصِلُ رَحِمَهُ وَيَعْمَلُ لِلّٰهِ فِيهِ
سره د خپلو خپلوانو او عزیزانو سره ښه ښوېي او احسان کوي. او په دغه مال دولت کې د هغې مطابق د الله تعالیٰ

بِحَقِّهِ فَهٰذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ. وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ عِلْمًا
لپاره خرچ کوي. نو دا بنده ډېره وچته کامل ترینه مرتبه ده. دویم هغه بنده چا ته چې الله تعالیٰ علم ورکړیدی

وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ وَيَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا
خو هغه ته یې مال دولت ندی ورکړی نو هغه بنده وایي چې که زما زما مال او پیسه وی نو ما به په هغې سره ښه

لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ
اعمال کړی وی. لکه فلانکی بنده چې د خپل مال دولت په اړه باندې د الله تعالیٰ نه یریږي. نو د دواړو کسانو

فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ. وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا
ثواب برابر دی. دریم هغه بنده دی چا ته چې الله تعالیٰ مال ورکړیدی خو علم یې ندی ورکړی نو هغه بنده د

فَهُوَ يَتَخَبَّطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ
بی علمه کیدلو په وجه باندې خپل مال کې خویږي. هغه دې مال دولت په اړه باندې د خپل رب نه نه یریږي.

وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ وَلَا يَعْمَلُ فِيهِ
او د خپلو خپلوانو او عزیزانو سره مال احسان او ښه ښوېي نکوي. او نه د دې حقونو پورا کوي. کوم چې د ده

بِحَقٍّ فَهٰذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٍ
د مال دولت سره متعلق دي. نو دا بنده د بد ترینې مرتبې والا دی. او څلورم بنده هغه دی چا ته چې نه خو الله تعالیٰ

لَمْ يَرْزُقْهُ اللهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا
مال ورکړی دی او نه یې علم ورکړی دی. نو هغه بنده وایي چې که زما سره مال او پیسه وی نو ما به هم د هغه فلانکي

لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ
سړي په شان (بدو کارونو) کې خرچ کولی. نو دا سړی د خپل نیت په وجه باندې مغضوب دی. او د ده ګناه د هغه (دریم سړي) د ګناه سره

فَهُوَ نِيَّتُهُ وَ وِزْرُهُمَا
برابر ده. او دا (څلورم) سړی د نه مالدار کیدلو په وجه باندې بدو کارونو کې خرچ کونکی نوی. خو په بدو کارونو کې د خرچ کولو نیت

سَوَاءٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ .[1]
لري، په دې سبب سره دده ته هم هغه ګناه ور کولی کیږي، کوم چې په بدو کارونو کې په واقعي توګه سره خرچ کونکي ته ور کړی کیږي.

توضیح: اقسم علیهن: یعنې نبی کریم ﷺ فرمایي چې درې شیان داسې یقیني او پاخه دي چې په دې باندې زه قسم خوړلی شم: (۱) یو دا چې په صدقې او خیرات سره کله هم مال نه کمیږي. اګرکه په ظاهره باندې خلک دا ګڼي چې د مال په ورکولو باندې مال کمیږي. (۲) په ظلم باندې د مظلوم صبر کولو سره د هغه عزت نه کمیږي. خلک دا ګڼي چې عزت کمیږي. ځکه چې هغه بدله وانخستله. (۳) په سوال کولو سره فقر او فاقه راځي ، اګرکه سوال کونکی (سائل) دا ګڼي چې په دې سره به فقر او فاقه ختمه شي.

احدثکم : یعنې ما چې څه ویلې ؤ چې تاسو ته به یو حدیث بیانوم نو هغه واوری. چې دنیا او د مال په اعتبار سره خلک په څلور قسمه دي:

(۱)یو هغه سړی دی چاته چې الله تعالی علم او مال دواړه وکړل ، دا ډیر ښه سړی دی. که د مال او علم حق ادا کړي. (۲) دویم هغه سړی دی چې هغه ته الله تعالی علم ورکړو او مال یې ورنکړو کله چې دا په خپل علم باندې عمل کوي نو دا هم ډیر ښه سړی دی . دا د ریښتونې نیت والا دی. که مال راغلی نو په نیکو کارونو کې به یې خرچ کړم. لهذا دا هم د اولنې سړي په شان دی.

(۳)دریم هغه سړی دی چاته چې الله تعالی ښه مال ورکړی دی. او علم یې هیڅ ندی ورکړی. هغه د جهالت سره په مال کې ناجائز تصرفات کوي. دا بدترین سړی دی.

(۴)څلورم هغه سړی دی چې نه خو د هغه سره مال شته او نه ورسره علم شته دی لیکن هغه دا ارمان کوي که زما سره مال وی نو ما به د فلانکې سړې په شان په غلطو کارونو کې خرچ کړی وی.نو دا سړی هم د دریم نمبر سړې په شان دی.د ګناه په ارمان کولو باندې دا ګناهګار شو.لهذا دا هم د هغه په شان شو.

وزرهما سواء : یعنې مفلس جاهل دی.او تمنا کوي که زما سره مال راغلی نو د فلانکې فاسق فاجر مالداره په شان ژوند به کوم. رنډی به نڅوم(ګډوم) شراب به څکم، حق به غصب کوم. نو د ده ګناه او د مالداره فاسق د ګناه بوج به برابر وي. ګویا په ښه نیت سره ښه ثواب ورکول کیږي او په بد نیت سره بد ه بدله ورکول کیږي.

سوال: دا چې د معصیت کولو نه مخکې خو په نیت کولو سره نیو که نه کیږي ، دلته ولې وشوه؟

جواب: د نیت پنځه درجي دي. چې هغه شاعر داسې بیان کړیدي:

(۱)اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۷ رقم الحديث ۲۳۲۵ وابن ماجه ۲/۱۴۱۳ رقم الحديث ۴۲۲۸.

مراتب القصد خمس هاجس ذکروا
فخاطر فحدیث النفس فاستمعا
یلیه هم فعزم کلها رفعت
الا الاخیرة ففیه الاخذ قد وقعا
(مرقات ۹/۱۴۰)

نو د عزم په درجه کې که نیت وي نو په دې باندې مواخذه (نیوکه) کیږي، دلته د دې سړي نیت د عزم په درجه کې دی. نو ځکه د مواخذه ذکر وکړی شو. عزم دا دی چې سړی ګناه ته سل فیصده تیار دی. فقط د موقع په لاس د ورتلو انتظار دی.

د نیکۍ توفیق د ښایسته خاتمې نښه ده

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى إِذَا أَرَادَ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ». فَقِيلَ: وَكَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

او حضرت انس رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی چې کله د بنده د ښیګړې اراده وکړي نو په هغه باندې ښه کارونه کوي. پوښتنه وشوه چې یا رسول الله! په ده باندې الله تعالی د نیکۍ کارونه څنګه کوي؟ وې فرمایل: د مرګ نه مخکې هغه ته د نیک کار توفیق ورکړل شي.

د عقلمند او بې عقله پېژندنه

﴿۶﴾ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ. وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ[2]

او حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عقلمند او مړنی هغه سړی دی چې هغه خپل نفس راتیټ کړي. او مطیع او تابعداري جوړ کړي. او د هغه اجر او ثواب لپاره (ښه) عمل وکړي چې هغه به د مرګ نه وروسته مومي. او احمق او نادان او بزدله هغه سړی دی چې هغه خپل نفس د خواهشاتو تابع کړي. او په ګناهونو کې داخته کیدلو باوجود هم د الله تعالی نه د دې خبرې آرزو کوي (چې هغه د ده نه راضي شي) دا و بخښي او دا جنت ته داخل کړي.

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۹۲ رقم الحديث ۲۱۴۲ واحمد في المسند ۳/۱۰۶.

[2] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۰ رقم الحديث ۲۴۵۹ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۲۳ رقم الحديث ۴۲۶۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: **اَلْكَيِّسُ**: دا كيس د كياسة نه دى. عقلمند، هوښيار په معنې دى په دې كې د مراني مفهوم هم شته دى يعنې هوښيار مړنى عقلمند هغه سړى دى.

دان: د ټيټيدلو په معنى دى. يعنې نفس مطيع او تابعدار جوړ كړي.

العاجز: د عاجز نه مراد دلته احمق، بى همته، او بزدله سړى دى چې دهغه نفس دا داسې راګوزار كړو چې دا خپل نفس پسې شاته ولګيدلو. په ګناهونو كې ككړ ؤ. او فقط د آرزوګانو په آسرا كيناستلو. نه يې توبه وكړه، نه يې استغفار وكړل. په ګناهونو كې راګير دى. او ارمان يې دا دى چې الله تعالى غفور رحيم دى. ما به جنت ته داخل كړي. بيشكه الله تعالى غفور رحيم دى. خو قهار او جبار هم دى. دا خو يو ډول خندا ده چې يو څوک خفه كوي هم او دهغه د رضا د حالت فيصله هم كوي. علامه كرخي رحمه الله فرمايلي دي چې د عمل صالح نه بغير د جنت طلب كول په ګناهونو كې يو ګناه ده. حسن بصرى رحمه الله فرمايي: **من ظن انه يصل الى الله بعمل فهو متعن ومن ظن انه يصل الى الله بغير عمل فهو متمن**. يعنې كوم سړې چې دا خيال وكړو چې هغه به فقط د عمل په زور باندې الله ته ورسيږي نو هغه خپل ځان په مشقت كې اچونكى دى. او كوم سړى چې دا خيال وكړي چې هغه به د عمل نه بغير الله تعالى ته ورسيږي نو دا فقط ارزو كونكى دى. امام غزالى رحمه الله فرمايي چې اول خپل ځان د رحمت حقدار محسن جوړ كړه، بيا د رحمت دعا وغواړه ځكه چې ﴿اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ د قرآن آيت دى. (اعراف: ۵۶)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

اهل تقوى لپاره مال او دولت بد څيز ندى

﴿۷﴾ عَنْ	رَجُلٍ	مِنْ	أَصْحَابِ	النَّبِيِّ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ قَالَ:	كُنَّا فِي مَجْلِسٍ
نبى كريم ﷺ په صحابؤ كې يو سړى وايي چې مونږ په يو مجلس كې ناست ؤ چې								
فَطَلَعَ	عَلَيْنَا	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ وَعَلَى	رَأْسِهِ
رسول الله ﷺ راغلى او زمونږ ترمينځ كيناستلو. دغه وخت د نبى كريم ﷺ په سر مبارک باندې (دغسل) د								
أَثَرُ	مَاءٍ	فَقُلْنَا: يَا	رَسُولَ	اللهِ	نَرَاكَ	طَيِّبَ	النَّفْسِ.	
اوبو لوند والى ؤ. مونږ عرض وكړو چې يارسول الله ﷺ دا وخت مونږ تا ډير په زړه خوشحاله وينو.								

قَالَ: أَجَلْ. قَالَ: ثُمَّ خَاضَ الْقَوْمُ فِي ذِكْرِ الْغِنَى

نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو! راوي وایي چې د دینه وروسته د مجلس خلک د دولتمندي په ذکر کې مشغول شول.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنِ اتَّقَى اللهَ

رسول الله ﷺ وفرمایل چې د هغه سړي په مالدارۍ کې هیڅ باک نشته چې هغه د الله تعالی نه یریږي

عَزَّ وَجَلَّ وَالصِّحَّةُ لِمَنِ اتَّقَى خَيْرٌ مِنَ الْغِنَى وَطِيبُ النَّفْسِ

او روغ صحت د خدا نه یریدونکې لپاره د مالدارۍ نه غوره ده. د غه شان د زړه خوشحالي د الله تعالی

مِنَ النَّعِيمِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ(۱)

د اړخ نه یو نعمت دی. (احمد)

مال او دولت د مؤمن ډهال دی

﴿۸﴾ وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ فَأَمَّا الْيَوْمَ

او حضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمایي چې په تیره زمانه کې به مال بد ګڼلی کیدلو خو ترکومه چې د نن زمانې

فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ وَقَالَ

تعلق دی نو وس مال دولت د مسلمانانو لپاره ډهال دی. حضرت سفیان ثوری رحمه الله دا هم وفرمایل:

لَوْلَا هَذِهِ الدَّنَانِيرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هَؤُلَاءِ الْمُلُوكُ

که دا درهم او دینار او روپۍ پیسې نه وی نو باچاهانو او امیرانو به مونږ نه لاس پاکی جوړولو باندې ذلیله او خوار جوړ کړی وی

وَقَالَ مَنْ كَانَ فِي يَدِهِ مِنْ هَذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ

د غه شان هغه وفرمایل: که د یو سړي سره لږ ډیر مال وي نو هغه لپاره پکار دي چې هغه د دې اصلاح وکړي

فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنِ احْتَاجَ

ځکه چې زمونږ دا زمانه داسې ده که په دې کې څوک محتاج او غریب وي نو خپل دین د خپل لاس نه

كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَبْذُلُ دِينَهُ وَقَالَ: الْحَلَالُ لايحتمل السَّرف. رَوَاهُ فِي شرح السّنة(۲)

ورکونکی به اول د غه سړی وي. د حضرت سفیان ثوری یو قول دا هم دی چې حلال مال د اسراف بارونکی نه دی

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۷۲۴ رقم ۲۱۴۱ واحمد في المسند ۵/۳۷۲.

(۲) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۴/۲۹۰ رقم الحدیث ۴۰۹۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: فیما مضٰی یکره: یعنې په تیره زمانه کې به مال دولت ناخوښ ګڼلی کیدلو. مؤمن او متقي بناغلو به مال او دولت مکروه ګڼلو. ځکه چې عام ماحول د زهد او تقوی ؤ. خلکو به غریب او فقیر ذلیل او سپک نه ګڼلو. مالي کمزورۍ په وجه به يې د هغه ایمان نه تباه کولو. دغه شان باچا او حکمرانان به هم ښه ؤ. چا چې به د غریب او فقیر پالنه کوله. نو ځکه به خلکو مال او دولت نه راغونډولو. او جمع کول به يې عیب ګڼلو. خو اوس معامله د هغې برعکس ده چې په معاشره کې غریب او فقیر سړی ذلیل او سپک ګڼلی کیږي. او د پیسې په بنیاد باندې د هغه ایمان اخستلی کیږي. دغه شان حکمرانان هم خیرخواه پاتې نشو. نو نتیجه به دا راوځي چې غریب سړی به د مالدارانو او حکمرانانو لاس پاکې جوړیږي. او دهغوی د لاس پاکولو او پلیتۍ پاکولو لپاره به دست پاک او دست مال جوړیږي. **فلیصلحه:** یعنې د کوم سړي سره چې د دې مال نه څه هم وي، هغه دې اصلاح وکړي. مطلب دا چې که لږه پیسه هم وي. نو هغه دې په څه کاروبار کې ولګوي. دا دهغې اصلاح او پرمختګ او ډیروالی دی. یا داصلاح مطلب دا دی چې دا د قناعت سره خرچ کړي، اسراف دې نه کوي. **لایحمل السرف:** یعنې حلال مال اسراف لره نه برداشت کوي. ځکه چې هغه دومره ډیر خو نه وي چې په هغې کې د اسراف ګنجائش وي. په حلاله طریقه باندې ګټلی شوی مال دومره ډیر چیرته وي. چې په هغې کې سړی اسراف شروع کړي. اسراف خو په هغه مال کې کیږي چې هغه په ناجائز او حرام طریقه باندې ترلاسه شوی وي. نو کوم مال چې په دغه طریقه باندې په ډیر مقدار کې راځي، دغه شان د حرامو په لاره به ځي. (مرقات ۹/۱۴۴)

شپیته کاله عمر غټ عمر دی

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُنَادِي مُنَادٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اعلان کونکی به د قیامت په ورځ دا اعلان
أَيْنَ أَبْنَاءُ السِّتِّينَ؟ وَهُوَ الْعُمُرُ الَّذِي قَالَ اللهُ تَعَالَى
وکړي چې د شپیته کاله عمر والا خلک چیرته دي او دا عمر هغه عمر دی چې دهغې په اړه باندې الله تعالی
[أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ
دا فرمایلي دي (ترجمه) آیا مونږ تاسو ته داسې عمر نه ؤ درکړی چې په هغې کې نصیحت ترلاسه کونکي
مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]
نصیحت ترلاسه کولی شو. او حال دا دی چې تاسو ته یرونکی هم راغلی.

---

(1) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۶۴ رقم الحديث ۱۰۲۵۴

د عمر د فراخیتا سره د شهادت ارمان کول دوچتوالی سبب دی

﴿۱۰﴾ وَعَن عبدِ الله بنِ شدّادٍ قَالَ إِنَّ نَفرا من بني عذرة ثلاثة
او حضرت عبد الله بن شداد رضي الله عنه فرمایي چې د بنی عذره د قبیلې څه خلک چې د هغوی شمیره درې وه.
أَتَوا النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمُوا قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول او اسلام یې قبول کړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
« مَنْ يَكْفِينِيهِمْ ؟ » قَالَ طَلحَةُ :
څوک دی چې هغه دې خلکو د خبر اخستنې په اړه باندې ما بې فکره کړي؟ حضرت طلحه رضي الله عنه وفرمایل:
أَنَا. فَكَانُوا عِنْدَهُ فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
زه د دې ذمه واري اخلم. نو هغه درې واړه د حضرت طلحه رضي الله عنه سره وو سیدل. کله چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم
بَعْثًا فَخَرَجَ فِيهِ أَحَدُهُمْ فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ
یو اړخ ته لښکر ولیږلو. نو د هغې سره د دې درې واړو نه یو کس هم لاړو. او میدان جهاد کې شهید شو. د دېنه وروسته
بَعَثَ بَعْثًا فَخَرَجَ فِيهِ الْآخَرُ فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ مَاتَ الثَّالِثُ عَلَى فِرَاشِهِ.
نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو بل لښکر ولیږلو. د هغې سره دویم کس لاړو. او هغه هم شهید شو. او بیا دریم کس په بستره باندې وفات شو.
قَالَ: قَالَ طَلحَةُ: فَرَأَيْتُ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةَ فِي الْجَنَّةِ
راوي وایي چې حضرت طلحه رضي الله عنه بیان کړل چې ما وکتل هغه درې واړه په جنت کې دي. د غه شان ما وکتل
وَرَأَيْتُ الْمَيِّتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَمَامَهُمْ وَالَّذِي
چې کوم سړی په بستره باندې وفات شوی ؤ. هغه خو د ټولو نه مخکې دی. او کوم سړی چې په دویم لښکر کې
اسْتُشْهِدَ آخِرًا يَلِيهِ وَأَوَّلُهُمْ
شهید شوی ؤ هغه ورپسې روان او هغه ته بیخي نژدې دی. او د دې درې واړو هغه اولنی سړی چې هغه د اول
يَلِيهِ فَدَخَلَنِي مِنْ ذَلِكَ فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم
لښکر سره شهید شوی ؤ، د ټولو نه په آخر کې ؤ. نو زما په زړه کې څه خند پیدا شو. نو ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خپل
فَقَالَ : « وَمَا أَنْكَرْتَ مِنْ ذَلِكَ ؟
ذکر کړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو بیا په دې کې ستا د شک او شبه او د انکار باعث کوم شی دی؟ څکه چې د

Maktaba Tul Ishaat.com

لَيْسَ	أَحَدٌ	أَفْضَلَ	عِنْدَ	اللهِ	مِنْ	مُؤْمِنٍ	يُعَمَّرُ	فِي	الْإِسْلَامِ
الله تعالی په نزد باندې هغه مسلمان نه افضل هیڅوک نشته چې هغه د اسلام په حالت کې ډیر عمر وموندلو									
لِتَسْبِيحِهِ	وَ	تَكْبِيرِهِ	وَ	تَهْلِيلِهِ». (۱)					
او د هغې په وجه باندې هغه ته د خدا د تسبیح او تکبیر او تهلیل ډیره موقع ور کړې شوه.									

توضیح: په دې حدیث باندې هم هغه اعتراض او سوال دی چې هغه د دې باب په حدیث نمبر: ۳ باندې شوی ؤ. هلته په تفصیل سره جوابونه لیکلی شویدي. خلاصه دا چې وروسته پاتې کیدونکی څه د نن سبا تبلیغي نه ؤ چې هغه سره د جهاد جذبه نه لرله. هغه صحابې ؤ. مرابط ؤ. مجاهد ؤ. د شهادت حکمې مرتبه خو هغه ته ورکړې شوې وه. دا زیاتې اعمال د هغه د درجې په ؤ چتولو کې ملاتړې ثابت شو. (مرقات ۹/۱۴۶)

د قیامت په ورځ به ډیر عبادت ګذار هم د نورو اعمالو ارمان کوي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَمِيرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ عَبْدًا									
او حضرت محمد بن ابی عمیره رضي الله عنه چې د نبی کریم صلى الله عليه وسلم په صحابؤ کې دی. فرمایې چې که یو بنده									
لَوْ خَرَّ	عَلَى	وَجْهِهِ	مِنْ	يَوْمَ	وُلِدَ	إِلَى	أَنْ يَمُوتَ	هَرَمًا	فِي طَاعَةِ اللهِ
د خپل پیدائښ د وخت نه بوډا والي کې تر مرګه پورې فقط د خدای په اطاعت او عبادت کې سرټیټ وساتي. نو									
لَحَقَّرَهُ	فِي	ذَلِكَ	الْيَوْمِ	وَلَوَدَّ	أَنَّهُ	رُدَّ	إِلَى	الدُّنْيَا	
هغه به هم د (قیامت) په ورځ خپل دا طاعت او عبادت کم ګڼي، او دا ارمان به کوي چې کاش! زه د دې دنیا ته بیا ولیږلی شم									
كَيْمَا يَزْدَادَ مِنَ الْأَجْرِ وَالثَّوَابِ رَوَاهُمَا أَحْمَدُ (۲)									
د دې لپاره چې د ده اجر او ثواب ډیر شي.									

توضیح: ابو عمیرة: عین باندې زبر دی. او میم باندې زیر دی. د هغه د ځوی نوم محمد دی. د محمد صحابې کیدل ډیر مشهور نه ؤ. نو ځکه د هغه د نوم سره دا تعارف یو ځای کیږي چې هغه د نبی کریم صلى الله عليه وسلم صحابی ؤ. په دې حدیث کې د اعمالو دیر ترغیب دی. چې یو سړې د تصور نه هم ډیر عبادت کړی دی خو د قیامت په ورځ به هغه هم ارمان کوي که ما لږ ډیر عبادت کړی وی. نو څومره به ښه وه.

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

(۱) أخرجه احمد في المسند ۱/۱۶۳

(۲) أخرجه احمد في المسند ۴/۱۵۸.

بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ

قال الله تعالى: ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾(طلاق:۳)﴿ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ﴾(ال عمران:۱۵۹) وقال الله تعالى: ﴿وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللهِ﴾ (نحل:۱۲۷)﴿إِنَّ اللهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ﴾

په لغت کې توکل سپارلو او اعتماد او بهروسې ته وايي. او په عامه اصطلاح کې د الله فيصلې ته د منلو غاړه کيخودلو نوم توکل دی. د صوفياء کرامو په اصطلاح کې څه لږ تفاوت دی. د سری سقطی رحمه الله د قول مطابق بغير د چون چرا نه بس او د بې وسۍ نه جدا کيدلو نوم توکل دی. (مرقات ۹/۱۴۷)

حضرت جنيد بغدادی رحمه الله د قول مطابق توکل دې ته وايي چې بنده داسې د الله شي ګويا د هغه خپل څه وجود نه ؤ. نو الله تعالى به د بنده داسې ښي لکه څنګه چې الله تعالى د هميش نه دی. بهرحال په شريعت کې توکل د اسبابو د بنديز نوم نه دی. بلکې د ټولو اسبابو استعمال د توکل د لاندې دی. خومره چې د بنده نه کيدلی شي هغه دې وکړي ، مخکې دې په الله تعالى باندې توکل وکړي. لکه په يو حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ صحابي ته ؤ فرمايل: **قيد وتوکل**. مولانا رومی رحمه الله فرمايلي دي: *توکل زانوائے اشتر بند* يعنې اوښ وتړه بيا توکل وکړه. بهرحال د اسبابو استعمال جائز دی. په اسبابو باندې اعتماد کول او تکيه کول جائز ندي. اسبابو د استعمال نه وروسته دې اسبابو ته د الله تعالى د اړخ نه مستقل حکم کيږي چې هغه اثر وکړي او که ونکړي. د دېنه معلومه شوه چې اسباب څه مستقل علت ندی. بلکې دا هم ذريعې دي. د دوې په لاس کې هيڅ نشته دی. هرڅه د الله تعالى د قدرت په قبضه کې دي. توکل يو عام لفظ دی. په ټولو کارونو او معاملاتو کې توکل جريان لري. خو د دې ډير استعمال د رزق او کسب او اکتساب په باب کې کيږي. او په دې کې ډير مشهور دی. (مرقات ۹/۱۴۸)

والصبر: د جزع فزع په مقابله نظم او ضبط او سنجيدګې او د وقار نوم صبر دی. په لغت کې صبر ايساريدلو او ايسارولو ته وايي. په شريعت کې صبر دېته وايي چې د حق او باطل د مقابلې په وخت کې د حق په جذبه باندې په کلکه سره ودريدلو سره په باطله جذبه باندې هغې لره ترجيح ورکړی شي. ملاعلی قاری په مرقات کې د صبر تعريف داسې کړيدی: **الصبر هو حبس النفس على ما يقتضيه العقل والشرع**. پاس د پښتو تعريف ګويا د دې عربۍ د تعريف تشريح او تفصيل دی.

د صبر درې رکنه دي: (۱) **الصبر على العبادة** (۲) **الصبر عن المعصية** (۳) **الصبر على المصيبة**

توکل او صبر خو دواړه لازم او ملزوم دي نو ځکه دواړه په يو باب کې راجمع کړی شو خو بيا هم د توکل

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیر استعمال د رزقونو په معامله کې کیږي او د صبر اکثر استعمال په مصیبتونو او سختو کې کیږي.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

د کامل صبر کونکو صفات

{۱} عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: زما د امت نه به اویا زره کسان
بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ» مُتَّفق عَلَيْهِ[۱]
بغیر د حساب نه جنت ته ننوځي. چې هغوی دمونه نکوي، بدفالي نکوي، او فقط په خپل رب باندې اعتماد کوي

توضیح: لایسترقون: سین او تاء د طلب لپاره دي. **رقیه** طلب کول مراد دي. **رقیه** دم وغیره ته وایې. وس رقیه او دم کول په دوه قِسمه دي. یو د جاهلیت دمول دي. هغه اسلام مطلقًا منع کړیدي. که دلته د رقیه نه مراد د جاهلیت دمونه وي نو دا د ادنیٰ مؤمن لپاره هم جائز ندي. شیخ عبد الحق رحمه الله په اشعة اللمعات کې لیکلي دي چې ډیره واضحه دا ده چې په دې حدیث کې د دم کوم ذکر شویدی، دهغې نه د جاهلیت د زمانې ټوټکې او مشرکانه دمونه مراد دي. چې دهغې د قرآن او حدیث سره هیڅ تعلق نشته دی. او د **لایتطیرون** جمله په دې باندې واضحه دلالت کوي. ځکه چې د تطیر عمل د جاهلیت په بدفالۍ کې دی. چې هغه په اسلام کې منع دی. او د تطییر عمل هم منع دی. د رقیه او دم دویم قِسم دم درود او علاج کول دي. که په د حدیث کې مطلقًا د دم درود او علاج کولو د پریخودلو ذکر وي نو د دېنه د خواصو تکل مراد دی. او دا به د خواص الناس او عارفینو او مخلصینو د توکل د درجې ذکر وي. اې دهغوی شان دا وې چې کله هغوی ته وویلی شي چې: أَدْعُو لَكَ الطَّبِيبُ؟ آیا د علاج لپاره طبیب راوغوختلی شي؟ نو په جواب کې وایي: **والطبیب امرضنی.** یعني طبیب خو زه په ناروغۍ کې اخته کړی یم. نو علاج ولې وشي. یعني دا ټوله معامله خو د الله په لاس کې ده.

خلاصه دا راووتله چې د جاهلیت منترې جنترې خو مطلقًا منع کړې شویدی. او که په جائز دم درود باندې علاج مراد وینو د دې پریخودل هم جائز دي. چې هغه د کاملو مخلصینو صفت دی. ګویا په حدیث کې دې حقیقت ته اشاره ده. چې علاج کول هم جائز دي او پریخودل یې هم جائز دي. اوله درجه د عوام الناس ده. دویمه درجه د کاملو مخلصانو ده. او د دې نه وروسته دریمه درجه د انبیاء کرام، او د صدیقینو ده چې د دنیا د اسبابو وجود او عدم (نه شتون) د هغوی په نظر کې برابر

---

[۱] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۰۵ رقم الحديث ۶۴۷۲ ومسلم في صحيحه ۱/۱۹۸ رقم الحديث (۲۱۸-۳۷۲)

وي.دې درجې ته فنا فی الله او باقی بالله درجه وايي. نور علاج کول افضل دي. نه کول افضل دي.
دا ټول بحث په کتاب الطب والرقی کې ليکلی شويدی.(مرقات ۹/۱۴۹)

﴿۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ: " عُرِضَتْ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيرون راووتلو او وې فرمايل چې ماته
عَلَيَّ الْأُمَمُ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلُ
امتونه پيش کړی شو. کله چې دې انبياؤ د خپلو امتونو سره تيريدل شروع کړل نو (ما وکتل) چې ديو نبی سره فقط يو سړی ؤ. او
وَالنَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلَانِ وَالنَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيُّ وَلَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ
يو نبی داسې ؤ چې د هغه سره دوه کسان ؤ. او يو نبی داسې تير شو چې د هغه سره هيڅوک هم نه ؤ، د دينه وروسته ما
فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَرَجَوْتُ أَنْ يَكُونَ أُمَّتِي
يو لويه ډله وليدله چې هغه د آسمانونو ترغاړو پورې خپره شوې وه. زما دا اميد راغلو چې دا به زما امت وي. خو
فَقِيلَ هَذَا مُوسَى فِي قَوْمِهِ ثُمَّ قِيلَ لِي انْظُرْ
ماته وويلی شو چې دا حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام او د هغه د امت خلک دي. بيا ماته وويلی شو چې ته خو لږ را پورته کړه
فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ لِي انْظُرْ هَكَذَا
او وګوره. ما وکتل چې يو ډيره لويه ډله ده. چې هغه د اسمان ترغاړو پورې خپره ده. بيا ماته وويلی شو چې لږ اخوا
وَهَكَذَا فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ
ديخوا يعنې ښې او ګس اړخ ته نظر وکړه نو ما وکتل نو ډيره لويه ډله وه. چې هغه د اسمان ترغاړو پورې خپره وه
فَقِيلَ: هَؤُلَاءِ أُمَّتُكَ وَمَعَ هَؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا
د دينه وروسته (ماته) وويلی شو چې دا ټول ستا د امت خلک دي. او د هغوی نه علاوه د هغوی او يا زره کسان
قُدَّامَهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَتَطَيَّرُونَ ولايسترقون
داسې دي چې هغوی به جنت ته بغير د حساب نه ځي. او دا هغه خلک دي چې نه خو بدفالي کوي. نه دمونه
وَلَا يَكْتَوُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ
ابْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ: ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ.
ابن محصن ودريدلو او وې ويل چې د الله تعالی نه دعا وکړه چې هغه ما په دغه خلکو کې شامل کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ «اللّٰهُمَّ	اجْعَلْهُ	مِنْهُمْ».	ثُمَّ	قَامَ	رجل	فَقَالَ:

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعا وکړه: یاالله عکاشه په دغه خلکو کې شامل کړه. بیا یو بل سړی پاڅیدلو او هغه هم دغه عرض

ادْعُ اللهَ	أَنْ	يَجْعَلَنِي	مِنْهُمْ.	فَقَالَ:

وکړو. چې د الله تعالی نه دعاء وکړه چې الله تعالی ما په دغه خلکو کې شامل کړي. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

د دې دعاء په سلسله کې عکاشه په تا باندې مخکې والی وړی دی.

توضیح: مع هؤلاء سبعون الفًا: د دې جملې یو مطلب دا دی چې د دې غټې جماعت نه غیره اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان داسې دي چې هغه به بغیر د حساب نه جنت ته ځي. دویم مطلب دا دی چې په دوی کې اویا زره کسان داسې دي چې هغوی به بغیر د حساب کتاب نه جنت ته ننوځي. په یو روایت کې دي چې په دوی کې د هر یو سره به اویا زره کسان جنت ته ننوځي. دا شمیره ډیره زیاته ده.

لایکتوون: دا د اکتوا نه دی، د داغ ورکولو په معنی دی. دا مسائل د دېنه مخکې په کتاب الطب کې په تفصیل سره لیکل شویدي.

سبقك بها عكاشه: یعنې د الله تعالی په نزد باندې دا درجه فقط د یو سړې لپاره وه، هغه عکاشه مخکې یوړه، ته خو یې اوس غواړې خو هغه ستا نه مخکې عکاشه یوړه. حضرت عکاشه رضی الله په جنګ یمامه کې شهید شوی ؤ. (مرقات ۹/۱۵۱)

دمؤمن عجیبه شان

﴿۲﴾ وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم «عجبا لأمر الْمُؤمن

او حضرت صهیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د مؤمن هم عجیبه شان دی چې د هغه هر

كُله	خَيْرٌ	وَلَيْسَ

یو حالت د هغه لپاره خیر او ښیګړه ده. او دا خبره فقط د مؤمن لپاره خاص کړی شویده. هیڅوک د هغه سره په

ذَلِكَ	لِأَحَدٍ	إِلَّا

دې صفت کې شریک نشته. که هغه ته (رزق، فراختیا، وسعت، راحت، آرام، صحت او تندرستیا، نعمت او خوندونه

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۰۵ رقم الحديث ۶۵۴۱ ومسلم في صحيحه ۱۹۹ رقم الحديث (۲۲۰-۳۷۴)

لِلْمُؤْمِنِ	إِنْ	أَصَابَتْهُ	سَرَّاءُ	شَكَرَ	فَكَانَ
او طاعت او د عبادت د توفيق په صورت کې) خوشحالي تر لاسه کېږي نو هغه د خداى شکر ګذاروي. نو دا					
خَيْرًا	لَهُ	وَإِنْ	أَصَابَتْهُ	ضَرَّاءُ	صَبَرَ
شکر د هغه لپاره خير او ښېګړې سبب دى. او که هغه ته مصيبت رسيږي نو هغه په دې باندې صبر کوي. نو دا					
فَكَانَ خَيْرًا لَهُ» رَوَاهُ مُسلم[١]					
صبر هم د هغه لپاره خير او د ښېګړې سبب دى.					

توضيح: صهيب : حضرت صيب بن سنان رضي الله عنه موصل وسيد ونکى ؤ. موصل په عراق کې مشهور ښار دى. روميانو ډاکه وکړه او هغه يې بوتللو. او بيا يې غلام جوړ کړو. حضرت صهيب رضي الله عنه لته زلمى شو. بيا بنو کليب هغه واخستلو او دهغه ځاى نه يې راوستلو او په مکه کې يې په عبدالله بن جدعان باندې خرڅ کړو. هغه د اخستلو نه وروسته دا آزاد کړو. په مکه مکرمه کې دا مسلمان شو. په ضعفاء مسلمين کې ؤ. ۸۰ هجري کې په مدينه کې وفات شو. او په جنت البقيع کې د ن کړى شو. ياده دې وي چې صهيب رومې ندى، اصلًا دا عراقي موصلې دى. ده ته رومې دې وجې نه وايي چې دا دهغوې په کورنۍ کې زلمى شوى ؤ. خلک د ناپوهتيا د وجې نه ورته رومې وايې. لکه شاعر ويلي دي:

حسن بصره بلال از حبش صهيب از روم   ز خاک مکه ابوجهل اين چه بوالعجبی ست

د حديث مطلب دا دى چې د مؤمن عجيبه شان دى. هر حالت د هغه د آخرت لپاره فائده مند دى. که مصيبت راځي نو په صبر کولو باندې ثواب ورکړل کيږي. او که راحت راځي نو په شکر کولو باندې ورته ثواب ورکړل کيږي.

طاقتور مسلمان د ضعيف مسلمان نه غوره دى

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ									
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: قوي مسلمان د ضعيف مسلمان									
خَيْرٌ	وَ	أَحَبُّ	إِلَى	اللهِ	مِنَ	الْمُؤْمِنِ	الضَّعِيفِ	وَ فِي كُلٍّ	خَيْرٌ
نه غوره او د خداى په نزد ډير خوښ دى. او هر مسلمان په خپل ځان کې نيکي او ښېګړه لري. کوم څيز چې تا ته									
احْرِصْ	عَلَى	مَا	يَنْفَعُكَ	وَ	اسْتَعِنْ	بِاللهِ	وَلَا	تَعْجَزْ	
فائده درکونکې وي د هغې حرص وکړه. او د الله تعالى نه مدد او توفيق وغواړه او د دې نه مه عاجزه کيږه. د غه شان که									

---

(١) اخرجه مسلم في صحيحه ٢٢٩٥/٤ رقم الحديث (٢٩٩٩-٦٤) واخرجه الدارمي ٤٠٩/٢ رقم الحديث ٢٧٧٧

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِنْ	أَصَابَكَ	شَيْءٌ	فَلَا	تَقُلْ	لَوْ	أَنِّي	فَعَلْتُ	كَانَ	كَذَا

تاته (دين او دنيا) کې څه مصيبت او تکليف دروړسيږي نو داسې مه وايه که ما داسې کړي وي نو داسې به شوي ؤ. بلکې

وَكَذَا	وَلَكِنْ	قُلْ	قَدَّرَ	الله

داسې وايه چې الله تعالى هم دا تاکلې وه (لهذا هر څه چې درپيښ شوي دي، د الله د فيصلې مطابق درپيښه شوي ده)

وَمَا	شَاءَ	فَعَلَ	فَإِنَّ	لَوْ	تَفْتَحُ	عمل الشَّيْطَان »	. رَوَاهُ مُسلم [۱]

او الله تعالى چې څه غواړي هغه کوي. او دا ځکه چې د «كه» لفظ د شيطان د عمل کړنې لپاره برسيرته کوي.

توضيح: المؤمن القوى: يعنې قوت والا قوى مسلمان د کمزورې مسلمان نه غوره دى. د قوې مسلمان نه څوک مراد دى؟ نو د هرې طبقې خلکو دا حديث په خپل مطلب کې استعمال کړو. تردې چې په پنجاب کې ځينې پهلوانانو په خپل پهلوانی ځاې باندې دا حديث ليکلى دى. ملاعلى قارى يو قول دا نقل کړيدى چې قوى مسلمان هغه دى چې د خلکو سره تګ راتګ لري، هغوې ته لار ښود نه کوي، او په دې لاره کې د خلکو تکليفونه برداشت کوي. دا د کناره کش مسلمان نه غوره دى. دويم قول يې دا نقل کړيدى چې قوى مسلمان هغه دى چې هغه د اسبابو په ځاې مسبب الاسباب ته ګوري. د هغه ايمان دومره مضبوط وي چې هلته د اسبابو امکان نه وي، د هغې په مقابله کې ضعيف مسلمان اسبابو باندې نظر ساتي. د هغه يقين کمزورى وي. دريم قول دا دى چې دلته د مؤمن د ايمان هغه نه خوزيدونکې حوصله او عزم مراد دى. چې د هغې په وجه باندې دا مؤمن په ټوپ سره د جهاد ميدان ته کوزيږي. او ښه جنګ کوي. او د هغه جذبه په نيکى باندې د حکم کولو او د بدو نه په منع کولو کې ډيره مضبوطه وي. او په دې لاره کې په هر مصيبت باندې ښه صبر کوي. **فانّ لو:** لعنې د لو کلمه د شيطان د عمل دروازه برسيرته کوي. مطلب دا دى چې د الله فيصلې په مقابل کې د لو لفظ مه وايه. يعنې د تقدير الهى مقابله شروع کيږي. او د شيطانې وسوسو لاره برسيرته کيږي. (مرقات ۱۵۳-۹/۱۵۴)

الفصل الثاني

په کامل توکل سره د رزق لارې برسيرته کيږي

﴿۵﴾ عَن عمر بن الْخطاب قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّكُمْ

حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي: حقيقت دا دى که تاسو په

[۱] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۵۲ رقم الحديث (۲۶۶۴-۳۴) وابن ماجه ۲/۱۳۹۵ رقم الحديث (۲۶۶۴-۳۴)

تَتَوَكَّلُونَ	عَلَى	اللهِ	حَقَّ	تَوَكُّلِهِ	لَرَزَقَكُمْ

الله تعالی باندې توکل او اعتماد وکړئ لکه څنګه چې د توکل حق دی. نو یقینًا هغه به تاسو ته داسې رزق درکړي

كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ [۱]

لکه څنګه چې مرغانو ته رزق ورکوي. سحر نهر راوځي او ماښام یې خیټه ډکه کړي وي (خپلو ژالو ته) بیرته ځي

توضیح: تغدو: سحر وتلو او د زرق لټون ته تغدو ویلی شویدی. د دېنه معلومه شوه چې د رزق په لټون کې سحر وتلو یا ماښام وتل منع ندي. او نه د توکل په خلاف ده. دا سعې (کوښښ) ده. فیصله د الله تعالی په لاس کې ده. شاعر وایې:

نروح ونغدو لحاجاتنا وحاجة من عاش لاتنقضی

خماصًا: دا د خمیص جمع ده. تشې خیټې ته وایې. **بطانًا**: دا د بطن جمع ده. غټې او ډکې خیټې ته وایې. دلته به په مړه باندې ماښام بیرته راتګ مراد دی. (مرقات ۹/۱۵۶)

د دې حدیث نه معلومه شوه چې اصل رازق الله تعالی دی. بنده که کسب کوي. نو هغه د توکل سره منافې نده. د قرآن آیت ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا﴾ (هود: ۶) د انسان د سعې او د کسب د لټون خلاف نده. ځکه چې د رزق وعده په دې آیت کې اجمالې ده. د دې تفصیل هم دا دی چې سړی دې په وتلو سره محنت وکړي. حرکت دې وکړي. تجارت دې وکړي. دا آیت انسان بندولو باندې نه کینوي بلکې تفصیلې موقعو کې د رزق د لټون لپاره انسان لره راپاڅوي.

حکایت: ملاعلی قاری د دې حدیث لاندې لیکلي دي چې کارغه خپل بچیان سپین لیدلو سره پریږدي. نو الله تعالی مچۍ د غه بچیانو اړخ ته متوجې کړي. مچۍ د دې په مکوخه باندې زیږوالی کتلو سره د خپل رزق په لټون کې راشي. نو دا بچی هغه وخوري. تردې چې غټ شي، بیا کارغه راشي او هغه پالي.

ملاعلی قاری رحمه الله دویمه قصه لیکلې ده چې الله تعالی د عزرائیل نه پوښتنه وکړه چې د ساه (روح) اخستلو په وخت کې ستا په چا باندې خفګان راغلی دی؟ نو عزرائیل وویل چې په یو ماشوم باندې مې خفګان راغلی دی. یو ځل چې په دریاب کې کله کشتۍ ماته شوه نو یو پې خوړونکی ماشوم د مور سره پاتې شو، ستا حکم راغلی چې د دې د مور ساه واخله. ما یې ساه واخستله. او ماشوم په ژړا پاتې شو. په دې باندې ماته خفګان راغلی ؤ. الله تعالی وفرمایل چې مخکې واوره!

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۵ رقم الحديث ۲۳۴۴ وابن ماجه في ۲/۱۳۹۴ رقم الحديث ۴۱۶۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

ما هغه یوې ټاپو (جزیرې) ته ورسولو .او یو زمرې مې هغه ته په پړې ورکولو باندې مقرر کړه. کله چې دا ماشوم لږ غټ شو ،نو د جناتو په ذریعه باندې مې هغه ته د انسانانو خبرې زده کړې. کله چې دا ماشوم ښه غټ شو نو دا آبادۍ ته راغلو . تردې چې هغه ته حکومت ورکړی شو ، کله چې مضبوط شو نو هغه د خدائې دعوی وکړه، دهغه نوم شداد ؤ .فتبارك الله من هو عالم بأسرار العباد.(مرقات ۹/۱۵۷)

د معاش په حصول کې جائز طریقې خپلې کړه

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّهَا النَّاسُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: خلکو! هیڅ یو داسې شی نشته چې هغه تاسو

يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ النَّارِ إِلَّا قَدْ أَمَرْتُكُمْ بِهِ

جنت ته نژدې کړي او د دوزخ د اور نه لیرې کړي. د هغه څه نه علاوه چې د هغې ما تاسو ته حکم درکړیدی.

وَلَيْسَ شَيْءٌ يُقَرِّبُكُمْ مِنَ النَّارِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا

او هیڅ یو شی داسې نشته چې هغه تاسو د دوزخ اور ته نژدې کړي او د جنت نه لیرې کړي ، د هغه څه نه علاوه

قَدْ نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ وَإِنَّ الرُّوحَ الْأَمِينَ وَفِي رِوَايَةٍ: وَإِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ نَفَثَ فِي رُوعِي

چې ما تاسو د هغې نه منع کړي یاست او روح الامین او په یو روایت کې دي چې روح القدس زما په زړه کې دا

أَنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا

خبره زما په زړه کې واچوله چې بیشکه هیڅوک تر هغه وخته پورې نه مړ کیږي ترڅو چې خپل رزق پورا نکړي

أَلَا فَاتَّقُوا اللهَ

ګورئ د خدای د نافرمانۍ نه ویریږئ. او د معاش د حصول په سعې او کوښښ کې نیک ښویې او اعتدال خپل

وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ

کړئ دې لپاره چې ستاسو رزق تاسو ته په جائز او حلال وسیلو او ذریعو او مشروع طریقو باندې دررسیږي

وَلَا يَحْمِلَنَّكُمُ اسْتِبْطَاءُ

د غه شان داسې دې کله هم نه وي چې د رزق په دررسیدلو کې وروستوالی تاسو دې خبرې ته راوپاروي چې

الرِّزْقِ أَنْ تَطْلُبُوهُ بِمَعَاصِي اللهِ فَإِنَّهُ لَا يُدْرَكُ مَا عِنْدَ اللهِ

تاسو د ګناهونو د کولو په ذریعه باندې د رزق ترلاسه کولو کوښښ وکړئ. حقیقت دا دی چې کوم څه د خدای

إِلَّا بِطَاعَتِهِ». رَوَاهُ فِي» شرح السنة «وَالْبَيْهَقِيُّ فِي» شعب الإيمان "إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: «وَإِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ»[1]
سره دي، هغه د هغه په اطاعت او خوشحالولو په ذريعه سره ترلاسه کولی شي. (شرح السنة،بيهقی)

توضيح: يقربكم: يعني کوم اعمال او افعال او اقوال چې جنت ته نژدې کونکې دي.او د دوزخ نه ليرې کونکې دي.ما تاسو ته د هغې حکم درکړيدی.او څه چې د هغې برعکس دي ما تاسو د هغې نه منع کړې ياست.

نفث: په سپکه طريقه باندې پوکې کولو ته نفث وايې. دلته وحې القاء کولو او د خبرې اچولو په معنی دی.

روعي: زړه او نفس ته روع وايې. مراد دا دی چې جبرائيل امين د وحې خفې په ذريعه باندې دا خبره رارسولې ده.

اجملوا: دا د جمال نه جوړ شويدی يعنې تاسو د رزق په حصول کې او د معاش په ګټلو کې د اعتدال لاره خپله کړې يعنې داسې طريقه خپله کړې چې په هغې کې د شرع حقوق او د بنديګانو د حقوقو پورا پورا لحاظ ساتلی شوی وي. په جائز طريقې سره که د رزق په رسيدلو کې تاخير وشي نو ناجائز طريقې مه خپلوی ځکه چې د الله تعالی د اړخ نه د هغه پاک او خوښ رزق په اطاعت کولو سره وکولی کيږي. په ګناه کولو سره نه ورکول کيږي. (مرقات ۹/۱۵۸)

اصل زهد څه دی؟

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا
او حضرت ابوذر رضي الله عنه نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د دنيا نه زهد
لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ وَلَا إِضَاعَةِ الْمَالِ وَلَكِنَّ الزَّهَادَةَ فِي الدُّنْيَا
اختيارول دا ندي چې حلال شيان دې حرام کړی شي او مال او اسباب دې ضائع کړی شي بلکې د دنيا نه زهد اختيارول دا دي
أَنْ لَا تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ
چې مال او دولت او نور دنياوي اسبابو نه چې څه ستا په لاس کې دي، په دې باندې د هغه څه نه ډير اعتماد
بِمَا فِي يَدِ اللهِ وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ الْمُصِيبَةِ إِذَا أَنْتَ أُصِبْتَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا
مکوه څه چې د الله په لاس کې دي. دغه شان زهد دا دی چې ته په هغه وخت کې چې کله ته په يو مصيبت کې

([1]) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۹۹ رقم الحديث ۱۰۳۷۶ والبغوي في شرح السنة ۱۴/۳۰۳ رقم الحديث ۴۱۱۱

Maktaba Tul Ishaat.com

أُبْقِيَتْ لَكَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَعَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ الرَّاوِي مُنْكَرُ الْحَدِيثِ(۱)
اخته يې نو د ثواب د طلب لپاره هغه مصيبت ارخ ته که هغه ستا لپاره پاتې وي . ډيره رغبت وساته.

توضيح: بتحريم الحلال: يعنې زهد في الدنيا دا ندی چې سړی په خپل ځان باندې حلال شيان مثلا غوښه او ميوه او داسې نور تازه شيان حرام کړي. لکه څنګه چې عيسايي پادريان او بعض وچ صوفيان داسې کوي ، دا خو تحريم الحلال دی. چې بيخې ناجائز دی. اصل زهد دا دی چې د انسان په خپل لاس کې چې کوم مال اسباب دي، په هغې باندې دومره اعتماد او بهروسه نوي څومره اعتماد چې يې د الله تعالی په غيبي خزانه باندې دی. زاهد انسان هغه دی چې هغه د الله تعالی د غيب په خزانه باندې ډير اعتماد وکړي. په دې حديث کې د زهد يو صورت دا بيان کړی شويدی . د دېنه وروسته د دزهد دويم صورت داسې بيان کړی شويدی.

وان تکون: دا د زهد دويم صورت دی. مطلب دا چې زهد دا هم دی چې له مصيبت راشي نو د هغې په بدله کې چې کوم ثواب ورکول کيږي، تاته د دې ثواب رغبت د دې مصيبت د نه راتلو او ثواب د نه درکړل کيدلو نه ډير وي يعنې يعنې د دې مصيبت موجوديدل(شتون) د دې د نه راتلو نه تاته ډير مرغوب او محبوب وي ځکه چې په دې باندې ثواب درکول کيږي.

په دې حديث کې **ابقيت** چې کوم لفظ دی دا د **لم يصب** په معنې دی. يعنې د مصيبت نه راتګ او د دې په ايسارولو سره ليرې کول ابقاء ده. بهرحال د زهد دا دوه صورتونه په ذهن کې ښه کينول پکار دي. (مرقات ۹/۱۶۰)

الله تعالى ونه غواړي نو ټوله دنيا نفع او نقصان نشي رسولی

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يوه ورځ (په سفر کې) زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سپرلی باندې
يَوْمًا فَقَالَ: «يَا غُلَامُ
د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته ناست وم چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (زه مخاطب کولو باندې) وفرمايل: هلکه!
احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ
د الله تعالى د ټولو احکاماتو خيال ساته. الله تعالى به ستا خيال وساتي. د غه شان ته به هر وخت او په هره معامله

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۳ رقم الحديث ۲۳۴۰ وابن ماجه في ۲/۱۳۷۳ رقم الحديث ۴۱۰۰.

احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ

کې دهغه د رضا طلبګارې نو یقینًا الله به هم ستا خیال ساتي. په دغه توګه به تا په دنیا کې د هر قسم مصیبتونو او تکلیفونو نه

تُجَاهَكَ وَ إِذَا سَأَلْتَ

ساتي. او په آخرت کې به د هر قسم عذاب او سختۍ نه دې محفوظ وساتي. او کله چې ته د سوال اراده وکړې نو فقط

فَاسْأَلِ اللهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَاعْلَمْ

الله تعالی ته خپل د سوال لاس ونه اوږده کړه. او کله چې ته مرسته غواړې نو فقط د الله تعالی نه مرسته غواړه او په دې پوهه

أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا

پوهه شه که ټول مخلوق په شریکه سره تا ته فائده در کول وغواړي نو هیڅکله یې نشي در رسولی، د هغه څه نه

بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ

غیره چې هغه الله تعالی ستا په مقدر کې لیکلي دي. او که د دنیا ټول خلک په شریکه سره هم تا ته څه نقصان

لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ

او ضرر رسول وغواړي نو هغوی هیڅکله هم تا ته څه نقصان او ضرر نشي در رسولی، فقط د هغه څه نه غیره

قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وجفّت الصُّحُفُ» رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ[1]

چې الله تعالی ستا لپاره په مقدر کې لیکلي دي. قلم پورته کولو سره کیخودل شویدي او صحیفې وچې شویدي.

رضا بالقضاء د خوش بختۍ نښه ده

﴿۹﴾ وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ

او حضرت سعد رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ابن آدم نیکبختي دا ده چې الله تعالی د ده په مقدر

رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللهُ لَهُ وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللهِ

کې څه لیکلي دي د ا په هغې باندې راضي وي او د ابن آدم بدبختي دا ده چې هغه د الله تعالی نه خیر او ښیګړه

وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ

غوختل پریږدي. دغه شان د ابن آدم بدبختي دا هم ده چې الله تعالی چې څه د ده په مقدر کې لیکلي دي، دا په هغې

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۵ رقم الحديث ۲۵۱۶ وأحمد في المسند ۱/۲۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

سُخْطُهُ بِمَا قَضَى اللهُ لَهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]
باندې ناراضه او ناخوښه وي. (روایت کړې دی ترمذی او ترمذی وائی دا حدیث غریب دی)

توضیح: **استخارة الله**: د دې جملې یو مطلب دا چې د انسان د خوش بختۍ یوه نښه دا ده چې دا په هغه څه باندې راضي او خوشحاله وي څه چې الله تعالی دده لپاره ټاکلي وي. د الله تعالی په فیصله باندې ناخوښه کیدل د بدبختۍ نښه ده لهذا ده لپاره پکار دي چې هر وخت د الله تعالی نه د خیر غوختونکی وي. **استخارة الله**: د دې جملې دویم مطلب دا چې په دې کې سین او تا د طلب (غوختنې) لپاره دي. یعنې خیر او شر او نفع او ضرر دواړه د الله تعالی د تقدیر فیصلې دي. خو انسان لپاره پکار دي چې هر وخت د الله تعالی نه خیر او ښیګړه وغواړي. ښیګړه نه غوختل او د هغې سوال کول پریخودنه د انسان د بدبختۍ نښه ده. شارحینو د دې جملې دا آخري مطلب بیان کړیدی. ما د دېنه مخکې یو بل مطلب اړخ ته هم اشاره وکړه. والله اعلم! په دې جمله کې د استخاره راویستلو د ترغیب اړخ ته هم اشاره کیدلی شي. د استخارې راایستلو یوه طریقه خو مشهوره ده. کومه چې په کتابونو کې لیکلې ده. خویوه مختصر طریقه دا هم ده چې سړی دا کلمات د استخارې په نیت سره روایې: اللهم خِرْلِیْ وَاخْتَرْلِیْ فَلَاتَکِلْنِیْ إِلٰی اِخْتِیَارِیْ. د استخارې په ترغیب کې یو عجیبه حدیث دی. فرمایي: **مَا خَابَ مَنِ اسْتَخَارَ وَلَا نَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ وَلَا عَالَ مَنِ اقْتَصَدَ**، استخاره کونکی ناکام نه پاتې کیږي مشوره کونکې پښیمانه نه وي. او درمیانه حالی فقیر نه وي. (مرقات ۹/۱۶۶)

الفصل الثالث

الله تعالی باندې د کامل اعتماد اثر

﴿۱۰﴾ عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبل نجد
حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې هغه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په هغه جهاد کې شریک ؤ چې هغه د نجد په
فَلَمَّا قَفَلَ مَعَهُ
اطرافو کې شوی ؤ. او کله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د جهاد نه فارغه شونو جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره بیرته راغلو.
فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ
(د دې په سفر په دوران کې یوه ورځ) صحابه د غرمې په وخت کې یو داسې ځنګل ته ورسیدل چې په هغې کې

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۹۶ رقم الحديث ۲۱۵۱ وأحمد في المسند ۱/۱۶۷.

كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ

کیکرونې ډیرې وې.نو نبی کریم ﷺ هلته کوز شو.او ټول خلک د بوټو د سیورې په لټون کې یو خوا بل خوا خپاره

فَنَزَلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا

شول.نبی کریم ﷺ هم د کیکر د یوې غټې ونې لاندې ډېره ولګوله.او خپله توره یې د دغه بوټې په یو ښاخ پورې

سَيْفَهُ وَنِمْنَا نَوْمَةً فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زوړنده کړه.مونږ د لږ خوب په کولو په خاطر اوده شوي ؤ.ناڅاپه مونږ واوریدل چې نبی کریم ﷺ

يَدْعُونَا وَإِذَا عِنْدَهُ

مونږ ته آواز کوي نو مونږ د نبی کریم ﷺ خواته ورسیدلو نو څه ګورو چې (نبی کریم ﷺ پروت دی،

أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ:" إِنَّ هَذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ

او هم هلته) د نبی کریم ﷺ خواته یو بانډچي کافر موجود دی.نبی کریم وفرمایل:چې دا بانډچي په هغه وخت چې

سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ

زه اوده وم،ما باندې یې زما توره راخکلو سره ودریدلو.او کله چې زما سترګې بر سیرته شوي نو ما وکتل چې زما

فِي يَدِهِ صَلتا.قَالَ: مَا يَمْنَعُكَ مِنِّي؟ فَقُلْتُ:

لغړه توره د ده په لاس کې ده.ده ماته وویل چې وس به تا زما نه څوک خلاصوي؟ما سمدستي جواب ورکړو چې

اللهُ ثَلَاثًا" وَلَمْ يُعَاقِبْهُ

زما خدای به ما ساتي.نبی کریم ﷺ دا خبر د درې ځل وکړه.او دې بانډچي ته یې هیڅ سزا ورنکړه.بیا راپاڅیدلو

وَ جلَسَ . (مُتَّفق عَلَيْهِ) [1] وَ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرِ الْإِسْمَاعِيلِيِّ فِي « صَحِيحِهِ »

او کیناستلو.(بخاري او مسلم)او په هغه روایت کې چې هغه ابوبکر اسماعیلي په خپل صحیح کې نقل کړیدی،دا الفاظ

فَقَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟ قَالَ:

دي چې د بانډې دې وسیدونکي(بانډچي)وویل چې وس به تا زما نه څوک خلاصوي؟نو نبی کریم ﷺ وفرمایل

« اللهُ » فَسَقَطَ السيفُ من يَدِه فَأَخذ السَّيفَ فَقَالَ :

چې الله به مې ساتي!د بانډچي د لاس نه توره ګوزار شوه.نبی کریم ﷺ توره راواخستله.او وې فرمایل

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۹۶ رقم الحديث ۲۹۱۰ ومسلم في صحيحه ۴/۱۷۸۷ رقم الحديث (۸۴۳-۱۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

«مَنْ	يَمْنَعُكَ	مِنِّي؟»	فَقَالَ:	كُنْ	خَيْرَ	آخِذٍ.

چې وس به تا زمانه څوک خلاصوي؟ بانډ چې جواب ورکړو چې ته خو په ښیګړه سره نیوکه کونکی یې.

فَقَالَ	:	«	تَشْهَدُ	أَنْ	لَا	إِلَهَ	إِلَّا اللهُ

نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ښه دې خبرې ګواهي ورکړه چې د الله تعالی نه غیره څوک د عبادت لائق نشته دی. او یشکه

وَأَنِّي	رَسُولُ	،	اللهِ».

زه د الله تعالی رسول یم. ګویا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته وفرمایل چې که ستا په ما باندې دومره اعتماد دی نو بیا یقیناً په دې خبره به هم

قَالَ:	لَا	وَلَكِنِّي	أُعَاهِدُكَ

ښه پوهیږې زما د اسلام دعوت ېښخې په حقه او په صداقت باندې بناء دی. په دې صورت کې تا لپاره پکار دي چې کلمه و وایې او

عَلَى	أَنْ	لَا	أُقَاتِلَكَ

مسلمان شې. بانډ چې وویل: مسلمان کیدلی خو نشم، البته ستا سره به دا وعده ضرور وکړم چې نه به زه خپله ستا سره جنګیږم او نه

وَلَا	أَكُونَ	مَعَ	قَوْمٍ	يُقَاتِلُونَكَ

به د هغه خلکو ملګرتیا کوم چې هغه ستا سره جنګیږي. بهرحال نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه بانډ چې پرېښودلو.

فَخَلَّى	سَبِيلَهُ	فَأَتَى	أَصْحَابَهُ	فَقَالَ:	جِئْتُكُمْ

او کله چې هغه بانډ چې خپل قوم ته راغلو نو وې ویل چې ستاسو مینځ ته د یو داسې سړي د خوا نه راغلم

مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ. هَكَذَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِي وَفِي الرِّيَاضِ[1]

چې هغه د ټولو نه غوره انسان دی.

توضیح: **نجد**: د زمکې وچتې برخې ته نجد وایي. د نجد علاقه په وچته زمکه باندې پرته ده. د دې مقابل تهامه ده. چې هغه خکته زمکه باندې پرته ده. پخوانی زمانه کې نجد ډیره وړه علاقه وه. خو وس د جزیرة العرب ټولې وسطې علاقې ته نجد ویل کیږي. چې د هغې انتهایي طول تقریباً اته سوه میله دی. او انتهایي عرض یې تقریباً دوه نیم سوه میله دی. نن سبا د سعودې حکومت کې ریاض او د اطرافو ټولې علاقې په نجد کې راځي. او په سعودې باندې د دغه خلکو حکومت دی، کوم چې نجدي دي. (مرقات ۹/۱۶۷)

القائلة: قیلوله ته قائله ویلی شویده. **العضاة**: د کیکر ونې ته وایي. **اخترط**: وژلو لپاره توره را ایستل

([1])أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۹۷ رقم الحديث ۲۹۱۳ وأخرجه مسلم ۴/۱۷۸۷ رقم الحديث (۸۴۳-۱۴)

او راوخکلو ته اختراط وایي. صلتًا: د کاڼي نه توره راایستلو باندي لغړه تورا خوزولو ته صلتًا وایي.

الله: لفظ الله سره نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه سړي باندې جلالي توجه واچوله. نو په هغه باندې ریږدل شروع شو. او د لاس نه یې تورا ګوزار شوه. (مرقات ۹/۱۶۸)

درزق لپاره مجربه مراقبه

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنِّي لَأَعْلَمُ آيَةً
او حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: بیشکه زه یو داسې آیت پیژنم
لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ:
که خلک (فقط) په دغې باندې عمل وکړي نو هغوي په حق کې دغه یو آیت کافي دی. هغه آیت دا دی: ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ
(وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ
يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ یعني کوم سړی چې د خدای نه ویریږي نو خدای د هغه لپاره (دنیا
لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ) رَوَاهُ أَحْمد وَابْن مَاجه والدارمي[1]
او د آخرت د غمونو نه) د نجات لاره پیدا کوي. او هغه ته د داسې ځای نه رزق ورکوي چې د هغه ځای نه د ده ګمان هم نوي.

توضیح: يَتَّقِ اللهَ: یعني ظاهرًا او باطنًا خپله معامله د الله سره پاکه وساتي او د ژوند په یو اړخ کې هم د الله تعالی نافرماني ونه کړي نو الله تعالی به د هغه لپاره کافي شي. کونوا ابناء الآخرة ولا تکونوا ابناء الدنیا.

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ماته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت وښودلو ﴿إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ الخ﴾ یعني
ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ) رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حسن صَحِيحٌ[2]
بیشکه خاص زه روزي ورکونکی یم (او) غالب طاقت والا یم. (ابوداؤد، ترمذی)

توضیح: اقرأني: دا قرأت شاذ دی. مشهور قرأت په قرآن کې داسې دی: ﴿إِنَّ اللهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾ په ابتداء کې آیت داسې ؤ. څنګه چې ابن مسعود رضی الله عنه ولوستلو. وروسته یا منسوخ

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۱۱ رقم الحديث ۴۲۲۰ والدارمي في السنن ۲/۳۰۹۲ رقم الحديث ۲۷۲۵.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۷۶ رقم الحديث ۲۹۴۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

شو یا شاذ شو.(مرقات۹/۱۷۰)

دیني طالب علم دوجې نه الله تعالی رزق ورکوي

﴿۱۳﴾ وَعَن أَنسٍ قَالَ: كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ أَحَدُهُمَا
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دوه ورونه ؤ. چې په هغوي کې به يو خود
يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالآخَرُ يَحْتَرِفُ
نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ؤ او بل به څه کار کولو (او دواړو به يو ځاې خوړه څکله) نو کله کونکي ورور د خپل
فَشَكَا المحترف أَخَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لَعَلَّكَ
بل ورور په اړه باندې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا خو هم کیدلی شي
تُرْزَقُ بِهِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ[1]
چې تا ته د دې په وجه سره رزق درکولی کیږي.(ترمذی)

توضیح: فشکی المحترف: المحترف احتراف نه دی .حرفه کار کولو او کاریګرۍ ته وایي. دا دوه ورونه به په مدینه منوره کې وسیدل. یو به کار کولو او د کور خرچه به یې برداشت کوله. او دویم د اصحاب صفه طالب علم ؤ.د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په درس او د علم په مجلس کې به کیناستلو. ظاهره ده ، دهغه به ټول وخت د علم په حصول کې مصرف کیدلو. دې ورور شکایت وکړو چې زما ورور څه کار نکوي. زه یواځې یم. د کور خرچ ډیر دی. که دا هم زما سره په ګټه کولو کې شروع وکړي نو زمونږ اقتصادي حالت به ښه شي. ته دا زما سره کړه دې لپاره چې دا هم ګټه وکړي. او مونږ ټول یې وخورو .د شکایت د لاندې دا ټول شیان راتللی شول.اګر که په ژبه سره هغه فقط د شکایت په لهجه کې اشاره وکړه. عوام ډیر هوښیار وي، د هغوې د اشارو شاه ته غټه منصوبه وي، خو دنیوې منصوبه وي. نن سبا د عام معاشرې دا خیال دی چې دا دینې مدرسو نظام بیکاره دی.د دې لوستونکي طالب علمان بیکار دي. فضول ناست دي. وخت ضائع کوي. او داسې نور.

فقال: یعنې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه سړي د ټولې منصوبې اندازه ولګوله،نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ته اقتصادی او معاشې حوالې سره جواب ورکړو. مطلب دا دی چې ته ولې دا ګڼې چې کوم رزق تا ته درکولی کیږي، هغه ستا د محنت او ګټې په وجه باندې درکولی کیږي. ته داسې خیال ولې نکوي چې د دې طالب علم د خدمت کولو په برکت سره الله تعالی تا ته رزق درکوي. نو په دې صورت کې ستا د

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۶ رقم الحديث ۲۳۴۵.

شکايت او احسان ضباطلو هيڅ وجه نشته دی. تالره خو د دې احسان منل پکار دي چې د دې په وجه باندې ستا په مال برکت راځي. د دې حديث نه معلومه شوه چې ديني علومو د حصول لپاره د دنيا نه ځان راخکل جائز دي. او دا هم معلومه شوه چې کمزور او ضرورت مند خلکو په کفالت سره په مال کې برکت راځي. په يو روايت کې دي: انما تاكلون بضعفائكم. (مرقات ۹/۱۷۱)

څوک چې مال پسې زغلي، هغه وژل کيږي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ قَلْبَ ابْنِ آدَمَ
او حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه د انسان د زړه لپاره
بِكُلِّ وَادٍ شُعْبَةٌ فَمَنْ أَتْبَعَ قَلْبَهُ الشُّعَبَ كُلَّهَا
په هر ځنګل کې يو ښاخ او يوه خوشه وي. نو څوک چې دې ښاخونو او خوشو اړخ ته خپل زړه متوجې وساتلو. نو
لَمْ يُبَالِ اللهُ بِأَيِّ وَادٍ أَهْلَكَهُ وَمَنْ تَوَكَّلَ
د الله تعالى هيڅ پرواه نشته چې دا په يو ځنګل کې هلاک کړي. او اچې په الله تعالى باندې توکل او اعتماد وکړي
عَلَى اللهِ كَفَاهُ الشُّعَبَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]
نو الله تعالى د هغه د ټولو کارونو د سمولو لپاره کافي کيږي.

توضيح: شعبة: يعنې د انسان د زړه يو نا يو ښاخ او د هغه سوچ او خيال څه نا څه لاره د رزق په لټون کې په هره کنده او هره دشته کې خپور شوی وي. يعنې هغه سره دا فکر وي چې څنګه او د کوم ځای نه وګټم؟ يا کله په عملي توګه باندې د آخرت نه غافل کيدلو سره وځي. او سرو هلې ګرځي. او ناځاپه مړ شي نو د الله تعالى هيڅ پرواه نشته چې دا غافل او عاشق د دنيا په کومه علاقه کې مړ کيږي. خو که هم دا انسان خپل مقصود آخرت جوړ کړي. او د الله تعالى په عبادت کې اخته وي. نو د دې ټولو علاقو د منډو او ګرمی نه به محفوظ وي. او دهرې علاقې لپاره به الله تعالى ورله کافي شي. (مرقات ۹/۱۷۱)

ټوله معاشره که تابعداره شوه نو هر مصيبت به لرې شي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ:
او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو رب عزتمند او لويې شان والا فرمايي

---

[1] أخرجه ابن ماجه ۲/۱۳۹۵ رقم الحديث ۴۱۶۶

Maktaba Tul Ishaat.com

لَوْ أَنَّ عَبِيدِي أَطَاعُونِي لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ وَأَطْلَعْتُ عَلَيْهِمُ

که زما بندیګان زما تابعداري وکړي نو یقیناً زه به په دوي باندې د شپې باران وکړم او د ورځې به په هغوي باندې

الشَّمْسَ بِالنَّهَارِ وَلَمْ أُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ". رَوَاهُ أَحْمد(۱)

د لمر څادر راخپور کړم. او هغوي ته به د وریځې د ګړزیدلو آواز وانوروم.

توضیح: اطاعونی: د دې اطاعت نه عام اطاعت مراد دی خو د دې په ضمن کې توکل او صبر هم داخل دی. چې هغه دلته مقصود دی. د داسې تابعدارو په اړه باندې الله تعالی فرمایي که د دوي ټوله معاشره تابعداره شوه، نو دهغوي د ضرورت په مطابق به د شپې به باران وکړم. دې لپاره د پړق پړوق او ګړزارې په هغوي رانشي. او د ورځې به لمر راخیژي. دې لپاره چې د دوي په کاروبار کې بندیز رانشي. د شپې او ورځې موسم به د هغوي لپاره برابر وي. داسې معلومیږي چې دا فیصله د عمومي خلکو د ښه اعمالو نتیجه ده. د شخصي ژوند به دا اثر نه وي. هو! کله کله د شخصي خلکو سره شخصي معامله کیدلی شي.

داعتماد او توکل یو حیرانونکې واقعه

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى أَهْلِهِ فَلَمَّا

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو سړی د خپل کور خلکو ته راغلو نو هغه د خپل کور په

رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ الْحَاجَةِ

خلکو باندې د فقر او لوږې اثرات ولیدل، دې کتلو سره هغه د خپل خداې په دربار کې د حاجتونو وړاندې کولو

خَرَجَ إِلَى الْبَرِيَّةِ فَلَمَّا رَأَتِ امْرَأَتُهُ قَامَتْ

په یو اځیوالي کې فریاد کولو لپاره د ځنګل اړخ ته لاړو. د هغه ښځې چې کله وکتل نو هغه پاڅیدله

إِلَى الرَّحَى فَوَضَعَتْهَا وَإِلَى التَّنُّورِ فَسَجَرَتْهُ

او د میچنیخوا ته لاړه. میچنه هغې خپلې مخې ته کیخوده، بیا هغه د تنور خوا ته لاړه. او هغه یې تود کړو. د

ثُمَّ قَالَتْ: اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا فَنَظَرَتْ فَإِذَا الْجَفْنَةُ قَدِ امْتَلَأَتْ.

دېنه وروسته یې د خداې نه دا دعاء وکړه: یا الله! مونږ ته رزق راکړه. بیا چې هغې وکتل نو څه ګوري چې

قَالَ: وَذَهَبَتْ إِلَى التَّنُّورِ فَوَجَدَتْهُ مُمْتَلِئًا.

د میچنې جرنده د وړونه ډکه ده. راوي وایي چې د دېنه وروسته هغې وړه اغږلو سره تنور ته لاړه. نو تنور یې د ډوډو

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۲/۳۵۹.

قَالَ:	فَرَجَعَ		الزَّوْجُ	قَالَ:

نه ډک وموندلو. راوي وایي چې څه ساعت وروسته یې خاوند کورته راغلو، نو د ښځې نه یې پوښتنه وکړه

أَصَبْتُمْ بَعْدِي شَيْئًا؟ قَالَتِ امْرَأَتُهُ: نَعَمْ مِنْ رَبِّنَا

چې آیا زما د تللو نه وروسته تاته څه درکړې شول. ښځې ورته وویل: هو! دا مونږ د خدای د اړخ نه راکړې شول.

وَقَامَ إِلَى الرَّحَى فَذُكِرَ

خاوند چې دا واوریدل نو ډیر حیران شو او د میچنې خواته لاړو. (او میچنه یې راوچته کړه چې د میچنې دا ناشنا کار

ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «أَمَا إِنَّهُ

ووینې) بیا کله چې د دې واقعې ذکر د نبی ﷺ مخې ته وکړې شو نو نبی ﷺ وفرمایل: پوهشه! په دې

لَوْ لَمْ يَرْفَعْهَا لَمْ تَزَلْ تَدُورُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَحْمد [1]

کې هیڅ شک نشته که دغه سړې میچنه نه وې راوچته کړې نو دا میچنه به تر قیامته پورې ګرځیدلې. او د ښه به وړه راوتلې.

توضیح: البریة: ځنګل او دښتې ته بریه وایي. خاوند د کور نه دښتې اړخ ته د دې لپاره ووتلو چې په یوائیوالي کې دعا وغواړي. دغه شان د کورنی تکلیف لیدلو باندې د څه وخت لپاره یې غائب کیدل یې خوښ کړي وي یا د څه رزق په لټون کې به وتلی وي.

فقامت: ښځې چې کله وکتل چې خاوند الله ته د فریاد کولو لپاره ووتلو. وس به دعاء قبلیږي. نو هغې اسباب استعمالول شروع کړل. ځکه چې د دعاء سره سره د اسبابو استعمالول هم ضروري دي.

فوضعتها: یعنې د میچنې یو کاڼی یې په بل کاڼي باندې کیخودلو. د دې لپاره چې د وړو عمل شروع شي.

ثم قالت: دا ښځه هم د الله ولیه صحابیه وه. هغې هم په ژړا ژړا دعا وغوختله. او بیا د میچنې خواته د کتلو لپاره لاړه نو وې کتل چې د میچنې جرنده د وړو نه ډکه ده. او تنور د پخ شوؤ ډوډو نه ډک دی. د قدرت دا کرشمه د دې ښاغلو د صبر او توکل د وجې نه رابښکاره شوه.

وقام: یعنې خاوند یې د میچنې خواته لاړو او جرنده را اوچته کړه او وې کتله چې کرشمه وګوري. (مرقات ۹/۱۷۳)

---

(1) اخرجه احمد في المسند ۲/۵۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

رزق د انسان په لټون کې وي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الرِّزْقَ
او حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: په دې کې هيڅ شک نشته چې رزق
لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ». رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي «الْحِلْيَةِ»[1]
د بنده داسې لټون کوي لکه څنګه انسان لره د هغه مرګ لټوي.

توضیح: اجله: يعنې رزق انسان پسې داسې وربسې وي لکه څنګه چې مرګ د هغه په لټون کې وي. ترڅو چې هغه ته مرګ نه وي راغلی هغه د دې په لټون کې وي. د غه شان ترڅو چې انسان خپل ټاکلی شوی رزق ټول نه وي خوړلی، رزق هغه لره نه پريږدي. مطلب دا شو چې رزق مه لټوه، ګټې او که نه يې ګټې هغه خپله تا لټوي. د مرګ راتلو نه مخکې رزق راځي، انسان هغه خوري، نو هله مرګ راځي.

د دې حديث تعلق د صبر او توکل سره دی. او د مقدرات الهيه او د تقدير د فيصلو سره متعلق دی. څنګه چې اسلام د تقدير حيثيت بيان کړيدی. دغه شان يې د اسبابو استعمال بيان کړيدی. نو د حديث دا مطلب اخستل صحيح نه دي چې د مال ګټل او دهغې لپاره يې محنت کول منع دي. بلکې مطلب دا دی چې په اسبابو باندې اتکال جائز نه دی. (مرقات ۹/۱۷۳)

د يو نبي بې مثاله صبر

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کړيدي چې ګويا زه دا وخت نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وينم چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ وَهُوَ
د يو داسې نبی قصه بيانوي چې د هغه قوم هغه لره وهلی دی او ټپي (زخمي) کړی يې دی. خو هغه نبی د خپل
يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُولُ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
مخ نه وينه پاکوي او دا فرمايي چې ای الله! زما قوم ته وبخښې، دا خلک زما د حقيقت نه ناخبره دي. (بخاري ومسلم)

توضیح: يحکی نبيا: يعنې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو نبی قصه بيانوله. (مرقات ۹/۱۷۳)

---

[1] أخرجه ابونعيم في حلية الأولياء ۶/۸۶.

[2] أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۱۴ رقم الحديث ۳۴۷۷ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۳۵ رقم الحديث ۴۰۲۵ وأحمد في المسند ۱/۴۴۱.

اللّٰهم اغفر: یعني ای الله زما قوم وبخښنه، دوي نه پوهیږي. دلته د مغفرت دعاء د غه قوم د ایمان او هدایت لپاره نبی وغوختله. چې الله تعالی دوي ته هدایت وکړي. دې لپاره چې د دوي ټول ګناهونه معاف شي. دا مطلب ندی چې د کفر او شرک سره مړه کیدلو باندې د مرګ نه وروسته د مغفرت دعا ورلره غوختلی کیږي.

پاتې شوه دا خبره چې د دې نبی نه څوک مراد دی نو ابن حجر رحمه الله فرمايي چې په یقین سره نشي ویل کیدلی چې دا نبی څوک ؤ. هو ! په ځینو روایتونو کې دي چې د دې نه مراد حضرت نوح علیه السلام دی. دهغه قوم به هغه دومره ووهلو چې هغه بیهوشه په زمکه باندې به راګوزار شو او په هوش کې راتګ باندې به یې بیا دعاء غوختله.

ځینې شارحین فرمايي چې د دې نبی نه مراد نبی آخر زمان محمد عربی صلی الله علیه وسلم ذات بابرکات دی. کله چې د احد په جنګ کې کافرو په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې برید وکړو او نبی صلی الله علیه وسلم یې ټپې کړو. دغه وخت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل مخ نه وینې پاکولې او دا الفاظ یې فرمایل: اللّٰهم اغفر لقومی فانهم لایعلمون، یعنې د دې وهلو په وجه باندې دې په هغوې باندې به دنیا کې سمدستې عذاب رانه شي. علماء لیکي چې دا راجحه ده چې د دې نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراد واخستلی شي. (مرقات ۹/۱۷۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الرِّيَاء والسمعة
د شهرت او رياكارۍ بيان

قال الله تعالى: ﴿الَّذِينَ هُمْ يُرَآؤُنَ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾ (الماعون: ۶، ۷)

الريا: رياء د رويت نه جوړ شويدى. ځان ښودنې په معنې دى. د لغتو كتاب صراح ليكلي دي چې د رياء معنى دا ده : خپل ځان د خلكو په نظر كې ښه ښودل. دېته په پښتو كې ځان ښودنه وايي. كتاب عين العلم كې يې ليكي دي: چې د ريا مطلب دا دى چې د خپل عبادت شهرت په خلكو كې كول او د عبادت او نيكۍ په ذريعه سره د خلكو په نظر كې خپل قدر او مرتبه پيدا كول.

د دې تفصيل نه معلومه شوه چې د رياكارۍ تعلق د عبادتونو او نيكو سره دى. يعنې په ښه كارونو كې رياكاري كيږي. كوم اعمال چې په ظاهره توګه باندې د عباداتو د قبيلې نه ندي. مثلاً: غښي ويشتل، لامبو وهل، منډې وهل، ذهانت، د مال ډيروالى، د ښايست ډيروالى، د كمال ډيروالى، دا شيان د رياكارۍ په زمره كې نه راځي. بلكې په دې باندې فخر او نمود كول د تكبر او افتخار په زمره كې راځي. دغه شان ځينې مرشدان خپلو مريدانو ته ترغيب وركولو لپاره او د شوق ډيرولو په غرض سره ځينې اعمال ظاهروي. هغه هم په رياكارۍ كې نه راځي. ځكه ويلى شويدي چې: **رياء الصديقين خير من اخلاص المريدين.** دلته دا خبره هم په نظر كې ساتل پكار دي چې د رياكارۍ عمل هغه عمل جوړيدلى شي چې په چا كې هغه عمل موجود وي او په دغه كمال باندې هغه متصف وي. او دا ښه عمل دغه سړي په خلكو كې ځكه مشهوري، چې د دې په وجه باندې د هغه قدر او مرتبه په خلكو كې پيدا شي. خو كه په دغه سړي كې د نيكۍ او عبادت څه كمال موجود نوي. او هغه دغه شان خپل ځان په خلكو كې مشهوروي. نو دا رياكارى نه ده بلكې دهوكه او فراډ او صريح دروغ دي. دا بل جرم دى.

د رياكارۍ قسمونه: عبادت كولو و د ثواب ترلاسه كولو د نيت په اعتبار سره د رياكارۍ څلور قسمونه دي. لاندې د هغې بيان كيدلى شي.

د رياكارئ اول قسم: د رياكارئ د ټولو نه بد او سخت قِسم دا دى چې يو سړى عبادت او رياضت د الله د رضا او ثواب ترلاسه كولو په ځاى باندې د خلكو د ښودنې او ځان لويې ښودلو لپاره كوي. مثلاً: په عامه غونډه كې اوږده اوږده لمونځونه كوي او كله چې يواځې شي نو اوږده خو پريږده چې بيخې لمونځ يې غائب شي. په عامه غونډه كې لږ خوراک كوي دې لپاره چې باچاهانو او د بااثر خلكو دا ګمان پيدا كړي چې دا ډير زاهد سړى دى. رياكارئ د دې قِسم په اړه باندې د علماؤ دا خيال دى چې د دې سړي هيڅ عمل قبول ندى. بلكې د ده فرض هم نه ادا كيږي. دا سړى فقط د ځان ستړي والي او مشقت كې خپل ځان ساتي.

حکایت: په ګلستان کې سعدی بابا یوه قصه لیکلې ده چې یو نیک سړی د باچا سره په خوراک کې شریک شو. نو هغه باچا ته د ښودلو لپاره یې ډیر کم خوراک وکړو. او کله چې دلمونځ وخت شو نو ډیر اوږد لمونځ یې وکړو. باچا وویل چې دا خو ډیر عابد زاهد سړی دی. کله چې کور ته راغلو نو ځوي ته یې وویل چې خوراک راوړه چې وخورو. ځوي ورته وویل چې ته خو د باچا خواته دعوت لپاره تللی وې. هلته دې ونخوړله؟ هغه ورته وویل چې بچیه! ما هلته لږه وخوړله، دې لپاره چې د باچا سره مې مقام پیدا شي. ځوي ورته وویل: پلار جانه چې کله ته ډوډی په دویم خوري نو ته لمونځ هم په دویم ځل وکړه ځکه چې د ریاکارۍ په وجه باندې ستا لمونځ هم خراب شوی دی.

د ریاکارۍ په دې قِسم کې عابد سړی د ثواب نیت نکوي؛ بلکې نیت یې د ځان ښودنې وي.

د ریاکارۍ دویم قِسم: د ریاکارۍ دویم قِسم دا دی چې ریاکار سړی عبادت هم کوي او د ثواب نیت هم کوي. خو ورسره ورسره ځان ښودنه هم کوي. خو د ځان ښودنې او ریاکارۍ اړخ ورباندې غالب وي. او دثواب د نیت اړخ یې مغلوب وي. که په یواځیوالي کې وي نو کیدی شي عبادت ونکړي، د دغه شان قِسم حکم هم د اول په شان دی. ځکه چې د ریاکار د نیکۍ چې کومه جذبه ده، د هغې علت او سبب ریاکارۍ ده.

د ریاکارۍ دریم قِسم: د ریاکارۍ دریم قِسم دا دی چې د ریاکارۍ او د ثواب ترلاسه کولو جذبه دواړه یو برابر وي. په دې قِسم کې په ظاهره باندې دا معلومیږي چې نفع او نقصان به دواړه وي، د احادیثو نه معلومیږي چې دا صورت هم نهایت مذموم او قبیح دی او دا عمل هم د قبلیدو قابل ندی.

د ریاکارۍ څلورم قِسم: د ریاکارۍ څلورم قِسم دا دی چې د ثواب ترلاسه کولو او د الله د رضا جذبه غالبه وي، خو که د معمولې ریاکارۍ ګډون وي نو په دې سره خو عمل نه باطلیږي خو که دا ریاکارۍ که د عمل په شروع کې راشي نو ډیره بده ده. او که په مینځ کې راشي نو څه لږه بده ده. د ریاکارۍ دا څلور قِسمونه دي چې بیان کړی شول. دلته د ریاکارۍ بیل بیل اعتبارات دي. مثلاً: یا خو به ریاکار د ریاکارۍ پخه اراده کړي وي، دا ډیر بد دی. یا به یې د ریاکارۍ پخه اراده نوي کړي بلکې د خیال ترحده به وي، دا کمتره درجه ده. بهر حال ریاکارۍ یو داسې بده بده او داسې د زړه ناروغې ده چې د هغې نه ځان ساتنه ډیره ګرانه ده. امام غزالي لیکلي دیچې ترڅو پورې خلک د جماداتو، کاڼو او بوټو په درجه کې ونه ګڼي، د ریاکارۍ نه ځان ساتنه مشکله ده. او ترڅو پورې چې خلک په نفع او نقصان کې معذوره ونه ګڼي نو د دې قلبي ناروغې نه وتل ګران دي. هو! که یو سړی په اخلاص سره عبادت کوي او بیا خو خلکو ته په څه توګه سره خبر وشي او په خلکو کې د دې سړي ښه شهرت خپور شي او په دې باندې دا سړی خوشحاله شي نو دا ریاکارۍ نده، بلکې دا دنیاوې زیرې یوه برخه ده. او دنیک اعمالو هغه بدله ده چې هغه الله تعالی په دنیا کې ورکوي، اګرکه بنده

Maktaba Tul Ishaat.com

دا پټوي. په عنوان کې د ريا نه وروسته د سمعة لفظ هم دی. د سمعه تعلق د سمع او غوږونو سره دی. نو د کومو اعمال حسنه د ښودنې تعلق چې د سترګو سره کيږي، او د کومو تعلق چې د غوږونو سره وي نو هغې ته سمعه وايې. يعنې د خپل مقام پيدا کولو لپاره خلکو ته قسما قسم اعمال اورولو باندې مقام پيدا کوي، چې خلک ده ته ښه ووايې. پاکستان د حکومت ټول رفاهي او د خدمت ټول اعمال خراب او ضائع لاړشي. ځکه چې حکومت د ښودنې ټولې ذريعې استعمالولو کوښښ کوي. نيک کار په ټي وي، ريډيو او اخبارونو باندې ښايې. نو نيکې چيرته پاتې شوه؟

الْفَصْلُ الأَوَّل

الله تعالی د زړونو اخلاص ته ګوري

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَنظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ
حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى ستا شکلونو او ستاسو
وَلَا أَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ(۱)
مال او متاع ته نګوري بلکې هغه ستاسو زړونو او ستاسو اعمالو ته ګوري.

توضيح: لاينظر: يعنې الله تعالی فقط ظاهري شکل و صورت او د انسان رنګ روغن او جُبّې قُبّې ته نګوري او نه په دې ظاهري شکل و صورت باندې د قبوليت او عدم قبوليت فيصله کوي. بلکې معامله د انسان د دننه کيفيتونو ده. لکه څنګه چې وس را روانه ده: صوفياء کرام وايې:

آدميت لحم و شحم و پوست نيست — آدميت جز رضائے دوست نيست

علامه ابن اثير رحمه الله په خپل کتاب نهايه کې ليکلي دي چې په دې حديث کې **لاينظر** او **ينظر** الفاظ د خوښې او ناخوښې، رحمت او شفقت او خپلولو او نه خپلولو په معنیٰ دي. په دې مطلب سره ډير اعتراضونه ختميږي. خلک وايي: زړه پاک پکار دی. د ظاهري شکل او صورت هيڅ اعتبار نشته دی، حالانکې حقيقت دا دی که دننه ښه وي نو بيرون هم ښه کيدل پکار دي. د بوټې تازه او شين کيدلو بناء په جرړو باندې ده. که جرړې خرابې شي نو پاڼې رژيږي، او بوټي وچيږي. (مرقات ۹/۱۷۵)

ينظر الى قلوبكم: يعنې الله تعالى د زړه نيت او د اخلاص جذبې او رښتيا او پاکوالي ته ګوري. دغه شان د زړه حسد، کينه، بغض او نفاق او رياکارۍ ته ګوري، دغه شان الله تعالى د زړه ښه او بد

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۸۷ رقم الحديث (۲۵۶۴-۳۴) وابن ماجه في ۲/۱۳۸۸ رقم الحديث ۴۱۴۳.

صفتونو او د هغې خيالونو او احساساتو او جذبو باندې فيصله کوي. (مرقات ۹/۱۷۵)

رياکارۍ يو قسم شرک دی

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَنَا
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: الله تعالی فرمايي: چې زه د
أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا
شرک په وجه باندې د ټولو شريکانو نه ډير بې نيازه يم. کوم سړی چې يو داسې عمل وکړي چې هغه په ديکې
أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ" وَفِي رِوَايَةٍ:
زما سره بل څوک هم شريک کړي نو زه هغه سړی د ده د شرک سره سره رد کړم. او په يو روايت کې د ترکته وشرکه په ځای باندې
فَأَنَا مِنْهُ بَرِيءٌ هُوَ
دا الفاظ دي: فأنا منه بریء هو للذی عمله. يعنې زه د هغه نه خپله بې نيازۍ او بيزارۍ ښکاره کوم د غه سړی
لِلَّذِي عَمِلَهُ ". رَوَاهُ مُسلم[1]
يا د ده د غه عمل د هغه چا لپاره دی، د چا لپاره چې ده هغه عمل کړيدی.

توضيح: اغنی الشرکاء: يعنې زه د شرک په معامله کې د ټولو شريکانو نه ډير بې نيازه يم. دلته شرکاء په معنې د مشارکت دی. چې په مصدرې معنی باندې دی. مطلب دا دی چې زه د شرک او مشارکت په معامله کې د ټولو شريکانو نه بيخې بې نيازه او بيزره يم. زه خالق او مالک يم، زما په ذات او صفاتو کې هيڅوک زما سره نشې شريکيدلی. کوم سړې چې د رياکارۍ په توګه باندې زما سره څوک شريک کړي. زه هغه سړی د دغه عمل سره ردوم، اوس نو رياکار سړی دې خپل ثواب د الله تعالی نه نه غواړي بلکې د چا لپاره چې هغه عمل کړيدی، خپل بدله دې د هغه نه وغواړي. کله چې دې رياکار دغه عمل د الله تعالی لپاره ندی کړی، نو وس الله تعالی به هغه ته څه ورکړي. او ولې يې ورکړي؟(مرقات ۹/۱۷۵)

وشرکه: د واؤ حرف د مع په معنې دی . يعنې رياکار سړی او د هغه رياکارۍ چې دا شرک اصغر دی دواړه پريږدم. دا عمل د هغه چا لپاره دی ، د چا لپاره چې ده دا عمل کړيدی. لهٰذا د هغه نه دې دا خپله بدله ترلاسه کړي. زه د دې عمل نه بيزاره يم. (مرقات ۹/۱۷۵)

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۸۹ رقم الحديث (۲۹۸۵-۴۶) وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

اورولو او ښودنې په عمل باندې سخت وعيد

﴿۳﴾ وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَمَّعَ
او حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم سړی چې خلکو ته د اوريدنې
سَمَّعَ اللهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي
او د شهرت ترلاسه کولو لپاره څه عمل وکړي، نو الله تعالى به دهغه حال خلکو ته واوروي، دغه شان کوم سړی چې د
يُرَائِي اللهُ بِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
خلکو د ښودنې لپاره څه عمل کوي نو الله تعالى به هغه ته د ريکارۍ سزا ورکوي.

توضيح: سمع الله به : يعنې کوم سړی چې خلکو ته د ښودنې او د شهرت ترلاسه کولو لپاره څه عمل وکړي، نو الله تعالى به د قيامت په ورځ باندې د هغه عيبونه ښکاره کړي، او د هغه پټ حالونه به خلکو ته واوروي.او هغه به رسوا کړي. دغه شان کوم سړی چې د خلکو د ښودنې په غرض سره څه عمل وکړي، الله تعالى به د قيامت په ورځ باندې دغه سړی د ټولو خلکو مخې ته راولي او وبه يې ښايي چې دې سړي دا عمل د فلانکې لپاره کړی ؤ، وس زما سره د ده هيڅ ثواب نشته دی. دا سړی دې خپل ثواب هغه سړی ته په ورتګ سره ترلاسه کړي. د چا لپاره چې ده دا عمل کړيدی. دا دناکامۍ او رسوايي ډيرغټ صورت دی. (مرقات ۹/۱۷۷)

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَأَيْتَ
او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يو پوښتنه کونکي پوښتنه وکړه چې ما ته د هغه سړي په
الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْخَيْرَ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ.
اړه باندې خبر راکړه چې هغه نيک کار کوي، او د هغې په وجه باندې خلک د هغه ستاينه او صفت کوي؟
وَفِي رِوَايَةٍ: يُحِبُّهُ النَّاسُ عَلَيْهِ قَالَ:
او په يو روايت کې دا هم دي چې او دغه خلک د هغه سره مينه کوي. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د خلکو د دې سړي
« تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ » . رَوَاهُ مُسلم[2]
ستاينه او صفت کول او د ده محبوب ساتل په حقيقت کې د ده په حق کې د مؤمن په ذريعه سره ژر بشارت ورکړی کيدونکی دی.

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۳۵ رقم الحديث ۶۴۹۹ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۸۹ رقم الحديث (۲۹۸۷-۴۸)

[2] اخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۳۴ رقم الحديث (۲۶۴۲-۱۶۶) وابن ماجه في ۲/۱۴۱۲ رقم الحديث ۴۲۲۵.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

رياکارۍ دې خپل ثواب دهغه چانه واخلي دچا لپاره چې يې عمل کړيدی

﴿۵﴾ عَنْ أَبِي سعدِ بن أَبِي فَضَالَةَ عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
حضرت ابوسعيد بن ابی فضاله رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
"إِذَا جَمَعَ اللهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ
کله چې الله تعالى د قيامت په ورځ باندې چې د هغې په راتلو کې هيڅ شک نشته دی، خلک راغونډ کړي،
نَادَى مُنَادٍ: مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عمله لله
نو يو اعلان کونکې فرشته به دا اعلان وکړي چې کوم سړي په خپل هغه عمل کې چې هغه د خداې لپاره کړی وي،
أحدا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ
د خدای نه غيره څوک بل څوک ورسره شريک کړی وي، نو هغه لپاره پکار دي چې هغه د خپل دې عمل ثواب
مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللهِ فَإِنَّ اللهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ". رَوَاهُ أَحْمَدُ[۱]
د هغه غير الله نه وغواړي څوک چې هغه شريک کړی ؤ. (مسند احمد)

رياکار به په قيامت کې ذليله وي

﴿۶﴾ وَعَنْ عبد الله بن عَمْرو أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې
«مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ سَمَّعَ اللهُ بِهِ
کوم سړی چې خپل عمل ته د خلکو په مينځ کې شهرت ورکړي نو الله تعالى به د هغه د رياکارۍ عمل د خپل
أَسَامِعَ خَلْقِهِ وَحَقَّرَهُ وَصَغَّرَهُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي «شعب الْإِيمَان»[۲]
مخلوق غوږونو ته ورسوي، د غه شان هغه به رسوا کړي، او سپک او ذليله به يې کړي.

توضيح: من سمّع: دا د باب تفعيل نه د ماضي صيغه ده. چې د اورولو په معنى دی. پاس په حديث نمبر: ۳ کې د دې تشريح او توضيح تيره شويده. اسامع: دا جمع الجمع ده. چې د اَسْمُعٌ جمع ده. او اَسْمُعٌ د سَمْعٌ جمع ده. او

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۹۲ رقم الحديث ۳۱۵۴ واحمد في المسند ۳/۴۶۶.

(۲) رواه البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۳۱ رقم الحديث ۶۸۲۱ واحمد في المسند ۲/۱۶۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

سُمّعْ د غوږ په معنی دی. لکه څنګه چې اکالب او اکلب او کلب دي. د دې نه مراد د خلکو غوږونه د اوریدلو طاقت مراد دی. مطلب دا دی چې الله تعالی به د خلکو غوږونو ته د دې سړي ریاکارۍ، مکارۍ او دهوکه دغاري او شطاري رسولو باندې واوروي. چې د هغې نتیجه به دا وي چې دا سړی به ذلیله او سپک پاتې شي. چې د هغې تفصیل د دې حدیث په آخرې کلماتو کې بیان کړی شویدی چې حقره وصغره. (مرقات ۹/۱۸۰)

آخرت مقدم ساتنه کامیاب به یې

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الْآخِرَةِ

او د حضرت انس رضي الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د کوم سړي نیت چې خالص د آخرت طلب

جَعَلَ اللهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ

وي. نو الله تعالی د هغه زړه غني کوي. او د هغه پریشانی راغونډولو باندې ورته اطمینان ورکوي. هغه ته دنیا

وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الدُّنْيَا

راځي خو د هغه په نظر کې د دنیا څه وقعت نه وي. او د کوم سړي نیت او اصل مقصد چې د دنیا طلب وي

جَعَلَ اللهُ الْفَقْرَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَشَتَّتَ

نو الله تعالی د هغه فقر او احتیاج د هغه د سترګو مخې ته کړي او هغه لره په هره معامله کې خپاره شوې

عَلَيْهِ أَمْرَهُ وَلَا يَأْتِيهِ مِنْهَا إِلَّا مَا

خاطري او د ذهني خپرتیا او د فکرونو ښکار جوړ کړي. دغه شان دنیا هم هغه ته دومره ورکول کیږي

كُتِبَ لَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ أَبَانٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ[2]

څومره چې خدای د هغه لپاره لیکلي وي. (ترمذی، مسند احمد، سنن دارمی)

د نیکۍ په حالت باندې خوشحالیدل، ریا نه ده

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ بَيْنَا أَنَا فِي بَيْتِي فِي مُصَلَّايَ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې ما وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زه په خپل کور کې په مصلی باندې

إِذْ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ فَأَعْجَبَنِي الْحَالُ الَّتِي

وم چې دغه وخت زما خواته یو سړی راغلو. ما ته په دې خبره خوشحالي وشوه چې هغه زه د دې لمونځ کولو په

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۲ رقم الحديث ۲۴۶۵ وابن ماجه في ۲/۱۳۷۵ رقم الحديث ۴۱۰۵.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۵/۱۸۳

رَآنِي عَلَيْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَحِمَكَ اللهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ
حالت کې ليدلی يم. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ابوهريره! په تا دې د الله تعالى رحمت نازل شي.
لَكَ أَجْرَانِ: أَجْرُ السِّرِّ وَأَجْرُ الْعَلَانِيَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[1]
ته د دوه ثوابونو حقدار وګرځيدلې. يو د پټولو او بل د ښکاره کولو. (روايت کړې دې ترمذی شريف)

توضيح: فاعجنی الحال: يعنې زه په کور کې په پټه باندې لمونځ کوم. خو د دې نيکۍ په حالت کې چې ما څوک ويني نو زه خوشحاليږم آيا دا خو رياکارې نه ده؟نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب کې وفرمايل چې دا رياکارې نده بلکې په دې باندې به دوه اجره درکول کيږي. يو اجر خو په پټه باندې د لمونځ کولو په وجه درکول کيږي. او دويم اجر به په دې درکول کيږي چې ته د خپل عبادت په حالت خوشحاله شوې. په عبادت باندې خوشحاليدل هم عبادت دی. په يو روايت کې دي: اجرالسر واجرالعلانية، د دواړو مفهوم نژدې نژدې دی. (مرقات۹/۱۸۱)

د دينداره رياکار لپاره سخت وعيد

﴿۹﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ
او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: په آخره زمانه کې به داسې خلک هم پيدا شي
يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّينِ
چې هغوي به د دين په نوم باندې د نيا طلبګاروي. د چاپلوسۍ او عاجزۍ ښکاره لپاره به د ګډو څرمنې اغوندي
أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ يَقُولُ اللهُ:
د دوي ژبې خو به د ګوړې نه ډيرې خوږې وي. خو د هغوي زړونه به د شرمخانو د زړونو په شان وي. الله تعالى فرمائی
«أَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يجترؤون؟ فَبِي حَلَفْتُ
چې آيا دا خلک زما د ارخ نه د مهلت ورکيدلو او زما د وخت ورکولو په وجه باندې ما ته دهوکه راکوي
لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً
يا په ما باندې زړورتيا کوي. پس زه خپل ځان قسم خورم چې زه به يقيناً په دې خلکو باندې د دوي نه فتنه

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۱۲ رقم الحديث ۲۳۸۴وابن ماجه في ۲/۱۴۱۲ رقم الحديث ۴۲۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

تدع	الْحَلِيم	فيهم	حيران »	.	رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (۱)

او بلا مسلط کوم. او هغه آفتونه او مصيبتونه به غټ غټ هوښياران او عقلمند خلک به هم عاجز او حيران کړي.

توضیح: يختلون الدنيا: دا صيغه د باب ضرب يضرب نه دی. د هوکه ورکولو باندې يو څيز ترلاسه کولو ته خَتلٌ وايي . مطلب دا دی چې دين د دنيا د حصول ذريعه جوړه کړه. او په دې کې هم د دهوکې نه کار واخستلو. چې د رياکارۍ پيړې جامې يې خپل کړو، بلکې د ګډو بيزو د څرمنو نه يې جامې جوړولو باندې واغوستلې. دې لپاره چې خلک ورباندې د زاهد او تارک الدنيا ګمان وکړي. ژبه يې د شهدو نه ډيره خوږه وساتله. دې لپاره چې خلک ګمان وکړي چې د زبردست اخلاقو والا دی. خوږو خبرو والا دی. او حال دا ذی چې د هغه زړه د شرمخ د زړه په شان سخت دی.

من اللين: يعنې د خود غرضۍ لپاره چاپلوسۍ او عاجزۍ او تواضع به کوي. هريو د مال او جاه خاوند مخې ته به ښيږي. **أبي يغترون:** مطلب دا دی چې زما مهلت او وخت ورکولو په وجه باندې دا خلک په دهوکه کې غورزيدلي دي. يا دا مطلب دی چې په ما باندې جرأت کوي او نه يريږي، نه توبه کوي او نه منع کيږي.

فبي: يعنې د خپل ذات قسم خورم چې زه په په دوې باندې داسې فتنه راولم چې **الحليم:** عقلمند، هوښيار، صبرناک به هم په دې حيران پاتې شي. يعنې د ظالم حکمرانانو په صورت کې چې هغه به د دوې نه وي. په هغوې باندې به خپل داسې قهر او غضب نازل کړم چې دا رياکار خلک به د ځان خلاصون لپاره لاس خپې وهي خو د نجات لار به نه مومي. او ذليل او خوار به پاتې شي. (مرقات ۹/۱۸۳)

خوږې ژبې او د سختو زړونو خلک

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى							
او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تبارک و تعالی							
قَالَ: لَقَدْ	خَلَقْتُ	خَلْقًا	أَلْسِنَتُهُمْ	أَحْلَى	مِنَ	السُّكَّرِ	وَقُلُوبُهُمْ أَمَرُّ
فرمايي: چې ما داسې مخلوق پيدا کړيدی چې د هغوې ژبه د ګوړې نه ډيره خوږه ده. چې د هغوې زړونه							
مِنَ	الصَّبِرِ	فَبِي	حَلَفْتُ	لَأُتِيحَنَّهُمْ	فِتْنَةً		
د صِبر ونې ډير ترخه دي. پس زه خپل قَسم خوړلو سره وايم چې زه به د غه خلکو باندې داسې بلاګانې							

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۲ رقم الحديث ۲۴۰۴.

تَدَعُ	الْحَلِيمَ	فِيهِمْ	حَيْرَانَ	فَبِي	يغترّون	أم عليَّ

نازل کړم چې هغه به د غبې نا غبې عقلمند سړی هم حيران او عاجز کړي. نو آيا دغه خلک ما ته دهوکه

يجترؤون؟" رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: هَذَا حديثٌ غَرِيب[1]

راکوي يا ما باندې زړورتيا کوي. (روايت کړی دی ترمذی)

توضيح: احلى: يعني دا خلک به منافقان او ملحدان وي. ژبه خو به يې ډيره خوږه وي. د انبياء کرامو خبري به کوي. خو د کردار او عمل په اعتبار سره به د هغوی زړونه د غلطو عقيدو او غلطو سوچونو نه ډک وي. **أَمَرُّ**: دا د مرارة نه دی. يعني ډير بې خونده او ترخه به وي.

الصبر: يو بې خونده بوټی دی. دا که په شهدو يو ځای شي نو ټول شهد به خراب شي. دېته په پښتو کې صبر ونه او اردو کې ايلوا وايي. **لَأُتِيحَنَّ**: إِتَاحَة نه دی. مقرر کولو او مسلط کولو په معنی دی. **الحليم**: عقلمند، هوښيار او صبر کونکي سړي ته حليم وايي. مطلب دا دی چې دې رياکار او منافق، بدکرداره خلکو دهوکې، او مکارۍ، او بدکردارۍ کتلو باندې سنجيده او باوقاره خلک به هم ګوته په خله ورته حيران پاتې شي. د داسې خلکو لپاره په دې حديث کې او د دې نه مخکې حديث نمبر: ۹ کې سخت وعيد دی. (مرقات ۹/۱۸۴)

دميانه روۍ فضيلت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً					
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: د هر شي لپاره حرص او زياتی وي.					
وَلِكُلِّ	شِرَّةٍ	فَتْرَةٌ	فَإِنْ	صَاحِبُهَا	سَدَّدَ وَقَارَبَ
او د هر زياتي لپاره سستي وي. نو که عمل کونکې د ميانه روۍ نه کار واخستلو او اعتدال ته نژدې و					
فَارْجُوهُ	وَإِنْ	أُشِيرَ	إِلَيْهِ	بِالْأَصَابِعِ	
نو د ده په اړه باندې اميد ساتئ. او دهغه اړخ ته په ګوتو سره اشاره وکړی شوه نو تاسو هغه لره (عابد او صالح)					
فَلَا تعدوه». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[2]					
مه ګڼئ (ځکه چې په حقيقت کې هغه رياکار دی)					

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۲ رقم الحديث ۲۴۰۴.

[2] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۸ رقم الحديث ۲۴۵۳وابن ماجه في ۲/۱۴۰۵ رقم الحديث ۴۲۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: شرة: شرة تیز والی، چستي او نشاط په معنې دی. **فترة:** دا دفتور نه دی. سستی ته وایي. مطلب دا دی چې کوم یو تحریک یا جماعت د ابتداء نه په وجود کې راشی نو ډیر چستۍ او نشاط سره کار کوي. دغه شان انسان چې کله په ابتداء کې په عبادت کې شروع شي نو ډیره تیزي او چستی ښایي، خو څه زمانه وروسته هم دغه خلک او دهغوي تحریکونه سست شي. ځکه چې د عروج نه وروسته زوال فطري قانون دی. ګویا په ابتداء کې افراط وي، او په انتهاء کې تفریط راځي. په دې جریان کې ریاکارې ضرورې شاملیږي. په دې حدیث کې سدد او د قاربو الفاظ سره نبی کریم ﷺ د میانه روی او اعتدال تعلیم ورکړیدی. (مرقات ۹/۱۸۴)

فارجوه: یعنې چا چې د افراط تفریط نه پاکه د اعتدال لاره خپله کړه نو د هغه د کامیابۍ امید ساته.ځکه چې هغه د ځان ښودنې او ریاکارۍ نه محفوظ پاتې شو.

بالاصابع: یعنې شهرت او د ځان ښودنې مقام ته ورسیدلو.او خلکو په ګوتو سره د هغه اړخ ته اشاره کول شروع کړل چې واه واه هغه روان دی. او فلانکی داسې دی، او داسې دی.دا اشارې چې څنګه په ګوتو سره کیږي، دغه شان د ژبو په چیغو سره هم کیږي. دغه شان دا چیغې چې څنګه چې د دنیا د دولت او منصب په وجه باندې کیدلی شي، دغه شان دین او دینداری په وجه باندې هم کیدلی شي. دا اشارې ځکه مذموم دي چې په دې سره انسان حب جاه، تکبر او ریاکارۍ کې اخته کیږي.حضرت تهانوي رحمه الله فرمایلي چې ښاروی د خلې په ذریعه سره خوراک کولو باندې څرب (چاقیدل) کیږي.او انسان د غوږونو په ذریعه سره خپله ستاینه اوریدلو باندې څربیږي. (مرقات ۹/۱۸۴)

فلاتعدوه: یعنې دا قسم سړی د دینداری او دنیاداری په هیڅ مرتبه کې مه ګڼئ، دا که تر آخر د انجام پورې په دغه حالت باندې برقرار پاتې شي نو دا تباه حال او برباد انسان دی. هو! که توبه وکړي او د دې حالت وځي نو هغه بیله خبره ده. راتلونکی حدیث نمبر: ۱۲ کې د دې نور وضاحت دی. (مرقات ۹/۱۸۴)

د شهرت ډک ژوند د خطرونه ډک دی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت انس رضي الله عنه نبی کریم ﷺ نه نقل کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: د انسان
«بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يُشَارَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فِي دِينٍ أَوْ دُنْيَا
د بدۍ لپاره دومره کافي ده چې د دین یا دنیا په اعتبار سره د هغه اړخ ته اشاره وکړی شي مګر هغه څوک

إِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللهُ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]
چې الله تعالی محفوظ وساتي. (بيهقي په شعب الايمان كې)

الْفَصْلُ الثَّالِث

د رياكارۍ بدي

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ قَالَ: شَهِدْتُ صَفْوَانَ وَأَصْحَابَهُ
حضرت ابی تميمه (تابعي) رحمه الله فرمايي چې زه د حضرت صفوان او د هغه د ملګرو په مجلس كې هغه وخت
وَجُنْدَبٌ يُوصِيهِمْ فَقَالُوا:
حاضر شوم چې كوم وخت حضرت جندب، حضرت صفوان او د هغه ملګرو ته نصيحت كولو. بيا يې حضرت صفوان او
هَلْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا؟
د هغه ملګرو ته وويل: آيا تا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه څه اوريدلي دي؟ حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا
قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ سَمَّعَ
حديث بيان كړو. ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې كوم سړى اوروُل كوي (يعنې د خلكو اوروني او
سَمَّعَ اللهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ
شهرت تر لاسه كولو لپاره څه نيک كار كوي) نو الله تعالی به د قيامت په ورځ باندې هغه رسوا كړي. او كوم
شَاقَّ شَقَّ اللهُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
سړی چې مشقت راولي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ باندې هغه په مشقت كې واچوي. (دې اوريدلو سره)
قَالُوا أَوْصِنَا فَقَالَ
هغه وويل چې مونږ ته (څه نور) نصيحت وكړه نو (نبی كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) وفرمايل:
إِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ مِنَ الْإِنْسَانِ بَطْنُهُ فَمَنِ اسْتَطَاعَ
د انسان چې كوم شی د هر څه نه مخكې پليتيږي هغه د ده خيټه ده. نو كوم سړی چې د دې قدرت لري چې
أَنْ لَا يَأْكُلَ إِلَّا طَيِّبًا فَلْيَفْعَلْ
:هغه څه نه غيره نور څه په خپله خيټه كې وانه چوي چې هغه حلال او جائز دي. نو بيشكه دا سې كول پكار

[1] بيهقي في شعب الايمان ۵/۳۶۷ رقم الحديث ۶۹۷۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَحُولَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَنَّةِ مِلْءُ كَفٍّ مِنْ دَمٍ
دي. او کوم سړی چې د دې قدرت لري چې د هغه او د جنت ترمينځ يو لپه تويدونکې وينه ناحقه او
أَهْرَاقَهُ فَلْيَفْعَلْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ. (١)
ناجائز واقع وي نو بيشکه داسې کول پکار دي (چې د يو چا يو لپه ناحقه وينه تويولو نه ځان وساتي)

توضيح: شاق: يعنې بل يې په سخت مشقت کې واچولو.

ينتن: نتن بدبويه کيدلو ته وايي. مراد ترينه بويې ناک کيدل او شليدل دي. يعنې په قبر کې د ټولو نه مخکې خيټه بربادېږي. دغه شان په دنيا کې هم هرڅه نه مخکې خيټه خرابيږي. بيا نور اندامونه متأثره کيږي. لهٰذا انسان لپاره پکار دي چې هغه د حرام خوراک نه خيټه وساتي.

يحول: دا د حائل نه دی، پرده جوړيدلو په معنې دی. **ملأ کف:** يعنې يو ورغوې برابر وينه هم جنت ته په ننوتلو کې منع کونکې جوړه نشي. پاتې دا چې د سيرونو او منونو په حساب سره وينه وي. بيا خو به ننوتل ناممکن وي. د دې وينې نه ناجائز وينه تويول مراد دي. (مرقات ۹/۱۸۸)

د اولياء الله عظيم شان

﴿۱۴﴾ وَعَن عمر بن الخطاب أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمًا إِلَى مَسْجِدِ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او امير المؤمنين حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دی چې هغه يو ورځ د رسول الله صلى الله عليه وسلم جومات ته لاړو
فَوَجَدَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَاعِدًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِي فَقَالَ:
نو هغه حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نبی کريم صلى الله عليه وسلم د قبر مبارک خواته په ژړا وليدلو، حضرت عمر رضي الله عنه
مَا يُبْكِيكَ؟ قَالَ: يُبْكِينِي شَيْءٌ
دهغه نه پوښتنه وکړه چې ولې ژاړې؟ حضرت معاذ رضي الله عنه جواب ورکړو، د يوې خبرې يادېدلو زه په ژړا کړم
سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ يَقُولُ: «إِنَّ يَسِيرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ
چې هغه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي وه. چې لږه ريا (هم) شرک دی. کوم سړی چې د خدای د
وَمَنْ عَادَى لله وَلِيًّا فَقَدْ بَارَزَ الله بِالْمُحَارَبَةِ إِنَّ الله يُحِبُّ الْأَبْرَارَ
دوست سره دښمني وکړه نو هغه ګويا د خدای سره مقابله وکړه. او د هغه سره يې جنګ وکړو. يقيناً الله تعالى پرهيزګاران،

(١) أخرجه البخاري في صحيحه ١٣/١٢٨ رقم الحديث ٧١٥٢.

الْأَتْقِيَاءَ الْأَخْفِيَاءَ الَّذِينَ

او د مخفي حال والا خلک دوستان ساتي. او دا هغه خلک دي چې د هغوئ عام حالت خو دومره کمزوری او د

إِذَا غَابُوا لَمْ يُتَفَقَّدُوا

عامو خلکو په نظر کې دومره د توجه وړ نوي چې کله هغه د نظرونو نه غائب وي نو د هغوئ پوښتنه نشي کیدلی

وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ يُدْعَوْا وَلَمْ يُقَرَّبُوا

او کله چې موجود وي نو هغه نه راغوختلی کیږي. او که هغه راوغوختلی هم شي نو خواته نه کینولی کیږي او دا

قُلُوبُهُمْ مَصَابِيحُ الْهُدَى يَخْرُجُونَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]

د هغوئ زړونه به د هدایت ډیوې وي. خلک د هر تورتم زمکې نه راوځي. (ابن ماجه، بیهقی شعب الایمان)

توضیح: ابرار: دا د بَر جمع ده. نیک عمله خلکو ته وایې.

الاتقیاء: دا د تقي جمع ده. پرهیزګاره خلکو ته وایې.

الاخفیاء: د پټ حالت او ګمنام خلکو ته وایې.

لم یتفقدوا: دا د تفقد نه د مجهولې صیغه ده. د لټولو په معنې دی. یعنې که دا خلک څه کار پسې غائب شي نو څوک به هم د دوی د لټون ضرورت محسوس نکړي.

لم یدعوا: یعنې که حاضر وي نو بیا هم څوک هغه خپل دعوت نه راغواړي.

لم یقربوا: یعنې که دعوت ته هم راوبللی شي یا خپله راشي نو څوک هغوئ له خپلې خواته کینولو ته تیار نوي. بلکې د پیزار خواته په بیکاره ځای کې کینولی کیږي. د خلکو په نزد باندې خو به دا دومره کمزورې وي خو د الله تعالی په نزد بادنې دا روښانه ډیوې دي، د هغوئ زړونه د هدایت په رڼا باندې روښانه دي. عبدالرحمان بابا رحمه الله د دغه شان خلکو په اړه باندې په خپله ژبه فرمایلې ؤ:

چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي مالیدلی دی رفتار د درویشانو

غبراء مظلمة: غبراء د خضراء: په مقابله کې زمکې ته وایې. د دې جملې دوه مفهومه دي. یو مفهوم یې دا دی چې دا خلک د ایمانې رڼا په ذریعه سره د هر تور او تورتم مشکل نه په ډیره آسانی سره وځي. او کامیابیږي. دویم مفهوم دا دی: چې دا خلک به د دومره کمزورې حال والا وي چې تنګ او تورتم، کچه کورونو کې وسیږي، چې په هغې کې د ژوند سهولتونه نه وي، هغې ته ځي او د هغې نه راوځي.

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۲۰ رقم الحدیث ۳۹۸۹ والبیهقي في شعب الایمان ۵/۳۲۸ رقم الحدیث ۶۸۱۲ وهو عن معاذ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ګويا ګمنام او د کمزورۍ حال والا دي. دا مفهوم علامه طيبي بيان کړيدی چې ډير واضح دی.

د ولي پيژندنه: وس د دې حديث څه تفصيل په دې توګه دی چې حضرت معاذ رضي الله عنه ژړا وجه دا وه چې د شرک داسې باريکه ښاخونه دي، چې په کتلو سره د دې نه ځان ساتنه ډير مشکل دي. لکه چې ويلی شويدي: **فانه ادق من دبيب النملة السوداء على الصخرة الصماء في الليلة الظلماء**.(مرقات) يعنې شرک د تور ميږي په توره شپه باندې په يو مضبوط تور کاڼي باندې په قلار مزل د پتوالي نه هم ډير پټ کيدلی شي. بهرحال د دې حديث کې د الله تعالى د ولي ذکر راغلی دی. د ولي په پيژندنه(تعريف) کې د علماؤ بيلا بيل اقوال دي: يو تعريف يې دا دی: چې هغه په دليل محکم سره صحيح عقيده اخستلو باندې په ټول شريعت باندې تلونکی وي. د دې تعريف د لاندې علماء حق په اولياء الله کې داخليږي. ملا علي قاري فرمايي: چې ځينو اکابرو ويلي دي: **ان كان العلماء ليسوا باولياء الله فليس لله الولى** (مرقات)

د ېته نژدې ملا علی قاری د ولي تعريف په دې توګه کړيدی: **ان الاولياء هم العلماء العاملون**. (مرقات) د ذکر شوي حديث د الفاظو او مفهوم سره نژدې نژدې دا روايت هم دی: چې دا حديث قدسي دی: **قال الله تعالى: اوليائي تحت قبائي لايعرفهم غيري**. په يو بل حديث قدسي کې داسې راغلي دي: **من عادى لي وليا فقد آذنته بالحرب**. يو روايت کې داسې راغلي دي: **واني لاغضب لأوليائي كما يغضب الليث للجرو**. (مرقات) الله تعالى دې هر مسلمان د اولياء الله د توهين او سپکاوي نه وساتي. (مرقات۹/۱۸۹) چا څه ښه ويلي دي:

خاکسارانِ جہاں را بحقارت منگر | *تو چہ دانی کہ دریں گرد سوارے باشد*

اس دور میں کچھ خاک نشینوں کے بدولت | *باقی اسلام کی عظمت ہے*

د مخلص مسلمان ظاهر او باطن يو شان وي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا صَلَّى فِي
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بنده چې کله په ښکاره توګه باندې
الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ وَصَلَّى فِي السِّرِّ فَأَحْسَنَ
لمونځ کوي او ښايسته يې کوي او کله چې په پټه توګه باندې يې کوي (نو هغه وخت هم) په ښايست سره يې کوي.
قَالَ اللهُ تَعَالَى: هَذَا عَبْدِي حَقًّا". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]
نو الله تعالى فرمايي چې زما دا بنده د صدق او رښتيا والا دی.

(1) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۵ رقم الحديث ۴۲۰۰.

د رياكارو خلكو نښه

﴿۱۶﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَقْوَامٌ

او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت دى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په آخره زمانه كې به داسې قومونه

إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ» . فَقِيلَ:

او ډلي هم پيدا شي چې هغه خو په ظاهره باندې به دوستان ښكاري خو په باطنه كې به دشمنې كوي. عرض وكړى

يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ. قَالَ:

شو چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم! داسې به ولې او په څه وجه كيږي؟ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دې

«ذَلِكَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ وَرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ من بعض»[1]

وجې نه به كيږي چې په هغوې كې به ځينې د ځينو نه غرض او لالچ لري. او ځينې به د ځينو نه ويريږي.

توضيح: **اخوان العلانية**: يعنې يو بل سره به مخامخ كيږي نو د تصنع او بناوټ او ځان ښودنې په وجه به پاخه دوستان ښكاري. خو كه لږ ترينه يو خوا بل خوا غائب شي. نو بيا پاخه دښمنان شي. د يو بل په خپو باندې تبرونه وهي. قيامت ته به نږدې د خلكو دغه حالت وي. (مرقات۹/۱۹۱)

برغبة بعضهم: يعنې د لالچ او طمع په وجې باندې به د يو بل خود غرضه دوستان وي. خو د يو بل نه به خوف او ويره او ضرر په وجه باندې ويريږي. گويا غرضونو او مقصدونو او طمع او لالچ بنديګان به وي. (مرقات۹/۱۹۱)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُولُ: «مَن

او حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي: كوم سړي چې د

صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ

ښودنې لپاره لمونځ وكړو، هغه شرك وكړو. كوم سړي چې د ښودنې لپاره روژه ونيوله هغه شرك وكړو.

وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ» رَوَاهُمَا أَحْمد[2]

او كوم سړي چې د ښودنې لپاره صدقه او خيرات وكړو هغه شرك وكړو.

---

(1) اخرجه احمد في المسند ۵/۲۳۵

(2) اخرجه احمد في المسند ۴/۱۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ بَكَى فَقِيلَ لَهُ:
او د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه په اره باندې نقل شویدي چې (یو ځل هغه په ژړا شو) پوښتنه ترینه وشوه چې
مَا يُبْكِيكَ؟ قَالَ: شَيْءٌ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د ژړا سبب دې څه دی؟ هغه جواب ورکړو چې زه هغه خبرې وژړولم چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوریدلې وه.
يَقُولُ فَذَكَرْتُهُ فَأَبْكَانِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
دا وخت ما ته هغه خبره را یاده شوه نو زه په ژړا شوم. او هغه خبره دا ده چې نبی کریم صلى الله عليه وسلم به فرمایل:
«أَتَخَوَّفُ على أُمتِي الشِّرْكِ وَالشَّهْوَةِ الْخَفِيَّةِ» قَالَ:
زه په خپل امت باندې د شرک او پټو خواهشاتو نه یریږم. حضرت شداد رضي الله عنه فرمايي چې (ما د اوریدلو سره)
قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتُشْرِكُ أُمَّتُكَ مِنْ بَعْدِكَ؟ قَالَ: «نَعَمْ أَمَا
وویل چې آیا ستا امت به ستا نه وروسته په شرک کې اخته شي؟ نبی کریم صلى الله عليه وسلم وفرمایل: هو! یاد ساته!
إِنَّهُمْ لَا يَعْبُدُونَ شَمْسًا وَلَا قَمَرًا وَلَا حَجَرًا وَلَا وَثَنًا وَلَكِنْ يُرَاؤُونَ
زما د امت خلک به د لمر عبادت نکوي. نه به د سپوږمۍ عبادت کوي، او په ښکاره به د بتانو عبادت نکوي.
بِأَعْمَالِهِمْ . وَ الشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ أَنْ يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا
خو خلکو ته د ښودنې لپاره به نیک کارونه کوي. او پټ خواهش دا دی چې یو کس د دوی نه به د روژې په حالت کې سبا کړي
فَتَعْرِضَ لَهُ شَهْوَةٌ مِنْ
او بیا په ده باندې په نفساني خواهشاتو کې یو خواهش غالبه شي او هغه د خواهش د غلبې د وجې نه خوراک کولو یا
شَهَوَاتِهِ فَيَتْرُكَ صَوْمَهُ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»[1]
کورولی کولو باندې خپله روژه ماته کړي. (بیهقی فی شعب الایمان)

ریاکارې د دجال د فتنې نه ډیره خطرناک ده

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي سعيد الْخُدْرِيِّ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ الْمَسِيحَ
او حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه روایت دی چې مونږ خپل مینځ کې د مسیح دجال د فتنو ذکر کولو کولو

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۶ رقم الحديث ۴۲۰۵ واحمد في المسند ۴/۱۲۶ .

الدَّجَّالَ فَقَالَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ

چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغلو او زمونږ سره کیناستلو او بیا یې وفرمایل چې آیا زه تاسو ته د هغه څه په اړه باندې

بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ؟» فَقُلْنَا: بَلَى

ونه وایم چې هغه زما په نزد باندې د مسیح الدجال د فتنې نه هم ډیر خوفناک دی. مونږ ووېل چې هو!

يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «الشِّرْكُ الْخَفِيُّ أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ

یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هغه شی شرک خفي دی. مثلاً یو سړی لمونځ لپاره ودریږي او

فَيُصَلِّي فَيُزَيِّنُ صَلَاتَهُ لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رجلٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه"(۱)

لمونځ کوي او بیا په دې لمونځ کې غلو او زیاتی کوي فقط د دې لپاره چې څوک هغه له په لمونځ کولو باندې ویني.

توضيح: أَخْوَفُ : دجال فتنه خو به ظاهریږي ، ځکه د دې نه ځان ساتل په دومره ګران نه وي. خو د ریا کارۍ فتنه خو داسې پټه وي چې ښه ښه خلک د دې ښکار کیږي. نو ځکه دا د دجال د فتنې نه لویه بللی شویده. دغه شان دلته په حدیث کې دا نه دي بیان شوي چې دا فتنه د دجال د فتنې نه لویه فتنه ده . ممکنه ده چې دا تشبیه د مادیاتو او دنیاوې اعتبار سره وي چې د دجال په فتنې سره به سړې ته دنیاوې نقصان رسیږي. او حال دا دی چې د څوک به د دجال د پروګرام نه انکار کوي لیکن په ریا کارۍ سره د مسلمان د ایمان نقصان کیږي، ځکه دا ډیر خطرناک دی. (مرقات ۹/۱۹۳)

﴿۲۰﴾ وَعَنْ مَحْمُود بن لبيد أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَخْوَفَ

او حضرت محمود بن لبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (مسلمانانو!) ډیر زیات خوفناک شی

مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ» قالوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ؟

چې د هغې نه زه د تاسو یروم. شرک اصغر دی. صحابو عرض وکړو چې یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! او هغه شرک اصغر څه

قَالَ: « الرِّيَاءُ » . رَوَاهُ أَحْمَدُ . وَ زَادَ الْبَيْهَقِيُّ فِي « شُعَبِ الْإِيمَانِ » :

دی؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ریا (احمد) او بیهقی په شعب الایمان کې دا الفاظ نقل کړیدي چې

" يَقُولُ اللهُ [illegible] يَوْمَ يُجَازِي الْعِبَادَ بِأَعْمَالِهِمْ :

الله تعالی به په هغه ورځ چې بند[illegible] نو ته به د هغوی اعمالو بدله ورکول کیږي، ریا کارانو ته به وفرمایي

اذْهَبُوا	إِلَى	الَّذِينَ	كُنْتُمْ	تُرَاؤُونَ	فِي	الدُّنْيَا	فَانْظُرُوا هَلْ

چې تاسو د هغه خلکو خواته لاړ شئ چاته چې د ښودنې لپاره تاسو عمل کولو. او وګورئ چې تاسو ته

تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً وَخَيْرًا؟"[۱]

د هغوئ د اړخ نه جزاء یا ښیګړه درکول کیږي او که نا؟

ښه عمل خپله په خلکو باندې ظاهریږي

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ أَنَّ رَجُلًا عَمِلَ

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: که یو سړی په یو داسې

عَمَلًا فِي صَخْرَةٍ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كَوَّةَ خَرَجَ

غټ کاڼي کې هم نیک عمل وکړي چې نه خو په هغې کې څه دروازه وي او نه څه روشندان وي، نو د هغه د غه

عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ»[۲]

عمل به په خلکو کې مشهور شي. که هغه عمل هر څنګه وي.

توضیح: صخرة: مضبوط کاڼي او کلک ګټ ته صخرة وايي. کوة: په دیوال کې دننه ورکوټې د رڼا ځای ته کوة وايي. چې هغې ته طاقچه یا روشن دان هم ویلی شي. د دې حدیث یو مطلب دا دی چې که یو سړی په اخلاص سره په پورا پټوالي او رازدارۍ سره عمل کوي. او غواړي چې چاته د هغه خبر ونشي خو بیا به هم الله تعالی د ده دا عمل خلکو ته ښکاره کوي. دې لپاره چې دې سړي ته په دنیا کې د دې میوه ورکړی شي. لهذا د ریاکارۍ هیڅ ضرورت نشته دی. د دې حدیث دویم مطلب دا کیدلی شي چې یو مخلص بنده لپاره پکار دي چې هغه خپل نیک اعمال په هره توګه باندې د پټولو کوښښ وکړي ځکه چې د ریاکارۍ ډیره لویه خطره ده. ډیرځله یو سړی په پټه توګه باندې یو عمل کوي خو بیا هم هغه عمل د داسې ځایونو نه ښکاره کیږي، د کوم ځای نه چې خپله د دې سړي هم څه ګمان نه وي. لهذا پوره احتیاط کول په کار دي. دا مطلب ډیر واضحه نه دی ځکه چې د راتلونکي حدیث نه د اول مطلب تائید کیږي. (مرقات ۹/۱۹۵)

(۱) رواه البیهقي في شعب الایمان ۵/۳۳۳ رقم الحدیث ۶۸۳۱.

(۲) رواه البیهقي في شعب الایمان ۵/۳۵۹ رقم الحدیث ۶۹۴۰

﴿۲۲﴾ وَعَن عُثْمَان بن عَفَّان قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ سَرِيرَةٌ صَالِحَةٌ أَوْ سَيِّئَةٌ أَظْهَرَ الله مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهِ».[1]

او حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په كوم سړي كې چې يو ښه يا بد خصلت پټ پروت وي. نو الله تعالى دغه عادت او خصلت ښكاره كونكى يو داسې شى پيدا كړي چې د هغې په ذريعه باندې دغه سړى د دې خصلت او عادت سره وپيژندلى شي.

توضيح: رداء: څادر ته رداء وايي. دلته د څادر نه علامت او پيژندل مراد دي. لكه د نارينؤ د ښنو نه بيل قِسم څادرونه دي. دغه شان د ښځو د ښنو نه هم بيل قِسم څادرونه دي. چې په هغې سره د دواړو بيله بيله پيژندنه كيږي. د حديث مطلب دا دى چې په كوم سړي كې ښه يا بد خصلت وي چې هغه د پټ ساتلو په وجه باندې د عامو خلكو په نظر كې نه راځي. ليكن الله تعالى په دغه سړي كې يو داسې صورت يا هيئت يا نښه رانبكاره كړي چې د هغې نه په خلكو باندې ظاهره شي چې دا سړى د دې قبيلې سړى دى. (مرقات ۹/۱۹۵)

دوه مخې پاليسي اسلام لپاره ډيره خطرناكه ده

﴿۲۳﴾ وَعَن عمر بن الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ كُلَّ مُنَافِقٍ يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ وَيَعْمَلُ بِالْجَوْرِ» رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[2]

او حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه د دې امت په اړه باندې چې د څه نه ډير يريږم هغه د هر منافق (يعنې رياكار او فاسق) شر دى. چې خبرې خو هغه د علم او حكمت او د وعظ او نصيحت كوي خو كار د زياتې او ناراستۍ كوي.

توضيح: بالحكمة: يعنې خلكو ته د ښودنې لپاره دا منافقان خلک علم او حكمت، او د وعظ او نصيحت ښې ښې خبرې به كوي خو خپله به هغوى په دې باندې عمل نه كوي. د هغوى هم دا غه دوه مخې پاليسې يو داسې شى دى چې په هغې سره اسلام او مسلمانانو ته ډير زيات نقصان رسيږي.

---

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۵۹ رقم الحديث ۶۹۴۲.

(۲) رواه البيهقي في شعب الايمان ۲/۲۸۴ رقم الحديث ۱۷۷۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دا نبی کريم ﷺ د خپل امت لپاره خطرناکه ګرځولي ده. او هم دا منافقت دی. چې د اسلام او د مسلمانانو بنياد خوزوي. نن سبا د دې پاليسۍ پرمختګ دی. مسلمان بدنام دی. او امريکه و د هغه غلامان نيکان دي. د حديث خلاصه دا ده چې دا منافقان خو خلک خو به خبرې ډيرې ښايسته ښايسته کوي. او عمل به خالص د ظلم په بنياد باندې کوي. (مرقات ۹/۱۹۵)

﴿۲۴﴾ وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ حَبِيبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَالَ اللهُ تَعَالَى:
او حضرت مهاجر بن حبيب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي چې
إِنِّي لَسْتُ كُلَّ كَلَامِ الْحَكِيمِ أَتَقَبَّلُ وَلَكِنِّي أَتَقَبَّلُ هَمَّهُ وَهَوَاهُ فَإِنْ كَانَ هَمُّهُ وَهَوَاهُ
زه د عقلمند او هوښيار هره خبره نه قبلوم. بلکې زه د هغه قصد او نيت او اراده قبلوم. نو که د هغه نيت
فِي طَاعَتِي جَعَلْتُ صَمْتَهُ حَمْدًا لِي وَوَقَارًا
زما د تابعدارۍ لپاره وي نو زه د هغه چوپتيا د خپلې ستاينې او ثناء او د هغې د حلم او وقار مرادف ګرځوم.
وَإِنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ " رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ[1]
اګر که هغه هيڅ خبره ونه کړي.

توضيح: كلام الحكيم: د حکيم نه عالم او پروفيسر او هوښيار مراد دی. مطلب دا دی چې الله تعالى فرمايي چې زه د هر يو هوښيار او عالم او نکته دان خبره نه قبلوم. يعنې زما په نزد باندې د يوائې د خبرو د غازۍ (خبرلوځ) هيڅ اعتبار نشته دی بلکې زمونږ په نزد باندې د کردار قيمت دی. کله چې اخلاص، د الله تعالى رضا، او حسن نيت، ښايسته او غوره وي او د کردار معيار يې اوچت وي، نو د خبرو سطح يې څومره ساده ولې نه وي، د الله تعالى په نزد باندې د هغې اعتبار دی. (مرقات ۹/۱۹۶)

---

[1] أخرجه الدارمي في السنن ۱/۹۱ رقم الحديث ۲۵۲.

۲۰ جمادی الاول ۱۴۱۸ھ

بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ

دژړا او خدای نه دویرې بیان

قال الله تعالى: ﴿فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا﴾ (التوبة: ۸۲) وقال الله تعالى: ﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ﴾ (مائدة: ۸۳)

کله چې په ژړا کې د خلې نه آواز ووځي نو هغې ته بکاء وایي. او که د خلې نه د ژړا په وخت کې آواز نه وځي خو ونبکي توییږي نو دې ژړا ته هم بکاء وایي. کله چې په آواز کې چیغه راشي نو دې ژړا ته عویل وایي. او که آواز ییخې ختکه وي نو دې ژړا ته هم بکاء وایي. او ونبکي جاري وي نو د پته حنین وایي.

د کومو خلکو زړونه چې نرم وي، د تلاوت په وخت کې یا د ذکر الله په وخت یا تذکیر او وعظ په وخت کې هغوې ژاړي، دا د الله تعالی ډالۍ او احسان دی. د ځینو خلکو زړونه د کاڼې نه هم ډیر کلک وي. شاعر وایي:

لا ینفع الوعظ قلبًا قاسیًا ابدًا وَهَلْ یلین بذکر الواعظ الحجر

قرآن کریم کې الله تعالی د ژړا او د غوني د زیږیدلو ستاینه کړیده. په احادیثو کې د ژړلو فضلیت راغلی دی. که چاته د ذکر الله یا د قرآن د تلاوت په وخت کې ژړا نه ورځي نو هغه لپاره پکار دي چې د ژړا په شان صورت دې جوړ کړي ځکه چې په دې کې فضیلت او اجر دی. چې انسان د خدای د یرې یا د صحابؤ په ذکر یا د آخرت د تذکرې د وجې نه وژاړي. په دې باب کې لیکلې شوي ټول احادیثو تعلق د خدای د یرې او د آخرت د یرې په وجه باندې د ژړا سره دی. خلاصه دا ده چې د آخرت د عذاب او د الله تعالی د عتاب او عقاب د یرې نه په فریاد سره ژړلو ته البکاء والخوف ویلی شویدي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

آخرت ځان ته حاضرول د ژړلو سبب دی

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي					
حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې ابو القاسم (محمد) صلی الله علیه وسلم و فرمایل: قسم دی په هغه ذات باندې					
بِيَدِهِ	لَوْ	تَعْلَمُونَ	مَا	أَعْلَمُ	لَبَكَيْتُمْ
د چا په قبضه قدرت کې چې زما ځان دی، که تاسو هغه څه وپیژني، کوم چې زه پیژنم نو یقینًا تاسو ژړا					

Maktaba Tul Ishaat.com

كَثِيرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]
په ډيره او خندا به کمه شي.(بخاری)

توضیح:لبیکتم: یعنې د قیامت احوال او اهوال او مید او معاد حقیقت او د الله تعالی عظمت او دهغه جلال او جبروت، دهغه قهر او غضب او د حساب د ورځې سختې او مصیبتونه، حساب او کتاب سختۍ او د الله تعالی صفات جمالیه او جلالیه چې څومره زه پیژنم او دغه شان د خلکو د انجام سره متعلق کوم واقعات او شدائد چې څومره زه پیژنم که تاسو هغه وپیژنئ نو ډیر کم به وخندیږئ بلکې نه به مو خندلی او په ژړا کې به وخت تیرولی خو تاسو لپاره د هغه څه کتنه نشته، ځکه خاندئ او عیش او عشرت کې اخته یاستئ. (مرقات۹/۱۹۷)

د دې روایت نه مونږ ته دا تعلیم راکړل کیږي چې د راتلونکو واقعاتو د وجې نه دې انسان لپاره هر وخت د دې واقعاتو د وجې نه په فکر کې وسیدل پکار دي. ګویا چې خوف خدا او عظمت او د الله جلال د مظاهرو مخې ته دا سړی لاس په نامه ولاړ دی. اګر که د الله تعالی مغفرت او عفو او درګذر باندې کلک نظر ساتل پکار دي.لیکن د الله تعالی نه بې خوفه او بې خطره ژوند تیرولو کې ډیر نقصانونه دي. او د خدای په یره کې ډیري فائدي دي.

د دنیا د کارونو انجام فقط د الله تعالی په علم کې وي

﴿۲﴾وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ لَا أَدْرِي
او حضرت ام العلاء الانصاریه رضي الله عنها فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: سره د دې نه چې
وَاللهِ   لَا   أَدْرِي   وَأَنَا رَسُولُ   اللهِ   مَا
زه د الله رسول یم خو په خدای قسم زه په دې نه پوهیږم چې زما سره به څه معامله کیدلی شي او ستاسو
يُفْعَلُ بِي وبكم». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[2]
سره به څه معامله کیدلی شي

توضیح: مایفعل بي: یعنې د الله رسول کیدلو سره هم ماته دا علم نشته دی چې د دنیاوي اعتبار سره به ستاسو څه انجام جوړیږي. او زما به څه انجام جوړیږي.(مرقات۹/۱۹۸)

سوال: په دې ځای کې یو مشهور سوال دی هغه دا چې نبي خو د نورو د هدایت لپاره د الله تعالی

---

(۱)اخرجه البخاري في صحیحه ۱۱/۳۱۹ رقم الحدیث ۶۴۸۵ومسلم في صحیحه ۲/۶۱۸ رقم الحدیث (۹۰۱۰۱)

(۲)اخرجه البخاري في صحیحه ۱۲/۴۱۰ رقم الحدیث ۷۰۱۸.

ړخ نه سفیر راځي. کله چې نبی د خپل آخرت او عاقبت او په نجات کې متردد وي او د ناشنایۍ په حالت کې اخته وي نو هغه به د نورو لپاره څنګه لاربنودونکی جوړ شي. دغه شان دا تردد او د بی یقینۍ حالت خود نبی د معصومیت سره منافي دی. نو نبی کریم ﷺ داسې جملې څنګه رشاد و فرمایلې؟په دې حدیث کې د قرآن کریم یو حدیث اړخ ته اشاره ده، د دې آیت تفسیر او مطلب باندې ځان پوهه کولو باندې دا حدیث هم په پوهه کې راځي. هغه آیت دا دی:﴿قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ﴾(احقاف:۹)د دې آیت ترجمه شاه ولی الله رحمه الله په فارسۍ کې داسې کړیده:

بگو من نیستم نو آمد از پیغمبران و نمی دانم که چه کرده شود با ما و با شما در دنیا

مطلب یې دا راووتلو چې د دې آیت او حدیث دواړو تعلق د هغه دنیاوي واقعاتو او معاملاتو سره دی چې هغه په مستقبل کې د راتلونکې چې زه به مخکې مړ کیږم او که تاسو به مړه کیږئ.یا زه به په تاسو غالب کیږم یا تاسو به غالب کیږئ.په دې جنګ کې به تاسو شکست خورئ یا به مونږ خورو. د مستقبل د دغه شان واقعاتو تعلق خو د علیم غیب سره دی.او علم غیب خاصه د خدای ده.نو څکه نبی کریم ﷺ و فرمایله او دا څه دنیوي او اخروي کارونه هم ندي چې د هغې پیژندل پیغمبر لپاره ضروري وي.د دې راز دویم جواب دا چې ماته خپل او ستاسو د انجام د تفصیلاتو علم نشته دی.په اجمالي توګه خو خپل نجات او کامیابي پیژنم خود تفصیلاتو تعلق د علیم غیب سره دی. لهذا ما سره د دې علم نشته دی څکه چې زه یې د دېنه نه یم خبر کړی. دریم جواب دا چې د حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه په وفات باندې نبي علیه السلام د هغه لپاره دعاګانې وغوختلې .د ټولو نه مخکې یې په بقیع غرقد کې هغه لره خخ کړو. نبي علیه السلام د هغه د مخ یا تندي مچې کړو. په دې باندې یوې ښځې وویل چې عثمان ستا لپاره دې جنت مبارک وي. په دې خبره نبي علیه السلام د خفګان اظهار وکړو چې زه د الله رسول کیدلو سره خپل ځان په اړه باندې دغه شان خبره نشم کولی .تا د صحابي په اړه باندې داسې حکم څنګه ولګولو؟ دا خو د مستقبل د غیب معامله ده.دا فیصله کول پکار نه دي. اولنې دوه جوابونه واضح او راجح دي.(مرقات۹/۱۹۸)

په دوزخ کې د عمرو بن لحی او د یوې ښځې حالت

﴿۳﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ
او حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ و فرمایل: زما مخې ته د دوزخ اور راوړلی شو نو
فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا
ما په هغې کې د بنی اسرائیلو یوه ښځه ولیدله چې هغې ته د یوې پیشو په معامله کې عذاب ورکړل کیدلو.

رَبَطَتْهَا	فَلَمْ	تُطْعِمْهَا	وَلَمْ	تَدَعْهَا

کومه چې دې تړلې وه. نه خو به یې هغې (پیشو) ته خوراک لپاره څه ورکول او نه به یې خوشې (ایله) کوله چې

تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا وَرَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرٍ الْخُزَاعِيَّ

هغه حشرات الارض وخوري. او آخر هغه پیشو د لوږې نه مړه شوه. دغه شان ما عمرو بن عامر خزاعی ولیدلو

يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ» . رَوَاهُ مُسْلِم [1]

چې هغه خپلې کولمې په دوزخ کې راخکلې. دا د ټولو نه اولنی سړی ؤ چې هغه د اوښې د پرېښودلو رسم جوړ کړی ؤ.

توضیح: عمرو بن عامر: عمرو بن عامر په خپله زمانه کې مکې په غټانو کې ؤ. د حرم شریف نگران هم ؤ. د سړی کاهن هم ؤ. یو ځل ناروغه شو. هغه د چا نه واوریدل چې په شام کې یو ځای کې د اوبو چینه ده. که ناروغ په هغې باندې غُسل وکړي نو روغیږي دا سړی شام ته لاړو هلته دې سړې وکتل چې خلک د بتانو عبادت کوي د ده هم شوق پیدا شو. او بیرته راتلو کې د هغه خلکو نه یو بُت غوختلو باندې د ځان سره راوړو. چې د هغې نو هُبُل ؤ. دا سړی خو کاهن ؤ. نو ابلیس ده ته وویل چې جدې ته لاړ شه اِ هلته په یو خوړ کې د نوح علیه السلام زمانې پنځه بتان پراته دي، هغه هم راوړه. نو عمر بن عامر لاړو او د دغه خوړگی نه یې پنځه بتان و، سواع، یغوث، یعوق او نسر راوړل او په بیت الله کې یې ودرول. چې د هغې نه په قلار قلاره شرک او د بتانو د عبادت رسم په حجاز مقدّس کې خپور شو. بیا دې بدبخته د بتانو په نوم باندې سنډاګان پرېښودل. (مرقات ۹/۱۹۹)

سوائب: دا د سائبة جمع ده. سائب هغه اوښې ته وایي چې هغه د بتانو به نوم باندې آزاده پرېښودلی شي دې تفصیل دا دی چې کله به د یوې اوښې لس ماده اولاد پیدا شو یا کوم مسافر به د سفر نه په خیریت سره بیرته کورته راتلو یا کوم ناروغه به د ناروغۍ نه جوړ شو نو د عربو رواج ؤ چې یوه اوښه به یې آزاده پرېښودله، نه به یې د هغې پې لوشل، نه به یې وربانډې سپرلي کوله، نه به یې هغه د فصل نه منع کوله، بس دا به یو غویي په شان آزاده گرځیدله. عربو به د خپلو بتانو د خوشحالولو لپاره دغه شان کول. په دې حدیث کې دې تفصیل اړخ ته اشاره ده. په ځینو روایتونو کې د دې سړې د پلار نوم لُحَی دی. یعنی عمرو بن لحی دلته د ده نوم عمرو بن عامر ویلی شویدی. د دې جواب دا دی چې ممکنه ده چې د ده د نیکه نوم لُحَی وي نو کله پلار عامر اړخ ته یې نسبت کیږي او کله نیکه لُحَی اړخ ته یې نسبت کیږي. د دې حدیث نه معلوه شوه چې جنت او دوزخ د وس نه شته دی، او څه خلک د وس نه په دوزخ کې اچولی شویدي. لکه څنګه چې په دې حدیث کې ذکر شویدي. او دا هم ممکنه ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د وحې په ذریعه باندې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۱۵ رقم الحديث ۳۴۸۲ ومسلم في صحيحه ۲/۶۲۲ رقم الحديث (۹۰۴-۹)

دوزخ د مستقبل حالت ښودلی شوی وي. چې په راتلونکې وخت کې به د دې خلکو سره دغه شان معامله کیږي. او دا هم ممکنه ده چې په عالم برزخ کې د دوزخ ښاخ وي. نو هغه هم دوزخ دی. (مرقات۹/۱۹۹)

في هرة: دا فِيْ علت او سببیت لپاره دی. چې پیشو ناجائز تکلیف ورکولو او د وژلو په وجه باندې هغه ښځه دوزخ ته لاړه. (مرقات۹/۱۹۹)

قُصَبه: دا د قصبة جمع ده. کولمو ته وایي. د عربو مشهوره مقوله ده: رئیت القصاب ینقی الاقصاب. ما قصاب ولیدلو چې هغه کولمې پاکولې. (مرقات۹/۱۹۹)

یاجوج ماجوج او د سکندري دیوال تفصیل

﴿۴﴾وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخل
او حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها روایت دی چې یو ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې کور ته په داسې حالت
يَوْمًا فَزِعًا يَقُولُ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ
کې راغلو لکه چې ډیر زیات یریدلی وي. بیا یې وفرمایل چې د الله نه غیره څوک د عبادت لائق نشته دی.
وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ
افسوس صد افسوس! د عربو په هغه فتنه باندې چې هغه ډیره ژر نژدې را رسیدلې ده. نن د یاجوج ماجوج په
مِثْلُ هَذِهِ» وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ: الْإِبْهَامَ وَالَّتِي تَلِيهَا.
دیوال کې دومره سوری شوی دی، دې ویلو سره نبی کریم صلی الله علیه وسلم مته ګوته او ورسره ګوتې نه کړۍ
قَالَتْ زَيْنَبُ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ
جوړه کړه. حضرت زینب رضي الله عنها فرمایي چې ما وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! آیا مونږ به په دغه وخت کې هم
أَفَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ؟ قَالَ:
هلاک کړی شو. او حال دا وي چې زمونږ په مینځ کې پاکباز او صالحه خلک شتون لري؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
هو! او حال به دا وي چې د فسق او فجور به ډیروالی وي.

توضیح: للعرب: عرب یې ځکه په خاصه توګه باندې ذکر کړل چې هغه وخت عرب ډیر په اسلام کې

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۸۱ رقم الحديث ۳۳۴۶ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۰۸ رقم الحديث (۲/۲۲۸).

Maktaba Tul Ishaat.com

داخل شوي ؤ.(مرقات۲۰۰/۹)

شر قداقترب: يعني يو شر او فساد دی. چې هغه عربو ته بيخي نژدې راغلی دی. په دې شر سره هغه عامو فتنو اړخ ته هم اشاره ده. چې هغه د شهادت عثمان رضي الله عنه نه وروسته په دې امت کې شروع شوي وي. او تر ننه پورې مسلسل جاري دي. خو په دوی کې غټه فتنه او فساد ياجوج او ماجوج راوتل دي. چې هغه په دې حديث کې بيان شويدي.

من ردم ياجوج: د نژدې شوي شر تفصيل او بيان په دې جمله کې شويدی. او د دېنه سلطان سکندر ذوالقرنين جوړ شوی ديوال اړخ ته اشاره ده. چې د هغې شاته ياجوج ماجوج بند ساتلی شويدي. ياجوج ماجوج د لوټولو اړخ ته د حفاظت په توګه باندې په دنيا کې څو ديوالونه جوړ شويدي. په دې کې مشهور څلور ديوالونه دي: (۱) د ټولو نه غټ ديوال د چين ديوال دی. دا فغفور باچا جوړ کړيدی. چې دا زر ميله اوږد ديوال دی.(۲)دويم ديوال په وسط ايشيا کې بخارا او ترمذ په مينځ کې واقع دی. چې هغې ته دربندر وايي. دا ديوال مغل باچا ګوډ تيمور جوړ کړيدی. (۳) دريم ديوال د روسيې علاقه داغستان کې واقع دی. هغې ته هم دربند وايي.(۴) څلورم ديوال کاکيشيا کې دی. چې دا هم دغه داغستان کې واقع دی. چې د ډير وچتو غرونو په مينځ کې دی. دې ځای کې درّه داريال په نوم سره يو درّه مشهوره ده. په دې کې دا ديوال ولاړ دی. چې هغې ته سدّ کوه قاف وايي. هم دا سد سکندری (د سکندر جوړ شوی ديوال) دی .او د دې شاته ياجوج ماجوج بند دي. نن سبا د چيچنيا نوم ډير مشهور دی. داغستان او کاکيشيا او دره داريال او کوه قاف د چيچنيا نه ګير چاپيره علاقې دي. (مرقات۲۰۰/۹)

ياجوج و ماجوج: د زمکې د ټولې فراختيا د پنځه سوه کاله مسافت باندې ده. د درې سوه کاله په مسافت په علاقه باندې سمندر پروت دی. يو سل نوي کاله مسافت علاقه باندې ياجوج ماجوج آباد دی. او د لس کاله مسافت په رقبه باندې انسانان پراته دي. ياجوج ماجوج منګوليا يعني تاتاريانو دهغه وحشي قبيلو نوم دی. چې هغې ته اروپا او روسي قومونو نوم دی چې هغوی ته د اروپا او روسي قومونو د ابتدايي نسل تاريخي ثبوت ترلاسه دی. ياجوج ماجوج ګاونډې کمزورې قبيلو دا دوه غټې قبيلې د موګ او يُوجی په نوم سره يادې کړې. د دېنه وروسته يونانيانو دوې ګاګ ميګاګ وبلل. د دېنه وروسته عربې او عبراني لغت په دې کې تصرف وکړو او دا يې ياجوج ماجوج جوړ کړل. ياجوج ماجوج ترک، روس، چين او تاتاريانو د هغه وحشي قبيليو نوم دی. چې هغه د سدّ سکندری د پردې شاته تللي دي.او دهغوی څه مهذب مثالونه د دې قومونو په صورت کې په دنيا کې مخې ته شتون لري. په کتاب الفتن کې د دې نور تفصيل راتللی شي . بهرحال په دې حديث کې د کومې فتنې چې نژدې راتلو اړخ ته اشاره شويده، دا د تاتاريانو د چنګيز خان فتنه وه. چې هغه هم د دې علاقې نه راپورته شوي وه. او چا چې

اسلامي خلافت ټوټې ټوټې کړو. او بغداد يې لوټ کړو. دين او د اهل دين نښانونه يې وران کړل. او په لاکهونو انسانان يې د مرګ خله کې واچول. دا د ياجوج ماجوج يو مصنوعي شکل ؤ اصلا ياجوج ماجوج به وروسته راوځي. الله تعالى دې هغوی هلاک کړي.

قيامت ته نژدې وخت کې يو څو عذابونه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي عَامِرٍ أَوْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ:

او حضرت ابو عامر رضي الله عنه يا حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه روايت دی چې هغه بيان کړل چې ما د

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ

رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې زما په امت کې به څه دا خلک او ډلې هم پيدا شي چې هغوی

يَسْتَحِلُّونَ الْخَزَّ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ

به د ريښمو جامې او شراب او باجې به حلال او جائز کړي. او په هغوی کې به څه خلک د وچتو غرونو په اړخونو کې قيام کوي.

إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ

د شپې په وخت کې به د هغوی څاروې مره خيته راځي. او دا څاروې به د هغوی څرونکی د پيو نه ډک راولي.

يَأْتِيهِمْ رَجُلٌ لِحَاجَةٍ فَيَقُولُونَ:

خو کله چې يو سړی د دوی خواته د خپل ضرورت لپاره راشي نو هغوی به يې په دې وينا سره ستانه کړي چې

ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا فَيُبَيِّتُهُمُ اللهُ

سبا زمونږ خواته راشه او بيا به د شپې الله تعالى په دې باندې خپل عذاب په دې توګه نازل کړي چې په

وَيَضَعُ الْعَلَمَ وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً

هغوی کې به خو په ځينو باندې د غرونو څوکې نسکورې کړي او په هغوی کې به د ځينو شکلونه مسخ کولو باندې شادوګان او

وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي بَعْضِ نُسَخِ» الْمَصَابِيحِ":

خنزيران ترينه جوړ کړي. چې هغه به تر قيامته په دغه شکل کې وي. (بخاری) او د مصابيح په ځينو نسخو

«الْحَرَّ» بِالْحَاءِ وَالرَّاءِ الْمُهْمَلَتَيْنِ وَهُوَ تَصْحِيفٌ وَإِنَّمَا هُوَ بِالْخَاءِ وَالزَّايِ الْمُعْجَمَتَيْنِ نَصَّ عَلَيْهِ الْحُمَيْدِيُّ

کې (الخز) دی. حميدی او ابن اثير د دې حديث په سلسله کې د دې معنی تصريح کړيده. دغه شان د حميد

Maktaba Tul Ishaat.com

وَابْنُ الْأَثِيرِ فِي هٰذَا الْحَدِيثِ. وَفِي كِتَابِ «الْحُمَيْدِيِّ» عَنِ الْبُخَارِيِّ وَكَذَا فِي «شَرحه» للخطابي:
په کتاب کې دامام بخاري نه چې کوم هم دا روايت نقل شويدى او دغه شان خطابى په شرح بخارى کې نقل
« تروح سارحة لَهُم يَأْتِيهِم لحَاجَة ».(۱)
کړيدى په دې دواړو کې (يروح عليهم بسارحة) په ځاى داسې دي: تروح عليهم سارحة لهم ياتيهم لحاجة

توضيح: الخز: ريښمو ته خز او حرير ويل شو او الخمر شراب ته وايي. او المعازف دمعزف جمع ده. د لهو لعت آلاتو، باجو او طبلو ته وايي. مطلب دا دی چې په آخره زمانه کې به داسې وخت راشي چې خلک به دا حرام کارونه حلال ګڼي. نو نن سبا هم دا کيږي. **عَلَم**: غرته عَلَم ويلى کيږي. يعنې دا خلک به د غر په لمن کې استوګنه شروع کړي.

يروح: د ماښام وخت کې راتللو ته وايي. بسارحة: په دې کې باء زائده ده. او سارحة فاعل دی. څريدونکې څاروۍ ته سارحة ويلى شويدي. يعنې ماښام کې به څاروې مړه خيټه راځي. (مرقات ۹/۲۰۲)

لحاجة: يعنې يو ضرورت مند سړی به خپل ضرورت سره دوې ته پيش شی ، هغه خلک به ورته وو ايې سبا راشه. **فيبيتهم الله** : يعنې د شپې به الله تعالى په دوې باندې عذاب راوستلو سره تول هلاک کړي. (مرقات ۹/۲۰۲)

فيضع العَلَم: يعنې الله تعالى به په دې خلکو باندې دغه غر راګوزار کړي. د کوم په لمن کې چې دا خلک استوګنه کوي. دا به دلته هلاک شي. او کوم چې پاتې شي ، هغه به د شادوګانو او خنزيرانو په شکل کې مسخ کړي. (مرقات ۹/۲۰۲)

د الله عذاب عام وي

﴿۶﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَنْزَلَ اللهُ بِقَوْمٍ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې الله تعالى په يو قوم باندې
عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ
خپل عذاب نازلوي نو دغه عذاب هر هغه سړی راګيروي چې هغه د دې قوم نه وي. او بيا به خلک د هغوې
بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۲)
داعمالو سره پاڅول کيږي. (بخاری ومسلم)

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۱ رقم الحديث ۵۵۹۰ وابوداود في السنن ۴/۳۱۹ رقم الحديث ۴۰۳۹.

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۶ رقم الحديث ۷۱۰۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۰۶ رقم الحديث (۲۸۷۹-۸۴)

اصل اعتبار د خاتمې وي

﴿۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ
او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ باندې به هر بنده

عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
په هغه حال باندې ووچت کړی شي، په کوم حال باندې چې هغه مړ دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

د جنت غوښتونکی او د شپې خوب؟

﴿۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ
حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ما د دوزخ د اور په شان يو شی داسې ندی ليدلی

نَامَ هَارِبُهَا وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ
چې د هغې نه تختيدونکې دې اوده وي. او د خوشحالۍ په اعتبار سره ما داسې هيڅ شی ندی ليدلی

نَامَ طَالِبُهَا» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
چې د هغې طلب کونکی اوده وي.

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ
او حضرت ابو ذر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څه چې زه وينم هغه تاسو نه وينئ او څه چې

وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ وَالَّذِي
زه اورم هغه تاسو نه اورئ. د آسمان نه آواز راځي او د دېنه اواز راوتل ورله مناسب دي. قسم په هغه ذات

نَفْسِي بِيَدِهِ مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعَةِ أَصَابِعَ
باندې د چا په لاس کې چې زما ځان دی، په آسمان کې د څلور ګوتو په برابر هم داسې ځای نشته چېرته

إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدٌ لِلَّهِ وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ
چې فرښتې خپل سر خدای په سجده کړی نوي. په خدای قسم که تاسو هغه څه وپيژنئ چې زه يې پيژنم نو

([1]) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۰۶ رقم الحديث (۲۸۷۸-۸۳) واحمد في المسند ۳/۳۳۱.

([2]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۱۶ رقم الحديث ۲۶۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَمَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ
يقيناً تاسو به ډير کم وخاندې او ډير به وژاړې او په بستره باندې به د خپلو ښځو نه خوند اخستل پريږدې
وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللهِ» . قَالَ أَبُو ذَرٍّ:
او يقيناً تاسو به الله ته ژړا فرياد کولو لپاره ځنګلو اړخ ته ووځئ. حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايل: چې
يَا لَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تعضد. رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه [1]
کاش زه بوټي وى چې غوڅ کړى شوى وى.(احمد ،ترمذى ، ابن ماجه)

توضيح: **مالاترون** : يعني کومې فتنې او فسادونه او واقعات چې زه وينم او اورم ، نه تاسو هغه ليدلى شئ ، نه يې اوريدلى شئ. **اطت السماء**:دا ذ اطيط نه دى. د کټ يا داسې نور څه د لرګې نه چې د چغارې آواز راوځي . هغې ته اطيط ته وايي. مراد اواز راوتل دي. يعني آسمان د ډيرو ملائکو او ذات بارې تعالى د جلال د وجې نه د چغارې آوازونه ترې راوځي. د حديث په راتلونکې برخه کې د دې چغارې وجه او سبب بيان کړى شويدى. **ساجدًا**: يعني فرښتې د الله تعالى په تابعدارې کې اخته دي. د تابعدارۍ مطلب دا دى چې څوک په سجده کې دى، ن څوک په قيام يا رکوع کې دى. او څوک په بل عبادت کې دى. ټول په سجده کې نه دي. لهذا د ساجدًا نه تابعدارې مراد اخستل شويده. دې لپاره چې عام شي. **الصعدات**:دشتې او ځنګل ته وايي.(مرقات۹/۲۰۸)

تجأرون: يعني د الله تعالى مخې ته په چيغو چيغو وژاړې . دې سختو حالاتو اوريدلو باندې ابوذر رضى الله نه وفرمايل: اى کاش ! چې زه بوټي وى، دې لپاره چې په غوڅيدلو مې قصه ختمه شوى وى. او د دې واقعاتو او دردونو سره نه مخ کيدلى .(مرقات۹/۲۰۸)

د حکمت نه ډک يو نصيحت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ خَافَ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم سړى چې يريږي نو هغه د شپې
أَدْلَجَ وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ
په اوله برخه کې د خپل ځان د ساتنې لاره خپله کړي. او کوم سړى چې د شپې په اوله برخه کې تيښته شروع

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۸۲ رقم الحديث ۲۳۱۳ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۲ رقم الحديث ۴۱۹۰.

الْمَنْزِلَ. أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ غَالِيَةٌ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ الْجَنَّةُ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

کړي، هغه منزل ته رسيږي. پوهه شئ، د خدای مال ډير قيمتي دی. او ياد ساتئ! د خدای مال جنت دی.

توضیح: ادلج: ادلاج د شپې په اوله برخه کې تللو ته وايي، د دينه ووسته تاويب دی. د دينه وروسته تعريس دی. شاعر ساحر وايي:

فالحمد قبلُ لها والحمد بعد لها ... وللقنا ولا دلاجی وتأويبی

سره دنيک کيدلو نه د الله تعالى نه يريدل پکار دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَقُولُ اللهُ جَلَّ ذِكْرُهُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ «رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي» كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنشور "[2]

او د حضرت انس رضي الله عنه روايت دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله چا ذکر چې ډير د عظمت والا دی د قيامت په ورځ به وفرمايي چې هغه سړی د دوزخ نه راوباسئ، چا چې زه يو ورځ هم ياد کړی يم. يا په کوم موقع باندې زما نه يريدلی دی. (روايت کړې دې ترمذی او بيهقی)

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ: (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ) أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ؟ قَالَ: «لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د دې آيت په اړه باندې پوښتنه وکړه ﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا الخ﴾ (ترجمه) هغه خلک چې هغوی ورکوي او څه چې ورکوي يعنې د زکوة او صدقاتو نه دهغوی حالت دا دی چې د هغوی زړونه يريدونکي دي، چې آيا دا هغه خلک دي چې شراب څکي او غلا کوي؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د صديق (رضی الله عنه) لورې! نا! دا هغه خلک ندي چې شراب

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۶ رقم الحديث ۲۴۵۰.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۱۳ رقم الحديث ۲۵۹۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلٰكِنَّهُمُ	الَّذِينَ	يَصُومُونَ	وَيُصَلُّونَ	وَيَتَصَدَّقُونَ	وَهُمُ

ځکي، غلا کوي. بلکې دا هغه خلک دي چې روژې نیسي، لمونځ کوي، او زکوة ورکوي او سره د دې

يَخَافُونَ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُمُ أُولٰئِكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

ډېره نه يريږي چې د هغوې اعمال (کيدی شي) قبول نشي. دغه کسان په نيکو کې تلوار کونکې دي.

توضیح: حضرت عائشه رضي الله عنها د نبی کریم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه ځکه وکړه چې کوم ژاړي او يريږي نو کيدی شي هغوې به غټ غټ گناهونه کړي وي، ځکه به ژاړي. نبی کریم صلى الله عليه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها ته په جواب کې وفرمايل چې داسې نه ده، دا ژړيدونکي به گناهګار نوي، بلکې نيک عمله خلک به وي. البته ويره به د دې خبرې وي چې هغوې کوم اعمال کړيدي، هغه د الله تعالی په دربار کې نامقبوله نشي.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا اللَّيْلِ قَامَ

او حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه بيان کوي چې کله دوه برخې شپه به تيره شوه نو نبی کریم صلى الله عليه وسلم به راپاڅيدلو

فَقَالَ: «يَا	أَيُّهَا	النَّاسُ	اذْكُرُوا	اللّٰهَ	اذْكُرُوا	اللّٰهَ	جَاءَتِ	الرَّاجِفَةُ

او فرمايل به يې: خلکو! الله تعالی ياد کړئ، هغه زلزله راځي، د هغې شاته شاته هغه هم راروان دی.

تَتْبَعُهَا	الرَّادِفَةُ	جَاءَ	الْمَوْتُ	بِمَا	فِيهِ

څوک چې شاته راتلونکی دی، مرګ د ځان سره ترلې ټول حالتونو سره راځي. مرګ د ځان سره ترلې

جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

ټولو حالتونو سره راتګ کوي.

مرګ او قبر هر وخت ياد ساته

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةٍ

او حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) نبی کریم صلى الله عليه وسلم لمونځ لپاره راغلو

فَرَأَى	النَّاسَ	كَأَنَّهُمْ	يَكْتَشِرُونَ	قَالَ: "	أَمَا إِنَّكُمْ

نو نبی صلى الله عليه وسلم وکتل چې ګویا خلک خاندي. نبی کریم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خبردار! بيشکه تاسو

---

[1] أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۰۶ رقم الحديث ۳۱۷۵ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۴ رقم الحديث ۴۱۹۸.

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۹ رقم الحديث ۲۴۵۷ وأحمد في المسند ۵/۱۳۶.

لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَادِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى الْمَوْتُ

خوندونه ختمونکی څیز ذکر ډیر کوی نو هغه به تاسو د دې څیز نه منع کړي. کوم چې زه وینم او هغه مرګ دی.

فَأَكْثِرُوا ذِكْرَ هَادِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَا يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ

نو تاسو خوندونه ختمونکی څیز یعنې مرګ ډیر یادوئ. حقیقت دا دی چې په قبر باندې یوه ورځ داسې نه تیریږي

إِلَّا تَكَلَّمَ فَيَقُولُ: أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ

چې هغه دا نه وایي چې زه د غریبۍ کور یم. زه د یوائیوالي کور یم. زه د خاورو کور یم. او زه د چینجو کور یم.

وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا

او کله چې یو مؤمن بنده خخ کړی شي نو قبر هغه ته وایي چې پخیر راغلې دې وي! ته یو فراخه او د آرام ځای او

أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي

خپل کور ته راغلې. تا ته دې معلومه وي چې ته زما په نزد باندې د هغه خلکو نه ډیر خوښ وې چې هغه په ما باندې

عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ

ګرځیدل، نو نن چې زه په تا باندې حاکم او قادر جوړ شوی یم، او ته ما مجبور او مقهور شوی یې. نو ژر دې

وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ". قَالَ:

چې ته به زما هغه نیک سلوک ووینې چې زه یې ستا سره کوم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دې نه وروسته قبر د هغه

" فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ

بنده لپاره دومره فراخه شي او هغه فراخوالی هغه ته د خپل نظر تر حده پورې معلومیږي. او بیا د هغه لپاره د

وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ:

جنت اړخ ته یو دروازه برسیره شي. او کله چې یو فاسق یا کافر بنده خخ کړی شي، قبر هغه لره وایي، او

لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا

ورته وایي چې نه خو ستا راتګ دې مبارک وي او نه خو ته بنه، فراخه، د آرام ځای او خپل کور ته راغلی یې.

إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ

تا ته دې معلومه وي چې ته زما په نزد د هغه خلکو نه ډیر بدي شوي چې هغه په ما باندې ګرځیدل. نو نن

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى
زه په تا باندې حاکم او قادر جوړ شوی یم. او ته زما مجبور او مقهور یې. نو ژر به یې ووینې چې زه ستا سره
صَنِيعِي بِكَ " قَالَ: «فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ».
څنګه بد سلوک کوم. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: او بیا قبر هغه باندې زور کړي، تردې چې پښتۍ یې د یو ځای نه
قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصَابِعِهِ.
بل ځای ته شي. ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې ګوتې په یو بل کې دننه کړې او
فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ.
وې فرمایل چې داسې د قبر په زور کولو باندې به د دغه کافر پښتۍ په یو بل کې ننوځي. د دېنه وروسته یې
قَالَ: «وَيُقَيَّضُ لَهُ سَبْعُونَ تِنِّينًا لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ
وفرمایل چې په دې کافر باندې به اویا (۷۰) اژدهې مسلط کړی شي. که په دوی کې یوه اژدها په زمکه باندې
مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا فَيَنْهَشْنَهُ
پو کی وکړي نو هغه زمکه ترڅو چې دنیا باقي وي، د شینکي راټوکولو قابله به نوي. دغه اژدهې دا کافر خوري
وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضِيَ بِهِ إِلَى الْحِسَابِ» قَالَ:
او چیچي. ترڅو چې د دې بنده نه حساب وانخستلی شي. حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ
دا هم وفرمایل: په دې کې هیڅ شک نشته چې قبر د جنت د باغیچو نه یوه باغیچه ده یا د جهنم د
حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
اور د کندو نه یوه کنده ده. (ترمذی)

توضیح: یکتشرون: اکتشار د باب افتعال نه دی. د دې ماده کشر ده. چې د غابنونو برسیرته کیدلو ته وایي. دلته مراد خندا ده. (مرقات ۹/۲۱۲)

هاذم: ای قاطع اللذات: هاذم غوڅولو په معنی دی. مراد مرګ دی. ځکه چې مرګ هم ټول خوندونه غوڅوي. **عما ازی:** یعنې که تاسو مرګ یادولی نو ما به تاسو داسې په خندا نه وی لیدلي.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۱ رقم الحديث ۲۴۶۰ والنسائي في السنن ۴/۴ رقم الحديث ۱۸۲۴.

الموت: دا مجروره دی چې د هاذم اللذات تفسیر دی. یا د دغې نه بدل دی او دا مرفوع هم کیدلی شي. الموت دغه شان منصوب هم کیدلی شي.

ای اعنی الموت. **ولیتك**: یعنې زما په قبضه کې راغلي. زه په تاباندې مسلط کړی شوی یم. کتاب الجنائز کې دغه شان احادیث د تشریحاتو سره ذکر شوي دي. (مرقات ۹/۲۱۴)

د آخرت فکر نبي کریم ﷺ بوډا کړو

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ شِبْتَ

او حضرت ابو جحیفه رضي الله عنه فرمایي چې کله صحابو عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ! ته خو بوډا شوي؟

قَالَ: «شَيَّبَتْنِي سُورَةُ هُودٍ وَ أَخَوَاتُهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: سورت هود او دغه شان سورتونو زه بوډا کړم.

توضیح: یعنې سورت هود کې **فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ** په الفاظو کېد استقامت تصور زه بوډا کړم. او سورة النبآء، سورة التکویر، سورة الواقعة په شان سورتونو زه بوډا کړم. ځکه چې په دې کې قیامت د حالاتو تفصیل دی.

﴿۱۶﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل چې یا رسول الله ﷺ!

قَدْ شِبْتَ. قَالَ: شَيَّبَتْنِي (هود) و (المرسلات) و (عمّ يتساءلون)

ته خو بوډا شوي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو! سورة هود، سورة واقعة، سورة مرسلات، عم یتسآءلون

و (إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هريرة: لَا يلج النَّار «فِي» كتاب الْجِهَاد "[2]

او اذا الشمس كورت بوډا کړم. (ترمذی) او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه حدیث لا یلج النار الخ په کتاب الجهاد کې نقل شوي دي.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

هیڅ ګناه سپکه مه ګڼه

﴿۱۷﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ كُنَّا

حضرت انس رضي الله عنه فرمایي: تاسو داسې کارونه کوئ چې هغه ستاسو په نظر کې د ایخته نه ډیر باریکه دي.

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۷۵ رقم الحديث ۳۲۹۷.

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۷۵ رقم الحديث ۳۲۹۷

Maktaba Tul Ishaat.com

نَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من الموبقات. يَعْنِي المهلكات. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

خو مونږ به دغه کارونه د نبی کریم ﷺ په زمانه کې په موبقات یعني هلاکونکي کارونو کې شمارلو.

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا عَائِشَةُ إِيَّاكِ

او د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: عائشه! ته خپل ځان د هغه ګناهونو

وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللهِ

نه هم لیرې وساته چې هغه معمولي او سپک ګڼلی کیږي. ځکه چې د دغه ګناهونو لپاره د الله تعالی په

طَالِبًا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[2]

نزد باندې یو مطالبه کونکی هم شته دی. (ابن ماجه، دارمی، بیهقی فی شعب الایمان)

د حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت ابوموسی رضي الله عنه خپل مینځې خبرې

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:

او حضرت ابوبرده بن ابی موسی اشعری رضي الله عنه چې هغه د وچتې درجې تابعینو نه دی، فرمایې چې

قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: هَلْ تَدْرِي مَا قَالَ أَبِي لِأَبِيكَ؟

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ماته ووېل: چې تا ته معلوم دي: زما پلار ستا پلار ته څه ویلي وُ؟ حضرت ابوبرده رضي الله عنه

قَالَ: قُلْتُ: لَا. قَالَ: فَإِنَّ أَبِي

فرمایې چې ما جواب ورکړو چې زه نه پوهیږم. حضرت عبد الله رضي الله عنه جواب راکړو: زما پلار ستا پلار

قَالَ لِأَبِيكَ يَا أَبَا مُوسَى هَلْ يَسُرُّكَ أَنَّ إِسْلَامَنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ته ویلي وُ چې ابوموسی! آیا دا خبره ستا لپاره خوشحالونکې ده چې زمونږ اسلام کوم چې د رسول الله ﷺ سره وُ

وَهِجْرَتَنَا مَعَهُ وَجِهَادَنَا مَعَهُ وَعَمَلَنَا

زمونږ هجرت کوم چې د هغه سره وُ، زمونږ جهاد کوم چې د هغه سره وُ، او زمونږ اعمال کوم چې د هغه سره وُ

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۲۹ رقم الحديث ۶۴۹۲، والدارمي في السنن ۲/۴۰۷ رقم الحديث ۲۷۶۸.

(2) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۱۷ رقم الحديث ۴۲۴۳، والدارمي في السنن ۲/۳۹۲ ۲۷۲۶.

كُلُّهُ مَعَهُ بَرَدَ لَنَا؟ وَأَنَّ كُلَّ عَمَلٍ عَمِلْنَاهُ بَعْدَهُ

هغه ټول دي زمونږ لپاره ثابت او برقرار پاتې شي. او مونږ چې كوم اعمال د رسول الله ﷺ نه وروسته كړيدي،

نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَأْسًا بِرَأْسٍ؟ فَقَالَ أَبُوكَ لِأَبِي: لَا

كه هغه زمونږ سره سربرهم وي نو مونږ به خلاص شو نو زمونږ لپاره كافي دي، زما پلار ته وويل: چې نا!

وَاللهِ قَدْ جَاهَدْنَا بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّيْنَا

په خداى قسم چې داسې نده. چې مونږ د رسول الله ﷺ نه وروسته جهاد وكړو، لمونځونه وكړل،

وَصُمْنَا وَعَمِلْنَا خَيْرًا كَثِيرًا. وَأَسْلَمَ عَلَى أَيْدِينَا بَشَرٌ كَثِيرٌ

روژې موونيولې، او نور ډير نيک اعمال وكړل. او ډير خلک زمونږ په لاس باندې مسلمانان شول. او يقينًا

وَإِنَّا لَنَرْجُو ذَلِكَ. قَالَ أَبِي: وَلَكِنِّي أَنَا وَالَّذِي

مونږ (د ذكر شوؤ شيانو) اجراو ثواب اميد لرو. زما پلار وويل چې (ستا خبره صحيح ده) ليكن زه قسم خورم

نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنَّ ذَلِكَ بَرَدَ لَنَا

په هغه ذات باندې، د چا قدرت په قبضه كې چې زما ځان دى، زه دا خبره خوښوم چې مونږ كوم اعمال د رسول الله ﷺ

وَأَنَّ كُلَّ شَيْءٍ عَمِلْنَاهُ بَعْدَهُ

سره كړيدي، هغه ثابت او په خپل حال دي. او كوم اعمال چې مونږ د نبي ﷺ نه وروسته كړيدي،

نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَأْسًا بِرَأْسٍ. فَقُلْتُ:

دهغې نه كه سربره وي نو مونږ خلاص شو حضرت ابوبرده رضي الله عنه فرمايي چې ما حضرت ابن عمر رضي الله عنه ته وويل

إِنَّ أَبَاكَ وَاللهِ كَانَ خَيْرًا مِنْ أَبِي. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

چې ستا پلار قسم په خداى چې زما د پلار نه غوره وؤ.

توضيح: بردلنا: ـ د، د ثبت په معنى دى. مطلب دا دى چې حضرت عمر رضي الله عنه نبى كريم ﷺ د زمانې د ښه اعمالو ذكر وكړو. او بيا يې وفرمايل چې كه هغه اعمال زمونږ په اعمال نامه كې پاتې شي او په هغې باندې مونږ ته ثواب راكړل شي او د نبى كريم ﷺ نه وروسته چې مونږ كوم اعمال كړيدي، د ښه مونږ ته ثواب رانكړى شي. او نه عذاب راكړى شي يعنې سربر فيصله وشي نو دا به ډيره خبره وي! ستا هم دا

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۷/۲۵۴ رقم الحديث ۳۹۱۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

خوښه ده او که نا؟ حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه وفرمایل چې داسې نده حضرت! مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته ډیر ښه ښه اعمال کړیدي. چې په هغې باندې مونږ د ثواب امید لرو. په حضرت عمر رضی الله عنه باندې په خوف او رجاء کې خوف غالب ؤ . ځکه یې وفرمایل او حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه باندې د رجاء کیفیت غالب ؤ. نو ځکه په هغه باندې دویم رنګ غالبه ؤ. خوف او رجاء کې به حضرت عمر رضی الله عنه فرمایل چې که د قیامت په ورځ باندې اعلان وشي چې فقط یو سړی به دوزخ ته ځي، نور ټول به جنت ته ځي. نو زه به وایم چې هسې نه هغه سړی خو زه نه یم. او که اعلان وشي چې فقط یو سړی به جنت ته ځي نو زه به وایم چې هغه به زه یم. بهرحال موسیٰ اشعری رضی الله عنه خوې حضرت ابوبرده رضی الله عنه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ته وفرمایل چې ستا قدرمند پلار زما د قدرمند پلار نه په دې رایه کې غوره ؤ.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د نهو خبرو حکم

﴿۲۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَمَرَنِي رَبِّي بِتِسْعٍ:
حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما رب ما ته د نهه[۹] خبرو حکم کړے
خَشْيَةِ اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَكَلِمَةِ الْعَدْلِ
یو خو دا چې په ښکاره او په پټه باندې د یو الله نه دې یره وکړی شي. دویمه خبره دا چې رښتیا دې وویلی شي.
فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَى وَالْقَصْدِ
که د غصې حالت وي او که د رضامندۍ حالت وي. دریم خبره دا چې فقر او غربت او مالدارۍ دواړو حالتونو
فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِي
درمیانه والی پکار دی. څلورم خبره دا چې زه د هغه سړي سره خپلولي وساتم چې هغه زما سره تعلق ختموي.
وَ أُعْطِي مَنْ حَرَمَنِي وَ أَعْفُو
پنځمه خبره دا چې زه هغه سړي ته (هم) څه ورکړم چې هغه ما محرومه ساتي. شپږمه خبره دا چې زه د انتقام
عَمَّنْ ظَلَمَنِي وَأَنْ يَكُونَ صَمْتِي
اخستلو طاقت لرلو سره هم هغه سړی معاف کړم چې هغه په ما باندې ظلم وکړي. اوومه خبره دا چې زما چپ
فِكْرًا وَنُطْقِي ذِكْرًا
کیناستل دې هم د عبادت ذریعه وي. اتمه خبره دا چې زما وینا دې د الله د یادونې ښکارونکې وي. او نهمه

وَنَظَرِي	عِبْرَةً	وَآمُرُ	بِالْعُرْفِ
خبره دا چې زما نظر دې د عبرت اخستلو لپاره وي. او زما رب ماته دا حکم هم کړيدی چې زه د نيکۍ حکم			
«وَقِيلَ» بِالْمَعْرُوفِ " رَوَاهُ رزين[1]			
وکړم او په يو روايت کې د بالمعروف لفظ دی.			

د الله تعالی د ویرې نه د ژړا فضیلت

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ عَبْدٍ
او حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هر هغه مؤمن
مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ثُمَّ
بنده چې د هغه د سترګو نه د خدای د يرې وښکې وځي. اګر که هغه وښکې د مچ د سر په برابر ولې نه وي، او بيا
يُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حَرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]
هغه وښکې را تويدلو باندې هغه ښکاره مخ ته راورسيږي نو الله تعالی به په هغه باندې د دوزخ اور حرام کړي.

توضيح: حروجهه: د مخ برسيره چې کومه برخه ده. هغې ته **حرالوجه** وايي. يعني د خدای د يرې نه د چا د سترګو نه کم ازکم درې اوښکې راوتلو باندې په مخ پريوځي، نو الله تعالی په هغه مخ باندې د جهنم اور حراموي. اګر که هغه اوښکې د مچ د سر په برابر ورې ولې نه وي. (مرقات ۹/۲۲۳)

(۱) رواه رزين.

(۲) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۰۴ رقم الحديث ۴۱۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ جمادی الاول ۱٤۱۸هـ

بَاب تغیر النَّاس
په خلکو کې د بدلون بیان

یعنې په خلکو کې تغیر او بدلون یا د زمانې په حالاتو کې بدلون. د دې باب په څه روایتونو کې د خلکو د بدلون ذکر دی. خو په اکثرو احادیثو کې د د زمانې د حالاتو د بدلون بحث دی. دواړه مطلبونه صحیح دي چې په خلکو کې به هم او په زمانه کې به هم بدلون راشي. دا بدلون د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حیات طیبه سره متعلق دی. د حیات طیبه دور بل ؤ ، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته دور بل ؤ. او څومره چې وروستوالی راتلو . تغیر او بدلون ډیریدلو او نن مونږ په مکمل توګه باندې بدل شوي یو. خلکو به د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې په اخلاص سره په سختۍ باندې په دین عمل کولو. د الله تعالی احکام او سنت نبوی به یې په په سر سترګو سره قبلول او په شوق باندې په هغې ولاړ ؤ. د دنیا نه خلک بې رغبته او د آخرت اړخ ته متوجې ؤ. خو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته په قلار قلار د خلکو حالاتو کې تغیر او بدلون راتللو، تردې چې قیامت ته نژدې به خلک بیخې بدل شي. او د ښه صفتونو په ځای به بد صفتونه خپل کړي. نیکۍ ته به په بد نظر سره ګوري. او بدۍ ته به په ښه نظر سره ګوري. ګویا په عقل کې به مکمل فتور (نقصان) راشي. کبیرا نومې یو شاعر دا بدلون په یو شعر کې په دې توګه ذکر کړیدی:

رنگی کو نارنگی کہا دودھ کھڑے کو کھویا   چلتی کا نام گاڑی رکھا یو کبیرا رویا

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ
قحط الرجال په زمانه کې به په سلو کې یو کس د کار په لاس راځي

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّمَا النَّاسُ
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: خلک اختلاف او د صفاتو د بدلون
كَالْإِبِلِ الْمِائَةِ لَا تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .[۱]
په اعتبار سره د هغه سلو اوښانو په شان دي چې په هغې کې به ته د سپرلۍ قابل یو موندلی شي. (بخاری ومسلم)

توضیح: راحلة: راحلة هغه اوښ ته وایي چې هغه د سپرلۍ وړ وي. تندرسته وي، صحیح وي، روغ وي، او د بار وړلو ښه قابل وي. د حدیث مطلب دا دی چې څنګه په سلو اوښانو کې په مشکله

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۳۳ رقم الحديث ۶۴۹۸ ومسلم في صحيحه ۴/۱۹۷۳ رقم الحديث (۲۵۴۷-۲۳۲)

سره یو ... د سپرلی قابل راوځي، دغه شان په انسانانو کې هم د کار سړی په ګرانه سره تر لاسه کیږي. ... عارفین وايي چې وس د قحط الرجال زمانه ده . د سلو عدد د تکثیر لپاره ... حد او تعیین ... نه دی. دغه شان دا کیفیت د خیرالقرون نه وروسته د هرې زمانې لپاره دی. وس د دې جدید ... په اړه باندې په ځای ویلی کیدلی شي.(مرقات ۹/۲۲۳)

لکه څنګه چې شاعر ویلي دي:

واذا صفالك من زمانك واحد فهو المراد واين ذا الواحد

(مرقات ۹/۲۲۳)

یعنې که ستا په زمانه کې تاته یو مخلص دوست په لاس درغلو نو دغه هم غنیمت دی، خو هغه یو چیرته دی؟

مسلمان به د یهودو او نصاراؤ تقلید وکړي

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ
او حضرت ابو سعید رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقینًا تاسو په په ولیشت
شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ
ولیشت برابر او د لاس لاس برابر د هغه خلو طور طریقې خپلې کړې، چې هغه ستاسو نه مخکې تیر شویدي.
حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ». قِيلَ:
تردې چې که که هغوی د ګونګټ په سوري کې کیني نو تاسو به هم هغوی پسې ځی. صحابوٴ عرض وکړو
يَا رَسُولَ اللهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى؟
یارسول الله! هغه خلک مخکې تیر شویدي او د چا طور طریقې چې به مونږ خپلوؤ، آیا هغه یهود او نصاری دي؟
قَالَ: «فَمَنْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]
نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که هغه یهود او نصاری ندي نو نور څوک دي؟

توضیح: شبرا بشبر: یعنې ولیشت په ولیشت او لاس په لاس به د یهود او نصاراؤ په نقش قدم باندې رانده مزل کوی.

حجر: سوري ته وايي. او **ضب**: سمساري ته وايي. یعنې بې فائدې تقلید به کوی. بس د یهودو او

---

[1] اخرجه البخاري في صحیحه ۲۹۵ رقم الحديث ۳۴۵۶، ومسلم في صحيحه ۴/۲۰۵۴ رقم الحديث (۶/۲۶۶۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

نصاراؤ تقليد به خپله د مسلمانانو لپاره د زړه خوښي سبب جوړ شي. كه فائده ورېکې وي او كه نه وي، لړوګوري! د سمسارې سورې ته ننوتلو کې څه فائده ده؟

فَمَنْ؟: يعني يهود او نصارى به يې. د دې نه غيره به نور څوک وي؟ نن سبا مونږ ګورو چې په هره معامله کې کلم ګو مسلمانان د غيرمسلمو په نقش قدم باندې روان شويدي. كه هغه افعالو کې وي او كه اقوالو کې وي. يا بدعات او تحريفات کې وي.هر ميدان کې دهغوې تقليد شروع دى. (مرقات ۹/۲۲۵)

ښه خلک به مړه شي، خزلې به پاتې شي

﴿۳﴾وَعَن مرداس الْأَسْلَمِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ							
او حضرت مرداس اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: نيک بخته او نيکان خلک به							
الْأَوَّلُ	فَالْأَوَّلُ	وَتَبْقَى	حُفَالَةٌ	كَحُفَالَةِ	الشَّعِيرِ	أَوِ	التَّمْرِ
يو بل پسې د دې نه ځي. او بدكاره، ناكاره خلک د وربشو يا كهجورو د بوسو په شان به پاتې شي. د							
لَا يُبَالِيهِمُ اللهُ بَالَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]							
چا چې الله تعالى هيڅ پرواه نکوي.							

توضيح: حفالة: غنم، كهجوري او وربشو بوسو ته خفالة وايي. يعني بدكاره، بدكرداره، زناكار خلک به پاتې شي. ښه خلک به يو بل پسې واغستلى شي. چا څه ښه ويلې دي:

گل گئے گلشن گئے بھولوں کے پتے رہ گئے — جو لوگ تھے وہ مر گئے الّو کے پٹھے رہ گئے

آدمیاں گم شدند ملک خدا خر گرفت — شامت اعمال ما صورت نادر گرفت

اسپ تازی شده مجروح بزیر پالان — طوق زریں ہمہ در گردن خری بینم

الْفَصْلُ الثَّانِي

يوه پيشنګوئي

﴿٤﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطَاء
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كله چې زما امت په تكبر سره ګرځيدل

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۵۱ رقم الحديث ۶۴۳۴.

وَخَدَمَتْهُمْ أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ . وَالرُّومِ

شروع کړي او د باچاهانو ځامن چې هغه به د روم او فارس شهزادګان به وي، د هغوی خدمت به کوي. نو په دې

سَلَّطَ اللهُ شِرَارَهَا عَلَى خِيَارِهَا» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]

صورت کې به الله تعالی بد خلک په نیکانو خلکو باندې (یعني ظالمان په مظلومانو باندې) مسلط کړي.

توضيح: **المطیطاء**: په لویې باندې ګرځیدلو او د ګډا په انداز باندې حرکاتو او سکناتو او په ناز او فخر سره د تکبر مزل کولو ته المطیطاء ویلی شویده. دا د تمطی نه دی. په تکبر مزل کولو ته وایي. مراد تکبر دی. (مرقات ۹/۲۲۶) نن سبا په عربو کې دا شی ډیر شویدی.

ابناء فارس: یعني د اسلامي فتوحاتو نه وروسته چې کله روم او فارس د باچاهانو اولاد په غنیمت کې راشي او د مسلمانانو خدمت کوي . نو دا مت حالت به خراب شي. د بنو امیه د شهزادګانو په دور کې شهزادګانو په تکبر سره مزل کول شروع کړو. عثمان بن عفان رضي الله عنه شهید شو ، بیا علي مرتضی رضي الله عنه شهید شو. او حجاج بن یوسف په شان خلکو په صحابه کرامو حکومت کول شروع کړل. بد خلک په ښه خلکو باندې مسلط شو. ټول نظام بدل شو. د بنو امیه آزاده خیاله خلک په بنو هاشم باندې مسلط شو. نو حالت نو هم خراب شو. او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وړاندوینه ییخي ثابته شوه. (مرقات ۹/۲۲۶)

کله چې شریان خلک حکمرانان شو نو قیامت به راځي

﴿۵﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَاتَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى

او حضرت حذیفه رضي الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمال: کله چې تاسو (مسلمانان)

تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ وَتَجْتَلِدُوا بأسيافكم ويرث دنياكم

خپل (خلیفه) ووژنی. ستاسو توري به خپل مینځ کې د یو بل ختونه والوزوي، او تردې چې ستاسو د دنیا وارثان

شرارُكم » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

او والیان به مکار خلک شي نو هغه وخت به قیامت راځي.

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى

او حضرت حذیفه رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي

([1]) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۵۶ رقم الحديث ۲۲۶۱.

([2]) اخرجه الترمذي في ۴/۴۰۷ رقم الحديث ۲۱۷۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۴۲ رقم الحديث ۴۰۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَكُونَ	أَسْعَدَ	النَّاسِ	بِالدُّنْيَا
ترخو چې په دنیا کې د مال وزر ډیروالي او اقتدار او حکمراني په اعتبار سره د ټولو نه ډیر نصیب والا هغه سړی			
لُكَعُ بْنُ لُكَعٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالْبَيْهَقِيّ فِي «دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ»[1]			
چوړنشي چې هغه بیوقوفه وي، او د بیوقوفه ځوی وي.			

توضیح: لکع: ذلیل، سپک او بیوقوفه او غلام او بی نسبه سړي ته لکع وایي. ورکوټي ماشوم ته هم لکع وایي. ځکه چې هغه ورکوټی وي. لکه حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اړه باندې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اثم لکع. ذکر شوي حدیث کې بی اصله او بی نسبه سړی مراد دی. د چا چې اخلاق خراب وي. او خلک هغه ته خوش قسمته وایي. لکه د نن سبا د دنیا حکمرانان بی نسبه او د سپکې کورنۍ خلک دي. خو د منصب د وجې نه خلک د هغوې مخې ته ټيټيږي. (مرقات ۹/۲۲۷)

د عیش او د راحت ژوند نه د قناعت ژوند بنه دی

﴿۷﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ	قَالَ: حَدَّثَنِي مَنْ	سَمِعَ	عَلِيَّ	بْنَ	أَبِي	طَالِبٍ	
حضرت محمد بن کعب القرظی فرمایي چې ماته هغه سړي حدیث بیان کړو چې هغه د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ							
قَالَ: إِنَّا لَجُلُوسٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَاطَّلَعَ عَلَيْنَا							
نه دا اوریدلی ؤ. حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل: مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په جومات کې ناست ؤ							
مُصْعَبُ	بْنُ	عُمَيْرٍ	مَا	عَلَيْهِ	إِلَّا	بُرْدَةٌ	لَهُ مَرْقُوعَةٌ
چې مصعب ابن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هلته راغلو. د غه وخت د هغه په بدن باندې فقط یو څادر ؤ. او په دې څادر کې هم د							
بِفَرْوٍ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَى لِلَّذِي كَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ وَالَّذِي هُوَ فِيهِ الْيَوْمَ ثُمَّ قَالَ							
څرمنې پیوندونه ؤ. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وکتل نو په ژړا شو. بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:							
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَيْفَ بِكُمْ إِذَا غَدَا أَحَدُكُمْ فِي حُلَّةٍ							
چې هغه وخت به ستاسو څه حال وي چې کله یو سړی په تاسو کې سحر یو جوړا اغوستلي راوځي او							
وَرَاحَ	فِي	حُلَّةٍ؟ وَوُضِعَتْ	بَيْنَ	يَدَيْهِ	صَحْفَةٌ	وَرُفِعَتْ	أُخْرَى
مابنام بله جوړا اغوستلي راوځي. ستاسو مخې ته به د خوراک یو غټه پیاله کیخودلی کیږي او بله به پورته کولی کیږي،							

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۲۷ رقم الحديث ۲۲۰۹ واحمد في المسند ۵/۳۸۹ .

وَسَتَرْتُمْ	بُيُوتَكُمْ	كَمَا	تُسْتَرُ	الْكَعْبَةُ؟».
او تاسو به په خپلو کورونو باندې داسې پردې راځوړندوی لکه په کعبه باندې چې راځوړندولی کیږي.				
فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ	نَحْنُ	يَوْمَئِذٍ	خَيْرٌ مِنَّا	الْيَوْمَ
ځینو صحابوؤ وویل چې یا رسول الله ﷺ! مونږ به په هغه ورځ د نن ورځې نه په غوره حال باندې یو.				
نَتَفَرَّغُ	لِلْعِبَادَةِ	وَنُكْفَى	الْمُؤْنَةَ.	
ځکه چې هغه وخت به مونږ د عبادت لپاره آزاد او فارغه یو. او مونږ لپاره د محنت کولو څه ضرورت نوي.				
قَالَ: «لَا	أَنْتُمْ	الْيَوْمَ	خَيْرٌ	مِنْكُمْ
نبی کریم ﷺ وفرمایل: داسې نده بلکې حقیقت دا دی چې تاسو به د هغې ورځې په نسبت سره				
يَوْمَئِذٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]				
نن ورځې ډیر غوره یی.				

توضیح: في المسجد: د دینه یا مسجد نبوي مراد دی. یا مسجد قباء مراد دی.

مرقوعة: دا د رقعه نه دی. د پیوند په معنی دی.

بفرو: فرو څرمنې ته وایي. یعنې دا پیوند ونه د څرمنې ؤ.

بکی: یعنې نبي کریم ﷺ چې کله د مصعب بن عمیر رضي الله عنه فقر او غریبي وکتله نو نبي کریم ﷺ په ژړا شو، د دې وجه دا وه چې حضرت مصعب بن عمیر په مکه کې د اسلام نه مخکې په ډیر ناز او نعمت کې ژوند تیرولو. او نن یې دا حالت ؤ چې یو څادر او په هغې کې هم پیوندونه او پیوندونه هم د څرمنې د ټوټو نه. د نبی کریم ﷺ ژړا د شفقت او رحمت د وجې نه وه. ګنې د اسلام تعلیم خو داسې ؤ چې دنیا مه جوړوی، لکه څنګه چې په دې حدیث کې دي: که دنیا جوړوی نو د دنیا به پاتې شی. نبی کریم ﷺ خپله هم د دینه ډیر مشقت برداشت کړیدی. حضرت عمر رضي الله عنه چې ورله توجه کړ چې ته د دنیا د فراختیا دعاء وکړه نو نبی کریم ﷺ خفه شو. (مرقات ۹/۲۲۹)

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۵۸ رقم الحديث ۲۴۷۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

په آخره زمانه کې په دین باندې قائم پاتې کیدل داور سره د لوبې کولو مترادف به وي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: خلکو باندې به يوه داسې زمانه راشي

الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ

چې هغه وخت په د خلکو په مينځ کې په خپل دين باندې صبر کونکی د هغه سړي په شان وي چې هغه په خپل

عَلَى الْجَمْرِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا[1]

موټې کې سرکوټي نيولي دي. (روايت کړې دې ترمذی)

کله چې حالات خراب وي نو د ژوندنه مرګ ښه دی

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې ستاسو مشران هغه خلک وي

خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ

چې هغه ستاسو غوره خلک وي، او ستاسو دولت مند خلک سخيان وي، او ستاسو معاملات په خپل مينځې مشورو

فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا. وَإِذَا كَانَ أُمراؤكم

باندې حل کيږي نو د غه وخت زمکې شا ستاسو لپاره د زمکې د خيټې نه غوره ده. او کله چې ستاسو مشران

شِرَارَكُمْ وَ أغنياؤكم بخلاؤكم وَ أُمُورُكُمْ

هغه خلک وي چې هغه په تاسو کې بدترينه خلک وي. او ستاسو دولت مند بخيلان وي. او ستاسو د معاملاتو

إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ من ظهرها» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

اختيار د ښځو په لاس کې وي. نو د غه وخت ستاسو لپاره د زمکې خيټه د زمکې د شا نه غوره وي.

توضيح: امراءكم: کله چې حکمران طبقه ښه ديندار ه وي، نو د هغې ښه اثر به په عوامو باندې پريوځي. نو عام حالات به ښه وي.

سمحاءكم: يعنې مالدراه طبقه فياض او سخي او خواخوږي وي، نو د غريبانو عوامو سره به مالي

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۵۶ رقم الحديث ۲۲۶۰ واحمد في المسند ۲/۳۹۰.

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۵۹ رقم الحديث ۲۲۶۶.

مرسته جاري وي. نو ټول به خوشحاله وي، دين به هم په پرمختګ وي او دنيا به هم پرمختګ کوي.

شوری بینکم: يعنې ملکي حالات او دملک خارجه پاليسي دعقلمند خيرخواه نارينؤ په لاس کې وي، نو فيصلې به ښې وي.

فظهر الارض: يعني د زمکې پاسنی برخه د هغې د دننه نه ستاسو لپاره به غوره وي. يعني د مرګ نه به ژوند ښه وي. ځکه چې د حاکمانو د وجې نه دين او دنيا به محفوظ وي. خواخوږو مالدارانو د وجې نه به دغريبو عوامو خواخوږي کيږي. او هيواد به د مشورې په نظام باندې ولاړ وي. نو په دې کې به خېلواکي او استحکام وي. نو په ژوندې وسيدلو کې به خير غالب وي. نو ژوندې پاتې کيدل به د مرګ نه غوره وي. که دا درې ستنې ګوزار شي نو بيا د ژوندې پاتې کيدلو نه مرګ غوره دی. ځکه چې غلط حاکمان عوام ګمراه کوي. څنګه چې نن سبا کيږي. (مرقات ۹/۲۳۲)

چا څه ښه ويلې دي:

وهل افسد الدين الا الملوك — واحبار سوء ورهبانها

(شاه ولی الله محدث دهلوی)

گربه میر وسگ وزیر وموش را دیوان کنند — ایں چنیں ارکان دولت ملک را ویراں کنند

الی نساءکم: او د ناقصات العقل ښځو په اشارو باندې تګ د خطرو نه خالي نه دی. ځکه ملا علي قاري رحمه الله يو روايت نقل کړيدی چې **شاوروهن وخالفوهن** يعني د ښځو مشوره اورئ خو هغې باندې عمل مکوئ. بهرحال په دې صورت کې به شر غالب وي، نو ژوندې پاتې کيدلو نه به مرګ ښه وي. (مرقات ۹/۲۳۲)

دجهاد پريخودل او د دنيا مينه د ذلت سبب دی

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « يُوشِكُ الْأُمَمُ		
او حضرت ثوبان رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ډير ژر داسې وخت راتلونکی دی چې		
أَنْ	تَدَاعَى	عَلَيْكُمْ كَمَا
د کفر او ضلالت نه ډکو خلکو ډله به خپل مينځ کې ستاسو سره جنګ کولو او ستاسو شان شوکت ورکولو لپاره به يو		
تَدَاعَى	الْأَكَلَةُ إِلَى	قَصْعَتِهَا».
بل راوبلي. لکه د خوراک په دسترخوان په راغونډيدونکې خلک خپل مينځ کې يو بل لره د خوراک لوښي ته		

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ قَائِلٌ: وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ؟	
متوجې کوي. يو صحابي ووېل چې آيا دا په دې وجه وي چې هغه وخت به مونږ په شمېره کې لږ يو؟	
قَالَ: « بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ	
نبي کريم ﷺ وفرمايل: نا! داسې به د دې وجې نه نوي، چې تاسو به په شمېره کې کم ياستئ. بلکې هغه	
وَلَكِنْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ	
وخت خو به ستاسو شمېره ډېره وي، خو ستاسو حيثيت به د اوبو د زګ د خس و خاشاکو په شان وي، چې هغه د سيندونو	
وَلَيَنْزِعَنَّ اللهُ مِنْ	
يا ولو په غاړو باندې موندل کيږي. (يعنې په تاسو کې جرأت او شجاعت ورک شوی وي) په دې کې هيڅ شک نشته چې	
صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ» .	
الله تعالى به ستاسو د دښمن د زړه نه ستاسو هيبت او وېره وباسي. او ستاسو په زړه کې به سستي او ضعف پيدا	
قَالَ قَائِلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْوَهْنُ؟	
کړي. چا ووېل: چې يا رسول الله! زمونږ په زړه کې به د ضعف او سستې پيدا کېدلو سبب څه وي؟	
قَالَ: «حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» (1)	
نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دنيا مينه او د مرګ نه بيزاري. (ابو داود، بيهقي شعب الايمان)	

توضيح: يوشك: د افعال مقاربه نه دی. د نژدې په معنی دی.

تداعى: اصل کې تتداعى دی. يعنې يو بل به د دنيا کافر رابلي. او وايي به چې راځئ! مسلمانان وخورئ، هغوی تباه وبرباد کړئ، د هغوی هيوادونه او د هغوی وسائل د هغوی نه په زور واخلئ. نن سبا د ټولې دنيا کافر د مسلمانانو په خلاف يو شويدي. او دا چيغه وهي چې مسلمانان ختم کړئ دا ترهګر دي. د مسلمانانو حکمرانان او عوام د غه شان خس او خاشاک دي څنګه چې په دې حديث کې وړاندوينه ده. د دنيا په مينه کې ټول اخته دي، او جهاد يې پرېخودلی دی. بلکې انکار کوي. ۵۵ هيوادونه دي. خو د مچ د وزر په برابر هم نه دي. د غټو غټو وسائلو مالکان دي. خو د مرګ نه يريږي. د کافرو رعب د دوی په زړونو کې ناست دی. هو! يو څو مجاهدين دي چې نن سبا د امت مرحومه د سرلوړی نښان دی. خو د هغوی خپل هم دښمنان دي او دښمن خو دی دښمن. (مرقات ۹/۲۳۳)

(1) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۸۳ رقم الحديث ۴۲۹۷ واحمد في المسند ۵/۲۷۸.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث

د معاشرې د یو څو معتدې ګناهونو وبال

﴿۱۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: « مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ
روایت دی چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمایل: کله چې یو قوم په مال غنیمت کې خیانت شروع کړي
إِلَّا أَلْقَى اللهُ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ
نو الله تعالی د هغې په زړه کې د دښمن رعب او یره پیدا کړي. او په کوم قوم چې زنا کول خپره شي، په هغوې
إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قَطَعَ عَنْهُمُ الرِّزْقَ
کې مرګونه ډیر شي، کوم قوم چې په ناپ تول کې کمی کوي، نو هغوې رزق واخستلی شي، او کوم قوم چې
وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بالعهد
بې انصافه او ناحقه احکامات جاري کړي نو په هغوې کې وینه تویدل خپره شي، او کوم قوم چې خپله وعده
إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمِ عدوهم ». رَوَاهُ مَالِك[1]
وعده ماته کړي، نو الله تعالی په هغې باندې د هغې دښمن مسلط کړي.

توضیح: غلول: مال غنیمت کې خیانت کولو ته غلول وایي. دلته عام خیانت هم مراد کیدلی شي. د دې وبال دا دی چې د قوم په زړونو کې په اجتماعې توګه باندې د دښمن یره واچولی شي. او قوم یریدونکی شي او څوک ویریدلو نو هغه مړ شو. (مرقات ۹/۲۳۴)

فشا الزنا: کله چې زنا عامه شي نو د دې وبال دا دی چې په قوم کې وبائې مرضونه پیدا شي، مثلا طاعون، هیضه او داسې نورې لاعلاجه ناروغۍ عامې شي. نو مرګونه عام شي. ناپ تول کې کمې وبال دا دی چې رزق حلال او د هغې برکت وچت کړی شي. او شریعت پریخودلو باندې خپل ځانې قوانینو مطابق فیصلو وبال دا دی چې وینه تویدل عام کیږي. (مرقات ۹/۲۳۴)

ولاختر: وعده کې دهوکه او غدارۍ ته ختر وایي. د بنه ختارٍ کفور: ی. د دې وبال دا دی چې هغه دښمن په دې باندې مسلط کړی شي. د کوم دښمن سره چې دې وعده خلافې کولو باندې وعده ماته کړې وه. (مرقات ۹/۲۳۴)

---

[1] أخرجه مالک في الموطاء ۲/۴۱۰ رقم الحدیث ۲۶ من کتاب الجهاد.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۴ جمادی الاول ۱۴۱۸هـ

بَاب فِي الْإِنْذَار والتحذير

د نصیحت او ویرولو بیان

د مشکوة شریف په عامو نسخو کې دلته فقط باب دی چې په هغې سره اشاره ورکول کیږي چې دا باب د مخکښي باب سره د ملحقاتو نه دی. خو ابن مالک رحمه الله دلته هم هغه عنوان تړلی دی کوم چې مونږ پاس ذکر کړیدی. انذار د یرولو په معنی دی. او تحذیر د نصیحت په معنی دی.

الْفَصْلُ الأَوَّل

په اصل کې خلک ښه وُ، شیطان برباد کړل

﴿۱﴾ عَن عِيَاض بن حمار الْمُجَاشِعِي أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ
حضرت عیاش بن حمار مجاشعی رضي الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله
فِي خُطْبَتِهِ: " أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هَذَا:
خطبه کې وفرمایل: واورئ! زما رب ماته حکم کړیدی چې زه تاسو ته هغه خبري وکړم چې هغه تاسو نه پیژنئ.
كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حلالٌ و إِنِّي خلقت عبادي
الله تعالی فرمایي چې کوم مال خپل بنده ته ور کړیدی هغه حلال دی. الله تعالی دا وفرمایل چې ما خو خپل ټول بندیګان د
حنفاء كلهم وَ إِنَّهُ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ
باطل په خلاف د حق اړخ ته مائل پیدا کړل. خو دا شیطانانو چې د دوي خواته راغلل او هغوي یې د خپل
فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ
دین اړولو باندي بې لارې کړل. او په دوي باندې یې هغه شیان حرام کړل، کوم چې ما د دوي لپاره حلال
لَهُمْ وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا
کړي وُ. او هم دې شیطانانو دوي ته حکم وکړو چې دوي هغه څه زما سره شریک کړي، په کوم باندې چې
لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا وَإِنَّ اللهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ
څه دلیل ندی رالیږلی. او دا یې وفرمایل: چې الله تعالی د زمکې خلکو ته نظر وکړو (نو دوي یې په کفر او
الْأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ
شرک باندې اتفاق کونکې وا او په ګمراهی او ضلالت کې ننوتي وموندل) نو الله تعالی دا ټول خپل مبغوض

وَعَجَمَهُمْ	إِلَّا	بَقَايَا	مِنْ	أَهْلِ	الْكِتَابِ			

او ناخوښه وګرځول. که هغه د عربو وي او که د عجمو نه، علاوه د اهل کتابو د هغه جماعت (چې هغه مشرک

وَقَالَ:	إِنَّمَا	بَعَثْتُكَ

شوي نه وه) او الله تعالی وفرمايل چې ما ته پيغمبر جوړ ولو باندې دنيا ته ځکه وليږلې، دې لپاره چې زه ستا

لِأَبْتَلِيَكَ	وَأَبْتَلِيَ	بِكَ	وَأَنْزَلْتُ	عَلَيْكَ	كِتَابًا

ازميښت وکړم او ستا سره ستا د قوم ازميښت هم وکړم. او ما په تا باندې يو داسې کتاب نازل کړيدی. چې

لَا	يَغْسِلُهُ	الْمَاءُ	تَقْرَؤُهُ	نَائِمًا	وَيَقْظَانَ	وَإِنَّ	اللهَ	أَمَرَنِي

هغه او به اينځلی او ورانولی نشي. ته دا کتاب په ايخه او په اوده وايې. او الله تعالی ما ته دا حکم کړيدی چې

أَن أحرقَ قُرَيْشًا فَقلت: يَا رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً قَالَ:

زه قريش وسوزوم. ما عرض وکړو چې زما پروردګاره! دوی به زما سره د ډوډۍ په شان وچقوي. الله تعالی

اسْتَخْرِجْهُمْ	كَمَا	أَخْرَجُوكَ

وفرمايل: ته دوی د دوی د وطن نه وباسه. لکه څنګه چې يې ته د وطن نه ايستلی وې. او د دوی سره جهاد

وَاغْزُهُمْ	نُغْزِكَ	وَأَنْفِقْ

وکړه. مونږ به ستا د جهاد د سامان انتظام وکړو. ته د خپل لښکر په خلکو باندې مال او اسباب خرچ کړه.

فَسَنُنْفِقُ	عَلَيْكَ	وَابْعَثْ

که ستا سره مال او اساب نوي نو مونږ به يې درکړو. او د هغې انتظام به وکړو. ته د دوی په خلاف باندې

جَيْشًا	نَبْعَثْ	خَمْسَةً	مِثْلَهُ

لښکر وليږه، مونږ به د دښمن د لښکر نه پينځه چونده ډير طاقت سره ستا مرسته وکړو. او کومو خلکو چې

وَقَاتِلْ	بِمَن	أَطاعك

په تا باندې ايمان راوړو او ستا تابعدار دي، هغوی د ځان سره کړه او د هغو په خلاف جنګ وکړه چا چې ستا

من عصاك". رَوَاهُ مُسلم[1]

نافرماني او ستا نه سرکشي کړيده، او کافر دي.

([1])أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۷ رقم الحديث ۶۳/۲۸۶۵ وأحمد في المسند ۴/۲۶۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: في خطبة: يا د جمعې او اخترونو په خطبه کې يا د بل کوم وعظ په خطبه کې نبی کريم ﷺ عام ارشاد وفرمايلو چې ما ته نن خپل څه چې ويلې دي، هغه څه چې تاسو يې نه پيژنئ. زه هغې باندې تاسو پوهوم. اوله خبره يې دا وفرمايله چې ما کوم مال درکړيدی او بنده په جائز طريقه باندې ګټلی دی. حلال دی. دېته حرام مه وايئ، لکه چې مشرکانو به کول.

نحلته: د ورکړې په معنی دی. دويم خبره **انى خلقت عبادي** ده. **اجتالتهم** د اجتيال نه دی. مطلب دا چې شيطان په دوې باندې ګشت وکړو او ټول يې بې لارې کړل. او حلال شيان يې په دوې باندې حرام وګرځول. څنګه چې مشرکانو په څاروؤ کې کړي ؤ ﴿هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ﴾ **وان الله نظر**: دا دريمه خبره ده.

مقت: غصه کول. مبغوض ګڼل. **بقايامن اهل الكتاب**: د دېنه مراد هغه يهود او نصارىٰ دي چا ته چې د نبی کريم ﷺ دعوت نه ؤ رسيدلی. او کله چې ورسيدلو نو هغوې سمدستي اسلام قبول کړو. او د دېنه مخکې د دې يهودو ته د نصاراؤ دعوت نه وي رسيدلی او نصاراؤ د موسی عليه السلام نه انکار نوی کړی، لنډه دا چې اول دا خلک په دين قائم وي او بيا د نبی کريم ﷺ دعوت قبول کړي. نو دوې ته به دوه اجرونه ورکول کيږي. لکه څنګه چې په کتاب الايمان کې يو حديث دی. **وقال**: دا څلورمه خبره ده.

لايغسله الماء: يعني داسې کتاب دی چې فقط د په پاڼو باندې ندی، چې په اينځلو سره يې سياهي ليرې شي، بلکې دا په سينو کې محفوظ دی. او هر قِسم تحريف او تغير او بدلون نه پاک دی. **تقرئه**: يعني په ايخه او په اودو باندې به ته دا کتاب وايې.

وان الله امرني: دا پنځمه خبره ده چې د قريشو کوم خلک په کفر باندې قائم او هميشوالی کوي. ما ته حکم دی چې زه هغوې داسې ختم کړم لکه څنګه چې يو څيز سوزولو باندې ايره کولی شي.

يثلغوا: دا د ثلغ نه دی. په دروند کاڼي باندې د سر چقولو ته وايي. يعني کله چې زما سر وچقوي، نو سر به داسې خپور شي لکه څنګه چې ډوډۍ خپريږي. ځکه چې زما وسائل خو نشته دی، الله تعالی وفرمايل: ته دوې د مکې نه وباسه. لکه څنګه چې يې ته د مکې نه ايستلی وی. او ددوې سره جنګ وکړه. مونږ به د اسبابو او نصرت او مرستې به حوالې سره ستا مرسته وکړو. او تا به د قِسم مقابلې لپاره تيار کړو. او ته په خپل لښکر باندې خرچه وکړه. که ستا سره نوي نو مونږ به انتظام وکړو. او خرچ به در کړو. ته خپل لښکر وليږه. مونږ به ستا د لښکر مرسته وکړو. او د کافرو د لښکر نه پنځه چنده به ډير لښکر درکړو. او هغه مسلمان د ځان سره کړه چې هغه ستا تابعدار دي. او ددوې په ذريعه سره هغه کافرو وهه کوم چې ستا نافرمانه دي. **حنفاء**: پيدا کړل. يعني په ابتداء کې ټول خلک د اسلام په فطرت باندې پيدا کيږي. بيا هغوې لره ماحول خرابوي.

تقرأه نائماً ويقظان: په اودو او په ويخه يې وايې يعني ويخ وي ژبه او زړه دواړو باندې جاري وي او د اودو په حالت کې فقط په زړه باندې جارې وي. ځکه چې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سترګې اودې کيږي. زړه يې بيدار وي.

دصفا په غر باندې قريشو ته دعوت

﴿۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : لَمَّا نَزَلَتْ (وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله دا آيت نازل شو ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ﴾ (يعني خپله نژدې کورنۍ
الْأَقْرَبِينَ) صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي: «يَا بَنِي فِهْرٍ
ويروه) نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوه صفا ته لاړو. او د هغه ځای نه رابلل شروع کړل. ای بني فهر!
يَا بَنِي عَدِيٍّ » لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا
ای بني عدي يعني د قريش ټولې قبيلې يې (نوم په نوم) رابلل شروع کړل. کله چې (د قريشو د ټولو قبيلو) خلک راغونډ شو.
فَقَالَ : « أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ
نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: تاسو ماته اول دا ووايئ که زه تاسو ته دا خبر درکړم چې په ځنګل کې يو لښکر کوز
أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟ قَالُوا: نَعَمْ
شويدی او تاسو تباه کول غواړي. نو آيا تاسو به ما رښتونې وګڼئ. نو ټولو وويل چې بيشکه، ځکه چې زمونږ
مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا.
د هميش تجربه دا ده چې تا کله خبره کړيده نو رښتيا دې ويلې دي. ستا د ژبې نه مونږ د رښتياؤ نه غيره نور
قَالَ: «فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ
څه ندي اوريدلي. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: زه تاسو لپاره د خدای د اړخ نه د هغه ډير سخت
شَدِيدٍ». فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهَذَا
عذاب نه يرولو باندې مامور شوی يم. ابو لهب وويل: ټوله ورځ دې ستا تباهي وشي، آيا د دې لپاره دې
جَمَعْتَنَا ؟ فَنَزَلَتْ : (تَبَّتْ يَدَا
مونږ راغونډ کړيو؟ په دې باندې دا سورت نازل شو ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ يعني د ابو لهب دواړه لاسونه دې
أَبِي لَهَبٍ وَ تَبَّ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
مات شي. او هغه دې برباد شي. او حقيقت دا دی چې هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بې ادبۍ کولو په وجه باندې تباه برباد شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ	فِي	رِوَايَةٍ	نَادَى	:	

او په یو روایت کې داسې بیان شویدي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوازورکولو باندې قریش راغوند کړل،

«يَا	بَنِي	عَبْدِ	مَنَافٍ	إِنَّمَا	مَثَلِي	وَمَثَلُكُمْ	كَمَثَلِ	رَجُلٍ	

او وې فرمایل ای د عبد مناف ځامنو! زما او ستاسو د حالت مثال د هغه سړي په شان دی، چې هغه

رَأَى	الْعَدُوَّ	فَانْطَلَقَ	يَرْبَأُ	أَهْلَهُ	فَخَشِيَ

دښمن ولیدلو نو د خپل قوم د ساتلو لپاره روان شو. خو د دې یرې نه چې هسې نه د دښمن لښکر د هغه د رسیدلو نه مخکې د

أَنْ	يسبقوه	فَجعل	يَهْتِف	يَا	صَبَاحَاه» .[1]

هغه قوم ته ونه رسیږي نو هغه د هغه ځای نه په چیغه چیغه باندې وینا شروع کړه: های های د سحر تباهي

توضیح: یربأ: حفاظت او نګرانۍ په معنی دی. **اهله: ای قومه. ان یسبقوه:** یعني دې نګران او محافظ سره خطره پیدا شوه که خپله ځم او قوم رایبدار وم نو دښمن به مخکې رسیدلو سره هغوی هلاک کړي. لهذا هغه د هغه ځای نه وچت آواز سره چیغه کړه چې **یاصباحاه:** ای زما قومه دښمن د سحر په وخت کې برید (حمله) کونکی دی. تاسو خپل ځانونه وساتئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل د قریشو غټانو ډوډۍ ته راغوختل. خو د دین خبره ونشوه. بیا یې ورباندې دعوت وخوړلو. او خبره یې ښکاره کړه. خو خپلوان وتختیدل. دریم ځل باندې په عام اعلان سره یې خلک کوه صفا ته راوغوختل. د عربو د عادت مطابق یا صباحاه په الفاظ سره یې ټول راوغوختل. ټول راغلل. که څوک خپله نشو تللی نو خپل نمائنده یې ولیږلو.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم اول خپل تیر شوې ژوند او سیرت په اړه پوښتنه وکړه. ټولو وویل ته **صادق** او **امین** یې. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم عام دعوت ورکړو. خلک وتختیدل. ابولهب په نبی صلی الله علیه وسلم باندې د کاڼو ګوزارونه وکړل. نو سورة اللهب کې د هغې جواب راغلو. (مرقات ۹/۲۴۱)

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : لَمَّا نَزَلَتْ (وَ أَنْذِرْ عشيرتك الْأَقْرَبِين)								
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې کله دا آیت نازل شو ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ (یعني خپله نژدې								
دَعَا	النَّبِيُّ	صَلَّى	الله	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قُرَيْشًا	فَاجْتَمَعُوا	
کورنۍ ویروه) نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قریش خلک راوبلل. کله چې هغوی راغونډ شو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم								

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۴۷۷۰ ومسلم في صحيحه ۱/۱۹۳ رقم الحديث (۲۰۸-۳۵۵) .

فَعَمَّ وَخَصَّ فَقَالَ: «يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ
په خطاب کې تعمیم هم وکړو او تخصیص یې هم وکړو. نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولو ته خطاب وکړو: ای د کعب بن لوی ځامنو!
أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ.
خپل ځانونه د دوزخ د اور نه وساتئ. ای د مره بن کعب ځامنو! خپل ځانونه د دوزخ د اور نه وساتئ.
يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ من النَّار يَا بني عبد مناف أَنْقِذُوا أَنفسكم من النَّار
ای د عبد شمس ځامنو! خپل ځانونه د دوزخ د اور نه وساتئ. ای د مناف ځامنو! خپل ځانونه د دوزخ د اور نه
يا بَنِي هَاشِمٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ. يَا بني عبد الْمطلب أَنْقِذُوا أَنفسكُم
وساتئ. ای د هاشم ځامنو! خپل ځانونه د دوزخ د اور نه وساتئ. ای د عبد المطلب ځامنو! خپل ځانونه د
من النَّار. يَا فَاطِمَةُ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ الله
دوزخ د اور نه وساتئ. ای فاطمه! خپل ځان د دوزخ د اور نه وساته. ځکه چې زه ستاسو په حق کې د خدای د
شَيْئًا غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا».
اړخ نه د هیڅ قسم عذاب مالک نه یم. البته په ما باندې ستا د خپلولۍ حق دی. چې زه هغه د دې د لوندوالي
رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ
سره کوم. دا روایت مسلم نقل کړیدی او کوم روایت چې بخاری او مسلم دواړو نقل کړیدی. په هغې کې دا
قَالَ: «يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ الله شَيْئًا
الفاظ دي چې ای د قریشو ډلې! خپل ځانونه واخلئ، زه ستاسو نه د خدای د عذاب نه هیڅ هم نشم لیرې
وَيَا بَنِي عَبْدَ مَنَافٍ لَاأُغْنِيْ عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا يَاعَبَّاسَ بْنَ
کولی. ای د عبد مناف ځامنو! زه ستاسو نه د خدای د عذاب نه هیڅ هم نشم لیرې کولی. ای عباس بن
عَبْدَ الْمُطَّلِبْ لَاأُغْنِيْ عَنْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ الله
عبد المطلب! زه ستا نه د خدای د عذاب نه هیڅ هم نشم لیرې کولی. او ای د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترورې صفیه! زه
لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ الله شَيْئًا. وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ
ستا نه د خدای د عذاب نه هیڅ هم نشم لیرې کولی. او په پلار ګرانې فاطمه! د محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لورې!

Maktaba Tul Ishaat.com

سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا »[1]
زما د مال نه چې ته څه غواړې، وغواړه، لیکن د خدای د کوم عذاب نه تا نشم ساتلی.

توضيح: فعم و خص : یعنې نبی کریم ﷺ په د صفا په غر باندې په ودریدلو قریش راوبلل. نبی کریم ﷺ په شخصي توګه باندې په خصوصي نوم سره راغوختل. او عام قبیلې په نوم سره یې هم راغوختل. چې د هغې تفصیل **یا بنی کعب بن لوئ** دی. دا عام خطاب دی. او **یا بنی عبد المطلب** او **یا فاطمه** دا خاص خطاب دی . دېته یې عمَ وخصه ویلي دي. **رحمًا**: یعنې د صله رحمی حق دی. **سأبلها ببلاها**: یعنې زه به صله رحمې د هغې دلوندوالي سره ساتم. یعنې د خپلولۍ صله به قائم ساتم. بل او بلال لوندوالي ته وایي. او عرب صله رحمې یو ځای کول په لوندوالي سره تعبیر کوي. څنګه چې یُبس او چوالې په الفاظو سره د صله رحمۍ ماتول مراد اخلي ، د روایت په آخرې برخه کې د نورو خصوصي خطاباتو بیان موجود دي. (مرقات۹/۲۴۲)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

دامت محمّدیه فضیلت

﴿٤﴾ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ
حضرت ابو موسی رضی الله عنه فرمایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما دا امت، امت مرحومه دی.
لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا : الْفِتَنُ وَ الزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]
په دې امت باندې به په آخرت کې عذاب نوي، او دنیا کې د دې عذاب فتنې، زلزلې او ناحقه وژنه ده .

توضيح: ليس عليها عذاب: دا جمله د هغه احادیثو او آیتونو معارضه ده چې په هغې کې د دې امت د کبیره ګناهونو په کولو باندې د عذاب ذکر دی. د دې یو جواب دا دی چې دا امت مرحومه دی. په دې باندې به په آخرت کې داسې عذاب نه راځي چې دا د همیش لپاره په عذاب کې د کافرانو په شان راګیر شي. بلکې د دې عذاب عارضي دی. چې په دنیا کې به په دوی باندې زلزلې راځي. قتل او فساد کولو فتنې به راځي. دا سزاګانې خوړلو نه وروسته به آخرت کې پاک او صاف جنت ته ځي. دویم جواب دا دی چې د دې جملې تعلق د صحابه کرامو رضی الله عنهم د جماعت سره دی . صحابه اګرکه معصوم نه دي، خو د عذاب نه محفوظ دي.

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۳۸۲ رقم الحديث ۲۷۵۳ ومسلم في صحيحه ۱/۱۹۲ رقم الحديث (۲۰۴-۳۴۸)

[2] اخرجه ابوداود في السنن ۴۶۸ ۴ رقم الحديث ۴۲۷۸، وابن ماجه ۲/۱۴۳۴ رقم الحديث ۴۲۹۲ واحمد في المسند ۴/۴۱۰.

دریم جواب دادی چې د دې نه هغه خلک مراد دي چې دهغوی ګناه نه وي. (مرقات ۹/۲۴۴)

په مستقبل کې د امت محمدیه تاریخي حالت

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو عبیده بن جراح رضی الله عنه او حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت
قَالَ: «إِنَّ هٰذَا الْأَمْرَ بَدَأَ نُبُوَّةً وَرَحْمَةً
کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا کار (یعني دین اسلام) نبوت او رحمت سره ښکاره شویدی.
ثُمَّ يَكُونُ خِلَافَةً وَرَحْمَةً ثُمَّ
بیا د دېنه وروسته چې کومه زمانه راځي هغه به د خلافت او رحمت زمانه وي. بیا د دهغې نه وروسته
مُلْكًا عَضُوضًا ثُمَّ كَانَ جَبْرِيَّةً
چې کومه زمانه راځي، هغه په د غوڅونکې باچاهۍ زمانه وي. او بیا دي (دین اسلام) چې کومه زمانه راځي،
وَعُتُوًّا وَفَسَادًا فِي الْأَرْضِ يَسْتَحِلُّونَ
هغه به د ظلم او زیاتي او قهر او تکبر او او زمکه باندې د فتنې او فساد زمانه وي. هغه وخت به خلک
الْحَرِيرَ وَالْفُرُوجَ وَالْخُمُورَ
د ریښمو جامې جائز کړي. د ښځو شرمګاهونه او شراب به حلال وګرځوي. خو د دې شیانو سره به هم
يُرْزَقُونَ عَلَى ذٰلِكَ وَيُنْصَرُونَ حَتَّى يَلْقَوُا اللهَ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]
هغوی ته رزق ورکولی کیږي. او دهغوی مرسته به کیدلی شي. تردې چې هغوی د الله سره مخامخ شي.

توضیح: ان هٰذا الامر: یعني دا دین اسلام او د دې دنیاوي او اخروي احکام په ابتداء کې داسې ښکاره شول چې نبوت او رحمت او د شفقت په صورت کې ؤ. **خلافة**: یعني د نبوت دور نه وروسته به د خلافت زمانه راځي. چې هغه به تر دیرشو کلونو پورې وي. او د حضرت حسن رضی الله عنه په دور باندې به ختمیږي. **ملکا عضوضًا**: یعني بیا به خلکو لره غوڅونکې باچاهې راشي. چې په هغې کې به ظالم حکمرانان په خلکو باندې ظلم کوي. اګرچې د دې نه به خاص خاص باچاهان مستثنی وي خو هغه په ډیر لږ وي. لکه حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله او داسې عادلان باچاهان ؤ. **ثم کان**

(۱) أخرجه الدارمي في السنن ۲/۱۵۵ رقم الحديث ۲۱۰۱ والبيهقي في شعب الايمان ۵/۱۶. رقم الحديث ۵۶۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

جبرية: يعني د ملک عضوض نه وروسته خو به داسې ظالم او سرکشه او مفسدان باچاهان راشي چې په استمرار او دوام سره به فسق او فجور او ظلم کې مشغول وي. په دوې کې به هيڅ عادل باچا نه وي. ملاعلی قاري رحمه الله ليکي چې زمونږ د زمانې باچاهان ظالمان دي. چې په هغوې کې يو باچا هم ښه سړی نشته دی. لهذا کوم سړې چې د دې زمانې کوم باچا ته عادل ووايه نو هغه کافر شو. **قال بعض علمائنا من قال سلطان زماننا عادل فهو كافر** (مرقات: ج۹\۲۴۶)

د حديث په آخر کې دي چې داسې ظالمانو ته به هم الله تعالى رزق ورکوي ، او دهغوې په خاص خاص مقصدونو کې به دهغوې مرسته کوي، ځکه چې الله رب العلمين دی، يوائې رب الصالحين ندی.

ځپله نه بدليږي ، قـرآن بدلوي

﴿٦﴾وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ مَا
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايې چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې د ټولو نه مخکې کوم کار
يُكْفَأُ قَالَ زَيْدُ بْنُ يَحْيَى الرَّاوِيُّ: يَعْنِي الْإِسْلَامَ
نسکورولی شي. د حديث راوی حضرت زيد بن يحيی رحمه الله وضاحت وکړو چې اسلام کې (د ټولو نه
كَمَا يُكْفَأُ الْإِنَاءُ " يَعْنِي الْخَمْرَ. قِيلَ: فَكَيْفَ
مخکې نسکورولی شي) لکه لوخی چې نسکورولی شي. هغه به شراب وي. ووېلی شو، دا به ولې کيږي
يَا رَسُولَ اللهِ وَقَدْ بَيَّنَ اللهُ فِيهَا مَا بَيَّنَ؟
يارسول الله صلى الله عليه وسلم! او يقينًا الله تعالى هغه احکامات بيان کړيدي کوم چې په ټولو باندې ښکاره شويدي.
قَالَ: « يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ
نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خلک به په حيلو او بهانو سره د دې ښکل شروع کړي. او دا طريقه به ځپله کړي
اسْمِهَا فَيَسْتَحِلُّونَهَا » . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ [1]
چې د دې نوم به بدل کړي او دا به حلال وګرځوي.

توضيح: يكفأ: د نسکورولو په معنی دی. مطلب دا دی چې په اسلام کې د ټولو نه مخکې چې کوم شی نسکورولی شي هغه به شراب وي چې خلک به شراب ښکي او نوم به نبيذ يا مثلث يا د وربشو او به ورلره ايږدي. نو نن سبا هم دا کيږي لهذا يو حرام شی به په حلال بللو سره استعمالوي. قصدًا به

(1) اخرجه الدارمي في السنن ۲/۱۵۵ رقم الحديث ۲۱۰۰.

حرام حلالوي.نو کافر به شي. او که تاويل کوي نو فاسقان به شي. بهرحال په دې حديث کې تعليم دا دی چې خلک خپله نه بدليږي بلکې د خپل د بدلولو کوښښ به کوي. (مرقات ۹/۲۴۶)

الْفَصْلُ الثَّالِث

د خلافتونو په باره کې پيشنګوئي

﴿۷﴾ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:
حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې هغه و فرمايل چې
قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ
رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: په تاسو کې به د نبوت وجود او د هغې رڼا تر هغه وخته پورې پاتې وي،
مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللهُ تَعَالَى ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ
ترڅو چې يې الله غواړي. بيا به الله تعالى نبوت واخلي. بيا د دينه وروسته به د نبوت په طريقه باندې خلافت قائم شي.
مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللهُ تَعَالَى
او هغه به تر هغه وخته پورې قائم وي. ترڅو چې يې الله غواړي (يعنې ديرش کالو پورې) بيا به الله تعالى خلافت هم
ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا عَاضًّا
واخلي. د دينه وروسته غوښونکې باچاهي حکومت به قائم شي. چې هغوي به خپل مينځ کې يو بل داسې
فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ
غوښوي څنګه چې سپې غوښول کوي. او هغه باچاهي به تر هغه وخته پورې قائم وي ترڅو چې الله
أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللهُ تَعَالَى ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً
وغواړي. بيا د دينه وروسته به باچاهي هم الله تعالى واخلي، د دينه وروسته به د قهر او تکبر او زور زبردستۍ
فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَكُونَ ثُمَّ
والا باچاهي حکومت جوړ شي، او هغه به تر هغه وخته پورې قائم وي چې الله تعالى يې وغواړي. بيا به الله
يَرْفَعُهَا اللهُ تَعَالَى ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ نُبُوَّةٍ»
تعالى باچاهي هم واخلي. د دينه وروسته به بيا د نبوت په طريقه باندې (يعنې عدل او انصاف په پورا توګه باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ	سَكَتَ	قَالَ	حَبِيبٌ:	

جارې کونکی) خلافت قائم شي، دومره فرمايلو نه وروسته چپ شو. حضرت حبيب بن سالم بيان کړل چې

فَلَمَّا	قَامَ	عُمَرُ	بْنُ	عَبْدِ	الْعَزِيزِ

عمر بن عبد العزيز رحمه الله خليفه مقرر شو (او هغه د نبوت په طريقه باندې حکومت وکړو) نو ما دې حديث

كَتَبْتُ	إِلَيْهِ	بِهَذَا	الْحَدِيثِ	أُذَكِّرُهُ	إِيَّاهُ	وَقُلْتُ:

ارخ ته د هغه توجه راړولو لپاره هغه ته دا حديث ليکلى وليږلو او د خپل احساس اظهار مې وکړو چې زما دا

أَرْجُو	أَنْ	تَكُونَ	أَمِيرَ	الْمُؤْمِنِينَ	بَعْدَ	الْمُلْكِ

اميد دی چې ته امير المؤمنين يعنې خليفه يې. چې د هغې ذکر په دې حديث کې د غوڅونکې باچاهۍ او

الْعَاضِّ	وَالْجَبْرِيَّةِ	فَسُرَّ	بِهِ

قهر او تکبر او زور زبردستۍ والا باچاهۍ نه وروسته راغلی دی. هغه يعنې عمر بن عبد العزيز رحمه الله

وَأَعْجَبَهُ يَعْنِي عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ. رَوَاهُ أَحْمد وَالْبَيْهَقِيّ فِي «دَلَائِلِ النُّبُوَّة»[1]

په دې خبره باندې ډير خوشحاله شو، او دې تشريح هغه ډيره خوشحاله کړو.

توضيح: منهاج النبوة: يعنې د ټولو نه مخکې خو به د نبوت او رحمت دور وي. بيا به خلافت على منهاج النبوة دور وي. حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمايلي دي چې: خلافت على منهاج النبوة په دوه قسمه دی: يو على منهاج النبوة بطريق خاصه دی او د دې مصداق صديق اکبر، او فاروق اعظم رضي الله عنه دي. او دويم خلافت على منهاج النبوة بطريق عام دی. په دې کې حضرت عثمان رضي الله عنه، حضرت على رضي الله عنه، او حضرت معاويه رضي الله عنه او حضرت حسن رضي الله عنه داخل دي. بهرحال خلافت نه رووسته په دې حديث کې د ملک عضوض ذکر راغلی دی. بيا د دينه ورسوته د ظلم او زياتې او د جبر د دور ذکر دی. او د دينه وروسته بيا خلافت على منهاج النبوة ذکر دی. چې د دېنه اندازه کيږي چې په دې کې حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله دور خلافت ته اشاره ده. نو علماؤ دا په خلفاء راشدينو کې شمار کړيدی. (مرقات ۹/۲۴۸)

قال حبيب: يعنې حضرت حبيب بن سالم چې هغه د نعمان بن بشير آزاد کړی شوی غلام او د هغه معاون ؤ. فرمايې چې کله حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله خليفه شو نو ما دا زيرى ليکلو باندې هغه ته وليږلو او توجه مې ورله راواړوله چې کيدی شي ته د دې حديث مصداق يې نو هغه ډير خوشحاله شو او هغه لپاره خوشحاليدل پکار ؤ ځکه چې په دې کې د هغه ډير لوي شان ذکر ؤ. (مرقات ۹/۲۴۸)

---

(۱) اخرجه أحمد في المسند ۴/۲۷۳.

۲۵ جمادی الاول ۱٤۱۸هـ

کتاب الفتن

دقیامت نه مخکې د غټو غټو واقعاتو او فتنو بیان

قال الله تعالی: ﴿حَتّٰى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ﴾(انبیاء:۹۶)

الفتن: دفتنه جمع ده. او د فتنې ګنې معنې دي. مثلاً: ازمیښت، امتحان، ګناه، ابتلاء، عذاب، مال، اولاد، ناروغي او لیونتوب، بی لارې کیدل، او شرک او داسې نور، ټولو باندې وخت په وخت سره د فتنې اطلاق کیږي. خو د فتنې واضح مفهوم هغه آفت (مصیبت) دی چې هغه د قدرت د اړخ نه یو سړي باندې نازل شي. د افتونو قِسمونه هم ډیر دي خو دوه قِسمونه ډیر واضحه دي. یو قِسم هغه آسماني آفت دی چې د هغې علت او سبب او وجه معلومه نوي. سبب او علت یې بیخي مخفي وي. په ظاهره باندې هیڅ هم په نظر نه راځي. فقط مصیبت په نظر راځي فتنې او مصیبت دویم قِسم هغه دی چې دهغې علت او سبب تر یو حده پورې معلوم وي. اول قِسم فتنې ته فتنة عمیاء وایي، چې په هغې کې څوک دا پیلتون نشي کولی چې حق کوم اړخ ته دی او باطل کوم اړخ ته دی. بلکه بغیر د څه وجې نه وژنه، فساد کول، چې نه قاتل ته معلومه وي چې هغه ولې ووژلو و نه مقتول ته معلومه وي چې هغه ولې ووژلی شو. د فتنې دویم قِسم کې دغه شان ابهام نشته دی. بلکې د څه نا څه اسبابو خبر ورېکې کیږي. دا خبره هم د یاد ساتلو وړ ده چې د فتنو تعین او د هغې مصداق ویل ډیر ګران کار دی. د دې اصل وجه دا ده چې دفتنو یوه اوږده لړۍ ده. د نبی اکرم ﷺ یوه وړاندوینه(پیشن ګوئي) په یو خاص واقعه او حادثه باندې لګول او دهغې سره په خاصه توګه باندې یو ځای کول ډیر ګران وي. ځکه دا عین ممکنه ده چې د نبی کریم ﷺ د یوې وړاندوینې مصداق په بیلابیلو زمانو کې بیلا بیل واقعات وي. ګویا چې په خپل وخت کې بیلابیلې فتنې د نبی اکرم ﷺ د وړاندوینې مصداق شوي وي. نو ځکه یې تعیین ګران دی.

دلته د دې خبرې لحاظ هم کول پکار دي چې ډیرو ختونو کې به نبی کریم ﷺ په خپله یوه وړاندوینه کې یوې حادثې ته اشاره وکړه. په ظاهره باندې به هغه یوه معمولې خبره وه، خو کله چې هغه حادثه او فتنه ښکاره کیدلو باندې مخې ته راشي نو هغه ټوله معاشره په خپله غیږه کې راونیسي او په هر خاص او عام باندې د نصف النهار(غرمې) د لمر په شان واضحه شي.. نو هله معلومه شي چې علمې اعتبار سره دا خبره څومره وړه او پټه وه، خو عملې توګه باندې څومره مشهوره او غټه ده.

سوال: دلته سوال دا دی چې صاحب مشکوة په عنوان کې کتاب الفتن عنوان ایخودلی دی. او د کتاب تر آخره پورې ټول عنوانات یې د دې عنوان لاندې لیکلي دي. او حال دا دی چې په دې عنواناتو کې د

Maktaba Tul Ishaat.com

ځينو تعلق د فتنو سره نشته دی.په خاصه توګه باندې مناقب، معجزات او فضيلتونو بابونه د کتاب الفتن د لاندې څنګه ليکلی شويدي؟

جواب:د دې سوال يو جواب دا دی چې صاحب مشکوة ترکوم ځاې پورې د فتنو بابونه کيخودلو باندې د فتنو بيان کړيدی، تر هغه ځاې پورې خو د فتنو بيان دی. خو د کوم ځاې نه چې د فتنو بابونه ختم شويدي، هلته کيدی شي صاحب مشکوة د کتاب عنوان څه بيل عنوان ليکلي وي خو دکاتبانو د غفلت د وجې نه هغه کتاب پاتې شو، لهذا د دې غفلت د وجې نه ټول بابونه د کتاب الفتن د لاندې راغلل.

دويم جواب: دا دی چې فتن او غير فتن ترمينځ د فرق لپاره دا ضروري نده چې د کتاب الفتن نه وروسته دې کتاب المناقب قائم کړی شي،دواړو مضمونو د بيلتون لپاره دباب په ذريعه سره هم فرق راځي. نو ترکوم ځاې پورې چې د فتنو بيان دی، تر هغه ځاې پورې د کتاب الفتن د ممتاز کولو احاطه ده .او د کوم ځاې نه چې د فتنو بابونه ختم شويدي، د هغه ځاې نه وروسته د بابونو په عنوان سره د نورو شيانو ذکر شويدی.چې هغه مناقب او داسې نور دي.بهرحال په مضمونو کې د فرق لپاره دکتاب د عنوان په شان د باب عنوان هم کافې اوشافې کيږي. د اعتراض ضرورت نشته دی. ځينو دا جواب کړيدی چې مونږ د دې پوښتنې جواب کولو نه عاجز يو .

الْفَصْلُ الأَوَّل

نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر قيامته پورې دراتلونكو فتنو پيشنگوئي كړې ده

﴿۱﴾عَن	حُذَيْفَةَ	قَالَ:	قَامَ	فِينَا	رَسُولُ	الله	صَلَّى	الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	مَقَامًا
حضرت حذيفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ ترمينځ ودريدلو لکه چې (د وعظ او									
مَا	تَرَكَ	شَيْئًا	يَكُونُ	فِي	مقامه	إِلَى	قِيَامِ	السَّاعَةِ	إِلَّا حَدَّثَ
نصيحت لپاره) ودريږي، نو د فتنو د قسمونو نه ، د هغه وخت نه تر قيامته پورې راتلونکې وي، هغه ټول يې									
بِهِ			حَفِظَهُ		مَنْ		حَفِظَهُ		
ذکر کړل. او په دې کې يې هيڅ شی پرې نه خودلو . دغه خبرې ياد لرونکو ياد کړې، او څوک چې									
وَنَسِيَهُ	مَنْ	نَسِيَهُ	قَدْ	عَلِمَهُ	أَصْحَابِي	هَؤُلَاءِ			
هيرونکې ؤ هغوې هيرې کړې.(حضرت حذيفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا هم وفرمايل چې) زما ملګری د دې واقعې نه									

وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ
خبر دی. لیکن حقیقت دا دی چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کومو خبرو خبر ورکړی ؤ او کومې خبرې چې زما نه
قَدْ نَسِيتُهُ فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ كَمَا
هیرې شویدي، که په هغې کې یو خبره هم پېښه شي نو هغې ته په کتلو سره زه حافظه را تازه کړم. لکه څنګه
يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا رَآهُ عرفه. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
چې د یو غائب سړي مخ په نظر راشي نو هغه مخ په کتلو سره هغه سړی وپیژندلی شي. (بخاری و مسلم)

توضیح: قد علمه اصحابي: یعنې زما ملګرو ته ښه معلومه ده چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر څه وفرمایل. هو! که په هغوې کې د ځینو ملګرو نه هیر شوي وي، هغه بیلا خبره ده. زه خپله هم د ډیر وخت تیریدلو او د زمانې اوړیدلو په وجه باندې ځینې شیان هیر کړم. خو کله چې هغه واقعه ظاهره شي نو ماته ټول حالت داسې را یاد شي، لکه یو سړی چې د یوې زمانې پورې د بل سړي سره د ملاقات کولو نه وروسته غائب وي. نو دا سړی هغه هیر کړي، خو کله چې ناڅاپه ملاقات وشي نو هغه لره په کتلو سره سمدستي وپیژني. چې دا خو هغه سړی دی چې هغه ما ډیر وخت مخکې لیدلی ؤ. او بیا رانه هیر شوی ؤ. (مرقات ۹/۲۵۰)

د انسانانو په زړونو باندې د فتنو د رانګ اثرات

﴿۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " تُعْرَضُ الْفِتَنُ
او حضرت حذیفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې ما رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې د خلکو په زړونو باندې به
عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا
فتنې داسې واچولی شي لکه د انډیرې (پوزکې) ډکې وي. نو کوم زړه چې دا فتنې قبولې کړي. په هغې کې
نُكِتَتْ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَتْ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ
به تور داغ وشي. او کوم زړه چې د دې فتنو د قبلولو نه انکار وکړي. په هغې کې به سپین داغ پیدا شي.
حَتَّى يَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ: أَبْيَضَ بِمِثْلِ الصَّفَا
نو انسانان به په دوه قسمه کې تقسیم شي. یو سپین په شان د سنګ مرمر، نو په دغه شان زړه باندې به هیڅ

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۹۴ رقم الحديث ۶۶۰۴ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۷ رقم الحديث (۲۸۹۱-۲۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَا	تَضُرُّهُ	فِتْنَةٌ	مَا	دَامَتِ	السَّمَاوَاتُ	وَالْأَرْضُ	وَالْآخَرُ أَسْوَدُ
فتنه اثر کونکې او ضرر رسونکې نه وي. ترڅو چې زمکه او آسمان ولاړ دي، او دویم به د ایرو د رنګ په							
مِرْبَادًّا	كَالْكُوزِ	مُجَخِّيًا	لَا	يَعْرِفُ	مَعْرُوفًا		
شان توري وريځې، نسکور لوخې په شان وي. نو دغه شان زړه خو به نه نیک او ښه او مشروع کارونو ته							
وَلَا	يُنْكِرُ	مُنْكَرًا	إِلَّا	مَا			
ورسیږي او نه به بد کارونه بد ګڼي. هغه خو به بس د هغه څه سره مطلب ساتي چې هغه د خواهشاتو							
أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]							
د قبیلې نه په هغه کې ننوتلي وي. او د کوم د مینې چې هغه قیدي جوړ شویدی.							

توضیح: تعرض الفتن: یعنې فتنې چې کله ډیرې شي نو په انساني زړونو کې په فتنې داسې اچولی کیږي لکه د انډیرې ډکې چې یو بل پسې یو ځای کیږي. نو کوم زړه چې دغه فتنې قبولې کړي نو په هغې کې یو تور داغ ولګي ، او کوم زړه چې دغه فتنې قبولې نکړي ، په هغې کې سپین داغ ولګي، اوس د دې فتنو قبلولو او نه قبلولو په وجه باندې زړونه به په دوه قسم باندې تقسیم شي. یو زړه سنګ مرر په شان پاک شفاف او سپین به وي. چې هغې ته به هیڅ فتنه نقصان نشې رسولی. او بل به د ایرو په شان تور وی.

مربادا: میم باندې کسره ده. را ساکنه ده . **ای صار کلون الرماد** یعنې د ایرو په شان به تور شي. **کالکوز:** په عربي ژبه کې لوټې او کوزې ته **کوزه** وایي. یعنې دا زړه به د کوزې په شان وي. **مُجَخِّیاً:** میم باندې پیش دی. جیم باندې سکون دی. خاء باندې کسره ده. او یا باندې شد دی. نسکور لوخې ته وایي. دلته نسکوره کوزه مراد ده. دا لفظ حال واقع شویدی. مطلب دا دی چې وس دا انسان داسې لوټه جوړه شویده چې دا نیغه نشي تینګیدلی. او نسکوریدلو سره په دې کې څه شی ایساریدلی نشي. وس د نسکورې لوټې په شان په دې کې د خیر ښیګړې هیڅ خبره نشي راتللی. بلکې دا زړه وس د خواهشاتو داسې غلام جوړ شویدی. چې په دې کې د ښه او بد تمیز کول ختم شویدي. وس د ښیګړې او بدۍ تمیز (پیلتون) کولو نه بغیر دا زړه خپلو خواهشاتو پسې شاته شاته منډې وهي او فتنه تیروي. (مرقات ۹/۲۵۲)

ولایعرف معروفا الخ : د دې زړه د تورو والي تفصیل دی. (مرقات ۹/۲۵۳)

([1]) اخرجه مسلم في صحيحه ١/١٢٨ رقم الحديث (١٤٤-٢٣١) واحمد في المسند ٥/٤٠٥.

په زړونو کې د امانت راتلل او بیا وتل

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته دوه حديثونه بيان کړل. په دې کې

رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ: حَدَّثَنَا: «إِنَّ الْأَمَانَةَ

يو خو ما ليدلی دی. او د دويم انتظار کوم. ر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته وفرمايل: چې امانت د خلکو د زړونو په

نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ

وېخ کې کوز کړی شو. بيا هغوې په قران پوهه شول او بيا هغوې په سنت پوهه شول، بيا د دې نه وروسته

عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ» . وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ: " يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ

نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امانت د پورته کيدلو حديث بيان کړو. نو وې فرمايل: سړی به اوده شي، او

فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ أَثَرُهَا مِثْلُ أَثَرِ الْوَكْتِ ثُمَّ

امانت به د هغه د زړه نه وويستلی شي نو د امانت اثر يعنې نښان د وکت د نښان په شان به شي. بيا به

يَنَامُ النَّوْمَةَ فتقبض فَيَبْقَى

په دويم ځل اوده شي نو د هغه د امانت هغه برخه به هم ناقصه کړی شي. او وبه ويستلی شي، کومه چې پاتې وه. چې

أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ

هغه په ظاهره باندې يو مجل يعنې د پولي په شان نښان به پاتې شي. لکه ته چې د اور سکروټه په خپلو

عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ

خپو باندې واچوې. او د هغې نه پولی جوړه شي. چې هغه په ظاهره باندې پړسيدلې او وچته شوې ښکاري.

فِيهِ شَيْءٌ وَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ

خو هغې کې به د ننه هيڅ نوې بيا کله چې خلک سحر پاخيږي نو د عادت مطابق به خپل مينځ کې اخستل خرڅول کوي

وَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ

او په هغوې کې به يو سړی هم داسې نوي چې هغه امانت ادا کړي. تردې چې (د امانت او ديانت د کمې راتللو په سبب به دا)

فَيُقَالُ : إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا

ويلی کيږي چې په فلانکي. قبيله کې بس يو سړی دی چې امانت دار دی. يعنې کامل الايمان دی. او يو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ	يُقَالُ	لِلرَّجُلِ	:	مَا	أَعْقَلَهُ	وَمَا أَظْرَفَهُ
سړي ته به داوويل چې هغه څومر عقلمند او هوښيار دی (څومره ښايسته او هوښيار او د خوږې ژبې والا دی)						
وَمَا أَجْلَدَهُ وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]						
او څومره چست چالاکه دی. او حال دا دی چې د هغه په زړه کې به د ګدن د دانې هومره هم ايمان نوي.						

توضيح: الامانة نزلت: د امانت نه دلته د حق د قبوليت هغه استعداد مراد دی چې هغه د پيدائښ په وخت کې د هر ماشوم په زړه کې اچول کيږي. د انسان په زړه کې د دننه استعداد د حق دا تخم کرل د يوې ډېوې په شان وه. چې هغه تروسه پورې نه وه بله شوي. نو د آسمان نه قرآن کريم راغلو او د نبی کريم ﷺ سنت راغلل. دې دواړو شيانو دا ډيوه روښانه کړه. وس په دې زړه کې د هدايت رڼا بله شوه. چې دهغې نه اخوا ديخوا هدايت خپور شو. په دې حديث کې د هدايت دا اوله مرحله بيان کړی شويده .(مرقات ۹/۲۵۱) **جذر:** جرړې او اصل ته وايي.

عن رفعها: يعنې د اهدايت او امانت راکوزيدلو او خپريدلو نه وروسته د دې د پورته کيدلو او د هدايت د ثمراتو د ختميدلو ذکر يې وفرمايلو چې سړی به د عادت مطابق شي. په دې حالت کې به د هغه زړه نه د دې امانت ثمرات وچت کړی شي. اوس په زړه کې فقط يوه نښه پاتې شويده ، دغه نشان او اثر ته **الوکت** ويلی شويدي. واؤ باندې زبر دی ، او کاف ساکن دی . اثر او نښان ته وايي.

ثم ينام: حقيقي اوده کيدل هم مراد دي. او د غفلت ژوند هم مراد دی. يعنې اول ځل د دې امانت وچتيدلو نه وروسته کله چې دا سړی په دويم ځل اوده شي. د دې امانت پاتې برخه به هم د دې سړې د زړه نه وچته کړی شي. وس دا زړه د امانت او ايمان نه خالي پاتې شو . او په زړه باندې د پولی په شان نښې به پاتې شي.

المجل: ميم باندې زبر دی. جيم ساکن دی. د لاس هغه اثر او نښان ته وايي چې په هغې کې د ډير سخت کار د وجې نه څرمن سختيدلو سره توره شي يعنې په دويم ځل ايمان او امانت وچتولو سره به زړه د ايمان نه خالي شي. او سختو پولو په شکل کې به سخت نښانونه پاتې شي. چې هغې ته المجل يعنې **اثر العمل** سره ياد کړی شويدی. **کجمر:** جمرة د اور سکروټې ته وايي. دا د المجل د وضاحت په توګه باندې بيان شويدی. **ای کتأشير الجمر** يعنې څنګه چې يو سړی په خپله خپه

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۳۳ رقم الحديث ۶۴۹۷ ومسلم في صحيحه ۱/۱۲۶ رقم الحديث (۱۴۳-۲۳۰).

باندې سکروټه ایږدلو سره ټوپونه وهي، چې په هغې سره ځای سوزیدلو باندې پولۍ راشي، بیا هغه خېره شي او دننه مردارو اوبو نه ډک شي. نو څنګه چې دا پولۍ پرسیدلي وي او دننه هیڅ هم نوي، دغه شان د دې سړې زړه د ایمان او امانت نه به خالي پاتې شي. اګرکه سړی د بیرون نه ایماندار ښکاري، خو دننه به هیڅ نه وي. (مرقات ۹/۲۵۴)

نفط: اور د سوزیدلو د وجې نه په جسم کې پولۍ جوړیدلو ته نفط وایي. **منتبرا:** یعنې د منبر په شان اوچت پرسیدلی به وي. دننه به هیڅ نه وي. **ويصبح الناس:** یعنې خلک به سحر پاڅیږي او اخستل خرخول به کوي. منډې ترړې به وي. خو په دوې کې یو سړی به هم د امانت او دیانت والا نوي. تردې چې خلک به تذکره کوي چې په فلانکۍ قبیله کې یو دیانت دار سړی دی. بیا به د یو سړې په اړه باندې خلک په یوه ژبه سره وایي چې واه واه څومره عقلمند دی! څومره هوښیار دی! څومره چست دی! د دې ستاینو سره به هم په دغه سړې کې د ګدن د دانې په برابر ایمان نه وي. (مرقات ۹/۲۵۶)

په دې حدیث کې د امانت د زوال درې مرحلې بیان شویدي. په اوله مرحله کې به څه امانت وي. او څه لږ اثر به پاتې وي. او په دویمه مرحله کې څه لږ ډیر امانت لاړو. او غټه اثر پاتې شو. او په دریمه مرحله کې خو هر څه لاړل. اول لږ تورتم خپور شو، بیا څه لږ ډیر تورتم خپور شو، بیا مکمل تورتم شو. زړه تور شو. او د ښه او بد ترمینځ فرق کول ختم شو. او هم دا د جباریت مهر دی.

دفتنو په زمانه کې په کوټ کې ناسته اختیار کړه

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وسلم عَنِ الْخَيْرِ

او حضرت حذیفه رضي الله عنه فرمایي چې خلکو خو به د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د نیکۍ او ښیګړې په اړه پوښتنه

وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ

کوله او ما به د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د شر او د بدۍ پوښتنه کوله. د دې یرې د وجې نه چې هسې نه زه په کومه

أَنْ يُدْرِكَنِي قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

فتنه کې اخته نشم. حضرت حذیفه رضي الله عنه بیان کړل چې ما وویل: یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! مونږ (د اسلام نه) مخکې

إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَاءَنَا اللهُ بِهٰذَا الْخَيْرِ

په جاهلیت او بدۍ کې اخته ؤ. بیا الله تعالی مونږ ته دا هدایت او ښیګړه راکړه. چې د هغې د وجې نه د کفر

فَهَلْ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ

ضلالت تورتمونه لیرې شول. او مونږ د بې لارۍ او بد و د جال نه بیرون راووتلو، نو آیا د دې هدایت او ښیګړې

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ	شَرٍّ	؟	قَالَ	:	« نَعَمْ »	قُلْتُ	:	وَ هَلْ	بَعْدَ	ذٰلِكَ الشَّرِّ

نه وروسته بله کومه بدي پيښيدونکې ده؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو! ما وویل نو آیا د دې بدۍ نه وروسته

مِنْ	خَيْرٍ	؟	قَالَ	:	« نَعَمْ

به بیا هدایت او ښیګړه رابنکاره کیږي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو! د دې بدۍ نه وروسته به بیا ښیګړه رابنکاره

وَ	فِيهِ	دَخَنٌ	»	.	قُلْتُ :

کیږي. خو د دې بدۍ نه وروسته چې کومه ښیګړه راځي، په زړه کې به خنه وي. ما وویل چې د دې ښیګړې

وَمَا	دَخَنُهُ	؟	قَالَ	:	«	قَوْمٌ يَسْتَنُّونَ

خنه به څه وي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: دا خلک به پیدا شي چې هغوی به زما د طریقې او عمل په خلاف

بِغَيْرِ	سُنَّتِي	وَيَهْدُونَ	بِغَيْرِ	هَدْيِي

باندې طریقه او عمل خپل کړي. خلک به زما د ښودلې شوې لارې په خلاف لاره باندې روان کړي. ته به په

تَعْرِفُ	مِنْهُمْ	وَ تُنْكِرُ	»	.	قُلْتُ	:	فَهَلْ	بَعْدَ	ذٰلِكَ الْخَيْرِ	مِنْ شَرٍّ	؟

په دوې کې دینداره هم وینې. او بې دینه هم. ما وویل چې د دې ښیګړې نه وروسته بیا کومه بدې راتلونکې

قَالَ:	«نَعَمْ	دُعَاةٌ	عَلَى	أَبْوَابِ	جَهَنَّمَ

ده؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو! داسې خلک به وي چې هغوی به د دوزخ په دروازه باندې ودریدلو سره مخلوق

مَنْ	أَجَابَهُمْ	إِلَيْهَا

خپل اړخ ته رابلې. کوم سړی چې د هغوی بلنه قبلولو باندې دوزخ اړخ ته تلل وغواړي، هغه به دوزخ ته

قَذَفُوهُ فِيهَا » . قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ صِفْهُمْ لَنَا . قَالَ : «هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا

تیله (دیکه) کړي. ما وویل چې د هغوی په اړه باندې وضاحت وکړه. نبی کریم ﷺ وفرمایل: هغه به زمونږ د

وَ يَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا » . قُلْتُ : فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذٰلِكَ ؟

قوم د خلکو نه وي. هغوی به زمونږ په ژبه خبرې کوي. ما وویل چې بیا زما په اړه باندې ستا څه حکم دی؟

قَالَ: «تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ» . قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ

نبی کریم ﷺ وفرمایل: د مسلمانانو جماعت لازم وبیږنه او د هغوی د امیر اطاعت کوه. ما وویل که د مسلمانانو

جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ ؟ قَالَ :
هیڅ جماعت نوي، او نه د هغوی څه امیر او مقتدا وي؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په داسې صورت کې تا لپاره د
«فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ
دې ټولو جماعتونو نه مخ اړولو باندې یو اځیوالی خپلول پکار دي. اګر که د دې یو اځیوالې لپاره دې یو بوټي
حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَٰلِكَ».
لاندې پناه اخستل ولې نوي. تر دې چې د دې یو اځیوالې په حالت کې مرګ تا په خپله غیږه کې ونیسي.
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: قَالَ: «يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ
(بخاری او مسلم) زمانه وروسته به داسې باچاهان راشي چې هغوی به زما په سیرت باندې عمل نکوي،
وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ
او زما په طریقو باندې به عمل نکوي. په دوی کې به داسې خلک ربا څیږي چې د هغوی شکلونه به د انسانانو
قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ» . قَالَ حُذَيْفَةُ: قُلْتُ: كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ
په شان وي او زړونه به یې د شیطانانو وي. حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل: ما وویل یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!
إِنْ أَدْرَكْتُ ذَٰلِكَ ؟ قَالَ : تَسْمَعُ وَ تُطِيعُ الْأَمِيرَ وَ إِنْ ضُرِبَ
که زه دوی ییاموزم نو څه وکړم؟ نو (نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وفرمایل: اوري به او د امیر به اطاعت کوي. اګر که ستا
ظهرك وَأُخذ مَالك فاسمع و أطع ".[1]
شاه ووهلی شي او ستا مال واخستلی شي. نو اوره او اطاعت کوه.

توضیح: الخیر: په دې حدیث کې د خیر د لفظ نه اسلام، ایمان او اطاعت مراد اخستل شویدی. او د شر د لفظ نه کفر او فتنه مراد اخستل شویده. **من شر:** یعنې اسلام او ایمان او نور او هدایت نه وروسته یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! اوس په دې امت باندې څه فتنه راتللی شي؟ **نعم:** یعنې هو! د اسلام د دې امن او هدایت نه وروسته فتنه او شر به راځي. شارحینو لیکلي دي چې د دې شر نه مراد نه د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د زمانې فتنه ده. چې په هغې کې عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهید کړی شوی و.

من خیر: یعنې د دې بدعت او ګمراهۍ او شر او فساد نه وروسته به څه خیر راځي؟

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۱۵ رقم الحديث ۳۶۰۶ ومسلم في صحيحه ۳/۱۴۷۵ رقم الحديث (۱۸۴۷-۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

قال نعم: علماء ليکي چې د دېنه مراد حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د زمانې امن او عدل او انصاف مراد دی.

وفيه دخن: يعنې په دې خير او ښيګړه کې به څه خندونه وي، يعنې ځينې خلک به د سنتو تابعدارې کوي او ځينې به په خپلو خواهشاتو پسې ځي او بدعاتو کې به اخته کيږي. (مرقات ۹/۲۵۸)
ځينو شارحينو د دې حديث ترتيب داسې ويلی دی چې د اسلام او سلامتۍ نه وروسته به د قتل عثمان رضي الله عنه شر راځي. د دې شر نه وروسته چې کوم خير راځي دا د حضرت حسن رضي الله عنه او حضرت امير معاويه رضي الله عنه صلح ته اشاره ده. دا صلح خو به کيږي خو زړونه به پوره توګه باندې پاک نه وي. څه فسادې خلک به په مينځ کې وي. لکه د خواجو وجود ؤ. او د عبدالله بن زياد فساد ؤ. او د ځينو نورو بې کاره اميرانو وجود ؤ. (مرقات ۹/۲۵۸)

صفهم لنا: يعنې دا راته ووايه چې دا خلک به زمونږ نه وي او که د نور چا نه به وي؟

من جلدتنا: يعنې زمونږ په خپلو کې به وي. د خپل خاندان نه به وي. زمونږ ژبه به وايي. خو فساد به کوي. صحابې پوښتنه وکړه چې بيا مونږ د دوې سره څه وکړو، جنګ وکړو او که پريږدو؟ نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اهل حق سره وسيږه او د کور په ګوټ کې کينه. دا خوارج، روافض او د معتزلۀ فتنو ته اشاره ده. (مرقات ۹/۲۵۸)

فتنو د راتګ نه مخکې نيک اعمال وکړه

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ
حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په نيکو اعمالو کې تُندي وکړی،
فِتَناً كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ
مخکې د دېنه چې هغه فتنې ښکاره شي چې هغه به د تورو شپو د ټوټو په شان وي. سړی به سحر کې د
مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ
ايمان په حالت کې پاڅيږي او مابنام به کافر جوړ شوی وي. او مابنام کې به مومن وي نو سحر به د
كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِن الدُّنْيَا» . رَوَاهُ مُسلم [1]
کفر په حالت کې پاڅيږي د غه شان خپل دين او مذهب به د دنيا د لږ شان فائدې په بدله کې خرڅ کړي.

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۱۰ رقم الحديث (۱۱۸-۱۸۶) وابوداود في السنن ۴/۴۵۷ رقم الحديث ۴۲۵۹

په فتنو کې هیچرې مه نوځی، لرې اوسیږی

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَتَكُونُ فِتَنٌ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ژر دی چې فتنې به پیدا شي.

الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ من الْمَاشِي والماشي

په دې فتنو کې ناست به ودرېدونکي نه غوره وي. او لاړ به د مزل کونکې نه غوره وي. او مزل کونکی به د کوښښ

فِيهِ خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفُهُ

کونکې نه غوره وي. او څوک چې د فتنو اړخ ته سر وروچت کړي نو فتنې به هغه ځان ته راکاږي! نو کوم

فَمن وجد ملْجأً أو معَاذًا

سړی چې د دې فتنو نه د ځان ساتنې لپاره کوم ځای یا پناه بیا مومي نو هغه سړې لپاره پکار دي چې د هغې

فليعُذْ بِهِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: قَالَ:

په ذریعه سر د پناه واخلي. (بخاري او مسلم) او د مسلم په یو روایت کې داسې دي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

«تَكُونُ فِتْنَةٌ النَّائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْيَقْظَانِ

(کله چې) څه فتنه راښکاره کیږي نو په دې فتنه کې خوب کونکی سړی به د بیدار سړې نه غوره وي. او

واليقظانُ خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ

بیدار به د ولاړ سړې نه غوره وي. او په دې فتنه کې ودرېدونکې سړی په دې فتنه کې سعې او کوښښ

مِنَ السَّاعِي فَمن وجد

کونکې سړی نه غوره وي. لهذا کوم سړی چې د دې فتنې نه د تختیدلو لاره یا د دې نه د پناه ځای بیا مومي

ملْجأً أو معاذا فليستعذ بِهِ» .[1]

نو هغه لپاره پکار دي چې هلته لاړ شي او پناه تر لاسه کړي.

توضیح: القاعد فیها: یعنې کوم سړی چې څومره د دې فتنو نه لیرې وي، هغه به هغومره بنه. د دې تفصیل داسې دي چې د دې فتنې نه لیرې ناست سړی د ولاړ سړې نه غوره دی. او کوم چې ولاړ دی هغه د مزل کونکې سړی نه غوره دی. او څوک چې روان دی نو هغه د منډې وهونکې سړی نه

غوره دی. دغه اړخ ته منډې وهونکې سړی خو د ټول نه ډیر فتنې ته نژدې دی، نو ځکه د ټولو نه ډیر بدتر دی. څوک چې څومره لیرې دی، هغه هغومره غوره دی.

تشرف: یعنې چا چې سرورو چتولو باندې دغه فتنې ته وکتل. (مرقات ۹/۲۶۲)

تستشرفه: یعنې فتنه به هغه خپل اړخ ته بنه راماٸله کولو باندې راکاږي. مطلب دا دی چې کوم سړی په دې فتنو کې د معلوماتو کولو ترحده پورې هم مینه ولري، دا فتنې به هغه په خپله ګیره واخلي. (مرقات ۹/۲۶۲)

خپل مینځې جنګ جګړو په وخت کې څه کول پکار دي؟

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا سَتَكُونُ

او حضرت ابوبکره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په دې کې هیڅ شک نشته چې ډیر ژر به

فِتَنٌ أَلَا ثُمَّ تَكُونُ فِتَنٌ أَلَا ثُمَّ تكونُ فتنةٌ

فتنې رابنکاره شي. یاد ساتئ! دلته به فتنې پیدا شي. یاد ساتئ! په دې فتنو کې به یوه ډیره غټه فتنه پیښیږي. په

القاعدُ خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي فِيهَا وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي

دې فتنه کې به ناست سړی د روان سړي نه غوره وي. او روان سړی به دې فتنې اړخ ته منډې وهونکې

إِلَيْهَا أَلَا فَإِذَا وَقَعَتْ فَمَنْ كَانَ لَهُ إِبِلٌ

سړي نه غوره وي. نو خبر شئ! کله چې هغه فتنه پیښه شي نو د کوم سړي سره چې اوښان وي نو هغه دې

فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ وَمَنْ كَانَ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بغنمه

د خپلو اوښانو سره (ځنګل ته) لاړ شي. د کوم سړي سره چې بیزې وي نو هغه دې د بیزو خوا ته لاړ شي. او د

وَمن كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ» فَقَالَ رَجُلٌ:

کوم سړي سره چې کور او زمکه وي نو هغه دې خپل هغه کور او زمکې اړخ ته لاړ شي. یو سړي وویل چې

يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا أَرْضٌ؟

یارسول الله صلی الله علیه وسلم! ماته دا ووایه کله د یو سړي سره نه اوښان وي او نه بیزې او نه زمکه او نه کور وي؟

قَالَ: «يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ

نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه لپاره پکار دي چې هغه دې خپلې تورې اړخ ته متوجې شي او هغه دې په

عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ

کاڼي باندې وهلو سره ماته کړي. او بیا هغه سړې لپاره پکار دي چې که هغه د فتنې د ځاې نه تختیدلی شي

اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ؟»

نو ژر دې وتختي. (د دېنه وروسته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل) ای الله! ما ستا احکامات ستا بندیګانو ته ورسول.

ثَلَاثًا فَقَالَ: رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أُكْرِهْتُ

دا الفاظ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې ځل ولوستل. یو سړې وویل چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! که ما لره په مجبوره کولو باندې

حَتَّى يُنْطَلَقَ بِي إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيْنِ فَضَرَبَنِي رَجُلٌ بِسَيْفِهِ أَوْ يَجِيءُ سَهْمٌ

د دواړو ډلو نه د یوې ډلې صف ته بوتللی شو او هلته زه د چا د تورې نه ووژلی شم یا د چا غشی په ما ولګي

فَيَقْتُلُنِي؟ قَالَ: «يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَ إِثْمِكَ وَ يَكُونُ

او ما ته مرګ راشي. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ستا هغه قاتل به ستا او خپلې ګناه سره راګرځي او هغه به په

مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

دوزخیانو کې شمار لی کیږي.

توضیح: **الا ثم تکون فتن**: یعنې خبردار! دلته به فتنې وي. خبردار! ډیر ژر به فتنې رابنکاره شي.

یعمد الی سیفه: یعنې خپلې تورې اړخ ته په متوجې کیدلو سره دې هغه په خپل لاس کې واخلي او دهغې تیره اړخ دې په کاڼو باندې وهلو سره مات کړي. کله چې تورا ماته شي نو دا سړی به وس هیڅ فتنې ته نه ورځي. (مرقات ۹/۲۶۳)

لینج: لام باندې کسره ده. نون ساکن دی. او جیم باندې ضمه ده. په منډه باندې تیختې ته وایي.

النجاء: یعنې ښه په تیزه باندې منډه وهل پکار دي. مطلب دا دی چې که یو سړی د دې جنګ نه بیزاره دی او په ژر ژر بیلیدلو باندې تیخته کوي، خو چا مجبوره کولو باندې په زوره سره جنګ ته تیله کړو، او هغه ووژلی شو نو د دې څه حکم دی؟ نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: وژونکی به دوزخي وي، او دا مجبورا به جنت ته ځي. (مرقات ۹/۲۶۴)

په دې حدیث کې د مسلمانانو خپل مینځې افتراق او د بیلتون اوږد حالت اړخ ته اشاره ده. د

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۲ رقم الحديث (۲۸۸۶-۱۲) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۰۸ رقم الحديث ۳۹۵۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانانو خپل مینځې جنګونو کې برخه اخستلو او نه اخستلو په اړه باندې درې برخې دي. (۱) د ځینو صحابه کرامو مسلک د دې ظاهرې حدیثونو په مطابق دی چې د دې جنګونو نه بیخې غاړې ته کیدل پکار دي. دا مسلک د ابوبکره رضی الله عنه او څه دنورو صحابؤ دی. د دې مسلک تائید د ټولو احادیثو نه کیږي. دویم مسلک د حضرت ابن عمر رضی الله عنه او دهغه د هم خیال صحابه کرامو رضی الله عنهم دی. که فتنه دروازې ته راورسیږي نو بیا د دفاع په توګه باندې جنګ کول او دفاع کول جائز دي. خپله ورتګ جائز ندي. د ځینو روایتونو نه د دې مسلک تائید کیږي.

دریم مسلک د جمهور صحابه کرامو رضی الله عنهم او د جمهورو علماؤ دی چې کوم صف د اهل حق دی، دهغې سره ملګرتیا کول او باندې د اهل باطل سره بنه جنګ کولو پکار دي. د قرآن کریم آیت دی:

﴿وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَأَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَإِنْ بَغَتْ إِحْدٰهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ إِلٰٓى أَمْرِ اللّٰهِ ۚ﴾(الحجرات:۹)دا آیت د دې ښاغلو دلیل دی. د صحابه کرامو رضی الله عنهم خپل مینځې جنګونو کې د دې آیت په رڼا کې عامو صحابؤ رضی الله عنهم د حق سره ملګرتیا وکړه. د حضرت علی رضی الله عنه او د حضرت عائشه رضی الله عنها ترمینځ جنګ جمل وي او که د حضرت علی رضی الله عنه او د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه ترمینځ جنګ صفین وي. چې په هغې کې په زرګونو انسانان وژلی شوي ؤ. صحابه کرامو د دې آیت او دې په شان احادیثو نه استدلال کړیدی.

د صحابه کرامو رضی الله عنهم ترمینځ چې کوم جنګونه شویدي. هغه د مشاجرات په نوم سره مشهور دي. دواړو اړخونو ته اجتهادې معامله وه. نیتونه پاک ؤ. جنګونه مقدر ؤ. د مشاجرات مطلب دا دی چې بوټی (ونه) یوه ده، ښاخونه یې بیل بیل تللي دي. جرړه یو اسلام دی. مونږ لپاره پکار دي چې کله الله تعالی زمونږ لاسونه د دې مقدّسو اینو نه ساتلي دي، نو مونږ خپلې ژبې هم وساتو. او خپله جج او قاضي جوړیدلو باندې صحابه کرام رضی الله عنهم د خپل عدالت په کچهرۍ کې ځان ونه دروؤ. لکه مودودي صیب چې په خلافت وملوکیت کې بې ځایه جج جوړیدلو کوښښ کړیدی. او صحابه کرام رضی الله عنهم یې خپل عدالت کې پیش کولو سره وړباندې قلم چلولی دی.

﴿۸﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ

او حضرت ابوسعید رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قریبه ده چې د یو مسلمان لپاره

غَنَمٌ	يَتْبَعُ	بِهَا	شَعَفَ	الْجِبَالِ	وَ	مَوَاقِعَ	الْقَطْرِ يَفِرُّ

به د هغه غوره مال د هغه بیزې وي. چې د هغې سره به هغه غر ته یا د باران وریدلو ځای ته لاړ شي. او د فتنو نه په

بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
تختیدلو سره به خپله لمنه وساتي.

توضیح: یتبع: شد او سکون دواړو سره لوستلی کیږي. تابع کیدلو او وریسې کیدلو په معنی دی.

شعف: دا د شعفة جمع ده. د غر څوکې ته وایي. مراد غاړې ته کیدل دي. **مواقع القطر**: په غرونو باندې په عام توګه بارونه کیږي. یعنې د بارانونو د وریدلو ځای، دا تعمیم بعد تخصیص دی. په دې حدیث کې هم د فتنو نه د ځان او ال د حفاظت هم دا صورت ښودلی شویدی چې د عامو خلکو نه ځان غاړې ته کړي. (مرقات ۹/۲۶۵)

د فتنو پیشنګوئي

﴿۹﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ
او حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه فرمایي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مدینې یو وچت کور ته وختلو
فَقَالَ: "هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى؟ قَالُوا: لَا. قَالَ:
او وې فرمایل چې آیا تاسو هغه څه وینئ چې زه وینم؟ صحابؤ جواب ورکړو چې نا. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«فَإِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمَطَرِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
حقیقت دا دی چې زه هغه فتنې وینم چې هغه ستاسو په کورونو باندې داسې راوریږي لکه څنګه چې باران وریږي.

توضیح: اطم: همزه او طاء باندې پیش دی. دا مفرد دی. د دې جمع آطام ده. وچت غر او وچتې قلعه ته ویل کیږي. خو دلته دا لفظ د یو خاص عمارت لپاره ویلی شویدی. د عربو قبیلو رواج ؤ چې دا وس هم د صوبه سرحد (پختونخواه) د قبائلو رواج دی چې یو وچت کور جوړوي، په هغې کې ورې ورې تاخچې وي، دا وچت کورونه د مورچو په توګه باندې استعمالیږي. د لیرې نه دښمن په نظر راځي نو د تاخچو نه په هغوې باندې ډزې کوي. دېته په پښتو ژبه کې شنګرئ وایي. د دې پاسنې برخه د پټکې په شان وي. شیخ عبدالحق د دې عمارت پیژندګلو په اشعة اللمعات کې داسې کړیده: قصر بلند وهر حصن که بسنگ بابنا کرده باشد، یعنې وچته ماڼۍ او د هر هغه قلعه چې هغه د کاڼو نه جوړه شوي وي، دمدینې منورې په اطرافو کې یهودو دغه شان کورونه جوړ کړي ؤ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په دغه کورونو کې د یو کور چهت ته وختلو او ټوله مدینه یې وکتله.

(¹) أخرجه البخاري في صحيحه ۱/۶۹ رقم الحديث ۱۹، وأخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۶۱ رقم الحديث ۴۲۶۷.

(²) أخرجه البخاري في صحيحه ۴/۹۴ رقم الحديث ۱۸۷۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۱ رقم الحديث (۲۸۸۵-۹) .

Maktaba Tul Ishaat.com

خلال: یعنې د کورونو مینځ ته داسې فتني راتلونکې وینم لکه میده باران چې وریږي. یعنې ډیرې فتني به راځي،نبي کریم ﷺ ته الله تعالی د معجزې په توګه باندې ټولې فتنې خودلې وې.(مرقات ۹/۲۶۶)

د یو څو هلاکونو دوجې نه به دا امت هلاک شي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ
حضرت ابو هریره رضی الله عنه وائی یوه ورځ رسو الله ﷺ وفرمایل زما د امت هلاکت به د
مِنْ قُرَيْشٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
قریشو د څو ځلمو د لاسه وی

توضیح: **هلکة**: یعنې د امت هلاکت. **غلمة**: داد غلام جمع ده ځوانانو هلکانو ته وایي.د دېنه مراد هغه واقعات دي چې هغه د صحابؤ په دور کې واقع شوي لهذا د امت نه مراد د صحابؤ کرامو جماعت دی. د دغه ناپوهه هلکانو د وجې نه حضرت عثمان او علی او حضرت حسن او حسین رضی الله عنهم شهیدان شو. حالانکې هغوې چې هغوې د دې امت په خپله زمانه کې د ټولو نه افضل خلک ؤ ، عبیدالله بن زیاد ، سلیمان بن عبدالملک، حجاج بن یوسف، ولید فاسق او دغه شان نور ناتجربه کار ځوانانو د دې امت غوره خلک ووژل.(مرقات ۹/۲۶۶)

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زمانې به یو بل ته نژدې شي.
وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ» قَالُوا:
علم به وچت کړی شي. فتنې به راڅرګندې شي، بخل واچولی شي، او هرج به ډیر شي. صحابؤ عرض وکړو
وَمَا الْهَرْجُ؟ قَالَ: «الْقَتْلُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
چې هرج څه شی دی؟نبی کریم ﷺ وفرمایل: قتل.

توضیح: **یتقارب الزمان**: د دې نزدیکت نه د قیامت نژدې راتلل مراد کیدیل شي. یا مراد دا چې په شرارت او فساد کې به خلک یو بل ته نژدې شي. ځینو ویلې دي چې د عمرونو لنډیدل مراد دي. چې

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۱۲ رقم الحديث ۳۶۰۵ ، واحمد في المسند ۲/۲۸۸.

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۱۸۲ رقم الحديث ۸۵ومسلم في ۴/۲۰۵۷ رقم الحديث (۱۵۷-۱۱) .

کال به د مياشتې په ځاې او مياشتې به د اونو (هفتو) په ځاې، اونۍ به د ورځې ځاې ته راشي. او ورځ به يو ساعت جوړه شي. ځينو ويلې دي چې د جدت د وجې نه به مسافتونه کم شي، په دې وخت کې د جهاز په ذريعه سره د کال مزل په يو څو ساعتونو کې کيږي. ځينو لاسلکې او ټيليفون په ذريعه سره د دنيا مربوط کيدل او نژدې کيدل مراد اخستلي دي. بهرحال په دې لفظ سره جديد او قديم دواړه قسمه نژديکت مراد اخستلى کيدى شي. (مرقات ۹/۲۶۶)

د فتنو د سختوالي انتهاء

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ						
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قسم دى د هغه پاک ذات، د چا په لاس کې چې						
لَا	تَذْهَبُ	الدُّنْيَا	حَتَّى	يَأْتِيَ	يَوْمٌ	
زما ساه ده. دنيا به تر هغه وخته پورې نه فناء کيږي، ترڅو چې په خلکو باندې داسې ورځ رانشي، چې په هغې						
لَا	يَدْرِي	الْقَاتِلُ	فِيمَ	قَتَلَ؟	وَلَا	الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ؟
کې به نه قاتل ته دا معلومه وي چې هغه مقتول ولې ووژلو او نه به مقتول ته معلومه وي چې هغه ولې ووژلى						
فَقِيلَ:	كَيْفَ	يَكُونُ	ذَلِكَ؟	قَالَ:	«الْهَرْجُ	الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ
شو. پوښتنه وشوه چې دا به ولې وي؟ نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هرج به وجه، د غه شان قاتل او مقتول به دواړه						
فِي النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]						
به دواړه جهنم ته ځي.						

توضيح: الهرج: فتنه او فساد او قتل او وژني او ګډوډه وينه تويولو کې اخته کيدلو ته الهرج وايي. دلته د الهرج نه په خاصه توګه باندې هغه وينه تويول مراد دي چې هغه د مسلمانانو په خپل مينځ کې جداوالې او بيلتون په وجه خپره شي. بهرجال په احاديثو کې الهرج تفسير په کثرت قتل سره شويدى. (مرقات ۹/۲۶۷)

القاتل والمقتول: قاتل خو به د وژنې د وجې نه جهنم ته ځي، خو مقتول به ولې دوزخ ته ځي؟ نو د دې وضاحت هم په احاديثو کې شته دى چې مقتول هم کلکه اراده وه چې زه قاتل ووژنم خو قاتل په وژلو کې مخکې والى وکړو، لهذا مقتول د خپل غلط عزم او ارادې د وجې نه به دوزخ ته ځي. (مرقات ۹/۲۶۷)

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۱ رقم الحديث (۲۹۰۸-۵۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

د فتنو ډک ماحول کې د عبادت ثواب ډیر دی

﴿۱۳﴾ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ

او حضرت معقل بن یسار رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د فتنو په زمانه کې عبادت

كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

او نیکې کول و ثواب زما اړخ ته د هجرت کولو د ثواب په شان دی.

توضیح: العبادة: یعنې د فتنو په دور کې او د قتل او فساد په زمانه کې د قتل نه تختیدونکی او په عبادت کې مشغولیدونکی به دومره غټ ثواب ومومي لکه د مکې د فتح کیدلو نه مخکې د مکې نه مدینې اړخ ته په هجرت کولو کې غټ ثواب وُ. په دې حدیث کې د فتنو په زمانه کې د فتنو نه جدا کیدلو باندې خپل عبادت کې مشغولیدلو ترغیب ورکړی شویدی. (مرقات ۹/۲۶۶)

هر راتلونکی دور د مخکنې دور نه بدتروي

﴿۱۴﴾ وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ قَالَ: أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ

او حضرت زبیر بن عدی رحمه الله فرمايي چې مونږ د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه مجلس ته لاړو او د هغه

فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الْحَجَّاجِ. فَقَالَ: «اصْبِرُوا

ته مونږ د حجاج بن یوسف او د هغه د ظلمونو شکایت وکړو. هغه وفرمایل چې صبر کوئ او د زغم او برداشت نه

فَإِنَّهُ لَا يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بعده أشر منه حَتَّى

کار واخلئ ځکه چې وروستې هره زمانه راتلونکې ده هغه به د تیرې شوې زمانې نه بدتره وي. تردې چې تاسو

تَلْقَوْا رَبَّكُمْ». سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

د خپل رب سره ملاقات وکړئ. دا خبره ما ستاسو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه اوریدلې ده.

توضیح: الحجاج: د دېنه حجاج بن یوسف ثقفي مراد دی. چې هغه د دې امت د ټولو نه غټ ظالم تیر شویدی. چې هغه یو لک شل زره انسانان بیګناه وژلي دي. په جنګونو کې وژلی شوي د دېنه علاوه دي. د پیدائښ په وخت به یې د مور شیدې نه څکلې، شیطان د هغه مور ته وویل چې په ده باندې د بیزې وینه وڅښه، موریې دغه شان وکړل، نو د هغه وخت نه د وینې شوقي جوړ شو. ویل به یې چې خوراک هغه وخت خوند راکوي چې

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۸ رقم الحديث ۲۹۴۸-۱۳۰) واخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۲۴ رقم الحديث ۲۲۰۱.

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۱۹ رقم الحديث ۷۰۶۸ واحمد في المسند ۳/۱۷۹.

د ډېره مخکې څوک ووژنم. حجاج د عبدالملک بن مروان والي ؤ. وروسته خپله باچا شو. د بیت الله محاصره کولو باندې په هغې یې په منجیق سره کاڼې راوورول. د بیت الله پردې وسوزیدلې، بیا یې عبدالله بن زبیر رضی الله عنه شهید کړو، وروسته یې سعید بن جبیر شهید کړو. بیا ناروغه شو، په خیټه کې یې چینجې وشو، خپله خیټه به یې وهله یا به یې اور ته نژدې کړه، دې لپاره چې د چینجو چکونه لګول بند شي یو سړې یې په جومات کې په وجه ووژلو چې دا په جوماتو کې ولې اوده دې.

د مرګ نه وروسته یې حسن بصری رحمه الله د جنازې لمونځ وکړو. وې فرمایل چې ده د مرګ په وخت کې د الله تعالی نه ډیره ښایسته بخښنه غوختلې ده. نژدې ده چې معاف شي. د ګڼو صحابه کرامو رضی الله عنهم قاتل دی. په دې حدیث کې حضرت انس رضی الله عنه خلکو په شکایت باندې هم دا فرمایي چې صبر کوی، ځکه چې هر راتلونکی باچا د مخکې باچا نه بدتر وي. ابومسلم خراسانی د دې نه ډیر قتلونه کړیدي. خو حجاج شرخوښی ډیرؤ. په حدیث کې ده ته مبیر یعنې د هلاکونکې په نوم سره یاد کړې شویدی. (مرقات ۹/۲۶۸)

۲۶ جمادی الاول ۱٤١۸ھ

الْفَصْلُ الثَّانِي

د قائد فتنې په باره کې پیشنګوئي

﴿۱۵﴾ عَنْ	حُذَيْفَةَ	رَضِيَ	اللهُ عَنْهُ	قَالَ :	وَ	اللهِ	مَا أَدْرِي
حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمایي چې زه د خدای قسم خوړولو باندې وایم چې ما ته معلومه نده چې زما دې ملګرو							
أَنَسِيَ		أَصْحَابِي		أَمْ		تَنَاسَوْا؟	
هیر کړیدي یا د هغوې نه هیره شوې نده خو د خپلو ځینو مصلحتونو په وجه باندې د غه شان ظاهروي، لکه چې							
وَاللهِ مَا	تَرَكَ	رَسُولُ	اللهِ صَلَّى	اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	مِنْ	قَائِدِ فِتْنَةٍ
هغوې نه هیر شویدي. په خدای قسم نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو هم داسې فتنه خپرونکی ندی پریخودلی،							
إِلَى	أَنْ	تَنْقَضِيَ	الدُّنْيَا	يَبْلُغُ	مَنْ	مَعَهُ	ثَلَاثَمِائَةٍ
چې هغه د دنیا ختمې لو پورې پیدا کونکی دی. او چې د هغه د تابعدارانو شمیره تر درې سوه پورې یا د درې سوه نه به							
فَصَاعِدًا	إِلَّا	قَدْ	سَمَّاهُ	لَنَا	بِاسْمِهِ	وَاسْمِ	
ډیره وي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د هر فتنه خپرونکې ذکر کولو په وخت کې د هغه او د هغه د پلار							

أَبِيهِ واسمِ قبيلتِه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
او د هغه د قبيلې تر نومه پورې ويلي دي.

توضيح: **ثلاث مائة** :يعنې قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو چې غټ غټ فساديان او د فتنو مشران راښکاره نشي. نو نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر قيامته پورې راتلونکو د فتنو د مشرانو ذکر وکړو، او بيا يې وفرمايل چې د فتنو د دې مشرانو د هريو سره به کم از کم درې سوه کسان وي. ځکه چې د دې درې سوه شميره غټ مقدار دی.چې په هغې سره به د فتنې د دې مشر فتنه په آسانۍ سره خپره شي. څومره چې د درې سوه کسانو مشر وي. ځکه په حديث کې د دې درې سوه کسانو ذکر شويدی. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم په نوم ويلي ؤ.خو د مصلحت په وجه باندې وروستنو نومونه وانخستل. ګمراهۍ او بدعاتو اړخ ته رابلونکې غټ غټ ليډران به کم از کم درې سوه وي. بيا د هغوې څه خاص تعين نشته دی . دا ليډران به علماء سوء او عوام الناس دواړو نه به وي.نو څومره باطلې فرقې چې دا وخت دي د دوې يو بانې او مشر تير شويدی، بلکه قاديانې. پرويزې، ذکری، آغاخانی. بريلوې، دهريه. او رافضې او داسې نور،(مرقات ۹/۲۷۰)

﴿۱۶﴾وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي
او حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: حقيقت دا دی چې زه د خپل امت په حق
الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي
کې د کومو خلکو نه ډير ډيريږم هغه ګمراه کونکې امامان دي. کله چې زما په امت کې تورا وچليدله نو دا به
لَمْ يُرْفَعْ عَنْهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد والترمذيُّ[2]
تر قيامته بورې نه ودريږي.(روايت کړې دې ابوداود او ترمذی)

د خلافت راشده د مدت په باره کې پيشنګوئي

﴿۱۷﴾ وَعَن سفينة قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْخِلَافَةُ ثَلَاثُونَ سَنَةً
او حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي: د خلافت زمانه به ديرش کاله وي

([1])أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۲۳ رقم الحديث ۴۲۴۳.

([2])أخرجه أبوداود في السنن ۴/۲۵۱ رقم الحديث ۴۲۵۲والترمذي في السنن ۴/۴۳۷ رقم الحديث ۲۲۲۹.

ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا». ثُمَّ يَقُولُ سَفِينَةُ: أَمْسِكْ:
د دېنه وروسته به دغه خلافت به باچايي کې بدل شي. حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حساب کولو سره
خِلَافَةَ أَبِي بَكْرٍ سَنَتَيْنِ وَخِلَافَةَ عُمَرَ عَشْرَةً
وګورئ چې د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه دوه کاله، د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه لس کاله
وَ عُثْمَانَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ وَ عَلِيٍّ سِتَّةً. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ [1]
او د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت زمانه دولس کاله او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت زمانه شپږ کاله.

توضيح : ددې نه خلافت راشده على منهاج النبوة مراد دى. لهذا وروسته خلفاء د دې ځاې بحث نه دى.

امسك : يعنې شمار وکړه او محفوظ وساته. حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبى اکريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلام دى. هغه دلته په شمارلو سره د کلونو ذکر کړيدى. او د مياشتو ذکر يې ندى کړى. اصل حساب په دې توګه دى چې د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه دوه کاله او څلور مياشتې ده. د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه لس کاله او شپږ مياشتې ده. د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه څو ورځې کم دولس کاله ده . د حضرت على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه څلور کاله او نهه مياشتې ده. دغه شان د څلور واړو خلفاؤ د خلافت زمانه نهه ويشت کاله او اووه مياشتې ده. او پنځه مياشتې چې کومې پاتې شوي هغه د حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت زمانه ده .نو هغه هم د خلفاء راشدينو زمانه ده. او ټوله زمانه د خلافت ديرش کاله شوه. چې هغه په دې حديث کې ذکر شويده. د دېنه وروسته په عمومې توګه باندې دملوکيت زمانه ده . اګر که په دې کې څه استثناء هم ده. لکه حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله خلافتونه دي.(مرقات ۹/۲۷۱)

دراتلونکو واقعاتو په باره کې پيشنګوئي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيَكُونُ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ
او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما وويل چې يارسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) !آيا د دې خير نه وروسته به د شر دور
شَرٌّ كَمَا كَانَ قَبْلَهُ شَرٌّ؟ قَالَ: «نَعَمْ» قُلْتُ: فَمَا الْعِصْمَةُ؟
راځي. لکه څنګه چې مخکې ؤ. نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: هو! ما وويل: چې بيا دغه وخت به د بچ کيدلو څه لاره

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۳۶ رقم الحديث ۴۶۴۶ والترمذي في السنن ۴/۴۳۶ رقم الحديث ۲۲۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ: «السَّيْفُ» قُلْتُ: وَهَلْ بَعْدَ السَّيْفِ بَقِيَّةٌ؟

وي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: تورا! ما وویل چې بیا به د دې تورې نه وروسته اهل اسلام پاتې وي؟

قَالَ: «نعمْ تكونُ إِمارةٌ على أَقْذَاءٍ وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ».

نبی کریم ﷺ وفرمایل: پاتې به وي. او په فساد باندې به حکومت جوړ شي. او په کدورت سره به صلح وشي. خو

قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «ثُمَّ يَنْشَأُ دُعَاةُ الضَّلَالِ

ما وویل چې بیا به څه وي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: چې د دېنه وروسته به ګمراهۍ ته رابلونکي خلک پیدا شي.

فَإِنْ كَانَ لله فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةٌ جَلَدَ ظَهْرَكَ وَأَخَذَ

که دغه وخت په زمکه کې څوک خلیفه وي. نو که هغه ستا شا ولې ونه وهي او ستا مال ولې وانخلي خو ته

مَالَكَ فَأَطِعْهُ وَإِلَّا فَمُتْ

د هغه د اطاعت نه مخ مه اړوه، او که څوک خلیفه نوي نو تا لره په داسې حالت کې مرګ راتلل پکار دي

وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلِ شَجَرَةٍ» قُلْتُ:

چې ته د یوې ونې د جرړې لاندې پناه اخستونکې یې. ما عرض وکړو چې بیا به د دېنه وروسته څه وي؟

ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «ثُمَّ

نبی علیه السلام وفرمایل: د دېنه وروسته به دنیا نورې ډېرې فتنې او جدا والې اړخ ته وړاندې کیږي. او مسلمانان به پېراؤ به پېراؤ دینې

يَخْرُجُ الدَّجَّالُ بَعْدَ ذَلِكَ

او ملي توکه باندې او دنیاوي اعتبار سره به هم مخ په زوال وي. تردې چې د حضرت مهدي په زمانه کې به دجال را ښکاره شي چې

مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهِ وَجَبَ أَجْرُهُ وَحُطَّ وِزْرُهُ

د هغه سره به د اوبو نهر وي او اور به وي. نو کوم سړی چې د دغه اور ته ګوزار شو، د هغه اجر ثابت شو. او د هغه ګناه به لیرې شي.

وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهِ وَجَبَ وِزْرُهُ وحط أَجْرُهُ».

او کوم سړی چې په نهر کې ګوزار شي، د هغه ګناه به د هغه لپاره بار وي، او د هغه اجر به ختمیږي،

قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ:

حضرت حذیفه رضي الله عنه فرمايي چې ما وویل چې بیا د دېنه وروسته به څه وي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل:

«ثُمَّ يُنْتَجُ الْمُهْرُ فَلَا يُرْكَبُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ» وَفِي رِوَايَةٍ: «هُدْنَةٌ عَلَى
اسپه به بچي راوړي او هغه به د سپرلۍ قابل شوی نوي چې قيامت به راشي. او په يو روايت کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:
دَخَنٍ وَجَمَاعَةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ». قُلْتُ:
په زړه کې د غوټه ساتلو سره به صلح وشي او هغوی به د زړونو ناخوښۍ او خفګان سره راغونډ شي. ما وويل چې
يَا رَسُولَ اللهِ الْهُدْنَةُ عَلَى الدَّخَنِ مَا هِيَ؟ قَالَ:
يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د زړه په خفګان سره د صلح کولو نه څه مراد دي؟ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د دې مطلب دا دی
«لَا ترجع قُلُوبُ أقوام كَمَا كَانَتْ عَلَيْهِ». قُلْتُ:
چې د خلکو زړونه به په هغه حالت باندې نوي په کوم باندې چې مخکې ؤ، ما وويل چې د دې ښيګړې نه وروسته چې د نفاق
بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟
او د زړه په خفګان سره ذکر شوي خپل مينځې صلح او جوړې په صورت کې به ظاهره شي او هغه به اګر که
قَالَ: «فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ
د بدۍ د خيرې نه پورا توګه باندې پاکه نوي، کومه بله بدي به نه ښکاره کيږي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هو! د
صَمَّاءُ عَلَيْهَا دُعَاةٌ
دېنه وروسته به بدې راښکاره کيږي. او هغه به د يو داسې غټې فتنې په صورت کې وي چې هغه به ړنده او کڼه وي. د دې فتنې اړخ ته
عَلَى أَبْوَابِ النَّارِ فَإِنْ مُتَّ
به رابلونکې خلک پيدا شي او د دې جماعت خلک به د اعمل داسې ښکاره کوي لکه دوې چې د دوزخ په دروازه باندې ولاړ دي او
يَا حُذَيْفَةُ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلٍ خَيْرٌ لَكَ
خلک د هغې اړخ ته رابلي. نو ای حذيفه! په دغه وخت کې که ستا مرګ په داسې حالت کې راشي چې تا د يوې ونې
مِنْ أَنْ تتبع أحدا مِنْهُم». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]
د جرړې لاندې پناه نيولې وي نو دا د دې نه غوره ده چې ته په اهل فتنه کې د چا تابعدارې او اتباع وکړې.

توضيح: السيف: د دېنه معلومه شوه چې د فتنو د سر ماتونې لپاره د حق د بيرغ لاندې توري سره راوتل

---

[1] أخرجه ابوداود في السنن ۴۰۲۴۴ رقم الحديث ۴۲۴۴ أخرجه ابن ماجه في ۲/۱۳۱۷ رقم الحديث ۳۹۸۱

Maktaba Tul Ishaat.com

جائز دي. د جمهور صحابؤ هم دا مسلک ؤ. او م(۷) نمبر حديث کې د دې تفصيل تير شويدی. **بقية**: يعنې تورا راختستلو باندې د دې فسادګرو سره د جنګ کولو نه وروسته به آيا خلافت او امارت پاتې وي؟ نبی کريم صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هو ! امارت به پاتې وي.خو **علی اقذاء**: قذې په سترګې کې غورزيدونکې خځلې ته وايي. دلته خفګان او د زړه خيری مراد دی. په ظاهرې توګه باندې به خلک اطاعت کوي خو په زړونو کې به يې دښمنې پاتې وي. دغه مفهوم په **هدنة علی دخن** سره ادا کړی شو چې صلح خو به وشي، خلافت به هم قائم شي خو دخن يعنې لوګی او د زړه خيری به پاتې وي.(مرقات ۹/۲۷۳)

عاض: يو شی په خلې کې په غاښونو سره کلک نيولو ته عاض وايي. **جذل**: ونې تنې او جرړې ته جذل وايي. **ثم ماذا**: يعنې د دې فتنو نه به وروسته څه وي؟ نبی کريم صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وکړه چې بيا به د خروج دجال فتنه وي. يعنې اول به حضرت مهدی راځي . او ه کاله خلافت نه وروسته به د جاج خروج وي، بيا د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نزول (راکوزيدل) وي بيا به قيامت دومره نژدې راشي چې د اس بچی به د سپرلۍ قابل شوی نوي چې قيامت به راشي.(مرقات ۹/۲۷۳)

خلافت راشده نه وروسته د سختو فتنو پيشنګوئي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ : كُنْتُ رَدِيفًا خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عَلى حِمَارٍ
او حضرت ابو ذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې يوه ورځ زه په خر باندې رسول الله صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې شاته ناست وم، کله چې
فَلَمَّا جَاوَزْنَا بُيُوتَ الْمَدِينَةِ قَالَ: «كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا كَانَ
مونږ د مدينې د کورونو نه ووتلو نبی کريم صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي کله چې په
بِالْمَدِينَةِ جُوعٌ تَقُومُ عَنْ فِرَاشِكَ وَلَا تَبْلُغُ مَسْجِدَكَ
مدينه کې به ولږه وي. ته به د خپلې بسترې نه پاڅيدلو باندې ترجوماته تګ کې هم مشکل محسوسوې. او د
حَتَّى يُجْهِدَكَ الْجُوعُ ؟ » قَالَ : قُلْتُ :
ولږې سخته بدتا په سخته پريشانۍ او تکليف کې اخته کړي. حضرت ابو ذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې ما وويل:
اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «تَعَفَّفْ يَا أَبَا ذَرٍّ».
چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. نبی کريم صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ابو ذر! پاکدامنې خپله کړه. بيا
قَالَ: «كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ
نبی کريم صَلَّىٰ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي کله چې (قحط يا د بلې څه وباء د خپريدلو د وجې نه) په مدينه

مَوْتٌ يَبْلُغُ الْبَيْتَ الْعَبْدُ

کې د مرګونه ډیر شي. او د کور (یعنې د قبر) نرخ به د غلام نرخ ته ورسیږي. تردې چې د قبر ځای به د غلام په

حَتَّى إِنَّهُ يُبَاعُ الْقَبْرُ بِالْعَبْدِ ؟ » . قَالَ : قُلْتُ اللهُ وَ رَسُولُهُ

قیمت (نرخ) باندې خرڅیږي. حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمایي چې ما عرض وکړو چې الله او د هغه رسول

أَعْلَمُ. قَالَ: «تَصْبِرُ يَا أَبَا ذَرٍّ». قَالَ: «كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍّ

ښه پوهیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د صبر لمن هیچرې مه پریږده. او بیا یې وفرمایل: ابوذر! هغه وخت به

إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ قَتْلٌ تَغْمُرُ الدِّمَاءُ أَحْجَارَ الزَّيْتِ؟»

ستا څه حال وي کله چې به مدینه کې قتل عام وشي. او د دې وینه به احجار الزیت لره پټ کړي.

قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ:

ابوذر رضی الله عنه فرمایي چې ما وویل چې الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«تَأْتِي مَنْ أَنْتَ مِنْهُ» . قَالَ: قُلْتُ: وَأَلْبَسُ السِّلَاحَ؟

ته د هغه چا ته خواته لاړ شه، د چا سره چې ته تعلق ساتې. ما وویل چې آیا زه دغه وخت وسله وترم. او د

قَالَ : « شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذًا ».

فتنې خپرونکي ډلې په خلاف باندې جنګ وکړم؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دغه شان به ته هم د غه جماعت سره په

قُلْتُ : فَكَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ؟

کار کې شریک شې. ما وویل چې: یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما لپاره هغه وخت څه کول پکار دي؟

قَالَ : « إِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ نَاحِيَةَ ثَوْبِكَ

نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که ستاسره یره وي چې د توري پرق به په تا غالبه شي نو دغه وخت ته د خپلو جامو څنډه په

عَلَى وَجْهِكَ لِيَبُوءَ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ(1)

خپل مخ باندې راوچوه، دې لپاره چې هغه ستا او خپله ګناه سره بیرته ستون شي.

توضیح: جوع: یعنې په مدینه کې به عام قحط راشي یا فقط ته د ولږې سره مخامخ شي. دواړه مطلبونه

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح دي.

یجهدك: یعنې ولږه به تا کمزوری او دومره ډنګر کړي چې ته به خپل نږدې جومات ته تګ نه عاجزه شي.

تعفف: یعنې په داسې حالت کې هم د سوال نه ځان وساته او خپل عزت او عظمت د لاسه مه ورکوه.

موت: یعنې وبائې ناروغی یا قحط نه یا د فتنو د وجې نه به مرګونه عام شي.

البیت العبید: یعنې د مړي لپاره به قبر نه وي، قبر به دومره ګران شي چې یو غلام به ورکول وي. یعنې د قبر نرخ به د غلام نرخ ته ورسیږي.

تغمر: د پټولو په معنی دی. یعنې دومره وینه به تویه شي چې کانې به پټ کړي.

احجار الزیت: مدینه منوره کې د یوې کوځې نوم احجار الزیت دی. ځینې علماء وایي چې مغربې اړخ ته د یو ځای نوم دی. علامه توربشتي وایي چې احجار زیت د حره علاقه ده. په حره کې د یزید په زمانه کې مشهور قتل عام شوی ؤ. درې ورځې په مدینه منوره کې چور چپاؤ عام ؤ. درې ورځې په مسجد نبوي کې اذان نه ؤ شوی. مدینه باندې تورتم خپور شوی ؤ، مسلم بن عقبه د یزید د فوج مشرې کوله. په زرګونو مسلمانان شهیدان شول. او مدینې د تقدس خیال ونه ساتلی شو. په احجار زیت کې د وینې ولې وبهیدلې. دا واقعه د شهادت حسین رضي الله عنه وروسته پیښه شوه. بیا د یزید فوځ د مکې محاصره وکړه خو خپله یزید مړ شو او قبضه ختمه شوه.

تأتي من انت منه: د دې یو مطلب دا دی چې د کوم کورنه ته راغلی یې نو هغه کور ته لاړ شه او په هغې کې کینه. یا یې مطلب دا دی چې په داسې حالت کې ته خپل هغه امیر اړخ ته رجوع وکړه چې د چا چې ته اطاعت کوې، او ته د هغوې نه یې. دا دویم مطلب علامه طیبي بیان کړیدی. چې ډیر واضحه دی. د حره واقعه په ۶۳ هـ کې وشوه. او حضرت ابوذر غفاری رضي الله عنه وفات په ۳۲ هـ کې شوی ؤ. حضرت ابوذر رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا فرمان او پیشنګوئې د صحابؤ او تابعینو مخې ته بیان کړیده خو خپله یې واقعه نده لیدله. (مرقات ۹/۲۷۷)

شارکت القوم: یعنې که وسله اغوستلو باندې میدان ته ووتلې نو د جنګ کونکو نه به ګڼلی کیږي.

یبهرك: یعنې د تورې بړق په تا باندې غالب راشي، ته د غه وخت په خپل مخ باندې جامه واچوه او هیڅ مکوه. وژونکی به د ګناه پورا بوج سره قیامت کې راشي. (مرقات ۹/۲۷۸)

دفتنو ډک ماحول کې د خلاصون لار

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كَيْفَ
او حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمایل چې هغه وخت به ته
بِكَ إِذَا أُبْقِيتَ فِي حُثَالَةٍ مِنَ النَّاسِ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ
څه کوي کله چې ته خپل ځان د ناکاره خلکو په زمانه کې بیامومې. چې د هغوی لوظ او وعدې او د چا
وَأَمَانَاتُهُمْ ؟ وَاخْتَلَفُوا فَكَانُوا هَكَذَا ؟ »
امانتونه چې به ګډوډ وي. او ثوک چې به خپل مینځ کې اختلاف ساتي. ګویا چې هغه خلک به داسې شي،
وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ. قَالَ:
دې وینا سره نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې ګوتې په یو بل کې دننه کړې. حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل: چې ته
فَبِمَ تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: «عَلَيْكَ
ما ته لار ښودنه وکړه چې د غه وخت څه وکړم؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هغه وخت به په تا باندې لازم وي چې
بِمَا تَعْرِفُ وَدَعْ
هغه څه اختیار کړه او په هغه څه باندې عمل وکړه چې ته یې حق وګڼې. او د هغه څه نه کرکه او ځان ساته
مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ
وکړه چې ته یې ناحق او بد وګڼې. د غه شان فقط خپل کار او خپلې بنیګړې سره کار وساته. او خپل ځان
وَإِيَّاكَ وَعَوَامِّهِمْ». وَفِي رِوَايَةٍ: «الْزَمْ بَيْتَكَ وَأَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ
عامو خلکو نه لیرې کړه. او په یو روایت کې داسې نقل شوي دي چې په خپل کور کې پاتې شه. او خپله ژبه
وَخُذْ مَا تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ
په قابو کې وساته. او کوم څه چې حق وګڼې، هغه خپل کړه او کوم څه چې بد وګڼې. هغه پریږده، فقط خپل
بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ و دع أمر العامّة ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ[1]
کارونو او خپلې بنیګړې سره مطلب وساته. او د عامو خلکو د معاملاتو نه ځان لیرې وساته.

توضیح: حثالة: د کهجورو پوستکي او بوس او خزلو ته حثاله وایي. د دې نه هغه خلک مراد دي چې چې هغه

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۲۵۱ رقم الحديث ۶۴۳۴ وابوداود في السنن ۴/۵۱۳ رقم الحديث ۴۳۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

د انسانانیت نه غورزیدلي وي. بس خزلي وي. مرجت: یعنې د هغوی وعدې به کمې وډې وي او په دهوکه باندې بنا وي. د وعدې به هیڅ اعتبار نوي. نه به د هغوی په ژبه باندې د چا اعتبار وي. د ټیټې درجې خلک به وي. په داسې حالت کې ته عوام الناس پرېږده، فقط د خپل ځان د ساتنې فکر وکړه. په نورو روایتونو کې د حق ملاتړ او د تورې راوچتولو ویلی شویدي، او حال دا دی چې دلته د لیندۍ ماتولو او ځان غاړې ته کولو حکم دی. نو دا د مخاطب د مزاج د وجې نه فرق راغلی دی. تفصیل مخکې تیر شویدی. (مرقات ۹/۲۷۸)

یو تفصیلي وړاندوینه

﴿۲۱﴾ وَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ:

او حضرت ابو موسی رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ

قیامت د راتګ نه مخکې به فتنې ښکاره شي. او د تورتم شپو د ټوټو په شان به وي. د دې فتنو په زمانه کې به

يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا

سړی خو سحر کې د ایمان په حالت کې به پاڅیږي، او ماښام به کافر شي. ماښام کې به مؤمن وي نو سحر به د کفر په حالت کې

الْقَاعِدُ خير من الْقَائِمِ والماشي خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَكَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ

پاڅیږي ناست به د ولاړ نه غوره وي. او مزل کونکی به د منډې وهونکي سړي نه غوره وي. نو خپلې لیندۍ ماتې

وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ فَإِنْ دُخِلَ عَلَى أَحَدٍ

کړئ، د لیندۍ تارونه غوځ کړئ، او خپلې تورې په کاڼو باندې ووهئ، او کله چې په تاسو کې یو سړي د چا

مِنْكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ».

وژلو پسې راشي نو هغه لپاره پکار دي چې هغه د آدم علیه السلام په دوه ځامنو کې د غوره ځوی په شان شي.

رَوَاهُ أَبُو دَاوُد . وَ فِي رِوَايَةٍ لَهُ (ضَعِيف) « ذَكَرَ إِلَى قَوْلِهِ » خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي "

او د ابوداؤد په یو بل روایت کې خیر من الساعي (یعني مزل کونکی به د منډې وهونکي سړي نه غوره وي)

ثُمَّ قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟

د الفاظو نقل کولو نه وروسته داسې نقل کړی شویدي چې صحابؤ عرض وکړو چې ته مونږ ته څه حکم کوې؟

قَالَ: كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ". وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ:
نبی کریم ﷺ وفرمایل: تاسو د خپل کور ټاټ جوړ شئ، دغه شان د ترمذي روایت داسې دی چې
أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْفِتْنَةِ: «كَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ
نبی کریم ﷺ د فتنې په اړه باندې دا لاربنودنه وکړه چې تاسو د فتنې په زمانه کې خپلې لیندۍ ماتې کړئ
وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَالْزَمُوا فِيهَا أَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ وَكُونُوا
او د هغې تارونه وشلوئ، دغه شان خپلو کورونو کې پریوتل لازم کړئ، او تاسو د آدم علیه السلام د ځوی
كَابْنِ آدَمَ». وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ[1]
په شان جوړ یدل خوښ کړئ. (او ترمذی وائی دا حدیث غریب دې)

توضیح: قسیکم: دا د قوس جمع ده. او قوس کمان ته وایي. **اوتارکم:** دا د وتر جمع ده. د لیندۍ هغه تار او مزي ته وایي چې په هغې کې تیر اړدلو سره ګوزارولی شي.

احلاس: دا د حلس جمع ده. ټاټ ته وایي. یعنې د کور د ټاټ په شان شئ، د کور نه مه راوځئ ګنې په فتنه کې به اخته شئ. (مرقات ۹/۲۸۰)

خیر ابن آدم: یعنې آدم علیه السلام د دوه ځامنو هابیل او قابیل کې د ښه ځوی په شان شئ، یعنې د هابیل په شان صبر کونکې شئ، دا احادیث د هغه ښاغلو دلائل دي چې هغوي د فتنو په زمانه کې بیخي جدا او سیږي. تفصیل په حدیث نمبر ۷ کې تیر شویدی.

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ قَالَتْ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا.
او حضرت مالک بهزیه رضی الله عنها فرمایي چې رسول الله ﷺ د فتنې ذکر وکړو او هغه ډیره نژدې کړه
قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا؟
نو ما وویل چې یا رسول الله ﷺ! د دې فتنې په زمانه کې به د ټولو نه غوره سړی څوک وي؟
قَالَ: «رَجُلٌ فِي مَاشِيَتِهِ
نبی کریم ﷺ وفرمایل: په دې زمانه کې به د ټولو نه غوره سړی هغه وي چې هغه په خپلو څارو (مصروفه) وي. د

([1]) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۵۷ رقم الحديث ۴۲۵۹، والترمذي في السنن ۴/۴۲۴ رقم الحديث ۲۲۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

يُؤَدِّي	حَقَّهَا	وَيَعْبُدُ	رَبَّهُ	وَرَجُلٌ
هغوې حق ادا کړي، او د خپل رب په بندګیرۍ کې مشغوله وي. او هغه سړی به هم د ټولو نه غوره وي				
أَخَذَ بِرَأْسِ فَرَسِه يُخِيفُ الْعَدُوَّ وَيُخَوِّفُونَه ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]				
چې هغه د خپل اس سر ونیسي او د دین دښمنان ویروي او دښمن هغه له یروي.				

مشاجرات صحابه په بحث کې مه پرېوځه

﴿۲۳﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَتَكُونُ فِتْنَةٌ				
او حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ډیر ژر به یوه غټه فتنه رابښکاره کیدونکې				
تَسْتَنْظِفُ	الْعَرَبَ	قَتْلَاهَا	فِي	النَّارِ
ده چې هغه به ټول عرب په خپله ګیره کې واخلي. په دې فتنه کې وژل شوي خلک به دوزخ کې وي، دغه شان				
اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقْعِ السَّيْفِ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[2]				
په دې کې ژبه چلونکی د توري وهونکې نه به ډیر مضر وي. (ترمذی، ابن ماجه)				

توضیح: تستنظف العرب: یو شی په مکمل توګه باندې هلاکولو لپاره د استنظف لفظ ویلی کیږي. یعنې په دې فتنې سره به د عربو بیخ کندې وشي. **فی النار:** یعنې په دې کې وژل شوي به دوزخ ته ځي. ځکه چې په دې جنګ کې د هغوې مقصود به اعلاء کلمة الله نوي، نه د کوم حق ملاتړ وي، او نه به د کوم ظالم ظلم له لیرې کول وي، بلکې اختلاف او بغاوت او د هیواد نیول او مال راغونډول به یې مقصود وي. (مرقات ۹/۲۸۲)

اللسان: دا فتنه به په تعصب او قومیت باندې بنا وي، نو ځکه د ژبې غوځه به د توري د غوځې نه ډیر اثر کونکې وي. په دې حدیث کې چې د فتنې کوم ذکر شویدی، په دې کې شریک د دواړو ډلو لپاره سخت وعید دی. او د دې مقتولین دوزخیان بللی شویدي. لهذا د دې مصداق دصحابؤ د دور مشاجرات ګرځول ممکن ندي. په حدیث کې د چا نوم هم نشته دی. او نه د کومې ډلې تعین شته دی، د مطلق فتنې تذکره ده. په عربې نړۍ باندې د اولې ورځې نه بیلا بیلې فتنې راغلي دي، لهذا د دې فتنې مصداق داسې خلک کیدلی شي چې هغوې د کوم حق په ملاتړ یا د ظلم په لیرې کولو کې نه جنګیږي بلکې یوائې د دنیاوې غرضونو او نفساني خواهشاتو لپاره جنګیږي، لکه څنګه چې د قاضی عیاض کلام

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۱۰ رقم الحديث ۲۱۷۷ واحمد في المسند ۶/۴۱۹.

(2) اخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۶۱ رقم الحديث ۴۲۶۵ والترمذي في السنن ۴/۴۱۱ رقم الحديث ۲۱۷۸.

ملا علی قاری رحمه الله نقل کړیدی. قاضی عیاض دغه شان فرمایلي دي: دا قسمه احادیث د صحابه کرامو حضرت علي رضي الله عنه او حضرت معاویه عنهم خپل مینځې جنګونو باندې حمل کول پکار ندي. هغه د صحابؤ جماعت دی، د هغوی عزت کول په امت باندې واجب دي. د هغوی جنګونو ته مشاجرات وایې، چې په هغوی کې یو جماعت په حق باندې ولاړ ؤ نو دویم جماعت اجتادې خطایې کړې وه. چې په هغې کې دسزا په ځای باندې ثواب ورکولی کیږي. دا مقدس جماعت الله تعالی په رضی الله عنهم ورضوا عنه سره یاد کړیدی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اذا ذکر اصحابي فامسکوا ای عن الطعن فیهم (مرقات) نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: اذا رأیتم الذین یسبّون اصحابي فقولوا لعنة الله علی شرّکم. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د مشاجرات صحابؤ په اړه باندې وفرمایل: تلك دمآء طهر الله ایدینا منها فلا نلوث السنتنا بها. حضرت عبد الله بن مبارک رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې معاویه رضي الله عنه افضل ؤ او که عمر بن عبدالعزیز رحمه الله؟ نو ده جواب ورکړو: لغبار انف فرس معاویة حین غزا في رکاب رسول الله افضل من کذا وکذا من عمر بن عبدالعزیز. (مرقات۲۸۲-۹/۲۸۳)

بهرحال جمهور امت په دې باندې ولاړ دی چې حضرت علی رضي الله عنه په حقه باندې ؤ او حضرت معاویه رضي الله عنه په اجتهادې خطاء باندې ؤ. چې په هغې کې ثواب ورکیدلی شي. زمونږ لپاره د ټولو نه ښه لاره دا ده چې مونږ په مشاجرات صحابه کې بیخي سکوت خپل کړو. سکوت باندې مواخذه نشته. او په خبرو کولو او تحقیق کولو کې د مواخذې یره شته دی. (مرقات۹/۲۸۳)

نه هر جائے مرکب تواں تاختن کہ جاہا سپر باید انداختن

کله چې چاړې او ړنده فتنه وي

﴿۲٤﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ بَكْماء
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ډیر ژر به چاړې، ګنګې او
عمياءُ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا
ړندې فتنې راښکاره شي. کوم سړی چې دا فتنې ووینې او دېته نژدې ورشي هغه به دغه فتنې ووینې
اسْتَشْرَفَتْ لَهُ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كوقوع السَّيْفِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
او ده ته به نژدې راشي، دغه شان د دې فتنو په وخت کې ژبه ورتیا به د تورې وهلو په شان وي.

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۶۰ رقم الحدیث ۴۲۶۴ واحمد في المسند ۵/۴۰۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: صمّاء: یعنې ډیر ژر به چاړی، کڼې او ړندو فتنو ظهور وشي، د خلکو په اعتبار سره یې فتنو ته چاړی، ړندي او کڼې ویلی شویدي، مطلب دا دی چې د دې فتنې په وخت کې به خلک د حق او باطل په مینځ کې فرق نشي کولی. ښه خبره اوریدل به نه خوښوي. او نه به د امر بالمعروف او نهی عن المنکر خبره د ژبې نه راوباسي او نه به ښه کار ته د قبولیت په نظر ګوري. څوک چې په سر وروچتولو سره دې فتنو ته ګوري، دا فتنه به په منډه سره د هغه خواته راځي، د ژبې په ذریعه به دا فتنه دومره راوپاریږي چې د تورې نه به تیزه وي. د حدیث مطلب دا دی چې د دې ړندي، کڼې او چاړی فتنو نه هر وخت د ځان ساتلو کوښښ کوه. (مرقات ۹/۲۸۴)

د څو غټو فتنو بیان

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه روایت دی چې مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ناست وُ. چې

فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ

نبی کریم صلی الله علیه وسلم د فتنو ذکر شروع کړو. او ډیرې فتنې یې بیان کړې. تردې چې د فتنه احلاس ذکر یې وکړو.

فَقَالَ قَائِلٌ: وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ. قَالَ:" هِيَ هَرَبٌ وَحَرَبٌ

یو سړي پوښتنه وکړه چې د احلاس فتنه څه ده؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه تیخته او د مال په ناحقه باندې

ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ دَخَنُهَا مِنْ تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ

اخستل دي. او بیا د السراء فتنه ده. د دې فتنې ... تم او تباهي به د هغه سړي د قدمونو د لاندې نه راوځي چې هغه به زما د

مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي

اهل بیت نه وي. د هغه سړي ګمان خو به دا وي چې هغه زما د اهل بیت نه دی خو حقیقت دا دی چې هغه به

وَلَيْسَ مِنِّي إِنَّمَا أَوْلِيَائِي

زما د خپلو نه نوي. په دې کې هیڅ شک نشته چې زما دوست او زما خپل خو هغه خلک کیدلی شي چې هغه

الْمُتَّقُونَ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ

پرهیزګاره وي! بیا د دې فتنې نه وروسته به خلک د داسې سړي په لاس باندې بیعت وکړي چې هغه بد پوختې

كورك على ضلع ثُمَّ فتْنَةَ الدهماء لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ

د پاسه واز کې په شان به وي. بیا به د وهیماء فتنه ظاهره شي او هغه فتنه به په دې امت کې داسې سړی پرې نږدي

إِلَّا	لَطَمَتْهُ	لَطْمَةً	فَإِذَا	قِيلَ:	انْقَضَتْ

چې په هغې باندې د دې څپېړه، د څپېړې په توګه ونه لګي. او کله چې وویلی شي چې دا فتنه ختمه شوه نو

تَمَادَتْ	يُصْبِحُ	الرَّجُلُ	فِيهَا	مُؤْمِنًا	وَيُمْسِي	كَافِرًا	

د دې موده به څه نوره ډېره شي، د غه وخت به سړی سحر کې د ایمان به حالت کې پاڅېږي او ماښام به کافر شي

حَتَّى	يَصِيرَ	النَّاسُ	إِلَى	فُسْطَاطَيْنِ:	فُسْطَاطِ	إِيمَانٍ

او دا صورت حال به جاري وي. تر دې چې خلک به په دوه خیمو کې تقسیم شي. یوه خیمه به د ایمان وي

لَا	نِفَاقَ	فِيهِ	وَفُسْطَاطِ	نِفَاقٍ	لَا	إِيمَانَ	فِيهِ.	فَإِذَا	كَانَ	ذَلِكَ

چې په دې کې به نفاق نوي. او یوه خیمه به د نفاق وي چې په دې کې به ایمان نوي، کله چې دا خبره رابښکاره

فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ مِنْ يَوْمِهِ أَوْ مِنْ غَدِهِ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

شي نو بیا په دغه ورځ یا په بله ورځ د دجال د ربښکاره کیدلو انتظار کوی.

توضیح: فتنه احلاس: احلاس د حلس جمع ده. او حلس ټاټ ته وایي. دې فتنې ته حلس او ټاټ سره ځکه تشبیه ورکړی شویده چې ټاټ په یو ځاې باندې پروت وي، د لیرې کیدلو نوم نه اخلي، دا فتنه چې هم کله کورونو ته ننوځي نو دهغوې سره دا ونخلي چې د ختمیدلو نوم به نه اخلي، څنګه چې ټاټ ونخلي یا په دې فتنه کې د اخته شوؤ خلکو تشبیه دټاټ سره ورکړی شویده چې خلک به د دې فتنې د وجې نه د کورونو سره دا ونخلي څنګه چې ټاټ وي. او هغوې لپاره دغه شان کول پکار دي. (مرقات ۹/۲۸۵)

هرب وحرب: دیوښتنه کونکې په جواب کې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فتنه احلاس وضاحت وکړو چې په دې کې به خلک دیو بل سره دښمنې او بغض او کینې د وجې نه تختي. دا هرب دی. او خلک به دیو بل نه مالونه په زور اخلي. دا حرب دی. حرب د محروب په معنې دی. مال په زوره اخستلو ته وایي. شاعر ساحر ویلي:

وما لکل اخیذ المال محروب

دفتنه احلاس مصداق: حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله دفتنه احلاس مصداق د حضرت عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شهادت او د حجاج بن یوسف فتنه یې ګرځولې ده. تفصیلي واقعه په دې توګه باندې پیښه شوه چې د حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشوره باندې چې کله حضرت معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل ولي عهد وټاکلو نو د وصیت په توګه باندې یې هغه ته وویل چې ستا د حکومت به څلور کسان مخالفت کوي، یو عبدالرحمن بن ابی

([1]) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۴۲ رقم الحديث ۴۲۴۲، وأحمد في المسند ۲/۱۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

بکر رضی الله عنه، دویم عبد الله بن عمر رضی الله عنه، دریم عبد الله بن زبیر رضی الله عنه او څلورم حسین بن علی رضی الله عنه. په دوی کې اول ذکر شوؤ ته کیدی شي د مقابلې کولو موقع په لاس ورنشي، دویم صوفي سړی دی، ځان به غاړې ته کړي، دریم عبد الله بن زبیر رضی الله عنه لو منږې نه ډیر چالاکه دی، دهغه نه هوښیار ساته. او څلورم چې حسین رضی الله عنه دی، هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره نزدیکت دی، د هغه د خپلولۍ ډیر خیال ساته. د حضرت معاویه رضی الله عنه تجزیه روغه ثابته شوه، حضرت عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه وفات شو، او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه ځان غاړې ته کړو، او حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه یزید د بیعت نه تختیدلو باندې مکه مکرمه کې د خپل خلافت اعلان وکړو، کله چې حضرت حسین رضی الله عنه کربلا په میدان کې شهید کړی شو، شامي فوځیانو د مدینې محاصره وکړه، او غټ چور چپاؤ یې وکړو، د حره واقعه او د احجار الزیت په شان خونړۍ واقعې وشوې، کله چې د مدینې د تقدس لحاظ و نه ساتلی شو، نو د مسلم بن عقبه په مشرۍ کې یزید دغه لښکر مکې مکرمې ارخ ته روان کړو، دې لپاره چې عبد الله بن زبیر رضی الله عنه ته ماتې ورکړي، مسلم بن عقبه الله هلاک کړو، دهغه په ځای حصین بن نمیر امیر جوړ کړی شو، هغه د مکې محاصره وکړه، او د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه په خلاف باندې یې په حرم شریف کې جنګ شروع کړو. په بیت الله باندې کاڼي وورولی شو. د مکې خلکو ډیر مشقت برداشت کړو، چې په دې کې غیر متوقع توګه باندې حضرت یزید وفات شو. د دې وجې نه حصین بن نمیر محاصره ختمه کړه او بیرته لاړو. د دینه وروسته د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه خلافت فراخه شو. او مکه، مدینه او حجاز مقدس او مصر او د عراق په ټولو علاقو باندې دهغه حکومت قائم شو. د یزید ځوې چې دهغه نوم معاویه ؤ، دوه میاشتې حکومت یې وکړو او بیا هغه هم وفات شو. د هغه نه وروسته تقریبًا په ټوله اسلامي نړۍ باندې د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه حکومت شو. خو شپږ او ه میاشتې وروسته مروان بن حکم په شام باندې قبضه وکړه، او په دمشق کې یې د خپل خلافت اعلان وکړو. او د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه مقابلې ته ودریدلو. د شام نه وروسته عراق او مصر هم د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه لاس نه ووتل. کله چې مروان بن حکم وفات شو نو دهغه ځوې عبد الملک بن مروان تخت باندې کیناستلو، هغه په خپل جنګي قوت او طاقت سره عبد الله بن زبیر رضی الله عنه لاس نه ټولې علاقې ازادې کړې. او په آخر کې حجاج بن یوسف یې د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه مقابلې لپاره مکې ارخ ته ولیږلو. حجاج بن یوسف د مکې محاصره وکړه او جبل ابو قبیس باندې منجنیق نصب کولو سره یې په بیت الله باندې کاڼي ورول شروع کړل. حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه په بیت الله کې محاصره پاتې ؤ. په آخر کې هغه د جنګ لپاره میدان ته راووتلو. او په ډیره مړانه سره یې د حجاج مقابله وکړه. خو آخر کې په ۷۳هـ کې د حجاج د لاسه شهید شو. د ده د خلافت زمانه شپږ کاله وه. په دې حدیث کې شاه ولی الله رحمه الله د قول مطابق د واقعه احلاس مصداق هم دا ټول تفصیل دی. چې اورېد دی. یعني د ټاټ په شان نختونکې فتنه مراد ده.

د فتنه السراء مصداق: **ثم فتنة السراء**: سراء عیش او تنعم او ډیر مال او خوشحالۍ ته وایي. دا فتنه هم په دغه توګه د ډیرو مالونو او عیش او تنعم د وجې نه راغلې وه. ځکه د دې نوم سراء کیخودلی شو. ځینو شارحینو دا د

سرور نه ده اخستلي. بلکې د پټوالي نه یې اخستي ده. یعنې دا یو سازشي فتنه وه. چې په ظاهره باندې دساداتو او اهل بیت د ملاتړ په نوم باندې وه. خو دننه دننه د اسلام بیخ کنې باندې بنا وه. چې د مختار ثقفي په شکل کې وه. دا مطلب ډیر ښه دی. حضرت شاه ولی الله رحمه الله د دې فتنې مصداق مختار بن عبید ثقفي ګرځولی دی. دا سړی په شیعان علی کې ؤ. د کوفې خلکو چې کله د حضرت حسین رضي الله عنه سره بیوفایي وکړه او هغه په کربلا کې شهید کړی شو. نو دغه سړي د کربلا د واقعې نه فائده اخستلو په غرض سره د قاتلین حسین رضي الله عنه د انتقام اخستلو اعلان وکړو. مسلم بن عقیل به د دغه سړي کور ته تلو راتلو. د هغه نه یې هم تائید ترلاسه کړو. دغه شان د حضرت علي رضي الله عنه مشهور ځوې محمد بن حنفیه نه یې هم تائید ترلاسه کړو. دلته په کوفه کې د توابین په نوم یو جماعت جوړ شوی ؤ. چې د هغې مقصد دا ؤ چې مونږ د حضرت حسین رضي الله عنه سره بیوفایي وکړه ، وس مونږ توبه وباسو. او د حسین رضي الله عنه قاتلانو نه به بدل اخلو. مختار بن عبید ثقفي په ډیره چالاکۍ سره د دغه خلکو نه هم تائید ترلاسه کړو. او پورا جماعت یې جوړ کړو. مختار ثقفي ځو دروغژنې دعوي هم وکړې. چې په هغې باندې د کوفې والي هغه ونیول، او په محبس (جیل) کې یې واچولو. خو د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په سفارش باندې د محبس نه ازاد شو. کله چې دا سړی د محبس نه راخلاص شو نو د ده قوت نور هم ډیر شو، توابینو د جماعت سره د ده رابطې وې. هغه یې منظم کړل، او خپل ځان یې سید او آل رسول وبللو. بلکې د نبوت دعوی یې هم وکړه. وس د علاقې د والي د قابو نه دا سړی ووتلو. او د کوفې والي د ده سره جنګ وکړو. او سرکارې فوځونو ته یې شکست ورکولو باندې په کوفه قبضه وکړه. د کوفې بیګناه خلک یې په بیدردۍ سره ووژل، چا چې هم مخالفت وکړو، هغه یې ووژلو. تر دې چې حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه خپل ورور مصعب بن زبیر رضي الله عنه بصري والي وټاګلو او د مختار د ماتونې لپاره یې ولیږلو. هغه په راتګ سره مختار ثقفي ونیولو، دغه شان د ده فتنه ختمه شوه. په دې حدیث کې فتنه سراء نه د مختار ثقفي هم دا فتنه مراد ده.

دخنها: یعنې د دې فتنې راپارونکی او د دې راوچتونکی به یو داسې سړی وي چې هغه به خپل ځان ته سید او آل رسول ووایي، خو د هغه به زما سره هیڅ تعلق نوي. زما دوستان خو پرهزګار دي. ځینو علماؤ د فتنة السراء مصداق شریف مکه او انګریزان ګرځولي دي. چې په هغې کې د سازش د لاندې انګریزانو د ترکانو خلافت ختم کړو. انګریزانو به شریف حسین مکه ته هره میاشت پنځه لکه پونډه ورکول. او آل سعود عبدالعزیز رحمه الله ته به یې د میاشتې دوه لکه د برطانیه پونډونه ورکول. او دا دوه دواړه به یې د عربو په جزیره کې جنګولي. شریف مکه نه وروسته د هغه یو نالائقه ځوې په تخت کیناستلو، چې هغه په دې حدیث کې کضلع علی ورک په نوم سره یاد کړی شویدی. ده نه هیڅ هم ونشو، او د ترکانو خلافت د برطانیې حکومت ګوزار کړو، او سازش یې مکمل شو. (مرقات ۹/۲۸۵)

د مروان بن حکم خبره : ثم یصطلح الناس : یعنې د دې فتنو نه وروسته به خلک د دیو داسې سړي

Maktaba Tul Ishaat.com

په لاس باندې صلاح وکړي چې هغه به خپله نابائیدار وي. بلکه د پوختې د پاسه چې پېړ وروِن سپور کړی شوی وي. حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمايي چې د دې کمزورې سړي نه مراد مروان بن الحکم دی. اګرکه د مختار بن عبید ثقفی د فتنې نه مخکې مروان مړ شوی ؤ. خو د دې سازشونو ابتداء هغه وخت شوي وه کله چې مروان بن الحکم د عبد الله بن زبیر رضي الله عنه په مقابله کې په شام کې د خپل خلافت اعلان وکړو. نو د جملې معترضې په توګه باندې که د مروان بن الحکم تذکره د دې حدیث نه څه مخکې یا وروسته راغلي ده نو په دې کې هیڅ مضائقه نشته دی. شاه صاحب د دې جملې نه مروان بن الحکم مراد اخستلی دی. دې سړي نه پخه رایه لرله، نه په ده کې څه تدبیر ؤ، نه په ده کې د فیصلې قوت ؤ بلکې غیر مستقل مزاج د کمزورې رایه مالک ؤ، د دې کمزورې تشبیه په دې حدیث کې ورکړی شویده. چې ګویا مضبوط او څرب وروِن په کمزورې پوختې باندې سپور کړی شویدی. ګویا چې د بیزې په خپو باندې میخه ولاړه ده. د دې سړي ښې لاس او د ټولو فتنو جرړه عبیدالله بن زیاد ؤ. خلکو په ده باندې صلح کولو سره د ده بیعت وکړو او ده د حضرت ابن زبیر رضي الله عنه په خلاف محاذ برسیره کړو. دغه شان په دې امت کې د دې خلکو د وجې نه غټې غټې فتنې جوړې شوې.

بغداد کې د تاتاریانو فتنه : **ثم فتنة الدهيماء**: **دُهيماء** د **دَهيماء** تصغیر دی. چې د بدۍ او سپکوالې لپاره راغلې، ده تور ته وايي. **اى الفتنة العظماء والطامة العمياء** یعنې په تورو وریځو باندې مشتمله عظیم الشان فتنه **وقيل المراد بالدهيماء الداهية ومن السماءالداهية دُهيم**. (مرقات ۹/۲۸۶)

بهرحال د دې فتنې نه یو تور دروند آسماني مصیبت مراد دی. وس دا خبره چې د دې فتنې مصداق کومه واقعه ده. نو حضرت شاه ولی الله رحمه الله د دې په اړه فرمايي چې دا په بغداد باندې د تاتاریانو بریدونه عام خونړیتوب فتنه ده. په دې فتنې سره اسلامي هیواد بغداد او دهغې ښارونه تاتاریانو برباد کړل. او په تور طوفان باندې یې د مسلمانانو قتل عام وکړو. د دې تفصیل دا دی چې ۷۰۰ ه په مینځ کې د بنو عباس آخرې خلیفه مستعصم بالله د بغداد خلیفه شو. دا سړی غیر مدبر هم ؤ او د هیواد امورو چلولو کې هم نالائقه شهزاده.. د ده یو وزیر ؤ چې دهغه نوم علقمي ؤ. چې هغه سخت غالي متعصب علوی شیعه ؤ. هغه د مردارې عقیدې او باطنې خباثت د وجې نه وغوختل چې په بغداد باندې د عباسیانو د خلافت په ځای باندې د علویانو حکومت راشي. د دې منصوبې لره کامیاب جوړولو لپاره یې د ټولو نه مخکې د تاتارایانو سره اړیکه ونیوله او د چنګیز خان لمسي هلاکو خان ته یې بغداد باندې د برید کولو دعوت ورکړو، هلاکو خان د بغداد د خلکو د

شجاعت او اسلامي خلافت نه يريدلو. خو وزير علقمي رافضي په ډيره چالاکۍ سره د بغداد نه اسلامي فوځونه يو خوا او بل خوا وليږل. او بغداد د عسکري قوت نه خالي شو. د دېنه وروسته ټول صورت حال ويلو باندي شيعه وزير علقمي يو ځل بيا تاتارايانو ته بغداد باندي د بريد کولو بلنه ورکړه. دلته د بغداد نه په سوؤنو شيعګانو هلاکو خان ته خطونه وليکل چې ته سمدستي بريد وکړه ځکه چې زمونږ په کتابونو کې يې ليکلي دي چې يو تاتاري باچا به په عراق باندي قبضه وکړي، زمونږ خيال دی چې هغه ته يې. لهذا ژر بريد وکړه. هلته د هلاکو خان په حلقه کې يو مشهور هيجړا (نربنځی) رافضي نصيرالدين طوسی ؤ، هغه هم هلاکو خان په بغداد باندي د بريد کولو لپاره راپارولو. دهغه او د علقمي خيال ؤ چې کله د بغداد نه اسلامي خلافت ختم شي نو دلته به زمونږ علوي رياست قائم شي. بهرحال هلاکو خان ته ډاډ په لاس ورغلو. او هغه په بغداد باندي د بريد کولو اراده وکړه. خو هغه مخکې خپله اولنۍ فوځي دسته وليږله او بغداد باندي يې بريد وکړو چې هغه کامياب شو. د دېنه وروسته هلاکو خان خپل غټ فوځ په بغداد باندي راوخيژولو. محاصره هم سخته وه او دهغوي مقابله هم سخته وه. شيعګانو دننه د بغداد نه مسلسل هلاکو خان ته خبرونه ورکول. يعني هغوي دننه د جاسوسۍ محاذ مضبوط ساتلی ؤ. رافضي وزير علقمي ملعون عباسي خليفه مستعصم بالله ته وويل چې ته د هلاکو خان سره مذاکرات وکړه او د بغداد ښار نه بيرون د هلاکو خان سره ملاقات هم وکړه. دا ډيره ضروري ده هغه خلک ستا انتظار کوي. او ستا به اکرام وکړي. نو د مسلمانانو باچا چې کله د بغداد نه بيرون ووتلو او د هلاکو خان سره يې وکتل نو هغه وويل چې ته خو يوا ځې، دا اوږده مذاکرات دي. په دې کې د مشرانو علماؤ او د قوم سردارانو او د فوځ قومندانانو ګډون هم ضروري دی. ته هغه ټول راوغواړه. نو دې غير مدبر نادان باچا چې کله هغه ټول راغوختل نو هلاکو خان ټول د باچا په مخکې ووژل. او بيا يې خليفه ته وويل چې بغداد ښار ته پيغام وليږه چې هغوي ټول وسله کيږدي، او ښار په خالي کولو سره دې بيرون راووځي. نو دې محبوس نالائق خليفه دا هم وکړل، د ده په پيغام باندي لاکهونه خلک بيرون راوتل او تاتارايانو هغه ووژل. د اينو د ډيروالي د وجې نه ولي وبهيدلي. او د دجله سيند اوبه د اينو په شان سرې وبهيدلي. د دېنه وروسته تاتارايان بغداد ښار ته بغير د څه مقابلې نه ننوتل. ښځو او بوډاګانو په سرونو باندي قرآنونه کيخودلو سره امان وغوختلو، خو تاتارايانو هيچا ته ونه کتل بلکې ټول يې ووژل. نو تهه خانو او کوهيان (څاه) کې يو څو کسان بچ شول. باقي ټول مخلوق ووژلی شو.

په دويمه ورځ صفر ۶۵۶ ه کې هلاکو خان د عباسي خليفه سره په بغداد کې عام دربار ولګولو او باچا نه يې د خزانو ټولي کنجياني غوختلو باندي ټولې خزاني لوټ کړې او بيا يې خليفه يو کالۍ په کوټکې کې وړې تکې وساتلو. د دېنه وروسته هلاکو خان ته محقق طوسي اېلس ... علقمي

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان وویل چې د مسلمانانو د خلیفه په دې پلیته اینه باندې خپله تورا مه پلیتوه، بلکې په یوه بوجۍ کې یې بندولو باندې په لغتو وهلو سره مړ کړه. هلاکو خان وویل چې دا کار ته خپله وکړه. دا تا ته سپارلی دی. نو علقمی رافضي خپل محسن باچا مستعصم بالله په بوری کې بند کړو و په ستنه پسې یط وتړلو او په لغتو باندې یې ووژلو. او بیا یې د تاتارایانو د اسونو د خپو لاندې گوزار کړو. اسونو هغه ذره ذره کړو. علقمي شیطان دا کتل او خوشحالیدلو. په دې سره د خلافت عباسیه دور ختم شو، او د بنو عباس آخری خلیفه ته گور و کفن هم نصیب نشو. د دېنه وروسته هلاکو خان اسلامي کتاب خانو ته مخه وکړه او عظیم علمي دولت ته یې اور ولگولو. او کتابونه یې په دجله کې وبهول. وس د دجلې او به د سرې اینې په ځای باندې تور طوفان په شان بهیدلې. او ترڅو ورځو پورې دا مقدسې پانې د دجلې د چپو سره بهیدلې. په دې تباه کونکې حادثه بغداد او د دې چاپیریال تعداد یو کروړ شپږ لکه ویلی شویدی. د شیعه په شرارت باندې امریکې چې کله صدر صدام حسین ته پهانسې وکړه نو شیعگانو د خوشحالۍ نه بیرون په سرک باندې گډاگانې کولې. مټهایان یې تقسیمول. های ارمان! چې دنیا ته د شیعه د خباثتونو اندازه وشې چې دا د باطن مردار چې څنگه پرون فسادیان ؤ، هغه شان نن هم دي. علماؤ لیکلي دي چې د مسلمانانو د اکثر خلافتونو سقوط د روافضو د لاسه شویدی. شاه انور شاه کاشمیر فیض الباری کې لیکي: **واکثر تخريب الخلافة الاسلامية على ايدى هؤلاء الروافض.** بهرحال علقمی ملعون چې د کوم مقصد لپاره دا لویې خیانت وکړو. هغه مقصد علوی ریاست جوړول ؤ، خو هغه په دې کې کامیاب نشو. هغه هلاکو خان ته ډیر منت زارې وکړه خو هغه یوه وانه وریدله او په بغداد باندې یې خپل کسان تاکلو باندې علقمي او طوسي ورتل. علقمي رافضي به د غلامانو په شان د تاتاریانو بوټان سمول.[۲] او بیا په دغه غم کې مردار شو. دا ده دهیماء د دهیماء د واقعې تفصیل چې دې اړخ ته په حدیث کې اشاره شویده.

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: افسوس او بدنصیبی د عربو!
قَدِ اقْتَرَبَ أَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[۱]
چې بدې نژدې راغلې ده. په دې فتنه کې به هغه سړی نجات او فلاح والا وي چا چې خپل لاسونه ایسار کړل.

[۱] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۱۱ رقم الحديث ۷۰۵۹ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۰۷ رقم الحديث (۲۸۸۰-۱)

﴿۲۷﴾ وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت مقداد بن اسود رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې

« إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ

يقيناً نيک بخته هغه سړی دی چې هغه د فتنو نه محفوظ وساتلی شو، او يقيناً نيک بخته هغه سړی دی

جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ

چې هغه د فتنو نه محفوظ وساتلی شو، يقيناً نيک بخته هغه سړی دی چې هغه د فتنو نه محفوظ وساتلی شو، او

الْفِتَنَ وَلَمَنِ ابْتُلِيَ

يقيناً نيک بخته هغه سړی هم دی چې په فتنه کې اخته کړی شو ليکن هغه صبر او زغم لمن ونيوله. مطلب دا دی

فَصَبَرَ فَوَاهًا ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

چې د افسوس وړ هغه سړی دی چې نه خو هغه د فتنو نه محفوظ وساتلی شو او نه هغه صبر او زغم اختيار کړو.

﴿۲۸﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي

او حضرت ثوبان رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې زما په امت کې تورا وچلولی

لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ

شي نو بيا به تر قيامته پورې د امت خلک د قتل او قتال نه منع نشي، او تر هغه وخته پورې به قيامت نه راځي

حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى

تر څو چې زما د امت ځينې قبيلې د مشرکانو سره يو ځای نشي، او تر هغه وخته پورې به قيامت نه راځي چې

تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ

زما د امت ځينې قبيلې د بتانو عبادت ونکړي، او حقيقت دا دی چې زما په امت کې به ديرش دروغژن

كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيُّ اللهِ

(يعنې د نبوت دعوی کونکي) بدظاهر شي. په هغوی کې به هر يو دا ګمان کوي چې هغه دا خدای نبي دی.

وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي

او حال دا دی چې زه خاتم النبيين يم. زما نه وروسته به هيڅ نبي نه وي. او زما د امت نه به يو جماعت هميشه

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴۶۰/۲ رقم الحديث ۴۲۶۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَى	الْحَقِّ	ظَاهِرِينَ	لَا	يَضُرُّهُمْ	مَنْ خَالَفَهُمْ

په حق باندې ثابت قدم ولاړ وي. د دې جماعت هيڅ مخالف او بدخواه به دې جماعت ته څه نقصان نشي رسولی.

حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

تر دې چې د خدای حکم راشي.

د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهادت واقعه، جنګ جمل او صفين

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبدالله بن مسعو د رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

«تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِينَ

د اسلام ميچن به پنځه ديرش يا شپږ ديرش يا او وه ديرش کاله پورې ګرځي. بيا که خلک هلاکيږي نو په لاره باندې د

فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ

تګ د چې نه به هلاکيږي، چې په هغې باندې په مزل کولو سره مخکښې خلک هلاک شوي وُ. او که د

وَ إِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا ».

دوې د دين نظام کامل پاتې وُ نو دهغوې د ديني نظام تکميل او پاتې کيدل به او يا کاله پورې وي.

قُلْتُ: أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى؟

(حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې) ما پوښتنه وکړه چې دا او يا کاله به په پاتې کې وي يا د دې زمانې سره به وي

قَالَ : « مِمَّا مضى » . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

کومه چې تيره شوه؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د او يا کاله زمانه د دې زمانې سره ده، کومه چې تيره شوه.

توضيح: تدور رحى الاسلام: يعني د اسلام ميچن به ۳۵ بلکې ۳۶ بلکې ۳۷ هجري پورې په صحيح توګه باندې ګرځيږي. حضرت شاه ولی الله رحمه الله دا حديث داسې ښودلی دی، فرمايي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د هجرت د زمانې نه وروسته چې په اسلام کې کومه مضبوطتيا او استحکام راغلی دی، هغه به ۳۵ او ۳۶ او ۳۷ کالو پورې روان وي. بيا به د اسلام په کړې کې څه

([1]) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۵۱ رقم الحديث ۴۲۵۲ والترمذي في السنن ۴/۴۲۴ رقم الحديث ۲۲۰۲.

([2]) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۵۳ رقم الحديث ۴۲۵۴ واحمد في المسند ۱/۳۹۰.

اختلاف پیدا شي.
نو د دې اختلاف او خرابۍ ابتداء په ۳۵ھ کې وشوه. کله چې د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت واقعه پیښه شوه. بیا په ۳۶ ھ کې نور اختلاف پیدا شو. چې حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه ترمینځ جنګ وشو. چې هغې ته جنګ جمل وایي. بیا د دېنه وروسته د اسلام په استحکام کې نور خرابوالی پیدا شو. چې هغه بیخي بې قابو شو. او چې هغې اسلام ته ډیر غټ نقصان ورکړو. هغه ۳۷ ھ کې حضرت علی رضي الله عنه او د حضرت معاویه رضي الله عنه ترمینځ د جنګ صفین حادثه وه. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د دې خرابوالې نه وروسته به خلک منع نشي او د دغه شان د هلاکت په لاره روان شو.
خلافت مغلوب پاتې شو، او بغاوت غالب پاتې شو، نو دا خلک هم د نورو هلاک شوؤ قومونو په شان به هلاک شي. خو که د خلکو خلافت قائم شو او باغیانو ته د بغاوت موقع په لاس ورنغله نو د مسلمانانو ملي نظام تر راتلونکې زمانې پورې به په ډیره ښایسته طریقه باندې قائم وي. چې هغه به تر اویا کاله پورې جارې وي. (مرقات ۹/۲۹۱)
حضرت ابن مسعود رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې د سر نه به اویا کاله شمارل کیږي یا پخوانې ۳۷ کالو سره به اویا کاله مراد وي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ۳۷ کالو سره اویا کاله مراد دي.
د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت: په دې حدیث دې حدیث کې درې غټو حادثو ته اشاره شوې ده. په دې کاوله حادثه د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه شهادت ده. د حضرت عثمان رضي الله عنه خلافت اولنې شپږ کاله پورې په ډیره ښایسته طریقه باندې روان ؤ. خو ده په طبیعت کې نرمي وه. ده خپلو خپلوانو ته سرکارې وظیفې (عهدې) ورکړې چې د شریعت د مخې جائز ؤ. ځکه چې یو تقوی ده او بله فتوی ده. شیخینو په تقوی باندې عمل وکړو او هیڅ خپلوان ته یې وظیفه ورنه کړه. او حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه په فتوی باندې عمل وکړو. او لائق خپلوانو ته یې وظیفې ورکړې. په دې باندې خلکو شور جوړ کړو. او په آخرې شپږ کالو کې څه اختلاف شروع شو.
د دې بنیادې وجه دا شوه چې د صنعاء یمن یو وسیدونکی عبد الله بن سبا یهودې ؤ، هغه وکتل چې اسلام په ټوله نړۍ باندې غلبه ترلاسه کوي، روان دی. نو د فساد او نفاق لپاره دا سړی مسلمان شو، او مدینې ته راغلو، دلته به یې د حضرت عثمان رضي الله عنه او د هغه د والیانو په خلاف بیکاره خبرې کولې. خو په مدینه کې هغه ته پرمختګ ترلاسه نشو. نو دا بصرې ته لاړو، دهغه ځاې نه د بصرې والې دا وزغلولو، نو دا کوفې ته راغلو. خپل ځان یې د اهل بیتو خیرخواه ثابت کړو. څه خلک د ده سره شول، خو هلته هم ناکامه شو، دهغه ځاې نه دا سړی دمشق ته لاړو، هلته هم ناکامه شو، بیا دهغه ځاې نه مصر ته لاړو. د مصر خلکو دهغه خبره ومنله او ډیر خلک دهغه نه ګیرچاپیره راغونډ شول.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو د هغه خليفه عثمان رضي الله عنه او اسلامي خلافت په خلاف سازشونه شروع كړل. د حضرت عثمان رضي الله عنه واليانو په خلاف به يې د دروغو شكايتونه (عارضي) جمع كولي او په عامو خلكو كې به يې خپرولي. خلاصه دا چې دې خلكو حضرت عثمان رضي الله عنه بدګمانه كړو او د هغه ځاى نه ده د حضرت عثمان رضي الله عنه وژنې لپاره يوه ډله تياررولو باندې مدينې ته وليږله. داې بلوايان مدينې ته په راتګ باندې په بې ادبۍ شروع شول. حضرت علي رضي الله عنه او داسې نورو صحابو نه يې هم د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلاف باندې مرسته وغوختله خو هغوې انكار وكړو.

د دې فساديانو يوه غوختنه وه چې د مصر والي په ليرې كولو سره دې محمد بن ابى بكر والي كړى شي. حضرت عثمان رضي الله عنه هغې لپاره فرمان وليږلو. دا خلك لاړل. او معامله ختمه شوه. خو مروان بن حكم سمدستې د مصر د والي په نوم يو خط وليكلو چې څنګه محمد بن ابى بكر راشي نو هغه ووژنه. خط باندې د حضرت عثمان رضي الله عنه ګوتمې مهر ؤ . اس هم حضرت عثمان رضي الله عنه او غلام هم د حضرت عثمان رضي الله عنه ؤ. دا سړى د مصر په اړخ باندې په منډه سره روان ؤ. د محمد بن ابى بكر شك شو او غلام يې ونيول او تلاشي يې ورله واخستله. خط راووتلو. محمد بن ابى بكر وويل چې يو اړخ ته عثمان رضي الله عنهما والي جوړوي او بل اړخ ته د وژلو حكم وركوي. لهذا خط او غلام سره بلوايان بيا مدينې ته راغلل. او د حضرت عثمان رضي الله عنه نه يې پوښتنه وكړه چې دا غلام د چا دى. ده وفرمايل: زما دى. هغوې وويل : اس د چا دى؟ ده وويل: زما دى. هغوې وويل: مهر د چا دى؟ ده وويل : زما دى. هغوې وويل : خط د چا دى؟ ده وفرمايل: قسم په خداى خط زما نه دى. د خط نمونې چې وكتلى شوې نو معلومه شوه چې مروان بن الحكم خط ليكلى دى.

اوس دې بلوايانو وويل چې مروان مونږ ته وسپاره. عثمان رضي الله عنه فرمايل: زه داسې نشم كولى، بلوايانو د عثمان رضي الله عنه كور محاصره كړو. د مدينې خلكو د مروان په خلاف باندې څه كتل غوختل خو حضرت عثمان رضي الله عنه د وژلو هيڅوك قائل نه ؤ. اسلامي فوځونه په سرحدونو باندې ؤ. عام خلك حج ته تللي ؤ. مدينه د بلوايانو په قبضه كې وه. څلويښتو ورځو پورې يې محاصره كړې. او بيا حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد كړى شو. درې ورځو پورې يې جوسه خخه نكړى شوه. د ډېره وروسته د تدفين عمل وشو. بلوايان د حضرت علي رضي الله عنه په لاس باندې په بيعت كولو مجبور شول. او هغه يې خليفه جوړ كړو. او دهغه په پناه كې كيناستل. دا واقعه په ۳۵ هـ كې پيښه شوه.

د جنګ جمل واقعه: د حضرت علي رضي الله عنه بيعت نه حضرت زبير رضي الله عنه او حضرت طلحه رضي الله عنه خفه شول. او د مدينې نه مكې ته لاړل. حضرت عائشه رضي الله عنها حج ته تللي وه. هغې چې كله وكتل چې په مدينه كې اختلاف دى. نو مدينې ته د راتګ په ځاى باندې يې بصرې ته د تللو فيصله وكړه. حضرت طلحه او زبير رضي الله عنه هم ورسره بصرې ته لاړل. او غير ارادي توګه باندې هلته د مسلمانانو يوه لويه غونډه راجمع شوه.

حضرت علي رضي الله عنه خلافت مرکز کوفه جوړه کړه. او د خلکو نه یې د بیعت مطالبه وکړه. خلکو د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتلانو نه د بدل اخستلو غوختنه وکړه. حضرت علي رضي الله عنه و فرمایل چې اول تاسو بیعت وکړئ، زما لاس ونه مضبوط کړئ، دې لپاره چې زه په دې بلوایانو باندې برلاسی شم. په دغه توګه باندې د عائشه رضي الله عنها او د حضرت علي رضي الله عنه فوځونه یو بل ته مخامخ شول.

حضرت قعقاع رضي الله عنه مینځ ته په راتګ باندې دواړه په صلح او جوړ جاړې باندې راضي کړل. او فیصله وشوه چې د سبا به د دواړو اړخونو نه دستخطونه کیږي. منافقانو، مفسدانو او بلوایانو چې کله د صلح اثار ولیدل نو د شپې یې د حضرت عائشه رضي الله عنها په فوځونو باندې برید وکړو. د دې اړخ نه هم د جوابې برید وکړی شو. او د جنګ جمل په نوم سره یو خونړی جنګ وشو. چې په دې کې د دواړو اړخونو دیارلس زره کسان ووژل شول. په دوی کې عشره مبشره هم دوه صحابه ؤ. د حضرت علي رضي الله عنه فوځونه غالبه شول او د حضرت عائشه رضي الله عنها فوځونو ماتې وخوړله. دا واقعه په ۳۶ هـ کې پیښه شوه. حضرت عائشه په خپله اوښه باندې سپره وه، نو ځکه دا جنګ، د جنګ جمل په نوم سره مشهور شو. په دې جنګ باندې به حضرت علي رضي الله عنه او حضرت عائشه رضي الله عنها تول ژوند ژړل.

د جنګ صفین واقعه: د دې جنګ نه چې کله حضرت علي رضي الله عنه فارغه شو نو حضرت معاویه رضي الله عنه ته یې پیغام ولیږلو چې زما په لاس باندې بیعت کولو سره د اسلامې خلافت د لاندې راشه. حضرت معاویه رضي الله عنه د شام والي ؤ. هغه د بیعت لپاره دا شرط کیخودلو چې د عثمان رضي الله عنه قاتلانو نه قصاص واخله. مونږ د عثمان رضي الله عنه وارثان یو، قصاص زمونږ حق دی. حضرت علي رضي الله عنه و فرمایل: اول تاسو بیعت وکړئ. بیا د قصاص خبره کوی او والیت هم پریږده. حضرت معاویه رضي الله عنه دواړو خبرو نه انکار وکړو. حضرت علي رضي الله عنه کوفې نه د شام اړخ ته فوځونه روان کړل. یوې میاشتې پورې څه لږ لږ جنګ وشو، خو بیا جنګ ودریدلو، د صلح کوښښ وکړی شو، خو ناکامه شوه.

بیا په اول د صفر ۳۷ هـ کې د فرات سیند په غاړه باندې په مقام صفین کې باقاعده جنګ وشو، د مصالحت د وجې نه د تحکیم واقعه هم پیښه شوه. خو جنګ بند نشو، او یا زره (۷۰۰۰۰) کسان ووژل شو. او د علاقې اکثره برخې د حضرت علي رضي الله عنه لاس نه وتلو باندې د حضرت معاویه رضي الله عنه لاس ته راغلي.

په دې حدیث کې دې درې غټو واقعاتو ته اشاره کړی شویده. بهرحال ما چې څه لیکلي د حدیث مفهوم ښودنې لپاره مې لیکلي دي، دا مشاجرات صحابه دي په دې کې چپ پاتې کیدل د جمهور علماؤ مسلک دی. دغه زما هم مسلک دی چې ډیر غوره دی خو د دې حدیث تاریخې اشارې ښودل ضروري ؤ نو ځکه مې څه ولیکل، الله تعالی دې زما د قلم حفاظت وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

﴿۳۰﴾ عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَرَجَ إِلَى غَزْوَةِ حُنَيْنٍ

حضرت ابو واقد لیثی رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله د غزوه حنین لپاره روان شو،

مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ كَانُوا

نو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تېرېدل د مشرکانو په یوه ونه باندې وشو. چې هغې ته هغوی (مشرکانو) خپله وسله زوړندوله. او د

يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ

عبادت په توګه باندې به یې د هغې نه ګیر چاپېره طوافونه کول. او د تعظیم لپاره دې اړخ ته به یې مخ کولو سره کیناستل

يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ.

د دې بوټي نوم ذات انواط ؤ. (په اسلام کې داخل شوؤ نوؤ مسلمانانو دې بوټي په کتلو باندې) نبی کریم صلی الله علیه وسلم

فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ

ته وویل چې زمونږ لپاره هم یو داسې بوټی وټاکه چې مونږ هم هغې ته خپلې وسلې زوړندؤ او هغې ته ذات انواط

كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

وایو. لکه مشرکانو چې د ځان لپاره ذات انواط جوړ کړېدی، او د دېته وسلې زوړندوي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې

«سُبْحَانَ اللهِ هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى

سبحان الله! تاسو دا خبره داسې کوئ لکه څنګه چې د موسی علیه السلام قوم کړې وه، چې زمونږ لپاره هم

(اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ)

یو داسې معبود جوړ کړه، (لکه څنګه چې د کافرانو معبودان دي) لکه څنګه چې هغه کافر د خپلو بتانو عبادت کوي د غه شان

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ

مونږ به هم د خپل بت عبادت کوؤ. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خبرداري په توګه باندې وفرمایل: چې قسم دی په هغه ذات باندې چې

سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

د چا په لاس کې زما ځان دی، تاسو به د هغه خلکو په لاره باندې تګ شروع کړئ، چې هغه ستاسو نه مخکې تېر شویدي.

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۷۳۱۹ وأخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۱۲ رقم الحديث ۲۱۸۰.

﴿۳۱﴾ وَ عَنِ ابْنِ الْمسيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الْأُولَى	او حضرت ابن مسيب رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روايت دى چې هغه وفرمايل: كله چې اوله فتنه واقع شوه يعنې د
يَعْنِي مَقْتَلَ عُثْمَانَ فَلَمْ يَبْقَ مِنْ أَصْحَابِ بَدْرٍ	حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْه شهادت واقعه پېښه شوه نو په غزوه بدر كې شريک شوؤ صحابؤ كې هيڅوک هم پاتې نشو
أَحَدٌ ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ يَعْنِي الْحَرَّةَ فَلَمْ يَبْقَ مِنْ أَصْحَابِ	بيا چې كله دويمه واقعه پېښه شوه، يعنې د غزوه حره واقعه پېښه شوه نو په هغه صحابؤ كې هيڅوک پاتې
الْحُدَيْبِيَةِ أَحَدٌ ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّالِثَةُ	نشو چې په صلح حديبيه كې شريک شوي ؤ او بيا چې كله دريمه واقعه پېښه شوه نو دا په داسې حالت كې
فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَ بِالنَّاسِ طَبَاخٌ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [1]	كې نه ؤ ختم شوى چې په خلكو كې قوت او طاقت پاتې وي.

توضيح: طباخ: قوت او طاقت ، عقل او مضبوطتيا ته طباخ وايي. دلته عقلمنده ، هوښياره طبقې ختميدلو طرف ته اشاره ده. يعنې د دې دريمې فتنې نه وروسته په دنيا باندې يو صحابي هم پاتې نه ؤ. مطلب دا دى چې د خپل مېنځې جنګونو سپېره والى وګورئ چې اوله فتنه د شهادت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْه پېښه شوه، نو په جنګ بدر كې شريک شوؤ صحابؤ كې هيڅوک پاتې نه شو، او كله چې د يزيد په دور كې د حره واقعه وشوه نو د بيعت رضوان په مبارک صحابؤ كې هيڅوک پاتې نه شؤ. بيا چې كله دريمه فتنه د حجاج بن يوسف او حضرت عبد الله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پېښه شوه نو په دنيا كې هيڅ صحابي پاتې نه شؤ. د نالائقه حكمرانانو د وجې نه اسلام ته ډېر غټ نقصان ورسيدلو. (مرقات ۹/۲۹۴)

وهل افسد الدين الا الملوك　　　واحبار سوء ورهبانها

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۷/۳۲۳ رقم الحديث ۴۰۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الملاحم
د سختو جنګونو بیان

قال الله تعالی: ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً﴾ (انفال:۲۵)

ملاحم د ملحمة جمع ده. او ملحمه قلب او سخت جنګ ته وایي. چې په هغې کې د دواړو ډلو د کسانو غوښې د یو بل سره یو ځای شي. دغه شان لحمه د ټوټې لاندې باندې ته هم وایي. ځکه چې په قلب جنګ کې خلک خپل مینځ کې سره ګډوډ شي. نو ځکه سخت جنګ او عظیمې حادثې ته ملحمه وایي. د نبي کریم ﷺ په نومونو کې یو الملاحم هم دی. یعنې د سختو جنګونو والا نبی. د کتاب الفتن نه کتاب الملاحم جدا ذکر کړی شویدی. د دې وجه دا ده چې په کتاب الفتن کې دفتنو بیان اجمالي او ابهامي توګه ؤو. خو په ملاحم کې باقاعده تعین دی. دقبیلو نومونه دی. د ځای ذکر دی، لهذا دا د فتن نه جدا ذکر شویدی. (المرقات ۹/۲۹۴)

د قیامت نښو ته تفصیلي کتنه: دلته دا مناسبه معلومیږي چې ترقیامته پورې راتلونکې یو څو اهمو واقعاتو او علاماتو اړخ ته سرسري او أجمالي اشاره اوکړی شي. دې لپاره چې د احادیث و ټولې برخې او ټول اړخونه د لاوستونکو مخې ته راشي. د قیامت نښې په دوه قسمه دي. (۱) علامات صغری (۲) علامات کبری. د امام مهدی ترظهور پورې علامات صغری (وړې نښې) دي. د امام مهدی د ظهور نه وروسته نفخ صور پورې دقیامت علامات کبری (غټې نښې) دي. د دې باب په اول حدیث کې د علامات صغری څه بیان موجود دی. او په نورو احادیث و کې هم تفصیل دی. هلته دا هم موجود دي چې په دنیا کې باطلې نظریې به عامې شي. د عیسائیت په ډیرو هیوادونو باندې غلبه شي. بیا څه زمانه وروسته به د ابوسفیان په نوم باندې یو سړی پیدا شي، د ساداتو به قتل عام وکړي. بیا به مسلمان باچا د عیسایانو د یوې ډلې سره صلح وکړي. او د دوېمې سره به جنګ کوي. دعیسایانو ډله به هم د مسلمانانو سره یو ځای کیدلو باندې د عیسایانو سره سخت جنګ کوني. دې ټولو ته به فتح ترلاسه شي. د فتح نه وروسته به عیسایان چیغه ؤوهي چې د صلیب په برکت سره فتح ترلاسه شویده. او مسلمانان به چیغه کړي چې د اسلام او ایمان په برکت سره فتح ترلاسه شویده. نو په دې خبره باندې به خانه جنګې شروع شي، چې په هغې کې به د مسلمانانو باچا شهید شي، د عیسایانو دواړه ډلې به یو شي، او عیسایي حکومت به تر خیبره پورې خپور شي، دغه وخت به خلک د امام مهدی په لټونکې شي. حضرت مهدی به دغه وخت په مدینه کې وی. خو د ځان پټولو په غرض سره به د هغه ځای نه مکې ته راشي. دې لپاره چې خلک هغه امیر او قائد جوړ نکړي. په دې دوران کې به څه خلک د مهدی کیدلو د دروغو وعدې وکړي. خو بیا به هم مکه مکرمه کې مقام ابراهیم او حجر اسود ترمینځه خلک به مهدی بیامومي. او یوه ډله به د امام مهدی په

لاس باندې بیعت وکړي. د آسمان نه به آواز راشي: **هٰذا خلیفة الله المهدی فأستمعوا له واطیعوه.**
د شکل او شباهت په اعتبار سره به حضرت مهدی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مشابه وي. د دې نه وروسته به د شام، یمن او حجاز مقدس ابدال او اولیاء الله د امام مهدی په لښکر کې ګډ ونو کړي. د کعبې د خوا نه به خزانې رااویستلې شي او په اسلامي فوځونو باندې به تقسیم کړی شي. تکړه لښکر به تیار کړی شي. د خروج مهدی اوریدلو باندې د خراسان نه به یو سړی د خپل لښکر سره د امام مهدی د مرستې لپاره مکې ته راشي.
د دې سړې نوم به منصور وي، کله چې دا د خپل فوځ مشر جوړیدلو باندې مکي اړخ ته روان شي، نو په لاره کې به یې د عیسایانو سره جنګ شي، دا سړی به د عیسایانو نه ځاې پاکولو باندې په مخکې ځي، اهل بیت او د ساداتو دښمن سړی سفیانې به یو غټ لښکر د امام مهدی د مقابلې لپاره ولیږي. خو دا لښکر به د مکې او مدینې ترمینځ په زمکه کې خخ شي. فقط دوه کسان په تربنه بچ شي، یو خو به سفیانې ته لاړ شي او خبر به ورکړي، او دویم به حضرت مهدی ته خبر ورکړي، حضرت مهدی سره د عربو او عجمو د راغونډیدلو په اوریدلو باندې به عیسایان هم شام او روم نه تکړه لښکر تیارولو باندې د حضرت مهدی د مقابلې لپاره په شام کې راغونډ شي، په رومې فوځ کې به دغه وخت به اتیا (۸۰) بیرغونه وي. او د هر بیرغ لاندې به دولس زره لښکر وي. د لښکر مجموعې شمیره به نهه لکه شپیته زره وي. حضرت مهدی به د خپلو لښکرونو سره د مدینې په لاره باندې دمشق ته ورسیږي. او هلته د شام په زمکه باندې به د عیسایانو سره سخت جنګ شروع شي، اسلامې لښکر به په درې برخو باندې تقسیم شي، یوه برخه به میدان پریخودلو باندې به وتختي، چې د هغوی توبه به نه قبلیږي. دویمه برخه به شهیده شي، او دریمه برخه به څلور ورځې پرله پسې جنګ کولو نه وروسته په عیسایانو باندې به غالبه شي، د عیسایانو به قتل عام وشي، او حضرت مهدی به هغوی پسې بنه تعاقب (شاته وړپسې کیدل) وکړي. جنګ ختمیدلو نه وروسته به امام مهدی په ځیلو کسانو باندې مال غنیمت تقسیم کړي، خو هیڅوک به په مال غنیمت باندې خوشحاله نه وي، ځکه چې داسې به هیڅ کور نه وي چې په هغې کې به یو ګس نه وي شهید شوی، د ټولې کورنۍ نه به یو سړی پاتې شوی وي، نو هغه به د مال غنیمت سره څه وکړي. حضرت مهدی ب داخلې نظم او ترتیب برابرولو باندې قسطنطنیې اړخ ته مخه وکړي. بحیره روم سره به اویا زره کسان مسلمانان کیدلو باندې اسلامې لښکر کې شریک شي، او بیا به په کشتو کې سپریدلو سره استنبول چې د دې پخوانې نوم قسطنطنیه دی، د ازادولو لپاره به روان شي. د ښار د مضبوط فصیل (دیوال) مخې ته به مسلمانان د تکبیر چیغه اوچته کړي، چې د هغې د وجې نه به فصیل مات شي، او مسلمانان به د قسطنطنیه ښار ته ننوځي. د حضرت مهدی د خلافت به دغه وخته پورې اوُوه

Maktaba Tul Ishaat.com

کاله پوره شوي وي. چې په دې کې به خبر خپور شي چې دجال راوتلی دی. حضرت مهدی به ژر ژر د شام اړخ ته بیرته راشي. او نهه کسان به د دې خبر د پلټنې (تحقیق) لپاره ولیږي. دا خلک به غوره خلک وي. نبي کریم ﷺ و فرمایل چې زه دغه کسان پیژنم چې د کومې قبیلې خلک دي. او د هغوی د پلارانو نومونه څه دي. او د اسونو رنګونو یې څنګه دي. دا خلک به تحقیق وکړي خو معلومه به شي چې دا د دروغو خبر ؤو او د دجال په اړه باندې دا خبر غلط ؤو. خو څه ډیر وخت به نه وي تیر شوی چې ناڅاپه به د دجال خروج وشي. دجال به د مشرق د اړخ نه راوځي. او د ایران په ښار اصفهان کې به راښکاره کیږي. د اصفهان اویا زره (۷۰۰۰۰) یهود به د هغه سره یو ځای شي. س اول به هغه د نبوت دعوی وکړي . بیا اصفهان ته په راتګ سره به هغه د خدایې دعوی وکړي. د دجال په یو لاس کې به د هغه جنت او بل لاس کې به د هغه دوزخ وي. ټول دنیاوې اسبابو باندې به پورا وي. او د استدراج نه به ښه فائده واخلي. دهغه په ټنه دي باندې به ک ف ر لیکلی شوي وي. چې هغه به مسلمانان ولولي یعنې کافر به لیکلی شوی وي. دهغه سره به غټ استدراج وي. د مخالفینو اوبه ډوډۍ به بند کړي. د خروج دجال نه مخکې درې کلنو کې به قحط راغلی وي. خلک به محتاج وي . دجال به د دې حالت نه ښه فائده واخلي. دهغه سره به د زمکي ټولې خزانې رواني وي. داوستانو باندې به باران کوي او په نه منونکو باندې به هرڅه بند کړي. د دنیا په ډیرو هیوادونو باندې به وګرځي خو مکي او مدینې ته به نشي تللی ، د هغه ځای نه به یې ملائکې وزغلوي. دا به بیا د شام اړخ ته مخه وکړي. هلته به امام مهدی په جنګې تیاریانو کې مصروفه وي. د مازیګر اذان به شوی وي چې حضرت عیسی به د دوه ملائکو په اوږو باندې لاس ایخی د دد آسمان نه د دمشق د جامع مسجد په مینار باندې به راښکاره شي، او پوړۍ (اندرپایه) راغوښتلو باندې به راکوز شي. او بیا به د حضرت مهدی سره ملاقات وشي، حضرت مهدی به هغه ته د جماعت لمونځ کولو او فوځې مشري ورکولو وینا وکړي، خو هغه به انکار وکړي او وبه وایي چې امامت به د دې امت په لاس کې وي ، زه فقط د دجال د وژلو لپاره راغلی یم. د جمعې په ورځ د مازیګر لمونځ نه وروسته به حضرت عیسی په دجال باندې برید وکړي، او اسلامي لښکر به د دجال په لښکر باندې برید وکړي، د سخت جنګ نه وروسته به دجال شکست خوړولو باندې وتختي. حضرت عیسی به ورپسې شي، او په باب لُد کې به هغه په نیزه باندې وهلو سره مردار کړي. باب لُد کې نن سبا د اسرائیلو یو داسې هوایي میدان دی چې هغه فقط د دجال د بچ کولو لپاره جوړ کړی شویدی، هلته جهاز تیار ولاړ دی، دې لپاره چې د ضرورت په وخت کې د دجال وتختي، خو هلته به دجال ؤوژلی شي، د دې نه وروسته به د یهودو قتل عام شروع شي، هیڅ کاڼی یا بوټی به یهودو ته پناه نه ورکوي، بلکې شکایت به کوي چې ای مسلمانه! راشه! دا زما شاه ته یهودی پټ ناست دی. دا ؤوژنه. فقط غرقد نومې بوټی به شکایت

نکوي، ځکه چې دا دیهودو وفاداره بوټي دی. نن سبا یهودو اسرائیل د دې بوټو نه ډک کړیدی. خو مسلمانان به ړانه ده نه وي، که غرقد بوټي شکایت هم اونکړي، مسلمانانو ته به په سترګو باندې یهود په نظر راځي،او هغوی به ؤوژني. په دنیا باندې به د دجال څلویښت ورځې حکومت وي، په هغې کې به یوه ورځ د یو کال برابر وي، دویمه به د یوې میاشتې برابر وي، دریمه به د یوې اونۍ (هفتې) برابر وي، او نورې ورځې به د عامو ورځو په شان وي. دجال به په یو خر باندې سپور په ټوله دنیا به وګرځي. کیدی شي حقیقي خر وي او کیدی شي د جدید دور څه جهاز وي، د ډېره مخکې مې تفصیل کړیدی. بهرحال کله چې د دجال فتنه ختمه شي نو حضرت عیسی او حضرت مهدی به په شریکه باندې په هغه ښارونو باندې وګرځي او مصیبت زده خلکو باندې به مالونه تقسیم کړي، په کومو ښارونو کې چې دجال فساد جوړ کړی ؤو. د امام مهدی په خلافت کې به عدل او انصاف وي. د امام مهدی حکومت به نهه کاله وي. تراؤوه کالو پورې به د عیسایانو سره جنګونه وي، او په اتم کال به د دجال فتنه وي، او په نهم کال به د حضرت عیسی سره یو ځای د هیواد نظام صحیح کړي. او ۴۹ کاله عمر کې به وفات شي، او حضرت عیسی به یې د جنازې لمونځ وکړي. د دې نه وروسته به حضرت عیسی خلیفه شي، څه وخت وروسته به حضرت عیسی ته د الله تعالی د اړخ نه وحې وشي چې خپل ټول مسلمانان د ځان سره کړه او کوه طور کې پناه واخله، ځکه چې زه د خپل مخلوق نه یو طاقتور مخلوق راښکاره کونکی یم، چې د هغې مقابله هیڅوک نشي کولی. حضرت عیسی به د ټولو مسلمانانو سره هلته تګ باندې قلعه بند شي. او دلته په زمکه باندې به یاجوج او ماجوج راوځي. یاجوج ماجوج د یافث بن نوح د اولاد نه دي. او د راوس نه شاته کوه قاف سره خوا کې کاکیشیا سره درایال درې په علاقو کې سدّ سکندری نه شاته بند دي. یاجوج ماجوج به زمکي ته راوځي او دا به وخټي. اوبه به ختمي شي. د زمکي زنده سر به وخوري او ختم به یي کړی. او بیا به آسمان اړخ ته کاڼي ګوزاروي او خوشحاله به شي چې اوسمونږ آسمان والا هم ختم کړل. حضرت عیسی او مسلمانانو باندې به ژوند دومره راتنګ شي چې د غوا یو کله به په سل دیناره باندې خرڅیږي، بیا به حضرت عیسی یاجوج ماجوج ته خیري (بد دعاء) وکړي چې په هغې سره به دا ټول هلاک شي. په راتلونکې باب کې د یاجوج ماجوج تفصیل راروان دی. حضرت عیسی به په دنیا کې څلویښت کاله ژونه دی وي. بیا به د هغه سمدستې وفات وشي او مدینه منوره کې به د نبي کریم ﷺ سره په خوا کې خښ شي. د حضرت عیسی نه وروسته به د یمن یو اوسیدونکی د ده قائمقام شي، چې د هغه نوم به جهجاه وي. هغه به دنیا په عدل او انصاف ډکه کړي. او بیا به وفات شي. بیا به څه غلط باچاهان راشي. او دنیا به یو ځل بیا د کفر او جهالت نه ډکه شي. او د زمکي د منډلو واقعات به شروع شي. بیا به په دنیا باندې څلویښت ورځې لوګی خور وي. او بیا به یو،

Maktaba Tul Ishaat.com

اوږده شپه شي . خلک به پریشانه شي چې ولې نه سحر کیږي. په دې کې به لمر د مغرب (لویدیځ) اړخ نه راوخیژي. خلک به په دغه پریشانۍ کې وي چې ناڅاپه به دآبة الارض راوځي. دآبة الارض به د کوه صفا نه راوځي. دا به د ناشنا خلقت ځناور په شکل کې وي.د مسلمان په تندې باندې به مر لیکي او د کافر په تندې باندې به ک لیکي. مسلمان باندې به د موسیٰ د همسا نه سپینه رڼا پریوځي او په کافر باندې به د سلیمان د ګوتمې (ګوتۍ) نه تور نښان جوړ شي. دآبة الارض د خروج نه دقیامت تر نفخ صور پورې به ۱۲۰ کاله زمانه وي. بیا به د جنوب د اړخ نه یو باد (هوا) راشي چې په هغې سره به اول نیکان خلک مړه شي او بیا به بدان خلک مړه شي.د مسلمانانو په مړه کیدلو باندې به د حبشو خلک غلبه ترلاسه کړي. او فتنه او فساد به شروع کړي. په دې دوران کې به هغوی کعبه ګوزار کړي، او د هغې د لاندې نه به خزاني لوټ (چُور) کړي.د دې نهوروسته به د جنوب اړخ نه یو تیز باد راشي او خلک به د شام اړخ ته زغلوي. دا به د قیامت آخرې غټه نښه وي. د دې نهوروسته به خلک درې څلور کالو پورې د آرام ژوند وکړي. او مکمل به غافل شي. الله الله ویونکی به په دنیا کې هیڅوک نه وي. بیا یوه ورځ دجمعې په ورځ په لس د محرّم به خلک په خپلو کارونو کې مشغول وي چې د تلۍ اواز به شروع شي او دا آواز به ډیرېږي تردې چې د خلکو د غوږونو پردې به وشلیږي او بیا به يې زړونه وچوي. بیا به په زمکه کې زلزله شروع شي.او بیا به آسمانونه راماتیدلو سره راګوزار شي. غرونه به ذره ذره شي، او سمندر به راخوټکیدلو سره جوش وهي تردې چې دا شته دنیا به بهټوله فنا شي. او قیامت به قائم شي، د راتلونکو څو حدیثونو شرح او توضیح په دې تفصیل سره اوشوه . په دې باندې هر لاوستونکې لره شکر ادا کول پکار دي.

۳۰ جمادی الاول ۱۴۱۸ھ

اَلْفَصْلُ الأَوَّل

د قیامت دولس نښې

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَا ل: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
حضرت ابو هریره نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي
حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ تَكُون بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ
ترڅو چې دوه غټې ډلې خپل مینځ کې جنګ اونکړي. د دې دواړو ډلو ترمینځ به بنه غټ جنګ وي. او د
دَعْوَاهُمَا وَاحِدَةٌ وَحَتَّى يبْعَث دجالون كذابون
دواړو به یوه دعوی وي (او قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي) ترڅو چې بنه زبردست مکار، فریبجن

قريب مِنْ ثَلَاثِيْنَ كُلُّهُمْ

او فسادیان خلک پیدا نشي. چې هغوی به په خدای او رسول باندې دروغ وایي. د هغوی شمیره به دیرش

يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ

کسه وي. او په هغو یکې به د هر یو دا دعوی وي چې هغه د خدای رسول دی. او ترڅو چې علم او چت نکړی

وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ وَيَظْهر الْفِتَنُ وَيَكْثُرَ الْهَرَجُ

شي او ترڅو چې زلزلې ډیرې نشی او ترڅو چې زمانه نژدې نشي و فتنې راښکاره نشي او هرج یعنې قتل او قتال

وَهُوَ الْقَتْلُ وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ

او د چور چپاؤ و واقعاتو کې ډیروالی و نشي، او ترڅو چې ستاسو سره مال او دولت دومره ډیر نشي چې مالدار

فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبُّ الْمَالِ

سړی د خیرات اخستونکي د وجې نه په پریشانئ کې اخته شي تردې چې هغه مالداره د چا مخې ته د غه د

مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولُ الَّذِي يعرضه عَلَيْهِ: لَا أَرَبَ لِي بِهِ

صدقې او خیرات مال وړاندې کوي، هغه به دا وایي چې ما ته ستا د دې صدقې او خیرات ضرورت نشته دی

وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ

او ترڅو چې خلک فراخه او اوږده عمارتونه جوړولو باندې فخر او نکړي. او ترڅو چې یو سړی د چا په قبر

فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا

باندې تیر شي، او دا ونه وایي چې کاش! زه د ده په ځای باندې وی. او ترڅو چې لمر د مغرب اړخ نه راونه خیژي

فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُون فَذَلِكَ حِينَ

کله چې لمر د مغرب اړخ نه راو خیژي نو ټول به ایمان راوړي. نو دا به هغه وخت وي چې هغه وخت به یو کس

(لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ

ته د هغه ایمان راوړل فائده ورنکړي، چا چې د دغه ورځې نه مخکې ایمان نه وي قبول کړی او نه به

أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا)

دغه وخت یو چا ته د خپل ایمان په حالت کې نیک کار فائده ورکړي که هغه د دغه ورځې نه مخکې څه نیک

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ

کار نه وي کړی. او په دې کې شک نسته چې قیامت به داسې قائمیږي چې دوه کسانو به (خپله جامه د خرڅولو

ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ وَلَا يَطْوِيَانِهِ

لپاره) خپره کړي وي او نه به یې د هغې اخستل خرڅول کړي وي او نه به هغه راغونډه کړی شي چې په

وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ

دغه حالت کې به قیامت راشي. او بیشکه قیامت به داسې قائمیږي چې یو سړی به د خپلې اوښې د شیدو

لِقْحَتِهِ فَلَا يَطْعَمُهُ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ

سره به بیرته راغلی وي و دغه شیدې به یې نه وي څکلي چې قیامت به راشي. او بیشکه قیامت به داسې قائمیږي

وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ فَلَا يَسْقِي

چې یو سړی به د خپل حوض لیو کوي (یعنې د خپلو څارویو د اوبو لپاره به یې جوړ جوړوي یا به هغه صحیح

فِيهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ

کوي) او هغه به خپلو څارویو ته د دې خپل حوض نه اوبه نه وي څکولي چې قیامت به راشي. او بیشکه قیامت

رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[۱]

به داسې قائمیږي چې یو سړي به په خله کې مړئ ایخي وي او هغه مړئ به یې نه وي خوړل چې قیامت به راشي

توضیح: **فئتان عظیمتان:** یعنې د مسلمانانو دوه غټ جماعتونه به وجنګیږي. د دې نه حضرت علي او حضرت معاویه مراد دي. چې د صفین په مقام کې وجنګیدلي. چې ترڅو میاشتو پورې جارې ؤو. چې په هغې کې د دواړو اړخونو اویا زره (۷۰۰۰۰) یا نه وي زره (۹۰۰۰۰) کسان ؤوژلی شو. کتاب الفتن حدیث نمبر: ۲۹ د لاندې د دې ټول تفصیل لیکل شویدی. (المرقات ۹/۲۹۵)

دعواهما واحدة: یعنې دواړه به د اسلام دعویدار وي، یا دا چې دواړه به خپل ځان په حق باندې ګڼړي. او برحق کیدلو دعوی به کوي. **دجالون:** دجال د مبالغې صیغه ده. ډیر غټ دهوکه ورکونکی، فرادې سړې ته وايي. **قریب من ثلاثین:** په نورو روایتونو کې د دیرشو عدد ذکر دی. نو په دې کې هیڅ تعارض نشته دی. اول وحې په ذریعه سره یو عدد اوویلی شو، بیا د وحې په ذریعه باندې

(۱) اخرجه البخاري في صحیحه ۱۳/۸۱ رقم الحدیث ۷۱۲۱ واخرجه مسلم ۱/۱۳۷ رقم الحدیث (۱۵۷-۲۴۸)

وربکې ډیروالی وشو، څنګه چې وحې اوویلی، نبي کریم ﷺ هغه شلن بیان کړل.د حضرت ابن عمر په یو روایت کې د اویا(۷۰) عدد ذکر دی. نو دا به کثرت باندې حمل کولی شي. چې هیڅ تعیین نشته بلکې تکثیر (ډیروالې) ته اشاره ده . یا ډیر ښه جواب دا دی چې دیرش دجالان خو به هغه غټ فسادیان وي چې هغه به د نبوت باقاعده دعوی کوي، د هغوی نه غیره به نور واړه واړه وي ، د نبوت دعوٰی به نکوي. **يقبض العلم**: یعنې علم او علم شریعت به اوچت کړی شي.د دې صورت به دا وي چې غټ غټ علماء به د مرګ به ذریعه سره اوچت کړی شي. **يتقارب الزمان**: یعنې زمانه به قیامت ته نژدې شي. یو مطلب دا دی. دویم مطلب دا دیچې مزلونه به نژدې شي.دکال پیدل سفر به جهاز په هوا کې په دوه ساعته کې کوي.یا مطلب دا دی چې کال به د میاشتې ځاې ته راشي او میاشت به د هفتې ځاې ته او هفتې به د ورځې ځاې ته او ورځ به د یوې سپرغۍ ځاې ته راشي. په یو حدیث کې هم دا تفصیل دی. **يهم**: دا د باب افعال نه د اهتمام او سوچ او فکر او پریشانۍ په معنی دی. مطلب دا دی چې صاحب مال به د صدقې کولو کوشش کوي خو قبلونکی به هیڅوک نه وي، په ظاهره باندې به دا د خوشحالۍ زمانه حضرت مهدی او حضرت عیسی زمانه ده. کثرت او برکت د مالونو د وجې نه به دا د خوشحالۍ زمانه وي. یا د حرص نشتوالی او مال سره د مینې نه لرلو په وجه به داسې وي. (المرقات ۹/۲۹۶)

يتطاول: یعنې خلک به بغیر د ضرورت نه ماڼۍ او اوچت عمارتونو کې په یو بل باندې فخر او تکبر به کوي. خصوصاً هغه طبقه چې هغه د بیزو څرونکېږو.په هغویکې به دا مقابله وي چې د چا ماڼۍ څومره اوچته ده جزیرة العرب او بیا سعودی عرب کې د دې ډیره نظاره کیدی شي (المرقات ۹/۲۹۷)

مكانه: یعنې ژونه دی سړی به دا ارمان کوي چې کاش! به دې قبر کې د دې مړي په ځاې څه وای.دا به د دین د پریشانۍ د وجې نه نه ویبلکې فقط د دنیا پریشانې به وي.او د ظاهرې مصیبتونو نه په تنګ راتلو سره به دا ارمان کوي. (المرقات ۹/۲۹۶)

نشر الرجلان: یعنې په دکان کې خرڅونکی او اخستونکې دواړو به ټوټه خپره کړې وي، چې ناڅاپه به قیامت راشي. **يليط**: لاط يليط: اخیړولو ته وایي. یعنې د کور مالک به په دې اخیر کې اخته وي چې قیامت به راشي. (المرقات ۹/۲۹۸)

د قیامت نه مخکې به د ترکانو سره جنګ کیږي

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې

Maktaba Tul Ishaat.com

حَقَّ	تُقَاتِلُوا	قَوْمًا	نِعَالُهُمُ	الشَّعْرُ

نه قائمیږي تر څو چې تاسو د هغه قوم سره جنګ اونکړئ چې د چا پیزار چې به د ویختانو والا څرمنې وي.

وَحَتَّى	تُقَاتِلُوا	التُّرْكَ	صِغَارَ	الْأَعْيُنِ	حُمْرَ	الْوُجُوهِ	ذُلْفَ	الْأُنُوفِ

او تر څو چې تاسو د ترکانو سره جنګ ونه کړئ چې د هغوی سترګې به وړې وړې، سره مخونه او پوزې به یې چیټې وي.

كَأَنَّ وجوهَهُم المجَانُّ الْمُطْرَقَة. مُتَّفق عَلَيْهِ(۱)

ګویا چې د هغوی څُلي به د قط په قط ډهال په شان وي.

توضیح: نعالهم الشعر: یعنې د هغوی پیزار به د ویختانو والا د څرمنې نه جوړ وي. مطلب دا دی چې د کچه څرمنې جوړ پیزار به وي. (المرقات۹/۲۹۹)

الترك: یعنې خامخا به د ترکانو سره جنګ کیږي. د دې نه مراد د یافث بن نوح اولاد دی. د هغوی د مورث اعلی نوم ترک ؤو. ځکه دوی ته ترکان اوویلی شو. یا مطلب دا دی چې دا خلک د سدّ سکندری نه باهر پریخودل شویدي او بیخې د هغوی یوه وحشې برخه یاجوج ماجوج په نوم باندې سدّ سکندری کې دننه بندهکړی شویده. او کومه برخه چې باهر پاتې شویده، هغې ته ترک اوویلی شو. مراد هغه منګولین او تاتاریان دي. تفصیل یې تیر شویدی. (المرقات۹/۲۹۹)

صغار الاعین: د ترکانو سترګې وړې دي. او مخونه یې سره دي. **ذلف الانوف**: یعنې د هغوی پوځې به چیټې وي. ناستې شوي به وي. یا وچه پوزه چې هغه خکته او پلنه وي. په موجوده ترکانو کې اګرکه دا صفت کم دی، خو پکې شته دی. علماؤ دا اعتراض داسې دفع کړی دی چې د ترکانو څو قبیلې دي. یعنې ټولې ۲۲ قبیلې دي. ۲۱ قبیلو نه سد سکندری راتاؤودی. نو ډیره ممکنه ده چې څه قبیلې په دې صفت وي. د چین د خلکو د پوزو هم دا صفت دی. نو د چین خلک هم د هغه ځای نه راتختیدلي دي. چې به اصل کې د ترک سره یو ځای کیږي. (المرقات۹/۲۹۹)

المجان: د مجن جمع ده. میم باندې زیر دی. جیم باندې شدّ دی. ډهال ته وایي. یعنې د هغوی مخونه د ډهال په شان ګرد دي. د غوښې نه به ډک وي. (المرقات۹/۲۹۹)

المطرقة: طراق د ډهال ویخونو ته وایي. چې هغه لاندې باندې وي. او د یو بل سره نختي وي. او د څرمنې وي. میم باندې ضمه ده. طاء ساکنه ده، را باندې فتحه ده. ملا علی قاری د باب افعال نه د اسم مفعول صیغه ویلي ده.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۰۴ رقم الحديث ۲۹۲۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۳ رقم الحديث (۲۹۱۲.۱۱)

مطلب دا دی چې د دې خلکو مخونه به د غوښې نه داسې ډک وي ګویا چې چا په څټکې باندې وهلو وهلو سره غوښه لاندې باندې ډکه کړې ده .لکه څنګه چې د ډهال لاندې باندې ویخونه وي. ګویا مخ نه دی پیړه ډوډئ ده! ګردوالی ، پلنوالې او چاقوالې کې د ډهال سره تشبیه ورکړېشویده. دا صفت هم نن سبا د چین په خلکو کې موجود دی. د دې نه خو یا د چنګیز خان یا د هلاکو خان فتني مراد دي. چې هغه تیري شوي دي. یا په راتلونکې وخت کې څه فتني مراد دي، ګویا دا د انسانانو په شکل کې درندګان او ځناور دي. ملاعلی قاری لیکي چې دا د هغه خلکو شر او فساد اړخ ته اشاره ده ګویا چې د خودغرضئ مخونه دي. الله دې تر قیامته پورې مونږ ته دا مخونه ونه ښایي!! (آمین-مترجم) (المرقات۹/۲۹۹)

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

او د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي

حَتَّى تُقَاتِلُوا خُوزًا وَكِرْمَانَ مِنَ الْأَعَاجِمِ حُمْرَ الْوُجُوهِ

ترڅو چې تاسو خوز او کرمان د خلکو سره چې د عجمو خلک دي، جنګ او نکړئ. د دې خلکو مخونه به

فُطْسَ الْأُنُوفِ صِغَارَ الْأَعْيُنِ وُجُوهُهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ

سره، پوزې به یې ناستې وي او سترګي به یې وړې وړې وي. او مخونه به یې داسې وي لکه قط په قط د څرمني

نِعَالُهُمُ الشَّعْرِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1] وَفِي رَاوِيَة لَهُ

ډهال وي. د دوی پیزار به د ویښتانو والا څرمني وي. (بخاری) او د بخاری په یو بل روایت کې چې

وَ عَنْ عَمْرِو بن تغلب: عراض الْوُجُوهِ.[2]

د عمرو ابن تغلب نه نقل شویدی. دا الفاظ دي چې د دوی مخونه به څرب پلن وي.

توضیح: خوزًا : د دې نه خوزستان مراد دی. **کرمان**: ایران د مشهور ښار نوم کرمان دی.دلته د کرمان خلک مراد دي.قاضی عیاض لیکلي دي چې د دې عجمو نه د ترکانو خلک مراد دي. اګرکه دا مشهور نه وي ، وجه دا ده چې دا هغه صفات دي چې په ترکانو کښې موجود والې لري. د دوی سره یا جنګ شویدی یا په راتلونکې وخت کې به کیږي. (المرقات۹/۳۰۰)

فطس الانوف: پیټ پوزې خلک هم هغه دي چې هغه په ذلف الانوف سره یاد کړی شویدي. د دواړو یوه معنی ده. (المرقات۹/۳۰۰)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۰۲ رقم الحديث ۳۸۵۹۰ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۲ رقم الحديث ۴۰۹۸

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۰۳ رقم الحديث ۲۹۲۷

Maktaba Tul Ishaat.com

د عیسی علیه السلام د نزول په وخت کې به یو یو یهودي وژلی کیږي

﴿٤٤﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي تر څو
يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُون الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُون حَتَّى يَخْتَبِئُ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ
پورې چې مسلمانان د یهودو سره جنګ ونه کړي. نو مسلمانان به ډیر یهود ووژني. تردې چې یهود به د کاڼي
وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ وَالشَّجَرُ: يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ الله
یو تې شاه پټیږي او هغه کاڼي او بوټی به دا وايي چې ای مسلمان! ای د خدای بنده ده! دلته راشه! زما شاه ته
هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِن شَجَرِ الْيَهُود ". رَوَاهُ مُسلم[1]
یهودي پټ ناست دی. دا ووژنه پرته له غرقد بوټي (به داسې نه وايي) ځکه چې هغه د یهودو بوټی دی.

توضیح: هذا یهودي: یعني حجر او شجر به شکایت کوي چې زما شاه ته یهودي پټ شویدی. دا دې ووژلی شي. دنیا نه د یهودو دا پاکیدل به د حضرت عیسی په وخت کې کیږي ځکه چې هغه وخت به هیڅ کافر ذمي ساتل ختم شي. جزیه به ختمه شي. یا به اسلام وي یا به مرګ وي. یهودو او نصاراو ته دې ښکاره وي چې زمونږ نبي محمد ﷺ رحمة للعالمین دی. ګورئ! دهغه په دور کې کافر خو برداشت کیدلی شي. د ذمیت او جزیې ادا کولو نه وروسته ژونه دی ساتلی شي. کله چې کافر دا رحمت سختې وبولي نو په دوې باندې به داسې وخت راشي چې دوې به منت کوي چې مونږ ذمیان اوساتئ. جزیه واخلئ او زمونږ ځان اوساتئ خو د الله تعالی حکم به وي چې اوس هیڅ یهودي او کافر ژونه دی نشي برداشت کیدلی. الله تعالی ته په ځناورو کې خنزیر ډیر مبغوض دی. او په انسانانو کې یهودیان ډیر مبغوض دي. یهودیانو په یوه یوه ورځ کې څومره انبیاء شهیدان کړل. دلته د دې حدیث په بیان کښاګوره چې یهود نابهودو عیسی پریخودلو. جضرت مهدی یې پریخودلو. او د هغوی به مقابله کې یې د دجال سره ملګرتیا اوکړه. چا چې د الوهیت دعوی هم اوکړه او فساد یې هم وکړو. لهذا څه حشر چې یهودو وشو، ډیر ښه وشو. دا به د یهودو یو بل هولو کاسې وي. د قدرت عجائب وګوره چې یهودو په حضرت عیسی باندې برید اوکړو او په کور کې یې بند کړو او په خپل خیال کې یې ووژلو. ګویا یهودو د عیسایانو د خدای د دوژلو کوشش وکړو. خو د مسلمانانو خدای هغه اوساتلو. او په آسمانونو کې یې محفوظ وساتلو. کله چې هغه زمکي

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۴/۱۰۳ رقم الحديث ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۹ رقم الحديث (۲۹۲۲-۸۲)

ته راکوز شي نو هغه د یهودو خدای دجال ؤوژلو. تعجب دی چې اوس دا خلک خپل مینځ کې داوستان دي. خو د مسلمانانو دښمنان دي. (المرقات۹/۳۰۱)

د یو قحطاني سړي په باره کې وړاندوینه

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي
حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بعصاه. مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
ترڅو چې په قحطان کې یو سړی پیدا نشي چې هغه به خلک په خپله همسا سره شړي.

توضیح: قحطان: د عربو دوه پخوانۍ غټې قبیلې دي. یو قحطان او بل عدنان ده. دا قبیلې خپلو مشرانو نیکونو ته منسوب دي. د یو نوم قحطان ؤو او د بل نوم عدنان ؤو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مور پلار د اړخ نه عدناني هم دی او قحطانې هم دی. د یمن د غټې قبیلې نوم قحطان دی. دا قحطانې سړی به یو عادل مسلمان باچا وي. په راتلونکې حدیث کې دا د جهجاه په نوم سره یاد شویدی. (المرقات۹/۳۰۱)

یسوق الناس: یعنې د هغه اقتدار به مضبوط او مستحکم وي. خلک به د هغه د فرمان تابع وي. دا سړی به د حضرت عیسی نه وروسته د مسلمانانو خلیفه وي.

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: شپه او ورځ به تر هغه وخته پورې
حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ:
نه ختمیږي ترڅو چې هغه سړی مالک نشي یعنې په خلکو باندې اقتدار او تسلط یې رانشي چې هغه ته به
الْجَهْجَاهُ ". وَفِي رِوَايَةٍ: " حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ مِنَ الْمَوَالِي
جهجاه ویلی کیږي او په یو روایت کې داسې دي چې ترڅو پورې په موالي کې یو سړی مالک نشي یعنې
يُقَالُ لَهُ: الجهجاه". رَوَاهُ مُسلم[2]
یعنې اقتدار او تسلط یې رانشي چې هغه ته به جهجاه ویلی کیږي.

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۶۵/۵۴۵ رقم الحديث ۳۵۱۷ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۲ رقم الحديث (۶.۱.۲۹۰۱)

[2] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۱ رقم الحديث (۲۹۱۱-۶۱) والترمذي في السنن ۴/۴۳۷ رقم الحديث (۲۲۲۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

د کسری سپينه ماڼۍ به فتح شي

﴿۷﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَتَفْتَحَنَّ

او حضرت جابر ابن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې بيشکه د مسلمانانو يو

عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ. رَوَاهُ مُسلم[۱]

جماعت به د آل کسری خزاني را وباسي چې هغه په سپينه ماڼۍ کې دي.

توضيح:عصابة من المسلمين: د مسلمانانو ددې جماعت نه مراد د حضرت سعد بن ابي وقاص لښکر دی. چا چې په عهد فاروقي کې عراق او مدائن فتح کړي ؤو. د قادسيه په تاريخي جنګ کې فتح موندلو نه وروسته دا لښکر د دجلې په سيند اوړيدلو سره د مدائن اړخ ته روان شو. او په مدائن کې يې د کسری په ماڼۍ باندې قبضه وکړه. او ماڼۍ يې په جامع مسجد کې بدله کړه. حضرت سعد بن ابی وقاص هلته درې ورځې قيام وکړو او د جمعې لمونځ يې وکړو. او بيرته راغلو. علامه بوصيری مصری قصيده برده کې فرمايي:

وبات ايوان کسری وهو منصدع   کشمل اصحاب کسری غير ملتئم

آل کسری: د آل لفظ زائد دی. کسری په فارس کې خسرو وي. عربۍ کې ورته کسری وايي. **في الابيض:** ايوان کسري ته هغه خلک **سفيد کوشک** وايي. پښتو کې ورته سپينه ماڼۍ وايي. په عربۍ کې ورته قصر ابيض وايي. او په انګريزۍ کې ورته وائټ هاوس وايي. لکه څنګه چې نن سبا په امريکه کې وائټ هاوسدی. الله تعالی مسلمانانو ته د فارس وائټ هاوس ورکړيؤو، د جهاد په برکت سره به الله تعالی د امريکې وائټ هاوس هم ورکړي. د ايوان کسری خزاني شبلي نعماني په الفاروق کې په ښايسته انداز سره ليکلي دي. ما په فتوحات مصر او فارس کې ډير تفصيل سره ليکلي دي. عقل حيرانونکې عجائبات دي. (المرقات ۹/۳۰۲)

په جهاد سره به دوه سُپر طاقتونه ختم شي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلَكَ كِسْرَى فَلَا يَكُون

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: کسری هلاک شو، د دې کسری نه وروسته

كِسْرَى بَعْدَهُ وَقَيْصَرُ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُون قَيْصَرُ بَعْدَهُ

به بل کوم کسری نه وي. او يقيناً قيصر هم هلاک شو چې د هغې نه وروسته به بل څوک قيصر نه وي. دغه شان د دې

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۷ رقم الحديث (۲۹۱۹،۶۱) وأحمد في المسند ۵/۱۰۰

وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللهِ وَسَمَّى الْحَرْبُ خُدْعَةً . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
دواړو باچاهانو خزانې به د خدای په لاره کې تقسیم کړی شي. نبي عَلَيْهِ السَّلَام د جنګ نوم دهوکه او فریب کیخودلو.

توضیح: هلک کسری: هلکَ د ماضی صیغه راوړی شویده. دا یقین ارخ ته اشاره ده. چې دا وګڼړه چې دغه شان شویده. دا په اصل کې د سیهلک په معنی دی. یعنې ددې د ختمیدلو نه وروسته به د دې نوم او نبنان پاتې نه وي. د فارس د خلکو د مازغو نه به کیسریت ؤوځي. دغه شان په شام کې به قیصریت ختم شي. نو د جهاد په برکت سره هم دغه شان اوشوه. او دواړه سُپر طاقتونه ټوټه ټوټه شو. (المرقات ۹/۳۰۲)

الحرب خدعة: یعنې نبي کریم ﷺ د جنګ او جهاد نوم چل کول او حیله او تدبیر کیخودلو. نو په جهاد کې د دې اجازت شته دی. اوس پوښتنه دا ده چې د دې جملې د مخکنۍ جملې سره څه ربط دی؟ نو د دې جواب شارحینو کړیدی چې کله د فتوحاتو او غنیمت د تقسیمولو خبره اوشوه نو د جهاد د میدان تصور مخې ته راغلو نو نبي کریم ﷺ د جهاد د ضرورتونو او آدابو نه یو ضرورت او آدب ذکر کړو. (المرقات ۹/۳۰۲)

که جهاد وي نو فتحه پسې به فتحه وي

﴿۹﴾ وَعَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ				
او حضرت نافع ابن عتبه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو به (زمانه وروسته) د جزیرة العرب				
فَيَفْتَحُهَا	اللهُ	ثُمَّ		فَارِسَ
سره جنګ کوئ او الله تعالی به هغه ستاسو په لاسونو باندې فتح کوي. بیا به تاسو د فارس د مملکت سره جنګ				
فَيَفْتَحُهَا	اللهُ	ثُمَّ	تَغْزُونَ	الرُّومَ
کوئ او الله تعالی به هغه ستاسو په لاسونو باندې فتح کوي. بیا به تاسو د روم د مملکت سره جنګ کوئ او				
فَيَفْتَحُهَا	اللهُ	ثُمَّ	تَغْزُونَ	الدَّجَّالَ
الله تعالی به هغه ستاسو په لاسونو باندې فتح کوي. او بیا به تاسو د دجال سره جنګ کوئ او الله تعالی به په				
فيفتحه الله . رَوَاهُ مُسلم[2]				
هغې باندې هم فتح درکوي.				

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۵۷ رقم الحديث ۳۰۲۷ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۷ رقم الحديث (۲۹۱۸-۷۶)

[2] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۲۵ رقم الحديث (۲۹۰۰-۳۸) وابن ماجه ۲/۱۳۷۰ رقم الحديث ۴۰۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح:الجزیرة: جغرافیه پوهانو د قول مطابق نجد، حجاز، یمامه، یمن، او عروض په دې پنځه غټو ځایونو باندې د جزیرة العرب اطلاق کیږي. حجاز کې مکه او مدینه هم داخل دي. د جزیرة العرب په جنوب کې بحر عرب پروت دی. په شمال کې دریائ فرات دی. مشرق کې خلیج عرب او خلیج عمان دی. او مغرب کې بحر احمر دی. بهرحال دا حدیث وایي چې د جهاد مقدس په ذریعه باندې به په مسلمانانو د فتحې دروازې برسیرته شي او په راتلونکې وخت کې به هم برسیرته وي. نن سبا تبلیغ والا وایي چې په جهاد سره د دین کار بنه دیږي. دا خلک غلطه وایي. (المرقات ۹/۳۰۴)

د قیامت شپږ نښې

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ

او حضرت عوف ابن مالک رضی الله عنه فرمایي چې د غزوه تبوک په وخت کې زه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کې حاضر

وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ: "

شوم، دغه وخت نبي علیه السلام د څرمنې په خیمه کې ناست وُو. نبي علیه السلام وفرمایل: د قیامت راتلو نه مخکې

اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ: مَوْتِي ثُمَّ فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ ثُمَّ مُوتَانٌ يَأْخُذُ فِيكُمْ

شپږ شیان وشماره. یو خو زما مرګ، دویم د بیت المقدس فتح کیدل، دریم عامه وبا چې هغه به په تاسو کې د

كَقُعَاصِ الْغَنَمِ ثُمَّ اسْتِفَاضَةُ الْمَالِ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مِائَةَ دِينَارٍ

بیزو په شان خپره شي. څلورم: د خلکو سره به مالونه دومره ډیر شي که یو سړي ته سل دیناره ورکړی شي نو

فَيَظَلُّ سَاخِطًا ثُمَّ فِتْنَةٌ

هغه به یې کم او سپک ګڼړلو باندې په هغې ناراضه وي. پنځم: فتنې او خپل مینځې جنګونه او مخالفتونه

لَا يَبْقَى بَيْتٌ مِنَ الْعَرَبِ إِلَّا دَخَلَتْهُ ثُمَّ هُدْنَةٌ

به داسې راوپاریږي چې د عربو یو کور به هم داسې پاتې نشي چې هغې ته د دې فتنو اثر ونه رسیږي. او شپږم

تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَنِي الْأَصْفَرِ فَيَغْدِرُونَ فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً

صلح چې ستاسو او د رومیانو ترمینځ به وشي. بیا به رومیان وعده ماته کړي او ستاسو مقابلې لپاره به د اتیا (۸۰)

تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

نښانو د لاندې راشي چې په هغې کې به د هر نښان د لاندې دولس زره کسان وي.

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۷۷ رقم الحديث ۳۱۷۶ ومسلم في صحيحه ۱/۳۶۰ رقم الحديث (۳۰۵-۲۴۹)

توضیح: موتی: نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زما وفات د قیامت د نښو نه یوه نښه ده. **فتح بیت المقدس:** د حضرت عمر فاروق په زمانه کې فتح شوی ؤو. (المرقات ۹/۳۰۵)

موتان: میم باندې ضمه ده. یو قِسم وبایې ناروغې ده. دا وبایې ناروغې په اصل کې په بیزو کې راځي. چې هغه ټولې بیزې وژني. دې مرض ته **قعص** وایي. یعني د بیزو په شان به دا خاص وبایې ناروغې به په تاسو کې راشي، دا طاعون عمواس ته اشاره ده. چې د حضرت عمر فاروق په دور خلافت ۱۸ ھ کې راغلې وه. عمواس په شام کې د بیت المقدس خواته د یو ځای نوم دی. هغه وخت دا ځای فوځې بهیسِ (چاؤنۍ) وه. د دې طاعون نه په درې ورځو کې اویا زره کسان مړه شول.

استفاضة المال: یعنې مال به ډیر شي، شاید دا د حضرت عثمان دور خلافت ته اشاره وي. (المرقات ۹/۳۰۵)

ثم فتنة: په دې سره د حضرت عثمان بن عفان شهادت اړخ ته اشاره ده. یا د حضرت علی او د حضرت معاویه جنګونو ته اشاره ده. **ثم هدنة:** هدنه صلح او مصالحت په معنی دی. یعنې یو صلح او معاهده به وشي، ممکنه ده چې دا به هغه لوظنامه وي چې د مسلمانانو او د عیسایانو د یوې ډلې سره به وشي او د بلې ډلې سره به جنګ وي. بیا چې کله فتح ترلاسه شي نو مسلمانان به وایي چې اسلام غالب شو. عیسایان به وایط چې صلیب غالب شو. بیا به د دوې خپل مینځ کې جنګ وي. ټول عیسایان به د مسلمانانو په خلاف شي. او په جنګ کولو کولو کې به د مسلمانانو باچا شهید شي. په داسې وخت کې به د حضرت مهدی ظهور وشي او سمدستې جنګې تیاری به شروع کړي. په مقابله کې به رومیان اتیا (۸۰) بیرغونو سره راشي. د هغوی ټوله شمیره به نهه لاکهه شپیته زره وي. **بنی الاصفر:** د رومیانو د مشر نیکه نوم روم بن عیص ؤو. د هغه رنګ زیړوالې ته مائل سپین ؤو. ځکه هغه ته اصفر اوویلی شو. نو د هغه اولاد ته بنی الاصفر اوویلی شو، تر ننه پورې فرنګیان په دغه رنګ کې دي. (المرقات ۹/۳۰۵)

د دجال قتل، د ملحمة الکبری واقع کیدل

﴿۱۱﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي تر دې چې
يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقَ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنَ الْمَدِينَةِ مِنْ خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ
رومیان اعماق یا دابق ته راشي، او بیا به د مدینې یو لښکر د هغوی د مقابلې لپاره ؤوځي. چې په هغې کې به په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَوْمَئِذٍ	فَإِذَا	تَصَافُّوا	قَالَتِ	الرُّومُ:	خَلُّوا	بَيْنَنَا

ورځ یعنې د هغه وخت غوره خلک شامل وي. کله چې صفونه جوړ شي نو رومیان به دا وایي چې زمونږ او د دې

وَبَيْنَ	الَّذِينَ	سَبَوْا	مِنَّا	نُقَاتِلْهُمْ

خلکو ترمینځ چې زمونږ خلک یې قیدیان راوستلي دي، ځای ورته خالي کړئ، دې لپاره چې مونږ د دوی سره جنګ

فَيَقُولُ	الْمُسْلِمُونَ:	لَا	وَاللهِ	لَا	نُخَلِّي بَيْنَكُمْ

وکړو. خو مسلمانان به دوی ته جواب ورکړي چې په خدای قسم دا سې هیڅ کله نشي کیدلی. مونږ ستاسو او د

وَبَيْنَ	إِخْوَانِنَا	فَيُقَاتِلُونَهُمْ

خپلو مسلمانانو ورونړو ترمینځ ځای نشو خالي کولی. نو ټول مسلمانان به د رومیانو سره جنګ شروع کړي.

فَيَنْهَزِمُ	ثُلُثٌ	لَا	يَتُوبُ	اللهُ	عَلَيْهِمْ	أَبَدًا

او په دې مسلمانانو کې به دریمه برخه په شا وتختي. چې هغوی به الله تعالی کله هم معاف نکړي. او یوه برخه

وَيُقْتَلُ	ثُلُثُهُمْ	أَفْضَلُ	الشُّهَدَاءِ	عِنْدَ	اللهِ

مسلمانان به شهیدان شي چې هغوی به یقیناً د الله تعالی په نزد باندې غوره شهیدان وګرځي. او پاتې یو برخه

وَيَفْتَتِحُ	الثُّلُثُ	لَا يُفْتَنُونَ	أَبَدًا	فَيَفْتَتِحُونَ	قسطنطينية

مسلمانان به غالبه شي. دغه مسلمانان به الله تعالی کله هم په فتنه کې نه اچوي. بیا به مسلمانان قسطنطنیه

فَبينما	يَقْتَسِمُونَ	الْغَنَائِمَ

فتح کړي. او د دېنه وروسته هغه وخت کله چې هغه (مسلمانان) د غنیمت مال تقسیمولو کې مصروفه وي او خپلې

قَدْ	عَلَّقُوا	سُيُوفَهُمْ	بِالزَّيْتُونِ	إِذْ صَاحَ	فِيهِمُ	الشَّيْطَانُ:

توري به یې د زیتونو بوټو ته زوړند دي کړي وي. ناڅاپه به شیطان د هغوی مینځ کې دا خبره خپره کړي چې ستاسو

إِنَّ	الْمَسِيحَ	قَدْ خَلَفَكُمْ	فِي	أَهْلِيكُمْ

په نشتوالي کې مسیح دجال ستاسو کورونو ته رسیدلی دی. (اسلامي لښکر دې او ریدلو سره به د قسطنطنیه نه)

فَيَخْرُجُون	وَذَلِكَ	بَاطِلٌ	فَإِذَا جَاؤُوا	الشامَ

روان شي. خو د شیطان دا خبر به سراسر دروغژن ثابت شي، البته کله چې مسلمانان شام ته ورسیږي نو بیا به دجال

خرج	فَبينا	هُمْ	يُعِدُّون	لِلْقِتَالِ	يُسَوُّون	الصُّفُوفَ
رابنکاره شي، مسلمانان به د هغه سره د جنګ کولو تیاری کوي. او په صف جوړولو کې به مشغوله شي. چې د						
إِذْ	أُقِيمَتِ	الصَّلَاةُ	فَينزل	عِيسَى	بن	مَرْيَمَ
لمونځ وخت به راشي. په دې کې به حضرت عیسی ابن مریم (د آسمان نه د دمشق د جامع مسجد په میناره						
فَأَمَّهُمْ	فَإِذَا	رَآهُ	عَدُوُّ	الله		
باندې) راکوز شي. (بیا به بیت المقدس ته راشي) او د مسلمانانو امامت به کوي. بیا د خدای هغه دښمن یعنې						
ذَابَ	كَمَا	يَذُوبُ	الْمِلْحُ	فِي	الْمَاءِ	
دجال (چې هغه به مسلمانان راګیر کړي وي) کله چې حضرت عیسی اوویني نو داسې به ایلي کیږي لکه په اوبو						
فَلَوْ	تَرَكَهُ	لَانْذَابَ				
کې چې مالګه ایلي کیږي. که عیسی هغه په دغه حالت کې پریږدي او قتل یې نکړي نو دا به تول ایلي شي. او						
حَتَّى	يَهْلِكَ	وَلَكِنْ	يَقْتُلُهُ	الله	بِيَدِهِ	
(حضرت عیسی د وژلو نه بغیر به) خپله مړ شي. لیکن الله تعالی به دا د حضرت عیسی په لاس						
فيريهم	دَمه	فِي	حربته".	رَوَاهُ	مُسلم[1]	
باندې اوژني. بیا به حضرت عیسی د دجال اینه د خپلې نیزې په ذریعه سره وښایې. [مسلم]						

توضيح: اعماق: اعماق او دابق دانطاکیه او حلب ترمینځ دوه ځایونو نومونه دي. او په دې حدیث کې د مدینې نه مراد د حلب ښار دی. چې په شام کې واقع دی. په مدینه منوره باندې دا وړاندوینه نه صادقیږي او نه مدینه منوره مراد ده. مسلمانانو د دې لښکر نه د حضرت مهدی لښکر مراد دی. چې دشام د نصاراؤ سره به جنګیږي. (المرقات ۹/۳۰۴)

خلوا بيننا: یعنې کافر به اوایي چې د مسلمانانو کومې ډلې زمونږ خلک بنه دیان کړیدي، دغه ډله جدا اوساتئ، دې لپاره چې مونږ د وې نه بدله واخلو، مسلمانان به د دې بیلتون نه انکار وکړي. او جنګ به شروع کړي. خویوه ډله به وتختي. او یوه ډله به د خودکش بمبار لپاره تیاره شي. درې ورځې به سخت جنګ وي. او مسلمانان به لږ شان پاتې شي. په څلورمه ورځ به الله تعالی فتح

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۲۱ رقم الحديث (۲۸۹۷-۳۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړي. نو مسلمانان به نیغ لاړ شي او قسطنطنیه ته به ننوځي. لکه څنګه چې په تفصیلي روایت کې دي. (المرقات۹/۳۰۶)

دلته دا خبره یاد ساتئ چې په قسطنطنیه باندې مختلف دورونه راغلي دي. یو ځل په ۳۳۰ء کې د هرقل ځوې قسطنطین دا قبضه کولو باندې آباد کړو. او د هغه نوم ته دا ښار منسوب دی. د دې نه وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم دا فتح کړه. بیا وروسته کافر په دې باندې غالبه شول. بیا د ترکی خلافت په زمانه کې عثمانی ترکانو دا فتح کړه. چې تر اوسه پورې د مسلمانانو په لاس کې ده. خو د دې حدیث نه معلومیږي چې دا ښار به یو ځل بیا د کافرو لاس ته ځي، او په آخر کې به حضرت مهدی دا فتح کوي.

الشام: د دې نه بیت المقدس مراد دي. **فأمهم**: یعنې حضرت عیسی به د مسلمانانو امامت وکړي. (المرقات۹/۳۰۸)

سوال: دلته دا سوال پیدا کیږي چې په نورو روایتونو کې په واضحه توګه راغلي ده چې حضرت عیسی به امامت نکوي، بلکې حضرت مهدی به یې کوي. چې امام او خلیفه ته یې. لهذا لمونځ وکړه. او حال دا دی چې دلته د حضرت عیسی د امامت خبره ده.

جواب: د دې پوښتنې یو جواب دا دی چې **امهم** د عام لمونځونو په اړه دی او نفې فقط د هغه لمونځ ده چې به هغې کې به د ټولو نه مخکې حضرت عیسی د آسمان نه راکوز شوی ؤو. د جمعې په ورځ د مازیګر لمونځ ؤو. د کوم نه چې حضرت عیسی انکار کړی ؤو، دې لپاره چې خلکو ته ښکاره شي چې دهغوی خلیفه مهدی دی. دویم جواب دا دی چې د **امهم** حکم مجازًا دی. یعنې حضرت عیسی هغه ته د امامت حکم او کړنو هغه امامت وکړي. ای امره بالامامة. (المرقات۹/۳۰۸)

په جهاد کې په کافرانو باندې د فدائي حملو ثبوت

﴿۱۲﴾وَعَنْ	عَبْدِ	اللهِ	بْنِ	مَسْعُودٍ	قَالَ:	إِنَّ	الساعةَ	لَا	تقومُ
او د حضرت عبدالله بن مسعود نه روایت دی چې یقینًا قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي									
حَتَّى	لَا	يُقْسَمَ	ميراثٌ	وَلَا	يُفْرَحَ	بِغَنِيمَةٍ.	ثُمَّ		
ترڅو چې د میراث تقسیمیدل بند نشي. او په مال غنیمت سره به خوشحالیدل نه پریږدي. بیا ابن مسعود									
قَالَ:	عَدُوٌّ	يَجْمَعُون	لِأَهْلِ	الشَّامِ					
بیان کړل چې دښمن یعنې کافر به د اهل شام سره د جنګ کولو لپاره فوځ او طاقت جمع کړي. دلته مسلمانان									

وَ يَجْمَعُ لَهُمْ أَهْلُ الْإِسْلَامِ (يَعْنِي الرُّومِ)

به هم د دې کافرو سره د مقابله کولو لپاره لښکر او طاقت جمع کوي. د دښمن نه مراد رومیان دي. نو

فيتشرَّطُ الْمُسْلِمُون شُرْطَةً لِلْمَوْتِ

مسلمانان به د خپل فوځ نه څه کسان تاکلو باندې مخکې ولیږي، دې لپاره چې جنګ وکړي او مړه شي. او که

لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُون

هغوی بیرته راشي نو فاتح او غالب راشي. نو دواړو اړخونو لښکرې به د یو بل مقابلې ته او دریږي تر دې چې د

حَتَّى يُمْسُوْا فَيَفِيْءُ هٰؤُلَاءِ

دواړو لښکرو ترمینځ به شپه راشي. د غه شان دواړه ډلې به خپلو خپلو ځایونو ته راشي. او نه به په دوی کې

وَ هٰؤُلَاء كل غير غَالب

څوک غالب او فاتح وي. (او نه به څوک مغلوب او شکست خورده وي) البته د دواړو ډلو هغه خاص او تاکلې

و تفنى الشرطة ثُمَّ يَتَشَرَّطُ

شوي ډلې چې هغه د جنګ کولو لپاره مخکې تللي وي، فنا به شي. بیا (په دویمه ورځ) مسلمانان به یو بل

الْمُسْلِمُون شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غالبة

لښکر تاکلو باندې مخکې ولیږي، دې لپاره چې هغوی جنګ وکړي، او مړه شي یا بیرته فاتح راشي، نو دواړو

فيقتتلون حتى يَحْجِزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ

اړخونو لښکرې به د یو بل سره په جنګ شي، تر دې چې د دواړو لښکرو ترمینځ به شپه راشي او دواړو اړخونو

فَيَفِيْءُ هٰؤُلَاءِ وَ هٰؤُلَاءِ كُلٌّ

فوځیان به خپلو خپلو ځایونو ته بیرته راشي. په دوی کې به هیڅوک غالب نه وي. (نه څوک مغلوب)

غير غَالب و تفنى الشرطة

البته د دواړو ډلو هغه خاص او تاکلی شوي ډلې چې هغه د جنګ کولو لپاره مخکې تللي وي، فنا به شي.

ثُمَّ يشترط الْمُسْلِمُون

بیا (په دریمه ورځ) مسلمانان به یو بل لښکر تاکلو باندې مخکې ولیږي، دې لپاره چې هغوی جنګ وکړي،

شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ

او مړه شي یا بیرته فاتح راشي، نو دواړو اړخونو لښکرې به د یو بل سره په جنګ شي، تر دې چې د دواړو لښکرو

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا غَالِبَةً فيقتتلون حَتّٰى يُنسُوا فَيَفِيءُ هٰؤُلَاءِ وَ هٰؤُلَاءِ

ترمينځ به شپه راشي او دواړو اړخونو فوځيان به خپلو خپلو ځايونو ته بيرته راشي. په دوي کې به هيڅوک

كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى

غالب نه وي. (نه څوک مغلوب) البته د دواړو ډلو هغه خاص او ټاکلی شوي ډلي چې هغه د جنګ کولو لپاره

الشُّرْطَةُ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الرَّابِعِ نَهَدَ إِلَيهِم بقيةُ أهلِ الإِسلَامِ

مخکې تللي وي، فنا به شي. او بيا چې کله څلورم ورځ وي نو د مسلمانانو پاتې ټول فوځ به د کافرو سره د

فيجعلُ الله الدَّبرَةَ عَلَيْهِم

جنګ کولو لپاره ؤوځي او الله تعالی به د هغوی په لاس باندې کافرو ته شکست ورکړي. بهرحال مسلمانان

فيقتتلون مَقْتَلَةً لَمْ يُرَ مِثْلُهَا حَتّٰى

به ډير سخت جنګ وکړي. او داسې به وجنګيږي چې داسې جنګ به کله هم نه وي ليدلی شوی، تردې که يوه

إِنَّ الطَّائِرَ ليمر بجنابتهم فَلَا يُخَلِّفُهُمْ

مرغۍ د لښکر په خلکو باندې د پاسه تيريدل او غواړي نو هغوی به شاه ته پرې نږدي. يعني د هغوی نه به

حَتّٰى يَخِرَّ مَيِّتًا فَيَتَعَادَّ بَنُو الْأَبِ كَانُوا مِائَةً

مخکې نشي تيريدلی چې په زمکه به راوګوزار شي. بيا د يو پلار ځامن چې د هغوی شميره به سل وي. خپل به

فَلَا يَجِدُونَهُ بَقِيَ مِنْهُمْ إِلَّا الرَّجُلُ الْوَاحِدُ فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ

شمار شروع کړي. نو په هغوی کې به فقط يو کس بيا مومي. نو په داسې صورت کې به کوم مال غنيمت

يُفْرَحُ أَوْ أَيِّ مِيرَاثٍ يقسم ؟ فَبينَا هُمْ كَذٰلِكَ

د خوشحالۍ سبب وي. او کوم ميراث به تقسيم شي؟ بهرحال مسلمانان به دې حالت کوي چې ناڅاپه د يو

إِذْ سَمِعُوا بِبَأْسٍ هُوَ أَكْبَرُ مِنْ ذٰلِكَ فَجَاءَهُمُ الصَّرِيخُ :

سخت جنګ خبر به راشي. چې هغه د اول جنګ نه هم ډير غټ او خطرناک به وي. بيا به مسلمانانو دا اوازاونه

أَنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ فِي ذَرَارِيهِمْ فَيَرْفُضُونَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ

واوري چې د دوي په نشتوالي کې دجال د هغوی اهل او عيال ته رسيدلی دی. هغه مسلمانان به د خپل لاس

وَ يُقْبِلُونَ فَيَبْعَثُونَ عَشَرَ فَوَارِسَ

شيان ګوزارولو باندې د جال ته مخه وکړي، او هغوی به خپل لس سپاره مخکې وليږي دې لپاره چې د دښمن

طَلِيعَةً ". قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
په اړه باندې باندې خبر ترلاسه کړي. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي ؤو چې مسلمانان به کوم سپاره مخکې ليږي يقينًا
إِنِّي لَأَعْرِفُ أَسْمَاءَهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ وَأَلْوَانَ خُيُولِهِمْ
زه د هغوی او د هغوی د پلارانو نومونه هم پيژنم او دا هم پيژنم چې د هغوی اسونه به په څه رنګ وي. د غه شان
هُمْ خَيْرُ فَوَارِسَ أَوْ مِنْ خَيْرِ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْض يَوْمَئِذٍ . رَوَاهُ مُسلم[1]
هغوی به غوره سپاره وي. يا يې او فرمايل چې هغوی به د غه وخت په مخ د زمکه باندې غوره سپارو نه وي.

توضيح: لايقسم: يعنې د هغوی ميراث به نشي تقسيميدلی . د دې وجه به دا وي چې ميراث اخستونکی به هيڅوک پاتې نه وي نو بيا به ميراث په چا باندې تقسيم شي؟ **ولايفرح:** يعنې په دې فتح کې چې کوم مال غنيمت لاس ته راشي، په هغې باندې به هيڅوک خوشحاله نه وي، ځکه چې ټولې کورنۍ به په دې جنګ کې شهيداني شوي وي. نو بيا به څوک خوشحاله وي؟ **شرطة للموت:** شرطه جماعت، طائفه او ډلې ته ويلی شويده. مطلب دا دی چې مسلمانان به د کافرو په مقابله کې يو جنګيالۍ ډله جوړه کړي او هغه ډله به په مرګ باندې لوظ وکړي. چې يا خو به غالب شو يا به مرګ ته غاړه ورکړو! په قاماوسکې يې د شرطه په اړه ليکلي دي: (المرقات ۹/۳۰۹)

وهم كتيبة تشهد الحرب وتهيأ للموت وقيل سموا بها لانهم يشترطون ان يتقدموا ويعدوا انفسهم للهلكة اى ان المسلمين يبعثون مقدمتهم على ان لاينهزموا بل يتوقفوا ويثبتوا الى ان يقتلوا او يغلبوا. (المرقات ۹/۳۱۰)

د دې حديث د مجموعې مفهوم نه دا خبره ښکاره کيږي چې د کافرو په ډله باندې درونډ بريد کول او هغوی تباه کول او په هغې کې خپل ځان په داؤ لګول منع نه دي. بلکې د دې حديث نه ثابت دي چې کله يو مجاهد په مرګ باندې لوظ او وعده کولو سره مخکې ځي او په خندا باندې مرګ ته غاړه ورکوي نو هغه ته که ته څه هم او ايې . په حقيقت کې هم دا خودکش بريد دی. چې دا په حقيقت کې د نورو د کَش بريد دی. او فيقتلون او ويقتتلون سره برابر دي. نن سبا خلک شور کوي چې دا ناجائز دي. که د خپل ځان جنګول بند شي . د جهاد تصور ختم شي، خودکش بريد د جهاد په څو صورتونو کې يو انتهايي صورت دی. خلکو لپاره پکار دي چې په هغه اسبابو باندې سوچ وکړي چې د کومو اسبابو يو ديندار او هوښيار سړی په دې اقدام باندې مجبور کړيدی. بلکې نابالغ ماشومان دې

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۲۳ رقم الحديث (۲۸۹۹-۳۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

حالاتو لیوني کېږي ، خود کش برید کونکی د چا نه مشوره نه اخلي، څه چې کوي په خپله ذمه وارۍ او مجبورۍ نه يې کوي. حکومت څوک ذمه وار ګرځوي ، بلکې په خپله پالیسۍ باندې دې غور وکړي. **شرطة للموت:** یعنې بمبار او خود کش ډلې نوم دی.پاس چې ملا علی قاري چې کوم عربي عبارتونه د دې حدیث په تشریح کې ذکر کړیدي. هغه هم په غور سره لاوستل غواړي.امام محمد په سیر کبیر کې د خود کش بریدونو د جواز فتوی ورکړې ده.

لاترجع: دا جمله **شرطة للموت** لپاره بیان او صفت کاشفه دی.

يفئ: رجوع او د ستنیدلو په معنی دی. یعنې د شپې د راتلو د وجې نه د واړو اړخونو خلک به د میدان جنګ نه بیرته لاړشي.

نهد: ای قام یعنې په څلورمه ورځه د مسلمانانو وړه ډله د برید لپاره پاڅیږي.

الدبرة: د ادبار نه دی.شکست ته وايي. یعنې کافر به شکست وکړي. (المرقات ۹/۳۱۱)

جنبات: اطراف او غاړو ته وايي. (المرقات ۹/۳۱۲)

فلا يخلفهم: د باب تفعیل نه شاه پرېخودلو په معنی دی.یعنې هغه مرغې به د مقتولینو مړې شاه پرې نږدي.بلکې مخکې به مړه شي. څکه چې مړي به ډیر وي. او خاوسا شوي به وي. د دې بدبو د وجې نه به مرغۍ مړه شي. مطلب دا دی چې دمړو میدان به دومره فراخه وي چې مرغۍ به په الوتنه کې مړه شي او د مړو نه به وانوړي. **فيعتاد بنو الاب:** یعنې د یو پلار اولاد بلکې ټوله کورنۍ چې کله وشماري نو د خاندان سل کسانو کې به یو سړی بچ شوی وي. نو آیا غنیمت به تقسیم شي؟ او په دې باندې به څوک خوشحاله شي. او څه میراث به وي او څه به د دې تقسیم وي؟(المرقات ۹/۳۱۲)

میدان جهاد کې د تکبیر نعره غټه وسله ده

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : هَلْ سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه چې آیا تاسو د کوم داسې ښار
جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ ؟ قَالُوْا : نَعَمْ
په اړه باندې اوریدلي چې د هغې یو اړخ ته سمندر دی او یو اړخ ته ځنګل دی؟ صحابؤ عرض اوکړو چې هو
يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ : " لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتَّى
یارسول الله! نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو چې د حضرت اسحٰق

يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسحاق
د اولاد نه اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان د دې ښار د خلکو سره جنګ اوو نکړي. د حضرت اسحٰق د اولاد
فَإِذا جاؤوها نَزَلُوا فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ
نه به دغه خلک دې ښار ته راشي او دلته به ديره شي. خو دغه خلک به د ښار د خلکو سره په اوسلو باندې
وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ
جنګ نکوي او نه به د هغوی اړخ ته غشي ګوزاروي بلکې د لا اله الا الله والله اکبر چيغه به او چته کړي
فَيَسْقُطُ أحدُ جانبيها. قَالَ ثَوْرُ بنُ يزيد الرَّاوِي:
او د ښار دواړو اوخ ته ديوالونو کې به يو ديوال ګوزار شي. د دې حديث راوي ثور بن يزيد ويلې دي چې زما
لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ : " الَّذِي فِي الْبَحْرِ
خيال دی چې حضرت ابو هريره دلته د سمندر اړخ ته ديوال ويلی ؤو. بيا به دغه خلک په دويم ځل
يَقُولُونَ الثَّانِيَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ثُمَّ
لا اله الا الله والله اکبر او ايي او د ښار دويم اړخ ته ديوال به ګوزار شي. د دې نه وروسته به دغه خلک په
يَقُولُونَ الثَّالِثَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ فَيُفَرَّجُ لَهُم
دريم ځل باندې لا اله الا الله والله اکبر او ايي نو د دوی لپاره ښار ته د ننوتلو لارې فراخه شي او هغوی به ښار
فيدخلونها فيغنمون فبينا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ
ته ننوځي. بيا به هغوی مال غنيمت راغونډوي. او دا مال غنيمت به خپل مينځ کې تقسيموي چې ناڅاپه به
إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ فَقَالَ: إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ
آواز راشي چې څوک اواز کوي چې دجال راوتلی دی. (دې اواز اوريدلو سره به) هغوی هر څه پريخودلو سره
ويرجعون". رَوَاهُ مُسلم[1]
(د جال سره د جنګ کولو لپاره) راستانه شي.

توضيح: مدينة: د دې نه ځينو شارحينو قسطنطنيه مراد اخستلي ده، خو ځيني نورو شارحينو ويلې

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۸ رقم الحديث ۲۹۲۰-۷۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چې دا کوم بل ښار دی. ځکه چې دلته د جنګ ذکر نشته دی. ځکه چې د قسطنطنيه په فتح کيدلو کې د جنګکېدل لازمي دي. خو حقيقت دا دی چې دا د قسطنطنيه ښار دی ، البته صحيح صورت حال دا دی چې د دې ښار نه ګير چاپيره به هغه وخت ديوال وي، چې ښار ته ننوتلو لپاره به لاره نه وي، نو مجاهدين به ژوره سره د تکبير چيغه اوچته کړي ، چې په هغې سره به د ښار ديوال ګوزار شي، تردې حده پورې خو به جنګ نه کيږي. البته د دې نه وروسته چې کله مجاهدين ښار ته ننه وي نو هلته به سخت جنګ وشي او ډير مال غنيمت به لاس ته راشي، بنو اسحاق اويا زره (۷۰۰۰۰) کسانو د سمندر په غاړه په اسلامي لښکر کې ګډون کول د دې خبرې دليل دی چې دا د قسطنطنيه ښار دی. او دا واقعه د قيامت په نښو کې غټه نښه ده . او ملحمة الکبرٰی نه وروسته د دې تفصيل دی.بنو اسحاق د بنو اسماعيل په مقابل کې اهل کتابو ته ويلې شويدي. دا به د شام مسلمانان وي، چې د اهل کتابو نه به وي. (المرقات ۳۱۳-۹/۳۱۴)

۱ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

قيامت د نښو ترتيب

﴿۱٤﴾ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ
حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د بيت المقدس په پوره توګه آباديدل
وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ
به د مدينې منورې د خرابئ سبب وي. او د مدينې منورې خرابي به د فتنو او د ټولو نه غټ جنګ د راتګ
وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ فَتْحُ قُسْطَنْطِيْنِيَّةَ
سبب وي. او د دې ټولو نه د غټ جنګ راتګ به د قسطنطنيه د فتح کيدلو سبب وي. او د قسطنطنيه
وَفَتْحُ قُسْطَنْطِيْنِيَّةَ خُرُوجُ الدَّجَّالِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُد[1]
فتح کيدل به د دجال د راښکاره کيدلو سبب او د دې نښه به وي.

توضيح:عمران بيت المقدس: يعنې کله چې بيت المقدس په آخرې زمانه کې خرابئ او بربادئ نه وروسته په پوره توګه آباد شي نو دا به د دې خبرې نښه وي چې په دې باندې به د عيسايانو قبضه شي او په شام باندې به د عيسايانو غلبه د مدينې منورې لپاره د خرابئ سبب جوړيږي، ځکه چې د مدينې نه کله خلک د مقابلې لپاره لاړ شي، نو مدينه به خالي پاتې شي، او کمزورې به شي، هم دا

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۸۲ رقم الحديث ۴۲۹۴ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۰ رقم الحديث ۴۰۹۲ .

خرابې ده . په دې علاماتو کې هر سابق د لاحق لپاره علامت دی . عمران بیت المقدس د یثرب د خرابئ نښه ده . که متصله وي او که فاصله وي . او خرابې مدینة الملحمة الکبری لپاره نښه ده . اګر که فاصله وي.او ملحمة الکبری د قسطنطنطه د فتح نښه ده .او هغه د خروج دجال نښه ده . که فاصله پکې وي ا که متصل وي . په مینځ کې د دجال د راوتلو دروغژن اعلان به هم وشي، ملحمة الکبری به د مسلمانانو او عیسایانو ترمینځ د یو غټ جنګ نوم دی . کافر به نهه لاکهه شپیته زره وي، خو په آخر کې به شکست وخوري. (المرقات ۹/۳۱۵)

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: الملحمة الْعُظْمَى وفتح القسطنطينة
او حضرت معاذ بن جبل فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنګ عظیم راتګ او د قسطنطنیه فتح
وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1]
کېدل او د دجال راوتل دا ټول به په اؤوه میاشتو کې وي.

په دې حدیث باندې یو اشکال دی، سوال او جواب وروستی ۱۶ حدیث کې راروان دی.

﴿۱۶﴾ وَعَن عبد الله بن بُسر أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ
او حضرت عبدالله بن بسرنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: جنګ عظیم او ذکر شوی ښار
وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ وَيَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: هَذَا أَصح[2]
یعنې قسطنطنیه د فتح کیدلو مینځنی وخت به شپږ کاله وي، او په اؤوم کال به دجال راوځي،

توضیح: ست سنین: یعنې ملحمة الکبری او قسطنطنیه د فتح ترمینځ زمانه به شپږ کاله وي. (المرقات ۹/۳۱۷)

سوال: پاس حدیث نمبر: ۱۵ کې ملحمة الکبری او فتح قسطنطنیه او خروج دجال یې په اؤوه میاشتو کې دننه ذکر کړیدي او حال دا دی چې دلته ملحمة الکبرٰی او فتح قسطنطنیه ترمینځ شپږ کاله زمانه ویلی شویده. او په اؤوم کال باندې خروج دجال ویلی شویدی. په دواړو حدیثونو کې دا واضحه تعارض دی. د دې جواب څه دی؟

جواب: علماؤ دا جواب کړی دی چې دا دویم حدیث نمبر: ۱۶ صحیح دی . او دا راجح دی. په اول روایت باندې اصحاب الجرح کلام کړیدی. شاید هلته د راوي نه خطاء شویده، چې هغه د اوه کاله په ځای باندې اوه میاشتې ویلي دي.

---

(۱) أخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۸۳ رقم الحديث (۴۲۹۵) والترمذي في السنن ۴/۴۴۲ .

(۲) أخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۸۳ رقم الحديث ۴۲۹۶ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۷۰ رقم الحديث ۴۰۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مدينې منورې محاصره

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ

او حضرت ابن عمر فرمايي چې هغه وخت راتلونکی دی چې مسلمانان به په مدينه کې محاصره شي

حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحُ وَسَلَاحُ: قَرِيبٌ مِنْ خَيْبَرَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

تردې چې د هغوی ډېر لېرې مورچه به سلاح وي، او سلاح د خيبر سره نژدې د يو ځای نوم دی.

توضيح: المدينة: دلته د مدينې نه مراد مدينه منوره ده. چې دښمن به د دې محاصره وکړي. دا به د عيسائيت د خپرېدلو زمانه وي، او دغه وخت به د حضرت مهدی ظهور وشي، د مدينې په دفاع کې به مسلمانان مسلح مورچې جوړې کړي، نو کومه مورچه چې د ټولو نه لېرې وي، هغه به د سلاح په مقام باندې وي. سلاح د خيبر سره نژدې د يو ځای نوم دی. **مسالح**: دا د مسلح جمع ده. او مسلح هغه مورچې ته وايي چې په هغې کې اوسلوااله ځوکۍ وي. دا پيشنګوئي د هغه وخت په اړه باندې ده کله چې عيسائيت مدينې ته رانژدې شي دغه وخت به د حضرت مهدی د ظهور وي (المرقات ۹/۳۱۷)

د ظهور مهدی نه مخکې يو عظيم جنګ

﴿۱۸﴾ وَعَنْ ذِي مِخْبَرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "

او حضرت ذی مخبر فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې مسلمانانو! هغه وخت راتلونکی دی

سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا

چې تاسو به د روميانو سره داسې جوړه اوکړئ چې هغه به د امن صلح وي. او بيا به تاسو او روميان خپل مينځ

فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ فَتُنْصَرُونَ

کې د خپل ځان نه غيره د يو بل دښمن په خلاف به جنګ کوئ نو ستاسو به مرسته او ملاتړ وشي. تاسو به

وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ ثُمَّ تَرْجِعُونَ

مال غنيمت ترلاسه کړئ، او تاسو به سلامت ياست، د دې نه وروسته چې کله تاسو بيرته راستانه شئ نو

حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ

تاسو او روميان به په يو داسې ځای کېديره واچوئ چې هغه به شنه وي، او هلته به غونډئ وي، هلته به د

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۴۹ رقم الحديث ۴۲۹۹ وأحمد في السنن ۲/۴۰۲ .

فَيَرْفَعُ	رَجُلٌ	مِنْ	أَهْلِ	النَّصْرَانِيَّةِ	الصَّلِيبَ	فَيَقُولُ:	غَلَبَ الصَّلِيبُ

عیسایانو یو سړی صلیب اوچتولو باندې او ایې چې د صلیب غلبه شویده، په دې خبره باندې به د مسلمانانو

فَيَغْضَبُ	رَجُلٌ	مِنَ	الْمُسْلِمِينَ	فَيَدُقُّهُ	فَعِنْدَ	ذٰلِكَ	تَغْدِرُ	الرُّومُ

نه یا و سړی په غصه شي، نو هغه مسلمان به دغه صلیب مات کړي، او دغه وخت نه به یو اځې رومیان وعده

وَتَجْمَعُ	لِلْمَلْحَمَةِ "	وَزَادَ	بَعْضُهُمْ:

ماته کړي او صلح به ختمه کړي بلکې د جنګ لپاره به خپل خلک راغونډ کړي. ځینو راویانو دا الفاظ نقل

فَيَثُورُ	الْمُسْلِمُون	إِلَى	أَسْلِحَتِهِمْ	فَيَقْتَتِلون

کړیدي چې د دې نه وروسته به مسلمانان خپلو اوسلو ته ورمنډه کړي او په هغې سره جنګ کوي. نو الله تعالی

فيكرم الله تِلْكَ الْعِصَابَةَ بِالشَّهَادَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

به د مسلمانانو دې جماعت ته د شهادت فضیلت او عظمت ورکړي.

د حبشې یو سړی به په کعبه ګوزار کړي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې نبي عليه السلام وفرمايل:

اتْرُكُوا	الْحَبَشَةَ	مَا تَرَكُوكُمْ

تاسو حبشو لره د هغوی په حال پریږدئ او د هغوی سره هیڅ قسم تعارض مکوئ، تر هغه وخته پورې چې هغوی څه ونه وایي او

فَإِنَّهُ	لَا	يَسْتَخْرِجُ	كَنْزَ	الْكَعْبَةِ	إِلَّا

تاسو هغوی ته تعارض مکوئ او په دې کې هیڅ شک نشته چې د کعبې خزانه به یو حبشې راوباسي چې

ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

د هغه دواړه پونډۍ به وړې وړې وي [ابو داؤد]

توضیح: اتركوا لحبشة: یعنې په حبشو کې د شر او فساد کې دا سپرغۍ پرته ده. ترڅو چې هغوی بريد کړ نشي. تاسو د هغوی د راپارولو کوشش مه کوئ، ځکه چې د هغوی په فساد باندې به د بيت الله بې عزتې وشي، خزانه به لوټ کړی شي، او بيت الله به ګوزار کړی شي. (المرقات ۹/۳۱۹)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴۸۱/۲ رقم الحديث ۴۲۹۲ وابن ماجه في السنن ۱۳۶۹/۲ رقم الحديث ۴۰۸۹.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۴۹۰/۴ رقم الحديث ۴۳۰۹ والنسائي في السنن ۴۴/۶ رقم الحديث ۳۱۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com

سویقتین: دا د ساق تصغیر دی. په دې کې دهغ سړي تذلیل دی.د عامو حبشو خپې دغه شان دي. د دې سړې صفت افحج هم راځي. افحج څکه راځي، چې د خپو خپړې د مزل کولو په وخت کې یو بل سره نژدې نژدې وي.او د خپو غوزان یې د یو بل نه لرې وي. چې هغې ته پهډا وایي. دا افسوسناکه واقعه ده .د حضرت عیسی د زماني نه وروسته ده . چې په دنیا کې به د الله الله کولو والا هیڅوک پاتې نه وي.

حبش او ترکان مه تنګوئ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: دَعُوا الْحَبَشَةَ
او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابو کې یو صحابي نه روایت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: تاسو حبش د
مَا وَدَعُوكُمْ وَاتْرُكُوا التُّرْكَ
هغوی په حال باندې پرېږدئ ترڅو چې هغوی تاسو په خپل حال پرېږدي او ترکان هم د هغوی په حال پرېږدئ ،
مَا تَرَكُوكُمْ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]
ترڅو چې هغوی تاسو په خپل حال پرېږدي.

توضیح: یعنې ترکان او حبشو ته ترهغه وخته پورې څه مه وایې چې تاسو ته څه نه وایي.

پوښتنه : دلته اعتراض دا دی چې قرآن کریم کې ﴿قَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً﴾ واضح اعلان شته دی. چې د ټولو کافرو سره جنګ او کړئ . بیا دلته حبش او ترکانو سره د جنګ نه کولو څه مطلب دی؟

جواب: د دې پوښتنې جواب دا دی چې د دې قومونو سره جنګ نه کول په هغه وخت باندې محمول دي کله چې جهاد د فرض کفایه په درجه کې وي . که جهاد فرض عین شي نو بیا دغه وخت د دې قومونو سره جنګ کول به فرض وي. عرب جند الاسلام ؤو او صحابه جند الله او جند الاسلام ؤو.د هغوی شمیره دومره هم ډیره نه وه. د حبشو علاقه د هغوی نه لرې هم وه . سخت مزل والا هم وه . جهاد فرض کفایې هم ؤو . هغه وخته دغه قومونو سره د جنګ نه کولو حکم وشو ، دې لپاره چې جند الاسلام په نورو اطرافو کې کار وکړي،خو که ضرورت پیدا شو نو بیا به د دوې سره هم جنګ کول وي، نو د ترکانو سره جنګ وشو او بیا به هم کیږي، کله چې هغوی په کفر باندې وي. (المرقات۹/۳۲۰)

﴿۲۱﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيثٍ
حضرت بریده اسلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې هغه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دې حدیث په اړه چې د هغې ابتداء

---

[1] اخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۵۸ رقم الحدیث ۴۳۰۲ والنسائي في السنن ۶/۴۴ رقم الحدیث ۳۱۷۷.

يُقَاتِلُكُمْ قَوْمٌ صِغَارُ الْأَعْيُنِ يَعْنِي التُّرْكَ.
داسې ده چې تاسو سره به د وړو سترګو والا قوم یعنې ترک قوم جنګ کوي. دا هم روایت کړل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ
قَالَ: تسوقونهم ثَلَاثَ مَرَّاتٍ حَتَّى تلحقوهم بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ
وفرمایل: تاسو به دغه قوم خلک درې ځل په شاه وزغلوئ. تردې چې تاسو به دوې لره جزیره عرب پورې وشړئ
فَأَمَّا السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ
کله چې تاسو هغوی ته په اول ځل باندې شکست ورکړئ نو تختیدونکې خلک به خپل ځانونه روغ وباسي.
وَأَمَّا فِي الثَّانِيَةِ فينجو بعض وَيهلك
کله چې په دویم ځل باندې شکست ورکړئ نو څه به په هغویکې وتختي او څه به ووژلی شي، او کله چې به
بعض وَأَمَّا الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ
دریم ځل باندې هغوی ته شکست ورکولو باندې وزغلوئ نو هغوی به د جرړې نه ختم شي یعنې دا دریم
أَوْ كَمَا قَالَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]
ځل شکست به هغوی لره بیخې ختم کړي. یا یې د دې په شان وفرمایل.

توضیح: يعنى الترك: دا د کوم راوي د اړخ نه د صغار الاعين تفسير دی. **تسوقونهم:** یعنې تاسو به درې ځل هغوی ته شکست ورکړئ. تردې چې تاسو به هغوی جزیره عرب پورې وشړئ، حجاز، یمن، او یمامه ته جزیرة العرب وایي.

السیاقة الاولی: دا د هغوی د تختیدلو تفصیل دی، چې په اول ځل کله وتختي نو بچ به شي، په دویم ځل به څه بچ وساتل شي او په دریم ځل به ټول مړه شي. (المرقات ۹/۳۲۱)

د بغداد په باره کې پیشنګوئي

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَنْزِلُ أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي
او حضرت ابو بکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زما د امت خلک به یوې ټیټې
بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ عِنْدَ نَهَرٍ
زمکې ته رسیدلو باندې هلته قیام وکړي، او د هغه ځای نوم به بصره کیږدي، هغه ځای به یو نهر ته نژدې

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۸۷ رقم الحديث ۴۳۰۵ وأحمد في المسند ۵/۳۴۸

Maktaba Tul Ishaat.com

يُقَالُ لَهُ: دِجْلَةُ يَكُون عَلَيْهِ جِسْرٌ يَكْثُرُ أَهْلُهَا

وي. چې هغې ته به دجله ويلی کيږي. په دې نهر باندې به پُل وي، په بصره کې د اوسيدونکو آبادي به ډير

وَيَكُون مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ وَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ

شي او د دې شمېره به د مسلمانانو په (غټو) ښارونو کې کيږي، او بيا چې کله آخرې زمانه شي نو د قنطورا

عِرَاضُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الأَعْيُنِ

اولاد به د دې ښار د خلکو سره د جنګ کولو لپاره راشي، د هغوی خلي به پلني او سترګې به يې وړې وړې وي

حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ

دغه خلک به د نهر په غاړه باندې ديره واچوي نو (دوې ته په کتلو باندې) د ښار خلک به په درې برخو کې

فِرْقَةٌ يَأْخُذُون فِي أَذْنَابِ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا

تقسيم شي. يوه برخه خو به د غواګانو لکئ او ځنګلو کې پناه واخلي. حالانکې دغه خلک به د مرګ او تباهي

وَ فِرْقَةٌ يَأْخُذُون لِأَنْفُسِهِمْ

سره مخامخ شي. او دويمه برخه به د قنطورا د اولاد نه د خپل ځانونو لپاره امان غواړي، خو دغه خلک به هم

وَ. هَلَكُوا وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُون ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ

مرګ او تباهي سره مخ شي، او دريمه برخه به هغه وي چې هغوی به خپل اولاد او خپلې ښځې شاه ته پرېږدي او

وَ يُقَاتِلُونَهُمْ وَ هُمُ الشُّهَدَاءُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

باندې د دښمنانو سره به جنګ کوي. او په دوي کې به اکثر وژلی شي، چې هغوی به د شهادت مرتبې ته ورسيږي

توضيح: غائط: يعنې يو خکته او خور جنه زمکه باندې به کوز شي. چې هغې ته به دغه خلک بصره وايي. دلته د بصره نه مراد بغداد دی. ځکه چې د دجله د بغداد په خوا باندې تيريږي. د بصرې په خوا باندې نه تيريږي. ځکه چې په هغه زمانه کې اباديې خپره وه ، او د بصرې نه ګيرچاپيره ټولې علاقې آبادي وي. ګويا د بغداد نوم وروسته مشهور شو. مخکې دا ټولې علاقې په بصره او د هغې په چاپيريال کې شمارل کيدلې، ځينو شارحينو په دې حديث کې د بصرې نه مشهوره بصره مراد نه ده اخستلې کومه چې نن سبا مشهوره ده . بلکې بغداد کې دننه د يو ځای نوم بصره ؤو. چې هغې ته

[1]) اخرجه ابوداود في السنن ۲/۴۸۷ رقم الحديث ۴۳۰۶ واحمد في المسند ۵/۴۵ .

به باب البصره ویلی کیدله. هغه هغه وخت په نوم سره هم مشهوره وه. بهرحال دلته په ... د جلې د ذکر نه هم معلومیږي چې مراد بغداد دی. دغه شان ترکانو په بغداد باندې برید کړی ؤو. بصره باندې کله هم برید نه دی شوی. مستعصم بالله په دورحکومت کې د تاتاریانو هلاکو خان بغداد باندې برید کړی ؤو. دغه شان په دې حدیث کې دي چې هغه ښار به د مسلمانانو غټ ښار جوړیږي، دا صفت هم د بغداد دی. **بنو قنطورا**: دا د ترکانو د مشر نیکه نوم دی. ځینو ویلې دي چې قنطورا د یوې وینزې نوم ؤو چې د ابراهیم وینزه وه. د هغې د خیټې نه ترک پیدا شویدي. (المرقات ۹/۳۲۳)

اذناب البقر: یعنې یوه طبقه خو به دنیا پسې ولګیږي، دغویان لکۍ به نیولو باندې قولبې کولو کې شروع شي، جهاد به پریږدي، نو تباه به شي، دویمه طبقه به د بنوقنطورا نه امان او غواړي، دا به هم تباه شي، دریمه طبقه به ښه جهاد وکړي، هغه به کامیابه شي، د هلاکو خان نه څه خلکو امان او غوختلو، هغه ټول ؤوژل. د بغداد په تباهۍ کې هلاکو خان یو کروړ شپږ لاکهه انسانان وژلي ؤو. بیا د هغوی د نسل نه د نورالدین زنګي نه الله تعالی د دین خدمت واخستلو، چې د هغه د باقیات صالحات نه صلاح الدین ایوبي ؤو. چا چې د هغه مشن پورا کړو. تفصیل تیر شویدی. (المرقات ۹/۳۲۳)

د بصرې په باره کې پیشنګوئي

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَا أَنَسُ إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا

او حضرت انس نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: انس! خلک به څه نوي ښارونه آباد کړي

وَإِنْ مِصْرًا مِنْهَا يُقَالُ لَهُ: الْبَصْرَةُ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ دَخَلْتَهَا

او په دې ښارونو کې به یو ښار بصره وي، نو که ته د دې ښار خوا باندې تیریږې یا دې ښار ته دننه لاړ شې

فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا وَكَلَأَهَا

نو د دې هغه علاقې ته نژدې هم مه ورځه چیرته چې سخته زمکه ده. مه هغه ځایونو ته نژدې ورځه چې هغې ته

وَنَخِيلَهَا وَسُوقَهَا وَبَابَ

کلاء ویلی کیږي. دغه شان د هغه ځای د کهجورو باغونه او د هغه ځای بازار او د هغه ځای باچاهانو او سردارانو

أُمَرَائِهَا وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا فَإِنَّهُ

دروازو نه هم لیرې اوسیږه، فقط د دې ښار د غاړې برخه چې هغې ته ضواحي ویلی کیږي، پروت او سیږه ځکه

يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ

چې هلته په زمکه ... ډونکي کانې وریدل او د سختو زلزلو عذاب به نازلیږي، دغه شان په دې علاقو کې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورجْفٌ	وقومٌ	يبيتُون
به یو داسې قوم وي چې د هغې خلک به د شپې مزو او راحت کې اوده شي خو چې سحر پا ځیږي نو هغوی		
ويصبحون قردة وَخَنَازِير "رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"(١)		
شکلونه به د شادوګانو او خیزیرانو په شان وي.		

توضیح: **یمصرون**: یعني خلک به نوې نوې ښارو آباد کړي، ویلی کیږي چې بصره د حضرت عمر فاروق په دور کې یو مشهور صحابی حضرت عتبه بن غزوان آباده کړې وه . په دې ښار کې کله هم د بتانو عبادت نه دیشوی. نن سبا امریکې په عراق باندې قبضه کړي ده .په بصره کې اکثره آبادې د شیعګانو ده . او په هغوی باندې د برطانیه فوځونه مقرر دي. (المرقات ۹/۳۲۴) **سباخها**: سبخة او سبخة سختې او خوره زمکي ته وایي. چې هغه للمه وي. **کلائها**: کلاء هم د یو ځای نوم دی . دواړه ځایونه په بصره کې دي. **ضواحی**: د ضاحیة جمع ده .د ښار غاړې ته وايي. او د بصرې د یو ښار نوم هم دی. کلاء څرید اه ځایٔ ته وايي. (المرقات ۹/۳۲۴)

بهرحال نبي کریم ﷺ حضرت انس د بصرې اطرافو او باندو کې د اوسیدلو حکم اوکړو او په ښار کې د اوسیدلو نه یې منع کړو ځکه چې دا ورته ویلی شوي ؤو چې په بصره کې د ننه قدرهؤو جبره ، معتزله او د خوارجو زور به شي او په دغه خلکو کې به څو خباثتونه وي ، چې د هغې د وجې نه به هغوی باندې قذف، خسف او د مسخ عذابونه راځي ، ځکه یې د هغوی نه غاړې ته د اوسیدلو حکم ورته وکړو.

د بصرې د یو کلي د یو جومات فضیلت

﴿٢٤﴾وَعَن	صَالِح	بن	دِرْهَم	يَقُولُ:	انْطَلَقْنَا	حَاجِّين	فَإِذَا	رَجُلٌ	
او حضرت صالح بن درهم (تابعی) فرمايي چې مونږ د حج لپاره (د بصرې نه مکي) ته لاړو . نو هلته مونږ یو سړی									
فَقَالَ	لَنَا:	إِلَى	جَنْبِكُمْ	قَرْيَةٌ					
ولاړ وليدلو . هغه زمونږ نه پوښتنه او کړه چې آیا ستاسو د ښار په چاپیریال کې یو کلی شته چې هغې ته ابله									
يُقَالُ	لَهَا:	الأُبُلَّةُ؟	قُلْنَا:	نَعَمْ.	قَالَ:	مَنْ	يَضْمَنُ	لِي	مِنْكُمْ
ویلی کیږي، مونږ وویل هو شته! هغه وویل چې په تاسو کې کوم سړی د دې ذمه اخلي چې هغه به زما د اړخ									

(١) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۸۸ رقم الحديث ۴۳۰۷.

أَنْ يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعًا وَيَقُولُ هٰذِهِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ؟

نه مسجد عشار کې دوه رکعته بلې څلور رکعته لمونځ وکړي، او دا اوايي چې د دې لمونځ ثواب دې ابو هريره رضي الله عنه

سَمِعْتُ خَلِيلِي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ

ته ورسيږي. ما د خپل صادق يار ابو القاسم صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي چې يقيناً الله تعالى به د قيامت په ورځ د مسجد

يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

عشار نه شهيدان راپاڅوي، او د بدر د شهداؤ سره به د دې شهيدانو نه غيره هيڅوک نه وي، دا روايت ابو داؤ د نقل

وَقَالَ: هٰذَا الْمَسْجِدُ مِمَّا يَلِي النَّهْرَ وَسَنَذْكُرُ

کړيدى او ويلې يې دي چې دا جومات د بصرې په چاپيريال اړخ کېدى چې هغه د فرات سيند اړخ ته دى.

حَدِيثَ أَبِي الدَّرْدَاءِ: إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ فِي بَابِ: ذِكْرِ الْيَمَنِ وَالشَّامِ . إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى(۱)

او حضرت ابو درداء حديث ان فسطاط المسلمين به مونږ انشاء الله د يمن او شام د ذکر په بيان کې نقل کړو

توضيح: ابن درهم: دا يو تابعي دى. رجل: د دې نه مراد حضرت ابو هريره دى. الی جنبکم: دلته يوه همزه محذوفه ده، أُبُلّی: يعنې ستاسو اړخ ته يو کلي دى. چې د هغې نوم ابله دى. دا د يو مشهور ښار نوم دى. چې بصرې سره نژدې دى. مسجد العشار: دا د يو جومات نوم دى. چې په ابله کېدى. خلک دې جومات ته د برکت په غرض سره لمونځ کولو لپاره راځي. په مقدس ځايونو کې لمونځ کول په هيڅ چا پټ نه دي. دغه شان بل انسان ته وصيت کول چې زما لپاره د ثواب په توګه دا عبادت اوکړه او ايصال ثواب اوکړه، دا جائز دي. دغه شان د چا لپاره د نفلي عبادت ايصال ثواب کول جائز دي. مسجد عشار د شهيدانو په اړه باندې معلومه نشوه چې آيا دا د سابقه امتونو خلک ؤو او که د دې امت شهيدان ؤو. په ظاهره باندې خو داسې ښکاري چې جومات خو پخواني تاريخي جومات دى، البته شهيدان به د دې امت وي، چې د هغوی درجه د بدر او احد د شهيدانو برابر ده. زما يو شاګرد شيخ موسى چې دا وخت په کراچۍ کېدى، هغه د بصرې او سيدونکى ؤو، هغه وويل چې مسجد عشار زمونږ په محله کېدى. خلک يې د زيارت لپاره راځي. (المرقات ۹/۳۲۶)

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۸۹ رقم الحديث ۴۳۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذات د فتنو لپاره بنه دیزؤو

﴿۲۵﴾ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ

حضرت شقیق (تابعی) د حضرت حذیفه نه روایت کوي چې هغه وفرمایل: مونږ د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَقَالَ: أَيُّكُمْ يَحْفَظُ حَدِيثَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په مجلس کې ناست ؤو. چې هغه زمونږ نه پوښتنه اوکړه چې په تاسو کې کوم سړی ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه

فِي الْفِتْنَةِ؟ فَقُلْتُ: أَنَا أَحْفَظُ

حدیث یاد دی چې هغه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فتنې په اړه فرمایلی ؤو. ما وویل: ما ته یاد دی او بیخي هغه شان دی

كَمَا قَالَ: قَالَ: هَاتِ

څنګه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلی ؤو. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل: بنه هغه حدیث بیان کړه. ته د حدیث

إِنَّكَ لَجَرِيءٌ وَكَيْفَ؟

په روایت کې ډیر زړه ور یې. څه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي، هغه نقل کړه، او د هغې کیفیت بیان کړه.

قَالَ: قُلْتُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما بیان کړل چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې د سړي

فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَنَفْسِهِ وَوَلَدِهِ

فتنه د هغه په اهل او عیال کې ده. د هغه په مال کې ده. د هغه په نفس کې ده. د هغه په اولاد کې ده. او د هغه

وَجَارِهِ يُكَفِّرُهَا الصِّيَامُ وَالصَّلَاةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ

په ګاونډ کې ده. د هغه دا فتنه روژې، لمونځ، صدقه، امر بالمعروف او نهی المنکر لرې کوي.

فَقَالَ عُمَرُ: لَيْسَ هَذَا أُرِيدُ إِنَّمَا أُرِيدُ الَّتِي

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل: زما مدعا په دې فتنې سره نه وه، زه خو د هغه فتنې به اړه باندې اوریدل غواړم

تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ. قَالَ: مَا لَكَ وَلَهَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ إِنَّ بَيْنَكَ

چې هغه به د سمندر د چپو په شان چپې وهي! حضرت حذیفه فرمایي چې ما وویل: امیر المؤمنین! نو ستا د هغه فتنې

وَبَيْنَهَا	بَابًا	مُغْلَقًا.	قَالَ:

سره څه تعلق! ستا او د هغې ترمنيځ خو يوه بند هدروازه واقع ده. حضرت عمرو فرمايل چې دغه دروازه

فَيُكْسَرُ	الْبَابُ	أُويفتح؟	قَالَ:	قُلْتُ:

به ماته کړې شي يا به برسيرته کړې شي؟ حضرت حذيفه و فرمايل: ما جواب ورکړو چې دروازه به برسيرته

لَا	بَلْ	يُكْسَرُ.	قَالَ:	ذَاكَ	أَحْرَى

نشي بلکې ماته به کړې شي. حضرت عمرو فرمايل: د دې دروازې په اړه باندې ډېره نژدې ذ حقيقت

أَنْ	لَا	يُغْلَقَ	أَبَدًا.	قَالَ:	فَقُلْنَا	لحذيفة:

خبره داده چې هغه دې کله بند هنشي. د حديث راوي شقيق فرمايي چې ما د حضرت حذيفه نه پوښتنه اوکړه

هَل	كَانَ	عمر	يعلم	مَنِ	الباَبُ؟

چې آيا عمر د دې نه خبرؤو چې د دغه دروازې نه څوک مراد دې؟ حضرت حذيفه و فرمايل: هو!

قَالَ:	نَعَمْ	كَمَا	يَعْلَمُ

حضرت عمر د دې نه خبرؤو. څنگه چې هغه د دې خبرې نه خبرؤو، چې د سبا ورځې نه به مخکې شپه

أَنَّ	دُون	غَدٍ	لَيْلَةً	إِنِّي

راځي او په دې کې هيڅ شک نشته چې ما حضرت عمرته هغه حديث بيان کړو چې په هغې کې خطاگانې

حَدَّثْتُهُ	حَدِيثًا	لَيْسَ	بِالْأَغَالِيطِ	قَالَ:

نشته دې. حضرت شقيق فرمايي چې زمونږ د حضرت حذيفه نه د دې پوښتنې همت ونشو چې د دروازې نه

فَهِبْنَا	أَنْ	نَسْأَل	حُذَيْفَةَ

څوک مراد دي. البته مونږ حضرت مسروق ته ووېل چې ته د حضرت حذيفه پوښتنه اوکړه. نو هغه د

مَنِ	الْبَابُ؟	فَقُلْنَا

حضرت حذيفه نه پوښتنه اوکړه. نو حضرت حذيفه و فرمايل: چې د دروازې نه حضرت عمر رضي الله عنه

لِمَسْرُوقٍ:	سَلْهُ.	فَسَأَلَهُ

مراد دې. يعنې د حضرت عمر رضي الله عنه ذات د يو داسې دروازې په شان دې چې هغې د امت او اسلامې

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ:	عُمَرُ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ[۱]

مملکت کې فتنه او فساد د ننه راتګ نه ايسار کړي ، د هغه نه وروسته د فتنو دروازه برسيرته شوه .

توضيح: لجري: حضرت عمر رضی الله عنه خواته به د ګواه نه بغير چا حديث نشو بيانولو. نو ځکه حضرت عمر رضی الله عنه حضرت حذيفه رَضِیَ الله عنه ته وويل چې ته ډير زړه ور يې . بنه اوس بيان وکړه. حضرت حذيفه رضی الله عنه په دوه قِسمه فتنو کې د يو قِسم بيان وکړو.
ياده دې وي چې فتنې په دوه قِسمه دي. يو فتنه خو اهل او عيال او مال ومتاع سره اړه لري. دويمه فتنه هغه ده چې دهغې تعلق د قتل او قتال او جدا والې او بيلتون سره وي . حضرت حذيفه رضی الله عنه داسې ګڼړله چې حضرت عمر رضی الله عنه د اول قِسم د فتنې په اړه باندې پوښتنه کوي. نو هغه بيان شروع کړو.نو په دې سره حضرت عمر رضی الله عنه وفرمايل چې هغه دويم قِسم فتنه اووايه چې هغه د سمند د چپو په شان به چپې وهلاوسره راروانه وي.حضرت حذيفه رضی الله عنه وکړو.
او وي فرمايل: چې ستا د هغې سره څه تعلق دی؟ ته خو دهغې نه ډير لېري يې. ستا او د هغه فتنو ترمينځ يوه بنده دروازه ده . حضرت عمر رضی الله نه پوښتنه وکړه چې هغه دروازه به برسيرته کړی شي او که ماته به کړی شي؟ حضرت حذيفه رضی الله عنه وفرمايل: ماته به کړی شي. حضرت عمر رضی الله عنه وفرمايل: چې بيا خو به دا بنده نه کړی شي. دلته د دروازې تشبيه د حضرت عمر رضی الله عنه د ذات سره ورکړيشويده .د دروازې برسيرته کېدل دا طبعي مرګ راتګ ته اشاره وه. او ماتيدل دهغه شهيد کيدلو ته اشاره وه . نو حضرت عمررضی الله عنه ابولؤلؤومجاوسی شهيد کړو نو دا دروازه ماته شوه ، اوس نه شي بنديدلی. حضرت عمر رضی الله عنه ته د دې بيان نه بنه معلومه شوي وه چې د فتنو مخې ته بندهدروازه دهغې خپل ذات دی . کله چې حضرت عمر رضی الله عنه شهيد کړی شو، نو د فتنو دروازې برسيرته شوي. او حضرت عثمان رضی الله نه شهيد کړی شو.

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: فَتْحُ القسطنطينية مَعَ قِيَامِ السَّاعَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[۲]

او حضرت انس نه روايت دی چې هغه وفرمايل: د قسطنطنيه فتح کېدل به قيامت ته نژدې وي.

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۸ رقم الحديث (۱۴۴-۲۶) والبخاري في صحيحه رقم الحديث ۷۰۹۶.
(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۴۲ رقم الحديث وأحمد في المسند ۵/۲۳۲.

۲ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

بَابُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ

د قیامت د علاماتو بیان

قال الله تعالی ﴿فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا﴾ (محمد:۱۸)

اشراط جمع ده ، د دې مفرد شرط دی، چې د نښانې او علامت په معنی دی .په دې باب کې به هغه علامات بیانیږي چې هغه د قیامت نزدیکت او د هغې واقع کیدل ظاهروي. **الساعة:** شپه او ورځ ټول په ۲۴ اجزاؤ باندې مشتمله ده .په دې اجزاؤ کې یو جز ته ساعت وایې. چې هغې ته یوه گهړۍ او یوه گهنټه هم وایې. دلته د ساعة نه دغه گهړۍ مراد نده بلکې د ساعة اطلاق په غیر معلوم مختصراو لږ وخت باندې هم کیږي. دلته م دا مراد دی . ځکه چې د قیامت د واقع کیدلو وخت غیر معلوم هم دی او مختصر هم دی. علماؤ لیکلي دي چې د قیامت نه مخکې یو څو نښې داسې دي چې هغه وړې دي، د حضرت مهدی پورې چې څومره نښې دي ، دا وړې دي او بیا د ظهور د مهدی نه واخله تر قیامت د واقع کیدلو پورې غټې نښې دي . د دواړو نښې د علامات صغری او علامات کبری په نوم سره بللی کیږي.اوس دلته یو سوال دې : **سوال:** که د اشراط الساعة تعلق د علامات صغری سره دی، نو بیا په دې باب کې د حضرت مهدی ذکر بیا بیا ولې راغلی ، ظهور مهدی خو په علامات کبری کې دی؟ **جواب:** په وړو علاماتو کې خو د ځینو جنگونو ذکر هم دی،ددې جنگونو په حواله سره حضرت مهدی ذکر په دې باب کې ضمني توگه باندې راغلی دی.گنې ظهور مهدی په علامات کبری کې دی.بهرحال نن سبا چې مونږ په کوم دور باندې تیریږو ، په دې کې د قیامت وړې نښې مکمل توگه باندې ظاهره شویدي،بلکې په دې باندې متفرع نتیجې لکه زلزلې هم راغلي دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

د قیامت یو څو نښې

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ
او حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي: بیشکه د قیامت په نښو کې دا ده
أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَكْثُرَ الْجَهْلُ وَيَكْثُرَ الزِّنَا وَيَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمرِ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ
چې علم به وچت کړی شي، جهالت به ډیر شي، زنا به ډیره کیږي، د ناریښو شمیره به کمه شي، د ښځو شمیره
حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ» . وَفِي رِوَايَةٍ:
به ډیره شي،تردې چې د پنځوس ښځو پالونکی به یو سړی وي. او په یو روایت کې (يرفع العلم ويكثر

Maktaba Tul Ishaat.com

«يَقِلَّ الْعِلْمُ وَ يَظْهَرُ الْجَهْلُ » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
الجهل) په ځای داسې دي چې علم به کم شي او جهالت به خپور شي.
﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ
او حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي: قيامت د راتګ نه مخکې
السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]
به د دروغژنو شميره ډيره شي، لهذا د هغوی نه ځان ساتئ.

توضيح: كذابين: يعنې د قيامت نه مخکې به دروغژن خلک پيدا شي ، د دېنه هغه اهل هواء و بدعت او د باطلو نظريو خلک مراد دي چې هغوی د خپلو غلطو نظريو لپاره د دروغو حديثونه جوړوي، يا د دېنه مراد د دروغو د نبوت دعويدار دي.(مرقات۹/۳۳۲)

نالائقه ته منصب ورکول د قيامت نښه ده

﴿۳﴾ وَعَن أَبِي هريرةَ قَالَ: بَيْنَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابو سره خبري کولې چې ناڅاپه يو باندې چې راغلو
فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ قَالَ: «إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ» .
او وې ويل چې قيامت به کله راځي؟ نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې امانت ضايع کړې شي، نو د قيامت انتظار
قَالَ : كَيْفَ إِضَاعَتُهَا ؟ قَالَ : « إِذَا
کوه. باندې چې پوښتنه وکړه چې امانت به ولې ضائع شي او دا نوبت به کله راځي؟ نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله
وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ » . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[3]
چې د حکومت او سلطنت کار نا اهلو خلکو ته وسپارلې شي نو د قيامت انتظار کوه.

توضيح: الی اغير اهله: نالائقه او نااهله خلک هغه دي چې هغه د متعلقه کار او د حکومت او مشرۍ په شرطونو باندې پوره نوي، او د قائد او حاکم او د مشر جوړيدلو کوښښ کې اخته وي لکه .

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۱۷۸ رقم الحديث ۸۰ ومسلم في صحيحه ۴/۲۰۵۶ رقم الحديث ۹/۲۶۷۱ .

([2]) اخرجه مسلم في صحيحه ۱۴۵۴ رقم الحديث ۱۸۲۲/۱۰وابن ماجه في سننه ۲/۱۳۰۴ رقم الحديث ۳۹۵۲.

([3]) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۵۹.

بنځې، مأشومان، نالائقه، جاهل، فاسق، فاجر، بخیل، کنجوس، نامرد، بزدله او غیر قریشی النسل، داخلک شرعًا حکومت او قیادت او مشرۍ اهل ندي. بیا دا نا اهله عام دي که دنیاوي معاملاتو کې نااهله وي او که دیني معاملاتو کې نااهله وي چې علم یې پوخ نه وي. او مدرس جوړ شویدی، عالم نه دی، او وعظ او بیان کې اخته دی، د پیرۍ مریدۍ صلاحیت پکې نشته او پیر جوړ شوې، د امانت نه د خلکو دنیاوي امانتونه هم مراد دي او دیني او شرعي امانتونه هم مراد دي. (مرقات ۹/۳۳۴)

د عربو په زمکه کې چې کله شینکی وي نو قیامت به نژدې وي

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي

حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ حَتَّى يُخْرِجَ الرَّجُلُ زَكَاةَ مَالِهِ

ترڅو پورې چې مال ډیر شوی نوي. او ډیر والی به هم داسې وي چې یو سړی به د خپل مال زکوة وباسي خو

فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهَا مِنْهُ وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا

هغه به هیڅوک نه بیامومي چې هغه د ده د زکوة مال واخلي، او ترڅو چې د عربو زمکه شنه او باغونو او د

وَ أَنْهَارًا » رَوَاهُ مُسْلِمٌ . وَ فِي رِوَايَةٍ : قَالَ : « تبلغ المساكن إهاب » (۱)

نهرونو والانشي. (مسلم) او د مسلم په یو روایت کې داسې دي چې د عمارتونو او د آبادۍ لړۍ به اهاب یا یهاب تهورسیږي

توضیح: مروجا: یعني د عربستان زمکه به څرځای او شنه او د نهر والا شي، نن سبا دا عمل شروع شوی دی، د جدې نه مکې پورې زمکه شنه ده. **اهاب:** مدینې سره نژدې د ځای نوم دی. په دې صورت کې لفظ د او شک لپاره دی. او که د تنویع لپاره شي نو بیا دا به دوه ځایونه وي یعني تر دې ځایونو پورې چې د مدینې آبادی ورسیږي نو دا به د قیامت د نژدې والي نښانې وي، د مال ډیروالی به کیدی شي د امام مهدی په زمانه کې وي. (مرقات ۹/۳۳۵)

د حضرت مهدي یو څو صفتونه

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ

او حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په آخره زمانه کې به یو خلیفه پیدا شي. چې هغه

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۸۱ رقم الحديث ۷۱۲۰ ومسلم في صحيحه ۲/۷۰۱ رقم الحديث ۲/۱۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

يُقَسِّمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ» . وَ فِي رِوَايَةٍ :
به محتاجو او حقدارو باندې ډېر مال تقسیم کړي، او هغه به نه شماري، او په یو روایت کې داسې دي چې
قَالَ: «يَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي خَلِيفَةٌ يَحْثِي الْمَالَ حَثْيًا
زما د امت په آخرې زمانه کې به یو خلیفه پیدا شي چې هغه به خلکو ته په موټې یا په لپه باندې مال
وَلَا يَعُدُّهُ عَدًّا» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
ورکوي او هغه به نه شماري.

توضیح: **خليفة**: د دېنه مراد حضرت مهدی دی. د ده ظهور به د مقام ابراهیم او حجر اسود په مېنځ کې کیږي. د دې ظهور نه په مخکښې کال به سپوږمۍ تندر نیولې وي. بیعت او د ظهور په وخت کې به د آسمان نه دا آواز راځي: **هذا خليفة الله المهدی فاستمعوا له واطيعوه**. ذ دېنه مخکې به دا د مدینې نه مکې ته راتختیدلی وي، دې لپاره چې دا څوک ونه پیژني، امام مهدی به سیّد وي، په ژبه کې به یې لکنت (تتوالی) وي، کله چې غصه شي نو په خپل ورون باندې به لاس وهي. د نبی کریم ﷺ همنامی به وي، د ده د پلار نوم به عبدالله او د مور نوم به آمنه وي، په عادتونو کې به بیخې د نبی کریم ﷺ په شان وي، خو په شکل او صورت کې به جدا وي.

يقسم المال: یعنې مال غنیمت به دومره ډېر وي او خپله دهغه به دومره سخاوت وي چې مال به تقسیم کړي او بی حسابه به یې وشیندي او شمارل به نکوي.(مرقات ۹/۳۳۶)

يحثي: یعنې لپې به ډکې ډکې ورکړي، نهه کاله به خلافت کوي، اووه کاله به خالص جهاد کې تیر کړي. په اتم کال به د دجال مقابله کوي، او په نهم کال به د حضرت عیسی علیه السلام سره د حکومت انتظام چلوي. او بیا به وفات شي. حضرت عیسی علیه السلام به د هغه جنازه کوي.(مرقات ۹/۳۳۶)

فرات د سیند نه به خطرناکې خزانې راوځي

﴿۶﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُوشِكُ الْفُرَاتُ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ژر هغه زمانه راتلونکې ده چې د فرات سیند
أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَ
به د سرو زرو خزانه راوباسي نو کوم سړی چې د غه وخت هلته موجود وي نو هغه لپاره پکار دي

---

[1]أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۵ رقم الحديث (۲۹۱۴-۶۹)

فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
چې د دغه خزانې نه څه وانخلي.

توضیح: **یوشك الفرات**: یعني د فرات سیند به وچ شي. او د لاندې نه به یې د سرو زرو خزانه راوځي. د دې خزانې نه د څه اخستلو منع والی ځکه راغلی دی چې د دې د وجې نه به خپل مینځې جنګونه وي او فتنه او فساد به خپور شي. یا به په دې کې د حرمت او کراهت قوي احتمال وي. راتلونکې حدیث نمبر:۷ کې هم د دې خزانې ذکر دی، خو په هغې کې دومره اضافه ده چې د سرو زرو هغه خزانه به د غر هومره وي، هر سړی به راځي او وایې به چې شاید زه خزانه ترلاسه کولو باندې کامیاب شم خو داسې به نکیږي. نو ممکنه ده چې خپل مینځ کې په جنګ کولو کولو سره په سلو کې نهه نوي (۹۹) مړه شي. فقط یو به پاتې شي، هغه به هم په حرص او لالچ کې اخته شي. مذکوره حدیث کې چې کومې خزانې ارخ ته اشاره شویده ممکنه ده، دا د زرو کان (درنګه) وي، او ممکنه ده چې د عراق موجوده تیل وي، او د تیلو اصل کوهی د دریاب د ویخ نه راخوټ کیږي، نن سبا د ټولې دنیا کافر د امریکې په مشرۍ کې یو ځای شوي دي او د عراق تیل لوټ کوي، او د مجاهدینو د لاسه مرداریږي، پټرول او ګیس نه غیره جواهرات او مرمر، او سپین زر او سره زر، هر څه په دې علاقه کې ظاهرېدلی شي، چې دا د قیامت په نښو کې ده. راتلونکی حدیث نمبر:۸ کې هم څه تفصیل دی. چې زمکه به خپل دننه شیان راګوزار کړي. (مرقات۹/۳۳۷)

افلاذ: د **فلذة** جمع ده. د ځیګر ټوټو ته ویلی شویدی، د زمکې دننه معدنیات مراد دي، دا لفظ په راتلونکې حدیث نمبر:۹ کې ذکر دی.

﴿۷﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي
حَتَّى يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ
ترڅو چې د فرات سیند نه د خزانې غر راونه باسي، خلک به د دې وجې نه جنګ او قتال کوي. نو په دې
فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ:
خلکو کې به نهه نوي (۹۹) فیصده خلک ووژلی شي. او هر سړی به دا وایي چې کیدی شي زه (ژوند

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۷۸ رقم الحديث ۷۱۱۹، ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۹ رقم الحديث (۲۸۹۴-۳۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو ". رَوَاهُ مُسلم[1]

پاتې شم) په مقصد کې کامیاب شم

﴿۸﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زمکه به د خپل ځیګر ټوټې بیرون

أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ

راوګوزار کړي، چې هغه به د سرو زرو د ستنو په شان وي. نو یو سړی چې هغه به فقط د مال تر لاسه کولو

فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَتَلْتُ

لپاره د قتل جرم کړی وي، رابه شي او وايي به چې (آیا) د دې لپاره ما خلک ووژلي دي. او یو سړی چې هغه به

وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي.

خپلولي ماته کړې وي، رابه شي او وايي به چې (آیا) د دې لپاره ما د خپلوانو سره خپلولي ماته کیده، او بیا

وَيَجِيءُ السَّارِقُ فَيَقُولُ: فِي هَذَا قُطِعت يَدِي ثُمَّ

به غل راشي او وايي به چې (آیا) د دې لپاره زما لاس غوځ شویدی، نو د غه ټول خلک به د غه مال دولت

يَدعونه فَلَا يَأْخُذُونَ من شَيْئًا ". رَوَاهُ مُسلم[2]

د غه شان پریږدي چې هیڅوک به هم ترې نه څه وانخلي.

په آخره زمانه کې به هر سړی پریشانه شي

﴿۹﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قسم دی په هغه ذات د چا په لاس کې

لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ

چې زما ځان دی، دا دنیا به تر هغه وخته پورې نه ختمیږي ترڅو چې داسې زمانه رانشي چې سړی به د قبر

فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ ويقولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ

په خوا تیریږي او بیا به قبر باندې ورغړي (د غم نه به) وايي چې کاش! زه د دې قبر والا په ځای باندې وی

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۹ رقم الحديث (۲۸۹۴-۲۹) اخرجه احمد في المسند ۵/۱۴۰.

(2) اخرجه مسلم في صحيحه ۲/۷۰۱ رقم الحديث (۱۰۱۳-۶۲) والترمذي في السنن ۴/۴۲۷ رقم الحديث ۲۲۰۸.

وَلَيۡسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الۡبَلَاءِ ". رَوَاهُ مُسۡلِم (۱)

او دا پریشاني به د دین د وجې نه نوي بلکې د نیاوې مصیبت به وي.

د قیامت نه مخکې به د یو غټ اور ظهور کیږي

﴿۱۰﴾ وَعَنۡهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي

حَتَّى تَخۡرُجَ نَارٌ مِنۡ أَرۡضِ الۡحِجَازِ تُضِيءُ أَعۡنَاقَ الۡإِبِلِ بِبُصۡرَى». مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ (۲)

ترڅو چې د حجاز نه یو اور لمبې ونکړي چې هغه به د بصرۍ د اوښانو څټونه رڼا کړي

توضیح: من ارض حجاز: یعنې د حجاز د زمکې نه به یو غټ اور راښکاره شي، چې د هغې د وجې نه به بُصری کې د اوښانو څټونه ښکاره شي، حجاز د جزیرة العرب هغه علاقې ته ویلی کیږي چې په هغې کې مکه او مدینه داخل دي. او بُصری د شام په زمکه باندې د یو ښار نوم دی. چې هغه د دمشق نه د درې ورځو په مزل دی. علماؤ لیکلي دي چې په دې حدیث کې د کوم اور بیان راغلی دی دا اور ۶۵۰ ه کې ظاهر شوی ؤ، دا اور د حجاز د وسط نه د سمندر د چپو په شان وچتیدلو او غرونه، دشتې او ځنګلونه یې ایره کول. په دې کې د بجلۍ د کړس په شان اواز هم ؤ او په دې کې مختلف رنګونه هم ؤ. دغه اور په دغه طوفاني شکل کې مدینې منورې ته ورسیدلو، خو د مدینې په حدودو کې یخ شو، یعنې د مدینې د حدودو یو شی یې هم نه سیزلو. د دې اور نه د مدینې خلک یریدلي ؤ. هغوې په ژړا ژړا دعاګانې غوختلې، او صدقې یې ورکولې، دا اور د وجې نه پنځوس ورځې مدینه منوره روښانه وه. د مدینې د خلکو به د دې وجې نه د شپې کارونه کول، د مکې خلکو ګواهي ورکړه چې د اور د رڼا د وجې نه مونږ بُصری او شام علاقې روښانه ولیدلې، دا اور د لمر نه ډیر روښانه ؤ. د ورځې به پته نه لګیدله چې لمر شته او که نشته. د دې اور به کاڼې سیزل. خو بوټې به یې نه سیزل. د غه شان په مدینه کې به یې دننه د حرم په حدودو کې اثر نه کولو. نو که د کوم کاڼې نیمه برخه به په حرم کې وه او نیمه به بیرون وه نو دې اور به بیروني برخه سیزله، دننه برخه به یې پریخودله. روضه رسول صلی الله علیه وسلم سره خلک په ژړا کې مشغول ؤ چې الله تعالی کرم وکړو او د دې اور مخ یې آسمان اړخ ته کړو او خلک محفوظ شول. **اعناق الابل** نه مراد د بُصری علاقې

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۲۲۳۱ رقم الحديث (۱۵۷-۵۴) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۴۰ رقم الحديث ۴۰۳۷.

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۷۸ رقم الحديث ۷۱۱۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۷ رقم الحديث (۲۹۰۲-۴۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

کانې دي، د دې اور د ختمیدلو نه وروسته په بغداد باندې د تاتاریانو برید وشو، چې په هغې سره بغداد تباه شو. دا اور ۳ جمادی الثاني ۶۵۰ هـ کې رابنکاره شوی ؤ. او ۲۷ رجب ۶۵۰ پورې ۳۵ ورځې مسلسل شروع ؤ. (مرقات ۹/۳۴۰)

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ
او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت د نښو نه به اوله نښه هغه اور
تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
وي چې هغه به خلک د مشرق نه مغرب اړخ ته وشړي. (روایت کړې دې بخاری)

الْفَصْلُ الثَّانِي

قیامت ته نږدې زمانه به بې برکته شي

﴿۱۲﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي تر څو چې
حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُونُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَتَكُونُ الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَيَكُونُ الْيَوْمُ
زمانه نږدې نشي، کال د میاشتې برابر، میاشت د اونۍ (هفته) برابر، اونۍ د یوې ورځې برابر او یوه ورځ د یو
كَالسَّاعَةِ وَتَكُونُ السَّاعَةُ كَالضَّرَمَةِ بِالنَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
ساعت برابر شي. او یو ساعت به دومره لنډ شي لکه د اور سپرغۍ (د ګیاه په ډکې) باندې بل شي.

توضیح: الضرمة على النار: لکه د ګیاه او ډکو پنډوکی په اور باندې کیخودل شي او اور دې لره په سیزلو سره په بخرکو کې والوزي، د مزلونو دا نږدې والی د ډېر وړاندوینې د لاندې یقیني او بدیهي دی، خو که د جدید دور ټیکنالوجي او ریډار لاسالکی نظام ته وکتلی شي نو د مزلونو لنډیدل به ډېر په آسانه باندې په پوهه کې راشي. (مرقات ۹/۳۴۲)

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَوَالَةَ قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عبد الله بن حواله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د جهاد لپاره ولیږلو دې لپاره چې

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۷۸ تعليقا في الباب ۲۴ باب خروج النار . واحمد في المسند ۳/۱۰۸.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۹۰ رقم الحديث ۲۳۳۲.

لِنَغْنَمَ عَلَى أَقْدَامِنَا

مونږ مال غنیمت تر لاسه کړی شو او د هغې په ذریعه باندې خپل ضرورتونه پورا کړی شو، زمونږ هغه سفر

فَرَجَعْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ شَيْئًا

پیدل ؤ او (کله چې) مونږ د دې جهاد نه بیرته راتلو نو زمونږ سره هیڅ هم مال غنیمت نه ؤ. نبی کریم ﷺ

وَ عَرَفَ الْجَهْدَ فِي وجوهنا فقامَ فِينَا

زمونږ په مخونو باندې خفګان او ناامیدې کتلو باندې مونږ ته ډاډ ګیرنه راکولو او د دعاء کولو زمونږ په مینځ

فَقَالَ : « اللّهُمَّ لَا تَكِلْهُمْ إِلَيَّ فَأَضْعُفَ عَنْهُمْ

کې ودریدلو او وې فرمایل چې پروردګار! دا خلک ما ته مه سپاره، داسې نه وي چې زه د دوې د خبر اخستلو

وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَيَعْجِزُوا عَنْهَا

طاقت و نلرم او مه هغوې خپل ځانونو ته سپاره ځکه چې دوې به د خپلو کارونو د پورا کولو نه عاجز شي،

وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى النَّاسِ فَيَسْتَأْثِرُوا عَلَيْهِمْ»

او مه دوې بل چا ته سپاره او مه یې د دنورو محتاج کوه. ځکه چې د دې خلکو په ضرورتونو او حاجتونو باندې

ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي ثُمَّ قَالَ:

به خپل حاجتونه مقدم ساتي. د دېنه وروسته نبی کریم ﷺ خپل لاس زما په سر باندې کیخودلو او وې فرمایل

«يَا ابْنَ حَوَالَةَ إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ

ای ابن حواله! (کله چې ته) ووینې چې خلافت ارض مقدس ته ورسیدلو (یعنې د مسلمانانو دار الخلافه د مدینې

قَدْ نَزَلَتِ الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ فَقَدْ دَنَتِ الزَّلَازِلُ وَ الْبَلَابِلُ وَ الْأُمُورُ الْعِظَامُ

نه نقل کیدلو باندې د شام هیواد ته رسیدلی ده) نو پوهه شه چې زلزلې، مصبتونه او هغه غټې حادثې (چې د هغې

وَ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنَ النَّاسِ مِنْ يَدِي هَذِهِ

تعلق د قیامت سره دی) نږدې راغلې دي، او په هغه ورځ به قیامت خلکو ته دو مره نږدې وي څومره چې زما

إِلَى رَأْسِكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

لاس ستا سر ته نږدې دی.

([1])أخرجه أبوداود في السنن ۳/۴۱ رقم الحديث ۲۵۳۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: **فاضعف**: یعنې دوې ماته مه سپاره، زه به عاجز شم، او دوې خپل ځانونو ته هم مه سپاره، دوې به خپله عاجزه شي. **فیستأثروا**: یعنې دوې لره خلکو ته هم مه سپاره، خلک به په دوې باندې ترجیح ورکول شروع کړي. **الخلافة**: یعنې کله چې خلافت د مدینې نه بیت المقدس ته نقل شو، او خپور شو، نو بیا به زلزلې شروع شي، او آفتونه به راځي، بلابل د بلبلة جمع ده. آفت او مصیبت ته وايي. ممکنه ده چې دلته د خلافت نه د حضرت مهدی خلافت مراد وي. چې دهغه مرکز به شام وي، او بیا به د قیامت د نژدیکت زلزلې شروع شي. (مرقات ۹/۳۴۴)

کله چې پنځلس جرمونه کیږي نو زلزلې به راځي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دِوَلًا

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې مال غنیمت دولت وګڼلی شي او کله

وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ

چې زکوة تاوان وګڼلی شي، او کله چې علم د دین نه غیره د بل څه لپاره زده کړی شي، او کله چې سړی د ښځې

امْرَأَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ وَأَدْنَى صَدِيقَهُ وَأَقْصَى أَبَاهُ

تابعداري شروع کړي، او کله چې د مور نافرمانۍ شروع شي، او کله چې دوستان خو نژدې او پلار لیرې کولی

وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ وَسَادَ الْقَبِيلَةَ

شي او کله چې په جوماتو کې شور جوړ کړی شي، او کله چې د قوم او جماعت مشرې دهغه قوم او جماعت

فَاسِقُهُمْ وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ

فاسق سړی کوي او کله چې د قوم او جماعت سربراه او مشر دهغه قوم او جماعت کمینه او رذیل سړی کوي

وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ

او کله چې د سړې عزت دهغه د شر او فتنې د ویرې نه کیدلی شي، او کله چې په خلکو د ګانو وایونکو ښځو

وَالْمَعَازِفُ وشُربتِ الخمورُ وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ

او ډول باجو رواج شي او کله چې شرابونه څکلی کیږي او کله چې د دې امت وروستنې خلک مخکنو خلکو

أَوَّلَهَا فَارْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ

باندې لعنت ولیږي نو ته دغه وخت د دې شیانو د ژر ظاهریدلو انتظار کوه، سور یعنې تُنده او تیز او ډیر سخت

وَزَلْزَلَةً	وَخَسْفًا	وَمَسْخًا

طوفاني بادؤ او د زلزلې، او په زمکه کې منهل، او د شکلونو مسخ او بدليدل، او د کاڼو د وريدلو، دغه شان د

وَ	قَذْفًا	وَ	آيَاتٍ	تَتَابَعُ

دې شيانو نه غيره د قيامت نورې تولې نښې او علامتونو انتظار کوه. چې هغه به داسې پرله پسې راځي لکه

كَنِظَامٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

د د امبيل (هار) تار چې وشليږي او د هغې دانې پرله پسې ګوازريږي.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِي خَمْسَ عَشْرَةَ

حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: کله چې زما امت په دې پنځلس خبرو کې

خَصْلَةً	حَلَّ بِهَا	الْبَلَاءُ»

(چې د هغې ذکر په پاسنې حديث کې وشو) اخته شي نو په دې باندې به افتونه او مصيبتونه نازليږي، بيا

وَعَدَّ	هَذِهِ	الْخِصَالَ	وَلَمْ	يَذْكُرْ

نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه پنځلس خبرې وشمارلې، خو حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې روايت کې دا خبر نقل نکړه

«	تُعُلِّمَ	لِغَيْرِ	الدِّينِ	»	قَالَ	:	«	وَ بَرَّ

چې کله علم د دين لپاره زده کيدلی شي. حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا نقل کړل چې کله سړی د خپل دوست

صَدِيقَهُ	وَجَفَا	أَبَاهُ	»

سره احسان او مروت او د خپل پلار سره ظلم او جفا به کوي او هغه (کله چې شرابونه څکولی کيږي د جمع

وَ	قَالَ	:	«	وَ شُرِبَ	الْخَمْرُ

په ځای) کله چې شراب څکل کيږي، مفرد نقل کړيدی. دغه شان (کله چې علم د دين نه غيره د بل څه

وَ لُبِسَ الْحَرِيرُ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

غرض لپاره زده کولی شي، په ځای) کله چې د ريښمو جامه واغوستلی شي، نقل کړيدي.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۲۸ رقم الحديث ۲۲۱۱.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۲۸ رقم الحديث ۲۲۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

د عدل او انصاف بیرغ اوچتونکي مهدي ظهور به خامخا کیږي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا

او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: تر هغه وخته پورې به دنيا ختمه

حَتَّى يَمْلِكَ الْعَرَبَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُه

نشي تر څو چې په عربو باندې يو داسې سړی قبضه ونکړي چې هغه به زما د کورنۍ وي، او د هغه نوم به زما

اسْمِي» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ:

په نامه وي، (ترمذی، ابوداؤد) او د ابوداؤد په يو روايت کې داسې دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمايل: که د دنيا په

«لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ لَطَوَّلَ اللهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ

ختميدلو کې فقط يوه ورځ پاتې شي نو الله تعالی به د هغه ورځ اوږده او فراخه کړي، تر دې چې زما د نسل نه

حَتَّى يَبْعَثَ اللهُ فِيهِ رَجُلًا مِنِّي أَوْ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِي

يا يې دا و فرمايل: زما د اهل بيت نه به يو سړی را وليږي چې د هغه نوم به زما په نامه او د هغه د پلار نوم به

يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا

زما د پلار په نامه وي. او هغه ټول مځ د زمکې د عدل او انصاف نه ډک کړي، لکه څنګه چې د دې وخت

مُلِئَتْ ظُلْمًا وجورا»[1]

مځکې د ظلم او زياتې نه ډک شوې وه.

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي

حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوريدلي دي چې مهدی زما په عترت کې

مِنْ أَوْلَادِ فَاطِمَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

دی او د فاطمه د اولاد نه به وي.

([1])أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۷۳ رقم الحديث ۴۲۸۲ والترمذي في السنن ۴/۴۳۸ رقم الحديث ۲۲۳۰.

([2])أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۷۴ رقم الحديث ۴۲۸۴وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۶۸ رقم الحديث ۴۰۸۶.

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَهْدِيُّ مِنِّي

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايې چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: مهدی به زما په اولاد کې وي،

أجلى الْجَبْهَة وأقنى الأنْفِ يَمْلأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا

روښانه او پلن تندی، او وچته پوزه به يې وي، هغه به مځ د زکې په عدل او انصاف سره ډک کړي، لکه څنګه

مُلِئَتْ ظُلْمًا وَ جَوْرًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ » . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [۱]

چې دا په ظلم او زياتي سره ډکه وه، هغه به اوه کاله پورې په مځ د زمکه باندې واکمن او قابض وي.

﴿۱۹﴾ وَ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قِصَّةِ الْمَهْدِيِّ

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د مهدی د واقعې په لړ کې دا هم نقل کوي چې

قَالَ: " فَيَجِيءُ إِلَيْهِ الرَّجُلُ فَيَقُولُ: يَا مَهْدِيُّ أَعْطِنِي أَعْطِنِي.

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا و فرمايل: د مهدی خوا ته به يو سړی راشي او وايي به چې ما ته څه راکړه، نو مهدی به هغه ته

قَالَ: فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [۲]

په دواړه ډکو لاسونو سره دومره ورکړي څومره چې هغه په خپله جامه کې ډک کړی شي او وچت يې کړی شي

د حضرت مهدي ظهور او د ابدالو راتګ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: (آخره زمانه کې)

«يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ

کله چې خليفه وفات شي، نو اختلاف او جګړې به پيدا شي، په دې دوران کې به د مدينې نه يو سړی په

هَارِبًا إلى مكة فيأتيه الناسُ من أهل مَكَّةَ فيخرجونه

تيښته مکې ته وتختي، د مکې خلک به د هغه خوا ته راشي او هغه به (د کور نه) راو باسي، هغه به اګر که دا

وَهُوَ كَارِهٌ فيبايعونه بَيْنَ الرُّكْنِ

منصب قبلول نه خوښوي خو خلک به هغه تيار کړي، او د هغه په لاس به بيعت و کړي، دا بيعت به د حجر

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۷۴ رقم الحديث ۴۲۸۵ وأحمد في المسند ۳/۱۷.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۳۹ رقم الحديث ۲۲۳۳ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۶۷ رقم الحديث ۴۰۸۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمَقَامِ يَبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنَ الشَّامِ

اسود او مقام ابراهیم په مینځ کې وشي، ددېنه وروسته به د ده د مقابلې لپاره د شام (د باچا) د اړخ نه یو لښکر

فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ

راولیږلی شي خو هغه لښکر به د مکې او مدینې تر مینځ په مقام بیداء کې په زمکه کې ومنډل شي، او بیا کله

فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ

چې خلکو ته دا معلومه شي (چې د شام لښکر مکې ته د را رسیدلو نه مخکې په زمکه کې خښ شو) نو د شام

أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَيُبَايِعُونَهُ

هیواد ابدال او د عراق عصائب به د غه سړي خدمت ته راورسیږي او د هغه په لاس په بیعت وکړي. بیا به

ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ

د قریشو نه یو سړی راپاخیږي چې د هغه ماماګان به د کلب قبیله کې وي، او هغه به هم د غه سړي او د هغه

فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ وَذَلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ

تابعدارو په خلاف باندې یو لښکر راولیږي خو دې سړي لښکر به په دغه کلبې لښکر باندې غالب راشي

وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ

بیا به دغه سړی د خلکو په مینځ کې د هغوی د پیغمبر (محمد ﷺ) د عادت او د هغې د طریقې مطابق

وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ فَيَلْبَثُ سَبْعَ

(د هیواد او ملت) نظام روانوي، او د مسلمانانو دین به خپل ښټ په زمکه باندې کیږدي. هغه سړی به او وه

سِنِينَ ثُمَّ يُتَوَفَّى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

کاله قائم او پاتې وي. بیا به وفات شي او مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ وکړي.

توضیح: اختلاف: یعنې د یو خلیفه د وفات نه وروسته به د دویم خلیفه په ټاکلو کې اختلاف پیدا شي، نو حضرت مهدی به د مدینې نه مخکې ته د دې یرې د وجې نه وتخي چې خلک دا خلیفه جوړ نه کړي، خو مکې ته په رسیدلو سره به خلک دا وپیژني او د طواف په وخت کې به د حجر اسود او مقام ابراهیم په مینځ کې د هغه په لاس د خلافت بیعت وکړي، بیا به د هغه په مقابله کې د سفیانې

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۷۵ رقم الحديث ۴۲۸۶ وأحمد في المسند ۶/۳۱۶.

لښکر د شام نه مکې په لورې روان شي، خو مقام بیداء کې چې هغه مکې ته نژدې دی، ټول به مردار شي، بیا د شام ابدال او د عراق عابدان به د بیعت لپاره راشي. (مرقات ۹/۳۵۲)

ابدال الشام: ابدال جمع ده. د دې مفرد بدل دی، د اولیاء الله یوې ډلې ته ابدال وایې. دا په شام کې وي، لکه عصائب په عراق کې او نجباء په مصر کې وي. دنیا کې ابدال په هره زمانه او هر وخت کې وي، په دوې کې یو جماعت په ۳۱۳ کسانو باندې مشتمل وي. یو جماعت په څلویښتو کسانو باندې مشتمل وي، یو جماعت په اووه کسانو باندې مشتمل وي، اویو جماعت په درې کسانو باندې مشتمل وي. کله چې د درې کسانو د جماعت نه څوک مړ شي نو د اووه کسانو د جماعت مشر پرمختګ کولو باندې د درې کسانو جماعت ته راشي، دغه شان که د اووه کسانو د جماعت نه څوک مړ شي، نو د څلویښتو کسانو د جماعت نه یو سړی دلته راشي، کله چې د څلویښتو کسانو د جماعت نه څوک مړ شي نو د ۳۱۳ کسانو د جماعت نه یو سړی دلته راشي، او کله چې د ۳۱۳ کسانو د جماعت نه څوک مړ شي نو په معاشره کې چې څوک صالح او د ټولو نه ډیر نیک وي، هغه په ۳۱۳ کسانو کې شامل شي، دې لپاره چې په شمیره کې کمی رانشي. په دوې کې څلویښتو کسانو د ابدالو مرکزي ځاې په شام کې دی، نور افراد د دنیا په بیلابیلو ځایونو کې تاکلی شویدي، دې لپاره چې د هغه ښار خدمت وکړي، د دې خلکو یو مخفي نظام دی، د سترګو نه پناه دی. په کال کې یو ځل په حجاز مقدس کې د هغوې اجتماع کیږي، بهرحال دا څه چې مې لیکلي دا ترتیب څه منصوص اولازمي ندی، د صوفیائ کرامو په نزد باندې د ابدالو په دغه توګه باندې یو مخفي نظام جوړ دی. ابدال په رجال الغیب کې دی، کوم حضرات چې د دوې د وجود اقرار کوي په دې کې څه مضائقه نشته خو د دوې په اړه داسې عقیده ساتل جائز ندي چې هغه د توحید سره ټکر خوري، څه چې دلته لیکلی شوی. دهغې نه ډیر ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات ج۹\۳۵۴ باندې لیکلي، امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې لیکلي چې کوم سړی هره ورځ دا دعاء وایي هغه به ابدالو درجه بیاموم مي ﴿**اللّٰهم اغفر لامة محمد اللّٰهم ارحم امة محمد، اللّٰهم تجاوز عن امة محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**﴾ **عصائب:** عراق کې داسې خلکو د عصائب په نوم سره یادول کیږي او په مصر کې ورته نجباء وایې. یعنې د ټولو نه ښه، غوره، او چوڼ کړی شوي خلکو ته عصائب وایې. (مرقات ۹/۳۵۴) **بعث الشام:** د دېنه مراد هغه سفیاني سړی دی چې د هغه لښکر به په زمکه کې ښخ شي. **رجل من قریش:** د دېنه مراد دبنو کلب خوریا (د خور ځوې) دی. دا سړی به د سفیاني نه مخکې خپل لښکر د مهدي د مقابلې لپاره ولیږي خو هغوې ته به شکست وشي. **جراله:** داوښ د څټ مخکنۍ برخې ته جران وایې. اوښ چې

کله سترې شي نو د څټ هغه برخه په زمکه باندې خپره کړي چې په هغې سره ورته ډير راحت رسيږي.
دلته د اسلام د استقرار او اطمينان او استحکام او ثبات اړخ ته اشاره کړی شویده.(مرقات۹/۳۵۵)

د عدل او انصاف او برکتونو والا مهدی به راځي

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَلَاءً يُصِيبُ هَذِهِ الْأُمَّةَ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی و آفت ذکر وکړو چې هغه به دا امت

حَتَّى لَا يَجِدَ الرَّجُلُ مَلْجَأً يَلْجَأُ

پخپله غيږه کې واخلي.تردې چې يو کَس ته به هم داسې د پناه ځای په لاس نه ورځي چې هلته دا د ظلم او

إِلَيْهِ مِنَ الظُّلْمِ فَيَبْعَثُ اللهُ رَجُلًا

زياتې نه پناه ترلاسه کړي، بيا کله چې د ظلم او ستم هغه (دور خپل حد نه واوړيږي نو) الله تعالى به زما

مِنْ عِتْرَتِي وَأَهْلِ بَيْتِي فَيَمْلَأُ بِهِ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا

د اولاد او زما د اهل بيتو نه يو سړی راوليږي، هغه سړی به زمکه د عدل او انصاف نه داسې ډکه کړي لکه

كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا يَرْضَى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الْأَرْضِ

څنګه چې هغه د ظلم او زياتې نه ډکه وه.د ده نه به د آسمان والا هم خوشحاله وي، او په زمکه وسيدونکي

لَا تَدَعُ السَّمَاءُ مِنْ قَطْرِهَا شَيْئًا إِلَّا صَبَّتْهُ

به ترينه هم راضي او مطمئن وي.آسمان به د خپل باران نه څه څاڅکې پاتې کولو نه بغير په کثرت سره

مِدْرَارًا وَلَا تَدَعُ الْأَرْضُ مِنْ نَبَاتِهَا شَيْئًا إِلَّا أَخْرَجَتْهُ حَتَّى يَتَمَنَّى الْأَحْيَاءُ الْأَمْوَاتَ

راوروي او زمکه په خپل زرغونه کې د څه ساتلو نه بغير به هر څه راشنه کړي، تردې چې ژوندي به د مړو

يَعِيشُ فِي ذَلِكَ سَبْعَ سِنِينَ أَوْ ثَمَانَ سِنِينَ أَوْ تِسْعَ سِنِينَ» . رَوَاهُ (۱)

ارمان وکړي، هغه سړی (مهدی) به د دې خوشحالۍ او کامياب سره اوه کاله يا اته کاله يا نهه کاله ژوندی وي.

د منصور قومندان ظهور به خامخا کيږي

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ما وراء النهر (په يو ښار کې) به

---

(۱)اخرجه احمد في المسند ۳/۳۷ والحاکم في المستدرک ۴/۴۶۵.

وَرَاءِ النَّهْرِ يُقَالُ لَهُ: الْحَارِثُ حَرَّاثٌ عَلَى مُقَدِّمَتِهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ:

یو سړی ظاهره شي چې دهغه نوم به حارث حراث وي. دهغه د لښکر په مخکښې برخه کې به یو سړی وي

مَنْصُورٌ يُوَطِّنُ أَوْ يُمَكِّنُ لِآلِ مُحَمَّدٍ

چې دهغه نوم به منصور وي، هغه سړی به د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولاد ته ځای یا استوګنه ورکوي لکه

كَمَا مَكَّنَتْ قُرَيْشٌ لِرَسُولِ اللهِ وَجَبَ عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ نَصْرُهُ

د الله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د چې د قریش خلکو ځای او استوګنه ورکړې وه (نو) هر مسلمان باندې به واجب وي

أَوْ قَالَ: إِجَابَتُهُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

چې دهغه سړې مرسته او ملاتړ وکړي، یا یې دا وفرمایل چې هغه سړی دې قبول کړي.

توضیح: وراء النهر: دریائ آمو ته وراء النهر ویلی شوی، او د دېنه چې شاته کومې علاقې دي دا علاقې بخارا او سمرقند او داسې نورو باندې مشتمل دي. ددې علاقو نه به یو سړی وي، چې د هغه نوم به حارث حراث وي، دهغه د لښکر په مقدمة الجیش باندې به یو قومندان مقرر وي، چې دهغه نوم به منصور وي، دا سړی به مهدی ته تول وسائل ورورسوي. او هر قسم ملاتړ به یې کوي لکه څنګه چې د قریشو ځینو خلکو دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مرسته او ملاتړ کړی ؤ. بهرحال حارث او منصور دواړه کسان به د حضرت مهدی بنه ملاتړ وکړي او جنګې ورتیا به په کار راولي. دا کسان به د خراسان نه لښکر راولي، د خراسان اطلاق په افغانستان باندې هم کیږي.

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په ذات قسم د چا په لاس کې چې

نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ

زما ځان دی. قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي ترڅو چې درندګان د انسانانو سره خبرې ونکړي، او

وَحَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ وَشِرَاكُ نَعْلِهِ وَيُخْبِرَهُ فَخِذُهُ

ترڅو چې د سړې د چابک موتی او د کیړی (بیزار) وندنی خبرې ونکړي، او د انسان پتون به هغه ته دا وایي

بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

چې د هغه په نه شتون کې د هغه اهل او عیال کوم نوی کار او نوې خبره کړیده.

---

[1] أخرجه أبوداود في المسند ۴/۴۷۷ رقم الحديث ۴۲۹۰.

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۱۳ رقم الحديث ۲۱۸۱ واحمد في المسند ۳/۸۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

د دويمې صدۍ نه وروسته د قيامت نښې

﴿۲۴﴾ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْآيَاتُ بَعْدَ
حضرت ابو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: نښاني به دوه سوه كاله وروسته
الْمِائَتَيْنِ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]
راښكاره كيږي (ابن ماجه)

توضيح: بعدا لمأتين: يعنې د قيامت نښاني به دوه سوه كاله وروسته شروع كيږي. په دې حديث كې اوله خبره د زده كولو دا ده چې دا دوه سوه كاله به كله شروع كيږي؟ نو ځينو علماؤ ليكلي دي چې د نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هجرت د وخت نه به شمارل كيږي، ځينو ليكلي دي چې كله اسلام ښه رونبانه شوى ؤ. د هغه وخت نه به دا كلونه شمارل كيږي. ځينو ليكلي چې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته به شمارل كيږي. دويمه خبره دا ده چې دوه سوه كاله وورسته د نښانو د ظهور مطلب څه دى؟ نو ځينې علماء فرمايې چې د قيامت وړې نښې په ډيرې شميرې سره به دوه سوه كاله وروسته شروع كيږي، ګويا په دې حديث كې مسلسل او پرله پسې د علامتونو ښكاره كيدو خبره ده اګركه وړې نښې د نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وخت نه څه نا څه شروع شوي وي. ځينو علماؤ په المأتين كې الف لام عهدې اخستلي، مراد ترينه هغه دوه صدۍ دي چې هغه د زر (۱۰۰۰) كاله نه وروسته ده ګويا چې په دې حديث كې ويلى كيږي چې تر دولس سوه كاله پورې به د قيامت وړې وړې نښې پوره شي د دې نه وروسته به غټې غټې نښې ښكاره كيږي، او س د غټو نښو انتظار دى. (مرقات ۹/۳۶۲)

حضرت مهدى لپاره تور بيرغونه

﴿۲۵﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّايَاتِ السُّودَ قَدْ جَاءَتْ
او حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: كله چې تاسو د خراسان د اړخ نه دا ښانونه
مِنْ قِبَلِ خُرَاسَانَ فَأْتُوهَا فَإِنَّ فِيهَا خَلِيفَةَ اللهِ الْمَهْدِيَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ»[2]
راتللي ووينئ نو د هغې اړخ ته متوجې شئ ځكه چې په هغوي كې به د خداى خليفه مهدى وي.

[1] أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۴۸ رقم الحديث ۴۰۵۷.

[2] أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۶۰ رقم الحديث ۲۲۶۹ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۶۷ رقم الحديث ۴۰۸۴.

توضیح: رایات السود: د تورو بیرغونو نه د حارث او منصور لښکر مراد دی.د دوي بیرغونه به تور وي.

خراسان: افغانستان او ایران باندې د خراسان اطلاق کیږي. دا خلک به موحد سنیان وي.مشرک شیعه به نه وي. المهدی: سوال دا دی چې د حضرت مهدی ظهور خو به حرمین شریفین کې وي، په خراسان کې د هغه څه کار؟ د دې یو جواب دا دی چې دلته به مجازا خلي یعنې په دې لښکر کې به د مهدی مرسته او ملاتړ وي، دویم جواب دا دی چې د دې لښکر حرم مکه ته په رارسیدلو سره حضرت مهدی به د دوی د پخیر راغلاست لپاره بیرون راوتلی وي. نو بیرته ستنیدلو کې به هغه په دې لښکر کې وي.دریم جواب دا دی چې د مهدی اطلاق په یو هدایت موندونکې مسلمان قومندان باندې شویدی، لغوې توګه باندې هدایت موندونکی مؤمن مهدی دی. نو ګویا منصور ته مهدی ویلی شویدی، مشهور مهدی مراد ندی. (مرقات ۹/۳۶۳)

امام مهدي به د حضرت امام حسن رضي الله عنه په اولاد کې وي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ قَالَ:
او ابو اسحاق فرمایې چې حضرت علی رضي الله عنه خپل ځوی امام حسن رضي الله عنه ته په کتلو سره وویل
إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ كَمَا سَمَّاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَيَخْرُجُ مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى
چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده په اړه فرمایلي دي: سردار دی، ډیر ژر به د ده د ملا نه یو سړی پیدا شي چې د هغه نوم
بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ
به ستاسو د نبی په نامه وي. هغه باطني سیرت یعنې اخلاق او عادتونو کې به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مشابه
ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةً يَمْلَأُ الْأَرْضَ عَدْلًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَلَمْ يَذْكُرِ الْقِصَّةَ [1]
وی. دا روایت ابوداؤ نقل کړیدی خو هغه د زمکه د عدل او انصاف نه ډکولو والا خبره نده نقل کړې.

توضیح: من صلبه: یعنې حضرت مهدی به حسني وي، حسینی به نوي، که چیرته حسینی نسبت دی نو هغه د فاطمه رضي الله عنها د وجې نه دی. ګنې هغه به د حضرت حسن رضي الله عنه په اولاد کې وي. لکه څنګه چې په دې روایت کې دی لهذا د شیعو هغه عقیده غلط ګرځي چې په هغې کې دوې وایې چې مهدی محمد بن حسن عسکری دی. چې هغه دا وخت په غار کې شته دی، او په خپل وخت به رابښکاره کیږي. (مرقات ۹/۳۶۳)

---

[1] أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۷۷ رقم الحديث ۴۲۹۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

په یوزر (۱۰۰۰) مخلوق کې د ملخانو مکمل ختمیدل د قیامت نښه ده

﴿۲۷﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله قَالَ: فُقِدَ الْجَرَادُ فِي سَنَةٍ مِنْ سِنِي عُمَرَ الَّتِي تُوُفِّيَ فِيهَا

او حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په کوم کال وفات شو

فَاهْتَمَّ بِذَلِكَ هَمًّا شَدِيدًا

دهغه کال ذکر دی چې ملخان کم شول. حضرت عمر رضي الله عنه ملخانو په نه راتګ باندې سخت غمژن

فَبَعَثَ إِلَى الْيَمَن رَاكِبًا وراكبا إِلَى العرق وَرَاكِبًا إِلَى الشَّامِ

شو. بیا هغه یو سپور یمن ته، یو سپور عراق اړخ ته، او یو سپور شام اړخ ته ولیږلو، دې لپاره چې هغوی د

يَسْأَلُ عَنِ الْجَرَادِ هَلْ أُرِيَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَتَاهُ الرَّاكِبُ الَّذِي مِنْ قبل الْيمن

خلکو نه معلومه کړي چې ایا چا څه ملخان لیدلي دي او که نه؟ نو کوم سپور سړی چې یمن اړخ ته لیږلی

بقبضة فنثرها بين يَدَيْهِ

ؤ هغه د څان سره یو موټی ملخان راختسي د حضرت عمر رضی الله عنه خواته راغلو او د هغه مخې ته یې وشیندل

فَلَمَّا رَآهَا عُمَرُ كَبَّرَ

حضرت عمر رضي الله عنه چې کله ملخان ولیدل نو (د خوشحالۍ نه یې) د الله اکبر چیغه وچته کړه او بیا یې

وَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ أَلْفَ أُمَّةٍ

وفرمایل چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې الله تعالی د څناورو زر قسمونه پیدا کړیدي. په دې کې

سِتُّ مِائَةٍ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ وَ أَرْبَعُ مِائَةٍ فِي الْبَرِّ فَإِنَّ أَوَّلَ

شپږ سوه په دریاب کې دي او څلور سوه په ځنګل کې دي. او (کله چې قیامت راځي نو) په دوی کې به اول

هَلَاكِ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْجَرَادُ فَإِذَا هَلَكَ الْجَرَادُ

ملخان هلاک شي. (نو کله چې ملخان هلاک شي نو بیا د څناورو نورو قسمونه به هم) په دغه توګه پرله پسې

تَتَابَعَتِ الْأُمَمُ كَنِظَامِ السِّلْكِ. « رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي » شُعَبِ الْإِيمَانِ"[1]

هلاکیدل شروع شي. لکه د ملغلرو تار چې وشلیږي. او ملغلرې پرله پسې خپریدل شروع شي.

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۳۴ رقم الحديث ۱۰۱۳۲.

۳ جمادى الثاني ۱٤۱۸هـ بَابُ الْعَلَامَاتِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ وَذِكْرِ الدَّجَّالِ

د قيامت د نښانو او د دجال د راوتلو بيان

قال الله تعالى: ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ (زخرف:۶۱)

په دې باب کې د نښانو نه د قيامت هغه نښاني مراد دی چې هغه غټې نښې دي. په دې کې د دجال راوتل هم داخل دي. د دې جدا ذکر کولو ضرورت نه ؤ .خو دا د شهرت د وجې نه تخصيص بعدا لتعميم په توګه باندې جدا ذکر شويدی. د ظهور مهدی ذکر دلته کول پکار ؤ ځکه چې هغه هم په علامات کبری کې دی.خو په علامات کبری کې ځه داسې جنګونو ذکر ؤ چې د هغې تعلق د حضرت مهدی سره ؤ ، نو ځکه د مهدی تذکره هلته په علامات صغری کې وشوه.ګڼې ظهور مهدی په علامات کبری کې دی.وس د دې غټو علاماتو د راتګ ترتيب داسې دی: (۱) ظهور مهدی (۲) خروج دجال (۳) نزول حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ (۴) خروج ياجوج وماجوج (۵) خروج دآبة الارض (۶) طلوع الشمس من المغرب. په ځينو روايتونو کې دا علامات په ترتيب سره ذکر دي خو په ځينو کې د ترتيب سره ذکر ندي. (مرقات ۹/۳۶۵)

دجال د دجل نه دی. د مبالغې صيغه ده .چې دهوکه باز او فريب کونکې په معنی دی. دجال د دنيا په ځه برخه کې محبوس او پټ دی. مودوې صاحب په رسائل مسائل کې ليکلي دي چې خلکو ټوله دنيا ولټوله ، کانې دجال چيرته دی؟ د دې جواب دی چې دا غلطه ده چې خلکو دنيا لټولې ده. د نيا داسې ځايونه وس هم شته دی، چيرته چې د خلکو خيال هم ندی تللی، دنيا پريږده! د پاکستان فوکر طياره د راولپنډې نه ګلګت ته روانه شوه او په لاره کې راوګوزار شوه او تباه شوه ، ترننه پورې چاته معلومه نشوه چې د هغې ملبه چيرته پرته ده . ۴۵ کسانو باندې مشتمل ټوله طياره تروسه پورې ورکه ده. دجال هم په يو پټ ځاې کې په زنځيرونو کې تړلی شوی پروت دی. جزيره برمودا د پاسه جهاز نشي الوتلی. نه په سمندر کې جهاز تللی شي. که په دغه شان علاقو کې دجال محبوس وي . نو ځه حرج دی؟ دجال سره د مسيح لفظ لګيدلی دی، بل اړخ ته د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د نوم سره هم مسيح لګيدلی دی، خو په دواړو کې فرق دی.دجال ته ممسوح العين کيدلو په وجه باندې مسيح وايي.يا به ټوله دنيا مسح کړي، ځکه ورته مسيح ويلې شويدی. او د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره چې کوم د مسيح لفظ لګيدلی دی نو هغه د دې وجې نه دی چې هغه په ناروغانو باندې لاس راکاږو نو ناروغ به جوړيدلو ، ځکه ورته مسيح ويلی شويدی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

د قیامت نه مخکې د لسو علاماتو ښکاریدل

﴿۱﴾عَن حذيفةَ بن أُسيد الْغِفَارِيِّ قَالَ: اطَّلَعَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا

حضرت حذیفه بن اسید غفاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي مونږ خپل مینځ کې (د قیامت) ذکر کولو، نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ. فَقَالَ: «مَا تَذْكُرُونَ؟» . قَالُوا:

زمونږ اړخ ته راووتلو، او پوښتنه يې وکړه چې تاسو د څه شي ذکر کولو؟ صحابؤ وويل چې مونږ د قيامت

نَذْكُرُ السَّاعَةَ. قَالَ: " إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى

تذکره کوله. نو هله نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي چې ترڅو پورې تاسو د هغې

تَرَوْا قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ

نه مخکې لس نښاني ونه وینئ. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر کړل: (۱) لوګی (۲) دجال (۳) دآبة الارض (۴) دلمر د

وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى بْنِ مَرْيَمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ

مغرب اړخ نه راختل (۵) حضرت عیسی ابن مریم عَلَيْهَا السَّلَام راکوزیدل (۶) دیاجوج ماجوج ښکاره کیدل

وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ : خَسْفٌ

(او د ۹،۸،۷ نښې په توګه باندې) نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خسوف (يعنې په درې ځايونو کې په زمکه کې د ننوتلو) ذکر

بِالْمَشْرِقِ وَ خَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَ خَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ

وکړو. یو خو د مشرق په علاقه کې، دویم د مغرب په علاقه کې، او دریم د جزیره عرب په علاقه کې

وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ

او لسمه نښه چې هغه به د ټولو نه وروسته ظاهرېږي، هغه اور دی، چې هغه به د یمن د اړخ نه راښکاره شي

تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ ". وَفِي رِوَايَةٍ:

او خلک به راګیرولو باندې شړي او د محشر زمکې اړخ ته به یې راولي. او په یو حدیث کې داسې دي چې

«نَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ

هغه به داسې اور وي چې هغه (د یمن د مشهور ښار) عدن د آخري غاړې نه به راښکاره کیږي. او خلک به

تَسُوقُ	النَّاسَ	إِلَى	الْمَحْشَرِ»	. وَفِي	رِوَايَةٍ	فِي	الْعَاشِرَةِ

د محشر زمکې اړخ ته په شړلو بوځي. دغه شان په يو روايت کې د لسمې نښانې په توګه باندې ديمن د اړخ

«وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ

نه يا دعدنان د آخرې غاړې نه د اور رابنکاره کيدلو په ځاې باندې د يو داسې باد (هوا) ذکر دی چې هغه به

فِي الْبَحْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

خلک سمندر ته ګوزار کړي.

توضيح: الدخان: د دې لوګې نه د حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تفسير مطابق قيامت ته نژدې يو لوګې مراد دی. چې هغه به په آخره زمانه کې راځي. او د مشرق نه به مغرب پورې خپور شي، ځلوېښت ورځو پورې به وي. مسلمانانو ته به فقط د زکام کيفيت وي، خو کافر به د دې لوګې نه بيهوشه شي، په قرآن کريم کې د دې لوګې ذکر داسې دی ﴿يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ يَغْشَى النَّاسَ﴾(الدخان) د دې برعکس حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې دخان نه مراد د مکې په خلکو باندې د قحط د راتګ زمانه ده. بهرحال په حديث کې چې کوم دخان دی، هغه خو قيامت ته نژدې راتلونکی لوګی دی. البته د آيت په تفسير کې د مکې د خلکو قحط اخستل بعيد ندي، بلکې ممکنه ده: **ثم دآبة:** ځينې علماؤ ليکلي دي چې خروج دآبة به په درې زمانو کې وی، د ظهور مهدی په زمانه کې به وي. يا د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د نزول په وخت کې به وي. او بيا به طلوع الشمس په وخت کې وي. **قعر:** ژورې کندې او ليرې برخې ته قعر وايي. او عدن په يمن کې د يو غټ ښار نوم دی. يعنې د عدن د ليرې برخې نه به دا اور راوځي. (مرقات ۹/۳۶۷)

الى المحشر: عام روايتونو کې دي چې د قيامت حساب او کتاب او د خلکو د يو ځاې کيدلو مقام محشر به د شام په زمکه کې وي. المحشر نه مراد د شام زمکه ده. (مرقات ۹/۳۶۷)

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا.

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د شپږو شيانو په بناء باندې تاسو اعمال

الدُّخَانَ	وَالدَّجَّالَ	وَدَابَّةَ	الْأَرْضِ	وَطُلُوعَ	الشَّمْسِ	مِنْ	مَغْرِبِهَا

صالحه اړخ ته وړاندې والی وکړی، (او هغه شپږ شيان دا دي) لوګی، دجال، دابة الارض، د مغرب نه د لمر

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۲۵ رقم الحديث (۲۹۰۱-۳۹) وابوداود في السنن ۴/۴۹۱ رقم الحديث ۴۳۱۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَمْرَ الْعَامَّةِ وَخُوَيْصَّةَ أَحَدِكُمْ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
راختل، امر عامه، او خاص فتنه.(مسلم)

توضیح: امر العامة: يعنې هغه عامه فتنه چې هغه به خلک په خپله غیره کې راونیسي.د دین د بیزاریدلو فتنه مراد ده. **خویصة:** یعنې هغه فتنه چې په ذاتې توګه باندې د چا سره خاص وي.د هر سړي خپله ذاتي فتنه او پریشانې وي، چې د هغې تعلق به د هغه د مال، اولاد او ګاونډ د معاملاتو سره وي. د دې حدیث یو مطلب دا هم کیدلی شي، چې د عامو فتنو نه د قیامت راتګ مراد دی. او د خاص فتنې نه د هر سړي مرګ مراد دی.د دې حدیث ښودنه دا ده چې د دې شپږو علاماتو د ظهور نه مخکې په نیک اعمالو کې تُندې وکړې، ځکه چې وروسته به د اعمالو موقع نوي یا به اعمال نه قبلیږي. (مرقات۹/۳۶۸)

د قیامت اولنۍ نښه

﴿۲﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:
او حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي: د ظاهریدلو
«إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا
په اعتبار سره د قیامت په نښانو کې د ټولو نه اوله نښه د لمر د مغرب اړخ نه راختل او د ښاښتې په وخت کې
وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا
په خلکو باندې د دآبة الارض راوتل او د هغوی سره خبرې کول دي. په دې دواړو ذکر شوو نښو کې کومه
فَالْأُخْرَى عَلَى أَثَرِهَا قَرِيبًا» رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]
نښه اول ښکاره شوه د هغې نه وروسته ژر بله نښه ښکاره شي.

توضیح: اول الأيات: پوښتنه دا ده چې په دې حدیث کې طلوع الشمس من المغرب د قیامت د ټولو نه اولنۍ نښه ګرځولی شویده حالانکې د طلوع الشمس نه مخکې ډیرې نښې دي، خروج دجال د دې نه مخکې ده، نو طلوع الشمس څنګه مخکې وګرځولی شو؟د دې جواب دا دی چې د قیامت یو قِسم نښې هغه دي چې هغه د قیامت د نزدیکت نښې دي او دویم قِسم نښې هغه دي هغه د قیامت د واقع کیدلو او قیامت د شروع کیدلو دي. نو طلوع الشمس من المغرب د قیامت د شروع کیدلو په

([1])اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۷ رقم الحديث (۲۹۴۷-۱۲۹) وابن ماجه في السنن ۲/۱۲۳۸)

([2])اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶ رقم الحديث (۲۹۴۱-۱۱۸) واخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۹۰ رقم الحديث ۴۳۱۰.

اعتبار سره اولنۍ نښه ده او خروج دجال قیامت ته د نزدیکت نښه ده. اګرکه دواړه علامات کبرې دي.(مرقات۹/۳۶۹،الکاشف:۱۰/۱۱۰)

د درې نښو د ښکاره کېدلو نه وروسته به نه ایمان معتبر وي، نه نیک عمل

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: درې خبرې چې کله را ښکاره شي، نو
(لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ
بیا دېو داسې سړي ایمان راوړل چې هغه د دې نه مخکې ایمان نوي قبول کړې، هیڅ فائده به نه ورکوي، او نه دهغه سړي
أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا)
د خپل ایمان په حالت کې نیک عمل به فائده ورکړي، که هغه د دې نه مخکې دغه نیک عمل نوي کړې،
طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَالدَّجَّالُ وَدَابَّةُ الْأَرْضِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]
او هغه درې خبرې دا دي: لمر د مغرب اړخ نه راختل، دجال او دآبة الارض راوتل.

توضیح: د توبې دروازه بندیدلو لپاره اول شی **طلوع الشمس من المغرب** دی. دویم شی خروج دجال دی.او دریم شی د دآبة الارض خروج دی. دعالم آخرت څه شی کتلو نه وروسته په دې دنیا کې نه د ایمان اعتبار شته دی ، نه د نیک عمل اعتبار شته دی.هم دا وجه ده چې د غرغرې په حالت کې چې کله د آخرت شیان ولیدلی شي نو بیا توبه نه قبلیږي.معتزله او خوارج د دې آیت نه د خپلې غلطې عقیدې ثابتولو کوښښ کوي، او وایې چې د آیت مطلب دا دی چې کوم سړې د مرګ نه مخکې ایمان قبول نکړو، د مرګ نه وروسته دهغه ایمان هیڅ فائده مند ندی. دغه شان کوم سړې چې دایمان په حالت کې د غرغرې نه مخکې څه نیک عمل نوي کړی نو هغه ته به هم د هغه ایمان هیڅ فائده ورنکړي . لهذا نو دغتو ګناهونو کونکی به همیشه په دوزخ کې وي. جمهور اهل السنتفرمایې: چې دآیت مطلب دا دی چې :يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا وَلَا كَسْبُهَا الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِي إِيمَانِهَا حِينَئِذٍ إِذَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا مِنْ قَبْلُ یعنې د غیبو پرده لیرې کیدلو نه وروسته نه ایمان فائده ورکونکی دی، او نه عمل صالح فائده ورکونکی دی. ځکه چې د عمل او ایمان وخت وس ندی پاتې شوی، یعنې د غرغرې په حالت کې نه ایمان معتبر دی ، نه عمل صالح معتبر دی.(مرقات۹/۳۷۰)

---

(۱)اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۳۸رقم الحديث (۱۵۸-۴۴۹) وأبوداود في السنن ۴/۴۹۲ رقم الحديث ۴۳۱۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

لمر د عرش د لاندې د سجدې کولو مطلب

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ غربت الشَّمْس:
او حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې څه وخت لمر ډوبيدلو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: پوهيږې! دا لمر چيرته
«أَيْنَ تذهب؟» . قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: " فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى
روان دی؟ ما وويل چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دا لمر ځي تر دې چې د عرش د
تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَسْتَأْذِنُ فَيُؤْذَنُ لَهَا
لاندې رسيدلو سره سجده کوي، بيا د مشرق نه د راختلو اجازت غواړي، نو دېته اجازت ورکړی شي. او هغه
وَيُوشِكُ أَنْ تَسْجُدَ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا وَتَسْتَأْذِنُ
وخت ژر راتلونکی دی، چې لمر به سجده وکړي، خو دې سجده به قبوله نشي، او اجازت به غواړي ليکن دېته
فَلَا يُؤْذَنُ لَهَا وَيُقَالُ لَهَا: ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ
به اجازت نه کيږي، او دا حکم به ورکړی شي چې د کوم اړخ نه راغلی يې، هغې اړخ ته ستون شه، نو دا به د
فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى " (والشمسُ تجرِي
مغرب د اړخ نه راوخيژي، او هم دا مراد دی د الله تعالی د دې قول چې ﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا﴾ يعنې
لمستقرّ لَهَا) قَالَ : « مستقرها
لمر د خپل مستقر اړخ ته ځي) د غه شان نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د لمر مستقر يعنې د دې د ايساريدلو
تَحتَ الْعَرْشِ» . مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
ځای د عرش د لاندې دی.

توضيح: تسجد تحت العرش :د هر شي سجده د هغې د حال مطابق وي،نو د لمر به په روانه روانه سجده وي، دا څه ګرانه نده. نباتات، جمادات سجده خو به د انسان په شان نوي،نو هغه به په دې باندې نشي قياس کولی .لمر اګرکه هر وخت په حرکت کې وي،خو د دې تحرک سره هم د سجدې کول څه مستبعد ندي. د غه شان دا د غيب يوه معامله ده ، مونږ تردې مکلف يو چې مونږ دا ومنو چې لمر سجده کوي، نو مخکې د تفصيلاتو په معلومولو باندې مونږ مکلف نه يو ، نه د دې په پلټنه

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۹۷ رقم الحديث ۳۱۹۹ مسلم في صحيحه ۱/۱۳۸ رقم (۱۵۹-۲۵۱)

(تحقيق) کې ځان اچول زمونږ ذمه واري ده. لمستقرلها: يعنې لمر خپل مستقر اړخ ته روان دی.

سوال: د دنيا لمر هروخت طلوع وي، نو د دې په خپل مستقر کې ډوبيدل په پوهه کې نه راځي؟

جواب: د لمر يو مستقر زماني دی او بل مستقر مکاني دی، مونږ مستقر زماني مراد اخلو. چې دهغې مطلب دا دی چې د کومې زمانې نه لمر په خپل کار کې لګيدلی دی، دا په هغه کار کې اخته دی، تردې چې قيامت به راشي، نو ترقيامته پورې به لمر خپل مستقر اړخ ته روان وي. کله به هم نه ودريږي، د قرآن آيت إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى د دې رايې ملاتړ کوي. دويم جواب دا دی چې په آيت کې د مستقر نه مراد مستقر مکاني دی، او د مستقر مکاني مطلب دا دی چې په کومه ورځ الله تعالى لمر پيدا کړی ؤ او د کوم ځای نه يې لمر روان کړی ؤ، تر هغه ځای پورې به لمر روان وي، هم دا د دې مستقر دی. (مرقات ۹/۳۷۰)

د ټولو نه غټه فتنه د دجال ده

﴿٦﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا بَيْنَ
او حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوريدلي دي چې د
خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]
آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائښت نه واخله تر قيامت د ورځې پورې د دجال د فتنې نه غټه فتنه نشته دی. (مسلم)

په يوه ستر ګه به دجال کاڼی وي

﴿٧﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ
او حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: يقيناً الله تعالى په تاسو باندې مخفي ندی
إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ
بيشکه الله تعالى کاڼی ندی، او حال دا دی چې مسيح دجال په ښي سترګه باندې کاڼی دی. او د هغې د غه سترګه
عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [2]
به داسې وي لکه هغه د انګور يوه پړسيدلې دانه ده.

توضيح: اعور: د دجال فتنه به په کائنات کې د ټولو نه غټه فتنه وي، ځکه چې دجال به د خدايي

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۷ رقم حديث (۲۹۴۶-۱۲۶)

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۹۰/۱۳ رقم حديث ۷۱۲۳ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۷ رقم الحديث ۱۶۹-۱۰۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

دعوی کوي، او د هغه سره د استدراج د شتون د وجې نه به د دهوکه کولو ډېر سامان موجود وي. نو ځکه نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دجال شکل په برسيره الفاظو کې بيان کړو، چې چا ته د دجال په اړه څه اشتباه پاتې نشي. دلته دا ويلی شويدي چې د دجال به ښې سترګه کاڼې وي. **عنبة طافية**: يعنې د انګور د دانې به شان به شنه (اسمانې رنګې) راوتلي وي، چې دا انتهايې بدصورت دی. نو يوه سترګه خو يې بيخې ممسوحه، مطموسه او پوچه به وي. او دويمه به په بدترين شکل کې د انګور د دانې په شان راوتلي وي.

سوال: دلته په زير بحث حديث کې ويلی کيږي چې د دجال به ښې سترګه کاڼې وي، او په راتلونکې حديث نمبر: ۱۱ کې ويلی شويدي چې د دجال به کيڼه (ګس \ چَپ) اړخ سترګه کاڼې ده. دا واضحه تعارض دی. د دې جواب څه دی؟

جواب: مجموعې احاديثو په کتلو سره معلوميږي چې د دجال دواړه سترګې به عيبجنې وي. او په عيبجنه سترګه باندې د اعور اطلاق کيږي نو د دجال ښې سترګه به هم کاڼې وي او چپه به هم عيبجنه وي. په دې کې هيڅ تعارض نشته دی. چا چې کوم يو ذکر کړو . صحيح دی. اصل حقيقت ته که وکتلی شي دا حقيقت په واضحه توګه باندې مخې ته راځي چې د دجال ښې سترګه بيخې پاک او هوار ميدان دی، نه سترګه شته او نه د سترګې کنده، نه راوتلې سترګه شته، نه څه نور څه، بيخې پاک دی. دا حقيقت په حديث نمبر ۱۱ او حديث : ۲۲ کې په واضحه توګه باندې بيان شويدی. چې په هغې کې **اعورالعين اليسرٰی** الفاظ هم دي. او **مطموس العين ليست بناتية ولاحجراء** الفاظ هم راغلي دي. دا د دجال د چپې سترګې تفصيل دی. دلته زير بحث حديث نمبر: ۷ کې د دجال د ښې سترګې په اړه تفصيل دی. چې د انګور د دانې په شان به راوتلې وي. ګويا دا هغه سترګه ده چې په دې کې څه ناڅه ساه شته دی. څه ښنبان به وي. خو بدصورته قبيح شکل کې به وي. عيبجنه به وي، چې په هغې باندې به د کاڼې سترګې اطلاق د عيب د وجې نه کيدلی شي، لکه څنګه چې په دی حديث کې د اعور اطلاق وباندې شويدی. (مرقات ۹/۳۷۲)

دروغژن دجال به کاڼې وي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ نَبِيٍّ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: داسې هيڅ نبی ندی تير شوی چې هغه خپل امت
إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ أَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ
د دروغژن کاڼې دجال نه نه وي يرولی. خبردار وسيرئ! دجال به کاڼا وي، او ستاسو پروردګار کاڼا ندی. د غه شان

مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: ك ف ر". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

د دې (دجال) دواړو سترګو په مينځ کې ک ف ر (يعنې کافر) لفظ به ليکلی شوی وي.

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا عَنِ الدَّجَّالِ مَاحَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ؟ : إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّهُ يَجِيءُ مَعَهُ بِمِثْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَالَّتِي يَقُولُ: إِنَّهَا الْجَنَّةُ هِيَ النَّارُ وَ إِنِّي أُنْذِرُكُمْ كَمَا أَنْذَرَ بِهِ نُوحٌ قَوْمَهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: خبردار وسيږئ! زه تاسو ته د دجال په اړه باندې داسې خبره کوم چې هغه کوم بل نبي خپل قوم ته نده کړي (او هغه خبره دا ده چې) دجال به کاڼا وي او هغه به د خپل ځان سره جنت او دوزخ په شان دوه شيان راوړي. نو هغه چې کوم شي ته جنت وايي. حقيقت کې به هغه اور وي. لهٰذا زه تاسو د دې (دجال) نه يروم لکه څنګه چې نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل قوم يرولی ؤ.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ مَاءً فَنَارٌ تَحْرِقُ وَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِي يَرَاهُ نَارًا

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دجال به په داسې حالت کې حاضر شي چې د هغه سره به اوبه وي او اور به وي. خو بيا هم خلک چې به کوم شی اوبه ګڼي، هغه به په حقيقت کې سوزونکی وي، او کوم شی چې خلک اور ګڼي هغه به په حقيقت کې يخې او خوږې اوبه وي نو په تاسو کې چې کوم سړی هغه بيا مومي نو هغه لپاره پکار دي چې هغه په هغه څه کې ځان ګوزار ول خوښ کړي، کوم چې هغه د اور په شکل کې ويني. ځکه چې په حقيقت کې هغه اور ندی، بلکې ډيرې

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۴۱۵ رقم الحديث ۷۴۳۱ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۸ رقم الحديث (۲۹۳۳-۱۰۱)

([2]) أخرجه البخاريفي صحيحه ۶/۳۷۰ رقم الحديث ۳۳۳۷ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۵۰. رقم الحديث (۲۹۳۶-۱۰۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ» . مُتَّفق عَلَيْهِ. وَزَاد مُسلم:
خوږي او خوښ کړی شوي او به به وي. (بخاري و مسلم) او مسلم په خپل روایت کې دا الفاظ ورسره زیاتې نقل
«إِن الدجالَ ممسوحُ العينِ عَلَيْهَا ظفرةٌ غليظةٌ مَكْتُوب بَين عَيْنَيْهِ
کړیدي چې دجال به ممسوح العين وي او په هغې باندې سخت نوک وي او د هغه د سترګو په مینځ کې
كَافِر يَقْرَؤُهُ كل مُؤمن كَاتبٌ وَغير كَاتب»[1]
به کافر لفظ لیکلی شوی وي، او دا لفظ به هر مؤمن لوَلي. که هغه لیکلو (او لوستلو) باندې پوهیږي او که نه پوهیږي.

توضيح: يعني کله غوبنه چې هغه به د پوزې د اړخ نه په سترګه ورختلي وي، لکه نوک چې تراشل شوی وي. دا صفت د دجال د چپې سترګې دی چې هغه بيخې پاک ميدان دی، ورسره راتلونکې حديث کې د چپې سترګې تصريح شته د نبې سترګې تفصيل په تير شوې حديث نمبر: ۷ کې ذکر شوی. **جفال الشعر**: ای کثير الشعر، بدن باندې به يې ډير زيات ويختان وي. لکه د ځنګل ځناور چې دی. (مرقات ۹/۳۷۷)

﴿۱۱﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى
او حضرت حذيفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د دجال به چپه سترګه کانړې وي، په
جُفَالُ الشَّعَرِ مَعَهُ جَنَّتُهُ وَنَارُهُ
هغه باندې به ډير زيات ويختان وي. او د هغه سره به د هغه جنت وي او د هغه اور به وي، ليکن د هغه اور به
فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ» . رَوَاهُ مُسلم[2]
په حقيقت کې جنت او د هغه جنت به په حقيقت کې اور وي.

د دجال جادوې کارونه او د ياجوج ماجوج خروج

﴿۱۲﴾ وَعَن النوَّاس بن سمْعَان قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ
او حضرت نواس بن سمعان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دجال (د راوتلو) دهغې د دهوکو او دهغې
فَقَالَ: «إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ
په فتنه کې د خلکو د اخته کيدلو ذکر وکړو. نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: که دجال راووځي او زه په تاسو کې موجود

---

(۱)اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۹۲ رقم الحديث ۳۴۵۰ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۹ رقم الحديث (۲۹۳۴-۱۰۵)

(۲)اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۵۰ رقم الحديث (۲۹۳۷-۱۱۰) وابوداود في السنن ۴/۴۹۶ رقم الحديث ۴۳۲۱.

فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ
يم نو زه به د هغې سره ستاسو په مخامخا جنګ وکړم او په دليل سره به په هغه باندې غالبه کيږم. او که دجال
وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ
هغه وخت راووتلو چې زه به نه يم نو بيا په تاسو کې هر سړی به د خپل ځان د اړخ نه د هغه سره جنګ
وَاللهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ إِنَّهُ شَابٌّ
کونکی وي. او زما وکيل او خليفه د هر مسلمان لپاره الله تعالی دی. دجال به ځوان وي. د هغه ويختان به
قَطَطٌ عَيْنُهُ طَافِيَةٌ كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ
کوړکوټې وي. او د هغه سترګې به راپړسيدلې وي. ګويا د هغه د قطن د ځوې عبد العزی سره تشبيه ورکولی شم
بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ»
نو په تاسو کې چې کوم سړی هغه بيامومي، هغه لپاره پکار دي چې هغه د هغه مخې ته سورة کهف اولنې
وَفِي رِوَايَةٍ «فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ بِفَوَاتِحِ سُورَةِ الْكَهْفِ فَإِنَّهَا جوارُكم من فتنته إِنَّه خارج خلة
آيتونه ولولي. ځکه چې دغه آيتونه به تاسو د دجال د نه په امن کې وساتي. دجال به د لارې نه راښکاره
بِي الشَّامِ وَالْعِرَاقِ فَعَاثَ يَمِينًا وَعَاثَ شِمَالًا
کيږي، چې هغه د شام او عراق ترمينځ پرته ده. او ښي او چپ (کيڼ) اړخ ته به فساد خپروي. (پس) ای د الله
يَا عِبَادَ اللهِ فَاثْبُتُوا» . قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ
بنديګانو! تاسو ثابت قدم وسيږئ. راوي وايي چې مونږ ددې (اوريدلو) سره ووېل چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! هغه
وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: «أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَوْمٌ
به څومره ورځې په ځمکه باندې وسيږي؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: څلويښت ورځې. يوه ورځ خو به يې د يو
كَسَنَةٍ وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ
يو کال برابر وي. دويمه ورځ به يې د مياشتې برابر وي، او يوه ورځ به يې د اونۍ (هفتې) برابر وي، او پاتې
وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ» . قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ فَذَلِكَ الْيَوْمُ
ورځې به يې ستاسو د ورځو په شان وي. مونږ ووېل چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! په دې ورځو کې چې کومه يوه ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ. قَالَ: «لَا

دیو کال برابروي، آیا زمونږ به په دغه ورځ دیوې ورځې لمونځ وي؟ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: نا! بلکې د لمونځ

اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ». قُلْنَا: يَا رسولَ الله وَمَا إِسْرَاعُهُ

کولو لپاره به د یوې ورځې حساب کول وي. مونږ وویل: یارسول الله! هغه به په زمکه باندې څومره تیز

فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: "كَالْغَيْثِ

ګرځیږي؟ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هغه به د هغه وریځې د باران په شان په تیز مزل باندې ګرځي چې هغې

اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ فَيَدْعُوهُمْ

پسې باد وي! هغه به د یو یو قوم خواته رسیږي او هغوې ته به خپل دعوت ورکوي. خلک به په هغه باندې

فَيُؤْمِنُونَ بِهِ فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ

ایمان راوړي، یعنې د هغه په دهوکه کې په راتلو سره به د هغه اتباع کوي. بیا به هغه د وریځې نه باران

فَتُمْطِرُ وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ

راوریدلو حکم ورکړي نو باران به راوریږي، او زمکې ته به د شینکې رازغورنولو حکم وکړي نو هغه زمکه

فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ

به شینکی رازرغون کړي. نو بیا کله چې مابنام د دغه قوم څاروي راشي چې هغه د څریدلو لپاره سحر څنګل

أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًى وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ

ته تللي ؤ د هغوې کوفونه به غټ شي او د هغې تیونه به ډک وي. بیا د دېنه وروسته به دجال یو بل قوم ته لاړ

فَيَدْعُوهُمْ فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ

شي او هغوې ته به خپل دعوت ورکړي لیکن د هغه قوم خلک به د دغه دعوت رد کړي. او دا به د هغوې د

قَوْله فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ فيصبحون ممحلين

خوا نه لاړ شي. بیا د دغه قوم خلک به قحط او وچکالې او د سخت حالت ښکار شي. تر دې چې هغوې به د

لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَيَمُرُّ

مال و اسباب نه بیخي خالي لاس نه شي. د دې نه وروسته به دجال په غیر آباده ځای باندې تیر شي، او هغې

بِالْخَرِبَةِ	فَيَقُولُ	لَهَا:

ته به حکم وکړي چې خپلې خزانې راوباسه. نو هغه غیر آباده ځای به د دجال د حکم مطابق خپلې خزانې

أَخْرِجِي	كُنُوزَكِ	فَتَتْبَعُهُ	كُنُوزُهَا	كَيَعَاسِيبِ	النَّحْلِ

راوباسي، او دغه خزانې به داسې هغه پسې شاته راونې وي لکه څنګه چې د شهدو د مچو سرداروي، بیا به

ثُمَّ	يَدْعُو	رَجُلًا	مُمْتَلِئًا	شَبَابًا

دجال یو سړی چې هغه په پوره ځوانۍ کې وي، خپل اړخ ته به یې راوبلي، او په هغه باندې به د تورې داسې

فَيَضْرِبُهُ	بِالسَّيْفِ	فَيَقْطَعُهُ	جَزْلَتَيْنِ	رَمْيَةَ	الْغَرَضِ

وار وکړي چې هغه به دوه ټوټې شي. لکه څنګه چې د غشي نښه ویشتلی کیږي. د دې نه وروسته به دجال دغه

ثُمَّ	يَدْعُوهُ	فَيُقْبِلُ	وَيَتَهَلَّلُ

زلمی راغواړي نو هغه به ژوندي کیدلو باندې د هغه ته متوجې شي. او دغه وخت به د هغه مخ ډیر تازه او

وَجْهُهُ	يَضْحَكُ	فَبَيْنَمَا	هُوَ	كَذَلِكَ	إِذْ

روښانه وي. لنډا دا چې دجال به دغه شان د دهوکې او فریبي کارونو کې مشغول وي. چې ناڅاپه به الله تعالی

بَعَثَ	الله	الْمَسِيحَ	بْنَ	مَرْيَمَ	فَيَنْزِلُ	عِنْدَ	المنارة	الْبَيْضَاء	شرقيّ دمشق

عیسی ابن مریم عَلَيْهِ السَّلَامُ نازل کړي. چې هغه به د دمشق مشرقي اړخ ته په سپینه میناره راکوزیږي.

بَيْنَ	مهروذتين	وَاضِعًا	كَفَّيْهِ

دغه وخت به عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د زیړ رنګ جامې راغوستي وي. او خپل دواړه ورغوي به یې د فرشتو په

عَلَى	أَجْنِحَةِ	مَلَكَيْنِ	إِذَا	طَأْطَأَ	رَأْسه قطر

وزرو باندې ایښي دلو سره د آسمان نه راکوزشي. هغه چې څه وخت خپل سر ټیټ کړي نو خوله به ترینه وڅڅیږي

وَإِذَا	رَفعه	تحدر منه	مثل	جُمان	كَاللُّؤْلُؤِ

او کله چې سر وچت کړي نو د هغه د سر نه به د سپینو زرو په شان څاڅکي ګوزاریږي. چې هغه به د ملغلرو

فَلَا	يحل	لكافر	يَجِدَ	مِنْ	رِيحِ	نَفَسِهِ	إِلَّا	مَاتَ وَنَفَسُهُ

وي. دا به ناممکنه وي چې کوم کافر ته د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ساه ورسیږي او هغه مړ نشي. او د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَنْتَهِي	حَيْثُ	يَنْتَهِي	طَرْفُهُ	فَيَطْلُبُهُ	حَتَّى

د ساه باد به د هغه د نظر تر حده پورې ځي. بيا به حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام دجال لټوي، تردې چې هغه به

يُدْرِكَهُ	بِبَابِ	لُدٍّ	فيقتُله	ثُمَّ	يَأْتِي	عِيسَى

په باب لُد کې بيامومي او قتل به يې کړي. د دېنه وروسته به حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام خواته هغه خلک

إِلى	قَوْمٌ	قَدْ	عَصَمَهُمُ	الله	مِنْهُ	فَيَمْسَحُ	عَنْ	وُجُوهِهِمْ

راځي، څوک چې الله تعالى د دجال د مکر او فريب او فتنې نه ساتلي وي. حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام به د

وَيُحَدِّثُهُمْ	بِدَرَجَاتِهِمْ	فِي	الْجَنَّةِ

خلکو د مخونو نه ګرد و غبار پاک کړي او هغوې ته به د هغوې د درجاتو او مرتبو زيرى ورکړي. چې هغه به

فَبَيْنَمَا	هُوَ	كَذَلِكَ	إِذْ

دوې په جنت کې بيامومي. حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام به په دغه حال کې وي، چې ناڅاپه به د الله تعالى دا ړخ نه هغه

أَوْحَى	الله	إِلى	عِيسَى:	أَنِّي	قَدْ	أَخْرَجْتُ	عِبَادًا	لِي	لَا	يَدَانِ	لِأَحَدٍ	بِقِتَالِهِمْ

وحې راشي چې ما خپل ډير داسې بنديګان پيدا کړي دي چې د هغوې سره د جنګ کولو طاقت هيڅوک نلري

فَحَرِّزْ	عِبَادِي	إِلَى	الطُّورِ

لهذا ته زما بنديګان راغونډ کړه او کوه طور اړخ ته لاړ شه. او د هغوې ساتنه وکړه. بيا به الله تعالى

وَ	يَبْعَثُ	الله	يَأْجُوجَ	وَ	مَأْجُوجَ	(	وَهُمْ	مِنْ	كُلِّ	حَدَبٍ	يَنْسِلُونَ)

ياجوج او ماجوج راښکاره کړي. چې هغوې به د هرې وچتې زمکې نه په تيزې باندې اوړي، او منډې به وهي

فَيَمُرُّ	أَوَائِلُهُمْ	عَلَى	بُحَيْرَةِ	طَبَرِيَّةَ	فَيَشْرَبُونَ	مَا	فِيهَا

کله چې د هغوې د ټولو نه اوله ډله د طبريه په بحر باندې تيريږي نو د هغې ټولې اوبه به وڅکي، بيا د دېنه

ويمر	آخرهم	وَيَقُول:	لَقَدْ	كَانَ	بِهَذِهِ

وروستنۍ ډله چې په هغه ځاې باندې تيريږي نو طبريه بحر په خالي کتلو باندې به وواېي چې کله خو به دې

مَرَّةً	مَاءٌ	ثُمَّ	يَسِيرُونَ	حَتَّى	يَنْتَهُوا	إِلَى	جَبَلِ	الْخَمَرِ

کې اوبه وي. د دېنه وروسته به ياجوج ماجوج مخکې لاړ شي، تردې چې جبل خمر ته به ورسيږي، چې هغه د

وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَيَقُولُونَ لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ
بیت المقدس یو غر دی، نو وایي به چې مونږ د زمکې وسیدونکې ختم کړل، وس راځئ چې د آسمان
فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرُدُّ اللهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا
وسیدونکې ختم کړو ، نو هغوی به د آسمان اړخ ته خپلې غشي وولي او الله تعالی به د هغوی غشي په وینو
وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللهِ وَأَصْحَابُهُ
باندې ککړ راستانه کړي، په دې زمانه کې به د خدای نبی او د هغه ملګرې یعنې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ
حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ
او د هغه وخت مؤمنان کوه طور کې به ایسار وساتلی شي، او د هغې خلکو لپاره به د غوې سر ستاسو د نن
خَيْرًا مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى
د سلو دینارو نه غوره وي. د الله تعالی نبی حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغه ملګرې به د یاجوج او ماجوج
وَأَصْحَابُهُ فَيُرْسِلُ اللهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ
د هلاکت لپاره د دعاء او فریاد وکړي. نو الله تعالی به د هغوی په څټونو کې د نغف د چینجو لګیدلو ناروغي
فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ
پیدا کړي. چې د هغې په صورت کې به د خدای قهر په دوې باندې داسې نازل شي چې ټول به په یو وخت
ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ
کې مړه شي. د الله تعالی نبی حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغه ملګرې به د غر نه زمکې ته را کوز شي. نو
فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ
هغوی ته به په زمکه باندې یو ولیشت زمکه هم داسې په لاس ورنشي چې هغه د یاجوج او ماجوج د وازګې
وَنَتْنُهُمْ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى اللهِ
او بدبوې نه خالي وي. حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ او هغه ملګرې به د الله تعالی نه دعاء وکړي نو هله به
فَيُرْسِلُ اللهُ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ
الله تعالی د بختي اوښانو د څټونو په شان اوږده اوږده څټونو والا مارغان رالیږي چې هغوی به د یاجوج ماجوج

Maktaba Tul Ishaat.com

فَتَحْمِلُهُمْ فَتَطْرَحُهُمْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ «. وَفِي رِوَايَةٍ»

به مري به وچت كړي او چيرته چې د الله خوښه وي نو هلته به يې ګوزار كړي. او مسلمانان به د ياجوج

تَطْرَحُهُمْ بِالنَّهْبَلِ وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ ثُمَّ

او ماجوج ليندۍ، غشي او د غشو كڅوړي به تر اووه كاله پورې سيزي، بيا به الله تعالى يو تيز

يُرْسِلُ اللهُ مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ

باران راولي، چې د هغې نه به يو هم كور كه هغه د خټو وي او كه د وړي وي، نه بچ كيږي.

فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حَتَّى يَتْرُكَهَا كَالزَّلَفَةِ ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ: أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ

دغه باران به ځمكه په اينزلو سره د شيشې په شان پاكه كړي. بيا به ځمكې ته حكم وركړى شي چې خپله ميوه يعنې خپل پيداوار

وَرُدِّي بَرَكَتَكِ فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ

راوباسه او خپل بركتونه بيرته راوړه (د ځمكې پيداوار به دومره بركتي وي چې) د لسو نه تر څلويښتو كسانو

مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ

پورې ډله به په يو انار باندې مړيږي، او د دې انار په پوستكي باندې به خپل سيورى كوي. دغه شان په پيو

حَتَّى إِنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لَتَكْفِي الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ

(شيدو) كې به بركت وي تردې چې پيۍ وركونكې يوه اوښه به د يو غټ جماعت لپاره كافي وي. او پيۍ

وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْبَقَرِ لَتَكْفِي الْقَبِيلَةَ مِنَ النَّاسِ وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْغَنَمِ لَتَكْفِي الْفَخِذَ مِنَ النَّاسِ

وركونكې يوه غوا به د يوې قبيلې لپاره كافي وي. او پيۍ وركونكې يوه بيزه به د سرو يو وركوټي جماعت لپاره

فَبَيْنَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً

كافي وي. بهر حال دغه شان خوشحالي او امن او د راحت ژوندي به تيروي چې الله تعالى به يوه خوشبوداره

فَتَأْخُذُهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ

باد راوليږي چې هغه به د دوى د تخرګونو لاندينۍ برخه ونيسي او بيا به هغه باد د هر مؤمن او هر مسلمان

فَتَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مؤمنٍ وكلِّ مسلمٍ وَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فِيهَا

روح قبض كړي. او فقط بدكار او شريان خلك به په دنيا كې پاتې شي، چې هغوى به خپل مينځ كې وحشي

تَهَارَجَ الْحُمُرِ فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ
خرو په شان ګډوډ شي. او په دغه خلکو به قيامت راځي. دا ټول روايت مسلم نقل کړيدی، د بل روايت د
إِلَّا الرِّوَايَةَ الثَّانِيَةَ وَهِيَ قَوْلُهُ: " تَطْرَحُهُمْ بِالنَّهْبَلِ إِلَى قَوْلِهِ: سبع سِنِين ". رَوَاهَا التِّرْمِذِيّ[1]
د دې الفاظو نه غيره **تطرحهم بالنهبل** نه تر **سبع سنين** پورې چې دا ترمذي نقل کړيدی.

توضيح: **وانا فيكم**: يعنې که زما په شتون کې دجال خروج وکړي نو زه به دهغه سره مقابله کوم.

حجيج نفسه: يعنې که زه نه يم نو هر سړی به د خپل ايمان د اړخ نه خپله دفاع خپله کوي. مودودی صيب وايې چې نبی کريم ﷺ ته خپله د دجال په اړه باندې شک ؤ او د کانې دجال واقعات د دروغو قيصې (افسانې) دي. د دې جواب دا دی چې مودودی صيب دا غلط ويلي دي. نبی کريم ﷺ د دجال بيلا بيل حالتونه بيان کړيدي. دا شک نه ؤ. بلکې د بيلا بيلو حالتو دا بيلا بيل تعبيرات دي. (مرقات ۹/۳۷۷)

په صحيح احاديثو او په اجماع د امت سره خروج د دوجال ثابت دی. نبی کريم ﷺ په تاکيد سره امت ته لاربنودنه کړيده، لهذا د دجال نه به انکار څوک دجال کوي. **قطط**: يعنې د دجال ايختان به کوږکوټې وي. **عينه طافيه**: يعنې يوه سترګه به يې راپړسيدلي وي. **خلة**: لارې ته **خلة** وايې. دجال د شام و عراق ترمينځ په کومه جزيره کې بند دی. چې هغې ته جزيره برمودا ويلی کيدی شي، دهغه ځای نه په راوتلو سره به په دغه لاره رابنکاره کيږي. **فعاث**: يعنې فساد خپرولو باندې به ښي او کين اړخ ته ګرځي. **سارحتهم**: يعنې څاروي چې څريدونکې دي. **ذرى**: دا جمع ده د دې مفرد ذروةدی. د کوف وچتې برخې ته وايې. **اسبغه**: د کامل او مکمل په معنی دی. **ضروعاً**: دا د ضرع جمع ده. تيانو ته وايې. د پيو ډيروالي ته اشاره ده. **خواصر**: د **خاصرة** جمع ده. تشي ته وايې. يعنې د ډير خوراک د وجې نه به يې غټې غټې تشي وي. **مملحين**: اى داخلين فی الممحل وهو القحط يعنې دا قوم په په وچکالی کې اخته شي ګويا دجال به په دوې باندې اقتصادی پابندې ولګوي. **يعاسيب**: ديعسوب جمع ده. شهدو مچو باچا ته يعسوب وايې. **جزلتين**: د جزلة تثنيه ده. دوه ټوټې مراد دي. **رمية الغرض**: يعنې دا سړی به دوه ټوټې شي، او د ده د بدن دوه برخې به دومره ليرې

([1])اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۵۰ رقم الحديث (۲۹۳۷-۱۱۰) وابوداود في السنن ۴/۴۹۶ رقم الحديث ۴۳۲۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

لاړي شي لکه څنګه چې د غشي هدف ليرې وي. په دې کې د دواړو ټوټو ليرې والی ښودلی شويدی. کيدی شي دا سړی حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وي. مهزودتين : دا لفظ دال او ذال په دواړو ويلی شويدی. دال سره ډير مشهور دی. يعنې حضرت عيسی به ورس او زعفرانو د رنګ په شان رنګ شوي زيرې او زعفراني جامې وي. دغه به اغوستلي وي. طأطأ: يعنې کله چې سر خکته کړي نو د مخ نه به يې د څاڅکو په صورت کې خوله څڅيږي او کله چې سر وچت کړي نو د سپينو زرو د دانو په شان به يې خوله بهيږي. چې هغه به د ملغلرو په شان وي. بباب لد: د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نظر چې تر کوم ځايه پورې کار کوي نو تر هغه ځايه پورې به يې ساه رسيږي. او تر کوم ځايه پورې چې يې ساه ځي ، کافر به خپله د دېنه مړ کيږي. خو الله تعالی به دجال ذليله کوي نو د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د لاسه به د برچهي وار خوړولو باندې د هغې نه مردار شي. دجال به د تختيدلو پورا کوښښ کوي، خو د باب لد مقام باندې به د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس راشي.نن سبا چې چيرته اسرائيل پراته دي، هغه د فلسطين علاقه ده، په اسرائيل کې تل ابيب يو ځاې دی. چې د اسرائيلي حکومت صدر مقام دی. تل ابيب سره باب لد يو ځاې دی. چې هلته اسرائيلو يو مضبوط هوايي ميدان (ائير پورټ) جوړ کړيدی. د عوامو د استعمال لپاره دا هوايي ميدان ندی. بلکې فقط دجال يې محفوظ ځاې ته د رسولو لپاره دا جوړ کړيدی. په دې ائير پورټ باندې يو جهاز ولاړ دی، چې هغه فقط د دجال د سپرلۍ لپاره کيخودلی شويدی. په دې حديث کې وړاندوينه ده چې باب لد باندې به د جال ووژلی شي.د دې وجې نه اسرائيلي حکومت په باب لد کې د جال لپاره د ساتنې سامان جوړ کړيدی. دې لپاره چې خپل خدای د دې مشکل نه وباسي خو داسې به نکيږي، بلکې دجال به په باب لد کې ووژلی شي. او بيا به په يهودو باندې قتل عام زمانه راشي.

لايدان: يعنې د هغوې مقابله هيڅوک نشي کولی، ځکه چې ډير به هم وي، او شرير به وي.

بُحَيْرَة: په شان کې د يو نهر بلکې د يو سيند نوم دی.

طبرية :په شام کې د يو ځاې نوم دی.چيرته چې دا او به جمع دي. ترلس ميله مزل پورې د دې اوبو د سمندر اوږد والی دی.ياجوج ماجوج به د دې څکلو سره داوچ کړي. بيا به وايي، مونږ اوريدلي دي چې دلته به کله اوبه هم وي. نشاب: غشي ته نشاب وايي.

مخضوبة دمًا: يعنې په اينو باندې ککړ او اينو باندې رنګ شوی بيرته راشي.

رأس الثور: يعنې د غوې سر به د سلو دينارو نه غوره وي.دا به د معيشت د تنګوالي د وجې نه به وي.

حَتّٰى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ» . قَالَ: " ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ

شي، تردې چې د هغه د دواړو خپو ترمينځ به دوه ټوټې کړی شي. نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دجال به د دې دواړو

ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: أَتُؤْمِنُ بِي؟ فَيَقُولُ:

برخو ترمينځ ګرځي او وايي به چې ودرېږه. هغه مسلمان سړی به ېيخې نيغ ودرېږي. بيا به دجال هغه ته

مَا ازْدَدْتُ إِلَّا بَصِيرَةً ".

ووايي چې ته وس په ما باندې ايمان راوړې؟ هغه سړی به جواب ورکړي چې وس خو زما يقين پوخ شو، او

قَالَ: " ثُمَّ يَقُولُ:

زما بصيرت ډير شو. چې ته دروغژن يې. نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د دېنه وروسته به دغه مسلمان سړی ووايي

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ ".

چې خلکو! بنه پوهه شئ! دې دجال چې څه زما سره وکړل، وس يې د هيچا سره هم نشي کولی. نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ: «فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ فَيُجْعَلُ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ

وفرمايل: بيا به دجال دا ونيسي او حلالول (ذبح کول) به يې وغواړي خو د مرۍ ترهډوکي پورې د هغه مرۍ

إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا

د تانبې جوړه شي، (شرح السنة کې د معمر دا قول دی چې ما ته رارسيدلی دی، په دې کې دا سې دي چې

فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا»

چې د دې سړي په څټ باندې به د تانبې تخته کيخودلی شي) چې د هغې د وجې نه به دا هغه نشي وژلی.

قَالَ: «فَيَأْخُذُهُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ فَيَحْسِبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ

د دېنه وروسته به د دې سړي دواړه لاسونه او دواړه خپې نيولو باندې دا وچت کړی شي او ګوزار به کړی شي.

وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ»

د خلکو به دا خيال وي چې دا اور ته ګوزار کړی شو. خو په حقيقت کې به هغه جنت ته ګوزار کړی شي

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هٰذَا أَعْظَمُ النَّاسِ

(دا بيان کولو نه وروسته) نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دا سړی به د اللّٰه رب العلمين په نزد باندې د شهادت په

Maktaba Tul Ishaat.com

شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ» . رَوَاهُ مُسلم[۱]
اعتبار باندې به د الله رب العلمين په نزد د ټولو نه غټې درجې والا وي.

توضيح: المسالح: دا جمع ده، د دې مفرد مسلحة دی. محافظ او څوکيدار ته وايي. **تعمد**: يعني ته چيرته ځې؟ پاتې شوه دا خبره چې دا سړی به څوک وي. نو په دې کې اختلاف دی. عام شارحين وايي چې دا خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وي. د دېنه معلومه شوه چې هغه تروسه پورې ژوندی دی. د عام امت دا خيال دی. **فيشبح**: ستونې ستاق اچلو ته وايي. پرمخې اچلو ته هم وايي.

شجوه : يعني دهغه سر بنه ټپي (زخمي) کړې دا لفظ شبحوه هم نقل شويدی. چې ترجمه يې دا ده چې دا سړی پرمخې يا ستونې ستاق ګوزار کړې.

فيوشع ظهره: يعني په وهلو وهلو سره ترينه چيلي کباب به جوړ کړی شي.

فيوشر بمنشار: يعني د آرې په ذريعه سره د سر نه واخله ترخپو پورې به دا سړی دوه ټوټې کړي.

ترقوته: د مرۍ هډوکي ته ترقوت وايي. **نحاسًا**: نحاس تانبه (پيتلو) ته وايي. (مرقات ۹/۳۹۷)

لايفعل: يعني دجال به د استدراج په توګه باندې چې ورته کوم مهلت ورکړی شوی وي، او س هغه ختم شو . و س هغه هيڅ چل سره څوک وژلی يا ژوندې کولی نشي.

﴿۱۴﴾وَعَن أُمِّ شريكٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ
او حضرت ام شريک رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: خلک به د دجال نه په تيښته
حَتَّى يَلْحَقُوا بِالْجِبَالِ» قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله
باندې په غرونو کې پټ شي. ام شريک رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما وويل چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! په دغه
فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ:
ورځو کې به عرب چيرته وي؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: عرب ډير لږ وي. او د دجال سره به د جهاد
«هُمْ قَلِيلٌ» . رَوَاهُ مُسلم[۲]
او مقابلې کولو طاقت او قدرت نلري.

(۱)اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۵۶ رقم الحديث (۲۹۳۸-۱۱۳)

(۲)اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۶ رقم الحديث ۲۹۴۵-۱۲۵) والترمذي في السنن ۵/۶۸۱ رقم الحديث ۶/۴۶۲.

ثُمَّ	تَصْرِفُ	الْمَلَائِكَةُ	وَجْهَهُ	قِبَلَ	الشَّامِ

شي. بیا به فرښتي د هغه مخ د شام علاقې اړخ ته واړوي، دې لپاره چې د کوم ځای نه راغلی دی، هلته لاړ شي

وهنالك يهلِكُ». مُتَّفقٌ عَلَيْهِ[1]

او دجال به هلته مردار شي.

﴿۱۸﴾وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ

او حضرت ابوبکره رضي الله عنه نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د مديني خلک به

رُعْبُ	الْمَسِيحِ	الدَّجَّالِ	لَهَا	يَوْمَئِذٍ

د دجال د رعب او يرې نه محفوظ وي. په هغه ورځ چې کله دجال مديني ته د راننوتلو په اراده باندې راشي

سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

د مديني به اووه دروازې وي، او په هره دروازه باندې به دوه فرښتې وي.

حضرت تميم داري رضي الله عنه د سترګو ليدلی حال د دجال بيانوي

﴿۱۹﴾وَعَنْ فَاطِمَة بنت قيس قَالَتْ: سَمِعْتُ مُنَادِيَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت فاطمه بنت قيس رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤذن دا اواز الصلوٰة جامعة لمونځ

فَلَمَّا	قَضَى	صَلَاتَهُ

راجمع کونکی دی، او ريدلو باندې جومات ته ورسيدلم، او بيا ما د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره لمونځ وکړو،

جَلَسَ	عَلَى	الْمِنْبَرِ	وَهُوَ	يَضْحَكُ

نبي عليه السلام د لمونځ نه فارغيدلو باندې په منبر کيناستلو، د غه وخت د نبي عليه السلام په شونډو باندې خندا وه.

فَقَالَ: «لِيَلْزَمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ» . ثُمَّ قَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ

نبي عليه السلام وفرمايل: کوم سړی چې چيرته لمونځ کړيدی، هلته دې کيني. بيا يې وفرمايل: آيا تاسو پوهيږئ چې ما تاسو

لِمَ جَمَعْتُكُمْ ؟ » . قَالُوا : اللهُ وَ رَسُولُهُ أَعْلَمُ . قَالَ :

ولې راغونډ کړي ياست. صحابو عرض وکړو: الله او د هغه رسول به پوهيږي! نبي نبي عليه السلام وفرمايل: په

---

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۰۵ رقم الحديث (۱۳۸۰-۴۸۶) والترمذي في السنن ۴/۴۴۶ رقم الحديث ۲۲۴۳.

[2] أخرجه البخاري في صحيحه ۴/۹۵ رقم الحديث ۱۸۷۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

" إِنِّي وَاللهِ مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ

خدای قسم ما خو نه تاسو نه کوم مینه کونکې شي لپاره راغونډ کړي یاست او نه د څه ویرونکې شي

وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ لِأَنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ

لپاره بلکې ما تاسو د دې لپاره راغونډ کړي یاست چې تمیم داري چې دا یو نصراني ؤ، او مسلمان شو، او

وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي

هغه ما ته داسې واقعه واوروله چې هغه د مسیح دجال په اړه د هغه خبرو سره مطابق ده چې زه یې تاسو ته

كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ بِهِ

وایم. نو ما مناسب وګڼل چې د تمیم داري واقعه تاسو ته هم واوروم. دې لپاره چې د دجال په اړه باندې ستاسو

عَنِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ حَدَّثَنِي

یقین نور هم پوخ شي. او زما ویلې شوې خبرې د مشاهدې سره برابرې شي. نو واورئ! ما ته تمیم داري بیان

أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ وَجُذَامَ

کړل چې هغه یو ورځ د لخم او جذام قبیلې د دیرشو کسانو سره په یو بحري کشتۍ کې سپور شو. نو د اوبو

فَلَعِبَ بِهِمُ الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ فَأَرْفَؤُوا إِلَى

چپو یوې میاشت پورې د کشتۍ د سپرلو سره لوبې کولې. تر دې چې دې چپو دا کشتۍ د لمر ډوبیدلو په وخت

جَزِيرَةٍ حِينَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ فَجَلَسُوا فِي أَقرب سفينة

کې یو ټاپو (جزیره) ته نژدې ورسوله او ټول سپاره په هغه وړو کشتو کې کیناستل چې د دې غټې کشتۍ سره

فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ

وې، دغه ټاپو ته ورسیدل. هلته مونږ داسې څاروی ولیدلو چې د ډیرو ایختانو والا ؤ. او د ډیرو ایختانو د وجې

لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ

نه خلکو ته به د هغې مخکنۍ او وروسته برخه نه معلومیدله. یعنې د غه څاروي په بدن باندې دومره ایختان

قَالُوا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟

ؤ چې ټول بدن یې پکې پټ شوی ؤ. خلکو وویل: چې په تا دې افسوس وي! ته څوک یې او څه شی یې؟

قَالَ لَهُمْ: قد كانَ ذلكَ؟ قُلْنَا: نعم. قَالَ: أَمَا إِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ لَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ وَإِنِّي

معد ريل: چې تاسو ته دې معلومه وي چې دغه خلکو لپاره د ده اطاعت کول غوره دي، او وس زه تاسو ته

مُخْبِرُكُمْ عَنِّي: إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ وَإِنِّي يُوشِكُ

د خپل ځان په اړه باندې وایم: زه په حقیقت کې مسیح یعنې دجال یم. هغه زمانه ډېر ژر راتلونکې ده چې

أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَأَخْرُجَ فَأَسِيرَ فِي الْأَرْضِ

ماته به د وتلو اجازت راکړی شي. هغه وخت به وځم، او ځلوېښت ورځې به په زمکه باندې ګرځم، تر دې

فَلَا أَدَعُ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ

چې یوه آبادي به داسې نه پرېږدم چې هغې ته زه داخل نشم، د مکې او مدینې نه غیره، دا دواړه ښارونه په

هُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا

ما باندې حرام ګرځولی شوي دي. یعنې دې دواړو ښارونو ته زما ننوتل به منع وي. کله چې زه په دې دواړو

كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً أَوْ وَاحِدًا مِنْهُمَا استقبلني ملكٌ بيدهِ السيفُ صَلْتًا

ښارونو کې یو ښار ته ننوتل وغواړم نو زما مخې ته به یوه فرښته راشي چې د هغې په لاس کې به لوڅه توره وي

يَصُدُّنِي عَنْهَا وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا

دغه فرښته به ما دغه ښار ته د ننوتلو نه ایسار کړي. حقیقت دا دی چې د دې نه د هر یو ښار په لارو باندې

مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا. " قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ

فرښتې مامور دي. چې هغه د دې ښارونو ساتنه کوي. راوي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله همسا مبارکه په

فِي الْمِنْبَرِ: «هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ» يَعْنِي الْمَدِينَةَ

منبر باندې په وهلو سره (درې ځل) وفرمایل: چې دا طیبه ده، دا طیبه ده، دا طیبه ده یعنې مدینه (بیا یې وفرمایل)

«أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ؟» فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ فَإِنَّهُ أَعْجَبَنِي حَدِيثُ تَمِيمٍ أَنَّهُ وَافَقَ

یاد ساتي! آیا ما به تاسو ته هم دا خبره نه کوله؟ صحابؤ وویل: هو ا دی نه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْهُ وَعَنِ الْمَدِينَةِ وَمَكَّةَ. أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّامِ أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ

پوهه شي! دجال د شام په سمندر کې دی. یا د یمن په سمندر کې، نا! بلکې هغه به د مشرق د اړخ نه راوځي

Maktaba Tul Ishaat.com

ماهو من قبل الْمشرق ماهو من قبل الْمشرق ماهو " وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمشرق. رَوَاهُ مُسلم [۱]
دي وينا سره نبي کريم ﷺ په لاس مبارک سره د مشرق اړخ ته اشاره وکړه.(مسلم)

توضیح: فأرفئو: يعني خلکو کشتۍ تاپو ته نژدې کړه.

اقربُ: قاف باندې سکون دی.او رآء باندې پیښ دی.دا د قارب جمع ده. وړې کشتۍ ته قارب وایي.

اهلب: ډیرو ایختانو والا ځناور ته اهلب وایي. کثیر الشعر د دې تفسیر دی.

الجساسة: جاسوسي ښځې ته جساسه وايي. د دېنه د دجال لپاره خبرونه راغونډې ښځه مراد ده. جساسې خپله نور پیژندګلو ونکړه. بلکې اصلي خبره چې هغه د دجال سره متعلق وه، هغه يې وکړه.

الدَّير: د آتش پرستو عبادت خانې ته هم دَیر وايي.او د د نصاراؤ مدرستې او عبادت خانې ته هم دَیر وايي. او شراب خانې ته هم دَیر ویلی کیږي. **ما انت**: يعني ته څه شي يې؟ تاته په کتلو سره يريږو.

قدرتم: يعني تاسو تردې ځايه راوسیدلی او زما په احوالو باندې قادر شوی؟ صحیح ده، زه به تاسو ته خپل حالات ووايم، خو اول تاسو ووايي.

ما انتم: تاسو څه شی یاست! دا جواب ترکی بزبان ترکی دی. څنګه چې هغوې د دجال يو شی جوړولو باندې پوښتنه کړې وه. دجال هم دغه شان وکړل. دواړو يو بل په تعجب او حقارت سره ياد کړل.

نخل بيسان: نخل بيسان په جزيره عرب کې دی.او په شام کې هم دی. خو دلته د جزيره عرب والا ځای مراد دی.

عين زغر: په شام کې د يو ځای نوم دی. دې ځای کې د اوبو ډيره غټه چينه ده چې هغې ته عين زغر وايي.

نقب: لارې ته نقب وايې. انقاب د دې جمع ده. **مخضرته**: همسا ته وايي. (مرقات۹/۴۰۸)

لا بل من المشرق: نبی کریم ﷺ دا کلام د شک او تردد په انداز کې څکه وفرمايلو چې دجال د قيامت د غټو نښو نه دی، نو څنګه چې قيامت پټ ساتلی شويدی نو دغه شان د دې علامت هم تر يو حده پورې پټ ساتلی شويدی. (مرقات۹/۴۰۸)

ما هو: کې کلمه ما زائده ده. نفې لپاره نده ، یا لفظ موصوله دی،د الذی په معنی دی.ای الذی هو فيه. (مرقات۹/۴۰۹)

---

[۱] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۱ رقم الحديث (۲۹۴۲-۱۱۹) وابوداود في السنن ۴/۵۰۰ رقم الحديث ۴۳۲۶.

قَالَ:	مَا	أَنْتِ؟	قَالَتْ:	أَنَا

تمیم رضي الله عنه وویل چې ته څوک یې؟ هغې جواب ورکړو چې زه جاسوسې کونکې یم. (او دجال ته خبرونه رسوم)

الْجَسَّاسَةُ	اذْهَبْ	إِلَى	ذَلِكَ	الْقَصْرِ

ته دغه ماڼۍ اړخ ته لاړ شه! تمیم داری رضي الله عنه بیان دی چې زه دغه ماڼۍ ته راغلم. نو هلته څه ګورم چې یو

فَأَتَيْتُهُ فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعَرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الْأَغْلَالِ يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.

سړی دی چې خپل ایختان راکاږي. زنځیرونو کې تړلی شویدی او طوقونه پراته دي. او د زمکې او آسمان

فَقُلْتُ:	مَنْ	أَنْتَ؟	قَالَ:	أَنَا	الدَّجَّالُ	".	رَوَاهُ	أَبُو دَاوُد[1]

ترمینځ خکته پورته تړپونه وهي. ما پوښتنه وکړه چې ته څوک یې؟ نو هغه جواب راکړو چې زه دجال یم.

توضیح: ینزو: یعنې زمکې او آسمان ترمینځ خکته پورته تړپونه وهي.

د دجال نور وضاحت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«إِنِّي حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا.

ما تاسو ته د دجال حال د دې اندیښنې نه (بیا بیا) بیان کړیدی چې هسې نه ستاسو په پوهه کې رانشي

إِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ قَصِيرٌ أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ

(نو ښه پوهه شئ چې) دجال د ټیټ قد والا دی، پلن دی، د خپو ګوتې یې جوختې دي. (یو ستر ګه باندې) کاڼی

مَطْمُوسُ الْعَيْنِ لَيْسَتْ بِنَاتِئَةٍ وَلَا جَحْرَاءَ فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ

دی. او (دویمه) ستر ګه بوقه یعنې بیخې ورکه ده. نه بیرون ته راوتلې ده او نه د ننه ننوتلې ده. د دینه وروسته

فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ » . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

که تاسو په شک کې پریوځئ نو دومره خبره یاد ساتئ چې ستاسو پروردګار کاڼی ندی. (ابوداود)

توضیح: قصیر: لنډ قد ته قصیر وایي. افحج: چې دهغه د خپو پنجې نژدې نژدې وي. او د خپو

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۲/۵۹۹ رقم الحدیث ۴۳۲۵.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۴۹۵ رقم الحدیث ۴۳۲۰ وأحمد في المسند ۵/۳۲۴

Maktaba Tul Ishaat.com

کېتکی لیرې لیرې وي. دغه افحج وي. اردو کې ورته پهدا وایې. اعور: دا د دجال د کینې (چپې) سترګې حالت دی. د دېنه مخکې حديث نمبر ۷ کې تفصیل تیر شویدی.(مرقات ۹/۴۱۳)

الا تعقلوا: يعني زما سره يره شوه چې تاسو پوهه نشی یا به درنه هیر شي. لهٰذا دومره پوهه شی چې دجال کاڼی دی او ستاسو رب کاڼی ندی.(مرقات ۹/۴۱۴)

﴿۲۳﴾وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّهُ
او حضرت ابوعبیده بن جراح رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي: حقيقت دا دی چې
لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ بَعْدَ نُوحٍ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ الدجالَ قومَه وإِنِي أُنذركموه»
د نوح عليه السلام نه وروسته دا نبی ندی تیر شوی چې هغه خپل قوم د دجال نه نه وي يرولی، او زه هم تاسو يروم
فوصفه لَنَا قَالَ: « لَعَلَّهُ
د دېنه وروسته نبی کريم صلى الله عليه وسلم زمونږ مخې ته د دجال (څه) حالات بيان کړل. او بيا يې وفرمايل: کيدی شي د
سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي أَوْ سَمِعَ كَلَامِي » . قَالُوا:
هغه خلکو نه چې هغوي زه ليدلی يم يا يې زما کلام اوريدلی دی څوک دا بيا مومي! صحابؤ رضي الله عنهم وويل:
يَا رَسُولَ اللهِ فَكَيْفَ قُلُوبُنَا يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: «مِثْلُهَا» يَعْنِي
چې يا رسول الله! هغه وخت به زمونږ د زړونو څه حالت وي! نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يعنې دغه شان لکه څنګه
الْيَوْمَ «أوخير» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[1]
چې نن ورځ دی يا د دېنه به هم غوره وي.

په خراسان کې د دجال ظهور

﴿۲۴﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِيق قَالَ:
او حضرت عمرو بن حريث ، د سيدنا ابوبکر صديق رضي الله عنه نه روايت کوي چې هغه بيان وکړو چې
حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الدَّجَّالُ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ
رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته بيان وکړو او وې فرمايل چې دجال به مخ د زمکې ندیو داسې ځای نه راوځي چې هغه

---

[1] (۱)أخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۱۷ رقم الحديث ۴۷۵۶، والترمذي في السنن ۵/۴۴۰ رقم الحديث ۲۲۳۴.

بِالْمَشْرِقِ	يُقَالُ	لَهَا:	خُرَاسَانُ	يَتْبَعُهُ	أَقْوَامٌ	كَأَنَّ	وُجُوهَهُمُ

په مشرق کې دی. او چې هغې ته خراسان ويلی کيږي. دهغه سره به د خلکو څو مره ډلې وي، او د خلکو مخونه

المجانّ المطرقة". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

به قط په قط پلن شوي د ډهال په شان به وي.

توضيح: خراسان: د ايران په غټو ښارونو کې د يو ښار نوم خراسان دی. چې په هغې کې ډيرې زلزلې راځي په مخکنۍ زمانه کې به د خراسان لفظ ټول ايران او ځينې افغانستان ته ويلی کيدلو. اوس افغانستان بيل دی. د خراسان د لاندې اصفهان دی. هلته به دجال راښکاره کيږي. نو خراسان هيواد دی. اصفهان ښار دی. دا په اصل کې اسپان ؤ. دا به د اسونو لپاره مجاهدينو استعالولو. د اسپان نه اصفهان شو.

وجوههم: د دې صفت خلک ازبک، او تاجک او ځينې وحشي ترکان دي. (مرقات ۹/۴۱۵)

د دجال نه لرې اوسيږه

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَمِعَ بِالدجال

او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: کوم سړی چې د دجال د راوتلو

فلينأ	مِنْهُ	فو	الله	إِنَّ	الرَّجُلَ	لَيَأْتِيهِ

خبر واوري، هغه لپاره پکار دي چې هغه د دې نه ليرې شي. په خدای قسم! سړی به د دجال خوا ته راشي او دهغه به دا

وَهُوَ	يَحْسِبُ	أَنَّهُ	مُؤْمِنٌ	فَيَتَّبِعُهُ	مِمَّا	يَبْعَثُ	بِهِ

گمان وي چې زه مؤمن يم ليکن هغه به د هغه شيانو د وجې نه په شبهاتو کې پريوځي چې کوم څه دجال ته ورکړې

مِنَ الشُّبُهَاتِ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

شويدي. (لکه سحر او جادو کول او مړي ژوندي کول قدرت او داسې نور) دهغه اطاعت به قبول کړي او په هغه باندې به ايمان راوړي.

دجال به په دنيا کې څو مره زمانه وي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَسماء بنت يزيد بن السَّكن قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَمْكُثُ

او حضرت اسماء بنت يزيد بن سکن رضي الله عنها فرمايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل: په مخ د زمکه باندې به

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۴۱ رقم الحديث ۲۲۳۷ وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۵۳ رقم الحديث ۲۲۳۷.

(۲) اخرجه ابوداود في السنن ۴/۴۹۵ رقم الحديث ۴۳۱۹، واحمد في المسند ۴/۴۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

الدَّجَّالُ فِي الأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَالْجُمُعَةُ
دجال ځلويښت کاله پورې وي (هغه وخت به) کال د مياشت پرابر وي، مياشت به د اونۍ برابر او اونۍ به د
كَالْيَوْمِ وَالْيَوْمُ كَاضْطِرَامِ السَّعَفَةِ
يوې ورځې پرابر وي. او يوه ورځ به د دومره وخت وي په څومره وخت کې چې د کهجورې وچ ښاخ
فِي النَّارِ». رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ»(۱)
په اور کې سوزي. (شرح السنة)

توضيح: اربعين سنة: د دې نه مخکې حديث نمبر ۱۲ کې د ځلويښتو ورځو ذکر ؤ دلته د ځلويښتو کالو دى چې دا واضح تعارض دى. د دې جواب دا دى چې هغه روايت راجح دى، دا مرجوح دى. يا مطلب دا دى چې ځلويښت ورځې په دنيا کې د ګرځيدلو دي. ټول حکومت يې ځلويښت کاله دى. خو دا راجح نه دى.

سعفة: د کهجورې وچ ښاخ مراد دى. **اضطرام** د سوزيدلو په معنى دى. (مرقات ۹/۴۱۵)

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ
او حضرت ابو سعيد خدرى رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما د امت نه به اويا زره
أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ السِّيجَانُ» . رَوَاهُ فِي " شرح السنة "(۲)
(۷۰۰۰۰) کسان چې دهغوې په سرونو باندې به سيجان پراته وي، د دجال تابعدارې به وکړي. (شرح السنة)

توضيح: سيجان: برزون تيجان، دا هم هغه طيلسان دى. شنه او تور څادرونه مراد دي. تفصيل مخکې تير شوى دى.

د خروج دجال نښې او د دجال جادو

﴿۲۸﴾ وَعَنأسماءَ بنتِ يزيدَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي
او حضرت اسماء بنت يزيد رضي الله عنها فرمايي چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم زمونږ کور کې ؤ چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم
فَذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ: " إِنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ سِنِينَ سنة تمسك السَّمَاءُ فِيهَا ثُلُثَ
د دجال ذکر وکړو او وې فرمايل چې د دجال د راښکاره کيدلو نه درې کاله مخکې به داسې وي چې اول به اسمان

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵/۶۲ رقم الحديث ۴۲۶۴ وأحمد في المسند ۶/۴۵۴

(۲) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵/۶۲ رقم الحديث ۴۲۶۵.

قَطْرِهَا وَالْأَرْضُ ثُلُثَ نَبَاتِهَا. وَالثَّانِيَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ ثُلُثَيْ قَطْرِهَا وَالْأَرْضُ ثُلُثَيْ

يو برخه باران او زمكه به يو برخه پيداوار ايسار كړي. بيا په دويم كال به دوه برخې باران او زمكه به دوه برخې پيداوار ايسار

نَبَاتِهَا. وَالثَّالِثَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ قَطْرَهَا كُلَّهُ وَالْأَرْضُ نَبَاتَهَا كُلَّهُ.

كړي. ترديچې كوم وخت دجال ظاهره شي نو په ټوله زمكه باندې به قحط خپور شي. (نه يوائې دا چې

فَلَا يَبْقَى ذَاتُ ظِلْفٍ

انسان به ډير سخت معاشې او خوراكې كمې كې اخته شي بلكې ښاروكې به هم كمى خپور شوې وى) نو نه خو په كوم د

وَلَا ذَاتُ ضِرْسٍ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا

خو په كوم د كورنى څناورپاتې وي او نه به وحشې څناوروكې كوم د غابس والا بلكې ټول به هلاك شي او ددې په عكس باندې

هَلَكَ وَإِنَّ مِنْ

به هغه وخت خزاني او د زمكې خښ شيانو باندې به دجال قبضه شي. او د خوراكې شيانو پوره والى او آرام او خوشحالى نورې

أَشَدِّ فِتْنَتِهِ أَنَّهُ

ذريعې به د هغه سره وي. په دغه توګه په خلكو كې خپل خدايتوب كلكولو لپاره به او د ګمراهى بدترينه فتنه خپرولو لپاره

يَأْتِي الْأَعْرَابِيَّ فَيَقُولُ:

به هغه دا شيان استعمالوي. د هغه به ټولو نه سخته فتنه دا وي چې هغه به د علم او عقل نه ناخبره يو بانډيچي ته راشي او هغه ته به

أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ إِبِلَكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ

وايې چې ما ووايه: كه زه ستا اوښان ژوندي كړم (چې د قحط د وجې نه مړه شويدي) نو آيا ته به دا و منې چې

أَنِّي رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ بَلَى

زه ستا پروردګار يم؟ بانډيچي به جواب وركړي چې هو! (زه به تا خپل پروردګار و منم) نو شيطان به د دغه

فَيُمَثِّلُ لَهُ الشَّيْطَانَ نَحْوَ إِبِلِهِ كَأَحْسَنِ مَا يَكُونُ ضُرُوعًا وَأَعْظَمِهِ

بانډيچي د اوښانو شكل و صورت جوړولو باندې راوستلى شي او دغه اوښان به د تيانو په پلنو او كوفونو په

أَسْنِمَةً". قَالَ: "وَيَأْتِي الرَّجُلَ

وچتوالي په اعتبار سره د هغه اوښانو په شان معلوميږي. نبى كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: بيا به هغه د يو سړي خواته

Maktaba Tul Ishaat.com

قَدْ مَاتَ أَخُوهُ وَمَاتَ أَبُوهُ فَيَقُولُ: أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ أَبَاكَ

راشي چې د هغه پلار او ورور به مړه شوي وي. او هغه ته به وايي چې ما ته وواېه که زه ستا ورور او پلار

وَأَخَاكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: بَلَى

ژوندي کړم نو آيا ته به دا ومني چې زه ستا پروردګار يم؟ هغه سړی به جواب ورکړي چې هو! نو دجال به

فَيُمَثِّلُ لَهُ الشَّيَاطِينَ نَحْوَ أَبِيهِ وَنَحْوَ أَخِيهِ ". قَالَتْ:

شيطانان د هغه سړي د ورور او پلار په شکل او صورت کې پيش کړي. حضرت اسماء رضي الله عنها فرمايي

ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. لِحَاجَتِهِ ثُمَّ رَجَعَ

چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم دې فرمايلو سره د څه ضرورت لپاره بيرون ووتلو. او بيا د څه لږ وخت نه وروسته راغلو.

وَالْقَوْمُ فِي اهْتِمَامٍ وَغَمٍّ مِمَّا حَدَّثَهُمْ.

د غه وخت د حاضر مجلس خلک (د دجال دا حالات اوريدلو سره) فکر او غم په هغه حالت کې ناست ؤ.

قَالَتْ: فَأَخَذَ بِلَحْمَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ:

حضرت اسماء رضي الله عنها فرمايي چې بيا نبي کريم صلی الله علیه وسلم د دروازې دواړه درشلې ونيلې او ويې فرمايل: اسماء! په تا

«مَهْيَمْ أَسْمَاءُ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ لَقَدْ خَلَعْتَ أَفْئِدَتَنَا بِذِكْرِ الدَّجَّالِ. قَالَ:

څه وشو؟ ما وويل: يارسول الله صلی الله علیه وسلم! تا خو زمونږ زړونه وويستل! نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که زه ژوندی

«إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا حَيٌّ فَأَنَا حَجِيجُهُ وَإِلَّا

وم، نو په دلائلو سره به هغه دفع کړم. او که هغه دا سې وخت را ووتلو چې زه په دنيا کې نه يم. نو يقيناً زما

فَإِنَّ رَبِّي خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ» فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ إِنَّا لَنَعْجِنُ.

پروردګار د هر مؤمن لپاره زما وکيل دی. بيا ما وويل چې يارسول الله! د ولړې په وخت کې خو د انسان

عَجِينَنَا فَمَا نَخْبِزُهُ حَتَّى نَجُوعَ

د بې صبرۍ دا حالت وي چې مونږ وړه اغږو او د هغې ډوډۍ پخولو نه فارغ شوي هم نه يو چې د ولږې نه مونږ

فَكَيْفَ بِالْمُؤْمِنِينَ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ:

کمزوري شو. نو آخر په د غه ورځ به د مؤمنانو څه حالت وي؟ نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د هغوی لپاره به هغه

«يُجْزِئُهُمْ مَا يُجْزِئُ أَهْلَ السماءِ من التسبيحِ و التقديسِ» . رَوَاهُ أَحْمد[1]
څه کافي وي چې هغه د آسمان والاؤ يعني فرشتو لپاره کافي وي. يعنې د الله تعالی تسبيح او تقدس.

توضيح: فيمثل له الشيطان: معلومه شوه د دجال چې کوم چلونه کوي، د هغې شاه ته ټول لاس به د شيطان وي. ابليس به د نارينۀ په شکل کې راشي نو دجال به ووايې چې واخله ماستا پلار يا ورور ژوندی کړو. اوس ما خپل رب ومنه. ګوره ماستا لپاره او ښان ژوندي کړل، ما رب جوړ کړه. (مرقات ۹/۴۱۸)

انا لنعجعن: يعنې مونږ د ومره صبر چيرته کولی شو، چې تر مياشتو پورې د دجال په فتنه کې د خوراک څکاک نه بغير ګذاره وکړو. مونږ وږو اغږلو نه وروسته د ډوډۍ پخيدلو پورې انتظار کولو پورې پريشانه يو. نو دورمه زمانه به څنګه صبر کوؤ؟ مونږ خو به په فتنه کې وغورزيږو. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د الله ذکر او تسبيحات سره به وخت تيريږي.

لحمتي الباب: يعنې د دروازې دواړه درشلې يې ونيولي.

رواه: د مشکوة په اصل نسخو کې دلته بياض دی. ځای خالي دی. وروسته په کې چا رواه احمد ليکلی دی. (مرقات ۹/۴۲۰)

الفَصلُ الثّالِث

د ايمان خاوندان دې د دجال څخه نه ويريږي

﴿۲۹﴾عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: مَا سَأَلَ أَحَدٌ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايې چې د دجال په اړه باندې څومره ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه کړيده
عَنِ الدجالِ أَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُهُ وَإِنَّهُ قَالَ لِي: «مَا يَضُرُّكَ؟»
دومره هيچا نده کړه. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل چې دجال به تاته هيڅ نقصان نشي درکولی يعنې په تا باندې
قُلْتُ: إِنَّهُمْ يَقُولُونَ: إِنَّ مَعَهُ
به د الله تعالی د رحمت سيوری وي، څکه به دجال تا نشي بې لارې کولی. ما وويل چې خلک دا وايي چې د هغه
جَبَلَ خُبْزٍ وَنَهَرَ مَاءٍ.
سره به د ډوډۍ غروي، او د اوبو نهر به وي، هغه وخت چې خلک به د وچکالی ښکاروي. که يو سړی د ولږې

(1) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۵۹ رقم الحديث ۴۰۷۷ واحمد في المسند ۶/۴۵۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ:	هُوَ	أَهْوَنُ	عَلَى	الله
او تندي نه د اضطرار حالت ته ورسیږي نو هغه څه وکړي؟ نبي کریم ﷺ و فرمایل: د الله تعالی په نزد باندې				
من ذَٰلِكَ". مُتَّفق عَلَيْهِ(۱)				
دجال د دینه ډیر ذلیله دی.				

توضیح: هو اهون: یعنې دجال د دینه ډیر ذلیله او سپک دی. چې د دې په ذریعه سره یو پوخ مؤمن ګمراه شي، نو ځکه ایمان کلک ساتل پکار دي. د دجال نه د یریدلو ضرورت نشته دی. هغه فریب کار او دهوکه کونکې دی. جادو او په چل دهوکه باندې خلک یروي. په حقیقې توګه باندې د هغه سره هیڅ نشته دی. (مرقات۹/۴۲۱)

دجال دسپرلۍ ناشنا خر

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَخْرُجُ الدَّجَّالُ عَلَى حِمَارٍ أَقْمَرَ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دی چې نبي کریم ﷺ و فرمایل: دجال به په یو سپین خر باندې
مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ سَبْعُونَ بَاعًا» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ»(۲)
سپور را وځي. او د دې خر د دواړو غوږونو ترمینځ به او یا باعه فاصله وي.

توضیح: اقمر: سپین خر ته حمار اقمر وایي. د دجال خر خو به ښایسته سپین وي خو خپله دجال بد شکله کاڼی وي. **سبعون باعًا:** یعنې دا خر به دومره غټ وي چې د دواړو غوږوو ترمینځ فاصله به یې اویا باعه وي. دواړه لاسونه او متې چې کله مکمل خپرې کړی شي، نو دا دیو باع په اندازه دي. (مرقات۹/۴۲۱)

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه یو روایت کې دی چې د دجال د خر د غوږونو مینځ کې به څلویښت ګزه فاصله وي. او د هغه یو قدم به د درې ورځو په مزل باندې وي. چې دا تقریبًا دوه اتیا کلومیټره فی سیکنډ به وي. دا مزل به ۲۹۵۲۰۰ کلومیټر في ګهنټه په حساب سره وي. ګویا د باد نه تیز دی. الوتکې (هوایي جهاز) نه هم تیز دی. په ځینو روایتونو کې د خر راکوزیدلو تذکره هم شته دی. چې دهغې نه اندازه کیږي چې دا الوتونکی کوم خر دی. یا جهاز دی. ځینې علماء وایې چې د سپین خر نه مراد جهاز دی. دا خبره هم ډیره بعیده نده. یو مصری عالم کمال هشام عبدالحمید په اقترب

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۸۹ رقم الحديث ۷۱۲۲ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۵۸ رقم الحديث (۲۹۳۹-۱۱۵)

(۲) اخرجه مرقاة المفاتيح ۱۰/۱۲۸ رقم الحديث ۵۴۹۳.

خروج المسيح الدجال په نوم سره مفصل کتاب ليکلی دی. په دې کتاب کې هغه د دجال بيلا بيلې سپرلۍ ذکر کړيدي. په کې څه سپرلۍ د کشتۍ په شان دي. څه سپرلۍ د چهترۍ په شکل دي. څه د سپرلۍ د طشترۍ په شکل دي. څه سپرلۍ بيخې د الوتکې په شان دی. داسې معلوميږي چې د دجال به مختلفو ځايونو کې سپرلۍ بدليږي. لهٰذا کله به خر وي، کله به خره وي. کله به جهاز وي، کله به کشتۍ وي، په حديث کې د يو نوم اخستل شويدی. د نورو نفې نده شوې. د يهودو په اړه باندې په کتاب کې ډير څه ليکل شويدي. د يهودو يو کتاب ايزاخيل کې د جال په اړه باندې ليکلي دي چې يهود وايي :اې د صيهون لورې! د خوشحالۍ چيغه وکړه! اې ديروشلم لورې! د مستۍ نه نعرې کړه! ګوره! ستاسو باچا(دجال) راروان دی. هغه عادل دی. او خر باندې سپور دی. قجر يا د خرې په بچې باندې به زه يوفريم نه ګاړې اوديروشلم نه به اسپه پيلوم . (بحواله دريم جنګ عظيم)اوس دلته د دجال د خروج په اړه بحث دی چې هغه به د کوم ځاې نه راوځي؟ هشام کمال عبدالحميد په خپل کتاب کې د دجال مرکزې ځاې جزيره برمودا ګرځولي ده . د برمودا تکون د امريکې سره نژدې پروت دی. يو اړخ ته شمالي امريکه ده او بل اړخ ته جنوبي امريکه ده. د دې په مينځ کې بحر اټلانټک دی. په دې کې مثلث برمودا دی. چې دا دی و تکون په کې دی. جزيره برمودا يا مثلث برمودا يا برمودا تکون يو نانشا پټ ځاې دی. په دې ځاې کې د جناتو(پيريانو) مرکزې ځاې هم دی. او په دې ځاې د ابليس تخت هم دی. او په دې مقام کې د دجال محبس(قيد خانه) هم ده. ګويا دجال او ابليس او جنات خپل مينځ کې نژدې رابطې لري. په امريکه کې د ابليس عبادت کونکې هم شته دی. د امريکې نائب صدر هم د ابليس عبادت کونکو کې دی. د دجال پيغامات يهود او نصاراؤ ته د ابليس په واسطه باندې رسيږي. د دجال حکم دی چې د دنيا نه مجاهدين ختم کړه ، بيا به زه راځم. د عيسايانو خيال دی چې کله په مسلمانانو باندې دنيا تنګه شي نو مهدی په راځي . د مهدی سره به دجال راشي، او د جال سره به زمونږ خدای مسيح موعود راشي. نو يهود او نصارا د خپل خدای د راتګ لپاره د مسلمانانو ختمول او دهغوې تنګولو باندې اخته دي. ځکه بش وايي چې د وسنې جنګ حکم ماته خدای کړيدی، اودا روحاني صليبي جنګ دی. مسلمانان ميده کيږي، او دغه خلک د خپل خپل خدای د راتګ انتظار کې ناست دي.د برمودا تکون ناشنا پت حالات دي. په سمندر کې چې کوم يو بحري جهاز دغه اړخ ته تللی دی.هغه ترننه پورې داسې غائب دی چې دهغې هيڅ خبر ندی راغلی. که هوايي جهاز په دغه ځاې باندې کله تللی دی نو داسې غائب شويدی چې ترننه پورې يې هيڅ پته نشته دی. په دغه علاقه باندې د شپې رڼا ځي راځي، او ښکاري دا ټوله ابليسي څوکی ده . چې د دجال نه ګير چاپيره لګيدلي ده. ۱۸۷۴ء کې په دې علاقه کې يو بحرې جهاز ورک شوی ؤ. دهغې درې سوه سپاره سره د کپتان ترننه پورې غائب دي. په فضا کې چې کله هم هوايي جهاز تللی دی، دې لپاره چې دا معلومه کړي نو هغه هم غائب شويدی. برمودا تکون يو پُراسرار علاقه ده. چې دهغې په سمندر کې اور دننه هم ځي او بيرون هم راوځي.چې دا په زرګونو خلکو ليدلی دی.

۹ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

باب قصه ابن الصیاد

دابن صیاد د قصې بیان

په ډیرو نسخو کې صیاد بغیر د الف لام نه لیکل شویدی. ځینو نسخو کې د الف لام سره الصیاد دی. ځینو دا ابن صیاد هم لیکلی دی. د دې اصل نوم صاف ؤ. ځینو عبدالله ویلی دی. دده مور به د صاف په نوم سره بللو. ابن صیاد خپله د یو یهودې ځوې ؤ. چې د مدینې وسیدونکی ؤ. ابن صیاد د جادو او کهانت کلک ماهر ؤ. د دې وجې نه د ده شخصیت یو پُراسرار شی جوړ شو. د صحابه کرامو رضی الله عنهم هم د ابن صیاد په اړه باندې بیلابیل خیالونه ؤ. حضرت عمر فاروق، ابن عمر، حضرت جابر رضی الله عنهم او نورو صحابؤ دا خیال ؤ چې ابن صیاد دجال ؤ. تردې چې ابن عمر او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په قسم سره ویله چې ابن صیاد دجال دی. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابن صیاد شخصیت هم دغه مبهم پریخودلو لکه څنګه چې د هغه مبهم ؤ. په دې اړه باندې په نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه داسې واضحه وحې نه وه راغلي چې په هغې کې د ابن صیاد د حیثیت تعیین شوی وي.

مشکوة کې په دې باب کې حدیث نمبر: ۷، حدیث نمبر: ۸، ۱۰ او حدیث نمبر ۱۱ نه په واضحه توګه باندې معلومیږي چې ابن صیاد دجال دی. لیکن د دې په عکس د اکثرو صحابؤ خیال ؤ چې ابن صیاد یو فتنه وه. مسلمانانو د امتحان او آزمیښت لپاره الله تعالی هغه پیدا کړی ؤ. دا یهودې ؤ. دهوکه کونکی او جادو ګر ؤ. خو وروسته مسلمان شوی، حج یې هم وکړو. مکې او مدینې ته هم لاړو او بیا مړ شو. دا ښاغلې د هغه روایت نه استدلال کوي چې په هغې کې ابن صیاد او د ابوسعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبرې شویدي. په دې کې ابن صیاد د خپل ځان د دجال کیدلو نه ښه کلک انکار کړیدی. خو د دې روایت په آخر کې وایې که زه دجال جوړ شوم نو زه ورباندې خوشحاله یم، بد به یې ونه ګڼم. (مرقات ۹/۴۲۲)

دغه شان تمیم داری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کوم حدیث دی، په هغې کې تاویل کول ډیر ګران دي. ځکه چې د ابن صیاد په مدینه کې د شتون په وخت تمیم داری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سمندر په ټاپو کې دجال په زنځیرونو کې تړلی لیدلی ؤ. لیکن کومو ښاغلو چې ابن صیاد د مستقبل د دجال ګرځولی دی، هغوې فرمایې چې ابن صیاد چې کله دجال نه ؤ جوړ شوی، دهغه وخت چې کوم احوال دي، د هغې اعتبار نشته دی، د دجال شکل خپلولو نه وروسته هغه نه مکې ته تللی شي او نه مدینې ته تللی شي. نه به د هغه اولاد کیږي او نه به هغه مسلمان وي. واقعه حره کې ابن صیاد ورک شوی ؤ. او ترننه پورې ورک دی. داسې ښکاري چې هم دې واقعه کې یې د دجال ښکل خپل کړیدی. او په هغه باندې د دجال حکمونه جارې شول. د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واضح حدیث دی چې دجال د یوې غصې او غضب په

نتیجه کښې به پیدا شي، اوس ظاهره ده، هیڅ ماشوم هم د مور په خیټه کښې نه غصه کیږي. د غضب راتګ په دنیا کښې د شتون لرلو سره لازم دي. نو د اول نه ابن صیاد موجود ؤ. بیا په واقعه حره کښې د غصې وجې نه او د دې واقعې د سپیره والې د وجې نه د دجال په شکل کښې بدل شو. بهرحال تمیم داری رضی الله عنه روایت په پریخودلو سره نورو روایتونو کښې واضح احکامات دي. چې ابن صیاد دجال ؤ. اول ورکوټی دجال ؤ، او د واقعه حره نه وروسته ترینه غټ دجال جوړ شو. اکثر شارحین دې اړخ ته تللي دي چې ابن صیاد دجال نه ؤ لیکن د علامه طیبي د کلام نه معلومیږي چې ابن صیاد دجال کیدلی شي. **بنده راقم الحروف** هم دغه رایه ده چې ابن صیاد دجال ؤ. په دې سره به د ټولو احادیثو په پوهه کښې د راتګ آساني وشي. هو! فقط تمیم داری رضی الله عنه روایت بکښې مانع دی. لیکن د هغې په اړه دا ویلی کیدی شي چې ډیره ممکنه ده چې تمیم داری رضی الله عنه الله تعالی په تاپو کښې د مستقبل دجال په جسم مثالي او مستقبل د نقشې سره ښودلی وي. چې د نن ابن صیاد به د سبا په شکل کښې وي. ددې نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وړاندوینې مشاهداتې تصدیق هم وشو. ددې وجې نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د دجال سره متعلق ما چې څه تاسو ته ویلي ؤ، ګوره د هغې په سترګو لیدلی حال هم مخې ته راغلو. او تمیم داري رضی الله عنه دجال ولیدلو. ملا علی قاری رحمه الله د مستقبل د دجال دغه مثالي صورت په خپل عبارت کښې بیانوي. تمیم داری رضی الله عنه روایت جواب داسې کوي: **اقول ولا ینافی قصة تمیم الداری اذ یمکن ان یکون له ابدان مختلفة فظاهره في عالم الحس والخیال دائر مع اختلاف الاحوال وباطنه في عالم المثال مقید بالسلاسل والاغلال ولعل المانع من ظهور کماله في الفتنة وجود سلاسل النبوة واغلال الرسالة.** (مرقات ۹/۴۲۲)

ترجمه: ابن صیاد لره دجال ګرځول د تمیم داری رضی الله عنه روایت سره منافي نه دی ځکه چې دا ممکنه ده چې د دجال ګڼ بدنونه او ګڼ وجودونه شي. نو د دې ظاهري بدن په مشاهداتې دنیا کښې د بیلابیلو حالتونو سره ګرځي. او د هغې باطني بدن یعنې جسم مثالي په عالم مثالي کښې په زنځیرونو کښې تړلی پروت دی. او کیدی شي په نبوي دور کښې ابن صیاد کامل دجال جوړیدلو باندې په ظاهریدلو سره د رحمة للعلمین د نبوت او رسالت د رحمت زنځیرونو بندیز وي.

الفصل الأول

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او د ابن صیاد ترمینځ خبري

﴿۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بن الخطاب انْطَلَقَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت دی چې حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه صحابه کرامو

فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ قِبَلَ ابْنِ الصياد حَتَّى وجدوهُ

د يو جماعت سره يو ځاى د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ابن صياد خوا ته لاړل. او هغوي ده لره د بنو مغاله د محلت د

يلعبُ مَعَ الصبيانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ

ماشومانو سره په لوبو کولو کې بيا موندلو. دغه وخت هغه بلوغ ته نژدې شوى ؤ. ابن صياد د دې تېرلو د راتګ

فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ:

د خبر نه بې خبر ؤ. تردې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه په شا باندې لاس کيخودلو او د هغه نه يې پوښتنه وکړه

«أتشهدُ أَنِّي رسولُ الله؟» فَقَالَ: أَشْهَدُ

چې آيا ته د دې خبرې ګواهي ورکوي چې زه د الله رسول يم؟ ابن صياد نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکتل او وې ويل چې

أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ. ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ: أَتَشْهَدُ

زه ګواهي ورکوم ته د اميانو يعنې ناخوانده ګانو خلکو رسول يې. او بيا يې د نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه چې

أَنِّي رَسُولُ الله؟ فَرَصَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

آيا ته د دې خبرې ګواهي ورکوي چې زه د خداى رسول يم؟ نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه لره (ونيولو) بنه زور يې ورکړو.

ثُمَّ قَالَ : « آمنت بِالله و برسله » ثُمَّ

او وې فرمايل: ما په خداى باندې او د هغه په رسولانو باندې ايمان راوړى دى. د دېنه وروسته نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ لِابْنِ صيَّاد: «مَاذَا تَرَى؟» قَالَ:

پوښتنه وکړه چې ته څه وينې يعنې د غيب د شيانو نه په تا باندې څه ښکاره کيږي؟ هغه جواب ورکړو: کله

يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ.

ما ته رښتوني خبر راځي يعنې کله زما خوا ته فرښته راځي او کله دروغژن شيطان. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دا

قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خُلِطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ» . قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

جواب اوريدلو باندې وفرمايل: ستا معامله تېرله ګډه وډه ده. بيا نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

«إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا» وَخَبَأَ لَه:

چې ما ستا لپاره په زړه کې يوه خبره پټه ساتلې ده. او کومه خبره چې نبى کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابن صياد لپاره پټه

(يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) فَقَالَ: هُوَ الدُّخُّ.

ساتلې وه هغه دا آيت (يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) ؤ. هغه جواب ورکړو چې هغه پټه خبره دخ دی.

فَقَالَ: «اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ» . قَالَ عُمَرُ:

نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: لیرې ورک شه! ته به د خپل حیثیت نه چرې هم مخکې نشې، حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ وويل

يَا رَسُولَ اللهِ أَتَأْذَنُ لِي فِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

چې یارسول الله! که ته ماته اجازت وکړې نو زه به د ده څټ غوځ کړم؟ رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: ابن صیاد که هم

«إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ

هغه دجال دی نو بیا ته به دې باندې نشې مسلط کیدلی او که دا هغه نوي نو بیا د ده په وژلو کې ستا هیڅ

فَلَا خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ» . قَالَ ابْنُ عُمَرَ: انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بنیګړه نشته دی. حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ فرمایي: چې د دې نه وروسته یوه ورځ نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د کهجورو

وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ

هغه بوټو خواته لاړو چیرته چې ابن صیاد ؤ. د غه وخت د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم سره حضرت ابی بن کعب انصاری هم ؤ

يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ فَطَفِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ

رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم (هلته په رسیدلو باندې) کهجورد بناخونو شاته پټ شو، چې ابن صیاد بې خبره وي. او د هغه

وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يسمعَ مِنِ ابْنِ صَيَّادٍ

کتلو نه مخکې یې یو څو خبرې واورې. او دغه شان پټه باندې د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د ابن صیاد خبرې اوریدلو

شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ

مطلب دا ؤ چې خپله نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم او صحابه هم پوهه شي چې هغه آخر څه شی دی، آیا څه کاهن (ترويتي)

وَابْنُ صَيَّادٍ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِهِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا زَمْزَمَةٌ

دی یا جادوګر یا بل څه شی؟ دغه وخت ابن صیاد په یو څادر کې ځان نغختلی ؤ. او د دغه څادر نه بڼ بڼ

فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ.

اوازونه راتلل. په دې کې د ابن صیاد مور نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د کهجورو د بناخونو شاه پټ ناست وليدلو.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَتْ: أَيْ صَافُ وَهُوَ اسْمُهُ هَذَا مُحَمَّدٌ. فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ.
او وي ويل ای صاف! دا د ابن صیاد نوم ؤ. (وګوره) محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ولاړ دی. ابن صیاد بنېړاوازونه بند کړل.
قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ».
رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابؤ ته وفرمايل: كه د ابن صياد مور دا نه وي بيدار كړی نو ده به خپل حقيقت ښكاره كړی
قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ
وی. حضرت عبد الله (ابن عمر) رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د دېنه وروسته كله نبی كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلكو مخې ته د خطبې
فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ
كولو لپاره ودريدلو نو اول يې د الله تعالى حمد او ثناء بيان كړه. كومه چې د هغه سره لائقه ده. بيا يې د دجال
ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ: «إِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ
ذكر كړو او وې فرمايل: زه تاسو د دجال نه يروم، او نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وروسته هيڅ نبی داسې ندی تير شوی
إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ لَقَدْ أَنْذَرَ نُوحٌ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي
چې هغه خپل قوم د دجال نه نه وي يرولی، او نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ هم خپل قوم د ده نه يرولی دی. ليكن تاسو ته
سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ
د دجال په اړه باندې داسې خبره او يو داسې علامت وايم چې هغه كوم بل نبی خپل قوم ته ندی ويلی، نو تاسو
تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
پوهه شئ چې دجال به كاڼی وي او يقينًا الله تعالى كاڼی ندی.

توضیح: اطم: دا د آطام جمع ده. د ماڼۍ په شان وچت ځاې ته وايې. **بنى مغاله**: دی وې قبيلې نوم دی. مطلب دا چې د بنی مغالة د وچتو عمارتونو خواكې ابن صياد د ماشومانو سره لوبې كولي. **الاميين**: ابن صياد د اميين نه عرب مراد كړيدي. ځكه چې يهود او نصارا عربو لره په دغه نوم يادوي. به دې جواب كې د ابن صياد چالاكې او مكارې پټه ده. هغه دا ويل غواړي چې نبی كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقط د اميانو لپاره نبی دی. عام انسانانو لپاره ندی. **فرصّه**: صاد باندې شد دی. يعنې نبی كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ونيولو او هغې يې نچوړې كړو. دا لفظ فرفضه هم دی. چې د ترک

([1])اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۷۱ رقم الحديث ۳۰۵۵ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۴ رقم الحديث (۲۹۳۰-۹۵).

په معنی دی. یعنې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ابن صیاد لنه دلیل او سوال او جواب پریخودلو. **صادق وکاذب**: یعنې کله رښتونې راځي، کله دروغژن راځي، مطلب دا دی چې کله رښتونې خبر راځي او کله دروغژن خبر راځي. هم دا د کاهنانو او جادګرو نښه ده. چې شیطانان د وریځو نه د فرښتو یوه رښتونې خبره اوریدلو باندې دهغې سره سل دروغ یو ځای کولو باندې د کاهنانو غوږونو ته رسوي. راتلونکی روایت نمبر ۲ هم په دغه توګه دی چې کله دوه دروغژن او یو رښتونې راځي. کله دوه رښتونې او یو دروغژن راځي. ګویا ابن صیاد باندې خپله معامله ګډه وډه وه. **خبأت لك**: یعنې ما په زړه کې دننه یوه خبره پټه کړیده، ته ووایه چې هغه څه ده؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قرآن آیت ﴿يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ الخ﴾ آیت تصور په زړه کې ساتلی ؤ. ابن صیاد وویل: چې تا د دخ تصور ساتلی دی. په دې کې ابن صیاد ټولې خبرې ته رسیدل ترلاسه نکړی شو، بلکې د کاهنانو په شان یې یوې نیمې خبرې ته اشاره وکړه. **اخسأ**: سپی زغلولو لپاره دا لفظ استعمالیږي، یعنې ګرې سپیه. (مرقات ۹/۴۲۵) **فلن تعدو قدرك**: یعنې ته د خپل کهانت د دکړې نه مخکی لاړ نشې. بس شیطانانو او جناتو چې څومره درته ویلي ؤ، هغومره دې وویله. ستا حیثیت خو په پټو امورو کې د یو ناقص جملې نه مخکې نشې تللی بیا ته د نبوت دعوی څنګه کوې؟ (مرقات ۹/۴۲۵)

وهو یختل: یعنې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په تدبیر او حیله سره د ابن صیاد د حالت معلومولو کوښښ کولو. چې په بې خبرۍ کې د هغه څه حالت معلوم کړي. **زمزمة**: ښیدلو او غنګارې اواز ته زمزمه او زمرمه وایي. یوه نسخه کې رمرمه دی. (مرقات ۹/۴۲۶)

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: لَقِيَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ

او حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه او

وَعُمَرُ يَعْنِي ابْنَ صَيَّادٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دې ترلو ملاقات د ابن صیاد سره په د مدینې په یوه لاره کې وشو. رسول الله صلی الله علیه وسلم

فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟» فَقَالَ هُوَ:

هغه ته وفرمایل چې آیا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله تعالی رسول یم؟ ابن صیاد په جواب کې ویل چې آیا ته

أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «آمَنْتُ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ

ګواهي ورکوې چې زه د الله رسول یم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما په الله باندې، د هغه په فرښتو باندې، د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ	كُتُبِهِ	وَ	رُسُلِهِ	مَاذَا!

کتابونو باندې او دهغه په رسولانو باندې ایمان راوړی (د دېنه وروسته نبی کریم ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه

تَرَى؟» قَالَ: أَرَى عَرْشًا عَلَى الْمَاءِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

چې بنه ته وو ایه) ته څه ګوري؟ هغه جواب ورکړو چې زه یو تخت په اوبو باندې وینم. نبی کریم ﷺ وفرمایل

«تَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ وَمَا تَرَى؟» قَالَ:

ته د ابلیس تخت په سمندر باندې وینې. بیا قې وفرمایل: د دېنه غیره نور څه وینې؟ ابن صیاد وویل: چې دوه

أَرَى صَادِقَيْنِ وَكَاذِبًا أَوْ كَاذِبَيْنِ وَصَادِقًا.

رېښتوني وینم او یو دروغژن وینم. یا دوه دروغژن وینم او یو رېښتونی وینم. د دېنه وروسته نبی کریم ﷺ

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لُبِسَ عَلَيْهِ فَدَعُوهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

وفرمایل: د ده لپاره صورت حال ګډوډ کړی شویدی. دا پرېږدی. (مسلم)

﴿۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ ابْنَ صَيَّادٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه روایت دی چې ابن صیاد د نبی کریم ﷺ نه پوښتنه وکړه چې د جنت

عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ. فَقَالَ: «درمكة بيضاء ومسك خالص». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

خاوره څنګه ده؟ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: هغه د میدې په شان سپینه او خالص مشکو په شان خوشبوداره ده

توضیح: درمكة: د جعفر په وزن ده. یعنې د سپینې میده په شان خاوره ده. لکه د سپینو میده وړه چې وي. او خالص مشکو په شان خوشبوداره ده.

ابن صیاد به د یوې غصې په نتیجه کې دجال جوړ شي

﴿۳﴾ وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: لَقِيَ ابْنُ عُمَرَ ابْنَ صَيَّادٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ

او حضرت نافع رحمه الله فرمایي چې د ابن عمر رضي الله عنهما ملاقات د ابن صیاد سره د مدینې په یوه لاره کې وشو

فَقَالَ	لَهُ	قَوْلًا	أَغْضَبَهُ	فَانْتَفَخَ

نو هغه ده ته یوه داسې خبره وکړه چې په دې سره هغه د غصې نه ډک شو. او د قهر او غضب نه وپړسیدلو.

([1]) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۱ رقم الحديث ۲۹۲۵-۸۷) والترمذي في السنن ۴/۴۴۸ رقم الحديث ۲۲۴۷.

([2]) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۳ رقم الحديث (۲۹۲۸-۹۳) وأحمد في المسند ۳/۴.

حَتّٰی مَلَأَ السِّكَّةَ. فَدَخَلَ ابْنُ عُمَرَ عَلٰی حَفْصَةَ

تردې چې کوڅه لاره یې ونیوله. د دېنه وروسته چې کله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ام المؤمنین حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

وَقَدْ بَلَغَهَا فَقَالَتْ لَهُ: رَحِمَكَ اللهُ

خواته لاړ و چې هغې ته یې د دې واقعې خبر ورسولو، نو هغې وفرمایل: ابن عمر! خدای دې په تا خپل رحمت

مَا أَرَدْتَ مِنِ ابْنِ صياد؟ أما علمت أن رَسُول الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «

نازل کړي. تا د ابن صیاد نه څه غوختل، آیا تا ته معلومه نده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي ؤ: دجال به په یوه

إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غضبةٍ يغضبها» . رَوَاهُ مُسلم[1]

خبره باندې په قهر کېدلو سره راووځي. (مسلم)

توضیح: د دې روایت نه معلومېږي چې حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، ابن صیاد د مستقبل دجال ګڼلو. چې هغه به د څه قهر او غصې د وجې نه د دجال په شکل کې راښکاره شي. هم دغه ابن صیاد په واقعه حره کې په غصه کېدلو باندې ورک شویدی. او ترننه پورې ورک دی. ډېره ممکنه ده چې هم دا ورک شوی ابن صیاد وروسته د دجال په شکل کې ظاهره شي. (مرقات ۹/۴۳۰)

ابن صیاد به دجال جوړېدل نه ناخوښه ګڼل

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ صياد إِلَى مَكَّةَ

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې زه او ابن صیاد د مکې په سفر کې یو ځای شو. هغه ماته

فَقَالَ: مَا لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ؟ يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ

د خپل هغه تکلیف حال بیان کړو کوم چې د خلکو نه هغه ته رسیدلي ؤ. هغه ووېل: چې خلک ما دجال

أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ» . وَقَدْ

ګڼي یا وایي. ابو سعید! آیا تا د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا ندي اورېدلي چې د دجال به اولاد نوي. او حال دا دی چې

وُلِدَ لِي أَلَيْسَ قَدْ قَالَ: «هُوَ كَافِرٌ» . وَأَنَا مُسلم

زما اولاد دی. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا نه ؤ فرمایلي چې دجال به کافر وي. او حال دا دی چې زه مسلمان یم. آیا د

أَوَ لَيْسَ قَدْ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ» ؟ وَقَدْ أَقْبَلْتُ مِنَ الْمَدِينَةِ

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان ندی چې دجال به مکې او مدینې ته نشي ننوتلی. او حال دا دی چې زه د مدینې نه راروان

---

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۶ رقم الحديث (۲۹۳۲-۹۸) وأحمد في المسند ۶/۲۸۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ. ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ:

یم او مکې ته روان یم. ابو سعید رضي الله عنه فرمایي چې ابن صیاد ماته آخري خبره دا وکړه چې یاد ساته!

أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ

په خدای قسم د دجال د پیدائښت پیژنم، او د هغه ځای هم پیژنم. او په دې هم پوهیږم چې هغه چیرته دی؟

وَأَيْنَ هُوَ وَأَعْرِفُ أَبَاهُ وَأُمَّهُ قَالَ:

او د هغه مور پلار هم پیژنم. ابو سعید رضي الله عنه فرمایي چې د ابن صیاد دا خبرې اوریدلو باندې زه په شک

فَلَبَسَنِي قَالَ: قُلْتُ لَهُ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ. قَالَ: وَقِيلَ لَهُ:

کې شوم. ما وویل: ته د همیشه لپاره هلاک شې! ابو سعید رضی الله عنه فرمایي: چې دغه وخت په موجود خلکو

أَيَسُرُّكَ أَنَّكَ ذَاكَ الرَّجُلُ؟ قَالَ:

کې چا ابن صیاد ته وویل چې آیا تا ته دا معلومه ده چې ته به خپله دجال شې. ابو سعید رضي الله عنه فرمایي چې

فَقَالَ: لَوْ عُرِضَ

هغه جواب ورکړو چې هو! که د خلکو بې لارې کولو، په دهوکه کې اچولو او جادو وغیره هغه ټول شیان ماته راکړی شي،

عَلَيَّ مَا كَرِهْتُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ(۱)

چې په دجال کې دي، نو بد به یې نه گڼم.

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَقِيتُهُ وَقَدْ

او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې، زما ملاقات د ابن صیاد سره وشو. دغه وخت د هغه سترګه پوچه

نَفَرَتْ عَيْنُهُ فَقُلْتُ: مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى؟ قَالَ:

شوې وه. ما پوښتنه وکړه: چې ستا په سترګه کې چې څه زه وینم، دا د کوم وخت نه دي؟ هغه جواب راکړو

لَا أَدْرِي. قُلْتُ: لَا تَدْرِي وَهِيَ فِي رَأْسِكَ؟

چې زه نه پوهیږم چې د کوم وخت نه دي. ما وویل: تا ته معلومه نه ده، حالانکې سترګه ستا په سر کې ده.

قَالَ: إِنْ شَاءَ اللهُ خَلَقَهَا فِي عَصَاكَ. قَالَ:

هغه وویل که خدای وغواړي نو سترګه به ستا په همسا کې پیدا کړي. ابن عمر رضي الله عنه فرمایي چې

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۲ رقم الحديث ۲۹۲۷-۸۹) واحمد في المسند ۳/۲۶)

فَنَخَرَ كَأَشَدِّ نَخِيرِ حِمَارٍ سَمِعْتُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ(۱)

ابن صیاد د خپلې پوزې نه د خر د و مره سخت اواز راوویستلو چې هغه کله هم نهٔ اوریدلی. (مسلم)

د ابن صیاد په دجال کیدلو باندې ابن جابر رضي الله عنه قسم خوري

﴿۷﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ: رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ

او حضرت محمد بن المنکدر تابعي فرمايي چې ما حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه لیدلی: هغه به په

يَحْلِفُ بِاللَّهِ أَنَّ ابْنَ الصَّيَّادِ الدَّجَّالُ. قُلْتُ: تَحْلِفُ بِاللَّهِ؟ قَالَ:

قَسم خوړلو سره ویل چې ابن صیاد دجال دی. ما هغه ته وویل چې ته د الله قسم خوري! هغه وفرمایل چې

إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذَلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما د عمر فاروق رضي الله عنه نه اوریدلي دي، هغه به په دې خبره باندې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخې ته قسم خوړلو

فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۲)

چې ابن صیاد دجال دی. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغې نه انکار نهٔ کړی.

الْفَصْلُ الثَّانِي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په نزد باندې ابن صیاد دجال وُ

﴿۸﴾ عَنْ نَافِعٍ قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ: وَاللَّهِ

حضرت نافع رحمه الله فرمايي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه به فرمایل چې په خدای قسم زما به دې کې

مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ صَيَّادٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي «كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنشور»(۳)

هیڅ شک نشته چې مسیح دجال ابن صیاد دی. (وایت کړې دې ابو داود او بیهقی په کتاب البعث والنشور کې

په واقعه حره کې ابن صیاد ورک شو

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَدْ فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ(۱)

او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د واقعه حره په ورځ باندې ابن صیاد ورک کړی وُ. (ابوداؤد)

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۶ رقم الحديث (۲۹۳۲-۹۹)

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۳۲۳ رقم الحديث ۷۳۵۵ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۴۳ رقم الحديث ۲۹۲۹-۹۴)

(۳) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۵۰۶ رقم الحديث ۴۳۳۰.

(۴) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۵۰۶ رقم الحديث ۴۳۳۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: **یوم الحرة**: واقعه کربلا کښې شهادت حسین رضي الله عنه نه وروسته یزید شامي فوځیانو ته حکم وکړو چې مدینه منوره باندې برید وکړئ ځکه چې هغه خلک زما د بیعت نه انکار کوي. شامي فوځیانو سخت برید وکړو. د مدینې خلکو کلکه مقابله وکړه خو شامي فوځیان غالبه شول. او هغوې درې ورځې مدینه لوټ کړه او د ښځو بې عزتې یې وکړه. درې ورځو پورې مسجد نبوي کې آذان نه ؤ شوی. مدینه منوره باندې تورتم خپور شوی ؤ. لس زره انسانان وژلی شوي ؤ. یوم حره هم داده. به دې ورځ باندې ابن صیاد ورک شوی دی. (مرقات ۹/۴۳۴)

د دجال تول صفتونه په ابن صیاد کې ؤ

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «يَمْكُثُ أَبُو الدَّجَّالِ ثَلَاثِينَ عَامًا
او حضرت ابوبکره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د دجال مور پلار به ديرش کاله په دې حالت
لَا يُولَدُ لَهُمَا وَلَدٌ ثُمَّ يُولَدُ لَهُمَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرَسُ
کې تیر کړي چې د هغوې به اولاد نه کیږي. بیا به د هغوې یو هلک وشي. چې د غټو غاښونو والا یعنې داړور
وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ» .
به وي. هغه به ډیر کم فائده ورکونکی وي. د هغه دواړه سترګې به اودې کیږي، خو د هغه زړه به نه اوده
ثُمَّ نَعَتَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ فَقَالَ: «أَبُوهُ
کیږي. د دېنه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د هغه د مور پلار حال بیان کړو او وې فرمایل: د هغه پلار به ډیر
طُوَالٌ ضَرْبُ اللَّحْمِ كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ
اوږد او د لږې غوښې والا یعنې خوار به وي. د هغه پوزه به د چرګ د مکوخې په شان وي. او د هغه مور به
وَأُمُّهُ امْرَأَةٌ فِرْضَاخِيَّةٌ طَوِيلَةُ الْيَدَيْنِ» . فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: فَسَمِعْنَا
لنډۍ پلنه او د اوږدو لاسونو ښځه وي. ابوبکره رضي الله عنه فرمايي: چې مونږ په مدینه کې د یو یهودي
بِمَوْلُودٍ فِي الْيَهُودِ. فَذَهَبْتُ أَنَا وَالزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ
هلک د شتون واوریدل. نو زه او زبیر ابن العوام رضي الله عنه د هغه کتلو لپاره لاړو. کله چې مونږ د هغه د
حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبَوَيْهِ فَإِذَا نَعْتُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مور پلار خواته ورسیدلو، نو څه ګورو چې دا ییخې هغه شان دی لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د هغوې

فِيهِمَا	فَقُلْنَا	هَلْ	لَكُمَا	وَلَدٌ؟	فَقَالَا:	مَكَثْنَا ثَلَاثِينَ
په اړه باندې بيان کړې ؤ. مونږ دواړو د هغه نه پوښتنه وکړه چې آيا ستا ځوي شته؟ هغه وويل: چې مونږ ديرش						
عَامًا لَا يُولَدُ لَنَا وَلَدٌ ثُمَّ وُلِدَ لَنَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرَسُ						
کاله په دې حالت کې تير کړل چې زمونږ ځوي نه ؤ. بيا زمونږ په کور کې يو هلک پيدا شو. چې د غتو غاښونو						
وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ قَالَ						
والا او ډيره کمه فائده ورکونکی دی. د هغه سترګې اودې کيږي خو د هغه زړه نه اوده کيږي. ابوبکره رضي الله عنه فرمايي						
فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمَا فَإِذَا هُوَ مجندل فِي الشَّمْسِ						
چې مونږ دواړه د هغه ځاي نه لاړو، او بيا ناڅاپه زمونږ نظر په هغه هلک باندې ولګيدلو. چې لمر						
فِي قَطِيفَةٍ وَلَهُ هَمْهَمَةٌ						
ته پروت په ځان يې څادر راخپور کړې ؤ. او د هغه نه د بڼيدلو اواز ونه راتلل. چې په پوهه کې نه راتلل. هغه د						
فَكَشَفَ عَنْ رَأْسِهِ فَقَالَ: مَا قلتما: وَهَلْ سَمِعْتَ مَا قُلْنَا؟						
سر نه څادر وچتولو باندې زمونږ نه پوښتنه وکړه چې تاسو ويلې دي؟ مونږ وويل چې آيا تا زمونږ خبرې						
قَالَ: نَعَمْ تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قلبيرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]						
واوريدلې؟ هغه وويل: هو! زما سترګې اودې کيږي، ليکن زما زړه نه اوده کيږي.						

توضيح: طُوال: د طويل مبالغه، واؤ باندې شد ډير مشهور دی. بغير د شد نه هم دی. طاء باندې ضمه دہ. ضرب: يعني د خوار بدن سړی ؤ، بدن يې څرب نه ؤ. **فرضاخية:** د کومې ښځې بدن چې ډير څرب او سينې يې غټې او زوړندې وي، هغې ته امرأة فرضاخية وايې. د دې حديث نه په واضحه توګه باندې معلوميږي چې: د دجال ټول صفتونه په ابن صياد کې ؤ. بيا هيڅ وجه نشته چې ابن صياد دې د مستقبل د دجال نه وي. (مرقات ۹/۴۳۵)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به هميشه خطره وه چې چيرته ابن صياد دجال نه يي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ وَلَدَتْ غُلَامًا	
او د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې په مدينه کې د يوې يهودې ښځې يو ځوي پيدا شوی ؤ.	

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۴۹ رقم الحديث ۲۲۳۸ واحمد في المسند ۵/۴۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَمْسُوحَةٌ عَيْنُهُ طَالِعَةٌ نَابُهُ فَأَشْفَقَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

چې دهغه ستر که ورانه شوي او هواره وه. او دهغه غابونه بيرون راوتلي. رسول الله ﷺ ويريدلو چې هسې نه دا

إِن يَكُونَ الدَّجَّالَ فَوَجَدَهُ تَحتَ قَطِيفَةٍ يُهَمْهِمُ.

دجال وي. نو نبي كريم ﷺ هغه ديو څادر لاندې پروت وموندلو. دغه وخت هغه څه په قلار قلار خبرې كولې.

فَآذَنَتْهُ أُمُّهُ فَقَالَتْ: يَا عَبدَ الله هَذَا أَبُو الْقَاسِمِ

چې دهغې مطلب په پوهه كې نه راتللو. د هغه مور وويل: عبد الله (يعنې ابن صياد) دا ابو القاسم (محمد ﷺ)

فَخَرَجَ مِنَ الْقَطِيفَةِ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا لَهَا قَاتَلَهَا الله؟

ولاړ دى. هغه د څادر نه بيرون راوتلو. رسول الله ﷺ وفرمايل: دې ښځې څه وكړل: خداى دې دا هلاكه كړي

لَوْ تَرَكَتْهُ لَبَيَّنَ"

كه هغې دا په خپل حال پريخى وى، نو يقيناً دجال به خپل حالت ښكاره كړى وى. د دې نه وروسته حضرت جابر رضي الله عنه

فَذَكَرَ مِثْلَ مَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ

يا راوى د حضرت عمر رضي الله عنه د (د دې) حديث په مطابق بيان كړل چې هغه د باب په شروع كې بيان

فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ائْذَنْ لِي يَا رَسُولَ الله فَأَقْتُلَهُ

شويدى. نو حضرت ابن عمر بن الخطاب رضي الله عنه وويل چې يا رسول الله! ته اجازت راكړه نو زه به دا ووژنم.

فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِن يكن هُوَ فَلَيْسَتْ صَاحِبه

نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه دا (ابن صياد) هغه دجال وي نو ته د دې قاتل نشې كيدلى، بلكې د

إِنَّمَا صَاحِبُهُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ وَإِلَّا يكن هُوَ فَلَيْسَ لَك أتقتل رَجُلًا

د دې قاتل به عيسى ابن مريم عليه السلام وي. او كه دا دجال نوي نو ستا ديو داسې سړي د وژلو حق نشته

مِنْ أَهْلِ الْعَهْدِ» . فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُشْفِقًا

چې هغه په اهل ذمه كې دى. د دېنه وروسته رسول الله ﷺ به د خپل امت په اړه هر وخت دا يره ساتله چې

أَنَّهُ هُوَ الدَّجَّالُ. رَوَاهُ فِي شرح السّنة وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ[1]

هسې نه ابن صياد دجال وي. (روايت كړى دى شرح السنة او دا باب د فصل ثالث نه خالى دې)

---

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵/۷۸ رقم الحديث ۴۲۷۴. واحمد في المسند ۳/۳۶۸.

بَابُ نزُولِ عِيسَىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ

حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د نزول بیان

قال الله تعالی: ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ (الزخرف:۶۱)

حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالی غوره پیغمبر ؤ یهود دهغه د ځان دښمنان شوي ؤ. حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ به همیشه د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ؤ. یو ځل یهودو هغه وژل وغوختل. هغه په یو کور کې پټ شو. عیسایانو د هغه نه ساتنه ونکړه. بلکې څه عیسایانو د دیرش روپو په بدل کې د هغه جاسوسي وکړه. او یهودو ته یې دهغه ځاې وښودلو. یهودو د دغه کور نه تاؤ شول. او یو بدبخته یې دننه ولیږلو. دې لپاره چې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ شهید کړي. حضرت جبرائی ل عَلَيْهِ السَّلَامُ الله تعالی په حکم باندې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه کور په چهت باندې وویستلو. او پاس آسمانونو ته یې بوتللو. په کور کې د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ صورت په دغه سړې باندې کېخودلی شو. کوم چې دننه ؤ. نو کله چې هغه بیرون راووتلو نو یهودو هغه عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ګڼلو باندې ووژلو. وس د هغوې شک پیدا شو که دا مقتول عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ وي نو زمونږ سړی څه شو. او که دا زمونږ سړی وي نو عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ چیرته لاړو. عیسایان او یهود ترننه پورې د تذبذب ښکار دي او هیڅ فیصله نشي کولی. د مسلمانانو اجماعي عقیده ده چې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ الله تعالی اسمانانو ته بوتللی دی. او هلته ورکې د فرښتو صفات اچولی شوي دي. لهذا هغه د بشریت د لوازماتو نه پاک دی. نه خوراک، نه څکاک، نه واړه بول، نه غټ بول، نه ګرمې، نه یخنې، بلکې هغه په دویم آسمان کې د فرښتو سره وسیږي. او د قیامت په رانژدې کیدو باندې به هغه د آسمان نه خکته راکوزیږي د دمشق د جامع مسجد د میناري په مشرقي اړخ به راکوزیږي. او س لاندې راکوزیدو لپاره الله تعالی اسباب پیدا کړیدي. دنیا دارالاسباب ده. ځکه به حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ پوړۍ (اندرپایه) راوغواړي او پوړۍ ایږدلو باندې به لاندې راکوز شي. د جمعې ورځ به وي، ماښکر لمونځ به تیار وي. حضرت مهدی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په انتظار کې وي. ده ته به د لمونځ کولو ووایې. عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به جواب ورکړي چې نه! لمونځ ته خپله ورکړه، ځکه چې ته د دې امت امام یې. زه د یو خاص کار یعنې د دجال وژنې لپاره راغلی یم. بهرحال حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ راکوزیدل د اسلام اساسي عقیده ده. د دې انکار کونکی ګمراه کیږي. ځینې کافر یعنې قادیانیان او ځینې نور روشن خیاله د نزول عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه انکار کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

په خدای قسم حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به خامخا راکوزیږي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي
حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قسم دی په هغه ذات باندې چې د چا په
نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَن يَنزِلَ فِيكُم ابنُ مَرْيَم حَكَماً عَدلاً
لاس کې زما ځان دی، یقینًا عیسی ابن مریم به ستاسو مینځ کې راکوزیږي چې هغه به یو عادل حاکم وي.
فَيَكْسِرُ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضُ الْمَالُ
هغه به صلیب ماتوي. خنزیر به ووژني. جزیه به ختمه کړي. مال دولت به ډیر شي. تردې چې د یو څوک به
حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ حَتَّى تكون السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خيرامن الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا».
د دې خوښونکی نه وي. او هغه وخت به یوه سجده د دنیا او د دنیا د ټولو شیانو نه غوره وي. حضرت
ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ: فاقرؤا إِن شِئْتُم
ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمایل که تاسو په دې خبره کې شک شبه ساتئ او دلیل ترلاسه کول غواړئ، نو دا آیت
﴿وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ
ولولئ ﴿وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ یعني هیڅ اهل کتاب به داسې پاتې نشي چې هغه به د
إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ الآيَة. مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د مرګ نه مخکې په هغه باندې ایمان رانه وړي.

توضیح: حکما عدلًا: ای حاکما عادلًا. **فیکسر الصلیب**، صلیب په اصل کې د دوه مثلث لرګو نوم دی. د جمع په شکل وی. چې په هغې سره عیسایان دا ظاهروي چې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ یهود په سولۍ زوړند کړی وُ. بیا الله تعالی هغه ژوندی کړو او آسمان ته یې وچت کړو. د عیسایانو په نزد باندې صلیب انتهایي مقدس نښان دی، بلکې هغوی د دې عبادت کوي. په ځینو ځایونو کې په دې کې د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ تصویر هم لګیدلی ښکاري. دا د عیسایانو په نزد باندې د احترام وړ عمل دی. تعجب خو په دې دی چې په کوم صلیب باندې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په سولۍ کړی شو، عیسایانو د هغه سولۍ (یعنې پهانسې ګهاټ) سره مینه کوي. او هغه مقدس ګڼي. دا خو د

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۹۰ رقم الحديث ۳۴۴۸ ومسلم في صحيحه ۱/۱۳۵ رقم الحديث ۱۵۵-۲۴۲.

کرکې (نفرت) وړ شي دی. بل خوا د عیسایانو لپاره د شرم نه ډکه خبره ده چې هغوی حضرت عیسی علیه السلام بې مرستې پریخودلی ؤ. بلکې په جاسوسۍ کولو باندې یې په دیرش (۳۰) روپۍ خرڅ کړی ؤ. حضرت عیسی علیه السلام به هم د دغه غلطې عقیدې د وجې نه صلیب مات کړي. مطلب دا چې هغه به عیسائیت لره باطل وګرځوي. او شریعت محمدي به واجب الاطاعت وګرځوي. د عیسائیت علامات او احکامات به ختم کړي. **الخنزیر**: یعنې خنزیر به ووژني، خنزیر هم د عیسایانو په نزد د هغوی محبوب حیوان دی. او محبوبه غذا یې ده. د دې په وژلو سره مقصود دا دی چې دا حرام دی، د دې ساتنه او د دې غوښه خوړل حرام دي. دا قابل احترام ځناور ندی. بلکې د نفرت وړ او واجب القتل ځناور دی.

الجزیة: په کتاب الجهاد کې د جزیه (ټیکس) تفصیل ذکر شوید ی حضرت عیسی علیه السلام به د مجدد په توګه باندې راځي. هغه به د دین اسلام هیڅ یو حکم نشي موقوف کولی. د جزیه د ختمولو مطلب دا دی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حکم مطابق به هغه جزیه ختمه کړي. ګویا دا په انتهاء د حکم په وجه د انتهاء د علت وي. ځکه چې کله یو کافر ژوندی پریخودل او هغه ته امن ورکول په بند شي. فقط مسلمان به پاتې کیږي. هیڅوک به کافر نوي. څوک چې جزیه ادا کوینو جزیه به خپله ختمه شي. هغه وخت یا اسلام او یا د مرګ قاعده به جارې وي. بهرحال دا به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د یو حکم نافذول وي. چې د حضرت عیسی علیه السلام په لاس به کیږي. (مرقات ۹/۴۳۸)

القلاص: ځوانې اوښې مراد دي. په عربۍ کې ځوانې اوښو ته قلاص وایې.

فلا یسعٰی علیها: یعنې خلک به داسې مستغنې او خوشحال وي چې د دغه شان محبوب شي ته به هم توجه نکوي. (مرقات ۹/۴۳۹)

السجدة الواحدة: یعنې داسې سکون او امن به وي، چې خلک به په طبعې توګه باندې د عبادتونو سره مینه ساتي په شوق او خوند باندې به عبادت کوي په سجدو او لمونځونو کې به دومره خوند وي چې د دنیا او مافیهانه به یوه سجده ډیره غوره ګڼلی کیږي. د دېنه وروسته حضرت ابو هریره رضی الله عنه دا آیت د استدلال په توګه وویل: ﴿وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ (النساء: ۱۵۹) د آیت مطلب دا دی په آخره زمانه کې کله د حضرت عیسی علیه السلام نزول وشي نو د دنیا ټول انسانان به په یو مذهب اسلام باندې راغونډ شي، هیڅ کافر به په کفر باندې پاتې ونه ساتلی شي. نو هغه وخت به اهل کتاب یعنې یهود او نصاری ټول خلک په حضرت عیسی باندې ایمان راوړي. او هغه عقیده به خپله کړي کومه چې مسلمانانو ته اسلام ورکړیده. په دغه زمانه کې موجود څوک یهودي وي، یا نصرانې وي نو هغه به د حضرت عیسی علیه السلام د وفات نه مخکې مخکې دین حق ته راځي. د

Maktaba Tul Ishaat.com

آيت د تفسير مطابق **موته** کې ضمير حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به راګرځي. حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې تفسير د لاندې د آيت حواله ورکړيده. او د اهل کتاب نه مراد دهغه زمانې موجود اهل کتاب به وي. د آيت دويم تفسير دا دی چې د **موته** ضمير د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په ځای باندې د اهل کتابو هر فرد ته راجع شي مطلب به دا وي چې د اهل کتابو هر فرد به د خپل مرګ په وخت کې د نزع په حالت کې تکوينې توګه باندې په حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې ايمان راوړي خو دغه وخت به د هغه د ايمان اعتبارنه وي، لهذا هغه به دوزخ ته ځي. ځکه چ د نزع په حالت کې چې کله د آخرت د يو شي مشاهده کيږي نو بيا د ايمان بالغيب زمانه ختمه شي، او داسې ايمان معتبر ندی. (مرقات ۹/۴۳۹)

حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دزمانې برکتونه

﴿۲﴾ وَعنهُ قَا ل: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالله لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: په خدای قسم حضرت عيسى بن مريم
حَكَمًا عَادِلًا فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ
به په داسې حالت کې نازليږي چې هغه به يو عادل حاکم وي، صليب به ماتوي، سور (خنزير) به وژني،
وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ وَلَيَتْرُكَنَّ الْقِلَاصَ فَلَا يسْعَى عَلَيْهَا
جزيه به ختمه وي. او خوانې اوښې به پريخودلی شي چې د هغوی نه به د سپرلی او بار وړلو کار نه اخستلی
ولتذهبن الشحناء وَالتَّحَاسُدُ
کيږي. او يقينًا د خلکو د زړونو نه به کينه ؤ بغض او حسد ځي. او يقينًا حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ به خلک
وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
د مال دولت ورکولو لپاره راغواړي، ليکن هيڅوک به مال دولت اخستلو والانوي (مسلم) او د بخاری او
وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ: «كَيْفَ أَنْتُمْ
مسلم په يو روايت کې دا دي چې نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: هغه وخت به ستاسو څه حالت وي، چې
إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ وَ إِمَامُكُمْ مِنْكُم ».[۱]
حضرت حضرت عيسى ابن مريم عَلَيْهِ السَّلَامُ ستاسو په مينځ کې راکوز شي او ستاسو امام ستاسو نه وي.

---
(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۹۱ رقم الحديث ۳۴۴۹ ومسلم في صحيحه ۱/۱۳۵ رقم الحديث ۲۴۳/۱۵۲.

توضیح: القلاص: ځواني اوښو ته قلاص وايې. دا د عربو خوښ مال دی.

فلا یُسعٰی علیها: يعنې دغه ځوانې اوښې به پريخودلې شي، په هغوې باندې به د سپرلۍ او بار وړلو کار پريخودلی شي، خلک به داسې د مال نه مستغنې شي، چې دې محبوب مال ته به هم نګوري.

الشحناء: بغض او کينې ته شحناء وايې. يعنې د ددنيا مينه به ختمه شي، نو د دې نه پيدا شوې ناروغۍ مثلًا کينه او بغض او حسد او دښمنې به هم ختمه شي. (مرقات ۹/۴۳۹)

وامامکم منکم: يعنې خليفه مهدی به وي ځکه چې عمومې امامت به د اول نه د هغه په لاس کې وي. دا به د دې امت د اعزاز په توګه باندې وي. حضرت مهدی نه به وروسته حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ وي. (مرقات ۹/۴۴۰)

جهاد به جاري وي

﴿۲﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي
او حضرت جابر رضی الله عنه فرمايې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زما د امت نه به هميشه يو جماعت
يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». قَالَ:
د حق لپاره جنګيږي. چې هغه به غالبه کيږي. تر قيامته پورې به دا لړۍ جاري وي. بيا نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:
"فَيَنزل عِيسَى بن مَرْيَمَ فَيَقُولُ أَمِيرُهُمْ:
کله چې حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ راکوز شي نو د امت امير (يعنې امام مهدی) به حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ووايې چې
تَعَالَ صَلِّ لَنَا فَيَقُولُ: لَا إِنَّ بَعْضَكُمْ
راشه لمونځ وکړه. ليکن حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به جواب ورکړي چې زه امامت نکوم او بيشکه په تاسو
عَلَى بَعْضٍ أُمَرَاءُ تَكْرِمَةَ اللهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي[1]
کې ځينې خلک ځينو باندې امامان او اميران دي. په دې وجه چې الله تعالی دا امت محمديه غوره ګرځولی دی

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوا کې دفن کيږي

﴿۳﴾عَنْ عبد الله بن عَمْرو قَال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَنْزِلُ عِيسَى بن مَرْيَمَ
حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: حضرت عيسی ابن مريم عَلَيْهِ السَّلَامُ

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۳۷ رقم الحديث (۱۵۶-۲۴۷) واخرجه ابوداود في السنن ۳/۱۱ رقم الحديث ۲۴۸۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَى الْأَرْضِ فَيَتَزَوَّجُ وَيُولَدُ لَهُ وَيَمْكُثُ

به زمکې ته راکوزیږي نو دوه نکاحونه به کوي. او دهغوي اولاد به وي. د هغه د وخت تیرولو زمانه به

خَمْسًا وَأَرْبَعِينَ سَنَةً ثُمَّ يَمُوتُ فَيُدْفَنُ مَعِي فِي قَبْرِي

پنځه څلویښت (۴۵) کاله وي. بیا به هغه وفات شي. او هغه به زما قبر یعني زما په مقبره کې به زما سره خوا

فَأَقُومُ أَنَا وَعِيسَى بن مَرْيَمَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ بَيْنَ أَبِي بَكْرٍ

کې خخ شي. (د قیامت په ورځ به) زه او حضرت او عیسی ابن مریم علیه السلام د یوې مقبرې نه د ابوبکر رضی الله عنه

وَعُمَرَ». رَوَاهُ ابْنُ الْجَوْزِيِّ فِي كِتَابِ الْوَفَاءِ[1]

او عمر رضی الله عنه په مینځ کې راپاځیږو. (کتاب الوفاء)

توضیح: سوال: خمسا واربعین: دا روایت د هغه روایت سره معارض او مخالف دی چې په هغې کې ذکر دي چې حضرت عیسی علیه السلام د ۳۳ کاله په عمر باندې آسمان ته وچت کړی شو. او د نزول نه وروسته به اووه کاله په زمکه باندې حکومت کوي. د دېنه د هغه ټول عمر څلویښت کاله معلومیږي، او په زیر بحث روایت کې د هغه ټول عمر ۴۵ کاله ویلی شوی دی؟

جواب: ددې سوال جواب دا چې چیرته د ۴۰ کالو ذکر راغلی دی، هلته د پنځه کاله کسر پریخودلی شوی دی د عمر اصل مدت پنځه څلویښت (۴۵) کاله دی عرب اکثر کسر نه ذکر کوي او لسیزې (دهائي) بیانوي. (مرقات ۹/۴۴۲)

معی في قبری: یعنې زما سره به زما په مقبره کې مدفون وي. د دې ځاې نه مراد د حضرت عائشه رضی الله عنها هغه کور دی چې هلته نبی کریم صلی الله علیه وسلم، حضرت ابوبکرصدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دفن دي. حضرت عائشه رضی الله عنها تواضعًا وصیت کړی وُچې ما په عام قبرستان کې دفن کړی، دا ځاې پریږدی. بیا حضرت حسن رضی الله عنه په دغه ځاې کې د خخیدلو کوښښ وکړوو خو په دې ځاې کې دفن کیدو کې هغه کامیاب نه شو، لهذا د قبر دا ځاې خالي دی او حضرت عیسی علیه السلام به دا ډکوي. (مرقات ۹/۴۴۲)

✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡

---

[1] رواه ابن الجوزي في كتاب الوفاء.

بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ وَأَنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُه

د قرب قیامت بیان

قال الله تعالى: ﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ (القمر:۱)

یو قیامت کبری دی ، هغه د دې دنیا مرګ دی چې زمکه ، آسمان، فرښتې، پیریان او انسانان او ځناور به ټول مړه شي. ﴿وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ دویم قیامت وسطی دی هغه دا دی چې په زمکه باندې د وسیدونکو موجوده انسانانو دا مخصوص دور به ختم شي. لکه د صحابه کرامو رضی الله عنهم دور ختم شو، نو د برکاتو دور ختم شو. دا یو قِسم قیامت دی چې د وسطیٰ وخت لپاره ؤ. دریم قیامت صغریٰ دی. هغه دا دی چې د هر سړي مرګ کله راشي نو دهغه قیامت قائم شو. دا ذاتي او شخصي قیامت دی. ګویا یو د عالَم اکبر مرګ دی لکه زمکه ، آسمان، او غرونو نه به ساه ووځي. دا قیامت کبری دی. دویم د عالَم صغری مرګ دی. دا د هر سړي خپل ذاتي او شخصی مرګ دی. لکه په حدیث کې دي چې: **من مات فقد قامت قیامته** .

په ذکر شوي باب کې قیامت کبری او قیامت صغری د دواړو بیان به وي. بلکې حدیث نمبر: ۴ کې د قیامت وسطی بیان هم دی. لهذا په دې باب کې د دې درې واړو قِسمونو قیامت بیان به وي. (مرقات ۹/۴۴۲)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

قیامت ډیر نژدې دی

﴿۱﴾ عَن شعبةَ عَن قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
حضرت شعبه رضي الله عنه حضرت قتاده رضي الله عنه او هغه د حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم
« بُعِثْتُ أَنَا وَ السَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ ». قَالَ شُعْبَةُ :
وفرمایل: زه او قیامت د دې دوه ګوتو په شان رالیږلی شوي یو. حضرت شعبه رضي الله عنه فرمایي چې ما د
وَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ يَقُولُ فِي قَصَصِهِ كفصل إِحْدَاهُمَا
حضرت قتاده رضي الله عنه نه اوریدلي دي. هغه په خپل وعظ کې وویل چې لکه څنګه چې په دې دوه ګوتو کې یوه
عَلَى الْأُخْرَى فَلَا أَدْرِي
ګوته د بلې نه اوږده شویده، بهرحال (شعبه رضي الله عنه فرمایي چې) ماته معلومه نده چې دا مراد حضرت قتاده رضي الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com

أَذْكَرَهُ عَنْ أَنس أَوْ قَالَه قَتَادَة؟ مُتَّفق عَلَيْهِ (۱)
خپله بیان کړو او که هغه د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او رید لي وُ.

توضیح: کهاتین: یعنې د شهادت ګوته او مینځنۍ ګوته چې کله یو ځای کړی شي نو دواړه بـ... شي، فقط د مینځنۍ ګوتې سر لږ وچت وي. ګویا زه د غه شان لږ مخکې راغلی یم او زما سر: مت... قیامت راتلونکی دی.

سوال: دلته یو اشکال ارخ ته ذهن ځي هغه دا چې مخکنو انبیاؤ هم قیامت ډیر نژدې ښودلی دی، خو په دې باندې په زرګونو کلونه تیر شول، تر وسه پورې قیامت رانغلی، په آخر کې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم قیامت ډیر نژدې ښودلی دی، خو یو ینم زر کاله تیریدونکې دي، قیامت رانغلی، آخر دا څنګه نژدې دی؟

جواب: دعلماؤ او عقلاؤ دا اتفاقي فیصله ده چې **کل ما هو آت فهو قریب** یعنې کوم شی چې راتلونکی وي، پوهه چې هغه نژدې دی. ځکه چې یوه ورځ به داسې هم راشي چې هغه شی به راغلی وي. بس قیامت هم د غه شان یو شی دی. دویم جواب دادی چې داد باچاهانو اطلاق دی. چې هغوې کوم شي ته نژدې ووایې، په هغې باندې هم څو کلونه لګیږي. (مرقات ۹/۴۴۴)

یوه پیړۍ ختمیدو باندې هم د قیامت اطلاق کیږي

﴿۲﴾ وَعَن جَابِر قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ بِشَهْرٍ:
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د وفات کیدلو نه یوه میاشت مخکې دا واوریدل
«تَسْأَلُونِي عَنِ السَّاعَةِ؟ وَإِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ الله
چې تاسو به زما نه د قیامت په اړه باندې پوښتنه کوله نو حقیقت دا دی چې د دې متعین وخت فقط د الله
وَأُقْسِمُ بِالله مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ يَأْتِي عَلَيْهَا
تعالی په علم کې دی. او زه په قسم خورم چې په دا وخت په زمکه باندې داسې هیڅ یو څوک نشته دی چې هغه
مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَوْمَئِذٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (۲)
باندې سل کاله تیر شي او هغه د دېنه وروسته هم ژوندی وي.

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۴۷ رقم الحديث ۶۵۰۴ ومسلم في صحيحه ۲/۲۲۶۸ رقم الحديث (۲۹۵۱-۱۳۳)

(۲) أخرجه مسلم ... ۲۱۸ ... وأحمد في المسند ۳/۳۲۲.

توضیح: نفس منفوسة: یعني څوک ساه اخستونکی د نن نه واخله تر سلو کالو پورا کیدلو پورې به نه پاتې کیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې کوم دا ارشاد فرمایلی ؤ، د هغې نه ورسوته تر سلو کالو پورې یو صحابې هم ژوندی پاتې ندی. که دا ارشاد د صحابو د دور ختمیدلو اړخ ته اشاره وي، نو داسې شویده. او دا د قیامت وسطی دزمانې قائمیدل ؤ. او که د دنیا عام انسانان مراد واخستلی شي، نو دا کلام به د مغیباتو د قبیلې نه وي، چې به په دنیا کې هیڅ ساه اخستونکی انسان د نن نه وروسته تر سلو کالو پورې ژوندی نشي پاتې کیدلی. او دا یقینې خبره ده چې داسې به کیږي. وس پوښتنه دا ده چې د دې حدیث د مخې حضرت خضر علیه السلام مرګ به هم واقع شوی وي. حالانکې په دې کې اختلاف دی، یو لویه طبقه هغه وس ژوندی ګڼي، د دې جواب دا دی چې حضرت خضر علیه السلام په رجال الغیب کې د تکوینیاتو سړی دی. په هغه باندې د ظاهري شریعت احکامات نه نافذ کیږي، ځینو جواب کړیدی چې هغه د غه وخت په زمکه باندې نه ؤ، په سمندر باندې ؤ. او وړاندوینه په زمکه باندې د موجود خلکو لپاره ده. ملاعلی قاری رحمه الله لیکلي دي چې څلور انبیاء دا وخت ژوندي دي. دوه زمکه باندې دي یعنې حضرت الیاس علیه السلام او حضرت خضر علیه السلام او دوه په آسمانونو باندې دي یعنې حضرت عیسی علیه السلام او حضرت ادریس علیه السلام. (مرقات: ج ۹\۴۴۶)

بهرحال په دې حدیث کې د یوې پیړۍ په ختمیدلو باندې د قیامت اطلاق شویدی. دا قیامت وسطی دی. ملاعلی قاری رحمه الله چې د څلورو انبیاؤ د ژوند کومه خبره کړیده، دا د ختم نبوت د قاعدې خلاف ده. ځکه چې دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه مخکې انبیاء جوړ شویدی.

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او د حضرت ابو سیعد خدری رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا وخت چې کوم ژوندي دي
«لَا يَأْتِي مِائَةُ سَنَةٍ وَعَلَى الْأَرْضِ نَفْسٌ مَنْفُوسَةٌ الْيَوْمَ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
په دوې کې به یو سړی هم سل کاله وروسته په مخ د زمکه باندې ژوندی نه وي.
﴿۳﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْأَعْرَابِ يَأْتُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْأَلُونَهُ
او حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې څه باندچیان خلک به نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راتلل او دا پوښتنه به یې کوله
عَنِ السَّاعَةِ فَكَانَ يَنْظُرُ إِلَى أَصْغَرِهِمْ
چې قیامت به کله راځي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هغه ماشوم ته کتل، چې هغه به د دې پوښتنه کونکو سره ؤ.

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۹۶۶ رقم الحديث (۲۵۳۹-۲۱۹) والترمذي في السنن ۴/۴۵۰ رقم الحديث ۲۲۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَقُول: «إِنْ يَعِشْ هٰذَا لَا يُدْرِكُهُ الْهَرَمُ حَتّٰى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

او بيا به يې فرمايل: که دا ماشوم ژوندی ؤ نو دا به د بوډاوالي عمر ته نه وي رسيدلی چې په تاسو به قيامت راشي

توضيح: ساعتکم: يعني په ستاسو قيامت به قائم شي، که د دې نه مراد قيامت صغری وي نو د هر سړي خپل ذاتي مرګ ته اشاره ده. او که د دينه قيامت وسطی مراد وي نو بيا د قرنِ صحابه ؓ موجوده خلکو پيړۍ به مراد وي چې د دې خلکو دور به ختم شي. (مرقات ۹/۴۴۶)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۵﴾عَنِ الْمُسْتَوْرِد بن شَدَّاد عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بُعِثْتُ فِي نَفَسِ

حضرت مستورد بن شداد د نبی کريم ﷺ نه روايت کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل: زه د قيامت په

السَّاعَةِ فَسَبَقْتُهَا كَمَا سَبَقَتْ هٰذِهِ هٰذِهِ»

ابتداء کې راليږلی شوی يم، او زه د قيامت نه فقط دومره مخکې راغلی يم څومره چې دا ګوته د دې بلې ګوتې نه مخکې ده.

وَ أَشَارَ بِأُصْبعيهِ السَّبَّابَةِ وَ الْوُسْطٰى . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[2]

دې وينا سره نبی کريم ﷺ خپلې دواړه ګوتې يعني د شهادت ګوته او مينځنۍ ګوتې ارخ ته اشاره وکړه.

په دنيا کې د امت محمديه د پاتې کيدو زمانه

﴿۶﴾وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت سعد بن ابی وقاص ؓ د نبی کريم ﷺ نه روايت کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل:

«إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تَعْجِزَ أُمَّتِي عِنْدَ رَبِّهَا

زه اميد لرم چې زما امت د خپل رب په پروردګار په نظر کې دومره عاجز او بې حقيقته نشي چې د هغوي پروردګار هغوي

أَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ يَوْمٍ». قِيلَ لِسَعْدٍ: وَكَمْ نِصْفُ

ته د نيمې ورځې مهلت هم ورنکړي، حضرت سعد بن ابی وقاص ؓ نه پوښتنه وشوه، چې دا نيمه

(۱)أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۶۱ رقم الحديث ۶۵۱۱ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۹ رقم الحديث (۲۹۵۲-۱۳۶)

(۲)أخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۲۵ رقم الحديث ۲۲۱۳.

يَوْمٍ ؟ قَالَ : خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[۱]
ورځ به څومره وي؟ هغه وفرمايل: چې پنځه سوه كاله.

توضيح: ان لاتعجز امتي: ددې مطلب دا دی چې دالله تعالی په نزد زما د امت به دومره ناقدري نه کيږي اودا امت به دومره عاجزه نوي چې الله تعالى دوې لره پنځه سوه كاله پورې وروسته كولو باندې پنځه سوه كاله عمر هم ورنكړي، د نيمې ورځې نه د قيامت نيمه ورځ مراد ده . چې د پنځه سوه كلنو وي. قرآن كريم كې دي: ﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ﴾ (الحج:۴۷)
د دې حديث مطلب دا دی چې قيامت به تر پنځه سوه كاله پورې نه راځي . هو ! كه د دې نه وروسته الله تعالى قيامت څومره وروسته كول وغواړي نو د الله تعالى اختيار دی. د دېنه بحث نه دی. علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله خپلو ځينو كتابونو كې ليكلي دي چې د دې پنځه سوه كالو نه هغه كلونه مراد دي چې هغه به د زر كالو نه وروسته وي. ګويا يو نيم زر كاله د دې امت عمر دی. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمايلي دي چې د ټولې دنيا عمر اووه زره كاله دی. ملاعلی قاری رحم الله فرمايې چې دا كوم د پنځه سوه كالو ذكر دی، دا د اووه زره كالو نه وروسته دی. حضرت عمر رضي الله عنه اووه زره كالو ذكر وكړو. او د پنځه سوه كالو كسرېې پريخودلی دی. لكه څنګه چې عرب كوي. (مرقات: ج۹\۴۴۸)

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

دنيا بيخي بوډۍ كيخودلو سره تار تار شويده

﴿۷﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلُ هَذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ
حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دې دنيا مثال د هغه ټوټې (جامه) په شان دی
شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهِ
چې هغه د اول نه تر آخره پورې وشلولی شي، او د دې شليدلې برخې په آخره كې د يو تار سره اينختلې وي.
فَيُوشِكُ ذَلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَنْقَطِعَ » . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي « شُعَبِ الْإِيمَانِ » .[۲]
او هغه تار هم شليدلو ته نژدې وي. نو دنيا هم خپل ماتيدلو او ختميدلو ته دغومره نژدې شويده.

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۵۱۷ رقم الحديث ۴۳۵۰، وأحمد في المسند ۱/۱۷۰ .

(۲) رواه البيهقي في شعب الايمان ۷/۲۶۰ رقم الحديث ۱۰۲۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ لا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلا عَلَى شِرَارِ النَّاس

قیامت به په بدمعاشانو باندې قائمیږي

د قیامت زلزله او د دې خوف ډیر تریخ حقیقت دی. نو ځکه الله تعالی نیکان خلک د دې خوف نه ساتلو لپاره به اول مرګ ورکړي. او کله چې په دنیا فقط او فقط بدمعاشان، لوفران، لوچکان، غله، شرابیان، کبابیان، کافر او اشرار پاتې شي، نو په دوې باندې به قیامت راځي.

الْفَصْلُ الأَول

په خلکو کې چې ترڅو د الله نوم وي نو قیامت به نه راځي

﴿۱﴾عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
حضرت انس رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي
حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ: اللهُ اللهُ". وَفِي رِوَايَةٍ:
ترڅو چې په مخ د زمکه باندې الله الله ویلو والا ختم نشي. او په یو روایت کې دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل:
" لَا تَقُومُ السَّاعَةُ عَلَى أَحَدٍ
قیامت به په هغه سړي باندې نه قائمیږي چې الله الله وایي. (مسلم) ځینو شارحینو د الله الله نه لا اله الا الله کلمه
يَقُولُ: اللهُ اللهُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
مراد اخستلي ده. ځینو علماؤ د الله الله الفاظو نه په اسم مفرد سره ذکر الله ثابت کړیدی.
﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ
او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: قیامت به فقط په
إِلَّا عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]
بدکارو خلکو باندې قائمیږي (مسلم)

([1])اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۳۱ رقم الحديث (۱۴۸-۲۳۴) والترمذي ۴/۴۲۶ رقم الحديث ۲۲۰۷.

([2])اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۶۸ رقم الحديث (۲۹۴۹-۱۳۱) وابن ماجه في السنن ۲/۱۳۴۰ رقم الحديث ۴۰۳۹.

د قیامت په باره کې پیشنګوئي

﴿۳﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: قیامت به تر هغه وخته پورې نه راځي

حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ حَوْلَ ذِي الْخَلَصَةِ» . وَذُو الْخَلَصَةِ:

ترڅو چې دَوس قبیلې ښځې د ذو الخلصه نه ګیر چاپیره خپلې غوښې ونه خوزوي. ذو الخلصه د دَوس قبیلې

طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

د یو بت نوم دی. چې د جاهلیت په زمانه کې به یې د هغې عبادت کولو.

توضیح: تضطرب: د اضطراب نه دی. د حرکت کولو په معنی دی. **الیات**: همزه او لام دواړو باندې فتحه د هدا د الیة جمع ده . همزه باندې زبر دی. لام ساکن دی. چاق ورون او سرین او مقعد غوښې ته ویل کیږي، چې هغه ته کوناټې ویل کیږي.(مرقات ۹/۴۵۰)

ذوالخلصة: دا په یمن کې د یو بت نوم ؤ دېته به کعبه یمانیه هم ویل کیدله. په دې بت خانه کې یو غټ بت ؤ، چې د هغې نوم خلصه ؤ. د دې د وجې نه ټول بت خانې ته ذوالخلصه وویلی شو. د مکې مکرمې د فتح کیدلو نه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت جریر بن عبد الله رضي الله عنه دې د سیزلو او ګوزارولو لپاره ولیږلو. هغه دا تباه کړو. د جاهلیت په زمانه کې خثعم، بجیله او دوس قبیلو خلکو به د دې عبادت کولو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وړاندوینه وفرمایله چې یوه زمانه به په آخر کې بیا داسې راشي چې د دوس قبیلې خلک به په درنو کوناټو سره د دې نه ګیر چاپیره طوافونه کوي. دا به یوه جزئې واقعه وي. ګنې تر قیامته پورې په جزیره عرب کې په عمومي توګه باندې د بتانو عبادت نشي کیدلی. یا د هغه زمانې خبره به وي چې د اسلام نظام به ختم شي. قیامت به شروع شي، لکه وروستې روایت نمبر: ۴ کې د دې تصریح ده. بیا خو هیڅ اشکال نشته .(مرقات ۹/۴۵۱)

﴿۴﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي چې د شپې او

وَالنَّهَارُ حَتَّى يُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى». فَقُلْتُ:

ورځې لړۍ به تر هغه وخته پورې ختمه نشي ترڅو چې د لات او عزی عبادت شروع نشي. (حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې)

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۷۶ رقم الحديث ۷۱۱۶ ومسلم في ...

Maktaba Tul Ishaat.com

يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللهُ: (هُوَ الَّذِي

ما د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ارشاد واوریدلو نو ما وویل چې یارسول الله! چې الله تعالی دا آیت نازل کړیدی ، هُوَ الَّذِي

أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ)

أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ نو زما خیال ؤ چې د بتانو عبادت

أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا. قَالَ: «إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللهُ

ختمید ونکی دی. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: په حقیقت کې هم دغه شان به کیږي ترڅو چې الله

ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ

وغواړي. بیا به الله تعالی یوه ښایسته خوشبو والا باد (هوا) راولیږي چې د هغې په ذریعه سره به هر هغه سړی

كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيَبْقَى مَنْ

مړ کیږي چې د هغه په زړه کې د ګدن د دانې هومره ایمان هم وي. او فقط هغه سړی به پاتې کیږي چې په

لَا خَيْرَ فِيهِ فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ» . رَوَاهُ مُسْلِم [1]

هغه کې څه نیکي نوي. نو ټول خلک به د خپل پلار نیکه دین یعنې کفر او شرک ارخ ته وګرځي.

دقیامت سره متعلق یو تفصیلي حدیث

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَخْرُجُ الدَّجَّالُ

او حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: دجال به راوځي.

فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ» لَا أَدْرِي

او تر څلویښتو پورې به وي. حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ماته معلومه نده چې د څلویښتو نه مراد

أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ عَامًا «فَيَبْعَثُ اللهُ

د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه ؤ؟ آیا څلویښت ورځې، یا څلویښت میاشتې یا څلویښت کاله. نو الله تعالی به

عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ فَيَطْلُبُهُ

عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ راولیږي چې هغه به ګویا د عروه بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شکل او صورت وي. هغه به دجال لټوي.

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۳۱ رقم الحديث ۲۹۰۷-۵۲

فَيُهْلِكُهُ ثُمَّ يَمْكُثُ فِي النَّاسِ سَبْعَ سِنِينَ

او هغه به وژني، د دېنه وروسته به حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د دنيا خلکو کې اووه کاله پورې وي، او په دې زمانه کې

لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةٌ ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ رِيحًا بَارِدَةً

به د دوه کسانو ترمينځ به هم دښمني او عداوت نوي. بيا به الله تعالى د شام د اړخ نه يو يخ باد (هوا) راوليږي. نو دغه

مِنْ قِبَلِ الشَّامِ فَلَا يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ

وخت به په مخ د زمکه باندې داسې يو سړی پاتې نشي چې د هغه په زړه کې د ګدن د دانې هومره هم نيکي

أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ حَتَّى لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبِدِ جَبَلٍ

يا ايمان وي. او هغه باد د هغه روح قبض نکړي. تردې که ستاسو نه يو کس غار ته هم دننه شي نو هغه باد

لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ حَتَّى تَقْبِضَهُ» قَالَ:

غار ته په ننوتلو سره هغه سړې پسې وي، او د هغه روح به قبض کړي. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د دېنه وروسته

" فَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ

نقط بدکار او شريان خلک پاتې وي، چې هغه به د مارغانو په شان په منډه او د درندګانو په شان بې عقله او

لَا يَعْرِفُونَ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُونَ مُنْكَرًا

سخت زړې وي، هغوی خو به نه د نيکۍ او ښيګړې نه خبروي او نه به د بدۍ او بدکارۍ نه ځان ساتي. بيا

فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ

به شيطان (د يو معزز او قابل تکريم) انسان په شکل او صورت خپلو لو باندې د هغوی خواته راشي، او ورته

فَيَقُولُ أَلَا تَسْتَجِيبُونَ ؟ فَيَقُولُونَ : فَمَا تَأْمُرُنَا ؟

به وايي چې آيا تاسو ته شرم او حياء نه راځي. هغوی خلک به شيطان ته ووايي چې ته وايه مونږ څه وکړو

فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ

نو شيطان به هغوی ته د بتانو د عبادت کولو حکم وکړي، بهرحال هغه خلک به د شيطان د وينا مطابق د بتانو

وَ هُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ

عبادت شروع کړي. د هغوی اعمال او اخلاق به نهايت د کمزورۍ شي، ليکن هغوی ته به د دوی د بدو

رِزْقُهُمْ حَسَنٌ عَيْشُهُمْ

اعمالو سره هم د هغوی په رزق کې فراختيا او ډيروالی وي. او هغوی به د عيش او مزو ژوند تيروي. بيا به

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ	يُنْفَخُ	فِي	الصُّورِ	فَلَا	يَسْمَعُهُ	أَحَدٌ	إِلَّا	أَصْغَى لِيتًا
شپیلۍ ووهلی شي، او کوم سړی چې هم د دې آواز اوري هغه به خپل څټ د یو اړخ نه را کوږ کړي. او د بل								
وَرَفَعَ	لِيتًا"	قَالَ:"	وَأَوَّلُ	مَنْ	يَسْمَعُهُ			
اړخ نه به یې وچت کړي، د دې شپیلۍ اواز اوریدونکی به د ټولو نه مخکې هغه سړی وي چې هغه به د خپلې								
رَجُلٌ	يَلُوطُ	حَوْضَ	إِبِلِهِ	فَيَصْعَقُ				
اوښې حوض اخیر کوي، او هغه به د غه حالت کې مړ شي. او نور خلک به هم د غه شان په خپلو خپلو کارونو								
وَيَصْعَقُ	النَّاسُ	ثُمَّ	يُرْسِلُ	اللهُ	مَطَرًا	كَأَنَّهُ	الطَّلُّ	
کې بوخت کیدلو په جریان کې مړه شي. د دېنه وروسته به الله تعالی باران را اولیږي چې هغه به د پرخې (شبنم)								
فَيَنْبُتُ	مِنْهُ	أَجْسَادُ	النَّاسِ					
په شان وي. . او د دې باران په ذریعه به د خلکو بدنونه را زرغون شي، یا (ځلو یبنت کاله وروسته) به دویمه								
ثُمَّ	يُنْفَخُ	فِيهِ	أُخْرَى	فَإِذَا	هُمْ	قِيَامٌ	يَنْظُرُونَ	
شپیلۍ ووهلی شي، چې د هغې په اوریدلو سره به ټول خلک په یو ځل را پاځیږي او د قیامت یرونکې منظرونه								
ثُمَّ	يُقَالُ:	يَا	أَيُّهَا	النَّاسُ	هَلُمَّ	إِلَى	رَبِّكُم	
به ووینې. بیا به هغوی ته وویلی شي چې خلکو! خپل رب اړخ ته راشئ، او فرښتو ته به حکم ورکړی شي								
وقفوهم	إِنَّهم	مسؤولونَ.						
چې دا ټول ایسار کړئ، د دوی د اعمالو په اړه به پوښتنه کیږي، او د دوی نه به حساب اخستلی کیږي، بیا د								
فَيُقَالُ:	أَخْرِجُوا	بَعْثَ	النَّارِ.	فَيُقَالُ:	مِنْ	كَمْ؟		
فرښتو د اړخ نه به د الله رب العزت په دربار کې عرض وشي چې د څومره خلکو نه په څومره مقدار په								
كَمْ؟	فَيُقَالُ:	مِنْ	كُلِّ	أَلْفٍ	تِسْعَمِائَةٍ	وَتِسْعَةً	وَتِسْعِينَ"	
حساب سره بیل کړی شي؟ فرښتو ته به وویلی شي په هر زرو (۱۰۰۰) کې نهه سوه نهه نوي (۹۹۹) کسان دوزخ								
قَالَ:	«فَذَلِكَ	يَوْمَ	يَجْعَلُ	الْوِلْدَانَ	شِيبًا	وَذَلِكَ	يَوْمَ	
ته لیږلو لپاره بیل کړئ! د دې وینا سره نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دا هغه ورځ ده چې دا ماشومان								

يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاوِيَةَ: «لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ» فِي «بَابِ التَّوْبَةِ»[1]

بوډاګان کوي.او دا هغه ورځ ده چې په دې کې امر عظيم به ظاهر کړی شي. (روايت کړې دې مسلم)

توضيح: اربعين: نبی کريم ﷺ د دجال قيام د څه مصلحت په بنا باندې پټ وساتلو، ځکه مخکې راوي وايي چې ماته معلومه نشوه چې نبی کريم ﷺ څلوېښت ورځې وفرمايلې او که څلوېښت مياشتې او که څلوېښت کاله يې وفرمايل. په نورو روايتونو کې راجح قول د څلوېښتو ورځو دی. كبد جبل: كبد سينه او ځيګر ته وايي.يعنې هغه سړی ته ورسيږي که هغه په غار يا د ګټې په سينه کې دننه پټ ولې نشي. **خفة الطير**: يعنې نقل او حرکت او عدم استقلال کې به د مارغانو په طور خورشوې انداز کې غير سنجيده کيدو سره پيزار ايستلې بی عزته به ګرځي. **واحلام السباع**: يعنې وحشت او ظلم، جهالت او بی رحمی کې به د درندګانو په شان بی عقله وي. **الاتستحيون**: آيا تاسو نه شرميږی چې په فسق او فجور کې پراته ياست. او عبادت نکوی؟ دا خبره به ابليس ځکه کوي دې لپاره چې هغوې ته دهوکه ورکولو باندې د بتانو په عبادت کې اخته کړي. **دار رزقهم**: يعنې کفر او د بتانو عبادت او د فسق او فجور سره به هم الله تعالی دوې ته مسلسل رزق ورکوي او د دوې ظاهري ژوند به ښه وي. او جسماني صحت به وغيره به ورته ترلاسه وي. **اصغی ليتاً**: لام باندې کسره ده، څټ يو اړخ ته کړولو ته وايي. شارحين د دې جملې مطلب دا وايي چې د شپيلی د پوکې د وجې نه به د دوې زړونه وچوي. نو څټونه به يې زوړند شي، د دې نظام به معطل شي.نو يوه برخه به يې لاندې شي. دويمه برخه به يې پاس پاتې شي. د شارحينو خبره په خپل ځاې باندې صحيح ده ، خو زما په ناقص ذهن کې راځي چې ډير آواز راشي او د حالت د حقيقت اندازه وشي لکه څنګه چې عام عادت دی، چې په دغه صورت حال کې د څټ او د مخ يوه برخه لاندې باندې کيږي،په دې شش وپنج به کې به معامله ډيره سخته شي. **يلوط**: اخير کول، ختهٔ تپل مراد دي. **الطل**: پرخي (شبنم) ته وايي. سپکی باران مراد دی دا باران به د عرش د لاندې نه وريږي.

يوم يكشف عن ساق: يعنې هم دا د سختو او مصيبتونو وخت به وي. کشف ساق کنايه ده د داسې غم نه چې د زغملو نه بيرون وي. دا د عربو خاص محاوره ده. د عربو خلک دا په سخت حالت کې استعمالوي. يعنې کله چې د زغم نه زيات مصيبت په چا باندې راشي نو هغه سړی د خپلې پنډۍ نه جامه او پينڅه راکاږي او جنګ لپاره تيار شي. د دغه مصيبت په حالت کې د عربو دا محاوره په دې توګه استعماليږي. **كشف فلان عن ساقه**.(مرقات ۹/۴۵۴)

([1])أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۲۲۵۸ رقم الحديث (۲۹۴۰-۱۱۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

بَاب النفخ فِي الصُّور
د شپیلۍ پوک وهلو بیان

قال الله تعالیٰ: ﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ فَذَالِكَ يَوْمَئِذٍ يَّوْمٌ عَسِيْرٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ غَيْرُ يَسِيْرٍ﴾(سورة المدثر:۱۰۸)

نفخ د پوکې کولو په معنی دی. او صور په اصل کې نرسګا او ښکر ته وایي. دا یو قدرتي ښکر دی چې په هغې کې د الله تعالی په حکم باندې حضرت اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ به پوکی کوي. دا نفخ صور به دوه ځل کیږي. یو ځل د ټولو انسانانو وژلو لپاره او دویم ځل د ټولو لره ژوندې کولو لپاره بکې پوکی وشي. دې لپاره چې حشرنشر او حساب کتاب قائم شي. اوله شپیلۍ وهلو او دویمه شپیلۍ وهلو ترمینځ به څلوېښت کاله فاصله وي. میدان حشر به د شام په زمکه باندې جوړیږي، ټول انسانان به د نفخ صور ثاني په ذریعه سره دې میدان اړخ ته داسې راوبللی شي: ﴿ياأعظام البالية ويا اجسام المفتتة هلموا الى الله الواحد القهار الجبار﴾(مرقات ۹/۴۵۷)

نفخ اولی سره به ټول زنده سر مړه شي، ابلیس به هم په دې نفخه اولیٰ کې مردار شي. اخوا دیخوا به تختي، فرښتي په د اور ګرزونو باندې هغه راوګرځوي، بیا به د ټولو انسانانو د نزع حالت په ابلیس باندې واچولی شي. نفخ اولی به مسلسل شپږ میاشتو پورې وي. په دې سره به ټول مخلوق ختم شي. فرښتي به هم ختمې شي، فقط اته شیان به د ختمیدلو نه وساتل شي: (۱) عرش (۲) کرسی (۳) لوح محفوظ (۴) قلم (۵) جنت (۶) دوزخ (۷) صور (۸) راواح. ځینې علماؤ لیکلې دي چې دا اته شیان به هم د څه وخت لپاره فنا شي، او فقط رب ذوالجلال به پاتې شي، او اعلان به وکړي: ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ درې ځل اعلان کولو نه به وروسته خپله جواب وکړي: ﴿لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ بیا به د ملا هډوکی چې هغې ته عجب الذَنب وایې، د دې نه به هر انسان پیدا کړی شي. ټول خلک به بې ګیرې . لوڅ (بربنډ) ناسونته(بې ختنې) به پاڅیږي. د هر چا نه مخکې به د زمکې نه نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راپاڅیږي، ابوبکر صدیق، عمرفاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به ورسره وي. بیا به هر یو امت د خپل خپل پیغمبر خواته راغونډیږي. سخته ګرمې به وي، خلک به په خولو کې ډوب وي، الا ماشآء الله.

زر کاله پورې به خلک په د غه درد او سخته کې وي. بیا به خلک انبیاء کرامو باندې شفاعت کوي. ټول انبیاء به عذر وکړي. فقط نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د شفاعت کبری لپاره د الله تعالی خواته مقام محمود ته لاړ شي. شفاعت کبری کې چې کله اجازت ورکړی شي نو نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د دې

سره د خپل امت لپاره هم شفاعت وکړي. تفصيل را روان دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

د ملا هډوکی کله هم نه ختميږي

﴿۱﴾عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ»

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: د دواړو نفخو ترمينځ فاصله به څلويښت وي

قَالُوا: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا؟ قَالَ:

خلکو پوښتنه وکړه چې ابو هريره رضي الله عنه! آيا څلويښت ورځې مراد دي؟ ابو هريره رضي الله عنه و فرمايل:

أَبَيْتُ. قَالُوا: أَرْبَعُونَ شَهْرًا؟ قَالَ:

چې ماته معلومه نده! نو بيا خلکو پوښتنه وکړه چې آيا څلويښت مياشتې مراد دي؟ ابو هريره رضي الله عنه و فرمايل:

أَبَيْتُ. قَالُوا: أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ قَالَ:

چې ماته نده معلومه! بيا خلکو پوښتنه وکړه چې آيا څلويښت کاله مراد دي؟ ابو هريره رضي الله عنه بيا هغه جواب ورکړي چې ماته نده

أَبَيْتُ. «ثُمَّ يُنْزِلُ اللهُ

معلومه! د دينه وروسته حضرت ابو هريره رضي الله عنه حديث د بيان لړۍ جاري ساتلو سره و فرمايل چې

مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ

نبی کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل: بيا به الله تعالى د آسمان نه اوبه راووروي او په دې اوبو سره خلک داسې رازرغون شي

كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ» قَالَ: «وَلَيْسَ مِنَ الْإِنْسَانِ شَيْءٌ

لکه شينکی چې راززرغون کيږي. دغه شان نبی کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل: انسان د بدن هيڅ يو شی

لَا يَبْلَى إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ

داسې نشته چې هغه زوړ او نه پخوانی کيږي، د يو هډوکي نه غيره چې هغې ته عجب الذنب وايي او د

وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

قيامت په ورځ به د هر زنده سر بدن د دې هډوکي نه د ده ټول بدن را يو ځای کيږي. (بخاري او مسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: «كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ

او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل: چې د مرګ نه وروسته خاورې د انسان ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ مِنْهُ

بدن نه خوري خو عجب الذنب په پوره توګه نشي خوړلی او هم دا هغه هډوکی دی چې د دې نه د انسان په

خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ»[1]

اول ځل پیدائښ شوېدی او د دې په ذریعه سره به بیا جوړ کړی شي.

توضیح: قال ابیت: د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا انکار په دې بنیاد ؤ چې ده د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په دغه شان په مجمله توګه باندې اوریدلی ؤ یا یې مفصل اوریدلی ؤ خو ترینه هیر شوی ؤ. ځکه که مفصل روایت که وکتلی شي نو په دې کې د ټلو ینبتو کالو تصریح شته دی. (مرقات ۹/۴۵۷)

عَجْبُ الذَّنَبِ: عجب جرړې ته وایي او ذنب لکۍ ته وایي. د دې هډوکې سره لکۍ یو ځای شویده. یا د ملا هډوکې ته عجب الذنب وایي. د ملا هډوکی خو یا د ټولو اندامونو نه وروسته ختمیږي. یا مطلب دا دی چې چې د دې به څه نا څه ریزه پاتې کیږي چې د هغې سره د انسان د بدن نور اندامونه یو ځای شي. هو! د انبیاؤ او شهداؤ بدنونه محفوظ دي. (مرقات ۹/۴۵۸)

﴿۲﴾وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَقْبِضُ اللهُ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ به الله تعالی په خپله

الْأَرْضَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ

قبضه (لاس) کې واخلي. او آسمان به په خپل ښي لاس کې راونغاړي او بیا به وفرمایي: زه باچا یم، چیرته دي

أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ؟ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]

هغه خلک چې هغوی به په زمکه باندې د خپلې باچایې دعوې کولې.

﴿۳﴾وَعَن عبد الله بن عَمرو قَالَ: قَا ل رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت

" يَطْوِي اللهُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا

په ورځ به الله تعالی آسمانونه راونغاړي او بیا به هغه په خپل ښي لاس کې نیولو سره وفرمایي: زه

---

(۱)أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۶۸۹ رقم الحديث ۴۹۳۵ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۰ رقم الحديث (۲۹۵۵-۱۴۱)

(۲)أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۵۵۱ رقم الحديث ۴۸۱۲ ومسلم في صحيحه ۲۱۴۸ رقم الحديث (۲۷۸۷-۲۳)

الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ - بِشِمَالِهِ
باچا يم! چيرته دي ظلم او جبر كونكي؟ چيرته دي تكبر كونكي؟ بيا به زمكه په خپل چپ لاس كې راونغاړي
وَ فِي رِوَايَةٍ : يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْأُخْرَى ثُمَّ يَقُولُ : أَنَا الْمَلِكُ
او په يو روايت كې داسې دي چې زمكې به په خپل بل لاس كې واخلي او وبه فرمايي: زه باچا يم.
أَيْنَ الجبَّارونَ أَيْنَ المتكبِّرونَ؟". رَوَاهُ مُسلم[1]
چيرته دي ظلم كونكي؟ چيرته دي تكبر كونكي

توضيح: بيده اليمنى: آسمانونو ته شرف ترلاسه دی ځکه په ښي لاس كې د نيولو ذكر يې وكړو.

بشماله: الله تعالى لپاره جهت (اړخ) متعين كول حدوث لره لازمدى. او په ښي او چپ كې د جهت شائبه ده. دغه شان چپ لاس ته په عرف عامه كې هغه عظمت ترلاسه ندی كوم چې ښي لاس ته تر لاسه دی لهذا الله تعالى په لاس باندې د شمال اطلاق نشي كيدلی، هم دا وجه ده چې په دې روايت كې د شمال د اطلاق نه وروسته راوي وايي چې په يو روايت كې بيده الاخرى يعنې د بل لاس اطلاق شوى دى د شمال نه دى. په حديث كې د يطوي لفظ دی. چې د هغې معنى راونغختل خو د دېنه فنا كيدل مراد دي.

﴿۲﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بيان كوي چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم مجلس ته د يهودو يو عالم راغلی
فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أُصْبُعٍ
او وې ويل اى محمد (صلى الله عليه وسلم)! د قيامت په ورځ به الله تعالى آسمانونه په يوه ګوته باندې،
وَالْأَرَضِينَ عَلَى أُصْبُعٍ وَالْجِبَالَ وَالشَّجَرَ عَلَى أُصْبُعٍ وَالْمَاءَ وَالثَّرَى عَلَى أُصْبُعٍ
زمكې په يوه ګوته باندې، غرونه او بوټي په يوه ګوته باندې، او به او د اوبو د لاندې لمده خاوره په يو ګوته باندې،
وَسَائِرَ الْخَلْقِ على أصبع ثُمَّ يَهُزُّهُنَّ فَيَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ أَنَا اللهُ.
او پاتې ټول مخلوق به په يو ګوته باندې كيږدي. او ګوتې به خوزوي او فرمايي به: زه باچا يم، زه يم خداى.

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۴۸ رقم الحديث (۲۷۸۸-۲۴) وأبوداود في السنن ۵/۱۰ رقم الحديث ۴۷۳۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَجُّبًا مِمَّا قَالَ الْحَبْرُ تَصْدِيقًا لَهُ.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې يهودي عالِم په ژبه دا خبرې اوريدلو سره په تعجب باندې مسکي شو او بيا

ثُمَّ قَرَأَ: (وَمَا قَدَرُوا اللهَ

نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت تلاوت کړو ﴿وَمَا قَدَرُوا اللهَ الخ﴾ او افسوس دی چې دې خلکو يعنې مشرکانو د الله تعالی هيڅ عظمت

حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ

ونکړو څنګه عظمت چې کول پکار ؤ. حالانکې (د ده هغه شان دی چې) ټوله زمکه به د هغه په لاس

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى

(موټي) کې وي د قيامت په ورځ او ټول آسمانونه به رانغختلي شوي وي د هغه په ښي لاس کې. هغه پ ک

عَمَّا يُشْرِكُونَ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

او وچت دی د هغوی د شرک نه.

توضيح: حبر: د يهودو غټ عالِم ته حبر وايي. چې د هغې جمع احبار ده. دې يهود عالِم د ميدان محشر او د قيامت د ټولې ورځې چې کومه نقشه بيان کړه، دا په اصل کې يو تمثيل او تفصيل ؤ. مراد په لاس سره وچتول ؤ. لکه څنګه چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان کړل. په دې باندې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضحک وفرمايلو، دا د انکار لپاره نه ؤ، بلکې د تعجب په توګه د اقرار لپاره ؤ. (مرقات ۹/۴۶۱)

قيامت کې به د زمکې او آسمان د بدلون په وخت کې خلک چيرته وي؟

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ: (يَوْمَ تُبَدَّلُ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دې آيت په اړه پوښتنه وکړه: ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ

الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ)

الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ﴾ يعنې په کومه ورځ چې زمکه په بله زمکه باندې بدله شي او آسمان هم.

فَأَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: «عَلَى الصِّرَاطِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[2]

نو په هغه ورځ به خلک چيرته وي؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: پل صراط باندې

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۵۵۱ رقم الحديث ۴۸۱۱ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۴۷ رقم الحديث (۲۷۸۶-۱۹)

(2) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۵۰ رقم الحديث ۲۷۹۱-۲۹ وابن ماجه في السنن ۱۲۳۰ رقم الحديث ۴۲۷۹.

توضيح: تبدل الارض: زمکې د بدلون په اړه باندې ځينې علماء فرمايې چې دا به د دې د ذات بدلون وي، د موجوده ذات په ځاې به بل ذات راشي. مثلاً نوې زمکه به د سپينو زرو وي، او نوی آسمان به د سرو زرو وي. ځينې علماؤ ويلې دي چې ذات نه بلکې د زمکې او آسمان په صفتونو کې به بدلون راشي مثلا: زمکه به سپينه ډوډۍ شي. خلک به په محشر کې هم دا خوري. اولنی قول واضح او راجح دی.

دلته دا اشکال دی چې زمکه او آسمان کله بدليږي نو په دې وخت کې به خلک چيرته وي. هم دا پوښتنه حضرت عائشه رضي الله عنها کړي وه. چې د دې په جواب کې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خلک به دغه وخت په پل صراط باندې وي. (مرقات ۹/۴۶۳)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ
او حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به لمر او سپوږمۍ
مُكَوَّرَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
راونغختلی شي. (روايت کړی دی بخاری)

توضيح: مکوران: يعنې سپوږمۍ او لمر دواړه به د قيامت په ورځ راونغختلی شي، يعنې دواړه به بې نوره شي. او بيا به دواړه په اور کې واچولی شي، دا د دوی سزا نده بلکې د دوی د عبادت کونکو سزا ده چې د دوی د ځانه جوړ شوی خدای په اور کې پروت دی.

الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۷﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَيْفَ أَنْعَمُ
حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه فرمايې چې رسو الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه په آرام او سکون باندې څنګه کينم
وَصَاحِبُ الصُّورِ قَدِ الْتَقَمَهُ وَأَصْغَى سَمْعَهُ
او حال دا دی چې شپيلۍ وهونکی اسرافيل عليه السلام شپيلۍ په خله کې نيولې ده. خپل غوږ ايخی دی.
وَحَنَى جَبْهَتَهُ يَنْتَظِرُ مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ». فَقَالُوا:
او تندی يې راټيټ کړيدی. او په انتظار کې دی چې کله به د شپيلۍ وهلو حکم کيږي. صحابو رضي الله عنهم وفرمايل

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۹۷ رقم الحديث ۳۲۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: " قُولُوا: حَسْبُنَا اللهُ وَنِعمَ الْوَكِيل ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[۱]
چې یا نبی (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) زمونږ لپاره څه حکم کوي؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دا وایی: ﴿حَسْبُنَا اللهُ وَنِعمَ الْوَكِيل﴾

توضیح: اِلتقمه: یعنې حضرت اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ شپیلۍ په خله کې مړې په شان ایخودلې ده. او د الله تعالی حکم ته یې غوږ ایخی دی. وحنی جبهته: یعنې تندی یې راټیټ کړیدی. بیخې د الله تعالی حکم ته تیار دی. بس د هغه اړخ نه حکم وشو او د دې ځای نه یې تعمیل وشو. (مرقات ۹/۴۶۴)

اسرافیل علیه السلام د شپیلۍ حقیقت څه دی؟

﴿۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
«الصُّورُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ[۲]
شپیلۍ یو خکر دی چې په هغې کې به پوک وهلی کیږي.

توضیح: قرن: یعنې یو صور یو خکر دی. د صور ترجمه خکر هم ده او خکره هم ده. حضرت اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا شپیلۍ دوه ځل پوکیووهي. یو ځل د انسانانو د وژلو لپاره او دویم ځل د ټولو د ژوندې کولو لپارهه به یې ووهي. ویلی کیږي چې د دې شپیلۍ خله دومره غټه ده چې زمکه او آسمان وریکې د ننه ځایدلی شي. (مرقات ۹/۴۶۴)

اَلْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۹﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ):		
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه د الله تعالی دا ارشاد ﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ﴾ تفسیر بیانولو		
الصُّور	قَالَ:	و(الرجفة):
کې وفرمایل چې د ناقور نه مراد شپیلۍ ده. هغه د دې آیت ﴿يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ﴾ په تفسیر کې وفرمایل		

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۶ رقم الحديث ۲۲۳۱ واحمد في المسند ۳/۷۳ .

(۲) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۰۷ رقم الحديث ۴۷۴۲ والترمذي في السنن ۵۳۶ .

النَّفْخَةُ الْأُولَى وَ (الرَّادِفَةُ): الثَّانِيَةُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ[1]

چې: راجفة نه مراد اوله شپیلۍ کې پوک وهل دي او رادفة نه مراد دویمه شپیلۍ پوک وهل دي.

﴿١٠﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبَ الصُّورِ

او حضرت ابو سعید رضي الله عنه روایت دی چې یو ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم شپیلۍ پوک وهونکي یعنې حضرت اسرافیل علیه السلام

وَقَالَ: «عَنْ يَمِينِهِ جِبْرِيلُ

ذکر وکړو او وې فرمایل: چې د شپیلۍ پوک وهلو په وخت کې د هغه ښي اړخ ته حضرت جبرائیل علیه السلام او

وَعَنْ يَسَارِهِ مِيكَائِيلُ»[2]

چپ اړخ به یې حضرت میکائیل علیه السلام وي.

﴿١١﴾ وَعَنْ أَبِي رزين الْعُقَيْلِيِّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ

او حضرت ابو رزین عقیلي رضي الله عنه روایت دی چې ما وویل: یا رسول الله! الله تعالی به مخلوق په دویم ځل

يُعِيدُ اللهُ الْخلقَ؟ مَا آيَةُ ذَلِكَ فِي خَلْقِهِ؟ قَالَ:

څنګه راژوندي کولو سره پاخوي. او آیا دې لپاره په ټوله خلقو کې څه نښاني شته دی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«أَمَا مَرَرْتَ بِوَادِي قَوْمِكَ

چې ته کله د قحط او وچکالۍ په زمانه کې د خپل قوم په ځنګل او پټو (فصلونو) باندې تېر شوی یې؟ هلته

جَدْبًا ثُمَّ مَرَرْتَ بِهِ

بد شینکې نوم هیڅ شی په نظر نه یې راغلی. بیا چې کله ته د باران نه وروسته په هغه ځای باندې تیر شوی یې

يَهْتَزُّ خَضِرًا؟» قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ:

نو تا به په چپې وهونکی شینکی په نظر راغلی وي. ما وویل چې هو! داسې کیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"فَتِلْكَ آيَةُ اللهِ فِي خَلْقِهِ (كَذَلِكَ يحيي اللهُ الْمَوْتَى) رَوَاهُمَا رزين[3]

نو په مخلوقات کې د خدای تعالی هم دغه نښاني ده. او الله تعالی مړي په دغه توګه راژوندي کړي.

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ١١/٣٦٧ تعليقا في الباب ٤٣ باب نفخ الصور

(2) اخرجه أحمد في المسند ٣/١٠ وأبوداود في السنن ٤/٢٩٣ رقم الحديث ٣٩٩٩

(3) رواه رزين وأخرجه أحمد في المسند ٤/١١.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْحَشْرِ
د حشر نشر بیان

قال الله تعالی: ﴿لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾(سورة الکهف۴۸:)

د حشر اصل معنی راغونډول او یو ځای کول دي. د قیامت ورځې ته یوم الحشر ځکه ویلی شوي، چې په دغه ورځ به ټول انسانان راژوندي کولو باندې یو میدان اړخ ته وشړلی شي. دغه میدان ته میدان محشر وایي. دلته د حشر نه مراد هم دغه معنی ده چې ټول خلک په ژوندې کولو سره به یو ځای کړی شي. اګرکه په دې باب کې دغه شان احادیث هم شته دی چې هغه د قیامت په علاماتو کې دي لکه حدیث نمبر: ۳ کې د یو اور بیان دی. دا د قیامت د علاماتو نه دی. بهرحال د شام په زمکه باندې به د حشر میدان جوړیږي.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

﴿۱﴾عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به خلک په داسې
«يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ
سور والې ته مائله سپینه زمکه باندې راغونډ کړی شي چې هغه به د غلبیل شوو وړو په شان وي. او په دې
لَيْسَ فِيهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
زمکه به د چا هیڅ نښان نوي. (بخاری مسلم)

توضیح: عفراء: یعنې سره سپین والې ته مائله زمکه.

کقرصة النقي: قرصه چپاتۍ، ډوډۍ ته وایي. او النقي غلبیل شوو وړو ته وایي. ګویا دا زمکه په ګردوالي کې د ډوډۍ په شان ده او په محشر کې د خلکو د خوراک لپاره هم دغه انتظام دی چې د زمکې ټوټې به راغوڅوي او خوري، د ترکارۍ (پخکړې) هیڅ پته نشته دی. (مرقات۹/۴۶۷)

علم لاحد: یعنې هواره زمکه به وي. په دې باندې د چا د عمارت او داسې نور هیڅ نښان او علامت نه وي. (مرقات۹/۴۶۷)

---

(۱)اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۷۲ رقم الحديث ۶۵۲۱ واخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۵۰ رقم الحديث (۲۷۹۰-۲۸)

د جنتیانو اولنۍ خوراک

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَكُونُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به ټوله زمکه د
خُبْزَةً وَاحِدَةً يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَتَكَفَّأُ أَحَدُكُمْ
یوې ډوډۍ په شان وي، چې هغه جبار ذات په خپلو لاسونو باندې داسې اړوي راړوي لکه په تاسو کې یو څوک
خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ نُزُلًا لِأَهْلِ الْجَنَّةِ».
د سفر په دوران کې په اړولو راړولو باندې ډوډۍ پخوي. او دا ډوډۍ به د جنتیانو میلمستیا وي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم
فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ. فَقَالَ: بَارَكَ الرَّحْمَنُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ
د دې وینا نه وروسته یو یهودي راغلی او وې ویل چې ای ابو القاسم (صلی الله علیه وسلم) الله مهربان دې په تا باندې برکت نازل
أَلَا أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟
کړي: آیا زه تاته ووایم چې د قیامت په ورځ به د میلمستیا په توګه د جنتیانو اولنی خوراک څه وي؟
قَالَ: «بَلَى». قَالَ: تَكُونُ الْأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً
نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو! ووایه. هغه یهودي وویل چې ټوله زمکه به یوه ډوډۍ شي لکه
كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا ثُمَّ ضَحِكَ حَتَّى
څنګه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلې ؤ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته وکتل او په خندا شو. تر دې چې
بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكَ
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم غاښونه مبارک ښکاره شول، د دې نه وروسته هغه یهودي وویل: آیا زه تاته ووایم چې د
بِإِدَامِهِمْ؟ بَالَامُ وَالنُّونُ. قَالُوا: وَمَا هَذَا؟ قَالَ: ثَوْرٌ وَنُونٌ
جنتیانو ترکارۍ به څه وي؟ هغه بالام او نون دی. صحابؤ وویل: دا بالام څه شی وي؟ وې ویل: چې غواې او نون او د
يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ). [1]
دې واړو یعنې غواې او ماهې د غوښې د غټوټي نه چې کم ځیګر زیاتې دي. اویا زره کسان به ورسره ډوډۍ خوري.

توضیح: یتکفأ: ډوډۍ پخولو په وخت کې ژر ژر د هغې اړولو راړولو ته یتکفأ وایي. **في السفر:** دا لفظ

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۷۲ رقم الحديث ۶۵۲۰ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۵۱ رقم الحديث (۲۷۹۲-۳۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدی د دې لپاره ډیر کړی شوي وي چې په سفر کې تُندې وي. نو ډوډی ژر ژر په لاس کې اړولی راړولی کیږي. **نزل:** میلمه لپاره چې کوم خوراک تیار کړی شي، هغې ته نزل وایي یعنې د جنتیانو میلمستیا. **قال:** یعنې یهود عالم وویل چې آیا د ترکاری ونه وایم. صحابؤ رضی الله عنهم وفرمایل: ووایه. نو هغه وویل: **بالام.** دا عبرانې لفظ دی. عربی کې د دې ترجمه ثور دی چې غوایي ته ویل کیږي. که دا لفظ عربې وای نو صحابه به پوهه شوی وی. نون ماهې ته وایي. **زائدة کبدها:** یعنې غوایي او ماهې د دواړو د ځیګر زیاتې برخې په ټوټو باندې به اویا زره جنتیانو میلمستیا وکړی شي. دا اویا زره به هغه وي چې هغه به د حساب او کتاب نه بغیر جنت کې داخل شوي وي. حیواناتو کې ماهې او مار دوه داسې ځناور دي چې د هغې په غټیدلو کې هیڅ حد بندې نشته دی. هغه د غټې نه هم غټیدلی شي. (مرقات۹/۴۶۹)

میدان محشر کې دراغونډیدلو منظر

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: حشر کې به خلک په درې قسمونو کې راغونډ

طَرَائِقَ: رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ

کړی شي. یو قسم خلک خو هغه دي چې هغه د جنت مینه کونکې دي. دویم قسم هغه دي چې هغه د دوزخ نه یریدونکې دي.

وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ وَثَلَاثَةٌ

او بیا دې دواړو قسمونو کې چې کوم خلک په سپرلۍ باندې وي، د هغوی صورت به دا وي چې په یو اوښ باندې به دوه سپاره وي.

عَلَى بَعِيرٍ وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ

درې سپاره وي. څلور سپاره وي، لس به هم په یو اوښ سپاره وي. او دریم قسم کې پاتې ټول خلک وي چې

وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ. تَقِيلُ مَعَهُمْ

هغوی به لړه اور راغونډوي او هغه اور به هر وخت د غه خلکو سره وي او هیڅ وخت به هم د دوی نه نه بیلیږي، تر دې چې کوم ځای د غه

حَيْثُ قَالُوا وَتَبِيتُ مَعَهُمْ

خلک قیلوله کوي، اور به هم هلته قیلوله کوي. چیرته چې هغه خلک شپه تیروي، اور به هم د هغوی سره شپه تیروي، چیرته چې هغه

حَيْثُ بَاتُوا وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ

خلک سبا کوي، هلته به اور هم د هغوی سره سبا کوي. او چیرته چې هغه خلک ماښام کوي، اور به هم

حَيثُ يمسوا". مُتَّفق عَلَيْهِ(۱)
د هغوي سره ماښام کوي.

توضیح: طرائق: دا د طريقة جمع ده . مراد ترینه درې قسمه دي. يعنې خلک به د ژوندې کيدلو نه وروسته چې کله په ميدان محشر کې راغونډ شي، نو هلته د راتګ به درې طريقې وي، او درې قسمه خلک به وي. يو قسم د جنت سره مينه کونکې به وي. دويم قسم به د دوزخ نه يريدونکې وي. **واثنان**: اى واثنان منهم يعنى ان راغبين او راهبين نه چې کوم خلک په سپرلۍ باندې وي. د هغوي کيفيت او صورت به په دې توګه وي چې دوه دوه ، درې درې ، څلور څلور تردې چې لس لس به په يو اوښ باندې سپاره وي. خپلې خپلې مرتبې به وي. **وتحشر بقيتهم**: يعنې پاتې ټول خلک چې هغه به په دريم قسم کې وي، هغوي لره به يو اور محشر ته راغونډ کړي. **تقيل**: دا د قيلوله نه دی. مطلب دا دی چې دا اور به دې خلکو ته هر قسم سهولت ورکوي، کله سفر کله قيلوله ، کله شپه تيرول او کله سبا کول، خو تر ميدان محشر به يې خامخا راولي. دا هغه اور دی چې هغه به د مرګ نه وروسته په دويم ځل ژوندې کيدلو باندې خلک ميدان محشر ته راولي. ميدان محشر اړخ ته راتګ ليپاره ګڼ حشرونه کيدلی شي، کله سپرلۍ، کله به پيدل وي. کله به په خپو باندې ځي. کله به پړ مخې ځي. (مرقات ۹/۴۷۱)

ميدان محشر کې به خلک لوڅ لغړ وي

﴿۴﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:
«إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا» ثُمَّ قَرَأَ:
تاسو به پيدې حالت کې پاڅولی شی چې تاسو به لوڅ بدن او ناسو ته ياست. د دې نه وروسته نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت تلاوت
(كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ
کړو ﴿كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ الخ﴾ يعنې څنګه چې مونږ دوې په ابتداء کې پيدا کړي ؤ، دغه شان به مونږ دوې لره
نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فاعلين)
بيا پيدا کړو. يعنې د قبرونو نه به يې راپاڅوؤ، دا وعده په مونږ باندې لازم ده. او يقينًا (کومه وعده

Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ

چې کړیده، د هغې پور) کونکې مونږیو. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ چې به د ټولو خلکو نه

إِبْرَاهِيمُ وَإِنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِي يُؤْخَذُ بِهِمْ

مخکې کوم سړي ته جامه اغوستلی کیږي به هغه به حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ وي، او زما څه صحابه به نیول شوي وي

ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ:

او چپ اړخ ته به (یعني دوزخ اړخ ته) به روان کړی شوي وي. نو زه به دا کتلو سره د حیرانتیا او استعجاب

أُصَيْحَابِي أُصَيْحَابِي فَيَقُولُ:

په توګه باندې هغوي ته د نجات ورکولو لپاره ووایم چې دا زما صحابه دي. دا زما صحابه دي. خدای تعالی به ووفرمایي

إِنَّهُمْ لَنْ يَزَالُوا مرتدين على أَعْقَابِهِم مذ فَارَقْتَهُمْ.

چې د کوم وخت نه چې ته د دوې نه جدا شوی یې. دوې د هغه وخت نه د دین سرغړونه کوله. نو زه به هم

فَأَقُول كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: (وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دمت فيهم)

هغه ووایم چې نیک بنده یعني حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ویلې وُ چې ﴿وَكُنْتُ شَهِيدًا مَادُمْتُ فِيهِمْ...

إِلَى قَوْله : (الْعَزِيز الْحَكِيم) . (مُتَّفق عَلَيْهِ). [1]

........العزيز الحكم﴾ یعني ترڅو چې زه د دوې په مینځ کې ژوندې وم، زه د دوې د حالتونو نه خبر وُم. الخ

توضیح: حفاة : په خپو باندې لوڅ، **عراة:** یعني غیر مختون، ناسونته به وي. **واول من یکسٰی:** نمرود اور ته د ګوزارولو په وخت کې د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه جامې ایستلي وي، نو دهغې په بدله کې د اعزاز په توګه د قیامت په ورځ هغه ته د ټولو نه مخکې جامې واغوستلی شي. علماؤ لیکلي دي چې او لد جامو اغوستلو دا اعزاز چې کوم ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورکړی کیږي ، دا اولیت حقیقي ندی بلکې اضافي اولیت دی. ځکه چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بل روایت کې فرمایلي دي چې د ټولو نه مخکې به ماته جامې واغوستلی شي، یاممکنه ده ، حقیقي اولیت وي.(مرقات۹/۴۷۳)

اصیحابی اصیحابی :دې خلکو خو به دنیا کې په نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ایمان راوړی وي، لهٰذا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دوې د علاماتو نه وپیژني، او وبه فرمایي چې دا خو زما غریب او عاجز

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۸۶ رقم الحديث ۳۳۴۹ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۴ رقم الحديث (۲۸۶۰-۵۸)

ملګري دي. دوې چپ اړخ ته چېرته دوزخ ته بوځي؟ **مرتدین:** فرښتي به جواب ورکړي چې تاته معلومه نده چې دا خلک ستا نه وروسته د دین اسلام نه مرتد شوي ؤ، دا فتنه ارتداد ته اشاره ده. چې هغه د نبی کریم ﷺ نه وروسته په عهد صدیقي رضي الله عنه کې پیښه شوه. ځینو علماؤ لیکلي دي چې اصیحابي نه مراد د نبی کریم ﷺ صحابه ندي بلکې په نبی کریم ﷺ باندې ایمان راوړونکي د نبی کریم ﷺ ملګري یعنې امتیان مراد دي. چې ایمان یې راوړو او بیا مرتد شول. ارتداد هم عام دی چې اسلام یې پرېخودلو یا دین کې یې نوې شیان داخل کړل لکه بدعتیان او اهل باطل. (مرقات ۹/۴۷۴)

محشر کې به نر ښځې ټول بربنډ وي

﴿۵﴾وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایې چې ما د رسول الله ﷺ نه دا اوریدلي دي چې د قیامت په ورځ به خلک
حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا» . قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيعًا
لوڅې خپې او لوڅ بدن راغونډ کړی شي. ما وویل چې یارسول الله! آیا د نر ښځو ټولو به دغه حال وي. او
يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ؟ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ الْأَمْرُ أَشَدُّ
هغوی به لوڅ یو بل ته ګوري؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: د هغه ورځې معامله به د دې نه ډیره ویرونکې وي
مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۱)
چې څوک چاته نظر پورته کولو سره وګوري.

توضیح: الامر اشد: یعنې معامله به د دې نه ډیره سخته وي، چې څوک چاته وکتلی شي، هلته به د نفسی نفسی عالم وي، هیچا ته به هم معلومه نوي چې دا نر دی که ښځه ده، لوڅ دی که په پرده کې دی.

دوزخیان به پړمخې محشر ته راځي

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟
او حضرت انس رضي الله عنه فرمایې چې یو سړي وویل: یا نبي الله! د قیامت په ورځ به کافر پړمخې څنګه محشر
قَالَ: «أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا
ته راځي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: حقیقت دا دی چې کوم ذات په دنیا کې هغوی په خپو باندې ګرځولي دي،

(۱)أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۷۷ رقم الحديث ۶۵۲۷ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۴ رقم الحديث (۲۸۵۹-۵۶).

Maktaba Tul Ishaat.com

قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

هغه ذات به د قیامت په ورځ باندې هغوی پر مخې راوستلو باندې هم قادر دی.

د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار حشر

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

" يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَى وَجْهِ آزَرَ قَتَرَةٌ

د قیامت په ورځ به د خپل پلار آزر سره په دې حال کې مخ کیږي چې د آزر مخ به (د غم او فکر په وجه) تور شوی وي. او ګردونو

وَغَبَرَةٌ فَيَقُولُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ: أَلَمْ أَقُلْ لَكَ:

به وهلی وي. حضرت ابراهیم علیه السلام (دې کتلو سره به په افسوس) ووایي چې آیا ما به تا ته نه ویله چې زما

لَا تَعْصِنِي؟ فَيَقُولُ لَهُ أَبُوهُ: فَالْيَوْمَ لَا أَعْصِيكَ.

نافرماني مکوه؟ د هغه پلار آزر به هغه ته ووایي: چې زه به نن ورځې ستا نافرماني نکوم. ابراهیم علیه السلام

فَيَقُولُ إِبراهيم: يَا رب إِنَّك وَعَدتَنِي أَلا تخزني يَوْمَ يُبْعَثُونَ

به ووایي چې زما ربه! تا زما سره وعده کړې وه چې په هغه ورځ باندې چې بیا خلک راپاڅولی شي، ته به ما

فَأَيُّ خِزْيٍ أَخْزَى مِنْ أَبِي

نه ذلیله کوې. نو د خپل پلار د ذلت او رسوایي نه لویه رسوایي او ذلت بل کوم کیدلی شي؟ چې هغه ستا د

الْأَبْعَدِ فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: إِنِّي

رحمت نه دو مره لیرې دی. الله تعالی به وفرمایي چې ابراهیم! نن ورځې ستا د پلار په حق کې ستا د مغفرت

حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ ثُمَّ

او نجات دعاء نشي قبلیدلی. ځکه چې هغه کافر دی. او ما جنت به کافرانو باندې حرام کړیدی. بیا به

يُقَالُ لِإِبْرَاهِيمَ: مَا تَحْتَ رِجْلَيْكَ؟

حضرت ابراهیم علیه السلام ته وویلی شي چې لاندې وګوره! ستا په خپو کې څه شی دی! حضرت ابراهیم علیه السلام

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۴۹۲ رقم الحديث ۴۷۶۰ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۶۱ رقم الحديث (۵۴-۲۸۰۶)

فَيَنْظُرُ	فَإِذَا	هُوَ	بِذِيخٍ	مُتَلَطِّخٍ
به خپلو خپو ارخ ته وګوري، نو وبه ګوري چې آزر کفتار یعنې کوترې په کې کې خاورې او خاشنو کې				
فَيُؤْخَذُ بقوائمه فَيُلْقى فِي النَّار". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]				
لت پت ککړ پروت وي. بيا د ده (ازر) خپې به ونيي او اور ته به يې ګوزار کړي شي.				

توضيح: الابعد: يعنې هغه پلار چې هغه ستا د رحمت نه لیرې کیدلو باندې هلاک شو.

ذيخ: یو ځناور ته ذیخ ویلی کیږي. چې دهغې نوم کفتار یا کوتره ده. **متلطخ**: یعنې په خپله ګندګۍ او خاورو کې به ککړ وي. (مرقات ۹/۴۷۷)

میدان محشر کې بهیدونکې خوله

﴿۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَعْرَقُ النَّاسُ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ به په خلکو خوله راځي
يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا وَيُلْجِمُهُمْ
او هغه خوله په دې توګه بهیږي چې په زمکه کې به اویا ګزه دننه لاړه شي، او د دې خلکو لپاره به واکي جوړ
حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[2]
شي تردې چې د دوې غوږونو ته به ورسیږي.

میدان محشر کې به لمر ډیر نژدې وي

﴿۹﴾ وَعَنِ الْمِقْدَادِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «تُدْنَى الشَّمْسُ
او حضرت مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې د قیامت په ورځ به لمر مخلوق
يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ فَيَكُونُ النَّاسُ
ته نژدې کړې شي. تردې چې هغه به د دوې نه د یو میل په فاصله باندې وي. نو ټول خلک به د خپلو اعمالو
عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى كَعْبَيْهِ
په اندازه باندې په خولو کې ډوب وي. نو په دوې کې به ځینې هغه خلک وي چې د هغوې ترګیټو پورې به

([1])أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۸۷ رقم الحديث ۳۳۵۰.

([2])أخرجه البخاري ۱۱/۳۹۲ رقم الحديث ۶۵۳۲ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۶ رقم الحديث (۲۸۶۳-۱ ؛).

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ

خوله وي. ځيني به هغه خلک وي چې د هغوې ترزنګونانو پورې به خوله وي. ځيني به هغه وي چې د هغوې

يَكُونُ إِلَى حَقْوَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُمُ الْعَرَقُ إِلْجَامًا»

ترملا (شاه) پورې به خوله وي. او ځيني به هغه وي چې د هغوې لپاره به د هغوې خوله واګي جوړ شي.

وَ أَشَارَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ إِلَى فِيهِ. رَوَاهُ مُسلم[1]

دې وینا سره نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس مبارک خپل سر مبارک اړخ ته اشاره وکړه.

توضیح: د میل نه اته فرلانګه باندې مشتمل مشهور میل مراد دی. رانجه لګولو د کې مراد نه دی، لکه څنګه چې بعضو ویلي دي. (مرقات ۹/۴۷۷)

په جنت کې به د امت محمدیه خلک د ټولو نه ډیروي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَقُولُ اللهُ تَعَالَى:

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی

يَا آدَمُ فَيَقُولُ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ

به آواز وکړي چې ای آدم! آدم عَلَیْهِ السَّلَام به جواب ورکړي چې زه حاضر یم. ستا تابعداری لپاره تیار یم. ټولې

وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ. قَالَ: أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ. قَالَ:

نیکګړې ستا په لاسونو کې دي. الله تعالی به وفرمایې: د اوروالا لښکر راوباسه. آدم عَلَیْهِ السَّلَام به ووایې:

وَمَا بَعْثُ النَّارِ؟ قَالَ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ

چې د دوزخیانو د لښکر شمیره څومره ده؟ الله تعالی به وفرمایې چې د هر زرو نه نهه سوه نهه نوي (۹۹۹)

فَعِنْدَهُ يَشِيبُ الصَّغِيرُ (وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا

(دوزخ لپاره او یو جنت لپاره) د خدای دا حکم اوریدلو سره به ماشوم بوډا شي. او هره حامله ښځه به خپل

وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى

حمل ضائع کړي. او هغه وخت به تاسو ووینې چې خلک ګویا په نشه کې مست دي. حالانکې هغوې به

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۹۶ رقم الحديث (۲۸۶۴-۶۲) والترمذي في السنن ۴/۵۳۱ رقم الحديث ۲۴۲۱.

وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ) قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَأَيُّنَا ذَلِكَ الْوَاحِدُ؟

مست نوي. بلکې د عذاب الهی به ډیر سخت وي. صحابؤ وویل: چې هغه بو به په مونږ کې څوک وي؟

قَالَ: «أَبْشِرُوا فَإِنَّ مِنْكُمْ رَجُلًا وَمِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ أَلْفٌ»

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اطمینان لرئ، غم مه کوئ، یو سړی به ستاسو نه وي او زر کسان به د یاجوج ماجوج نه

ثُمَّ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ أَرْجُو

وي. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په هغه ذات قسم د چا په لاس کې چې زما ساه ده، زما امید دی چې تاسو د

أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ»

جنتیانو د ټولې شمیرې څلورمه برخه به یاست. ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې دې او ریدلو سره مونږ

فَكَبَّرْنَا. فَقَالَ: «أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ» فَكَبَّرْنَا فَقَالَ: «أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا

د تکبیر نعره پورته کړه. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې زه امید لرم چې تاسو به د مجموعي جنتیانو د شمیرې

نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ» فَكَبَّرْنَا قَالَ: «مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ

نیمه برخه یاست، مونږ بیا د تکبیر نعره پورته کړه. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې په دې دنیا

إِلَّا كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَبْيَضَ

کې په خلکو کې ستاسو شمیره دومره کمه ده بلکه د سپین غوایي په بدن باندې یو تور داغ یا یو تور

أَوْ كشعرة بَيْضَاءَ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَسْوَدَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۱)

غوایي به بدن باندې یو سپین ویښته. (بخاری مسلم)

توضیح: بعث النار: یعنې د دوزخ برخه بیلولو باندې ولیږه. **فکبرنا**: معلومه شوه چې د خوشحالۍ په موقع باندې نعره تکبیر کول جائز دي. دې ته بدعت ویل خپله بدعت دی. **کالشعرة السودا**: د دې جملې مطلب دا دی چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه واخله تر نبی آخر زمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې چې څومره انسانان دي که د نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت سره وکړی شي نو دا به ډیر کم خلک پاتې شي. لکه د یو جزء برابر کیدلی. یا د غوایي په بدن کې عام رنګ نه غیره چې کوم تور یا سپین رنګ وي، دغه شان د داغ برخ برابر کیدلی شي. دا لږ حیثیت به ستاسو وي. خو د دې قلت سره هم چې کله په جنت کې ستاسو حیثیت وکتلی شي نو تاسو به د جنتیانو د نیمې برابر یاست. صحابې فرمایي چې مونږ د خوشحالۍ نه د تکبیر چیغه پورته کړه، د دېنه معلومه شوه چې د

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۸۲ رقم الحديث ۳۳۴۸ ومسلم في صحيحه ۱/۲۰۱ رقم الحديث (۲۲۲-۲۷۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

خوشحالي د ښکاره کولو لپاره نعره تکبیر او چتول منع نه دي. (مرقات ۹/۴۸۱)

د ریاکار عبادت قبول نه دی

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يَكْشِفُ رَبُّنَا
او حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي چې زمونږ رب به خپله
عَنْ سَاقِهِ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ وَيَبْقَى
پونډۍ برسيره کړي، نو ټول مؤمنان نارينه او ښځې به هغې ته سجده وکړي ليکن هغه سړی به سجده نکوي
مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ
چې هغه په دنيا کې د ځان ښودنې او اورونې لپاره سجده کوله. هغه به سجده کول غواړي، خو د هغه ملا به د
فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا » . (مُتفق عَلَيْهِ) .[1]
يو بي پيونده (نيغ) هډوکي به شان جوړه شي، چې د هغې د وجې نه به دا په سجده کولو باندې قادر نوي.
﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به يو غټ او
السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ».
څرب سړی راشي ليکن د الله تعالی په نزد به هغه د مچ د وزر هومره حيثيت او هيڅ قدر منزلت به نه لري.
وَ قَالَ : " اقرؤوا : (فَلَا نُقِيمُ لَهُم يومَ القيامةِ وَزْناً) . (مُتفق عَلَيْهِ).[2]
او تاسو دا آيت وايئ: ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ د قيامت په ورځ به مونږ دوی لره هيڅ قدر او منزلت نه ورکوو.

توضیح: د خالص کافر لپاره د اعمالو د وزن ضرورت نشته دی. هغه به نيغ جهنم ته ځي. لکه په قرآن کې دی: ﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ او لکه څنګه چې په حديث کې دي خو دلته پوښتنه دا ده چې قران کې ايت ﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ﴾ پاک وايي چې د اعمالو وزن به کيږي. دا تعارض دی. نو د دې جواب دا دی چې د قيامت احوال مختلف دي، په ځينو احوالو کې به وزن کيږي او په ځينو کې به نکيږي. د غه شان په حديث کې چې راغلي دي ، د هغې مطلب د حديث د سياق سباق نه دا معلوميږي چې د عمل خو به وزن کيږي خو په وزن کې به وزن نوي. بلکې عمل به بې وزنه وي، خلاصه دا چې هيڅ تعارض نشته دی.

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۶۶۳ رقم الحديث ۴۹۱۹ ومسلم في صحيحه ۱/۱۶۸ رقم الحديث ۱۸۳-۳۰۲)

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۶۶۳ رقم الحديث ۴۹۱۹ ومسلم في صحيحه ۱/۱۶۸ رقم الحديث ۱۸۳-۳۰۲)

(مرقات۹/۴۸۴)

الْفَصْلُ الثَّانِي

د قیامت په ورځ به زمکه خپله د هر سړي په عمل باندې گواه جوړه شي

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ: (يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا)

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت کړو (په کومه ورځ چې زمکه خپل خبرونه اوروي)

قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا؟" قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ

او وې فرمايل چې تاسو پوهېږئ چې د زمکې خبرونه به څه وي؟ صحابو عرض وکړو چې الله او د هغه رسول

أَعْلَمُ. قَالَ: " فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ

ښه پوهېږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د زمکې خبرونه به دا وي چې هغه به هر نارینه او ښځې د

عَلَى كُلِّ عَبْدٍ وَأَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا أَنْ تَقُولَ:

هغه عمل گواهي ورکوي چې د هغې په شا باندې شوي وي. (یعنې) هغه به په دې توگه وايي چې زما

عَمِلَ عَلَيَّ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا". قَالَ:

په ملا باندې فلانکي فلانکي ورځ باندې دا کړيدي او هغه کړيدي. بيا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

«فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ[1]

بس هم دا د زمکې خبري دي. (مسند احمد، ترمذی او ترمذی وائی دا حدیث حسن غریب دی)

﴿۱۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: داسې هيڅ سړی نشته چې هغه مړ شي

إِلَّا نَدِمَ» . قَالُوا: وَمَا نَدَامَتُهُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:

او پښیمانه نوي. صحابو عرض وکړو چې يا رسول الله! د پښیمانتيا سبب څه وي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

«إِنْ كَانَ مُحْسِنًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ ازْدَادَ وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا

که هغه نیک عمله وي نو څکه پښیمانه وي چې د دې نه يې ډيرې نيکۍ ولې ندي کړي. او که هغه بد کاره

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۵ رقم الحديث ۲۴۲۹ واحمد في المسند ۲/۳۷۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

نَدِمَ أَنْ لَا يكونَ لنزع ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[۱]

وي نو ځکه پښیمانه وي چې هغه خپل ځان د بدۍ نه ولې نه ایسارولو.

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُحْشَرُ النَّاسُ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: د قیامت په ورځ د حشر په میدان کې

يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ: صِنْفًا مُشَاةً

خلک به په دې قسمه باندې راوستلی شي، یو قسم خلک به خو به هغه وي چې پیدل به راروان وي. یو قسم

وَصِنْفًا رُكْبَانًا وَ صِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ " قِيلَ:

به هغه خلک وي چې په سپاره به راځي. او یو قسم به هغه خلک وي چې پرمخې به راځي. عرض وکړی شو چې

يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ يَمْشُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ؟ قَالَ: «إِنَّ الَّذِي أَمْشَاهُمْ عَلَى أَقْدَامِهِمْ

چې پرمخې به څنګه راروان وي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: حقیقت دا دی چې کوم ذات هغوی په خپو باندې

قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُمْ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَمَا إِنَّهُمْ

ګرځولي دي، هغه دوې له پرمخې ګرځولو باندې قادر دی. او پوهه شۍ چې دغه خلک به پرمخې مزل کې

يَتَّقُونَ بِوُجُوهِهِمْ كُلَّ حَدَبٍ وَشَوْكٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[۲]

مخونه او خلي د وچتوالي او غنو نه ساتي. (ترمذی)

توضیح: مشاة: دا به ګناهګار مسلمانان وي. **رکبانًا:** دا به انبیاء علیهم السلام وي. **علی وجههم:** دا نسکور پرمخې مزل کونکې به کافر وي. بهرحال میدان حشر ته راتلونکو به دغه درې طریقې وي. د دېنه مخکنې حدیث نمبر: ۳ کې هم تفصیل تیر شویدی. او راتلونکي حدیث نمبر: ۱۷ کې هم دغه مضمون دی. (مرقات ۹/۴۸۵)

﴿۱۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کوم سړی چې د قیامت ورځ داسې کتل

كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ: (إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ)

خوښوي لکه څنګه چې هغه په سترګو باندې ویني، نو هغه له پکار دي چې سورة إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۲۲ رقم الحديث ۲۴۰۳ والنسائي في السنن ۲/ ۴ رقم الحديث ۱۸۱۸.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۸۵ رقم الحديث ۳۱۴۲ واحمد في المسند ۲/۳۵۴.

و ﴿إِذَا السَّمَاءُ انفطرَتْ﴾ و ﴿إِذَا السَّمَاءُ انشقَّتْ﴾ رَوَاهُ أَحمد وَالتِّرمِذِيّ[1]

سورة إِذَا السَّمَاءُ انفطرَتْ او سورة إِذَا السَّمَاءُ انشقَّتْ ووايي. (ترمذی)

الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: إِنَّ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنِي: " أَنَّ النَّاسَ

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې صادق او مصدوق صلی الله علیه وسلم ماته بيان كړل چې چې خلك به په

يُحْشَرُونَ ثَلَاثَةَ أَفْوَاجٍ: فَوْجًا رَاكِبِينَ طَاعِمِينَ كَاسِينَ

درې ډلو کې میدان محشر ته راوستلی شي، یوه ډله خو به په سپرلو باندې وي، او د لارې د توخي او اساتیاوې به ورسره راځي

وفوجا تسحبنهم الْمَلَائِكَةُ عَلَى وُجُوهِهِمْ وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ

یوه ډله به هغه وي چې هغه به فرښتې پر مخې په راخکلو راولي. او په شړلو به یې دوزخ ارخ ته بوځي. یوه ډله

وَفَوْجًا يَمْشُونَ وَيَسْعَوْنَ وَيُلْقِي اللهُ الْآفَةَ عَلَى الظَّهْرِ

به هغه وي چې هغه به په منډه باندې راځي. او الله تعالی به (د سپرلی د ځناورو) په شاګانو باندې مصيبت

فَلَا يَبْقَى حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَتَكُونُ لَهُ الْحَدِيقَةُ يُعْطِيهَا

او هلاکت مسلط کړي. چې د هغې د وجې نه به ځناور ختم شي. تردې چې که یو سړي سره باغ وي نو هغه

بِذَاتِ الْقَتَبِ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهَا ". رَوَاهُ النَّسَائِيّ[2]

به باغ ورکولو باندې اوښ اخستل غواړي لیکن هغه به اوښ نشي ترلاسه کولی.

توضیح: **طاعمين كاسين**: يعنې په خوراك څكاك او ښايسته جامې اغوستي په سپرلو باندې به سپاره راځي. دا به انبياء كرام وي. **يسحبهم الملائكة**: دا به كافر وي. فرښتې به هغوي پر مخې په راخكلو باندې بوځي. **يمشون**: دا به عام مسلمانان وي. (مرقات ۹/۴۸۷)

على الظهر: ظهر د ملا (شاه) په معنی دی. سپرلی مراد ده. يعنې الله تعالى به په فرښتو باندې آفت نازل كړي. تردې چې يو سړي به ورباندې خپل باغ وركوي خو سپرلی به نه وركولی كيږي. (مرقات ۹/۴۸۷)

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۴۰۳ رقم الحديث ۳۳۳۳ وأحمد في المسند ۲/۱۰۰.

(2) أخرجه النسائي في السنن ۴/۱۱۶ رقم الحديث ۲۰۸۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱ جمادی الثاني ۱٤۱۸ھ باب الحساب والقصاص والمیزان

دحساب کتاب بیان

قال الله تعالی: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ۝ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ۝﴾ (سورة الانشقاق ۷-۱۲)

الحساب: په دې عنوان کې د حساب نه مراد د قیامت په ورځ باندې د بندیګانو اعمال شمیرل او د هغې حساب کول. دا خبره بیخې واضحه او ښکاره ده. چې د انسانانو د اعمالو او کردار پورا پورا علم د الله تعالی سره دی. لیکن په قیامت کې به د انسانانو د اعمالو حساب کتاب ځکه کیږي، دې لپاره چې ظاهرې او قانونې عدالت د لاندې ټولو خلکو باندې واضحه شي، چې په دنیا کې چا څه وکړل. او څوک د کومې درجې د ښوېې حقدار دی؟ په قیامت کې دا حساب کتاب کول د قرآن او حدیث نه ثابت دي. او د هر مسلمان د عقیدې برخه ده.

القصاص: قصاص، برابروالې او مساوات په معنی دی. د دېنه مراد دا دی چې چا په دنیا کې څه کړيدي یا د چا سره یې څه ناروا ښوېې کړیدی. په قیامت کې به د هغې بدله اخستلی کیږي. مثلاً قتل یې وکړو، یا یې څوک ټپي (زخمي) کړل، یا یې په چا باندې ظلم وکړو، یا یې چا ته څه تکلیف رسولی دی. نو د ده نه به بدله اخستلی کیږي. او حق به حقدار ته ورکولی کیږي. دا قصاص دی.

المیزان: میزان نه مراد دا دی چې میدان محشر کې به یوه غټه تله وي. چې د هغې به دوه پلې وي، د هغې په ذریعه به د انسانانو عملونه تللی کیږي. که هغه ښه عملونه وي او که بد. بیا به د هغې په مطابق باندې د ثواب او عذاب قانون ورته متوجې کیږي. په دې باب کې به د دې درې واړو عنواناتو متعلق احادیث وي.

الفصل الأول

آسان حساب او سخت حساب

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ باندې چې د چا نه حساب

إِلَّا هَلَكَ». قلتُ: أَوَ لَيْسَ يقولُ الله:

واخستلی شو، هغه به تباه شي. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې وویل: الله تعالی د حساب په اړه باندې

(فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا)

ندې فرمايلي چې (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) يعني د کوم سړي اعمال نامه چې په ښي لاس کې ورکړی

فَقَالَ: «إِنَّمَا ذَلِكَ الْعَرْضُ

شوه نو نژدې ده چې د هغه حساب آسان وي. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: دا آسان حساب فقط وړاندې

وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ فِي الْحِسَابِ يَهْلِكُ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]

کول او بیان محض دی. لیکن د چا سره چې په حساب کې مناقشه وشوه، هغه به یقینًا تباه وي.

توضیح: انما ذلك العرض: په دې حدیث کې دي چې د کوم سړي نه د قیامت په ورځ باندې حساب واخستلی شو، هغه هلاک شو، دې حدیث اوریدلو سره حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا و فرمایل: یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله تعالی خو په قرآن مجید کې فرمایي: (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) چې په قیامت کې به حساب آسان وي او ته فرمایې چې د چا نه حساب واخستلی شو، هغه هلاک شو. د دې په جواب کې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حساب کې فرق وښودلو چې یو حساب د عرض په درجه کې دی. او یو حساب د مناقشې په درجه کې دی.

عرض دا دی چې مثلًا: سړی د حساب دفتر ته حاضر شو او هغه د حساب کتاب نه بغیر رخصت کړی شو، فقط ظاهري توګه باندې ورته وښودلی شو. پوښتنه ترینه ونشوه. او مناقشه دا ده چې د یو شي په اړه باندې فرښتې پوښتنې شروع کړي چې دا کار دې ولې کړی دی؟ څنګه دې کړیدی؟ کله دې کړیدی؟ په دې مناقشه کې د هلاکت نه هیڅوک نشي بچ کیدلی. په راتلونکي حدیث: ۱۳ کې هم دا مضمون دی. (مرقات ۹/۴۸۹)

﴿۲﴾ وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْكُمْ أَحَدٍ

او حضرت عدی ابن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: د قیامت په ورځ به په تاسو کې هیڅوک

إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ

داسې نوي. د چا سره چې د هغه رب خبرې نوي کړي. هغه وخت به د هغه او د هغه د رب ترمینځ هیڅوک

وَلَا حِجَابٌ يَحْجُبُهُ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ

ترجمان نوي او نه به څه حجاب (پرده) وي. کله چې بنده خپل ښي اړخ ته نظر وکړي نو هغه ته به هغه څه

---

[1] اخرجه البخاری فی صحیحه ۱۱/۴۰۰ رقم الحدیث ۶۵۳۶ ومسلم فی صحیحه ۴/۲۲۰۴ رقم الحدیث (۲۸۷۶-۷۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا
په نظر راځي، او كله چې بنده خپل چپ اړخ ته نظر وكړي نو ده ته به هغه څه په نظر راځي چې ده مخكې
مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ
ليږلي وي. او كله چې هغه خپلې مخې ته وګوري نو هغه به خپلې مخې ته اور په نظر راځي. نو تاسو ځان
تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
د ينه وساتئ، اګر كه د كهجورې په يوې ټوټې سره ولې نوي.

توضيح: أيمن: جانب ايمن :ښي اړخ ته وايي. **اشأم:** جانب شمال ته اشأم وايي. چپ اړخ. (مرقات۹/۴۹۰)

﴿۲﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: " إِن الله يدني الْمُؤمن
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالى به مؤمن خپل ځان ته رانژدې
فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ
كړي او هغه به د خپل رحمت په سيورې كې پټ كړي. دې لپاره چې هغه د محشر خلكو ته د خپلو ګناهونو
فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟
او بد عملو په وجه باندې شرمنده او رسوا نشي، او بيا به الله تعالى هغه ته وايي چې آيا ته دا ګناه پيژني، ته دا ګناه
أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نعم يَا رب
پيژني. هغه مؤمن به وايې چې هو! اى ربه! ما ته خپله هغه ګناه ياده ده. او زه د خپلې بد عملۍ اقرار كوم لنډه
حَتَّى قَرَّرَهُ ذنُوبه وَرَأَى نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ.
دا چې الله تعالى ته به هغه د خپلو ټولو ګناهونو اقرار وكړي. او خپل زړه كې به وايي چې زه وس هلاك شوم
قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا
ليكن الله تعالى به وفرمايي چې ما په دنيا كې ستا د غه ګناهونو او عيبونو باندې پرده اچولې وه او نن هم ستا
وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ . وَأَمَّا الْكُفَّارُ
دغه ګناهونه معاف كوم. نو هغه ته به د ده د نيكيو اعمال نامه وركړى شي. او تر كوم ځايې بورې چې د كافرانو

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۰۰ رقم الحديث ۶۵۳۹ ومسلم في صحيحه ۴/۷۰۳ رقم الحديث (۲۸۷۶-۷۹)

وَالْمُنَافِقُونَ	فَيُنَادَى	بِهِمْ	عَلَى	رُؤُوسِ	الْخَلَائِقِ:

او منافقانو خلکو تعلق دی. نو هغه به د ټول مخلوق مخې ته راوغوختلې شي، او په چيغه به ورته وويلې شي

(هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظَّالِمِينَ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]

چې دا هغه خلک دي چې دوي په خپل رب باندې دروغ تړلي ؤ. پوه شئ! په ظالمانو باندې د خدای لعنت دی

د هر انسان په جنت او دوزخ کې د ناستې ځای وي

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ

او حضرت ابو موسی رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: كله چې د قيامت ورځ راشي نو هغه وخت

دَفَعَ	اللهُ	إِلَى	كُلِّ	مُسْلِمٍ	يَهُودِيًّا	أَوْ نَصْرَانِيًّا

به الله تعالى هر مسلمان ته يو يهودي او يو نصراني وسپاري او وبه فرمايي چې دا سړی د دوزخ نه ستا خلاصون

فَيَقُولُ: هَذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ "رَوَاهُ مُسْلِمٌ [2]

دی. يعنې د دوزخ نه ستا د خلاصون سبب دی.

توضيح: هذا فكاكك: فكاك: خلاصون ته وايي. اصولې توګه باندې په دې پوهيدل پكار دي چې د هر انسان لپاره په جنت او دوزخ کې يو يو د ناستې ځای د اول نه ټاکلی شوی دی. وس نو کوم سړی چې د ناستې کوم ځای وګټلو نو دويم د ناستې ځای به پاتې شي. کوم چې پاتې شو هغه به بل سړې ته ورکړی شي. مثلاً: يو سړی مسلمان دی. او نيک دی. هغه د جنت چوکۍ (ناستې ځای) وګټلو نو د هغه د دوزخ چوکۍ به بل چاته ورکړی شي. يامثلاً يو سړی کافر دی، هندو، عيسايي يهودي دی، هغه د دوزخ چوکۍ وګټله نو د هغه د جنت چوکۍ به بل کوم مسلمان ته ورکړی شي. د قرآن آيت ﴿تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا﴾ کې چې د کوم ميراث اخ ته مفسرينو اشاره کړېده، دهغې په مصداق کې د چوکو د بدلون دا ذکر هم دی. په زير بحث حديث کې د نبی کريم صلی الله علیه وسلم د فرمان دا مطلب شو چې هر مسلمان ته به يو يهودي يا عيسايي ورکړی شي. او مسلمان ته به وويلی شي چې د دوزخ د چوکۍ نه ستا د خلاصون ذريعه او سبب او بدله دا کافر دی. وس ته جنت ته د دې ييللی شوې چوکۍ ته لاړ شه. او دا به دوزخ ته ستا ييللی شوې چوکۍ ته لاړ شي، لهذا ته په خپل ځای باندې دا دوزخ ته وليږه. دا سړی د دوزخ د اور په وجه باندې ستا د خلاصون سبب دی. ملا علي قاري رحمه الله په

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۹۶ رقم الحديث ۲۴۴۱ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۲۰ رقم الحديث (۲۷۶۷-۵۲)

[2] أخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۱۹ رقم الحديث (۲۷۶۷-۴۹) وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۳۲ رقم الحديث ۴۲۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

مرقات کې ليکلي دي چې: ﴿قال القاضي رحمه الله لما كان لكل مكلف مقعد من الجنة ومقعد من النار فمن امن حق الايمان بدل مقعده من النار بمقعده من الجنة ومن لم يؤمن فبالعكس كانت الكفرة كالخلف للمؤمنين في مقاعدهم من النار والنائب منابهم وايضًا لما سبق القسم الالهي بملء جهنم كان ملئها من الكفار خلاصا للمؤمنين ونجاة لهم من النار فهم في ذلك كالفداء والفكاك﴾ (مرقات: ج۹\۲۹۲)

بهرحال د دې حديث هيچرې هم دا مطلب ندی چې د مسلمانانو په بدله کې يهود او نصارا به دوزخ ته واچولی شي، ځکه چې په قرآن کې واضح حکم دی چې ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ چې د چا بوج به په بل باندې نه اچولی کيږي. دا خو د روافضو عقيده ده چې دهغوی ګناهونه به د قيامت په ورځ په سنيانو باندې اچولی کيږي. او د يهودو دا عقيده ده چې هغوی به يو څو ورځو لپاره دوزخ ته ځي ، بيا به د هغوی په ځای باندې مسلمانان دوزخ کې واچولی شي. او دا خو د عيسايانو غلطه عقيده ده چې ټول ګناهونه د مخکې نه معاف شويدي . ځکه چې د هغوی کفاره حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ادا کړيده. او په سولی شويدی.

دلته دا خبره په ذهن کې ساتل پکار دي چې يهود او نصاری تذکره د نمونې اوشهرت په توګه باندې ده. ګنې دا معامله به د ټولو کافرو سره پيښيږي.

دا اعتدال لار خپلولو په وجه به امت محمديه په قوم نوح باندې ګواه جوړيږي

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُجَاءُ بِنُوحٍ						
او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د قيامت په ورځ به حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ						
يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	فَيُقَالُ	لَهُ:	هَلْ	بَلَّغْتَ؟	فَيَقُولُ: نَعَمْ
راوستلی شي، او د هغه نه به پوښتنه وشي چې آيا تا (خپل امت ته د خدای احکامات) رسولي ؤ. هغه به ووايي چې						
يَا	رَبِّ	فَتُسْأَلُ	أُمَّتُهُ:	هَلْ	بَلَّغَكُمْ؟	
بيشکه ای زما ربه (ما رسولي ؤ) بيا به د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ د امت نه پوښتنه وشي چې آيا تاسو ته نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ						
فَيَقُولُونَ:	مَا	جَاءَنَا	مِنْ	نَذِيرٍ.		
احکامات دررسولي ؤ. هغه خلک به انکار وکړي او وبه وايي چې مونږ ته خو هيڅوک يرونکی نه ؤ راغلی						
فَيُقَالُ:	مَنْ	شُهُودُكَ؟	فَيَقُولُ:			
او بيا به د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وشي چې ستا ګواه څوک دی؟ نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ به ووايي چې زما ګواه						

مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ ". فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دهغه د امت خلک دي. د دېنه وروسته نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
«فيجاء بكم فتشهدون على أنّه قد بلّغ»
نو هله به تاسو پيش کړی شی، او تاسو به ګواهي ورکړی چې حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ د خدای احکامات رسولي ؤ. بيا
ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا
نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت ولوستلو او دې وجې نمونږ (ای مسلمانانو) تاسو نیکان او عادل او افضل امت جوړ کړیدی.
لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ
دې لپاره چې تاسو په دې خلکو باندې (چې هغه ستاسو نه مخکې تیر شویدي او کفر او شرک باندې ولاړ ؤ) ګواهي ورکړی.
وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا) رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
او ستاسو ګواه به پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وي (بخاری)

توضیح: د دې حدیث خلاصه دا ده چې د قیامت په ورځ به د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم ووايې چې نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ ته دعوت ندی راکړی. الله تعالی به د حضرت نوح نه پوښتنه وکړي نو حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ به ووايې چې ما ورته اوږد دعوت ورکړیدی. الله تعالی به وفرمايې: ستا ګواه څوک دی. هغه به وفرمايې: د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت زما ګواه دی. کله چې دا ګواهي ورکړي نو قوم د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ به جرح وکړي چې دا خلک په زرګونو کلونه وروسته راغلي ؤ. دوی ته څه معلومه ده او دوې څنګه ګواهان جوړ شول. کله چې الله تعالی دوې نه پوښتنه وکړي نو امت مرحومه به جواب ورکړي چې مونږ قرآن لوستلی دی، کوم چې ریښتونې کتاب دی. په دې باندې به نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راشي او د خپل امت تزکیه به وکړي. چې دوې ریښتیا وویله. نو دا امت په ټوله دنیا باندې به ګواه وي. او محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په خپل امت باندې ګواه جوړیږي. بریلیان دې سوچ وکړي چې د ګواه جوړیدلو مطلب څه دی؟ آیا ګواه جوړیدونکی حاضر او ناظر په معنی دی؟ بیا خو ټول امت حاضر او ناظر شو، بلکې د خپل نبی نه هم ډیر حاضر او ناظر شو. (مرقات ۹/۴۹۲)

د قیامت په ورځ به د خپل بدن اندامونه ګواهي ورکوي

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ
او حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايې چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست ؤ چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ناڅاپه په خندا شو

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۷۱ رقم الحديث ۳۳۳۹

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مِمَّا أَضْحَكُ؟ ". قَالَ: قُلْنَا: اللهُ

او بیا یې وفرمایل: تاسو پوهیږئ چې زه ولې خاندم؟ حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې مونږ وویل: الله

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "مِنْ مُخَاطَبَةِ الْعَبْدِ رَبَّهُ

او دهغه رسول ښه پوهیږي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه د بنده او د خدای ترمینځ مخامخ (خبرې کیدلو خیال

يَقُولُ: يَا رَبِّ أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ؟ "

کولو باندې) خاندم. (په هغه ورځ به) بنده ووایي چې ای ربه! آیا تا ماته د ظلم نه پناه نه وه راکړې؟

قَالَ: " يَقُولُ: بَلَى ". قَالَ: " فَيَقُولُ: فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي

نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی به وفرمایي: چې هو! هله به بنده ووایي چې زه د خپل ځان په اړه د ښه غیره

إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي". قَالَ: فَيَقُولُ:

هیڅ نه غواړم چې زما په اړه باندې ګواهي ورکونکی زمانه وي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی به وفرمایي:

كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا ". قَالَ:"

چې نن ورځ به ستا په اړه خپله ستا ذات ګواهي ورکوي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیا به د بنده په خُله باندې

فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ: انْطِقِي".

مهر ووهلی شي. او د هغه نه وروسته به د هغه د بدن ټولو اندامونو ته حکم ورکړی شي، چې وایه. نو د ده د بدن

قَالَ: «فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ» .

اندامونه به د ده اعمال بیان کړي. چې هغه ده د دې اندامونو په ذریعه سره کړي ؤ. بیا به د دې بنده او د ده د

قَالَ: " فَيَقُولُ: بُعْدًا لَكُنَّ

خبرو کولو د مینځ نه (پرده) لیرې کړی شي، نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بنده به ووایي: چې لیرې شئ بدبختو او

وَسُحْقًا فعن كُنَّ كنتُ أُناضلُ". رَوَاهُ مُسلم [1]

هلاک شئ زه خو ستاسو د اړخ نه او ستاسو د نجات لپاره جنګیدلم.

توضیح: الم تجرني: یعنې آیا تا زه د ظلم نه په دې وینا سره محفوظ او مامون کړی نه ؤم چې ﴿ولا یظلم ربك احدًا﴾ که په ما باندې ظلم نه کوي نو نن زما په حساب کتاب کې د مکمل ګواهۍ

---

[1] أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۸۰ رقم الحديث (۲۹۶۹-۱۷)

ضرورت دی. دې لپاره چې به عدالت کې عدل وي. (مرقات ۹/۴۹۴)

بلی: یعني عدل او انصاف به وي، تا ته یقینًا مونږ پناه در کړیوه. خو دا ووایه چې ستا په حساب کتاب کې نقصان څه دی؟ هغه به ووایې چې ستا فرښتو زما په خلاف لیکل کړیدي. د هغوې تیار کړی شوې دوسیه (راپور) باندې زما اعتماد نشته دی. څوک داسې ګواه پکار دی چې هغه زما د بدن نه راپاڅي او ګواهې ورکړي.

یخلّی: یعنې کله چې اندامونه د ده په خلاف باندې ګواهې ورکړي نو بیا به دې بنده ته د دې اندامونو سره د خبرو کولو موقع ورکړی شي، او د دې سړې او د ده د کلام ترمینځ بندیز به ختم کړی شي. نو دا به شروع شي.

اناضل: یعنې دا سړی به خپلو اندامونو ته ووایې چې په تاسو دې هلاکت او لعنت وي، دا ټولې منډې ترړې خو ماستاسو د ساتنې لپاره کولې، او تاسو زما په خلاف ګواهې ورکړه، شرم وکړی، ورک شی. (مرقات ۹/۴۹۵)

داندامونو د ګواهۍ یوه بله واقعه

﴿۷﴾ وَعَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې صحابو عرض وکړو چې یا رسول الله! د قیامت په ورځ به مونږ د خپل

هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: «فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ

خدای دیدار کوؤ؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا د غرمې په وخت کې چې وریځ نوي، تاسو د لمر په لیدلو کې څه

فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ؟» قَالُوا: لَا قَالَ: «فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رؤيةِ القمر لَيْلَةَ الْبَدْرِ

شک کوی؟ هغوې وویل چې هیڅکله نه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو آیا د څوارلسمې سپوږمۍ چې کله وریځ

لَيْسَ فِي سَحَابَةٍ؟» قَالُوا: لَا قَالَ:

نوي نو تاسو د سپوږمۍ په لیدلو کې څه شک کوی؟ هغوې وویل: هیڅکله نه! نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُم

نو قسم دی په هغه ذات باندې چې د هغه د په دست قدرت کې زما ځان دی. څنګه چې تاسو د لمر او سپوږمۍ په

إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا». قَالَ:

لیدلو کې څه شک او شبه نه لری. د غه شان د خپل رب په لیدلو کې به هیڅ شک او شبه نه لری. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com

"فَيَلْقَى الْعَبْدَ فَيَقُولُ: أَيْ فُلْ:

کله چې بندیګان خپل رب وویني نو الله تعالی به یو بنده سره مخاطب شي چې ای بنده ! آیا ما تا ته

أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ

فضیلت او شرف نه ؤ درکړی؟ آیا ما تا ته ستا ښځه نوه درکړي؟ آیا ما ستا لپاره اسونه او اوښان نه ؤ تابع کړي؟

وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ؟

او آیا ما تا ته موقع نوه درکړي چې ته مې د خپل قوم مشر او سردار جوړ کړی وي؟ او څلورمه برخه مال

فَيَقُولُ بَلَى قَالَ:

غنیمت به دې ترلاسه کولو؟ هغه بنده به ووایې چې زما ربه! بیشکه داسې شوي وه. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

"أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ؟

د دېنه وروسته به پروردګار وفرمایې چې آیا ستا دا خیال هم راغلی ؤ چې ته به زما سره مخ کیږې؟ بنده به

فَيَقُولُ لَا فَيَقُولُ: فَإِنِّي قَدْ أَنْسَاكَ

ووایې چې نا ! نو پروردګار به وفرمایې چې زه به هم تا هیر کړم. لکه څنګه چې تا په دنیا کې زما اطاعت او

كَمَا نَسِيتَنِي ثُمَّ يَلْقَى

یادول هیر کړي ؤ. بیا به پروردګار د بل بنده سره ملاقات او خطاب وکړي. د دېنه وروسته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله

الثَّانِيَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ ثُمَّ

او د هغه بنده ترمینځ هم د غه شان پوښتنې او جوابونه ذکر کړل چې هغه د اول بنده په اړه باندې منقول شو.

يَلْقَى الثَّالِثَ فَيَقُولُ لَهُ مثل ذَلِك

بیا به پروردګار دریم بنده سره ملاقات او خطاب وکړي. او هغه ته به هغه څه وفرمایې چې اول بنده ته یې

فَيَقُول يارب آمَنْتُ بِكَ وَبِكِتَابِكَ وَبِرُسُلِكَ

فرمایلي ؤ. او هغه (دریم بنده) به دا جواب ورکړي چې زما ربه! ما په تا باندې، ستا په کتابونو او ستا په پیغمبرانو

وَصَلَّيْتُ وَصُمْتُ وَتَصَدَّقْتُ

باندې مې ایمان راوړی ؤ. ما لمونځونه کړي ؤ. روژې مې نیولي وي، او صدقه مې ورکړي، او د غه شان څو مره

ويثني بخير ما استطاع فيقول: هٰهُنَا

چې کیدلی شي هغه به د خپل نیکیو په اړه تعریف او توصیف بیان کړي. الله تعالی به وفرمايي: ته هم دلته

إذا. ثمّ يُقال الآن تبعث شاهدًا عَلَيْكَ وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ:

ایسار شه. موږ ستا په اړه باندې ګواه راپیدا کوو. بنده به خپل زړه کې سوچ کوي چې دې وخت کې به زما په

مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ ؟ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ وَ يُقَالُ لِفَخِذِهِ :

په خلاف څوک ګواهي ورکوي. خو څنګه چې د هغه په خُله باندې مهر وو هلی شي او د هغه پتون ته

انْطِقِي فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ

به وویلی شي چې وایه. نو د هغه ورون، د هغه غوښه او هډوکی، د هغه د اعمالو په اړه به بیان ورکړي.

وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ

او دا هر څه به ځکه کیږي، دې لپاره چې د بنده بد عملونه ثابت شي. او هغه هیڅ عذر ونکړی شي. او

وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ وَذَلِكَ يسخط الله عَلَيْهِ" رَوَاهُ مُسلم

دا دریم بنده به په حقیقت کې منافق وي. او دا هغه بنده دی چې د ده نه به الله تعالی غصه او

و ذُكر حَدِيث أبي : « يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي الْجَنَّةَ »

ناراضه وي. (مسلم) او حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کې « يدخل من امتي الجنة»

فِي «بَابِ التَّوَكُّلِ» بِرِوَايَةِ ابْن عَبَّاس[1]

: حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روایت سره د توکل په باب کې ذکر شویدی.

توضیح: وَهَلْ تضارون: دا مضارات د باب مفاعله صیغه ده. چې د ضرر په معنی دی. یعنې سپوږمۍ او لمر په کتلو کې تاسو ته د یو بل نه څه تکلیف در رسیږي؟ که تکلیف نه رسیږی نو بیا د الله تعالی په دیدار کولو کې به هم هیڅ تکلیف نه رسیږی. په یو روایت کې تضامون الفاظ دي. هغه ازحام او رش ته وایي. مراد هم د غه ضرر او تکلیف دی.

الا کما تضارون: یعنې ضرر به نوي. دا کلام اثبات براې نفي دی. لکه څنګه چې په دې شعر کې مدح په صورت د ذم کې ده: (مرقات ۹/۴۹۶)

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۲/۲۹۲ رقم الحديث ۸۰۶ ومسلم في صحيحه ۴/۲۲۷۹ رقم الحديث (۲۹۶۸-۱۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

ولا عیب فیهم غیر ان سیوفهم   بهن فلول من قراع الکتائب

ای فل: یعني ای فلانکی سړیه.

واذرك ترأس: یعني ما ته سردار جوړ کړي، تا سرداري کوله.

وتربع: او د خلکو نه به د محصول(ټیکس) په توګه څلورمه برخه اخستله دا د عرب سردارانو رواج ؤ.

ههنا: یعني تا چې دومره نیک اعمال وشمارل، اوس لږ او دریږه، دې لپاره چې تا ته د خپلې دعوی پته ولږي.

لیعذر: د باب افعال نه دی. همزه د سلب مأخذ لپاره ده. ای لیزیل الله عذره من قبل نفسه: یعني ټول ګناهونه د هغه اندامونو وشمارل. چې په هغې سره د ده عذر ختم شو. او هم دا الله تعالی غواړي څکه چې دا سړی منافق کامل ؤ. (مرقات۹/۴۹۸)

الْفَصْلُ الثَّانِي

د امت محمدیه به بی حسابه خلک بغیر د حساب کتاب نه جنت ته ځي

﴿۸﴾عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «وَعَدَنِي رَبِّي
حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوریدلي دي چې زما رب زما سره وعده کړیده
أَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعِينَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ مَعَ كُلِّ أَلْفٍ
چې هغه به زما د امت نه اویا زره کسان حساب او عذاب نه بغیر جنت ته داخل کړي. او د هر زرو سره به
سَبْعُونَ أَلْفًا وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِ رَبِّي» . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]
نور اویا زره کسان، او زما د پروردګار د لپو نه به درې ډکې لپې خلک جنت ته ځي.

توضیح: حثیات: حثیة: لپه ډکول، یعني الله تعالی به درې نورې لپې ډکې کړي. کله چې د یو شي وعده معلوموول ګران شی نو هغه د لپو سره بیانولی کیږي. دلته غټه مبالغه ده. څکه چې لپې به هم د الله تعالی وي، کما یلیق بشانه تعالی. (مرقات۹/۵۰۰)

---

(۱)اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۰ رقم الحدیث ۲۴۳۷وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۳۳ رقم الحدیث ۴۲۸۵.

د قیامت په ورځ به د الله تعالی مخې ته درې کتنې کیږي

﴿۹﴾ وَعَنِ الحسنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت حسن بصری د حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت کوي چې هغه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل
"يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَ عَرَضَاتٍ: فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذٰلِكَ
د قیامت په ورځ به خلک درې ځل پیش کړی شي. دوه ځل خو به بحث او جرح او عذرونه وړاندې کول وي. او
تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي فَآخِذٌ بِيَمِينِهِ وَآخِذٌ بِشِمَالِهِ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ لَا يَصِحُّ هٰذَا الْحَدِيثُ
کله چې په دریم ځل پیش کړی شي، نو دغه وخت به اعمال نامې په رالوتلو سره د خلکو لاسونو ته راځي. نو په
مِنْ قِبَلِ أَنَّ الْحَسَنَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي مُوسَى[1]
دوې کې به څه خلک په ښی لاس اعمال نامې اخلي او څه خلک به په خپل چپ لاس کې اعمال نامې اخلي

توضیح: جدال: یعنې درې ځل به مخامخ کیږي. په دوؤ کې به خپل مینځ کې جګړه وي. چې مونږ ته کوم نبی دعوت ندی راکړی. او داسې نور عذرونه به وي. چې مونږ ګناه نده کړې. که کړی هم ده نو د فلانکې فلانکې سرې د وجې نه کړیده. دریم ځل مخامخ کیدلو کې به د ټولو نتیجه تیاریدلو باندې په رالوتلو سره راشي او ژر ژر به هر یو ته ورکړی شي. کامیاب به کامیاب شي او ناکام به ناکام شي. (مرقات ۹/۵۰۱)

حدیث بطاقة او د الله د نوم برکت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ						
او حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به الله تعالی زما د						
سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ سِجِلًّا						
امت نه یو سړی د ټول مخلوق مخې ته راوغواړي. او دهغه مخې ته به نهه نوي (۹۹) رجستري بر سیرته کړي.						
كُلُّ	سِجِلٍّ	مِثْلُ	مَدِّ	الْبَصَرِ	ثُمَّ	يَقُولُ :
چې په هغې کې به هر یو رجستر د نظر تر حده پورې خپور ښکاري. بیا به هغه سړي ته وفرمایي: چې په دې						
أَتُنْكِرُ	مِنْ	هٰذَا	شَيْئًا ؟			
رجسترو کې چې څه لیکل شویدي، آیا ته په دې کې د څه نه انکار کوي. او آیا ته دا ګڼې چې زما لیکوالو						

(۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الحافظون؟ فَيَقُولُ: لَا يارب فَيَقُول: أَفَلَكَ عذر؟

ستا څه زیاتی کړیدی؟هغه سړی به ووايي چې زما ربه! نا! بیا به پروردګار و فرمايي چې آیا ته څه عذر لري؟

قَالَ لَا يارب فَيَقُولُ بَلَى. إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً

هغه بنده به ووايي چې نا! زما پروردګاره! هله به الله تعالی و فرمايي: چې زمونږ سره ستا یوه نیکي ده. او یقینًا

وَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ فَتُخْرَجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا

نن ورځې به په تا باندې ظلم نکیږي. بیا به یوه پرچه (چیټی\کاغذ) راوویستلی شي، چې به هغې کې به

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله لیکلی شوی وي. د دېنه وروسته به الله تعالی دغه سړي ته

فَيَقُولُ احْضُرْ وَزْنَكَ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ مَا هَذِهِ الْبِطَاقَةُ

وفرمايي چې ځا، خپلو اعمالو خواته لاړ شه، هغه بنده به ووايط چې زما ربه آیا دو مره ورکوټې کاغذ د دومره

مَعَ هَذِهِ السِّجِلَّاتِ؟ فَيَقُولُ: إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ

غټو غټو او ومره ډیرو رجسترو سره څه مناسبت دی؟ الله به وفرمايي چې یقینًا ستا سره به ظلم نشي کیدلی

قَالَ: فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كِفَّةٍ وَالْبِطَاقَةُ فِي كِفَّةٍ

نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: بیا د رجسترې په تولې په یو پله د تله کې واچوي او دا کاغذ به په بله پلې کې واچوي

فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ فَلَا يَثْقُلُ

نو هغه رجسترې به سپکې وخیژي، او هغه کاغذ به دروند شي. حاصل دا چې د الله تعالی د نوم نه ډیر وزندار

مَعَ اسْمِ اللهِ شَيْءٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْنُ مَاجَه[1]

به هیڅ شی نوي ځکه چې د الله نوم د هر څه ډیر درونددی.

توضیح: دا حدیث د حدیث بطاقة په نوم سره مشهور دی. بطاقه هغه کاغذ ته وايي چې په هغې کې به کلمه شهادت لیکلی شوي وي. کومه چې به دې سړې ویلي وي. د ده د ګناهونو به ۹۹ بنډلي وي. چې د هغې به مقابله کې د اعمالو د وزن په تله کې دا کلمه درنده وي. او لوستونکی به یې جنت ته لاړ شي.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۴/۴۱۲

سجلات: غټې غټې رجسترو او بنډلو ته سجلات ویلی شویدي. یعنې د د وزن کولو نه بغیر به ظلم وشي لهذا وزن به خامخا کیږي. ځکه چې دا ظلم ندی.

طاشت: سپیکدلو باندې به پاس والوزي.

ثقلت: په کوم کاغذ باندې چې کلمه شهادت لیکلی شوی وي. یا خو به فقط کاغذ درروند وي یا د دې سره به نور اعمال هم وي. خو بنیادي حیثیت به د دې کاغذ وي. اولنی مفهوم ډیر واضح دی. د دې نه دا معلومیږي چې د قیامت په ورځ به اعمال متجسد نوي بلکې د دې لیکلی شوې رجسترې به په تللی کیږي. (مرقات ۹/۵۰۴)

د قیامت درې سختې مرحلې

﴿۱﴾ وَعَنعائشةَ أَنَّهَا ذَكَرَتِ النَّارَ فَبَكَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې هغه د دوزخ یادولو د وجې نه وژړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل
«مَا يُبْكِيكِ؟». قَالَتْ: ذَكَرْتُ النَّارَ فَبَكَيْتُ فَهَلْ تَذْكُرُونَ
چې دا په تا څه وشو، ولې ژاړې؟ هغې وفرمایل: ماته د دوزخ د اور خیال راغلی ؤ، ځکه په ژړا شوم. نو آیا ته
أَهْلِيكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
به د قیامت په ورځ باندې خپل اهل او عیال هم یاد ساتې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې صورت حال دا دی چې
"أَمَّا فِي ثَلَاثَةِ مَوَاطِنَ فَلَا يَذْكُرُ أَحَدٌ أَحَدًا:
په هغه ورځ به درې مرحلې داسې وي چې هلته به د چا، چا ته هیڅ خیال نوي. یو مرحله خو به هغه وي کله
عِنْدَ الْمِيزَانِ حَتَّى يَعْلَمَ: أَيَخِفُّ مِيزَانُهُ أَمْ يَثْقُلُ؟
میزان (تله) مخامخ وي، تر دې چې دا معلومه نشي چې میزان درروند شو او که سپک. تر هغه وخته پورې به هر
وَعِنْدَ الْكِتَابِ حِينَ يُقَالُ (هَاؤُمُ اقْرَؤُوا كِتَابِيَه) حَتَّى يَعْلَمَ:
سړی په خپل فکر کې سرګردانه وي. دویمه مرحله هغه ده کله چې اعمال نامې سپارل کیږي، تر دې چې دا
أَيْنَ يَقَعُ كِتَابُهُ أَفِي يَمِينِهِ
ونه ویلی شي چې راشئ زما اعمال نامه ولولئ او تر څو چې دا معلومه نشي چې تر شاه اعمال نامه په ښي
أَمْ فِي شِمَالِهِ؟ أَمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ؟
لاس ورکړی شویده او که په چپ لاس کې ورکړی شویده. او دریمه مرحله به هغه وي چې خلک به د

Maktaba Tul Ishaat.com

وَعِنْدَ الصِّرَاطِ: إِذَاوُضِعَ بينَ ظَهْرِي جَهَنَّم ".رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[۱]
پل صراط سره نژدې وي او حال دا دی چې پل صراط به د جهنم په شاه باندې وي.

الفصل الثالث

لوي ور کوټي ، مالک او غلام ترمينځ به هم حساب وي

﴿۱۲﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنهَا فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس ته يو سړی راغلی او کيناستلو
فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يَكْذِبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي
وې ويل چې يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! زما سره غلامان دي، چې هغوی ماته دروغ وايي، زما په مال کې خيانت کوي
وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتِمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ
او زما نافرماني کوي. نو که زه هغوی ته رد بد وايم نو د دوی د وجې نه به په قيامت کې زما سره څه بنوي
فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ
کيږي؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: د قيامت ورځ به وي او د هر سړي د يو يو عمل او يو يو شي پوښتنه به کيږي.
يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ
نو دې غلامانو چې ستا په مال کې کوم خيانت کړيدی، ستا چې يې کومه نافرماني کړيده او تا ته يې دروغ
وَكَذَّبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ
ويلي دي. د دې ټولو به حساب کيږي. د غه شان تا چې دوی ته کومه سزا ورکړيده ، د هغې به هم حساب
فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا
کيږي. نو که ستا ورکړی شوي سزا د دوی د جرمونو په اندازه ثابته شوه نو ستاسو معامله به برابره شي. او که
لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذَنْبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ
تا کومه سزا ورکړي وي او هغه د دې جرمونو نه کمه ثابته شوه نو هغوی به ستا زياتې حق در کوي، او که ستا

(۱)أخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۵ رقم الحديث ۲۴۳۹ وابن ماجه ۲/۱۴۳۷ رقم الحديث ۴۳۰۰.

وَ إِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ

او که ستا سزا ورکول دوی ته د جرمونو نه زیات وو نو تا نه به د هغوی په زیات سزا بدله اخستلی کیږي

فَتَنَحَّى الرَّجُلُ وَجَعَلَ يَهْتِفُ وَيَبْكِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا تَقْرَأُ قَوْلَ اللهِ تَعَالَى:

هغه سړی څنګ ته کیناستو او په ژړا شو نبي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چې آیا ته د الله تعالی دا ارشاد نه دی

(وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ

لوستی چې ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ﴾ یعني الله تعالی فرمایي چې: او د قیامت په ورځ به مونږ د عدل او

فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ

انصاف ترازو ږدو. نو په هیڅ به ظلم نکیږي. او که (د چا) عمل د غنم د داني برابر وي. نو مونږ به هغه

أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ) فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللهِ

حاضر کړو. او مونږ حساب اخستونکي کافي یو. دغه سړي ووئیل چې یا رسول الله! زه خپل او د دې غلامانو

مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلُّهُمْ أَحْرَارٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ"

دپاره د دې نه غوره هیڅ خبره نه پیژنم. لهذا زه تا ګواه کوم چې هغه ټول غلامان آزاد دي.

د آسان حساب او سخت حساب مطلب

﴿۱۰﴾ وَ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ:

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په خینو لمونځونو کې دا دعا اوریدلې ده: چې

اَللّٰهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا " قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ

﴿اَللّٰهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا﴾ یا الله! زما د اعمالو آسان حساب وکړه! ما ووئیل چې ای د خدای نبي! د آسان

مَا الْحِسَابُ الْيَسِيرُ؟ قَالَ:

حساب څه مطلب دی. او د دې صورت به څه وي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د آسان حساب صورت به دا وي

"أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابِهِ فَيَتَجَاوَزَ عَنْهُ إِنَّهُ

چې بنده به خپلې اعمالنامې ته وګوري او بیا به الله تعالی د هغې نه درګذر وکړي. ای عائشه! حقیقت دا دی

---

(١) أخرجه أبو داود في سننه ١١٦ رقم الحديث ٥٥٧٦ وأحمد في مسنده ٦/٤٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةُ هلك ». رَوَاهُ أَحْمد [1]

چې په هغه ورځ د کوم سړي په حساب کې مناقشه یعنې جنجال وکړی شو نو (بس پوهه شه چې) هغه برباد شو

د قیامت ورځ به د مؤمن لپاره مختصر وي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شو او وې ویل

فَقَالَ: أَخْبِرْنِي مَنْ يَقْوَى عَلَى الْقِيَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِي قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ:

چې ماته خو ووایه! د قیامت په ورځ چې د هغې په اړه الله تعالی دا وفرمایي: ﴿يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾

(يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لربِّ الْعَالمين)؟

په کومه ورځ چې ټول خلک د دنیا به د پروردګار مخې ته ولاړ وي. څوک به د الله تعالی مخې ته د دریدلو

فَقَالَ: «يُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ

تاب لري؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت ورځ به د مؤمن لپاره آسانه کړی شي، تردې چې هغه ورځ به د ده

عَلَيْهِ كَالصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَة »[2]

لپاره د فرض لمونځ په اندازه باندې کړی شي.

توضیح: یخفف: د قیامت د ورځې اوږدیدل او لنډیدل او دا تخفیف به د خلکو د بیلابیلو احوالو د وجې نه وي. ځینو خلکو باندې به دا تخفیف د کم او کیف دواړو اعتبار سره به وي. یعنې واقعةً به وختونه مختصر شي. او دا سړی به هغه هم مختصر محسوس کوي. د ځینو لپاره به د دغه ورځې وختونه خو نه مختصر کیږي. ورځ به اوږده وي. خو هغه سړی به دا مختصر محسوسوي. څنګه چې سړی کله په راحت کې وي نو وختونه مختصر ښکاري، ګویا دا ورځ به په کیف کې مختصروي او په کم کې به مختصر نوي. او په ځینو باندې به په کم کې مختصره وي، په کیف کې به اوږده وي. یعنې د عذاب د وجې نه به هغه اوږده محسوسوي. ګنې د اصل په اعتبار سره به دا ورځ د پنځوس زره کلونو وي. لکه په قرآن کې دي ﴿فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ﴾ (معارج: ۴) د زر کالو ذکر هم دی، بهرحال بیلابیل احوال او بیلابیل اعمالو په وجه به په دې ورځ کې اختلاف وي.

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۰۰ رقم الحديث ۳۱۶۵ واحمد في المسند ۶/۲۸۰.

[2] اخرجه احمد في المسند ۶/۴۸.

﴿۱۵﴾وَعَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دهغه ورځې په اړه باندې پوښتنه وشوه چې
عَنْ (يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلف سنةٍ)مَا طُولُ هَذَا الْيَوْمِ؟ فَقَالَ: «وَالَّذِي
هغه د پنځوس زره کالو برابر به وي چې د دې اوږده په څه وي؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په هغه ذات قسم چې
نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ أَهْوَنَ
دهغه په لاس کې زما ساه ده، هغه ورځ به په کامل مسلمان باندې آسانه وي، تر دې چې هغه ورځ به د هغه
عَلَيْهِ مِنَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ يُصَلِّيهَا فِي الدُّنْيَا». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ «الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ»[۱]
فرض لمونځ نه هم آسانه او سپکه شي چې هغه به ده په دنیا کې کولو. (بیهقی روایت کړې دې)

داعمالو دوزن بحث

﴿۱۶﴾ وَعَن أَسماءبنت يزيد عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "
او اسماء بنت یزید رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
يُحْشَرُ النَّاسُ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ يَوْمَ الْقِيَامَة فينادي منادٍ فَيَقُول:
د قیامت په ورځ به خلک په یو فراخه هوار میدان کې راغونډ کړې شي. بیا به یو اعلان کونکی اعلان وکړي
أَيْنَ الَّذِينَ كَانَتْ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ؟ فَيَقُومُونَ وَهُمْ قَلِيلٌ
چې چیرته دي هغه خلک چې دهغوی اړخونه به د بسترو او د خوب د ځایونو نه جدا وُ؟ د محشر په خلکو کې به ډیر لږ
فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ ثُمَّ يُؤمر لسَائِرِ النَّاسِ إِلَى الْحِسَابِ«. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي» شُعَبِ الإِيمَانِ "[۲]
خلک پاڅیږي او د حساب کتاب نه بغیر به جنت ته لاړ شي. د پاتې خلکو نه به د حساب اخستلو حکم وشي

توضیح: الی الحساب: د دې باب په تیر شوؤ احادیثو کې د حساب کتاب او اعمالو د وزن چې کوم بیان شویدی. د هغې د مخې مناسبه معلومیږي چې د اعمالو وزن ته په آخره کې څه اشاره وشي. د دې باب د احادیثو د مخې هر مسلمان باندې خو یو دا عقیده ساتل لازم دي چې په قیامت کې حساب کتاب شته. دویم دا منل لازم دي چې د جهنم په شا باندې یو پل دی. چې په هغې باندې به د ټولو انسانان تیریدل وي. دا پل د

---

(۱) رواه البيهقي في البعث والنشور. راجع الملاحظة في الحديث رقم ۵۴۹۳.

(۲)رواه البيهقي في شعب الايمان.

Maktaba Tul Ishaat.com

توري نه تیره، او د ایخته نه ډیر نری دی د خو د مؤمن لپاره آسان دی.
دریمه دا عقیده ساتل لازم دي چې د محشر په میدان کې یوه تله ده، چې په هغې باندې به اعمال تللی کیږي.
معتزله او خوارج او مرجئۀ د دې تلې نه انکار کړیدی. هغوی وایې چې اعمال، اعراض دي، او اعراض قائم بالغیر وي، د دوی بیل وجود نشته، لهذا د اعمالو بیکاره خبره ده. باقې د اعمالو د وزنه هلته عدل او انصاف مراد دی. تله مراد نه ده.
علماؤ جواب ورکړیدی چې په قرآن او حدیث کې د تلې (میزان) ذکر دی. د دې نه انکار کول ګمراهې ده. باقې که اعمال اعراض دي نو الله تعالی دوی ته وجود ورکولی شي، هغه متجسد کولی شي. یا مراد دا دي چې اعمال کونکی به تللی کیږي، لکه په څینو احادیثو کې دي. یا د اعمالو رجستر به تللی کیږي. لکه په حدیث البطاقة کې دي. هسې دا د پخوانی زمانې جوابونه دي.
نن سبا د کمپیوټر په دور کې دا اعتراض نه راځي ځکه چې اوس خو اعراض تللی کیږي. نو د اعراضو د تللو هم یوه تلله ده. وګورئ! تهرمامیټر په ذریعه سره تبه تللی کیږي. نن سبا نظر تللی کیږي. ساعت (اوریدنه) تللی کیږي. په بدن کې دننه شوګر تللی کیږي. ګرمې او یخنې تللی کیږي. که یو انسان دومره مخکې تګ کولی شي نو د الله تعالی لپاره څه ګرانه ده چې هغه اعراض وتلي. خوارج او معتزله بیکاره شان خلک تیر شوې دي. او مرجئه خو د عمل خلک نه دي، د دوی د میزان او اعمالو د وزن سره څه کار دی.

بَاب الْحَوْض والشفاعة

د حوض کوثر او د شفاعت بیان

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝﴾ (الکوثر: ۳۱)

الحوض: الحوض نه دلته مراد حوض کوثر دی. د دې عجیبه صفت او عجیبه حقیقت د دې باب په احادیثو کې بیان کړی شویدي. په میدان محشر کې به د نورو انبیاؤ حوض کوثر هم وي. چې په هغې سره به هغه خپلو تابعدارو باندې اوبه څکوي. خو زمونږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ ته چې الله تعالی کوم حوض ورکوي. هغه به د ټولو نه لویې هم وي، او په هغې باندې به ازدحام (رش) هم ډیر وي. د کوم نبی تابعدار چې ډیر وي. هغوی ته به حوض هم غټ ورکولی کیږي. د هر نبی په حوض باندې فقط د هغه تابعدار حاضریدلی شي. دقیامت په ورځ چې کله خلک د قبرونو نه پاڅیږي. او محشر ته راشي، هغه وخت به ډیر تږي شوي وي. د نبی کریم ﷺ امتیان به د هغه حوض ته راځي، او نبی کریم ﷺ به هغوی ته د حوض کوثر اوبه په خپل لاس باندې څکوي. ښي اړخ ته به حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ولاړ وي او چپ اړخ ته به حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ولاړ وي. په منیځ کې به نبي کریم ﷺ ولاړ وي. او اوبه په خلکو څکوي. دا حوض کوثر به میدان محشر کې وي. دویم حوض کوثر به نبی کریم ﷺ ته په جنت کې ورکولی کیږي، چې دهغې اوبه د نهر په صورت کې د جنتی په کور کې بهیږي. کافر او د خرابو عقیدې خلک به حوض کوثر ته نه راځي.

الشفاعة: شفاعت د سفارش په معنی دی. دلته د شفاعت مفهوم او مطلب دا دی چې د الله تعالی سخې ته د چا د ګناهونو د معافی سفارش کول، د ټولو نه اوله خبره خو دا دی چې د الله تعالی ته د هیڅ کافر سفارش نشي کیدلی، او نه به دا سفارش قبلیږي، دویمه خبره دا ده چې د سفارش لپاره د الله تعالی د اړخ نه اجازت ضروري دی. د اجازت نه بغیر هیڅوک د چا سفارش نشي کولی. د قریشو کافرو به د بتانو لپاره چې کوم سفارش ثابتول غوختل، هغه شفاعت قهریه او شفاعت غالبه ؤ. چې په سختی سره د هغې الله تعالی نفي کړیده. لیکن په دې سره د جائز شفاعت نفي نکیږي.

د شفاعت قسمونه: د شفاعت غټ دوه قسمونه دي. یو شفاعت کبری دی. او دویم شفاعت صغری دی. د شفاعت کبری تعلق د ټولو انسانانو سره دی. نبی کریم ﷺ به الله تعالی فرمایې چې په میدان محشر کې خلک تنګ شویدي. ددوې حساب او کتاب دې شروع کړی شي. نبي کریم ﷺ به الله تعالی ته په مقام محمود کې سجده وکړي، او ناشنا محامد به بیان

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي. الله تعالی به اعلان وکړي چې د سجدې نه سر وچت کړه، وغواړه، در کولی کیږي به، شفاعت کوه، شفاعت به قبلولی شي. په دې باندې نبی کریم ﷺ به وفرمایې چې ای الله! حساب کتاب شروع کړه! الله تعالی به وفرمایې چې ته لاړشه، زه راروان یم. دغه شان د شفاعة کبری مرحله به پوره شي. د دې سره به بیا نبی کریم ﷺ د خپل امت په اړه باندې شفاعت صغری شروع کړي. د دې ډیر قسمونه دي. خو ټول به د شفاعت صغری په صورت کې وي. شفاعت صغری به نور انبیاء او فرښتي هم کوي. علماء او اولیاء او شهداء به یې کوي. د شفاعت اهمیت، او د دې قدر او قیمت هغه وخت معلومیږي کله چې سړی په یو ګران کار تیریږي. او سفارش راشي، د مشکل نه سړی ووځي: مثلًا بین المللي کوم هوایي میدان کې څوک ونخلي او بد ونخلي خو د هیواد باچا یا د وزیر یا والي راشي او په تکلیف کې اخته سړی د لاسه ونیسي او د ځان سره یې کور ته بوځي اووایي چې داد فلانکې سړی دی په دغه توګه کله چې په محشر کې به د نبي کریم ﷺ سفارش راشي، بیا به معلومه شي چې دا څومره لوي نعمت دی. **رزقنا الله شفاعة لنبينا الكريم.**

د حوض کوثر احوال

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذَا أَنَا
حضرت انس رضي الله عنه نه فرمایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه په جنت کې ګرځیدلم چې ناڅاپه زما تیریدل
بِنَهْرٍ حَافَتَاهُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ قُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟
په یو نهر باندې وشو، چې د هغې دواړو اړخ ته د ملغلرو ګنبدي وي، ما پوښتنه وکړه چې جبرائیل دا څه دي
قَالَ: الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ فَإِذَا طِينُهُ
هغه وویل چې دا حوض کوثر دی؟ چې دا تا ته ستا پروردګار درکړیدی، بیا چې ما وکتل نو د هغې خټې د
مِسْكٌ أَذْفَرُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[1]
مشکو په شان تیزه خوشبویې کوله.

توضیح: حافتاه: ای جانباه وطرفاه: د نهر دواړه اړخونه او غاړې مراد دي.

قباب: دا جمع ده. د دې مفرد قبة دی. چې ګنبد ته ویلی کیږي. **الدر:** ملغلرې ته وایي.

المجوف: جوف خیټې ته وایي. دلته هغه ملغلرې ته ویل شویده چې چې هغه د دننه نه خالي وي. د خیمې په شان ګرد عمارت وي. یعنې حوض کوثر د نهر په غاړه باندې د ملغلرو داسې ګنبدونه به جوړ شوي وي چې په

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۶۴ رقم الحديث ۶۵۸۱ وأحمد في المسند ۳/۱۶۴.

هغې کې دننه د وسیدلو ټول د راحت اسباب به شتون لري. مسك اذفر: یعنې داسې د مشک او عنبر به وي چې د هغې خوشبو به ډیره زیاته وي. دا د هغې حوض د ختمې صفت بیان شویدی. (مرقات ۹/۵۱۰)

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَوْضِي
او حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما حوض یعنې حوض کوثر دیوې
مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ
میاشتې د مزل په انداز باندې اوږد دی. او د هغې څلور واړه غاړې برابر دي. د دې اوبه د شیدو (پیو) نه
وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ
ډیرې سپینې او د دې بویې د مشک نه ډیر خوشبودار دی او د دې کلاسونه د آسمان د ستورو په شان دي. او
مَنْ يَشْرَبُ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
کوم سړی چې د دې اوبه وڅکي هغه ته به بیا تنده نه لګي .
﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ حَوْضِي
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما د حوض د دواړ سرونو ترمینځ
أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ
فاصله ایله او د عدن د مینځنی فاصلې نه هم ډیره ده. او بیشکه د دې حوض اوبه د واورې نه ډیرې سپینې
وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ بِاللَّبَنِ وَلَآنِيَتُهُ
او شهدو نه ډیر خوږې دي. چې د هغې سره شیدې (پی) یوځای کړی شوي وي او د دې کلاسونه به آسمان
أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ النُّجُومِ وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ
د ستورو نه هم ډیروي، او یقیناً زه به د نورو امتونو خلک د دې حوض نه داسې منع کوم او زغلوم به لکه یو
كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ» . قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ
سړی د نورو خلکو اوښان د خپل حوض نه ایساروي. صحابۇ عرض وکړو چې یارسول الله! آیا ته به مونږ
أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: «نَعَمْ لَكُمْ سِيمَاءُ
پیژنې؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو! زه به تاسو وپیژنم. په اصل کې ستاسو به یو نښه وي، چې د هغې نه به د نورو

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۶۳ رقم الحديث ۶۵۷۹ ومسلم في صحيحه ۴/۱۷۹۳ رقم الحديث (۲۲۹۲-۲۷).

Maktaba Tul Ishaat.com

لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ تردون عليّ

امتونو خلک محروم وي. او هغه نښه به دا وي چې کله تاسو زما اړخ ته راځئ، نو هغه وخت ستاسو تندي او

غرّاً من أثر الوضوء » . رَوَاهُ مُسلم [۱] وَ فِي رِوَايَةٍ

لاسونه او خپې به د اودس د نورانیت په وجه باندې روښانه او پړقیدونکې وي. (مسلم) او د مسلم یو

لَهُ عَنْ أَنَسٍ قَالَ:

بل روایت کې چې د حضرت انس رضي الله عنه نقل شویدی، داسې دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په دې حوض

« تَرَى فِيهِ أَبَارِيقَ الذَّهَبِ وَ الْفِضَّةِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ» [۲]

کې به د سپینو او سرو زرو ګلاسونه وي، چې هغه به د تعداد په اعتبار سره د اسمان د ستورو په شان ښکاریږي

وَفِي أُخْرَى لَهُ عَنْ ثَوْبَانَ

او د مسلم په یو بل روایت کې چې د حضرت ثوبان رضي الله عنه روایت دی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د دې

قَالَ: سُئِلَ عَنْ شَرَابِهِ. فَقَالَ: " أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ

حوض په اړه باندې پوښتنه وشوه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د دې او به د پیو نه ډیرې سپینې او د شهدو نه

يَغُتُّ فِيهِ مِيزَابَانِ يَمُدَّانِهِ مِنَ الْجَنَّةِ:

ډیرې خوږې دي. دا حوض ډک ساتلو لپاره دېته تیز بهیدونکې پرنالې رابهیږي. چې هغه د جنت نه راځي

أَحَدُهُمَا مِنْ ذَهَبٍ وَالْآخَرُ مِنْ ورق " [۳]

په دې کې یوه پرناله د سرو زرو ده او دویمه د سپینو زرو ده.

توضیح: ايلة: د شام په هیواد کې د یو ښار نوم دی. چې هغه د سیند په غاړه پروت دی. او نن سبا د اسرائیلو په قبضه کې دی. چې دهغې نوی وران شوی نوم ایلات دی. بحر احمر یعنې بحیره قلزم په شمالي سر باندې پروت دی.

الی عدن: عدن د بحر احمر جنوبې سر ته بروت دی. دا یو مشهور د جزیرې په شان د ښار نوم دی، چې هغه یو وخت کې د یمن بندرګاه وه.

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۲۱۷ رقم الحديث (۲۴۷-۳۶) والترمذي في السنن ۴/۵۴۴ رقم الحديث ۳۴۴۵.

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۶۳ رقم الحديث ۶۵۸۰ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۰۱ رقم الحديث (۲۳۰۳-۴۳)

(۳) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۹۹ رقم الحديث (۲۳۰۱-۳۷) وابن ماجه في السنن ۱۴۳۸ رقم الحديث ۴۳۰۳

اصد : ايساروٗلو په معنى دى. النّاس: نه مراد د نورو امتونو خلک دي. (مرقات ۹/۵۱۰)

غرًّا: روښانه. محجلين: د څاروُ په خپو باندې چې كوم سپين نښانونه وي، ، هغې ته تحجيل وايي. دلته د اودس داندامونو روښانتيا او پرق مراد دى.

يغت: فرّيفرّ او مدّيمدّ دواړو وزنو باندې لوستلى كيږي. يعنې ښه تيزى سره به دې حوض ته دوه پرنالې د جنت نه راځي. او دا به مسلسل وي.

من ذهب: د سپينو زرو او سروزرو سره د اوبو ښايسته ته اشاره ده. يا كيدلى شي چې د پرنالو رنګ بيان كړى شوى وي، د شهدو پرناله د سرو زرو او پيو پرناله به سپينو زرو وي. (مرقات ۹/۵۱۲)

خرابې عقيدې مرتدان به دحوض كوثر نه ليرې ساتلى كيږي

﴿۳﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ
او حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زه به په حوض كوثر باندې ستاسو
مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ وَمَنْ
پيش رويم. كوم سړى چې زما په خوا تيريږي هغه به د دې حوض كوثر اوبه څكي. او كوم سړى چې د دې اوبه
شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ
وڅكي هغه به كله هم تږى نشي. هلته به زما خوا ته څه خلک راشي چې هغه به زه وپيژنم. او هغوې به ما
وَيَعْرِفُونَنِي ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَأَقُولُ: إِنَّهُمْ مِنِّي.
وپيژني ليكن زما او د هغوې په مينځ كې به يو څه حائل كړى شي، زه به ووايم چې دا خلک خو زما خپل دي؟
فَيُقَالُ: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا
د دې په جواب كې به ماته وويلى شي چې تا ته معلومه نده چې دوې ستا نه وروسته څه نوې نوې خبرې
أَحْدَثُوا بَعْدَكَ؟ فَأَقُولُ: سُحْقًا سحقاً
پيدا كړي دي. زه به ووايم چې دا خلک دې ليرې وي، زما نه دې ليرې وي. دخداى د رحمت نه. چا چې زما
لمن غير بعدِي". مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
د وفات نه وروسته دين او سنت كې بدلون كړيدى.

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۶۴ رقم الحديث ۶۵۸۳ ومسلم في صحيحه ۴/۱۷۹۳ رقم الحديث (۲۹۰-۲۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح:فرط : پیش رو ته وایي. یعنې هغه سړی چې هغه د فوځ (عسکرو) نه مخکې تګ باندې منزل صحیح کوي. **لم یظمأ أبدا**:یو اعتراض زړه ته راځي چې کله د حوض کوثر په اوبو باندې د همیشه لپاره تَنده ختمه شي نو بیا په جنت کې د اوبو نهر یا د شهدو یا د شیدو (پی) یا د شرابو د نهر ته څه اړتیا ده؟ د دې جواب دا دی چې د حوض کوثر په اوبو سره به تَنده ختمه شي. وروسته چې کومې اوبه وي هغه کیدلی شي فقط د خوند د حصول لپاره به وي. د خوند په توګه به یې جنتیان څکي.

ما احدثوا : یو احتمال دا دی چې دا به هغه خلک وي چې د نبی کریم ﷺ په زمانه کې یې اسلام راوړی ؤ. بیا د نبی کریم ﷺ د وفات نه وروسته مرتد شول، دا به د حوض کوثر نه ایسار کړی شي. دویم احتمال دا دی چې د دېنه مراد هغه بدعتیان دي چې هغه بدعت مکفره کې اخته شوي ؤ. (مرقات ۹/۵۱۳)

سحقًا: تاکید لپاره یې مکرر راوړیدی. یعنې هلاکت دې وي، د ده لپاره دې هلاکت وي. (مرقات ۹/۵۱۳)

د شفاعت کبری تفصیلي بیان

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُحْبَسُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت انس رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به مؤمنان د حشر په
حَتَّى يُهَمُّوا بِذَلِكَ
میدان کې ایسار کړی شي. تردې چې ټول خلک په دې د وجې نه په فکر او تردد کې پریوځي. بیا به هغوی
فَيَقُولُونَ: لَوِ اسْتَشْفَعْنَا إِلَى رَبِّنَا
خپل مینځ کې تذکره کوي چې کاش! مونږ ته یو داسې څوک په لاس راشي چې هغه زمونږ پروردګار ته

فَيُرِيحُنَا مِنْ مَكَانِنَا فَيَأْتُونَ آدَمَ
زمونږ سفارش کړی وی. او مونږ یې د دې سختې او پریشانی نه خلاص کړی وی. نو هغوی د حضرت آدم علیه السلام
فَيَقُولُونَ: أَنْتَ آدَمُ أَبُو النَّاسِ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ
خواته راشي او هغه ته و وایي چې ای ادم! ته د ټولو خلکو پلار یې. ته الله تعالی په خپلو لاسونو سره پیدا کړی
وَأَسْكَنَكَ جَنَّتَهُ وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَعَلَّمَكَ أَسْمَاءَ كُلِّ شَيْءٍ
یې. ته یې په جنت کې وسولی یې. خپلو فرښتو باندې یې تاته سجده وکړه او تاته یې د هر شي نوم وښودلو.

اشْفَعْ	لَنَا	عِنْدَ	رَبِّكَ	حَتّٰى	يُرِيحَنَا

براد کړه: ته خپل پروردګار ته زمونږ سفارش وکړه چې هغه مونږ د دې ځاي نه ايستلو باندې راحت او اطمينان

مِنْ	مَكَانِنَا	هٰذَا.	فَيَقُولُ:	لَسْتُ	هُنَاكُمْ.	وَيَذْكُرُ	خَطِيئَتَهُ

راکړي. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به وو ايي: زه د دې مرتبې حقدار نه يم. بيا به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د خپل لغزش

الَّتِي	أَصَابَ:	أَكْلَهُ	مِنَ	الشَّجَرَةِ	وَقَدْ	نُهِيَ	عَنْهَا

ذکر وکړي. چې هغه يې د وني د خوړلو په صورت کې کړېوه. په داسې حال کې چې دا هغې ته د نژدې ورتګ

وَلٰكِنِ	ائْتُوا	نُوحًا	أَوَّلَ	نَبِيٍّ	بَعَثَهُ	اللّٰه	إِلٰى	أَهْلِ	الْأَرْضِ	فَيَأْتُونَ	نُوحًا

نه هم منع کړې شوې وُ. هغه خلک به د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام خوا ته راشي. حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام به جواب

فَيَقُولُ:	لَسْتُ	هُنَاكُمْ	وَيَذْكُرُ	خَطِيئَتَهُ	الَّتِي	أَصَابَ:

ورکړي چې زه د دې مرتبې حقدار نه يم. او هغه به د خپل لغزش ذکر کړي. چې هغه د بې نا خبرتيا کې د

سُؤَالَهُ	رَبَّهُ	بِغَيْرِ	عِلْمٍ	وَلٰكِنِ	ائْتُوا	إِبْرَاهِيمَ

الله تعالى نه خپل ځوې د غرقيدلو نه د بچ کولو لپاره سوال کولو په صورت کې کړې وُ. تاسو لړه د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام

خَلِيلَ	الرَّحْمٰنِ.	قَالَ:

خوا ته چې هغه د الله خليل دى، تګ پکار دى. نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هغه خلک به ابراهيم خليل الله ته

فَيَأْتُونَ	إِبْرَاهِيمَ	فَيَقُولُ:	إِنِّي	لَسْتُ	هُنَاكُمْ

راشي. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به جواب ورکړي چې زه د دې مرتبې حقدار نه يم، او هغه به په دنيا کې د خپل

وَيَذْكُرُ	ثَلَاثَ	كِذْبَاتٍ	كَذَبَهُنَّ	وَلٰكِنِ	ائْتُوا	مُوسٰى	عَبْدًا

درې ځل دروغو ويلو ذکر وکړي، تاسو حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ شئ، چې هغه د خداى داسې بنده دى

آتَاهُ	اللّٰه	التَّوْرَاةَ	وَكَلَّمَهُ

چې هغه ته خداى تورات ورکړې وُ او د بني اسرائيلو ټول انبياء يې د هغه تابع کړي وُ او چا ته چې د خداى

وَقَرَّبَهُ	نَجِيًّا.	قَالَ:

نيغ په نيغه د ځان سره د خبرو کولو عزت ورکړيدى، او خپل کمال قرب يې ورکولو باندې يې خپل رازدار جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَأْتُونَ	مُوسٰى	فَيَقُولُ:

کړو. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: دغه خلک به حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راشي. موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به جواب ورکړي

إِنِّي	لَسْتُ	هُنَاكُمْ	وَيَذْكُرُ	خَطِيئَتَهُ	الَّتِي	أَصَابَ	قَتْلَهُ

چې زه ددې مرتبې حقدار نه یم. او هغه به د خپل لغزش ذکر وکړي. چې هغه دیو قبطي د وژلو په صورت

النَّفْسَ	وَلَكِنِ	ائْتُوا	عِيسٰى

کې شوي وه. بیا به هغه مشوره ورکړي چې تاسو لپاره حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته تګ پکار دی. چې هغه د

عَبْدَ	اللهِ	وَ	رَسُولَهُ	وَ	رُوحَ	اللهِ	وَ	كَلِمَتَهُ " قَالَ :

خدای بنده او رسول دی. هغه تپول روحاني دی. او هغه د الله کلمه ده. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: دغه خلک به

" فَيَأْتُونَ	عِيسٰى	فَيَقُولُ	:	لَسْتُ	هُنَاكُمْ

حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راشي حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به جواب ورکړي چې زه د دې مرتبې حقدار نه یم. البته

وَلَكِنِ ائْتُوا مُحَمَّدًا عبدا غفر الله لَهُ ماتقدم مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ ".

تاسو حضرت محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لاړ شئ. چې هغه د خدای داسې بنده ده چې د هغه مخکنې وروستنې ټول ګناهونه

قَالَ: "	فَيَأْتُونِي	فَأَسْتَأْذِنُ

الله تعالی معاف کړیدي. نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: هله به خلک زما خواته راشي. او زه به د رب العزت دربار ته.

عَلٰى	رَبِّي	فِي	دَارِهِ	فَيُؤْذَنُ	لِي	عَلَيْهِ

په ورتګ سره د هغه په دربار کې د پیش کیدلو اجازت وغواړم. الله تعالی به ماته خپله بارګاه کې د پیش

فَإِذَا	رَأَيْتُهُ	وَقَعْتُ

کیدلو اجازت راکړي. زه چې کله د هغه دربار ته په رسیدلو سره هغه ته وګورم نو هغه د هیبت او یرې د وجې

سَاجِدًا	فَيَدَعُنِي	مَا	شَاءَ	اللهُ

او دهغې د تعظیم کولو لپاره به زه په سجده پریوزم. او الله تعالی چې څو مره زمانه وغواړي. هغومره وخت لپاره

أَنْ	يَدَعَنِي	فَيَقُولُ	:	ارْفَعْ	مُحَمَّدُ	وَ قُلْ

به ما په سجده کې پریږدي. بیا به الله تعالی و فرمایي: چې محمد! سر وچت کړه، څه چې ویل غواړي، وو ایه

تُسْمَعْ	وَاشْفَعْ	. تُشَفَّعْ	وَسَلْ	تُعْطَهْ".	

ستا خبره به اوریدلی کیږي. ته شفاعت وکړه، ستا سفارش به قبلیدلی شي. او څه چې غواړې وغواړه، زه به یې

قَالَ: " فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلىٰ رَبِّي بِثَنَاءٍ تَحْمِيدٍ

تاته درکوم. نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زه به خپل سر را اوچت کړم. او د هغه حمد او ستاینې سره چې هغه به ماته

يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي

پروردګار وښایې. د هغه حمد او ثناء به بیان کړم. بیا به زه شفاعت کوم، او زما د شفاعت به یو حد مقرر کړی

حَدًّا فَأُخْرِجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ

شي، د دینه وروسته به زه بیرون را ووځم. او دا جماعت به د دوزخ نه را اویستلو باندې جنت ته بوځم. بیا به زه

أَعُودُ الثَّانِيَةَ فَأَسْتَأْذِنُ

په دویم ځل باندې د رب العزت په دربار کې د پیش کیدلو اجازت وغواړم، ماته به د هغه په دربار کې د

عَلىٰ رَبِّي فِي دَارِهِ. فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ

پیش کیدلو اجازت را کړی شي، او کله چې زه د هغې دربار ته په رسیدلو سره هغه ته وګورم نو په سجده به

وَقَعْتُ سَاجِدًا. فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يَقُولُ: ارْفَعْ مُحَمَّدُ

پریوزم. او الله تعالی چې تر کومه وغواړي، ما به په سجده کې پریږدي. بیا به فرمایې چې: محمد! خپل سر

وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ

وچت کړه، څه چې ویل غواړې وو ایه. ستا خبره به اوریدلی کیږي. شفاعت کوه، زه به ستا شفاعت قبلوم،

وَسَلْ تُعْطَهْ. قَالَ: " فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلىٰ رَبِّي

او غواړه زه به درکوم. نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زه به سر را اوچت کړم. او د هغه حمد او ستاینې سره چې هغه به

بِثَنَاءٍ وَ تَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا

ماته پروردګار وښایې، د هغه حمد او ثناء به بیان کړم. بیا به زه شفاعت کوم، او زما لپاره به د شفاعت یو حد

فَأُخْرِجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَ أُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ

مقرر کړی شي، د دینه وروسته به زه بیرون را وځم. او دا جماعت به د دوزخ نه را اویستلو باندې جنت ته ننباسم

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ أَعُودُ الثَّالِثَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ

او بیا به زه په دریم ځل باندې د رب العزت دربار کې د حاضریدلو باندې د هغې په خدمت کې د پیش کیدلو

فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا

اجازت وغواړم، ماته به د هغې په بارګاه کې د پیش کیدلو اجازت راکړی شي. او کله چې زه د پروردګار

رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللهُ

دربار ته په رسیدلو سره وګورم نو په سجده به پریوزم. او الله تعالی چې ترکوم وخته پورې وغواړي ما به په

أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يَقُولُ: ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ

سجده کې پریږدي. بیا به وفرمایي چې: محمد! خپل سر وچت کړه، څه چې ویل غواړې، ووایه، ستا خبره

تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَهُ". قَالَ:

به اوریدلی کیږي. او شفاعت کوه، زه به شفاعت قبلوم، او وغوړه، زه به یې درکوم. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زه

«فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي

به خپل سر را وچت کړم، او د هغه حمد او ثناء سره چې ماته به یې پروردګار وښایي، د هغه حمد او ثناء به بیان

بثناء وتحميد يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأَخْرُجُ

کړم. بیا به زه شفاعت کوم، او زما لپاره به د شفاعت یو حد مقرر کړی شي. د دېنه وروسته به زه بیرون

فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ حَتَّى

راوځم. او هغه جماعت به د وزخ نه په را ایستلو باندې جنت ته دننه کړم. تردې چې په دوزخ کې د هغوی نه

مَا يَبْقَى فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ قَدْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ» أَيْ

غیره هیڅوک پاتې نشي چې هغه قران ایسار کړي وي. د دې مطلب دا دی چې بس هغه خلک به په دوزخ

وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ ثُمَّ

کې پاتې شي، چې هغه د همیشه همیشه لپاره د دوزخ د عذاب مستحق ګرځیدلی دي. بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا

تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ (عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ اللهُ مَقَامًا مَحْمُودًا)

آیت تلاوت کړو ﴿عَسٰى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا﴾ نژدې ده چې ستا رب تا ته مقام محمود کې ځای درکړي

قَالَ : « وَ هَذَا الْمَقَامِ المحمود الَّذِي وعده نَبِيكُم » . مُتَّفِق عَلَيْهِ[1]

بيا يې ورفرمايل: چې هم دا هغه مقام محمود دی چې د هغې وعده خدای ستاسو د نبی سره کړیده.

توضيح: لست هنا كم: يعنې زه د مقام شفاعت نه لرې يم. تاسو چې څنګه ما د دې کار لپاره ګڼئ نو زه د دې مقام لپاره نه يم. دا زما نه غيره د بل چا کار دی. (مرقات ۹/۵۱۴)

اول نبي: دلته سوال دا دی چې د نوح عليه السلام نه مخکې ډير انبياء تير شويدي. نو دا اول نبی څنګه وګرځيدلو؟ د دې جواب دا دی چې اولوالعزم نبی نوح عليه السلام نه مخکې يو هم نه ؤ. الوالعزم په اعتبار سره يې اول و فرمايلو. دويم جواب دا دی چې د کافرو قوم سره مقابلې او دعوت لپاره اول نوح عليه السلام ؤ. چې هغه الله تعالى رسول ليږلی ؤ. د نوح عليه السلام د زمانې نه مخکې کفر نه ؤ. کافر قوم ته راتلونکی اول دا نبی ؤ.

ثلاث كذبات: دا د توريه په توګه باندې کلام ؤ، دروغ نه ؤ، د عربو په محاوره کې توريه ته چا دروغ نه دي ويلي. البته په ظاهرې الفاظو کې داسې ښکاري چې دروغ دي. د دې ظاهر په اعتبار سره درياندې د دروغو اطلاق شويدی. په دې کې **انی سقيم** ته اشاره ده. دويم **بل فعله كبيرهم** ته اشاره ده. او دريم **هٰذه اختی** ته اشاره ده. (مرقات ۹/۵۱۷)

لست هنا كم: يعنې حضرت عيسى عليه السلام به وفرمايې چې دا زما کار ندی. ځکه ما لره خلکو د الله په مقابل کې ودرولی دی. او ماته يې ابن الله ويلې دي. وس ما سره ويره هم ده او حياء هم راځي. ځکه د الله تعالى مخې ته نشم تللی. تاسو د محمد صلى الله عليه وسلم خواته لاړ شئ ځکه چې د هغه مخکنې وروستنې ټول ګناهونه الله تعالى معاف کړيدی.

فيحد لی حدا: يعنې په شفاعت کې به تحديد او تعين وي. مثلا تحديد به دا وي چې د زناکارو شفاعت وکړه، د شرابيانو شفاعت وکړه، د فلانکې فلانکې شفاعت قبول دی. هغه ته وکړه. د دېنه غيره سفارش مه کوه. دا تحديد دی.

حبسه القرآن: يعنې قرآن هغه **مخلد في النار** ګرځولی وي. په دې حديث کې **ثم اشفع** نه شفاعت صغری بيان راغلی. ځکه چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته د شفاعت اجازت ورکړی شو. او نبي کريم صلى الله عليه وسلم شفاعت کبری هم وکړو ، د دېنه وروسته يې د خپل امت په اړه باندې شفاعت صغری تذکره وکړه، الله تعالى هغه محدودلو باندې اجازت ورکړو. (مرقات ۹/۵۲۱)

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۷ رقم الحديث ۶۵۶۵ ومسلم في صحيحه ۱/۱۸۰ رقم الحديث (۱۹۳-۳۲۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿٦﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کله چې د قیامت ورځ وي نو خلک به د یو

مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ فَيَأْتُونَ آدم فَيَقُولُونَ:

بل سره په یو ناشنا د اضطراب په حالت کې وي. نو هغوی به آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راشي او هغه ته به ووايي چې ته زمونږ

اشفع لنا إِلَى رَبِّكَ فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ

لپاره پروردګار ته شفاعت وکړه. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ به جواب ورکړي چې زه د دې اهل نه یم. البته تاسو خلک

بِإِبْرَاهِيمَ فَإِنَّهُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ

ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړ شئ، هغه ته الله دوست دی، دغه خلک به ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړ شي، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ

لَسْتُ لَهَا وَ لَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُوسَى فَإِنَّهُ

به هم جواب ورکړي چې زه د شفاعت لپاره نه یم، البته تاسو حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړ شئ، هغه د الله کلیم

كَلِيمُ اللهِ فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا

دی. دغه خلک به حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راشي، او حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به هم هغه جواب ورکړي چې زه د

وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى فَإِنَّهُ رُوحُ اللهِ وَكَلِمَتُهُ فَيَأْتُونَ عِيسَى

شفاعت لپاره نه یم. البته تاسو خلک حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړ شئ، دغه خلک به حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته

فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُحَمَّدٍ

راشي او حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به هم دغه جواب ورکړي چې زه د شفاعت لپاره نه یم. او تاسو محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته

فَيَأْتُونِي فَأَقُولُ أَنَا لَهَا

تګ پکار دی. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هله به خلک زما خواته راشي. او زه به هغوی ته ووایم چې هو بیشکه

فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي

زه د شفاعت اهل یم. بیا به زه د الله دربار کې د پیش کیدلو اجازت وغواړم. ما ته به د پیش کیدلو اجازت

فَيُؤْذَنُ لِي وَ يُلْهِمُنِي مَحَامِدَ أَحْمَدُهُ بِهَا

راکړی شي. او الله تعالی به زما په زړه کې د حمد او ثناء الفاظ واچوي چې د هغې په ذریعه به زه د هغه حمد

لَا تَحْضُرُنِي الْآنَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ وَأَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا

او ثناء کوم. او حمد او ثناء دا وخت ماته معلومه نده، بهرحال زه په سجده پريوزم. او دهغه به هم هغه حمد او

فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ

ثناء وکړم. بيا به ماته وويلی شی چې محمد! خپل سر وچت کړه. څه چې ويل غواړې ووايه، ستا خبره به

وَسَلْ تُعْطَهُ وَاشْفَعْ

اوريدلی کيږي. څه چې غوختل غواړې، وغواړه! زه به يې درکوم. او څه سفارش چې کول غواړې، وکړه، زه

تشفع فَأَقُول يارب أُمَّتِي أُمَّتِي فَيُقَالُ

به يې قبلوم. زه به ووايم چې زما ربه! زما امت وبخښه. زما په امت باندې رحم وکړه! ماته به وويلی شي چې

انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ شَعِيرَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ

لاړ شه هر هغه سړی راوباسه چې دهغه په زړه کې د جوار د دانې هومره ايمان وي. نو زه به لاړ شم. او د رب

فأفعل ثُمَّ أَعُود

په حکم باندې به عمل وکړم. د دېنه وروسته به بيا د رب العزت په دربار کې د حاضريدلو اجازت وغواړم.

فأحمده بِتِلْكَ المحامد و أخر لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ

او هم په هغه الفاظو کې به د الله حمد او ثناء کې په سجده شم. بيا به ماته وويلی شي بيا به ماته وويلی شی چې

يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَهُ وَاشْفَعْ

محمد! خپل سر وچت کړه. څه چې ويل غواړې ووايه، ستا خبره به اوريدلی کيږي. څه چې غوختل غواړې،

تشَفَّعْ فَأَقُولُ يارب

وغواړه! زه به يې درکوم. او څه سفارش چې کول غواړې، وکړه، زه به يې قبلوم. زه به ووايم چې زما ربه! زما

أُمَّتِي أُمَّتِي فَيُقَالُ انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ

امت وبخښه. زما په امت باندې رحم وکړه! ماته به وويلی شي چې لاړ شه او د (دوزخ) هر هغه سړی راوباسه

كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ أَوْ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ

چې دهغه په زړه کې د ذرې يا د ګدن د دانې هومره ايمان هم وي. نو زه به لاړ شم، او د رب په حکم به

ثُمَّ	أَعُودُ	فَأَحْمَدُهُ	بِتِلْكَ	المحامد

عمل وکړم. د دېنه وروسته به زه د رب العزت په دربار کې حاضر شم او په هغه الفاظو به د الله تعالی حمد

وأخر	لَهُ	سَاجِدًا	فَيُقَالُ	يَا	مُحَمَّدُ	ارْفَعْ	رَأْسَكَ

او ثناء کې په سجده شم. بیا به ماته وویلی شيبيا به ماته وویلی شی چې محمد! خپل سر وچت کړه. څه

وَقُلْ	تُسْمَعْ	وَسَلْ	تُعْطَهْ

ویل غواړې وو وایه، ستا خبره به اوریدلی کیږي. څه چې غوختل غواړې، وغواړه! زه به یې درکوم. او څه سفارش

وَاشْفَعْ	تُشَفَّعْ	فَأَقُولُ	يارب	أُمَّتِي	أُمَّتِي

چې کول غواړې، وکړه، زه به یې قبلوم. زه به ووایم چې زما ربه! زما امت وبخښه. زما په امت باندې رحم وکړه!

فَيُقَالُ انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ أَدْنَى أَدْنَى أَدْنَى مِثْقَالِ حَبَّةٍ من خَرْدَلَةٍ

ماته به وویلی شي چې لاړ شه او د (دوزخ) هر هغه سړی راوباسه چې دهغه په زړه کې د ګدن د دانې هومره

مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ فَأَنْطَلِقُ فأفعل ثُمَّ أَعُود الرَّابِعَة

ایمان هم وي. نو زه به لاړ شم، او د رب په حکم به عمل وکړم. د دېنه وروسته به زه په څلورم ځل د

فأحمده	بِتِلْكَ	المحامدوأخر	لَهُ	سَاجِدًا

رب العزت دربار کې حاضر شم. او په هغه الفاظو به د الله حمد و ثناء کولو کې په سجده پریوزم. بیا به ماته

فَيُقَالُ	يَا	مُحَمَّدُ	ارْفَعْ	رَأْسَكَ	وَقُلْ	تُسْمَعْ

وویلی شيبیا به ماته وویلی شی چې محمد! خپل سر وچت کړه. څه چې ویل غواړې وو وایه، ستا خبره به اوریدلی

وَسَلْ	تُعْطَهْ	وَاشْفَعْ	تُشَفَّعْ

کیږي. څه چې غوختل غواړې، وغواړه! زه به یې درکوم. او څه سفارش چې کول غواړې، وکړه، زه به یې قبلوم.

فَأَقُولُ	يارب	ائْذَنْ	لِي	فِيمَنْ	قَالَ	لَا	إِلَهَ	إِلَّا الله

زه به ووایم چې زما ربه! زما امت وبخښه. زما په امت باندې رحم وکړه! چا چې لا اله الا الله ویلي وي. پروردګار

قَالَ	لَيْسَ	ذَلِكَ	لَكَ	وَلَكِنْ	وَعِزَّتِي	وَجَلَالِي	وَكِبْرِيَائِي

به وفرمایې چې نا! د دې تعلق ستا سره نشته دی. بلکې د خپل عزت او جلال او د خپل ذاتي او صفاتي عظمت

وَعَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنهَا مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا الله". مُتَّفق عَلَيْهِ[1]
او لویې قسم چې هغه سړی به زه د دوزخ نه راوباسم چې لااله الاالله یې ویلی دي.

توضیح: امتي امتي: دا دهغه شفاعت صغری بیان دی. دشفاعت کبری د قبولیت نه وروسته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فرصت نه فائده واخستله، او د خپل امت مرحومه لپاره یې شفاعت صغری شروع کړو. د امتی الفاظ یې د تاکید لپاره مکرر راوړي دي. یا د مخکنې وروستنې امتونو اراده کړې شویده. ای یارب ارحمهم واغفرلهم اولهم واٰخرهم.

دشفاعت دټولو نه ډیر مستحق سړی څوک دی

﴿۷﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا الله خَالِصا من قلبه
د قیامت په ورځ به زما لپاره د نصیب والا هغه سړی وي چا چې د زړه په اخلاص یا د نفس په اخلاص
أونفسه "رَوَاهُ الْبُخَارِيّ"[2]
سره لا اله الاالله ویلي وي

توضیح: خالصًا من قلبه: یعنې د زړه په اخلاص او د مکمل توحید سره کلمه ویونکی سړی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شفاعت لپاره ډیر نصیب، اسعد او مستحق سړی وګرځولی شو. (مرقات ۹/۵۲۵)

دشفاعت تفصیل

﴿۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیانوي چې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضورته غوښه راوړی شوه. په دې کې د لاس
وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا
غوښه (لیچی) نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وړاندې کړی شوه. چې دا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ډیره خوښه او مرغوب وه.

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۴۷۳ رقم الحديث ۷۵۱۰ ومسلم في صحيحه ۱/۱۸۲ رقم الحديث (۱۹۳-۳۲۶)

(2) اخرجه البخاری في صحيحه ۱/۱۹۳ رقم الحديث ۹۹ واحمد في المسند ۲/۳۷۳

Maktaba Tul Ishaat.com

نَهسَةً ثُمَّ قَالَ: «أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَوْمَ يَقُومَ

نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه په غابنونو باندې راخکلو راخکلو سره وخوړه. او بیا یې وفرمایل: چې د قیامت په ورځ

النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ وتندنو

چې کله خلک د دوه جهانونو پروردګار خبرې د اوریدلو په انتظار کې به ولاړ وي. د ټولو خلکو سردار به یم. په دغه

الشَّمْس فَيبلغ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ

ورځ به لمر ډیر نژدې وي. او د خلکو حالت به داسې وي د خطا او د غم او فکر نه به داسې وي چې هغوی به یې برداشت نه شي کولی.

فَيَقُولُ النَّاس أَلَا تَنْظُرُونَ

یعنې په صبر او استقامت باندې به قادر نه وي. او په ډېره حیرانتیا او پریشانۍ په حالت کې به یو بل ته وایي

من يشفع لكم إِلَى ربكم؟

چې آخر تاسو یو داسې څوک ولې نه لټوئ چې هغه ستاسو پروردګار ته ستاسو شفاعت وکړي. نو خلک به

فَيَأْتُونَ آدَمَ» . وَذَكَرَ حَدِيثَ

حضرت آدم علیه السلام ته راشي. د دې نه وروسته حضرت ابو هریره رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شفاعت په

الشَّفَاعَةِ وَقَالَ: «فَأَنْطَلِقُ

کې هغه اجزاء بیان کړل (چې هغه په مخکې حدیث کې تیر شویدي) دې ذکر کولو نه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم

فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي

وفرمایل: نو زه به د خلکو د خوا نه روان شم، او د عرش د لاندې به راشم، او هلته به خپل رب ته سجده وکړم

ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا

بیا به الله تعالی په ما باندې د خپل حمد او بهترین ثناء هغه الفاظ او آداب حضور ته هغه طریقې ما ته ښکاره کړي

لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي

چې هغه زمانه مخکې به بل چا ته دې هغې القاء نه وي شوي. بلکې د هغه وخت نه مخکې به یې زما سره هم

ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ

څه علم نه وي. څنګه چې مخکې یو حدیث کې دې ته اشاره شوې ده. بیا به پروردګار وفرمایي چې: محمد!

ارْفَعْ	رَأْسَكَ	وَسَلْ	تُعْطَهْ	وَاشْفَعْ

خپل سر وچت کړه څه چې غواړې. وغواړه، زه به یې درکوم، او څه شفاعت چې کول غواړې، نو وکړه. زه به

تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُولُ أُمَّتِي يارب أُمتي يارب فَيُقَالُ

یې قبلوم. زه به خپل سر وچت کړم. او عرض به وکړم چې زما ربه! زما امت وبخښې. هله به ماته وویلی شي

يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ

چې ای محمد! د خپل امت نه هغه خلک چې دهغوی نه به حساب نه اخستلی کیږي، د جنت په ښي اړخ

مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ

دروازه باندې دننه کړه، او دغه خلک د دغه دروازې نه غیره د نورو دروازو په استعمال په حق کې هم د نورو

فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ» . ثُمَّ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

خلکو سره شریک دي. د دېنه ورسته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قسم دی په هغه ذات چې دهغه د قدرت په لاس

إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ

کې زما ساه ده، د جنت په دروازو کې د هريوې دروازې د درشلو ترمينځ فاصله هغومره ده څومره چې د مکې او

وَ هَجَرَ » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

هجر ترمينځ ده. (بخاري و مسلم)

توضیح: المصراعین: د دروازې دواړو غاړو او دورشل ته وایي. **هجر**: د بحرین د یو ښار نوم دی. چې هغې ته احساء وایي. (مرقات ۹/۵۲۷)

صله رحمي او امانت به خپل حق په پل صراط باندې اخلي

﴿۹﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ فِي حَدِيثِ الشَّفَاعَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د شفاعت په لړ کې حدیث نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

«وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَ شِمَالًا » رَوَاهُ مُسلم[2]

چې امانت او رحم یعنې خپلولي به ولیږلی شي او هغه دواړه به د پل صراط په ښي او چپ اړخ باندې ودریږي

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۳۹۵ رقم الحديث ۴۷۱۲، ومسلم في صحيحه ۱/۱۸۴ رقم الحديث (۱۹۴-۳۲۷)

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۸۴ رقم الحديث (۱۹۵-۱۲۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: **وترسل الامانة:** امانت او صله رحمي به وليږلي شي، هغوي به پل صراط نه ګير چاپيره ولاړ وي. دې لپاره چې د صله رحمي ماتونكو نه خپله بدله واخلي. او صله رحمي او امانت روغونكو باندې دوې ګواهي وركړي چې دوې زمونږ حق ادا كړيدى. او صله رحمي او خيانت كونكو خلكو باندې دوې ګواهي وركړي چې دوې زمونږ حق ندى ادا كړى. په دې حديث سره دې صله ماتونكو او خيانت كونكو سترګې برسيرته شي چې ميدان محشر د ټولو حسابونو نه فارغيدلو باندې په پل صراط باندې ديانت او امانت او قرابت او صله رحمي ته به حساب وركول وي، كه دهغه ځاې نه كامياب شوي نو جنت ته به ځي ګنې دوزخ ته به ګوزار كړى شي. (مرقات ۹/۵۲۷)

الله تعالى به د امت په باره كې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راضي كړي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللهِ تَعَالَى فِي إِبْرَاهِيمَ:			
او حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په اړه باندې			
[رَبِّ	إِنَّهُنَّ	أَضْلَلْنَ	كَثِيرًا
دا آيت تلاوت كړو ﴿رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي﴾ ترجمه چې اى زما ربه! دا بتان د ډيرو خلكو			
مِنَ	النَّاسِ	فَمَنْ	
د ګمراهۍ سبب جوړ شويدي، نو دهغه خلكو نه چې زما تابعداري يې كړيده، يعني توحيد، اخلاص			
تَبِعَنِي	فَإِنَّهُ	مِنِّي]	
او توكل يې خپل كړيدى، هغه زما خپل او تابعدار دي (او چا چې زما نافرماني كړيده نو ته معاف كونكى رحيم يې)			
وَقَالَ	عِيسَى:	[إِن	تُعَذِّبْهُمْ
يا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په اړه باندې دا آيت تلاوت كړو: ﴿إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾ كه ته			
فَإِنَّهُم	عِبَادُكَ]	فَرَفَعَ	يَدَيْهِ
دوې لره په عذاب كې اخته كوي نو بهرحال هغه ستا بنديګان دي. د دېنه وروسته نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه پورته كړل			
فَقَالَ	«اللهمَّ	أُمَّتِي	أُمَّتِي» وَبَكَى
او دعا يې وكړه چې: ربه! زما امت وبخښه، زما امت باندې رحم وكړه! او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژړا شو، الله تعالى			
فَقَالَ اللهُ تَعَالَى: «يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيهِ؟».			
جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَامُ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته را وليږلو او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې د ژړا پوښتنه وكړه،			

فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ فَقَالَ اللهُ لِجِبْرِيلَ اذْهَبْ

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپلو الفاظو کې هغه ته وویله بیا الله تعالی وفرمایل چې محمد ته لاړ شه او

إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ : إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوؤُكَ ". رَوَاهُ مُسْلِم[1]

ورته ووایه چې یقینًا مونږ به تا ستا د امت په اړه باندې راضي او خوشحاله کړو. او تا به هیچرې نه خفه کوؤ.

توضیح: وقال عیسی: یعنې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قول ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ولوستلو او نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قول عیسی عَلَيْهِ السَّلَام هم ولوستلو. دلته **قال عیسی** په معنی د **قول عیسی** دی او **قال یقول قولا وقیلا وقالاً** مصادر راځي. نو دلته قال مصدری په معنی کې دی. چې هغه په معنی د قول دی. ای **تلا النبي قول ابراهیم** وتلا قول عیسی نو دا په قول ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام باندی عطف دی. **سارضیك**: یعنې مونږ به تا ستا د امت په اړه باندې راضي کړوو او تا به نه غمژن کوؤ. (مرقات ۹/۵۲۹)

د قیامت او شفاعت په اړه اوږد حدیث

﴿۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ أُنَاسًا قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې څه خلکو وویله یا رسول الله! د قیامت په ورځ به

هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ هَلْ تُضَارُّونَ

مونږ خپل رب وینو؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: چې هو! وبه یې وینې. آیا تاسو د غرمې په وخت کې چې په آسمان

فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

باندې د وریځ هیڅ تو ته هم نوي، د لمر په کتلو کې څه بندیز محسوسوی. او آیا تاسو څوارلسمې شپې چې په

صَحْوًا لَيْسَ فِيهَا سَحَابٌ؟» قَالُوا:

آسمان باندې د وریځ هیڅ تو ته هم نوي، د سپوږمۍ په کتلو کې څه تکلیف محسوسوی؟ خلکو وویل چې

لَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: " مَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ اللهِ

هیڅکله هم نا. یا رسول الله! وې فرمایل: نو بیا د قیامت په ورځ به تاسو د الله تعالی په کتلو کې هیڅ تکلیف

يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا

نه محسوسوی، خو بس هغومره چې تاسو د دې دواړو په کتلو کې څومره تکلیف محسوسوی، کله چې د

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۹۱ رقم الحديث (۲۰۲-۳۴۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ لِيَتَّبِعْ كُلُّ أُمَّةٍ

قيامت ورځ راشي نو يو اعلان كونكى به اعلان وكړي چې كومې ډلې (په دنيا) كې د چا عبادت كولو . هغه دې هغې پسې

مَا كَانَتْ تَعْبُدُ فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ يعبد غيرالله مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ

شي، نو خلك به د الله تعالى په ځاې باندې بتانو او انصابو (درګاهونه) عبادت كولو ، په دوې كې به يو هم نه بچ

إِلَّا يَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ

كيږي، او ټول به دوزخ ته ګوزار كړى شي، ځكه چې انصاب او بتان چې د هغوې عبادت كيدلو ، دوزخ ته به ګوزار

حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا مَنْ كَانَ

كړى شي. لهذا د دوې سره به د دوې عبادت كونكي هم دوزخ ته ګوزار كړى شي. تر دې چې كله د هغه خلكو نه غيره هيڅوك پاتې

يَعْبُدُ اللَّهَ مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ أَتَاهُمْ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ:

نشي چې هغوې د الله عبادت كولو ، كه هغه نيكان وي او كه بدان وي، نو د ټولو جهانو نو رب به هغوې ته راشي او وبه فرمايي

فَمَاذَا تَنْظُرُونَ؟ يَتْبَعُ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَت تعبد. قَالُوا:

چې تاسو د چا انتظار كوئ؟ هر ډله هغه څه پسې لاړه چې د چايې عبادت كولو . (تاسو ولې نه ځئ) دغه خلك به جواب وركړي

يا ربنا فَارَقْنَا النَّاسَ فِي الدُّنْيَا

چې زمونږ ربه! مونږ د هغه خلكو نه چې هغوې په دنيا كې د غيرالله عبادت كولو ، په پوره توګه باندې بيلتون خپل كړى ؤ .

أَفْقَرَ مَا كُنَّا إِلَيْهِم وَلم نصاحبهم".[۱]

او حال دا ؤ چې مونږ هغوې ته محتاج ؤ . خو مونږ كله هم د هغوې سره ناسته او مجلس ندى خوښ كړى .

وَ فِي رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ "

او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په روايت كې دلته دا سې نقل شويدي چې دغه خلك به ووايي چې مونږ

فَيَقُولُونَ : هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا

به دې ځاې نه تر هغه وخته پورې لاړ نشو ، تر څو چې زمونږ رب مونږ ته رانشي . او كله چې زمونږ رب راشي

فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ" وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ:

نو مونږ به هغه وپيژنو ، او د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه په روايت كې دا الفاظ دي چې الله تعالى به د دوې

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۶۴ رقم الحديث (۱۸۲-۲۹۹)

"فَيَقُولُ هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ

نه پوښتنه وکړي چې آیا ستاسو او ستاسو د رب ترمینځ څه نښاني شته، چې د هغې په ذریعه سره تاسو هغه

تَعْرِفُونَهُ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ فَيُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

وپیژنئ؟ هغوی به وو ایي چې هو! شته. هله به الله تعالی خپله پنډۍ رابرسیره کړي، او په دې وخت کې به

فَلَا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلّٰهِ مِنْ تِلْقَاءِ

الله تعالی هر هغه سړي ته د سجدې کولو اجازت او توفیق ورکړي چې هغه په دنیا کې چاته د ښودنې،

نَفْسِهِ إِلَّا أَذِنَ اللهُ

اوروني او د څه خوف او لالچ د وجې نه بلکې خپله د نفس د تقاضې یعنې اخلاص او د عقیدې سره

لَهُ بِالسُّجُودِ وَلَا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ اتِّقَاءً

لله تعالی ته سجده کوله. او هر هغه سړی چې (په دنیا کې) د چا د ویرې یا خلکو ته د ښودنې اوروني لپاره

وَرِيَاءً إِلَّا جَعَلَ اللهُ ظَهْرَهُ طَبَقَةً وَاحِدَةً كُلَّمَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ

الله تعالی ته سجده کوله، الله تعالی به د هغه ملا (شاه) کلکه کړي، نو هغه به د سجدې لپاره ټیټیدل غواړي

خَرَّ عَلَى قَفَاهُ ثُمَّ يُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلَى جَهَنَّمَ وَتَحِلُّ الشَّفَاعَةُ

نو په شا به ګوزار شي. بیا به پل صراط باندې پل کیخودلی شي او د شفاعت اجازت به وشي. ټول انبیاء به دا

وَيَقُولُونَ اللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ فَيَمُرُّ الْمُؤْمِنُونَ

دعاء کوي چې ای الله دوی په سلامتیا سره تیر کړي، دوی په دوزخ کې د ګوزارولو نه روغ وساته. نو مسلمان

كَطَرْفِ الْعَيْنِ وَكَالْبَرْقِ

خلک به داسې تیریږي چې ځینې خو به د سترګو په رپ کې تیر شي، ځینې به د برق (بجلۍ) د پړق په شان

وَكَالرِّيحِ وَكَالطَّيْرِ وَكَأَجَاوِيدِ

تیر شي. ځینې به د هوا (باد) د چپې په شان. ځینې به د مارغانو په شان الوتلو باندې تیر شي، په دوی کې به

الْخَيْلِ وَ الرِّكَابِ فَنَاجٍ

ځینې مسلمانان هغه وي چې هغه به د دوزخ د اورنه بیخي په سلامتیا او نجات موندونکې وي، او ځینې

Maktaba Tul Ishaat.com

مُسَلَّمٌ	وَمَخْدُوشٌ	مُرْسَلٌ

مسلمانان به هغه وي چې هغوي به ټپ (زخم) خوړولو باندې تیر شي، او خلاصی به بیامومي، دغه شان څه

وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ

مسلمانان به هغه وي چې هغه به زره زره شي، او دوزخ ته به دهيكه كړى شي. تردې چې كله مؤمن د دوزخ

حَتَّى إِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

داور نه نجات بیاموي نو قسم دی د هغه پاک ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې زما ساه ده، په تاسو کې يو

مَا مِنْ أحد مِنْكُم بِأَشَدَّ مُنَاشدةً فِي الْحق قد تبين لَكُمْ

سړی هم د يو ظاهر ثابت شوي حق تر لاسه كولو لپاره دومره سخت كوښښ نكوي څومره سخت كوښښ

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لله يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِإِخْوَانِهِمْ

چې د قيامت په ورځ د الله تعالى په دربار كې د خپلو وروڼو د خلاصون لپاره كوي، كوم چې په دوزخ كې

الَّذِينَ فِي النَّارِ يَقُولُونَ رَبَّنَا كَانُوا يَصُومُونَ مَعَنَا وَيُصَلُّونَ

وي. هغه مؤمنان به وايي چې زمونږ ربه! دې خلكو به زمونږ سره روژه نيوله، لمونځ به يې كولو، او زمونږ سره

وَيَحُجُّونَ فَيُقَالُ لَهُمْ: أَخْرِجُوا مَنْ عَرَفْتُمْ

به يې حج كولو. دوي ته به وويلى شي چې لاړ شئ او كوم خلك چې تاسو پيژنئ، هغه راوباسئ، نو دوزخ په

فَتُحَرَّمُ صُوَرُهُمْ عَلَى النَّارِ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا ثُمَّ يَقُولُونَ:

اور باندې به د دوي صورتونه حرام كړى شي، دغه مؤمنان به ډير خلك د دوزخ نه راوباسي، بيا به وايي

رَبَّنَا مَا بَقِيَ فِيهَا أَحَدٌ مِمَّنْ أَمَرْتَنَا بِهِ.

چې زمونږ ربه! كومو خلكو چې تا د دوزخ نه د راويستلو حكم كړى وُ، په هغوي كې هيڅوك هم وس په

فَيَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وجدتم

دوزخ كې پاتې ندى. الله تعالى به وفرمايي چې بيا وس لاړ شئ، او وس هر هغه سړى راوباسئ چې د هغه په

فِي قلبه مِثْقَال دنيار مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا

كې د دينار هومره نيكي بيامومئ، نو هغه مؤمنان به لاړ شي، او ډير خلك به د دوزخ نه راوباسي، د ډېنه

ثُمَّ يَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ نِصْفِ دِينَارٍ

وروسته به الله تعالی هغوی ته وفرمايي چې او وس هر هغه سړی راوباسئ چې د هغه په زړه کې د نيم دينار

مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا

په اندازه نيکي بيا مومئ، نو هغه مؤمنان به لاړ شي او ډېر خلک به د دوزخ نه راوباسي، بيا به الله تعالى

ثُمَّ يَقُولُ: ارْجِعُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

حکم ورکړي چې لاړ شئ او هر هغه سړی د دوزخ نه راوباسئ چې د هغوی به زړه کې تاسو د ذرې هومره

مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيُخْرِجُونَ خَلْقًا كَثِيرًا ثُمَّ يَقُولُونَ: رَبَّنَا

نيکي بيا مومئ، دغه مؤمنان به لاړ شي او ډېر خلک به د دوزخ نه راوباسيو او وبه وايي چې ربه! مونږ په

لَمْ نَذَرْ فِيهَا خَيْرًا فَيَقُولُ اللهُ شُفِعَتِ الْمَلَائِكَةُ وَشُفِّعَ

دوزخ کې ښيګړه پرې نښودله، الله تعالی به وفرمايي: فرښتو شفاعت وکړو. او پيغمبرانو هم شفاعت وکړو.

النَّبِيُّونَ وَشُفِّعَ الْمُؤْمِنُونَ

او مؤمنانو هم شفاعت وکړو. او د دې ټولو خلکو شفاعت تعلق د هغه خلکو سره وو چې د هغوی په اعمال نامه

وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ

کې څه نا څه نيکي خامخا وه، که هغه نيکي د ذرې برابر يا د دې نه د کمې درجې ولې نه وه، او وس هيڅوک

الرَّاحِمِينَ فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ

پاتې نشو. ليکن وس د ارحم الرّاحمين ذات پاتې دی او (فرمان سره به) الله تعالی د دوزخ نه خپل موټی ډکولو

فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوا خَيْرًا قَطُّ قَدْ عَادُوا حُمَمًا

باندې خلک راوباسي چې هغوی به کله هم نيکي نه وي کړي. دا خلک به د دوزخ کې سکاره (کوئله) شوي

فَيُلْقِيهِمْ فِي نَهْرٍ فِي أَفْوَاهِ الْجَنَّةِ يُقَالُ لَهُ: نَهْرُ الْحَيَاةِ

وي، نو دوی په هغه نهر کې وا چولی شي چې هغه د جنت د دروازو مخې ته دی، او چې هغې ته به نهر حيات

فَيَخْرُجُونَ كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ

ويلی کيږي، او بيا به دا خلک د هغه نهر نه داسې تازه راووځي لکه دانه چې د سيلاب په خټو کې راززغونه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَخْرُجُونَ	كَاللُّؤْلُؤِ	فِي	رِقَابِهِمُ	الْخَوَاتِمُ

شي ، دغه شان دا خلک به د ملغلري په شان پاک صفا راووځي،د دوی په څټونو کې به مهرونه زړوند وي

فَيَقُولُ	أَهْلُ	الْجَنَّةِ:	هَؤُلَاءِ	عُتَقَاءُ	الرَّحْمَن

کله چې جنتیان دوی ووینې نو وايي به چې دا هغه خلک دي چې خپله رحمن خدای آزاد کړيدي، دوی لره

أُدخلهم	الْجَنَّةَ	بِغَيْرِ	عمل	وَلَا	خَيْرٍ

الله سره د دې کار نه جنت ته داخل کړل چې هغوی هيڅ نيک عمل نهٔ کړی، او نه هغوی څه نيکي کولو

قَدَّمُوهُ	فَيُقَالُ	لَهُمْ	لَكُمْ	مَا	رَأَيْتُمْ

باندې مخکې ليږلي وه. او بيا به دې نوؤ آزاد شوؤ خلکو ته وويلی شي چې په جنت کې تاسو څه وينی ،

وَ . مثله مَعَه". مُتَّفق عَلَيْهِ[1]

نه يوائې دا بلکې دغه شان نو رډير نعمتونه ټول ستاسو لپاره دي.

توضيح: **اصنام** : بتانو ته وايي. او **انصاب**:هغه ځايونه دي چيرته چې به مشرکانو نذرونه ورل، چې هغې ته درګاهونه وايي. دغه شان ځايونو کې به دغه خلکو کله کانې لګول، کله به بوټی ولاړ ؤ.دېته په اسانو الفاظو کې درګاه ويلی شي. (مرقات۹/۵۳۲)

اتاهم رب العٰلمين:دا متشابه الفاظ دي .د سلفو په نزد باندې د دې هم دا ظاهرې ترجمه کيږي. خو د ما يليق بشانه‌تعبير کوي، متشابهاتو کې داسې تاويل کول جائز ندي چې په هغې سره د دې ظاهرې معنی ختمه شي، مثلا يد ترجمه په قدرت سره کول داحنافو په نزد جائز نه دي.

افقر ما کنا: يعني کله چې مونږ په دنيا کې دې خلکو ته ښه محتاج ؤ ، هغه وخت مونږ د دې خلکو سره ملګرتيا نده کړې، نو نن يې ولې وکړو؟

يضرب الجسر :يعني جهنم د پاسه په پل صراط کيخودلی شي.

اجاويد الخيل:د اجواد جمع ده. او اجواد ، د جود جمع ده. ښايسته اس ته وايي. د صفت اضافت موصوف ته دی. ای کالخيل الجواد ، هر سړی به د خپلو اعمالو په اعتبار سره پل صراط باندې سفر کوي. د هر مزل بيله بيله تشبيه ده. څوک تيز ، څوک په قلاره.

(۱)اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۴۲۰ ومسلم في صحيحه ۱/۱۶۷ رقم الحديث(۱۸۳-۳۰۲) واحمدفي المسند۲/۵۳۴.

رکاب: اوبنانو ته وایي. فناج: یعنې ځینې خلک به روغ رمټ ووځي.

ومخدوش: دا د خدش نه د ټپي (زخمي) کیدلو په معنې دی.

مرسل: خلاصیدلو په معنی دی یعنې ځینې خلک به ټپي شي خو خلاص به کړی شي.

ومکدوس: په سینن سره کدس دی، دهیکه ورکول په معنی دی. دې لپاره چې دوزخ ته گوزار شي. دا لفظ د شین سره مکدوش هم لوستلی شویدی. دواړه لفظونه په یوه معنی دي. چې سخته منډه ورکولو، لیرې کولو او ټپي کولو او زره زره کولو سره دوزخ ته گوزارولو په معنیٰ دی. په یو روایت کې مکروس: لفظ هم راغلی دی. چې دهغې معنی دا ده چې د واړو لاسونو نه تړلي د یو بل د پاسه په دوزخ ته گوزار کړی شي.

اشد مناشدة: یعنې قسم په خدای چې په تاسو کې یو سړی هم د خپل واضح ثابت شوي حق لپاره دومره منډه او سخت کوښښ نکوي، څومره سخت کوښښ چې مؤمن د قیامت په ورځ د الله تعالی مخې ته د خپل مسلمان ورور د خلاصون لپاره به کوي. یعنې ښه ډیره غوښتنه او مناظره او سفارش به کوي. او وایي به چې ای الله! دوې د دوزخ نه راوباسي. (مرقات ۹/۵۳۶)

لم نذر فیها خیرا ای لم نذر فیها من اهل الخیر: یعنې مونږ په دوزخ کې داسې څوک پرې نه خودلو چې په هغه کې د رتی په اندازه خیر او ایمان او عمل صالح وي، ټول مو راوویستل.

لم یعلموا خیرا قط: یعنې مجرد ایمان به وي. د دېنه غیره به هیڅ عمل نوي. (مرقات ۹/۵۳۸)

حمماً: یعنې سکاره شوي به وي. افواه الجنة: یعنې د جنت د دروازو مخې ته به واچولی شي، دې لپاره چې د ننه تګ کې آسانتیا وي. الحبة: دا د حبوب نه دی، دانې په معنی دی. د سیلاب سره یوه توره دانه راځي، او په یوه ورځ او شپه کې د هغې بوټی ډیر ژر زرغونیږي، لکه څنګه چې بوټی ژر زرغونیږي، دغه شان په دې نهر کې به جهنمیان خلک ډیر ژر ښایسته شکل وصورت کې راووځي. دې دانې ته بقلة حمقآء هم وایي. دا داسې بیوقوفه دانه ده که کانې وي، که لرګی وي، که هر څه وي. په هغې باندې پریوتلو سره په یوه شپه ورځ کې دا بوټی راخیژي، علامه کسائی ویلی دي چې دا دانه ګل ریحیان یعنې تخم ملنګ تخم دی. قال هی حب الریاحین. نورو شارحینو دا دانه صحرایې بی نسبه دانه ګرځولي ده. هی بذر الصحراء: دا قول ډیر راجح دی.

حمیل السیل: دا د محمول په معنی دی. یعنې سیلاب و خس او خاشاک سره دا دانه د دشتې نه راوړي، لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

څنګه چې د دې بوټي ښایسته وي، دغه شان په دې نهر سره به د دې سوزیدلو جهنمیانو ښایسته شکلونه د ملغلرو په شان راووځي. **الخواتم**: دا د خاتم جمع ده. خاتم ګوتمې ته وايي. مهر ته هم وايي. یعني څه نښې به داسې وي چې په هغې سره به د دوی پېژندګلو کیږي، مثلاً مهرونه به لګیدلي وي، وغیره وغیره، صاحب تحریر لیکلي دي چې دلته د خواتم نه سره زر او سپین زرو هغه شیان مراد دي چې هغه به د دوی په څټونو کې زړوند وي. چې په هغې سره به د دوی پېژندګلو کیږي، بهرحال د سرو او سپینو زرو تعویذونه که مراد واخستلی شي نو ډیره به غوره وي. (مرقات ۹/۵۳۹)

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ
او حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې جنتیان جنت ته او جهنمیان
النَّارَ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ
جهنم ته ورسولی شي، نو الله تعالی به وفرمايي چې د کوم سړي په زړه کې د ګدن د داني هومره هم ایمان وي
فَأَخْرِجُوهُ فَيَخْرُجُونَ قَدِ امْتَحَشُوا وَعَادُوا
نو هغه د دوزخ نه راوباسئ، نو هغه خلک به د وزخ نه راوویستلی شي، حالانکې هغه به داسې سوزیدلي
حُمَمًا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهْرِ الْحَيَاةِ
وي چې سکاره به ترې جوړ شوي وي. بیا به هغوی په نهر حیات کې واچولی شي نو دوی به د هغه ځای نه
فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَوْا
داسې تازه راوځي لکه د سیلاب په خټو کې چې د ګیاه دانه رازرغون شي. آیا تاسو نه دې لیدلي، هغه دانه څنګه
أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً". (متفق عليه)[1]
نغښتلي په زور سره راوځي. (بخاري و مسلم)

توضیح: **خردل**: د ګدن (شړشم) داني ته خردل وايي. دا د شړشمو تخم ته وايي. زیت خردل د شړشمو تیلو ته وايي. اکثر خلک شړشم نه پېژني او معنی کوي. **قد امتحشوا**: یعني بیخي سوزیدلي به وي. او سکاره شوي به وي. **صفراء**: ګلابی رنګ بوټي وي. **ملتوية**: راتاؤ شوي وي. یعني ډکه تازه نرم او نازکه ښایسته تاؤ شوي بوټي، دغه شان دا خلک به آب حیات په اوبو کې راززغون کیدلو سره جنت ته لاړ شي. (مرقات ۹/۵۴۰)

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۶ رقم الحديث ۶۵۶۰ ومسلم في صحيحه ۱/۱۷۲ رقم الحديث (۱۸۴-۳۰۴)

پل صراط او د شفاعت نور تفصیل

﴿۴۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ . أَنَّ النَّاسَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ
او حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت دی چې خلکو پوښتنه وکړه چې خلکو پوښتنه وکړه : یارسول الله!
هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ فَذَكَرَ مَعْنَى
آیا د قیامت په ورځ به مونږ خپل رب ووینو؟ د دېنه وروسته حضرت ابو هریره رضی الله عنه مضمون په
حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ غَيْرَ كَشْفِ السَّاقِ
اعتبار سره هغه حدیث بیان کړو، کوم چې مخکې د ابوسعید خدری رضی الله عنه نقل شو. هو !
وَقَالَ: " يُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ
حضرت ابو هریره رضی الله عنه پنډۍ د برسیرته کولو خبره ونکړه. او بیا یې ووېل چې کله د دوزخ د پاسه پل صراط
فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ
ودرولی شي نو په ټولو رسولانو کې د خپل امت سره اول په دې پل باندې تیریدونکی به زه یم. او د هغه
مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ الرُّسُلُ وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ: اللَّهُمَّ سَلِّمْ
وخت به هیڅوک هم د خبرې کولو طاقت نلري. او رسول به هم فقط دومره وايي چې ای الله! د سلامتیا سره
سَلِّمْ. وَفِي جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ
مو وساته. د هغه شان (د دې پل دواړو اړخ ته) جهنم کې به د سعدان د غنو په شان کونډې وي. او د هغه
وَلَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللهُ تَخْطَفُ النَّاسَ
کونډو اوږوالی د الله تعالی نه غیره هیڅوک نه پیژني. دغه کونډې به خلکو لره د هغوی د اعمالو په سبب
بِأَعْمَالِهِمْ فَمِنْهُمْ مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ
باندې راکاږي. نو په دې خلکو کې به ځینې خو هغه وي چې هغه به د خپلو اعمالو د سزا د وجې نه هلاک
وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو
شي او ځینې به هغه وي چې (هغه به د دې کونډو د وجې نه) غوڅ غوڅ شي لیکن بیا به نجات بیا مومي.
حَتَّى إِذَا فَرَغَ اللهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ عِبَادِهِ وَأَرَادَ
بیا کله چې الله تعالی د خپلو بندګانو د فیصلې نه فارغه شي او دا اراده وکړي چې کوم خلکو د

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْ يُخْرِجَ مِنَ النَّارِ
لااله الاالله ګواهي ورکړېده. په هغوی کې چې کوم خلک هغه وغواړي، د دوزخ نه راوباسي، نو فرښتو ته
مَنْ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَهُ مِمَّنْ كَانَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أمر المَلَائِكَةَ أَن يخرجوا من يَعْبُدُ اللهَ
به حکم وکړي چې دغه خلک دې دوزخ نه راوویستلی شي، څوک چې د الله معبود مني. نو فرښتې به هغه
فَيُخْرِجُونَهُمْ وَيَعْرِفُونَهُمْ بِآثَارِ السُّجُودِ
خلک د دوزخ نه راوباسي او دهغوی په تندو باندې د سجدو د نښانو په وجه باندې به هغوی وپیژني. او په
وَحَرَّمَ اللهُ تَعَالَى عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ فَكُلُّ ابْنِ آدَمَ تَأْكُلُهُ النَّارُ
دوزخ باندې خو دا الله حرام کړېدي چې هغه د سجدو نښان وخوري. نو ځکه اور به د ابن آدم ټول بدن
إِلَّا أَثَرَ السُّجُودِ فَيَخْرُجُونَ
وخوري خو د سجدو ځایونه به نشي خوړلی. بهرحال هغه خلک به د دوزخ نه په دغه حالت کې بیرون
مِنَ النَّارِ قَدِ امْتَحَشُوا فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ الْحَيَاةِ
راوځي. چې هغوی به په اور کې سوزېدلو سره تور شوي وي. ، نو په هغوی باندې به آب حیات وشیندلی شي
فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ
او هغوی به داسې تازه او ښایسته شي لکه د سیلاب په خته کې پرته دانه چې راز رغونه شي، او یو سړی چې
وَيَبْقَى رَجُلٌ بَيْنَ الجنَّةِ والنارِ
د دوزخیانو نه به جنت ته داخلیدونکی آخرې سړی وي، جنت او دوزخ ترمینځ به ولاړ وي، دهغه مخ به
وَهُوَ آخِرُ أَهْلِ النارِ دُخولاً الْجَنَّةَ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ قِبَلَ النَّارِ فَيَقُولُ: يَارب اصرف وَجْهِي عَنِ النَّار
د دوزخ اړخ ته وي، هغه به ووايي چې زما ربه ! زما مخ د دوزخ د اړخ نه واړوه، د دوزخ د اور بدبويې
فَإِنَّهُ قد قَشَبَنِي رِيحُهَا وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا. فَيَقُولُ:
زه په ډېر سخت تکلیف کې اخته کړی یم. او د دې د لمبو ګرمۍ زما بدن سیزللی دی، الله تعالی به وفرمایي
هَلْ عَسَيْتَ إِنْ أَفْعَلَ ذَلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَ ذَلِكَ؟ فَيَقُول: وَلَا وعزّتك
چې که زه داسې وکړم نو کیدی شي چې ته نور څه هم وغواړې. هغه سړی به ووايي چې ستا په عزت قسم !

فَيُعطِي اللّٰهَ مَا شَاءَ اللهُ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيَصْرِفُ اللهُ وَجْهَهُ

ر..نور څه نه غواړم. بيا به هغه څه وعده او لوظ وکړي. څه چې الله وغواړي. او الله تعالى به د هغه مخ د

عَنِ النَّارِ فَإِذَا أَقْبَلَ بِهِ عَلَى الجنةِ وَرَأَى بَهْجَتَهَا

دوزخ نه واړوي. خو کله چې د هغه مخ جنت اړخ ته واړولی شي، او هغه د جنت ښايست او خکلا او تازګي

سَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ ثُمَّ قَالَ: يَا رَبِّ

ويني نو تر هغه وخته پورې به چپ وي چې ترڅو چې خدای غواړي. او بيا به ووايي چې زما ربه! ما د

قَدِّمْنِي عِنْدَ بَابِ الجنةِ فَيَقُولُ اللهُ تبارك وَتَعَالَى: أَلَيْسَ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ

جنت دروازې ته ورسوه. الله تعالى به وفرمايي: آيا تا وعده او لوظ نهٔ کړی چې ته به د خپل دغه درخواست

وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنْتَ سَأَلْتَ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَا أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ. فَيَقُولُ:

نه غير نور هيڅ درخواست نه پيش کوي. هغه به فرياد وکړي چې زما ربه! ته ما په خپل مخلوق کې د ټولو نه

فَمَا عَسَيْتَ إِنْ أُعْطِيتُ ذَلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَهُ. فَيَقُولُ: لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَ ذَلِكَ فَيُعْطِي رَبَّهُ مَا شَاءَ مِنْ

ډير بد نصيبه مه جوړوه. خو کله چې هغه د جنت دروازې ته ورسيږي. او د جنت پرق پروق او هغې کې د ننه

عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيُقَدِّمُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَإِذَا بَلَغَ بَابَهَا فَرَأَى زَهْرَتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ النَّضْرَةِ وَالسُّرُورِ فَسَكَتَ

شيانو ښايست ويني. نو اول به تر هغه وخته پورې چپ وي، ترڅو چې خدای وغواړي، او بيا به ووايي چې

مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ فَيَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ

زما ربه! ما جنت ته د ننه ورسوه. الله تعالى به فرمايي: ابن آدم! افسوس ته څومره وعده ماتونکی او وعده

أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ

هيرونکی يې.؟ آيا تا وعده او لوظ نهٔ کړی چې ته به د خپل دغه درخواست نه غيره چې هغه مې ستا د

غَيْرَ الَّذِي أُعْطِيتَ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَا تَجْعَلْنِي أَشْقَى

خوښې مطابق قبول کړو، نور څه درخواست به نه پيش کوي. هغه به ووايي چې زما ربه! ما په خپل مخلوق

خَلْقِكَ فَلَا يَزَالُ يَدْعُو حَتَّى

کې د ټولو نه ډير بد نصيبه مه جوړوه. لنډه دا چې هغه به دغه شان فرياد کوي، تردې چې الله تعالى به د ده نه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَضْحَكَ اللهُ مِنْهُ فَإِذَا ضَحِكَ أَذِنَ لَهُ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ.

راضي شي او الله تعالى چې کله راضي شي، نو هغه ته به جنت ته د ننوتلو اجازت ورکړي، بيا به فرمايي چې

فَيَقُولُ: تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى حَتَّى إِذَا انْقَطَعَتْ أُمْنِيَّتُهُ

که ته نور څه غوښتنه او خوښې لري نو هغه ظاهره کړه او څه چې غواړې، وغواړه. نو هغه به چې

قَالَ اللهُ تَعَالَى: تَمَنَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا

ارزوګانې بيان کړي، او کله چې خپله آخرې ارزو هم پورا کړي، نو الله تعالى به وفرمايي چې د فلانکې

أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ رَبُّهُ

فلانکې شي خواهش ولې نه ظاهروې! ګويا رب به يې هغه ته ياد ول غواړي. چې تا خو فلانکې فلانکې

حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ

شی ونه غوختلو. د غه شيان هم وغواړه. زه به نن تا ته هر څه درکوم. تر د چې کله هغه ارزوګاني هم پورا شي

قَالَ اللهِ: لَكَ ذَلِكَ

نو الله تعالى به وفرمايي چې نه يوازې دا شيان ستا لپاره دي بلکې د غه شان نور ډير نعمتونه تاته درکولی

ومثله معه "وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ: " قَالَ اللهُ: لَكَ ذلكَ

کيږي. او د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه په روايت کې داسې دي چې الله تعالى به وفرمايي چې نه يوازې

و عشرةُ أمثالِه " . مُتَّفق عَلَيْهِ [1] .

دا شيان ستا لپاره دي بلکې د دې سره لس چنده نور نعمتونه تا ته درکولی کيږي.

توضيح: کلاليب: دا جمع ده د دې مفرد کلّوب دی. دا د وسپنې هغه سيخ ته ويل کيږي چې د هغې سر راتاؤ شوی وي، چې د هغې په ذريعه سره خلک د تنور نه ډوډۍ راوباسي، يا غوښه وريتلو لپاره ورته زوړنده شي، دېته کونډي هم ويلی شي، (پښتو کې ورته کونډي وايې) دېته ازغنې کونډي هم ويلی شي.

شوک السعدان: سعدان د يو بوټي نوم دی. اوښان يې په ډير شوق سره خوري. په د بکې د ښځو د سينو د چوشنې په شان غنې وي، چې هغه ډيرې کلکې او سختې وي. دلته د هغه غنو ذکر دی. دې

(۱)اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۴۴ رقم الحديث ۶۵۷۳ ومسلم في صحيحه ۱/۱۶۳ رقم الحديث ۱۸۲-۲۹۹).

ته په عربۍ کې حسکة او حسیکة هم وایي.

تخطف الناس: یعنې د اعمال قبیحه د وجې نه به دا کونډې دا ګناهګاران راکاږي.

یوبق: یعنې ځینې به داسې خلک وي چې بیخې به هلاک شي ، دا به کافران وي.چې هغوې به د خپل کفر د وجې نه هیشه لپاره دوخل ته دننه کړی شي.یخردل: او ځینې به دا کونډې د شړشمو د دانو په شان زره زره او غوڅ غوڅ کړي. دا به فاسق مسلمانان وي.

ثم ینجو: یعنې غوڅ غوڅ کیدلو او سزا خوړلو نه ورسته به په اخر کې د دوزخ نه راوځي.

قبل النار:یعنې د دوزخ نه د راوتلو وروسته به یې مخ اور اړخ ته وي.

قشبني: یعنې ماته د وزخ بدبویې او تپ ډیر تکلیف رسولی دی، چې په هغې سره زما رنګ بدل شویدی، او د مخ څرمنه مې بدله شویده.ذکائها: یعنې د اور دې لمبو زه سیزلی یم.

هل عسیت: یعنې آیا د دې امکان نشته چې زه تا د دې حالت نه وباسم نو ته به نور غوختنه بیا نه کوي؟فیعطی الله: یعنې الله تعالی سره به کلکه وعده وکړي چې بیا به یې نه غواړم.(مرقات۹/۲۵۴)

ما اغدرك:دا د تعجب صیغه ده. یعنې ته څومره غدار او دهوکه کونکی یې. یوه نسخه کې ما اغذرك ذال سره راغلی دی. یعنې کوم شي ته بیا بیا سوال کولو او وعده ماتولو کې معذوره او صاحب عذر جوړ کړی یې؟

اقبل یذکره: یعنې الله تعالی به هغه شي اړخ ته متوجې کیدلو باندې ورته وریاد کړي، چې فلانکی فلانکی شی وغواړه، مطلب دا دی چې الله تعالی به دهغه په زړه کې د شیانو د غوختلو د جذبې القاء وکړي. او د الهام په ذریعه سره به هغه دغوختلو اړخ ته متوجې کړي، چې فلانکی فلانکی شی وغواړه.(مرقات۹/۴۵۴)

جنت ته د ټولو نه آخر کې تلونکی سړی

﴿۱۴﴾ وَعَنِابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: جنت ته به د ټولو نه آخر کې تلونکی

رَجُلٌ	يَمْشِي	مَرَّةً	وَيَكْبُو	مَرَّةً

سړی چې کوم وي، هغه چې کله روان شي نو یو قدم به مخکې ځي او په دویم ځل به پړمخې رالیږي. او په

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً فَإِذَا جَاوَزَهَا الْتَفَتَ إِلَيْهَا

دریم ځل به د وزخ اور د هغه بدن سوزوي. بیا چې کله هغه د دوزخ نه مخکې تیر شي، نو په شا به وګوري

فَقَالَ: تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ لَقَدْ أَعْطَانِي

او وايي به چې لوېې دی د خدای ذات چا چې ما لره ستا نه خلاصی راکړو. په خدای قسم! ما ته زما رب نه

اللهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ

څه راکړل چې هغه يې مخکنې و روستنې خلکو کې هيچا ته هم ندي ورکړي، بيا به د هغه د نظر مخې ته يو

فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ

بوټی و درولی شي، هغه به و وايي چې زما ربه! ما دې بوټي ته نژدې ورسوه. دې لپاره چې زه د دې سيورې

فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا فَيَقُولُ اللهُ: يَا ابْنَ آدَمَ لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا

ترلاسه کړم. او د دې د چينې نه اوبه وڅکم. الله تعالى به وفرمايي: ابن آدم! که زه ستا دا آرزو پورا کړم

سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا ؟ فَيَقُولُ: لَا يَا رَبِّ

نو کيدی شي چې ته زما نه نور څه وغواړې! هغه به و وايي چې زما ربه! داسې به نه کيږي، د دې نه وروسته

وَ يُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا

به هغه د الله تعالى سره د دې خبرې وعده وکړي چې هغه به د دېنه غيره هيڅ هم نه غواړي. هغه سړی به يو

وَ رَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ

داسې څه ويني چې هغه به دا بې صبره کړي، نو ځکه پروردګار به دا معذوره ګڼلو باندې د هغې نه درګزر

يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا

وکړي، او هغه به د غه بوټي ته ورسوي. هغه سړی به د دې بوټي سيورې ته کيني. او د دې د چينې نه به اوبه

ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى

وڅکي. بيا به د ده نظر مخامخ په يو بل بوټي باندې ولګي. چې هغه به د اولنې بوټي نه ډير ښه وي، دا سړی به

فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ

و وايي چې زما ربه! ما د غه بوټي ته ورسوه! دې لپاره چې د دې سيورې ترلاسه کړی شم او د دې د چينې

لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا. فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ
او به وڅکم. دغه شان زه وس د دې بوټي نه غیره ستا نه نور هیڅ نه غواړم. الله تعالی به وفرمایي چې ابن آدم!
أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا؟ فَيَقُولُ:
آیا تا زما سره وعده نه وه کړې چې ته به د دې بوټي نه غیره نور هیڅ نه غواړې، د دینه وروسته به الله تعالی
لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلُنِي غَيْرَهَا؟
وفرمایي چې که زه تا دغه بوټي ته ورسوم نو کیدی شي ته زما نه نور څه وغواړې! لیکن د ده پروردګار به
فَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذُرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ
دا معذوره ګڼلو باندې د دې نه درګزر وکړي. ځکه چې هغه به یو داسې څه وګوري چې هغه به دا بې صبره
فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا
کړي. او بیا به الله تعالی دا هغه بوټي ته ورسوي، دا سړی به د هغه بوټي سیورې ته کیني او د هغې د چینې
وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ
نه به او به وڅکي. بیا (دریم) بوټی به د هغه مخې ته ودرولی شي چې هغه د جنت دروازې سره به نژدې وي. او
هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَيَيْنِ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ
د مخکنو بوټو نه به ډیر ښایسته وي. دغه سړی به ووایي چې زما ربه! ما دغه بوټي ته ورسوه! د دې لپاره چې
فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا. فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ
زه د دې سیورې ترلاسه کړم. او د دې د چینې نه او به وڅکم. حق تعالی به ورته وفرمایي چې ابن آدم! آیا
أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا؟ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ
تا زما سره دا وعده نو کړې چې ته به د دینه غیره نور هیڅ زما نه غواړې، هغه به ووایي چې هو! د دینه غیره
هَذِهِ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا وَرَبُّهُ يَعْذُرُهُ
به نور هیڅ نه غواړم. نو د هغه پروردګار به هغه معذوره ګڼلو باندې د هغه نه درګزر وکړي. ځکه چې دا سړی
لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا
به یو داسې څه ویني چې هغه به دا بې صبره کړي. او بیا به الله تعالی دا هغه بوټي ته ورسوي. او کله چې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِذَا أُدْنَاهُ مِنْهَا سَمِعَ أَصْوَاتَ أَهْلِ الْجَنَّةِ
هغه بو تې ته ورسيږي او د ده غوږونو ته هغه خبرې راشي چې هغه به جنتيان د خپلو بيبيانو او خپلو ملګرو

فيقولُ: أَيْ رَبِّ أَدْخِلْنِيهَا فَيَقُولُ:
دوستانو سره کوي، نو دغه سړی به ووايي چې زما ربه! وس ما جنت ته هم ورسوه! الله تعالى به وفرمايي:

يَا ابْنَ آدَمَ مَا يصريني مِنْكَ؟ أيرضيك
ابن آدم! آيا داسې هم څه شته چې ستا نه ما خلاص کړي؟ آيا ته به په دې هم خوشحاله شي او که نا چې زه

أَنْ أُعْطِيكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا. قَالَ:
تا ته په جنت کې د ټولې دنيا د مسافت په اندازه باندې او دغه شان نور ځاې هم درکړم؟ دغه سړی به ووايي

أَيْ رَبِّ أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟
چې ربه ته ما پورې خندا خو نه کوي. حالانکې ته خو د ټولو جهانونو رب يې. (د حديث دا الفاظ بيانولو

فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ: أَلَا تسألونِي مِمَّ أَضْحك؟
نه وروسته) حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خندل، او بيا يې وويل چې آيا تاسو به پوښتنه نکوی چې ما

فَقَالُوا: مِمَّ تضحك؟ فَقَالَ: هَكَذَا ضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.
ولې وخندل؟ خلکو پوښتنه وکړه چې هو! تا ولې وخندل؟ وې فرمايل: دغه شان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم خندلي ؤ.

فَقَالُوا: مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:
او کله چې صحابؤ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله! تا ولې وخندل؟ نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: چې ما د دې وجې

" من ضحك رَبُّ الْعَالَمِينَ ؟
نه وخندل چې کله هغه سړی ووايي چې ربه آيا ته خو ما پورې ټوقې نه کوي؟ حالانکې ته خو د ټولو جهانونو

فَيَقُولُ : إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ
رب يې؟ نو بيا به د عالم پروردګار وخاندي. بهرحال الله تعالى به وفرمايي چې نا ! زه تا سره ټوقې نکوم.

وَ لَكِنِّي على مَا أَشَاء قدير " .[1] رَوَاهُ مُسلم وَ فِي رِوَايَة لَهُ
ليکن زه چې څه غواړم، کولی يې شم. دا روايت مسلم نقل کړيدی. او د مسلم په يو بل روايت کې د

([1])اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۷۹۴ رقم الحديث (۱۸۷–۳۱۰) والدارمي في السنن ۲/۴۰۹ رقم الحديث ۲۷۷۷.

عَن أَبِي سعيدٍ نَحْوَهُ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ " فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ؟

حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه دا اسې الفاظ نقل شويدي. ليکن په دې روايت کې فيقول يا ابن آدم مايصريني

" إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ وَزَادَ فِيهِ: " وَيُذَكِّرُهُ اللهُ:

منك نه تر آخره پورې الفاظ خو نشته البته دا الفاظ نقل شويدي چې بيا به الله تعالى دغه سړي ته وريادوه

سَلْ كَذَا وَكَذَا حَتَّى إِذَا انْقَطَعَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ

کړي او وبه وايي چې فلانکې شی وغواړه او کله چې دهغه ارزوګانې پوره شي، نو الله تعالى به

قَالَ اللهُ: هُوَ لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ

وفرمايې چې نه يواځې دا شيان بلکې د دې لس چونده نور شيان هم تاته درکولی کيږي. نبی کريم صلى الله عليه وسلم

قَالَ: ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتَهُ فَتَدْخُلُ عَلَيْهِ زَوْجَتَاهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ

وفرمايل: د دېنه وروسته به دغه سړی په جنت کې خپل کور ته ننوځي هلته به د ده خواته په حور عين کې

فَيَقُولَانِ: الْحَمْدُ للهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا

دوه بيبيانې راشي او ورته به وايي چې ټولې ستاينې الله لويې ذات لره دي چې چا چې ته زمونږ لپاره او مونږ

وَأَحْيَانَا لَكَ. قَالَ: فَيَقُولُ:

ستا لپاره پيدا کړو. نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړی به ووايي چې ماته څومره راکړی شويده،

مَا أُعْطِيَ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُعْطِيتُ "(۱)

دومره هيچا ته نه ده ورکړی شوي.

توضيح: يكبوا: كبا يكبوا، پرمخې راليدلو ته وايي.

تسعفه: يعنې د اور لمبې به دا په خپله غيږه کې ونيسي.

يعذره: يعنې د عظيم نعمتونو مخې ته د دې سړې بې صبره کيدل الله تعالى ته به معلوم وي ځکه به الله تعالى دا په بيا بيا مخالفت او بيا سوال کولو باندې مجبور او معذور وګڼي. (مرقات ۹/۵۴۷)

مايصريني منك: صری يصری صری، ضرب يضرب نه د ايسارولو په معنىٰ دی. د دې نه **بيع مصراة**

Maktaba Tul Ishaat.com

بمعنی حبس اللبن فی الضرع ده. په یوه نسخه کې **ما یصریک منی** دی. د معنی په اعتبار سره دا ډیر واضح دی. معنی یې دا ده چې ای ابن آدم هغه کوم شی دی چې هغه ستا بیا بیا سوالونه او غوختنې نه ما خلاص کړي؟ دا به د الله تعالی دا ړخ نه د ډیر شفقت اظهار وي. (مرقات ۹/۵۴۹)

احیاك لنا: دواړه ځایه احیاک تخلیق او پیدا کیدلو په معنی دی. یعنې ته یې زمونږ لپاره او مونږ یې تا لپاره پیدا کړي یو. (مرقات ۹/۵۰۵)

﴿۱۵﴾ وَعَن أنس أَن النَّبِي الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيُصِيبَنَّ أَقْوَامًا
او حضرت انس رضی الله عنه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: د مسلمانانو په څو مره ډلې داسې وي چې
سَفْعٌ مِنَ النَّارِ بِذُنُوبٍ أَصَابُوهَا عُقُوبَةً
هغوی لره به د هغوي د ګناهونو د وجې نه چې هغوی به کړي وي، د دوزخ په اور کې به سیزل شوي وي، او
ثُمَّ يُدْخِلُهُمُ الله الْجَنَّةَ بِفَضْلِهِ وَرَحْمَتِهِ
د هغوي شکلونه به یې بدل کړي وي. او بیا به الله تعالی په خپل خاص فضل او کرم او رحمت سره هغوي جنت
فَيُقَالُ لَهُمُ: الجهنميون ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
ته ورسوي او هغوي ته به جهنمیان ویلی کیږي.

توضیح: سفع: دا فاعل واقع شویدی. د اور لمبو ته وایي. یعنې ډیرې به داسې ډلې وي چې هغوي به د خپلو ګناهونو په سزا کې د دوزخ په اور کې وسوزولی شي. **الجهنمیون:** دا لقب د تکلیف ورکولو په شکل نه وي بلکې تذکره خلاصی من النار او تذکره احسان خداوندي په توګه به وي. (مرقات ۹/۵۵۱)

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَخْرُجُ أَقْوَامٌ
او حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: ډیر خلک به د محمد د شفاعت
مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَيُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ
په نتیجه کې راوویستلی شي او جنت ته به داخل کړی شي، او د هغوي نوم به جهنمیان کیخودلی شي، (بخاری)
وَفِي رِوَايَةٍ: «يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي مِنَ النَّارِ
او په یو روایت کې داسې دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: زما د امت به ډیر خلک زما د شفاعت

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۶ رقم الحديث ۶۵۵۹ واخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۴۳ رقم الحديث ۴۳۱۵.

بِشَفَاعَتِي يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ » .[۱]

په نتیجه کې د دوزخ نه وویستلی شي او د هغوې نوم به جهنمیان وي.

﴿۱۷﴾وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْلَمُ

او حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زه يقيناً هغه سړی پېژنم چې هغه

آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا رَجُلٌ

به د ټولو نه په آخر کې د دوزخ نه راوويستلی شي، او د ټولو نه به آخر جنت ته ورسولی شي. دا به يو سړی وي

يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا. فَيَقُولُ اللهُ: اذْهَبْ

چې هغه به په زنګونانو په مزل باندې دوزخ نه بيرون راووځي. الله تعالى به هغه ته وفرمايي چې لاړ شه او

فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ

جنت ته داخل شه. هغه سړی چې کله هلته ورسيږي نو هغه ته به جنت په داسې حال کې ښکاره شي چې

أَنَّهَا مَلْأَى فَيَقُولُ يَارَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى

ګويا دا ډک شويدی. او په دې کې نور د چا لپاره ځای نشته دی. هغه سړی به ووايي چې زما لپاره څه

فَيَقُولُ اللهُ: اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا

ځای په نظر نه راځي؟ الله تعالى به وفرمايي: ته لاړ شه! او جنت ته داخل شه، هلته به ستا لپاره د دنيا په اندازه

وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا. فَيَقُولُ: أَتَسْخَرُ مِنِّي

او د هغې نه لس چونده ډير ځای ستا لپاره دی. هغه سړی به ووايي چې آيا ته ما پورې ټوقې کوې؟ يا به دا

أَوْ تَضْحَكُ مِنِّي وَأَنْتَ الْمَلِكُ؟"

ووايي چې ته ما پورې خندا کوې او حال دا دی چې ته خو باچا يې؟ حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي

وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى

چې ما وکتل. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې خبرې کولو سره وخندل، تر دې چې د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۱] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۸ رقم الحديث ۶۵۶۶ والترمذي ۴/۶۱۶ رقم الحديث ۲۶۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَكَانَ يُقَالُ: ذَلِكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]

مخکني غاښونه ښکاره شو او ويل کيدل به چې دا سړی په جنتيانو کې د ټولو نه د کمې درجې سړی دی.

توضيح: حبوًا: په زنګونانو باندې مزل ته حبوا وايي.

وانت الملك: يعني باچا على الاطلاق يې او باچا توقې نکوي، ته ما پورې توقې کوې چې په جنت کې د خپې کيخودلو ځای نشته او ته د لس چونده خبرې کوي. (مرقات۹/۵۵۲)

کله چې د خدای رحمت جوش ووهي

﴿۱۸﴾ وَعَنْأَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ

او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: زه يقينًا هغه سړی پيژنم چې هغه به د ټولو نه آخر

أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا رَجُلٌ

جنت ته ننوځي.او د ټولو نه به آخر کې د دوزخ نه راوويستلې شي. دا به يو داسې سړی وي چې هغه به د

يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ

قيامت په ورځ باندې پيش کړی شي، نو به ويلې شي چې د ده د وړکوټو ګناهونو ثابت شوی جرم د ده مخې

وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا فتعرض عَلَيْهِ صغار ذنوبه

ته کيږدی او د ده د غټو ګناهونو ثابت جرم ده ته وس مه ظاهروی، نو د ده د وړکوټو ګناهونو ثابت جرم به

فيقال: عملت يَوْمَ كَذَا وَكَذَا

د ده مخې ته کيخودلې شي. او بيا به ده ته وويلې شي، چې آيا تا فلانکۍ فلانکۍ ورځ فلانکی فلانکی

وَكَذَا وَكَذَا وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ.

کار کړی ؤ. او په فلانکۍ فلانکۍ ورځ دې اطاعت پريخودلی ؤ. هغه به اقرار وکړي چې هو! هغه به د خپلو

لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ

ګناهونو نه انکار نشي کولی. ځکه چې هغه به د خپلو غټو غټو ګناهونو په ويره کې اخته وي. چې هسې نه

أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ. فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً.

د ده غټ ګناهونو جرم باندې پيش نکړی شي. ده ته به وويلې شي تا ته د هرې بدۍ به بدله کې يو نيکي

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۸ رقم الحديث ۶۵۷۱ومسلم في صحيحه ۱/۱۷۲ رقم الحديث (۱۸۶-۳۰۸)

فَيَقُولُ:	رَبِّ	قَدْ	عَمِلْتُ	أَشْيَاءَ	لَا	أَرَاهَا	هٰهُنَا"

درکولی کیږي. دغه سړی به ووایي چې زما ربه! ما نور هم ډیر بد کارونه کړي وُ. چې هغه زه دلته نه وینم

وَقَدْ	رَأَيْتُ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	ضَحِكَ حَتّٰى

حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې ما وکتل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ېیانو لو سره په خندا شو تردې چې د

بَدَتْ نَوَاجِذُهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکني غاښونه ښکاره شول.

توضیح: یعنې زما څه غټ ګناهونه وُ ، هغه دلته په نظر نه راځي. کله چې د غټو ګناهونو په وجه باندې دومره نعمت راکولی کیږي نو په غټو ګناهونو باندې به څومره انعام ورکول کیږي. ریښتیا دي چې کله د خدای رحمت په جوش کې راشي نو د ابلیس به هم امید پیدا شي چې کیدی شي مونږ ته هم څه معافي وشي.

لعل رحمة ربي حين يقسمها   تأتي على حسب العصيان في القسم

د دوزخ نه راوتلي یو سړي قصه

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ أَرْبَعَةٌ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څلور کسان به هغه وي چې هغه کله د دوزخ

فَيُعْرَضُونَ	عَلَى	اللهِ	ثُمَّ	يُؤْمَرُ بِهِمْ

نه راوویستلی شي او د الله تعالی مخې ته پیش کړی شي، نو د هغوې په اړه به دا حکم وي چې دا دې دوزخ ته

إِلَى	النَّارِ	فَيَلْتَفِتُ	أَحَدُهُمْ

ولیږلی شي، د دېنه وروسته چې کله هغوې دوزخ اړخ ته روان کړی شي نو په دوې کې به یو سړی په شاه

فَيَقُولُ:	أَيْ	رَبِّ؟	لَقَدْ كُنْتُ	أَرْجُو	إِذَا	أَخْرَجْتَنِي	مِنْهَا

راوګوري او وبه وایي چې زما ربه! ما خو دا امید لرلو چې کله ته ما د دوزخ نه بیرون راوغواړي نو بیا به مې

أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا " قَالَ: «فينجيه الله مِنْهَا» . رَوَاهُ مُسلم[2]

ته نه لیږې؟ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله تعالی به هغه ته د دوزخ نه خلاصی ورکړي.

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۷۷ رقم الحديث (۱۹۰-۳۱۴) والترمذي ۴/۶۱۴ رقم الحديث ۲۵۹۶.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۸۰ رقم الحديث (۱۹۲-۳۲۱) وأحمد في المسند ۳/۲۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: **فیلتفت**: یعنې کله چې الله تعالی هغه سړی بیا دوزخ ته د لیږلو حکم وکړي نو یو دوزخي به په ناشنا عاجزانه انداز سره ووایي چې زما خو دا خیال ؤ چې کله ته ما راوباسي نو بیا به مې نه لیږې، په دې باندې الله تعالی وفرمایي چې دا یو امتحان او ازمیښت ؤ! لاړ شه جنت کې وسیږه. د یو سره د دې خبرو ذکر دی. ګنې دا معامله به د ټولو واړو سره وي. ځکه چې کافر خو کله هم د دوزخ نه نه راویستلی کیږي، کله چې یې دا ټولو راوویستل نو دا به مسلمانان وي، کله چې ووتل نو بس بیا ووتل. (مرقات ۹/۵۵۲)

د مؤمن نه به په پل صراط باندې یو بله پوښتنه کیږي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَخْلُصُ الْمُؤْمِنُونَ
او حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کله چې مؤمنانو ته د دوزخ نه خلاصی ورکړی
مِنَ النَّارِ فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ
شي نو هغوی به په هغه پل باندې ایسار کړی شي چې هغه د جنت او جهنم ترمینځه به وي او بیا به د هغوی
فَيُقْتَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا حَتَّى
نه د یو بل د حقونو او غوښتنو بدله اخستلی کیږي چې هغه یې په دنیا کې په یو بل باندې لرلو. تردې چې
إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَوَالَّذِي
هغه خلک به بیخي پاک شي، نو هغوی ته به جنت ته د ننوتلو اجازت ورکړی شي، پس قسم دی په هغه ذات
نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَأَحَدُهُمْ
چې د هغه د قدرت په لاس کې د محمد ساه ده. کله چې هغه خلک جنت ته داخل شي، نو په دوی کې به هر یو
أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ لَهُ فِي الدُّنْيَا ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]
سړی خپل هغه کور چې هغه ده لپاره به په جنت کې مخصوص وي، د خپل دنیا د کور نه به ډیر پیژندونکی وي

توضیح: **علی قنطرة**: یعنې پل صراط باندې صله رحمي او داسې مظالم مستقل حساب کتاب به وي. د دې تفصیل د دې باب په حدیث نمبر ۹ کې تیر شویدی. **اهدی**: یعنې پل صراط نه تیریدلو نه وروسته مؤمن سړې ته د خپل جنت کور به داسې معلوم وي لکه څنګه چې هغه په دنیا کې خپل کور پیژندلو. دا به د هغه سړې د ایماني رڼا اثر وي. لکه څنګه چې هغه ته په دنیا کې د هدایت رڼا ترلاسه شوې وه. دغه شان به دا مؤمن په دې رڼا سره د جنت کور په آسانۍ سره معلوم کړی شي. (مرقات ۹/۵۵۴)

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۹۵ رقم الحديث ۶۵۳۵ وأحمد في المسند ۳/۱۳

د هر سړي لپاره په جنت او دوزخ کې يوه يوه چوکۍ ټاکلې شويده

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ أَحَدٌ الْجَنَّةَ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: هيڅ يو سړی تر هغه وخته پورې جنت ته

إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ لَوْ

نشي ننوتلی ترڅو چې ده ته په دوزخ کې هغه ځای ونه ښودلی شي چې هغه به د ده ځای وی که ده بد کارونه

أَسَاءَ لِيَزْدَادَ شُكْرًا

کړي وی. او دا به ځکه وي چې هغه په دنيا کې بدو کارونو نه د ځان ساتلو توفيق په ورکړل کيدلو او دوزخ

وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ

ته د تګ په ځای جنت ته ننوتلو باندې د ډير نه ډير شکر ادا کړي شي، او هيڅ يو سړی به تر هغه وخته

إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ

پورې دوزخ ته داخل نشي ترڅو چې هغه په جنت کې هغه ځای ونه ښودلی شي چې هغه د ده لپاره مخصوص

لَوْ أَحْسَنَ لِيَكُونَ عَلَيْهِ حسرة ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[۱]

و، که هغه نيک کارونه کړي وی او دا به ځکه وي چې دا د ډير نه ډير خفګان او پښيمانتيا کې اخته شي.

کله چې مرګ ته خپله مرګ راشي

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ وَأَهْلُ

او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې جنتيان جنت ته او

النَّارِ إِلَى النَّارِ جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ يُذْبَحَ

دوزخيان دوزخ ته لاړ شي نو مرګ به راوستلی شي، او دا به د جنت او دوزخ ترمينځ کولو باندې حلال (ذبح)

ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ

کړی شي بيا به اعلان کونکی اعلان وکړي چې ای جنتيانو! وس د مرګ هيڅ وجود ندی پاتي او ای دوزخيانو!

لَا مَوْتَ. فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ

وس د مرګ هيڅ وجود ندی پاتي، د جنتيانو د خوشحالي او مستي به هيڅ اندازه نه وي، او دوزخيان به

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۸ رقم الحديث ۶۵۶۹ وأحمد في المسند ۲/۵۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

حُزْنًا إِلَى حزنهمْ". (مُتَّفق عَلَيْهِ).(۱)
د غم او خفګان به درياب کې نور زيات ډوب شي.

اَلْفَصْل الثَّانِي

حوض کوثر ته به د ټولو نه مخکې غريب مهاجرين راځي

﴿۲۳﴾ عَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «حَوْضِي
حضرت ثوبان رضي الله عنه نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما د حوض (کوثر)
مِنْ عَدَنٍ إِلَى عُمَّانَ الْبَلْقَاءِ. مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ
اوګدوالی د عدن او عمان بلقاء د مينځنی فاصلې په اندازه دی. د دې اوبه د پيو (شيدو) نه ډيرې سپينې او د شهدو نه
وَأَكْوَابُهُ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ
ډير خوږې دي. د دې ګلاسونه (د اوبو څکلو لوښي) د آسمان د ستورو نه ډير دي. کوم سړي چې هم په دې کې
شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا أَوَّلُ النَّاسِ
يو ځل اوبه وڅکي، بيا به هغه ته کله هم تنده نه لګي. په دې حوض باندې د ټولو نه مخکې راتلونکې خلک
وُرُوداً فقراءُ المهاجرينَ الشُّعثُ رؤوساً الدُّنُسُ ثِيَابًا
غريبانان مهاجرين به وي. هم هغه غريبانان مهاجرين چې ببر ايختان، او پريشان حال او شليدلو جامو
الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ
کې په نظر راځي، چې هغه د خوشحاله کورنيو د جينکو سره د نکاح کولو قابل نه ګڼلی کيدل، او د
وَلَا يُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ(۲)
چاليا ره چې به دروازې نه برسيره ته کيدلې. (مسند احمد، ترمذی، ابن ماجه، او ترمذی وائی دا حديث غريب دې)

توضيح: عمان بلقاء: عمان د درې ځايونو نوم دی. يو عمان د بحر احمر سره دی. چې مخکې د شام برخه وه. اوس د اردن پايه تخت دی. دويم عمان په شام کې د يوې علاقې نوم دی. چې بانډه علاقه ده. دريم عمان بحرين کې دی بلقاء چې کوم مقام دی، دا د شام د دمشق علاقې سره نژدې د يو

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۵ رقم الحديث ۶۵۴۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۸۹ رقم الحديث (۲۸۵۰-۴۳)

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۳ رقم الحديث ۲۴۴۴. وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۳۸ رقم الحديث ۴۳۰۳.

پخوانۍ ښار نوم دی. په دې حدیث کې عمان بلقاء د شام مراد دی. د دې وجه نه دې ارخ ته اضافت شوی دیږ دې لپاره چې عمان اردن او عمان بحرین نه احتراز وشي. په دې حدیث کې د مختلفو ځایونو نوموبه اخستلو سره د حوض کوثر طول او عرض تمثیل بیان کړی شویدی. او د مختلف مقاماتو نوم اخستلې شویدی. دې لپاره چې کوم سړی کوم مقام باندې پوهه شي، هغه د هغې د طول او عرض نه اندازه واخلي، په حدیث کې څه تحدید او تعین او مخصوص کول مقصود ندي. (مرقات ۹/۵۵۶)

الشعث: شین باندې ضمه ده. عین ساکن او ثاء باندې هم ضمه ده. دا جمع ده. د دې مفرد اشعث دی. چې ببر ایختانو ته وایي.

الدنس: دال باندې ضمه ده، نون باندې هم ضمه ده، سین باندې هم ضمه ده. دا جمع ده، د دې مفرد دنس دی. خیرنو جامو ته وایي.

متنعمات: یعنې نازکونکې ښایسته او مالداره ښځو سره به د دوی نکاحونه نه کیږي.

السدد: سین او دال باندې هم پیش دی. دا جمع ده. د دې مفرد سدة دی. دروازې ته وایي. مطلب دا دی چې دې فقیرانو ته دنیا کې خلک التفات نکوي، که په دروازه باندې ولاړ وي، نو د دوی لپاره دروازه نه برسیرته کیږي. او نه د دوی د نکاح پیغام څوک اوري، دا دنیا فقیران دي خو د آخرت باچاهان دي. د دوی په شان په یو درویش دې ټوله دنیا قربان شي. (مرقات ۹/۵۵۶)

حوض کوثر ته دراتلونکو شمار نښته

﴿۲۴﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا
او حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه فرمایي چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ؤ چې یو ځای کې مونږ دیره واچوله
فَقَالَ: «مَا أَنْتُمْ جُزْءٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ جُزْءٍ
هلته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کوم خلک زما خواته حوض کوثر ته راځي، د هغوی د تعداد په اعتبار سره تاسو
مِمَّنْ يَرِدُ عَلَى الْحَوْضِ». قِيلَ: كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟
د لاکهونو جزونو کې یو جزء یاست. حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه پوښتنه وشوه چې په دغه وخت کې
قَالَ: سَبْعَمِائَةٍ أَوْ ثَمَانَ مِائَةٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]
ستاسو تعداد څومره ؤ؟ هغه ووېل اووه سوه یا اته سوه.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۱۰ رقم الحدیث ۴۷۴۶ واحمد في المسند ۴/۳۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۵﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ
او حضرت سمره رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (په اخرت کې) به هر نبی ته حوض ورکړی شي
حَوْضًا وَ إِنَّهُمْ لَيَتَبَاهَوْنَ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ
او د هر امت خلک به د خپل نبي حوض ته راځي او اوبه به څکي. نو ټول انبیاء به خپل مینځ کې فخر کوي
وَارِدَةً وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]
چې د چا په حوض باندې خلک ډیر دي. او زما امید دی چې د ټولو نه به ډیر کسان زما حوض ته راځي.

میدان محشر کې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم کوم ځای وي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته درخواست وکړو چې ته د قیامت په ورځ باندې
أَنْ يَشْفَعَ لِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ: «أَنَا فَاعِلٌ» . قُلْتُ
په خاصه توګه باندې زما لپاره شفاعت وکړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښه زه به شفاعت وکړم. ما ورته وویل چې
يَا رَسُولَ اللهِ فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ؟ قَالَ اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ ".
یارسول الله! تا چیرته ولټوم، او ته به کوم ځای مخ شي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ټولو نه مخکې ما د پل صراط
قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ؟ قَالَ: «فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْمِيزَانِ» قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ؟
سره ولټوه. ما وویل که ته هلته مخ نشوې؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو بیا مې د میزان خواته ولټوه. ما وویل که ته
قَالَ: «فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]
هلته هم مخ نشوې؟ وې فرمایل: نو بیا ما د حوض کوثر سره ولټوه. زه دا درې ځایونه پرېښودلو باندې هیچرته نه ځم.

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په مقام محمود کې

﴿۲۷﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : قِيلَ لَهُ
او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې

---

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۲ رقم الحديث ۲۴۴۳.

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۷ رقم الحديث ۲۴۳۳ واحمد في المسند ۳/۱۷۸.

مَا . الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ ؟

او د دې ' میت څه دی؟ چې د هغې په دې آیت کې ستا سره وعده شوېده ﴿عَسٰی اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مقام محمود

قَالَ: " ذَٰلِكَ يَوْمَ يَنْزِلُ اللهُ تَعَالَى عَلَى كُرْسِيِّهِ

مَحْمُوْدًا﴾ نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په هغه ورځ باندې به الله تعالى په خپله چوکۍ باندې د جلال نزول وکړي.

فَيَئِطُّ كَمَا يَئِطُّ الرحلُ الْجَدِيدُ من تضايقه بِهِ وَهُوَ كَسَعَةِ

او چوکۍ به چغاری وکړي لکه نوې څرمنې تنګ زین چې چغاری کوی. او د چوکۍ فراختیا به دومره وی

مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَيُجَاءُ بِكُمْ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا

څومره چې د زمکې او اسمان مینځې فضا. بیا تاسو ټول لوڅې خپې، بربنډ بدن، او ناسونته (میدان محشر) ته

فَيَكُونُ أَوَّلُ مَنْ يُكْسَى إِبراهيم

راوستلی شۍ، او په هغه ورځ باندې چې چا ته د ټولو نه مخکې جامې اغوستل کیږي هغه به ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ

يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: أُكْسوا خليلي بِرَيْطَتَيْنِ بَيْضَاوَيْنِ مِنْ رِيَاطِ الْجَنَّةِ

وي. الله تعالى به حکم وکړي چې زما دوست ته جامې واغوندی، او د جنت د څادرونو نه به د نرم کتان

ثُمَّ أُكْسَى عَلَى أَثَرِهِ

دوه سپین څادرونه راوړی شي او ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به واغوستلی شي، د دې نه وروسته به ماته جامې

ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ الله مقاما يغبطني الْأَولونَ وَ الْآخِرُونَ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ[1]

واغوستلی شي. او بیا به زه د الله تعالى ښي اړخ ته ودریږم، نو مخکني او وروسته ټول خلک به زما سره غبطه کوي

توضیح: یئط: اط یئط اطا واطتطا: نوې چوکۍ باندې د ناستې په وخت کې چې کوم چغارې اواز راځي. هغې ته یئط وايي.

الرحل: کجاوې ته وايي.

حفاة: لوڅې خپو ته وايي.

عراة: بربنډ بدن ته وايي.

---

(1) اخرجه الدارمي في السنن ۲/۴۱۹ رقم الحديث ۲۸۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

غرلا: اغرل، ناسوتنه‌ته وايي.

اکسوا: د امر صيغه ده. اغوستلو په معنی دی. (مرقات ۹/۵۷۲)

ريطتين: ريطة کتاس او تسر څادرته وايي. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته به اول جامې خکه اغوستل کېږي چې نمرود اور ته کوزارلو په وخت دهغه جامې ويستلي وي. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مخکې يې ځکه واغوستلې چې دا د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نيکه دی. هم دا د احترام تقاضا ده. يا نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نورو ته ووېله. خپله معامله به يې بيله وي. مګر په دې حديث کې تاخير تصريح ده. تاويل مناسب ندی. (مرقات ۹/۵۷۲)

﴿۲۸﴾وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِعَارُ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
او حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې د قيامت په ورځ پل صراط باندې د تيريدلو په وخت د
عَلَى الصِّرَاطِ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]
ايمان والاؤ نښه به دا الفاظ وي. رب سلم سلم (روايت کړې دې جامع ترمذی)

شفاعت به د کبيره ګناهونو والاؤ لپاره وي

﴿۲۹﴾وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: ګناه کبيره کونکو په حق کې زما شفاعت
مِنْ أُمَّتِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[2] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنْ جَابِرٍ[3]
به فقط زما د امت خلکو لپاره به مخصوص وي، (ترمذی، ابوداود ابن ماجه)

رحمت عالم د رحمت شان

﴿۳۰﴾وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَانِي آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي
او حضرت عوف بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: يوه فرښته زما خواته راغله او هغې
فَخَيَّرَنِي بَيْنَ أَنْ يُدْخِلَ نِصْفَ أُمَّتِي الْجَنَّةَ
ماته په دې دوه خبرو کې د يوې خبرې اخستلو اختيار راکړو چې يا خو به زما نيم امت جنت ته ځي يا

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۶ رقم الحديث ۲۴۳۲.

(۲) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۰۶ رقم الحديث ۴۷۳۹ والترمذي في السنن ۴/۵۳۹ رقم الحديث ۲۴۳۵.

(۳) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۴۱ رقم الحديث ۴۳۱۰.

وَبَيْنَ	الشَّفَاعَةِ	فَاخْتَرْتُ	الشَّفَاعَةَ

(د ټولو په حق کې) د شفاعت حق به ماته ترلاسه وي. نو ما د خپل امت په حق کې د شفاعت ترلاسه کول اختيار

وَهِيَ	لِمَنْ	مَاتَ	لَا	يُشْرِكُ

کړل. نو زما شفاعت د هر هغه سړي لپاره فيصله شويدی چې هغه په دې حال کې مړ وي چې هغه د الله سره

بِاللهِ شَيْئًا» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]

څوک شرک کولو کې اخته نه ؤ. (ترمذی، ابن ماجه)

دعام شفاعت ذکر

﴿۲۱﴾ وَعَن عبدِ الله بن أبي الجَدعاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عبدالله بن ابی جدعاء رضی الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوريدلي دي چې زما

«يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَةِ رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَكْثَرُ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ والدارمي وَابْن مَاجَه[2]

د امت د يو سړي په شفاعت سره به د بنی تميم د کسانو د شميرې نه هم ډير کسان جنت ته داخل شي.

توضيح: **بشفاعة رجل**: ويل کيږي دا به حضرت عثمان رضی الله عنه وي، يا د دې سړی نه اويس قرني مراد دی. يا بل څوک مراد دی. اللهم ارزقنا شفاعة حبيبك محمد صلی الله علیه وسلم. (مرقات ۹/۵۶۶)

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ

او حضرت ابوسعيد رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: زما په امت کې خو به څوک د

يَشْفَعُ	لِلْقَبِيلَةِ	وَمِنْهُمْ	مَنْ	يَشْفَعُ	لِلْعُصْبَةِ	وَمِنْهُمْ	مَنْ	يَشْفَعُ لِلرَّجُلِ

ګڼو جماعتونو شفاعت کوي، څوک به د يو عصبه شفاعت کوي، او څوک به فقط د يو سړي شفاعت

حَتَّى يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[3]

کوي لنډه دا چې دغه شان د شفاعت په نتيجه کې به ټول امت جنت ته ننوځي.

توضيح: **ان من امتی**: يعنې ځينې امتيان به شفاعت کوي، لکه علماء، صلحاؤ او شهداء او داسې

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۱ رقم الحديث ۲۴۴۱ وابن ماجه ۲/۱۴۴۱ رقم الحديث ۴۳۱۱.

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۰ رقم الحديث ۲۴۳۸ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۴۳ رقم الحديث ۴۳۱۶.

(3) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۴۱ رقم الحديث ۲۴۴۰، وأحمد في المسند ۳/۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

نور.

للفئام: د دېنه قبائل اخستل ډېر بهتره دي. يعني ګڼو قبيلو شفاعت به يو سړی کوي. که شفاعت کونکی شهيد وي، يا عالِم وي يا ولی يا نيک سړی وي. (مرقات ۹/۵۶۶)

للقبيلة: يعنې د يوې قبيلې شفاعت به کوي. قبيله هغه قوم ته وايي چې د هغې نيکه يو وي.

للعصبة: عين باندې ضمه ده، صاد باندې سکون دی. لسو نه تر څلويښتو کسانو ته عصبه وايي. (مرقات ۹/۵۶۶)

څلور لاکهه به بغير د حساب نه جنت ته ننوځي

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَنِي

او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله عزوجل زما سره وعده کړېده چې هغه به

أَن يدْخل الجنةَ من أُمتي أربع مائةِ أَلْفٍ بِلَا حِسَابٍ » . فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ

زما د امت نه څلور لاکهه کسان بغير د حساب او کتاب نه جنت ته ددننه کوي. حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل:

زِدْنَا يَا رَسُولَ اللهِ

يارسول الله! زمونږ په دې شميره کې ډېروالی وکړه (ځکه چې ته د خدای په رحمت باندې اعتماد

قَالَ وَهٰكَذَا فَحَثَا

کولو زمونږ نه چې څومره ډېروي الله تعالی به هغه پورا کوي) نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بنه دومره نور ډېر،

بِكَفَّيْهِ وَجَمَعَهُمَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ:

نبی کريم صلى الله عليه وسلم خپل لاسونو راغونډولو باندې لپه جوړه کړه. حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل:

زِدْنَا يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: وَهٰكَذَا

يارسول الله! زمونږ په شميره کې ډېروالی وکړه. نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بنه دومره نور ډېر. حضرت عمر رضي الله عنهم په

فَقَالَ عُمَرُ دَعْنَا يَا أَبَابكر. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ:

دغه مجلس کې ناست ؤ. هغه په محسوسولو باندې حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ووېل (بس وس) مونږ په

وَمَا عَلَيْكَ أَنْ يُدْخِلَنَا اللهُ كُلَّنَا الْجَنَّةَ؟

خپل حال باندې پرېږده. حضرت ابوبکر رضي الله عنه فرمايل که الله تعالی مونږ ټول جنت ته ولېږي نو ستا

فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَنْ يُدْخِلَ خَلْقَهُ الْجَنَّةَ بِكَفٍّ وَاحِدٍ
څه نقصان دی؟ حضرت عمر رضي الله عنه جواب ورکړو: که الله تعالی خپل ټول مخلوق په يو لاس باندې جنت
فَعَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ عُمَرُ» رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[1]
ته داخلول وغواړي نو کولی يې شي. نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: عمر! بيخي ريښتيا وويله.

توضيح: زدنا: د حضرت ابوبکر رضي الله عنه خواهش او د جنت حرص حذبه دومره لويه وه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته يې وفرمايل: چې ته الله تعالی باندې نور ډيروالی وکړه. ځکه چې ته به سفارش کوې. نو الله تعالی به اضافه وکړي. يو اړخ ته د الله تعالی د اړخ نه د دې فراخه شفاعت په صورت کې شميرې په ځای د لاسونو لپې ذکول ؤ. نبی کريم صلی الله عليه وسلم هم لپې ذکولو باندې الله تعالی د فعل نقل وکړو. په دې باندې ابوبکر صديق رضي الله عنه نور ډيروالې درخواست رکړو. نبی کريم صلی الله عليه وسلم نور ډيروالی وکړو. په دې سره ابوبکر صديق رضي الله عنه نور ډيروالې درخواست وکړو. نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وفرمايل: چې ابوبکر! بس کړه. که الله تعالی وغواړي نو په يوه لپه کې به ټول مخلوق جنت ته داخلولی شي. نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ابوبکر رضي الله عنه په سفارش باندې ډيروالی وکړو، او بيا يې د ابوبکر رضي الله عنه رايې تائيد وکړو، نو د دواړو زړه ساتنه وشوه. (مرقات ۹/۵۶۷)

د الله تعالی رحمت بهانه لټوي

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مؤمنانو کې چې کوم خلک دوزخيان ګرځولی
" يُصَفُّ أَهْلُ النَّارِ فَيَمُرُّ بِهِمُ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ
شوي دي. د هغوي به صفونه جوړ کړی شي، بيا چې کله د يو جنتي د هغوي په مخه تيريږي نو د دې دوزخيانو کې
فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ: يَا فُلَانُ أَمَا تَعْرِفُنِي؟ أَنَا الَّذِي سَقَيْتُكَ شَرْبَةً.
به يو سړی ورته وايي ای فلانکيه! آيا ته ما نه پيژني؟ زه هغه سړی وم چې هغه يو ځل په تا او به ځکولي وي.
وَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَنَا الَّذِي وَهَبْتُ لَكَ وَضُوءًا
په دوي کې به يو سړی وو وايي چې زه هغه سړی وم چې هغه يو ځل د اودس او به درکړي وي. هغه جنتی به

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵/۱۶۳ رقم الحديث ۴۳۳۵ واحمد في المسند ۳/۱۶۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَيَشْفَعُ لَهُ فَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]

د ده شفاعت وکړي او جنت ته به يې داخل کړي.

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ رَجُلَيْنِ مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: کوم خلک چې دوزخ ته ننوځي

اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا فَقَالَ الرَّبُّ تَعَالَى: أَخْرِجُوهُمَا.

په هغوې کې به دوه کسان ډير شور کوي. پروردګار به حکم ورکړي چې دا دواړه بيرون راوباسئ. چې ولې

فَقَالَ لَهُمَا: لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا؟ قَالَا: فَعَلْنَا ذَلِكَ لِتَرْحَمَنَا.

دومره چيغې وهې؟ هغوې به ووايي چې مونږ ځکه چيغې وهلې چې ستا رحمت مونږ ته متوجې شي. الله تعالى

قَالَ: فَإِنَّ رَحْمَتِي لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا فَتُلْقِيَا أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ

به وفرمايي: چې ستاسو په حق کې زما رحمت دا دی چې تاسو بيرته لاړشئ او په دوزخ کې چيرته وئ، هلته

فَيُلْقِي أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ

وسئ، په دوې کې به يو سړی ځو بيرته لاړ شي او خپله به ځان د دوزخ اور ته ګوزار کړي او الله تعالى به

فَيَجْعَلُهَا اللهُ بَرْدًا وَسَلَامًا وَيَقُومُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِي نَفْسَهُ

هغه اور د هغه لپاره يخ کړي. او دويم سړی به هغه شان ولاړ وي او خپله به اور ته ځان نه ګوزاروي. الله تعالى

فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَعَالَى: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ؟ فَيَقُولُ:

به ترينه پوښتنه وکړي چې ته ولې ځان نه ګوزاروې؟ ستا ملګرې خو اور ته ودانګل؟ هغه به ووايي چې

رَبِّ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا

چې ربه! زه خو په دې اميد باندې ولاړ يم چې تا زه د دوزخ نه بيرون راوويستلم نو وس به مې بيا هلته نه

بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا. فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَعَالَى: لَكَ رَجَاؤُكَ. فَيُدْخَلَانِ

ليږې. الله تعالى به وفرمايي تا چې کوم اميد قائم کړی دی، هغه ستا په حق کې پورا کيدلی شي. نو دغه دواړه کسان

---

(1) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۱۵ رقم الحديث ۴۳۸۵.

جَمِيعًا الْجَنَّةَ بِرَحْمَةِ اللهِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[۱]

به الله تعالی په رحمت او عنایت سره یو ځای جنت ته داخل کړی شي.

﴿۳۶﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ

او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خلک به اور ته حاضروي، او بیا به

ثُمَّ يصدرون مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ فَأَوَّلُهُمْ

د خپلو خپلو اعمالو مطابق د هغې نه نجاب بیامومي. په دوي کې به د ټولو نه اول او افضل خلک هغه وي

كَلَمْحِ الْبَرْقِ ثُمَّ كَالرِّيحِ ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ

چې هغوي به د بجلۍ (برق) د پړق په شان تیر شي. بیا د باد (هوا) د چپې په شان بیا د اس د منډې په شان،

ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ثُمَّ كَمَشْيِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ[۲]

بیا په اوښ د سپاره په شان، بیا د سړي د منډې په شان، او بیا د سړي د پیدل مزل کونکي په شان

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حوض کوثر فراخوالی

﴿۳۷﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضِي

حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: ستاسو مخې ته زما حوض دی.

مَا بَيْنَ جَنْبَيْهِ كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ».

چې د هغې دواړو غاړو ته فاصله دومره ده څومره چې د جرباء او اذرح مینځنی فاصله ده. د یو راوي وینا ده

قَالَ بَعْضُ الرُّوَاةِ: هُمَا قَرْيَتَانِ بِالشَّامِ بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ ثَلَاثِ لَيَالٍ.

چې جرباء او اذرح د شام په هیواد کې دوه کلي دي، چې د هغوي په مینځ کې د درې ورځې مزل دی. په یو بل

وَفِي رِوَايَةٍ: «فِيهِ أَبَارِيقُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ

حدیث کې دا الفاظ دي چې د دې په دواړو غاړو باندې ګلاسونه کیخودلی شویدي چې هغه د اسمان د ستورو

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۱۵ رقم الحديث ۲۵۹۹

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۹۷ رقم الحديث ۳۱۵۹ والدارمي في السنن ۲/۴۲۴ رقم الحديث ۲۸۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ وَرَدَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]

په شان دي. كوم سړى چې دې حوض ته راشي او د دې اوبه وڅكي ، هغه به بيا كله هم تږى نشي.

﴿۳۸﴾ وَعَنْ حذيفةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايه بيان كوي چې رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

" يَجْمَعُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ

الله تبارك و تعالى به خلك راغونډ كړي او بيا به ټول مؤمنان ولاړ وي چې جنت به هغوى ته رانژدې كړى

فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ : يَا أَبَانَا

شي (د هر امت خاص خاص) مؤمنان به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته به راشي او ورته به وايي چې اى زمونږ پلاره!

اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ. فَيَقُولُ: وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ

زمونږ لپاره جنت بر سيرته كړه. حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به هغوى ته جواب وركړي چې تاسو د جنت نه ستاسو د پلار

إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ

لغزش راويستلي ياست. زه د دې كار والا نه يم. تاسو زما خوى حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ شئ چې د الله

خَلِيلِ اللهِ " قَالَ : " فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ : لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ

دوست دى. نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به هم دغه جواب وركړي چې زه د دې كار والا نه يم

إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ اعْمَدُوا إِلَى مُوسَى الَّذِي كَلَّمَهُ اللهُ

زه د خداى دوست د نن نه مخكې مخكې وم. تاسو موسى عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ شئ، چې هغه د الله تعالى سره خبرې

تَكْلِيمًا فَيَأْتُونَ مُوسَى. عَلَيْهِ السَّلَامُ فَيَقُولُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ

كړيدي نو دغه خلك به موسى عَلَيْهِ السَّلَام ته راشي . او هغه به هم دغه جواب وركړي چې زه د دې كار والا نه يم

اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللهِ وَرُوحِهِ فَيَقُولُ عِيسَى:

تاسو عيسى عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ شئ چې د خداى كلمه او د هغې روح دى. نو حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام به هم دغه جواب

لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وركړي چې زه د دې كار والا نه يم. نو دا خلك به محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته راشي او محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ودرېږي

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۶۳ رقم الحديث ۶۵۷۷ واخرجه مسلم في صحيحه ۱۷۹۷ رقم الحديث ۳۲/۲۲۹۹

فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ

او ټولو انسانانو دمیدان محشرته بهد سختیو او پریشانیو نهراحت ورکونکی دشفاعت کولو اجازت وغواړي. نو دهته به

وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ

اجازت ورکړی شي، بیا چې کله د حساب کتاب وخت تیر شي او ټول خلک په پل صراط باندې تیریږي نو

فَيَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا

امانت او رحم به راوستلی شي، او دا دواړه به د پل صراط په ښی او چپ اړخ باندې ودریږي، بیا به یوه طبقه

فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ".

چې هغه به په تاسو کې افضل وي، او د ټولو نه مخکې به تیریږي. د بحلۍ (برق) په شان به په پل تیر شي.

قَالَ: قُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي چې ما وویل چې په تا دې زما مور پلار قربان شي، بجلۍ په شان تیریدلو

أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ؟ قَالَ: " أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ

په څه صورت وي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا ته نګوري چې د بجلۍ پړق څنګه تیریږي، او د سترګو په رپ

وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ. ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ وَشَدِّ الرِّجَالِ

سر دیرته راستنه شي. بیا د باد (هوا) په شان، بیا د مارغانو په شان، او څه خلک به نارینو د منډې په شان

تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ

منډه وهي. او هغوې ته به د هغوې د اعمالو طاقت او نورانیت او پاکوالې مخکې بوځي. او ستاسو نبی کریم صلی الله علیه وسلم

قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ: يَا رَبِّ سَلِّمْ

به په پل صراط باندې ولاړ دا وایي چې رب سلّم سلّم چې ربه! دوې په سلامتیا سره را تیر کړه، او دوې په

سَلِّمْ. حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ

دوزخ کې د ګوزارولو نه روغ وساته. او بیا به د څه بندیګانو اعمال عاجز وي، تردې چې یو سړی به په

حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا ". وَقَالَ:

راخکلو راخکلو او په زنګونانو خویدونکی به راشي، د دېنه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او د پل صراط

Maktaba Tul Ishaat.com

«وَفِي	حَافَتَيِ	الصِّرَاطِ	كَلَالِيبُ	مُعَلَّقَةٌ	مَأْمُورَةٌ
دواړه اړخ ته به کونډې وي او هغوی ته به حکم ورکړی شوی وي چې دوی هر هغه سړی ونیسي چې هغه					
تَأْخُذُ	مَنْ	أُمِرَتْ	بِهِ		
د نیولو ورکړ ځولی شویدی. نو دغه کونډې به داسې خلک نیسي او بیا به څه خلک خو د دې کونډو د					
فَمَخْدُوشٌ	نَاجٍ	وَمُكَرْدَسٌ			
مصیبت برداشت کولو او ټپي (زخمي) کیدلو نه وروسته خلاصی بیامومي. او د څه خلکو به لاس خپې تړلې					
فِي	النَّارِ»	وَالَّذِي	نَفْسُ	أَبِي	هُرَيْرَةَ
دوزخ ته ګوزار کړی شي، قسم دی په هغه ذات باندې چې د هغه په قبضه کې د ابو هریره رضي الله عنه ساه ده					
بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعِينَ خَرِيفًا. رَوَاهُ مُسْلِم[1]					
د دوزخ ژورتیا د اویا کاله د مزل په برابرتیا سره ده.					

توضیح: وراء وراء: یعني نن الله تعالی په غضب (غصه) کې دی. زه نژدې نشم ورتللی. زه بیشکه د الله خلیل او دوست وم، لیکن هغه زمانه ډیره مخکې مخکې وه، دنن نه ده. نن وروسته وروسته دوستې ده، زه مخامخ د تګ طاقت نه لرم. (مرقات ۹/۵۷۲)

د دوزخ د راوتلو نه وروسته بنایسته منظر

﴿۳۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ بِالشَّفَاعَةِ			
او حضرت جابر رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه خلک چې د شفاعت په وجه باندې د دوزخ			
كَأَنَّهُمْ	الثَّعَارِيرُ.	قُلْنَا	مَا الثَّعَارِيرُ
نه راوویستلی شي، د هغوی مثال به داسې وی لکه هغوی ثعاریر دي. مونږ وویل چې یارسول الله! ثعاریر نه			
قَالَ: «إِنَّهُ الضَّغَابِيسُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ مَوْضُوع[2]			
څه مراد دي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دښه کوتره مراد دي.			

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۷ رقم الحديث ۶۵۶۵ ومسلم في صحيحه ۱/۱۸۶ رقم الحديث (۱۹۵-۳۲۹)

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۶ رقم الحديث ۶۵۵۸ واحمد في المسند ۳/۳۷۶ .

توضيح: ثعارير: دا جمع ده د دې مفرد ثعرور دی. دا بادرنګو ته وایي. بادرنګ خو ډیره تازه او ډک وي. هر وخت تازه وي، او دهغې د پاسه مزیدار څرمنه وي. نو څکه دوزخیان چې کله د دوزخ نه راوویستلو باندې نهر حیات کې واچولی شي نو هغه به پرق وهي او ښایسته به شي چې د بادرنګو په شا به شین او تازه وي. (مرقات۹/۵۷۵)

دقيامت په ورځ به کوم خلک شفاعت کوی

﴿۴۰﴾ وَعَن عُثمَان بن عَفَّان قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: " يُشَفَّعُ يَومَ القِيَامَةِ
حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه راوي دي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شفاعت به کوي د قیامت په ورځ
ثَلَاثَةٌ: الأَنبِيَاءُ ثُمَّ العُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ". رَوَاهُ ابنُ مَاجَه[1]
درې قسمه خلک: اول انبیاء، بیا علماء، بیا شهداء.

توضيح: یعنې په اعزازي توګه باندې به په قیامت کې اول انبیاء، بیا علماء او بیا شهیداء شفاعت کوي.

اللهم ارزقنا شفاعة نبيك محمد صلى الله عليه وسلم وشفاعة انبيائك وعلمائك وشهدائك

آمين يارب العالمين

وصلى الله تعالى على نبيه الكريم

تمت بالخير

---

(1) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۴۴۳ رقم الحديث ۴۳۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

یادداشت

Maktaba Tul Ishaat.com